[illegible]

[illegible]

الحل الصریح

اردو شرح

مشکوٰۃ المصابیح

تالیف:

[illegible]

تحقیق و ترتیب — ابو زہیر سیف اللہ غفرلہ

سوم ٣

[illegible]

[illegible] پشاور

بسم الله الرحمن الرحيم

من يرد الله به خيرا يفقهه في الدين (الحديث)

الحق الصريح

پښتو شرح

مشكوة المصابيح

تاليف:

فضيلة الشيخ ابو محمد امين الله البشاوري حفظه الله

جمع وترتيب ابو زهير سيف الله غفر له

۳

پہ دے جلد کښے د دوہ سو پنځو یشت 225 ۲۲۵

احادیثو تشریح کړی شوے دہ

مكتبة محمديه

بيرون گنج گيت
منگل ماركيت
پيښور

د كتاب نوم ———— الحق الصريح شرح مشكاة المصابيح پښتو

د مؤلف نوم ———— الشيخ العلامه ابو محمد امين الله البشاوری حفظه الله

جَمعه وترتيب ———— ابو زهير سيف الله

تعداد ———— (١١٠٠) نسخې

سنه طباعت ———— ١٤٢٩هـ صفر المظفر موافق: ١٨/٣/٢٠٠٧ء

دويم ځل ———— ٢٨/ ربيع الثانی : ١٤٣٠هـ موافق: ٢٣/٤/٢٠٠٩ء

څلورم ځل ———— ٢٨/ ربیع الثانی ١٤٣٢هـ موافق ١٢/٣/٢٠١١ء

فن ———— الحديث

اخراج ———— ابو سلمان حضرت محمد

ناشر ———— مكتبه محمديه گنج پېښور

مكتبه محمديه

بيرون گنج گيټ پهندو روډ منگل ماركيټ پېښور

زير انتظام : ولی الله

موبائل نمبر: 03018828402



كتاب الصلاة

پدے مقام کښے يو څو بحثونه پيژندل ضروري دی ۔
(۱) – ربط او مناسبت د ماقبل باب سره (۲) – د صلاة معنی لغوی او شرعی ۔
(۳)– فرضية الصلاة (٤)– فوائد الصلاة ۔

مناسبت : مخکښے سره دا دے چه مخکښے ايمان ذکر شو ځکه چه ايمان اساس او بنياد دے، او عبادات ئے فروع او څانگے دی ، او په عباداتو کښے مهم عبادت مونځ دے، ځکه چه دا په ټولو دينونو کښے مشروع دے، داسے يو شرعی دين نشته چه مونځ پکښے نه وی، بيا ددے مانځه دپاره څه شرائط وو چه انسان به ځان پاك کوی د حدث اصغر (وړوکی بے اودسئ) او حدث اکبر (لويه بے اودسئ، جنابت حيض وغيره) نه نو ځکه مخکښے کتاب الطهارة وغيره ذکر شو چه هغه شرط وو او صلاة ئے مشروط دے ۔
او دا قانون دے چه شرط مقدم وی په مشروط نو ځکه د طهارت متعلق بحثونه مقدم ذکر شو ۔
دارنگه طهارت د باب د تخليه نه دے او صلاة د باب د تحليه نه دے، او تخليه مقدم وی په تحليه باندے يعنی طهارت کښ گندونه زائل کول وی او په مانځه کښ ډول حاصلول وی او ډول او زينت روستو وی د صفائی کولو نه ۔

۲– معنی لغوی : د صلاة په معنی لغوی او مشتق منه کښے مختلف اقوال دی :
(۱) – **امام نووی** فرمائی : جمهور اهل اللغة او فقهاء وائی چه صلاة شرعی مشتق دے د هغه صلوٰة نه چه په معنی د دعاء سره دے ۔ قال تعالی : ﴿إِنَّ صَلَاتَكَ سَكَنٌ لَهُمْ﴾ ۔او صلاة شرعی ته ځکه صلاة وائی چه دا هم مشتمل دے په دعاء، پدے کښے هم دعاء کولے شی ، او معنی شرعی کښے د معنی لغوی لحاظ وی ۔

شرح مسلم (١٦٤/١)۔

(۲) - بعض وائی صلاة ماخوذ دے د صَلَوَیْن نه او صلوین دوه هډوکی دی په شا (ملا) د انسان کښې چه په وقت د رکوع کښې هغه مائل کیږی ۔ حافظ ابن کثیر وائی وفیه نظر ۔

(۳) - یا صلاة مشتق دے د تصلیة الخشبة علی النار نه یعنی په اور باندے یو لرګے نرمولو او سیزلو ته وائی دے دپاره چه هغه برابر شی لکه عرب وائی : صَلَّيْتُ الْعُوْدَ عَلَى النَّارِ، إِذَا قَوَّمْتَهُ بِهَا ۔

یعنی لرګے مې په اور باندے برابر کړو او مونږ هم انسان په طاعت د الله برابر وی کما قال الله تعالی : ﴿ إِنَّ الصَّلَاةَ تَنْهَىٰ عَنِ الْفَحْشَاءِ وَالْمُنْكَرِ ﴾ ۔ تفسیر ابن کثیر (۱/٤۳) ۔

ابن فارس فرمائی : «صَلَّيْتُ الْعُوْدَ» معنی ده نرمول د لرګی په اور وغیره باندے او صلاة ته ځکه صلاة وائی چه په دے کښې هم مُصلی نرمیږی او خشوع پکښې پیدا کیږی ۔ کشاف القناع عن متن الاقناع (۱/۲۲۱) ۔

(٤) - بعض وائی صلاة په معنی د رحمت دے او مونږ هم سبب د رحمت د الله تعالی دے ۔ (٥) - بعض وائی صلاة د صِلَةٌ نه جوړ دے عطیه ته وائی او صلاة شرعی هم عطیه ده په مابین د عبد او رب کښې ۔

(٦) - بعض وائی : صلاة مشتق دے د «مُصَلِّيْ» نه او دا هغه اس ته وائی چه په مسابقه (گھوڑ دوڑ) کښې په منډه کښې دویم نمبر راغلے وی او دده نه بل اس مخکښې شوے وی، او هغه بل اس ته «مُجَلِّيْ» وائی او صلاة ته ځکه صلاة وائی چه دا هم د کلمه د شهادت نه روستو دویم نمبر کښې دے ۔

(۷) - بعض وائی : صلاة مشتق دے د صلی نه او صلی وائی : الملازمة للشئ ته یعنی د یو شی سره لازمیدل او همیشه کیدل لکه آیت کښې دی : ﴿ لَا يَصْلَاهَا إِلَّا الْأَشْقَى الَّذِي يَصْلَى النَّارَ الْكُبْرَىٰ ﴾ ۔ ای لا یلزمها ویدوم فیها یعنی په اور کښې به لازم او همیشه نه وی مګر کامل بدبخت انسان الخ ۔ مګر حافظ ابن کثیر فرمائی : واشتقاقها من الدعاء اصح واشهر ۔ تفسیر ابن کثیر (۱/٤۳) ۔ یعنی اول قول ډیر صحیح او مشهور دے چه دا دعاء نه مشتق دے او امام نووی وائی : وهو قول جماهیر اهل اللغة والفقهاء ۔

صلاة شرعی : صلاة په شریعت کښې : [الارکان المخصوصة والاذکار المعهودة، تؤدی فی اوقات معلومة، مقدرة بشرائط محصورة] .

۲ – تعریف : [هی اقوال وافعال مفتتحة بالتکبیر مختتمة بالتسلیم مع النیة] ۔

القاموس الفقهی لغةً واصطلاحاً صـ (۲۱۶) لسعدی ابو حیب وصلوة الجماعة لصالح بن غانم السدلان ص(۱۳) .

دا تعریف شامل دے ټولو مونځونو ته مګر سجده د تلاوت ترے خارج شوه ځکه چه هغے کښے سلام نه وی ۔عند الحنفیه والشافعیه ۔اګرچه د مالکیه او حنابله په نیز سجده د تلاوت ته هم صلاة وائی ۔ الفقه علی المذاهب الاربعة (۱/۱۷۵) ۔

فرضیة الصلاة : پدے امت باندے پنځه مونځونه الله تعالی د معراج په شپه د هجرت نه یو کال یا څلوارلس میاشتے یا شپاړس میاشتے وړاندے فرض کړل بناء په اختلاف د اقوالو په اسراء کښں (ټول شپږ اقوال دی لیکن دا پکښں غوره دی) کما فی الرحیق المختوم (۱۳۷) او ددے نه مخکښے دوه مونځونه فرض وو، یو د نمر خاته نه مخکښے او بل د نمر پریوتو نه مخکښے ۔ لکه دے ته اشاره ده په دے آیت کښے، الله تعالی فرمائی : ﴿ وَ سَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ بِالْعَشِيِّ وَالْإِبْكَارِ ﴾ او دا فرض شوے وو په هغه وقت کښے چه نبی علیه السلام ته وحی شروع شوه ۔

او ددے پنځه مونځونو فرضیت په احادیثو سره هم ثابت دے لکه په قرآن کریم سره ثابت شو ۔ لکه په حدیث د عبادهؓ کښے په فصل ثانی کښے راروان دے (خمس صلوات افترضهن الله) او دارنګه ددے فرضیت په اجماع المسلمین سره هم ثابت دے ۔

او دا په هر بالغ عاقل نر او ښځه باندے بے استثناء فرض دی پدے کښے د هیچا د هیڅ علاقے والو استثناء نشته نو کوم ګمراه ډلے ئے چه فرض نه ګڼری هغه په اجماع د امت مسلمه سره کافر دی ۔

مګر ددے نه مجنون، ماشومان مستثنیٰ دی، په ماشومانو فرض ندے لیکن د تمرین په طور به هغوی ته په اووه کلنئ کښے د مانځه کولو امر کولے شی او په لس کلنئ کښے به د مانځه په نه کولو وهلے شی لکه چه دا په حدیث د احمد ، ابوداود او ترمذی کښے راغلی دی ۔

او دارنګه کوم علماء چه وقت سبب د مانځه ګڼړی او بیا دا وائی چه (ومن لا یجد لایجب) کنز، وغیره ۔ یعنی څوك چه وقت نه مومی په هغوی باندے مونځ نه دے فرض لکه په بعض ملکونو کښے دا کار کیږی لکه بلغاریه علاقه کښے د ماسخوتن مانځه وقت نه ملاویږی د نمر پریوتو سره سمدست نمر راخیژی، دومره وقت نه وی چه مونځ په کښں اداء کړے شی ۔ نو هغوی وائی پدے خلقو باندے چونکه سبب د مانځه نشته لهذا مونځ

پرے هم نشته ۔

لیکن دا فتوی بالکل خطاء ده وجه دا ده، چه نبی علیه السلام (خمس صلوات) وئیلی دی په غیر د استثناء نه او په اهل ددے ملك خو ځلور جوړ ړی سره ددے نه چه الله تعالی خو عالم وو پدے خبره چه په بعضِ ملکونو کښے به داسے حالت وی هغه به نبی ته وحی کړے وے، نو هغه به استثناء کړے وے ۔

هر کله چه استثناء اونشوه، دلیل دے چه پنځه مونځونه پدغه خلقو هم فرض دی ۔ نو دوئ به اوس څه طریقے سره دا مونځ کوی ؟ ۔

نو مسئله دا ده چه دوئ به په دغه لګ وقت کښے هم مونځ کوی اګرچه د بل مانځه وقت پرے راشی او دلیل پدے باندے حدیث د نواس بن سمعانؓ دے چه مسلم او مشکوة (٤٧٣/١) کښے راغلے دے چه په هغے کښے نبی علیه السلام د دجال د حالت تذکره کوی په هغے کښے دا دی چه دجال به په زمکه کښے ځلویښت ورځے تیروی یوه ورځ به پشان د کال وی او یوه ورځ به پشان د یو میاشت وی او یوه ورځ به پشان د هفتے وی نو صحابه کرامؓ تپوس اوکړو چه کله ورځ پشان د کال وی نو آیا زمونږ د یوے ورځے مونځونه به په هغه ورځ کښے کافی وی ؟ ۔ نبی علیه السلام اوفرمائیل : (لا ! اقدروا له قدره) نه ! د هغے دپاره به وقت مقرر کوئ ! ۔

نو بس دغه فیصله د دغه علاقے اوسیدونکی خلقو دپاره هم ده چه د مونځونو دپاره به وقتونه مقرر کړی مثلاً د ماسپخین مونځ به د سحر د مانځه نهه لس ګینټے پس ادا کوی او مازیګر به د ماسپښین نه درے ځلور ګینټے بعد ادا کوی وهکذا د قریبی علاقو په ټائم باندے به اندازه مقررروی ۔

بل دلیل دا دے چه په بعض ملکونو کښ شپے او ورځے اوګدے وی لکه په «ناروی» کښ درے میاشتے شپه او درے میاشتے ورځ وی نو آیا هلته به هم دغه وقت سبب وی څه ؟

فوائد فرضية الصلاة :

د توحید او رسالت د ګواهئ نه پس د اسلام په لوئی فرائضو کښے اوله فریضه مونځ دے او دا د اسلام د ښکاره شعایرو نه دے، لکه په حدیث کښے دی (بین الرجل وبین الکفر ترك الصلاة) رواه مسلم ۔ د اسلام او کفر ترمینځ فرق د مانځه په وجه کیږی نو الله رب العالمین چه کوم لوئی حکم باندے امر کوی، نو د هغے به فائدے هم لوئی وی ۔

نو بعض د هغه فوائدو نه دا دي :

بيا دا فوائد بعض ديني دي او بعض شخصي دي او بعض اجتماعي دي ـ

ددينى فوائدو نه يوه (۱) فائده دا ده چه مونځ د الله تعالى او د هغه د بنده په مابين كښې يو تعلق او تړون دے او پدے سره د خپل خالق سره د مناجات او جرګے كولو خوند حاصليږى كوم چه د ټولو خوندو نه بهترين خوند دے ـ

(۲) – په مانځه كولو سره د الله تعالى د نعمتونو شكر ادا كيږى په كوم باندے چه مومنانو ته حكم شويدے ﴿ وَاذْكُرُوْا نِعْمَتَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ ﴾ ـ

(۳) – او اظهار د خپل عبوديت او بندګۍ دے د الله تعالى په مخكښې ـ

(٤) – او الله تعالى ته خپل ټول كارونه سپارل دي ـ

(٥) او په مانځه سره بنده د الله تعالى د جناب نه امن او سكينه او نجات طلب كوى ـ

(٦) – او مونځ سبب د ګناهونو د مغفرت دے او د نجات او فلاح حاصلولو سبب دے لكه الله تعالى فرمائى : ﴿ قَدْ اَفْلَحَ الْمُؤْمِنُوْنَ الَّذِيْنَ هُمْ فِيْ صَلَاتِهِمْ خَاشِعُوْنَ ﴾ او په حديث كښې د پنځه وقت مونځ كونكى مثال راغلے دے چه مثال ئے د يو شخص دے چه په يو جارى نهر كښې پنځه وقته غسل كوى نو د هغه په بدن څه خيرے نه پاتے كيږى نو دغه شان پنځه وقته مونځ كونكى باندے ګناهونه نه پاتے كيږى ـ فذلك مثل الصلوات الخمس يمحوا الله بهن الخطايا ـ متفق عليه ـ

او شخصى فوائدو كښې دا هم دي :

(۷) – چه په مانځه سره نفس او اراده كښې قوت پيدا كيږى ـ

(۸) – او د الله تعالى نه عزت طلب كول او د دنيا او ددے د زيب او زينت نه اعراض كول او ددے د خواهشاتو نه ځان ساتل او د نفس مخالفت كول او روح ته راحت وركول او د غفلت نه ئے بچ ساتل دى كوم چه انسان د خپل مقصد نه اړوى ـ

او په مسند احمد كښې حديث دے چه نبى عليه السلام باندے به كله غم او پريشانى راغله نو بلال ته به ئے فرمايل : (ارحنا بها يا بلال) بلاله ! مونږ ته د اذان (او بيا د مانځه كولو په وجه راحت راكړه ـ

او نبى عليه السلام فرمائى : جعلت قرة عينى فى الصلاة ـ رواه احمد والنسائى بروايۃ انس ؓ ـ

حاصل دا چه د بنده دپاره مونځ اخلاقى او عملى او نظامى مدرسه ده د هرقسم

منكرات او فحشاوء نه انسان منع كوي، كله چه د خپلو شرائط او آدابو سره اداء كړے شي لكه الله تعالى فرمائي : ﴿إِنَّ الصَّلَاةَ تَنْهَى عَنِ الْفَحْشَاءِ وَالْمُنْكَرِ﴾ ۔

او اجتماعي فوائد پكښې دا دي چه (۹) په مانځه سره اجتماعيت او وحدت د مسلمانانو ته اشاره ده او د يو بل سره اخوت ايماني راښكاره كول دي او شريعت پدے وجه د مونځونو دپاره جماعت او وقتونه مقرر كړيدي چه مسلمانان د يو بل پوښتنه اوكړي قوي د كمزوري مدد اوكړي د مريض تپوس اوكړي ۔ د يو امام تابعداري اوكړي په اركانو د مانځه كښې د يو بل سره د الفت او محبت اظهار دے كوم باند چه امر راغلے دے ۔

خلاصه دا چه مونځ د ټولو خيراتو او نيكيانو يوه مجموعه ده ۔

(۱۰) – يوه لويه فائده دا ده چه انسان ته د مانځه په وجه سره امن ملاويږي لكه نبي عليه السلام فرمائي : (من استقبل قبلتنا وصلى صلاتنا واكل ذبيحتنا فهو المسلم له ما للمسلم وعليه ما على المسلم) ۔ متفق عليه ۔

تنبيه : د هر كتاب لاندے يو باب وي دلته باب مقدر دے اي باب فضائل الصلاة والترغيب فيها ۔ بيا پدے باب كښې به وعيد هم ذكر كيږي نو هغه هم فضائلو كښې داخل دے ځكه چه هغه به راجع وي فضيلت ته پدے طريقه چه هر كله دا مونځ دومره اهم شے دے چه انسان ته ددے په پريخودلو باندے دومره عذاب رسيږي نو دا دليل دے چه په فضيلت د مانځه باندے ۔

الفصل الاول - اولنے فصل

۱ – عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ ، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : اَلصَّلَوَاتُ الْخَمْسُ، وَالْجُمُعَةُ اِلَى الْجُمُعَةِ، وَرَمَضَانُ اِلٰى رَمَضَانَ، مُكَفِّرَاتٌ لِمَا بَيْنَهُنَّ اِذَا اجْتُنِبَتِ الْكَبَائِرُ . رَوَاهُ مُسْلِمٌ .

ترجمه : د ابو هريرة نه روايت دے چه نبي كريم ﷺ اوفرمايل : پنځه مونځونه او د جمعے نه تر جمعے پورے او رمضان نه تر رمضان پورے هغه گناهونه رژوي كوم چه ددے ترمينځ شويدي تر څو چه د كبيره گناهونو نه ځان ساتلے شي ۔

تشريح : هر يو مونځ تر بل مانځه پورے گناهونه رژوي لكه په روايت د احمد كښې داسے دي : الصلاة الى الصلاة التي قبلها كفارة يعني يو مونځ د مخكني مونځ پورے مينځ

کښې شوې ګناهونه ختموي۔

وَالْجُمُعَةُ : دلته مضاف حذف دے يعني صلاة الجمعة او دغه شان رمضان سره هم مضاف حذف دے يعني صوم رمضان۔ د جمعې او د رمضان تخصيص ئې پدے وجه اوکړو چه ددے هريو دپاره جدا جدا فضائل دی۔

مكفرات لما بينهن : يعني محوه كونكې دی هغه ګناهونو لره كوم چه ددے وقتونو او مونځونو په مابين كښې شوې وی۔

فوائد الحديث : ۱ – اوله فائده : **سوال** : هركله چه په مانځه باندے ګناهونه معاف شو نو جمعه او رمضان ته څه پاتے شو ؟ ۔ ددے يو (۱) جواب دا دے چه د هر عبادت متعلق خپل خپل ګناهونه وی نو هغه معاف كوی، بعضے داسے ګناهونه دی چه په مانځه معاف كيږی او بعض داسے ګناهونه دی چه په روژو معاف كيږی مونځ د هغے په معاف كولو كښې تاثير نه كوی ۔ليكن دے باندے دليل نشته۔

(۲) – بل جواب دا دے چه دلته دا خبره بيانوی چه دا اوقات او عبادات اسباب دی د ګناه د معاف كيدلو يعني پدے اوقاتو او عباداتو كښې الله تعالى دا طاقت اچولے دے چه ګناهونه پكښې معاف كيږی او كه ګناهونه نه وی موجود نو درجات به پرے اوچتيږی دليل پدے باندے حديث دے : ثم كان مشيه الى المسجد وصلاته نافلة له ۔ رواه مالك والنسائی وقد تقدم فی الفصل الثالث من كتاب الطهارة۔

۲– **سوال** دا دے چه حديث كښې د صغيره ګناهونو د معاف كيدو دپاره دا شرط ښودلے شويدے چه غټ ګناهونه به نه وی موجود نو مفهوم مخالف دا راوځی چه كله غټ ګناهونه موجود وی نو پدے عبادتونو سره واړه ګناهونه نه معاف كيږی او داسے خبره په آيت : ﴿ إِنْ تَجْتَنِبُوا كَبَائِرَ مَا تُنْهَوْنَ عَنْهُ نُكَفِّرْ عَنْكُمْ سَيِّئَاتِكُمْ ﴾ كښې هم راغلے ده او دا خو د معتزله او خوارجو مسلك دے نو ددے څه جواب كيدے شی ؟ ۔

الجواب : (۱) – امام نووی ددے حديث داسے معنی ذكر كړيده، چه ددے وقتونو په مابين كښې چه كوم ګناهونه شوی وی، هغه ټول معاف كيږی مګر غټ ګناهونه پدے سره نه معاف كيږی بلكه يا په توبه سره معاف كيږی يا د الله په فضل او رحمت سره معاف كيږی، او دا د اهل السنت والجماعت مسلك دے۔

(۲) – **دويم جواب** دا دے چه مفهوم مخالف لره پداسے مقام كښې اعتبار نه وی بلكه هغه په حكم د مسكوت عنه كښې وی، يعني مطلب دا دے چه پدے وقتونو سره

ګناهونه معاف کیږي کله چه غټ ګناهونه نه وي او کله چه غټ ګناهونه موجود وي نو آیا بیا به واړه ګناهونه معاف کیږي او که نه ؟ ۔

نو د هغے بیان یدے حدیث کښے نشته پاتے شو نور دلائل نو په هغے کښے دا دي چه واړه ګناهونه دا په طاعاتو او نیك اعمالو سره معاف کیږي اګرچه غټ ګناهونه موجود وي ۔

او د آیت توجیه داسے ده چه څوك د غټو ګناهونو نه ځان ساتي نو د وړو ګناهونو د معاف کیدو وعده یقیني او قطعي ده او که د غټو ګناهونو نه ځان نه ساتي نو بیا د هغه فیصله الله تعالى ته سپارلے شویده که هغه غواړي معاف به ئے کړي او که غواړي نه ئے معاف کوي د الله مشیت ته سپارلے شویدے نو دا خبره په آیت کښے نشته چه که غټ ګناهونو نه ځان نه ساتئ نو واړه نه معاف کوم بلکه په آیت کښے ترغیب دے چه د غټو ګناهونو نه ځان ساتئ نو واړه به هم معاف کیږي ۔

(۳) - **یا جواب** دا دے چه دا قید صرف د یرے دپاره لګولے شویدے چه ځان د غټو ګناهونو نه ساته واړه ګناهونه به دے معاف کیږي په دے طاعاتو سره او که د غټو ګناهونو نه ځان نه ساتے نو یره ده چه کیدے شي الله تعالى درته واړه ګناهونه هم معاف نه کړي نو پدے آیت کښے د کبائرو نه د نفرت پیدا کولو دپاره دا قید لګیدلے دے او که مطلقا ئے داسے وئیلي وی چه ټول ګناهونه معاف کیږي نو بیا به انسان په دهوکه کښے راتلے چه هسے هم ګناهونه پدے اعمالو معاف کیږي کوم چه څه دے خوښه وي ۔ ددے مسئلے پوره تفصیل کتاب الطهارة کښے تیر شویدے ۔

٢ – وَعَنْهُ ﷺ ، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: اَرَأَيْتُمْ لَوْ اَنَّ نَهْراً بِبَابِ اَحَدِكُمْ يَغْتَسِلُ فِيْهِ كُلَّ يَوْمٍ خَمْساً، هَلْ يَبْقٰى مِنْ دَرَنِهٖ شَيْءٌ ؟ قَالُوْا : لَا يَبْقٰى مِنْ دَرَنِهٖ شَيْءٌ قَالَ: فَذٰلِكَ مَثَلُ الصَّلَوَاتِ الْخَمْسِ، يَمْحُو اللهُ بِهِنَّ الْخَطَايَا، مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ .

ترجمه : ابو هریرةؓ نه روایت دے چه نبی کریم ﷺ (صحابه کرامؓ ته خطاب کولو سره) اوفرمایل : تاسو خبر راکړئ ! چه د چا د دروازے مخے ته د اوبو نهر روان وي او هغه پکښے هره ورځ پنځه وخته غسل کوي نو آیا د هغه په بدن باندے به څه خیرے پاتے شي ؟ صحابه کرامؓ عرض اوکړو : نه ! بالکل به هیڅ خیرے پاتے نشي ۔ نبی علیه السلام اوفرمایل : (بس پوهه شئ) چه دغه مثال دے د پنځو مونځونو چه الله تعالى پدے سره

تمام گناهونه داسې ختموی (لکه څنګه چه اوبه خیرې صفا کوی) (بخاری ومسلم) ۔

تشریح: اَرَاَیْتُمْ: دا لفظ د متوجه کولو دپاره استعمالیږی ۔

نَهْراً: بل روایت کښې ورسره دا دی چه ژور نهر وی نو اشاره ده چه مونځ هم ژور عبادت دے ۔

یَغْتَسِلُ: کښې اشاره ده چه مانځه سره د ټول بدن نه ګناهونه ختمیږی لکه د غسل پشان چه ټول بدن ورسره پاك شی ۔

بِبَابِ اَحَدِکُمْ: کښې اشاره ده چه دا مونځونه آسان دی، نزدې کورونو سره مساجد آباد دی ۔ څه مشکلات پکښې نشته ۔

فَذٰلِکَ مَثَلُ الصَّلَوَاتِ الْخَمْسِ ۔

فذلك کښې اشاره یا نهر ته ده او یا خمس صلوات ته ده ۔

دلته تشبیه د معقول ده چه مونځ دے د محسوس سره چه په نهر کښې غسل کول دی دا هله چه مثل لفظ په فتحه د میم او ثاء سره شی او که په کسره د میم او سکون د ثاء سره شی نو بیا تشبیه د غسل ده د مانځه سره لیکن حقیقت کښې تشبیه د مانځه ده د غسل سره خو صرف په لفظ کښې ئې عکس او قلب کړیدے د مبالغې دپاره او دا ځکه چه تشبیه کښې اصل دا ده چه د معقول تشبیه ورکولے شی د محسوس سره خو دلته عکس اوشو دپاره د مبالغې پیداکولو ۔

او وجه د تشبیه دا جمله ده چه یمحو الله الخ یعنی تشبیه په محو او صفا کولو کښې ده یعنی لکه څنګه چه پنځه وقت لامبلو سره بدن نه خیری او ګندونه صفا کیږی دغه شان په پنځه وقت مونځ کولو سره ګناهونه صفا کیږی ۔

بیا دلته تشبیه د مونځونو د غسل سره ورکړې شویده او دا تشبیه د مرکب ده د مرکب سره یعنی یو هیئت مرکبه د بل هیئت مرکبه سره مشابه کول لکه دا په عامو ځایونو کښې مراد وی مطلب دا دے چه لکه څنګه ورځ کښې پنځه کرتې غسل کولو سره د انسان بدن پاکیږی او خیری وغیره ختمیږی نو دغه شان د پنځه وقته مونځونو په وجه سره د انسان نه ګناهونه زائله کیږی ۔

یَمْحُوْ اللّٰهُ بِهِنَّ الْخَطَایَا: د خطایا نه ظاهر داده چه ټول ګناهونه (واړه او لوئی) مراد دی یعنی دا ټول ګناهونه معاف کوی ۔ لیکن بعض علماء وائی چه غټ ګناهونه دلته ندی مراد ځکه چه مخکښې حدیث کښې واړه ګناهونه مراد وو نو دلته دا مطلق به حمل

وی په هغه مقید باندې او غټ ګناهونه په توبه معاف کیږي۔

لیکن پدې باندې بیا دا **سوال** واردیږي چه هر کله دلته تخصیص د وړو ګناهونو اوشو نو بیا خو تشبیه د غسل سره صحیح نه ده ځکه چه په غسل سره خو ټول ګندونه او خیرې وغیره زائله کیږي او دلته به بعض ګناهونه زائله کیږي نو تشبیه به څنګه صحیح شي ؟۔

او بله دا چه که تشبیه ته نظر اوکړې شي پکار ده چه غټ ګناهونه ئې زائل کولې ځکه دا په منزله د ګندونو دي، ځکه په غسل سره به غټ ګندونه زائل شي نو دلته په مونځونو سره به هم غټ ګناهونه زائل شي نو هله به تشبیه صحیح شي، دا څنګه کیدې شي چه یو انسان او لامبي او په ده باندې ګندونه دپاسه پراته وي او صفا نشي بلکه ټول به صفا کیږي نو دلته به هم ټول ګناهونه ختمیږي ۔ دا وجه ده چه شیخ الاسلام ابن تیمیة" اول قول غوره کړیدې چه پدې حدیث کښې عموم شه دې ۔

اګرچه ددې **سوال** نه شیخ ابو الحسن السندهی" په حاشیه د مسلم (۱/۲۳۵) کتاب الصلوة باب فضل الصلوة المکتوبة کښې داسې جواب ورکړیدې چه صغائر ګناهونه په ظاهر باندې تاثیر کوي چه ظاهر بدن خیرن کوي، لکه بعض روایاتو نه معلومیږي چه واړه ګناهونه د اودس سره ساقطیږي نه لوئی ګناهونه ۔ او لوئی ګناهونه په باطن باندې تاثیر کوي لکه بعض روایاتو کښې دي چه بنده کله ګناه اوکړي نو د هغه په زړه باندې تور داغ راشي او لکه الله تعالی فرمائي : ﴿ كَلَّا بَلْ رَانَ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ مَا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ﴾ نو لکه څنګه چه غسل ظاهري خیرې ختموي نه باطني نو دغه شان مونځونه صرف واړه ګناهونه ختموي نه غټ ۔ او دا مسئله مخکښې دکتاب الطهارة ابتداء کښې تیره شویده ۔

لیکن د سندهی" د قول نه جواب دا دې چه دا فرق ستا بې بنیاده دې، صغیره ګناه او غټه ګناه اولاً په زړه اثر کوي لکه دغه آیت او حدیث کښې عموم دې ۔ دا رنګه زیات تفصیل په الجواب الکافی (۸۲) لابن القیم" کښې دې هلته ئې ددې په باره کښې فصلونه راوړي دي چه یو فصل دا دې : فصل آثار المعاصي المضرة بالقلب : او په ډیرو دلائلو ئې ثابته کړیده چه ګناهونه په زړه باندې تاثیر کوي، زړه مړ کوي ۔

۳– وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ ﷺ، قَالَ : اِنَّ رَجُلاً اَصَابَ مِنِ امْرَاَةٍ قُبْلَةً ، فَاَتَى النَّبِيَّ ﷺ فَاَخْبَرَهُ، فَاَنْزَلَ اللّٰهُ تَعَالٰى ﴿ وَاَقِمِ الصَّلَاةَ طَرَفَيِ النَّهَارِ وَزُلَفاً مِنَ اللَّيْلِ اِنَّ

الْحَسَنَاتِ يُذْهِبْنَ السَّيِّئَاتِ ﴾ فَقَالَ الرَّجُلُ : يَا رَسُوْلَ اللهِ ! أَلِيَ هٰذَا ؟ قَالَ : لِجَمِيْعِ أُمَّتِيْ كُلِّهِمْ . وَفِيْ رِوَايَةٍ : لِمَنْ عَمِلَ بِهَا مِنْ أُمَّتِيْ . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ .

ترجمه : عبد الله بن مسعودؓ فرمائی : یو سړی پردۍ ښځے نه کوکۍ واخسته بیا (د شرم محسوس کولو سره) د نبی کریم ﷺ په خدمت کښے حاضر شو او د واقعے خبرۍ ورکړو (او د هغه نه ئے ددے حکم اوتپوسلو، هغه هیڅ جواب ورنکړو بلکه د وحی په انتظار کښے وو چه پدے مابین کښے دے شخص مونځ اوکړو) کله چه الله تعالی دا آیت نازل کړو (واقم الصلاة طرفی النهار) (او مونځ لره د ورځے په اول او آخر کښے او د شپے په څه ساعتونو کښے کوه څکه نیکیانے (یعنی مونځونه) گناهونه ختموی) (د آیت نازلیدلو نه پس) هغه شخص عرض اوکړو یا رسول الله ! دا حکم خاص زما دپاره دے (او که تول امت دپاره) ؟ نبی علیه السلام اوفرمایل : نه ! (دا حکم) زما د تول امت دپاره دے ۔ په یو بل روایت کښے دی : زما د امت نه چه هر څوك پدے آیت باندے عمل اوکړی د هغه دپاره (دا حکم) دے، (یعنی هر څوك چه د گناه نه پس نیکی اوکړی هغه ته به دا سعادت حاصلیږی او د هغه گناه به ختمیږی) (بخاری، مسلم) ۔

تشریح : رَجُلاً : حافظ ابن حجرؒ فرمائی : ددے سړی نوم ابوالیَسَر کعب بن عمرو الانصاری السلمی دے او بدری صحابی دے او دا قول غوره دے نور نومونه هم ذکر شویدی بعض وائی نبهان التمار، یا عامر بن قیس، یا عباد یا عمرو بن غزیه دے او دا هغه صحابی دے چه عباسؓ ئے په بدر کښے قید کړے وو د گد نه لنډ وو، په مدینه کښے په (۵۵ هـ) کښے وفات دے او دده واقعه په ترمذی او نسائی وغیره کښے ذکر ده ۔ دے وائی چه ما ته یوه ښځه راغله چه کجورئے زما نه اخستے، ما ورته اووئیل کوټه کښے ددے نه مزیدارے کجورے دی، نو هغه زما سره کوټے ته داخله شوه نو ما ښکل کړه ۔

پدے کار سره هغے ما ته (تنبیه راکړه) وئے وئیل : د الله بنده ! د الله (د قهر او غضب) نه اوویریږه نو زه په ډیر شرم او حیاء سره د رسول الله ﷺ خواته راغلم ۔ او باقی قصه حدیث کښے بیان شوه ۔

فَأَنْزَلَ اللهُ تَعَالٰی : علامه طیبیؒ وائی دا عطف دے په مقدر باندے یعنی فاخبره فسکت رسول الله ﷺ فصلی الرجل فانزل الله ۔ او پدے باندے راتلونکے حدیث دلالت

کوی۔

فوائد الحديث : ١- پردۍ زنانه ښکلول ګناه ده لیکن په مانځه سره معاف کیږی کله چه مونځ مونځ وی۔

٢- پدے کښے څه معین حد نشته ٣- او که څوك پدے عمل پښیمانه وی او توبه ګار وی نو د هغه تعزیر هم نشته۔ ٤- د (أَلِيَ هٰذَا ؟) لفظ نه دا شرعی قاعده معلومیږی چه العبرة لعموم اللفظ لا لخصوص السبب ۔ یعنے په شریعت کښے د الفاظو عموم لره اعتبار وی او خاص واقعے او سبب لره اعتبار نه وی حکم د هغے پورے خاص نه وی۔

٥- شان د صحابی ترے معلوم شو چه وړوکی ګناه دومره پریشانه کړیدے چه نبی علیه السلام ته راغلے دے او هیڅوك ترے خبر نه دی او د خلقو مخامخ ځان پیش کوی او په خپله ګناه باندے اقرار کوی۔

٦- **فائده** : مفسرین لیکی چه د اقم الصلاة طرفی النهار وزلفا من اللیل نه پنځه مونځونه معلومیږی ځکه چه د طرفی النهار نه مراد تفسیر مدارك الغدوة والعشی اخستے دے نو پدے کښے د صبا او ظهر او عصر مونځ راغلو ځکه چه عشی د زوال نه پس زمانے ته وائی۔ نو مازیګر او ماسپښین دواړو ته شامل دے۔ او زلفا من اللیل یعنی څه ساعتونه د شپے زُلَفًا جمع د زُلْفَةٌ ده دا د شپے هغه قریبی ساعتونو ته وائی چه ورځے ته نزدے وی نو دے کښے د ماښام او ماسخوتن مونځ راغلو۔

لِمَنْ عَمِلَ بِهَا مِنْ أُمَّتِيْ : نه مراد دا دے یعنی هر هغه څوك چه د بدۍ نه پس نیکی اوکړی د هغه هم دغه حکم دے چه ګناه به ئے معاف کیږی۔

٧- د هلکانو په مخ کښے یا فاسقانو په مخامخ به دا حدیث پداسے طریقه نشی بیانولے چه هغوی ترے غلطه فائده واخلی مثلا چه داسے اووائی چه جینۍ ښکل کړه او بیا مونځ اوکړه بس ګناه معاف شوه ځکه چه هغوی په ګناه زړه ور کیږی د موقع او محل شناسۍ لحاظ به کولے شی بلکه که یو انسان دا کار اوکړی او پښیمانه وی نو هغه ته به اووائے چه دے کار نه آینده کښے ځان ساته ځکه چه دا کار ایمان خرابوی، نقصان ورته رسوی خو زه ته پښیمانه ئے نو الله تعالی به د دا ګناه په مانځه معاف کړی نو خوف او امید به ورله ورکړے

الغرض : بیان کښے ډیر احتیاط پکار دے ځکه چه ددے ډیر تاثیر وی۔

(٨) سوال : دا واقعه مدنی ده او آیت مکی دے نو څرنګ دا آیت دے واقعه کښ نازل

شو ؟ جواب دا دے چه د نزول نه مراد ددے قصے موافقت دے د مصداق د آيت سره يعنى دا آيت موافق ددے واقعے دے او پدے باندے هم صادقيږى نو دا داسے دے لکه چه دا آيت چه پدے واقعه کښ نازل وی ۔

٤ – وَعَنْ اَنَسٍ ﷺ، قَالَ : جَاءَ رَجُلٌ فَقَالَ : يَارَسُوْلَ اللهِ ! اِنِّیْ اَصَبْتُ حَدّاً فَأَقِمْهُ عَلَىَّ، قَالَ : وَلَمْ يَسْأَلْهُ عَنْهُ. وَحَضَرَتِ الصَّلَاةُ، فَصَلّٰى مَعَ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ، فَلَمَّا قَضَى النَّبِیُّ ﷺ الصَّلَاةَ، قَامَ الرَّجُلُ، فَقَالَ : يَا رَسُوْلَ اللهِ ! اِنِّیْ اَصَبْتُ حَدّاً فَاَقِمْ فِیَّ كِتَابَ اللهِ . قَالَ : «اَلَيْسَ قَدْ صَلَّيْتَ مَعَنَا ؟» قَالَ : نَعَمْ . قَالَ : فَاِنَّ اللهَ قَدْ غَفَرَ لَکَ ذَنْبَکَ اَوْ حَدَّکَ . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ .

ترجمه : انس ؓ فرمائى : يو شخص د نبى كريم ﷺ په خدمت كښے حاضر شو او عرض ئے اوكړو اے د الله رسوله ! ما نه داسے كار سرزد شويدے چه په هغے باند حد واجب دے، پدے وجه په ما باندے حد جارى كړئ ! راوى وائى : نبى عليه السلام د هغه نه د حد په باره كښ هيڅ تپوس اونكړو او د مانځه وخت راغلو ۔ دے سړى د نبى عليه السلام سره مونځ اوكړو، كله چه نبى كريم ﷺ د مانځه نه فارغ شو نو دا سړے اودريدو او عرض ئے اوكړو اے د الله رسوله ! ما نه داسے كار صادر شويدے چه حد لره واجبونكے دے پدے وجه تاسو زما په باره كښے د الله تعالى حكم نافذ كړئ !، نبى كريم ﷺ اوفرمايل : آيا تا زمونږ سره مونځ ندے كړے ؟ هغه اووئيل : آؤ كړے مے دے ، نبى عليه السلام اوفرمايل : الله تعالى ستا ګناه معاف كړه يا ئے اوفرمايل : ستا حد ئے اوبخښلو ۔ (بخارى، مسلم) ۔

تشريح : جَاءَ رَجُلٌ : حافظ په فتح البارى كښے فرمائى : ددے سړے په نوم باندے زه خبر نه يم ليكن چا چه ددے حديث قصه او د مخكښے حديث د ابن مسعود قصه يوه ګڼړلے ده نو دا حديث ئے د هغه حديث تفسير ګرځولے دے ليكن دا خبره صحيح نده وجه دا ده چه دواړه قصے جدا جدا دى او پدے تعدد د قصو باندے د امام بخارى رايه هم ده ځكه چه هغه د دواړو حديثونو دپاره بيله بيله ترجمه راوړيده د اول حديث قصه ئے پدے حمل كړيده چه څوك په يو داسے ګناه باندے اقرار اوكړى چه هغه حد نه واجبوى ځكه چه (غير انى لم اجامعها) لفظ تصريح پكښے شويده ۔ او دويمه ئے په هغه ګناه حمل كړے چه حد واجبوى ۔

او چا چه دواړه قصے يو كړيدى نو هغه دا سے وائى : چه شايد دے سړى هغه څه ته چه حد نه واجبوى حد وئيلے وى يا دا چه دا كار ورته لويه ګناه ښكاره شويده نو دا ګمان ئے اوكړو چه پدے باندے به حد واجب وى ۔انتهى ۔

اِنِّىْ اَصَبْتُ حَدًّا : يعنى ما رسيدل كړى هغه څه ته چه حد واجبوى اى اصبت موجب الحد ۔

وَلَمْ يَسْأَلْهُ عَنْهُ : او نبى عليه السلام د هغه سړى نه دا تپوس اونكړو چه تا كومه ګناه كړيده چه هغه حد واجبوى ؟ ددے تپوس نه كولو څو وجوهات دى : ۔

(۱) – اوله وجه دا ده چه پدے سره تجسس (جاسوسى) د ګناهونو د خلقو راځى كوم نه چه شريعت منع فرمائيلے ده په ﴿ وَلَا تَجَسَّسُوْا ﴾ سره ۔

(۲) – دويمه وجه : نبى عليه السلام دا غوختل چه په هغه باندے پرده واچوى او خلقو ته د هغه ګناه ښكاره نشى ۔

(۳) وجه : شايد نبى عليه السلام ته په وحى سره معلومه شوى وى چه الله تعالى دے سړى ته دا ګناه معاف كړيده ځكه ئے تپوس او نكړو ورنه خامخا به ئے تپوس كولے او حد به ئے پرے قائمولے ۔

امام خطابىؒ او نووىؒ او نورو علماؤ وئيلى دى چه ددے سړى دا ګناه صغيره وه ځكه چه دا په مانځه معاف شويده او په مونځونو سره واړه ګناهونه معاف كيږى نه كبائر ۔

امام بخارى پدے حديث باندے باب ايخودے دے « باب اذا اقر بالحد ولم يبين هل للامام ان يستر عليه ؟ » حافظ وائى : ظاهر دا ده چه دا باب حمل دے په هغه چا چه اقرار په حد اوكړى او د هغے بيان اونكړى نو په بادشاه باندے دا واجب ندى چه هغه كله توبه ويستلى وى چه په هغه باندے حد قائم كړى ۔ دا په هغه وقت كښے چه موجب د حد مخفى وى ۔او پدے وخت كښې امام او بادشاه له حتى الوسع ستر او ترغيب الى الاخفاء وركول پكار دى كما فى حديث ماعز بن مالك رضى الله عنه ۔

٥– وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ ﷺ قَالَ : سَأَلْتُ النَّبِيَّ ﷺ اَىُّ الْاَعْمَالِ اَحَبُّ اِلَى اللهِ ؟ قَالَ: اَلصَّلَاةُ لِوَقْتِهَا، قُلْتُ : ثُمَّ اَىٌّ ؟ قَالَ : بِرُّ الْوَالِدَيْنِ، قُلْتُ : ثُمَّ اَىٌّ ؟ قَالَ :

اَلْجِهَادُ فِیْ سَبِیْلِ اللهِ. قَالَ : حَدَّثَنِیْ بِهِنَّ، وَلَوِ اسْتَزَدْتُهٗ لَزَادَنِیْ . مُتَّفَقٌ عَلَیْهِ .

ترجمه : او د عبد الله بن مسعودؓ نه روایت دے فرمائی : ما د نبی کریم ﷺ نه تپوس اوکړو چه الله تعالی ته کوم عمل د تولو نه زیات محبوب دے ؟ هغه اوفرمایل : په خپل وقت بانـدے مونـځ کول ،، (یعنی چه په مکروه وقت کښے مونځ اونکړے شی) ما اووئیل : بیا کوم عمل بهتر دے ؟ نبی علیه السلام اوفرمایل : د مور پلار سره نیکی کول، ما عرض اوکړو بیا کوم عمل بهتر دے ؟ نبی کریم ﷺ اوفرمائیل : د الله تعالی په لاره کښے جهاد کول، ابن مسعود فرمائی : چه ما ته نبی کریم ﷺ دغه خبرے بیان کړے وے که ما څه زیات تپوس کړے وے نو نبی علیه السلام به ددے نه هم زیات بیان کړی وے ۔ (بخاری ومسلم) ۔

تشریح : اَیُّ الْاَعْمَالِ اَحَبُّ اِلَی اللهِ ؟ : د اعمالو نه مراد بدنی اعمال دی – پدے سره دا سوال دفع شو چه د تولو اعمالو نه غوره عمل خو ایمان دے نو نبی علیه السلام څنګه ډیرغوره عمل مونځ بنائی ؟ ۔ حاصل د جواب دا چه دلته د بدنی ظاهری اعمالو تپوس دے، او ایمان خو د زړه (باطنی) عمل دے ۔

اَلصَّلاةُ لِوَقْتِهَا، : لام په معنی د فی سره دے او حروف جاره دیو بل په معنی سره استعمالیږی لکه قرآن کښے دی : ﴿ وَنَضَعُ الْمَوَازِیْنَ الْقِسْطَ لِیَوْمِ الْقِیَامَةِ ﴾ ای فی یوم القیامة نو معنی دا شوه الصلوة فی وقتها الاول یعنی په اول وقت مونځ کول د تولو نه بهتر عمل دے د اول لفظ مونږ ورسره زیات کړو ځکه چه دا په روایت د حاکم، دارقطنی او بیهقی کښے راغلے دے ای الصلاة فی اول وقتها او دا صحیح روایت دے ۔

بیا دلته دا خبره زده کړه چه په بعض حدیثونو کښے د ماسخوتن او ما سپښین په باره کښے د مانځه ناوخته کولو بهتر والے راغلے دے او دے حدیث نه د تولو مونځونو په اول وقت کښے بهتر والے معلومیږی نو ظاهر کښے تعارض راځی خو در حقیقت تعارض نشته ځکه چه دا حدیث عام دے او هغه حدیثونه خاص دی او د خاص او عام په مابین کښے تعارض نه وی په هر عام کښے تخصیص راتلے شی او ددے تفصیل روستو په باب المواقیت کښے راروان دے ان شاء الله ۔

بیا پدے مقام کښے **مشهور سوال** راځی چه پدے روایت کښے د تولو نه بهتر عمل

صرف مانځه ته اووئیل شو او د نورو روایتونو نه معلومیږی چه نور اعمالو ته بهتر وئیل شویدی لکه کله جهاد ته د ټولو نه لوئی عمل وئیلے شویدے، کله صدقے ته، کله د مور پلار سره احسان ته نو د ټولو عملونو نه ډیر بهتر عمل صرف یو کیدے شی ځکه افضل او احب صیغه د اسم تفضیل ده نو څنګه هریو ته ډیر بهتر وئیل شویدے، دا خو تعارض دے ؟ ـ

نو ددے سوال (۱) – **یو جواب** خو دا دے چه نبی علیه السلام هر مخاطب ته د هغه د حال مطابق جواب ورکړیدے که څوك به په مانځه کښے سست معلومیدو نو هغه ته به ئے د مانځه بهتر والے ذکر کولو او که څوك به بهادر وو نو د هغه دپاره به ئے د جهاد بهتر والے ذکر کولو، او که څوك به مالدار وو نو هغه ته به ئے د صدقے وغیره فضیلت بیانولو، نو حاصل دا شو چه دا فضیلت د هر چا په نسبت نه دے بلکه دا د مخاطبینو د حال په نسبت دے او تعارض به هله وے چه کله د هر چا په نسبت سره دا یو عمل ډیر بهتر وے او نور دومره بهتر نه وے ـ

(۲) – **دویم جواب** دا دے چه اختلاف د جواب بناء دے په اختلاف د اوقاتو باندے ـ د مانځه په موقع مونځ بهتر دے د ټولو اعمالو نه او د جهاد په موقع جهاد د ټولو اعمالو نه بهتر عمل دے وهکذا ـ نو د موقع او محل په وجه کله یو مفضول عمل افضل ګرځی لکه ذکر لوئی عبادت دے لیکن که د جهاد په موقعه کښے انسان ذکر ته کور کښے کینی او د جهاد نه پاتے شی نو الله به ورته سزا ورکوی پدے وقت کښے جهاد بهتر دے، دغه شان د قرآن کریم تلاوت او نور اعمال واخله لکه مونځ افضل عبادت دے لیکن د حاجتمند انسان د حاجت پوره کولو په موقعه کښے صدقه د مانځه نه غوره ده یعنی هغه انسان چه مونځ هم کوی او د حاجتمند حاجت پوره کوی دا بهتر دے د هغه شخص نه چه صرف مونځ کوی او د حاجتمند حاجت نه پوره کوی ـ

بِرُّ الْوَالِدَيْنِ : بر په کسره د باء او تشدید د راء سره احسان کولو ته وائی ضد ئے عقوق راځی چه بدی کول او حقوق ضائع کولو ته وائی او بَرٌّ که په فتحه د باء شی نو بیا اوچے زمکے ته وائی مقابل ئے بحر دے او د الله په صفاتو کښے یو اسم دے ـ

حَدَّثَنِيْ بِهِنَّ، وَلَوِ اسْتَزَدْتُهٗ لَزَادَنِيْ : یعنی نبی علیه السلام ما ته دا درے څیزونه بیان کړل او که ما د هغه نه د زیات سوال مطالبه کړے وے نو ما ته به ئے زیات اعمال ښودلی وے اشاره ده ډیر والی د نیك اعمالو ته ـ

٦- وَعَنْ جَابِرٍ رضي الله عنه ، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صلى الله عليه وسلم : بَيْنَ الْعَبْدِ وَبَيْنَ الْكُفْرِ تَرْكُ الصَّلَاةِ . رَوَاهُ مُسْلِمٌ .

ترجمه : جابرؓ فرمائی : نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمایل : د مانځه پريخودل د بنده مؤمن او کفر ترمينځ (ديوال ماتوی) ۔ (مسلم)

تشريح : بَيْنَ الْعَبْدِ وَبَيْنَ الْكُفْرِ تَرْكُ الصَّلَاةِ : د عبد نه مراد مسلمان سړے دے او د ښځے هم دا حکم دے ۔

(تركيب) : ترك الصلاه مبتداء مؤخر او بين العبد وبين الكفر معطوف، معطوف عليه ظرف خبر مقدم دے او عامل د ظرف حذف دے اى وُصْلَةٌ تقدير د عبارت داسے دے : ترك الصلاة وُصْلَةٌ (وَاسِطَةٌ) بين العبد وبين الكفر ۔

معنى دا ده چه د مانځه پريخودل رسونکے دے بنده لره کفر طرفته ۔ پديسره سوال دفع شو چه د ايمان او کفر ترمينځ پرده خو مونځ دے نه پريخودل د مانځه نو مونږ چه کوم تقدير را اوويستو نو دا سوال اوس نه واردیږی فتدبر ۔

۲- يائے مبتدا محذوف ده اى الفارق بين العبد وبين الكفر ترك الصلاة يعنى د مانځه پريخودل د مومن او کافر په مينځ کښے فرق راوستونکے شے دے چه مومن مونځ کوی او کافر کښے دا عمل نه وی موجود ۔

۳- په حاشيه د ابن ماجه کښے فاضل سندهیؒ فرمائی : داسے عبارت په لغت عربی کښے په دوه قسمه استعماليږی (۱) - يو په معنى د مانع او پردے سره او پدے معنى باندے سوال وارديږی چه د کفر او مومن ترمينځ خو مانع مونځ دے نه د مانځه پريخودل ۔ او ددے مثال لکه ﴿مِنْ بَيْنِنَا وَبَيْنِكَ حِجَابٌ﴾ دے ۔

(۲) - دويم په معنى د وسيلے او ذريعے او سبب سره دے يعنى پريخودل د مانځه وسيله او ذريعه ده دپاره د رسولو د مومن طرف د کفر ته لکه مونږ دا مخکښے ذکر کړو او همدا غوره ده باقى مسئله د تارك الصلاة به فصل ثالث کښے د عبد الله بن شقيق په روايت کښے راشى ان شاء الله فانتظرها ۔

الفصل الثانی - دويم فصل

۷- عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ رضي الله عنه قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صلى الله عليه وسلم : خَمْسُ صَلَوَاتٍ

افْتَرَضَهُنَّ اللهُ تَعَالٰى مَنْ اَحْسَنَ وُضُوْءَ هُنَّ، وَصَلَّاهُنَّ لِوَقْتِهِنَّ، وَاَتَمَّ رُكُوْعَهُنَّ وَخُشُوْعَهُنَّ، كَانَ لَهُ عَلَى اللهِ عَهْدٌ اَنْ يَّغْفِرَ لَهُ، وَمَنْ لَمْ يَفْعَلْ فَلَيْسَ لَهُ عَلَى اللهِ عَهْدٌ اِنْ شَاءَ غَفَرَ لَهُ وَاِنْ شَاءَ عَذَّبَهُ. رَوَاهُ اَحْمَدُ، وَاَبُوْدَاوُدَ. وَرَوٰى مَالِكٌ، وَالنَّسَائِيُّ نَحْوَهُ

ترجمه: عباده بن صامت‌ؓ فرمائي: رسول الله ﷺ فرمائيلي دى: پنځه مونځونه الله تعالى فرض كړيدى ـ چا چه ددے دپاره په ښائسته طريقه اودس اوكړو او دائے په خپل وقت كښے اداء كړل او ددے ركوع او خشوع ئے په ښه شان سره اوكړه (يعنى مونځ ئے په توجه سره اوكړو) نو دده دپاره په الله تعالى باندے ذمه (يعنى د الله تعالى وعده) دا ده چه دهغه ګناه به بخښى او چا چه داسے كار اونكړو (يعنى پدغه مذكوره ښائسته طريقه سره ئے اونكړل يا ئے بالكل اداء نكړل) نو الله تعالى د هغه ذمه دار نه دے، كه اوغواړى نو بخښنه به ورته اوكړى او كه اوغواړى عذاب به ورته وركړى ـ احمد او ابوداود روايت كړيدے او مالك او نسائى ددے پشان روايت كړيدے)ـ

تشريح: دا حديث عباده بن صامت په هغه وقت كښے اووئيلو چه چا ترے تپوس اوكړو (السائل هو رفيع المجدحى) دلته يو شخص دے ابو محمد ئے نوم دے (اسمه سعد بن اوس ـ مشكل الآثار ٢٢٣/٤) هغه وائى چه وتر واجب دى نو عبادهؓ پرے رد اوكړو چه (كذب ابو محمد) ابو محمد دروغ وائى خطا شويدے ځكه چه رسول الله ﷺ فرمائيلى دى (خمس صلوات) صرف پنځه مونځونه فرض دى او وتر واجب نه دى يعنى فرض نه دى (واجب بمعنى الفرض) كما فى الموطأ لمالك (١٠٧/١) وصحيح ابى داود رقم (٤٢٥) بل روايت كښے دى ولكنه سنة ـ انظر مشكل الآثار)ـ يعنى عبادهؓ اوفرمائيل: وتر سنت دى ـ

فائده: د خمس صلوات نه معلومه شوه چه فرائض صرف پنځه دى او وتر واجب او فرض ندى ٢- تحية المسجد هم فرض او واجب نده بلكه سنت ده او د هغے پريخودل د فرض د پريخودلو پشان ندى بلكه ددے نه كول د ډير خير نه محروم كيدل دى ـ او پدے باندے ډير دلائل دى كما فى فتاوى الدين الخالص (٣٨٤/٣) ـ

وَاَتَمَّ رُكُوْعَهُنَّ: د ركوع تخصيص ئے اوكړو اګرچه د سجدے هم دا حكم دے لكه په

روایت د مسند احمد کښې ورسره (وسجودهن) لفظ هم راغلی دے نو د رکوع د تخصیص وجه دا ده چه عام خلق د رکوع اتمام نه کوی لکه قرآن کریم کښې هم صرف د رکوع تذکره شویده پدے آیت کښې ﴿ وَارْكَعُوا مَعَ الرَّاكِعِينَ ﴾ البقره ۔ همدغه نکته ئے ده او دا واقعی خبره ده چه عام انسانان رکوع پداسے جلتئ سره کوی ګویا کښې چه رکوع د سره عبادت نه ګنړی د جوماتو امامانو ته فکر اوکړه حقیقتِ حال نه به خبر شے او د پیغمبر پدے ارشاد به دے یقین مضبوط شی ۔

وَخُشُوعَهُنَّ :

تعریفات الخشوع ومصداقاته

په مانځه کښې خشوع دیته وائی چه اندامونه د عبث او لوبو نه په آرام وی، پے ځایه نه خوزی، او زړه د مانځه نه په غیر په نورو کارونو او فکرونو کښې نه وی مشغول ۔

امام بغوی رحمه الله فرمائی : الخشوع فی البدن والبصر والصوت ۔ خشوع په بدن او نظر او آواز کښې وی ۔ **ابوالشیماءؒ فرمائی** : هو التذلل والتواضع لله بالقلب والجوارح۔

خشوع : ځان ذلیل کول او الله ته په زړه او اندامونو سره عاجزی کولو ته وائی ۔

حافظ ابن القیم رحمه الله فرمائی : **جُماع الخشوع** : هو التذلل للامر والاستسلام للحکم والانصیاع للحق فیتلقی الامر بقبول وانقیاد ویستسلم للحکم بلا معارضة ولا رأی ویتضع قلبه وینکسر لنظر الرب الی قلبه وجوارحه ۔ یعنی جامع خشوع د الله او د رسول امر او حکم ته ځان ذلیل کول او هغے ته غاړه کیخودل او حق ته ځان وړاندے کول دی نو حکم د الله او رسول به قبلوی او د هغے مقابله به په رأیه وغیره سره نه کوی او زړه کښې به دا دهیان پیدا کړی چه زما زړه او اندامونو ته الله تعالی ګوری ۔

بیا په مانځه کښې خشوع کول د کامیابئ سبب دے ﴿ قَدْ أَفْلَحَ الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ هُمْ فِي صَلوتِهِمْ خَاشِعُونَ ﴾ ۔خشوع په عام حالاتوکښې هم د مومنانو صفت دے ﴿ وَالْخَاشِعِينَ وَالْخَاشِعَاتِ ﴾ ۔ د انبیاء اشرف الخلق په باره کښې فرمائی : ﴿ وَكَانُوا لَنَا خَاشِعِينَ ﴾ ۔

حدیث کښې دی ددے امت نه به اول خشوع پورته کیږی (اول ما یرفع من هذه الامة الخشوع – صحیح الجامع : ۲۵۶۹) عباده بن صامتؓ فرمائی : ان شئت لاحدثنك باول علم یرفع من الناس الخشوع یوشك ان تدخل مسجد الجامع فلا تری فیه رجلا خاشعا۔ رواه الترمذی (۲۶٤۲) والدارمی (۱/۷۵) ۔ یعنی ددے امت نه اول علم چه پورته کیږی هغه به

خشوع وی نزدے دہ چہ تہ بہ یو جامع مسجد تہ داخل شے پہ ھغے کښے بہ یو تن ھم خشوع والا اونہ مومے ۔ دا لا د ھغہ زمانے خبرہ دہ اوس څہ حال دے ؟ ۔

خشوع د مانځہ روح دے، او ډیر ضروری حکم دے ۔

سلمان او عبد اللہ بن مسعود رضی اللہ عنہما فرمائی : الصلاۃ مکیال، فمن وفی وفی لہ ومن طفف فقد علمتم ما قال اللہ فی المطففین ۔ یعنی مونځ پیمانہ دہ چا چہ پیمانہ پورہ کولہ نو ھغہ تہ بہ ھم پیمانہ پورہ کولے شی او چا چہ پہ پیمانہ کښں کموالے اوکړو نو تاسو تہ معلومہ دہ چہ اللہ تعالی د کمی کونکو پہ بارہ کښں څہ فرمائیلی دی۔ (چہ دوی دپارہ ھلاکت دے)۔

نقل شویدی : چہ اللہ تعالی د بنی اسرائیلو یو پیغمبر تہ وحی اوکړہ چہ خپل قوم تہ داسے اووایہ : تحضرونی بابدانکم، وتعطونی السنتکم وتغیبون عنی قلوبکم ؟ باطلاً ما تذھبون ۔ یعنی بدنونہ مو راتہ حاضر کړیدی اوژبے مو راکړیدی لیکن زړونہ مو ځما نہ غائب کړیدی نو ستاسو دا عمل باطل او برباد دے ۔

بعض علماؤ نہ نقل دی : چا چہ بغیر د خشوع نہ مونځ اوکړو ددے مثال د ھغہ سړی پشان دے چہ یو بادشاہ تہ یوہ وینزہ ھدیہ کړی چہ پہ ھغے کښں روح نہ وی ۔

معاذ بن جبل رضی اللہ عنہ فرمائی : من عرف من علی یمینہ ومن علی شمالہ وھو فی الصلاۃ متعمداً فلا صلاۃ لہ ۔ څوک چہ پہ مانځہ کښں ښی او ګس طرف والا خلق قصداً اوپیژنی نو د ھغہ مونځ نہ کیږی ۔

سعید بن جبیر وائی : ما د څلویښت کالو نہ پہ مانځہ کښں ښی او ګس طرف والا خلق ندی پیژندلی کلہ چہ مے د عبد اللہ بن عباس اوریدلی دی : چہ خشوع پہ مانځہ کښں دا دہ چہ مونځ کونکے ښی او ګس طرف والا اونہ پیژنی ۔

او عبد اللہ بن الزبیر رضی اللہ عنہ مونځ کولو نو منجنیق نہ کاڼړے راغلو او د ھغہ د جامو څہ حصہ ئے اووھلہ او د مانځہ نہ او نہ وتلو تردے چہ مونځ ئے ختم کړو۔ و کان اذا قام الی الصلاۃ کانہ جذع من الخشوع ۔

احمد بن ابی الحواری فرمائی : کلہ چہ بندہ مانځہ تہ اودریږی نو اللہ تعالی ملائکو تہ فرمائی : زما او زما د بندہ ترمینځ پردے پورتہ کړئ خو کلہ چہ بندہ بل طرفتہ توجہ اوکړی نو اللہ تعالی اوفرمائی : پردے راخکتہ کړئ او دے خپلے مرضئ تہ پریدئ چہ څہ ئے خوښہ وی ھغے طرفتہ دے ګوری ۔

عطاء بن ابی رباح وائی ما د ابو هریره رضی الله عنه نه واوریدل چه فرمائیل ئے : کله چه یو بنده مانځه ته اودریږی نو دے د رحمن ذات مخے ته شی خو کله چه اخوا دیخوا اوګوری (توجه خرابه کړی) نو الله تعالی ورته فرمائی : اے د آدم ځویه چا ته ګورے ؟ هغه رب طرفته ګورے چه ما نه غوره دے ؟ ما طرفته متوجه شه زه ستا دپاره بهتریم د هغه چا نه چه ته ورته ګورے ۔

سفیان الثوریؒ نه نقل دی : (من لم یخشع فسدت صلاته) چا چه په مانځه کښے خشوع اونکړه د هغه مونځ فاسد دے ۔

د **حسن بصری**ؒ نه روایت دے (کل صلاة لا یحضر فیها القلب فهی الی العقوبة اسرع) هر هغه مونځ چه زړه په کښے حاضر (متوجه) نه وی نو په ځائے ددے چه انسان ته اجر ملاؤ شی انسان لره سزاء ته ورنزدے کوی ۔

نو په دنیا او آخرت کښے چه د مانځه کومه فائده حاصلیږی دا په هغه مانځه سره چه زړه په کښے الله ته متوجه وی ځکه چه هسے خکته پورته کیدل مقصود ندی، مقصود توجه او د الله سره تعلق پیدا کول دی او دا د خشوع نه بغیر نه حاصلیږی ۔

پدے کښے **اختلاف** دے چه تول مانځه کښے خشوع فرض ده او که نه په یو جزء کښے ؟ راجح دا ده چه په څه ناڅه حصه د مانځه کښے به خشوع ضروروی که دا هم نه وی نو د مانځه ثواب ورته نه ملاویږی لکه دا د د معاذ بن جبل ، سفیانؒ او د حسنؒ د قول نه معلومه شوه، او ددے په باره کښے ډیر وعیدونه راغلی دی ۔

او امام قرطبیؒ په الجامع لاحکام القرآن (۴۴۹۶/۵) کښے فرمائی : خشوع رکن د مانځه دے ۔ امام غزالیؒ په احیاء العلوم (۹۳/۱) کښے دیته مائل دے چه خشوع شرط دے د مانځه دپاره او پدے ئے ډیر دلائل ذکر کړیدے لکه : ﴿اَقِمِ الصَّلَاةَ لِذِكْرِىْ﴾ امر دے، ﴿وَلَا تَكُنْ مِنَ الْغَافِلِيْنَ﴾ نهی شویده د غفلت نه ﴿لَا تَقْرَبُوا الصَّلَاةَ وَاَنْتُمْ سُكَارٰى حَتّٰى تَعْلَمُوْا مَا تَقُوْلُوْنَ﴾ په خپله خبره به پو هیږے هله به مونځ صحیح وی۔ نور دلائلو ته رجوع کړه وانظر فتاوی الدین الخالص (۴۹/۴) ۔

اسباب تولد الخشوع

هر کله چه خشوع دومره اهم شے دے نو ددے د حاصلولو اسباب زده کول ضروری دی

نو د خشوع د راپیدا کیدو ډیر اسباب دی بعضے د هغے نه دا دی :

۱- **اول سبب : قوة المقتضی و هو خوف الله تعالی** : - یعنی کوم څیز چه خشوع پیدا کوی هغه به قوی وی چه هغه د الله تعالی یره ده، څومره چه زړه کښے د الله نه یره زیاته وی نو خشوع به زیاته وی وهکذا ـ او دا یو سبب د خشوع د پیدا کیدو دپاره کافی دے، پدے باره کښے د سلفو ډیر واقعات مشهور دی چه مانځه ته د اودریدو په وقت کښے به هغوی کښے څومره خوف الهی وو ـ

۲- **سبب : ضعف المانع** : دا هغه شے دے چه خشوع خرابوی لکه لوړه، بول وبراز ددے څیزونو په دفع کولو سره خشوع پید اکیږی ـ لکه حدیث کښے هم دا ذکر دی چه :
اذا حضر العشاء واقیمت الصلاہ فابدأوا بالعشاء (وفیه) ...... ولا هو یدافعه الاخبثان۔

(متفق علیه) ـ

۳- **دریم سبب : رفع الصوت بالقرائة** : په اوچت آواز قرائت لوستل او کم از کم دا چه ځان ته ئے اوروی، پدے کار سره په زړه باندے ډیر تاثیر کیږی کما هو المجرب ـ
او د هغه چا خو د سره مونځ نه کیږی چه په زړه کښے قرائت کوی او په قرائت شونډے نه خوزوی ـ ٤- **سبب** : په خپل قرائت کښے سوچ او فکر کول چه زه کوم ځائے ته اورسیدم، په فاتحه کښے یم که په ثناء وغیره کښے یم ـ

۵- **سبب** : قرائت او اذکار، او د تسبیحاتو معانی پیژندل ـ
عبد الله بن عباسؓ فرمائی : لیس لك من صلاتك الا ما عقلت ـ ستا په مانځه کښے په هغه الفاظو اجر ملاویږی کوم باندے چه ته پوهیږے ـ او دا علم د لغتِ عربی زده کولو سره حاصلیږی خصوصاً د مانځه ترجمه زده کول ضروری دی ـ

٦- **سبب** : هغه آیتونه او احادیث لوستل چه په هغے کښے خشوع او عاجزئ باندے تیزی ورکړے شویوی ـ فضائل او وعیدونه معلومول ـ

۷- **سبب** : زړه کښے به دهان وی چه ما ته ددے مانځه اجر نه ملاویږی مگر په خشوع کولو سره، پدے کښے نور هسے ځان ولے ستړے کوم ـ

۸- **سبب** : (او دا ډیر قوی دے) د خشوع په پیدا کولو کښے مجاهده او تکلف کول اول کښے دا کار ډیر گران وی چه دنیوی فکرونه دده مخے ته رانشی مگر آخر کښے پس د کوشش نه د انسان هیئت جوړ شی ـ

۹ - **سبب** : دا دهان به لری چه دا زما آخری مونځ دے، ددے نه پس کیدے شی زه د

الله سره ملاؤ شم لکه حدیث کښې دی (صلِّ صلاة مُوَدِّع) ۔

۱۰ - **سبب** : په مانځه کښې قسماقسم ذکرونه او دعاګانې وئیل ځکه په یو ذکر او دعاء باندې همیشوالې کول زړه سختوی او زړه ورسره عادت شی، بیا په انسان باندې تاثیر نکوی او د انسان ورته فکر کیږی نه، خود بخود د ژبې نه اوځی (کما هو فی تجربتکم ایضا)۔

۱۱- د الله د بندګئ آداب ازده کول او هغه آداب چه نبی علیه السلام په خپل سنتِ مطهره کښې ښودلی دی لکه د ارکانو تعدیل، د مانځه اوږدول، د سجدې او رکوع اوګدول او د حیواناتو د مشابهت نه ځان ساتل ۔

۱۲- اوږد قیام او قرائت کول ځکه چه مختصر مونځ کښې خشوع ډیره نه راځی ۔

۱۳- هغه اذکار او دعاګانې او آیتونه چه یره او امید پیدا کوی د هغې بار بار لوستل لکه نبی علیه السلام یو ځل توله شپه دا آیت لوستلو ﴿ اِنْ تُعَذِّبْهُمْ فَاِنَّهُمْ عِبَادُكَ وَاِنْ تَغْفِرْ لَهُمْ فَاِنَّكَ اَنْتَ الْعَزِیْزُ الْحَكِیْمُ ﴾ ۔ [المائدة]

تمیم الداری رضی الله عنه ﴿ اَمْ نَجْعَلُ الَّذِیْنَ آمَنُوْا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ ﴾ سورة الجاثیة تول تهجد پدې یو آیت کړی وو ۔

۱٤- د آخرت ډهان همیشه ساتل ۔

۱٥- د سلف صالحینو واقعات د خشوع په باره کښې او د سیرتِ مطالعه کول هم سبب د خشوع د پیدا کیدو دې ۔

علامات الخشوع

(۱) - د خشوع علامه دا ده چه په خپله جامه یا بدن باندې لوبې نه کوی ۔

(۲) - آسمان ته نظر نه پورته کوی (۳) - ښی او ګس طرفته ځوك نه پیړنی ۔

(٤) - په مانځه کښې ډیر نه خوزیږی، په آرام وی ۔ (٥) - سرئې خکته کړې وی، د سجدې ځائې ته ګوری ۔

الدواء النافع فی حضور القلب

انسان لره د ایمان نه پس پکار دی چه دهغه په زړه کښې د الله تعالی تعظیم او هیبت وی، هیریدونکې، امید کونکې او د خپل تقصیر نه حیاء کونکې وی، ددې احوالو نه به نه جدا کیږی خوکله چه ددې احوالو نه انسان جدا کیږی نو د هغې وجه د فکر متفرق کیدل

او زړه د الله د مناجات نه غافل كيدل دي او زړه ولے غافل كيږي ؟ نو ددے وجه په زړه كښے خواطر او شواغل راپيدا كيدل دي نو د زړه د حاضرولو دوائي دا ده چه دغه شواغل او خواطر دفع شي او دا به هله دفع كيږي چه ددے اسباب دفع شي ـ

نو د خواطرو د راپيدا كيدو سبب به يا ظاهري امر وي يا باطني ـ د ظاهري مثال لكه غوږونو ته يو آواز راتلل، سترګو ته يو شے راښكاره كيدل، پدے سره د انسان هَمُ او قصد ختميږي او ددے په سبب د انسان فكر بل څيز طرفته راښكلے شي نو د چا چه نيت او هِمَت قوي وي نو حواسو ته چه كوم څيزونه راځي په هغے سره نه غافل كيږي.

ددے د دفع كولو علاج دا دے چه سترګے دے پټے كړي، يا ډ په تياره كښے كوټه كښے مونځ كوي او خپلے مخے ته ډ داسے يو څيز نه پريدي چه دده حسّ لره مشغول كړي او ديوال ته دے نزدے اودريږي چه د نظر مسافت ئے كم شي، په عام سړكونو او نقش دار جانمازونو، ځايونو او بسترو او قالينونو ډ مونځ نه كوي ـ

عبد الله بن عمر رضي الله عنهما عمل : لايدع في موضع الصلاة مصحفا ولا سيفا الا نزعه ولا كتابا الا محاه ـ يعني ابن عمر به د مانځه په ځائے كښے قرآن، او توره (وغيره) او كتاب نه پريخودو مګر هغه به ئے لرے كولو ـ

اوكه د خواطرو سبب امر باطن وي چه فكر د انسان مشغول وي په مختلف كندو د دنيا كښے نو هغه كه د يوے كندے نه راوځي نو په بله كنده كښے اونخلي د هغه فكر هم نه برابريږي نو ددے د دفع كولو طريقه دا ده چه فكر ډ خپل قرائت طرفته واړوي، ښه په مشقت سره او ددے كيفيت دا دے چه د تكبير تحريمه نه مخكښے دے ځان تيار كړي، آخرت دے ياد كړي او د الله تعالى مناجات موقف، او د الله مخے ته اودريدو خطر دے ياد كړي او كوم دنياوي مهم كار چه وي د هغے نه ډ زړه فارغ كړي او ددے ټولو خواطرو د راپيدا كيدو اصل سبب د دنيا سره محبت دے څومره چه زړه كښے ددنيا محبت وي هغومره به د الله سره مناجات كمزورے وي دا هم د دنيا يو قسم محبت دے چه انسان په مانځه كښے متوجه نه وي ـ

فائده : د زړه د متوجه كولو يوه ښه طريقه دا هم ده چه انسان د مانځه د اعمالو او شرائطو او اركانو په وقت كښے ددے كارونو روح ته فكر اوكړي چه دا عمل زه كوم ددے څه مقصد دے ؟ پديسره هم په مانځه كښے خشوع پيدا كيږي ـ

نو كله چه ته آذان واورے نو په زړه كښے د آخرت د آواز هول او هيبت راوله او ظاهراً او

باطناً دے عمل ته پینځے رابدے کړه ځکه چه دنیا کښے کوم خلق دے آواز ته جلتي کوي نو د قیامت په ورځ به دوئ ته په لطف او نرمئ سره آواز کیږي او د منافقانو صفت یاد کړه چه مانځه ته سُست سُست او کسالیٰ کیږي ﴿ وَإِذَا قَامُوٓا إِلَى الصَّلَاةِ قَامُوا كُسَالَىٰ ﴾ او مومنان ورته په خوشحالئ او مینے سره پاځیږي (یا بلال ارحنا بالصلاة) ۔

(**طهارت**) کله چه ته ظاهري اندامونه پاك کوے، یا جامے پاك کوے نو ددے سره د زړه د صفائي نه غافل نشے هغه د ګناهونو نه په توبه او په ندامت سره پاك کړه او عزم اوکړه چه آینده کښے به ګناهونه نکوم ځکه چه د باطن طهارت افضل دے د ظاهر د طهارت نه ۔

ستر العورة : د عورت پټولو په وخت کښے دا خیال ساته چه ددے مقصد دا دے چه د خلقو د سترګو نه د خپل بدن قبیح ځایونه پټ کړي نو ددے سره سره د باطن قبائح را یاد کړه او د الله نه حیاء اوکړه چه هغه ما پدے قبائحو کښے ویني ۔

استقبال القبلة : ددے مطلب دا دے چه خپل مخ د ټولو طرفونو نه بیت الله طرفته اړول نو ددے سره دا هم لازم ده چه انسان خپل زړه د ټولو طرفونو نه الله طرفته واړوي دا وجه ده چه دعاء الاستفتاح کښے راغلي دي ﴿ وَجَّهْتُ وَجْهِيَ لِلَّذِي فَطَرَ السَّمٰوَاتِ وَالْأَرْضَ حَنِيفًا ﴾ یعني خپل زړه مے متوجه کړو پس د مخ د متوجه کولو نه الله طرفته ۔

قیام : پدے وقت کښے د الله مخے ته د قیامت په ورځ د سوال په وقت کښ اودریدل یاد کړه نو پدیسره به د الله عظمت او جلال ستا زړه کښے راشي، او د دنیا پدے قیام سره د آخرت د قیام دپاره تیارے اوکړه ۔

نیت : د نیت په وقت کښے اخلاص په زړه کښے راوله د الله د ثواب په طمع کښے او د هغه د عذاب نه په یره کښے او د هغه د قرب په محبت کښے او ددے نه په هر عمل او قول کښے د اخلاص تړیننګ زده کړه ځکه د قیامت په ورځ به صرف مخلصینو ته نجات ملاویږي ۔

التکبیر : کله چه ستا په خوله الله اکبر راشي نو پکار ده چه ستا زړه ددے تکذیب اونکړي نو که ستا په زړه کښے د الله نه ښوك لوئي وي یا ستا خواهش پتا باندے د الله د امر نه ډیر غالب وي او د الله د امر په مقابله کښے د هغے دپاره ډیر تابعدار وے نو بیا خو تا د الله سره بل اِلـٰه جوړ کړو او غیر الله دِ لوئي اوګڼړلو نو ستا الله اکبر وئیل صرف د خولے خبره ده، زړه دِ ورسره موافقه نکوي نو که ددے نه توبه او استغفار اونکړے نو ډیره لویه

خطره ده (والعیاذ باللہ)۔

استعاذه : ددے په قت کښې زړه کښې دا خیال اوکړه چه شیطان زما دشمن دے زما سره د الله په مناجات، رکوع او سجده باندے حسد کوی چه هغه ته دیوے سجدے توفیق ورنکړے شو نو هغه اوس تا په خپلو وسوسو سره د مناجات او شرافت او برکت او ثواب نه د دنیا په هموم او مشاغلو کښې اچولو سره محروموی۔

بسم الله : ددے د وینا په وقت کښې د برکت نیت اوکړه او د الرحمن الرحیم د وئیلو په وقت کښې زړه کښې د الله د لطف انواع راوله چه د الله رحمتونه درته ښکاره شی نو زړه کښې به د امید پیدا شی۔

الفاتحه : د سورت فاتحے لوستو په وقت کښې د نبی علیه السلام دا حدیث رایاد کړه چه د الله تعالی نه نقل کوی : الله تعالی فرمائی : قسمت الصلاة بینی وبین عبدی نصفین ولعبدی ما سئل، فاذا قال العبد : الحمد لله رب العالمین قال الله تعالی : حمدنی عبدی واذا قال : الرحمن الرحیم، قال الله تعالی : اثنی علیّ عبدی واذا قال مالك یوم الدین قال : محدنی عبدی وقال مرة : فوض الیّ عبدی فاذا قال ایاك نعبد وایاك نستعین قال : هذا بینی وبین عبدی ولعبدی ما سئل فاذا قال اهدنا الصراط المستقیم صراط الذین انعمت علیهم غیر المغضوب علیهم ولا الضالین قال : هذا لعبدی ولعبدی ما سئل ۔ رواه مسلم (۱۰۱/٤) ومالك فی الموطأ (۸٦/۱)۔

امام نوویؒ فرمائی : د الصلاة نه مراد (پدے حدیث کښې) سورتِ فاتحه ده صلاة ورته ځکه اووئیل شو چه ددے د لوستونه په غیر مونځ نه صحیح کیږی لکه د نبی علیه السلام د وینا پشان ده (الحج عرفة) نو دا دلیل د وجوب د فاتحے دے په مانځه کښې۔

او د قسمت نه مراد د معنی په لحاظ سره تقسیم دے چه نصف اول کښې تحمید او تمجید او ثناء او تفویض الی الله دے او نصف ثانی سوال او طلب او تضرع او افتقار دے۔ شرح مسلم (۱۰۳/٤)۔

امام غزالیؒ وائی : که ستا دپاره د مانځه نه د الله د جلال او د عظمت ذکر کولو نه سوئ نور هیڅ حاصل نشی نو دا غنیمت هم کافی دے نو د الله د ثواب او فضل به څه ګمان کړے (هغه خو بے حده زیات دے)۔ احیاء العلوم (۲۰۱/۱)۔

سورت : قرائت په تدبر او سوچ سره کوه او د هر آیت په اختتام کښې وقف اوکړه چه د آیت په معنی پوهه شے۔ الله تعالی فرمائی : ﴿ اَفَلَا یَتَدَبَّرُوْنَ الْقُرْآنَ اَمْ عَلٰی قُلُوْبٍ اَقْفَالُهَا﴾

ـ محمد : آيت (٢٤) ـ

او د الله تعالى د امر او نهى او وعد او وعيد او مواعظ او اخبار الانبياء او ذكر المنن والاحسان نه مه غافل كيږه ځكه هريو دپاره حق دے نو رجاء حق الوعد دے او خوف حق الوعيد دے او عزم على الطاعة حق الامر والنهى دے، اتعاظ (وعظ قبلول) حق الموعظه دے او شكر حق المنّة والاحسان دے او عبرت حق القصص دے ـ احياء العلوم (٣٠١/١)

ركوع او سجده : علامه ابن قدامه فرمائى : په ركوع كښے تواضع او په سجده كښے زيات ذلت زړه كښے راوله ځكه چه تا خپل نفس په خپل اصلى ځائے كښے ايښے دے او فرع دے اصل ته راجع كړيده په سجدے كولو سره په هغه خاوره باندے د كوم نه چه ته پيدا شوے ئے او د اذكارو په معنى باندے ځان پوهه كړه ښه په ذوق سره ـ

مختصر منهاج القاصدين ص (٣٢) ـ

تشهد : امام غزالىؒ وائى : كله چه ته په ادب سره تشهد دپاره كينے نو زړه كښے راوله چه ټول مونځونه او پاك اخلاق خاص الله تعالى دپاره دى او ملك د الله دپاره دے او زړه كښ د نبى عليه السلام شخص راوله بيا د الله د وحدانيت ګواهى اوكړه او د محمد ﷺ د رسالت ګواهى اوكړه، بيا په پيغمبر صلاة ابراهيمى اووايه بيا د څلور څيزونو نه په الله پناهى طلب كړه د جهنم، د قبر د عذاب نه او د فتنے د ژوند او مرګ نه او د بدے فتنے د مسيح دجال نه او بيا سلام اوګرځوه او د سلام په وخت كښے د ملائك او حاضرينو نيت اوكړه او د الله تعالى شكر اداء كړه چه هغه ددے طاعت توفيق دركړو او د خپل مانځه دكوتاهئ حياء د الله تعالى نه اوكړه او يره اوكړه هسے نه چه ستا مونځ د ظاهرى يا باطنى ګناه په وجه نه وى قبول شوے خو بيا هم د الله په كرم او فضل سره اميد د قبول كيدو ساته!ـ

داد خاشعينو د مانځه تفصيل دے نو اوس ۍ انسان پدے مانځه ځان پيش كړى كه داسے حالت ئے وى نو خوشحاله دے شى او د الله شكر دِ اداكړى او كه ددے نه كم وى نو د هغے د تكميل كوشش دِ اوكړى نو دده مونځ به مانع د فواحش او منكراتو شى كوم باندے چه ډيرے وعدے دى ـ زيات تفصيل دپاره فتاوى الدين الخالص (٥٤/٤) مختصر منهاج القاصدين (٣٢) احياء علوم الدين (٣٠١/١) او الفوائد فى تزكية النفوس وعلم القلوب والرغبة الى علام الغيوب ص (٣٦٤/١) ته رجوع اوكړه هلته ډير تفصيل دے ـ

كَانَ لَهُ عَلَى اللّٰهِ عَهْدٌ : يعنى دده دپاره په الله تعالى باندے دا وعده ده چه مغفرت به

ورتـه کـوی لیکن دا په الله باندے څه لازمه نده بلکه دا محض د الله د طرفنه ددے بنده سره احسـان دے چـه الله تـعالی په ځان باندے دا خبره ضروری کړیده چه زه به ورته بخښنه کوم کله چه دِے مونځ د خپلو شرائطو او ارکانو سره پوره پوره اداء کړی ۔

اِنْ شَاءَ غَفَرَ لَهٗ : یعنی که څوك دا پنځه مونځونه پدے مذکوره طریقه اداء نکړی نو د الله مشیت تـه سپارلے شـویدے چه یا به ورته مغفرت اوکړی او یا به عذاب ورکړی نو دا دلیل دے د هغه علماؤ چه تارك الصلاة (مونځ پریخودونکی) ته کافر نه وائی بلکه فاسق ورتـه وائـی ځکـه چـه پـدے روایت کښے پرے د کافر حکم ندے شوے بلکه د الله مشیت ته سپارلے شویدے ۔ وسیأتی تحقیقه عن قریب ان شاء الله ۔

درجة الحديث : رواه احـمـد فـی مسـنـده ج (۵/۳۱۵– ۳۱٦) وابوداود والنسائی بـاسناد صحیح وصححه ابوعمر بن عبد البر النمری والشیخ الالبانی فی صحیح ابی داود رقم (٤٢٥) وقـال فـی تعلیق المشكاة (۱۸۰) اخرجوه من طرق عن عبادة فالحدیث صحیح وقد صـحـحـه ابن عبد البر والنووی وغیرهما کما بینته فی التعلیق الرغیب علی الترغیب والترهیب وفی صحیح ابی داود انتهی ۔

۸ – وَعَنْ اَبِیْ اُمَامَةَ ﷺ، قَـالَ :قَـالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : صَـلُّوْا خَـمْسَكُمْ، وَصُـوْمُـوْا شَهْرَكُمْ، وَاَدُّوْا زَكَاةَ اَمْوَالِكُمْ، وَاَطِیْعُوْا ذَا اَمْرِكُمْ، تَدْخُلُوْا جَنَّةَ رَبِّكُمْ، رَوَاهُ اَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِیُّ .

ترجمه : او ابـوامـامـه رضـی الله عنه روایت کوی فرمائی : نبی کریم ﷺ فرمائیلی دی : (اے مسلمانانو !) پنځه وخته مونځونه کوئ او د خپـل رمضان میاشت روژے نیسئ ! او د خپـل مال زکوة ورکوئ او د خپـل امیر (سردار ترځو چه هغه خلاف شرع څیز باندے حـکـم نه کوی) اطاعت کوئ ! (که دا کارونه کوئ نو) د خپـل رب جنت ته به داخل شئ ! (یعنی جنت کښے به د اوچتو درجو حقدار جوړ شئ) (احمدؒ، ترمذیؒ) ۔

تشریح : صَلُّوْا خَمْسَكُمْ: دلتـه ئے اضافت مخاطبینو ته کړیدے یعنی خپل پنځه مـونـځـونـه اوکړئ ! او د خپـلے میـاشـتے روژے نیسئ الخ پدے کښے اشاره ده چه دا قسم اعمال پدے خاص کیفیتونو سره ددے امت خصوصیت دے ۔

بیا پـدے روایت کښے اخـتـصـار شویدے حج پکښے ندے ذکر شوے لیکن په روایت د احمد (۵/٢٦٢) کښے ورسره حُجُّوْا بَیْتَكُمْ لفظ راغلی دے ۔

وَاَطِيْعُوْا ذَا اَمْرِكُمْ : يعني د خپلو اميرانو خبره منئ يعني چه ستاسو ددين او دنيا مشري كوي د هغوي خبره منئ لكه د خليفة المسلمين خبره منل ضروري دي ترڅو چه هغه په حق باندې امر كوي د هغوي سره به په امورو د دنيا او امارت وغيره كښې جګړې نه كوئ ـ ددې په ضمن كښې دا خبره هم معلوميږي چه د علماؤ د دين خبره منئ ځكه هغوي ته هم د دين مشري حاصل ده نو هغوي چه درته د قرآن او سنت نه خبره كوي د هغې تابعداري كوئ نو ددې نه تقليد نه ثابتيږي ځكه چه د علماؤ خبره منل شته دې كله چه انسان ته د قرآن او سنت خبره كوي او كله چه د هغوي خپله اجتهادي خبره وه دليل ته مستند نه وه نو د هغې منل د هيڅ په نيز نشته بلكه هغه به مردود وي ځكه چه لا طاعة لمخلوق في معصية الخالق – انما الطاعة في معروف ـ ومن احدث في امرنا هذا ما ليس منه فهورد ـ ولا يشرك في حكمه احداً پردې دليل دې ـ

تَدْخُلُوْا جَنَّةَ رَبِّكُمْ : تدخلوا مجزوم دې ځكه دا جوابِ امر دې او جوابِ امر مجزوم وي ملاعلي القاري ددې معنى دا كوي : ستاسو د اعمالو سره چه د جنت كوم درجات مناسب وي نو هغه به حاصل كړئ ځكه چه جنت ته داخليدل د الله په رحمت سره وي او درجات په طاعاتو سره حاصليږي كما مرّ ـ

درجة الحديث : رواه احمد (۵/۲۵۱– ۲۶۲) والترمذي في آخر الصلاة وقال حديث حسن صحيح وصححه الحاكم ووافقه الذهبي قال الشيخ الالباني في تعليق المشكاة (۱/۱۸۰) وهم كما قالوا ـ

۹– وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ اَبِيْهِ، عَنْ جَدِّهٖ، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : مُرُوْا اَوْلَادَكُمْ بِالصَّلَاةِ وَهُمْ اَبْنَاءُ سَبْعِ سِنِيْنَ، وَاضْرِبُوْهُمْ عَلَيْهَا وَهُمْ اَبْنَاءُ عَشْرِ سِنِيْنَ وَفَرِّقُوْا بَيْنَهُمْ فِي الْمَضَاجِعِ . رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ، وَكَذَا رَوَاهُ فِيْ شَرْحِ السُّنَّةِ عَنْ عمرو.

ترجمه : عمرو بن شعيب د خپل والد محترم نه او هغه د خپل نيكه نه روايت كوي چه نبي كريم ﷺ ارشاد فرمائيلې دې : خپلو بچو ته د مانځه حكم كوئ كله چه هغوي اووه كالو ته اورسيږي او د (مانځه په پريښودو باندې ئې) وهئ كله چه هغوي لسو كالو ته اورسي ـ او هغوي په بسترو كښې جدا كړئ ! (ابوداود) دغه شان په شرح السنه كښې د عمرو نه روايت نقل شويدې ـ

تشریح : پدے حدیث کښې د اسلام تربیت ذکر دے چه انسان نه څنګه انسان جوړوی، نبی علیه السلام فرمائی خپلو اولادو ته د اوه کالو په عمر کښې د مانځه د کولو حکم کوئ دے دپاره چه ددے عظیم عبادت سره د وړوکوالی نه ټریننګ او اموخته شی نو په غټوالی کښې به ورته ګران نه وی ځکه چه یو انسان د وړوکوالی نه په یو عمل اموخته شی نو هغه ته د هغه کار په کولو کښې څه تکلیف او دشواری نه محسوسیږی، خو دے سره دا مراد دے چه د مانځه متعلق احکام او کیفیت او تعلیم به مخکښې ورکړے شی چه اودس به داسے کوے مونځ به داسے کوے دا امر به ورته په وړوکوالی کښې کولے شی ۔ خو افسوس چه د دین د ناخبرئ په وجه میندے او پلاران د احکمونه ماتوی ځامنو او لونړو ته پس د بلوغ نه هم د مانځه حکم نکوی، بچی به بیغمه پراته وی پلار به مانځه ته روان شی ځوی به نه پاځوی اکثرے میندے وائی چه ځوی وختی نشم پاځولے ځکه هغه خو کاروبار له ځی پریده چه خوب ئے پوره شی ۔ کله چه د مسلمان دا حال وی نو دا به د کامیابئ څه امید اولری ۔

بیا ئے اوه کاله ذکر کړل ځکه چه د ماشوم دا وقت د تمییز او عقل ښکاره کیدو دے نو د تعلیم مناسب دے ۔

وَاضْرِبُوْهُمْ عَلَيْهَا : یعنی چه د لسو کالو شی نو بیا به هغه وهلے شی کله چه مونځ نکوی خو دا وهل به داسے زور دار نه وی چه هډوکے ئے مات شی بلکه تادیبی وهل به وی او پدے کښې به په مخ وهل هم نه وی ځکه مخ باندے وهلو نه هم منع راغلے ده نو د علیها معنی ده ای اضربوهم علی ترکها ۔

وَهُمْ اَبْنَاءُ عَشْرِ سِنِيْنَ : لس کاله ئے ذکر کړل ځکه غالبا پدے وقت کښې ماشوم وهل برداشت کولے شی ۔ ددے نه معلومه شوه چه د ماشومانو په تربیت کښې به تدریج کولے شی د اول نه به ترے داسے کارونه نه غواړے چه هغه د مشرانو سره مناسب وی، دارنګه کله چه لوئی شی نو داسے به هم نشی کولے چه هغه خپل سر ته پریخودلے شی اکثر پلاران وائی زما ځوی د خپله واکه دے زما د وسع نه بهر دے نه ! بلکه هغه باندے واک شته اګرچه هغه لوئی هم وی ځکه چه که نور څه نه وی نو ځان ترے جدا کړه یا هغه د کور نه اوشړه کله چه مونځ نکوی ګیره خروی کورته تی وی، وی سی آر او سی ډی راوړی وغیره نو کیدے شی چه الله تعالی ئے اصلاح اوکړی ۔

فائده : او چه پنځلس کالو ته ورسیږی او مونځ نه کوی نو د هغه څه حکم دے ؟

روستو فصل ثالث کښې راځي چه قتل دے، حکومت اسلامي به ئے قتل کوي ۔
وفرقوا بينهم في المضاجع : يعني د ډېرے لګولے په ځايونو کښې ئے د يو بل نه جدا جدا کړئ ! يعني جدا جدا بسترو کښې ئے اوده کوئ دا حکم هلکانو او جينکو دواړو ته او بيل بيل ته دے يعني دوه هلکان به هم يو ځائے نشي څملولے په يوه بستره کښې او دوه جينکئ هم او نه يو هلك او يو جينئ اګرکه دوی خويندے او ورونه هم وی ځکه دا وقت د شهوت پيدا کيدو دے، کيدے شي چه شيطان پرے غلبه اوکړی او فساد ترے واقع شي يا په خوب کښې په ځان نه پوهيږی او بے حيائي ترے وشي ۔
نو پدے کښې د ماشومانو د تهمت د ځائے نه ساتل دی او نهی ده د ذرائع نه او پدے امر باندے که عمل اوکړے شي نو ډير فساد به د معاشرے نه ختم شي ۔
۲- بعض شارحينو د بينهم ضمير جينکو او هلکانو دواړو ته راجع کړيدے يعني صرف جينکئ او هلکان به شريك نه څملي او دوه هلکان او دوه جينکئ سملاستو نه منع نشته ليکن دا معنی صحيح نده د نورو حديثونو مخالف ده ۔ ځکه حديث کښې د سړو د يو ځائے سملاستو نه هم منع شته او د ښځو د شريك څملاستو نه هم منع شته ۔ حديث دے لا يفضى الرجل الى الرجل فى ثوب واحد ولا يفضى المرأة الى المرأة فى ثوب واحد رواه مسلم ۔ المشكاة (۲/۳) الحديث ۔
وَفَرِّقُوا بَيْنَهُمْ فِي الْمَضَاجِعِ : يعني په بسترو کښې ۔ او د يوے جامے نه مراد دا چه دواړه په يوه بستره پراته وی مينځ کښې څه حائل نه وی او يا بره پرے يو څادر پروت وی يا يوه برستن کښې څملی نو دا کار حرام دے ۔ او دا منع د لسو کالو ماشومانو ته هم شامل ده او بوډاګانو او بوډئ ګانو ته هم شامل ده ۔
فائده : دا قانون د رونړو او خويندو او د پردو سړو په باره کښې دے، ددے نه پلار او ځوی مستثنی دی، هغوی شريك سملاستے شي لکه دا په حديث د اسامه او زيد کښې راغلی دی چه دوی دواړه په يوه بستره کښې پراته وو او خپے ئے ښکاره کيدلے نو مجزز مدلجی په دوی باندے تير شو وئيل : ان هذه الاقدام بعضها من بعض ۔ يعني دا قدمونو والا بعض د بعضو نه پيدا دی يعني پلار او ځوی دی پدے باندے نبی عليه السلام ډير خوشحاله شو او عائشے ته راغلو او دا خپله خوشحالی ئے ورته ښکاره کړه ۔ وجه دا وه چه مشرکانو او منافقانو به اسامه ته حرامی وئيلو نو دلته د مجزز (قيافه دان) په وينا سره دا خبره ثابته شوه چه اسامه په رشتيا باندے د زيد ځوی دے ۔

فائدہ : علامہ طیبیؒ وائی : امر بالصلاۃ او تفریق فی المضاجع ئے دوارہ جمع کړل په زمانه د وړوکوالی کښې وجه دا ده چه تادیب ورکړے شی او د الله تعالی د امر محافظت اوشی ځکه چه مونځ اصل د ټولو عباداتو دے او دے دپاره چه دویٔ د خلقو سره د ژوند تیرولو طریقه زده کړی نو پدے کښې حق الله او معاشره مع المخلوق ده او د تهمت د ځایونو نه بچ ساتل دی چه ددے په وجه د ټولو محارم الله نه محفوظ کیدے شی ۔

درجة الحديث : رواه ابوداود فی الصلاۃ وسکت عنه واخرجه احمد (۲/ ۱۸۰ و ۱۸۷) قال الشیخ الالبانی وسنده حسن کما حققته فی صحیح ابی داود رقم (۵۰۹) آھ واخرجه الترمذی ایضاً وقال حدیث حسن صحیح وقال الحاکم صحیح علی شرط مسلم ۔

(۱۰) – وَفِي الْمَصَابِيحِ عَنْ سَبْرَةَ بْنِ مَعْبَدٍ .

(او په مصابیح کښې د سبره بن معبد نه روایت نقل شویدے)

پدے کښې صاحب المشکاۃ په صاحب المصابیح ضمنی رد کوی، چه تاسو په مصابیح کښې دا حدیث په روایت د سبره بن معبد راوړیدے مگر داسے نده بلکه دا روایت پدے الفاظو باندے د عمرو بن شعیب په روایت کښې دے لکه چه ما په مشکوۃ کښې عمرو بن شعیب ذکر کړو او د سبره بن معبد د روایت الفاظ جدا دی، داسے دی : مروا الصبی بالصلاۃ اذا بلغ سبع سنین واذا بلغ عشر سنین فاضربوه علیها ۔ لکه چه دا الفاظ ابوداود هم ذکر کړیدی او پدے روایت د سبره کښې ورسره د فرقوا بینهم فی المضاجع الفاظ نشته دے نو تا د عمرو بن شعیب د روایت الفاظو ته د سبره روایت وئیلے دے نو دا سهوه ده ۔

تعارف د سبرة : او سبره په فتح د اول او سکون د ثانی دے بن معبد بن عوسجه الجهنی ابوثریة المدنی صحابی دے مدینے ته راغلے وو او په ذی المروه علاقه کښې به اوسیدلو اول غزوه ته چه حاضر شو هغه غزوه د خندق ده کله چه علیؓ د مدینے خلافت واخستو نو دا سبره ئے استاذے (قاصد) وو چه معاویه ته ئے اولیږلو د هغه نه ئے د شام والو بیعت طلب کولو، په آخر د خلافت د معاویه کښې وفات دے ۔

۱۱ – وَعَنْ بُرَيْدَةَ ﷺ ، قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: اَلْعَهْدُ الَّذِي بَيْنَنَا وَبَيْنَهُمُ الصَّلَاةُ، فَمَنْ تَرَكَهَا فَقَدْ كَفَرَ. رَوَاهُ اَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ، وَالنَّسَائِيُّ، وَابْنُ مَاجَه .

ترجمه : بریده رضی الله عنه نه روایت دے چه نبی کریم ﷺ اوفرمائیل : زمونږ او

د منافقانو ترمینځ چه کوم عهد دے هغه مونځ دے، لهذا چا چه مونځ پریخودو هغه کافر شو ۔ (احمدؒ، ترمذیؒ، نسائیؒ، ابن ماجهؒ)

تشریح : اَلْعَهْدُ الَّذِیْ بَیْنَنَا وَبَیْنَهُمْ : یعنی هغه لوظ چه زمونږ د مسلمانانو او کافرو په مینځ کښے فرق راولی هغه مونځ دے پس چا چه ددے پابندی کوله په هغه باندے به د اسلام او مسلمانانو احکام جاری کیږی چه وینه او مال به ئے محفوظ وی او کله چه دا نکوی نو دوئ او کافر به برابر وی ۔ بینهم : کښے ضمیر عام دے منافقینو او کافرو ټولو ته راجع کیدے شی ۔

دا حدیث دلیل دے چه تارك الصلاة د کافرانو په حکم کښے دے لکه لګ روستو به دا مسئله راشی ان شاء الله تعالی ۔

درجة الحدیث : رواه احمد (۳٤٦/۵) والترمذی فی الایمان باسناد حسن صحیح وقال الشوکانی فی نیله : والحدیث صححه النسائی والعراقی ورواه ابن حبان فی صحیحه والحاکم وقال صحیح لا نعرف له علة وصححه الالبانی فی تعلیقه علی المشکوة ۔

الفصل الثالث - دریم فصل

۱۲- عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ ﷺ، قَالَ : جَاءَ رَجُلٌ اِلَی النَّبِیِّ ﷺ، فَقَالَ : یَا رَسُوْلَ اللهِ! اِنِّیْ عَالَجْتُ امْرَأَةً فِیْ اَقْصَی الْمَدِیْنَةِ، وَاِنِّیْ اَصَبْتُ مِنْهَا مَا دُوْنَ اَنْ اَمَسَّهَا، فَاَنَا هٰذَا، فَاقْضِ فِیَّ مَا شِئْتَ . فَقَالَ لَهٗ عُمَرُ : لَقَدْ سَتَرَکَ اللهُ لَوْ سَتَرْتَ عَلٰی نَفْسِکَ، قَالَ : وَلَمْ یَرُدَّ النَّبِیُّ ﷺ عَلَیْهِ شَیْئاً، وَقَامَ الرَّجُلُ، فَانْطَلَقَ، فَاَتْبَعَهُ النَّبِیُّ ﷺ رَجُلاً فَدَعَاهُ وَتَلَا عَلَیْهِ هٰذِهِ الْآیَةَ : ﴿وَاَقِمِ الصَّلَاةَ طَرَفَیِ النَّهَارِ وَزُلَفاً مِنَ اللَّیْلِ، اِنَّ الْحَسَنَاتِ یُذْهِبْنَ السَّیِّئَاتِ، ذٰلِکَ ذِکْرٰی لِلذَّاکِرِیْنَ﴾ فَقَالَ رَجُلٌ مِنَ الْقَوْمِ : یَا نَبِیَّ اللهِ! هٰذَا لَهٗ خَاصَّةً؟ فَقَالَ : بَلْ لِلنَّاسِ کَافَّةً . رَوَاهُ مُسْلِمٌ .

ترجمه : د عبد الله بن مسعودؓ نه روایت دے فرمائی : یو سړے نبی کریم ﷺ ته راغلو او عرض ئے اوکړو : اے د الله رسوله ! د مدینے په غاړه کښے ما د یو ښځے نه غاړه واخسته او د صحبت کولو نه سوا مے هر څه ورسره اوکړل (یعنی صحبت مے اونکړو خو بوس وکنار شویدے پدے وجه) زه حاضر شوے یم نو ته چه څه زما په باره کښے غواړے

حکم اوکړه (یعنی ته چه زما دپاره کومه سزا تجویز کوې ما ته به منظور وی) عمر رضی الله عنه (چه پدغه وقت کښې په مجلس کښې حاضر وو) ورته اوفرمائیل: الله تعالی په تا باندې پرده اچولې وه که تا هم خپل عیب پټ کړې وې (نو ښه به وه) عبد الله بن مسعودؓ فرمائی چه رسول الله ﷺ (د الله تعالی د حکم په انتظار کښې) ددې هیڅ جواب ورنکړو، چنانچه هغه سړې پاڅیدو لاړو۔ نبی کریم ﷺ د هغه د راغوختلو دپاره هغه پسې سړې اولیږلو نو هغه را اوغوختو او نبی اکرم ﷺ په هغه باندې دا آیت اولوستلو (واقم الصلاة) د ورځې په آخر کښې او د شپې په څه ساعتونو کښې مونځ کوه ځکه نیکیانې ګناهونو لره ختموی او دا نصیحت دې د نصیحت اخستونکو دپاره۔ په خلقو کښې یو شخص (عمر یا معاویه) عرض اوکړو اې د الله رسوله! آیا دا حکم خاص ده دپاره دې؟ نبی علیه السلام اوفرمایل: نه! د ټولو خلقو دپاره همدغه حکم دې۔ (مسلم)۔

تشریح: جَاءَ رَجُلٌ ۱- بعض علماء وائی: ددې حدیث واقعه او د مخکښې دریم حدیث واقعه یوه ده خو هلته اختصار شویدې او دلته د هغې تفصیل ذکر دې پدې وجه ئې دوباره راوړیدې۔ ۲- څوک وائی: دواړه حدیثونه جدا جد دی هغه بیل سړې دې او دا بیل سړې دې۔

اِنِّیۡ عَالَجۡتُ امۡرَاَةً: یقیناً ما په زوره لوبې اوکړې د یوې زنانه سره او هغه مې اوسکوندله، معالجه د چا سره په زوره لوبې کول بغیر د جماع کولو نه۔

مَا دُوۡنَ اَنۡ اَمَسَّهَا: د مس نه مراد جماع ده۔ قرآن اوحدیث کښې د مس اطلاق غالباً په جماع باندې کیږی۔

فَاَنَا هٰذَا: پس زه دایم، ستا مخکښې حاضریم، زما په باره کښې د الله د حکم مطابق فیصله اوکړه کومه سزا چه زما دپاره تجویز کوې زه تیاریم۔

فَقَالَ لَهٗ عُمَرُ: د عمرؓ د خبرې مطلب دا دې چه الله درباندې پرده اچولې وه چه چا ته ئې ښکاره نکړې نو تا لره پکار وو چه دا دې خلقو ته نه ښکاره کولې ۱- یو خو په خفیه طور به دې توبه ویستې وې نو دا ګناه به معاف شوې وې نو ښکاره کولو ته به ضرورت نه راتلې ۲- دویم دا چه د خلقو په ذهن کښې به دا فتنه هم نه واقع کیدې ځکه داسې بې حیاء خبرې ښکاره کول شرعاً مناسب ندی۔

مسئله: کله چه سړې زنا وکړی یا بله دا قسم ګناه وکړی آیا ځان پټول بهتر دی او که د حاکم په مخکښې اقرار کول نو ظاهر دا ده چه ځان پټول بهتر دی د وجه د هغه

وجوهو نه چه مخکښ ذکر شوے او دغه شان نور وجوهات ـ
فَانْطَلَقَ : په حديث د انس کښے د مانځه تذکره ده چه دے سړی د پيغمبر عليه السلام سره مونځ اوکړو او روستو ئے اقرار اوکړو او دے حديث کښے داسے دی چه دا سړے روان شو او نبی عليه السلام د يو چا په ذريعه راواپس کړو او دغه آيت ئے پړے اولوستو نو دے وجه نه بعض علماؤ دا واقعه او د حديث انس واقعه جدا جدا شمارلے ده ـ
۲- او چا دواړه واقعے يو شمارلی دی نو هغوی وئيلی دی چه دے روايت کښے د مانځه تذکره نشته هلته د راويانو تذکره نشته نو دواړه راجمع کړه خبره به داسے واضحه شی چه مانځه نه روستو اودريدلے دے بيا نبی عليه السلام سمدست جواب هم ندے ورکړے سړے روان شويدے بيا ئے راغوښتلی دے ورته ئے وئيلی دی چه تا مونږ سره مونځ اونکړو؟ او دغه آيتونه ئے ورته لوستلی دی خو روايت بالمعنی شويدے او په روايت بالمعنی کښے اکثر داسے کار کيږی چه الفاظ بدليږی رابدليږی خو مقصد ئے يو وی۔
فَقَالَ رَجُلٌ مِنَ الْقَوْمِ : د رجل نه مراد يا ۱- عمرؓ دے ۲- يا معاذ بن جبلؓ دے ـ ددے نه معلوميږی چه د دريم حديث او ددے حديث واقعے جدا جدا دی څکه هلته سړی ځان ياد کړے وو : اِلَيَّ هٰذَا : آيا دا حکم صرف زما دپاره دے او دلته بل سړی يعنی عمر يا معاذ بن جبل تپوس کړيدے چه آيا دا حکم ددے سړی پورے خاص دے؟ ـ
وَتَلَا عَلَيْهِ هٰذِهِ الْآيَةَ : حافظ ابن حجرؒ ليکی چه په اول فصل کښے د دريم حديث واقعه د يو شخص (ابو اليَسَر) ده او ددے حديث واقعه د يو بل صاحب ده لهذا کيدے شی چه دا آيت هم ددے دويم سړی په حق کښے دويم ځل نازل شوے وی ـ ليکن محققين علماء وائی چه د تعدد د واقعے نه دا نه لازميږی چه آيت هم مکرر نازل دے او نه دا حديث پدے باندے دلالت کوی بلکه رسول الله ﷺ هغه آيت چه د اول شخص په حق کښے نازل وو، دے شخص ته هم بطور سند تلاوت کړو لکه دا چه دا خبره اهل تفسير ذکر کړيده چه يو آيت د يو شخص په باره کښے نازل وی ليکن د بل شخص واقعه هم د هغه پشان وی نو علماء په هغه وقت کښے وائی چه دا آيت د فلانی په حق کښے نازل دے يعنی دده حکم هم دے آيت کښے شته اګرچه د هغه په باره کښے ابتداءً نازل نه وی ـ
﴿وَاَقِمِ الصَّلٰوةَ طَرَفَيِ النَّهَارِ وَزُلَفاً مِنَ اللَّيْلِ﴾ : پدے آيت کښے پنځه مونځونو ته اشاره ده طرفی النهار نه مراد اول طرف کښے فجر شو او بل طرف نه ظهر او عصر مراد دی او زلفا (څه ساعت د شپے) نه مراد د مغرب او عشاء مونځونه دی ـ

۱۳ – وَعَنْ اَبِیْ ذَرٍّ رضی اللہ عنہ اَنَّ النَّبِیَّ ﷺ خَرَجَ زَمَنَ الشِّتَاءِ، وَالْوَرَقُ یتهَافَتُ، فَأَخَذَ بِغُصْنَیْنِ مِنْ شَجَرَةٍ، قَالَ : فَجَعَلَ ذٰلِکَ الْوَرَقُ یَتَهَافَتُ، قَالَ : یَا اَبَاذَرٍّ ! قُلْتُ : لَبَّیْکَ یَا رَسُوْلَ اللهِ! قَالَ : إِنَّ الْعَبْدَ الْمُسْلِمَ لَیُصَلِّی الصَّلَاةَ یُرِیْدُ بِهَا وَجْهَ اللهِ، فَتَهَافَتُ عَنْهُ ذُنُوْبُهٗ، کَمَا تَهَافَتَ هٰذَا الْوَرَقُ عَنْ هٰذِهِ الشَّجَرَةِ، رَوَاهُ اَحْمَدُ .

ترجمه : ابوذرؓ نه روایت دے چه (یو ځل) نبی کریم ﷺ د ژمی په موسم کښے چه د پانړو پریوتو وقت وو بهر تشریف یوړو۔ نبی کریم ﷺ د یوے ونے دوه شاخونه اونیول۔ راوی وائی چه د معمول مطابق د ژمی په موسم کښے د یو شاخ په خوزولو سره ډیرے پانړے پریوځی دغه شان کله چه نبی علیه السلام دا شاخونه اونیول نو) ددے نه پانړے غورځیدلے۔ نبی کریم ﷺ اوفرمایل : اے ابوذر! ما عرض اوکړو اے د الله رسوله ! حاضر یم۔ هغه اوفرمایل : کله چه بنده مؤمن خالص د الله د مخ (او رضا) دپاره مونځ کوی نو د هغه گناهونه داسے پریوځی لکه څنګه چه ددے ونے نه دا پانړے پریوځی۔ (احمدؒ)۔

تشریح : فَأَخَذَ بِغُصْنَیْنِ : نبی علیه السلام دا څانګے د یو حکمت دپاره اونیولے ځکه چه فعل الحکیم لا یخلو عن الحکمة نو نبی علیه السلام ددے نه یو مثال واخستو په باره د فضیلت د مانځه کښے۔

یُرِیْدُ بِهَا وَجْهَ اللهِ : د وجه الله د ارادے مطلب دا دے چه مونځ خالص مخلص د الله د رضا او خوشحالئ او فرمانبردارئ دپاره اوکړی، ریاء او بل ته ښودل او څه دنیاوی غرض دپاره اونشی۔

فَتَهَافَتُ عَنْهُ ذُنُوْبُهٗ : د تهافت نه یوه تاء حذف شویده د تنزل الملائکة پشان اصل کښ تَتَهَافَتُ دے په معنی د سقوط او پریوتو سره۔ او دویم تهافت صیغه د ماضی معلوم ده او په بله نسخه کښ یتهافت مضارع صیغے سره نقل دے۔ د گناهونو د خارجیدو معانی او طریقے مخکښے کتاب الطهارة کښے ذکر شویدی۔

د حدیث نه معلومه شوه چه تعلیم کله قولی وی او کله عملی۔ دلته نبی کریم ﷺ عملی تعلیم ورکړے دے۔ او بله مسئله تر ے دا معلومه شوه چه د ضرورت په وجه د ونے پانړے څنډل جائز دی۔

درجة الحديث: رواه احمد فی المسند (١٧٩/٥) وفیه مزاحم بن معاویة الضبی وهو مجهول کما قال ابوحاتم ومع ذلك حسّن المنذری اسناده (١٤٤/١) قاله الالبانی ـ اقول: ولکن له شواهد فی المسند وانظر الفتح الربانی (٢/ ٢٠٠ - ٢٠٤).

---

١٤ – وَعَنْ زَيْدِ بْنِ خَالِدِ الْجُهَنِيِّ ﷺ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: مَنْ صَلّٰی سَجْدَتَيْنِ لَايَسْهُوْ فِيْهِمَا، غَفَرَ اللهُ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهٖ، رَوَاهُ اَحْمَدُ.

ترجمه: او د زید بن خالد جهنی رضی الله عنه نه روایت دے فرمائی چه نبی کریم ﷺ اوفرمایل: چا چه دوه رکعاته مونځ (په غفلت نه بلکه پداسے توجه د زړه سره) اوکړل چه په هغے کښے سهوه اونکړی نو الله تعالٰی به د هغه مخکنی ګناهونه اوبخښی ـ (احمد) ـ

تشریح: مَنْ صَلّٰی سَجْدَتَيْنِ: ذکر د سجدے دے مراد ترینه رکعتونه دی او دا حدیثونو کښے ډیر راځی ـ لایسهو: ددے نه مراد غفلت دے دا حدیث مخکښے کتاب الطهارة کښے ذکر شویدے چه چا دا قسم اودس اوکړو ثم صلی رکعتین لا یحدث فیهما نفسه غفر له تقدم من ذنبه ـ

بیا دوه رکعاته داسے اوکړی چه ذهن په نورو څیزونو مشغول نکړی نو تیر شوی ګناهونه به ئے معاف شی، بل روایت کښے ورسره دی: [مقبلاً علیهما بوجهه وقلبه الا وجبت له الجنة]ـ چه زړه او مخ سره ورته متوجه وی نو جنت به ورله واجب شی خو دے روایت کښے ورسره د لایسهو لفظ دے یعنی چا، نه به ترے غافل کیږی ـ د سهوے نه مراد غفلت دے او د سهوے معنی دا ده چه قصداً به د. مانځه نه سوئ د بل څیز فکر نکوی او که غیر اختیاری ئے یو طرف ته ذهن ځی نو زر به ئے واپس کوی .. دا د مطلق مونځ فضیلت دے نو فرائض به څومره ډیر اجر لری ـ

درجة الحديث: رواه احمد فی المسند (١٩٤/٥) قال الالبانی: اسناده صحیح ورواه ابوداود وغیره بلفظ: من توضأ فاحسن وضوءه ثم رکع رکعتین لا یسهو ..... الحدیث وسنده حسن وصححه الحاکم والذهبی آهـ وسکت عنه ابوداود والمنذری.

١٥ – وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ ﷺ، عَنِ النَّبِيِّ ﷺ أَنَّهُ ذَكَرَ

الصَّلَاةَ يَوْماً فَقَالَ : مَنْ حَافَظَ عَلَيْهَا، كَانَتْ لَهُ نُوراً وَبُرْهَاناً وَنَجَاةً يَوْمَ الْقِيَامَةِ . وَمَنْ لَّمْ يُحَافِظْ عَلَيْهَا، لَمْ تَكُنْ لَهُ نُوراً وَلَا بُرْهَاناً وَلَا نَجَاةً، وَكَانَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مَعَ قَارُوْنَ وَفِرْعَوْنَ وَهَامَانَ وَأُبَيِّ بْنِ خَلَفٍ . رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالدَّارِمِيُّ وَالْبَيْهَقِيُّ فِيْ شُعَبِ الْإِيْمَانِ .

ترجمه : د عبد الله بن عمرو بن العاص رضی الله عنه نه روایت دے چه یوه ورځ نبی کریم ﷺ د مانځه تذکره اوکړه (یعنی د مانځه فضیلت او اهمیت بیانولو اراده ئے اوکړه) نو هغه اوفرمایل : څوك چه په مانځه باندے محافظت کوی (یعنی همیشه ئے پابندئ سره کوی) نو د هغه دپاره به (دا مونځ) د نور (رڼړا د زیاتوالی سبب) او (د ایمان د کمال واضح) دلیل وی، او د قیامت په ورځ به د مغفرت ذریعه جوړیږی او څوك چه په مانځه باندے محافظت نکوی نو هغه دپاره به نه (د ایمان) د نور (د زیاتوالی سبب) جوړیږی او نه به (د قیامت په ورځ) د مغفرت ذریعه جوړیږی بلکه داسے شخص به د قیامت په ورځ د قارون، فرعون، هامان او ابی بن خلف سره (په عذاب او په حشر کښے) وی ۔ (احمدؒ، دارمیؒ، بیهقیؒ) ۔

تشریح : مَنْ حَافَظَ عَلَيْهَا : چا چه د مونځ محافظت اوکړو ۔ (۱) د محافظت یوه معنی ده دوام کول په مانځه باندے، هغه همیشه دپاره کول ناغه په کښے نه کول (۲) - او ورسره د سنن او آدابو لحاظ هم ساتی نو دغه فضیلت به ورته حاصل شی ۔

كَانَتْ لَهُ نُوراً : یعنی دا مونځ به د رڼړا سبب شی په آخرت کښے او په آخرت کښے د رڼړا ډیر اسباب دی :

اسباب حصول النور یوم القيامة

۱- مونځ : مخکښے حدیث تیر شویدے الصلاة نور ۔ ۲- الایمان ۔ ﴿يَوْمَ تَرَى الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنَاتِ يَسْعٰى نُوْرُهُمْ بَيْنَ اَيْدِيْهِمْ وَبِاَيْمَانِهِمْ يَقُوْلُوْنَ رَبَّنَا اَتْمِمْ لَنَا نُوْرَنَا﴾ الآيه ۔

۳- الصدقه لکه سورة الحدید نه معلومیږی چه څوك صدقے ډیرے کوی نو الله به ورته رڼړا ورکوی ۔ ٤- ایمان بالرسول لکه آیت کښے دی : ﴿يَا اَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ وَآمِنُوْا بِرَسُوْلِهٖ يُؤْتِكُمْ كِفْلَيْنِ مِنْ رَحْمَتِهٖ وَيَجْعَلْ لَّكُمْ نُوْراً تَمْشُوْنَ بِهٖ﴾ ط. الحدید آیت (۲۷)

۵- الوضوء سبب النور ٦- څوك، چه په تیاره کښے مانځه ته ځی ۔ روستو حدیث

كښې به راشي : بشّر المشائين في الظلم بالنور التام يوم القيامة ـ

٧- ځوك چه د الله په لار كښې هجرت اوكړى او فقير وى الله به ورته رڼړا وركوى كما في الحديث : ابشروا يا صعاليك المهاجرين بالنور التام يوم القيامة ـ

وَمَنْ لَّمْ يُحَافِظْ :: يعنى چا چه د مانځه محافظت اونكړو، هغه په پابندئ او اهتمام سره نه كوى بلكه كله ئے كوى او كله نه، سستى پكښې كوى كله د جماعت سره او كله يوائځے او كله قضاء نو د هغه سزا دا ده چه د هغه حشر به ددے مشرانو كفارو سره وى لكه فرعون هامان الخ نو پدے حديث كښې د مانځه په محافظت نكولو او په هغے باندے دوام نه اختيارولو او پدے كښې د كوتاهى كونكى دپاره ځومره وعيد بيان شويدے چه د هغه حشر به ددے كفارو سره وى نو د هغه شخص به څه حال وى چه بالكل ئے نه كوى ؟ـ

قارون او فرعون خو مشهور كفار دى او هامان د فرعون وزير وو، ابى بن خلف هم مشهور مشرك دے چه د نبى عليه السلام جانى دشمن وو او رسول الله ﷺ په جنګِ احد كښې په خپل لاس مبارك سره د جهنم كندے ته ګوزار كړيدے واقعه ئے مشهوره ده دا پدے امت كښې لوئى اشقىٰ (بدبخت) دے چه د نبى د لاس نه جهنم ته غورزيدلے دے ـ

ددے كفارو د تخصيص حكمت

بيا ددے څلورو كفارو تخصيص شويدے حكمت ئے دا دے چه د يو انسان نه چه مونځ پاتے كيږى نو د هغے څلور اسباب دى يو دا چه مالدار دے مال ئے ډير شويدے د مونځ نه ئے غافل كړيدے ٢- يا د بادشاهى پروګرامونو كښې مشغول دے مونځ ته اوزګار نه دے ٣- يا وزارت پروګرام كښې مشغول دے د هغے سنبالښت كوى ـ ٤- يا تاجر دے په تجارتونو ترے مونځ پاتے دے او اكثر چه مونځ د انسان نه پاتے كيږى نو سبب ئے تجارت وى ـ نو قارون كثير المال وو، فرعون ملك (بادشاه) وو، هامان وزير وو او ابى بن خلف تاجر وو ـ

(٢) - دويم پدے كښې اشاره ده ديته چه دا خلق په دنيا كښې غټ كفار وو نو تارك الصلاة به هم دغه شان خلقو سره ملګرے وى اشاره ده كفر د تارك الصلاة ته په كفر اكبر سره ـ بيا دا د هغه علماؤ دليل دے چه تارك الصلاة كافر په كفر حقيقى سره ګنړى ـ

بيا ددے حديث د مفهوم مخالف نه دا خبره معلوميږى چه كوم شخص د مانځه محافظت كوى يعنى په پوره خلوص او ټول فرائضو او واجبات او سنن او مستحباتو سره هميشه دپاره په پابندئ سره اداء كوى نو په قيامت كښې به د انبياء كرام، صديقين، شهداء

او صالحينو سره ملګري وي ـ الله دې مونږ ته ددې سعادت د حصول توفيق راكړي آمين ـ **درجة الحديث** : اسناده صحيح : اخرجه احمد (٢/١٦٩) وعبد بن حميد في المنتخب (١/٠ ٣١ رقم : ٣٥٣) والدارمي (٢/٣٩١) وابن حبان (٣/ ١٤) رقم (١٤٦٥ الاحسان) والطبراني في الاوسط (٢/٤٥٦ رقم : ١٧٨٨) وذكره الهيثمي في مجمع الزوائد (١/٢٩٢) وقال : رواه احمد والطبراني في الكبير والاوسط ورجال احمد رجال ثقات ـ

---

١٦ – وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ شَقِيْقٍ، قَالَ : كَانَ أَصْحَابُ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ لَا يَرَوْنَ شَيْئاً مِنَ الْاَعْمَالِ تَرْكُهُ كُفْرٌ غَيْرَ الصَّلَاةِ . رَوَاهُ التِّرمِذِيُّ .

ترجمه : او عبد الله بن شقيق فرمائي : په ټولو افعال او اعمالو كښې صرف مونځ داسې عمل وو چه د هغې پريخودل به د نبي كريم ﷺ صحابو كفر ګڼړلو ـ (ترمذیؒ)

د عبد الله بن شقيق تعارف :

دده نوم عبد الله بن شقيق العقيلي البصري دې او د اوساط التابعين نه دې، ثقه راوي دې، د عمرؓ عثمانؓ، عليؓ، ابوذرؓ، ابو هريرةؓ، عائشةؓ او ابن عباس وغيره شاګرد دې په سنه (١٠٨ هـ) كښې وفات شويدې ـ

علامه جريريؒ فرمائي : عبد الله بن شقيق مجاب الدعوه وو، وريځ به ئې آسمان كښې اوليدله فرمائيل به ئې اللهم لا تجوز كذا وكذا حتى تمطر ـ اې الله ! دا وريځ د فلاني ځائې نه مه تيره وه چه باران اوكړي نو د هغه ځائې نه به نه تيريدله چه باران به شروع شو، حكاه ابن ابي خيثمه في تاريخه ـ

لَا يَرَوْنَ شَيْئاً مِنَ الْاَعْمَالِ تَرْكُهُ كُفْرٌ غَيْرَ الصَّلَاةِ :

تشريح : شيئا مفعول د يرون دې او من الاعمال صفت د شيئا دې او تركه كفر ميتداء او خبر بتاويل المفرد دا دويم صفت دې د شيئا ـ او رأى په معنى د عقيدې سره دې يعني صحابه كرامو به د هيڅ عمل پريخودل كفر نه ګڼړلو سِوا د مانځه نه چه ددې پريخودل به كفر ګڼړلو ـ اى لا يرون ترك شئ من الاعمال كفراً غير الصلاة ـ

نو پدې حديث كښې مسئله د تارك الصلاة بيانيږي ـ

الفلاح والنجاة فی حکم تارک الصلاة

ددے مسئلے د بیانولو حکمت څه دے نو حکمت دادے چه هر کله مونږ ته د تارک الصلاة حکم معلوم شی چه دا په کومه درجه کښے گناهگار دے نو د هغے مطابق به د هغه نه برائت کول پکار دی د هغه سره به تعلقات او دوستی نشی کولے۔

اول دا مسئله اتفاقی ده په مابین د ټولو مسلمانانو کښے چه څوك د مانځه د فرضیت نه منکر شو هغه کافر مرتد دے کله چه دا خبره په علم سره کوی، جاهل او لیونے نه وی۔ خو اختلاف پدے کښے دے چه یو مسلمان قصداً مونځ نکوی یا د سُستیٔ په وجه یٔ د بل شغل په وجه یا د دنیا پرستیٔ په وجه دکان کښے ناست دے، فرض مانځه ته نه حاضریږی۔

نو پدے کښے مشهور دوه قوله دی:

(۱) - **اول قول** دا دے چه داسے انسان چه قصداً تهاوناً مونځ نکوی دا کافر دے په کفر حقیقی او کفر اکبر سره، مرتد دے، مباح الدم دے، ښځه پرے طلاقه ده د مسلمانانو په مقبره کښے به نشی دفن کولے۔ ټول احکام د مرتدینو به پرے جاری کیږی۔ اودا قول د اکثرو صحابه کرامو دے بلکه د ټولو دے لکه چه ددے لفظ نه معلومیږی کان اصحاب رسول الله الخ ځکه دا جمع مضاف ده، مفید د استغراق ده او د بعضو صحابو نومونه علامه عبد العظیم المنذری په الترغیب والترهیب (۱/۲۹۴) کښے ذکر کړیدی: منهم عمر بن الخطاب وعبد الله بن مسعود وعبد الله بن عباس ومعاذ بن جبل وجابر بن عبد الله وابو الدرداء رضی الله عنهم۔

او په ائمه اربعه وکښې د امام احمد بن حنبل دے دا رنګه د اسحاق بن راهویه، عبد الله بن المبارك، ابراهیم النخعی، الحکم بن عتبه، ایوب السختیانی، ابوداود الطیالسی، ابوبکر بن ابی شیبه، او زهیر بن حرب وغیرهم رحمهم الله دے آ هـ ابن حزم وائی دا قول د ابو هریره، عبد الرحمن بن عوف، ابن عباس او علی بن ابی طالب رضی الله عنهم دے۔

(۲) - **قول ثانی** : دا دے چه داسے انسان کافر ندے په کفر حقیقی اکبر سره بلکه غلیظ فاسق دے، دے قول والا په خپلو کښے مختلف دی (۱) اما شافعیؒ، مالك وغیره مسلك دا دے چه کافر ندے خو حداً به قتلولے شی لکه د قطاع الطریق پشان، جنازه به هم پرے کولے شی ځکه دا مسلمان دے خو کبیره گناه والا دے۔ بدایة المجتهد (۱/۱۷۱)

(۲) - امام ابو حنیفه فرمائی: کافر ندے خو سزاء ئے دا ده چه جیل ته به واچولے شی

كه توبه اوباسي، آزاد به كړے شي او كه توبه او نه باسي بس جيل كښې به وي ترديے چه مرګ ورله راشي ـ

دلائل الفريق الاول :

د قول اول والا دلائل څلور انواع دى (١) – قرآن كريم (٢) – احاديث (٣) – اجماع (٤)– اقوال اهل العلم ـ

د قرآن كريم نه تقريباً اتـه (٨) آيتونه دى ١ – اول آيت :﴿ يَوْمَ يُكْشَفُ عَنْ سَاقٍ وَيُدْعَوْنَ إِلَى السُّجُوْدِ فَلَا يَسْتَطِيْعُوْنَ ﴾ـ سورة القلم (٣٥) ابـن القيمؒ په كتاب الصلاة ص (٣٧ –٣٨) كښې فرمائى : ولو كانوا مسلمين لاذن لهم بالسجود كما اذن للمسلمين ـ كه دا د مانځه پريخودونكى مسلمانان وے نو د قيامت په ورځ به د نورو مسلمانانو پشان دوى ته هم د سجدے كولو حكم شوے وے ـ

٢– جهنميانو نه چه تپوس اوشى تاسو كوم سبب جهنم ته داخل كړئ هغوى جواب كښې وائى :﴿ قَالُوْا لَمْ نَكُ مِنَ الْمُصَلِّيْنَ ﴾ـ المدثر آيت (٤٣) مونږ به مونځ نه كولو ـ

محمد بن نصر المروزيؒ په تعظيم قدر الصلاة (٢/١٠٧) كښې ليكى چه مخلدين فى النار هغه خلق دى چه مونځ نه كوى وقال ابن القيم فى كتاب الصلاة (٣٧) : وتارك الصلاة من المجرمين السالكين فى سقر الخ ـ

٣– ﴿ فَخَلَفَ مِنْ بَعْدِهِمْ خَلْفٌ اَضَاعُوا الصَّلَاةَ وَاتَّبَعُوا الشَّهَوَاتِ فَسَوْفَ يَلْقَوْنَ غَيًّا﴾ سورة مريم (٥٩). اضاعوا الصلاة اى تركوها كما اختاره ابن جرير فى تفسيره (١٦/٦٦) وابن كثير (٣/١٢٥) قال ابن القيم : فتارك الصلاة فى اسفل طبقات النار ولو كان من العصاة لكان فى اعلى الطبقات ـ كتاب الصلاة (٤١) ـ

(٤) – ﴿ فَاِنْ تَابُوْا وَاَقَامُوا الصَّلَاةَ وَآتَوُا الزَّكٰوةَ فَاِخْوَانُكُمْ فِى الدِّيْنِ ﴾ـ سورة التوبة آيت (١٢) مفهوم د آيت دادے : ان لم يقيموا الصلاة لم يكونوا من اخوان المؤمنين ـ او په كبيره ګناه سره اخوتِ ايمانى نه نفى كيږى لكه : وان طائفتان من المؤمنين اقتتلوا) كښې اقتتال د مؤمنانو خپل مينځ كښې كبيره ګناه ده خو بيا هم اخوّتِ ايمانى ندے نفى شوے دليل دے چه ترك الصلاة كفر اكبر دے څكه پرے اخوت ايمانى نفى كيږى كذا فى اضواء البيان للشنقيطى (٤/٣١١) ورسالة الطهارة والصلاة لابن عثيمين ص (٥٨) مجموعة الفتاوى لابن تيمية (٧/٦١٣)

٥– ﴿ فَلَا صَدَّقَ وَلَا صَلّٰى وَلٰكِنْ كَذَّبَ وَتَوَلّٰى ﴾ سورة القيامة (٣١). محمد بن نصر

المروزی فرمائی : فالتکذیب ضد التصدیق والتولی ترك الصلاة وغیرها من الفرائض ۔
٦۔ ﴿ یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا لَا تُلْهِکُمْ اَمْوَالُکُمْ وَلَاۤ اَوْلَادُکُمْ عَنْ ذِکْرِ اللّٰهِ وَمَنْ یَّفْعَلْ ذٰلِکَ فَاُولٰٓئِکَ هُمُ الْخٰسِرُوْنَ ﴾ المنافقون آیت (٩) ۔ قال عطاء بن ابی رباح هی الصلاة المکتوبة ۔ کذا فی شعب الایمان (٣/٧٦) للبیهقی والدر المنثور للسیوطی (٨/١٨٠) ۔
آیت کښې مطلق خسران ذکر دے د هغه چا چه د مانځه نه اولاد او مال غافل کړو او خسران مطلق صرف د کفارو دپاره دے ۔
٧۔ ﴿ مُنِیْبِیْنَ اِلَیْهِ وَاتَّقُوْهُ وَاَقِیْمُوا الصَّلٰوةَ وَلَا تَکُوْنُوْا مِنَ الْمُشْرِکِیْنَ ﴾ سورة الروم (٣١) ۔ انسان چه مشرك کیږی ددے علامه بیان شوه چه مونځ پریخودل دی کذا فی فتح الباری (٧/٢) وتعظیم قدر الصلاة (٢/١٠٠٥) ۔
٨۔ ﴿ وَاِذَا قِیْلَ لَهُمُ ارْکَعُوْا لَا یَرْکَعُوْنَ ﴾ ط المرسلات (٤٨) ۔ دلته وعید بترك الرکوع دے او رکوع نه مراد مونځ دے او دا وعید په نه کولو دے ۔

دلائل د احادیثو نه :

احادیث داله په کفر د تارك الصلاة خو ډیر زیات دی بعض د هغے دا دی :
١۔ حدیث د مسلم (١/٦١) او احمد او ابوداود کښې دی : ان بین الرجل وبین الشرك والکفر ترك الصلاة ومثله فی الترمذی وابن ماجه کذا فی الترغیب (١/٣٧٨) پدے حدیث کښې د کفر او شرك او د سلام ترمینځ حد فاصل مونځ خودل شویدے څوك چه دا کوی ، مسلمان به وی او څوك ئے چه نکوی هغه به کافر وی ۔
امام بیهقی شعب الایمان (٣/٣٣) کښې فرمائی : په عباداتو کښې د ایمان نه پس داسے عبادت نشته چه هغے سره د انسان کفر ختمیږی او ایمان ورته حاصلیږی او د هغے پریخودل کفر وی مگر هغه مونځ دے ۔ شیخ الاسلام ابن تیمیة په اقتضاء الصراط المستقیم (١/٢٠٨) کښې فرمائی : الکفر پدے حدیث کښې معرف باللام دے او دا دلالت کوی په تخصیص او عهد باندے ۔
شنقیطیؒ په اضواء البیان (٤/٣١١) کښې لیکی : فی هذا الحدیث دلیل واضح فی ان تارك الصلاة کافر لان عطف الشرك علی الکفر فیه تاکید قوی لکونه کافراً ۔
٢۔ مخکښې روایت د بریده کښې تیر شو : العهد الذی بیننا وبینهم الصلاة فمن ترکها فقد کفر ۔ اخرجه احمد (٥/٣٤٦) والترمذی رقم (٢٦٢١) والنسائی (١/١٨٧) وغیرهم وهو حدیث صحیح ۔ د مسلمانانو او کافرو ترمینځ عهد مونځ دے چا چه دا نه کولو نو

هغه حقیقی کافر دے احکام د کافرانو به پرے جاری کیږی۔
٣- د ثوبانؓ په حدیث کښې دی : بین العبد وبین الکفر والایمان الصلاة فاذا ترکها فقد اشرك ۔ الترغیب والترهیب للمنذری (١/٣٧٩) واسناده صحیح کما قال المنذری ۔
نو دلته ترك الصلاة ته شرك وئیل شویدے دلیل دے چه تارك الصلاة کافر دے حقیقةً۔
٤- مخکښې حدیث د عبد الله بن عمرو بن العاصؓ تیر شو څوك چه د مانځه حفاظت نه کوی هغه به د قارون، فرعون ، هامان او ابی بن خلف سره د قیامت په ورځ په صف کښې ولاړ وی ۔ رواه احمد (٢/١٦٩) وابن حبان (١٤٤٨)۔
شنقیطیؒ وائی : هذا الحدیث اوضح دلالةً علی کفر تارك الصلاة ۔ اضواء البیان (٤/٣١٣) څکه څوك چه د کافرانو صف کښې ولاړ وی هغه کافر حقیقی وی څکه کبیره ګناه والا د کافرو په صف کښې نه وی ولاړ۔
٥- مشکوة کښې روستو حدیث د ابن ماجه راروان دے عن ابی الدرداء : ولا تترك الصلاة متعمداً فمن ترکها متعمداً فقد برأت منه الذمة والحدیث حسن وصححه الالبانی فی صحیح الترغیب (١/٢٧٧) ابن القیم فرمائی : که دا تارك الصلاة په اسلام باقی پاتے وی نو ده لره به ذمه د اسلام ضرور وے ۔ کتاب الصلاة (٤٨)
لیکن دا استدلال پوره نه دے څکه چه کله کله د قاتل او زانی نه هم ذمه د اسلام لرے کیږی ۔
٦- حدیث (عموده الصلاة) مونځ د اسلام ستنه ده ۔ اخرجه احمد (٥/٢٣١) انظر صحیح الجامع (٥٠١٢) والترمذی رقم (٢٦١٦)۔
امام احمد فرمائی : الست تعلم ان الفسطاط اذا سقط عموده سقط الفسطاط ولم تنتفع بالطنب ولا بالاوتاد واذا قام الفسطاط انتفعت بالطنب والاوتاد کتاب الصلوة لابن القیم (٤٨) وجامع العلوم والحکم (١/١٤٦) کله چه د خیمے ستنه ساقطه شی نو باقی خیمه څه فائده نه ورکوی نو چه مونځ ختم شو باقی اسلام څه فائده نه ورکوی ۔
٧- مخکښې روایت تیر شویدے من صلی صلاتنا واستقبل قبلتنا واکل ذبیحتنا فذلك المسلم الذی له ذمة الله وذمة رسوله وفی روایة فله ما لنا وعلیه ما علینا اخرجه البخاری (١/٥٦) دا حدیث واضح دلیل دے چه څوك زمونږ قبلے ته مونځ نه کوی دے ته نه مخ کوی نو هغه مسلمان ندے بلکه کافر دے ۔

۸- روستو مشکاة (۱/۱۰۳) کښې به راشي : ما منعك ان تصلي مع القوم الست برجل مسلم ـ الحدیث اخرجه مالك (۱/۱۳۲) واحمد (٤/٣٤) والنسائی (۲/۸۷) وصححه الالبانی فی صحیح الجامع (٤٨٠) یو سړي د نبی علیه السلام د جماعت نه جدا ناست وو نبی علیه السلام ورته اوفرمائیل : څه وجه ده چه تا دې قوم سره مونځ اونکړو آیا ته مسلمان نه ئې ؟ (قال بلی الخ) ـ

ابن عبد البرؒ په التمهید (٤/۲۲٤) کښې فرمائي : وفی الحدیث دلیل علی ان من لا یصلی لیس بمسلم وقال ابن القیمؒ فجعل الفارق بین المسلم والکافر الصلاة ـ

۹- مخکښې کتاب الطهارة (۳۹) کښې حدیث د ابوهریره تیر شویدې : ان امتی یدعون غراً محجلین من آثار الوضوء اخرجه البخاری (۱/۲٥) ومسلم (۱/۱۳٦) .

شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ ددې نه استدلال داسې کوي : (فدل علی ان من لم یکن غراً محجلاً لم یعرفه النبی ﷺ فلا یکون من امته ـ مجموعة الفتاوی (۷/٦١٢)

یعنې دا حدیث دلیل دې چه څوك د اوداسه په وجه غُرًّا مُحَجَّلًا نه وي نو پیغمبر به ئې نه پیژني او چه هغه اونه پیژندو نو دا به د پیغمبر صحیح امتی نه وي بلکه د کفارو سره به وي ـ

۱۰- خالد بن الولید نبی علیه السلام ته اوفرمائیل : یارسول الله ﷺ الا اضرب عنقه فقال لعله ان یکون یصلی ـ اخرجه البخاری رقم (٤٣٥١) ومسلم فی الزکوة (۱/۳۳۷) او ددې حدیث په آخر کښې دا الفاظ دي : انی نهیت عن قتل المصلین ـ اخرجه ابوداود فی الادب رقم (٤٩٢٨) والدارقطنی (۲/٥٤) وهو فی صحیح الجامع (۲۰۰۲) دا دواړه روایتونه دلیل دې چه مونځ کول مانع دي د قتل د هغه نه او که مونځ نکوي نو دا به د مرتد پشان قتلولې شي که دا مسلمان وې نو قتل به ئې حرام وې کما فی الحدیث : لایحل دم امرئ مسلم الا باحدیٰ ثلاث الزنا بعد الاحصان وقتل النفس والارتداد فتارك الصلاة مرتد کذا فی ضوابط التکفیر لعبد الله القرنی (۲۰٦) ـ

۱۱- روایت د : لا تترکوا الصلاة متعمدین فمن ترکها متعمداً فقد خرج من الملة الحدیث اخرجه الطبرانی ومحمد بن نصر المروزی فی کتاب الصلوة وذکره المنذری فی الترغیب (۱/۳۷۹) باسنادین لا بأس بهما ـ تارك الصلاة د اسلام نه بهر دې ـ

۱۲- عن انس بن مالك قال قال رسول الله ﷺ من ترك الصلاة متعمداً فقد کفر جهاراً الحدیث اخرجه الطبرانی باسناد لابأس به کما قال المنذری فی الترغیب (۱/۳۸۲) د مونځ

پريښودونکے ښکاره کافر دے۔

داسے نور احاديث فتاوى الدين الخالص (٦٧/٣) کښے او کتاب الصلاة لابن القيمؒ او مجموعة الفتاوى والترغيب والترهيب وغيره کتابونو کښے ذکر دی۔

الادلة من الاجماع واقوال اهل العلم

١- حديث الباب: د عبد الله بن شقيق العقيلى رحمه الله قول دے:

كان اصحاب رسول الله ﷺ لايرون شيئا من الاعمال تركه كفر غير الصلاة ـ اخرجه الترمذى فى كتاب الايمان (٣٦٢٢).

علامه شوكانىؒ نيل الاوطار (١٦/٢) کښے فرمائى: والظاهر من الصيغة ان هذه المقالة اجتمع عليها الصحابة لان قوله (كان اصحاب رسول الله ﷺ) جمع مضاف وهو من المشتهرات بذلك) يعنى دا لفظ د كان اصحاب رسول الله جمع مضاف ده مفيد د استغراق ده نو دا د ټولو صحابو وينا ده چه تارك الصلاة كافر دے۔

٢- **اسحاق بن راهويه رحمه الله** فرمائى: قد صح عن رسول الله ﷺ ان تارك الصلاة عمداً كافر- وكذلك كان رأى اهل العلم من لدن النبى ﷺ الى يومنا هذا ان تارك الصلاة عمداً من غير عذر حتى يذهب وقتها كافر، كذا فى تعظيم قدر الصلاة لمحمد بن نصر المروزى (٩٣٠/٢) والتمهيد لابن عبد البر (٢٢٦/٤) والترغيب (٣٨٦/١) واخرجه مالك (٤٠/١)۔

٣- **محمد بن نصر المروزى رحمه الله** فرمائى: ذكرنا الاخبار المروية عن النبى ﷺ فى اكفار تاركها واخراجه اياه من الملة واباحة قتل من امتنع من اقامتها ثم جاءنا عن الصحابة رضى الله عنهم مثل ذلك ولم يجئنا عن احد منهم خلاف ذلك ـ تعظيم قدر الصلاة (٩٢٥/٢). يعنى د نبى عليه السلام او صحابه کرامو نه د تارك الصلاة د كفر متعلق احاديث نقل شو او ددے په خلاف يو حديث هم مونږ ته ندے نقل.

٤- **علىؓ فرمائى**: من لم يصل فهو كافر كتاب الايمان لابن ابى شيبة (١٥/٥) والترغيب (٣٨٥/١)۔

٥- **ابن عباسؓ فرمائى**: من ترك الصلاة فقد كفر ـ الترغيب (٣٨٥/١)۔

٦- **ابن مسعودؓ فرمائى**: من ترك الصلاة فلا دين له ـ الترغيب (٣٨٥/١)۔

يعنى تارك الصلاة بے دينه دے۔

٧- جابرؓ فرمائی : من لم يصل فهو كافر ـ رواه ابن عبد البر موقوفا كذا في الترغيب (٣٨٥/١) ـ

٨- ابوالدرداءؓ فرمائی : لا ايمان لمن لا صلاة له ولا صلاة لمن لا وضوء له ـ ابن عبد البر موقوفاً ـ څوك چه مونځ نكوی د هغه ايمان نشته او څوك چه اودس نكوی د هغه مونځ نشته او كوره دے تشبيه معنوی ته لكه څنګه چه په بے اودسۍ سره نفی د مونځ راځی دغه شان په بے نمازۍ سره نفی د ايمان راځی بالكليه ـ

٩- حماد بن زيد د ايوبؒ نه نقل كوی : ترك الصلاة كفر لا يختلف فيه ـ (د مانځه پريښودل داسے كفر دے چه اختلاف پكښے نشته) ـ

١٠- علامه ابومحمد بن حزمؒ فرمائی : وقد جاء عن عمر و عبد الرحمن بن عوف ومعاذ بن جبل وابی هريرة وغيرهم من الصحابة رضی الله عنهم : ان من ترك صلاة فرض واحدة متعمداً حتی يخرج وقتها فهو كافر مرتد ولا نعلم لهؤلاء الصحابة مخالفاً ـ انظر الفصل (٢٧٤/٣) والمحلی (٣٢٦/٢) ونواقض الايمان للدكتور عبد العزيز بن محمد (٤٥٠- ٤٥٦) ددے صحابو هم دا عقيده وه چه چا يو فرض مونځ **قصداً** پريخودو تر دے چه وقت ئے لاړ شی نو دغه شخص مرتد كافر دے او ددے صحابه كرامو مخالف مونږ ته ندے معلوم نو ګويا كښے دا اجماع سكوتی شوه دغه شان هغه صحابه چه مخكښے ئے نومونه تير شو منذری په الترغيب والترهيب (٣٩٣/١) كښے او التمهيد لابن عبد البر (٢٢٥/٤) او محلی (٣٢٦/٢) كښے ذكر شويدی وكذا فی فتاوی الدين الخالص (٧٠/٣) ـ

ددے دلائلو نه ثابته شوه چه **قصداً** مونځ پريخودونكے حقيقی كافر دے د اسلام نه حقيقةً بهر شويدے ـ

د دوئ په خلاف **نور علماء دد ے دلائلو نه جوابونه كوی** چه هغه ضعيف ښكاری ـ

١- اول جواب : په كومو احاديثو كښے چه تارك الصلاة ته كافر وئيلے شويدے هغه محمول دی په كفرد نعمت باندے لكه يو حديث كښے دی : من تعلم الرمی ثم تركه فهی نعمة كفرها اخرجه ابوداود برقم (٢٥١٣) ويأتی فی المشكاة (٣٣٦/٢) نودلته هم كفر النعمه مراد دے نه حقيقی كفر ـ

الجواب : دا جواب د اول قول د قائلينو په نزد ضعيف دے ځكه چه دا د ظاهر د احاديثو خلاف دے ځكه چه پدے قول د نبی عليه السلام كښے چه بين العبد وبين الكفر

ترك الصلاة دا جائز نده چه د ترك الصلاة تفسير په ترك النعمة اوكړے شي۔
۲- دارنګه بل روایت کښې د شرك لفظ راغلي دے هغے سره به څه کوے او دا جواب ابوعبید القاسم بن سلام په کتاب الإيمان (۸۸) کښې هم ضعیف کړیدے۔
۲- **دویم جواب** : بعضے جواب کوی : چه پدے احادیثو کښې د کفر نه کفر حقیقی نه دے مراد بلکه کفر دون کفر مراد دے یعنی تارك الصلاة فاسق دے او فسق ته هم کله کفر وئیلے شی کما فی مشکل الآثار للطحاوی (۲۲۷/٤) ونیل الأوطار (۲۰/۲) وکتاب الصلاة لابن القیم (۵۱).
الجواب : دا تاویل صحیح ندے ځکه چه مخکښې په قول د شیخ الاسلام کښې تیر شو چه الکفر پدے حدیث کښې معرّف باللام راغلي دے او دا مفید د عهد او تخصیص وی، دا تاویل به هله صحیح وے چه کفر نکره راغلے وے او د کفر منکر او کفر معرّف کښې د زمکے او د آسمان فرق دے۔
۳- **جواب** : بل جواب دا کوی چه دا احادیث محمول دی په تغلیظ او سخت زجر باندے او حقیقت ئے مراد ندے چه ګنے تارك الصلاة حقیقی کافر دے کذا فی المغنی (۵۵۵/۱) وفتح الباری (۳۲/۲) واحکام القرآن لابن العربی (٤۱/۱)۔
الجواب : محققین علماء دا جواب ورکوی لکه شیخ الاسلام په مجموعة الفتاوی (۱۵۰/۱۹) کښې فرمائی : وعلی کل فان الاسترسال تعطیل الشریعة وابطال العقاب۔
یعنی څوك چه دا قول کوی چه دا احادیث د زجر او سختئ دپاره راغلی دی او حقیقت ندے مراد نو دا شریعت معطل کول دی او بیا تول عقابونه چه قرآن او سنت کښې راغلی هغے کښې هم داسے وایه چه ددے حقیقت ندے مراد۔
۲- **ابوعبید** فرمائی : اما القول المحمول علی التغلیظ فمن افظع ما تأول علی رسول الله ﷺ واصحابه ان جعلوا الخبر عن الله وعن دینه وعیداً لا حقیقة له وهذا یؤول الی ابطال العقاب لانه ان امکن ذلك فی واحد منها کان ممکنا فی العقوبات کلها۔ کتاب الایمان لابی عبید (۸۸) یعنی څوك چه دا وائی چه دا احادیث محمول دی په تغلیظ او سختئ باندے نو دا په رسول الله ﷺ او د هغه په صحابو ډیر قبیح دروغ وئیل دی چه هغوی دے د الله او د هغه د دین یو خبر ورکړی او دوئ دے ئے هغه هسے وعید اوګرځوی چه هیڅ حقیقت نه لری بلکه ددے مطلب خو دا جوړیږی چه په دین کښې هیڅ عقاب نشته تول محمول دی په وعید باندے ځکه چه په هر عقاب کښې دا ممکن ده چه

محمول شی په وعید او تغلیظ باندے۔

۳- **فضیل بن عیاض**ؒ فرمائی: المرجئة اذا سمعوا حدیثاً فیه تخویف قالوا هذا تهدید وان المؤمن یخاف تهدید الله وتحذیره وتخویفه ووعیده ویرجو وعده بخلاف المنافق ۔ انظر کتاب السنة لعبد الله بن الامام احمد (۳۷۷/۱) یعنی مرجئه چه کله یو حدیث واوری چه په هغے کښے تخویف او یره بیان شوے وی نو وائی پدے کښے خو هسے دهمکی ده (حقیقت ندے مراد) او د مؤمن صفت دا دے چه دا به د الله د دهمکئ او هرقسم یرونه خوف او خطره کوی او د الله د وعدے امید به ساتی او منافق داسے نه وی۔

٤- **علامه ابن الحزم الظاهری**ؒ فرمائی: واما من استجاز ان یکون ورود الوعید علی معنی التهدید لا علی معنی الحقیقة فقد اضمحلت الشریعة بین یدیه ولعل وعید الکفار ایضاً کذلك ۔

یعنی څوك چه داسے وعیدونه په حقیقت نه حمل کوی او وائی چه دا هسے تهدید او دهمکی ده نو ده د شریعت خاتمه اوکړه په ډاګه سره او دا خبره خو بیا د کفارو په حق کښ هم کیدے شی چه د هغوی عذابونه هم هسے دهمکی وی حقیقت مراد نه وی، بیا وائی: ومن بلغ هذا المبلغ فقد سقط الکلام معه الخ څوك چه دے درجے ته اورسی چه داسے تاویلونه کوی نو د هغه سره د خبرو کولو شان نشته۔

۵- **علامه قاسمی**ؒ فرمائی: وهذا الجواب لایرتضیه من عرف قدرَ النبی ﷺ وکأنّهم غَفَلُوا عما یستلزمه هذا الجوابُ ممّا لا یرتضیه ادنیٰ عالم ان ینسب الیه وهو الاخبار بخلاف الواقع لاجل الزجر (۵۳٦/۳)

دا جواب به هغه څوك خوښوی چه د نبی علیه السلام قدر او مرتبه نه پیژنی ځکه ددے جواب مطلب دا راوځی چه نبی علیه السلام خلاف الواقع خبر ورکړیدے د زجر او زورنے دپاره او دا خبره خو یو ادنیٰ عالم هم نه خوښوی چه هغه ته منسوبه شی پاتے لا د الله پیغمبر۔

د فریق ثانی دلائل:

۱- **اول دلیل**: آیت نه استدلال کوی:

﴿ إِنَّ اللَّهَ لَا يَغْفِرُ أَنْ يُشْرَكَ بِهِ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَنْ يَشَاءُ ﴾۔ سورة النساء (۱۱۵)

یعنی د شرك نه ما سوا ګناهونه الله تعالی معاف کوی کله چه د هغه اراده اوشی او ترك الصلاة هم په مادون ذلك کښ داخل دے۔

ليکن دا استدلال ډير واضح ندے ځکه چه فريق اول خو ترك الصلاة ته كفر حقيقي وائي او كفر حقيقي مرادف د شرك دے لكه دا په تير شوی روايت كښے وارد وو : بين العبد وبين الكفر والشرك الخ فتدبر ! ۔

۲- دليل : ددے باب فصل ثاني كښې (۷) حديث د عباده بن صامت تير شو :

خمس صلوات افترضهن الله تعالى من احسن وضوء هن وصلاهن لوقتهن واتم ركوعهن وخشوعهن كان له على الله عهد ان يغفر له ومن لم يفعل فليس له على الله عهد ان شاء غفر له وان شاء عذبه ۔ اخرجه احمد (۳۱۹/۵) ومالك في الموطا (۱۲۳/۱) بسند صحيح ۔

نو دا حديث دليل دے چه تارك الصلاة د الله تعالى مشيت ته سپارلے شويدے كه عذاب ورکوی او كه معافي ورته كوی

شيخ الاسلام ابن تيميۀ فرمائي : دا ددے علماؤ قوى دليل دے ۔مجموعة الفتاوى (۶۱۴/۷) ۔

ابوعمر بن عبد البرؒ هم فرمائي : چه دا حديث دليل دے چه تارك الصلوة د مانځه په پريخودلو سره د اسلام نه خارج ندے تردے چه دا مشرك او مرتد اوگرځی ځکه چه كه مرتد او مشرك وے نو بيا د مشيت څه معنى ده ؟ مشرك الله تعالى بالكل جنت ته نه داخلوی د هغه معافي نشته ۔ التمهيد (۲۹۰/۲۳) ۔

او دغه شان خبره علامه زرقاني (۲۵۵/۱) هم ذكر كړی په شرح الزرقاني كښے ليكن ددے حديث نه هم پوره طريقے سره استدلال نه كيږی ځكه چه مشيت ته سپارل منافي ندی د كفر دده سره ځكه چه مشرك هم د الله مشيت ته سپارلے شويدے د هغه خوښه ده كه عذاب وركوی او كه بخښنه ورته كوی ليكن په واقع كښے ئے نه بخښي ۔ لكه دا قول د الله تعالى دے : ﴿ إِنْ تُعَذِّبْهُمْ فَإِنَّهُمْ عِبَادُكَ وَإِنْ تَغْفِرْ لَهُمْ فَإِنَّكَ أَنْتَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ﴾ ۔

۳- دليل : د حذيفه مشهور روايت دے ابن ماجه (۴۰۴۹) او حاكم (۴۷۳/۴) راوريدے الباني صاحب په الصحيحه (۸۷/۱) كښے ذكر كړيدے هغه دا دے : چه حذيفه د لا اله الا الله كلمے فضائل بيانول نو شاگرد تربے تپوس اوكړو چه دا خلق نه مونځ كوی نه روژه نيسي نو دا كلمه به څه فائده وركړی نو هغه غلے وو درے كرتے تپوس اوشو آخر كښے ئے اوفرمائيل : ((تُنْجِيهِمْ مِنَ النَّارِ)) دا جملے ئے درے كرتے اولوسته (چه دا كلمه به ورته د اور د جهنم نه نجات وركوی)۔

دا حديث صحيح دے ليكن محمول دے په جاهلانو ځكه دے كښې دا لفظ دے : ((لا

يدرى ما صلاة ولا صيام » او زمونږ بحث دلته په باره د هغه چا کښې دے چه قَصْدًا عَمْدًا مع العلم مونځ پريدى ـ

٤- دليل : حديث كښې دى : دعوت لامتى قال فما ذا اُجِبتَ قال اُجِبْتُ بالَّذِیْ لَو اطَّلَعَ عليه كثيرٌ منهم طَلْعَةً تركوا الصلاة ـ رواه احمد (١٧٠/٥) وابن ماجه (١٣٥٠) مجمع الزوائد ٢١١٣/٢١) ورجاله ثقات ـ

نبى عليه السلام فرمائى : ما د الله نه د امت دپاره دعاګانے طلب کړے یو شخص ورته اووئیل : ستا څه دعا قبوله شوه ؟ نبى عليه السلام اوفرمائیل : داسے دعا مے قبوله شوه چه که ډیر خلق په هغې خبر شي نو مونځونه به پریدی ـ یعنی د الله نه به ئے امید دومره زیات شی چه بیا به اعمال هم نکوی او وائی به چه د الله مغفرت او رحمت فراخه دے، الله تعالی مو هسے هم جنت ته بوځی ـ نو ددے حدیث نه معلومیږی چه الله تعالی دا امت بخلے دے اګرکه دا خلق مونځ پریدی هم ـ

لیکن دا صرف ترغیب دے او ر جاء ده دا مطلب ندے چه مونځ پریخودل روا دی ـ

٥- دليل : احاديث الشفاعة دی چه په هغے کښې داسے الفاظ دی : ثم يقول الله : وشفعت الملائكة وشفعت الانبياء وشفع المؤمنون وبقى ارحم الراحمين قال : فيقبض قبضة من النار او قال قبضتين ناساً لم يَعْمَلُوا لله خيراً قط قدِ احْترقو حتى صاروا حُمَمًا الحديث ـ

یعنی الله به جهنم نه داسے خلق راوباسی چه هغوی به په ژوند کښے هیڅ خیر (نیك عمل) نه وی کړے او داسے سوزیدلی به وی چه سکاره به ترے جوړ شویوی نو دا دلیل دے چه تارك الصلوة کافر ندے ولے که کافر وی نو هغه خو به د اور نه هیڅکله نه راوځی او حال دا چه هغه شخص هم د اور نه راوځی چه هیڅ نیك عمل ئے نه وی کړے ـ حكم تارك الصلوة للالبانى ص (٣٥) والموسوعة الفقهية الميسرة لحسين عودة (٣٠٠/١)

واجيب بان المراد : لم يعملوا خيراً قط غير الصلاة كما قال ابن خزيمة ـ او هذا حديث عام واحاديث كفر ترك الصلاة خاصة صريحة فتقدم على عمومها ـ

٦- عام دليل دا هم دے مخکښې مشكاة (١٤/١) کښې حديث د ابوذر تیر شو : من شهد ان لا اله الا الله وحده لا شريك له وان محمداً عبده ورسوله ـ دهغے په آخر کښې داسے الفاظ دی : ادخله الله على ما كان من العمل ـ یعنی چه د توحید او رسالت وغیره اقرار کوی نو هرڅنګه عمل ئے چه وی، جنت ته به ځی ـ

لیکن صاحب د نواقض الایمان (٤٨٨) دکتور عبد العزيز د احاديث الشفاعة نه داسے

جواب كوي چه په هغه حديث د ابي سعيد الخدري كښې داسې الفاظ دي: حتى اذا فرغ الله من القضاء بين عباده واراد ان يخرج من النار من اراد ان يخرج ممن كان يشهد ان لا اله الا الله امر الملائكة ان يخرجوهم فيعرفونهم بعلامة آثار السجود وحرم الله على النار ان تاكل من ابن آدم اثر السجود ـ البخاري (١/١١١) ـ

ددې حديث نه معلوميږي چه څوك الله ته سجده نه لګوي هغه به اور تول سوزوي ـ

او كوم مخكښې حديث كښې چه «لم يعملوا خيرا قط» الفاظ دي نو په هغې كښې د خير نه مراد د ايمان او مانځه نه ماسوا اعمال دي هر چه ايمان او مونځ دې نو دا به ئې ضرور كړې وي كه دا ورسره نه وي نو بيا خو كافر دې ـ كذا في نواقض الايمان (٤٨٩) او دا تاويل ځكه كوو چه جمع د تولو احاديثو راشي ځكه چه احاديث د تكفير تارك الصلوة صريح او واضح دي ـ

٢- **امام ابن خزيمهؒ** په خپل كتاب التوحيد (٢/٧٢٧) كښې د حديث د شفاعت نه داسې جواب كوي: بانها الفاظ عامة والمراد بها خاص ـ يعني دا الفاظ اګرچه عام دي مګر ددې نه خاص مصداق مراد دې او بيا ئې پدې دلائل ذكر كړيدي ـ

المحاكمة و الترجيح

د جانبينو د دلائلو نه پس قول فيصل دا دې چه د مونځ پريخودل دوه قسمه دي:

(١) - يو دا چه يو كرت دوه كرتې مونځ پريدي **قصداً** نو دده په باره كښې توقف پكار دې چه دا به يا كفر دون كفر وي او يا به كفر غليظ وي ځكه دواړو طرفته دلائل موجود دي نو الله تعالى ته به ئې سپارو ـ

٢- او دويم هغه دې چه هميشه تارك الصلاة وي او ددې علامه دا ده چه د اسلامي حكومت بادشاهِ وقت به ورته حكم اوكړي چه مونځ كوه كه بيائې هم نه كوي نو ددې انسان په كفر كښې هيڅ شك نشته بنص الرسول بلكه علامه دا ده چه كال كښې صرف د رمضان مونځ كوي يا يو اختر او بل اختر يا يوه جمعه بلكه جمعه مونځ كوي جمعه خان وي يا اختر خان وي نو دا هميشه پريخودونكې د مانځه دې ـ

پدې ترجيح او محاكمه ډير دلائل دي بعض د هغينه دا دي:

١- آيت كښې دي: «فَخَلَفَ مِنۢ بَعۡدِهِمۡ خَلۡفٌ اَضَاعُوا الصَّلَاةَ» ـ (مريم) د تضييع الصلاة نه مراد پدې آيت كښې بالكليه پريخودل دي كما قال محمد بن كعب القرظي وزيد بن اسلم واختاره ابن جرير (١٦/٦٦) وانظر ابن كثير (٣/١٢٥) ـ

۲- بل دليل : حديث نمبر (۷) د فصل ثاني ددے باب کښې د عباده بن صامت په روايت کښې داسے الفاظ دی : ومن لم يحافظ عليهن لم يكن له عند الله عهد ان شاء عذبه وان شاء ادخله الجنة ۔ نو پدے حديث کښې فرق شويدے په مابين د ترك مطلق کښې او مطلق ترك کښې ځکه په نفي د محافظت سره تارك الصلاة د مشيت لاندے دے لکه چه شيخ الاسلام ابن تيمية په مجموعة الفتاوی (۷/۶۱۶) کښې فرمائيلي دی :

فالنبي ﷺ انما ادخل تحت المشية من لم يحافظ عليها لا من ترك، ونفي المحافظة يقتضي انهم صلوا ولم يحافظوا عليها ثم قال : فان كثيراً من الناس بل اكثرهم في كثير من الامصار لايكونون محافظين على الصلوات الخمس ولا هم تاركوها بالجملة بل يصلون احياناً ويدعون احياناً فهؤلاء فيهم ايمان ونفاق وتجري عليهم احكام الاسلام الظاهرة آهـ ۔

يعني نبي عليه السلام مشيت ته اوسپارل هغه هيڅوك چه محافظت په مانځه نکوی نه هغه څوك چه بالکليه ئے نکوی او د نفي د محافظت نه دا معلومه شوه چه دوی مونځونه خو کوی ليکن دوام پرے نکوی بلکه کله ئے کوی او کله ئے نکوی لکه چه دا د اکثرو خلقو کار دے د ډيرو ښارونو والو نو ددے خلقو حکم دا دے چه دوئ کښې ايمان هم شته ليکن ورسره منافقت هم شته او ظاهري احکام د اسلام به پرے جاري کيږی او دغه شان قول ئے په (۲۲/۴۹) او الصارم المسلول على شاتم الرسول (۵۵۴) کښې هم ذکر کړيدے ۔

۱۶- وَعَنْ اَبِي الدَّرْدَاءِ رضي الله عنه، قَالَ : اَوْصَانِيْ خَلِيْلِيْ : « اَنْ لَا تُشْرِكَ بِاللّٰهِ شَيْئاً، وَاِنْ قُطِّعْتَ وَحُرِّقْتَ، وَلَا تَتْرُكْ صَلَاةً مَكْتُوْبَةً مُتَعَمِّداً، فَمَنْ تَرَكَهَا مُتَعَمِّداً، فَقَدْ بَرِئَتْ مِنْهُ الذِّمَّةُ . وَلَا تَشْرَبِ الْخَمْرَ فَاِنَّهَا مِفْتَاحُ كُلِّ شَرٍّ » . رَوَاهُ ابْنُ مَاجَه .


ترجمه : او ابودرداء رضي الله عنه فرمائي : زما دوست (نبي کريم ﷺ) ما ته دا وصيت فرمائيلے دے چه ته هيڅوك د الله تعالى سره شريك مه جوړوه اګرکه ته ټکړے ټکړے شے او اوسوزولے شے ۔ او په قصد سره فرض مونځ مه پريده ځکه چا چه قصداً مونځ پريخودو نو د هغه نه ذمه بري شوه (دارنګه) هيڅکله شراب مه څکه ځکه دا د هرے بدئ کنجي ده ۔ (ابن ماجه) ۔

تشريح : اَوْصَانِيْ خَلِيْلِيْ : يعني ما ته خپل مخلص دوست (نبي اکرم ﷺ) د

دے خبرے وصیت (مضبوط حکم) کریدے دا وصیت لکه څنګه چه ابو درداء ته دے نو دغه شان مونږ ته هم دے ـ وصیت وائی آخری مضبوط حکم ته چه نه منسوخ کیږی ـ
وَإِنْ قُطِّعْتَ وَحُرِّقْتَ : یعنی که ټوټے ټوټے شے یا په اور اوسوزولے شے بیا هم شرك مه کوه ـ
بیا دلته دا **اشکال** پیدا کیږی چه قرآن کریم کښې په ﴿ إِلَّا مَنْ أُكْرِهَ وَقَلْبُهُ مُطْمَئِنٌّ بِالْإِيمَانِ ﴾ سره اجازه راغلے ده چه کله په انسان باندے اکراه او زور اوکړے شی نو کلمه د کفر په ظاهره کښې لوستے شی او دلته وائی چه که قتل شے یا اوسوزلے شے نو هم کفر او شرك به نه کوے ؟ـ
ددے ۱ـ **یو جواب** دا دے چه مراد ددے نه په زړه کښے شرك کول دی او آیت کښې رخصت راغلے دے په ظاهره کښې شرك کولو باندے چه په زړه کښې په ایمان باندے مضبوط وی ـ نو اشکال نشته ـ
۲ـ **دویم جواب** : پدے حدیث کښې عزیمت ذکر دے چه اعلیٰ درجه دا ده چه انسان په ظاهره کښې هم کلمه د شرك او کفر اونه وائی او قرآن کریم کښې رخصت ذکر دے چه په ظاهره کښې په صورت د اکراه کښې کلمه د کفر وئیل جائز قدرے دی کله چه زړه په یقین او ایمان باندے مضبوط وی، او د رسول الله ﷺ به دا عام عادت وو چه خپل ملګری به ئے په اعلیٰ همّت باندے اموخته کول ـ
مُتَعَمِّداً : دا قید ځکه لګوی چه که نسیاناً په هیره یا خوب حالت کښے د انسان نه مونځ فوت شی نو هغه ګناهګار نه دے خو دا هله چه خوب کښے دده تفریط نه وی ـ
فَقَدْ بَرِئَتْ مِنْهُ الذِّمَّةُ : د ذمے د بری کیدو یو مطلب دا دے چه څوك قصداً مونځ پریدی نو ګویا چه هغه د اسلام د یو عظیم او بنیادی قانون او حکم نه بغاوت اوکړو چه دهغے په بناء باندے دهغه نه د اسلام عهد ختم شو او هغه د اسلام د دائرے نه خارج شو نو دا د هغه علماؤ دلیل دے چه تارك الصلاة ته کافر وائی کما مرّ ـ
۲ـ دویم مطلب دا دے چه د ایمان راوړلو او د اسلام د اطاعت د قبلولو په وجه چه اسلام ددے سړی د مال او نفس د حفاظت ضمانت اخستے وو او اسلامی حکومت کښے چه ده ته کوم امان حاصل وو هغه اوس د مانځه د پریخودو په وجه سره د اسلام د امان او ضمانت نه اووتو اوس که د اسلامی حکومت بادشاه اووژلو یا بل مسلمان اووژلو نو په هغه به هیڅ تاوان او ضمان نه وی بلکه دا انسان مباح الدم دے ـ

فَإِنَّهَا مِفْتَاحُ كُلِّ شَرٍّ : ھا ضمیر مؤنث (خمر) ته ځکه راجع کړیدے چه خمر مؤنث سماعی دے - شرابو ته ئے د ټولو بدیانو کنجی ویلے دے وجه اووئیله چه شراب د انسان زړه او دماغ او فکر بالکل خرابوی چه د هغے نتیجه دا جوړیږی چه شراب څکونکے شخص چه کله د نشے په وجه سره خپل عقل دلاسه ورکړی نو بیا ټول ګناهونه د هغه نه سرزد کیږی کنځلے، فحاشی، بدرد، زنا غلا، ټول حقوق الله او حقوق العباد ضائع شی نو ځکه دا مفتاح کل شر دے۔

درجة الحديث : (رواه ابن ماجه فی الفتن بسند فیه شهر بن حوشب المتکلم فیه قال الالبانی وهو ضعیف لسوء حفظه ومن طریقه رواه البخاری فی الادب المفرد وهو عندی حدیث حسن ان شاء الله تعالى لان له شاهداً من حدیث معاذ عند احمد (۲۳۸/۵) وآخر من حدیث امیمة مولاة رسول الله ﷺ انظر الترغیب (۱۹۶/۱) تعلیق المشکاة (۱۸۳/۱) وقد اورده المنذری بروایة عبادة بن الصامت قال بعد ذکر حدیث عبادة رواه الطبرانی ومحمد بن نصر المروزی فی کتاب الصلاة باسنادین لابأس بهما ـ الترغیب (۳۷۹/۱) فالحدیث صحیح ان شاء الله تعالى بهذا الشاهد ـ



باب المواقيت

د مونځونو د اوقاتو بيان

مواقيت جمع دميقات ده، هغه اوقاتو ته وائي چه الله تعالى د مانځه د اداء كولو دپاره معين كړيدى ـ په شريعت كښې د وقت ډير زيات اهميت دے پدے وجه روستو به راشي چه يو ځائے كښې په مكروه وقت كښې مونځ كيږي نو انسان دپاره دا بهتر دى چه يوائے ځانله په خپل وقت كښې مونځ اوكړي بيا كه د جمعے موقعه ورته ملاؤ شوه نو هغے ته دے حاضر شي او كه موقعه ورته ملاؤ نشوه نو بس دغه يوائے مونځ ئے كافي دے نو د جماعت نه هم د وقت ډير اهميت بيان شويدے ـ

مناسبت : ددے باب د ماقبل سره دا دے چه مخكښې د مانځه فضائل او ترغيبات او ترهيبات ذكر شو اوس د مانځه يو بل شرط بيانوى چه هغه وقت دے ځكه چه د وقت پيژندل ضرورى دى ـ قرآن كريم كښې دى : ﴿ اِنَّ الصَّلَاةَ كَانَتْ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ كِتَاباً مَوْقُوْتاً ﴾ بيا د اوقاتو بيان الله تعالى په قرآن كريم كښې اجمالًا كړيدے پدے آيت كښې : ﴿ اِنَّ الصَّلَاةَ كَانَتْ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ كِتَابًا مَوْقُوْتًا ﴾ اى مفروضاً فى اوقاتٍ مُعَيَّنَةٍ مَعلومَةٍ ـ

دارنګه په ﴿ اَقِمِ الصَّلَاةَ لِدُلُوْكِ الشَّمْسِ ﴾ پدے كښې دوه مونځونه ظهر او عصر مراد دى ﴿ اِلَى غَسَقِ اللَّيْلِ ﴾ پدے كښې مغرب او عشاء مراد دى ﴿ وَقُرْآنَ الْفَجْرِ ﴾ پدے كښې فجر مراد دے ـ وقال تعالى ﴿ فَسُبْحَانَ اللّٰهِ حِيْنَ تُمْسُوْنَ ﴾ (پدے كښې د مغرب او عشاء مونځ مراد دے) ﴿ وَحِيْنَ تُصْبِحُوْنَ ﴾ (پدے كښې د فجر مونځ دے) ﴿ وَعَشِيّاً ﴾ (پدے كښې د عصر مونځ ذكر دے) ﴿ وَحِيْنَ تُظْهِرُوْنَ ﴾ (پدے كښې د ظهر ذكر دے) دغه شان مخكښې آيتونه تيرشويدى مثلا ﴿ وَاَقِمِ الصَّلَاةَ طَرَفَيِ النَّهَارِ وَزُلَفاً مِنَ اللَّيْلِ ﴾ . يا : ﴿ وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ قَبْلَ طُلُوْعِ الشَّمْسِ وَقَبْلَ غُرُوْبِهَا وَمِنْ آنَاءِ اللَّيْلِ فَسَبِّحْ وَاَطْرَافَ النَّهَارِ ﴾ ـ ليكن ددے اوقاتو تحديد د اوائل او اواخرو او د هغے د مقاديرو بيان رسول الله ﷺ ته سپارل شويدے هغه مبيّن او شارح د قرآن دے ﴿ لِتُبَيِّنَ لِلنَّاسِ مَا نُزِّلَ اِلَيْهِمْ ﴾ نو پدے كښې پوره رد دے په

منكرينو د حديث باندے چه احاديثو نه انكار كوى او صرف دعوه د عمل بالقرآن كوى۔

بيا مواقيت په دوه قسمه دى

(١) - مواقيت زمانى (٢)- مواقيت مكانى۔

بعض عبادتو نه هغه دى چه د هغے دپاره ميقات زمانى او مكانى دواړه مقرر دى لكه حج په يو خاص زمانه كښے اداء كولے شى چه ذى الحجه مياشت ده او په خاص مكان كښے اداء كولے شى چه كعبه او د هغے ماحول دى۔ بل ځائے نه كيږى۔

٢- د بعض عبادتونو دپاره مواقيت زمانى شته خو مكان ورله ندے مقرر لكه روژه دپاره زمانه معين ده چه رمضان مياشت ده ليكن مكان مقرر ندے چه فلانى ځائے كښے به نيولے شى او فلانى ځائے كښ به نشى نيولے۔

٣- او بعض داسے عبادات دى چه نه ئے پوره زمان متعين دے او نه پوره مكان لكه زكوٰة چه په مال كال تيرشو نو ورځ نده معلومه چه يو ورځ پس او كه دوه ورځے پس وركوے بلكه د كال د تيريدو نه مخكښے اداء كول ئے هم صحيح دى۔

٤- او مونځ دپاره هم ميقات زمانى او مكانى دواړه شته ليكن مواقيت زمانيه ئے لازم دى او مواقيت مكانيه ئے لازم ندى مواقيت مكانيه ئے مساجد دى چه مونځونه به مسجد كښے اداء كولے شى ليكن دا داسے ميقات نه دے چه لازم دے چه ګنے مونځ صرف مسجد پورے خاص دے بل ځائے نه كيږى ليكن اصلى ځايونه مساجد مقرر دى نو د جَمعے د خاطره به مسجد ته ځى دا بيا لازم ده كه جَمعه نه وه نو بيا مسجد ته تلل ضرورى ندى۔

پدے باب كښے مواقيت زمانيه بيانوى كوم چه د مانځه دپاره مقرر دى چه د هغے نه مخكښے اداء كول ئے صحيح ندى۔

بيا دا مواقيتِ زمانى دوه قسمه دى (١) - مواقيت فرضى (٢) - مواقيت استحبابى۔

پدے باب كښ اول فرضى مواقيت بيانوى چه هغه شريعت مقرر كړى وى د مانځه دپاره چه د هغے په اول او آخر او وسط تولو كښے مونځ كول صحيح دى خو بهتر كوم وقت دے نو هغه مواقيت استحبابى دى چه روستو باب تعجيل الصلاة كښے به ئے بيانوى۔

مواقيت فرضى كښے زيات اختلاف نشته او استحبابى كښے اختلاف زيات دے۔

الفصل الاول - اولنے فصل

١ - عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو رضی اللہ عنہ، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : وَقْتُ الظُّهْرِ اِذَا زَالَتِ الشَّمْسُ وَكَانَ ظِلُّ الرَّجُلِ كَطُوْلِهٖ مَا لَمْ يَحْضُرِ الْعَصْرُ، وَوَقْتُ الْعَصْرِ مَا لَمْ تَصْفَرَّ الشَّمْسُ، وَوَقْتُ الْمَغْرِبِ مَا لَمْ يَغِبِ الشَّفَقُ. وَوَقْتُ صَلَاةِ الْعِشَاءِ اِلٰى نِصْفِ اللَّيْلِ الْاَوْسَطِ. وَوَقْتُ صَلَاةِ الصُّبْحِ مِنْ طُلُوْعِ الْفَجْرِ مَا لَمْ تَطْلُعِ الشَّمْسُ، فَاِذَا طَلَعَتِ الشَّمْسُ فَاَمْسِكْ عَنِ الصَّلَاةِ، فَاِنَّهَا تَطْلُعُ بَيْنَ قَرْنَيِ الشَّيْطَانِ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : عبد الله بن عمرو رضی الله عنه فرمائی : نبی کریم ﷺ فرمائیلی دی : د ظهر وقت د نمر د زائل کیدو نه بعد دے او (ددے آخری وقت تر هغه پورے دے) چه د انسان سورے د هغه د طول برابر شی د مازیگر د راتلو وقت پورے ۔ او د عصر وقت تر هغه وخت پورے دے چه نمر زیړ نه شی او د مغرب د مانځه وقت تر هغه وقت پورے دے چه شفق غائب نه شی او د عشاء د مانځه وقت تیك تر نیمائی شپے پورے دے او د سحر د مانځه وقت د طلوع فجر نه تر هغه وقت پورے دے چه تر څو نمر را اونه خیژی او کله چه نمر را اوخیژی نو د مانځه نه بند شه ! ځکه نمر د شیطان دواړو ښکرونو ترمینځ راخیژی ۔ (مسلم) ۔

تشریح : پدے حدیث کښں ضروری فرضی اوقات بیان شویدی، دا حدیث نص دے په باره د تعیین د اوقاتو د مانځه کښے ۔ بیا په احادیثو کښے د وقت الظهر نه شروع کوی ددے حکمت دا دے چه رسول الله ﷺ ته د ماسپښین نه جماعت شروع شویدے نبی علیه السلام چه کله د معراج او اسراء نه راواپس شو نو جبرئیل علیه السلام ورته راکوز شو او اول مونځ ئے ورته د ظهر اوکړو، دا وجه ده چه دیته صلاة الاولیٰ هم وائی لکه څنګه چه ورته صلاة الظهر او صلوة الهاجرة وائی، نو د ماسپښین وقت د زوال نه شروع کیږی او په مثل اول باندے ختمیږی ۔ دا وقت د ماسپښین دے خو جُمعه ددے وقت نه مستثنیٰ ده لکه چه په باب الجمعة کښے به راشی ان شاء الله چه د امام احمد په نیز جمعه قبل الزوال هم اداء کول جائز دی او دا راجح قول دے اګرکه رسول الله ﷺ بعد الزوال ډیره کړیده ۔

وَقْتُ الظُّهْرِ اِذَا زَالَتِ الشَّمْسُ :

زوال د نمر دیته وائی چه نمر د کبد السماء (دآسمان د مینځ) نه واوړی او مغرب طرفته لاړ شی۔

د زوال د معلومولو طريقے :

د زوال د معلومولو ډیرے طریقے دی :

(۱) - یوه طریقه دا ده چه په یوه هموارہ زمکه (میدان) کښیے به یو ډکے اودرویے او کوم ځائے ته چه ددیے ډکی سوریے اورسی نو دغه اصلی سوریے دیے دیته فئ الزوال وائی۔ بیا به په دغه سوری یوه نښه اوکړیے او گوریے به چه دغه سوریے ددیے نښیے نه مخے ته ځی او که روستو راځی که مخکښیے ځی نو پوهه شه چه زوال لا ندیے شویے او که روستو مشرق طرفته اوړی نو زوال شویدیے او که نیغ برابر پاتے شی چه نه مخکښیے ځی او نه روستو ځی نو دا د غرمیے وقت دیے چه دیته استواء الشمس وقت وائی دا مکروه وقت دیے۔

(۲) - شیخ عبد القادر جیلانی په غنیة الطالبین کښیے وائی : کله چه ته غواړیے چه زوال اوپیژنے نو په یوه هموارہ برابرہ زمکه باندیے یوه ستنه اودروه یا پخپله اودریږه، بیا د سوری په آخر سر باندیے یوه نخه اولګوه مثلا یوه کرخه راکاږه بیا ګوره چه دغه سوریے کمیږی یا زیاتیږی، که کمیدو، پوهه شه چه نمر لا تراوسه ندیے زائل شویے او که په خپل حالت باندیے ولاړ وو چه نه زیاتیدو او نه کمیدو نو دا وقت د استواء الشمس دیے او دیته نصف النهار وائی، پدیے وقت کښیے مونځ جائز ندیے خو که سوریے په زیاتیدو شو نو دا د زوال وقت دیے نو د زیاتیدو د حد نه اندازه اولګوه سوری د هغه شی ته چه په هغے سره تا د سوری طول اندازه کړیے وو نو کله چه دا سوریے آخر د طول د هغه ته اورسی نو دا آخر وقت د ظهر دیے۔ عون المعبود (۳/۳۰۰) الموسوعة الفقهية (۱/۳۲۹)۔

(۳) - شیخ البانی وائی : که مونږ یو لرګے اودرو او د هغه سوری ته ګورو مثلا د هغه سوریے ۲ سینتی میتر وی او ددیے نه بعد ددیے نه زیات اوګد نشی او نه کم شی، بیا اوخوزیږی تردیے چه ۲ سینتی میتر او یو ۹ ملی میتر ته اورسی نو دیته فئ الزوال وائی یعنی نمر د وسط السماء نه زائل شو او د ماسپښین وقت داخل شو۔ انظر الموسوعة الفقهية الميسرة (۱/۳۲۹) لحسين عودة تلميذ الشيخ۔

(٤) - شیخ صالح بن عثیمین رحمه الله په المنتقیٰ فی فرائد الفوائد ص (۱٤۳) کښې فرمائی : کله چه ته اوغواړیے چه ته زوال د نمر اوپیژنے په یو میدان او صحراء کښې

خارج د مسجد نه نو يو ډكے، يا امسا يا نيزه په برابره نيغه زمكه كښې نال كړه بيا د هغه شي د سورى په سر باندے يوه كرخه راكاږه لكه د سپوږمئ په شان او د هغے سورى ته گوره كه سورے د هغے نه زيات شو نو پوهه شه چه زوال اوشو او كه سورے كميدو طرفته روان شو نو يوه كرخه راكاږه او دغه شان هر كله چه كميدو نو بله كرخه راكاږه تردے چه دغه سورے زيات شى نو كله چه زيات شو نو بس نمر زائل شو اگركه دا زيادت د يو وريښے په مقدار وى نو هم زوال اوشو او د ماسپښين مونځ جائز شو ـ

د ظهر په آخرى وقت كښې اختلاف

د ظهر د وقت ابتداء د زوال الشمس نه شروع كيږى اتفاقاً خو انتهاء كښے ئے اختلاف دے (۱) - **جمهور علماء** سره د صاحبينو نه فرمائى چه آخر وقت د ظهر يو مثل دے او ددے نه بعد د مازيگر وقت شروع كيږى، ديته د فقه په كتابونو كښے (مثل اول) وائى (مثل اول ديته وائى چه اصلى سورى نه سِوا چه كله د هر شى سورے د هغه برابر شى) او ديته دے حديث كښې ظل الرجل كطوله وئيل شويدے يعنى د سړى سورے د هغه د طول موافق شى ـ

(۲)- **د امام مالك**ؒ په نيز د مازيگر او ماسپښين ترمينځ د څلور ركعاتو په مقدار وقت مشترك دے چه په هغے كښے د دواړو وقتونو (ماسپښين او مازيگر) مونځ جائز دے يعنى كله چه سورے يو مثل ته اورسى نو دا آخر وقت د ظهر دے او اول وقت د عصر دے په طريقه د اشتراك سره خو كله چه د يو مثل نه زيات شى نو بيا د ظهر وقت خارج شى او د عصر وقت شروع شى ـ استدلال كوى په عموماتو باندے چه په حديث د امامتِ جبرئيل كښے داسے الفاظ دى : (فصلى بى الظهر فى اليوم الثانى حين صار ظل كل شئ مثله وصلى بى العصر فى اليوم الاول حين صار ظل كل شئ مثله) چه دلته په مثل اول كښے د ظهر او عصر دواړه مونځونه شويدى ـ

الجواب : امام نووىؒ فرمائى چه ددے حديث معنى دا ده (بدأ بالعصر فى اليوم الاول حين صار ظل كل شئ مثله وفرغ من الظهر فى اليوم الثانى حين صار الظل مثله) يعنى جبريل عليه السلام په اوله ورځ عصر شروع كړو په مثلِ اول كښے او په دويمه ورځ د ظهر نه فارغ شو په مثل اول كښے ـ دا تاويل د دوه وجو نه كولے شى : ۱- يو دا چه جمع بين الاحاديث راشى ځكه بل طرفته احاديث صريح دى چه مشترك وقت نشته ـ

۲- دویم دا چه که وقت مشترك راشی نو بیا پدے حدیث کښیے د ظهر آخر وقت نه معلومیږی او بیان د حدود الاوقات نه حاصلیږی ۔ شرح مسلم (۲۲۲/۱) و المجموع شرح المهذب (۲۲/۳) ۔

(۳) - **بعض علماء** وائی د ظهر او عصر ترمینځ وقت مهمل دے چه نه پکښیے د ظهر مونځ جائز دے او نه د عصر ۔

(٤) - **او د امام ابوحنیفه** نه څلور روایات نقل دی کما فی درس ترمذی (۳۹٥/۲) ۔

۱- مشهور روایت دا دے چه وقت د ظهر د مثلین پورے دے (مثلین دیته وائی چه د اصلی سوری نه سیوئ د هر شی سورے د هغه دوچند شی) وهی روایة محمد ۔

۲- دویم روایت : د مثل اول نه مثل ثانی پورے وقت مهمل دے وهی روایة حسن بن زیاد ۔

۳- د مثل اول نه مثل ثانی پورے وقت مشترك بین الظهر والعصر دے ۔

٤- یو روایت د جمهورو موافق دے چه آخری وقت مثل اول پورے دے ۔

دلائل الجمهور:

د جمهورو سره پدے باندے ډیر دلائل دی او صریح هم دی چه د ظهر آخری وقت یو مثل دے ۔

۱ - اول دلیل : حدیث د امامتِ جبریل دے : عن ابن عباس قال النبی ﷺ امّنی جبریل علیه السلام عند البیت مرتین فصلی الظهر فی الاولی منهما حین کان الفئ مثل الشراك ثم صلی العصر حین کان کل شئ مثل ظله ثم صلی المغرب حین وجبت الشمس وافطر الصائم وصلی المرة الثانیة الظهر حین کان ظل کل شئ مثله لوقت العصر بالامس ثم صلی العصر حین کان ظل کل شئ مثلیه الحدیث .

رواه الترمذی (۱/ ٥٠- رقم : ١٤٩) وابوداود (۱/ رقم ٤١٦) ۔

دا روایت صریح دے پدے چه د ظهر آخری وقت یو مثل دے ځکه چه د یو مثل په اختتام کښیے د عصر مونځ شویدے ۔

۲- دلیل : حدیث جبرئیل : عن ابی مسعودؓ قال : نزل جبریل علیه السلام ﷺ بالصلوة فامره فصلّی الظهر حین زالت الشمس ثم صلی العصر حین صا بقدره مرةً » - وفی الیوم الثانی «ثم جاء من الغد فاخر الظهر الی قدر ظله واخر

ظله مرتين الحديث رواه البيهقى (١/٣٦٥) باسناد صحيح ۔
پدے حدیث کښے د ظهر اول او آخری وقت ښودل شویدے چه بعد الزوال ابتداء ده او چه سورے یو چند ته رسیدلے دے نو دا آخری وقت د ظهر دے ۔ دارنگه د عصر ابتدائی او انتهائی وقت هم معلوم شویدے چه د هر شی سورے یو مثل شی عصر شروع شی او چه مثلین ته اورسی نو دا دویم وقت دے ۔
٣- دلیل : دا حدیث الباب دے (وقت الظهر اذا زالت الشمس وکان ظل الرجل کطوله ما لم یحضر العصر ووقت العصر ما لم تصفر الشمس) الحدیث رواه مسلم (١/٢٢٣) پدے روایت کښے هم زوال الشمس اولِ وقت د ظهر دے او ظل الرجل کطوله آخری وقت د ظهر دے او ښه صریح دے ۔
پدے روایت کښے صاحب د تنظیم الاشتات (١/٢٢٢) یو باطل تاویل کړیدے چه ظل الرجل کطوله یعنی مثل اول دا ابتدائی وقت د ظهر دے نه آخری ځکه چه دا وکان ظل الرجل کطوله عطف دے په اذا زالت الشمس باندے او د معطوف او معطوف علیه یو حکم وی نو زوال الشمس خو اول وقت وو نو ظل الرجل هم اول وقت دے ؟ ۔
الجواب : دا تاویل باطل دے وجه دا ده چه مخکښے حدیث د جبرئیل صریح دے پدے چه ظل الرجل کطوله (یو مثل) دا آخری وقت دے ځکه که د ظهر وقت مثلین ته اورسی نو بیا جبرئیل د مازیگر مونځ ولے په مثل اول کښے کولو (حین کان ظل کل شئ مثله) بیا خو د مازیگر مونځ د ماسپښین په وقت کښ اوشو فتدبر فی الفاظ الحدیث ۔
دارنگه دویم حدیث الفاظ اوګوره فاخر الظهر الی قدر ظله د ماسپښین مونځ ئے تر یو مثل پورے روسته کړیدے فقط والحدیث یفسر بعضه بعضا ۔
٢- دویم دا چه دلته نبی علیه السلام اول او آخر وقت بیانوی چه اول وقت د زوال الشمس نه شروع کیږی او ظل الرجل کطوله ته رسیږی چه دا آخری وقت د ظهر دے او دا وکان ظل الرجل کطوله عطف دے په اذا زالت الشمس باندے او دا خبر بعد خبر دے تقدیر د عبارت داسے دے : وقت الظهر اذا زالت الشمس ووقت الظهر اذا کان ظل الرجل کطوله او ما لم یحضر العصر ورسره ځکه وائی چه په خروج د مثل اول سره عصر وقت داخلیږی نو ظل الرجل کطوله آخر وقت شو د ظهر او دا بعینه ما لم یحضر العصر دے ددے مثل په تیریدو سره عصر وقت راځی نو پدے کښے هیڅ دلیل د مثلین د ثابتیدو نشته ۔
٤- دلیل : حدیث جابرؓ رواه الطحاوی فی معانی الآثار (١/١١١) چه په هغے کښے

یو سړی د اوقاتو د مانځه تپوس اوکړو نو نبی علیه السلام هغه ته عملاً جواب ورکړو ؟ ۔
(ثم صلی الظهر حین زاغت الشمس ثم صلی العصر حین کان فیئ الانسان مثله وفی الیوم الثانی صلی العصر حین کان فیئ الانسان مثلیه الخ ۔ نو دلته اوګوره د مازیګر مونځ په اول مثل کښې شویدے او په دویمه ورځ د مازیګر مونځ مثلین کښې شویدے فتدبر ! ۔

٥- دلیل : روستو حدیث موقوف د عمر راروان دے چه هغه خپلو عمّالو ته لیکلی وو : ان صلّوا الظهر ...... الیٰ ان یکون ظل احدکم مثله .دا روایت اګرچه منقطع دے لیکن د مخکښو روایتونو تائید ضرور کوی ۔ او د مذکوره روایاتو نه ددے معنی معلومه ده۔

دا دلائل صریح دی پدے چه وقت الظهر مثل اول پورے دے ددے نه بعد قضاء دے احناف د خپل مذهب په تائید کښې دلائل بیانوی چه د هغې حال به درته معلوم شی ۔

دلائل الاحناف :

١- اول حدیث : بخاری (١/٤٩٣) عن ابن عمر قال قال رسول الله ﷺ : انما اجلکم فی آجل من خلا من الامم مابین صلوة العصر الی مغرب الشمس وانما مثلکم ومثل الیهود والنصاری کرجل استعمل عمّالا فقال : من یعمل الی نصف النهار علی قیراط قیراط فعملت الیهود الی نصف النهار علی قیراط قیراط ثم قال : من یعمل لی من نصف النهار الی صلوة العصر علی قیراط قیراط فعملت النصاری من نصف النهار الی صلوة العصر ثم قال : من یعمل لی من صلاة العصر الی مغرب الشمس علی قیراطین قیراطین قال : آلا فانتم الذین تعملون من صلوة العصر الی مغرب الشمس علی قیراطین قیراطین الا لکم الاجر مرتین فغضب الیهود والنصاری فقالوا نحن اکثر عملاً واقل عطاءً قال الله : وهل ظلمتکم من حقکم شیئاً قالوا : لا ! قال : فانه فَضْلِیْ اُعطیه من شِئْتُ .

طریقه د استدلال دا ده چه پدے حدیث کښې د عصر او مغرب درمیانی وقت کم ګڼړلے شویدے په مقابله د ظهر او عصر درمیانی وقت کښې نو ددے د مفهوم مخالف نه معلومیږی چه د ظهر وقت به ممتد وی تر مثلین پورے که صرف مثل اول اومنلے شی نو ما بعد العصر وقت د مابعد الظهر وقت نه زیاتیږی ۔

الجواب : ١- اول خودا حدیث د اوقاتو د بیان دپاره ندے چلولے شوے او مخکښی حدیثونه نص دی چلولے شویدی د بیان الاوقات دپاره او د احنافو اصولی قاعده ده چه الظاهر لا یعارض النص - عند التعارض یرجح النص علی الظاهر انظر الحسامی و نور الانوار واصول الشاشی .

نو دلته لا مفهوم مخالف به خنګه معارض د نص واقع شي فتدبر!۔

٢- **دويمه وجه** : علامه ابن حزم په المحلى (٢/١٠ ٢) کښې فرمائي : پدې حديث کښې نه دلالت شته او نه نص دې پدې خبره کښې چه د مازيګر وقت د ظهر د وقت نه لوئي دې بلکه پدې کښې صرف دا خبره ده چه يهود او نصارا اووئيل (نحن اکثر عملا واقل اجرا) زمونږ عمل (کار) زيات دې او اجر مو کم دې يعني پدې کښې صرف دا خبره ده چه ددې امت اجر زيات دې او عمل او عمرئې کم دې او پخوانو امتونو عمر زيات وو عمل ئې دير وو ليکن اجرئې کم دې۔

بيا فرمائي : عمدتنا حديث جبرئيل ولا حجة للمخالف الا حديث ساقه النبى ﷺ مساق ضرب الامثال والامثال مظنة التوسعات والمجازات المجموع (٣/٢٣) ۔ يعني دې حديث کښې صرف مثال بيان شويدې د وقت بيان پکښې نشته او مثالونو کښې تسويه من کل الوجه مقصود نه وي وکذا فى تحفة الاحوذى (١/١٥٠)۔

٣- **دريم جواب** : امام نووى په المجموع (٣/٢٣) او مبارکفورى په تحفة الاحوذى (١/١٥٠) کښې ذکر کړيدې چه د نحن اکثر عملا معنى دا ده چه (مجموع عمل الفريقين اکثر) يعني د دواړو فريقينو مجموعي عمل زيات دې نو ددې نه دا نه معلوميږي چه د ظهر وقت دې ممتد وي مثلين پورې يعني يهودو د سحر نه نصف النهار پورې عمل اوکړو او نصارى د نصف النهار نه تر عصر پورې اوکړو نو دا مجموعه عمل زيات دې د عمل د مومنانو نه چه هغه د عصر نه د غروب الشمس پورې شويدې نو دا ثابته نشوه چه ظهر دې ممتد وي مثلين پورې چه مقابله د مازيګر وقت د ماسپښين وقت سره صحيح شي بلکه مقابله بيا هم صحيح ده هغه دا چه سحر نه تر نصف النهار او نصف النهار نه تر عصر پورې دا وقت زيات دې په نسبت د ما بعد العصر وقت سره فتدبر!۔

٤- **وجه** دا بيانوى چه مابعد صلاة العصر مع التأهب لها بالاذان والاقامة والطهارة وصلاة السنة اقل مما بين العصر ونصف النهار۔ المجموع (٣/٢٣) يعني بهرحال د ماسپښين نه مازيګر پورې وقت بيا هم زيات دې د ما بعد العصر نه ځکه چه مانځه ته تيارے کول په اذان او اقامت او طهارت او سنت طريقه سره مونځ کول په ماسپښين کښې زيات دى او په مازيګر کښې کم ځکه چه ماسپښين کښې طوال مفصل لوستے شي او مازيګر کښې اوساط مفصل لکه دا خبره ابن الحزم هم کړيده چه د اول الزوال نه تر مثل اول پورې وقت په هر زمان او مکان کښې زيات دې د هغه مودې نه چه د مثل اول نه تر

غروب الشمس پورے وی ۔ المحلی (۲/ ۲۱۰)

٥- جواب : شیخ ابو حامد په خپل تعلیق کښے د ابو سعید الاصطخری نه نقل کوی چه هغه فرمائی: كثرة العمل لا يلزم منها كثرة الزمان فقد يعمل الانسان فى زمن قصير اكثر مما يعمل غيره فى زمن مثله او اطول منه ۔ یعنی کثرتِ عمل مستلزم ندے کثرتِ زمان لره ځکه چه ډیر کرتے یو انسان به په لګه موده کښے ډیر عمل اوکړی چه بل انسان به په هغه شان موده یا د هغے نه اوږده موده کښے هم نشی کولے نو دا لازمه نده چه د ظهر وقت به خامخا زیات وی د عصر نه فتدبر! ۔

٦- جواب : مشاهده هم ددے استدلال د نه صحیح کیدو ګواهی ورکوی او هغه داسے چه د احنافو نقشے را واخلئ چه په هغے کښں په اوړی او ژمی کښں که ورځے لنډے وی او که اوګدے وی نو په تولو اوقاتو کښں د ماسپښین نه تر مازیګر پورے وقت زیات دے د مازیګر نه تر نمر خاته وقت پورے ۔ لګه لاندے نقشه کښں د اوړی او ژمی اوګدے او لنډے ورځو نه تاسو اندازه لګولے شئ ۔

٢-دليل : عن ابى هريرة موقوفاً : انه قال انا اخبرك : صل الظهر اذا كان ظلك مثلك والعصر اذا كان ظلك مثليك والمغرب اذا غربت الشمس والعشاء ما بينك وبين ثلث الليل وصل الفجر بغلس وسنده صحيح كما فى آثار السنن ۔

الجواب : ١- اول پدے حدیث کښے دا خبره نشته چه وقت الظهر ممتد الى المثلين دے بلکه پدے کښے آخر وقت د ظهر ذکر دے چه مثل اول پورے د ظهر مونځ کولے شی او مثلین پورے د مازیګر مونځ جائز دے ۔ ٢- دویم دا چه دا حدیث موقوف دے د مرفوع سره نشی مساوی کیدے نو معارض خو بالکل نشی جوړیدلے فتدبر! ۔

٣- دريم دليل : لیکن ډیر بعید دے ابوذر فرمائی : نبی علیه السلام په یو سفر کښے وو بلال هم ورسره وو نو بلال اقامت ته پاځیدو نبی علیه السلام ورته اوفرمایل (ابرد) صبر اوکړه چه ګرمی لږه سړه شی لګ وقت پس بیا ئے اراده د قیام اوکړه بیا نبی علیه السلام ورته اوفرمایل (ابرد فى الظهر) ابوذر فرمائی : داسے وقت کښے ئے د ظهر مونځ اوکړو (حتى رأينا فيئ التلول) بل روایت کښے دی (حتى ساوى الظل التلول) چه سورے د ډیرکو سره برابر شو بیا ئے اوفرمایل : (ان شدة الحر من فيح جهنم فابردوا عن الصلاة).

طريقه د استدلال : د ډیرکو سورے د هغے سره برابریدل هله کیږی چه کله مثلین راشی ۔

الجواب : دا استدلال په غايتِ بُعد كښې دے وجه دا ده چه دا څه منضبطه خبره نه ده چه سورے د ډيركو بعد المثلين راځي ځكه چه ډيركئ خو مختلف دى او حديث كښې د هغې بيان هم نشته چه ورے ډيركئ وے او كه غټے او سورو كښې هم فرق دے په حجاز كښې يو شان سورے وى او په باقى ممالكو كښې جدا سورے وى بلكه دا چه حجاز كښې شمس په خط استواء باندے وى نو ضرور به سورو كښې اختلاف وى ـ

٢- دارنګه دا حديث نص هم ندے د بيان الاوقات دپاره او مخكنى احاديث نصوص دى نو ضرور به راجح وى او د احنافو دلائلو كښې صرف اشارات دى او اشارة النص د عبارة النص مقابله او معارضه نشى كولے ـ

فيصله او نتيجه :

دا وجه ده محققين احنافو هم د جمهورو قول اختيار كړيدے صاحبين هم د جمهورو سره ملګرتيا كوى (١) - علامه نيموى ؒ په آثار السنن (٥٣) كښې فرمائى : استدل الحنفية بهذه الاحاديث على ان وقت الظهر لاينقضى بعد المثل بل يبقى بعده ووقته ازيد من وقت الظهر - وفى الاستدلال بها ابحاث وانى لم اجد حديثاً صريحاً صحيحاً او ضعيفاً يدل على ان وقت الظهر الى ان يصير الظل مثليه وعن الامام ابى حنيفة قولان آهـ ـ نيموى سره ددے نه چه جامد متعصب مقلد دے او بيائے هم اقرار كړيدے چه صريح صحيح يا ضعيف حديث پدے باره كښې ندے موجود چه د ظهر وقت تر مثلين پورے ممتد دے ـ

(٢) - دارنګه تقى عثمانى ؒ په درس ترمذى (٣٩٦/١) كښې ليكى : *مثلين پر ظہر کا وقت ختم ہونے کے سلسلہ میں احناف کی طرف سے بھی تین دلیلیں پیش کیجاتی ہیں لیکن انصاف کی بات یہ ہے کہ ان میں سے کوئی حدیث بھی اوقات کی تحدید پر صریح نہیں ہے اس کے برخلاف حدیث جبرئیل علیہ السلام میں صراحۃً پہلے دن عصر کی نماز مثل اول پر پڑھنے کا ذکر موجود ہے اسلئے یہ حدیثیں حدیثِ جبرئیل کا مقابلہ نہیں کرسکتیں اسی بناء پر بعض حنفیہ نے مثل اول والی روایت کولیا ہے کمافی الدرالمختار آہ* ـ هركله چه دا خبره د انصاف شوه چه د احنافو په پيش كړه احاديثو كښې يو حديث هم د اوقاتو په تحديد كښې صريح ندے نو د صحيح صريح احاديثو په مقابله كښې ددے پيش كول بے انصافى ده ـ

(٣) - **شيخ رشيد احمد** ګنګوهى ؒ فرمائى : الدليل يرجح قولهما، وما استدل به على رواية المثلين لا يخلو شئ منها عن شئ، ثم قال فالتحقيق الذى ارتضاه المحققون ان الصحيح من المذهب هو العمل برواية المثل فى الظهر ويدخل بعده وقت العصر انتهىٰ مرعات (٢٨٩/٢) يعنى صحيح مذهب دا دے چه په ظهر كښې په يو مثل باندے عمل

اوکړے شی او د يو مثل نه پس د عصر وقت داخليږی ـ

(٤) – **علامه عبد الحی** لکهنویؒ په التعليق الممجد کښے د احنافو استدلالات ذکر کړيدی او بيا ئے د هغے تعقيب کړيدے او وئيلی ئے دی: والانصاف فی هذا المقام ان احاديث المثل صريحة صحيحة واخبار المثلين ليست صريحة فی انه لا يدخل وقت العصر الا بعد المثلين واكثر من اختار المثلين انما ذكر فی توجيهه احاديث أستنبط منها هذا الامر، والامر المستنبط لا يعارض الصريح آهـ ـ

ددے تحقيق نه جواب د صاحب د تنظيم الاشتات (٢٢٣) معلوم شو هغه وائی چه څومره احاديثو نه ظاهر کښے د ظهر وقت يو مثل پورے معلوميږی هغه يا منسوخ دی او يا افضل او احوط وقت ښودلے شويدے ـ

الجواب: نسخه تشه دعوه ده د نسخے دپاره شرائط دی ١– ناسخ به متأخروی په زمانه کښے دلته زمانه نه ده معلومه ٢– ناسخ به قوی وی يا به مساوی وی د منسوخ سره او دلته امر بالعکس دے کما عرفت چه احاديث د جمهورو صحيح او نصوص دی او احاديث د احنافو اشارات دی فتدبر دا صرف د تقليد اعمٰی جامد په وجه دعوے د نسخ کولے شی دا به صرف د احنافو په نزد منسوخ وی بلکه اکثر احناف هم داسے نه وائی سيوٰی ددے مقلدِ اعمیٰ نه ـ

او ددے دويمے خبرے جواب دا دے چه د ظهر وقت په باره کښے د مثل اول نه اخوا د سَره د ظهر د مونځ جواز نشته بلکه کل وقت د زوال نه تر مثل اول پورے ښودل شويدے او فضيلت به ددے تر مينځ راځی ـ لکه دا خبره امام نوویؒ هم کړيده هغه د مابنام د وقت په باره کښے فرمائی: الاول انه اقتصر علی بيان وقت الاختيار ولم يستوعب وقت الجواز وهذا جار فی كل الصلوات سوی الظهر ـ تحفة الاحوذی (١/١٤٠) يعنی په ظهر کښے صرف وقت د جواز بيان شويدے نه وقت د فضيلت ـ

٢– **جواب**: په احاديثو کښے صراحت راغلے دے په آخر وقت د ظهر باندے چه دا مثل اول دے لکه مخکښی احاديثو کښے فکر اوکړه وقت الظهر اذا زالت الشمس وكان ظل الرجل كطوله ما لم يحضر العصر ـ

٣– دارنګه پدے باب کښے مصنف اوقات فرضيه بيانوی نه اوقات مستحبه او روستو به باب تعجيل الصلاة کښے اوقات مستحبه بيانوی دارنګه حديث جبرئيل کښے د عصر مونځ په اوله ورځ په مثل اول کښ شويدے که د ظهر وقت ممتد وی مثلين پورے

نو بيا خو عصر مونځ قبل الوقت شويدے فتفكر ! ـ
نو ثابته شوه چه د امام ابو حنيفة" مشهور روايت ضعيف بلكه باطل دے ـ ددے وجه نه امام قرطبی" فرمائی : امام ابو حنيفة" د تمامو خلقو خلاف اوكړو او د مثلين قائل شو وكذا قاله الحافظ ايضا ـ
امام نووی" فرمائی : قال ابن المنذر لم يقل هذا احد غير ابی حنيفة المجموع (۲۱/۳) ددے وجه نه احنافو ته دا نصيحت دے چه د امام ابو حنيفه دا روايت پريدی او هغه روايت باندے عمل اوكړی كوم چه د جمهورو موافق دے ځكه د هغه روايت دپاره دلائل شته او ددے دپاره دلائل ضعيف دی كما عرفت ليكن تقليد انسان د هلاكت په كنده كښے ارتوی د صريح صحيح احاديثو په خلاف كښے د يو امام ضعيف قول باندے كلك عمل كول دا د ايمان تقاضا نه ده او نه د رسول الله ﷺ د محبت د دعوے موافق دی ـ
بعض احناف لا داوائی (لكه په بعض نقشو كښے ئے هم ليكلی دی) چه احتياط په قول د امام ابو حنيفه كښے دے - مونږ وايو احتياط په سنت باندے عمل كولو كښے دے ځكه چه نبی عليه السلام به د مازيگر مونځ په اول وقت كښے كولو يعنی مثل اول كښے او په شاذ بے دليله قول باندے عمل كولو كښے احتياط نشته بلكه كه چا د مثل اول نه پس د ماسپښين مونځ كولو نو دا به د قضاء نيت كوی ـ والله تعالى اعلم وعلمه اتم واحكم ـ

وَوَقْتُ الْعَصْرِ مَا لَمْ تَصْفَرَّ الشَّمْسُ :

د اصفرار الشمس څه مطلب دے ؟ نو پدے كښے بعض علماؤ دا مطلب بيان كړيدے چه د نمر تيكلے داسے متغير شی چه هغه طرفته سترگے اوچتولو كښے څه تكليف نه برداشت كيږی ـ بعض وائی : ددے مطلب دادے چه د نمر شعاع په ديوالونو وغيره باندے پريوځی په هغے كښے تغير پيدا شی ـ
بيا جمهور علماء فرمائی : چه د مازيگر وقت تر غروب الشمس پورے دے ۲- ابوسعيد الاصطخری د شوافعو نه وائی د اصفرار الشمس پورے وقت د عصر دے ددے نه پس مونځ قضاء دے ـ
د جمهورو دليل حديث د مسلم دے (۲۲۱/۲) عن ابی هريرة مرفوعاً : من ادرك من العصر ركعة قبل ان تغرب الشمس فقد ادرك ومن ادرك من الفجر ركعة قبل ان تطلع الشمس فقد ادرك .

او هر چه دا حديث دے نو پدے حديث كښے وقت الجواز بلا كراهت مراد دے يعنى د عصر مونځ دپاره درے وقتونه دى وقت الفضيلة والاستحباب دا اول وقت دے (مثل اول) دويم وقت الجواز بلا كراهت دا تر اصفرار الشمس پورے دے يعنى نمر زير كيدو پورے ـ دريم وقت الجواز مع الكراهت دے دا د اصفرار الشمس نه تر غروب الشمس پورے دے او د غروب نه پس قضاء ده ـ

۲ – يا دلته وقت الاختيار دے خو پدے صورت باندے حمل دے چه يو سړے په اول وقت كښے اودريږى او مونځ ترے اوګد شى تر اصفرار الشمس پورے غير اختيارى طور سره نو دا وقت هم دده په حق كښے د فضيلت او استحباب دے ـ

وَوَقْتُ الْمَغْرِبِ مَا لَمْ يَغِبِ الشَّفَقُ :

د ماښام په فرضى وقت كښې اختلاف دے

(۱) – جمهور علماء فرمائى دماښام وقت تر غروب الشفق پورے دے او دا حديث ئے دليل دے ـ (۲) – امام شافعىؒ نه دوه قوله نقل دى ۱ – يو قول د جمهور موافق دے او امام نوويؒ ددے تصحيح او تصويب بيان كړيدے په شرح مسلم (۱/۲۲۲) كښے او وئيلى ئے دى چه دا د محققينو قول دے ـ

۲ – دويم روايت دا دے چه د ماښام يو وقت دے چه هغه د غروب الشمس نه روستو دومره مقدار وى چه انسان اودس اوكړى او عورت پټ كړى او اذان اواقامت اوكړى كه ددے وقت نه پس ماښام مانځه كښے داخل شى نو دا به ګناهګار وى او مونځ به ئے قضاء وى ـ ددے روايت دپاره استدلال كيږى په حديث د امامت جبرئيل باندے چه د ماښام مونځ ئے په دواړه ورځو كښے په همدغه يو وقت (تائم) كښے كړيدے ـ

ليكن ددے **استدلال** نه **درے جوابونه** دى

۱ – **اول جواب** : په حديث د جبرئيل كښے اقتصار شويدے په بيان د وقت الاختيار والافضليه باندے او وقت الجواز ندے ذكر شوے ـ امام نوويؒ فرمائى : انه اقتصر على بيان وقت الاختيار ولم يستوعب وقت الجواز وهذا جار فى كل الصلوات سوى الظهر ـ لكه چه دا مخكښے بيان شو ـ

۲ – **دويم جواب** : دا چه امامت د جبرئيل په مكه كښے شويدے او دا حديث د عبد الله بن عمرو او ددے پشان نور احاديث چه په هغے كښے د ماښام وقت تر غروب الشفق

پورے ممتد ذکر دے نو دا په روستو زمانه کښے په مدینه کښ بیان شویدے نو بس په همدے احادیثو به اعتماد کولے شی ۔

۳- جواب : احادیث د امتداد اصح اسناداً دی د حدیث د جبرئیل نه فوجب تقدیمها هکذا قاله النووی فی شرح مسلم (۱/۲۲۲) وکذا فی المرعاة (۲/۲۸٦) ۔

٤- بل جواب دا هم دے چه رسول الله ﷺ د ماښام په مانځهٔ کښے سورة الاعراف هم لوستلے دے چه هغه (۲٤) رکوع دے او پدے خو ډیر وقت لګی نو معلومه شوه چه د ماښام وقت فراخه دے تر غروب الشفق پورے ۔

دویمه مسئله : شفق نه څه مراد دے ؟

پدے کښے مشهور دوه قوله دی ۔

۱- یو قول دا دے چه ددے نه مراد حُمُرَتُ (هغه سور والے دے چه په کنارو د آسمان کښے ښکاری) او دا قول د عمرفاروق، علی، ابن عباس، عباده بن الصامت، ابو هریره، شداد بن اوس رضی الله عنهم، سفیان الثوری، مکحول، صاحبینو، امام مالك، شافعی او احمد رحمهم الله دے ۔

۲- قول ثانی دا دے چه ددے نه مراد بیاض دے چه د حمرت نه روستو راځی او دا قول د معاذ بن جبل، ابوبکر، عائشه رضی الله عنهم دے او په فقهاؤ کښے د عمر بن عبد العزیز او امام ابو حنیفه رحمهم الله دے ۔

سبب د اختلاف دا دے چه په صحیح مرفوع احادیثو کښے د شفق بیان نشته نو ددے وجه نه ددے تعیین لغت ته سپارل شویدے لکه چه دا خبره امیر یمانیؒ او امام نوویؒ ذکر کړیده کذا فی المجموع (۳/٤۳) ۔

نو اکثر اهلِ لغت وائی چه مراد د شفق نه حُمرت دے . قال الازهری : الشفق عند العرب الحمرة وقال الخلیل الشفق الحمرة من غروب الشمس الی وقت العشاء وقال الفراء سمعت العرب یقولون : علیه ثوب کأنه الشفق و کان احمر ـ المجموع (۳/٤۳) فتاوی الدین الخالص (۳/۱۲۲) او دا تفسیر د شفق په حمرت سره نقل دے د ابن عمر نه موقوفا او ابن عمر قح العرب دے د اهل اللغت نه دے نو د هغه قول حجت دے، ملاعلی القاری وائی دا قول مفتیٰ به دے ۔

در مختار (۱/۲٤۱) کښے وائی : شفق نه مراد حمرت دے او دا قول د ائمه ثلاثه دے والیه رجع الامام کما هو فی شروح المجمع وغیره فکان هو المذهب قال صدر الشریعة وبه

یفتٰی وفی المواهب وعلیه الفتوی ورجحه فی البرهان انظر المرعاة (۲/۲۸۶) نو دا دویم قول د امام ابوحنیفه هم دے او د اول قول نه ئے رجوع کړیده نو دا قول راجح دے۔

۲- د دویم قول دلیل : بعض اهل اللغت د شفق معنی په بیاض کوی لکه امام مبرد او ثعلب وغیره وائی چه شفق حمرت او بیاض دواړو ته وائی پدے وجه امام ابن خزیمه په خپل صحیح (۱۸۱/۱ – ۱۸۴) کښ دا قول غوره کړیدے او تائید کښے ئے دا ذکر کړیدی چه حدیث کښ دا الفاظ دی : ویصلی العشاء حین یسوّد الافق) او تور والے د افق (کنارو د آسمان) هله کیږی چه بیاض ختم شی کوم چه د حمرت نه پس راځی ځکه چه اول حمرت وی بیا بیاض بیا چه بیاض ختم شی نو کنارے تورے شی۔

دارنګه استدلال په حدیث د ترمذی (۴۰/۱) باندے کولے شی : (وان آخر وقت المغرب حین یغیب الشفق وان اول وقت العشاء حین یغیب الافق) ۔ **دلته غیبوبة الافق دلیل** دے چه شفق نه مراد بیاض دے ځکه افق هله غائبیږی کله چه بیاض غائب شی۔

فائده : د مغرب او عشاء ترمینځ د خط استواء لاندے چه کوم مقامات وی په معتدلو ورځو کښ کم از کم وقت (۵۷) منټ وی پدے وقت کښ شفق ابیض (سپین شفق) پریوځی او شفق احمر (سور شفق) ددے نه هم دولس منته مخکښ پریوځی (نو د شفق احمر او شفق ابیض ترمینځ دولس منته فاصله وی) ددے مطابق د نمر پریوتو نه (۴۵) منته بعد د عشاء وقت شروع کیږی او په نورو ورځو او نورو مقاماتو کښ ددے نه زیات وقت وی او ددے زیادت هیڅ تحدید نشته ۔ بلکه مؤذنین او مونځ ګذارو لره پکار دی چه آسمان ته ګوری کله چه شفق احمر غائب شی نو د ماسخوتن مونځ روا دے لیکن که شفق ابیض ته مونځ روستو کړی نو دا بهتره ده او پدے کښے احتیاط دے ځکه د ماسخوتن په باره کښے تاخیر افضل دے کما سیأتی۔

بعض علماء فرمائی : شفق احمر د غروب الشمس نه تقریبا یوه نیمه ګینته بعد غائبیږی خو پدے کښے صیفا او شتاءً یو څو منټ تفاوت وی۔

وَوَقْتُ صَلَاةِ الْعِشَاءِ إِلٰی نِصْفِ اللَّيْلِ الْأَوْسَطِ :

د ماسخوتن په آخری وقت کښ اختلاف

د ماسخوتن ابتدائی وقت یا د شفق احمر نه پس شروع کیدو یا د شفق ابیض نه پس بنا بر اختلاف قولین، دغه شان اختلاف دے په آخر وقت د ماسخوتن مانځه کښے۔

١ - **د محققين علماؤ قول** دا دے چه د ماسخوتن د مانځه وقت په نصف الليل باندے ختميږي او كه ددے نه واوړي نو دا به قضاء حسابيږي، اداء به نه وي او دا د امام بخاري او ابن حزم او ابوسعيد الاصطخري قول دے او همدا د دليل په لحاظ صحيح قول دے۔

او دا حديث ئے صريح صحيح دليل دے چه پدے كښے فرضي وقت بيان شويدے نه استحبابي او امام بخاري په خپل صحيح (١/ ٨١) كښے باب ايخودے دے : باب وقت العشاء الى نصف الليل۔

٢- **دليل** : طحاوي (١١١/١) موطأ مالك (٥/١) عن عمر انه كتب الى ابى موسى « وان صل العشاء مابينك وبين ثلث الليل فان اخرت فالى شطر الليل ولا تكن من الغافلين» ۔ او همدغه شان بل روايت معاني الآثار (١١٨) كښے راغلے دے :عن المهاجر ان عمر كتب الى ابى موسى ان صلّ صلاة العشاء من العشاء الى نصف الليل اى حين شئت ۔ يعني عمر فاروق ابوموسى ته ابتدائي او انتهائي وقت د ماسخوتن اوخودلو چه تر نصف الليل پورے مونځ كول جائز دي ددے په مابين كښے چه كوم ټائم د عشاء مونځ كوے جائز دي د حين شئت معنى ده مابين وقت د عشاء تر نصف الليل پورے۔

٣- **دريم دليل** : حديث الترمذي (٤٢/١) عن ابى هريرة مرفوعاً لو لا ان اشق على امتي لامرتهم ان يؤخروا العشاء الى ثلث الليل او نصفه ۔ وسنده صحيح ۔ دلته هم آخري وقت نصف الليل ښودلے شويدے او كلمه د او د تنويع دپاره ده ۔

٤- په بل روايت د ابو هريره كښے دي : (وان آخر وقتها حين ينتصف الليل) اخرجه الترمذي (١/ ٤٠) دا هم صريح مرفوع روايت دے چه هيڅ تاويل نه قبلوي ۔

٥- **بل قوي دليل** : دا هم دے چه د نبي عليه السلام نه عملًا او قَوْلًا هيچرے دا ندي ثابت چه هغه يوه ورځ د ماسخوتن مونځ د نصف الليل نه اخوا كړے وي كه جائز وے نو بيانا للجواز به هغه يوه ورځ د ماسخوتن مونځ د نصف الليل نه اخوا كړے وے او مونږ ته به رانقل شوي وے نود نبي عليه السلام دا دائمي عمل دليل دے په عدم جواز د تاخير من نصف الليل ۔

٢- **دويم قول** جمهور ائمه كرام فرمائي : چه وقت د صلاة العشاء تر طلوع الفجر پورے دے احناف په كښې وائي چه ثلث الليل پورے مستحب دے او د نصف الليل نه اخوا جائز دے ليكن مكروه تنزيهي دے ۔

ددے قول والاؤ سره صحيح صريح مرفوع حديث نشته لكه چه دا اقرار مولوى عثمانىؒ هم كريدے چه زمونږ سره كوم جامع حديث نشته بلكه په مجموع رواياتو باندے استدلال كوو آه ـ او هغه روايات هم بعض عمومات دى او بعض سندا ضعيف دى او بعض موقوف دى ـ

۱ - **قوى دليل** : حديث د ابوقتادةؓ دے روستو را روان دے اخرجه مسلم چه په هغے كښے اوګده واقعه (د ليلة التعريس) ذكر ده چه نبى عليه السلام نه د صبا مونځ قضاء شو تردے چه نمر پرے راوختلو ـ چه په هغے كښے داسے الفاظ دى : اما انه ليس فى النوم تفريط وانما التفريط على من لم يصل الصلاة حتى يجئ وقت صلاة الاخرى الحديث .

ددے حديث نه معلوميږى چه د بل مانځه وقت نه وى راغلے تر هغه وقت پورے د دغه مونځ وقت باقى دے نو د ماسخوتن مونځ تر صبا پورے كيدل ترے معلوم شو ـ

الجواب : ددے حديث په باره كښے امام ابن حزم په المحلى (۱۷۸/۲) كښے فرمائى : دا حديث مجمل دے د دوئ په مدعٰى باندے صريح ندے، مدعٰى پرے نه ثابتيږى ځكه چه جمهور هم ددے عموم ندے منلے ځكه چه هغوى دا وئيلى دى چه صلاة الفجر په طلوع الشمس باندے قضاء كيږى او حال دا چه د بل مونځ وقت خو لا ندے راغلے نو كه ددے حديث عموم مراد وے نو پكار ده چه د سحر مونځ تر زوال وقت پورے اوګد وے او د نمر راختلو نه پس قضاء نه حسابيدے او حال دا چه جمهور دا پدے وقت كښے قضاء ګڼړى نو لكه څنګه چه دوى دا حديث د ابوقتاده خاص كوى په ماسوى د صلاة الفجر پورے نو دغه شان مونږه ئے هم خاص كوو په ماسوئ د ماسخوتن پورے فما هو جوابكم فى صلوة الفجر من هذا الحديث فهو جوابنا فى صلاة العشاء ـ

ددے وجے نه حافظ ابن الحجر العسقلانى په فتح البارى (۴۱/۲) كښے فرمائى : (عموم حديث ابى قتادة مخصوص بالاجماع فى الصبح - فللاصطخرى ان يقول انه مخصوص بالحديث المذكور وغيره من الاحاديث فى العشاء آه) يعنى لكه څنګه چه په صبا كښے ددے حديث عموم خاص كړے شويدے دغه شان په ماسخوتن كښې هم مخصوص دے په حديث سره ـ بيا وائى : (ولم ار فى امتداد وقت العشاء الى طلوع الفجر حديثا صريحا يثبت انتهى ـ تحفة الاحوذى (۱۵۱/۱) پدے باره كښے صريح حديث نشته چه د ماسخوتن مونځ تر طلوع الفجر پورے اوږد دے ـ

۲ - **دويم جواب** : دا چه په حديث د ابوقتاده كښے مقصود دا دے چه څوك قصداً

مونځ د خپل وقت نه روستو کوی نو هغه ګناهګار دے برابره خبره ده که روستو ترے د بل مانځه وقت راځی لکه د ظهر نه عصر او عصر نه پس مغرب او که د بل مانځه وقت نه راځی لکه د صبا مونځ تر طلوع الشمس پورے او د ماسخوتن مونځ تر نصف اللیل پورے چه ددے نه روستو د بل مونځ وقت متصل نه راځی او دلیل پدے باندے قصه ددے حدیث ده او دا الفاظ چه لیس فی النوم تفریط ځکه چه دا په طریقه د غفلت غیر اختیاری روستو والے دے نو دا حدیث نص ندے په بیان د اوقاتو کښے او نور احادیث نصوص دی فیعمل بها

صاحب د تحفة الاحوذی (۱۵۱/۱) علامه مبارکفوری فرمائی : نیموی په آثار السنن کښ دوه اثرین ذکر کړیدی چه هغه دلالت کوی پدے چه د عشاء وقت تر طلوع الفجر پورے دے ۱– یو حدیث د ابو هریره دے چه طحاوی (۱۱۸/۱) راوړیدے : عن عبید بن جریج انه قال لابی هریرة ما افراط صلوة العشاء ؟ قال طلوع الفجر رواه الطحاوی ۔

۲– دویم اثر د عمر فاروقؓ دے : عن نافع بن جبیر قال کتب عمر الی ابی موسٰی : وصل العشاء ایّ اللیل شئت ولا تغفلها رواه الطحاوی (۱۵۱/۱) ورجاله ثقات ۔

لیکن مبارکفوری صاحبؒ بیا فرمائی : چه د امام طحاوی دا خبره به ډیره ښه وے که چرته دے باره کښ مرفوع صحیح حدیث موجود وے لیکن ما پکښ هیڅ حدیث صحیح مرفوع ندے موندلے ۔

هر چه اول اثر د ابو هریره دے نو پدے کښ دا احتمال شته چه دا بناء وی په عموم د حدیث د ابو قتاده باندے یعنی دا استدلال د ابو هریره دے په عموم د حدیث د ابو قتاده باندے او اجتهاد د صحابی دے مرفوع حدیث ورسره نشته نو په امت باندے حجت ندے ۔

۲– دویم دا چه : پدے حدیث کښ دا بیان نشته چه طلوع الفجر پورے د ماسخوتن مونځ اوګد دے بلکه ممکن ده چه مراد دا وی چه نصف اللیل پورے خپل وقت دے او ددے نه تر طلوع الفجر پورے قضاء او افراط دے ۔

دے وجه نه په سوال کښ ما افراط صلاة العشاء ذکر دے داسے ندی ذکر چه : ایّ وقت آخر وقت صلاة العشاء فتدبر !۔

۳– دریم دا چه دا د مرفوع صریح صحیح روایاتو نه مخالف دے چه په هغے کښ نبی علیه السلام قولاً بیان د آخر وقت د عشاء کړیدے چه نصف اللیل دے نو عمل به په مرفوع روایت وی او دا به محمول وی په اجتهاد د صحابی باندے بلکه د ابو هریره مخالف فتوٰی هم د عبد الله بن عمرو بن العاص موجوده ده کما فی المصنف لعبد الرزاق

(۵۸۱/۱) ۔ (انه قال : وصلاة العشاء درك حتى نصف الليل، ما بعد ذلك افراط) نو ددے نه معلومیږي چه د ابو هریره د قول هم دا مطلب دے چه نصف اللیل نه اخوا د عشاء وقت قضاء دے ۔

او د دویم اثر د عمر فاروق نه جواب دا دے چه دا اثر سنداً ضعیف دے قابل د استدلال ندے ددے په سند کښې حبیب بن ابی ثابت مدار د حدیث دے او هغه مدلس دے او د نافع بن جبیر نه ئے په عنعنه سره نقل کړیدے او عنعنه د مدلس نا مقبول ده حافظ په طبقات المدلسین کښې فرمائی : حبیب بن ابی ثابت الکوفی تابعی مشهور کثیر التدلیس ۔ تحفة الاحوذی (۱۵۲/۱) وعنعنة المدلس لا یحتج بها الا ان ثبت سماعه بطریق آخر ۔ ارشاد الساری شرح صحیح البخاری (۲۸۶/۱) ۔

۲- جواب : په حدیث د عمرؓ کښې (صل العشاء اىّ اللیل شئت) الفاظ محمول دی په هغه روایت چه مونږ مخکښې ذکر کړو چه هغے کښې دا الفاظ وو (صل صلاة العشاء من العشاء الى نصف اللیل اىّ حین شئت) ۔دواړه یو حدیث دے واقعه یوه ده نو معنی به داسے اوشی چه صل العشاء اىّ اللیل شئت یعنی الى نصف اللیل ۔ یعنی د نیمائی شپے پورے چه په کومه حصه کښې د ماسخوتن مونځ کوے اجازت دے خو غفلت به ترے نکوے چه د نصف اللیل نه ئے اخوا واړوے او دا تاویل ځکه متعین دے ۱- چه الحدیث یفسر بعضه بعضا ۲- دویم دا چه قول د عمرؓ موافق شی د احادیث مرفوع صحیحه و سره والله اعلم ۔

او کوم روایت د عائشه چه طحاوی په معانی الآثار (۱۱۸/۱) کښې ذکر کړیدے چه انها قالت : اعتم النبی ﷺ ذات لیلة حتی ذهب عامة اللیل ۔ نو ددے معنی امام نوویؒ په شرح مسلم (۲۲۲/۱) کښې داسے بیانوی (قوله فی روایة عائشة انه اعتم بها حتی ذهب عامة اللیل ای کثیر منه ولیس المراد اکثره ولا بد من هذا التاویل لقوله ﷺ انه لوَقتها ولا یحوز ان یکون المراد بهذا القول ما بعد نصف اللیل لانه لم یقل احد من العلماء ان تاخیرها الی ما بعد نصف اللیل افضل انتهی ۔ یعنی عائشهؓ چه دا فرمائی چه نبی علیه السلام دومره ناوخته مونځ اوکړو چه عامه شپه لاړه نو ددے معنی داده چه ډیره شپه لاړه او ډیر اکثره شپه تلل مراد ندی او دا تاویل به ځکه کوو چه نبی علیه السلام همدغه وقت ته د ماسخوتن د مانځه خپل وقت وئیلے دے او ددے نه د نصف اللیل نه روستو کول مراد کول صحیح ندی ځکه چه دا د هیڅ عالم قول ندے چه د نصف اللیل نه روستو د ماسخوتن مونځ افضل دے ۔

نو ثابته شوه چه احتیاط پدے کښې دے چه د نصف اللیل نه د ماسخوتن مونځ وانه

وړی ورنه بیا به مونځ قضاء حساب شي او دا قول شوکاني په الدرر البهیه او السیل الجرار (۱۸۳/۱) کښې مختار کړیدے او صدیق حسن خان ئے اتباع کړیده په الروضة الندیة کښې او حافظ په فتح الباری (۴۱/۲) کښې ددے اختیار ته اشاره کړیده او دا یو قول د امام مالك هم دے کما فی بدایة المجتهد او دا د یو جماعت د شوافعو قول هم دے واختاره الالبانی فی تمام المنه ص (۱۴۱) نو قول د جمهورو ضعیف او قول د محققینو قوی او راجح دے ۔

خو پدے مقام کښې یو :

۳- دریم قول هم بعض علماوء ذکر کړیدے لکه مراد شکری د المنخلة النونیة په شرح (۳۶) کښې فرمائی : چه د عشاء وقت اضطراری (وقت د ضرورت) ممتد کیږی تر فجر پورے یعنی د ضرورت په وقت کښې د ماسخوتن مونځ تر فجر پورے جائز دے مثلا یو انسان بیهوشه وی یا مریض وی یا مسافر وی یا یو بل ضرورت وی او خپل وقت کښې ترے مونځ پاتے شو نو تر صبا راختلو پورے مونځ کول ورله جائز دی او دا به ئے خپل وقت وی قضاء به نه وی دلیل مخکښې حدیث د ابو قتاده دے کما فی صحیح مسلم (انما التفریط علی من لم یصل الصلاة حتی یجيء وقت الصلاة الاخرٰی ۔ بیا فرمائی دا قول د امام مالك او شافعی دے او دا مقتضی د جمع بین الاحادیث ده انتهیٰ او دا قول علامه ابن قدامه په المغنی کښې هم غوره کړیدے ۔ او که ضرورت نه وی نو تاخیر الصلاة عن نصف اللیل به قضاء وی ۔

وَوَقْتُ صَلَاةِ الصُّبْحِ مِنْ طُلُوْعِ الْفَجْرِ : دا اتفاقی مسئله ده چه د صبا د مانځه وقت د صبح صادق نه شروع کیږی او په طلوع الشمس باندے ختمیږی لیکن دا په حق د هغه چا کښې چه مونځ ترے هیر نه وی یا په خوب کښې نه وی او که یو انسان په خوب کښې وی یا ترے مونځ هیر وی نو کوم وقت چه ورته یاد شو یا رابیدار شو نو همدغه ئے وقت دے، دده په حق کښې مکروه وقت نشته کما فی الحدیث وسیأتی ۔

فَأَمْسِكْ عَنِ الصَّلَاةِ : یعنی کله چه نمر را خیژی نو د مانځه نه بند شه تر دے چه یوه نیزه (قید رمح) راپورته شي ۔ ددے نه مراد نوافل مطلقه دی یعنی نمر خاته وقت کښې نوافل مطلقه نه کیږی چه یو انسان ناست وی نفل نکوی تردے چه نمر را ختلو ته نزدے شي یا پریوتو ته نزدے شي بیا نفل شروع کوی نو دا کار جائز ندے او هر چه قضاء او هیر شوے مونځ دے نو هغه ددے نه مستثنیٰ دے کما مر وسیأتی تفصیل المسئله ان شاء الله ۔ دارنګه تحیة المسجد ترے مستثنیٰ دی ۔

فَإِنَّهَا تَطْلُعُ بَيْنَ قَرْنَيِ الشَّيْطَانِ : يعنى د نمر خاته او پريوتو په وقت كښې مونځ (نفل) ځكه ندى جائز چه نمر د شيطان د دوه خكرونو په مينځ كښې راخيژى ـ

ددے قرني الشيطان (دوه خكرونو) ډير مصداقات علماؤ بيان كړيدى لكه امام ابن قتيبه په تاويل مختلف الحديث ص (١٥٤) كښې او امام خطابى په معالم السنن (١/١٣٠) كښې او امام نووى په شرح مسلم (١/٢٢٣) كښې او علامه زين الدين العراقى په طرح التثريب كښې ذكر كړيدى چه بعضے د هغے نه دا دى :

(١) - ددے قرنين نه د شيطان دوه جماعتونه مراد دى چه هغه دواړه جماعتونه ددے كار دپاره مقرر دى چه د نمر راختلو او پريوتو په وقت كښې مطلع او مغرب (ځائے د ختلو او ځائے د پريوتو كښے) د نمر دواړو طرفونو ته اودريږى ـ

(٢) - يا دوه قسمه لښكرے مراد دى چه پدے وقت كښې ئے شيطان تشكيل كوى دپاره د گمراه كولو د خلقو ـ

(٣) - يا دا حمل دے په تخيّل باندے چه د شيطان تشبيه ئے وركړه د يو داسے حيوان سره چه خكرے لرى چه د هغه د نورو ځيزونو مقابله كوى نو دغه شان شيطان هم هميشه د حق مقابله كوى خكرئے ورته اړم كړے وى ـ

(٤) - يا دا د باب د تمثيل نه دے چه شيطان عابدين د شمس لره په عبادت د شمس باندے برانگيخته كوى، ددے تشبيه ئے وركړيده د هغه شى سره چه د هغه سر او خكرے وى او خلق پرے زغلوى ـ

(٥) - يا مجازاً د شيطان علو او ارتفاع مراد ده پدے وقت كښې شيطان ځان اوچت گنړى ـ

ليكن دا ټول احتمالات بعيد دى ځكه بل حديث كښې داسے الفاظ دى : (قارنها الشيطان) ددے نه معلوميږى چه دا په حقيقت باندے حمل دے چه قرنين نه مراد دواړه طرفونه د سر دى ځكه چه شيطان د طلوع الشمس په وقت انتظار كښې ناست وى كله چه نمر راخيژى نو دا ورته نيغ ولاړ وى او سر په نمر باندے ور اوړد كړى، دے دپاره چه څوك د نمر عابدان دى هغوى ته مخامخ شى او هغوى شيطان ته سجده اوكړى ځكه چه د كافرانو نمر ته سجده كول دا به عبادت د شيطان شى نو پدے وقت كښې به د شيطان تسلط پدے شخص باندے زيات وى نو هغه باندے به مونځ گډوډ كولے شى نو پدے وجه نبى عليه السلام خپل امت منع كړو پدے وقت كښې د مانځه كولو نه دے دپاره چه د الله د

عابدانو مونځ او عبادت د شیطان د عابدانو د عبادت نه په جدا وقت کښې راشي، دارنګه شیطان پدے وقت کښې خوشحالي کوي چه دا خلق ما ته سجده کوي فخر کوي، نو نبي عليه السلام د شيطان د خوشحالولو نه منع اوکړه چه دا دشمن دے دا مه خوشحالوئ او مشابهت د کافرانو حرام دے دوی به نشي خوشحالولے بلکه دشمني ورسره اوکړئ چه پدے وقت کښې د الله عبادت (مونځ) هم مه کوئ والله اعلم۔

۲– وَعَنْ بُرَيْدَةَ رضي الله عنه، قَالَ: اِنَّ رَجُلًا سَأَلَ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ عَنْ وَقْتِ الصَّلَاةِ. فَقَالَ لَهُ: صَلِّ مَعَنَا هٰذَيْنِ – يَعْنِي الْيَوْمَيْنِ – فَلَمَّا زَالَتِ الشَّمْسُ اَمَرَ بِلَالًا فَأَذَّنَ، ثُمَّ أَمَرَهُ فَأَقَامَ الظُّهْرَ، ثُمَّ اَمَرَهُ فَأَقَامَ الْعَصْرَ، وَالشَّمْسُ مُرْتَفِعَةٌ بَيْضَاءُ نَقِيَّةٌ، ثُمَّ اَمَرَهُ فَأَقَامَ الْمَغْرِبَ حِيْنَ غَابَتِ الشَّمْسُ، ثُمَّ اَمَرَهُ فَأَقَامَ الْعِشَاءَ حِيْنَ غَابَ الشَّفَقُ، ثُمَّ اَمَرَهُ فَأَقَامَ الْفَجْرَ حِيْنَ طَلَعَ الْفَجْرُ. فَلَمَّا أَنْ كَانَ الْيَوْمُ الثَّانِيْ أَمَرَهُ: فَأَبْرِدْ بِالظُّهْرِ، فَأَبْرَدَ بِهَا – فَأَنْعَمَ أَنْ يُبْرِدَ بِهَا – وَصَلَّى الْعَصْرَ وَالشَّمْسُ مُرْتَفِعَةٌ – اَخَّرَهَا فَوْقَ الَّذِيْ كَانَ – وَصَلَّى الْمَغْرِبَ قَبْلَ أَنْ يَغِيْبَ الشَّفَقُ، وَصَلَّى الْعِشَاءَ بَعْدَ مَا ذَهَبَ ثُلُثُ اللَّيْلِ، وَصَلَّى الْفَجْرَ فَأَسْفَرَ بِهَا. ثُمَّ قَالَ: أَيْنَ السَّائِلُ عَنْ وَقْتِ الصَّلَاةِ؟ فَقَالَ الرَّجُلُ: أَنَا يَارَسُوْلَ اللهِ! قَالَ: وَقْتُ صَلَاتِكُمْ بَيْنَ مَا رَأَيْتُمْ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: او د بریده رضی الله عنه نه روایت دے فرمائي چه یو شخص نبي کریم ﷺ نه د مانځه د وقت تپوس اوکړو (چه د مونځونو اول او آخر وقت کوم دے؟) نبي کریم ﷺ هغه ته اوفرمايل: چه پدے دوه ورځو کښې ته زمونږ سره مونځ اوکړه (دے دپاره چه زه تا ته د مانځه اوقات اوښایم) پس کله چه نمر (د نیمائي آسمان نه) واوړیدو، نبي عليه السلام بلال ؓ ته (د اذان) حکم کړو۔ بلال ؓ اذان اوکړو، بیا نبي کریم ﷺ هغه ته (د تکبیر) حکم اوکړو نو هغه د ماسپښین تکبیر اوکړو (او نبي عليه السلام د ماسپښین مونځ اوکړو) بیا نبي کریم ﷺ د مازیګر اقامت حکم اوکړو پداسے وقت کښې چه نمر اوچت او سپین او صفا وو (او د مازیګر مونځ ئے اوکړو) بیا ئے د مغرب د اقامت

حکم اوکړو پداسې وقت کښې چه نمر غائب شوې وو (او د ماښام مونځ ئې اوکړو) بیا ئې د عشاء د اقامت حکم اوکړو په هغه وقت کښې چه شفق غائب شوې وو (او د ماسخوتن مونځ ئې اوکړو) بیا د فجر د راختلو په وخت ئې د اقامت حکم اوکړو (او مونځ ئې اوکړو، گویا که په اوله ورځ نبی کریم ﷺ تمام مونځونه په اول وقت کښې اوکړل دا ئې اوښودل چه د مونځونو اول وقت دا دې) بیا کله چه دویمه ورځ شوه نو نبی کریم ﷺ بلال ته د ظهر په یخولو سره د اذان وئیلو حکم اوکړو او ښه یخولو سره ئې د ظهر مونځ اوکړو او د عصر مونځ ئې پداسې حال کښې اوکړو چه نمر اوچت ولاړ وو لیکن د پرون ورځې نه ئې ناوخته مونځ اوکړو او د مغرب مونځ ئې د شفق د غائبیدو نه مخکښې (یعنی شفق غائبیدو ته نزدې) اوکړو، او د ماسخوتن مونځ ئې د دریمې حصې د شپې د تیریدو نه پس اوکړو او د فجر مونځ ئې ښه رڼرائی نه پس اوکړو او ددې نه پس ئې اوفرمایل : د مونځ اوقات تپوس کونکې شخص چرته دې؟ هغه سړی اووئیل : اې د الله رسوله ! زه حاضریم ! نبی کریم ﷺ اوفرمائیل : ستاسو د مانځه اوقات ددې اوقاتو په مابین کښې دی کوم چه تاسو (پدې دوه ورځو کښې) اولیدل ۔ (مسلم) ۔

تشریح : د سائل مطلب دا وو چه د مونځونو د اوقاتو په سلسله کښې دا خودل پکار دی چه د مانځه اول وقت کوم دې او آخر وقت کوم دې؟ نو نبی کریم ﷺ هغه ته د مونځونو اوقات زبانی خودل بهتر او نه گڼړل بلکه عملی طور سره ئې هغه ته اوخودل چه د هغه په ذهن کښې په ښه شان ذهن نشین شی ۔

عَنْ وَقْتِ الصَّلَاةِ : ددې نه مراد جنس دې نو ټولو اوقاتِ خمسو ته شامل دې ۔

صَلِّ مَعَنَا هٰذَيْنِ – يَعْنِي الْيَوْمَيْنِ – دوه ورځې مونځ کولو باندې ئې ورته ځکه حکم اوکړو چه د ټول اوقاتِ فرضیو اوائل او اواخر زده کړی دارنگه وقت د فضیلت او اختیار ورته معلوم شی او دا عملی ښودنه ده او دا ذ سماع نه دیره قوی وی ځکه مشاهده ده ۔

وَالشَّمْسُ مُرْتَفِعَةٌ بَيْضَاءُ نَقِيَّةٌ : یعنی نمر اوچت ولاړ وو او تك سپین صفا وو د زیړ والی هیڅ اثر پرې نه وو او دا حالت په هغه وقت کښې وی چه کله د مثل اول نه لگ روستو مونځ اوکړې شی او دا اول وقت د مازیگر دې ۔

فَأَنْعَمَ أَنْ يُبْرِدَ بِهَا : یعنی مبالغه ئې اوکړه او زیادت ئې اوکړو د هغې په یخوالی کښې ۔ امعن او انعم په یوه معنی دی یقال انعم النظر فی الشیٔ اذا اطال التفکر فیه ۔ وفی

المقامات الحریریه : (وهل للقدماء اذا انعم النظر فی مبانی الاصول) المقدمة ـ
اَخِرُهَا فَوْقَ الَّذِیْ کَانَ : یعنی د مازیگر مونځ ئې په دویمه ورځ روستو کړو زیات د هغه تاخیر نه چه پرون موجود وو یعنې دویمه ورځ ئې د مازیگر مونځ په مثل ثانی کښې کړیدے لکه چه دا د نورو روایاتو نه معلومه ده، او دے روستو متصل حدیث کښې راځی ـ
۲- یا مطلب دا دے چه د مازیگر مونځ ئې په دویمه ورځ روستو کړو د هغه تاخیر نه چه پرون ورځ وو یعنی د ماسپښین مونځ ئې چه مثل اول ته را روستو کړے وو نو اوس ئې د مازیگر مونځ ددے نه زیات روستو کړو چه مثل ثانی ته ئې اورسولو او دا مطلب ندے چه د مازیگر مونځ ئې ناوخته کړیدے په اول وقت کښې هم ـ
وَصَلَّى الْفَجْرَ فَأَسْفَرَ بِهَا . په اوله ورځ د فجر مونځ په طلوع الفجر کښې اوشو نو دا اول وقت د فجر دے او په دویمه ورځ په اسفار او رڼرا کښې اوشو نو دا آخری وقت د مانځه شو الی طلوع الشمس ـ
وَقْتُ صَلَاتِکُمْ بَیْنَ مَا رَأَیْتُمْ : واحد ته ئې د جمع خطاب اوکړو اشاره ده چه حکم عام دے ټول امت ته اګرکه سوال د واحد دے ـ بیا دا محمول دے په بیان د وقت مختار باندے ځکه چه د ماسپښین مونځ تر هغه وقت پورے کیږی څو پورے چه د عصر وقت نه وی داخل یعنی د ډیر ابراد نه پس هم کیږی دارنګه د مازیگر مونځ تر غروب الشمس پورے جائز دے نو د دغه تاخیر نه روستو هم جائز دے کوم چه پدے حدیث کښې راغلو (اخرها فوق الذی کان) او دارنګه عشاء مونځ عند الجمهور تر طلوع الفجر جائز دے او د امام بخاری او ابن حزم اود اصطخری په نیز تر نصف اللیل پورے جائز دے اودے حدیث کښې خو تر ثلث اللیل پورے ذکر شو دارنګه صلاة الفجر بعد الاسفار هم جائز دے تر طلوع الشمس پورے (رواه مسلم) ـ

الفصل الثانی - دویم فصل

۳ - عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضی اللہ عنہ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : أَمَّنِیْ جِبْرِیْلُ عِنْدَ الْبَیْتِ مَرَّتَیْنِ . فَصَلّٰی بِیَ الظُّهْرَ حِیْنَ زَالَتِ الشَّمْسُ وَکَانَتْ قَدْرَ الشِّرَاکِ وَصَلّٰی الْعَصْرَ حِیْنَ صَارَ ظِلُّ کُلِّ شَیْءٍ مِثْلَهٗ، وَصَلّٰی بِیَ الْمَغْرِبَ حِیْنَ أَفْطَرَ الصَّائِمُ، وَصَلّٰی بِیَ الْعِشَاءَ حِیْنَ غَابَ الشَّفَقُ، وَصَلّٰی بِیَ الْفَجْرَ حِیْنَ حَرُمَ الطَّعَامُ

وَالشَّرَابُ عَلَى الصَّائِمِ . فَلَمَّا كَانَ الْغَدُ، صَلّٰى بِيَ الظُّهْرَ حِيْنَ كَانَ ظِلُّهٗ مِثْلَهٗ، وَصَلّٰى بِيَ الْعَصْرَ حِيْنَ كَانَ ظِلُّهٗ مِثْلَيْهِ، وَصَلّٰى بِيَ الْمَغْرِبَ حِيْنَ اَفْطَرَ الصَّائِمُ، وَصَلّٰى بِيَ الْعِشَاءَ اِلٰى ثُلُثِ اللَّيْلِ، وَصَلّٰى بِيَ الْفَجْرَ فَاَسْفَرَ . ثُمَّ الْتَفَتَ اِلَيَّ، فَقَالَ : يَا مُحَمَّدُ ! هٰذَا وَقْتُ الْاَنْبِيَاءِ مِنْ قَبْلِكَ، وَالْوَقْتُ مَا بَيْنَ هٰذَيْنِ الْوَقْتَيْنِ . رَوَاهُ اَبُوْدَاوٗدَ وَالتِّرْمِذِيُّ .

ترجمه : عبد الله بن عباس رضی الله عنه فرمائی : نبی کریم ﷺ فرمائیلی وو : جبرئیل علیه السلام (د مونځونو د کیفیت او اوقات خودلو دپاره) ما ته د بیت الله په خوا کښې دوه کرتې (یعنی دوه ورځې) امامتی کړیده، پس (په اوله ورځ) کله چه نمر زائل شو او سورے د تسمے برابر وو نو ما ته ئې د ماسپښین مونځ اوکړو او په کوم وقت چه د هر شی سورے (د اصلی سوری نه علاوه) د هغه برابر شو نو ما ته ئې د مازیګر مونځ اوکړو او په کوم وقت چه روژه دار روژه ماتوی (یعنی نمر ډوبیدو نه بعد) نو ما ته ئې د ماښام مونځ اوکړو او د شفق د غائبیدو په وقت ئې ما ته د ماسخوتن مونځ اوکړو او په کوم وقت چه د روژه دار دپاره خوراك څکاك حرامیږی (یعنی د صبح صادق نه پس) نو ما ته ئې د سحر مونځ اوکړو ۔ او کله چه صبائي ورځ شوه نو ما ته ئې د ماسپښین مونځ په هغه وقت اوکړو چه سورے یو مثل (ته نزدے) شو او ما ته ئې د مازیګر مونځ په هغه وقت اوکړو چه روژه دار روژه ماتوی او ما ته ئې د ماسخوتن مونځ په هغه وقت اوکړو چه دریمه حصه د شپے شوے وه او ما ته ئې د فجر مونځ په هغه وقت اوکړو چه ښه رڼا شوے وه او بیا (جبرئیل علیه السلام) ما طرفته متوجه شو وئې وئیل : اے محمد ! دا وقت ستا نه مخکښې د انبیاؤ (د مانځه) وقت دے او مونځ ددے دواړه وقتونو په مابین کښې دے ۔ (ابوداودؒ، ترمذیؒ) ۔

تشریح : اَمَّنِيْ جِبْرِيْلُ عِنْدَ الْبَيْتِ : سوال دا دے چه جبرئیل علیه السلام متنفل دے او نبی علیه السلام مفترض دے نو دلته خو اقتداء د مفترض راغله د متنفل پسے ؟ ۔

الجواب : دا سوال په مونږ نه واردیږی بلکه په احنافو واردیږی چه هغوی دیته ناجائز وائی او زمونږ په نیز باندے اقتداء د مفترض د متنفل پسے جائز ده او د احنافو پدے خبره هیڅ شرعی دلیل نشته سوی ددے نه چه مفترض قوی دے او متنفل ضعیف دے او

اقتداء د قوی په ضعیف پسے جائز نه ده ۔

جواب دا دے چه دا هسے قیاسی خبره ده هیڅ نقلی دلیل پدے باندے نشته بلکه دلیل ددے په خلاف دے وجه دا ده چه د صحابو په زمانه کښې دا خبرے نه وے چه دا متنفل دے په ده پسے د مفترض اقتداء نه کیږی، معاذ بن جبل به د نبی علیه السلام سره د ماسخوتن مونځ اوکړو بیا به لاړو خپل قوم ته به ئے جمع ورکوله د هغوی امام وو او متنفل وو دارنګه په صلاة الخوف کښې یوه طریقه دا ده چه امام یوے ډلے ته دوه رکعاته اوکړی او بیا بلے ډلے ته دوه رکعاته اوکړی نو دا روستنی دوه رکعاته نفل دی او د مفترضینو اقتداء ورپسے صحیح ده (اخرجه ابوداود وغیره) ۔

٢- بله دا چه په مانځه کښې صرف اقتداء غرض وی او اشتراك د نیت ضروری ندے چه د مقتدی او امام نیت به د یو فرض یا د یو نفل مونځ وی ۔ نو دغه قیاسی خبره هم خطاء شوه ځکه پدے کښې د قوت او ضعف خبره نشی راتلے ۔ تفصیل به روستو په باب القرائة کښې راشی ان شاء الله تعالی ۔

احناف دلته دا جواب کوی چه دلته جبرئیل باندے مونځ فرض شوے وو نو اقتداء د مفترض بالمفترض راغله ۔ لیکن ددے جواب دا دے چه دا خبره بے دلیله ده څه دلیل دے چه په هغه باندے دا فرض وو، هیڅ دلیل نشته ۔ که احناف ددے حدیث نه جواب اوکړی نو د څلور دلائلو نه بلکه د شپږو دلائلو نه جواب څرنګ وشی کوم چه روستو باب القرائة کښې راځی ان شاء الله ۔

سوال دا دے چه جبرئیل مفضول دے او نبی علیه السلام افضل دے مفضول څنګه افضل ته امامت کوی ؟۔

الجواب : پدے کښې څه استحاله نشته بلکه کله کله د مفضول پسے د افضل اقتداء جائز ده خاصکر کله چه صورت د تعلیم وی او دلته جبرئیل معلم دے ۔

عِنْدَ الْبَيْتِ : امامت د جبرئیل په هغه وقت کښې شوے وو چه کله د لیلة الاسراء نه نبی علیه السلام راواپس شو صبا له جبرئیل راغلو، په کتاب الام کښې د امام شافعیؒ یو روایت کښے دی چه دا امامت د جبرئیل : عند باب الکعبه وو ددے وجے نه امام احمد فرمائی چه مخامخ کعبے ته اودریدل افضل دی او موجوده دور کښې امامان کعبه هم دروازے ته مخامخ مونځ کوی ۔

مَرَّتَيْنِ : د مرتین نه مراد دوه ورځے دی یعنی دوه کرتے په دوه ورځو کښې کما مرّ ۔

وَكَانَتْ قَدْرَ الشِّرَاكِ : یعنی سوریے د نمر داسے شو لکه په اندازه د تسمه (مزی) د څپلئ (شِراك بکسر الشین د څپلئ هغه تار او تسمے ته وائی چه بره طرفته وی) او دا تقریبی اندازه ښودل شویده او تحدید مقصود ندے ځکه چه د نمر زوال په جانب مشرقی کښ د دغه سوری نه هم کم ښکاره کیږی او دا اندازه په مکه کښ ده ځکه چه هلته سوری کم وی او دا سوریے په اختلاف د ازمنه او مکاناتو مختلف کیږی کوم ښار چه خط استواء او معدل النهار ته نزدے وی نو هلته کښ سوریے هم لنډ وی او کوم ښار چه د خط استواء او معدل النهار نه وړاندے وی جانب شمالی طرفته نو هلته سوریے اوږد وی، خلاصه دا چه د ماسپښین وقت هله داخلیږی کله چه د زوال نه پس سوریے په زیادت کښ شروع شی ۔

فائده : بعض مقلدینو لکه انورشاه الکشمیری په العرف الشذی ص (۳۹) کښ بعض غیر مقلدینو ته دا نسبت کړیدے چه دوئ فیئ الزوال (د زوال سوریے) نه منی بلکه د زوال الشمس نه مثل اول پورے ظهر وقت منی لیکن مونږ وایو چه دا د جاهلانو قول دے اهل الحدیث داسے قول نکوی بلکه اهل الحدیث اتباع د حدیث کوی او په احادیثو کښ فیئ الزوال ثابت دے لکه ددے روایت نه هم معلوم دے چه د زوال د شمس نه پس سوریے قدر الشراك ته رسیدلے دے او بیا روستو جبرئیل مونږ ته منځ کړیدے ۔

۲- دارنګه مصنف عبد الرزاق (۵٤۳/۱) کښ د ابن عمر قول دے : (کنا نصلی الظهر مع رسول الله ﷺ حین تمیل الشمس عن ظل الرحل ذراع او ذراعین الحدیث نو دا دلیل دے چه وقت الظهر په مثل اول باندے نه ختمیږی فقط بلکه سره د فیئ الزوال نه به ئے اخلے ۔ وانظر فتاوی الدین الخالص (۳) تفصیلا ۔

وَصَلّٰى بِيَ الْعَصْرَ حِيْنَ كَانَ ظِلُّهٗ مِثْلَيْهِ : که دلته د امام ابوحنیفه مذهب واخستل شی نو په دواړو ورځو کښ د مازیګر مونځ غلط اداء شویدے فتدبر ۔

وَقْتُ الْاَنْبِيَاءِ مِنْ قَبْلِكَ : ابن العربی په عارضة الاحوذی (۲۵۷/۱) کښ فرمائی ددے الفاظو د ظاهر نه دا وهم کیږی چه دا مونځونه پدے اوقاتو کښ د پخوانو انبیاء کرامو دپاره هم مشروع وو او حال دا چه په پخوانو انبیاؤ پنځه مونځونو نه وو فرض بلکه ددے معنی دا ده چه داسے وقت مشروع چه موسع وی او محدود وی په دواړه طرفونو باندے چه اول او آخر دی نو دغه شان د پخوانو انبیاؤ اوقات د مانځه هم فراخه ووا وذات الطرفین وو نو دا تشبیه فی بعض الوجوه ده ۔

٢- يا هذا كښ اشاره ده سحر وقت ته چه دا د تولو انبياؤ د مانځه وقت وو ـ

(٣) - صحيح توجيه دا ده چه هذا وقت الانبياء كښ اشاره اكثر اوقاتو ته ده ځکه هغوی باندے ځلور مونځونه لازم وو صرف د ماسخوتن پرے نه وو او دليل پدے باندے حديثونه او آيت دے ﴿ حَتّٰى تَوَارَتْ بِالْحِجَابِ ﴾ سورة ص ـ سليمان عليه السلام باندے چه کله د اسونو د پالنے په وقت کښ نمر پريوتو نو هغه نه د مازيگر مونځ قضاء شو نو د الله نه ئے دعاء اوکړه چه نمر ورته راواپس کړی ـ ددے آيت نه معلوميږی چه په مخکنو انبياؤ باندے د مازيگر مونځ هم وو او په مسند ابی عوانه کښ (٤٥/١) کښ د ابو بصره غفاری رضی الله عنه وينا ده چه مونږ ته رسول الله ﷺ په محصب کښ د مازيگر مونځ اوکړو بيا ئے اوفرمائيل : اِنَّ هٰذِهِ الصَّلٰوةَ فُرِضَتْ على من كان قبلكم فَضَيَّعُوْهَا فمن حافظ عليها كان له اجره مرتين ـ دا مازيگر مونځ ستاسو نه په مخکنو خلقو (هم) فرض شوے وو نو هغوی ضائع کړو ـ ددے نه معلوميږی چه په هغوی باندے هم د مازيگر مونځ فرض وو ـ

وَالْوَقْتُ مَا بَيْنَ هٰذَيْنِ الْوَقْتَيْنِ : ديکښ اشاره ده اول وقت د شروع ته په اوله ورځ او آخر وقت د فراغت ته په دويمه ورځ ـ

درجة الحديث : رواه الترمذی وقال حديث حسن صحيح وابوداود وسكت عليه وقال الشيخ الالبانی فی تعليق المشكاة (١٨٥/١) وسنده حسن لذاته صحيح لغيره كما بينه فی صحيح ابی داود رقم (٣٩٣) وصححه النووی والحاكم وغيرهما ـ

الفصل الثالث - دريم فصل

٤- عَنِ ابْنِ شِهَابٍ : أَنَّ عُمَرَ بْنَ عَبْدِ الْعَزِيْزِ أَخَّرَ الْعَصْرَ شَيْئاً، فَقَالَ لَهُ عُرْوَةُ : أَمَا إِنَّ جِبْرِيْلَ قَدْ نَزَلَ فَصَلّٰى أَمَامَ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ، فَقَالَ لَهُ عُمَرُ : اِعْلَمْ مَا تَقُوْلُ يَا عُرْوَةُ ! فَقَالَ سَمِعْتُ بَشِيْرَ بْنَ اَبِیْ مَسْعُوْدٍ، يَقُوْلُ : سَمِعْتُ اَبَا مَسْعُوْدٍ، يَقُوْلُ : سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ يَقُوْلُ : «نَزَلَ جِبْرِيْلُ فَأَمَّنِی، فَصَلَّيْتُ مَعَهُ، ثُمَّ صَلَّيْتُ مَعَهُ ثُمَّ صَلَّيْتُ مَعَهُ ثُمَّ صَلَّيْتُ مَعَهُ ثُمَّ صَلَّيْتُ مَعَهُ يَحْسِبُ بِأَصَابِعِهِ خَمْسَ صَلَوَاتٍ» . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ .

ترجمه : ابن شهابؒ نه روايت دے چه عمر بن عبد العزيزؒ (يوه ورځ) د مازيگر

مونځ (د مختار وقت نه لګ) تاخیر سره اوکړو ـ عروة (چه کله دا اوليدل نو) وئے وئيل : خبردار! جبرئيل عليه السلام په نبی عليه السلام باندے راکوز شو او د هغه مخے ته ئے (په اول وقت کښے) مونځ اوکړو، عمر اوفرمايل : اے عروه ! لګ سوچ اوکړه څه وائے ؟ عروة اووئيل : ما د ابومسعود د ځوی بشير نه اوريدلی دی چه وئيل به ئے چه ابومسعود نه اوريدلی دی چه هغه به فرمائيل چه ما د نبی کريم ﷺ نه واوريدل، نبی عليه السلام فرمائيلی وو چه جبرئيل راغلو زما امام جوړ شو او ما د هغه سره مونځ اوکړو، بيا ما د هغه سره مونځ اوکړو، بيا ما د هغه سره مونځ اوکړو، بيا ما د هغه سره مونځ اوکړو، بيا ما د هغه سره مونځ اوکړو (راوی وائی چه) نبی کريم ﷺ پنځه مونځونه په ګوتو سره اوشمارل ـ (بخاری، مسلم) ـ

د ابن شهاب تعارف :

دده نوم محمد بن مسلم بن عبيد الله بن عبد الله بن شهاب القرشی الزهری المدنی دے کنيت ئے ابوبکر دے تابعی دے او هغه فقيه حافظ دے چه ټول امت دده په جلالتِ شان او اتقان باندے متفق دی په سنه (۵۱ ھ) کښ پيدا شويدے او په رمضان سنه (۱۲٤ ھ) کښ د (۷۲) کالو په عمر وفات شويدے ـ امام ابوداود فرمائی : دده نه (۲۲۰۰) سوه احاديث نقل دی، ډير استاذان لری او ډير شاګردان، ده ته علماء جامع الحديث وائی دده ډير فضائل دی چه حافظ په تهذيب التهذيب (۳۸۵/۹) او ذهبی په التذکره (۹٦/۱) کښ ذکر کړيدی ـ

امام مالك فرمائی : بقی ابن شهاب وماله فی الدنيا نظير ـ

امام مکحول فرمائی : ما بقی علی ظهر الارض اعلم بسنة ماضية من الزهری ـ

امام ليث فرمائی : ما رئيت عالماً احمع من ابن شهاب ولا اکثر علماً منه لو سمعته يحدث فی الترغيب لقلت لا يحسن الا هذا وان حدث عن الانساب لقلت لا يعرف الا هذا وان حدث عن القرآن والسنة کان حديثه نوعاً جامعاً ـ

وقال الزهری عن نفسه : ما نشر احد من الناس هذا العلم نشری ولا بذله بذلی وقال مالك کان من اسخی الناس .

أَنَّ عُمَرَ بْنَ عَبْدِ الْعَزِيْزِ :

د عمر بن عبد العزيز تعارف :

دده مکمل نوم ابوحفص عمر بن عبد العزيز بن مروان بن الحکم بن ابی العاص بن

امية بن عبد شمس الاموی المدنی ثم المصری دے دده مور ام عاصم بنت عاصم بن عمر بن الخطاب ده دا پیدا شویدے په سنه (٦٣) هجری کښې د اهل مدینه د تابعینو نه عادل او فقیه او مجتهد او عالم ورع او زاهد خلیفه راشد وو ۔ علماؤ دده ډیر زیات فضائل ذکر کړیدی ۔ عمرو بن میمون فرمائی : علماء به د عمر بن عبد العزیز په مجلس کښې داسے ناست وو لکه د شاګردانو پشان ۔ علماؤ به وئیل چه دا به مونږ ته په مسائلو کښې محتاج وی مګر چه ځ هغه په خوا کښې به کیناستل نو علماء به ورته حیران شو دومره لوئی عالم وو ۔

دا غنم رنګے ښائسته رنګ والا نری بدن والا ښائسته ګیرے والا ژورو سترګو والا وو او په تندی باندے ئے د اس د خپے ګذار وو ۔ ددے وجه نه پلار ورته اشج بنی امیه وئیلو ۔

په وړوکوالی کښې ده یو ځل وژړل مور ورته اووئیل : ولے ژاړے ؟ ده ورته اووئیل : د مرګ یاداشت مے ژړوی ۔ دا د خلافت نه مخکښې دومره زاهد نه وو خو کله چه ورته خلافت ملاؤ شو نو ډیر زیات زهد او تقوی پکښې پیدا شوه ۔ او ده ته چا اووئیل : چه ته مرے او خپلو بچو دپاره دے هیڅ شے میراث پرے نه خودو ؟ نو ده په جواب کښې اووئیل : که زما اولاد متقیان وی نو الله تعالی د متقیانو سره وعده کړیده چه فراخه رزق به ورته بے حسابه ورکوی ۔ او که ظالمان وی نو ولے خپل مال ظالمانو ته پریدم چه ګناهونه پرے اوکړی ۔

دا فرمائی : ما كذبت مذ علمت ان الكذب يضر اهله ۔

دارنګه فرمائی : من عدّ كلامه من عمله قل كلامه ۔

انس بن مالك رضی الله عنه به دده پسے مونځ کولو او دا به ئے وئیل : ما رأيت اشبه صلاة برسول الله ﷺ من هذا الفتى ۔ ددے ځوان پشان د رسول الله ﷺ سره مشابه مونځ والا ما بل څوك ندے لیدلے ۔ ډیر په اطمینان او وقار سره به ئے په اول وقت کښې مونځونه کول، دا چه کله خلیفه شو نو اول ئے د مانځه وقتونه برابر کړل ځکه بنو امیه به مونځونه ناوخته کول، ابو جعفر الباقر دده په باره کښې فرمائی : لكل قوم نجيبة وان نجيبة بنى امية عمر بن عبد العزيز وانه يبعث امة وحده ۔

ده به د خپل اهل حکومت خلقو زیات څارنه کوله پدے وجه هغوی ورته ډیر غصه وو چه دا زمونږ په هر څه کښې ګوتے وهی نو آخر کښې ئے زهر ورکړل نو شهادت او سعادت ورته حاصل شو او د علماؤ په نیز باندے د خلفاء راشدین او علماءِ عاملین نه حساب شو ۔

تشريح : أَخَّرَ الْعَصْرَ شَيْئاً : دا تاخير ئے په هغه زمانه كښ اوكړو چه دا په مدينه باندے امير وو د وليد بن عبد الملك د طرفنه او پدے زمانه كښ به بنو اميه مونځونه ناوخته كول .

شَيْئا: يعنى لګ تاخير ئے اوكړو تر دے چه مستحب وقت خارج شو او دا مطلب ندے چه نمر پريوتو ته ئے روستو كړو ۲- يا دا چه شيئا نه مراد شيئا قليلا من الزمان دے يعنى په بعض اوقاتو كښ ئے تاخير د عصر اوكړو لكه چه دا په روايت د بخارى كښ راغلى دى : اخر الصلاة يوماً او په روايت د عبد الرزاق (۱/ ۵٤۰) كښ (مرة) لفظ راغلے دے ددے دواړو روايتونو نه دا ظاهريږى چه دا كار ئے يوه ورځ د ورځونه كړے وو، داسے نه چه دا ئے هميشه عادت وو اګرچه دده خاندان پدے تاخير باندے مشهور وو . په روايت د ابوداود كښ ئے سبب د تاخير ذكر دے چه (و كان قاعداً على المنبر) يعنى دا د امور المسلمين په مصالحو مشغول وو .

فَقَالَ لَهُ عُرْوَةُ : دے روايت كښ معمولى اجمال دے په روايت د عبد الرزاق (۱/ ٥٤۱) كښ ددے تفصيل داسے وارد دے چه عروة ورته اوفرمائيل : ما ته بشير بن ابى مسعود حديث بيان كړيدے د خپل پلار نه چه يوه ورځ مغيره بن شعبة د ماز يګر مونځ ناوخته اوكړو او دے پدے وقت كښ د كوفے والى وو نو ابو مسعود پرے ورداخل شو ورته ئے اوفرمائيل : اے مغيره ! تا ته خو معلومه ده چه جبرئيل عليه السلام په نبى عليه السلام باندے نازل شو او هغه ته ئے امامت اوكړه پنځه مونځونه الحديث نو بيا عمر بن عبد العزيز په عروه باندے دا اعتراض اوكړو :

فَقَالَ لَهُ عُمَرُ : اِعْلَمْ مَا تَقُوْلُ يَا عُرْوَةُ ! : اعلم صيغه د امر ده ماخوذ دے د علم نه يعنى ددے خبرے ښه يادونكے شه ! دا څه خبرے كوے په غفلت باندے دا خبره مه كوه (اى كن حافظاً ضابطاً له ولا تقله عن غفلة) ۲- يا دا په فتحه د همزه او كسره د لام شره د اعلام نه دے يعنى ما ته ددے خبر راكړه او حال ئے راته بيان كړه او سند بيان كړه ، بعض وائى د واحد متكلم صيغه ده ليكن دا صحيح نه ده او اوله صيغه بالكل صحيح او واضحه ده .

تَقُوْلُ: دلته عمر بن عبد العزيز د اوقاتو د بيان نه انكار نه دے كړے څكه دا خو هر چا ته معلوم دى نو په عمر بن عبد العزيز باندے څنګه خفى پاتے كيدے شي بلكه (۱)- دلته چه عروة اووئيل : جبرئيل د نبى عليه السلام امام جوړ شويدے نو عمر بن عبد العزيز دا ناشنا اوګڼلو لكه ددے تائيد په روايت د موطأ امام مالك كښ موجود دے (اعلم

ما تُحَدِّثُ به يا عروة اَوَ اِنَّ جبرئيل هو الذى اقام لِرسول الله وقت الصلاة) اودغه شان روايت عبد الرزاق (۱/۱ ٥٤) كښې هم موجود دے۔

(۲) – بعضو دا وئيلى دى: چه عروه د نزولِ جبرئيل خبر بلا اسناد بيان كړو نو عمرؒ دده په جلالتِ شان باندے استبعاد ظاهر كړو چه دومره لوئى امام كيدو باوجود بے سنده حديث بيانوے نو د احتياط فى الروايت په وجه ئے ما تقول لفظ اووئيلو چه هسے نه شائبه د كذب په نبى عليه السلام رانشى ۔ نو ددے نه معلوميږى چه بے سنده خبره د هيچا نه ده قبوله اگركه د عروةؒ پشان جليل القدر امام وى ځكه سند دين دے (ولولا الاسناد لقال من شاء ما شاء مقدمه مسلم) ۔ ليكن اوله وجه ظاهره ده چه عمرؒ په امامت د جبرئيل باندے اعتراض كوى ۔

بيا دلته امام قرطبى يو **اشكال** بيان كړيدے چه د عروه دا قول: ان جبرئيل نزل – پدے كښې په عمر بن عبد العزيز باندے حجت واضح نشو ځكه پدے كښې خو د تعيين د اوقاتو ذكر نشته ؟ ۔

حافظؒ په فتح البارى كښې **جواب** وركړيدے چه پدے روايت كښې اگرچه بيان د اوقاتو ندے شوے اختصاراً مگر پدے قصه كښې په روايت د ابوداود ، دارقطنى، ابن خزيمه، طبرانى كښې تفصيل د اوقاتو موجود دے (قال ابو مسعود فرأيت رسول الله ﷺ يصلى الظهر حين تزول الشمس فذكر الحديث) ۔

۲– يا دا چه عمر بن عبد العزيز ته د امامتِ جبرئيل علم نه وو اگرچه تفاصيل د اوقاتو ورته معلوم وو ځكه چه دا عمل مستمر دے خو صرف دا ورته نه وه معلومه چه اول كښې جبرئيل عليه السلام په خپل فعل سره دا بيان كړيدى، پدے وجه ئے د عروةؒ نه تپوس اوكړو، دارنگه د هغه په گمان د يو وقت په اجزاؤ كښې مفاضله نه وه نو عروةؒ ورته بيان اوكړوّ چه اول وقت بهتر دے آه ۔ دا وجه ده په روايت د عبد الرزاق (۱/۱ ٥٤) كښې دى: (فمازال يُعلم وقت الصلاة بعلامةٍ حتى غاب من الدنيا) يعنى ددے علم نه پس به عمرؒ هميشه د مانځه اوقات په نښه كول چه مثلاً دا اول وقت دے او دا بهتر دے او دا وسط او دا آخر دے او بيا تر مرگه پورے به ئے دا كار كولو ۔

٥ – وَعَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ ﷺ اَنَّهٗ كَتَبَ اِلٰى عُمَّالِهٖ اِنَّ اَهَمَّ اُمُوْرِكُمْ عِنْدِیَ الصَّلٰوةُ، مَنْ حَفِظَهَا وَحَافَظَ عَلَيْهَا حَفِظَ دِيْنَهٗ وَمَنْ ضَيَّعَهَا فَهُوَ لِمَا سِوَاهَا اَضْيَعُ

.ثُمَّ كَتَبَ اَنْ صَلُّوا الظُّهْرَ اَنْ كَانَ الْفَيْئُ ذِرَاعاً، اِلٰى اَنْ يَّكُوْنَ ظِلُّ اَحَدِكُمْ مِثْلَهُ وَالْعَصْرَ وَالشَّمْسُ مُرْتَفِعَةٌ بَيْضَاءُ نَقِيَّةٌ قَدْرَ مَا يَسِيْرُ الرَّاكِبُ فَرْسَخَيْنِ اَوْ ثَلَاثَةً قَبْلَ مَغِيْبِ الشَّمْسِ وَالْمَغْرِبَ اِذَا غَابَتِ الشَّمْسُ، وَالْعِشَاءَ اِذَا غَابَ الشَّفَقُ اِلٰى ثُلُثِ اللَّيْلِ، فَمَنْ نَامَ فَلَا نَامَتْ عَيْنُهُ، فَمَنْ نَامَ فَلَا نَامَتْ عَيْنُهُ، فَمَنْ نَامَ فَلَا نَامَتْ عَيْنُهُ، وَالصُّبْحَ وَالنُّجُوْمُ بَادِيَةٌ مُشْتَبِكَةٌ . رَوَاهُ مَالِكٌ .

ترجمه: د عمر فاروق رضی الله عنه په باره کښې روایت دے چه هغه خپل عاملانو (یعنی د اسلامی سلطنت حکامو) ته دا خط لیکلو سره اولیږلو چه ستاسو په ټولو کارونو کښې مهتم بالشان کارزما په نیز د مانځه کول دی (لهذا) چا چه ددې محافظت اوکړو (یعنی په ارکان او شرائطو سره ئې مونځ اوکړو) او په هغې باندې ئې نګهبانی اوکړه (یعنی هغه ئې همیشه اداء کولو او د ریاء او نمائش په سبب ئې باطل نکړو) نو هغه د خپل دین (د باقی کارونو) نګهبانی او محافظت اوکړو او چا چه هغه ضائع کړو نو هغه به هغه خیز لره چه د مانځه نه سوا دی ډیر ضائع کونکے وی - بیا ئې دا اولیکل چه د ماسپښین مونځ یوګز سوری د زائل کیدو نه واخله تر یو مثل سوری پورې (علاوه د اصلی سوری نه) اوکړئ او د مازیګر مونځ پداسې وقت کښې اوکړئ چه نمر اوچت او سپین وی (او د نمر ډوبیدو ته) دومره وقت باقی وی چه یو سور انسان د ډوبیدو نه مخکښې دوه یا درې فرسخه (یعنی شپږ یا نهه میله) مزل اوکړی او د ماښام مونځ د نمر د ډوبیدو نه پس اوکړئ او د ماسخوتن مونځ د شفق د غائبیدو وقت نه دریمه حصه شپې پورې اوکړئ او څوک چه (د ماسخوتن نه مخکښې) اوده شی (نو الله دې اوکړی) چه د هغه سترګے اودے نشی (درې کرتے ئې دا دعاء اوکړه - او دا ئې اولیکل چه) د صبا مونځ پداسې وقت کښې اوکړئ چه ستوری ګنړ څلیدونکی وی (یعنی تیاره کښې اوکړئ) (مالكؒ) -

تشریح: اَنَّهُ كَتَبَ اِلٰى عُمَّالِهِ : عمّال جمع د عامل ده مراد ترې نه امیران او والیان دی۔

مَنْ حَفِظَهَا وَحَافَظَ عَلَيْهَا : یعنی چا چه ددې حفاظت اوکړو پدې شان چه په شرائطو، ارکانو او آدابو سره ئې اداء کړو حافظ علیها نه مراد مداومت دے او په خپل وقت کښې اداء کول او د هغې اهتمام کول او په ریاء او سمعت سره نه بربادول مراد دی -

حَفِظَ دِیْنَهٗ : یعنی دده دین به پدے مانځه قائمولو سره محفوظ شی۔
۱– ذکر د دین دے مراد ترینه لوئی عمل د دین دے لکه الحج عرفة پشان۔
۲– یا مراد د دین نه باقی امور د دین دی یعنی څوك چه مونځ باندے محافظت کوی نو باقی د دین ټول کارونه به ئے درست او محفوظ شی ځکه چه څوك همیشوالے په مانځه کوی نو دا دلیل دے په صلاحیت د سړی باندے دارنگه الله ورله په باقی دین باندے توفیق د عمل ورکوی۔
فَهُوَ لِمَا سِوَاهَا اَضْیَعُ : ددے ۱– یو مطلب دا دے چه څوك مونځ ضائع کوی نو ددین نور کارونو لره به ډیر ضائع کونکے وی، اضیع صیغه د اسم تفضیل ده د مزیدو نه او دا په مذهب د سیبویه باندے جائز ده ای اکثر تضیعاً لما سواها من امور الدین۔ وجه دا ده چه کله دا اهم او عماد الدین نه قائموی نو نور کارونه به په طریق اولیٰ نکوی۔
۲– یا مطلب دا دے چه مونځ نکوی نو نور اعمال ئے هم ضائع او برباد دی اگرکه هغه کوی ځکه چه حدیث کښ دی چه د بنده په اعمالو کښ به اول مونځ ته کتلے شی که دا قبول شو نو باقی اعمالو ته به ئے کتلے شی او که دا قبول نشو نو باقی اعمالو ته ئے د سره نظر نشی کیدے۔
اَنْ کَانَ الْفَیْئُ ذِرَاعاً: یعنی چه سورے. شرعی یوگز په مقدار شو نو د ظهر مونځ کوئ دا خاص دے په هغه ځائے پورے چه هلته سورے د زوال نه پس یو گز وی، ورنه مقدار د سوری په اعتبار د زمان او مکان سره مختلف راځی مقصد د حدیث دا دے چه د ظهر مونځ وختی کوئ!۔
یَسِیْرُ الرَّاکِبُ فَرْسَخَیْنِ : یو فرسخ درے میله دے۔ بیا (۱) – دا دوه فرسخ د هغه راکب دپاره دی چه سُست وی او درے فرسخ د سریع (تیز) دپاره دی۔ (۲) – یا دوه فرسخ په ژمی کښے مراد دی او درے په اوړی کښے، نو او د تنویع دپاره دے۔ (۳) – بعض وائی او شك د راوی دے چه دوه ئے ذکر کړل او که درے۔ خو په بل روایت د مالكؒ کښے ثلاثة فراسخ راغلی دی په جزم سره خو په هغے کښے د عمر خط ابو موسی اشعری ته دے، دا حدیث دلیل دے چه وقت د مازیگر د مثلین نه مخکښے داخلیږی ځکه چه دا قسم مزل کول هله ممکن دی چه کله د مثل اول پسے متصل د عصر مونځ اوکړے شی۔
فَمَنْ نَامَ فَلَا نَامَتْ عَیْنُهٗ : یعنی څوك چه د ماسخوتن د مانځه نه مخکښے اوده کیږی نو هغه ته د الله تعالی سکون او آرام ورنکړی مقصد دا دے چه د ماسخوتن نه

مخکښې اوده کيدل سبب د خرابيدو د مانځه دے انسان بيرته زر نشي راپاڅيدلے نو عمرؓ سدأ للذريعة دا منع اوکړه او که څوك په رابيداريدو اعتماد لري يائے څوك رابيدارولو دپاره مقرر کړے وي نو بيا جواز لري ليکن بهتر ندي كما سياتي قريباً ۔

وَالصُّبْحَ وَالنُّجُوْمُ بَادِيَةٌ مُشْتَبِكَةٌ يعنې چه ستورې ښکاره وي او يو بل کښې ننوتې وي د وجې د ګڼروالي او ډير رڼړا والي نه ۔ اشتباك : ظهور، اوګڼړوالي او يو بل کښې اختلاط ته وائي ۔

درجة الحديث : رواه مالك في الموطأ عن نافع مولى عبد الله بن عمر وهو لم يلق عمر فهو منقطع ۔

٦ – وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ ﷺ، قَالَ : كَانَ قَدَرُ صَلَاةِ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ الظُّهْرَ فِي الصَّيْفِ ثَلَاثَةَ اَقْدَامٍ اِلٰى خَمْسَةِ اَقْدَامٍ، وَفِي الشِّتَاءِ خَمْسَةَ اَقْدَامٍ اِلٰى سَبْعَةِ اَقْدَامٍ . رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ .

ترجمه : او عبد الله بن مسعود رضي الله عنه فرمائي چه د نبي کريم ﷺ د ماسپښين مانځه اندازه په ګرمئ کښې درے قدمونو نه پنځه قدمونو پورے او په ژمي کښې د پنځه قدمونو نه تر اووه قدمونو پورے وه ۔ (ابوداودؒ، نسائيؒ) ۔

تشريح : كَانَ قَدَرُ صَلَاةِ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ الظُّهْرَ :


الظهر يا مجرور دے بدل دے د صلاة نه يا منصوب دے په تقدير د اعني سره ۔

فِي الصَّيْفِ ثَلَاثَةَ اَقْدَامٍ اِلٰى خَمْسَةِ اَقْدَامٍ : مطلب د حديث دا دے چه په اوړي کښې به ئے مونځ د ماسپښين په داسے اندازه کولو چه د زوال د سوري نه پس به سورے درے قدمه واوړيدو يعنې د هرشي سورے به د هغه د قدمونو په مقدار درے قدمو ته اورسيدو (او د هر انسان قدم به د هغه د سوري په مقدار معتبر وي) او د هر انسان قدم د هغه د قد اوومه حصه وي ځکه د هر انسان د طول قد اووه قدمه وي ۔

او په ژمي کښې به ئے د پنځو نه تر اووه قدمونو په مقدار روستو کولو حاصل دا چه نبي عليه السلام به په اوړي کښې مونځ ناوخته کولو او په ژمي کښې به ئے وختي کولو وجه د فرق دا ده چه په ژمي کښې اصلي سورے زيات وي او په اوړي کښې اصلي سورے کم وي، خصوصاً په مکه او مدينه کښې، امام خطابي وئيلي دي چه علماء فرمائي : په اول د اوړي کښې په حرمينو کښې سورے درے قدمه وي په مارچ مياشت کښې چه دا دريمه

میاشت ده د سنه شمسی نه او ممکن ده چه د نبی علیه السلام دا مونځ په سخته ګرمئ کښې د معهود وقت نه لګ روستو شوې وی نو سورې په دغه وقت بیا پنځه قدمه جوړیږی او هر چه ژمې دې نو په لسمه میاشت (اکتوبر) کښې پنځه قدمه یا لګ څه دپاسه وی او دولسمه (دیسمبر) میاشت کښې اووه قدمه یا څه دپاسه وی نو د ابن مسعود دا قول به پدې اندازه باندې حمل وی صرف پدې اقلیم ثانی کښې چه د خط استواء لاندې راځی یعنی د حجاز ـ او کوم اقالیم او بلاد چه ددې نه خارج دی نو هلته سورې د ژمی او اوړې پدې ترتیب سره نه وی ـ

درجة الحدیث : رواه ابوداود وسکت عنه والنسائی واسناده صحیح کذا قال الالبانی فی صحیح ابی داود رقم (۴۰۰) وتعلیق المشکاة (۱/۱۸۷) واخرجه ایضا الحاکم ـ



باب تعجیل الصلاة

جلتیٔ سره د مونځ کولو بیان

مناسبت : مخکښ باب کښې فرضي اوقات د مانځه ذکر شو اوس مستحب اوقات ذکر کوی ۔ بیا مصنفؒ دا باب مصدر کړو په عنوان د تعجیل الصلاة یعنی مونځ وختی او په جلتیٔ سره اداء کول ۔(۱) – وجه دا ده چه قرآن کریم کښې امر دے ﴿ وَسَارِعُوٓا اِلٰى مَغۡفِرَةٍ مِّنۡ رَّبِّكُمۡ وَجَنَّةٍ – فَاسۡتَبِقُوۡا الۡخَيۡرَاتِ ﴾ ۔ نو آیت تقاضا کوی چه مونځ دِ هم په اول وقت کښې اوکړے شی چه مسارعه راشی مګر ددے آیت نه بعض اوقات نبی علیه السلام مستثنیٰ کړیدی چه هغے کښې تاخیر مستحب دے لکه عشاء او ظهر په اوړی کښې په سخته ګرمیٔ کښې ۔

۲– دویمه وجه دا ده چه دا عنوان د فقه شافعی موافق ذکر شویدے چه د امام شافعیؒ په نیز باندے د تولو مونځونو دپاره اول وقت مستحب دے ۔ د احنافو په نیز تفصیل دے د صبا مونځ په هر موسم کښې ناوخته اداء کول مستحب دی او د عصر مونځ هم په تاخیر سره اداء کول مستحب دی دومره اندازه چه نمر متغیر نشی او د عشاء مونځ هم په تاخیر سره اداء کول پکار دی او د ظهر مونځ په اوړی کښې تاخیر سره او په ژمی کښې په تقدیم سره اداء کول پکار دی مګر پدے کښې به تاسو ته تحقیق معلوم شی چه د صبا مونځ وختی کول بهتر دی او په ظهر کښې په اوړی کښې ابراد سنت دے او په ژمی کښې تقدیم سنت دے ۔ دارنګه د عصر په اول وقت او عشاء ناوخته کول چه ثلث اللیل نه مخکښې وی – مستحب دی او همدا تفصیل بعینه د احادیثو مطابق دے او د تعجیل الصلاة حد دا دے چه د اول وقت په رومبنیٔ حصه کښې اداء کړے شی ۔

ددے باب حاصل دا دے : ذکر الاوقات المستحبة للصلوات الخمس) ۔

الفصل الاول – اول فصل

۱ – عَنۡ سَيَّارِ بۡنِ سَلَامَةَ، قَالَ : دَخَلۡتُ أَنَا وَاَبِیۡ عَلٰى اَبِیۡ بَرۡزَةَ الۡاَسۡلَمِيِّ، فَقَالَ

لَهُ اَبِیْ : کَیْفَ کَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ یُصَلِّی الْمَکْتُوْبَةَ ؟ فَقَالَ : کَانَ یُصَلِّی الْهَجِیْرَ الَّتِیْ تَدْعُوْنَهَا الْاُوْلٰی حِیْنَ تَدْحَضُ الشَّمْسُ، وَیُصَلِّی الْعَصْرَ ثُمَّ یَرْجِعُ اَحَدُنَا اِلٰی رَحْلِهٖ فِیْ اَقْصَی الْمَدِیْنَةِ وَالشَّمْسُ حَیَّةٌ، وَنَسِیْتُ مَا قَالَ فِی الْمَغْرِبِ وَکَانَ یَسْتَحِبُّ اَنْ یُّؤَخِّرَ الْعِشَاءَ الَّتِیْ تَدْعُوْنَهَا الْعَتَمَةَ، وَکَانَ یَکْرَهُ النَّوْمَ قَبْلَهَا وَالْحَدِیْثَ بَعْدَهَا، وَکَانَ یَنْفَتِلُ مِنْ صَلَاةِ الْغَدَاةِ حِیْنَ یَعْرِفُ الرَّجُلُ جَلِیْسَهٗ، وَیَقْرَأُ بِالسِّتِّیْنَ اِلَی الْمِائَةِ . وَفِیْ رِوَایَةٍ : وَلَا یُبَالِیْ بِتَأْخِیْرِ الْعِشَاءِ اِلٰی ثُلُثِ اللَّیْلِ، وَلَا یُحِبُّ النَّوْمَ قَبْلَهَا وَالْحَدِیْثَ بَعْدَهَا . مُتَّفَقٌ عَلَیْهِ .

ترجمه : سیار بن سلامه فرمائی چه زه او زما والد (دواړه) د ابوبرزه اسلمی رضی الله عنه په خدمت کښې حاضر شو ـ زما والد د هغه نه تپوس اوکړو چه نبی کریم ﷺ فرض مونځونه څنګه (یعنی کوم کوم وقت) به کول ـ هغه اوفرمائیل : چه نبی کریم ﷺ د ماسپښین مونځ – چه هغې ته تاسو اول مونځ وایئ – د نمر د زائل کیدو په وقت کولو او د مازیګر مونځ به ئې (په داسې وقت) کولو چه زمونږ نه به یو تن د مانځه نه پس خپل کور ته چه د مدینې په آخر سر کښې وو واپس کیدو او حال دا چه نمر به ژوندې وو (یعنی هغه به لا متغیر شوې نه وو) ـ سیارؒ وائی د ماښام مانځه په باره کښې چه ابوبرزهؓ څه اووئیل هغه ما نه هیر شو او (ابوبرزهؓ وئیلی وو چه) د ماسخوتن مونځ کوم ته چه تاسو عتمه وایئ نبی کریم ﷺ به په تاخیر سره کول بهتر ګڼړلو او د ماسخوتن مانځه نه مخکښې اوده کیدل او د ماسخوتن مانځه نه پس (دنیاوی) خبرې کول به نبی کریم ﷺ بد ګڼړل او د صبا مونځ نه به داسې وقت فارغیدو چه هر سړی به خپل خوا ته ناست شخص پیژندلو او (په صبا مانځه کښې به ئې) د شپیتو آیتونو نه واخله تر سل آیتونو پورې لوستل ـ په یو روایت کښې داسې دی : نبی کریم ﷺ به د(رومبنئ) دریمې حصې د شپې پورې په ماسخوتن کښې تاخیر کولو باندې باك نه کولو او د ماسخوتن مونځ نه مخکښې خوب او د ماسخوتن مانځه نه بعد به ئې خبرې کول نه خوښول ـ (بخاری ومسلم) ـ

د سیار بن سلامه تعارف :

دده کنیه ابو المنهال ده نوم ئې سیار بن سلامه دې د بصرې اوسیدونکې دې او د ثقات

التابعين نه دے د ابوبرزه اسلمیؓ شاګرد دے په سنه (۱۲۹ هـ) کښے وفات دے۔

د ابی برزه رضی اللہ عنہ تعارف :

دده خپل نوم نضله (بفتح النون وسکون القاف) بن عبید د اسلم قبیلے نه دے په کنیه باندے مشهور دے د فتح د مکے نه مخکښے مسلمان شویدے اووه (۷) غزواتو ته حاضر شویدے بیا بصره کښے اوسیدو د خراسان په جنګ کښې هم شریك شویدے او هلته په سنه (۶۵ هـ) کښے وفات دے (٤٦) احادیث ئے امت ته رانقل کړیدی دوه حدیثه بخاری راوړی څلور مسلم او دوه حدیث مشترك دواړو راوړیدی۔

تشریح : كَيْفَ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : دلته سوال د کیفیت د اوقاتو دے نه د کیفیت د صلاة فقط ځکه ورله مفتی جواب د اوقاتو ورکوی۔

فوائد : (۱) – ابو برزه اسلمیؓ د غرمے نه شروع د مانځه اوکړه اتباعاً لرسول الله ﷺ ځکه چه د نبی علیه السلام طریقه هم داسے وه کما مرّ چه جبرئیل ورته اول د ظهر مونځ کړے وو۔

(۲) – **اَلَّتِيْ تَدْعُوْنَهَا الْاُوْلٰى** : پدے عبارت سره تفسیر د هجیر کوی ځکه مفتی لره پکار دی چه په خپل الفاظو کښے کوم مشکل لغت استعمال کړی نو د هغے وضاحت ضروری اوکړی چه مخاطبین پوهه شی۔

(۳) – **اَلْهَجِيْرَ** : بفتح الهاء وتخفیف الجیم ددے او د هاجره یوه معنی ده چه د سختے ګرمۍ وقت ته وائی ظهر ته ځکه هجیر اووئیل شو چه د ماسپښین مونځ وقت هم پدے وقت (غرمه) سره داخلیږی ای صلاة الهجیر۔

اَلْاُوْلٰى : اولیٰ (اولنے) ورته ځکه وائی چه دا اول مونځ دے چه اداء کړے شویدے نبی علیه السلام ته، یا دا چه د ورځے اولنے مونځ دے په عرف کښے ځکه عام خلق ورځ رنړا ته وائی۔

حِيْنَ تَدْحَضُ الشَّمْسُ : ماخوذ دے د دحض نه من باب فتح خویدلو، زائل کیدو ته وائی په روایت د مسلم کښے ئے تفسیر په تزول الشمس سره راغلے دے۔

اختلافی مسئله : د ظهر کوم وقت مستحب دے؟ :

۱ – **امام شافعیؒ** فرمائی په اوړی او ژمی کښے اول وقت افضل دے مګر که څلور شروط متحقق شی نو بیا ابراد (تاخیر) افضل دے (۱) – یو شدید ګرمی وی (۲) – او

ملك هم گرم وی (۳) - او په جماعت سره مونځ اداء کول وی منفرد نه وی (٤) - او عام خلق د لرے ځائے نه راځی نو که دا شرائط موجود شو نو تاخیر افضل دے او ددے تاخیر حد دا دے چه دیوالونو دپاره دومره سورے پیدا شی چه مونځ کونکے د جماعت دپاره په کښے راتلے شی او د وقت د نصف اول نه به نشی روستو کولے هکذا قاله النووی فی المجموع (۳/۶۰) ـ

دلیل : دوئ سره پدے قول باندے عمومات د احادیثو دی ـ

۱- حدیث د ام فروه دے : سئل النبی ﷺ ایّ الاعمال افضل قال الصلاة لاول وقتها ـ رواه الترمذی بسند صحیح کذا قاله الالبانی فی صحیح الترمذی رقم (۱۷۰)ـ

۲- حدیث انس ؓ : ان رسول الله ﷺ صلی الظهر حین زالت الشمس (ترمذی بسند صحیح)

۳- حدیث : روستو د انس بن مالك په حدیث کښے راځی : کنا اذا صلینا خلف النبی ﷺ بالظهائر سجدنا علی ثیابنا اتقاء الحر (متفق علیه).

٤- په روایت د جابر کښے راځی : (کان یصلی الظهر بالهاجرة) متفق علیه .

۵- روایت د خباب ؓ کښے دی : شکونا الی النبی ﷺ حر الرمضا فی جباهنا واکفنا فلم یُشْکِنَا رواه مسلم (۱/۲۲٤) یعنی مونږه نبی علیه السلام ته د کاڼړو د گرمئ شکایت اوکړو چه مونځ روستو کړو هغه زمونږ شکایت زائل نکړونو ددے نه تعجیل ثابت شو ـ

۲ - **قول ثانی** اکثر علماء فرمائی : په اوړی او ژمی کښے فرق دے اوړی کښے به ناوخته د ماسپښین مونځ کولے شی او ژمی کښے به وختی ـ

دلائل : ۱- حدیث د ابن عمر ؓ مرفوعا : اذا اشتد الحر فابردوا بالصلاة فان شدة الحر من فیح جهنم بخاری (۱/۷۶) وسیأتی فی الکتاب . نو دلته امر په ابراد بالظهر باندے راغلے دے ـ معلومه شوه چه په اوړی کښے تاخیر په ظهر مستحب دے ـ

۲- **دویم** حدیث د ابوذر ؓ : قال اذن مؤذن النبی ﷺ الظهر فقال ابرد ابرد او قال انتظر انتظر وقال شدة الحر من فیح جهنم فاذا اشتد الحر فابردوا عن الصلاة حتی رأینا فیئ التلول ـ بخاری (۱/۷۶) واخرجه عن ابی سعید الخدری وابی هریرة بهذا المعنی ـ

۳- دغه شان بل حدیث په باب الابراد بالظهر فی السفر کښے ذکر کړیدے عن ابی ذر الغفاری قال : کنا مع رسول الله ﷺ فی سفرنا فاراد المؤذن ان یؤذن للظهر فقال النبی ﷺ ابرد ابرد ثم اراد ان یؤذن فقال له ابرد، حتی رأینا فیئ التلول فقال النبی ﷺ ان شدة الحر من فیح جهنم فاذا اشتد الحر فابردوا بالصلاة ـ بخاری (۱/۷۶) .

دا تول احاديث صريح دی پدے چه په ظهر کښے ابراد کول یعنی په سخته گرمئ کښے تاخیر سره اداء کول مستحب دی او دا قول راجح دے دا وجه ده چه امام ترمذی رحمه الله په جامع الترمذی (۴۰/۱) کښے پدے مقام کښے په امام شافعی باندے سخت رد کړیدے چه دده قول د ظاهر د حدیث نه خلاف دے او راجح مذهب او اشبه بالاتباع مذهب د جمهورو دے ۔

فائده جديده : امام ترمذی په پنځه مواضعو کښے په امام شافعی باندے رد کړیدے نو ددے نه بطلان د قول د هغه مقلدینو ثابت شو چه هغوی طالبانو ته په ابتداء د ترمذی کښے دا سبق ورکوی چه امام ترمذی شافعی المسلك دے د خپل مذهب مطابق حدیثو نه راوړی نه ! بلکه امام ترمذی خپله یو مجتهد امام دے او د دلیل په بنیاد په امام شافعی باندے کله نا کله رد هم کوی دارنگه دا خبره ثابته شوه چه په یو امام باندے رد کول کله چه د هغه قول ضعیف وی دا د امام په شان کښے گستاخی نده بلکه بعینه د هغه ادب دے او همدا د دین صحیح تصور دے ځکه صحابه کرامو به هم د یو بل په ضعیفه خبره باندے رد کولو لکه چه پدے باندے ډیر واقعات د صحابو دلیل دے ۔

اوس ددے احادیثو ظاهر کښے **تعارض** ښکاری نو ددے تطبیق پکاردے نو امام شافعیؒ ددے تطبیق داسے کوی چه ابراد بالظهر به هله کولے شی کله چه مسجد ته خلق د لرے نه راځی او چه یواځے مونځ کونکے وی، یا خپل نزدے مسجد کښے مونځ کوی نو ددے دپاره مستحب دا ده چه په سخته گرمئ کښے به هم مونځ نه روستو کوی بلکه اول وقت بهتر دے لیکن دده دا تطبیق د حدیث خلاف دے ۔ امام ترمذی فرمائی : فان فی حدیث ابی ذر ما یدل علی خلاف ما ذهب الیه الشافعی فلو کان الامر علی ما ذهب الیه الشافعیؒ لم یکن للابراد فی ذلك الوقت معنیً لانّهم کانوا فی السفر و کانوا مجتمعین الخ .

یعنی حدیث د ابوذر کښے تیر شو چه نبی علیه السلام په حالت د سفر کښے وو او ملگری هم د لرے نه نه راتلل تول په یو ځائے جمع وو او بیا هم نبی علیه السلام مؤذن ته حکم په ابراد بالظهر اوکړو معلومه شوه چه د امام شافعی تطبیق موافق د حدیث نه دے نو دده قول ضعیف دے ۔

اوس به راشو هغه دلائلو ته چه امام شافعیؒ په مذهب کښے تیر شو ۔

نو ددے عمومی یو څو تطبیقو نه کیږی ۔

۱- **تطبيق** : امام شوکانی په نیل الاوطار (۳۸۶/۲) او د هغه نه مخکښے زین

الدین العراقی المتوفی (۸۰۶ھ) په طرح التثریب (۱/۱۵٤) کښې داسې تطبیق کوی: که تطبیق ممکن نشی نو بیا به احادیث د ابراد بالظهر ناسخ وی د هغه احادیثو چه دال دی په تقدیم باندې لکه چه په روایت د خلال کښې چه د مغیره بن شعبه نه مرفوعاً روایت کوی داسې الفاظ دی: کان آخر الامرین من رسول الله ﷺ الابراد ـ صححه ابو حاتم واحمد وعدّهٗ البخاری محفوظاً ـ

علامه عراقیؒ فرمائي: والحدیث الآخر ابین من هذا، خالد بن دینار ابو خلدة قال سمعت انساً یقول کان النبی ﷺ اذا کان البرد بکر بالصلوة واذا کان الحر ابرد بالصلوة.

دویم که اومنو چه تاریخ دمقدم او مؤخر ندې معلوم بیا به هم احادیث د ابراد راجح وی ځکه چه دا متفق علیه روایات دی او حدیث د خبابؓ فقط د مسلم دې او متفق علیه مقدم وی په غیر متفق علیه باندې ـ

۲- **دویم تطبیق**: احادیث د امر بالابراد قولی دی او احادیث د صلاة النبی فی الهاجرة (یعنی تاخیر الظهر) فعلی دی او دا اصولی مسلمه قاعده ده چه په حین د تعارض کښې احادیث قولیه مقدم وی په فعلی باندې ځکه چه په قولی کښې احتمال د تخصیص نه وی او په فعلی کښې دا احتمال وی چه د نبی علیه السلام پورې خاص وی ـ

۳- **تطبیق**: صاحب المرعاۃ (۲/۲۹۹) فرمائی: تقدیم د صلاۃ الظهر جائز دې او رخصت دې او ابراد مستحب دې ـ وکذا فی عمدۃ القاری للعینی (٤/۱۱٦) ایضا ـ

٤- **تطبیق**: یا احادیث د تقدیم الصلاۃ فی الظهر محمول دی په بعض اوقاتو باندې چه کله سفر ته وتل نو وختی ئې اوکړو یعنی په حالت د ضرورت حمل دی او مستحب تاخیر دې ځکه عام حالاتو کښې تاخیر بالظهر راغلی دې ـ

٥- **تطبیق**: یا دا چه هغه روایات د تقدیم صریح ندی ځکه اول حدیث کښې عموم دې چه اول وقت کښې مونځ کول افضل دی دا هله چه نبی علیه السلام روستو نه وی کړې او د نبی علیه السلام نه خو تاخیر او ابراد د ظهر نقل دې ـ نو هغه په ما سیوا د عشاء او ظهر باندې حمل دی کما اشار الیه ابن الحزم فی المحلی (۲/۲۱٤) ـ

دارنګه دویم حدیث د انس نه صرف جواز د صلاۃ الظهر بعد الزوال معلومیږی د استحباب خبره په کښې نشته فتدبر فیه ـ

او دریم حدیث د انس بن مالك (سجدنا علی ثیابنا اتقاء الحر) مستلزم ندې تقدیم لره ځکه چه په حجاز مقدس کښې ګرمی ډیر ناوخته پورې وی نو که انسان ناوخته مونځ

كوى يا په مازيگر كښې كوى نو هم بغير د جامے نه تندے په زمكه نشى لګولے ترڅو چه لاندے جامه ئے نه وى اچولى ولقد جرب فوجد كذلك وقد حسّن هذا التوجيه صاحب المرعاة (۲۹۹/۲) وقبله الحافظ فى الفتح (۳۹۲/۱)

٤- حديث د جابر (كان يصلى الظهر بالهاجره) دليل دے صرف په جواز باندے چه كه چا په سخته ګرمئ كښې مونځ اوكړو نو جائز به وى ځكه چه په ابراد بالظهر باندے امر راغلے دے او هغه قول هم دے۔

٥- دغه شان د خباب بن الارت په روايت كښې چه (شكونا الى النبى حَرَّ الرمضا فلم يُشكِنَا) لفظ راغلے دے نو ددے مطلب دا دے چه صحابو د زيات تاخير مطالبه كوله چه په هغے سره د وقت د خروج احتمال راتلو پدے وجه نبى عليه السلام د هغوى شكايت زائله نكړو تعجيلًا ادا كول مراد ندى۔

سوال: هر كله چه په احاديثو كښې امر بالابراد بالظهر راغلو نو تاسو تقديم ته جائز ولے وايئ؟ امر خو د وجوب دپاره وى؟۔

الجواب: حقه ده ليكن چه كله قرينه صارفه د وجوب نه موجوده وى نو بيا به د وجوب دپاره نه وى۔ امام ابن الحزم وائى: مونږ دا امر بالابراد حمل نكړو په وجوب باندے ځكه چه حديث د خباب بن الارت كښې جواز د تقديم الظهر راغلے دے (فلم يشكنا) نو دا قرينه ده چه امر د وجوب دپاره ندے محلى (۲۱٤/۲)۔

وَيُصَلِّيَ الْعَصْرَ ثُمَّ يَرْجِعُ :

د مازيګر په مستحب وقت كښې اختلاف دے:

۱- **د جمهور امت** رائے دا ده چه د مازيګر په مانځه كښې تعجيل (وختى كول) افضل دى يعنى د مثل اول داخليدو نه پس د اذان او اودس او دوه ركعاتو په مقدار وقفے نه پس مازيګر مونځ كول پكار دى۔

او دا قول د ائمه ثلاثه (مالكؒ، شافعیؒ، احمدؒ) اسحاقؒ، ابن المباركؒ، اوزاعیؒ، ليث رحمهم الله دے او امام ترمذى وائى: دا قول د عمر، عبد الله بن مسعود، عائشه او انس بن مالك رضى الله عنهم او د تابعينو دے۔

۲- **دويم قول د امام ابوحنيفةؒ** دے چه د مازيګر مستحب وقت تاخير دے تر دے چه نمر كښې تغير رانشى ځكه چه هغه په ماسپښين كښې په مثلين باندے قائل دے

پدے وجه د ماز يگر مونځ ناوخته مستحب گنړي مګر دده سره پدے قول باندے **صريح دليل** نشته صرف دوه روايتونه دي چه هغه هم مجمل دي ـ

١ – يو روايت د حديث القيراط دے كما تقدم ذكره في وقت صلاة الظهر في المثلين) چه د هغے نه استدلال كيدے شي چه د ماز يگر وقت كم دے په نسبت د ظهر تر عصر پورے ليكن ددے جوابونه مخكښے تير شويدي چه دا استدلال ضعيف دے ـ

دويم دليل : روستو فصل ثالث كښے د ام سلمه حديث راروان دے چه هغے به فرمائيل : كان النبي ﷺ اشد تعجيلاً للظهر منكم وانتم اشد تعجيلا للعصر منه رواه الترمذي واحمد ـ يعني نبي عليه السلام به ستاسو نه د ماسپښين مونځ وختي كولو او تاسو د هغه نه د ماز يگر مونځ وختي كوئ نو ددے نه افضليت د تاخير د ماز يگر ثابت شو ـ

الجواب ١ : دا روايت مجمل دے ځكه چه دا خطاب به يا صحابو ته وي يا تابعينو ته خو ظاهره دا ده چه دا خطاب د ام سلمه تابعينو ته دے بيا دا پته نه لگي چه هغوي به څه وخت د ماز يگر مونځ كولو خو د ام سلمه د رد نه معلوميږي چه هغوي به دومره وختي كولو چه د نبي عليه السلام د مستحب وقت نه به ئے هم مخكښے كولو ځكه پرے ام سلمه انكار كوي چه قبل الوقت مونځ مه كوئ !

٢ – دارنگه دا حديث موقوف دے او مرفوع احاديث پدے سره نشي رد كولے ـ

٣ – دارنگه دا د حاضرينو پورے خاص دے ځكه چه مونږ ته معلومات نشته چه هغوي به څه وقت دا مونځ كولو او كوم روايت كښے د هغے تعيين هم ندے نقل نو دا روايت په بيان د تاخير د صلاة العصر كښے بالكل مجمل دے او بيان ته محتاج دے ـ

٤ – علامه مباركفوري په تحفة الاحوذي (١٤٩/١) كښے د علامه عبد الحي لكهنوي نه دا جواب نقل كوي : واما الحديث الثالث فانما يدل على كون التعجيل في الظهر اشد من التعجيل في العصر لا على استحباب التاخير آهـ . يعني پدے حديث كښے صرف ددے خبرے دليل دے چه په ظهر كښے تعجيل زيات وو د عصر د تعجيل نه او دا ترے نه معلوميږي چه گنے د عصر مونځ نا وخته كول مستحب دي آهـ ـ

بل طرف ته د جمهورو سره په استحباب د تقديم او تعجيل د ماز يگر باندے متواتر روايات دي چه په وختي كولو باندے صريح دي ـ

دلائل الجمهور :

١ – **يو** دا حديث **دليل** دے چه پدے كښے د ماز يگر د مانځه نه روستو يو تن د مدينے

په آخر سر کښې خپل کورته تلو او نمر به بیا هم ژوندے وو (والشمس حیة) معنی دا ده چه بیضاء نقیة قویة الاثر حرارةً ولوناً وانارةً وشعاعاً ـ یعنې تك سپین صفاء او په ګرمائش اورنګ ، پړق او شعاعو کښې به قوی اثر والا وو نو دا حدیث دلیل دے چه د مازیګر مونځ په اول وقت کښې ادا کول مستحب دی ځکه چه غالباً دا نشی کیدے چه یو تن دے خپل کورته چه د مدینې په آخر سر کښې وی او پس د مانځه نه دِ لاړ شی او نمر دِے لا ژوندے وی پس د مثلین نه لکه دا په بعض روایاتو کښې راغلی دی چه بعض عوالی د مدینې نه شپږ میله وړاندے وو (او بعض اته میله) ـ نن صبا دِے څوك دا تجربه اوکړی چه په مثلین کښې د مازیګر مونځ اوکړی او بیا دِے شپږ او اته میله پیاده مزل اوکړی او نمر دِ همغه شان ژوندے تازه وی ـ داسے هیڅکله نشی کیدے ـ

٢- دلیل : عن عائشة مرفوعاً : صلی رسول الله ﷺ العصر والشمس فی حجرتها لم یظهر الفیئ من حجرتهَا اخرجه الترمذی (١/٥٣) وابن ماجه یعنې نمر به لا دیوالونو ته نه وو ختلے بلکه په زمکه به لګیدو اوچت به ولاړ وو ـ دادلیل دے چه مازیګر مونځ به ئے وختی کولو ځکه چه کله نمر په ښکته کیدلو وی نو په دیوالونوئے سورے ښکاری ـ

٣- دلیل : حدیث د انس راروان دے : قال کان رسول الله ﷺ یصلی العصر والشمس مرتفعة حیة فیذهب الذاهب الی العوالی والشمس مرتفعة وبعض العوالی من المدینة علی اربعة امیال وغیره وفی روایة غیر الصحیحین ستة امیال کما فی المجمع (١/٣٠٧) وتحفة الاحوذی (١/١٤٩) وفی معجم البلدان : واقصی العوالی علی ثمانیة امیال ـ

٤- دلیل : د رافع بن خدیجؓ په روایت کښې دی : کنا نصلی العصر مع رسول الله ﷺ ثم تنحر الجزور فتقسم عشر قسم ثم تطبخ فناکل لحماً نضیجاً قبل مغیب الشمس ـ بخاری (١/٧٨) ومسلم (١/٢٢٥) وسیأتی فی الکتاب ـ

٥- دلیل : حدیث د انس بن مالك کښې دی : تلك صلاة المنافق یجلس یرقب الشمس حتی اذا کانت بین قرنی الشیطان قام فنقر اربعاً لا یذکر الله فیها الا قلیلاً مسلم (١/٢٢٥) وابوداود (١/٦٥) والترمذی (١/٥٤) ـ

دا ټول احادیث دلیل دے په استحباب د تقدیم د صلاة العصر باندے او صحابه کرامو چه دا اندازے ذکر کړیدی نو د هغوی مقصد هم دا دے چه نبی علیه السلام به دا مونځ ډیر وختی کولو او دا وعیدونه د تاخیر د مازیګر د مانځه هم دلالت کوی په د تقدیم باندے نو ولے یو مسلمان خپل مونځ د منافقانو د مونځ مشابه کړی که څوك د الله نه یریږی نو دا

حديثو نه به په هغه باندې ډير اثر کوي او ډيره خطره به محسوسوي چه هسې نه زمونږ مونځونه د منافقانو مشابه نشي چه ناوخته ئې کوو ـ

بلـه دا چـه بل طرفته د مازيگر د مانځه په تاخير باندې څه صحيح صريح حديث هم نشته نو ولې مسلمان ديو عالم ديو ضعيف قول د وجې نه خپل مونځو نه برباد کړي ـ

صاحب د هدايه (٨٣/١) د مازيگر مانځه د تاخير د استحباب دپاره دا علت ذكر كړيدې چه په دې كښې تكثير د نوافلو راځي، د نفلو دپاره وقت زيات پاتې كيږي ليكن علامه عبد الحي اللكهنوي په التعليق الممجد كښې ددې ترديد كړيدې چه دا تعليل دې په مقابلـه د نصوص صريحه كښې چه دال دي په افضليت د تعجيل باندې وهي كثيرة مروية في الصحاح الستة وغيرها انتهىٰ .

بلـه دا چـه د نفلو دپاره وقت خو مخكښې هم زيات دې نو فرض مونځ د نفلو د خاطره څنگه د خپل مستحب وقت نه روستو كړې شي ـ كه څوك نفل كول غواړي نو هغه دې وختي حاضري وركوي نو دا تعليل بې ځايه دې ـ

عـلامه زين الدين العراقيؒ په طرح التثريب (١٦٦/١) كښې په امام طحاوي باندې رد كوي چه ده پدې مسئلـه كښې ډير د تعصبِ مذهبي نه كار اخستې دې چه قصداً ئې په صريح رواياتو كښې تاويلاتِ فاسده كړيدي او ددې الفاظو نه (انه كان يصليها والشمس مرتفعة بيضاء نقية قدر ما يسير الراكب فرسخين او ثلاثة) نـه ئې دا مطلب اخستې دې چه دا دليل دې په تاخير د عصر باندې بيا فرمائي وهذا من اعجب العجب والله اعلم ـ يعنې دا ډيره عجيبه خبره ده چه دا روايت په تقديم د صلاة العصر دلالت كوي او هغه ترې په تاخير باندې استدلال كوي ـ

صاحب د العرف الشذي چه كوم روايات په استحباب د تاخير د صلاة العصر باندې ذكر كړيدي هغه ټول صاحب د تحفة الاحوذي (١٤٩/١) رانقل كړيدي او بيائې د هغې ښه تحقيق بيان كړيدې او دائې وئيلي دي چه اول خو دا حديثونه بې حوالې دي او په بعضو كښې په ابوداود حوالـه ده خو هغې كښې نشته او بعض ضعيف دي او بعضو كښې د سره دلالت نشته په تاخير د صلاة العصر باندې ـ

بيا فرمائي : ولا تعجبوا من هؤلاء المقلدين انهم كيف يتركون الاحاديث الصحيحة الصريحة في تعجيل العصر ويتشبثون بمثل هذا الحديث فان هذا شان التقليد آهـ ـ دارنگه فرمائي : ولم ار حديثا صحيحاً صريحاً يدل على افضلية تاخير العصرآهـ .

خلاصه : ددے صحیح صریح احادیثو نه ثابته شوه چه افضل او مستحب دا ده چه د مازیگر مونځ وختی اوکړے شی دے دپاره چه انسان په هغه وعید کښے رانشی چه (تلک صلاة المنافق) د مازیگر مونځ داسے ناوخته کوی چه نمر زیړ شی او بیا پاخی څلور ټونگے د چرگ پشان اووهی دیته د منافق مونځ وئیلے شویدے او زمونږ ددے زمانے مونځ ته هم فکر اوکړئ گویا کښے نبی علیه السلام زمونږ د زمانے حال بیانوی ۔ نه ! بلکه محمدی مونځ پکار دے چه په اول وقت کښے وی ۔

او عجیبه خبره خو دا ده چه پدے مسئله کښے سوئ د امام ابوحنیفه نه هیڅ اختلاف ندے کړے او څه دلیل هم ورسره نشته لیکن تقلید مقلدینو لره د ډیر خیر نه محروم کړیدی صریح روایات پریږدی او د یو ضعیف قول تابعداری کوی آخر دا کوم دین او کوم انصاف دے ؟ آیا په مونږ باندے د نبی علیه السلام نه ماسیوا د نورو علماؤ تقلید چا واجب کړو ؟ چه د هغه دپاره مونږ نصوص وران کړو او تاویلات په کښے اوکړو نبی علیه السلام واجب الاتباع دے بل رسول نشته چه هغه هم واجب الاتباع شی بلکه د علماؤ خبره به مشروط منلے شی که د حق موافقه وه نو قبوله به وی او که نه وی نو بیرته به په هغه باندے رد کولے شی سره د احترام د هغه نه څکه مونږ صرف په تابعداریٔ د الله او د رسول مکلف یو ﴿ اِتَّبِعُوْا مَآ اُنْزِلَ اِلَيْكُمْ مِّنْ رَّبِّكُمْ وَلَا تَتَّبِعُوْا مِنْ دُوْنِهٖٓ اَوْلِيَآءَ قَلِيْلًا مَّا تَذَكَّرُوْنَ ﴾ - ﴿ وَّلَا يُشْرِكُ فِيْ حُكْمِهٖٓ اَحَدًا ﴾ مطلق حکم به صرف د الله او د رسول چلیږی او دا د فکر خبره ده چه په دومره لوئی د خیر امت کښے یو انسان ټول دین د یو امام پسے اوتړی د هغه خبره د کاڼړی کرخه گڼړی او نور امامان دین، صحابه کرام او احادیث نبویه سره ئیے څه کار نه وی او وائی : قال قال بسیار است مارا قول ابوحنیفه کافی است یا وائی : طلب الاحادیث حرفة المفالیس آهـ فتاوی عالمگیری (۲۷۷/۵) ۔

حدیث طلب کول د فقیرانو کار دے مونږ خو د حدیثونو نه ماړه یو ۔

مقلدینو ته زمونږ دا د خیر خواهئ دعوت دے چه راشئ د تقلید نه توبه اوباسئ دا یوه لویه فتنه ده او د شیطان جال دے انسان د لوئی خیر نه محرومومی د یو عالم دپاره به احادیثو ته پیوندونه وراچوی غلط تاویلات به پکښ کوی او داسے وائی چه هر آیت او حدیث چه زمونږ د مذهب په خلاف راشی هغه به یا منسوخ وی یا به پکښے تاویل کولے شی لکه دا خبره کرخی په خپل کتاب اصول الکرخی (۳۷۳) کښے ذکر کړیده نو رائځ چه د قرآن او سنت تابعداری شروع کړو که د هر چا سره وی هغه به قبلوو او خصوماً د

مساجدو امامانو ته دا دعوت دے چه هغوی دے په نظر د انصاف سره دلائلو کښے فکر اوکړی او د مازیګر مونځو نه دے وختی کوی ورنه دا د قیامت د علاماتو نه ده چه د مازیګر مونځ به ناوخته کولے شی۔

بعض مقلدین دا بهانه کوی چه نبی علیه السلام د مازیګر مونځ ځکه وختی کولو چه ضرورت وو، صحابه کرام به د لرے لرے نه راتلل نو په واپس تلو کښے به تکلیف وو یا وائی چه دا ټول احادیث واقعة حال لا عموم لها باندے حمل دی د نبی علیه السلام په زمانه کښے حالی او وقتی طور سره دا واقعات راغلی دی او ټول امت دپاره عام حکم ندے۔

یا وائی : د ذهاب الی العوالی حکم خاص د هغه خلقو په باره کښے وو چه هغوی به سریع السیر وو یا به په اسونو باندے په جلتئ تلل او په حدیث د ننحر الجزور کښے وائی چه د تاخیر فی العصر باوجود هم دا کار کیدے شی د ماهر طباخینو په نزد پدے کښے استبعاد نشته لکه دا خبره صاحب تنظیم الاشتات ص (٢٣١/١) لیکلی ده۔

ددے **جواب** دا دے چه دا د صریح احادیثو په مخکښے بهانے پیدا کول دی ځکه چه د نبی علیه السلام هر حالت زمونږ او ستاسو دپاره دین دے که هغه چرته دا د ضرورت په وجه کړے وو نو هغه به نورامت ته وئیلی وے چه زه د مازیګر مونځ د ضرورت د وجے نه وختی کوم ورنه تاخیر مستحب دے دا څنګه ضرورت دے چه نه ختمیږی یوه ورځ هم په مستحب باندے عمل اونکړے شو او نبی علیه السلام هیڅ کله ناوخته مونځ اونکړو۔

دارنګه واقعة حال لا عموم لها د احنافو یو داسے جواب دے چه ډیر احادیث چه د هغوی د مذهب مخالف راشی نو هغوی ئے پدے جواب باندے رد کوی چه دا یوه وقتی طور باندے واقعه شویده او عموم پکښے نورامت دپاره نشته دا خبره خطا ده ځکه چه عمل د نبی علیه السلام به په عموم باندے حملولے شی حتی یرد دلیل الخصوص او دلته دلیل د خصوص په کوم حدیث کښے راغلے دے ؟ نشته۔

او په ذهاب الی العوالی کښے تخصیص د هغه خلقو پورے کول چه سریع السیر وو دا یے ځایه مردوده خبره ده ځکه چه اول خو په احادیثو کښے دا بیان نشته چه مونږ به د مازیګر نه پس په اسونو تللو یا به مونږ کښے چه کوم تیز رفتار خلق وو هغه به اطراف د مدینے ته تلل۔ دویم دا چه سیاق د دغه روایت دلیل دے چه د صحابه کرامو مقصد دا دے چه مونځ د مازیګر به وختی کیدلو او دلیل پدے باندے (والشمس مرتفعة حية – او بيضاء نقية) دے چه یو تن به د مدینے آخر سر ته لاړو نو هم لا نمر به اوچت ولاړ وو او تغیر به

پکښې نه وو راغلي ـ
دارنګه په روايت د رافع بن خديج کښې هم دا مقصد دے چه مونږ به دومره وختي مونځ اوکړو چه اوښ به ذبح کړے شو بيا به لس حصے کړے شو او بيا به يوه حصه په کټوئ کښې واچولے شوه او هغه به پاخه شوه او مونږ به اوخوړله او بيا به هم لا نمر نه وو پريوتے نو اوس دے کښې دا وئيل چه د ماهر طباخينو په نزد پدے کښې استبعاد نشته دا د صحابو مقصد ورانول دی ځکه د صحابه کرامو مقصد د مازيګر د مانځه وختی والے بيانول دی ـ ولے صحابه ټول طباخين وو او قصابان وو چه دومره زر زر دا کار اوکړے شی بلکه دا چه که يو ماهر قصاب هم دا کار کوی نو هم د اوښ په ذبح کولو او بيا په ټوټه کولو او بيا په پخولو او خوړلو باندے خو کم از کم دوه دوه نيمے درے ګينټے لا زياتے لګی ، د اختر په ورځ د قصابانو حال اوګوره چه په درے ګينټو کښے خو يو غوا قدرے ټکړے کولے نشی بيا لا پخول او خوړل، خو دا هسے د حديثو مخے ته عذرونه لټول او خندونه پيدا کول دی او په خود ساخته مذهب سره احاديث رد کول دی که تاسو په صحيح احاديثو کښے دا تاويلات باطله کوئ نو آيا تاسو سره کوم صحيح صريح قوی حديث شته چه نبی عليه السلام د مازيګر مونځ ناوخته ادا کړيدے د اوسنی احنافو پشان مونځ ئے کړے دے – ابداً نشته په اقرار د محققين احنافو ـ
قانون خو دا دے چه يو طرف ته صحيح صريح حديث وی او بل طرفته ددے مخالف غير صريح وغيره حديث راشی نو که خلق هغے کښے تاويل اوکړی بيا هم يوه خبره ده او که تاسره هيڅ حديث نه وی او د بل چا د صحيح حديث جوابونوته د ملا تړلے ده ـ لکه دا کار په ټوله فقه حنفی کښے شويدے الا ما شاء الله ـ نو دا کوم انصاف دے ؟ ـ خپل ګريوان کښے فکر اوکړه ! ـ
که بالفرض مونږ اومنو چه د مازيګر مونځ ناوخته شويدے نو آيا دومره ناوخته شويدے لکه چه نن صبا مقلدين ئے کوی چه د مسجد نه رابهر شے نو نمر زيړ وی د نمر تاؤ ختم وی يوه ګينټه يا درے پاوه يا پنځه پاوه ماښام ته پاتے وی نو بيا ددے الفاظو معنی ډ دوی اوکړی چه (والشمس في حجرتها لم يظهر الفيئ في حجرتها – يا والشمس مرتفعة بيضاء نقية) چه نمر لا سورے په ديوالونو نه وو پيدا کړے او نمر اوچت ولاړ وو تک سپين او صفا وو ـ او دا شان مونځ نن صبا په سعودی عربو کښے کيږی ـ
خو مقلدينو ډير خير د لاسه ورکړو چه صلاة الوسطیٰ چه د هغے په حفاظت باندے

خصوصي امر راغلے دے هغه ئے برباد کړو یو خوئے مکروه وقت کښے کوی بل تونگے وهی فالی الله المشتکیٰ من سوء صنیع هؤلاء نسئل الله السداد والهدایة لنا ولهم .

وَكَانَ يَسْتَحِبُّ أَنْ يُؤَخِّرَ الْعِشَاءَ : یعنی نبی علیه السلام به د ماسخوتن مونځ تاخیر سره مستحب گڼرلو ۔

د ماسخوتن د مونځ په مستحب وقت کښ اختلاف دے

١- حافظ ابن حجر په فتح الباری (٢/٣٩) کښے فرمائی : د **امام مالک، احمد** ، اسحاق، لیث، طحاوی او اکثر صحابه کرامو اوتابعینو په نیز په عشاء کښے تاخیر کول مستحب دی تر ثلث اللیل (د شپے رومبنئ دریمے حصے) پورے

٢- **او د اکثر شوافعو** په نزد قبل ثلث اللیل پورے مستحب دے ۔

٣- **د امام شافعیؒ** قول قدیم دا دے چه عشاء کښے تعجیل کول افضل دی لکه د هغه په نزد د ټولو مونځونو اول وقت افضل دے کما قال النووی فی المجموع (٣/٥٦) د امام شافعیؒ سره څه خاص دلیل نشته سِوا د یو حدیث نه چه نعمان بن بشیرؓ فرمائی : انا اعلم الناس بوقت هذه الصلاة صلاة العشاء الآخرة کان رسول الله ﷺ یصلیها لسقوط القمر لثالثة۔ رواه ابوداود والترمذی باسناد صحیح کما قال النووی فی المجموع وابن العربی فی عارضة الاحوذی وسیأتی فی الفصل الثانی .

یعنی نبی علیه السلام به د ماسخوتن مونځ په داسے وقت کښے کولو چه د میاشتے د دریمے شپے سپوږمئ به پریوتله نو دا دلیل دے چه د ماسخوتن مونځ به ئے وختی کولو ۔

دلائل الجمهور : د جمهورو سره ډیر دلائل دی :

١- حدیث د ابو هریره کښے دی مرفوعاً : لولا ان اشق علی امتی لامرتهم ان یؤخروا العشاء الی ثلث اللیل او نصفه) رواه الترمذی وقال حدیث حسن صحیح .

٢- او په روایت د ابوداود کښے دی : لولا ان اشق علی المؤمنین لامرتهم بتاخیر العشاء وبالسواك عند کل صلاة ۔

٣- په روایت د جابر بن سمرةؓ کښے دی : کان رسول الله ﷺ یؤخر صلاة العشاء الآخرة رواه مسلم (١/٢٢٩) ۔

٤- په روایت د ابو هریره کښے دی : کان رسول الله ﷺ یستحب ان یؤخر العشاء ۔ متفق علیه .

٥- وعن ابن عمرؓ قال : مکثنا ذات لیلة ننتظر رسول الله ﷺ لصلاة العشاء الآخرة فخرج

الينا حين ذهب ثلث الليل اوبعده فلا ندری اشئ شغله فی اهله او غیر ذلك فقال حين خرج انکم تنتظرون صلاة ما ينتظرها اهل دين غيركم ولولا ان تثقل علی امتی لصليت بهم هذه الساعة ثم امر المؤذن فاقام الصلاة وصلی ۔ رواه مسلم بلفظه (۲۲۹/۱) والبخاری بعضه انظر المجموع (۵۷/۳) .

دا ټول احاديث او ددې پشان نور ډير احاديث دلالت کوی په افضليت د تاخير د ماسخوتن مونځ ۔ پاتې شو حديث د نعمان بن بشير نو دا حديث فعلی دے او د جمهورو حديثو نه قولی دی پدے وجه د جمهورو دلائل به راجح وی ۔

۲– دويم دا چه د نعمان په حديث کښې دا کار د نبی عليه السلام دواماً نه وو بلکه بياناً للجواز کله کله شويدے د مصلحت په غرض، لکه دليل پدے باندے حديث د بخاری (۸۰/۱ – بشرح الفتح (۳۷/۲) دے په روايت د جابر بن عبد الله کښې دی : والعشاء اذا كثر الناس عَجَّلَ واذا قَلُّوا اَخَّرَ – وفی روايةٍ أخرىٰ فی باب وقت المغرب : والعشاء احياناً واحياناً اذا رآهم اجتمعوا عجَّلَ واذا رآهُمْ اَبطَئُوا اَخَّرَ ۔ الحديث .

يعنی نبی عليه السلام به مصلحت ته کتل کله چه به خلق حاضر وو نو بيا به ئے وختی کولو او کله چه به خلق نه وو راجمع شوی نو بيا به ئے ناوخته کولو نو ددے نه معلوميږی چه تاخير افضل دے ۔ ځکه پدے کښې تصفيه د قلب ډيره وی د شواغلو د دنيا نه او بل پدے کښې د ماسخوتن د مانځه نه بعد ګپ شپ لګولو نه احتراز هم راځی ځکه چه کله مونځ ناوخته اوشی نو انسان بيا خبرو اترو ته وزګار نه وی خوب ورځی ۔

مګر کله چه په تاخير کښې مفسدت وی يعنی جماعت کميږی يا ماشومانو، بوډاګانو، اومريضانو ته تکليف وی نو بيا تقديم پکار دے کما اشار اليه فی الروضة الندية .

حافظ په فتح الباری (۳۹/۲) کښې وائی : والمختار من حيث الدليل افضلية التاخير ومن حيث النظر التفصيل آھ۔ يعنی د دليل په اعتبار سره تاخير افضل دے او د حالت د مصلينو په اعتبار سره تفصيل بهتر دے کما مرّ منا ۔

اَلَّتِيْ تَدْعُوْنَهَا الْعَتَمَةَ : عتمه په فتحه د عين او تاء سره هغه تيارے ته وائی چه د شفق د غيبوبت نه پس راځی ۔

ماسخوتن مانځه ته د عتمه وئيلو حکم

د ماسخوتن د مانځه دوه نومونه احاديثو کښې راځی (۱) – صلاة العشاء (۲) – صلاة العتمة ليکن په بعضو احاديثو کښې د عتمه لفظ استعمالولو نه منع راغلے ده لکه مسلم

(۲۲۹/۱) کښې په روایت د ابن عمرؓ کښې دي مرفوعاً : لا يغلبنكم الاعراب على اسم صلاتكم العشاء فانها في كتاب الله العشاء فانها تعتم بحلاب الابل . يعنى جاهليت والو به ماسخوتن ته عتمه وئيله نو نبي عليه السلام اوفرمائيل باندېچيان جاهلان دې په تاسو باندې غلبه اونکړي چه عشاء ته عتمه وائي بلکه تاسو ورته عشاء وايئ ځکه چه قرآن کريم کښې ورته عشاء وئيلې شويدې او جاهليت والو به ورته ځکه عتمه وئيله چه هغوی به د اوښو پئ لښل روستو کول سختې تيارې ته او ناوخته به ئې لښل نو ددې وجې نه عبد الله بن عمرؓ چه ددې حديث راوی دې هغه ديته حرام وائي لکه ابن عمرؓ چه به کله د خلقو نه عتمه لفظ واوريدلو نو چغه به ئې کړه او غصه به شو كما رواه الشافعي في رواية ابن عمرؓ كذا في فتح الباري (۳۵/۲) وكان ابن عمر اذا سمعهم يقولون العتمة صاح وغضب .

او بعض سلف ئې جائز ګڼړي لکه ابن ابي شيبه د ابوبكر صديقؓ نه جواز نقل کړيدې او لکه امام بخاري په خپل صحيح کښې باب قائم کړيدې باب ذكر العشاء والعتمه ومن رآه واسعا۔

۳- او بعض سلف وائي چه دا خلاف الاولىٰ دې او همدا قول امام بخاري هم غوره کړيدې دليل د جواز دا دې چه صحيح احاديثو کښې ددې نوم عتمه هم راغلې دې لکه حديث کښې دي : لو يعلمون ما في الصبح والعتمة لاتوهما حبواً ۔ بخاري (۸۰/۱) وشرح مسلم (۲۲۹/۱) د افضليت د عشاء لفظ دليل امام بخاري دا ذکر کوي : والاختيار ان يقول العشاء لقوله تعالى : وَمِنۢ بَعۡدِ صَلَاةِ ٱلۡعِشَآءِ ۔

يعنى عشاء لفظ ځکه غوره دې چه پدې کښې موافقت د قرآن دې چه هغې کښې د عتمه لفظ ندې راغلې بلکه عشاء لفظ استعمال دې او امام نووي هم دا قول راجح ګڼړي ددې وجې نه په شرح مسلم (۲۲۹/۱) کښې جواب کوي د هغه حديث نه چه په هغې کښې عتمه استعمال شويدې فرمائي : والجواب عنه من وجهين احدهما انه استعمل لبيان الجواز وان النهي عن التنزيه لا للتحريم والثاني يحتمل انه خوطب بالعتمة من لا يعرف العشاء الخ .

حاصل ئې دا دې چه د عتمه لفظ استعمال د بيان د جواز دپاره دې او نهي محمول ده په تنزيه باندې او حرام نه ده دويم دا چه پدغه حديث کښې عتمه ئې ځکه ذکر کړه چه عربو عشاء لفظ غالباً د ماښام دپاره استعمالولو نو که دلته د عشاء لفظ استعمال شوې وې نو تو هم د خلاف المراد راتلو پدې وجه هغوی ته د هغوی د حال موافق عتمه لفظ استعمال شو چه دا صريح دې په ماسخوتن کښې په ماښام باندې ئې اطلاق نه کيږي يعنى عتمه

لفظ للضرورة استعمال شویدے لقصد التعریف لا لقصد التسمیه دے او بهتر عشاء لفظ دے۔

امام ابو الحسن السندهیؒ په حاشیه د مسلم (۲۲۹/۱) کښې ښه خبره کړیده چه مقصود د حدیث نهی ده د غلبه د استعمال د لفظ عتمه په ځائے د عشاء باندے پداسے طریقه چه د اعرابو الفاظ او لسان د مسلمانانو په اصطلاحاتو باندے غالبه شی دا منع ده نو دا منافی نده ددے سره چه عتمه لفظ دعشاء دپاره علی قلةٍ استعمال شی لکه په بعض احادیثو کښې دا استعمال شویدے۔ والله اعلم۔

او پدے روایت کښې دا لفظ چه التی تدعونها العتمه کښې اشاره ده ترك ددے لفظ ته فتدبر!۔

وَلَا يُحِبُّ النَّوْمَ قَبْلَهَا وَالْحَدِيْثَ بَعْدَهَا : یعنی نبی علیه السلام به د ماسخوتن مانځه نه مخکښې خوب کول بد ګڼړلو۔

فائده فائقه : خوبونه یو خو قسمه دی

۱ - **د شپے خوب** کول نو دے کښې سنت طریقه دا ده چه انسان وختی اوده شی یو خوبه د ماسخوتن مانځه نه پس په خبرو اترو کښې اخته نشی کوم چه منهی عنه دی دویم دا مدد ګار وی په تهجدو باندے او د صحت په ښه کیدو باندے۔

۲ - **دویم د سحر** مانځه نه پس خوب کول : نو دا مکروه دی الا للضرورة ځکه چه د نبی علیه السلام عملی سنت دا دی چه هغه به د سحر مانځه نه پس پرلتئ اووهله او د نمر خاته پورے به ناست وو چه ښه به رابنکاره شو (حتی تطلع الشمس حسناء ـ ابوداود (۳۱۸/۲) وسيأتى فى الكتاب ۔ او پدے حال کښې به ئے ذکر اذکار تلاوت کولو او پدے باره کښې د صحابه کرامؓ آثار ډیر زیات دی ډیر فضائل ئے راغلی دی لکه حدیث د انسؓ کښې دی چه د سحر مانځه نه پس تر نمر خاته پورے ذکر اذکار کول د څلور غلامانو چه د اسماعیل علیه السلام د اولادو نه (عربی) وی - آزادولو نه ما ته ډیر محبوب دی۔ دارنګه د حج او عمرے ثواب دے كما فى حديث انس عند الترمذى (۵۹۱/۱)۔

پدے وقت کښې رزق تقسیمیږی لکه نبی علیه السلام په فاطمه باندے تیر شو نو هغه ئے په خپه اوخوزوله ورته ئے اوفرمائیل : یا بنية قومى فاشهدى رزق ربى ولا تكونى من

الغافلين فانه يقسم ارزاق الناس ما بين طلوع الفجر الى طلوع الشمس ـ كنز العمال (۱۵/۵۲٤) والترغيب للمنذرى (۲/۵۲۹) ـ علقمه، زبير او عبيد بن عمير فرمائي : اما علمت ان الارض تصيح الى ربها من نوم غلمانها او علمائها ـ زمكه شكايت كوى الله ته د خوب د علماؤ او غلامانو ـ ابن ابى شيبه (۸/۳٦٦) ـ

۳- زبيرؓ او ابن مسعودؓ فرمائي : زه يو سړے ډير اوچت متقي گنړم ليكن چه خبر شم چه د سحر خوب كوى نو په كښے ﺑﮯ رغبته شم ـ ابن ابى شيبه (۸/۳٦٦) ـ

۳- **دريم قيلوله** ده : دا هم سنت طريقه ده چه غرمه كښے انسان خوب اوكړى او دا خوب د نصف النهار دے كه قبل الصلاة وى او كه بعد الصلاة وى، بعد الطعام وى او كه قبل الطعام ـ ددے خوب فائده دا ده چه ۱- يزيد فى العقل ۲- ويعين على التهجد ـ يعني د انسان عقل زياتوى او تهجدو باندے مدد وركوى، بدن ورسره مزيدار شى نو انسان تهجدو ته راپاڅيدے شى ـ يو حديث كښے دى : لا تصبحوا وقيلوا فان الشياطين لا تقيل) كما فى السلسلة الصحيحة (٤/۲۰۳) عن ابى نعيم فى الطب (۲/۱۰۲) وسنده حسن كما قال الالبانى ـ يعني د سحر خوب مه كوئ او غرمه كښے خوب كوئ ځكه چه شيطانان د غرمے قيلوله نكوى ـ

٤ - **څلورم** د مازيگر نه پس خوب كولو نه منع نشته مگر بهتر كار ندے ځكه دا وقت د عبادت دے البته يو روايت د خوّات بن جبير رضى الله عنه نه موقوفاً امام بخارى په الادب المفرد (۳۲۰) رقم (۱۲٤۲) كښے ذكر كړيدے هغه فرمائي : نوم اول النهار خرق واوسطه خلق وآخره حمق ، قال الالبانى فى صحيح الادب المفرد رقم (۱۲٤۲) صحيح الاسناد . يعني په اول د ورځ كښے (بعد صلاة الصبح) خوب كول جهالت دے او مينځ كښے خوب كول ښه خوئى دے (قال الالبانى وهذا يقوى حديث قيلوا الخ) او په آخر د ورځ كښے خوب كول كم عقلتيا، قباحت او ظلم دے قال فى النهايه الحمق : وضع الشئ فى غير موضعه مع العلم بقبحه ـ

او كوم روايت كښے چه دا الفاظ دى : (من نام بعد العصر فاختلس عقله فلا يلومن الا نفسه) دا حديث ضعيف دے كما قال الالبانى فى صحيح الادب المفرد (٤۸۱) نوضرورةً اوده كيدل جواز لرى ـ

۵ - **د ماسخوتن** مانځه نه مخكښے خوب ته پدے حديث الباب كښے ناجائز او مكروه وئيلى شويدے (وكان يكره النوم قبلها) ليكن بعض سلف ددے اجازت وركوى لكه

امام بخاري د ابن عمرؓ نه نقل کوی چه هغه به اوده کیدو او د هغه په نزد باندے علت د نهي فوت کيدل د مستحب وقت د عشاء دي نو که د يو انسان ضرورت وي اوده کيدو ته يائے څوك راپيدارولو دپاره مقرر کړے وي يائے عادت دا وي چه خپله راپاڅيدلے شي او د ماسخوتن وقت ترے نه فوت کيږي نو دا جواز لري خاصکر چه کله په رمضان کښې توله شپه عبادت کوي او د ماښام نه بعد اوده شي دے کښې څه حرج نشته او د امختار د امام بخاريؒ هم دے هغه باب تړي : باب النوم قبل العشاء لمن غلب (۸۰/۱) يعني چه څوك مغلوب وي د خوب نه (ضرورت ئے وي) د هغه دپاره خوب جواز لري .

وَالْحَدِيْثُ بَعْدَهَا : د ماسخوتن مانځه نه روستو خبرے اترے ګپ شپ لګول هم حرام دي، امام نوويؒ فرمائي : چه پدے باندے اتفاق دے چه دا کار حرام دے او ددے نه مراد د مانځه نه پس خبرے اترے کول دي نه بعد دخول وقت العشاء او په حرمت باندے يو دا حديث دليل دے .

۲- دويم مسند احمد (۱۲۵/٤) کښې په روايت د شداد بن اوس کښې دا دي مرفوعاً : من قرض بيت شعرٍ بعد العشاء الاخيرة لم تقبل له صلاة تلك الليلة و كذا في المرقات (۱۲۸/۲) نقلاً عن مسند البزار والطبراني . د شعر وئيلو نه منع راغلے نو د نور ګپ شپ نه په طريق اولیٰ منع ده .

اوس علت د منع څه دے ؟ نو ددے ډير علتونه دي (۱) - يو خو دا سبب ګرځي د غلبه د خوب د قيام الليل نه ځکه چه کله انسان په ګپ شپ کښې مشغول وي نو د ماغ ئے ستړے شي بيا تهجدو ته نشي راپاڅيدے غالباً .

(۲) - يا د صبا د مانځه د قضاء کيدو خطره ده . (۳) - يا د سحر د جماعت فوت کيدو خطره ده (٤) - يا په افضل وقت کښې اداء کول مشکل وي . (۵) - يا د شپے پے خوبه کيدو سره انسان کښې سستي پيدا کيږي نو دا سبب ګرځي د غفلت سره اداء کولو د طاعاتو نه په ورځ کښې ځکه چه کله انسان د شپے خوب کم اوکړي نو د ورځے ډير حقوق او طاعات ترے پاتے کيږي . نوويؒ شرح مسلم (۲۳۰/۱) . (٦) - يا دا چه زړه سخته وي .

(۷) - يا دا چه خاتمة النهار برباده شوه ځکه چه هره ورځ مستقله زندګي ده نو د زندګۍ خاتمه خرابول ندي پکار .

ليکن ددينه شريعت کښې استثناء ات راغلي دي (۱) - يو په طلب د علم کښې خبرے کول جواز لري دليل : امام بخاري باب ايخودے دے : باب تدارس العلم ساعة خير من احياء

ليلة ـ او احاديث ئے پكښې ذكر كړيدى ـ

(٢)- مسافر دپاره (٣) - ميلمه سره (٤) - خپل اهل سره خبرے اترے كول جواز لرى دليل يو حديث د مسند احمد كښې دى: لاسمر الا لمصل او مسافر وفى سنده رجل مجهول امام بخارى باب راوړى: باب السمر مع الاهل والضيف (١/٨٤) پدے كښې ئے بيا واقعه د ابوبكرؓ راوړيده چه هغه ميلمانه راوستل بيا نبى عليه السلام خواته لاړو او هغه سره ئے بعد العشاء خبرے اترے كولے ـ

دارنګه بخارى (١/٢٢) كښې دى: فتحدث رسول الله ﷺ مع اهله ثم رقد ـ

ابن عباس رضى الله عنه فرمائى: نبى عليه السلام د ميمونےؓ سره خبرے اترے اوكړے او بيا اوده شو ـ

(٥) - امور المسلمين كښې خبرے اترے جواز لرى ترمذى كښې روايت د عمرؓ دے: ان النبى ﷺ كان يسمر هو وابوبكر فى الامر من امور المسلمين وانا معهما وحسنه الترمذى ـ فتح البارى (٢/٥٨) ددے وجه نه حافظ فرمائى: هر كله چه علت د نهى دغه (مذكوره) څيزونه شو نو كه دا كارونه د چا په خبرو اترو كښې نه راتلل نو بيا به خبرے اترے منع نه وى ددے وجه نه د اوږدو او د لنډو شپو فرق به هم كولے شى ـ

دا وجه ده امام نووىؒ بيا ډير تعميم كړيدے فرمائى: د ماسخوتن نه بعد هغه خبرے مكروه دى چه مصلحت او خير په كښې نه وى هسے ځان مشغولول وى او كله چه په څه كارونو او خبرو كښې مصلحت او فائده وى نو پدے كښې هيڅ كراهت نشته او بيا ئے ددے مثالونه راوړيدى لكه مدارسة العلم او حكايات الصالحين د ميلمه سره خبرے كول د ناوے سره خبرے كول د اهل او اولادو سره خبرے كول، د ملاطفت دپاره د مسافرو سره خبرے يا د هغوى د سامان د حفاظت دپاره، يا اصلاح بين الناس دپاره يا شفاعت په خير كښې، يا امر بالمعروف او نهى عن المنكر كښې يا يو نيك كار ته خلق متوجه كول نو پدے ټولو كارونو كښې هيڅ كراهت نشته ـ

خو حتى الوسع د غير مفيد خبرو نه ځان ساتل پكار دى كما فى الحديث: من حسن اسلام المرء تركه ما لا يعنيه ددے وجه نه عمر فاروقؓ به د شپے ګپ شپيان وهل او وئيل به ئے (اسمراً اول الليل ونوماً آخره) فتح البارى (٢/٥٨) آيا د شپے په ابتداء كښې به ګپونه لګوئ او په آخر كښې به ئے خوبونه كوئ؟ (دا هيڅرے نشى كيدے) ـ نو د ماسخوتن د مانځه نه روستو تى وى، كيبل، وى سى آر كتل، يا په ځايه خبرونه اوريدل دا ټول ددے

حديث په رُو سره منع دى هسې كتل ئې هم منع دى او د ماسخوتن نه روستوئې منع نوره هم زياته شوه۔

وكان ينفتل من صلاة الغداة حين يعرف الرجل جليسه : يعنى د صبا مونځ به ئې داسې وقت كښې كولو چه كله به د مانځه نه را اوګرځيدو نو سړى به خپل خواته ملګرے پيژندلو۔ ددې نه تقديم د صبا د مانځه معلوميږى ځكه چه هر كله د مانځه نه د فارغ كيدو په وقت كښې دا حال وو نو شروع به ضرور په غلس (تياره) كښې شوې وى نو استحباب د تعجيل دپاره دليل دې۔

مسئله : د سحر مانځه مستحب وقت كښې اختلاف دے

پدے كښې اختلاف دے چه د صبا د مانځه دپاره كوم وقت مستحب دے ؟۔

۱ – **جمهور اهل علم** وائى چه د صبا مونځ په غلس (سخته تياره) كښې افضل دے، او په قول د امام ترمذى دا قول د ابوبكر صديق، عمرؓ، تابعين، امام شافعى، احمد، اسحق دے ابن عبد البرؒ فرمائى : د نبى عليه السلام، ابوبكر او عثمان نه دا صحيح ثابت شويدى چه دوئ به په تياره (غلس) كښې مونځ كولو او دا محاله ده چه هغوى افضل پريدى او غير أفضل باندې عمل اوكړى۔ تحفة الاحوذى (۱/۱۴۳) قال الحازمى فى كتابه الاعتبار : وهو مذهب اهل الحجاز وعمر بن عبد العزيز وعروة بن الزبير والخلفاء الراشدين وابن مسعود وابى موسى الاشعرى وابى مسعود الانصارى وعبد الله بن الزبير وعائشة وام سلمة رضى الله عنهم انتهىٰ نقله عنه المباركفورى فى التحفة ۔ او دا قول د اوزاعى، ابوثور، داود بن على، او ابوجعفر الطبرى دے وهو المروى عن انس وابى هريرة كذا قال الشوكانى فى نيله (۱/۴۲۰)۔

۲ – **دويم قول** : امام ابوحنيفه او كوفين وائى چه اسفار (ناوخته) كول ئې مستحب دى۔

دلائل الجمهور :

د جمهورو سره پدے قول باندې ډير دلائل دى بعض د هغى نه دا دى :

۱ – **دليل** : دا حديث الباب دے چه دا په بخارى (۱/۷۷) او مسلم (۱/۲۲۵) كښې په روايت د ابوبرزه اسلمىؓ كښې داسې راغلے دے : (وكان ينفتل من صلاة الغداة حين يعرف الرجل جليسه ويقرأ بالستين الى المائة) دا حديث دليل دے چه نبى عليه السلام به وختى

اودريدو او په مانځه کښې به ئې د شپيتو نه تر سلو آيتونو پورے لوستل چه پدے باندے هم په پيغمبرى تلاوت سره ډير وقت لګيږى او دغه شان به رکوع او سجده هم شوے وه او چه بيا به سلام اوګرځيدو نو داسے حال به وو چه يو سړى به خپل خوا کښې ملګرے ايله پيژندلو يعنى تياره به لا اوس هم باقى وه خو لګه رڼا به ورسره يو ځائے شوے وه فتدبر۔

٢- دليل : حديث د جابر کښې دى : (والصبح بغلس) بخارى (١/٧٧) ومسلم (٢٢٦) وسيأتي يعنى نبى عليه السلام به د صبا مونځ په تياره کښې کولو ۔ غلس وائى : اختلاط ظلمة آخر الليل بضوء الصباح ۔

٣- دليل : حديث عائشةؓ : كان رسول الله ﷺ يصلى الصبح فتنصرف النساء متلفعات بمروطهن ما يُعْرَفْنَ من الغَلَسِ ۔ رواه البخارى (١/٨٢) والترمذى ۔ يعنى نبى عليه السلام به د صبا مونځ دومره وختى کولو چه زنانه به د مانځه نه راواپس کيدلے او ځان نه به ئے څادرونه تاؤ کړى وو نو د تيارے په وجه به نه پيژندلے کيدے يعنى دا پته به نه لګيده چه سړى روان دى او که زنانه يا د زنانو خپل مينځ کښې به تميز نه کيدو چه دا زينب ده که فاطمه وغيره ۔ دا حديث صريح دليل دے چه په تياره کښې به د صبا مونځ کيدو نو پدے کښې اوس دا خبره کول چه دا حمل دے په بعض اوقاتو باندے چه کله به سفر ته وتل نو مونځ به په تغليس کښے کولو كما قال صاحب بذل المجهود (١/٢٤٥) ۔

يا مسجد مسقف وو نو مسجد کښې تياره وه ۔ نو دا تعصبِ مذهبى دے او حديث ورانول دى ځکه چه حديث کښې تاويل کول خو دليل غواړى څه دليل دے چه دا په سفر باندے حمل دے آيا عائشةؓ او جابرؓ وغيره د سفر حالات بيانوى ؟ دارنګه عائشه د مسجد نبوى نه د زنانو د واپس کيدو حال بيانوى : كما فى رواية اخرى : ثم ينفتلن الى بيوتهن حين يقضين الصلوة ما يعرفهن احد ۔ بخارى (١/٨٢) ۔ دارنګه تعارض هم دے پدے تاويلاتو کښې کله وائى مسجد مسقف وو او کله وائى دا د سفر حالات دى معلوميږى چه دا تاويلات خطاء دى او د حديث په مخ کښې خندونه پيدا کول دى ۔

٤- دليل : حديث سهل رضى الله عنه : يقول : كنت اتسحر فى اهلى ثم تكون سرعةً بِيْ ان اُدْرِكَ صلاةَ الفجر مع رسول الله ﷺ بخارى (١/٨٢) ۔

سهل رضى الله عنه فرمائى : ما به کور کښې پيشمنے اوکړو بيا به مے جلتى اوکړه چه د نبى عليه السلام سره د صبا مونځ لاندے کړم (او رانه فوت نشى) ۔

دا حديث هم صريح دليل دے چه نبى عليه السلام به هميشه وختى مونځ کولو

پدے سرہ مخکنی تاویل هم باطل شو چه دا د سفر حال نه وو۔

۵- دلیل : حدیث د ابو مسعود الانصاریؓ دے : مرفوعاً : وصلی الصبح مرةً بغلس ثم مرةً أُخرٰی فَاَسْفَرَ بها ثم کانت صلاته بعد ذلك التغلیسُ حتی مات لم یَعِدُ الی ان یُسْفِرَ رواه ابوداود (۱/۶۲) باسناد صحیح قال ابن قدامة فی المغنی (۱/۴۳۹) : قال الخطابی وهو صحیح الاسناد وقال الشوکانی رجاله فی ابی داود رجال الصحیح وقال ابن سید الناس اسناده صحیح واخرجه ابن خزیمة وصححه ورواه الحازمی باسناده ـ نیل الاوطار (۱/۴۲۲) فتح الباری (۲/۴۴) وتحفة الاحوذی (۱/۱۴۳) وقال الالبانی فی صحیح ابی داؤد رقم (۳) اسناده حسن ـ یعنی نبی علیه السلام د صبا مونځ په تیاره کښې اوکړو بیا ئے یو ځل په رڼا کښې اوکړو ددے نه پس تر مرګه پورے په تغلیس (تیاره) کښې به ئے مونځ کولو دوباره ئے اسفار (رڼا کښې مونځ) کولو ته رجوع اونکړه ـ

دا حدیث هم صریح دلیل دے چه مستحب دا ده چه د صبا مونځ وختی اوکړے شی په تغلیس کښې ځکه چه نبی علیه السلام پدے کار باندے همیش والے کړیدے او همیشوالے په داسے مقام کښې دلیل د استحباب وی کما فی قول ابن عبد البرؒ ـ

او دا روایت صریح رد دے په هغه چا چه تغلیس ته منسوخ وائی ـ

۶- وصح عن ابی بکر وعمر وعثمان : انهم کانوا یغلسون ـ اخرجه ابن عبد البر، المغنی (۱/۴۳۹) تحفة الاحوذی (۱/۱۴۳) نیل الاوطار، ارواء الغلیل (۱/۲۷۹) واسناده صحیح۔

سوال : حدیث د ابو مسعود الانصاریؓ ته صحیح یا حسن وئیل څنګه صحیح کیدے شی سره ددے نه پدے کښې اسامه بن زید اللیثی راوی ته علماؤ ضعیف وئیلے دے لکه امام احمد بن حنبلؒ فرمائی اذا تدبرت حدیثه تعرف فیه النکرة امام نسائی فرمائی : لیس بالقوی یحیی بن القطان فرمائی : ترك حدیثه بآخره وقال ابو حاتم یکتب حدیثه ولا یحتج به کذا فی میزان الاعتدال ؟ ـ

الجواب : اسامه بن زید اګرچه متکلم فیه راوی دے لیکن حقه دا ده چه دا ثقه دے او صالح للاحتجاج دے امام هذا الفن یحیی بن معین فرمائی : ثقة حجة وقال ابن عدی : لا بأس به کذا فی المیزان ـ حافظ ذهبی په خپل کتاب فرمائی : ذِکْرُ اَسْمَاءِ مَنْ تکلم فیه وهو موثق حیث قال فیه : اسامة بن زید اللیثی لا العدوی صدوق قوی الحدیث اکثر مسلم اخراج حدیث ابن وهب ولکن اکثرها شواهد او متابعات والظاهر انه ثقة آهـ ـ

هر چه د امام احمدؒ قول دے نو ددے نه اطلاق ندے مراد بلکه هغه احادیثو کښې ئے

نکارت دے چه د نافع نه روایت اوکړی۔
۲- دارنګه د امام احمدؒ د یو سړی باره کښې دا قول چه روی مناکیر: دا مستلزم ندے د هغه ضعف لره ځکه چه هغه محمد بن ابراهیم بن الحارث التیمی په باره کښې وئیلی دی فی حدیثه شئ یروی احادیث مناکیر او حال دا چه په ده باندے احتجاج جماعت کړیدے دغه شان برید بن عبد الله بن ابی برده په باره کښې وائی (روی مناکیر) او حال دا چه ټول ائمو پرے احتجاج کړیدے۔ کذا فی مقدمة فتح الباری۔
او قول د یحیی بن القطان دده په باره کښې دلیل د ضعف نه دے ځکه چه هغه د رجالو په باره کښې ډیر متعنت دے لکه دا خبره حافظ ذهبی په المیزان کښې د سفیان بن عیینه په ترجمه کښې ذکر کړیده وکذا ذکره الحافظ الزیلعی فی نصب الرایة (۱/۴۳۷) فی توثیق معاویة بن صالح۔
او قول د ابوحاتم او نسائی مجمل دے هیڅ سبب ئے ندے ذکر کړے او دا د مصطلح الحدیث مسلمه قاعده ده الجرح المجمل لا یعتبر) کذا قال الزیلعیؒ۔
نو ثابته شوه دا خبره چه اسامه بن زید لیثیؒ د مسلم د راویانو نه دے ثقه او صالح للاحتجاج دے او پدے حدیث کښې ئے زیادت کړیدے د نورو ملګرو نه چه هغوی د زهریؒ نه دا الفاظ نه نقل کوی او ده نقل کړیدی نو دا زیادت د ثقه دے او دا مقبول وی او شاذ به هله وی چه کله منافی وے د نورو ثقاتو سره او دلته منافات نشته۔
دارنګه د اسامه بن زید ددے زیادت تائید په روایت د ابن ماجه کښې موجود دے: حدثنا عبد الرحمن بن ابراهیم الدمشقی ثنا الولید بن مسلم ثنا الاوزاعی ثنا نَهِيكُ بْنُ يَرِيمَ الاوزاعیُّ ثنا مُغِيثُ بن سُمَيٍّ قال: صليت مع عبد الله بن الزبير الصبح بغلس فلما سلم اقبلت على ابن عمر فقلت ما هذه الصلاة قال هذه صلاتنا كانت مع رسول الله ﷺ وابى بكر وعمر فلما طعن عمر اَسْفَرَ بها عثمان واسناده صحيح ورواه الطحاوى ايضاً باسناد ابن ماجه والبيهقى (۱/۱۰٤) وصححه الالبانى فى صحيح ابن ماجه (۱/۱۱۱) رقم (٦٧١) والارواء (۱/۲۷۹) رقم (۲۵۷)۔
او حافظ په فتح الباری کښې هم ددے روایت معاضد ذکر کړیدے بروایة الباغندی فی مسنده والطبرانی عن ابی بکر عن عروة په هغے کښې مدار د روایت عروه دے۔ تحفة الاحوذی (۱/۱٤٤) پس ثابته شوه چه دا روایت یا صحیح یا حسن دے۔
تنبیه: د عثمان په ابتداء د خلافت کښې په اسفار باندے عمل وو مګر کله چه هغه

پوره اختیارات حاصل کړل او په خلافت کښې مضبوط شو نو بیرته ئې تغلیس ته رجوع اوکړه کوم چه هغه ته په سنت کښې معلوم وو ۔ انظر ارواء الغلیل (۲۷۹/۱) ۔
پدې باندې دلیل دا دې چه ابن ابی شیبه په مصنف کښې په صحیح سند سره د عبد الله بن ایاس الحنفی روایت راوړیدې چه هغه د خپل پلار ایاس نه نقل کوی چه فرمائی : کنا نصلی مع عثمان الفجر فننصرف وما یعرف بعضنا وجوه بعض ۔ (ارواء) نو دا دلیل دې چه د عثمان عمل هم په تغلیس وو ۔

دلیل الاحناف :

۱– حدیث د رافع بن خدیج دې : قال قال رسول الله ﷺ اسفروا بالفجر فانه اعظم للاجر، رواه الترمذی (۱/ ۴۰) وقال حدیث حسن صحیح وفی روایة ابی داود (۱/ ۶۷) اصبحوا بالصبح فانه اعظم لاجورکم ۔
۲– حدیث د بلال کښې دی (انه قال لبلال نوّر بالفجر قدر ما یبصر القوم مواقع نبلهم، رواه ابوداود الطیالسی فی مسنده (۹۶۱) وصححه الالبانی فی الارواء (۱/ ۲۸۴) یعنی صبا وقت دومره اندازه روښانه کړه چه قوم د غشو ویشتلو هدف اووینی کذا ذکره صاحب المغنی (۱/ ۴۴۰) والشوکانی فی النیل (۱/ ۴۲۱) والمبارکفوری فی التحفة (۱/ ۱۴۵) وبدایة المجتهد (۱/ ۷۱) والفتح الربانی (۱/ ۲۷۹) ۔
ددې حدیثونو نه دا معلومیږی چه د صبا په مانځه کښې اسفار بهتر دې نو اوس تعارض راغلو ددې روایتینو د مخکنو روایتونو د تغلیس سره نو ددې تطبیق په څو طریقو شویدې ۔
۱ – **اول تطبیق** : شیخ الاسلام ابن تیمیة په مجموعة الفتاوی (۲۲/ ۹۵) کښې فرمائی : چه دا خبر واحد دې او د نورو احادیثِ مشهوره مستفیضهٔ خلاف دې (والخبر الواحد اذا خالف المشهور المستفیض کان شاذاً) نو دا روایت شاذ دې، یا منسوخ دې ځکه تغلیس د نبی علیه الصلاة والسلام فعل دې ترمرګه پورې او د هغه نه بعد د خلفاءِ راشدینو عمل دې لیکن دا جواب ضعیف دې وجه د ضعف دا ده چه دا روایت صحیح دې لکه محققینو علماؤ ورته صحیح وئیلې دې وقال الالبانی فی ارواء الغلیل (۱/ ۲۸۱– رقم: ۲۵۸) : حدیث رافع بن خدیج اسفروا بالفجر رواه احمد وغیره وهو صحیح ۔ او مخالفت هم نشته لکه روستو تطبیق کښې راځی ۔
۲– **دویم تطبیق** : جمهور داسې کوی چه دا روایت بالمعنی دې (کما قال السیوطی

فی حاشیة ابی داود ونحوه فی بلوغ الامانی شرح الفتح الربانی (۲۷۹/۱) او اصل روایت اصبحوا بالصبح دے او ددے معنی دا ده (صلوها عند طلوع الفجر لا قبله) یعنی صبا راختو کښ احتیاط کوئ او هسے نه چه قبل الوقت مونځ اوکړئ یعنی صبا راښکاره کړئ او دا مطلب ندے چه د صبا مونځ ناوخته کوئ! لکه دا تاویل امام ترمذی (۴۰/۱) د امام شافعیؒ، احمدؒ او اسحاقؒ نه هم نقل کړیدے فرمائی: (ومعنی الاسفار ان یضح الفجر فلا یشك فیه ولم یروا ان معنی الاسفار تاخیر الصلوة۔

ابن الاثیر او علامه خطابی رحمهما الله وائی: صحابه کرامو چه کله د تغلیس امر واوریدو هغوی به د صبا مونځ په اول د فجر کښ اداء کولو حرصاً ورغبةً نو نبی علیه السلام ورته اوفرمائیل: اسفروا بها ای اخروها الی ان یطلع الفجر الثانی وتحققوه)۔

لیکن پدے تاویل باندے دا اعتراض شویدے چه دا تاویل منافی دے دد روستو الفاظو سره چه (فانه اعظم للاجر) ځکه ددے معنی خو بیا دا جوړیږی چه د صبا په یقینی راختلو کښ ډیر اجر دے او که د صبا په راختلو کښ شك وی نو بیا به نفس اجر وی او حال دا چه قبل الوقت خو مونځ نه کیږی ترڅو چه یقینی صبا نه وی راختلے کذا ذکره السندی فی حاشیة ابن ماجه۔

بیا ئے ددے نه جواب (۱) هم ورکړیدے چه ممکن ده چه معنی د اصبحوا دا وی چه (تیقنوا بالاصباح حتی لا یبقی فیه ادنی وهم ولو کان ذلك الوهم غیر مناف للجواز) یعنی صبا راښکاره کیدل یقینی کړئ چه معمولی وهم هم په کښ پاتے نشی اګرچه دغه وهم منافی د جواز نه دے ځکه چه کله د انسان په صبا راختلو باندے پوره قوی ګمان راشی نو پدے وقت کښ مونځ جائز دے او ثواب هم ورته پدے مانځه ملاویږی مګر کله چه لګ نور هم روستو کړی دے دپاره چه ښه ظهور او کشف راشی چه هیڅ قسم ضعیف وهم پاتے نشی نو پدے کښ ډیر اجر دے او دا خبره اولیٰ او احسن ده او پدے معنی باندے به اسفار هم حمل وی۔

(۲) - دغه شان شوکانی فرمائی: والجواب: انهم یؤجرون علی نیتهم وان لم تصح صلاتهم لقوله اذا اجتهد الحاکم فاخطأ فله اجر واحد نیل الاوطار (۴۲۱/۱)۔

(۳) - یا په اسم تفضیل کښ معنی د زیادت نشته بلکه دلته په نفس معنی فعلی سره دے نو معنی به دا شی چه احتیاط په صبا راخکلو کښ لوئی اجر دے۔

(۴) - علامه احمد عبد الرحمن البناء المشهور بالساعاتی هم داسے معنی کوی:

اصبحوا ...... فانه اعظم لاجورکم یعنی ان الاصباح الماخوذ من قوله اصبحوا اکثر ثواباً من تاخیرها عن اول الوقت وهو تعلیل للامر بالاصباح، الفتح الربانی (۱/۲۷۹) یعنی دلته اسم تفضیل کښې اعظمیت د اجر په نسبت سره اسفار ته دے نه په نسبت سره دخول الوقت ته فتدبر! ۔

لیکن پدے باندے علامه ابن الهمام، اوعلامه زیلعی په نصب الرایه (۱/۲۳۹) او علامه البانی په ارواء الغلیل (۱/۲۸۷) کښې او علی القاری په مرقاة المفاتیح (۲/۱۳۹) کښې رد کړیدے چه دا تاویل د بعض روایاتو مخالف دے چه په هغې کښې دا الفاظ دی (فکلما اصبحتم بها فهو اعظم للاجر) یعنی چه څومره زیات ښکاره والے کوئ د صبا په مانځه باندے نو اجر به زیات وی) ۔

۳- دریم تطبیق : بعض علماء داسے وائی : امر بالاسفار خاص دے په هغه شپو پورے چه سپوږمۍ پکښې روښانه وی ځکه چه اول د صبا پداسے شپو کښې ښه نه ښکاری نو احتیاطاً ورته امر اوشو چه اسفار اوکړئ کذا فی النهایة نقله فی التحفة۔

٤- تطبیق : یا دا حمل دے په مختلف موسمونو باندے او د اوګدو او لنډو شپو فرق به کولے شی په اوګدو شپو کښې غلس پکار دے او په لنډو شپو کښې اسفار۔

دلیل پرے حدیث د معاذ دے : قال بعثنی رسول الله ﷺ الی الیمن فقال اذا کان فی الشتاء فغلس بالفجر واطل القرائة قدر ما یطیق الناس ولا تملهم واذا کان الصیف فاسفر بالفجر فان اللیل قصیر والناس نیام فامهلهم حتی یدرکوا، رواه البغوی فی شرح السنة (۲/۲۱: رقم: ۳۵۷) وذکره صاحب المرقاة (۲/۱۳۹) ایضاً وقال المبارکفوری فی التحفة (۱/۱٤٥) قلت ورواه بقی بن مخلد۔ لیکن ددے په سند کښې منهال بن الجراح دے قال فی تعلیق شرح السنة (۲/۲۱) اخرجه ابوالشیخ فی اخلاق النبی ص (۷٦) وفی السند المنهال بن الجراح و هذا الاسم مقلوب والاسم الصحیح له : الجراح بن المنهال کما فی الجرح (۱/۵۲۳) وقال عنه ابوحاتم : متروك الحدیث، ذاهب الحدیث لایکتب حدیثه انظر المیزان (۱/۳۹۰) و(۳/۱٤٥) ولسان المیزان (۲/۹۹) والکامل (۱/۱٦۰، ۱٦۱، رقم: ۳۵۰) ۔

۵- تطبیق : امام احمد بن حنبلؒ ددے تطبیق داسے کوی : چه حال د مقتدیانو ته به کتلے شی په بعض اوقاتو کښې به په غلس کښې اداء کولے شی او په بعضے اوقاتو کښې به په اسفار کښې او د نبی علیه السلام هم دا عادت مبارك وو په عشاء کښې کما مرّ فی حدیث جابرؓ چه کله به صحابه حاضر وو نو عشاء به ئے وختی کولو او کله چه به غائب وو نو

ناوختـه بـه ئـے كـولـو، دغه شان فجر قياس دے په عشاء باندے نو په اسفار باندے هم عمل راځي او پـه غـلـس بـانـدے هـم پـه مـخـتـلـف اوقاتو كښ او دا تطبيق ابن قدامه په الـمغني (۴۳۹/۱) او مبـاركـفـوري پـه الـتـحـفة (۱۴۵/۱) كـښ اشارةً ذكـر كـړيدے او عبيد الله المباركفوري په مرعاة المفاتيح (۳۲۲/۲) كښ ذكر كړيدے۔

نو پدے سره د حديث د عائشه چه لايعرفهن احد من الغلس او حديث د ابوبرزةؓ : وكان ينفتل من صلاة الغداة حين يعرف الرجل جليسه ويقرأ بالستين الى المائة، رواه البخاري په مابين كښ تطبيق راځي چه اكثر غلس او كله اسفار۔

لـيـكـن حـافـظ ابـن حـجـرؒ په فتح الباري (۴۴/۲) كښ فرمائي : ددے دواړو حديثونو تـعـارض نشتـه ځـكـه د عـائشے حديث كښ د وړاندے د زنانو د ليدلو اخبار دے او حديث د ابـوبرزه كښ د رؤية الجليس (نـزدے مـلـګري) ليدلو اخبار دے انتهىٰ۔ د حافظ مقصد دا دے چه مـونـځ پـه تغليس كښ مستحب دے نه په اسفار كښ او د دواړو حديثونو تعارض نشته دواړه دلالت په تغليس باندے كوي۔

٦- **بل تطبيق** دا دے چه د اسـفـار مـعـنـى دا نـه ده چه د مونځ ابتداء اوكړے شي په اسـفـار (رڼـړا) كـښ لـكـه دا د احنافو نه مشهوره ده او نه دا معنى ده چه صبا راښكاره كړه (يـقـيـنـيـى كـړه) او مونځ اداء كړه په تياره كښے بلكه معنى دا ده چه په تغليس كښ مانځه تـه اودريـږه او قرائت اوګد كړه تردے چه اسفار راشي نو دلته اسفار دواماً مرادے نه ابتداءً او هـمدا د نبي عليه السلام طريقه وه چه هغه به د شپيتو نه ترسلو پورے آيتونه لوستل او دغه شان ركوع او سجده به ئے كوله نو اسفار به راغلو۔

او دا تـطـبـيـق علامه طحاوي په معاني الآثار (۱۳۰/۱) كښ كړيدے او حافظ ابن القيم پـه اعـلام الـمـوقـعـيـن كښ او مباركفوري په تـحـفة الاحوذى (۱۴۵/۱) كـښ ورتـه اسلم الاجوبة واولاها وئيـلـے دے او شيـخ الاسـلام ابن تيميةؒ په مـجموعة الفتاوى (۹۸/۲۲) او صاحب د مرعاة (۳۲۲/۲) او شوكاني په النيل (۴۲۱/۱) كښے او زيلعي په نصب الراية (۲۳۹/۱) واختـاره فـى الـروضة الـنـدية (۷۱/۱) وذكـره الـعـينى واختاره الشيخ الالبانى فى الارواء (۲۷۹-۲۸۰)۔

ددے تـطـبـيـق تـائـيـد عـلامـه شـوكـاني دا ذكر كړيدے چه ابوبكر صديق سورة البقره د سـحـر پـه مـانـځـه كښ اولوستله چا ورته اووئيل چه نزدے ده چه نمر را اوخيژي (فقال : لو طـلـعـت لـم تجدنا غافلين) كـه نـمـر راخـتـلـے هـم وے نو مونږ به غافلو كښ نه وے حساب

(بلکه ماجور به وی ځکه چه دا د نبی علیه السلام طریقه وه) ۔

شیخ البانی فرمائی: چه ما صریح عملی حدیث موندلے دے چه هغه دلالت کوی پدے تطبیق باندے او هغه دا حدیث د انس دے: کان رسول الله ﷺ یصلی الصبح اذا طلع الفجر الی ان ینفسح البصر اخرجه احمد بسند صحیح ۔ یعنی نبی علیه السلام به بعد طلوع الفجر اودریدو او مونځ به ئے اوګد کړو تردے چه رڼړا به سترګو ته راتله ۔

علامه زیلعی فرمائی: هذا الحدیث یبطل تاویلهم الاسفار بظهور الفجر نصب الرایة (۲۳۹/۱) البانی صاحب فرمائی: وهو کما قال رحمه الله تعالی، ارواء الغلیل (۲۸۷/۱) یعنی خبره همدغه شان ده څنګه چه زیلعیؒ اوفرمائیله ۔

حافظ ابن القیمؒ په اعلام الموقعین کښ فرمائی: وهذا بعد ثبوته انما المراد به الاسفار دواماً لا ابتداءً فیدخل فیها مُغلساً ویخرج منها مُسفِراً کما کان یفعله ﷺ: فقوله موافق لفعله لا مناقض له و کیف یظن به المواظبة علی فعل ما الاجر الاعظم فی خلافه انتهی ۔

یعنی پدے سره قول او فعل د رسول الله ﷺ دیو بل مخالف نشو ځکه په نبی علیه السلام باندے دا ګمان څنګه صحیح کیدے شی چه هغه ډے پداسے کار مواظبت اوکړی چه لوئی اجر ډے د هغے په خلاف کښ وی ۔

لیکن دا تطبیق هم د هرے زمانے دپاره ندے بلکه محمول علی الاکثریت دے او پدے زمانه کښ ډیر نادر دے دارنګه پدے سره بیا د ټولو احادیثو جمع نه راځی ځکه چه بعضے احادیثو کښ دا دی چه نبی علیه السلام به په غلس کښ د مانځه نه فارغ کیدو لکه حدیث د عائشه کښ فکر اوکړه ۔ (ما یعرفهن احد من الغلس) ۔

خلاصة البحث: د مجموعه احادیثو نه دا معلومیږی چه د نبی علیه السلام خپل عمل دا وو چه هغه به شروع په غلس کښ کوله نو کله به وختی فارغ شو او کله به ئے قرائت اوګد کړو نو په اسفار کښ به فارغ شو او امت ته ئے فرمائیلی دی چه تاسو ته اجازت دے په اسفار کولو کښ ۔ نو ددے نه مونږ ته دا حاصلیږی چه بهتر عمل مونځ اداء کول په غلس کښ دی ځکه دا د نبی علیه السلام او خلفاءِ راشدینو دائمی عمل دے (او ګران دے) نو که مقتدیان جماعت ته حاضریدے شو نو همدا عمل بهتر دے ځکه احادیث د تغلیس اکثر او اقویٰ دی د احادیثو د اسفار نه دارنګه احادیث د غلس د صحیحینو دی او احادیث د اسفار د سنن روایات دی فیرجح التغلیس ۔

بل **عظیم دلیل** په استحباب د تغلیس دا دے چه حدیث کښ دی: نصاریٰ د سحر

مونږ دومره ناوخته کوی چه د ستورو رڼرا د نمر د رڼرا په وجه پټه شی، نو د دوئ مخالفت اوکړئ! ۔

عن ابی عبد الرحمن الصنابحی مرفوعاً: لاتزال امتی علی مسكة ما لم ينتظروا بالمغرب اشتباك النجوم مضاهلة لليهود ولم ينتظروا بالفجر محاق النجوم مضاهاة للنصرانية الخ، حديث صحيح اخرجه احمد (٤/٤٣٩) فتاوی الدين الخالص (١٢/٦) والمراد بمحاق النجوم اختفاء نورها بسبب تزايد نور الشمس عند طلوعها يعنی تاخير الفجر الی الاسفار كثيراً الخ (صفحه مذكور) او كه مقتديان نشو حاضريدلے نو بيا د تكثير الجماعت او د جماعت د نه فوت كيدو په خاطر اسفار كول پكار دی فانه اعظم للاجر ۔ لكه دے خبرے ته امام الهند شاه ولی الله الدهلوی په حجة الله البالغة (١/١٩٨) مبحث اوقات الصلاة كښے اشاره كوی فرمائی: قوله ﷺ اسفروا بالفجر الخ: اقول: هذا خطاب لقوم خشوا تقليل الجماعة جداً ان ينتظروا الی الاسفار اولاهل المساجد الكبيرة التی تجمع الضعفاء والصبيان وغيرهم كقوله ﷺ ايكم صلی بالناس فليخفف فان فيهم الضعيف، الحديث، وكذا فی بداية المجتهد (١/٧١) ۔

د احاديث د تغليس نه د احنافو جوابات او د هغے تحقيق

۱- **احناف وائی**: احاديث د تغليس منسوخ دی او دا په ابتداء د اسلام كښ وو بيا منسوخ شو؟ **الجواب**: دا خبره ډيره قبيحه ده چه دعوئ د نسخ اوكړے شی ځكه چه دا بلا دليله دعوئ ده او داسے دعوے مقلدين اكثر كوی ليكن دے لره اعتبار نه وی وجه دا ده چه د نبی عليه السلام نه د وفات وقت پورے تغليس سره مونږ كول نقل دی كما مر فی حديث ابی مسعود الانصاری ؓ بلكه كه دعوئ د نسخ معتبر شی نو پكار ده چه استحباب د اسفار منسوخ شی ځكه د نبی عليه السلام آخری عمل تغليس كښ مونږ وو لكه حافظ حازمی په كتاب الاعتبار كښ دے ته مائل شويدے هغه باب تړی: باب نسخ الافضلية بالاسفار بيائے حديث د ابو مسعود انصاری راوړيدے مگر اصح دا ده چه دواړو طرفونو ته چه دعوه د نسخ شويده نو دا بلا دليله ده ځكه چه د صحابو نه خاصكر د خلفاءِ راشدينو نه تغليس ثابت دے دارنگه د عثمان ؓ نه اسفار هم ثابت دے ۔ كما فی الطحاوی (١/١٣٥) ۔

۲- **دويم احناف وائی**: اسفار د نبی عليه السلام عادت وو او تغليس علی سبيل الضرورة شويدے؟ ۔

الجواب : دا خبره سراسر خطاء ده بلکه خبره الته ده، د نبی علیه السلام عادت تغلیس وو لکه حدیث د عائشه او ابو مسعود وغیره پرے دلیل دے ۔ پاتے شو حدیث د ابن مسعود مارأیت رسول الله ﷺ صلی صلاة الا لمیقاتها الا صلاتین صلاة المغرب والعشاء بجمع وصلی الفجر یومئذٍ قبل میقاتها اخرجه الشیخان وسیأتی فی المشکوة (۱/۲۳۰) ددے نه داسے استدلال کوی چه رسول الله ﷺ به غالبا اسفار کولو او په مزدلفه کښې ئے د فجر مونځ قبل الوقت المعتاد اوکړو او قبل طلوع الفجر خو مونځ ندے جائز نو دا دلیل دے چه تاخیر د نبی علیه السلام عادت وو او په دغه ورځ ئے په اول وقت کښې اوکړو د عام عادت مخالف ۔

نو دا استدلال کول صحیح نه دی وجه دا ده چه نبی علیه السلام په مزدلفه کښې خلاف عادت مونځ اوکړو په اول الطلوع کښې چه صبا راښکاره شو تردے چه بعض صحابه کرامو اووئیل چه صبا نه دے راختلے او بعضو به وئیل چه ختلے دے او عام عادت د نبی علیه السلام داسے وو چه کله به صبا را وختلو نو اذان به ئے اوکړو بیا به ئے کور کښې دوه رکعاته اوکړل بیا به مانځه ته را اووتو نو مونځ به ئے په غلس کښې اداء کړو او پدے ورځ باندے ئے د صبا راښکاره کیدو سره سمدست اداء کړیدے ځکه صحابه کرام تول په یو ځائے جمع وو نو پدے روایت کښې تصریح په اسفار بالکل نشته ۔ بلکه ددے معنی دا شوه چه په تغلیس کښې ئے د عام حالاتو نه زیادت اوکړو ۔

او دلیل پدے باندے حافظ ابن حجر په فتح الباری کښې ذکر کړیدے فرمائی : لا حجة فیه لمن منع التغلیس بصلاة الصبح لانه ثبت عن عائشة وغیرها کما تقدم فی المواقیت التغلیس بها بل المراد هنا انه کان اذا اتاه المؤذن بطلوع الفجر صلی رکعتی الفجر فی بیته ثم یخرج فصلی الصبح مع ذلك بغلس واما بمزدلفة فکان الناس مجتمعین والفجر نصب اعینهم فبادر بالصلوة اول ما بزغ حتی ان بعضهم کان لم یتبین له طلوعه وهو بین فی روایة اسماعیل حیث قال ثم صلی الفجر حین طلع الفجر وقائل یقول لم یطلع انتهی ۔

په روایت د اسماعیل کښې دا الفاظ چه صلی الفجر حین طلع الفجر دلیل دے چه دلته د طلوع الفجر سره سمدست مونځ شویدے تردے چه بعض صحابه کرامو ته طلوع الفجر نه وو ښکاره شوے او دا ښه واضح دلیل دے ۔

۳- دریم : احناف وائی : تغلیس که مستحب وے نو تولو صحابه کرامو به اجماع نه کولے په اسفار باندے او حال دا چه ابراهیم نخعیؒ فرمائی : ما اجتمع اصحاب رسول الله

ﷺ على شئ ما اجتمعوا على التنوير كما رواه الطحاوی (١/١٣٦) ۔

الجواب : صاحب د تحفة الاحوذی (١/١٤٤) فرمائی : دعوه د اجماع د صحابو په اسفار باندے باطله ده ځکه امام ترمذی په باب التغليس كښ فرمائی : وهو الذی اختاره غير واحد من اصحاب النبی ﷺ منهم ابوبكر وعمر الخ دارنګه حافظ ابن عبد البر قول مخکښ تیر شو هغه فرمائی : صح عن رسول الله ﷺ وابی بكر وعمر وعثمان انهم كانوا يغلسون ۔

دارنګه معانی الآثار کښ دا روایت هم راغلے دے د جابر نه : قال كانوا يصلون الصبح بغلس ۔ دغه شان روايت ئے د عمر او ابوبكر نه راوړيدے چه دوی به په تغليس باندے حکم كولو او عمر فاروق ابوموسى اشعری ته خط ليكلے وو (ان صل الصبح بسواد او بغلس واطل القرائة) رواه الطحاوی (١/١٣٤) ۔

ددے رواياتو نه ضعف د قول د ابراهيم نخعیؒ معلوم شو ۔

٤- **صاحب د العرف** الشذی فرمائی : زمونږ سره حديث قولی دے او حديث د تغليس حديث فعلی دے او قولی مقدم وی په فعلی باندے نو د احنافو مذهب راجح شو ؟

۔ ١- **الجواب** : صاحب د تحفة الاحوذی فرمائی : الحديث القولی انما يقدم اذا لم يمكن الجمع بين الحديث القولی والفعلی وفيما نحن فيه يمكن الجمع كما اوضحه الطحاوی وابن القيم) يعنى حديثِ قولی به هله مقدم وی په فعلی باندے چه کله تعارض راشی او دلته تعارض نشته بلكه تطبيق ممكن دے لكه چه طحاوی او ابن القيم کړيدے وقد مرّ ۔

٢- دارنګه د احنافو مذهب څنګه راجح ګرځی چه دا د نبی عليه السلام د مواظبت او د خلفاءِ راشدينو د مواظبت على التغليس نه خلاف دے ۔ تحفة الاحوذی (١/١٤٥) ۔

٣- كه اومنو چه تعارض دے نو دلته تعارض د نص يا د ظاهر دے د محتمل سره ځکه چه حديث د عائشه نص يا ظاهر دے په تغليس كښ او حديث د رافع بن خديج محتمل دے فيرجح النص على المحتمل كما قال ابن رشد الحفيد فی بداية المجتهد (١/٧١)۔

٤- دارنګه حديث كښ افضليت د اول الاوقات راغلے دے الا العشاء وقد مرّ ۔ ددے مسئلے د تحقيق دپاره لاندينی كتابونو ته رجوع اوكړه تحفة الاحوذی نيل الاوطار، المغنی لابن قدامة ، عون المعبود (١/١٦٢) مجموعة الفتاوی (١/٩٦) اعلام الموقعين لابن القيم، معانی الاثار (١/١٣٤) المرعاة (٢/٣٢٢) المرقاة للقاری (٢/) بداية المجتهد (١/٧١) ۔

۲ – وَعَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْحَسَنِ بْنِ عَلِيٍّ، قَالَ : سَأَلْنَا جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللهِ عَنْ صَلَاةِ النَّبِيِّ ﷺ، فَقَالَ : كَانَ يُصَلِّي الظُّهْرَ بِالْهَاجِرَةِ، وَالْعَصْرَ وَالشَّمْسُ حَيَّةٌ، وَالْمَغْرِبَ إِذَا وَجَبَتْ، وَالْعِشَاءَ إِذَا كَثُرَ النَّاسُ عَجَّلَ، وَإِذَا قَلُّوا أَخَّرَ، وَالصُّبْحَ بِغَلَسٍ . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ .

ترجمه : او محمد بن عمرو بن حسن بن علیؒ وائی چه مونږ جابر بن عبد الله نه د نبی کریم ﷺ د مانځه په باره کښے تپوس اوکړو نو هغه اووئیل : چه نبی کریم ﷺ به د ماسپښین مونځ د غرمے د اوریدو په وقت کولو او د مازیگر مونځ به ئے پداسے وقت کښے کولو چه نمر به ژوندے (روښانه) وو او د ماښام مونځ به ئے د نمر د ډوبیدو نه پس کولو ـ او د ماسخوتن مونځ چه کله به خلق زیات راغلی وو نو په جلتئ سره به ئے کولو او کله چه به خلق کم وو نو تاخیر سره به ئے کولو ـ او د صبا مونځ به ئے په تیاره کښے کولو ـ (بخاری ومسلم) ـ

تعارف د محمد بن عمرو : محمد بن عمرو بن الحسن بن علیؓ دا د علی ابن ابی طالب کړوسے دے د حسن نواسے دے ابوعبد الله المدنی ئے کنیه ده د مور نوم ئے رمله بنت عقیل بن ابی طالب دے دا د ثقات التابعین نه ده ـ

تشریح : وَالْعِشَاءَ إِذَا كَثُرَ النَّاسُ عَجَّلَ، وَإِذَا قَلُّوا أَخَّرَ : دا مسئله مخکښ تیره شویده چه د ماسخوتن مونځ ناوخته کول مستحب دی مگر چه کله جماعت کښ کموالے راځی نو بیا تقدیم پکار دے دپاره د تکثیر د جماعت او دا حدیث پرے دلیل دے ـ

دویم پدے حدیث کښ دا **مسئله** ده چه د **خلقو انتظار کول** د مانځه په باره کښ څنگه دی ؟ نو دا انتظار په دوه قسمه دے (۱) – یو بهر د مانځه نه چه خلق راپوره شی (ډیر شی) نو دا قسم انتظار کول سنت عمل دے او دا حدیث پرے دلیل دے ـ

۲ – دویم په مانځه کښ دننه انتظار کول لکه قرائت د چا دپاره اوگدول، رکوع وغیره اوگدول دے دپاره چه بعض مقتدی په لاره را روان وی او تا ته د هغے احساس اوشی مونځ ورته اوگد کړه چه مونځ لاندے کړی یا اول رکعت ـ

نو پدے کښ جمهور علماء فرمائی : چه دا عمل هم سنت طریقه ده دلیل پرے :

۱ – یو خو دا تعاون علی البر والتقویٰ دے او دا مستحب کار دے چه یو مسلمان مونځ

د ابتداء نه را لاندے کړی او څه مشقت په کښ هم نشته بلکه سراسر منفعت دے ۔
علامه ابن قدامه فرمائی : انه انتظار ينفع ولا يشق ـ الشرح الكبير (۲/ ۱۷) ۔
۲- دویم دلیل : هغه احادیث دی چه په هغے کښ د نبی علیه السلام نه تطویل د اول رکعت نقل دے کما وردت فی صحيح البخاری (۱۰۷/۱) ومسلم واحمد وابن ماجه والبیهقی (۲/ ٦٥ -٦٦) والنسائی ۔
نو غرض په اوږد والی د اول رکعت کښ دا دے چه مقتدیان اول رکعت ته حاضر شی او د جماعت فضیلت تریے فوت نشی نو ثابته شوه چه په رکعت یا رکوع کښ یو مقتدی ته انتظار کول قرائت اوږدول یا تسبیحات د رکوع اوږدول جائز بلکه مستحب عمل دے
۔ **۳- دریم دلیل :** علامه ابن قدامه په الشرح الكبير (۱۷/۲) کښ ذکر کړی دی :كان النبی ﷺ يطيل الركعة الاولى حتى لا يسمع وقع قدم ۔ یعنی نبی علیه السلام به دومره پورے د مقتدیانو انتظار کولو چه د قدمونو آواز به ئے غوږ ته نه راتلو ۔ فتاوی الدین الخالص (٤/ ۲۳۰) و(٥/ ۱۷۱) و(۳/۸۸)
٤- دلیل : رسول الله ﷺ په سجده کښ وو چه د هغه په شا باندے حسن سور شو نو هغه ورته سجده اوږده کړه او بیا ئے دا اوویل : ان ابنی هذا ارتحلنی فكرهت ان اعجّله ۔ یعنی زما دے ځوی زما د شا نه سورلئ جوړه کړه نو ما دا بده اوګنړله چه زه دا په جلتئ سره کوز کړم ۔ المغنی (۱۷/۲) ۔ دلته رسول الله ﷺ ددے مصلحت دپاره سجده اوږده کړه نو ددے مصلحت نه خو د مونځ کونکی مونځ پوره رالاندے کولو مصلحت زیات دے نو د هغے دپاره هم د مونځ اوږدولو مشروعیت معلوم شو ۔
٥- دلیل : په صلاةِ خوف کښ امام دویمے طائفے ته انتظار کوی دے دپاره چه د هغوی نه رکعت فوت نشی ۔ نو معلومه شوه چه د مقتدیانو انتظار کول مکروه ندی ۔
٦- دلیل : رسول الله ﷺ به مانځه کښ داخل شو بیا به ئے د ماشوم ژړا واوریدله نو مونځ کښ به ئے تخفیف کولو دے دپاره چه مورئے په فتنه کښ واقع نشی ۔ مشكاة : (۱۰۱/۱) او فرمائیلی ئے دی : څوك چه پتاسو کښ امامتی کوی نو هغه دے تخفیف سره مونځ کوی ځکه چه په هغوی کښ بوډا او ضعیف او حاجتمند وی ۔ نو دلته تخفیف په مانځه کښ د مصلحت دپاره مطلوب دے نو د تطویل جواز هم د مصلحت دپاره تریے معلوم شو۔
لیکن دا خبره پیژندل پکار دی چه په انتظار کښ به دومره اوږدوالے نکوی چه د نورو

مقتدیانو حق برباد کړی او هغوی په مشقت کښ واچوی لکه دا ددې شپږم دلیل نه معلومه شوه ۔

۲- **دویم قول** د امام ابوحنیفه دې چه هغه نه ددې انتظار متعلق تپوس اوشو نو هغه اووئیل: اخشی علیه امراً عظیماً یعنی الشرك کما فی رد المحتار (۱/۳۳۲) ۔

یعنی دا کار شرك فی العمل دې ځکه ابتداء ددې عمل د الله دپاره وو او آخرئې د راتلونکی مقتدی دپاره شو اګرچه کافر حقیقی ئې نه ګڼړی ځکه تذلل او عبادت د مقتدی دپاره نه دې خو شرك اصغر دې ۔

لیکن دا خبره مطلقا صحیح نه ده بلکه تفصیل دې ۔

(۱) – که د خلقو د مالدارئ یا د شهرت یا د دنیا یا د سردارئ د وجې نه دا عمل کوی چه ددې خلقو لحاظ ساتی نه د غریبانو نو بیا دا شرك کښ داخلیږی ځکه پدې کښ یره د خلقو نه ده یا طمع د مال او جاه ده او دا ممنوع دې شرعاً نو مونږ پدې لحاظ باندې اوګدول مناسب ده چه شرك ورته اووئیلې شی ۔

۲- لیکن که د ټولو مقتدیانو یوشان لحاظ کوی نو دا جائز او مستحب عمل دې ځکه عبادت د الله شو او تعاون علی البر هم اوشو فتدبر انظر فتاوی الدین الخالص (۲۳۰/٤) و (۱۷۱/۵) ۔

۳- وَعَنْ اَنَسٍ ﷺ قَالَ : كُنَّا اِذَا صَلَّيْنَا خَلْفَ النَّبِيِّ ﷺ بِالظَّهَائِرِ سَجَدْنَا عَلٰى ثِيَابِنَا اتِّقَاءَ الْحَرِّ . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ وَلَفْظُهُ لِلْبُخَارِيِّ .

ترجمه: او انس رضی الله عنه فرمائی چه کله به مونږ د نبی کریم ﷺ پسې روستو د ماسپښین مونځ کولو (نو) د ګرمئ نه د بچکیدو دپاره به مو په خپلو کپړو باندې سجده کوله ۔ (بخاری ومسلم) ۔

تشریح: كُنَّا اِذَا صَلَّيْنَا خَلْفَ النَّبِيِّ ﷺ بِالظَّهَائِرِ : ظهائر جمع د ظَهِيْرَةٌ ده دا هغه سختې ګرمئ ته وائی چه د زوال نه پس په نصف النهار (غرمه) کښ وی دیته هاجره هم وائی لکه مخکښ حدیث کښ تیر شو او دا صرف د اوړی دپاره استعمالیږی په ژمی کښ ظهیر نه استعمالیږی دلته د ظهائر نه مراد د ماسپښین مونځ دې یعنی هغه مونځ چه په سخته ګرمئ (غرمه) کښ کیږی بیا ظهائرئې جمع راوړیده ځکه د هرې ورځ بیله

بيله غرمه او ماسپښين وي ـ
سَجَدْنَا عَلٰى ثِيَابِنَا اتِّقَاءَ الْحَرِّ :

مسئله : په جامو باندے سجده كولو حكم

۱ - **د جمهور** علماء په نيز جواز لري متصل وي د انسان سره او كه منفصل وي البته بهتره دا ده چه انسان بغير د جامے نه سجده اوكړي مگر د ضرورت د وجے نه جامه په ځائے د سجده كښ اچولے شي لكه زمكه گرمه وي لكه دے حديث كښ دا ضرورت ذكر دے اويا ډيره يخه وي يا ختے يا كانړي وغيره وي ـ

۲ - **امام شافعیؒ** فرمائي : په ثوب منفصل باندے جائز ده او دا حديث ئے هم حمل كړيدے په ثوب منفصل باندے نه په متصل باندے امام بيهقي د هغه دپاره په السنن الكبرى (۱/۱۰۵) كښ ورله دليل كښ حديث د جابر بن عبد اللهؓ ذكر كړيدے چه هغه فرمائي : ما به د نبي عليه السلام سره د ماسپښين مونځ كولو (فآخُذُ قَبْضَةً من الحَصىٰ فى كَفِّىْ حتى تبرد وَاَضَعُهَا بجبهتى اذا سجدتُ من شدَّةِ الحرِّ ـ طريقه د استدلال ئے دا ذكر كړيده چه كه سجده په متصله جامه جائز وے نو دا خو بيا ډيره آسانه وه د يخولو د كانړو نه په لاسونو كښ او بيا د هغے كيښودل په زمكه دپاره د سجدے كولو آهـ (يعنى د كانړو د يخولو ضرورت بيا نه وو بلكه په خپله جامه به ئے سجده كولے) ـ

ليكن دا استدلال په محل د نظر كښ دے كما قال الحافظ فى فتح البارى (۱/۳۹۲) وجه دا ده چه دے كښ دا احتمال شته چه كوم صحابه كرامو په لاس كښ كانړي يخول نو هغوى سره دے زياتي جامه نه وه چه هغه خوره كړي ـ

دويم : ابن دقيق العيدؒ وئيلي دی : دا استدلال د دوه وجو نه صحيح نه دے :

(۱) – يو من حيث اللفظ ځكه په روايت د مسلم كښ تعقيب السجود بالبسط راغلے دے يعني د جامے خورولو پسے متصل سجده راغلے ده مطلب دا چه دا كار په مانځه كښ دننه كيږي چه كله انسان سجده كوي نو طرف د خپلے جامے خور كړي او سجده پرے اوكړي اِلخ كه چرته دا منفصل جامه وے نو بيا به ئے داسے وئيلي وے چه مونږ به مانځه ته اودريدو نو اول به مو جامه خوره كړه بيا به په حالت د سجده كښ په هغے باندے سجده كوله فتدبر ! ـ

(۲) – دويم دا چه : د صحابو دومره جامے چرته وے چه هغه ئے په زمكه هم خوره كړي

او په بدن ئے هم واچوی ۔ انظر نيل الاوطار (١/٢٨٩) ۔

شوافع وائی : تمكين الجبهة على الارض (په زمكه باندے تندے كيخودلو) باندے امر راغلے دے او دے باندے عمل هله راتلی چه كله جامه پوره جدا وی د انسان نه يا بالكل جامه موجوده نه وی ۔ المجموع (٣/٤٢٥) ۔

الجواب : جمهور علماء ددے جواب كوی چه متصل جامه كښ هم په زمكه باندے تندے كيخودلے شی او د بدن په هيڅ حصه باندے سجده نه راځی ځكه زمونږ مراد د متصل جامے نه هغه نه ده چه هغه د بدن پورے انښتی وی چه مثلا په بدن يعنی لاس وغيره باندے سجده اوشی بلكه متصل جامه نه لمن يا اوږد لستونړے يا طرف د څادر مراد دے ۔

اګرچه بهتره دا ده چه تندے په زمكه مباشرةً اولګوی مينځ كښ څه حائل نه وی، خو خبره په جواز او عدم جواز كښ ده عند الجمهور جائز ده اګر كه حائل موجودهم وی او داحديث الباب پرے دليل دے والله تعالىٰ اعلم ۔

اِتِّقَاءَ الْحَرِّ : دا منصوب دے مفعول له دے ای لاجل اتقاء الحر (د وجے د ځان ساتلو د حرارت د زمكے نه ۔ او دا كار ئے ولے كولو ؟ نو ددے حكمت دا دے چه پديسره تشويش زائله كيږی كوم چه د حرارت د زمكے نه راپيدا كيږی دپاره ددے چه خشوع او عاجزی د مانځه خرابه نشی ۔

فوائد الحديث : دے حديث نه ډير فوائد حاصليږی : (١) – پدے حديث كښ جواز د استعمال د جامو ثابت شو چه د زمكے او مونځ كونكی په مابين كښ وی دپاره د بچاؤ د ګرمئ يا يخنئ (يعنی ضرورت) ۔

(٢) – لحاظ د خشوع كولو ۔ (٣) – دارنګه معلومه شوه چه د ماسپښين مونځ په اول وقت كښ شويدے كما هو مذهب الامام الشافعی ليكن ددے حديث سره هغه احاديث متعارض دی چه هغے كښ امر راغلے دے په ابراد بالظهر باندے او دفع د تعارض ددے باب په ابتداء كښ په ډيرو وجوهو سره ذكر شويده فليراجع ! ۔

٤ – وَعَنْ اَبِیْ هُرَيْرَةَ ﷺ ، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : اِذَا اشْتَدَّ الْحَرُّ فَاَبْرِدُوْا بِالصَّلَاةِ ۔

---

٥ – وَفِیْ رِوَايَةٍ لِلْبُخَارِیِّ عَنْ اَبِیْ سَعِيْدٍ، بِالظُّهْرِ، فَاِنَّ شِدَّةَ الْحَرِّ مِنْ فَيْحِ

جَهَنَّمَ، وَاشْتَكَتِ النَّارُ اِلٰى رَبِّهَا فَقَالَتْ : رَبِّ ! اَكَلَ بَعْضِيْ بَعْضاً فَاَذِنَ لَهَا بِنَفَسَيْنِ : نَفَسٍ فِي الشِّتَاءِ وَنَفَسٍ فِي الصَّيْفِ، اَشَدُّ مَا تَجِدُوْنَ مِنَ الْحَرِّ، وَ اَشَدُّ مَا تَجِدُوْنَ مِنَ الزَّمْهَرِيْرِ . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ . وَفِيْ رِوَايَةٍ لِلْبُخَارِيِّ : فَاَشَدُّ مَا تَجِدُوْنَ مِنَ الْحَرِّ فَمِنْ سَمُوْمِهَا، وَاَشَدُّ مَا تَجِدُوْنَ مِنَ الْبَرْدِ فَمِنْ زَمْهَرِيْرِهَا.

ترجمه : او ابو هريره رضى الله عنه فرمائي چه نبى كريم ﷺ فرمائيلي دى : كله چه د گرمئ شدت وى نو مونځ په يخ وقت كښې كوئ او د بخارى په يو روايت كښې د ابوسعيدؓ نه نقل دى چه د ماسپښين مونځ په يخ وقت كښې كوئ (يعنى د ابو هريرهؓ) په روايت كښې خو بالصلاة لفظ راغلے دے او د ابوسعيد په روايت كښې بالظهر لفظ راغلے دے دارنګه پدے روايت كښې دا الفاظ هم دى چه) ځكه د گرمئ شدت د دوزخ د براس نه وى او (د دوزخ) اور خپل رب ته شكايت اوكړو چه اے ربه ! زما بعضے (شعلے) بعضو لره خورى، نو الله تعالى هغه ته د دوه ساه اخستلو اجازت وركړو نو اوس هغه يوه ساه په ژمى كښې اخلى او يوه ساه په اورى كښې ـ په گرمئ كښې چه كوم وقت زياته گرمى تاسو ته محسوسيږى او په ژمى چه كوم وقت زياته يخنى تاسو ته محسوسيږى (نو ددے سبب دغه وى چه دوزخ يوه ساه په گرمئ كښې او يوه ساه په يخنئ كښې اخلى) ـ (بخارى ومسلم) ـ

تشريح : اِذَا اشْتَدَّ الْحَرُّ فَاَبْرِدُوْا بِالصَّلَاةِ : يعنى كله چه گرمى سخته شى نو يخوالے كوئ په مانځه سره يعنى چه گرمى زياته شى نو بيا د ماسپښين مونځ داسے اندازے ته روستو كړئ چه يخوالے پيدا شى او د گرمئ براس كم شى، او ددے په تحديد كښې كوم حديث نشته سوئ د حديث د ابن مسعودؓ نه كما مرّ چه نبى عليه السلام د ماسپښين د مانځه وقت په اورى كښې د درے قدمونو نه تر پنځو قدمونو په اندازه كښې وو يعنى چه سورے به تر پنځه قدمونو پورے اوګد شو نو د ظهر مونځ به ئے اداء كولو ليكن اصح دا ده چه دا مختلف كيږى په اختلاف د اماكن او احوالو سره وقد مرّ تفصيله فى الباب السابق قبل هذا ـ

فَاَبْرِدُوْا بِالصَّلَاةِ : د ابراد نه ماخوذ دے وهو الدخول فى البرد، اى ادخلوها فى البرد

واخروها عن شدة الحر في اول الزوال ـ باء په کښې د تعدیت دپاره شوه ۲- یا باء زائده ده او ابراد متعدی بنفسه دے او متضمن دے معنی د تاخیر لره ای اخروا الصلوة الی ان یبرد الوقت وینکسر الوهج ـ

فوائد الحدیث : (۱) - حدیث ددے دپاره راوړے شویدے چه د ظهر مونځ په اوړی کښې وختی کول ندی پکار بلکه تاخیر پکار دے څکه گرمی زیاته وی (۲) - په گرمئ کښے د ظهر مونځ ولے ندے پکار ددے څه حکمت دے ؟ـ

الجواب : د نهی ۱- یو حکمت دا دے چه پدے وقت کښې د حرارت په وجه مشقت پیدا کیږی چه هغے سره خشوع او خضوع په مانځه کښې نه پاتے کیږی نو غرض پکښې دفع د حرج او مشقت او حصول المنفعة دے او خشوع خو د مانځه روح دے نو شریعت ددے د باقی پاتے کیدو په لحاظ امر په ابراد بالظهر اوکړو وهذا اظهر ـ

۲- دویم حکمت دا دے چه دا وقت د غضب او عذاب دے، جهنم پکښې براس وهی او د عذاب په وخت کښې مخے مخے ته کیدل ندی پکار لکه دا علت په حدیث د عمرو بن عبسه کښې راغلے دے : اقصر عن الصلاة فانها ساعة تسجر فیها جهنم ـ

لیکن پدے باندے دا اشکال راځی چه مونځ خو سبب د رحمت دے پدے سره خو عذاب دفع کیږی نو څنګه امر کوی په پریښودو د مانځه پدے وقت کښې ؟ نو ددے **یو جواب** حافظ ابن حجر د ابو الفتح یعمری نه دا نقل کړیدے چه هغه فرمائی : د شریعت طرف نه چه کله یو علت راشی نو د هغے قبلول پکار دی اګرکه انسان ئے په معنی او حقیقت باندے نه پوهیږی - دلته هم په شدة الحر کښې د مانځه روستو کولو علت د جهنم براس دے که ددے وجه زمونږ ذهن ته راځی او که نه خو مونږ به ئے منو ـ

۲- دویم جواب : ابن المنیر فرمائی : د غضب او عذاب دا اثر د ظهور په وخت کښې دعاء او طلب فائده نه ورکوی مګر هغه چا ته چه په دغه وخت کښې اجازت ورته اوشی او استدلال ئے کړیدے د حدیث د شفاعت نه چه د قیامت په ورځ به تول انبیاء کرام دا عذر پیش کوی : ان الله تعالی غضب غضباً لم یغضب قبله مثله ولا یغضب بعده مثله ـ

لیکن زمونږ پیغمبر ته خصوصی اجازت ورکړے شویدے پدے وجه هغه به هیڅ عذر نکوی بلکه شفاعت به طلب کوی ـ نو دغه شان مونځ هم دعاء او طلب دے او دعاء او طلب په وخت د غضب کښې مفید نه وی مګر چه کله اجازت موجود وی پدے وجه مناسب ده چه پدے وخت کښې عبادت اونکړے شی څکه الله تعالی ته بعض اوقات

محبوب وی د بعضو نه وربك یخلق ما یشاء ویختار۔

حافظ فرمائی : اول حکمت اظهر دے۔

(۳) - **مِنْ فَيْحِ جَهَنَّمَ:** بفتح الفاء وسکون الیاء، براس او دگرمئ سختوالے او فراخوالے او تنفس ته وائی عربئ کښ وئیلے شی : مکان افیح ای مکان واسع، بیا دا کنایه ده د سخت لمبه کیدو نه چه براسونه به کوی۔

(٤) - د زمکے براس د جهنم نه کیدو کښ اختلاف دے ۱- **بعض** وائی دا په تشبیه او استعاره باندے حمل دے یعنی حقیقت کښ د زمکے گرم والے او یخوالے د جهنم د براس او تنفس په وجه نه دے بلکه دا مجاز دے معنی دا ده چه سخته گرمی مشابه ده د اور د جهنم سره نو اوبریږئ او ضرر نه ئے ځان بچ کړئ !۔

۲- **صحیح خبره** دا ده چه دا حمل دے په حقیقت باندے یعنی حقیقت کښ زمکه د جهنم د براس د وجه نه گرمه وی او دیته امام نووی ظاهر او صواب وئیلی دی پدے کښ څه اشکال نشته چه حمل شی په حقیقت باندے او ددے تائید دا روستو روایت کوی : اشتکت النار الی ربها ۔ ددے نه معلومیږی چه جهنم دوه اوسیلی کوی یو په اوړی کښ نو گرمی راپیدا شی دویم په ژمی کښ نو ددے نه یخنی پیدا شی۔

لیکن پدے باندے **دوه اشکاله** راځی : ۱- **اول اشکال** دا چه هر کله یخنی او گرمی د جهنم د اوسیلی او براس په وجه ده نو پکار ده چه بیا هر ځائے کښ گرمی او یخنی یوشان وی اوسره ددینه چه د گرمئ او یخنئ ډیر تفاوت وی په مختلف علاقو کښ بعض ځایونو کښ په اوړی کښ یخنی وی لکه پاکستان کښ د سوات علاقے کالام بحرین وغیره او بعضے علاقے گرمے وی لکه مردان، پشاور وغیره دارنگه پاکستان کښ په ژمی کښ یخنی وی او په سعودی وغیره کښ گرمی وی ؟۔

نو ددے اشکال **جواب** دا دے چه براس ټول یوشان دے مگر کله چه موانع نه وی او کله چه موانع موجود وی نو بیا بعض ځائے کښ گرمی وی او بعض ځایونو کښ یخنی، ځکه چه الله تعالی د یخنئ او گرمئ دپاره اسباب مقرر کړیدی او بیا د هغے موانع، مثلاً سبب د گرمئ د جهنم براس دے مگر ددے مانع ئے هم پیدا کړیدے لکه غرونه، هواگانے واوره، ونے بوټی او اوچتوالے د زمکے نو پدے څیزونو سره گرمی کمزوری کیږی دارنگه قرب او بعد د شمس۔ نو کومے علاقے چه نمر نه لاندے وی خط استواء کښ وی لکه سعودی عرب وغیره نو دا گرمے وی او کومے علاقے چه ددے نه وړاندے وی لکه چترال،

سوات وغیره نو هغه یخے وی۔

۲- دویم اشکال دا دے چه علماء د علم هیئت فرمائی چه د زمکے گرمایش او بړاس تابع دے د قرب او بعد د نمر لکه چه دا خبره محسوس او مشاهد ده چه کوم علاقے نمر ته نزدے وی هغه گرمی وی او کومے چه وړاندے وی هغه یخے وی نو دینه خو معلومه شوه چه سبب د حرارت او برودت خو شمس دے نه د جهنم بړاس؟۔

الجواب: ددے اشکال جواب دا دے چه دا ممکن ده چه الله رب العالمین د نمر او د جهنم په مابین کښ یو خاص ارتباط، تعلق او مناسبت پیدا کړے وی چه نمر د هغے په وجه د جهنم حرارت قبلوی او ځان ته ئے راکاږی نو په ظاهر کښ په زمکه کښ حرارت د شمس سبب دے د اشتداد الحر دپاره او دلته چه فیح جهنم ته د اشتداد الحر نسبت شویدے نو دا ئے اصلی او غیبی او باطنی سبب دے نو نمر ظاهری سبب او فیح جهنم باطنی سبب دے فلا اشکال والله اعلم۔

۶- فائده: هر کله چه د ابراد علت شدتِ حرارت شو نو کوم ملکونو او علاقو کښ چه په ظهر کښ دا علت نه وی نو هلته به په اول وقت کښ مونځ بهتر وی ځکه دا امر د تاخیر الظهر د شفقت او رحمت دپاره وو او هغه په دغه علاقه کښ ختم شو فتدبر!۔

دارنگه که د اے، سی (ائرکنډیشن) په وجه مسجد یخ وی او تکلیف نه وی بیا هم علت ختم دے وهو الحق۔

۷- فائده: اوس جهنم پیدا دے مخکښ د ورتلو د انسانانو او پیرانو نه او ظاهره دا ده چه د دریاب لاندے دے کما فی الحدیث (ان تحت البحر ناراً) نو پدے کښ رد دے په جهمیه او معتزلو باندے چه هغوی وائی جنت او جهنم ندی پیدا ځکه ددے پیدا ئش عبث دے ځکه انسانان خو لا ورغلی ندی بعض دنیا کښ دی او بعض برزخ کښ دی۔

ددے **جواب** دا دے چه دا خبره د دوئ سراسر غلطه او کوږ مغزی ده ځکه چه د جهنم او جنت په پیدائش کښے بے شماره فوائد دی: ۱- یو دا چه انسان وفات شی نو روح ئے یا جنت ته ځی یا جهنم ته ۲- دارنگه قبر کښ د جهنم نه بړاس راځی او د جنت نه بړکئ کولاویږی او دنیا ته هم د دوزخ بړاس راځی۔ ۳- یو شے چه پیدا نه وی نو انسان د هغے نه نه یریږی فتدبر!۔

وَاشْتَكَتِ النَّارُ اِلٰى رَبِّهَا: یعنے اور خپل رب ته شکایت اوکړو چه زما بعضے حصه را اولګیده بعضے حصه ئے اوخوړله نو زه څه اوکړم؟ الله ورته اوفرمائیل: دوه ځل ساه

واخله نو يخ به شي ! ۔
پدې شکایت کښې اختلاف دے چه ددے څه مصداق دے آیا دا حقیقي دے که مجازي ؟ ۔ (۱) – راجح بلکه حق قول دا دے چه دا په خپل حقیقت او ظاهر باندې حمل دے او دا شکایت په لسان القال سره دے په خپله خوله ئې دا وینا کړیده او الله رب العالمين قادر دے پدې چه په مخلوق کښې حیٰوة او ادراك پیدا کړی چه هغه خبرے اوکړی د هر مخلوق خبرے جدا جدا وی (قالوا انطقنا الله الذی انطق کل شئ) قیامت کښې به لاس خپے (اندامونه) خبرے کوی، پدے کښې هیڅ استبعاد نشته او دا قول امام ابن عبد البر، قاضي عیاض، علامه قرطبي او امام نوویؒ او توربشتیؒ راجح کړیدے ۔
علامه قرطبي فرمائي : کله چه یو صادق ذات د یو ممکن شي خبر ورکړی نو د هغې تاویل ته ضرورت نه وی بلکه په حقیقت باندې حمل کول ئې اولیٰ دی ۔ او اوس زمانه کښې ددے مثالونه شته په آلاتِ جدیده کښې اوګوره د چائینا مصنوعاتو ته ۔
(۲) – قاضي بیضاویؒ وائي : دا محمول دے په مجاز باندې نو شکایت مجاز دے د خوټ کیدو او جوش وهلو نه او خوراك د بعضې حصې بعضو لره مجاز دے د ازدحام د اجزاؤ نه پداسې طریقه چه خپل مکان پرېے تنګ شو نو هر جزء کوشش کوی چه بل جزء ختم کړی او د هغه په مکان باندې غلبه حاصله کړی (یعنی یو بل کښې ننوتو) او تنفس مجاز دے د لمبو او هغه سپرغو نه چه ددے نه راپیدا کیږی ۔
لیکن ابن المنیرؒ وئیلی دی چه دا خبره د مجاز نه ډیره بعیده ده ځکه دلته شکایت او د هغې تفسیر او تعلیل او اذن او قبول او تنفس او دوه تنفس فقط دا څیزونه دلالت کوی چه دا په لسان الحال سره نه دے ځکه دا د مجاز د استعمال نه خلاف دی دا ټول حقائق دی ۔
فَأَذِنَ لَهَا بِنَفَسَيْنِ : نفسین تثنیه ده د نفس ساه اخستو ته وائي ۔
سوال : جهنم په اوسیلي او ساه اخستو سره څنګه یخیږی ددے څه حکمت کیدے شی ؟ ۔
جواب : ددے حکمتونه الله تعالی ته معلوم دی خو شارع چه یو خبر ورکړی نو مؤمن باندې د هغې منل ضروری دی، اګرچه حکمت ورته معلوم نشی د هر شی حقیقت او حکمت معلومول ضروری ندی بلکه د الله او رسول خبرے ډیرے ژورے وی کله به زمونږ ذهن د هغې حکمت ته رسیږی او کله نه، هر شی ته الله رب العزت خپل شعور او خبرے ورکړیدی او خپل اوسیلي لری چه په هغې سره یخیږی دلته هم جهنم د انسان او

حيوان پشان اوسيلے كوى د الله تعالى په قدرت پدے سره پكښې يخوالے پيدا كيږى ـ قرآن كريم كښې دى : ﴿ وَإِنْ مِنْ شَيْءٍ إِلَّا يُسَبِّحُ بِحَمْدِهٖ وَلٰكِنْ لَا تَفْقَهُوْنَ تَسْبِيْحَهُمْ ﴾ ، الاسراء آيت (۴۳) هر شے تسبيحات وائى مونږ پرے نه پو هيږو ، د قيامت په ورځ به جهنم خبرے كوى ـ تقول قط قط ـ

اَشَدُّ مَا تَجِدُوْنَ مِنَ الْحَرِّ : اشد يا مرفوع دے خبر د مبتداء محذوف دے اى ذلك اشد ما تحدون ـ ۲- يا مرفوع دے مبتداء ده او خبرئے محذوف دے اى اشد ما تحدون من الحر من ذلك النفس ـ بناء په دواړو احتمالينو ما يا موصوفه ده يا موصوله او وروستو من الحر او من الزمهرير د هغے بيان دے يعنى دا نَفَس هغه سخته گرمى ده چه تاسوئے مومئ په دنيا كښې يا سخته گرمى او يخنى چه تاسو مومئ نو دا د دغه نفس (اوسيلى) نه ده ـ

۳- يا اشد مجرور دے بدل دے د نفس نه يعنى دا نفس بعينه هغه گرمى ده چه تاسو ئے محسوس كوئ ! ـ

زَمْهَرِيْر : سختے يخنئ ته وائي او دا په جهنم كښې يوه طبقه ده ـ

فَاَشَدُّ مَا تَجِدُوْنَ مِنَ الْحَرِّ فَمِنْ سَمُوْمِهَا : سموم گرمے هواء ته وائى يعنى تاسو چه سخته گرمى محسوس كوئ نو دا د جهنم د گرمے هواء د وجے نه ـ

فَمِنْ زَمْهَرِيْرِهَا : هاء ضمير نار ته راجع دے نو پدے باندے دا اشكال كيږى چه طبقه زمهرير هم نار دے حال دا چه داسے نه ده ځكه نار گرم وى او زمهرير يخ وى ـ

ددے **يو جواب** دا دے چه د نار نه مراد دلته محل د نار دے يعنى جهنم مراد دے او طبقه زمهريريه هم په جهنم كښې ده لكه څنگه چه طبقه ناريه په جهنم كښې ده فلا اشكال ـ

۲- **دويم جواب** : جهنم هم د انسان په شان دوه ساه گانے لرى داخلى او خارجى نو جهنم چه كله ځان ته دننه ساه راكاږى نو په خارج كښې برودت (يخنى) پيدا شى او كله چه جهنم خارج طرفته ساه او باسى نو په خارج كښې گرمى را پيدا شى او تنفس الى الداخل شپږ مياشتے وى او تنفس الى الخارج شپږ مياشتے وى نو اوس طبقه زمهريريه په اوركښې كيدلو كښې اشكال نشته او ددے نه معلومه شوه چه اشتكت النار او اذن لها بنفسين په خپل حقيقت باندے دى څه د تاويل ضرورت پكښې نشته فتدبر ! ـ

٦- وَعَنْ اَنَسٍ ﷺ ، قَالَ : كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ يُصَلِّى الْعَصْرَ، وَالشَّمْسُ

مُرْتَفِعَةٌ حَيَّةٌ، فَيَذْهَبُ الذَّاهِبُ إِلَى الْعَوَالِيْ، فَيَأْتِيهِمْ وَالشَّمْسُ مُرْتَفِعَةٌ، وَبَعْضُ الْعَوَالِيْ مِنَ الْمَدِيْنَةِ عَلَى أَرْبَعَةِ أَمْيَالٍ أَوْ نَحْوِهِ . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ .

ترجمه : او انس رضی الله عنه فرمائی چه نبی کریم ﷺ د مازیگر مونځ پداسې وقت کښې کولو چه نمر به اوچت او ژوندې (یعنی روښانه) وو او (د مانځه نه پس) یو تلونکې به عوالی ته تللو او واپس راتلو پداسې حال کښې چه نمر به اوچت وو او بعض عوالی د مدینې نه په څلور میله یا تقریباً په څلور میله فاصله باندې وو۔

تشریح : **فَيَذْهَبُ الذَّاهِبُ** : یعنی یو انسان به د مازیگر مانځه نه روستو تلو۔

إِلَى الْعَوَالِيْ : جمع د عالیه ده بره سر ته وائی دلته ترې مراد هغه کلی دی چه راجمع شویدی گیر چاپیره د مدینه طیبه نه نن صبا زمانه کښې ورته هم عوالی وائی او مسجد بنی قریظه هم پدغه طرف کښې دې پدې کښې وړاندې کلی اته میله فاصله باندې واقع دی کما جزم به القاضی عیاض وابن عبد البر وصاحب النهاية ـ لیکن دا خبره علامه یاقوت حموی المتوفی (٦٢٦)ھ په معجم البلدان (٣٦١/٣) کښې ذکر کړیده، فرمائی : وابعدها علی ثمانية اميال ـ

او د ټولو نه نزدې مدینې ته په دوه میله او بعض په درې میله او بعض په څلور میله فاصله باندې پراته دی۔

دا حدیث واضح دلیل دې چه نبی علیه السلام به د مازیگر په مانځه کښې ډیر مخکښې والې کولو، وختی به ئې کولو چه یو تن به د مازیگر نه پس خپل کلی ته روان شو چه په اته میله یا شپږ میله یا څلور میله کښې وو بل روایت کښې اقصی المدینه راغلې دې یعنی آخر سر د مدینې ته به اورسیدو نو بیا به هم نمر نیغ اوچت ولاړ وو او زیړ والی ته به نه وو رسیدلې ۔اوس ډ پدې مونږ خپل مونځونه قیاس کړو چه آیا زمونږ د مازیگر مونځ هم داسې وختی دې كلا! بلکه زمونږ د معاشرې مونځ خو د جمع اودریدو په وخت کښې نمر زیړ وی تاؤ د نمر ختم شوې وی نو دا حدیث دلیل دې چه د مازیگر مونځ د مثل اول په ابتداء کښې شویدې کما هو قول الجمهور وقد مر تفصيلا ـ

۷ــ وَعَنْهُ رضي الله عنه، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : «تِلْكَ صَلَاةُ الْمُنَافِقِ : يَجْلِسُ

يَرْقُبُ الشَّمْسَ، حَتّٰى إِذَا اصْفَرَّتْ، وَكَانَتْ بَيْنَ قَرْنَيِ الشَّيْطَانِ، قَامَ فَنَقَرَ أَرْبَعاً لَايَذْكُرُ اللّٰهَ فِيْهَا إِلَّا قَلِيْلًا ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: او انس رضی الله عنه فرمائی چه نبی کریم ﷺ اوفرمائیل: دا (د مازیگر مونځ چه څوك ناوخته كوی) د منافق مونځ دے چه هغه ناست وی نمر ته گوری، کله چه نمر زیړ شی او د شیطان د دواړه خکرونو ترمینځ (یعنی ډوبیدو ته نزدے) شی نو په جلتئ سره پاڅیږی، څلور تونگے اووهي او د الله ذکر په هغے کښے ډیر کم کوی ۔ (مسلمؒ) ۔

تشریح: تِلْكَ صَلَاةُ الْمُنَافِقِ : تلك اشاره ده مذکور حکماً ته یعنی هغه مونځ د مازیگر چه زیړ والی د نمر ته روستو کړے شوے وی نو دا د منافق مونځ دے او دا روستو یجلس یرقب الشمس جمله مستانفه ده بیان واقع شویدے ددے مخکښ جملے ۔

د حدیث مطلب دا دے چه چا د مازیگر مونځ د نمر زیړ والی کیدو پورے بغیر د ضرورت نه روستو کړو نو هغه خپل ځان د منافقانو سره مشابه کړو ځکه منافق د صحت او تکمیل د مانځه هیڅ عقیده نه لری بلکه هغه خو صرف ځان مسلمان ښکاره کړے وی د تورے نه یریږی نو مونځ کوی نو د مانځه د تاخیر هیڅ باك نکوی ځکه هغه خو د الله تعالی نه د څه فضیلت نه طلب کوی او نه د اجر او ثواب د حاصلیدو هیڅ اراده ئے وی لهذا مسلمانانو باندے دا واجب دی چه هغوی عملًا او فعلًا د هغوی سخت مخالفت اوکړی او د مازیگر مونځ په مستحب وقت کښ اداء کړی نو حدیث کښ سخته یره پرته ده چه که د مازیگر مونځ څوك روستو کوی نو د منافقانو خصلت او عادت پکښ راغلو ۔

يَجْلِسُ يَرْقُبُ الشَّمْسَ : یعنی ناست وی، انتظار کوی د نمر د پریوتو ۔ امام نوویؒ فرمائی: پدے حدیث کښ تصریح ده په بدئ د هغه چا چه په غیر د عذر نه د مازیگر مونځ نا وخته کوی ۔

وَكَانَتْ بَيْنَ قَرْنَيِ الشَّيْطَانِ : یعنی دا نمر شی په مابین د دوه ښکرونو د شیطان کښ، دا کنایه ده د نزدے کیدو نه غروب ته ځکه چه شیطان د نمر ختلو او پریوتو په وخت کښ د نمر مخے ته اودریږی پداسے طریقه چه طلوع او غروب دده د قرنین (د سر دواړو طرفونو) په مابین کښ شی او دا په خپل حقیقت حمل دے وقد مر تفصیله ۔

قَامَ فَنَقَرَ أَرْبَعاً : دا جزاء ده د اذا شرطیه دپاره ۔ نقر نه مراد تونگے وهل دی لکه یو مارغه یا چرگ وغیره چه د زمکے نه دانے را اوچتوی دیته نقر الغراب او نقر الدیك وائی

یعنی هغه بغیر د اطمینان او سکون نه داسې په جلتئ سجدې کوی لکه مارغه چه دانه را اوچتوی یعنی په سجده کښې دومره وخت حصاریږی څومره چه کارغه خپله مکوښه په دانه راټولو کښې تیروی۔

علامه سندیؒ فرمائی: دلته د منافق دواړه سجدې او ددې په مابین کښې د فاصلې تشبیه ورکړې شوه د مارغه د دانې راټولو اندازې سره۔ اشاره ده دیته چه د سجدې ئې څه خوند نه وی صرف ځان ترې خلاصوی۔

بیا ئې اَرْبَعًا اوویل سره ددې نه چه د مازیګر په مانځه کښې خو اته (۸) سجدې دی نو ددې وجه دا ده چه کله ده اولې سجدې نه پوره سر راپورته نکړو نو ګویا کښې دواړه سجدې د یوې سجدې په حکم کښې شوې نو ځکه ئې څلور سجدې ذکر کړې، ددې نه هم د تعدیل د ارکانو فرضیت ثابت شو۔ ۲– دویمه وجه: یا دواړه سجدې ئې یو رکن شمارلے دے نو د اتو په ځائې څلور ذکر کړې اعتباراً بالرکعات۔

نو دا حدیث دلیل دے صراحةً په بدئ د هغه چا چه په جلتئ سره مونځ کوی چه د خشوع او اطمینان او اذکار پکښې په کامله طریقه نکوی۔

۲– بعض وائی نقر اربعا: کنایه ده د سرعت کولو نه په اداء کولو د مانځه کښې یا کنایه ده د سرعتِ قرائت نه او قلتِ ذکر نه په هغې کښې۔

لَایَذْکُرُ اللّٰهَ فِیْهَا اِلَّا قَلِیْلًا: (۱) – دا یا متصل دے د ما قبل سره یعنی په مانځه کښې الله تعالی ډیر کم یاد وی ای الا ذکراً قلیلاً۔ وجه دا ده چه د منافق په الله تعالی او د هغه په ذکر هیڅ عقیده نه وی صرف د خلقو د یرې نه مونځ کوی دارنګه د اخلاص نه خالی وی نو که ډیر ذکر پکښې اوکړی نو هم کم دے کالعدم دے، سرسری عمل دے، چه حقیقت باندې مبنی نه دے۔

(۲) – دویم دا چه دا استثناء منقطع ده معنی دا ده: لیکن الله تعالی په لږ وقت او زمانه کښې یادوی صرف په ژبه باندې یعنی عام حالاتو کښې هم الله تعالی نه یادوی مګر کله ئې چه د خلقو د ریاء د وجې نه یاد کړی نو هغه هم صرف په ژبه وی زړه کښې نه وی۔ ای لا یذکر الله فیها لکن یذکر الله زمنا قلیلا فی عامة الاوقات۔

بیا دلته صرف د مازیګر د مانځه تذکره اوشوه او نور مونځونه ذکر نشو نو ددې وجه دا ده چه د مازیګر مونځ صلاةِ وسطیٰ دے، ډیر فضیلت لری اګرچه په نورو مونځونو کښې د آداب او ارکانو لحاظ نه کول غلط کار دے لیکن د نورو مونځونو په نسبت دا مونځ ډیر

په زړه جمعئ او سکون القلب نکول او ددے د ارکانو او آدابو خیال نکول ډیره بده خبره ده نو تخصیص د عصر د زیادتِ قباحت د وجے نه دے، چه دا انسان ددے افضل مونځ لحاظ نکوی نو د نورو به څه لحاظ اوکړی نو ددے سره مزید قباحت ته اشاره شوه۔

۸– وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : اَلَّذِیْ تَفُوْتُهٗ صَلَاةُ الْعَصْرِ فَكَاَنَّمَا وُتِرَ اَهْلُهٗ وَمَالُهٗ . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ .

ترجمه : او ابن عمر رضی الله عنه فرمائی چه نبی کریم ﷺ فرمائیلی دی : د کوم شخص نه چه د مازیګر مونځ قضاء شو نو ګویا که د هغه مال او د هغه اهل وعیال ټول لوټ شو۔ (بخاری ومسلم)۔

تشریح : اَلَّذِیْ تَفُوْتُهٗ : ددے (۱) یو مطلب دا دے چه چا نه د مازیګر مونځ قضاء او فوت شو نو هغه داسے دے لکه چه د هغه کور او کوروالا او مال او اولاد ټول تباه او برباد شو یا په هغوی کښ نقصان واقع شو لهذا لکه څنګه چه څوك د خپل اهل وعیال په تباهئ او بربادئ او دمال، متاع د نقصان نه یریږی نو هغه له پکار دی چه ددے نه زیات د مازیګر د مانځه د قضاء کیدو نه یره اوکړی، دارنګه دے سره مطلب دا هم دے چه : دومره تاوان او نقصان ئے اوشو اوس که دا خفه کیږی او که نه خو تاوان ئے خامخا اوشو۔ دلته هم د مازیګر تخصیص د اهمیت په وجه دے۔

(۲) – امام ترمذیؒ دا حمل کړیدے په ناسی او ساهی باندے یعنی کوم انسان چه د مازیګر مانځه نه غافل شی یا ترے په هیره فوت شی نه قصداً نو مازیګر مونځ کونکی ته چه کله کوم اجرونه او ثوابونه ورکولے شی او دے هغه اووینی نو دومره افسوس به ورته حاصل شی لکه ګویا کښ دده اهل وعیال او مال متاع ضائع شو۔ نو پدے کښ تنبیه شوه پدے خبره چه کوم انسان قصداً مونځ د مازیګر قضاء کړی نو هغه ته خو به ډیر زیات سخت افسوس حاصلیږی ځکه چه یو خو د هغه نه دومره عظیم ثواب ضائع شو او بل عظیمه ګناه ورته حاصله شوه وهذا هو الظاهر۔

تَفُوْتُهٗ : پدے فوت کیدو کښ اختلاف دے چه ددے نه څه مراد دے ؟ نو پدے کښ ډیر اقوال دی :

۱ – **یو قول** دا دے چه د فوات نه مراد فوت کیدل دی په غروب الشمس (نمر پریوتو)

سره یعنی وقت د مازیگر ختم شی قضاء شی، دا قول د نافع دے چه راوی ددے حدیث دے او همدا راجح دے وجه د رجحان دا ده چه په مصنف ابن ابی شیبه کښ په روایت د ابن عمرؓ کښ داسے الفاظ دی: من ترك العصر حتی تغیب الشمس ۔

۲- **دویم قول** د امام اوزاعیؒ دے هغه فرمائی: فوت کیدل دا دی چه مستحب وخت ختم شی او وقت الاصفرار راشی او هغے کښ مونځ اداء کړے شی نو دا مونځ فوت شو د خپل مستحب وخت نه دا قول امام ابوداود په خپل سنن (۱/۶۶) کښ د امام اوزاعیؒ نه پدے روایت کښ ذکر کړیدے (قال ابوعمرو یعنی الاوزاعی وذلك ان تری ما علی الارض من الشمس صفراء) او دا قول د امام نوویؒ او ابن وهابؒ او قاضی عیاضؒ هم دے ۔

۳- **قول ثالث** د بعضو علماؤ دے دوی وائی: د مونځ فوت کیدل دیته وائی چه جماعت فوت شی او یواځے اوکړے شی ۔

فَكَأَنَّمَا وُتِرَ أَهْلُهُ وَمَالُهُ: د وتر دوه معانی دی که وتر بمعنی النقصان شی نو بیا به اهله وماله منصوب وی ځکه چه وتر بمعنی النقصان دوه مفعولینو ته متعدی کیږی کما فی قوله تعالی: ﴿ وَلَنْ يَتِرَكُمْ أَعْمَالَكُمْ ﴾ ضمیر په وتر کښ نائب فاعل شو او اهله وماله منصوب دی مفعول ثانی دے یعنی گویا کښ ددے سړی په اهل او مال کښ نقصان اوکړے شو یا وتر په معنی د اخذ (اخستو) دے نو بیا به اهله وماله مرفوع وی معنی دا ده: أُخِذَ أَهْلُهُ وَمَالُهُ فَبَقِيَ وِتْراً فَرْداً بِلَا أَهْلٍ وَمَالٍ یعنی گویا کښ دده اهل ومال واخستے شو او دا یواځے پاتے شو تش تور۔ نو حاصل دا شو چه لکه ځنګه چه د مال او اهل د ختمیدلو نه یریږی نو د مازیگر د مانځه د فوت کیدو نه دِ هم دغه شان اویریږی ۔

دا مطلب هم کیدے شی چه ده لره دومره خفگان پکار دے لکه په اهل او مال چه څومره خفگان کوی کله چه هغوی ته څه نقصان اورسی ۔

بیا د عصر د مانځه تخصیص اوشو ملا علی القاریؒ فرمائی: ۱- وجه دا ده چه دا په بیع شراء (خرید وفروخت) باندے د اشتغال وقت دے او د زنانو د اخلی پخلی تیارولو وقت دے نو پدے وقت کښ غفلت کول مناسب ندی ففیه ایماء الی قوله تعالی: ﴿ رِجَالٌ لَا تُلْهِيهِمْ تِجَارَةٌ وَلَا بَيْعٌ عَنْ ذِكْرِ اللّٰهِ ﴾ الآیة ۔

۲- د اصلاۃ وسطیٰ دے ډیر اهمیت والا دے او الله تعالی ته عبادت پدے وقت کښ ډیر محبوب دے ۔ ﴿ وَرَبُّكَ يَخْلُقُ مَا يَشَاءُ وَيَخْتَارُ ﴾ ۔

٩– وَعَنْ بُرَيْدَةَ ﷺ، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : «مَنْ تَرَكَ صَلَاةَ الْعَصْرِ فَقَدْ حَبِطَ عَمَلُهُ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ .

ترجمه : او بريده رضى الله عنه فرمائى چه نبى كريم ﷺ فرمائيلى دى : چا چه د مازيگر مونځ پريخودو (گويا كه) د هغه تمام (نيك) اعمال برباد شو ـ (بخارى) ـ

تشريح : **مَنْ تَرَكَ صَلَاةَ الْعَصْرِ فَقَدْ حَبِطَ عَمَلُهُ** : يعنى چا چه د مازيگر مونځ پريخودو د هغه عمل برباد شو په روايت د احمد كښ ورسره متعمداً قيد راغلے دے يعنى چا چه قصداً د مازيگر مونځ پريخودو عمل ئے برباد شو نو كوم علماء چه تارك الصلاة ته كافر وائى هغوى وائى دا د مرتد پشان حكم لرى تول اعمال ئے برباد دى او دا حديث دليل پيش كوى ـ

خو جمهور علماء وائى چه په ترك د يو مانځه سره انسان نه كافر كيږى بلكه عمل بربادېدل صرف په ارتداد دى ﴿ وَمَنْ يَكْفُرْ بِالْإِيْمَانِ فَقَدْ حَبِطَ عَمَلُهُ وَهُوَ فِي الْآخِرَةِ مِنَ الْخَاسِرِيْنَ ﴾ العمران آيت : (٨٤) نو بيا ددے حديث توجيهات كوى ځكه دا ورته په ظاهر كښ د قرآن كريم خلاف معلوميږى ـ

١– يو توجيه داسے كوى چه د حديث مطلب دا دے چه چا د مازيگر مونځ پريخودو كه قصداً وى او كه په سُستىٔ سره وى نو ددے مانځه په وجه ده ته چه كوم اجر او ثواب ملاويدو وده په نيكيانو كښ چه كوم زيادت كيدو د هغے نه محروم شو اوس به ورته اجر نه ملاويږى فقد حبط عمله يعنى دا عمل ئے برباد شو ـ

٢– يا مطلب دا دے چه ددے ورځے اعمال ئے برباد شو يعنى ددے ورځے په اعمالو كښ چه د مازيگر په مانځه سره كوم كمال حاصليدو هغه ئے برباد او ضائع شو نو ده په اعمالو كښ كمى راغله او تول اعمال بربادېدل مراد ندى ـ

٣– يا دا په زجر او تشديد او تعظيم المعصيت باندے حمل دے او ظاهر ئے مراد ندے ـ

٤– حافظ ابن حجر دا هم وئيلى دى چه بعض اعمال داسے شته چه په هغے سره نور اعمال ضائع كيږى لكه په نبى عليه السلام باندے آواز پورته كول پدے آيت كښ ﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا لَا تَرْفَعُوْا أَصْوَاتَكُمْ فَوْقَ صَوْتِ النَّبِيِّ وَلَا تَجْهَرُوْا لَهُ بِالْقَوْلِ كَجَهْرِ بَعْضِكُمْ لِبَعْضٍ أَنْ تَحْبَطَ أَعْمَالُكُمْ وَأَنْتُمْ لَا تَشْعُرُوْنَ ﴾ ، الحجرات الآية (٣) نو لكه ځنگه چه سره د ايمان نه په نبى عليه السلام باندے آواز پورته كول او هغه ته په زوره آواز كول اعمال

بربادوی دغه شان ږ دا حدیث هم په ظاهر حمل شی او قصداً د مازیگر مونځ پریخودل ډیے د هغه اعمالو نه شمار شی چه هغه د انسان اعمال بربادوی اگر که کافر ږ نه وی او پدیے کښې به تعظیم او اهمیت ددیے مانځه ته اشاره شی چه ددیے پریخودل سبب د بربادئ د اعمالو دیے ۔ لهذا دا حدیث د قرآن خلاف نشو ۔ او دا ظاهره وجه ده ۔

بیا مخکښې حدیث محمول دیے په هغه فوات چه روستو قضاء راوړی او دا حدیث په هغه ترك محمول دیے چه روستو قضاء نه راوړی ۔

---

۱۰ – وَعَنْ رَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ ﷺ قَالَ : كُنَّا نُصَلِّيْ الْمَغْرِبَ مَعَ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ، فَيَنْصَرِفُ اَحَدُنَا وَاِنَّهُ لَيُبْصِرُ مَوَاقِعَ نَبْلِهِ . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ .

ترجمه : او رافع بن خدیج رضی الله عنه فرمائی چه مونږ د نبی کریم ﷺ سره د ماښام مونځ (پداسے وقت کښیے) اوکړو چه د مانځه نه فارغیدو نه روستو به یو تن زمونږ نه د خپل غشی ویشتو ځائے لیدلو ۔ (بخاری ومسلم) ۔

تشریح : وَاِنَّهُ لَيُبْصِرُ مَوَاقِعَ نَبْلِهِ : یبصر باب افعال نه دیے مواقع نبله : نبل اسم جمع ده واحد من لفظهٖ ورله نشته عربی غشو ته وائی بعضے وائی واحد ئے نَبْلَةٌ دیے لکه د تمر او تمرة پشان ۔

مطلب د حدیث دا دیے چه رافع بن خدیج د ماښام د مانځه وختی اداء کول بیانوی چه مونږ به د نبی علیه السلام سره مونځ د ماښام اوکړو نو یو تن به په مونږ کښې د مانځه نه پس د غشی ویشتو هدف او ځائے د پریوتو لیدلو یعنی دومره وختی به ئے کولو چه نمر به غائب شو او رنړا به لا موجوده وه نو دیے حدیث نه دا ثابته شوه چه د ماښام مونځ به نبی علیه السلام وختی کولو او قصار مفصل سورتونه به ئے پکښې لوستل ځکه چه که طوال مفصل سورتونه اولوستے شی نو بیا دا حالت نشی کیدیے کوم چه رافع بیانوی ۔ او کوم احادیثو کښې چه تاخیر راغلے دیے تر قریب د سقوط الشفق پوریے او اوگده سورتونه لکه سورتِ اعراف پشان پکښې لوستلی دی نو هغه کله کله شویدی نو غالباً عادت دیے حدیث کښې ذکر دیے او کله کله ددیے نه اوگدوالے او تاخیر هم راغلے دیے بیاناً للجواز په تولو باندیے عمل پکار دیے او هیڅ تعارض پکښې نشته ۔

١١ – وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا، قَالَتْ : كَانُوْا يُصَلُّوْنَ الْعَتَمَةَ فِيْمَا بَيْنَ أَنْ يَّغِيْبَ الشَّفَقُ إِلٰى ثُلُثِ اللَّيْلِ الْأَوَّلِ . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ .

ترجمه : او عائشه رضی الله عنها فرمائی چه نبی کریم ﷺ او صحابه کرامؓ به د ماسخوتن مونځ د شفق د غائبیدو نه بعد په اولنئ دریمه حصه د شپه کښې کولو ۔ (بخاری ومسلم) ۔

تشریح : پدے حدیث کښې د ماسخوتن د وخت ابتداء بیان شویده چه غیبوبة الشفق نه شروع کیږی او وقت استحبابی بیان شویدے په ثلث اللیل سره او ووقت د جواز ندے بیان شوے چه هغه نصف اللیل دے عند المحققین او طلوع الفجر دے عند الجمهور لیکن د محققینو قول راجح دے کما مر تفصیل المسئلة قریباً ۔

یصلون العتمه : مخکښې تیر شویدی چه د ماسخوتن مانځه ته صلوة العتمة وئیلو نه منع راغلې ده نو بیا عائشےؓ ولے استعمال کړیدے ؟ ددے جواب دا دے چه شاید عائشےؓ ته د منع روایت نه وی رسیدلے ٢ – یا دا چه روایت ورته معلوم وی خو ددے په نیز هم غلبه ورکول دے نوم ته په صلوة العشاء باندے منع ده او کله کله استعمال ئے جائز دے فتدبر ۔

---

١٢ – وَعَنْهَا، قَالَتْ : كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لَيُصَلِّيْ الصُّبْحَ، فَتَنْصَرِفُ النِّسَاءُ مُتَلَفِّعَاتٍ بِمُرُوْطِهِنَّ مَا يُعْرَفْنَ مِنَ الْغَلَسِ . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ .

ترجمه : او عائشه رضی الله عنها فرمائی چه (کله به) نبی کریم ﷺ د صبا د مانځه نه فارغ شو نو (هغه) ښځے (چه د هغه سره به ئے مونځ اوکړو) په څادرونو کښې تاو شوے واپس کیدلے او د تیارے په وجه به د هغوی شناخت نشو کیدلے ۔ (بخاری ومسلم) ۔

تشریح : مُتَلَفِّعَاتٍ : د تلفع نه ماخوذ دے او دا منصوب علی الحالية دے، تلفع څادر ځان نه را تاوول او ځان پکښې پټولو ته وائی ای مستترات رؤسهن ووجوههن وابدانهن ۔

بِمُرُوْطِهِنَّ : مروط جمع د مرط بکسر المیم وسکون الراء ده دا پټه دار د وړئ یا وریښمو څادر او شړئ ته وائی ۔

فوائد : (١) – دا حدیث دلیل دے چه مستحب وقت د سحر د مانځه دپاره دا دے چه وختی په تیاره کښې اوکړے شی وقد مر المسئله ۔

(۲) – زنانه د سحر مانځه دپاره مسجد ته راتلې شي ـ هيڅ حرج پدے کښې نشته ـ
مَا يُعْرَفْنَ مِنَ الْغَلَسِ: زنانه به د تيارے په وجه نشوے پيژندے کيدلے ـ
سوال: د ورځے هم عامے زنانه نشي پيژندے کيدلے ؟ نو د غلس تخصيص څه فائده ده؟ ددے جواب دا دے چه د مايعرفن يوه معنى دا ده چه ما يعرفن هل هن رجال ام نساء ـ يعنى د زنانه او سړو تميز به نه کيدو چه دا ښځے روانے دى او که سړى ـ
۲ – دويمه معنى دا ده چه زنانه به نشوے پيژندے کيدلے بيا سوال راواپس شو چه نورے زنانه هم نشي پيژندے کيدلے ددے جواب دا دے چه د کلى زنانه معلوميدے شى د مزل او هيئت وغيره نه او دلته به د تيارے په وجه ددے زنانو معلومات نشو کيدے چه دا ددے کلى زنانه دى او که پردئ دى او تميز د يوے زنانه به د بلے زنانه نه نشو کيدے چه مثلا دا عائشه ده او که حفصه صرف يو تور صورت او شبح به ښکاره کيده ـ
او د مايعرفن معنى دا ده چه ما يعرفن اى حال الانصراف الى البيت فى الطريق ـ يعنى دا به په لاره کښې نشوے پيژندلے او داسے نه ده چه په داخل د مسجد کښې نشو پيژندلے کيدے كما زعمه المحقق ابن الهمام، قاله السندى ـ
وجه دا ده چه ما يعرفن جمله حال دے د فاعل د تنصرف نه نو مقارنت واجب دے په مابين د حال او د عامل د ذى الحال کښې فتدبر نو د بعض احنافو دا تاويل کول چه دلته د غلس نه مراد په داخل د مسجد کښې تياره ده ځکه مسجد مسقف وو او رڼا په کښې نه ښکاره کيده نو دا تاويل باطل شو ـ

---

۱۳ – وَعَنْ قَتَادَةَ، عَنْ اَنَسٍ ﷺ : اَنَّ نَبِيَّ اللهِ ﷺ وَزَيْدَ بْنَ ثَابِتٍ تَسَحَّرَا، فَلَمَّا فَرَغَا مِنْ سُحُوْرِهِمَا، قَامَ نَبِيُّ اللهِ ﷺ اِلَى الصَّلَاةِ، فَصَلَّى . قُلْنَا لِاَنَسٍ : كَمْ كَانَ بَيْنَ فَرَاغِهِمَا مِنْ سُحُوْرِهِمَا وَدُخُوْلِهِمَا فِي الصَّلَاةِ ؟ قَالَ : قَدْرَ مَا يَقْرَأُ الرَّجُلُ خَمْسِيْنَ آيَةً ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ .

ترجمه: او قتادة د انس نه روايت کوى چه نبى کريم ﷺ او زيد بن ثابت رضى الله عنه (د روژه نيولو دپاره) پيشمنے اوکړو ـ کله چه دواړه د پيشمنى نه فارغ شو نو نبى کريم ﷺ مانځه ته اودريدلو او مونځ ئے اوکړو (قتادة وائى چه) مونږ انس نه تپوس اوکړو چه ددے دواړو د پيشمنى د فارغ کيدو او د مانځه شروع کولو ترمينځ څومره وقت وقفه وه

ـ انس رضی اللہ عنہ اوفرمایل : چه دومره وقت وقفه وه چه یو سړی پنځوس آیتونه لولی ـ (بخاری) ـ

د قتاده رحمه الله تعارف :

دده د پلار نوم دعامه په کسره د دال او فتحه د عین سره السدوسیؒ، اسم کنیت ئې ابوالخطاب البصری الاعمٰی دې د لویو علماؤ نه دې جلیل القدر تابعی دې ثقه ثبت حافظ مدلس دې دا مرزادی ړوند پیدا شوی وو، سعید بن المسیب چه کله دده مضبوطه حافظه اوکتله وې وئیل : ما اظن ان الله خلق مثلك زما دا گمان نه دې چه الله تعالی به ستا په شان بل څوك پیدا کړې وی ـ

یوه واقعه کښې راځی چه د قتاده د کور په دروازه یو سائل سوال اوکړو، دې کور والاؤ لگ ساعت پس یوه پیاله ورکه کړه، لس کله بعد قتاده حج ته لاړو هلته ئې د هغه سائل آواز په غوږ راغلو نو وې وئیل : دا سړې اونیسئ دا هغه سړې دې چه زمونږ پیاله ئې پته کړې ده خلقو چه د هغه تالاش اوکړو هغه اقرار اوکړو چه هو ! دومره لویه حافظه ئې لرله چه لس کاله پس ئې هم د سائل آواز اوپیژندلو ـ دداسې خلقو په وجه الله تعالی ددې دین حفاظت کړیدې ـ

دارنگه سعیدؒ به فرمائیل : ما اتانی عراقی احسن من قتادة ـ

عبد الرحمن بن المهدیؒ فرمائی : قتاده د حُمید پشان پنځوس کسانو نه زیات حافظ دې، انظر المرعات ـ دا پخپله فرمائی : هیڅ یوه خبره زما غوږ ته نه ده را رسیدلې مگر زما زړه هغه یاده کړیده، په واسط کښې د طاعون په مرض باندې په سنه (۱۱۷ ھ) کښې د (۵۵) کالو په عمر د حسن بصری نه اووه کاله پس وفات شویدې ـ

تَسَحَّرَا : یعنی پیشمنې ئې اوکړو ـ مِنْ سُحُوْرِهِمَا : سحور لفظ چه په فتح د سین اووئیل شی نو دا بیا نوم دې د هغه شی چه هغه په پیشمنی کښې خوړلې شی او که په ضمه د سین اووئیل شی نو بیا مصدر صیغه ده یعنی پیشمنې کول ـ

کم کان : ای کم مقداراً من الزمان کان بین فراغهما الخ ـ

فوائد الحدیث : (۱) – دا حدیث دلیل دې په استحباب د تغلیس باندې چه د سحر مونځ وختی کول افضل دی ـ (۲) – دا دلیل دې چه اول وقت د صبا د مانځه طلوع الفجر دې ځکه ددې د راختلو نه پس په انسان باندې په روژه کښې خوراك څکاك بند شی ـ

(۳) – د پیشمنی او د مانځه په مابین کښې د پنځوس آیتونو په مقدار فاصله وه نو دا

اندازه تقريباً د اودس كولو او اذان كولو او بيا د دوه ركعاتو د صبا د سنت كولو ده نو دا دليل دے چه په اول وقت كښ په تغليس كښ ئے مونځ شروع كړيدے ۔
(٤) – پيشمنے كول سنت عمل دے نبي عليه السلام فرمائي: تسحروا فان في السحور بركة الحديث (٥) – پيشمنے ناوخته كول بهتر عمل دے حديث كښ دي: لا يزال امتي بخير ما عجلوا المغرب واخروا السحور ۔
پدے حديث كښ علامه توريشتيؒ يوه خطا خبره كړيده چه پدے حديث كښ د وقت كومه اندازه بيان شويده پدے باندے عامو مسلمانانو لره عمل كول جائز ندی ځكه چه رسول الله ﷺ به دا عمل د وحي په طريقه كولو چه الله به ورته خبر وركړو او نبي عليه السلام د دين په معامله كښ معصوم عن الخطاء وو چه د هغه نه د دين په معامله كښ كوم لغزش اوكړے شي نو الله تعالى ورته زر تنبيه وركوي او دا مرتبه خو بل چا ته نده حاصله ۔ مطلب ئے دا دے چه نبي عليه السلام ته به د وقت معلومات د وحي په ذريعه كيدلو او مونږ ته خو دا معلومات نشته نو قبل الوقت به مونځ اداء كړے شي يا دا عمل د هغه پورے خاص وو ۔
الجواب: دا خبره ځكه خطاء ده چه د وقت معلومول په دين كښ ښودل شويدي چه طلوع الفجر دے او طلوع الفجر په سترګو معلوميدے شي دارنګه تخصيص په نبي عليه السلام پورے بلا دليل دي ځكه چه مونږ بار بار وئيلي دي چه نبي عليه السلام د امت سره په احكامو كښ شريك وي تر څو چه دليل د خصوصيت نه وي راغلے او دليل د خصوصيت هيڅ حديث كښ نشته بلكه نور ډير احاديث (لكه چه تير شو) دليل دے په عدم اختصاص باندے وقد مرّ حديث عائشةؓ چه نبي عليه السلام به په تغليس كښ مونځ د صبا كولو د نبي عليه السلام عمل چه دليل د امت دپاره نشي نو بيا د اطاعت څه معنى ده؟ دارنګه ابوبكر او عمر او عثمان ټولو په تغليس باندے عمل كړيدے نو د كوم ځائے نه خصوصيت ثابت شو ۔

١٤ – وَعَنْ اَبِيْ ذَرٍّ رضي الله عنه، قَالَ: قَالَ لِيْ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «كَيْفَ اَنْتَ اِذَا كَانَتْ عَلَيْكَ اُمَرَاءُ يُمِيْتُوْنَ الصَّلَاةَ، اَوْ يُؤَخِّرُوْنَ الصَّلَاةَ عَنْ وَقْتِهَا؟ قَالَ: قُلْتُ: فَمَا تَأْمُرُنِيْ؟ قَالَ: صَلِّ الصَّلَاةَ لِوَقْتِهَا. فَاِنْ اَدْرَكْتَهَا مَعَهُمْ، فَصَلِّ فَاِنَّهَا لَكَ نَافِلَةٌ».

رَوَاهُ مُسْلِمٌ . ـــــــــــــــــــــــــــــــ

ترجمه : او ابوذر رضی الله عنه فرمائی چه (یو ځل) نبی کریم ﷺ ما ته اوفرمائيل : چه په هغه وقت به ته څه کوې کله چه ستا امراء (حکام) مونځ لره د خپل وقت نه روستو کوی یا ئې د وقتِ مختار نه تاخیر سره کوی ـ ما عرض اوکړو چه پداسې وقت کښې تاسو ما ته کوم حکم کوئ؟ ـ هغه اوفرمائيل : په هغه وقت کښې ته مونځ په خپل وقت کښې کوه بیا که د هغوی سره دِ هم مونځ اوموندو نو د هغوی سره ئې هم کوه، دا مونځ به ستا دپاره نفلِ وی ـ (مسلمؒ) ـ

تشريح : **كَيْفَ اَنْتَ** : يعنی ستا به څه حال وی ار څه کار به کوې په داسې وقت کښې چه بادشاهان د خپل وقت نه مونځونه روستو کوی؟ او ته د هغوی په مخالفت باندې قادر نه ئې چه هغوی په سیده لاره روان کړې او که د هغوی انتظار کوې نو فضیلت د وقت درنه فوت کیږی؟ ـ

يُمِيْتُوْنَ الصَّلاَةَ : مونځو نه وژنی یعنی د خپل مستحب وقت نه ئې خارجوی یا ئې د جواز وقت نه خارجوی دلته تشبیه د هغه مونځ چه ضائع شوې وی او د وقت نه روستو کړې شوی وی – ورکړې شویده د هغه مړی سره چه د هغې نه طبیعت نفرت کوی لکه څنګه چه د محافظت او خپل مختار وقت کښې اداء کولو تشبیه ورکړې شوه د هغه ذی حیٰوة سره چه په هغه کښې تازګی وی ـ

د موت نه مراد یا د خپل مستحب وقت نه روستو کول دی لکه چه دا امام نوویؒ وئیلی دی چه اکثرو امراؤ به د مستحب وقت نه مونځونه روستو کول حافظ ابن حجرؒ فرمائی : د موت نه مراد خروج دې د جواز د وقت نه لکه بعض امیران (حجاج بن یوسف او ولید) ظالم بادشاهانو به مونځ د خپل وقت نه ویستلو لکه ولید د جمعې مونځ د مازیګر په وقت اوکړو عطاءؒ ترې مخکښې د ماسپښین مونځ یواځې اوکړو ـ

لیکن دواړه کارونه شویدی، غالباً به ئې د مستحب وقت نه روستو کول او کله کله به ئې د وقت د جواز نه خارجول ـ

په حدیث کښې مسئله دا ده چه کله امامان د مساجدو او بادشاهانِ وقت مونځونه د مستحب وقت نه یا د خپل وقت نه اوباسی نو پداسې وقت کښې د نبی علیه السلام دا حکم دې چه ځانله یواځې په خپل مستحب وقت کښې مونځ اداء کړه بیا که تا د هغوی

سره مونځ اونکړو نو خیر دے او که په جماعت باندے ورپیښ شوے نو د هغوی سره جُمعه هم اوکړه دا به ستا دپاره نفل اوګرځی او فضیلت د جماعت به درته هم حاصل شی او تفرق او اختلاف د بادشاهانو سره به هم رانشی ـ او که جماعت اونکړی بیا هم د جماعت ثواب ملاویږی ځکه د عذر په وجه چه جماعت فوت شی هغے کښ د جماعت ثواب ملاویږی کما فی سیأتی فی باب الجماعه ـ

بیا پدے حدیث کښ د دوباره مونځ کولو حکم مطلق راغلے دے هر مانځه ته شامل دے، احناف وغیره په کښ دا تخصیص کوی چه دوباره مونځ به صرف په عشاء او ظهر کښ وی ځکه چه د فجر او عصر نه روستو نوافل نه کیږی او د مغرب خو درے رکعاته نفل نه وی ـ

لیکن پدے حدیث کښ دا تفرقه نده شوے نو دا حدیث مخصص دے د حدیث لا صلاة بعد العصر او لا صلاة بعد الصبح دپاره ـ که امامانو دا مونځونه هم خراب کول نو ځانله مونځ مخکښ اوکړه او که د هغوی سره شریك شوے نو دا به ستا نفل حساب شی نو پنځو وارو مونځونو کښ شریك کیدل جواز لری او هر چه کراهت دے نو دا د ضرورت په بناء باندے ختم شو او دا قول ملا علی القاری په مرقاة (۱۳٤/۲) کښ او مبارکفوری په مرعاة (۳۰۷/۲) کښ غوره کړیدے ـ

اَوْ یُؤَخِّرُوْنَ الصَّلَاةَ : کلمه د او شك د راوی دے چه نبی علیه السلام یا لفظ د یمیتون وئیلے دے یا ئے یؤخرون وئیلے دے هریو چه وی خو معنی ئے یو ده هیڅ نقصان پکښ نشته ـ

فَاِنَّهَا لَکَ نَافِلَةٌ : دے کښ دوه احتماله دی (۱) یو دا چه مقتدی لره پکار دی چه په مستحب وقت کښ منفرداً مونځ اوکړی که په بعضے اوقاتو کښ ظالمان بادشاهان په مستحب وقت کښ جماعت اداء کوی نو ته د هغوی سره شریك شه او تا ته چه په مستحب وقت کښ د جمعے مونځ ملاؤ شو نو دا ستا دپاره غنیمت او نعمتِ بارده زائده دے ـ

(۲) دویم دا چه تا په مستحب وقت کښ مونځ اداء کړو او بیا روستو د امراؤ سره شریك شوے نو دا د جمعے مونځ به ستا دپاره نفل اوګرځی نفل دلته په خپله معنی باندے دے ـ

سوال : د عبد الله بن عمرؓ نه نقل دی چه هغه فرمائی رسول الله ﷺ فرمائیلی دی : یو مونځ دوه کرتے مه کوئ لکه روایت داسے دے ـ عن سلیمان مولی میمونة رضی الله عنها

قال : اتیت علی ابن عمر رضی اللّٰہ عنہما وھو بالبلاط والقوم یصلون فی المسجد فقلت ما یمنعک انت تصلی مع القوم او الناس قال : انی سمعت رسول اللّٰہ ﷺ یقول : لا تصلوا صلاۃ مرتین، رواہ احمد وابوداود والنسائی .

نو پدې مقام کښې که د امام سره مونځ کوی نو دا خو دوه ځل یو مونځ اوکړے شو او ددے نه خو منع راغلې ده نو تعارض راغلو ددے څه تطبیق دے ؟۔

الجواب : یو مونځ دوه ځل ادا کول دوه قسمه دی : ۱ – یو هغه دی چه دواړه په طریقه د فرض اداء شی نو دا کار صحیح ندے، بلکه دا د شکی خلقو کار دے چه وائی : کیدے شی چه مخکنے مونځ به نه وی قبول شوے نو دوباره بل مونځ کوی او پدے حدیث کښې د همدے نه منع راغلې ده ۔ ۲ – دویم یو مونځ فرض اداء کول او بیا نفل اداء کول نو دا بالکل جائز او مستحب عمل دے او پدے حدیث الباب کښې همدا مراد دے ۔

فوائد الحدیث : (۱) – پدے حدیث کښې صدق الرسول معلوم شو چه نبی علیه السلام دا پیشین ګوئی کړیده چه ظالمان امیران به پیدا کیږی او مونځونه به روستو کوی نو دا د اعلام النبوت نه یوه علامه ده چه د بنو امیه په دورِ خلافت کښې په حجاج او د هغه په امیر ولید باندے رشتینے شوه او زمونږ په زمانه کښې په طریقِ اولیٰ رشتینے ثابته شویده ، نن صبا د مازیګر او د صبا او ماسخوتن او ماسپښین مونځونو حال اوګوره چه نمر زیړ شی نو مونځونه کوی د ماسخوتن مونځ قبل الوقت کوی، په ماسپښین مانځه کښې د اوړی او ژمی فرق نکوی ۔

(۲) – د مستحب وقت ډیر زیات لحاظ پکار دے په نسبت د جَمعے باندے چه کله جماعت په مکروه وقت کښې امامان کوی نو مخکښې د جَمعے نه یوائے مونځ هم کولے شی چه فضیلت د وقت ضائع نشی ۔

(۳) – بدعتی او فاسق پسے هم مونځ جائز دے، ځکه قصداً مونځ روستو کول فسق دے او نبی علیه السلام فرمائی : فان ادر کتها معهم، فصل ۔

(٤)– د جَمعے د خاطره انسان په اوقاتِ مکروهه کښې نفل کولے شی ځکه چه امامان دا جماعت په مکروه وقت کښې کوی او دا شخص ورسره مونځ اوکړی نو ددے سړی دپاره دا مونځ نفل ګرځولے شویدے ځکه ده خو مخکښې مستحب وقت کښې فرض مونځ کړیدے نو دا هم مستثنیٰ شو د احادیث النهی نه چه بعد صلاۃ العصر والفجر نفل نه کیږی مګر دلته د جماعت د وجے نه اجازت ورکړے شو ۔

(۵) – د څلور رکعاتو نفل نيت کول هم جواز لري، خو کله کله ـ

۱۵ – وَعَنْ اَبِیْ هُرَيْرَةَ رضي الله عنه، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : مَنْ اَدْرَکَ رَکْعَةً مِنَ الصُّبْحِ قَبْلَ اَنْ تَطْلُعَ الشَّمْسُ، فَقَدْ اَدْرَکَ الصُّبْحَ، وَمَنْ اَدْرَکَ رَکْعَةً مِنَ الْعَصْرِ قَبْلَ اَنْ تَغْرُبَ الشَّمْسُ فَقَدْ اَدْرَکَ الْعَصْرَ . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ .

ترجمه : او ابو هريره رضی الله عنه نه روايت دے فرمائی چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل : چا چه د نمر ختلو نه مخکښے د صبا مونځ يو رکعت اوموندلو نو هغه د صبا مونځ اوموندلو او چا چه د نمر پريوتو نه مخکښے د مازيګر مونځ يو رکعت اوموندلو نو هغه د مازيګر مونځ اوموندلو (يعنی د هغه مونځ به نه ضائع کيږی لهذا هغه لره پکار دی چه باقی رکعتين کولو سره مونځ پوره کړی ـ (بخاری ومسلم) ـ

تشريح :

مَنْ اَدْرَکَ رَکْعَةً مِنَ الصُّبْحِ قَبْلَ اَنْ تَطْلُعَ الشَّمْسُ، فَقَدْ اَدْرَکَ الصُّبْحَ الخ ـ

مسئله : د نمر په راختلو او پريوتو مونځ نه باطليږی

پدے حديث کښې يوه مسئله بيانيږی هغه دا چه پدے کښې اتفاق د علماؤ دے چه که يو انسان د مازيګر د مانځه يو رکعت په وقت کښې لاندے کړو چه لا نمر نه وو پريوتے بيا نمر پريوځی نو درے رکعاته به د وقت نه روستو اداء کوی او مونځ ئے صحيح دے او د اداء نيت به اوکړی نو دے سړی د مازيګر مونځ لاندے کړو خو اختلاف د سحر په مانځه کښې دے چه يو رکعت د نمر خاته نه مخکښې اوکړی او په دويم رکعت کښې پرے نمر را اوخيژی نو آيا مونځ صحيح شو او که نه ؟ ـ

۱ - **اکثر اهل علم** (لکه مالك، شافعی، احمد او اسحاق او بخاری او عام محدثين او اهل الظاهر وغيره) فرمائی : دا مونځ صحيح دے او اداء ده نه قضاء او د سحر او د مازيګر فرق نشته ـ

۲ - **احناف** خلاف کوی چه دا مونځ پداسے حال کښې باطل شو او دوباره به مونځ کوی نو دوئ فرق کوی د مازيګر او د سحر، د مازيګر خو جائز وائی او سحر په نمر راختلو سره باطل ګنړی – نو ددے حديث په نيم باندے عمل کوی او په نيم باندے ئے نکوی ـ

دلائل الجمهور :

د جمهور علماوء سره ډير دلائل دي خو ډير صريح او صحيح په کښې دا دي :

۱- **اول دليل** : دا حديث الباب دے چه پدے کښې د صبا او د مازيگر مانځه کښې فرق نه دے شوے بلکه د دواړو په يو رکعت لاندے کولو سره په ادراك د رکعت باندے حکم شويدے او دا د نبی عليه السلام فتوىٰ ده چه دواړه مونځونه اداء ده او يو هم باطل نه دے ۔

۲- **دويم دليل** : حديث بخاري (۸۲/۱) او مشکاة کښې روستو دويم حديث راروان دے عن ابی هريرة قال قال رسول الله ﷺ : اذا ادرك احدكم سجدة من صلوة العصر قبل ان تغرب الشمس فليتم صلاته، واذا ادرك سجدة من صلوة الصبح قبل ان تطلع الشمس فليتم صلوته الحديث ۔

د سجدے نه مراد رکعت دے نو دا ډير زيات واضح او صريح حديث دے چه د نمر پريوتو نه مخکښې په يو رکعت راګيرولو يا د نمر خاته نه مخکښې يو رکعت راګيرولو سره مونځ نه باطليږی بلکه نبی عليه السلام فرمائی : نور رکعاتو نه د ورسره يو ځائے کړی او خپل مونځ د تمام (پوره) کړی، پدے کښې تاويل نشی کيدے کما سيأتی ۔

۳- **دليل** : حديث عائشة ؓ قالت قال رسول الله ﷺ من ادرك من العصر سجدة قبل ان تغرب الشمس او من الصبح قبل ان تطلع الشمس فقد ادركهما، رواه مسلم فی الصحيح (۲۲۱/۱) واخرجه البيهقی (۳۷۸/۱) ۔

٤- **دليل** : حديث ابی هريره مرفوعاً : قال من ادرك من الصبح ركعة قبل ان تطلع الشمس وركعة بعد ما تطلع فقد ادرك الصبح ومن ادرك من العصر قبل ان تغرب الشمس وثلاثاً بعد ما تغرب فقد ادرك العصر، اخرجه البيهقی (۳۷۹/۲) ۔ دا هم صريح حديث دے چه د نمر خاته نه مخکښې په يو رکعت راګيرولو سره د صبا مونځ نه دے قضاء بلکه ديته ادراك اوونيل شو يعنی دا اداء ده او قضاء نه ده ۔

۵- **دليل** حديث ابی هريره مرفوعاً : اذا صلی احدكم ركعة من صلوة الصبح ثم طلعت الشمس فليصل اليها اخرىٰ، اخرجه احمد فی المسند (۴۹۰/۲) والكبرىٰ (۳۷۹/۱) ومختصر الخلافيات للبيهقی (۱۲٦/۲) دے حديث کښې هم د نبی عليه السلام فتوىٰ دا ده چه د صبا مونځ نه دے باطل (لکه چه احناف ئے باطل گنړی) بلکه صحيح اداء شو خو يو بل رکعت د ورسره يو ځائے کړی ۔ احناف ددے صريح احاديثو مخالفت کوی، اوس چه څوك تقليد کوی نو خامخا به د رسول الله ﷺ په مخالفت کښې واقع کيږی ۔

٦- **ثلیل** : مخکښې د ابوبکر صدیقؓ روایت تیر شو په مسئله د تغلیس کښې چه ابوبکر صدیق د سحر مونځ کښې سورة البقره تلاوت کړه ورته اووئیل شو نمر نزدې دې چه را اوخیژي ابوبکرؓ اووئیل : لو طلعت لم تجدنا غافلین ـ که نمر راختلے وے نو تا به مونږ غافل نه وے موندلی ـ نو دا هم دلیل دې چه په طلوع الشمس سره مونځ د صبا نه فاسدیږي ـ انظر مجموعة الفتاوی لابن تیمیه (١٧٩/٢٣) ونیل الاوطار (٤٢١/١) دا وه د نبي علیه السلام واضحه فتویٰ پدې مسئله کښې ـ

اوس د احنافو دلائل :

د احنافو سره پدې باره کښې هیڅ صحیح صریح دلیل نشته سیوا ددې نه چه پدې احادیثو کښې تاویلات کوي او خپل مذهب ته ئې برابروي مگر هغه ټول مخدوش او بے ځایه دي ـ

اول جوابونه او روستو وجه د فرق بیانیږي ـ

١- **اول جواب** : دا کوي چه د صبا مونځ د نمر په راختلو سره باطلیږي ځکه چه نبي علیه السلام منع کړیده د مونځ کولو نه په وخت د نمر خاته کښې نو دا حدیث مخالف دې د احادیث النهي نه په اوقاتِ ثلاثه کښې چه هغه پنځلس احادیث دي او په هغے کښې منع راغلے ده د مانځه نه په اوقاتِ ثلاثه د کراهت کښې نو تعارض راغلو ددې احادیثو د احادیثو د اوقات الکراهت سره نو مونږ احادیث د نهي عن الصلوة في اوقات الکراهة ته ترجیح ورکوو ـ

په دوي باندې بیا **سوال** راځي چه احادیث د کراهت خو د مازیګر په مانځه کښې هم دي چه د نمر پریوتو په وخت کښې مونځ کولو نه هم منع راغلے ده نو بیا تاسو ولے وایئ چه د مازیګر مونځ د نمر پریوتو په وقت کښې د یو رکعت په لاندې کولو سره صحیح دې او اداء شو فاسد نه دې نو ولې فرق کوئ په مابین د صبا او مازیګر مانځه کښې ؟ ـ

نو دوي **جواب** کوي چه دا حدیث د احادیث النهي مقابل او متعارض شو ځکه احادیث النهي کښې دا دي چه د مازیګر او د صبا مونځ د د نمر پریوتو او ختلو په وقت کښې باطل شي او دا حدیث الباب وائي چه دواړه د جائز شي او دا قاعده ده چه اذا تعارضا تساقطا (چه کله د احادیثو تعارض راشي دواړه ساقطیږي) نو مونږ به رجوع قیاس ته کوو نو قیاس تقاضا کوي چه د صبا مونځ د په طلوع الشمس سره فاسد او باطل شي او د مازیګر مونځ د صحیح شي او هغه قیاس دا دې چه احناف وائي : د وجوب الصلوة دپاره

ټول وقت سبب دے کله چه مونځ په اول وقت کښې اداء نشی نو سببیت نقل کیږی جزء مقارن للاداء ته یعنی دویم جزء ته چه هغې کښې هم اداء نشی نو بیا دریم جزء ته نقل کیږی وهکذا څلورم وغیره ته نقل کیږی تر دے چه آخر جزء پاتے شی نو سببیت دیته رانقل شی او قانون دا دے چه د مازیګر اول وقت کامل دے او آخر وقت ناقص دے ځکه دا وقت دے د عبادت د نمر نو پدے وقت کښې مونځ ناقص واجب شو نو کله چه انسان پدے آخر ناقص وقت کښې مونځ اداء کوی نو اداء کما وجب شوه ځکه واجب شوے هم ناقص وو او اداء هم ناقص شو نو په نمر پریوتو سره نه فاسدیږی ځکه چه ناقص شروع شو او ناقص ختم شو نو اداء کما وجب راغلله - او د سحر د مانځه ټول وقت کامل وو ځکه چه دے وقت کښې عبادت د شیطان نه کیږی نو مونځ پکښې کامل واجب شو او چه نمر را وختلو نو فساد عارض شو نو اداء کما وجب نشوه ځکه مونځ فرض شو کامل او اداءئے په نمر خاته کښې اوشوه چه دا وقت د عبادت د شمس دے نو اختتام ناقص شو نو ځکه مونځ اونشو بلکه باطل شو او قضاء به راوړی - دا تقریر صدر الشریعه په شرح الوقایه کښې او حسام الدین اخسیکسی په الحسامی کښې ذکر کړیدے - او د هغه نه ملا علی القاری په مرقاة کښې نقل کړیدے، دپاره د مدافعت د خپل مذهب -

الجواب : ددے تقریر نه علماؤ ډیر جوابونه ورکړیدی چه دا ټول دلالت کوی په فساد ددے تقریر باندے او په هسے ځان سترې کولو باندے -

(۱)- **اول جواب** : اول خو دا خبره ډیره زیاته قبیحه او شنیعه ده چه د احادیثو په مابین کښې تعارض راشی دواړه به ساقط کړے شی، آخر پدے خبره لګ سوچ پکار دے !! دا د چا خبرے دی چه احادیث ډ ګوزار کړے شی او خپل عقل دے واخستے شی بلکه دلته د سره تعارض نشته (ولله الحمد) وجه دا ده چه دلته تطبیق د دواړو حدیثونو ممکن دے او هغه دا چه احادیث د نهی عن الصلوة فی الاوقات المکروهة حمل دی په نوافلو باندے او هر چه فرض مونځ دے نو د هغه دپاره وقت مکروه نشته نو دا حدیث الباب د فرضو په باره کښې دے او احادیث د نهی په نفل مانځه کښې دی یعنی نفل مونځ په اوقات ثلاثه کښې نه کیږی او هر چه فرائض دی نو هغه هر وقت کیږی کله چه د انسان نه هیر شوی وی یا خوب کښې اوده پاتے شوے وی او د وقت په آخر کښې راپاڅیږی نو دا بالکل جائز دی په ژبه د رسول الله ﷺ سره - او دلیل پدے باندے دا دے چه په احادیثو د نهی کښې داسے الفاظ راغلی دی : لا یتحری احدکم فیصلی عند طلوع الشمس ولا عند غروبها الحدیث روی عن

ابـن عمر مرفوعاً او بـل روايت كښې دي : ولا تـحـيـنـوا بـصلاتكم طلوع الشمس ولا غروبها بخاری بشرح الفتح (٢/٤٧) وفتاوى الدين الخالص (٣/١٨٧) ـ

يـعـنـي تأسو ددے كوشش مه كوئ چه نمر خاته او نمر پريوتو وخت كښې مونځ اوكړئ مَثَلًا يـو تـن پـه نورو اوقاتو كښې مونځ نكوی ناست وی تردے چه كله نمر ختلو يا پريوتو ته نـزدے شي نو پاڅيږی او مونځ كوی نو دا كار ممنوع او حرام دے او هر چه فرض مونځ دے نـو هغه خوانسان مجبوراً پـه غيـر د قـصد نه د نمر پريوتو يا ختلو نه شروع كړيدے ليكن مـانـځـه كښې مشغول وو چه نمر راوختلو يا پريوتو نو ده ته حديث د نهي نه شامليږی او د فرض مانځه باره كښې حديث دے : من نام عن صلاة او نسيها فليصلها اذا ذكرها لا كفارة لها الا ذلك الحديث، نو د فرض مانځه دپاره مكروه وقت نشته فتدبر ! ـ

او دا قـول د عـائشۃؓ دے چه په ابن عمرؓ رد اوكړو او وے وئيل : نبی عليه السلام نهي كـړيـده د تـحری د طلوع الشمس او غروب الشمس نه او دا قول ابن المنذرؒ قوی كړيدے او وئيلی ئے دی چه كراهت صرف د هغه چا په باره كښې دے چه پدے مكروه وقت كښې قصداً د مـانـځه شروع كوی نه د هغه چا په باره كښې چه اتفاقی طور سره مونځ ئے پدے وقت كښې واقع كړو ـ كذا فی فتح الباری (٢/٤٧) ـ

٢- **دويم تطبيق** : دا دے چـه حافظ ابن القيمؒ او علامه شوكانیؒ فرمائی : حديث د نهـی عـام دے او مـجـمـل دے هر مانځه ته شامل دے او دا حديث الباب (من ادرك ركعة من العصر الخ دا خاص او محكم دے والـخـاص يقضی علی العام نـو دا حديث مستثنیٰ دے د حـديث د نهـی نـه ځكـه چـه د حـديث د نهی نه ډير استثناء ات هر مذهب والا كړيدی او احاديثو كښې هم ددے نه ډير استثناء ات راغلی دی، حافظ ابن القيمؒ فرمائی : قد خص منه عصر يومه بالاجماع) ددے نـه د مازيگر وقتی مونځ په اجماع د علماؤ سره مستثنیٰ دے (دواړه فـريـقـين ئے جائز گنړی) (وخـص مـنـه قضاء الفائتة والمنسية بالنص) ددے نـه فوتی او هيـر شـوے مـونـځ پـه نص سره مستثنیٰ دے (مـن نـام عـن صلوة الخ) او ددے نـه ذوات الاسباب مـونـځـونه په سنت سره مستثنیٰ دی لكه نبی عليه السلام د ماسپښين سنت د مـازيگر نه بعد كړيدی او سنة الفجر بعد صلوة الفجر سـنـت تقريری سره مستثنیٰ شويدی او مـنـفـرد كـور كـښې مـونـځ اوكړی بيا د جَـمـعـے مونځ لاندے كړی نو دا ورلـه نفل شو دا مستثنیٰ دی د حديث د نهی نه په احاديثو سره دارنگه تحية المسجد كـلـه چـه خطيب په خـطـبـه كښې مشغول وی او يو سړے د بهر نه راشی نو دا به كوی ـ او دوه ركعاته د طواف په

مکہ کښې په مکروه وقت کښې هم جائز دی دا استثناء ات په احادیثو کښې راغلی دی نو دغه شان دا حدیث الباب هم خاص شو د حدیث د نهی نه انظر اعلام الموقعین (۳۴۲/۲) تحفة الاحوذی (۱۶۳/۱) طرح التثریب شرح التقریب (۱۹۲/۲– ۱۹۴) لزین الدین العراقی حافظ په فتح الباری کښې وائی : احادیث النهی تحمل علی ما لا سبب له من النوافل انتهٰی۔

یعنی د نهی احادیث به په هغه نفل مانځه باندے محمول کړے شی چه د هغے سبب نه وی۔

سوال : احادیث د نهی ډ مستثنیٰ شی ددے احادیثو نه او داسے ډے اووئیلے شی چه مثلاً تحیة المسجد په هر وقت کښې جائز مگر په وقت د کراهت کښې ناجائز دی نو احادیث د نهی ډ خاص شی او دا نور احادیث ډے عام شی دارنگه احادیث د نهی حاظر (منع کونکی) دی او حدیث الباب مبیح دے او حاظر مقدم وی په مبیح باندے ؟۔

الجواب : دا احتمال ممکن دے لیکن واقع نه دے ځکه چه د احادیثو د نهی په عموم کښې تخصیصات شویدی یو تخصیص مخکښې تیر شو چه منفرد مونځ اوکړی او بیا جماعت د امام سره لاندے کړی نو دا جماعت ورله نفل حساب شو سره ددینه چه مکروه وقت کښې اداء شو، دویم تخصیص من ادرك ركعة من العصر الخ حدیث شو دارنگه حاظر به هله مقدم وی په مبیح باندے چه کله تعارض راشی او دلته تعارض نشته ځکه د خاص او عام مینځ کښې تعارض نه وی، خاص په منزله ډ مستثنیٰ وی او عام په منزله د مستثنیٰ منه او دے دواړو کښې تعارض نه وی، محملونه د دواړو جدا جدا دی ۔ آمدم بر سرِ مطلب : د اصل مسئلے نه دویم جواب داسے دے :

(۲) **جواب** : حافظ ابن القیمؒ بل جواب کوی : وایضاً فان الامر باتمام الصلوة وقد طلعت الشمس فیها امر باتمام لا بابتداء والنهی عن الصلاة فی ذلك الوقت نهی عن ابتدائها لا عن استدامتها فانه لم یقل لا تتموا الصلوة فی ذلك الوقت وانما قال لا تصلوا، واین احکام الابتداء من الدوام، اعلام الموقعین (۳۴۲/۲) ۔

یعنی هغه مونځ چه د هغه په کولو باندے نمر را اوخیژی نو دے باره کښې امر په اتمام اوپوره کولو باندے راغلے دے نه دا چه ابتدائی مونځ کولو باندے او په اوقاتو د کراهت کښې نهی د مانځه نه چه راغلے ده نو هغه د شروع کولو نه راغلے ده چه پدے وقت کښې به ابتداءا وشروع د مانځه نشی کولے، نه دا چه دوام د مانځه پدے وقت کښې منع دے ځکه چه نبی علیه السلام داسے ندی وئیلی چه تاسو پدے وقت کښې مونځ مه پوره کوئ پس د

شروع کولو نه بلکه داسے ئے وئیلی دی چه دے کښں مونځ مه شروع کوی او د ابتداء او دوام د احکامو په مابین کښں د زمکے او د اسمان فرق دے بیا ئے هغه احکام ذکر کړیدی فلیُرَاجَع۔

(۳) **دریم جواب**: علامه عبد الحی اللکهنوی په حاشیه د شرح الوقایه (۱/۱۵۰) کښں پدے تقریر د احنافو باندے پخپله رد کوی فرمائی: فیه بحث: وهو ان المصیر الی القیاس عند تعارض النصین انما هو اذا لم یمکن الجمع بینهما واما اذا امکن یلزم ان یجمع بینهما، وههنا العمل بکلیهما ممکن بان یخص صلاة العصر والفجر الوقتیتان من عموم حدیث النهی، ویعمل بعمومه فی غیرهما الا ان یقال حدیث الجواز خاص وحدیث النهی عام وکلاهما قطعیان عند الحنفیة متساویان فی الدرجة والقوة فلا یخص احدهما الآخر وفیه ان قطعیة العام کالخاص لیس متفقا علیه بین الحنفیة فان کثیراً منهم قد وافقوا الشافعیة فی کون العام ظنیاً کما هو مبسوط فی شرح المنتخب الحسامی انتهٰی۔

حاصل ئے دا دے چه د دوه نصینو چه کله تعارض راشی نو هله به قیاس ته رجوع کیدے شی چه کله جمع او تطبیق د دواړو ممکن نه وی او کله چه تطبیق ممکن وی نو تطبیق کول لازم دی او دلته هم عمل په دواړو ممکن دے، هغه دا چه د مازیګر او سحر وقتی مونځونه دِ خاص کړے شی د عموم د حدیث د نهی نه او ددے نه په ماسیوا کښں دے په عموم د حدیث د نهی عمل اوکړے شی مګر که دا اووئیلے شی چه حدیث د جواز خاص دے او حدیث د نهی عام دے او د احنافو په نیز دواړه قطعی دی او قوت او درجه د دواړو برابره ده نو یو په بل کښں تخصیص نشی کولے لیکن دے خبره کښں نظر دے ځکه چه د خاص د عام پشان په قطعیت او یقینی کیدو کښں د احنافو اتفاق نشته ځکه چه ډیر احناف د شوافعو سره موافق دی د عام په ظنی کیدو کښں لکه چه دا خبره ښه فراخه بیان شویده په شروح د منتخب الحسامی کښں انتهٰی وکذا فی التعلیق الممجد۔

(٤) **جواب**: صاحب الکوکب الدری (۱/۱۰۳) رشید احمد ګنګوهی پدے باندے رد کوی وائی: تاته معلومه ده چه پدے خبره کښں کوم خلل او د خبرو چالاکی ده ځکه د احنافو دا قاعده ده چه نهی د افعال شرعیه نه تقاضا کوی چه دا عمل فی نفسه صحیح دے نو دا قاعده په اوچت آواز سره چغے وهی چه دواړه مونځونه دے صحیح او جائز شی اګر که دے دواړو ته حرمت عارض شویدے د وجه د مشابهت نه د عابدانو د نمر سره نو د معارضے دعوه کول د دواړو په مابین کښں باطل دی (یعنی د احنافو په نیز باندے نهی د

افعال شرعیه نه تقاضا د بقاء د مشروعیت کوی نو د احنافو په مذهب هم د سحر مونځ په طلوع الشمس سره ددے قاعدے مطابق صحیح اوشو ځکه اگرچه پدے کښې نهی راغلے ده مگر مشروعیت او جواز خو باقی دے نو دلته هم احنافو د خپلے قاعدے خلاف اوکړو او د دواړو خبرو په مابین کښې ئے تضاد راغلو) ۲- دویم: که ددے نه نظر قطع شی نو بیا هم هیڅ وجه نشته د عدم جواز د مانځه په فجر کښې او د جواز د مانځه په عصر کښې ځکه وقت د دواړو دپاره شرط دے نو کله چه په مازیگر مانځه کښې پس د یو رکعت یا دوه رکعاتو اداء کولو نه نمر پریوځی نو هغه وقت چه مشروط دے د صحت د باقی مانځه دپاره هغه باقی پاتے نشو نو بیا دوی (احنافو) لره دا قول څنګه ممکن دے چه وائی مونځ د مازیگر تمام شو (او اداء کما وجب اوشوه) ځکه چه دا خو بیا قول دے په نه شرط کیدو د وقت باندے (بیا ئے پدے باندے الزامی رد کړیدے) فرمائی: په احنافو باندے بناء پدے لازمه شوه دا خبره چه دیته دِ جائز اووائی چه یو سړی مونځ شروع کړو او جامه ئے په قدر د درهم یا کم ددے نه نجس وی، بیا کله چه یو رکعت اوکړی نو یو بل سړے پرے نجس شے واچوی نو دا هم اداء د مانځه ده په هغه کیفیت چه دے سړی ئے التزام کړے وو (نو دا دے هم جائز شی او حال دا چه د احنافو په نیز دا کار ناجائز دے اگرکه چه د نورو علماؤ په نیز جائز دے وهو الحق)۔

دارنګه یو سړے مونځ شروع کړی پداسے حال کښې چه متیازو تینګ کړے وی خو کله چه یو رکعت یا دوه رکعاته اوکړی نو بول او متیازے اوکړی نو آیا دا د دوئ (احنافو) د خبرے نظیر (مثال) نه دے؟ (ولے نه دے) ځکه چه ده پس د پے اودسئ نه مونځ اداء کړو په هغه طریقه چه ده ئے التزام کړے وو۔ انتهیٰ بمعنی لفظه۔

نو صاحب د الکوکب الدری مذهب د ائمه ثلاثه غوره کړیدے او قول ئے کړے دے په جواز د دواړو مونځونو پدغه وقت کښې۔

(۵) - **جواب**: حافظ ابن القیمؒ په اعلام الموقعین (۳۴۳/۲) کښې ورکړیدے فرمائی: اے احنافو! هغه صورت چه تاسو په کښې مونځ ناجائز کړیدے چه هغه د نمر خاته وقت دے او د صریح سنت خلاف مو پکښې کړیدے نو هغه ډیر اولیٰ دے په صحت کښې د هغه صورت نه چه تاسو پکښې موافقت د سنتو کړیدے چه هغه د نمر پریوتو وقت دے ځکه چه کله یو سړے د مازیگر مونځ شروع کړی قبل الغروب نو ده دا په وقت د نهی کښې شروع کړو او دا ناقص وقت دے لکه چه دا نبی علیه السلام د منافقانو د مانځه وقت

ګرځولے دے چه قرني الشيطان ته نمر اورسي او پدے وقت کښ ورته کفار سجده لګوي نو نبي علیه السلام ددے وقت نه مخکښ مانځه نه منع اوکړه سداً للذريعة او هر چه د سحر وقت دے قبل طلوع الشمس نو دا تمام کامل وقت دے ځکه کفار پدے وقت کښ سجده نکوي نمر ته بلکه هغوي انتظار کوي د طلوع الشمس، نو دا خبره ثنګه کیدے شي چه : چا په هغه کامل وقت کښ مونځ شروع کړو چه په هغے کښ کفار سجده نکوي نمر ته نو هغه دِ باطل شي په طلوع الشمس او د هغه چا مونځ دِے صحيح شي چه مونځ ئے شروع کړو په وقت د سجدے د کفارو کښ نمر ته دا دواړه ثنګه برابر کيدے شي نو هر کله چه په شيطاني وقت کښ ابتداء او شروع د مانځه مانع ندے د صحت د مانځه نه نو بقاء او هميشوالے د مانځه په وقت د مقارنت د شيطان کښ (په صبا کښ) په طريق اولیٰ دِ مانع نشي د صحت د مانځه نه ـ بيا فرمائي : که په دنيا کښ چرته صحيح قياس موجود وي نو دا به پکښ د تولو نه زيات صحيح وي ـ

بيا فرمائي : دا قياس ما د شيخ الاسلام ابن تيمية نه حاصل کړيدے (وانظر فتاواه (۱۸۱/۲۳) او صحيح قياس خو هغے ته وائي چه نص پرے دليل وي او چا چه د قياس په وجه د نص مخالفت اوکړو نودا مخالف د قياس او نص دواړو دے انتهیٰ ـ

په **بل تعبير** باندے داسے هم وئيلے شي چه دا قياس پدے وجه خطاء دے چه د مازيګر آخري وقت ناقص مکروه دے نو چه يو سړي شروع اوکړه په ناقص وقت کښ او بيا ئے مخکښ د غروب الشمس نه اختتام اوکړو نو دا اداء کامل مع الکراهت ده او چه نمر پريوځي نو دا قضاءِ ناقص شوه نو دلته اداء کامل مع الکراهة ده او اختتام ئے قضاء شوه نو پکار ده چه دلته هم مونځ په طريق اولیٰ باطل شي ځکه اداء کما وجب اونشوه فتدبر فان المقام صعب الانفهام ـ

(٦) – **شپږمه وجه** : صاحب د مرعاة (۳۱۰/۲) وئيلي دي : احنافو چه په بعض حديث عمل کړيدے او بعضو باندے ئے عمل پريښے دے نو ددے د دفع کولو نه عاجز شويدي ځکه چه نقصان په عصر کښ مقارن شويدے ابتداءً او په فجر کښ بقاءً (نو دواړو کښ نقصان شته نو بيا ثنګه فرق کولے شي د عصر او د فجر ترمينځ بلکه دواړو ته جائز وئيل يا دواړو ته ناجائز وئيل پکار دي) ـ

لکه ثنګه چه امام طحاويؒ د احنافو د مذهب مخالف وئيلي دي چه د صبا پشان د مازيګر مونځ هم دے چه دواړه په دغه حالت کښ ندي جائز او دا حديث ئے منسوخ

کړیدے اګرچه قول ئے ضعیف دے نسخ ته ضرورت نشته بلکه تطبیق ممکن دے وقد مر تفصیلًا ۔ حاصل د قول د صاحب المرعاة دا دے چه دا قیاس د احنافو باطل دے ځکه شریعت تا لره اجازه در کړیده چه وقت د مانځه ئے اوږد مقرر کړو نو تا قصداً مونځ روستو کړو او په جزء ناقص کښ دِ اداء کړو نو دا اداء ناقص شوه نو اختتام او قضاء دِ هم ناقص شوه نومونځ دِ دلته هم صحیح نشی لکه سحر چه صحیح نه دے (عندکم) ۔

هر کله چه قول د احنافو باطل وو ددے وجه نه صاحب د فیض الباری شاه انور شاه کشمیری فرمائی : حدیث کښ فرق د عصر او فجر نشته او ظاهر ددے حدیث موافق دے د مذهب د جمهورو او احنافو چه د عصر او فجر ترمینځ فرق کړیدے نو دا عمل دے په یوه جمله د حدیث او بله جمله پریخودل دی په قیاس سره ۔ بیا فرمائی : فلم ار جواباً شافیاً عنه فی احد من کتب الحنفیة بعد ۔ یعنی ما تر اوسه هیڅ قسم تشفی بخش جواب ددے حدیث اونه موندلو په هیڅ کتاب د کتابونو د احنافو کښ ۔ بیا ئے خپله غلط جواب ورکړے او دا حدیث ئے حمل کړیدے په مسبوق باندے او وئیلی ئے دی چه د ادراک نه مراد ادراک د جماعت دے نه ادراک د وقت انتهیٰ ۔ لیکن ددے نه به روستو جواب ته واورے فانتظره ۔

خو مونږ وایو هر کله چه حدیث صحیح وی او څه تعارض هم نه وی نو جواب ته څه ضرورت ؟ ۔

(۷) – **جواب** : دا قاعده غلطه ده چه کوم وقت کښ مونځ شروع شی نو دغه وقت سبب د وجوب الصلاة دے بلکه شریعت وئیلی دی چه دخول الوقت سره مونځ فرض شو خو بیا ئے پکښ توسیع کړیده چه روستو کول ئے هم جائز شو نو آخر وقت کښ مونځ کول جائز شو مګر په مازیګر کښ ئے په مکروه وقت کښ شروع کول ګناه ده ځکه منع راغلے ده ۔

(۸) – **جواب** : که یو سړے په مازیګر کامل وقت کښ شروع وکړی او په زیړی مازیګر کښ اتمام وکړی دا خو هم شروع کامله او اختتام ناقص وشو دا دِ هم جائز نشی عند الاحناف او حال دا چه دا جائز ګنړی نو د احنافو دا خبره انتهائی غلطه ده ۔

(۲) – پدے حدیث کښ د احنافو دویم جواب : امام طحاوی ورکړیدے چه مونځ په دوارو صورتونو کښ باطل دے او ددینه مراد حائضه او ماشوم او کافر دے چه کله حائضه پاکه شوه او د یو رکعت په مقدار وقت باقی وو نو قضائی به راوړی یا ماشوم بالغ شو یا

كافر مسلمان شو او د يو ركعت په مقدار وقت ئې راګير كړو نو دوى باندې دا مونځ واجب دې او قضائى به راوړى نو د حديث معنى داسې كوى: فقد ادرك الصبح اى فقد وجب عليهم الصبح ويقضونها ـ

الجواب: ليكن دا جواب هم غلط دې ځكه د صريح حديث خلاف دې ځكه په دې كښې ورسره دا الفاظ راغلى دى: فليتم صلاته كما فى السنن الكبرى (١/٣٧٩) نو ددې سره دا تاويل موافقه نكوى ځكه دلته امر په اتمام راغلې دې نه په قضاء راوړلو باندې ځكه حائضه خو دا مونځ نشى تمامولې، دارنګه صبى او كافر به غسل او اودس وغيره كوى نو چه كله غسل اوكړى نو ددې يو ركعت وقت به هم تير وى نو د فليتم صلاته معنى څه شوه؟ فتدبر! ـ

٢- دويم رد الزامى: چه احناف وائى چه مقدار د تكبير تحريمه وقت باقى وى نو قضاء به راوړى نه دا چه يو ركعت مقدار وقت پاتې وى او دلته خو يو ركعت ذكر دې نو دا حديث د احنافو د مذهب خلاف دې ـ

(٣) - **دريم جواب** صاحب د فيض البارى كوى چه دا حديث حمل دې په مسبوق باندې او ادراك نه مراد ادراك د جماعت دې يعنى چا چه د امام سره يو ركعت د صبا راګير كړو او بل ركعت ئې ځانله اوكړو نو دا مدرك د جماعت دې او ثواب د جمعې ورته ملاؤ شو ـ

الجواب: دا تاويل هم د فليتم صلاته خلاف دې ځكه نبى عليه السلام امر كوى په اتمام باندې نه دا چه ده ثواب د جماعت راګير كړو د جماعت ذكر پكښې كوم دې؟ ـ

٢- دويم جواب: رشيد احمد لدهيانوى په احسن الفتاوى (٢/١٥٠) كښې وائى د شاه صاحب دا جواب په زړه باندې ښه نه لګى ځكه كه دا مطلب واخستې شى بيا په حديث كښې د قبل ان تطلع الشمس او قبل ان تغرب الشمس الفاظ بې معنى كيږى او شاه صاحب ددې د جواب كوشش هم كړيدې مګر صحيح خبره دا ده چه هغه جواب نه جوړيږى انتهىٰ ـ

صاحب د مرعاة (٢/٣١١) فرمائى: دا توجيه د روايت د بيهقى (٢/٣٧٩) خلاف ده چه په هغې كښې دى: من ادرك من الصبح ركعة قبل ان تطلع الشمس وركعة بعد ما تطلع الشمس فقد ادرك الصلوة ـ او مسند احمد (٢/٤٩٠) او سنن كبرى (١/٣٧٩) كښې دى: ثم طلعت الشمس فليصل اليها اخرىٰ ـ ددينه معلوميږى چه دا حمل دې په منفرد باندې او بعد خروج الوقت هم دا انسان مدرك د مانځه دې يعنى كه نمر راوختلو هم دا انسان

مدرك دے د مانځه او دا مونځ ئے اداء ده نه قضاء او جماعت مراد ندے ځکه چه جماعت خو قبل خروج الوقت کیږی فتدبر ! ـ

نو د رشید احمد لدهیانوی تول بحث ضائع شو چه په احسن الفتاوی کښې ئے د التوجیه العجیب په نوم عنوان قائم کړیدے دپاره ددے چه دا حدیث رد کړی او خپل مذهب ته ئے را واړوی خو لیکن هغه خپله هم ډیر حیران دے جوابونه کوی خو خوند نه ورکوی نو آخر کښې ئے خپل مرض را ښکاره کړیدے اوئیلی ئے دی چه دا مسئله ترے ده تحقیق ته خو سره ددے نه زمونږ فتویٰ او عمل به د امام صاحب د قول مطابق وی ځکه چه مونږ مقلدین یو او د مقلد دپاره قول د امام حجت وی نه ادله اربعه ځکه چه دا وظیفه د مجتهد ده (احسن الفتاوی : ۲/۱۵۲) مونږ وایو د مقلدینو اکتفاء په قرآن او سنت نه کیږی نو ځکه الله تعالی حیران کړیدی ـ اعاذنا الله من وتیرتهم ـ

۲- **دلیل** : احناف استدلال کوی د حدیث د مسلم (۱/۲۳۹) وسیأتی فی المشکوة (۱/۶۷) په روایت د ابو هریره کښې قصه د تعریس ذکر ده چه نبی علیه السلام او صحابه کرام په سفر تلی وو نو نبی علیه السلام اوده شو بلال ئے صبا راختو معلومولو دپاره اودرولو چه د صبا انتظار کوه مونځ رانه قضاء نشی نو بلال هم بے اختیاره اوده شو فلم یستیقظ رسول الله ولا بلال ولا واحد من اصحابه حتی ضربتهم الشمس – وفیه : قال : اِقْتَادُوْا فَاقْتَادُوْا رَوَاحِلَهُمْ شَيْئاً ثُمَّ تَوَضَّأَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ الحدیث نو نبی علیه السلام او بلال او هیڅ یو صحابی رابیدار نشو تر دے چه نمر اووهل نو نبی علیه السلام امر اوکړو چه سورلئ اوترئ ځئ چه ددے ځائے نه ځو ـ

طریقه د استدلال : احناف وائی ددے ځائے نه ځکه وتلی دی چه دا وقت د کراهیت وو د مانځه دپاره صالح نه وو ـ

الجواب : دا مسئله د ما نحن فیه نه جدا ده، خارج ده د بحث نه ځکه ددے حدیث غرض دا دے چه په وقت د طلوع الشمس کښې مونځ ندے پکار او مونږ خو په هغه مسئله کښې یو چه مونځ قبل طلوع الشمس شروع شویدے او بیا ورته طلوع الشمس عارض شو ـ

۲- **دویم جواب** : د دغه حدیث په بل روایت کښې د تاخیر د مانځه علت ذکر شویدے چه نبی علیه السلام امر اوکړو چه ددے کندے نه اوځئ ! (وقال : هذا وادٍ به شیطان وفی روایة ان هذا منزل حضرنا فیه الشیطان، فتح الباری : ۲/ ۹۰) مجموعة الفتاوی

لشيخ الاسلام (۲۳/۱۸۰) نو علت د تاخير د مانځه د شيطان حاضريدل وو پدے کنده کښې نو ځکه ددے ځائے نه اووتل او بل ځائے کښې ئے مونځ اوکړو نو نبی عليه السلام علت، وقت د کراهت ذکر نکړو که دا علت وے نو هغه به ئے ذکر کړے ۔

علامه ابن حزمؒ فرمائی : په روايت د ابوقتادهؓ او عمران بن الحصينؓ کښې ورسره دا زيادت راغلے دے چه په حرارت د نمر باندے رابيدار شو نو پاڅيدل لړ مزل ئے اوکړو بيائے پړاؤ واچولو نو اودسونه ئے اوکړل او بلال اذان اوکړو بيائے د سحر سنت اوکړل بيائے فرض اوکړل بيا سواره شو ۔ابوداود (٤۳۷) واحمد (۱۹۸) نو نبی عليه السلام ځکه مونځ روستو کړو چه ملګرو حاجتونه پوره کول نه ددے وجه نه چه دا وقت د کراهت دے ځکه چه نبی عليه السلام پدے روايت کښې ورسره دا هم ذکر کړل چه فمن نام عن صلاة او نسيها فليصلها اذا ذکرها الحديث ۔ يعنی هير شوے او خوب کښې پاتے شوے مونځ چه کله ياد شی يا ورته رابيدار شی نو هر وقت چه وی اداء کوئ ! المحلی (۲/٦٤) ۔

رشيد احمد په احسن الفتاوی (۲/۱۵۵) کښې وائی دا علت صحيح نه دے ځکه چه شيطان خو هر ځائے کښې حاضروی تردے چه نبی عليه السلام ته مانځه کښې هم يو ورځ حاضر شوے وو نو ددے کندے تخصيص کښې څه فائده نشته ۔

ددے **جواب** دا دے چه دا قياس دے په مقابله د نص کښې او همدا مردود دے ځکه چه د شريعت په تخصيص کښې خامخا فائده وی اګرچه مونږ ته نه وی معلوم او حديث پدے صحيح ثابت دے ، دلته کيدے شی چه د شيطان تسلط زيات وی، يا ډير شيطانان حاضر شوی وی يا دا ځائے د غفلت دے نو ددے نه ځان ساتل مناسب دی ځکه د ګناه او د غفلت د ځائے نه جدا کيدل پکار دی ۔ وانظر المحلی (۲/٦٤) فقد احسن التفصيل ۔

★– بله دا چه دلته مسلمانان اوده وو نو شيطان ځکه کار وکړو او بل ځائے کښې مسلمانان ويخ وی او متوجه وی نو شيطان څه نشی کولے ۔

۲– **دويم جواب** : حافظ ابن الحجرؒ کوی چه په روايت د بخاری کښې دی : [انهم لم يستيقظوا حتی وجدوا حر الشمس] او په روايت د مسلم کښې دی : [عن ابی هريرة – حتی ضربتهم الشمس] ۔ نو دوی د نمر په حرارت باندے رابيدار شو او دا کار نه کيږی مګر هله چه وقت د کراهت ختم شی ۔

اشرف علی تهانوی په حافظؒ ابن حجرؒ باندے رد کوی چه دا حديث په ارتفاع قبل الاستيقاظ دلالت نکوی ځکه جائز ده چه نمر د سره د حرارت نه راختلے وی او دليل پدے

باندے روایت د نسائی دے [عن ابن عباس فلم یستیقظ حتی طلعت الشمس او بعضها] النسائی (۱/۱۰۲) (احسن الفتاوی) ۔

الجواب : دا رد غلط دے ځکه نمر ابتداء کښ ګرم نه وی په هیڅ ملك کښ حتی فی الحجاز ۔ دویم استدلال په دے حدیث د نسائی هم صحیح نه دے ځکه چه پدے کښ خو دا خبره نشته چه دوی د نمر نه مخکښ پاڅیدل بلکه په نمر سره را پاڅیدل لکه حدیث کښ سوچ اوکړه د استیقاظ دپاره ئے غایه طلوع الشمس اوګرځوله نو په نمر وهلو سره او د هغے په حرارت سره راپاڅیدلی دی او کله چه دوی اودسونه کوی بیا اذان او سنت کوی نو ضرور خامخا مکروه وقت ختمیږی ۔

★– بلکه دا چه روایت د نسائی ضعیف منکر دے انظر ضعیف سنن النسائی رقم (٦٢٥)۔

خلاصه : پس ثابته شوه چه ټول استدلالات د احنافو کمزوری او مردود دی او خامخا په مخالفت ددے حدیث کښ واقع دی ددے نه ځان نشی خلاصولے مګر هله چه اقرار اوکړی پدے خبره چه پدے مسئله کښ زمونږ فرق کول د مازیګر او د صبا د مانځه په مابین کښ باطل دی او رجوع اوکړی دے صحیح احادیثو ته ۔ هداهم الله الی الکتاب والسنة وترك التقلید ۔ ددے مسئلے تفصیل دپاره لاندے کتابونو ته رجوع اوکړئ! فتح الباری (۲/٤۷) المحلی (۲/٦۲) اعلام الموقعین (۲/۳٤۳) نیل الاطار (۱/٤۲۳) طرح التثریب (۲/۱۹٤) تحفة الاحوذی (۱/۱٦٦) مجموعة الفتاوی (۲۳/۱۸۲) بتفصیل حری بالمطالعة فتاوی الدین الخالص (۳/۸۳)مرعاة المفاتیح (۲/۳۱۱) الروضة الندیة (۱/۷٤) ۔

فائده : دا قاعده د هر مانځه په باره کښ ده چه د وقت د ختمیدو نه مخکښ دومره وقت اومومی چه یو رکعت پکښ اوکړی نو ده دا مونځ راګیر کړو نور دے ورسره یو ځائے کړی او فرض ئے اداء کیږی لکه دلیل پدے باندے حدیث د ابی هریره دے : [من ادرك رکعة من الصلاة فقد ادرك الصلوة] متفق علیه ۔ او دا عام دے د حدیث الباب نه نو بیا تخصیص د عصر او فجر پدے حدیث کښ ولے شویدے ؟ ۔

جواب : د عصر او فجر ذکر د تخصیص دپاره ندے بلکه ددے دواړو وقتونو اختتام چونکه په مشاهدے سره په آسانئ معلومیږی پدے وجه ئے دا دواړه ذکر کړل ورنه حکم ټولو مونځونو ته عام او شامل دے وبالله التوفیق والله اعلم ۔

۱٦- وَعَنْهُ ﷺ، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : إِذَا اَدْرَكَ اَحَدُكُمْ سَجْدَةً مِنْ صَلَاةِ الْعَصْرِ قَبْلَ اَنْ تَغْرُبَ الشَّمْسُ، فَلْيُتِمَّ صَلَاتَهُ . وَإِذَا اَدْرَكَ سَجْدَةً مِنْ صَلَاةِ الصُّبْحِ قَبْلَ اَنْ تَطْلُعَ الشَّمْسُ، فَلْيُتِمَّ صَلَاتَهُ . رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ .

ترجمه : او ابو هريره رضی الله عنه فرمائی چه رسول الله ﷺ فرمائيلی دی : که په تاسو کښې يو شخص د نمر پريوتو نه مخکښې د مازيگر مونځ يو رکعت اومومی نو هغه دې مونځ پوره کړی او که د نمر ختلو نه مخکښې د صبا مونځ يو رکعت اومومی نو هغه دې خپل مونځ پوره کړی ـ (بخاریؒ) ـ

تشريح : إِذَا اَدْرَكَ اَحَدُكُمْ سَجْدَةً مِنْ صَلَاةِ الْعَصْرِ : د سجدې نه مراد رکعت دې لکه دا په روايت د مسلم کښې راغلې دې، او په روايت د اسماعيلی کښې د سجدة په ځائے رکعةً ذکر دې او دا د راويانو د اختلاف د وجې نه اختلاف په لفظ کښې راغلې دې، علامه خطابیؒ فرمائی : د سجدې نه مراد رکعت دې سره د رکوع او سجدې نه ځکه رکعت په سجده باندې پوره کيږی نو ځکه ئې د رکعت په ځائے سجده ذکر کړه ـ

فَلْيُتِمَّ صَلَاتَهُ : يعنی دا مونځ دې سر ته اورسوی په باقی رکعتونو کولو سره ـ

تنظيم الاشتات (۱/۳۳۹) کښې ئې د شارح المشارق نه يو تاويل نقل کړيدې چه ددې معنی دا ده : فليأت بها علی وجه التمام ـ ليکن دا تاويل غلط دې وجه دا ده چه دا د ظاهر خلاف دې او دې تاويل ته ضرورت هم نشته ځکه چه د احاديث النهی سره ددې روايت څه تعارض نشته چه دې تاويل ته حاجت راپيښ شی کما عرفت تفصيلاً ـ

★– دويمه وجه دا ده چه الحديث يفسر بعضه بعضاً په بناء ددې حديث تفسير په بل روايت کښې راغلې دې : (فليصل اليها اخرٰی (مسند احمد ، السنن الکبری) نو دا د فليتم صلاته تفسير شو ـ اتمام څه ته وائی هغه دا چه بل رکعت دې ورسره يو ځائے کړی ـ نه دا چه آينده کښې علی وجه التمام اداء کول (يعنی قضائی راوړل) فتدبر ـ

بيا دا حديث ئې پدې باب کښې ددې دپاره ذکر کړيدې چه مونځ کښې تعجيل کول پکار دی مگر که د يو انسان نه په سبب د سهوه يا هيره يا خوب سره مونځ آخری اجزاؤ د وقت ته روستو شی نو دا به تقصير کونکے نه وی بلکه ده باره کښې به دا وئيلې شی چه دا مدرک د مانځه دې په خپل وقت کښې او دا مونځ ترې فوت نه دې ـ

۱۷ – وَعَنْ اَنَسٍ رضی اللہ عنہ، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «مَنْ نَسِيَ صَلَاةً اَوْ نَامَ عَنْهَا، فَكَفَّارَتُهَا اَنْ يُّصَلِّيَهَا اِذَا ذَكَرَهَا، وَفِيْ رِوَايَةٍ لَا كَفَّارَةَ لَهَا اِلَّا ذٰلِكَ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : او انس رضي الله عنه فرمائي چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل : كوم شخص نـه چه مونځ هير شي او يا د مانځه د وقت نه (غافل) اوده شي (او مونځ ترې پاتې شي) نو ددې بـدل دادې چـه څه وقت ورته راياد شي اوډ كړي او په يو روايت كښې دي : ددې مانځه د كولو نه سوا بله هيڅ بدله نشته (بخاري ومسلم).

تشريح : مَنْ نَسِيَ صَلَاةً اَوْ نَامَ عَنْهَا، فَكَفَّارَتُهَا اَنْ يُّصَلِّيَهَا اِذَا ذَكَرَهَا الخ :

پدې حديث كښې مسائل دي :

(۱) – **اوله مسئله : مَنْ نَسِيَ صَلَاةً اَوْ نَامَ عَنْهَا** : نائم او ناسي ته خطاب د مانځه كـولـو متوجه دې نـو دا مـعاف نـه دې بلـكـه هـلـه به معاف وي چه مونځ اداء كړي خو گـنـاهـگـار نه دې په روستو كولو د مانځه باندې د خپل وقت نه څكه روستو حديث كښې راځي : [ليس في النوم تفريط الحديث – رفع القلم عن ثلاث عن النائم حتى يستيقظ الخ رفع عـن امتي الخطأ والنسيان الخ] دا احـاديث پـدې باندې دليل دي او كله چه يو انسان ليونې شي نو هغه ته خطاب نه دې متوجه.

(۲) – **دويمه مسئله** : پـدې كښې اتفاق د اهل علمو دې چه په نسيان سره مونځ نه مـعـاف كيـږي كه دوه ورځې پس يا كال پس ورته راياد شو نو هم به ئې كوي څكه نبي عليه السـلام فرمائي : [لا كفارة لها الا ذلك] الـخ ددې هيـر شوي مونځ كفاره صرف او صرف اداء كول دي او نور څه گناه پرې نشته چه څه صدقه وغيره وركړي.

المسئلة الثالثة : قصداً مونځ پريخودلو قضائي نشته :

(۳) – كـه يـو سړي قصداً مـونـځ پريښـې وي ډيـر وي يـا لگ د كال مونځونه وي يا د مياشتې نو دا خو ډير غټ مجرم دې تردې چه بعض علماؤ ورته كافر وئيلي دې خو آيا په ده بـانـدې ددې مـونځونو قضاء شته او كه نه كله چه توبه اوباسي ؟ نو دا اختلافي مسئله ده پدې كښې دوه قوله دي.

(۱) – **ائمه اربعه** وائي چه پدې سړي باندې قضاء شته، درې دلائل وائي :

۱- **اول دلیل** : استدلال کوی په مفهوم الخطاب (مفهوم مخالف) ددے حدیث باندے چه من نام عن صلاة الخ متفق علیه ۔ طریقه د استدلال داده : چه هر کله په نائم او ناسی باندے قضاء واجب ده چه دا لا معذور دے په قضاء راوړلو کښ نو په عامد (قصد سره پریښودونکی) باندے به په طریق اولیٰ سره قضاء واجب وی، سره ددے نه چه دا په تاخیر د مانځه کښ معذور هم نه دے ۔

۲- **دلیل** : قیاس کوی په قضاء الصوم باندے چه یو انسان قصداً روژه ماته کړی نو په هغه باندے خو قضاء واجب ده نو د مانځه قضاء هم واجب ده ځکه چه مونځ په هیڅ حالت کښ نه ساقطیږی او روژه بیا هم ساقطیږی په بعض حالاتو کښ نو مونځ ډیر اولیٰ دے په قضاء راوړلو کښ ۔

۳- **دلیل** : استدلال کوی په حدیث [فدین اللّٰه اَحَقُّ ان یُقْضٰی] یعنی د الله قرض ډیر لائق دے چه د هغے ادائیگی اوشی نو دا حدیث عام دے شامل دے مانځه ته هم ځکه مونځ هم د الله تعالیٰ حق او قرض دے چه ادائیگی ئے ضروری ده ۔

ابن عبد البرؒ ددے قول ډیر زیات تائید کړیدے او دائے وئیلی دی چه پدے باندے اجماع ده۔

(۲)- **دویم قول** : د بعض محققین علماؤ دے - لکه علامه ابن الحزم، داود الظاهری، شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ، حافظ ابن القیمؒ او علامه شوکانی وغیره دے - دوی وائی : قصداً مونځ پریخودونکی باندے پس د توبه ویستلو نه قضاء واجب نه ده نو هر کله چه دا د مانځه په پریخودو په حالت د کفر کښ وو نو د توبے ویستو نه بعد په ده باندے قضاء نشته ۔ او دا قول د امام احمد هم دے هغه وائی : وهو عندی بمنزلة المرتد یستتاب ثلاثا فان تاب ، والا قتل علی حدیث عمر ۔ مسائل الامام احمد براویة عبد اللّٰه ابنه ص (٥٦) رقم (١٩٦) چه تارك الصلاة کافر دے لیکن هغه ورته د پریخودلے شوی مونځونو د قضاء حکم کړیدے لکه دا ذکر دی په مسائل الامام احمد کښ او شیخ البانی په السلسلة الصحیحة (١٤٦/٧) رقم (٣٠٥٤) کښ ذکر کړیدے ۔

دوی **استدلال** کوی : ۱- د دلیل الخطاب او منطوق ددے حدیث نه من نسی صلاة الحدیث دلته نبی علیه السلام تخصیص د نائم او ناسی کړیدے او د قضاء دپاره ئے شرط نسیان او نوم ګرځولے دے او دا قاعده ده چه په انتفاء د شرط سره انتفاء د مشروط راځی نو ددے نه معلومه شوه چه د چا نه مونځ هیر نه وی او نه خوب کښ وی او مونځ پریدی نو دا به قضاء نکوی ۔

۲- دویم : دوی دا وائی : چه هیڅ نص د قرآن نه او نه د حدیث نه پدې موجود دې چه قصداً مونځ پریخودونکې به قضاء راوړی او همدا قول راجح ښکاری په اعتبار د دلیل سره۔

جواب : او دوی جواب ورکوی د اول قول د دلائلو نه چه علامه ابن القیم په کتاب الصلاة ص (۳۶-۵۹) او علامه شوکانیؒ په نیل الاوطار (۲/۴ -۵) کښی تفصیلاً ذکر کړیدی۔

وائی چه : عامد پدې حدیث کښی داخلول صحیح نه دی اګرچه دا ډیر لوئی ګناهګار دې مګر یوه خبره د ګناه ده او یوه د قضاء ده نو قضاء مستقل دلیل غواړی او دعامد په باره کښی هیڅ نص نشته او د ناسی او نائم په باره کښی نص او امر د قضاء موجود دې، سره ددینه چه اکثر ائمه وائی چه قضاء په امر جدید باندې واجبیږی او دلته امر جدید نشته ځکه چه نبی علیه السلام د ناسی او نائم دپاره دا قضائی راوړل کفاره ګرځولې ده نه د عامد دپاره ځکه که عامد مونږ داخل کړو د ناسی او نائم په حکم کښی نو بیا تخصیص او اشتراط باطلیږی۔

کوم علماء چه وائی عامد داخل دې په ناسی کښی ځکه د نسیان معنی ده ترك او پریخودل او دا عام دې که په طریقه د هیره سره وی او که قصداً وی لکه پدې آیت کښی راغلی دی: ﴿ نَسُوا اللّٰهَ فَنَسِيَهُمْ ﴾ الآیة نو حافظ ابن القیمؒ فرمائی : مونږ منو چه قرآن کښی نسیان په دوه معنو استعمال دې نسیان ترك او نسیان سهوه۔

لیکن دا حدیث په نسیان الترك عمداً باندې حمل کول د ځلورو وجو نه باطل دی :

۱- اوله وجه : [فلیصلها اذا ذکرها] لفظ دلیل دې چه دلته د نسیان نه مراد پریخودل دی په طریقه د هیرې سره ۔ ځکه د نسیان سره چه ذکر لفظ ذکر شی نو هلته نسیان السهو مراد وی کما فی قوله تعالی : ﴿ وَاذْكُرْ رَّبَّكَ إِذَا نَسِيْتَ ﴾ او که دا معنی وانخلو نو بیا فلیصلها اذا ذکرها لفظ بې فائدې کیږی ۔

۲- دویمه وجه : فکفارتها ان یصلیها اذا ذکرها لفظ نه معلومیږی چه څوك قصداً مونځ پریدی نو که بعد الوقت ئې اوکړی بیا هم دده نه ګناه د فوت کولو نه ختموی ځکه بیا خو به ستاسو په نیز معنی د حدیث داشی چه من ترك الصلوة عمداً حتی خرج وقتها فکفارة ائمه صلاتها بعد الوقت یعنی ګناه ئې پدې سره ختمیږی چه د وقت د ختمیدلو نه پس ئې اداء کړی او دا خو ډیره قبیحه خبره ده بیا به هر سړې قصداً مونځ

پریدی او بعد خروج الوقت به ئے کوی نو دده گناه به پدے سره ختمیږی ؟ ۔
۳- **دریمه وجه** : پـه حـدیث کښې د نـاسی سره د نائم ذکر کول تقاضا کوی چه د ناسی نه مراد ساهی دے ۔
٤- **وجه** : د شارع پـه کلام کښې چه کله په ناسی باندے احکام معلق شی نو د هغے نه مراد ساهی وی لکه حدیث کښې دی : من اکل او شرب ناسیاً فلیتم صومه فانما اطعمه الله ۔
د دویم دلیل نه جواب کـوی : چـه دا قیاس ستاسو صحیح نه دے په صوم باندے ځکـه چـه د دواړو حـکـم کـښې نبی علیه السلام فرق کړیدے نو مسافر او مریض ته شرعاً اجازت دے چـه روژه مـاتـه کـړی خـو بیـا بـه قضاء راوړی او دوی معذور دی او عمداً مونځ پـریـخـودونـکـے عـاصـی او گناهگار دے ده ته حکم د اعادے نشته بلکه عمداً روژه روستو کـونـکـے داسـے دے لکه نائم او ناسی چه د دواړو دپاره نص موجود دے په قضاء راوړلو باندے عـلاوه لا دا چه د مرض د وجے نه کله کله روژه ترک کول واجب وی او روژه نیول حرام وی او مـونـځ پـریـخودل په هیڅ حالت کښې نشته نو الحاق د تـارك الصلوة عمداً وعدواناً په تارك الصوم باندے فاسد دے او باطل قیاس دے ۔
۳- او جـواب د حـدیث د دین الله احق ان یقضیٰ نه دا دے چه ددے دوه مطلبه دی یو دا چـه قصدا مونځ پریخودلے شوے دین دے او ثابت دے په ذمه د پریخودونکی باندے نو پدے کښې خو اختلاف نشته تول دا منی چه پدے سرِی باندے دا دین نشته ۔
۲- دویـم مـطـلـب دا دے چـه دا دین قابل د ادائیگۍ دے چه اداء کړے شی او که نه ؟ نو دے کـښې اخـتـلاف دے او دغـه علماؤ سره پدے باندے هیڅ دلیل نشته چه اداء کول ئے لازم دی ځـکـه الله تعالی ددے حق اداء کول نه قبلوی مگر په خپل وخت کښې او په هغه طریقه باندے چه الله تعالی مشروع کړیدے نو پدے څه دلیل دے چه الله تعالی دا حق قبلوی کوم چـه پـه غیـر د خپـل وقت مقرره کښې اداء کړے شو، او دا خو عبادت دے خو د خپل وقت نه اووتـو او هـر چه دین الله احق ان یقضیٰ حدیث دے نو دا خو نبی علیه السلام فرمائیلی دے پـه حـق د مـعـذور کښې نه هغه شخص چه تفریط کونکے وی او داسے دین قابل دقضاء دے ځکه دا وئیلے شویدے په نذر مطلق کښې لکه په صحیحینو کښې روایت ذکر دے، په روایت د ابـن عبـاس کـښې چـه یـوے زنـانـه اوفـرمـائـیـل : زما په مور باندے نذری روژے وے او هغه وفـات شـوه نـو زه د هغـے د طرفنه روژه اونیسم ؟ نبی علیه السلام اوفرمائیل : آیا که ستا په مـور بـانـدے دین (قرض) وی او ته ئے د هغـے د طرفنه اداء کـوے نو هغه به اداء کیږی او که نه

؟ هغے اووئیل : آؤ الخ ۔
او هر چه دعوه د اجماع ده نو دا باطله ده ځکه په څلورو علماؤ اجماع نه ثابتیږی د کوم صحابی نه دا نقل ده د یو صحابی نوم خو ډ څوك پیش کړی، نشته بلکه د سلفو نه التـه نقل دی : محمد بن نصر المروزی په خپل کتاب الصلوة کښ لیکی : حسنؒ فرمائی : اذا ترك الرجل صلوة واحدة متعمداً فانه لا یقضیها ۔ دویم په روایت د سنن کښ راغلی دی په حدیث د ابی هریره کښ : [من افطر یوماً من رمضان من غیر عذر لم یقضه عنه صیام الدهر وان صامه] کتاب الصلوة لابن القیم (۳۷) وفتاوی الدین الخالص (۱٤۷/۳) پس ثابته شوه چه قصداً پریخودلے شوی مونځونو قضاء نشته بلکه صرف توبه ویستل او او استغفار ئے کفاره ده ځکه په قضاء باندے هیڅ نص نشته او دا مستقل حکم دے نو مستقل نص او دلیل غواړی په قیاس باندے نه ثابتیږی فتدبر !۔

المسئلة الرابعة : اوقات مکروهه کښ د مانځه حکم

(٤) – څلورمه مسئله پدے حدیث کښ دا ده چه د قضائی مانځه دپاره اوقات مکروهه شته او که نه ؟ ۔

۱ – **احناف** وائی : اوقات مکروهه دوه قسمه دی (۱) یو اوقات ثلاثه (وقت طلوع الشمس، وقت الاستواء، وقت الغروب) نو پدے کښ قضائی مونځ ا ووقتی مونځ نشی اداء کولے مگر ددے نه الا عصر یومه (د مازیگر وقتی مونځ او صلاة الجنازه چه حاضره شی پدے وقت کښ او سجده د تلاوت چه پدے وقت کښ ئے آیت د سجدے تلاوت کړی نو دا ترے مستثنیٰ دی ددے اداء کول صحیح دی ۔
او استدلال کوی په احادیث النهی باندے (او پدے احادیث النهی باندے احنافو ډیر احادیث صحیحه ساقط کړیدی لکه تحیة المسجد، رکعتی الطواف، د سحر سنت، تحیة الوضوء وغیره حالانکه دا حدیثونه مستثنیٰ دی د احادیث النهی نه کما مرّ او احناف الاعصر یومه مستثنیٰ کوی دارنگه صلاة الجنازه او سجده د تلاوت خو دوی دغه احادیث د مذهب په بناء مستثنیٰ کوی د احادیث النهی نه) ۔
۲ – دویم قسم وقت مکروه بعد طلوع الفجر الی طلوع الشمس او مابین صلاة العصر الی الاصفرار نو پدے اوقاتو کښ ټول مونځونه اداء کولے شی او انعقاد ئے بلا کراهته صحیح دے مگر نفل او واجب لغیره ددے انعقاد جائز مع الکراهت دے ددے قطع

کول او بیا په غیر مکروه وقت کښ ددې قضاء راوړل واجب دی ۔ کذا قال الشامی فی رد المحتار (۱/۲۵۰) وجه د فرق د دواړو وقتونو دا ده چه اوقات ثلاثه کښ نهی مؤکده ده او په دویم قسم کښ نهی سداً للذریعة شویده یعنی فی نفسه وقت کښ کراهت نشته مگر دا ذریعه او وسیله گرځی دپاره ددې چه مونځ اداء کړې شی په وقت مکروه کښ چه مثلا یو سړې به مونځ اوگد کړی او اداء به ئې کړی په وقت د طلوع الشمس یا وقت الغروب کښ نو په حرامو کښ به واقع شی فتدبر ددې وجه نه به عمرؓ د رکعتین بعد العصر نه منع کوله چه دا ذریعه جوړیږی دپاره د حرامو کما سیأتی فی موضعه ۔

صرف شامی مولا گنجائش ورکړیدې چه نن صبا زمانه کښ عوامو کښ فسّاق زیات دی نو که هغوی په مکروه وقت کښ مونځ کوی نو هغه به نشی منع کولې ځکه هغوی دومره وقت انتظار په مسجد کښ نشی ویستې چه نمر پوره را اوخیژی یا پوره پریوځی نو مونځ به پریدی او اوبه تبنتی ۔ الدر المختار ورد المحتار (۱/۲۵۰) ۔

۲- **دویم قول** د جمهور اهل علمو دې دوی فرمائی: قضائی مونځ په اوقاتِ کراهت کښ جائز دې او کوم احادیث النهی چه راغلی دی نو هغه په باره د نفلو کښ دی چه نفل شروع کول پدې اوقاتِ ثلاثه کښ منع دی کمامرّ تفصیلا ۔

او د اَقِمِ الصَّلَاةَ لِذِكْرِیْ د عموم نه معلومیږی چه کوم وقت درته مونځ رایاد شو نو اداء کوه ئې او د حدیث [من نسی صلاة او نام عنها فکفارتها ان یصلیها اذا ذکرها وفی روایة لا کفارة لها الا ذلك] بخاری (۸٤) ومسلم (۱/۲٤۱) والترمذی رقم (۳۸٦) صریح دلیل دې چه په اوقات د کراهت کښ هم قضائی مونځ اداء کولې شی او مخکښ حدیث تیر شو فلیتم صلاته نو د هغې نه هم جواز معلومیږی نو ثابته شوه چه فرض مونځ ددې احادیث النهی نه مستثنی دې لکه احنافو چه ترې عصر یومه وغیره مستثنی کړیدی نو مونږ له هم د احادیثو په بناء استثناء جائز ده ۔

علامه شوکانیؒ فرمائی: وفی الحدیث المذکور دلیل علی ان الفوائت یجب قضائها علی الفور وانها تقضی فی اوقات النهی وغیرها، نیل الاوطار (۲/٤) وفتاوی الدین الخالص (۱۳۵/۳) ۔

(۵) - المسئلة الخامسة :

فقه حنفی کښ لکه کنز، هدایه، شرح وقایه در مختار (۱/٤۹۱) وغیره کښ د فساد موقوفه مسئله ده چه یو سړې قضائی مونځ د وقتی مونځ نه روستو اوکړی یعنی ترتیب

بدل کړی صورت ئے دا دے چه یو سړی باندے فوتی مونځ پاتے دے او ده ته ښه یاد دے لیکن وقتی مونځ ترے مخکښ اوکړی، نو دا وقتی مونځ ئے فاسد شو په فساد موقوفه سره یعنی ترڅو چه دا مونځو نه شپږو ته نه وی رسیدلی نو ددے وقتی مونځ فساد به موقوف وی او که شپږو ته اورسیدل نو بیا به دا مونځ جائز شی ځکه بیا ترتیب ساقط شو نو دا مسئله ئے دلیله ده بلکه که قضائی مونځ ورته داسے وقت کښ یاد شی چه د وقتی مونځ جماعت تیار وی یا ئے وقت تیریږی نو وقتی به مخکښ اوکړی او قضائی به روستو راوړی او هیڅ حرج پکښ نشته ۔

(٦)- مسئله : فوتی مونځونو کښ د ترتیب حکم :

اوس اختلاف دے چه د فوتی او قضائی مونځونو کښ ترتیب فرض دے او که نه ؟ نو اول خو دا خبره زده کړه چه د چا نه ډیر مونځونه د یو شرعی عذر (مرض جهاد وغیره) په وجه فوت شی نو مسئله دا ده چه په ترتیب سره به ئے قضاء راوړی مثلا سحر به مخکښ اوکړی بیا به ماسپښین بیا مازیگر الخ لکه نبی علیه السلام نه په غزوه خندق کښ درے مونځونه قضاء شو نو اول ئے د ظهر بیا د عصر بیا د مغرب قضاء راوړه ۔ کذا فی نصب الرایة (۲/۱٦۲) ۔

(۱) **نو د جمهور** اهل علمو په نیز ترتیب فرض دے خو ساقطیږی په یو د دریو څیزونو سره چه دا دریواړه په احادیثو کښ راغلی دی وهو القول الراجح ۔

۱- اول سبب : ترتیب ساقطیږی په نسیان (هیره) او خوب سره لکه پدے حدیث الباب کښ راغلی دی نو کله چه ورته رایاد شو یا د خوب نه بیدار شو نو مونځ به اوکړی ۔

۲- دویم سبب : بحضور الجماعة : چه جمعه حاضره شی نو قضائی مونځ روستو کړه او وقتی مونځ اوکړه نبی علیه السلام فرمائی : [اذا اقیمت الصلاة فلا صلاة الا المکتوبة] رواه مسلم وفی روایة [الا التی اقیمت لها] ۔

او کوم روایت چه په السنن الکبری (۲/۲۲۱) ونصب الرایة (۲/۱٦۲) کښ د ابن عمرؓ نه مرفوعاً ذکر شویدے : چه چا نه مونځ هیر شو او بیا ورته په جماعت کښ د امام پسے وریاد شی نو دا د دا مونځ پوره کړی او کله چه د مانځه نه فارغ شی نو هیر شوے مونځ به اوکړی او بیا به هغه مونځ دوباره اوکړی کوم ئے چه د امام سره اوکړو نو دا روایت ضعیف دے پدے کښ ابو ابراهیم راوی خطاء شویدے په رفع ددے حدیث کښ کما قال الدارقطنی ۔

امام بیهقیؒ فرمائی : او صحیح دا ده چه دا قول د ابن عمرؓ دے د نبی علیه السلام وینا نه ده، ددے وجه نه بیهقیؒ دا حدیث حمل کړیدے په استحباب د اعاده باندے نه په وجوب باندے ـ

د امام احمدؒ بن حنبل نه تپوس اوشو چه یو سړی ته د ماسخوتن مونځ د سحر د مانځه په وقت کښ را یاد شی نو دا به څه کوی ؟ نو هغه اوفرمائیل : یصلی الفجر ولا یضیّع صلاتین کما فی الجوهر النقی (۱/۲۲۲) علی السنن الکبری لابن الترکمانی وهو قول ابن المسیبؒ ـ

یعنی وقتی (د سحر) مونځ به اوکړی هسے نه چه دواړه مونځونه ئے ضائع شی او پدے معنی باندے ډیر احادیث دی خو علامه زیلعی تول معلول کړیدی ـ نصب الرایة (۲/۱۶۳-۱۶٤) وفتاوی الدین الخالص (۳/۱۳۶) ـ

نو د احنافو استدلال ددے روایت د ابن عمرؓ نه په فساد موقوفه باندے صحیح نه دے ـ

۳- سبب : ترتیب ساقطیږی : بضیق الوقت : چه وقت تنګ شی نو وقتی مونځ به مقدم کړی او قضائی مونځ به روستو اوکړی ـ

(۲) **قول ثانی** : د احنافو دے چه ترتیب د فوائتو او وقتی مونځونو په مابین کښ فرض دے خو اسباب د سقوط الترتیب دریے دی د حضور الجماعة په ځائے باندے : بصیرورة الصلوات ستاً ـ چه مونځونه شپږو ته اورسی نو ترتیب ساقط دے لکه شرح وقایه (۱/۲۱۷) کښ وائی : او فاتته ستة حدیثة کانت او قدیمة ـ لیکن ددے دپاره دلیل نشته سیوا د رأی او قیاس نه ولا یجری القیاس فی العبادات ـ

(۳) – د حسنؒ او طاوسؒ رایه دا ده چه په قضائی مونځونو کښ ترتیب ضروری نه دے استدلال کوی په بعض روایاتو چه امام بیهقی په سنن کبری (۲/۲۲۰) کښ ذکر کړیدی لیکن ددے قول استدلال ضعیف دے صحیح دا ده چه ترتیب ضروری دے ـ

وَفِیْ رِوَایَةٍ لَا کَفَّارَةَ لَهَا اِلَّا ذٰلِکَ :

المسئلة السابعة : (۷) اوومه مسئله پدے حدیث کښ د فدیه ده ـ

التصریحات علی ان لا فدیة للصلوات

قانون دا دے چه په شریعتِ مطهره کښ فدیه صرف د روژے راغلے ده او د مونځونو فدیه په دین کښ نشته او په هغے باندے هیڅ دلیل نه د قرآن کریم شته او نه د صحیح

حدیث نه او نه د یو صحابی قول او فعل شته او نه د ائمه اربعهؤ نه نقل ده سیویٔ د قول د امام محمد رحمه الله نه چه هغه وئیلی دی : (ارجو ان تقبل فدية الصلوة كفدية الصيام) یعني زما دا امید دے چه د روژے د فدیه پشان به د مانځه فدیه هم قبوله شي۔

نو امام محمد لفظ د ارجو اووئیلو نو متاخرین احنافو ددے نه دین جوړ کړو او بدعاتو ته ئے پدے سره دروازه کولاوه کړه، په حیله اسقاط کښې اخته شو، او په هغے کښې ډیرو مفاسدو کښې ورننوتل لکه صابونونه تقسیمول او قرآن حکیم پکښې گرځول او د هغے بے ادبی کول او د الله سره ټگی کول چه د سل روپو نه زر روپۍ جوړوی او یو بل ته وائی ما تا ته دربخلے او تا ما ته رابخلے او آخر کښې ئے یو بدعتي ملاصیب په جیب کښې واچوی او باقی مبتدعینو ته ترِلس لس یا شل شل روپۍ ورکړی ذلیل سرونه ئے نیولی وی لکه پَل چه ئے په ځټ کښې پروت وی بره نشی کتلے او پدے کښې د یتیمانو مالونه برباد کړی ، او بیا فقهاؤ ددے دپاره اندازے مقرر کړے اوشرطونه ئے مقرر کړل، دا ټول بدعات دی او د ﴿ أَمْ لَهُمْ شُرَكَاءُ شَرَعُوا لَهُمْ مِنَ الدِّينِ مَا لَمْ يَأْذَنْ بِهِ اللَّهُ ﴾ مصداق دے دیته واجب یا مستحب وئیل حرام دی ځکه چه ددے په اثبات کښې هیڅ قسم نص نشته او په اجتهاد د بعض علماؤ استحباب نه ثابتیږی ځکه استحباب امر شرعی دے دلیل شرعی غواړی او داعبادت دے او عبادات په قیاسونو نه ثابتیږی (خو بدعتیان ددے اصولی قاعدے نه همیشه رُوگردانی کوی) بلکه دا چه دا عموم البلویٰ ده او احناف هم منی چه په عموم البلویٰ کښې ضرور بالضرور نقل د آیت یا د حدیث ضروری دے۔

هر کله چه دا حیله اسقاط او فدیه دومره ضروری وه څنگه ئے چه مبتدعین دخپلے خیټے دپاره ضروری گنړی نو بیا نبی علیه السلام د روژے د فدیه پشان بیان ولے نه کولو ؟ هر کله چه هغه نه بیان نقل نشو نو دا دلیل دے چه دا بدعت دے او همدا یو دلیل هم دپاره درد د فدیه د مونځونو کافی دے۔

۲-: په اسلام کښې د مانځه فوت کیدل نشته ځکه که د یو انسان په ولاړه طاقت نه وی نو په ناسته به مونځ کوی او که په ناسته نشی نو په اړخ باندے په اشاره سره به ئے کوی كما في الحديث وسنده صحيح انظر تمام المنة (٣١٤) والصحيحة وقم (٣٢٣) ونصب الراية (٢/ ١٧٥) برواية البزار والبيهقي في المعرفة۔ او که بالکل پدے هم قادر نشو نو په ده باندے دا مونځ واجب نه دے كما قال شيخ الاسلام في فتاواه (٧٣/٢٣) او په سترګو سره اشاره کول هم نشته په اصح القولین کښې او دا قول د امام ابو حنیفه هم دے ځکه

اشاره په سترګه عمل نه دے او د رکوع او سجدے تمیز هم پکښ نشی کیدے۔
فقه السنة (١/٢٤٣) ـ

او فقه اسلامی (٢/١٣٤) کښ دی چه احناف وائی: کله چه یو مریض وفات شی چه په سر باندے په اشاره کولو سره په مانځه نه وو قادر نو ده باندے وصیت کول هم نه دی لازم چه زما نه مونځونه قضاء شویدی ـ وکذا فی الشرح الکبیر لابن قدامة (٢/٨٩) وفتاوی الدین الخالص (٤/١١٨) ـ

او که قصداً مونځ ئے پریښے وی نو دا کافر دے علی احد القولین نو فدیه د کوم ځائے نه راغله ؟ـ

٣- دریم دلیل : دا حدیث الباب دے چه پدے کښ نبی علیه السلام حصر کړیدے [لا کفارة لها الا ذلك] ـ چه د مانځه کفاره نشته مګر دا چه اداء کړے شی په وقت د رایادیدو کښ یا په وقت د رابیداریدو کښ، نو که ددے مالی کفاره وے نو نبی علیه السلام به ذکر کړی وے ځکه چه نبی علیه السلام خو د بیان دپاره راغلے دے او هغه داسے هیڅ یو حکم نه دے پریخودے چه هغے ته مسلمان محتاجه وی مګر هغه ئے بیان کړیدے او دائے رایه او قیاس ته ندی پریخودی، ددے وجه نه علامه خطابیؒ ددے حدیث په تشریح کښ فرمائی : لا کفارة لها الا ذلك ای لا یلزمه فی ترکها غرم او کفارة من صدقة او نحوها کما تلزمه فی ترك الصوم فی رمضان ...... وکما تلزم المحرم اذا ترك شیئاً من نسکه کفارة الخ المرعاة (٢/٣١٢)۔ یعنی د مانځه کفاره مالیه او صدقه نه ده لازمه لکه څنګه چه په روژه او وحج کښ لازمه ده ـ

(٤) - دلیل : کوم احناف چه قائل دی په فدیه باندے د هغوی سره هیڅ دلیل د کتاب او سنت نه نشته صرف په قول د محمدؒ کښ قیاس د مانځه دے په صوم باندے چه دواړه عبادت بدنی دی او دا قیاس باطل دے یوه وجه مخکښ بیان شوه چه په عباداتو کښ قیاس نه جاری کیږی او قیاس خو د ضرورت په وخت کښ کیږی او دلته څه ضرورت دے چه مونږ په زوره په ځان باندے یو غیر لازم شے لازم کړو او د الله او رسول نه ځان مخکښ کړو کما فی القصیدة النونیة لابن القیم (١٨٩) واعلام الموقعین (١/٣٣٧) ـ

دارنګه بیا هغوی د مانځه دپاره فدیه مقرر کړیده د روژے د فدیه پشان اوحال دا چه احناف پخپله قائل دی پدے چه اندازه او مقدار به په قیاسونو سره نشی مقررولے بلکه دا کار شریعت ته سپارلے شویدے لکه هدایه (١/٦٦) کښ وائی : المقادیر لا تعرف الا

بالشرع والتوقيف او كتاب الزكوة (۱/۱۹۱) كښې وائي : ان المقادير لا يدخلها القياس ۔په كتاب الاضاحى (٤/ ٤٤٦) كښې وائي : ولان الرأى لايهتدى الى المقادير ۔

نو دا اتفاقي مسئله ده چه اندازې به شريعت مقرر وي او په رأيه سره ددې مقررول جائز ندي باقرار الحنفيه (خو ارمان چه اكثرو مقلدينو پدې خبره عمل كړې وې) نو دلته څنګه ددې خپلې خبرې خلاف كوي چه د څان نه فديه د مانځه مقرروي، شريعت كوم ځائې د مانځه فديه مقرر كړيده ؟ ۔

۲- دويم : دا قياس څكه باطل دې چه د مانځه قضاء نشته كما مرّ او د روژې فوت كيدل شته په سبب د مرض او سفر او حمل او رضاعت وغيره سره نو د مانځه قياس په روژه باندې قياس مع الفارق دې فتدبر ! ۔

نو تحقيقي قول دا دې چه صرف د روژې فديه په شريعت كښې راغلې ده بيا دا فديه په دوه قسمه راغلې ده :

(۱) - يو دا چه د مړي د طرفنه به وارث روژې اونيسي كما فى حديث الصحيحين عن عائشة مرفوعاً : [من مات وعليه صيام صام عنه وليه] وسيأتى فى المشكوة (۱/۱۷۳/۱۷۸) والبيهقى فى السنن (٤/٢٥٤)۔

(۲) - دويمه طريقه فديه مالي ده لكه قرآني آيت كښې راغلې ده : ﴿ فِدۡيَةٌ طَعَامُ مِسۡكِينٍ ﴾ كښې عبد الله بن عباسؓ تفسير كوي : لا يصلى احد عن احد ولا يصوم احد عن احد ولكن يطعم عنه مكان كل يوم مد حنطة كذا فى مشكل الآثار للطحاوى (۳/۱٤۱) ونصب الراية (۲/٤٦٤) ومثله عن ابن عمر رضى اللّٰه عنهما يعنى د غنمو يو مد به په مقابله د يوه روژه كښې فديه وركړي ۔

بعض علماء لكه سرفراز خان صفدر په (المنهاج الواضح) كښې ليكي : دَ مانځه په فديه كښې دوه اثرين راغلي دي :

۱ - يو اثر د ابن عباسؓ دې : د غه مخكنې اثر دې چه پدې كښې يطعم عنه لفظ ذكر دې۔

الجواب : دا اثر بالكل دليل نه دې په فديه مانځه باندې د درې وجوهو نه

(۱) يوه وجه دا ده چه دا په باره د فديه د روژو كښې دې څكه پدې كښې لفظ د يطعم عنه مكان كل يوم مد حنطة دې او بل روايت كښې كل يوم مسكيناً دې نو يوم لفظ دليل دې چه دا فديه د روژو ده څكه چه دوي خو د هر مانځه دپاره يو مد حنطه مقرر كړيده نه د هرې ورځ دپاره فتدبر نو دلته دوه مسئلې دي يو مونځ د بل چا د طرفنه نه كيږي دويم روژه ده

فدیـه ده نو که د مانځه فدیه وي نو داسې به ئې وئیلي وې ولـکن یطعم عنه مکان کل صلاة مد حنطة نو دوی خطاء شو او دائې د مانځه سره اولګوله ـ

(۲) – دویـمـه وجه دا ده چه دا اثر موقوف دې په ابن عباسؓ باندې او مرفوع ندې بلکه دا مخالف دې د حدیث مرفوع نه چه : [من مات وعلیه صیام صام عنه ولیه] متفق علیه او که مخالف نه وی نو بیا : (۳) – وجه دا ده چه پدې کښې د مانځه د فدیه ذکر نشته ـ

(٤) – بله وجه د ضعف دا ده چه دا استدلال ځکه صحیح نه دې چه متقدمین احنافو ددې نـه استـدلال نه دې کړې که د اثر دا مطلب وې چه د مانځه فدیه شته نو متقدمینو به ضرور پرې استدلال کولې ـ

۲– دویـم اثر : د ابن عمرؓ دې : عـن نـافـع عـن ابن عمرؓ قال : لا یصلین احد عن احد ولا یـصـومن احد عن احد ولکن ان کنت فاعلاً تصدقت عنه او اهدیت رواه عبد الرزاق (۹/٦۱، رقم (۱٦۳٤٦) وذکره ابن الترکمانی فی الجوهر النقی (٤/۲٥۷) ـ

الجواب : پدې حـدیث کښې د مخکښې پشان جواب دې ـ ۲– دویم دا اثر ضعیف دې فیه عبد الله بن عمر العمری مشهور ضعیف راوی دې نو قابل د استدلال نه دې ـ

۳– دارنـګـه کـه بـالفرض ثابت شي نو پدې روایت کښې د ایصال ثواب مسئله ده چه د هغه طرفنه صدقه او هدیه کولې شي تصدقت عنه او اهدیت لفظ پرې دلیل دې ـ

٤– بـلـه وجـه داده چـه پـه هغې روایت کښې ئې خو اختیار ورکړیدې چه (لکن ان کنت فاعلاً) او دوی خو فدیه اسقاط لازم وائي فاین الاستدلال بهذا الاثر ـ

٥– دارنـګه په هغې روایت کښې فدیه د مانځه هم نه ده ذکر چه څومره ده هسې صدقه او هدیه ذکر ده فانقطعت عروق المبتدعة وبالله التوفیق ـ

ددې وجـه نه علام شوکانيؒ فرمائي : ان مـات وعلیه صلاة فانها لا تقضی عنه ولا یطعم عنه لها لقوله لا کفارة لها الا ذلك (نیل الاوطار) وفتاوی الدین الخالص (۳/۱۱۷) ـ د مونځ قـضائي هم نشته او فدیه ورکول هم نشته ځکه نبي علیه السلام کفاره د مانځه صرف او صـرف د هـغې کـول ذکر کړیدی او دغه شان فتوی د علماء الحجاز هم ده کـما فی الفتاوی الاسلامیة لمجموعة من العلماء الافاضل (۱/۳٦۳) کتاب الصیام ـ

۱۸– وَعَنْ اَبِیْ قَتَادَةَ رضی الله عنه، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : لَیْسَ فِی النَّوْمِ تَفْرِیْطٌ،

اِنَّمَا التَّفْرِيْطُ فِي الْيَقْظَةِ . فَاِذَا نَسِيَ اَحَدُكُمْ صَلَاةً اَوْ نَامَ عَنْهَا فَلْيُصَلِّهَا اِذَا ذَكَرَهَا، فَاِنَّ اللّٰهَ تَعَالٰى قَالَ : ﴿ وَاَقِمِ الصَّلَاةَ لِذِكْرِيْ ﴾ . رَوَاهُ مُسْلِمٌ .

ترجمه : او ابوقتاده رضی الله عنه وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی : په خوب کښې د مانځه پاتے کیدل په قصور کښې شمار نه دی بلکه قصور خو په ویښه کښې (شمار) وی (چه هغه داسے ولے اوده شو) نو کله چه پتاسو کښې د کوم شخص نه مونځ هیر شی یا د مانځه د کولو نه غافل اوده شی نو په کوم وقت چه ورته رایاد شی اودے کړی ځکه الله تعالی فرمائی : (وَاَقِمِ الصَّلَاةَ لِذِكْرِيْ) او زما د یادولو په وقت مونځ کوه ۔ (مسلمؒ) ۔

تشریح : لَيْسَ فِي النَّوْمِ تَفْرِيْطٌ: یعنی په خوب کښې قصور نشته ددے مطلب دا نه دے چه یو انسان د مانځه په وقت کښې یا قبل الوقت اوده شی او مونځ ترے فوت شی نو دا به گناهګار نه وی بلکه مطلب دا دے چه د شپے اوده شی او سحر مانځه ته رابیدار نشی نو دا قصوروار نه دے ځکه چه دا پدے وقت کښې مکلف نه دے بلکه مجبور دے یا د ورځے داسے وقت کښې اوده شی چه د مانځه وقت نزدے نه وی اوبیا مونځ ترے فوت شی نو دا به کوتاهی کونکے نه وی ځکه دده نه دا مونځ په غیر د اختیار دده نه فوت شو، البته دده ته به د قصور نسبت کیږی په حالت د ویښ والی کښې مثلاً چه د مانځه وقت نزدے وی او دا ترے مخکښې اوده شی یا ماسخوتن ناوخته اوده کیږی، تی وی، وی سی آر، کیبل ګوری ګپ شپ لګوی چه په هغے سره دده نه د سحر مونځ فوت شی یا په شطرنج او لډو او ګیمونو کولو باندے د مانځه نه مشغول شی یا په قهوه څکلو باندے د مانځه نه غافل شی نو دا انسان ګناهګار دے ده ولے داسے کارونه اوکړل چه هغه د مانځه د فوت کیدو سبب وو ۔

فِي الْيَقَظَةِ : د قاف فتحه ده، بیداریٔ او ویښ کیدو ته وائی ۔

﴿ وَاَقِمِ الصَّلَاةَ لِذِكْرِيْ ﴾ : دے آیت کښې ډیر تفسیرونه مفسرینو ذکر کړیدی لیکن دلته ددے مقام مناسب ۱ – یو مطلب دا دے چه لام په لذکری کښې دپاره د وقت دے او ذکر نه مراد مونځ دے ځکه د مانځه یادول په منزله د الله یادولو دی ځکه الله تعالی د مونځ یادول د خپل ځان یادول ګرځولی دی نو معنی به داشی : چه کله تاته مونځ رایاد شی چه هغه زما د یادولو سبب دے نو هغه وقت ئے اداء کړه نو د ماقبل حدیث سره ئے مناسبت واضح شو ۔

٢– دویم مطلب : اضافت د ذکر یاء د متکلم ته اضافت د مصدر دے فاعل ته او مفعول ئے حذف دے ای وقت ذکری ایاك الصلاة ۔ یعنی کوم وقت چه زه تا ته مونځ را یاد کړم نو په همغه وقت ئے اداء کوه ته ګناهګار نه ئے۔

فائده : دا آیت خطاب دے موسیٰ علیه السلام ته لیکن نبی علیه السلام پدے حدیث کښې استدلال پدے آیت اوکړو نو دا دلیل دے چه د پخوانو انبیاؤ شریعت زمونږ دپاره شریعت دے تر څو چه نسخ نه وی راغلی نو ددے نه دا معلومه شوه چه پخوانو امتونو ته چه کوم خطابات شویدی هغه به مونږ ته هم وی نو د مبتدعینو دا خبره خطا شوه چه کله ورته اووئیل شی د قرآن په تلاوت دنیا مه غوره کوئ ځکه آیت دے ﴿وَلَا تَشْتَرُوْا بِآيَاتِيْ ثَمَنًا قَلِيْلًا﴾ هغوی وائی دا خو د بنی اسرائیلو په باره کښې دے ۔ او عمر رضی الله عنه هم دغه شان خبره کوی : (مضی القوم وما یسمع الله هذه الآیة الا انتم) یعنی پخوانی امتونه (بنی اسرائیل تیر شو) اوس الله تعالی تاسو ته دا آیتونه اوروی چه د هغوی په نقش قدم روان نه شئ) ۔

فائده : (مسئله) د وتر مانځه قضائی هم شته دلیل دا دے چه دلته د صلوة لفظ عام دے وترو ته هم شامل دے خلافا للحنابله وسیأتی التحقیق فی باب الوتر ان شاء الله ۔

الفصل الثانی – دویم فصل

١٩– وَعَنْ عَلِيٍّ ﷺ : اَنَّ النَّبِيَّ ﷺ قَالَ : «يَا عَلِيُّ ! ثَلَاثٌ لَا تُؤَخِّرْهَا : اَلصَّلَاةُ اِذَا اَتَتْ، وَالْجَنَازَةُ اِذَا حَضَرَتْ، وَالْاَيِّمُ اِذَا وَجَدْتَ لَهَا كُفُوًا» . رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ .

ترجمه : او علی رضی الله عنه نه روایت دے چه نبی کریم ﷺ اوفرمایل : اے علی ! درے خبرو په کولو کښې تاخیر مه کوه ۔ یو خو د مانځه په اداکولو کښې چه کله ئے وقت شی ۔ دویم جنازه چه کله تیاره شی، او دریم د بے خاوند ښځې په نکاح کښې کله چه د هغې کفو (یعنی همزولے) ملاؤ اوموے ۔ (ترمذیؒ) ۔

تشریح : ثَلَاثٌ لَا تُؤَخِّرْهَا : یعنی درے مهم څیزونه دی چه په هغې کښې جلتی کول ضروری دی ۔ وَالْجَنَازَةُ اِذَا حَضَرَتْ، : جنازه چه کله حاضره شی نو د هغې روستو کول مناسب نه دی ځکه احتمال شته چه مړی کښې تغیر راشی ، یا که نیك وی نو خپل

عمل ته ئے وړاندے کول پکار دی او که بد عمل وی نو د ځان نه ئے وړاندے کول پکار دی او حدیث کښ راغلی دی: (لا ینبغی لجیفة مسلم ان تحبس، اخرجه ابوداود) ۔ حدیث: اسرعوا بالجنازة الخ اخرجه الشیخان۔

نو پدے کښ رد دے په هغه خلقو چه جنازه کښ روستو والے کوی یوه ورځ دوه ورځے حصار وی، چه صبر اوکړه فلانے لا نه دے رارسیدلے، بعض خلق ئے مقبره کښ د خلقو ملاقات دپاره حصاروی پس دهغے نه چه د جنازے مونځ پرے شوے وی، دا تولے طریقے بهترے نه دی۔

فائده: علامه طیبی فرمائی: دا حدیث دلیل دے چه د جنازے مونځ په اوقاتِ مکروهه کښ هم جائز دے او دا مذهب د احنافو هم دے، خو کله چه جنازه مخکښ حاضره شی او بیا مونځ پرے په اوقاتِ مکروهه کښ کوی نو دا کار مکروه دے بلکه لږ صبر پکار دے روستو احادیث د نهی کښ منع راغلے ده ثلاث ساعات الخ۔

او د صبا نه روستو یا مخکښ یا د مازیګر مانځه نه روستو بالکل نه ده مکروه او دا حکم د سجدة التلاوة هم دے۔ المرقاة (۱۳٦/۲) المرعاة (۳۱٤/۲)۔

وَالْاَيِّمُ اِذَا وَجَدْتَّ لَهَا كُفُوًّا: ایم بفتح الهمزه وکسر الیاء المشدده ددے دوه تفسیرونه شویدی: ۱– دا هغه زنانه ته وائی چه بے خاونده وی برابره ده چه باکره وی او که ثیبه وی، طلاقه شوی وی او که خاوند ئے وفات وی۔

۲– علامه طیبی وائی: ایم هغه ته وائی چه د هغه زوج (جوړه) نه وی برابره ده سړے وی او که ښځه وی، بیا باکره وی او که ثیبه۔ مطلب د حدیث دا دے چه بے واده ښځے او سړی لره په جلتئ سره واده کوه لکه قرآن کریم کښ هم دا امر راغلے دے: ﴿وَاَنْكِحُوا الْاَيَامٰى مِنْكُمْ﴾ النور آیت (۳۲)۔

نو پدے کښ زورنه ده هغه چا ته چه د رواجونو په وجه ئے خپلے لونړه او ځامن کینولی دی او واده ورله زر نکوی ځکه چه د هغوی جهیز او سامانونه یا مهر وغیره نشی برداشت کولے نو دا ذریعه د زنا او بے حیائی او یارانو دوستانو او غلطو تعلقاتو شوه ددے وجے نه حدیث دے: (ان اعظم النکاح برکةً ایسرهٗ مؤنة، رواه البیهقی فی الشعب، مشکاة ۳٦۸/۲) ډیر برکت والا نکاح هغه ده چه په هغے کښ مشقتونه کم وی تفصیل به ئے په خپل ځائے کښ راشی ان شاء الله۔

مسئله د کفائت (تنویر العینین فی مسئلة کفائة الزوجین)

کُفُوًا : کفو مثل ته وائی یعنی چه سړے د زنانه سره مماثل او برابر وی نو دا کفاء ت بیا په څه کښې معتبر او مراد دے؟ نو یو کفو په احادیثو کښې ذکر کیږی او بل د فقهاؤ په کتابونو کښې، احادیثو کښې کفائت صرف او صرف معتبر شوید ے په دین او اخلاقو کښې لکه حدیث کښې دی : [اذا جاء کم من ترضون دینه وخلقه فانکحوه] الحدیث رواه الترمذی رقم (۱۰۸۵) فی النکاح وابن ماجه رقم (۱۹٦۷) والحاکم (۲/۱٦٤) وسنده حسن او صحیح۔

باقی صفاتو کښې کفاء ت ضروری نه دے۔

او د فقهاؤ په کتابونو کښې کفاء ت په ډیرو څیزونو کښې معتبر دے لکه (۱) – اسلام (۲) – عمر (۳) – حرفت او صنعت (پیشه، هنر) (٤) – الحریت (دواړه به آزاد وی غلامان به نه وی) (٥) – النسب (دواړه به یوشان نسب والا وی) ۔

(٦) – المال (دواړه به یو شان مال والا وی دواړه غریبان یا دواړه مالداران) ۔

(۷) – السلامة من العیوب (دواړه به د ظاهری عیبونو نه پاك وی)

لیکن حافظ ابن القیمؒ فرمائی چه ډیر دلائل موجود دی پدے خبره چه دا شرطونه د کفائت ضروری ندی بلکه دا بے دلیله دی څکه چه نبی علیه السلام فرمائی : [لا فضل لعربی علی عجمی الا بالتقوی ۲ – نبی علیه السلام بنی بیاضه ته اوفرمائیل : [انکحوا ابا هند وانکحوا الیه وکان حجاماً] اخرجه ابوداود (۲۱۰۲) وسنده جید وصححه الحاکم (۲/۱٦٤) ووافقه الذهبیؒ۔ نو نبی علیه السلام حجام ته د زنانه ورکولو حکم اوکړو۔

۳ – دارنګه نبی علیه السلام زینب بنت جحش چه قریشیه وه زید بن حارثه (آزاد کړه غلام د نبی) ته په نکاح ورکړه نو د غیر قریشی سره د قریشی نکاح اوشوه او فاطمه بنت قیس قریشیه ئے اسامه بن زید ته په نکاح ورکړه اخرجه مسلم (۱٤۸۰) ۔

٤ – او بلال بن رباح د عبد الرحمن بن عوف د خور سره نکاح اوکړه وقال الله تعالی : الطیبات للطیبین الخ نو نبی علیه السلام په کفائت کښې صرف دین ته اعتبار ورکړو نو مسلمانه به کافر ته نشی ورکولے او پاکدامنه به فاجر ته نشی ورکولے (ګیرخرئیلی بے نمازه ته به خور لور نشی ورکولے) او نبی علیه السلام نسب او صناعت او مالداری او حریت له اعتبار ورنکړو بلکه د غلامانو دپاره ئے ازادے نسب دارے، مالدارے عقیقے

مسلمانے سره نكاح جائز كره او د غير قريشي سره ئے د قريشي نكاح جائز كره او فقيرانو دپاره ئے د مالدارو سره نكاح جائز كره ۔ زاد المعاد (٥/١٤٥) ۔

صرف په سنن كبرىٰ كښې د سلمان فارسی يو روايت راغلے دے چه هغه ته يوه زنانه پيش كړے شوه نو هغه اووئيل زه دا نكوم ځكه چه زه عجمي يم او دا عربيه ده خو دا قابل استدلال نه دے يو دا چه دا ئے اكراماً للعرب نكاح نه كوله يا كيدے شى چه د هغے نفقه او حوائج ئے نشو پوره كولے ډير احتمالات كيدے شى ۔

۲- دويم دا موقوف اثر دے قابل د ډيرو احتمالاتو دے او بل طرفته احاديث مرفوعه راغلى دى نو موقوف څنګه مقابله د مرفوع رواياتو كولے شى ؟ ۔

او په واقعه د بريرةؓ باندے استدلال هم صحيح نه دے چه هغه كله آزاده شوه نو نبى عليه السلام ورته اختيار وركړو ۔ وجه دا ده چه مخكښې هغه وينځه وه اوس چه آزاده شوه نو د خپل ځان مالكه شوه او نفس ئے كامل شو مخكښې بنده وه اوس آزاده شوه چه خاوند سره پاتے كيږى او كه نه لانها استكملت نفسها ۔ دويم دا چه نبى عليه السلام بيا ولے ترغيب وركړو چه دے خاوند سره پاتے شه ! معلوميږى چه كفائت ضرورى نه دے فتدبر ۔

او احناف وغيره چه د كفو مسئله بيانوى نو ددے منشأ د راپيدا كيدو دا ده چه اصل كښې دوى د ولى د اجازت نه بغير نكاح د زنانه جائز وائى او زنانه د خپله سره ګنړى نو اوس دا زنانه به يا ځان كفو ته وركړے وى يا غير كفو ته كه كفو ته ئے وركړے وى نو د ولى دپاره اعتراض نشته او كه غير كفو ته ئے وركړے وى نو اولياء المرأه نكاح فسخ كولے شى ځكه چه دوى ته شرم او عار عارضيږى چه ښځه ئے غير كفو مَثَلاً حجام وغيره ته وركړه نو ځكه ئے دا شرط لګولے دے چه ځان به كفو ته وركوى او د كفو دپاره ئے ورته دغه شرطونه بيان كړل ۔ باقى ددے تفصيل به ان شاء الله د مشكاة په جلد ثانى كتاب النكاح كښې راځى۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف او حسن : رواه احمد (١/١٠٥) والترمذى فى الصلاة (١٧١) وقال حديث غريب حسن وفى سنده : سعيد بن عبد الله الجهنى وثقه ابن حبان والعجلى وقال ابو حاتم مجهول وتبعه الذهبى فى الميزان وقال الحافظ فى التقريب مقبول : والحديث اخرجه الحاكم مطولا فى النكاح (٢/١٦٢) وقال : هذا حديث غريب صحيح ولم يخرجاه ووافقه الذهبى قال المباركفورى فى المرعاة (٣١٤) قلت : الظاهر ان هذا الحديث لا ينحط عن درجة الحسن انتهىٰ .

۲۰– وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : اَلْوَقْتُ الْاَوَّلُ مِنَ الصَّلَاةِ رِضْوَانُ اللهِ، وَالْوَقْتُ الْآخِرُ عَفْوُ اللهِ. رَوَاهُ التِّرْمِذِیُّ.

ترجمه : او ابن عمر رضی الله عنه فرمائی : چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی : په اول وقت کښ مونځ اداکول د الله تعالی د خوشحالئ سبب دے او آخر وقت کښے اداء کول د الله تعالی د معافئ سبب دے۔ (ترمذی)۔

تشریح : اَلْوَقْتُ الْاَوَّلُ مِنَ الصَّلَاةِ رِضْوَانُ اللهِ : یعنی اول وقت کښ مونځ اداء کول سبب دے د حاصلیدو د رضا د الله تعالی ځکه پدے کښ مبادره ده د الله طاعت ته چه هغه انسان د الله رضاء ته رسوی، ددے اول وقت نه بعض مونځونه مستثنیٰ دی لکه د ماسپښین مونځ په سخته گرمئ کښ یا د ماسخوتن مونځ۔

وَالْوَقْتُ الْآخِرُ : د آخر وقت نه د جواز وقت مراد دے یعنی اول وقت کښ مونځ بهتر دے او په آخر کښ مونځ کول جائز دی او پدے کښ الله تعالی معافی او اجازت ورکړے دے انسان پرے نه رانیسی۔

ملاعلی القاریؒ د وقت آخر نه مکروه وقت مراد کړیدے ځکه چه د اصفرار الشمس کښ د مانځه کولو نه خو منع راغلے ده دارنگه د ماسخوتن په مانځه کښ د نصف اللیل نه اخوا کول دا قضاء ده په راجح قول د اقوالو د علماؤ کښ۔ دا څنگه د الله تعالی عفوه وگرځی. نو معلومه شوه چه اول وقت کښ مونځ اداء کول افضل دی او آخر وقت کښ رخصت دے ځکه چه رضوان بهتر وی د عفو نه۔

درجة الحدیث : رواه الترمذی وسکت عنه ولکن الحدیث ضعیف جداً وموضوع، فیه عبد الله بن عمر العمری ویعقوب بن الولید المدنی قال الامام احمد : کان من الکذابین الکبار و کان یضع الحدیث وقال ابو حاتم : کان یکذب، والحدیث الذی رواه موضوع تعلیق المشکاة للالبانی (۱/۱۹۲) والمرعاة (۲/۳۱۵)۔

۲۱– وَعَنْ اُمِّ فَرْوَةَ، قَالَتْ : سُئِلَ النَّبِیُّ ﷺ : اَیُّ الْاَعْمَالِ اَفْضَلُ ؟ قَالَ : اَلصَّلَاةُ لِاَوَّلِ وَقْتِهَا. رَوَاهُ اَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِیُّ وَاَبُوْدَاوٗدَ، وَقَالَ التِّرْمِذِیُّ : لَا یُرْوَی الْحَدِیْثُ اِلَّا مِنْ حَدِیْثِ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ الْعُمَرِیِّ، وَهُوَ لَیْسَ بِالْقَوِیِّ عِنْدَ اَهْلِ

الْحَدِيْثِ.

ترجمه : او ام فروه رضی الله عنها فرمائی : د نبی کریم ﷺ نه تپوس اوشو چه (د زیات ثواب په اعتبار سره) کوم عمل افضل دے ؟ نو هغه اوفرمایل : چه مونځ لره د هغه په اول وقت کښې اداء کول ۔ (احمد، ترمذی، ابوداود) او امام ترمذی فرمائی چه دا حدیث صرف د عبد الله بن عمر عُمری نه روایت کیږی ۔ او هغه د محدثینو په نیز قوی نه دے ۔

د ام فروه تعارف :

دا د ابوبکر صدیق علاتی یعنی د پلار د طرفنه خور ده ۔

او د ابوقحافه لور ده دا هغه زنانه ده چه وړے لاندے ئے د نبی علیه السلام سره بیعت کړے وو سره د نورو صحابو نه او دا د مهاجراتو نه ده دا قول ابن عبد البر او حافظ منذری او ابن العربی ذکر کړیدے وهو الراجح او حافظ ابن الحجر فرمائی : دا د ابوبکر صدیق خور نه ده بلکه دا انصاریه ده لیکن دا قول خطاء دے کما قال المبارکفوری فی المرعاة (٣١٦/٢)۔

تشریح : اَیُّ الْاَعْمَالِ اَفْضَلُ ؟: یعنی په عملونو کښې بهتر عمل او ډیر ثواب والا عمل کوم یو دے ؟ الصلاة لاول وقتها : لام په معنی د فی دے ای الصلاة فی اول وقتها ۔ مطلب دا دے چه د ایمان نه پس د ټولو اعمالو نه افضل ترین عمل دا دے چه مونځ په اول وقت کښې د جماعت سره اداء کړے شی مخکښې په کتاب الصلاة کښې ذکر شویدی چه د افضل اعمالو په باره کښې ډیر زیات حدیثونه راغلی دی چه په هغے کښې مختلف اعمالو ته افضل وئیل شویدی او د هغے دا جوابونه هم نیز شویدی چه کوم اعمالو ته افضل وئیلے شویدی نو هغه دخپلے خپلے موقع او مناسبت په وجه یقیناً افضل دی ٢- یا افضلیت اضافی مراد دے یعنی بعض اعمال د بعضِ حیثیت سره افضل دی او بعض اعمال د نورو وجوهو او حیثیاتو په بناء افضل دی لیکن مونځ په هغه ټولو کښې علی الاطلاق (په ټولو وجوهو) سره د ایمان نه پس د ټولو اعمالو نه افضل او اشرف دے ۔

فائده : دا حدیث دلیل دے چه په اول وقت کښې مونځ اداء کول بهترین عمل دے مګر ددے نه بعض مونځونه خاص شویدی د احادیثو په بناء لکه مخکښې تیر شو ۔

درجة الحدیث : رواه احمد (٣٧٤/٦، ٤٤٠) والترمذی وابوداود وسکت علیه وقال الترمذی لایروی هذا الحدیث الا من حدیث عبد الله بن عمر العمری وهو لیس بالقوی عند اهل الحدیث واضطربوا عنه فی هذا الحدیث وقال العلامة الالبانی فی تعلیق المشکاة

(١٩٢/١) : اقول : ان العمری هذا وان كان ضعيفاً فليس الاضطراب المذكور منه لانه قد تابعه اخوه عبيد الله وهو ثقة وتابعه غيره ايضاً فالاضطراب من شيخه القاسم بن غنام (ومثله في المرعاة : ٣١٦/٢) لكن الحديث صحيح لان له شاهداً بسند صحيح عن ابن مسعود ومثله الا انه قال : في اول وقتها، اخرجه الدارقطني وغيره وصححه الحاكم والذهبی وهو فی الصحيحين وغيرهما بلفظ علی وقتها والمعنى واحد عندنا آهـ وقال فی صحيح الترمذی رقم (١٤٤) صحيح وصحيح ابی داود (٤٥٢) والمشكاة (٦٠٧) ـ

---

٢٢ – وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا، قَالَتْ : مَا صَلَّى رَسُوْلُ اللهِ ﷺ صَلَاةً لِوَقْتِهَا الْآخِرِ مَرَّتَيْنِ حَتّٰى قَبَضَهُ اللهُ تَعَالٰى . رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ .

ترجمه : او عائشه رضی الله عنها فرمائی چه رسول الله ﷺ هیڅ مونځ په آخر وقت کښې دوه کرتے ندے کړے، تردے چه الله تعالیٰ هغه لره وفات کړو ـ (ترمذیؒ) ـ

تشریح : **مَا صَلَّى رَسُوْلُ اللهِ ﷺ صَلَاةً لِوَقْتِهَا الْآخِرِ مَرَّتَيْنِ** : یعنی نبی علیه السلام په آخر وقت کښ دوه کرتے مونځ نه دے کړے مګر یو کرت نیم ئے کچرته کړے وی نو هغه بیاناً للجواز شویدے ـ

د عائشےؓ مطلب دا دے چه نبی علیه السلام به مونځونه په مختار اوقاتو کښ کول او په آخری اوقاتو کښ به ئے مونځونه نکول صرف یو کرت ئے د بیان د جواز دپاره په آخر وقت کښ اوکړو چه هغه هم جائز وقت وو مکروه نه وو، دے دپاره چه خلقو ته معلومه شی چه د مانځه آخری وقت دا دے او د وقت ددے حصے پورے مونځ کول جائز دی ـ

نو دے کښ هغه مونځ نه دے داخل چه جبرئیل علیه السلام نبی علیه السلام ته په آخر وقت کښ مونځ اوکړو ځکه چه دا صورت د تعلم او زده کړے وو دغه شان یو ځل نبی علیه السلام یو سائل ته یوه ورځ په اول وقت کښ او بله ورځ په آخر وقت کښ مونځونه اوکړل او وقت ئے ورته اوښودلو چه والوقت ما بين هذين الوقتين كما مرّ نو دا صورت هم پکښ عائشے ندے شمارلے ځکه دا صورت د تعلیم دے یا دا چه عائشهؓ مرتین نفی کوی چه دوه کرتے ئے په آخر وقت کښ مونځ ندے کړے نو دا د هغے د علم په بناء دے ورنه نبی علیه السلام د دوه ځلو نه زیات کړیدے بیاناً للجواز خو عائشےؓ صرف یو کرت لیدلے دے نو د خپل علم مطابق خبره کوی یا مقصود د عائشے دا دے چه مبالغه کوی یعنی نبی علیه

السلام نه آخر وقت کښې مونځ ندے واقع شوے اختياراً مګر کوم چه واقع شوے وی نو هغه به نادراً وی على سبيل التعليم والجواز ـ

درجة الحديث : رواه الترمذی وقال حدیث حسن غریب ولیس اسناده بمتصل ولكن قال العلامة احمد شاكر فی تعليقه على الترمذی (١/٣٢٩) وقد ترك الزيلعی اصح اسناد لهذا الحديث ثم ذكر رواية الحاكم (١/١٩٠) من طريق ابی النضر هاشم بن القاسم قال حدثنا الليث بن سعد عن ابی النضر عن عمرة عن عائشة قالت الخ قال الحاكم : هذا حديث صحيح على شرط الشيخين ووافقه الذهبی آهـ ولذلك قال الالبانی فی صحيح الترمذی رقم (١٤٦) (حسنٌ) وقال فی المشكاة رقم (٦٠٨) قلت : قد وصله الحاكم (١/١٩٠) وصححه على شرط الشيخين ووافقه الذهبی فالحديث حسن او صحيح ـ

٢٣ – وَعَنْ اَبِیْ اَيُّوْبَ ﷺ ، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : لَا يَزَالُ اُمَّتِیْ بِخَيْرٍ ، اَوْ قَالَ : عَلَى الْفِطْرَةِ ، مَا لَمْ يُؤَخِّرُوْا الْمَغْرِبَ اِلٰى اَنْ تَشْتَبِکَ النُّجُوْمُ . رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ .

ترجمه : او د ابوایوب رضی الله عنه نه روایت دے فرمائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی : زما د امت خلق که د ماښام مونځ (دومره) تاخیر کولو سره اونکړی چه ستوری اوځلیږی نو همیشه به په نیکئ وی یائے اوفرمائیل چه : په فطرت (یعنی اسلامی طریقه) وی ـ (ابوداود) ـ

تشریح : مَا لَمْ يُؤَخِّرُوْا الْمَغْرِبَ : یعنی زما امت به په خیر او صحیح فطرت او دین بانديے وی تر څو چه د ماښام مونځ د ستورو د رڼا کیدو پورے نه روستو کوی یعنی که د ماښام مونځ وختی کوی ، نو د دوئ دین به محفوظ وی ، وجه دا ده چه پدے کښې مخالفت دے د یهود او شیعه ګانو چه هغوی دا مونځ ناوخته کوی او د یهودو مخالفت کولو سره د انسان دین محفوظ کیږی ددے وجه نه شیخ الاسلام حافظ ابن تیمیه ؒ په اقتضاء الصراط المستقيم مخالفة اصحاب الجحيم (١/٣٦١) کښې ذکر کړیدی چه نبی علیه السلام د یهودو او نصاراؤ نه مخالفت په شپیته (٦٠) ځایونو کښې کړیدے او په فتاوی الدین الخالص (٦/٩/٢٤) کښې (٩١) مقاماتو کښې مخالفت ذکر شویدے ـ

اِلٰى اَنْ تَشْتَبِکَ النُّجُوْمُ : یعنی چه ستوری رڼا شی او یو بل کښې ننوځی د ډیرے رڼا په وجه بیا دا کنایه ده د تیارے نه اشتباك معنی ده : الظهور و مخالطة بعضها ببعض

لكثرة ما ظهر منها ۔

فائده : ددیے حدیث نه معلومه شوه چه د مغرب وقت کښې صرف د ستوری ښکاره کیدو سره کراهت نه راځی بلکه کله چه ستوری ګنړ شی او رنړا پیدا کړی او دائے هله پیدا کوی چه کله ښه تیاره راشی نو بیا دغه وقت مکروه دیے او کوم حدیثونو کښې چه دا راغلی دی چه نبی علیه السلام د ماښام مونځ کښې تاخیر اوکړو شفق پریوتو ته نزدیے پوریے نو هغه د آخر وقت د بیان دپاره وو ورنه نبی علیه السلام عام عادت او مواظبت دا وو چه ماښام مونځ به ئے وقتی شروع کولو پس د غروب الشمس نه ۔

درجة الحديث : رواه ابوداود وسكت عنه وهو حديث حسن وصححه الحاكم ووافقه الذهبى، وله طريق اخرىٰ بنحوه اوردها الالبانى فى صحيح ابى داود رقم (٤٤٤) كما ان له شواهد تكلم عليها فى تعليقه على المعجم الصغير وقال فى تعليق المشكاة (١/١٩٣) ومنها الحديث الذى بعده (٢٥) ۔

٢٤ – وَرَوَاهُ الدَّارِمِيُّ عَنِ الْعَبَّاسِ (او دا روایت دارمی د عباسؓ نه نقل کړیدیے) ۔

وفى سنده (١/٢٧٥) عمر بن ابراهيم وهو العبدى قال الحافظ صدوق فى حديثه عن قتادة ضعف، قال الالبانى : قلت : وهذا من روايته عنه انتهىٰ۔

---

٢٥ – وَعَنْ اَبِىْ هُرَيْرَةَ ﷺ، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : لَوْ لَا اَنْ اَشُقَّ عَلٰى اُمَّتِىْ لَاَمَرْتُهُمْ اَنْ يُّؤَخِّرُوْا الْعِشَاءَ اِلٰى ثُلُثِ اللَّيْلِ اَوْ نِصْفِهٖ . رَوَاهُ اَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِىُّ وَابْنُ مَاجَه .

ترجمه : او ابو هريره رضى الله عنه فرمائى چه رسول الله ﷺ فرمائيلى دى : كه ما ته د خپل امت په خلقو د تکلیف یره نه ویے نو هغوی ته به مے (په طریقه د وجوب باندیے) حکم کړیے ویے چه د ماسخوتن مونځ لره د دریمے حصے شپے پوریے یا د نیمائی شپے پوریے تاخیر کولو سره اوکړی ۔ (ترمذیؒ، ابن ماجهؒ) ۔

تشريح : اَنْ يُّؤَخِّرُوْا الْعِشَاءَ اِلٰى ثُلُثِ اللَّيْلِ اَوْ نِصْفِهٖ : دلته او د تنویع دپاره دیے یعنی چه په اوړی کښې په ثلث اللیل کښې اوکړی او په ژمی کښې په نصف اللیل کښې ۔

٢– یا او په معنی د بل دیے ٣– ظاهره دا ده چه دا شك د راوی دیے چه نصف اللیل ئے وئیلے دیے او که ثلث اللیل او په روایت د حاکم کښې بغیر د شك نه نصف اللیل راغلے دیے ۔

بیا دا حدیث صریح دلیل دے چہ تاخیر پہ عشاء کښې افضل دے د تعجیل نہ او دا حدیث معارض ندے د مخکنو حدیثونو سرہ چہ پہ هغې کښې افضلیت د اول وقت راغلے دے وجہ دا دہ چہ هغہ حدیثونہ عام دی او دا حدیث د ابی هریرہ خاص دے نو عام بہ پدے باندے مبنی وی او دا پہ منزلہ د استثناء وی د عام نہ، باقی د مسئلے تفصیل پہ اول د باب مواقیت الصلاۃ کښې تیر شویدے ۔

درجة الحديث : رواہ احمد والترمذی وقال حدیث حسن صحیح قال الالبانی قلت : واسنادہ صحیح تعلیق المشکاۃ (۱/۱۹۳)۔

۲۶ - وَعَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ ﷺ ، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : أَعْتِمُوْا بِهٰذِهِ الصَّلَاةِ ! فَإِنَّكُمْ قَدْ فُضِّلْتُمْ بِهَا عَلٰى سَائِرِ الْأُمَمِ، وَلَمْ تُصَلِّهَا أُمَّةٌ قَبْلَكُمْ . رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ .

ترجمہ : او معاذ بن جبل رضی اللہ عنہ فرمائی رسول اللہ ﷺ فرمائیلی دی : دا مونځ (یعنی د ماسخوتن مونځ) لرہ ناوختہ کولو سرہ اداء کړئ ځکہ تاسو تہ پہ نورو امتونو باندے ددے مانځہ پہ وجہ سرہ فضیلت درکړے شویدے او ستاسو نہ مخکښې هیڅ امت دا مونځ ندے کړے ۔ (ابوداودؒ) ۔

تشریح : أَعْتِمُوْا : پہ فتحہ د همزے او کسرہ د تاء سرہ د باب افعال نہ د امر حاضر جمع صیغہ دہ : ای ادخلوا هذه الصلاة (العشاء) فی العتمة ۔ یعنی د ماسخوتن مونځ تیارہ کښې کوئ عتمہ وائی ثلث اللیل الاول بعد غیبوبة الشفق یا مطلق ظلمت او تیارے تہ وائی بعض وائی دا ماخوذ دے د عَتَمَ نہ پہ معنی د تاخیر کولو سرہ نو معنی بہ داشی : اخروا العشاء الآخرة ۔ یعنی د ماسخوتن مونځ ناوختہ کوئ ۔

فائدہ : دا حدیث هم دلیل دے چہ د ماسخوتن پہ مانځہ کښې افضل دا دہ چہ ناوختہ اوکړے شی د اول وقت نہ خو دا ناوختہ کول بہ تر ثلث اللیل الاول پورے وی ۔

قد فضلتم بها : صیغہ د جمع مذکر حاضر ماضی مجهول د باب تفعیل نہ یعنی تاسو غورہ کړے شوی یئ پدے مانځہ سرہ ۔

وَلَمْ تُصَلِّهَا أُمَّةٌ قَبْلَكُمْ : **دلتہ یو اشکال** دے چہ د باب المواقیت پہ دریم حدیث جبرئیل کښې تیر شویدی چہ جبرئیل نبی علیه السلام تہ پنځہ وقتہ مونځ اوکړو او بیائے اووئیل : هذا وقت الانبیاء من قبلك ۔ ددے نہ معلومیږی چہ پخوانو انبیاؤ بہ هم د

ماسخوتن مونځونه كول او ددے حديث نه چه دلته ذكر شو دا معلوميږى چه د عشاء مونځ صرف پدے امت باندے فرض دے په پخوانو امتونو باندے فرض نه وو ؟ ۔

الجواب : محدثينو ددے اشكال ډير جوابونه كړيدى (۱) – يو تطبيق د دواړو حديثونو دا شويدے چه په پخوانو امتونو كښ د ماسخوتن مونځ صرف په پيغمبرانو او رسولانو باندے وو او دا مونځ د هغوى په امت باندے واجب نه وو لكه تهجد په نبى عليه السلام فرض وو نه په امت باندے په قول د بعض علماؤ ۔ او دا تطبيق د دواړو حديثونو د الفاظو نه معلوميږى ځكه چه په حديث د جبرئيل كښ : هذا وقت الانبياء من قبلك لفظ كښ اشاره ده چه دا صرف په انبياؤ فرض وو او ددے حديث كښ : لم تصلها امة قبلكم ۔ لفظ دليل دے چه په امتونو باندے فرض نه وو ۔

(۲)- **دويم جواب** : مخكښ تير شو چه لم تصلها معنى دا ده چه تاسو ئے په كومه طريقه كوئ چه هغه تاخير سره كول او انتظار د جماعت په تياره كښ كول او غلبه د نوم كښ اداء كول نو داسے پخوانو امتونو ندے اداء كړے اګرچه په هغوى هم فرض وو فلا تعارض ۔

(۳) – يا دا چه هذا وقت الانبياء من قبلك كښ اشاره ده د سحر وقت ته يعنى د سحر وقت ستا او د نورو پيغمبرانو شريك وقت دے كما مرّ والصحيح هو الاول كما يأتى فى حديث مسلم الذى يأتى قريبا (ما ينتظرها اهل دين غيركم) ۔

فائده : لم تصلها امة قبلكم نه معلومه شوه چه د ماسخوتن مونځ ددے امت خصوصيت دے او په مخكنو امتونو باندے پنځه مونځونه فرض نه وو نو پدے كښ رد دے په قول د مولوى يعقوب چه وائى په مخكنو امتونو باندے پنځوس مونځونه فرض وو، دا خبره په علم الحديث باندے د جهالت نه صادر شويده ۔

۲– دويم په حديث د معراج كښ قول د موسى عليه السلام پدے خبره باندے صريح رد دے ځكه موسىٰ عليه السلام اوفرمائيل زما په امت باندے د پنځه مونځونو نه هم كم فرض وو هغه ئے اداء نكړل نو ته لاړشه الله ته چه پنځه مونځونه ستا د امت نه كم كړى لكه دا روايت په ابوعوانه بلكه په بخارى كښ هم شته (۱/ ٤۷۱) باب ذكر ادريس عليه السلام فتدبر ! ۔

۲۷– وَعَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيْرٍ ﷺ ، قَالَ : أَنَا أَعْلَمُ بِوَقْتِ هٰذِهِ الصَّلَاةِ صَلَاةِ

الْعِشَاءِ الْآخِرَةِ : كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ يُصَلِّيْهَا لِسُقُوْطِ الْقَمَرِ لِثَالِثَةٍ . رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ وَالدَّارِمِيُّ .

ترجمه : او نعمان بن بشير رضى الله عنهما فرمائى چه زه ددے مونځ يعنى د روستنى عشاء وقت ښه پيژنم ـ رسول الله ﷺ به دے مونځ لره د دريم تاريخ د سپوږمئ د ډوبيدو په وقت كولو ـ (ابوداودؒ، دارمیؒ) ـ

د نعمان بن بشير تعارف :

دا انصارى خزرجى صحابى دے ابوعبد الله المدنى ئے كنيت دے پلار ئے هم صحابى دے د مور نوم ئے عمرة بنت رواحة دے د هجرت نه څوارلس مياشتے پس په انصارو كښ دا اول ماشوم وو چه پيدا شو پس د راتلو د نبى عليه السلام نه مدينے ته ـ شام كښ اوسيدلے دے او بيا د كوفے گورنر پاتے شويدے بيا د حمص او دا ډير فصاحت والا او جواد او شاعر صحابى وو يو سل څليريشت (١٢٤) احاديث ترے نقل دى ـ خالد بن خلى الكلاعى په حمص كښ د مرج راهط د جنگ نه بعد قتل كړو په سنه (٦٤) يا (٦٥) يا (٦٦) كښ د (٦٤) كالو په عمر وو ـ

تشريح : يُصَلِّيْهَا لِسُقُوْطِ الْقَمَرِ لِثَالِثَةٍ : لام په سقوط كښ د وقت دپاره دے او لثالثة نه مراد في ليلة ثالثة من الشهر دے يعنى نبى عليه السلام به دا مونځ د ماسخوتن په دريم تاريخ د سپوږمئ پريوتو نه پس كولو، او د دريم تاريخ په شپه كښ سپوږمئ تقريباً د شپے په پنځمه حصه كښ پريوځى نو دا حديث هم پدے باندے دلالت كوى چه د ماسخوتن مونځ تاخير سره اداء كول مستحب دى وقد مر الاستدلال به في اول المواقيت ـ او پدے حديث كښ نعمانؓ دا اندازه لګولے ده د ماسخوتن د مانځه نو دا غالبى اندازه ده ورنه نبى عليه السلام به مصلحت ته كتل كله به ئے تعجيل كولو او كله به ئے تاخير كما مرّ تفصيل المسئله فليراجع ـ

درجة الحديث : رواه ابوداود وسكت عليه هو والمنذرى قال الالبانى واسناده صحيح كما فى صحيح سنن ابى داود رقم (٤٤٥) تعليق المشكاة وقال صاحب المرعاة (٢/٣٢١) قال ابن العربى فى عارضة الاحوذى (١/٢٧٧) حديث النعمان حديث صحيح وان لم يخرجه الامامان فالحديث صحيح ـ

الفصل الثالث - دريم فصل

۲۸- : وَعَنْ رَافِعِ بْنِ خَدِيْجٍ رضي الله عنه قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : اَسْفِرُوْا بِالْفَجْرِ فَاِنَّهُ اَعْظَمُ لِلْاَجْرِ . رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَاَبُوْدَاوُدَ وَالدَّارِمِيُّ وَلَيْسَ عِنْدَ النَّسَائِيِّ : فَاِنَّهُ اَعْظَمُ لِلْاَجْرِ .

ترجمه : او رافع بن خديج رضى الله عنه فرمائى چه رسول الله ﷺ فرمائيلى دى : د صبا مونځ په رڼړا كښې كوئ ځكه چه په رڼړا كښې مونځ كولو سره زيات ثواب وى ـ (ترمذى، ابوداود، دارمى، نسائى) او د نسائى په روايت كښې دا الفاظ فانه اعظم للاجر (يعنى په تياره كښې مونځ كولو سره ثواب زياتيږى) نشته دے ـ

تشريح : اَسْفِرُوْا بِالْفَجْرِ : پدے حديث باندے احنافو استدلال كړيدے په افضليت د اسفار باندے ليكن ددے جواب دا دے چه د نبى عليه السلام هميش والے په تغليس باندے دليل دے چه دا حديث په خپل ظاهر باندے نه دے بلكه ددے نه مراد (۱) - يا خو طلوع الفجر يقينى معلومول دى چه قبل الوقت مونځ اداء نكړے شى (۲) - يا مراد د قرائت اوګد والے دے تردے چه اسفار كښ فارغ شى لكه دا تطبيق د احاديثو ترمينځ په متعدد وجوهو سره مخكښ تير شويدے هغے ته رجوع اوكړه ـ

درجة الحديث : رواه الترمذى وقال حديث حسن صحيح والنسائى وابو داود وسكت عليه هو والمنذرى وقال الحافظ فى الفتح : رواه اصحاب السنن وصححه غير واحد وقال الالبانى فى تعليق المشكاة (۱/۱۹٤) واسناده حسن، واسناد النسائى صحيح كما فى صحيح سنن ابى داود رقم (٤٥٦) آهـ ـ

الفصل الثالث - دريم فصل

۲۹- وَعَنْ رَافِعِ بْنِ خَدِيْجٍ رضي الله عنه قَالَ : كُنَّا نُصَلِّي الْعَصْرَ مَعَ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ، ثُمَّ تُنْحَرُ الْجَزُوْرُ فَتُقَسَّمُ عَشْرَ قِسَمٍ، ثُمَّ تُطْبَخُ، فَنَأْكُلُ لَحْماً نَضِيْجاً قَبْلَ مَغِيْبِ الشَّمْسِ . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ .

ترجمه : او رافع بن خديج رضى الله عنه فرمائى چه مونږ به د رسول الله ﷺ سره د مازيګر مونځ اوكړو بيا به اوښان ذبح كړے شو او بيا به هغه په لسو حصو تقسيم شو، ددے نه روستو به هغه پاخه كړے شو او بيا به مونږ د نمر ډوبيدو نه مخكښے دے پخه

شوی غوښے خوړلو نه فارغ شو ۔ (بخاری ومسلم) ۔

تشریح : ثُمَّ نَنْحَرُ الْجَزُوْرُ: بفتح الجیم هر اوښ ته وائی که مذکر وی او که مؤنث وی خو لفظ ئے مؤنث دے ۔

دا حدیث مخکښ تیر شویدے چه صریح دلیل دے د ائمه ثلاثهؒ او صاحبینوؒ دپاره چه د ماز یگر وقت د یو مثل نه پس شروع کیږی او دا یو روایت د امام ابوحنیفهؒ هم دے ځکه چه د مانځه نه پس اوښ ذبح کول او بیا لس حصے کول او بیا د هغے پخول او خوړل او لا نمر نه ډوبیدل دلیل دے په تعجیل د مازیگر باندے او مقصود د رافع بن خدیجؓ هم ددے حدیث نه بیان د تعجیل د صلاة العصر دے نو پدے کښ تاویلات کول د حدیث ورانول دی د مذهب او د یو امام د قول د خاطره او دا کار حرام دے ۔

بل ظلم دا دے چه بعض مولیان وائی : دا روایت پدے لفظ صرف مسلم راوړیدے او په قسم ثانی کښ د مسلم کمزوری روایات شته یعنی مسلم کښ درے قسمه روایات دی : صحیح، ادنیٰ صحیح او کمزوری او حال دا چه دا روایت بخاری او مسلم دواړو راوړیدے ۔

۳۰– وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ، قَالَ : مَكَثْنَا ذَاتَ لَيْلَةٍ نَنْتَظِرُ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ صَلَاةَ الْعِشَاءِ الْآخِرَةِ ، فَخَرَجَ اِلَيْنَا حِيْنَ ذَهَبَ ثُلُثُ اللَّيْلِ اَوْ بَعْدَهٗ، فَلَا نَدْرِيْ : اَشَيْئٌ شَغَلَهٗ فِيْ اَهْلِهٖ اَوْ غَيْرُ ذٰلِكَ ؟ فَقَالَ حِيْنَ خَرَجَ : اِنَّكُمْ لَتَنْتَظِرُوْنَ صَلَاةً مَا يَنْتَظِرُهَا اَهْلُ دِيْنٍ غَيْرُكُمْ، وَلَوْلَا اَنْ يَّثْقُلَ عَلٰى اُمَّتِيْ لَصَلَّيْتُ بِهِمْ هٰذِهِ السَّاعَةَ. ثُمَّ اَمَرَ الْمُؤَذِّنَ، فَاَقَامَ الصَّلَاةَ وَصَلّٰى . رَوَاهُ مُسْلِمٌ .

ترجمه : او عبد الله بن عمر رضی الله عنهما فرمائی چه یوه شپه مونږ د ماسخوتن مانځه دپاره ډیر ناوخته پورے ناست وو ۔ د رسول الله ﷺ انتظار مو کولو۔ نبی کریم ﷺ دریمے حصے شپے یا ددے نه هم زیاتے شپے تیریدو نه پس تشریف راوړو او مونږ ته معلومه نه ده چه هغه د کور کار مشغول کړے وو (چه د عادت مطابق وختی مونځ کولو دپاره ئے تشریف رانه وړو) یا ددے نه علاوه (د نبی کریم ﷺ ذاتی کوم عذر راپیښ شوے وو) نبی کریم ﷺ راغلو وے فرمایل : تاسو ددے مونځ انتظار کوئ (او ستاسو دپاره دا مناسب هم دے ځکه) ستاسو نه سوا بل کوم دین والا د مانځه انتظار

نکوی ۔ او که ما ته په خپل امت باندے گران پریوتو خطره نه وے نو ما به دے مونځ لره همیشه په همدے وقت کښے کولے ۔ بیا هغه مؤذن ته (د تکبیر) حکم اوکړو هغه تکبیر اووئیلو او نبی علیه السلام مونځ اوکړو ۔ (مسلمؒ) ۔

تشریح : د حدیث مطلب دا دے چه ستاسو نه ما سوا هیڅ دین والا یعنی یهود او نصارئ د عشاء د مانځه انتظار نکوی ځکه دا مونځ صرف ددے امت پورے خاص دے، بل هیڅ امت ته نه دے ورکړے شوے، لهذا تاسو دا په داسے وقت کښ اداء کوئ چه د آرام وقت وی او په خپل نفس باندے چه څومره مشقت برداشت کوئ په انتظار ددے مانځه کښ نو اجر به مو زیات وی ۔

دا حدیث هم دلیل دے چه د عشاء مونځ په دریمه حصه د شپه کښ افضل دے لیکن د نبی علیه السلام عمل داسے هم ثابت دے چه هغه به مصلحت ته کتل کله چه به صحابه کرامؓ په اول وقت راجمع وو نو بیا به ئے اول وقت کښ کولو او کله به چه صحابهٔ کرامؓ ناوخته کړو نو بیا به ئے ناوخته مونځ کولو البته تاخیر مستحب او افضل دے په عام اوقاتو کښ د وجے د ډیرو فوائدو نه چه مخکښ تیر شویدی ۔

۳۱ – وَعَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ رضی اللہ عنہ، قَالَ : كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صلی اللہ علیہ وسلم يُصَلِّي الصَّلَوَاتِ نَحْواً مِنْ صَلَاتِكُمْ وَكَانَ يُؤَخِّرُ الْعَتَمَةَ بَعْدَ صَلَاتِكُمْ شَيْئاً، وَكَانَ يُخَفِّفُ الصَّلَاةَ . رَوَاهُ مُسْلِمٌ .

ترجمه : او جابر بن سمره رضی الله عنه خلقو لره مخاطب کولو سره) اوفرمایل : چه رسول الله صلی اللہ علیہ وسلم به ستاسو د مونځونو نزدے نزدے (اوقاتوکښے) مونځ کولو، او هغه به د ماسخوتن مونځ ستاسو د مانځه نه لگ څه روستو مونځ کولو او هغه به آسانئ سره مونځ کولو ۔ (مسلمؒ) ۔

تشریح : وَكَانَ يُؤَخِّرُ الْعَتَمَةَ : د نهی باوجود جابرؓ عشاء ته عتمه اووئیله شاید چه ده ته نهی نه وی معلومه ★– یا دا چه بیاناً للجوازئے استعمال کړه چه کله کله ددے وئیل هم جائز دی خو غلبه دے نوم ته ورکول حرام دی ★– یا دا چه دا نوم چونکه په عربو کښ مشهور وو پدے وجه جابرؓ دا استعمال کړو چه خلق ئے ښه اوپیژنی ۔

بیا دا حدیث دلالت کوی په استحباب د مطلق تاخیر د عشاء باندے لیکن دا مقید دے په نصف اللیل یا ثلث اللیل باندے ۔

وَكَانَ يُخَفِّفُ الصَّلَاةَ : يعني نبي عليه السلام به چه كله امام وو نو مونځ به ئې په تخفيف سره كولو يعني نبي عليه السلام به په مانځه كښې واړه واړه سورتونه لوستل لكه هغه په احاديثو كښې د هر مانځه په باره كښې راغلي دي ۔

حافظ ابن الحجرؒ فرمائي : چه دا په هغه وقت كښې چه كله به امام وو نو واړه واړه سورتونه به ئې لوستل او د ضعيف او كمزورو رعايت به ئې كولو او دا اغلبي عادت وو او كله كله ئې د ماښام په مانځه كښې سورة الاعراف هم لوستلې دې ځكه صحابه كرامؓ په شوق كښې وو او دا به ئې اوږد نه محسوس كولو بيا ددې تخفيف نه مراد دا نه دې چه يو انسان به د خپلې مرضئ مطابق زر زر مونځ كوي بلكه پدې باره كښې معيار د نبي عليه السلام عمل دې بس هغه مونځ كوه نو دا مختصر مونځ دې مثلاً د سحر په مانځه كښې به نبي عليه السلام د شپيتو نه تر سلو آيتونو پورې لوستل او سورتِ قٓ ئې پكښې هم لوستلې دې او سورة الروم هم او كله سورة اذا الشمس كورت او كله اذا زلزلت او د ماسپښين په مانځه كښې به ئې سورة الم تنزيل(سورة الم السجدة) او سورة الاعلىٰ (سبح اسم ربك الاعلى) او والليل اذا يغشى، او والسماء ذات البروج او والسماء والطارق ۔

او عصر به ئې د ماسپښين نه په نيمائي قرائت كولو او ماښام كښې به ئې سورة الطور، مرسلات سورة الاعراف، سورة الصافات، والتين والزيتون ، المعوذتين او قصار مفصل لوستل او په ماسخوتن كښې به ئې والتين والزيتون او معاذ بن جبل ته ئې والشمس وضحاها او سبح اسم ربك الاعلى او والليل اذا يغشى مقرر كړل چه دا وايه يا ددې پشان ځكه معاذؓ به سورة البقره لوستله نبي عليه السلام منع كړو او دغه سورتونه ورته اوخودل چه دغه وايه نو كه څوك داسې مونځ كوي نو دا مختصر مونځ دې ۔ زاد المعاد (۱/۷۲) فتاوى الدين الخالص (۴/۰۱۲)۔

نو پدې باندې د تونګو والو استدلال كول صحيح ندي چه مونځ زر زر كوي او وائي چه حديث كښې تخفيف باندې امر راغلې دې ځكه شاه انور شاه په العرف الشذى (۱/۶۲) كښې وائي : ظهور التخفيف انما يكون في القرائة لا في الركوع والسجود وتعديل الاركان كما هو معلوم من فعل صاحب الشريعة ۔ يعني تخفيف راښكاره كيږي صرف په قرائت كښې نه په ركوع او سجده او تعديل د اركانو كښې لكه چه دا د نبي عليه السلام د عمل نه معلومه ده نو پدې كښې رد دې په هغه احنافو چه تونګې وهي او په ركوع او سجده كښې تخفيف كوي او تعديل د اركانو نكوي نو دا د نبي عليه السلام د عمل مخالفين دي

ـ تحفة الاحوذى (۱/۱۹۹) ـ

۳۲– وَعَنْ اَبِىْ سَعِيْدٍ ﷺ، قَالَ : صَلَّيْنَا مَعَ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ صَلَاةَ الْعَتَمَةِ، فَلَمْ يَخْرُجْ حَتّٰى مَضٰى نَحْوٌ مِنْ شَطْرِ اللَّيْلِ، فَقَالَ : خُذُوْا مَقَاعِدَكُمْ، فَاَخَذْنَا مَقَاعِدَنَا، فَقَالَ : اِنَّ النَّاسَ قَدْ صَلُّوْا وَاَخَذُوْا مَضَاجِعَهُمْ وَاِنَّكُمْ لَنْ تَزَالُوْا فِىْ صَلَاةٍ مَا انْتَظَرْتُمُ الصَّلَاةَ، وَلَوْلَا ضُعْفُ الضَّعِيْفِ وَسُقْمُ السَّقِيْمِ، لَاَخَّرْتُ هٰذِهِ الصَّلَاةَ اِلٰى شَطْرِ اللَّيْلِ . رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ وَالنَّسَائِىُّ .

ترجمه : او ابوسعيد رضى الله عنه فرمائى چه مونږ (يوه ورځ) رسول الله ﷺ سره د جَمعے مونځ اوكړو (اتفاق سره پدغه ورځ) رسول الله ﷺ نيمے شپے ته نزدے تشريف رانه وړو (ددے نه روستو راغلو) ارشادئے اوفرمايلو : چه تاسو په خپل خپل ځائے باندے كينئ، نو مونږ د خپل ځايونو (نه پانه ځيدو بلكه هملته) ناست وو (ددے نه روستو) نبى عليه السلام اوفرمايل : نورو خلقو مونځ كولو سره خپلے خپلے بسترے نيولى دى او (تاسو ته دا معلومول پكار دى چه) ترڅو چه تاسو د مونځ انتظار كښے اوسيږئ ستاسو دا ټول وقت مونځ شمار كيږى (يعنى تاسو ته ددے انتظار په وجه سره د مانځه ثواب ملاويږى) او كه ما ته د ضعيفانو د كمزورئ او د بيمار د بيمارئ فكر نه وے نو ما به هميشه دا مونځ نيمائى شپے پورے روستو كولے . (ابوداود، نسائى) .

تشريح : صَلَّيْنَا : يعنى زمونږ اراده وه چه د نبى عليه السلام سره د جَمعے مونځ اوكړو : اِنَّ النَّاسَ قَدْ صَلُّوْا وَاَخَذُوْا مَضَاجِعَهُمْ : يعنى نورو محلو والا خلق كوم چه مسجد نبوى ته ندى حاضر شوى هغوى مونځونه كړيدى او اوده شويدى، او تاسو په انتظار د مانځه كښې ناست يئ نو داسے ده لكه چه تاسو په مانځه كښې مشغول يئ ځكه د عبادت انتظار كول هم عبادت دے دا حديث هم صريح دليل دے په افضليت د تاخير د عشاء باندے.

حافظ ابن حجرؒ فتح البارى كښې فرمائى : څوك چه طاقت لرى په تاخير د عشاء باندے او خوب پرے غلبه نكوى او يا په مقتديانو باندے مشقت نه جوړيږى نو د هغه په حق كښې تاخير افضل دے، ابن المنذر او ليث او اسحق رحمهم الله نه نقل كړيدى چه ما قبل ثلث الليل پورے تاخير د عشاء مستحب دے او طحاوى، مالك، احمد او اكثر صحابه

او تابعین ئے تر ثلث اللیل پورے تاخیر مستحب گنړی او تفصیل د مسئلے مخکښں تیر شویدے ۔

درجة الحدیث : رواه ابوداود وسکت علیه هو والمنذری واخرجه النسائی والحدیث صحیح قاله الالبانی فی صحیح ابی داود رقم (۴۰۷) وقال الشوکانی : واسناده صحیح، مرعاة (۳۲۶/۲) ۔

۳۳- وَعَنْ اُمِّ سَلَمَةَ، قَالَتْ : كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ اَشَدُّ تَعْجِيْلًا لِلظُّهْرِ مِنْكُمْ، وَاَنْتُمْ اَشَدُّ تَعْجِيْلًا لِلْعَصْرِ مِنْهُ. رَوَاهُ اَحْمَدُ، وَالتِّرْمِذِيُّ .

ترجمه : او ام سلمه رضی الله عنها (خلقو لره مخاطب کولو سره) اوفرمایل : چه رسول الله ﷺ د ماسپښین مونځ (د گرمئ نه علاوه نورو موسمونو کښے) ستاسو نه ډیر زیات جلتئ سره کولو او تاسو د مازیگر مونځ د رسول الله ﷺ نه زیات جلتئ سره کوئ ۔ (احمدؒ، ترمذیؒ) ۔

تشریح : **كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ اَشَدُّ تَعْجِيْلًا لِلظُّهْرِ مِنْكُمْ** : دا جمله دلیل دے په استحباب د تعجیل الظهر باندے لیکن دا په عام حالاتو حمل دے چه په سخته گرمئ کښں به نبی علیه السلام تاخیر کولو کما مر تفصیل المسئله ۔ ددے وجه نه علامه ابن قدامه په المغنی کښں وائی : لانعلم فی استحباب تعجیل الظهر فی غیر الحر والغیم خلافاً آهـ۔ یعنی ما سیوا د گرمئ او وریځ نه په استحباب د تعجیل د ظهر کښں هیڅ اختلاف نشته ۔

وَاَنْتُمْ اَشَدُّ تَعْجِيْلًا لِلْعَصْرِ مِنْهُ : مقصود د ام سلمهؓ پدے رد سره خلقو ته ترغیب ورکول دی په اتباع د سنت باندے او هغوی ډے طرفته متوجه کول دی چه په هر ځائے او هره موقعه کښں د نبی علیه السلام په اتباع کولو کښں خیر او سعادت دے او د هغه نه ځان مخکښں کول بدبختی او بے دینی ده ۔ سعدیؒ فرمائی :

خلاف پیمبر کسے رہ گزید | کہ ہرگز بہ مقصد نخواہد رسید

خوك چه د پیغمبر نه سوا بله لاره اونیسی هرگز به مقصد ته اونه رسی ۔

مخکښں تیر شویدی چه احنافو دا حدیث د استحباب د تاخیر د عصر دپاره په استدلال کښں ذکر کړے وو ۔

لیکن دا استدلال په اقرار د محققین احنافو صحیح نه دے ۔

۱- علامه عبد الحی الکهنوی فرمائی : دا استدلال صحیح نه دے ځکه چه دا حدیث دلالت کوی پدے خبره چه تعجیل په ظهر کښ ډیر دے د تعجیل فی العصر نه او په استحباب د تاخیر باندے دلالت نکوی یعنی پدے کښ صرف دا خبره ده چه تاسو د عصر مونځ ډیر جلتئ سره او وختی کوئ د نبی علیه السلام په نسبت او هغه به د ظهر مونځ وختی کولو ستاسو په نسبت نو د تاخیر العصر استحباب د کوم ځائے نه راغلو ۔ نقله فی المرعاة (۲/۳۲۶) ۔

۲- شاه انور شاه کشمیری په العرف الشذی کښ وائی : حدیث الباب ظاهره مبهم والتاخیر ههنا اضافی واطلاق الالفاظ الاضافیة لیست بفاصلة انتهی ۔ یعنی دا حدیث په ظاهر کښ مبهم دے او پدے کښ چه تاخیر راغلے دے نو دا اضافی دے او اضافی الفاظ استعمالول فیصله کونکی نه وی ۔ مطلب د عبارت دا دے چه ام سلمه تابعینو ته وائی چه تاسو د عصر مونځ وختی کوئ او نبی علیه السلام به ناوخته کولو نو دا ناوخته کول مبهم دی چه نبی علیه السلام به څومره ناوخته کولو، دارنګه تابعینو به څومره وختی کولو، ددے بیان پکښ نشته، دارنګه تاخیر اضافی معنی دا ده چه دے تابعینو به د نبی علیه السلام په نسبت سره د مازیګر مونځ ډیر وختی کولو او نبی علیه السلام به د دوئ په نسبت تاخیر کولو نو اوس هغه کومه اندازه ده چه نبی علیه السلام به پکښ ناوخته مونځ کولو او دے تابعینو به وختی کولو دا معلومات نشته نو دا حدیث مبهم دے د استحباب د تاخیر خبره پکښ نشته او بل طرفته صریح صحیح ډیر احادیث راغلی دی پدے کښ چه د مازیګر مونځ وختی افضل دے نو صریح صحیح احادیث پریخودل او یو مجمل او مبهم غیر معلوم المراد والمصداق اثر اخستل دا ډیره بے انصافی ده ۔

تحفة الاحوذی (۱/۱۵۰) مرعاة (۳۳۲) ۔

۲- بله وجه دا ده چه دا حدیث موقوف دے د ام سلمه خبره ده او د تعجیل العصر احادیث مرفوع دی نو دا موقوف اثر د مرفوع صریح نصوصو معارض نشی کیدے ۔

۳- بله وجه دا ده چه پدے حدیث کښ چه احناف استدلال کوی نو دا په مفهوم مخالف باندے ځکه چه منطوق د حدیث نه خو صرف اشدیت د تعجیل العصر د مخاطبینو معلومیږی او تاخیر د نبی علیه السلام خو مفهوماً معلومیږی او نور احادیث منطوق دی په باره د تعجیل کښ او مفهوم د منطوق مقابله نشی کولے فتفکر ۔

نو ثابته شوه چه دا حدیث مجمل دے ځکه چه دا پته نه لګی چه تابعینو د مازیګر

مونځ څه وخت کولو خو د ام سلمه د رد نه معلومیږي چه هغوی به دومره وختی کولو چه د نبی علیه السلام د مستحب وقت نه به ئے هم مخکښ کولو پدے وجه ام سلمهؓ انکار اوکړو چه دومره وختی ئے مه کوئ او د نبی علیه السلام نه څان مه مخکښ کوئ۔ نو پدے مجمل روایتِ موقوفه باندے صحیح متواتر احادیث رد کول د نبی علیه السلام بے ادبی او د هغه د محبت او اتباع په دعوه کښ دروغجن کیدل دی او د تقلید جامد پسے روانیدل دی چه دا د ګمراهئ سبب دے د نبی علیه السلام حدیثونه د یو امام پسے تاوول ددے مطلب خو (نعوذ بالله) دا جوړیږي چه امام ابو حنیفه پیغمبر دے د هغه تقلید واجب دے او نبی علیه السلام تابعداری که اوشوه او که نه خو چه د امام صاحب خبره غلطه نشي، محترمو دا د حقائقو بدلول دی د خپل ایمان غم اوکړئ!۔

درجة الحديث : اسناده حسن : رواه احمد (١/٢٩٣) والترمذی (١٦١) وقال حديث حسن : وفی اسناده حکيم بن جبير وهو ضعيف لکنه توبع کما ذکر الشيخ احمد شاکر وقال الالبانی فی صحيح الترمذی (١/ رقم : ١٦١) هذا حديث صحيح، والمشکاة التحقيق الثانی۔

---

٣٤ – وَعَنْ اَنَسٍ ﷺ، قَالَ : كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ اِذَا كَانَ الْحَرُّ أَبْرَدَ بِالصَّلَاةِ وَاِذَا كَانَ الْبَرْدُ عَجَّلَ . رَوَاهُ النَّسَائِيُّ .

ترجمه : او انس رضی الله عنه فرمائی چه رسول الله ﷺ به (د ماسپښین) مونځ د ګرمئ په موسم کښے یخولو سره کولو او د یخنئ په موسم کښے به ئے جلتئ سره کولو۔

تشريح : **كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ اِذَا كَانَ الْحَرُّ أَبْرَدَ بِالصَّلَاةِ** الخ : د صلوة نه مراد صلاة الظهر دے الف لام عهدی دی او ابرد معنی ده ادخال فی البرد یعنی نبی علیه السلام به په ګرمئ کښ د ماسپښین مونځ په یخوالی کښ ورداخلولو یعنی ناوخته به ئے کړو تردے چه د یوالونو به سوری پیدا کړل۔ دا حدیث مخکښ مسئله کښ تفصیلاً تیر شویدے چه دا دلیل دے چه په اوړی او ژمی کښ به تاخیر او تقدیم کولے شی په ماسپښین مانځه کښ او دا عمل مستحب دے۔

درجة الحديث : رواه النسائی فی سننه (١/٨٧) واسناده صحيح كذا فی تعليق المشکلة للالبانی (١/١٩٥) رقم (٦٢٠) ورواه البخاری نحوه فی باب اشتداد الحر يوم الجمعة وسيأتی فی باب الخطبة والصلاة من ابواب الجمعة وانظر المرعاة (٢/٣٢٧)۔

۳۵– وَعَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ ﷺ قَالَ: قَالَ لِیْ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: اِنَّهَا سَتَکُوْنُ عَلَیْکُمْ بَعْدِیْ اُمَرَاءُ یَشْغُلُهُمْ اَشْیَاءُ عَنِ الصَّلَاةِ لِوَقْتِهَا حَتّٰی یَذْهَبَ وَقْتُهَا، فَصَلُّوا الصَّلَاةَ لِوَقْتِهَا. فَقَالَ رَجُلٌ: یَارَسُوْلَ اللهِ! اُصَلِّیْ مَعَهُمْ؟ قَالَ: نَعَمْ. رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ.

ترجمه: او عباده بن صامت رضی الله عنه فرمائی چه ما ته رسول الله ﷺ اوفرمائیل: زما نه روستو عنقریب به په تاسو باندے داسے (خلق) حاکمان شی چه هغوی به د دنیا څیزونه (یعنی نفسانی خواهشات په مستحب) وقت باندے د مانځه کولو نه مشغول کوی، تردے چه د مانځه وقت به ختم شی (یعنی د کراهت وقت راشی) لهذا تاسو خپل مونځونه په وقت باندے کوئ (اګرچه یواځے وی) یو شخص عرض اوکړو اے د الله رسوله! آیا بیا (دوباره) د هغوی سره هم مونځ اوکړم؟ نبی کریم ﷺ اوفرمایل: آؤ! (د هغوی سره هم مونځ کوه! دے دپاره چه ثواب هم زیات ملاؤ شی او د حکامو مخالفت کولو په وجه فتنه اوفساد هم پیدا نشی) ۔ (ابوداود) ۔

تشریح: اِنَّهَا سَتَکُوْنُ عَلَیْکُمْ بَعْدِیْ اُمَرَاءُ: انها ضمیر قصه ده او الصلاة نه مراد جنس صلاة دے هر مانځه ته شامل دے حاصل د حدیث دا دے چه نبی علیه السلام دا پیشین ګوئی ورکړه چه په تاسو باندے روستو داسے بادشاهان او امامان مقرر کیږی چه په کارونو باندے به د مانځه د اداء کولو نه مشغول وی، تردے چه مستحب وقت به ئے ختم شی یا به بالکلیه وقت خارج شی، نو حکم دا دے چه که فتنه او فساد ترے نه نه پیدا کیدو نو ځانله په خپل مستحب وقت کښ مونځ اوکړه جماعةً یا منفرداً او که د هغوی سره دے مونځ په جماعت کښ اداء کړو نو دا هم جائز ده ځکه پدے کښ دفع د شر ده دارنګه فائده هم شته چه جماعت سره به مونځ اداء شی ۔

درجة الحدیث: رواه ابوداود فی صحیحه رقم (۴۵۹) واسناده صحیح کما قال الالبانی فی تعلیق المشکاة وقال الشوکانی: الحدیث رجال اسناده فی سنن ابی داود ثقات، فالحدیث صحیح ویشهد له حدیث ابی ذر المتقدم وحدیث قبیصة الآتی بعدهٗ ۔

۳۶– وَعَنْ قَبِیْصَةَ بْنِ وَقَّاصٍ ﷺ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: یَکُوْنُ عَلَیْکُمْ

أُمَرَاءُ مِنْ بَعْدِيْ يُؤَخِّرُوْنَ الصَّلَاةَ فَهِيَ لَكُمْ، وَهِيَ عَلَيْهِمْ، فَصَلُّوْا مَعَهُمْ مَا صَلُّوا الْقِبْلَةَ . رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ .

ترجمه : او د قبيصه بن وقاص رضي الله عنه نه روايت دے فرمائي چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي : ما نه روستو به په تاسو باندے داسے (خلق) حاکمان شي چه مونځونه به (د مستحب وقت نه) روستو کوي او هغه مونځ به ستاسو دپاره فائده وي او د هغوي دپاره به وبال وي لهذا ترڅو چه هغوي قبلے (يعنی کعبے) طرفته مونځ کوي تاسو هم د هغوي سره مونځ کوئ ! ۔ (ابوداودؒ) ۔

د قبيصه رضي الله عنه تعارف :

قبيصه (بفتح القاف وکسر الباء) بن وقاص السلمي د بنو سليم قبيلے نه دے بعض وائي د ليث قبيلے نه دے ليثي دے او همدا خبره صحيح ده دا صحابي دے او د بصرے اوسيدونکے دے، صرف دا يو حديث ترے روايت دے امام بخاري، ابن ابي خيثمه او ابوعلي بن السکن او ابوزرعه وغيره په صحابو کښ شمارلے دے وهو الراجح ۔

تشريح : **فَهِيَ لَكُمْ، وَهِيَ عَلَيْهِمْ** : يعني دا کوم مونځ چه د وقت نه مؤخر شو ستاسو دپاره فائده مند دے يعني څه ضرر او ګناه په تاسو نشته ځکه چه ستاسو تاخير د ضرورت د وجے نه دے ځکه چه تاسو د امامانو تابع يئ او په هغوي باندے ضرر دے ځکه چه د هغوي ښه وسع شته چه مونځ مستحب وقت کښ اوکړي او روستو ئے نکړي، ليکن د دنيا کارونو پرے دومره زور اوکړو چه د آخرت د کارونو نه ئے مشغول کړل نو الله تعالي به هغوي لره سزا ورکوي او همدا کار اوس پدے زمانه کښ ډير واقع دے چه د مسجد امامان په مکروه وقت کښ مونځونه اداء کوي عوامونه پريږي، يا د مذهب په کړئ کښ بند وي نو د عوامو د تاخير ګناه به د امامانو په سر باندے وي ۔

٢- دويم مطلب دا دے چه کله تاسو د مستحب وقت د فضيلت حاصلولو په خاطر د هغوي د مانځه نه مخکښ خپل مونځ اوکړو او بيا ددے نه روستو د هغوي سره هم مونځ اوکړو نو دا دويم مونځ به ستاسو دپاره نفل حساب شي نو تاسو ته فائده شوه چه ددے په وجه به تاسو ته زيات ثواب ملاؤ شي ۔ اول مطلب ظاهر دے او دا مطلب په بل حديث کښ راغلے دے وقد تقدم ۔

مَا صَلُّوا الْقِبْلَةَ : يعني ترڅو پورے چه هغوي قبلے ته مونځ کوي يعني مسلمانان

وی، نو تاسو د هغوی سره مونځ کولے شئ ! اګرچه مونځونه د وقت نه مؤخر کوی، ځکه پدے تاخیر سره دوی نه کافر کیږی بلکه صرف ګناهګار دی، دا حدیث دلیل دے چه د فاسقانو وغیره پسے هم مونځ جائز دے تر څو چه بدعتِ مکفره او د کفر ارتکاب ئے نه وی کړے۔

درجة الحدیث : رواه ابوداود وسكت علیه هو والمنذری وقال الالبانی واسناده ضعیف لكن یشهد له ما قبله وقال فی صحیح ابی داود (۱/۸۸) رقم (٤٣٤) وسنده صحیح فالحدیث صحیح ولله الحمد ۔

۳۷– وَعَنْ عُبَيْدِ اللهِ بْنِ عَدِيِّ بْنِ الْخِيَارِ : اَنَّهُ دَخَلَ عَلٰى عُثْمَانَ وَهُوَ مَحْصُوْرٌ، فَقَالَ : اِنَّكَ اِمَامُ عَامَّةٍ، وَنَزَلَ بِكَ مَا تَرٰى، وَيُصَلِّيْ لَنَا اِمَامُ فِتْنَةٍ، وَنَتَحَرَّجُ، فَقَالَ : اَلصَّلَاةُ أَحْسَنُ مَا يَعْمَلُ النَّاسُ، فَاِذَا اَحْسَنَ النَّاسُ فَأَحْسِنْ مَعَهُمْ، وَاِذَا أَسَاؤُوْا فَاجْتَنِبْ اِسَاءَتَهُمْ . رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ .

ترجمه : او عبید الله بن عدی بن خیار رضی الله عنه په باره کښے منقول دی چه هغه د عثمان رضی الله عنه په خدمت کښے پداسے وقت کښے حاضر شو چه هغه (د خپل شهادت نه مخکښے د بغاوت په ورځو کښے په خپل کور کښے) محصور وو (عبیدالله وائی عثمان ته) ما عرض اوکړو چه ته زمونږ د ټولو امام (او امیر) ئے او په تا باندے چه کوم (مصائب او پریشانتیا) نازل شویدی هغه ته هم وینے او (زمونږ حال دا دے چه) مونږ ته د فتنے او فساد یو امام مونځ کوی (چه د هغه نه روستو مونځ کول) ګناه ګنړو، عثمان (چه دا واوریدل) وے فرمائیل : مونځ کول د خلقو په تمام اعمالو کښے بهتر او افضل عمل دے لهذا کله چه خلق نیکی کوی نو ته هم د هغوی سره نیکی کوه او که هغوی بدی کوی نو ته د هغوی د بدیانو نه بچ شه ! ۔ (بخاریؒ) ۔

د عبید الله بن عدی بن الخیار تعارف :

دا قریشی نوفلی مدنی دے، دده په صحبت کښ اختلاف دے، ابن حبان په صحابو کښ شمارلے دے او دا ئے وئیلی دی چه ده نبی علیه السلام لیدلے دے بیا ئے تابعینو کښ هم راوړیدے او عجلی په ثقات التابعین کښ ذکر کړیدے، علامه حافظ ابن حجر په تقریب کښے وائی : دا په فتح د مکه کښ ممیز وو نو ځکه په صحابو کښ شمار شو دده پلار په بدر کښ کافر مړ شویدے او دے د قریش د فقهاؤ او علماؤ نه دے او ډیر صحابه ئے

لاندے کړيدی او په خلافت د وليد بن عبد الملك کښې وفات شويدے بعض وائی په (۹۰ هـ) سنه کښې وفات دے۔

تشريح : **اَنَّهُ دَخَلَ عَلٰی عُثْمَانَ** : عثمان دده د خپلوانو نه وو۔

وَهُوَ مَحْصُوْرٌ : يعنی عثمان په خپل کور کښې راګير شوے وو او د خپلو کارونو نه بند شوے وو ځکه چه فتنې والا باغيانو په عثمان باندے تهمتونه اولګول چه ده د محمد بن ابی بکر د قتل اراده کړيده او عثمان ددے نه بری وو نو دا فتنه د مصر نه د يو جماعت په شکل په مشرئ د عبد الرحمن بن عُدَيْسِ الْبَلَوی کښې راپورته شوه او په هغوی کښې بل مشر کنانه بن بشر الليثی وو – چه حمله اوکړی په عثمان باندے او هغه د خلافت نه معزول کړی او قتل ئے کړی او د کوفے نه هم څه خلق ملګری شو چه په هغوی کښې زيد بن صوحان العبد او اشتر النخعی او دوی هم پنځه سوه کسان وو او بصرے نه بعض کسان راووتل چه په هغوی کښې حکيم بن جبله العبدی او ذريح بن عباد وو چه اميرئے حرقوص بن زهير السعدی وو دا ټول تقريبا (۱۵۰۰) وو يا اکثر عددئے (۳۰۰۰) وو کذا فی کتاب عثمان ذو النورين ثالث الخلفاء ص (۱۰٤) لمحمد رضا۔

تفصيل د واقعے داسے دے چه سعيد بن المسيب فرمائی چه عثمان بن عفانؓ په خپل دور خلافت کښې بنی اميه ګورنران مقرر کړی وو چه د هغوی نه به هغه کارونه سرزد کيدل چه صحابه کرامو به بد ګڼړل او عثمان به د ښه ګمان په وجه هغوی نه معزول کول نو په مصر باندے ئے عبد الله بن ابی سرح والی کړو نو هغه پدغه حال کښې وو تردے چه مصر والو د هغه نه شکايتونه اوکړل او عثمان به هغه لږ منع کولو ليکن هغه انکار کولو تردے چه د مصر نه اووه سوه کسانو لښکر اوکړو او مسجد نبوی ته راورسيدل او صحابه کرامو ته ئے د مونځونو په وقتونو کښې شکايتونه د ابن ابی سرح نه اوکړل چه مونږ سره ئے داسے داسے ظلمونه اوکړل نو طلحه بن عبيد الله د عثمان سره په سختئ خبرے اوکړے او بيا عائشےؓ هم ورته اوفرمائيل چه دے شخص د مصر والو نه يو سړے قتل کړيدے نو د خپل ګورنر نه د دوئ دپاره بدله واخله او پدے کښې علی بن ابی طالب هم راغلو وے فرمائيل : چه ددے خلقو مطالبه ده چه ته ددے ګورنر په ځائے بل مقرر کړه او په ده باندے ئے د قتل دعوه ده ـ نو عثمان ورته اوفرمائيل : تاسو يو سړے غوره کړئ چه زه ئے دده په ځائے مقرر کړم نو خلقو اشاره اوکړه چه محمد بن ابی بکر مقرر کړه نو عثمان هغه ته خپل عهد اوليکلو او هغه ئے ګورنر مقرر کړو او د مهاجرين او انصارو يو ټو تنه لاړل

چه اوګوری چه څه واقع شویدی د ابن ابی السرح او مصر والو ترمینځ نو محمد بن ابی بکر هم د هغوی سره روان شو ۔ کله ئې چه د مدینې نه درے ورځو په مقدار مزل اوکړو نو څه ګوری چه یو تور غلام په اوښ سوړ ګډ وډ روان دے لکه چه څوك طلب کوی یا چا را زغلولے وی نو صحابه کرامو ورته اوفرمائیل : څه چل دے ؟ ته خو داسے ښکارے لکه چه چرته تښتے یا چا پسے روان ئې نو هغه اووئیل : زه د امیر المومنین غلام یم او زه ئې د مصر ګورنر ته لیګلے یم نو یو تن ورته اووئیل : د مصر ګورنر خو دا دے ۔ هغه اووئیل : دا زما مقصود ندے پدے کښې محمد بن ابی بکر ته خبر اوشو نو هغه یو سړے د هغه په طلب کښې اولیږلو تردے چه واپس ئې راوستو ورته ئې اووئیل : ته د چا غلام ئې ؟ نو کله به ئې وئیل : زه د امیر المؤمنین غلام یم او کله به ئې وئیل زه د مروان غلام یم ۔ تردے چه یو تن اوپیژندو چه دا د عثمان غلام دے نو محمد ورته اووئیل : چرته لیږلے شوے ئې ؟ هغه اووئیل : د مصر ګورنر ته ۔ هلته څه کوے ؟ هغه اووئیل : یو پیغام ورم ده ورته اووئیل : خط درسره شته ؟ هغه اووئیل : نه ! تلاش ئې کړو خو څه ئې اونه موندل تردے چه د هغه سره یوه مشکیزه وه چه اوچه شوے وه په هغے کښې څه شی کشارے کولو وے خوزوله لیکن هغه راونه وتلو نو هغه ئې څیرے کړه نو په هغے کښې د عثمان خط وو ابن ابی سرح ته نو محمد بن ابی بکر هغه مهاجرین او انصار راجمع کړل کوم چه د هغه سره وو بیا ئې خط د هغوی مخامخ اوشلولو نو په هغے کښې ئې لیکلی وو : کله چه تا ته محمد او فلان او فلان درشی نو په چل ئې قتل کړه او د هغه خط اوشلوه او په خپل ځائے کلك شه تردے چه تا ته زما رایه درشی ۔ کله چه هغوی خط اولوستلو نو ټول اوبریدل او د عثمان خوا ته د غلام او اوښ او خط سره ورغلل علیؓ اوفرمائیل : دا غلام ستا دے ؟ عثمان اوفرمائیل : آؤ ۔ علیؓ اوفرمائیل : دا اوښ ستا دے ۔ عثمانؓ اوفرمائیل : آؤ آیا دا خط تا لیکلے دے ؟ عثمان اوفرمائیل : نه او قسم ئې په الله اوکړو چه نه ما دا خط لیکلے دے او نه مے پرے امر کړیدے او نه پرے خبر یم ۔ او نه مے دا غلام مصر ته لیږلے دے خلقو اوکتل وے پیژندل چه دا خط د مروان دے نو عثمان نه ئې مطالبه اوکړه چه دوئ ته مروان ورکړی خو عثمان انکار اوکړو او مروان د هغه سره په کور کښې وو نو صحابه کرام د عثمان په باره کښې شکیان شو او پدے پوهه وو چه عثمان په باطل باندے قسم نه خوری ۔ پریشان وو پدے کښې بعض خلق (باغیانو) اووئیل : زمونږ زړونه عثمان ته نه سپینیږی تردے چه مونږ ته مروان راکړی چه مونږ تلاش اوکړو او حال د خط اوپیژنو او دا څنګه په قتل د یو سړی د محمد

ﷺ د ملګرو نه په ناحقه امر کوی ؟ نو که عثمان دا خط لیکلے وی نو مونږ به ئے معزول کړو او که مروان د عثمان په ژبه لیکلے وی نو مونږ به د مروان بن الحکم په کار کښې فکر اوکړو او پدے حال کښې په خپلو کورونو کښې کلك کیناستل او عثمان یریدو که مروان ورته ورکړی نو قتلوی نو پدے کښې باغیانو د عثمان د کور محاصره اوکړه او هغه نه ئے اوبه منع کړے نو هغه خلقو ته راښکاره شو او وے فرمائیل : پتاسو کښې علی شته خلقو اوویل نه ! سعد شته ؟ نه !، بیا غلے شو بیا ئے اوفرمائیل : علی ته به څوك خبر اونه رسوی چه مونږ ته لګے اوبه راکړی نو علیؓ ته دا خبر اورسیدو نو هغه ورته درے مشکیزے د اوبو ډکے اولیګلے خو نزدے نه وه چه رسیدلے وے نو علیؓ ته خبر اورسیدو چه د عثمان د قتل اراده کولے شی نو هغه اوفرمائیل : مونږ خو صرف د هغه نه د مروان مطالبه کړیده او هر چه قتل د عثمانؓ دے نو دا خو بد کار دے او حسن او حسین ته ئے اوفرمائیل : لاړشئ توررے واخلئ او د عثمان د کور په دروازه کښې اودریږئ او دننه هیڅوك مه پریدئ او زبیر خپل ځوی اولیږلو او طلحه هم خپل ځوی اولیږلو او نورو صحابه کرامو هم خپل ځامن اولیږل نو پدے کښې شور جوړ شو نو خلقو چه کله دا کار اولیدو نو د عثمان دروازه ئے په غشو ویشتله تر دے چه حسن بن علیؓ په وینو باندے رنګ شو په دروازه د عثمان کښې او مروان ته هم یو غشے اورسیدو او هغه په کور کښې وو تردے چه په دیوال باندے دوه ظالمان اوړ وختل او عثمان ئے شهید کړو او د هغه مخے ته قرآن کریم پروت وو او په فسیکفیکهم الله باندے د هغه وینه تویه شوه ۔ د صحابه کرامو د ډیر خفګان د وجے نه عقلونه والوتل او علیؓ خپل ځوی حسن په سینه کښې اووهلو چه تاسو په دروازه کښې وئ او عثمان قتل شو ؟ ۔ نو ددے محاصرے په موقعه کښې مغیره بن شعبه هم په عثمان باندے ورداخل شو او دا ئے ورته اوویل : زما یو څو مشورے دی یو دا چه ته خلقو ته راوځه او جنګ ورسره شروع کړه ځکه تاسره عدد او قوت شته او ته په حق ئے او دا خلق په باطله باندے دی او یا دا چه مونږ به تا دپاره بله دروازه اوباسو په هغے به ته اوځے او مکے ته به لاړ شے او یا به شام ته لاړ شے نو عثمان ورته اوویل : قتال خو نشم کولے ځکه زه اول د رسول الله ﷺ په امت کښې وینه تویه ونکو نه جوړیږم او مکے ته ځکه نه ځم چه ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلی دی چه : د قریشو نه به یو سړے په مکه کښې الحاد کوی په هغه باندے به نیم عذاب د عالم وی نو هسے نه چه زه هغه جوړ نشم او هر چه شام دے نو زه د خپل دار الهجرت او د رسول الله ﷺ د مجاورت نه نه جدا کیږم ۔

او دا محاصره څلویښت ورځے وه بعض وائی پنځوس ورځے بعض وائی : دوه میاشتے او شل ورځے وه په دے کښې به مسجد نبوی کښې دغه باغیانو مونځونه کول څکه غلبه ئے وه او دا یو عظیم امتحان وو په عثمان او نورو صحابه کرامو باندے چه باطل پرستو ددے نه غلطه فائده واخسته او اسلامی خلافت ته ئے نقصان رسولو او صحابه ئے خپل مینځ کښې جنګول او د عثمان خپلوانو عثمان ته څانونه نزدے کړی وو په دے وجه ئے څان ورته مظلومین ښکاره کړی وو او مجرمینو په دے کښې ډیر لوئی رول ولوبولو چه اسلامی خلافت ختم کړی ۔ انظر تاریخ الخلفاء للسیوطی (۱۵۹) والکامل فی التاریخ لابن الاثیر (۲۲۳/۳) مورخینو د مصر نه ددے فتنے راپورته کیدو سبب دا هم لیکلے دے چه کله عمرو بن العاص رضی الله عنه چه د مخکښې نه فاتح د مصر وو د عمرفاروق په دور خلافت کښې د مصر والی وو تر دے چه کله د عثمان خلافت شروع شو هم په دغه عهده پاتے وو د جنګونو مشر هم وو او د جزیه په وصولولو هم مقرر وو او خلق ترے ډیر خوشحاله وو په دے وجه چه هغه به د خلقو نه جزیه او خراج کم اخستو او خلق به ئے نه تنګول او په دے کښې مقصود جنګی پروګرامات قوی کول وو او خلافت برقرار ساتل وو خو کله چه عثمان هغه لره په څه وجوهاتو معزول کړو او د هغه په ځائے عبد الله بن ابی السرح مقرر کړو چه دا د عثمان رضاعی ورور وو نو په دے کښې ده خلقو باندے جزیه او خراج زیات مقرر کړو نو عثمان عمرو ته اووئیل : کیف درت اللقاح بعدك ؟ ستا نه روستو اوښو پئ څنګه اوکړل ؟ اشاره وه چه تا ترے (۱۲،۰۰۰،۰۰۰) درهم اخستل او عبد الله بن ابی السرح ترے (۱٤،۰۰۰،۰۰۰) واخستل نو عمروؓ ورته اووئیل : لیکن د اوښو بچی هلاك شو یعنی خلق دے ناراضه کړل ۔ په دے کښې د مصر خلق تنګ شو او د عبد الله بن ابی السرح نه خفه شو او عثمان طرفته ئے لښکر اوکړو چه په دے کښې فتنه پرداز خلق زیات وو د کوفے او بصرے خلق هم ورسره ملګری شو او عثمان ئے محاصره کړو۔

اِمَامُ عَامَّةٍ : یعنی د عام مسلمانانو امام او امیر المؤمنین او خلیفة المسلمین ئے څکه چه دده په خلافت باندے اهل الشوریٰ اجماع کړیده ۔

اِمَامُ فِتْنَةٍ : د فتنے او فساد امام نه مراد د باغیانو سردار دے (کنانه بن بشر یا عبد الرحمن بن عدیس البلوی) ۔

وَنَتَحَرَّجُ : ای نتحترز ونجتنب ۔ یعنی مونږ د فتنے د امام سره د مونځ کولو نه څان

ساتو او ددیے نـه يـريږو چه چرته د هغه پسے په مونځ کولو کښ په ګناه کښ واقع نشو نو آيا مونږ د هغوی پسے مونځ اوکړو که نه ؟ ۔

فَقَالَ : اَلصَّلَاةُ أَحْسَنُ مَا يَعْمَلُ النَّاسُ : نو عثمانؓ جواب ورکړو چه ډير جامعيت لری چه مونځ په ټولو اعمالو د مسلمانانو کښ افضل عمل دیے نو کله چه يو انسان (اګرکه باغی وی) نيك عمل کوی نو د هغه سره پديے نيکئ کښ شريك شه او کله چه مونځ خراب کوی يا ګناهونه کوی نو د هغوی سره په ګناه کښ مه شريك کيږه، پديے وجه تاسو د باغيانو د سردار پسے مونځ کولے شئ کله چه مونځ صحيح کوی، او په ګناه کښ ورسره مه شريك کيږئ د عثمانؓ ديے ارشاد ته اوګوره څومره عدل او انصاف او د هغه حلم او بردباری تريے معلوميږی چه هغه پداسے موقعه کښ کله چه باغيانو ظلم انتهاء ته اورسولو او هغه ئے په خپل کور کښ قلعه بند کړیے وو او په هغه باندیے ئے د غرونو پشان تکليفونه اچولی وو او هغه بيا هم پديے وقت کښ د هغوی نيکئ ته د بغض په نظر او نه کتل بلکه نيکی ته ئے ورله ښه اووئيل ۔

۲– دويم تريے معلومه شوه چه جماعت ته حاضريدل پکار دی خصوصاً په زمانه د فتنه کښ، ديے دپاره چه تفرق نور زيات نشی ۳– پديے کښ تحذير ديے چه فتنو نه ځان ساتئ ۔ **سوال** : هر کله چه مصر والا په عثمان باندیے تهمتونه اوتړل او هغه ئے په کور کښ محصور کړو او صحابهؓ د هغه ملاقات ته ورتلل چه په کښ دا عبيد الله هم وو نو سوال دا ديے چه دوی د عثمانؓ مدد ولے نه کولو ؟ ۔

جواب : ده ته نبی عليه السلام وئيلی وو چه تا باندیے به امتحان راځی تا نه به خلق جامی اوباسی، ته به ئے نه پريديے اشاره وه دده خلافت ته چه تا نه به ئے خلق اخلی ليکن ته به ئے نه پريديے پديے وجه هغه ته علیؓ معاويهؓ، ابو هريرهؓ، زيد بن ثابت، سعد بن مالك، حسن بن علی او حسينؓ او مغيره وغيره صحابو مدد پيش کړو هغه قبول نکړو او دا ئے اووئيل چه که ما سره ښه کوئ نو توريے بنديے کړئ نو په هغوی کښ اکثر لاړل خپلو کورونو کښ کيناستل چه پديے کښ دغه واقعه راپيش شوه ۔

بذل المرافق فی جواز الصلاة خلف المبتدع والفاسق

٤– پديے حديث کښ دا مسئله ده چه هر څوك مونځ کوی اګرکه بدعمله فاسق او

مبتدع وی د هغه پسے روستو مونځ کول جواز لری، تفصیل د مسئلے دا دے چه امام په دوه قسمه دے ـ

۱- **یو** هغه دے چه داسے بدعات کوی چه مکفروی لکه عقیده د شرك لری، لکه غیر الله ته علم الغیب، ثابتوی، پیغمبر ولی ته حاضر ناظر وائی، شرکی تعویذونه جوړوی، پیغمبر نور ګڼړی او بشرئے نه ګڼړی، په غیر الله باندے استغاثه کوی، نذر د غیر الله کوی او دا عقیده ساتی چه مړے نفع او ضرر رسولے شی نو داسے قسم امام پسے مونځ ندے جائز بلکه دا کارونه ہے شکه ګمراهی او شرك دے لکه عام علماءِ امت فرمائی چه د جهمیه وغیره پسے مونځ ندے جائز ځکه چه دوئ د الله تعالی د اسماء او صفاتو منکرین دی ـ کتاس بدعتیان منکرین دی ـ

۲- **دویم قسم** هغه امام دے چه عقیده ئے صحیح وی لیکن عملی بدعات کوی چه هغه انسان کفر ته نه رسوی بلکه د ګناه کبیره په درجه کښ وی، لکه دعاء بعد الفرض والسنه کوی، یا ختمونه، څلویښتیانے کوی، رواجونه وغیره کوی یا ګیره لنډوی او خرئیوی، فحش فلمونه ګوری نو دده د امامت حکم دا دے چه که دده په مقابله کښ بل سنی امام موجود وی چه عقیده او عمل دواړه ئے صحیح وی نو بدعتی پسے مونځ ندے پکار خو که ددے سره سره یو انسان ددے بدعتی پسے مونځ اوکړی نو دا اختلافی صورت دے ـ

۱- **نو امام مالک** او یو روایت د احمد دا دے چه دده مونځ فاسد او باطل دے اعاده (دوباره) به ئے کوی وهو قول ابن القاسم تلمیذ مالك كما فی المدونة الكبری (۸۳/۱) والسنن والمبتدعات (۱۸۲) دوی دلیل دا وائی چه پدے مقتدی باندے انکار د منکر ضروری دے او کله چه دا د هغه پسے مونځ کوی نو ده دا فریضه پریخوده نو دده مونځ منهی عنه شو نو دوباره به ئے راګرځوی كما قال شیخ الاسلام فی فتاواه (۳۴۳/۲۳)

۲- **قول ثانی** د امام شافعیؒ، امام ابو حنیفهؒ او یو روایت د امام احمد دا دے چه که بلاضرورت هم د داسے مبتدع او فاسق پسے مونځ اوکړی نو مونځ ئے صحیح دے مع الکراهة شیخ الاسلام ددے وجه دا بیانوی چه مونځ فی نفسه صحیح دے او هر چه انکار پریخودل دی نو دا منفصل امر دے د مانځه نه اومشابه دے د هغه بیع سره چه پس د اذان د جُمعے نه اوشی نو مونځ د ذات په اعتبار صحیح دے خو کراهت پکښ د غیر په وجه راغلے دے ـ

او جمهور علماء فرق کړیدے په مابین د هغه مبتدع کښ چه داعی وی خپل بدعت ته او په مابین د هغه مبتدع کښ چه داعی نه وی ځکه چه کوم مبتدع داعی وی نو هغه منکر ښکاره کوی نو مستحق ددے دے چه په هغه انکار اوکړے شی په خلاف د هغه مبتدع نه چه ساکت وی ځکه دا په منزله د هغه شخص دے چه په پټه ګناه کوی نو ده باندے په ظاهر کښ انکار کیدے شی ځکه چه ګناه کله پټه وی نو ضررئے صرف خپل صاحب ته رسی لیکن کله چه ګناه ښکاره کوی او بل ته دعوت ورکوی نو بیائے ضرر عوامو ته هم رسی، نو ده باندے انکار کول ضروری دی۔

دا اختلاف په هغه وقت کښ دے چه یو مبتدع امام مقرر شوے وی او د هغه په لرے کولو کښ ضرر وی یا یو ظالم بادشاه دے چه که هغه پسے مونځ اونکړی نو هغه ورته ضرر رسوی یا بل صحیح امام نه ملاویږی بل د موحد مسجد نه وی یا ددے انسان نه همیشه د جماعت مونځ خرابیږی نو بیا ضرورت دے، د مبتدع او فاسق پسے مونځ کول بلا کراهت جائز دی بلکه دده پسے مونځ نکول بدعت دے کما فی شرح العقیدة الطحاویة (۵۳۱/۲) او پدے باندے ډیر دلائل دی، صحابه کرامو به د فاسقان او ظالمان او مبتدعینو پسے مونځونه کول۔

عبد الکریم البکاؒ فرمائی : ادرکتُ عشرةً من اصحاب النبی ﷺ کلهم یصلی خلف أُمَرَاءِ الْجَوْرِ رواه البخاری فی تاریخه کما فی المنتقیٰ بشرح النیل (۱۹۹/۳) یعنی ما لس صحابه کرامؓ موندلی دی چه ټولو به د ظالمانو بادشاهانو پسے مونځونه کول۔

(۲) -- ابوسعید الخدریؓ به د مروان بن الحکم پسے د اختر مونځ کولو، کما فی مسلم واصحاب السنن۔

(۳) -- عبد الله بن عمرؓ به د حجاج بن یوسف پسے مونځ کولو (٤) -- انس بن مالكؓ به د حجاج بن یوسف پسے مونځ کولو (٥) -- عبد الله بن مسعودؓ به د ولید بن عقبه بن ابی معیط پسے مونځ کولو او هغه به شراب څکل، یو ځل ئے خلقو ته د سحر مونځ څلور رکعاته اوکړل بیائے اووئیل : ازیدکم ؟ یعنی ددے نه درته زیات مونځ اوکړم ؟ ابن مسعودؓ ورته اوفرمایل : ما زلنا معك منذ الیوم فی زیادة !! یعنی نن نه بعد به مونږ تاسره په زیادت کښ ملګری یو (کوه چه څه ډ زړه غواړی)۔

(٦) -- د عثمانؓ مذهب هم دا دے چه مبتدعین او باغیانو پسے مونځ کیږی۔

او صحابه او تابعینو به د حجاج بن یوسف او مختار بن ابی عبید الثقفی وغیره پسے

د جُمُعے او اخترونو او عامے جَمْعے کولے کما قال شیخ الاسلام فی الفتاوی (٣٤٣/٢٣) و الشوکانی فی نیل الاوطار (١٩٩/٣) ۔

علامه شوکانی فرمائی : د صدر اول یعنی صحابه کرام او تابعینو اجماع فعلی پدے باندے ثابت دہ او بعیدہ ندہ چه قولی اجماع وی چه د ظالمانو پسے مونځ کول جائز دی ځکه د هغه زمانے امراء د پنځه وقت مونځونو امامان وو او خلقو به خپل امیران امامان جوړول او په هر ښار کښ خپل امیر وو او دغه زمانه حکومت د بنو امیه وو او د هغوی دامیرانو حال په چا مخفی ندے لکه مصنف ابن ابی شیبة (٢/) البیهقی (١٣٢/٣) کښ دی چه ابن عمرؓ به د حجاج بن یوسف پسے مونځ کولو ۔

او د مانځه په امام کښ عدالت شرط ندے او کوم علماء چه عدالت شرط ګنړی لکه امام مالك او جعفر بن مبشر او جعفر بن حرب او عترت نو د دوی سره هیڅ دلیل نشته صرف یو حدیث پیش کوی چه ابوداود ذکر کړیدے (وسکت علیه هو والمنذری) سائب بن خلادؓ فرمائی : رسول الله ﷺ یو سړے اولیدو چه خلقو ته ئے امامت کولو نو قبلے طرفته ئے لاړے توکلے او رسول الله ﷺ ورته کتل نو کله چه هغه فارغ شو خلقو ته ئے اوفرمائیل : دا شخص دے تاسو ته (بیا) مونځ اونکړی، دہ روستو د مانځه اراده اوکړہ خلقو منع کړو او د رسول الله ﷺ خبره ئے ورته بیان کړہ نو هغه رسول الله ﷺ ته دا ذکر کړہ، نبی علیه السلام اوفرمائیل : آؤ (صحیح وائی) راوی وائی زما ګمان دے چه داسے ئے ورته اوفرمائیل (انك آذیت الله ورسوله) تا الله او د هغه رسول ته (پدے کار سرہ) ضرر اورسولو ۔ نو اول خو پدے حدیث باندے هیچا استدلال ندے کړے ۔

بلکه دا چه دا د محل النزاع نه خارج دے ځکه دا حدیث دلالت کوی پدے خبره چه د فاسق پسے مونځ کول مکروہ دی او فاسق امام جوړول صحیح ندی او خبره زمونږ پدے کښ دہ چه یو فاسق امام جوړ شوے وی او ستا طاقت د هغه د لرے کولو نه وی او کله چه یو انسان ته صحیح امام ملاویږی او د سنی امام مسجد هم ورته نزدے وی او دا بیا هم فاسق او مبتدع امام جوړوی نو دا مونځ صحیح نه دے ۔

٧– حسن بصریؒ فرمائی : صل خلفه وعلیه بدعته اخرجه البخاری معلقاً (٩٦/١) ووصله سعید بن منصور فتح الباری (١٥٠/٢) یعنی بدعتی پسے مونځ کوہ او بدعت د د هغه د څټ پورے انښتے وی (یعنی د هغه بدعت ستا مانځه کښ څه نقصان نه پیدا کوی) ۔

٨– امام زهريؒ فرمائي: لانرى ان يصلى خلف المُخَنَّثِ الا لضرورةٍ لا بُدَّ مِنهَا، والمخنث المفتونون اخرجه البخارى واخرجه ايضا عبد الرزاق (٣٩٧/٢) يعني مونږ د ضرورت په وجه د فاسق پسے مونځ جائز گڼړو۔

٩– د انس بن مالكؓ روايت دے قال: قال رسول الله ﷺ لابى ذر: اسمع واطع ولو لحبشي كأنَّ رأسه زبيبة، اخرجه البخارى (٩٦/١) يعني ابوذر ته رسول الله ﷺ اوفرمائيل : د امير تابعدارى كوه اگركه هغه حبشي وي او سرئے د وچکے (كشمش) پشان وړوكے وي حافظ فرمائي: طريقه د استدلال دا ده چه هغه امير چه دغه شان ئے صفت وي، هغه د جهالت او بدعت نه خالي نه وي او اهل د امامت نه وي او ځان ئے په زوره وړاندے كړے وي نو ځان ئے په فتنه كښې اچولے وي او بيا هم نبى عليه السلام د هغه تابعدارى ضرورى كړه انتهىٰ۔ دارنگه د امامتِ عظمٰى حق د قريشي دے ليكن كله چه دا حبشي په هغه باندے متغلب كيږي نو دا مبتدع او فاسق شو او بيا هم نبى عليه السلام دده په تابعدارئ باندے حكم كوي دليل دے چه مبتدع او فاسق امام پسے مونځ كول جائز دي۔

ددے **دلائلو** په رڼړا كښې دا مسئله ثابته شوه چه كه يو مبتدع يا فاسق او ظالم پسے د جَمعے مونځ اوكړے شي نو پدے كښې هيڅ حرج نشته او اعاده دمانځه ضرورى نده او كه يو بدعتى داعي وي يا د خپل بدعت په وجه كفر درجے ته رسيدلے وي لكه جهميه، معطله چه د الله د صفاتو نه منكر وي يا شيعه گان يا مشركان بريلويه چه شركى عقيدے لري نو دوئ پسے مونځ كول صحيح ندي او اعاده ئے ضرورى ده۔

او دا د اهل السنة والجماعة مسلك دے۔

امام ابن ابى العز الحنفىؒ په شرح العقيدة الطحاوية (٤٧١/١) كښې ددے مسئلے په باب كښې بعض احاديث ذكر كړيدي بيا پرے تفريع كوي: اعلم! رحمك الله وايانا – انه يجوز للرجل ان يصلى خلف من لم يعلم منه بدعة ولا فسقاً باتفاق الائمة وليس شرط الائتمام ان يعلم المأموم اعتقاد امامه ولا ان يمتحنه فيقول: ما ذا تعتقد؟ بل يصلى خلف كل مستور الحال ولو صلى خلف مبتدع يدعو الى بدعته او فاسق ظاهر الفسق وهو الامام الراتب الذى لايمكنه الصلاة الا خلفه كامام الجمعة والعيدين والامام فى صلاة الحج بعرفة ونحو ذلك فان المأموم يصلى خلفه عند عامة السلف والخلف ومن ترك الجمعة والجماعة خلف الامام الفاجر فهو مبتدع عند اكثر العلماء والصحيح انه يصليها ولا يعيدها فان عامة الصحابة رضى الله عنهم كانوا يصلون الجمعة والجماعة خلف الائمة الفجار ولا يعيدون كما كان عبد الله بن عمر يصلى خلف الحجاج بن يوسف وكذلك انس رضى الله عنه الى آخر ما قال انتهىٰ۔

پوهه شه ! چه سرې لره دا جائز دي چه د هغه امام پسے مونځ اوکړي چه بدعت او فسق ئے نه وي معلوم په اتفاق د ائمه كرامو سره او امامتئ كښې دا شرط نشته چه مقتدى به د امام عقيده معلوموى او يا به ئے امتحان اخلى چه ستا څه عقيده ده ؟ بلكه د مستور الحال امام پسے مونځ كولے شي او كه يو امام مبتدع وى او خپل بدعت ته دعوت وركوى يا ښكاره فاسق وى او دا مقرر امام وى چه انسان ته دده نه ما سيوا بل امام نه ملاويږى لكه د جمعے او د اخترونو امام وى يا عرفات كښې د مانځه امام وى نو د عامو سلف او خلفو په نيز بانديے مقتدى د هغه امام پسے مونځ كولے شي او څوك چه د جُمعے مونځ يا عام جماعتونه د فاجر امام پسے نكوى نو د اكثرو علماؤ په نيز دا پخپله بدعتى دے، صحيح دا ده چه دا به وريسے مونځ كوى او دوباره مونځ راګرځول نشته ځكه عام صحابه كرامو به د جُمعے او د جَمعو مونځونه د فاجر امامانو پسے كول لكه انس او عبد الله بن عمر به د حجاج پسے مونځونه كول الخ ـ و كذا انظر موقف الماتريدية من الاسماء و الصفات للدكتور شمس الدين (٣/٣٨٥/٣٨٦ - ٢/٣٧٥) ـ

تنبيه : دا اختلاف په هغه صورت كښې دے چه كله امام د سنت طريقے مطابق مونځ كوى خو ورسره بدعات كوى يا فاسق وى او قرائت ئے صحيح وى ركوع او سجده اوقومه او جلسه ئے برابره وى او كه د يو امام قرائت صحيح نه وى يا ركوع، سجده وغيره ئے خرابه وى نو بالفرض كه دا بزرگ شي نو هم مونځ وريسے نه كيږى كما قال البخاري باب اذا لم يتم الامام واتم من خلفه (١/ ٩٦) ـ وبالله التوفيق ـ

صاحب المرعاة (٢/٣٢٩) پدے مسئله كښې داسے تحقيق كوى چه دا مسئله اختلافى ده مګر راجح زما په نيز دا ده چه د فاسق پسے مونځ كيږى كله چه د هغه فسق په اندامونو كښې نه وى يا داسے عقيده نه لرى چه دهغے په وجه كافر ګنړلے كيږى ځكه چه د دوى د اقتداء په باره كښې منع نشته او بل طرفته د فاسق پسے د اقتداء كولو باره كښې د ابوداود حديث دے (صلوا خلف كل بر وفاجر) دا اګرچه سنداً ضعيف دے ليكن ددے تائيد په عمل د سلف صالحينو (صحابه او تابعينو) سره موجود دے چه هغوى به د مشهور ظالمانو فاسقانو پسے مونځونه كول او بل طرفته دا اصلِ اصيل هم موجود دے چه هر هغه څوك چه د هغه خپل ځان دپاره مونځ صحيح كيږى نو د بل دَپاره ئے هم مونځ صحيح كيږى او ددے اصل نه بل طرفته نقل كيدل دليل غواړى او هغه نشته هان ! مسلمانانو باندے واجب دى چه په وقت د قدرت كښې ځان دپاره غوره امام اونيسى لكه

دارقطني د ابن عباس مرفوعاً روايت ذكر كړيدے : اجعلوا ائمتكم خياركم فانه وفدكم فيما بينكم وبين ربكم وفي اسناده سلام بن سليمان المدائني وهو ضعيف الى آخره۔

باب فضائل الصلوة

د مانځه د فضائلو بيان

داسے باب په ابتداء د كتاب الصلاة كښ هم تير شويدے هلته مونږ وئيلي دي چه د هر كتاب لاندے باب پټ وي او هغه باب فضائل الصلوة والترغيب فيها دے او دلته بيا صراحةً دا باب ذكر كوي، فرق د دواړو دا دے چه مخكښ فضائل د مطلق مانځه وو برا بره خبره ده كه فرض وي كه سنت او كه نفل وغيره او دلته فضائل د فرض مانځه بيانوي او داباب په بعضے نسخو د مشكوة كښ راغلے دے او بعضے نسخو كښ باب فضل الصلوات في مواقيتها دے او په بعضو كښے صرف (باب) دے۔

مناسبت : مخكښے اوقات د مونځونو بيان شو نو اوس وائي چه هركله د مانځه وقت را ورسيدو نو ښه په توجه او كولاؤ زړه سره مونځ اداء كړه ځكه چه دا مونځونه انسان ته داسے فوائد وركوي د جهنم نه ئے خلاصوي، كوم چه مقصود د انسان دے او د شريعت دا اصول دي چه د هر عمل د اداء كولو نه مخكښ هغے طرفته ترغيب وركوي د هغے فضائل بيانوي، دے دپاره چه د هغے كول آسان شي او مؤمن هغے ته په مينه سره راپورته شي او خپل حقيقي رب رضا كړي، د كوم د رضا كولو دپاره چه دده پيدائش شويدے چونكه مونځ د اسلام په اعمالو كښ ډير اهميت لري لهذا شريعت هم ډير زيات او په مختلف انداز سره ددے فضائل او مسائل بيان كړيدي۔

الفصل الاول - اول فصل

۱- عَنْ عُمَارَةَ بْنِ رُوَيْبَةَ رضي الله عنه، قَالَ : سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ يَقُوْلُ : لَنْ يَلِجَ النَّارَ اَحَدٌ صَلّٰى قَبْلَ طُلُوْعِ الشَّمْسِ، وَقَبْلَ غُرُوْبِهَا . يَعْنِي الْفَجْرَ وَالْعَصْرَ . رَوَاهُ مُسْلِمٌ .

ترجمه: عماره بن رويبه رضی الله عنه وائی چه ما د رسول الله ﷺ نه واوريدل چه فرمائيل ئے: چا چه د نمر د ختلو او نمر ډوبيدو نه مخکښے (دوه مونځونه) يعنی د صبا او مازيگر مونځونه اوکړل نو هغه به هرگز دوزخ ته نه داخليږی ـ (مسلم) ـ

د عماره ﷺ تعارف:

عماره (بضم العين وتخفيف الميم) بن رويبه د بنو ثقيف قبيلے نه دے، ابوزهيرئے کنيه ده صحابی دے او کوفه کښ اوسيدو نهه احاديث ترے نقل دی او د اويايم (۷۰) هجری نه پس وفات شويدے ـ

تشريح: لَنْ يَّلِجَ النَّارَ اَحَدٌ صَلّٰی قَبْلَ طُلُوْعِ الشَّمْسِ: يلج د ولوج نه ماخوذ دے د باب د ضرب نه په معنی د دخول سره مطلب د حديث دا دے چه څوك د فجر او عصر مونځ هميشه کوی نو دا انسان به جهنم ته بالکل نه داخليږی ـ

په ظاهر کښ د حديث نه معلوميږی چه ددے مونځونو په اداء کولو سره انسان باندے جهنم حرام دے ليکن مخکښ تير شويدی چه داسے قسم احاديثو سره دا قيد مراد وی چه ان لم يمنع مانع يعنی ددے دوه مونځونو د اداء کولو اثر دا دے چه انسان باندے اور حراموی، کله چه نور گناهونه شرك وغيره نه وی او که چرته مانع موجود وی لکه انسان مشرك وی يا کبيره گناهونه کونکے وی يا حقوق العباد ضائع کونکے وی نو پدے وقت کښ به دا اور ته داخل شی خو بيا به هميشه نه پاتے کيږی (په ماسوئ د شرك کښ) نو بيا به د حديث معنی دا وی چه لن يلج النار علیٰ طريق التابيد يعنی د هميشوالی په طريقه به اورته نه داخليږی او که د گناهونو په وجه اورته داخل شی نو دا به صرف څه وقت دپاره وی، بيرته به راوځی کله چه مشرك نه وی، او که چرته ددے مونځونو سره نور گناهونه نه وی او انسان موحد وی نو بيا به ورته بالکليه (هيچرے) نه داخليږی نو بيا دے دوه مونځونو کښ دا طاقت دے چه انسان جنت ته داخلوی او هميشه دپاره اور پرے حراموی ـ

يا دا چه دے مونځونو کښ دا طاقت دے چه کله په سنت طريقه اداء کړے شی نو کبيره گناهونه هم ورسره معاف کيږی لکه چه دا د محققين علماؤ مذهب دے چه کله نا کله په بعض عباداتو سره کبيره گناهونه هم معاف کيږی وفضل الله واسع لکه ددے تحقيق په کتاب الطهارة فصل اول کښ تير شويدے ـ

بيا ئے دلته د دوه مونځونو تخصيص ولے اوکړو؟ نو ددے يوه (۱) – وجه دا ده چه په

ابتداء زمانه کښې صرف دغه دوه مونځونه فرض وو او وروستو پنځه کړے شو نو پدے سره نفی د نورو مونځونو نه راځی۔

۲– بلـه وجه دا ده چه دا مونځونه گران دی او ددے په اداء کولو کښې مشقت دے ځکه چه د سحر وقت د خوب وقت دے انسان ته د هرڅه نه خوب ډیره مزه ورکوی او پدے وقت کښې مانځه ته پاځیدل په نفس باندے ډیر مشقت لگی په نسبت د نورو وقتونو۔ او د مازیگر وقت په تجارت وغیره باندے د مشغولیت وقت دے، اکثر کارو بارونه پدے وقت کښې گرم شی ځکه چه هر انسان خپل کور ته واپس کیږی کارونه راغونډوی، بیع، شراء پکښې زیاته وی نو کله چه تجارت او کاروبار پریدی او په سحر کښې خپله بستره او آرام پریدی معلومیږی چه ددے انسان په زړه کښې ایمان دے او کله چه دا گران مونځونه کوی نو د نورو مونځونو محافظت خو به ضرور کوی چه په هغے کښې دومره مشقت او مشغولیت هم نه وی۔

(۳) – یا دا چه دے دواړه وقتونو ته ملائك حاضریږی او بیا د انسانانو اعمال پدے دواړه وقتونو کښې الله تعالی ته پورته کوی نو څوك چه پدے دوه مونځونو مداومت او همیشوالے کوی نو مناسب ده چه دا ډ بالکل اورته داخل شی ځکه دده ټول گناهونه معاف شویدی۔

(٤) – بعض وائی : دا دواړه ئے ځکه خاص کړل چه ډیر عزتمند جنتیان هغه دی چه د الله تعالی خکلی مخ ته به صبا او بیگاه گوری لکه حدیث د ترمذی کښې د ابن عمرؓ په مرفوع روایت کښې دی : انکم سترون ربکم کما ترون هذا القمر لا تضامون فی رؤیته فان استطعتم ان لا تغلبوا علی صلاة قبل طلوع الشمس وقبل غروبها فافعلوا الخ دا حدیث دلیل دے چه څوك ددے دوه مونځونو حفاظت کوی نو امید دے چه هغه ته به د الله تعالی د مخ رؤیت حاصل شی۔

۲– وَعَنْ اَبِیْ مُوْسٰی رضی الله عنه، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : مَنْ صَلَّی الْبَرْدَیْنِ دَخَلَ الْجَنَّةَ . مُتَّفَقٌ عَلَیْهِ .

ترجمه : او ابو موسی رضی الله عنه فرمائی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل : چا چه دیخ وقت دواړه مونځونه (صبا او ماسخوتن) کول نو هغه به جنت ته داخلیږی۔ (بخاری ومسلم)۔

تشریح : مَنْ صَلَّی الْبَرْدَیْنِ دَخَلَ الْجَنَّةَ : یعنی چا چه دوه یخ مونځونه اداء کړل

جنت تہ بہ داخلیږی دیخ مونځونو نہ مراد فجر او عصر مونځونہ دی کما قال البغوی ۔ ځکہ چہ دا دواړہ پہ طرفونو د ورځ کښ دی ۔

امام خطابی وائی : بردین ورتہ ځکہ وائی چہ (لانهما تصلیان فی بردی النهار وهما طرفاه حین یقلب الهواء وتذهب سورة الحر، انتهیٰ) دا دواړہ پہ بردین یعنی طرفونو د ورځ کښ اداء کولے شی کلہ چہ هواء بدلہ شی او جوش د گرمئ ختم شی ۔

د نبی علیہ السلام مقصود دا نہ دے چہ صرف دا دوہ مونځونہ ځوك اوکړی نو جنت تہ بہ ځی اگرکہ باقی مونځونہ ضائع کوی بلکہ مقصد دا دے چہ ددے دوہ مونځونو بہ ډیر اهتمام کولے شی ځکہ چہ دا دوہ مونځونہ پہ داسے اوقاتو کښ اداء کولے شی چہ پہ هغے کښ موانع اومشاغل زیات وی نو کلہ چہ انسان ددے اهتمام اوکړی نو باقی مونځونہ بہ ورتہ آسان وی ۔

دَخَلَ الْجَنَّةَ : دا جواب د شرط دے او د مضارع پہ ځائے ئے ماضی استعمال کړہ اصل دا دہ چہ داسے اووائی : یدخل الجنه ځکہ جنت تہ داخلیدل خو بہ آیندہ زمانہ کښ پس د مرگ نہ موجودیږی خو لیکن پدے کښ اشارہ دہ تاکید تہ چہ ددہ جنت تہ داخلیدل داسے یقینی دی گویا کښ دا د مخکښ نہ داخل شویدے ۔

۳- وَعَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ ﷺ، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : یَتَعَاقَبُوْنَ فِیْکُمْ مَلَائِکَةٌ بِاللَّیْلِ وَمَلَائِکَةٌ بِالنَّهَارِ، وَیَجْتَمِعُوْنَ فِیْ صَلَاةِ الْفَجْرِ وَصَلَاةِ الْعَصْرِ، ثُمَّ یَعْرُجُ الَّذِیْنَ بَاتُوْا فِیْکُمْ، فَیَسْأَلُهُمْ رَبُّهُمْ - وَهُوَ اَعْلَمُ بِهِمْ - کَیْفَ تَرَکْتُمْ عِبَادِیْ ؟ فَیَقُوْلُوْنَ : تَرَکْنَاهُمْ وَهُمْ یُصَلُّوْنَ، وَاَتَیْنَاهُمْ وَهُمْ یُصَلُّوْنَ . مُتَّفَقٌ عَلَیْهِ .

ترجمہ : او ابو هریرہ رضی الله عنہ فرمائی چہ رسول الله ﷺ فرمائیلی دی : تاسو تہ (د آسمان نہ) ملائك د شپے او ورځے ځی راځی (چہ هغوی ستاسو اعمال لیکی او د الله دربار تہ ئے رسوی) او د سحر او مازیگر پہ مانځہ کښے تول جمع کیږی بیا کوم ملائك چہ تاسو سرہ اوسیږی هغوی (چہ کلہ) آسمان تہ خیژی نو الله تعالی د بندگانو پہ احوالو د پوهیدو باوجود د هغوی نہ (د بندگانو د احوال او اعمالو) تپوس کوی چہ تاسو زما بندگان پہ کوم حالت کښے پریخودلی دی ؟ هغوی عرض کوی اے الله مونږ ستا بندگانو

لره د مانځه په کولو حالت کښې پريخودلي دي او کله چه مونږ د هغوي خواته ورغلي وو نو په هغه وقت کښې هم هغوي مونځ کولو۔ (بخاري ومسلم)۔

تشريح : يَتَعَاقَبُوْنَ فِيْكُمْ : د حديث مطلب دا دے چه د بندګانو د اعمالو د ليکلو او بيا د هغے الله تعالى ته د رسولو دپاره دوه جماعته د ملائکو د انسانانو سره اوسيږي، يو جماعت د ورځے اعمال ليکي او بيا د مازيګر نه روستو آسمان ته خيژي او الله تعالى ته رپورټ پيش کوي او دويم جماعت د شپے اعمال ليکي او د سحر مانځه نه پس خيژي او د بندګانو د شپے اعمال الله تعالى ته پيش کوي او په شپه او ورځ کښې دا دواړه جماعتونه د مازيګر او سحر په مانځه کښې راجمع کيږي د ورځے ملائك د سحر مانځه سره راکوز شي او د مازيګر مانځه سره ئے ډيوټي ختمه شي او د شپے ملائك د مازيګر مانځه نه پس ډيوټي شروع شي او په سحر مانځه باندے ئے ختمه شي، الله تعالى ته چه کله حاضر شي نو الله تعالى ترے تپوس کوي حالانکه الله تعالى عالم الغيب دے ذره ذره باندے د هغه علم محيط دے د زمکے او آسمان والو په هر عمل باندے خبر دار دے ليکن بيا هم تپوس کوي چه تاسو زما بندګان په کوم حالت کښې پريخودل ؟۔

ددے تپوس مقصد دا دے چه ملائکو ته د بندګانو د فضيلت او عظمت اظهار کوي او د بندګانو په پيدا کولو کښې ورته حکمت ښائي ځکه ملائکو په حالت د پيدا کولو د انسانانو کښې وئيلي وو چه اے الله ! ته ولے آدم پيدا کوے او دوي به فسادونه کوي په زمکه کښې نو الله تعالى د هغوي نه دا تپوس کوي او دا ورته ښائي چه اوګورئ ! تاسو چه د کوم مخلوق په باره کښې دا خيال وُو چه دوي به فسادونه کوي او وينے به تويه وي نو اوس تاسو اوليدل دوي څنګه زما په عبادت کښې په شوق سره مشغول دي نو غرض د حديث دا شو چه نبي عليه السلام مسلمانانو ته ترغيب ورکوي چه دے دواړه وقتونو کښې هميشه د مونځ پابندي اوکړئ چه ملائك د الله تعالى په دربار کښې ستاسو نيك اعمال پيش کړي او الله تعالى ستاسو فضيلت او عظمت ملائکو ته ظاهر کړي۔

قاضي عياضؒ فرمائي : ملائکو نه دا تپوس ځکه کوي چه دا د هغوي عبادت دے نو په سبيل د تعبد باندے د هغوي نه خپل مسئوليت غواړي لکه څنګه چه هغوي ته دا حکم شويدے چه د بندګانو اعمال اوليکي نو دغه شان د دوباره تپوس کولو باندے هم مامور دي اګرکه الله تعالى ته هر څه معلوم دي۔

فوائد الالفاظ : ۱– يَتَعَاقَبُوْنَ : تعاقب معنى ده يو بل پسے روستو راتلل يعني

ملائك نمبر په نمبر په يو بل پسے راځي ۔
مَلَائِكَةٌ : فاعل د يتعاقبون دے او دا لغت د بلحارث قبيلے دے او دا مذهب د اخفش دے چه كله كله فاعل تثنيه او جمع وى نو فعل ورته هم تثنيه او جمع راوړى او ددے په باره په كلام د عربو كښ ډير مثالو نه شته لكه ﴿ وَاَسَرُّوا النَّجْوَى الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا ﴾ دلته الذين ظلموا فاعل د اسروا دے او (اكلوني البراغيث) دلته البراغيث فاعل د اكلوني دے يا لكه : ذئرن النساء او د جمهورو په مذهب كله چه اسناد د فعل او شبه فعل اوشى فاعل اسم ظاهر ته نو هميشه به فعل واحد راوړے شى ۔
نو د هغوى په مذهب دلته فاعل ضمير مستتر دے په يتعاقبون كښ او ملائكه بدل دے د هغه ضمير نه اصل كښ داسے وو (ملائكة يتعاقبون) او په بدليت كښ تاكيد مقصود دے ځكه چه اول اوونيل شو په تاسو كښ نمبر په نمبر راځي نو سوال پيدا شو چه څوك راځي ؟ جواب اوشو چه ملائكه يعنى ملائك ۔ نو خبره اوقع فى الذهن شوه ۔
بعضے وائى : ملائكة مبتداء مؤخره ده او يتعاقبون خبر مقدم دے ليكن اول قول راجح دے ۔ امام قرطبیؒ وائى : (هذه لغة فاشية) يعنى دا د بلحارث قول په عربى ژبه كښ ډير استعمال دے او تاويل ته ضرورت نشته ۔
د ملائكو نه څه مراد دے ؟ (۱) – اكثر علماء وائى : دا حفظه ملائك دى (۲) – علامه قرطبیؒ وائى : الاظهر عندى انهم غيرهم ۔ يعنى ظاهره دا ده چه دا نور ملائك دى سيوا د حفظه نه، حافظؒ فرمائى : دا خبره قوى ده ځكه چه دا هيچرته ندى نقل چه حفظه ملائك د بنده نه جدا كيږى، او دا خبره هم نده ثابته چه د شپے حفظه د ورځے د حفظه نه غير دى، بلكه دا چه كه دا حفظه ملائك وے نو بيا به ئے دوئ نه د ترك د حالت په باره كښ تپوس كولو باندے اكتفاء نه كولے په دے قول سره چه كيف تركتم عبادى ؟ انتهىٰ ۔
بيا ئے په دواړه ځايونو كښ (ملائكه) نكره راوړه پدے كښ اشاره ده چه اول ملائك غير دى د دويم نه ځكه چه دا قانون دے چه النكرة اذا اعيدت ثانيا كان الثانى غير الاول، كما فى قوله تعالى غُدُوُّهَا شَهْرٌ وَرَوَاحُهَا شَهْرٌ : ۳۴– ۱۲)
وَيَجْتَمِعُوْنَ فِىْ صَلَاةِ الْفَجْرِ: يعنى د صبا او مازيگر مانځه په اوقاتو كښ راجمع كيږى ۔
سوال : مخكښ اووئيل شو چه يو بل پسے راځي، نمبر په نمبر راځي او دلته وائى چه دواړه راجمع كيږى او يو بل پسے راتلل خو منافى دى د راجمع كيدلو ؟ ۔

الجواب : د قاعدې په شكل دا خبره زده كړه چه تعاقب (يو بل پسې راتلل) دوه قسمه دی (۱) – يو هغه تعاقب دې چه يو ختم شي او روستو بل راشي او د دواړو په يو ځائے جمع كيدل ناممكن وی لكه تعاقب الضدين (ورځ او شپه د يو بل پسې راځي او دواړه نشي جمع كيدې) ۔(۲) – دويم هغه تعاقب دې چه يو بل پسې راتلل وی خو اجتماع ورسره ناممكن نه وی، اجتماع د دواړو كيدې شي لكه دلته د دواړه قسمو ملائكو جمع كيدل هم كيدې شي او روستو بيا د يو بل نه جدا كيدل هم كيدې شي ـ

بيا د الله تعالى دې نعمت او احسان ته اوګوره چه دا ملائك د عبادت په اوقاتو كښ راجمع كوی په تګ او راتګ كښ پدې كښ الله تعالى په مؤمنانو باندې ډير رحم كړيدې ځكه چه ملائك د الله تعالى په دربار كښ د هغوی ښائسته تذكره كوی او په هغوی باندې په ښائسته صفت سره شهادت كوی او كه چرې دا ملائك ئې د مؤمنانو د خواهشاتو او شهواتو په اوقاتو كښ راجمع كولے يا په حالت د غفلت د هغوی كښ نو دا به بده ګواهی وې په هغوی باندې ـ فللّٰه الحمد والمنة ـ

اَلَّذِيْنَ بَاتُوْا فِيْكُمْ : ذكر د بيتوتت (شپې تيرولو) دې او مراد ترينه اقامت (پاتې كيدل) دی او دا ځكه مراد كوو چه سوال عام شي دواړه قسمه ملائكو ته نو د ورځې ملائكو نه هم تپوس كوی او د شپې ملائكو نه هم تپوس كوی او دليل پدې باندې روايت د نسائی دې چه په هغې كښ داسې لفظ دې (الذين كانوا فيكم) نو هره ډله چه آسمان ته خيژی الله تعالى ترې تپوس كوی ـ نو د فيسألهم نه مراد به دا وی ای فيسأل كلاً من الطائفتين فی الوقت الذی يصعد فيه ـ لكه چه دا په روايت د ابن خزيمه كښ مرفوعاً ثابت دی چه د هرې طائفې د ملائكو نه تپوس كوی ـ

كَيْفَ تَرَكْتُمْ عِبَادِيْ ؟ : د آخری عمل تپوس ترې كوی ځكه چه دار مدار د اعمالو په خاتمه باندې دې نو د دوی د عمل خاتمه څنګه اوشوه ؟ ـ

تَرَكْنَاهُمْ وَهُمْ يُصَلُّوْنَ، وَاَتَيْنَاهُمْ وَهُمْ يُصَلُّوْنَ : ملائكو دلته د ترتيب وجودی لحاظ او نه ساتلو ځكه چه دوی ترك مخكښ ذكر كړو سره ددينه چه اتيان د دوی مخكښ دې په ترك د دوی باندې، ددې حكمت دا دې چه دوی جواب د سوال سره مطابق كړو چه سوال كښ ترك مخكښ شو نو دوئ په جواب كښ هم تركنا هم مخكښ ذكر كړو ـ دارنګه دار مدار د اعمالو په خاتمه دې او خاتمه د دوی په مونځ اوشوه نو ځكه ئې آخری عمل مخكښ ذكر كړو د مخكني اعمالو نه ـ

وَهُمْ يُصَلُّوْنَ : يعنى مونږ دوئ لره په داسے حال كښ پريخودل چه مونځونه ئے كول. ددے نه ظاهر كښ دا معلوميږى چه ١- ملائك د انسانانو نه د مازيگر مونځ شروع كولو وقت كښ جدا كيږى برابره ده مونځ پوره شوے وى او كه د څه مانع په وجه نه وى پوره شوے، دارنگه تولو انسانانو په مانځه شروع كړے وى او كه نه دمانځه په انتظار كښ وى ځكه چه د مانځه انتظار هم حكم د مانځه لرى.

٢- دويم احتمال دا هم شته چه د وهم يصلون معنى دا وى (ينتظرون المغرب) يعنى تولو مونځونه كړيدى او د ماښام په انتظار كښ دى.

٣- علامه ابن التينؒ وائى : وهم يصلون كښ واو حاليه دے يعنى مونږ پداسے حالت كښ پريخودل چه مونځونه ئے كول. ددے وجه نه دا نه لازميږى چه ملائك د هغوى سره په مانځه كښ ندى حاضر شوى او مخكښ د مانځه د ختميدو نه ترے ملائك جدا شى ځكه چه حديث پدے گواه دے چه ملائك ورسره په مانځه كښ شريك كيږى او د مانځه نه پس واپس كيږى نو دا حالت محمول دے په دے باندے چه ملائك د هغه خلقو سره مانځه ته حاضر شويدى چه په اول وقت كښ ئے مونځ كړيدے. او دارنگه هغه خلقو سره هم حاضر شويدى څوك چه په مانځه كښ داخل شويدى او هغه څوك چه د مانځه په اسبابو كښ ئے شروع كړے وى يعنى مونږ په داسے اعمالو كښ پريخودل چه مونځونه ئے كړى وو او څوك پكښے شروع وو او چائے تيارے كولو.

سوال : د ملائكو نه د ترك د كيفيت تپوس شوے وو چه په كوم حالت كښ تاسو زما بندگان پريخودل نو دوئ (اتيناهم) لفظ ولے ذكر كړو پدے كښ څه فائده ده ؟.

الجواب : ملائكو زيادت اوكړو په جواب كښ ځكه چه دوى ته دا پته اولگيده چه پدے تپوس كښ غرض په بنى آدمو باندے د الله تعالى احسان كول دى نو په جواب كښ ئے زيادت اوكړو چه د مونځ كونكو فضيلت ښكاره كړى چه دوئ مستحق د احسان دى او ملائك دا حرص كوى چه الله تعالى بندگانو ته مغفرت اوكړى لكه دا د هغوى وظيفه ده چه مومنانو ته دعاگانے كوى ﴿وَيَسْتَغْفِرُوْنَ لِلَّذِيْنَ آمَنُوْا رَبَّنَا وَسِعْتَ كُلَّ شَيْءٍ رَحْمَةً وَعِلْماً فَاغْفِرْ لِلَّذِيْنَ تَابُوْا وَاتَّبَعُوْا سَبِيْلَكَ﴾، [سورة فصلت : ٧].

په صحيح ابن خزيمه كښ ددے حديث په آخر كښ ورسره دا الفاظ راغلى دى : فاغفر لهم يوم الدين. يعنى اے الله ! هر كله چه دوئ داسے نيك اعمال كوى نو دوئ ته د قيامت په ورځ مغفرت اوكړه !.

فوائد الحديث : (۱) - ددې حدیث نه دا مستفاد شوه چه مونځ په ټولو عباداتو کښې اعلیٰ عبادت دې ځکه چه صرف ددې متعلق سوال او جواب د ملائکو سره اوشو -
(۲) - د صبا او مازیگر مونځونه ډیر لوئی فضیلت او شرافت والا دی ځکه چه د ملائکو دواړه ډلې پدې کښې جمع کیږی او په نورو مونځونو کښې صرف یوه ډله شریکه وی - (۳) - دارنګه د سحر او مازیگر وقتونو شرافت او بهتری ترې هم معلومه شوه لکه چه حدیث کښې راغلی دی چه د سحر مانځه نه پس رزق تقسیمیږی او په آخر د ورځ کښې الله تعالى ته عملونه پورته کیږی نو څوك چه پدې دواړو وقتونو کښې د الله تعالى په طاعت کښې مشغول وی نو د هغه په رزق او عمل کښې به برکت اچولې شی، ددې وجه نه ددې دواړو مونځونو په محافظت او اهتمام باندې خصوصی امر راغلی دې، کله نا کله بعض عملونه انسان نور اعمالو طرفته راکاږی لکه د سحر او مایگر مونځ کولو سره انسان ته د نورو مونځونو او طاعتونو توفیق ملاویږی -
(٤) - دارنګه پدې مونځونو باندې د محافظت او اهتمام کولو امر چه راغلی دې د هغې حکمت ترې معلوم شو چه دا عظیم الشان مونځونه دی ځکه پرې شریعت خصوصی حکم اوکړو -
(٥) - پدې حدیث کښې ددې امت شرافت ذکر دې په نورو امتونو، چه دوئ ته الله تعالى د عباداتو بهترین اوقات ورنصیب کړیدی، او په خاص اوقاتو کښې ددې امت نیك اعمال الله تعالى طرفته خیژی او الله تعالى په هغې باندې فخر کوی -
(٦) - نو شرافت د رسول الله ﷺ ترې هم معلوم شو چه غوره نبی دې ځکه ئې امت غوره دې -
(٧) - پدې کښې اخبار بالغیب دې چه رسول الله ﷺ مونږ ته په وحی سره دا خبر راکوی چه د سحر او مازیگر په مانځه کښې ملائك شریك کیږی او د انسانانو اعمال پورته خیژوی (۸) - دارنګه پدې کښې مونږ ته دا خبر راکړې شو چه تاسو پدې اوقات کښې ځان ویښ کړئ او د اوامرو او نواهی حفاظت اوکړئ - (۹) - دارنګه پدې اوقاتو کښې د الله تعالى د استاذی (ملائکو) په راتلو باندې او بیا الله تعالى چه خالق د کائناتو دې زمونږ د اعمالو تپوس کوی نو پدې سره خوشحالی اوکړئ -
(۱۰) - پدې کښې مونږ ته دا خبر راکړې شو چه ملائك تاسو سره محبت کوی نو تاسو هم ورسره محبت اوکړئ چه ددې په سبب الله تعالى ته نزدې شئ - (۱۱) - پدې

کښې د الله تعالی صفت د کلام د ملائکو سره ذکر دے، رد دے په معتزله او اشاعره او ماتریدیه باندے چه د الله تعالی کلام لفظی نه منی ۔ فتح الباری (۲/ ۵۰) بتغیر یسیر ۔

(۱۲) – پدے کښې د الله تعالی فوقیت ثابت شو چه الله تعالی په اعتبار د ذات سره د ټولو کائناتو دپاسه په عرش دے ۔ (۱۳) – د انسانانو د اعمالو سره الله تعالی محبت زیات ساتی د ملائکو د عبادت نه ځکه چه انسانان پیران د شهواتو خلاف کوی او ملائکو کښې شهوات او خواهشات نشته ۔ نو پدے عبادت کښې مشقت او مجاهده وی او کوم عبادت چه په مجاهده سره اوشی هغے سره الله تعالی زیاته مینه کوی ۔

---

٤ – وَعَنْ جُنْدُبِ الْقَسْرِيِّ ﷺ، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : مَنْ صَلّٰى صَلَاةَ الصُّبْحِ، فَهُوَ فِيْ ذِمَّةِ اللهِ، فَلَا يَطْلُبَنَّكُمُ اللهُ مِنْ ذِمَّتِهٖ بِشَيْئٍ، فَإِنَّهٗ مَنْ يَطْلُبْهُ مِنْ ذِمَّتِهٖ بِشَيْءٍ يُدْرِكْهُ ثُمَّ يَكُبُّهٗ عَلٰى وَجْهِهٖ فِيْ نَارِ جَهَنَّمَ . رَوَاهُ مُسْلِمٌ . وَفِيْ بَعْضِ نُسَخِ الْمَصَابِيْحِ : الْقُشَيْرِيُّ، بَدَلَ الْقَسْرِيِّ .

ترجمه : او د جندب قسری رضی الله عنه نه روایت دے فرمائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی : چا د سحر مونځ اوکړو هغه (په دنیا او آخرت کښې) د الله تعالی په عهد او امان کښې دے لهذا داسے دے او نه شی چه الله تعالی ستاسو نه د خپل دے عهد څه مطالبه اوکړی ځکه چا نه چه هغه د خپل عهد او امان مطالبه اوکړه نو (ددے نتیجه به دا شی چه) هغه به راونیسی او د دوزخ په اور کښې به ئے پړمخے وارتوی ۔ (مسلم) او د مصابیح په بعض نسخو کښې د قسری په ځائے قشیری دے ۔

د جندب القسری ﷺ تعارف :

دا جُندب بن عبد الله بن سفیان البجلی ثم العلقی دده کنیه ابو عبد الله ده کله نیکه ته منسوب کیږی صحابی دے د (۶۰) سنه هجری نه روستو وفات شویدے ۔

اَلْقَسْرِی : د قاف فتحه او د دال سکون دے بعض نسخو کښې قُشْری دے خو هغه غلط دے، کذا فی الطیبی ۔ امام نوویؒ فرمائی بعض علماؤ توقف کړیدے پدے کښې چه جندب ته قسری اووائی ځکه چه جندب د بنی قسر نه ندے بلکه دا بجلی علقی دے علقه وروکے خاندان دے په بجیله قبیله کښې او قسر ورور دے د علقه ۔ قاضی عیاض وائی : کیدے شی

چه د جندب په بنی قسر کښې حلق وی یا سکونت وی یا ګاونډی توب وی نو ځکه ئے قسر ته نسبت شویدے یا دا چه بنی علقه خپلو ترونو ځامنو (قسر) ته منسوب شویدی لکه د داسے ډیرو قبائلو د خپلو ترونو ځامنو ته نسبت کیدے شی د وجے د کثرت د هغوی نه، یا هغوی مشهور وی، انتهیٰ مرعاة (۲/۳۳۳) ۔

تشریح : مَنْ صَلّٰى صَلَاةَ الصُّبْحِ، فَهُوَ فِيْ ذِمَّةِ اللهِ : مطلب دا دے چا چه د سحر مونځ اوکړو نو دا د الله تعالی په امن او امان کښې شو، الله تعالی دده ضامن شو چه ده ته به څوك ضرر او تکلیف نه ورکوی، لهذا مسلمانانو لره پکار دی چه دے شخص سره بدسلوکی اونکړی، دا قتل نکړی دده مال غصب نکړی، دده غیبت اونکړی دده عزت وانخلی او چا چه دده سره دا قسم بدسلوکی او بدکار اوکړو یا ئے د هغه سره داسے رویه اختیار کړه چه د هغه مال او بدن او عزت ته نقصان اورسی، نو ددے مطلب به دا جوړیږی چه ګویا کښې ده د الله تعالی په امان او ضمانت کښې خلل واقع کړو لهذا داسے مجرم شخص به الله تعالی سخت رانیسی او الله تعالی چه چا لره را اونیولو نو د هغه بیا د نجات او خلاصی هیڅ ذریعه نشته، الله تعالی به ئے التبه اور ته ګذار کړی (نعوذ بالله من هذا) ۔

۲- یا ذمة الله د الله تعالی د امان او ذمه داری نه مراد مونځ دے، یعنی چا چه د صبا مونځ اوکړو نو دے انسان سره الله تعالی په دنیا او آخرت کښې د امن ورکولو وعده کړیده لهذا مسلمانانو لره پکار دی چه د صبا مونځ هرګز قضاء نکړی ځکه بیا به ددے بنده او د الله تعالی په مابین کښې لوظ مات شی او ددے په نتیجه کښې به الله تعالی ددے بنده مواخذه کوی او بیا د هغه د مواخذے نه څوك ځان بچ کولے شی ؟ ۔

فَلَا يَطْلُبَنَّكُمُ اللهُ : د طلب نه مراد مؤاخذه ده ای لایؤاخذکم یعنی الله تعالی ډ تاسو لره را اونه نیسی د وجے د ذمه واریٔ خپلے نه ۔یا طلب په خپله معنی دے ۔

مِنْ ذِمَّتِهٖ : دا من اجلیه دے او ضمیر یا راجع دے الله تعالی ته او یا راجع دے من ته او مضاف محذوف دے ای لاجل ترك ذمته ۔

بِشَيْءٍ : کښې تنوین د تحقیق او تقلیل دپاره دے ای بشیٔ یسیر یعنی معمولی شے ډے هم الله تعالی ستاسو نه طلب نکړی او په هغه ډے ستاسو مؤاخذه اونکړی ۔

يُدْرِكْهُ : دا مجزوم دے جزاء د من یطلبه ده نو دواړه مجزوم دی ۔

ثُمَّ يَكُبَّهٗ : دا یا مرفوع دے خبر د مبتداء (هو) دے ای ثم هو یکبه ۔ یا مفتوح دے عطف دے په یدرکه باندے معنی د عبارت دا ده چه هغه څوك چه الله تعالی هغه لره د خپلے ذمه

وارئ په وجه طلب کړی نو هغه به راونيسي او بيا به ئے الته د دوزخ اور ته ګذار کړی ۔
علامه طيبیؒ وائی : د سحر مونځ ئے خاص کړو ځکه پدے کښ مشقت او تکليف زيات دے نو ددے اداء کول علامه د اخلاص او د ايمان ده او څوك چه مخلص وی نو دا به د الله تعالی په ذمه وارئ کښ وی ۔

٥- وَعَنْ اَبِیْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : لَوْ يَعْلَمُ النَّاسُ مَا فِي النِّدَاءِ وَالصَّفِّ الْاَوَّلِ، ثُمَّ لَمْ يَجِدُوْا اِلَّا اَنْ يَسْتَهِمُوْا عَلَيْهِ، لَا سْتَهَمُوْا، وَلَوْ يَعْلَمُوْنَ مَا فِي التَّهْجِيْرِ، لَا سْتَبَقُوْا اِلَيْهِ، وَلَوْ يَعْلَمُوْنَ مَا فِي الْعَتَمَةِ وَالصُّبْحِ، لَاَتَوْهُمَا وَلَوْ حَبْواً . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ .

ترجمه : او ابو هريره رضی الله عنه فرمائی چه رسول الله ﷺ فرمائيلی دی : که خلقو ته د اذان وئيلو او (په مانځه کښے) په اول صف کښے د اودريدو ثواب معلوم شی او بغير د قرعے اچولو نه هغوی ته دا حاصل نشی نو هغوی به ضرور قرعه اچولے (يعنی که خلق په اذان وئيلو او اول صف کښے اودريدو دپاره خپل مينځ کښے جنګ اوکړی او قرعه اندازی اوکړی چه د چا نوم به راوځی نو دا مناسب ده) او که ماسپښين مانځه ته په جلتیٔ سره د راتلو ثواب ورته معلوم شی نو دے مانځه ته به په منډه راځی او که د ماسخوتن او سحر مونځ فضيلت ورته معلوم شی (نو د طاقت نه لرلو په حالت کښے به دے مونځونو دپاره) په کناتو توليدو سره راتلے ۔ (بخاری ومسلم) ۔

تشريح : يعنی که خلقو ته د اذان په کولو او اول صف کښ د اودريدو اجر معلوم ویے چه پدے بانديے الله تعالی څومره اجر او ثواب او بدله ورکوی او بيا دویٔ څه طريقه د ځان د مخکښ کولو نه موندے سيوا ددے نه چه په هغے بانديے قرعه اندازی اوکړی چه کوم يو به زمونږ نه اذان کوی او څوك به اول صف کښ اودريږی نو دویٔ به ضرور قرعه اندازی کولے او دا قرعه اندازی په هغه صورت کښ کيږی چه ټول خلق ښائسته آواز والا وی او ټولو ته اوقات د مانځه معلوم وی دغه شان ټول خلق په فضيلت کښ برابر وی او د بعضو مخکښ کولو دپاره څه فضيلت نه وی، نو بيا به په اذان کولو او صف اول کښ د مخکښ اودريدو باره کښ قرعه اندازی صورت اختيار وی، نو که داسے حالت ویے نو خلقو به ضرور ددے ثواب او اجر حاصلولو دپاره يو بل سره قرعه اندازی کولے ۔

مَا فِي النِّدَاء : د نداء نه مراد اذان دے کما فی قوله تعالی واذا نودی للصلوة من یوم الجمعة وقوله : واذا نادیتم الی الصلاة اتخذوها هزواً ولعباً (النساء)

ددے لفظ ما چه مفعول د یعلم دے بیان پدے روایت کښ ندے راغلے او په روایت د ابو الشیخ کښ ورسره من الخیر والبرکة ذکر دے یعنی که خلق په هغه خیر او برکت باندے پوهیدلے کوم چه په اذان کښے دے الخ۔

علامه طیبیؒ د هغه روایت چه بیان د لفظِ ما په کښ ندے ذکر داسے فائده بیان کړه چه نبی علیه السلام مفعول د یعلم چه لفظِ ما دے، مطلق ذکر کړو او هغه فضیلت ئے ذکر نکړو چه څه شے دے ؟ پدے کښ یو قسم مبالغه ده چه دا داسے اجر او ثواب او فضیلت دے چه ددے بیان نشی کیدے نو دا ابهام د تفخیم د اجر او فضلیت دپاره دے۔

بیا صف اول څه ته وائی ؟ پدے کښ اختلاف دے بعض وائی امام ته چه نزدے وی دا صف اول دے بعض وائی : چه اقامت کونکی ته نزدے وی هغه صف اول دے علامه قرطبیؒ وائی صحیح خبره اولنئ ده ۔ او ابن عبد البر یو قول دا نقل کړیدے (وهو قوله ایضا) چه صف اول مصداق هغه شخص دے چه مسجد ته وختی راشی برابره چه ده ته په صف اول کښ ځائے ملاؤ شی یا نه شی ځکه کله داسے کیږی چه بعض خلق مسجد ته وختی راشی مخکښ صف کښ کینی لیکن د یو مشر سړی د لحاظ کولو په وجه هغه روستو شی او په دویم صف کښ اودریږی او هغه ته مخکښ ځائے ورکړی نو دا شخص چه روستو شو ده ته د صف اول ثواب ملاویږی ۔ دا هم یوه ښه معنی ده ۔ لیکن د امام بخاری د طرز نه دا معلومیږی چه هغه دا معنی نه معتبروی ځکه چه بیا پدے حدیث کښ د استهام او قرعه اندازئ معنی نه جوړیږی ځکه معنی به دا شی چه څوك د صف اول د فضیلت نه خبر شی نو مسجد ته به وختی راځی او پدے وختی راتللو کښ به قرعه اندازی کوی ولا معنی له فتدبر لکه دا قول د جمهور علماء ددے شخص په باره کښ وائی چه ده ته صرف مسجد ته په وختی راتللو اجر ملاویږی او د صف اول ثواب نه ملاویږی۔

بیا پدے حدیث کښ مسئله د اهداء القرب ده او ایثار بالقرب ده ۔

مسئله : الایثار بالقربات والطاعات :

پدے کښ اختلاف دے چه آیا ایثار بالقرب والطاعات جائز دے او که ندے یعنی د خپلے نیکئ په کار کښ په نورو باندے ایثار کول جائز دی او که نه ؟ ۔ مثلا یو شخص په

اول صف کښې د مخکښې نه ناست دے پدے کښې استاذ یا عالم یا یو مشر سړے راشي نو خپله روستو شي او هغه ته مخکښې ځائے ورکړي نو دا جائز دي او که نه ؟ ۔

۱ – **اول قول** دا دے چه دا کار مکروه دے او دا قول د شوافعو دے ۔ ابن حجرؒ فرمائي :

اهداء القرب بلا عذر مکروه ۔

۲ – **او قول ثاني** دا دے چه دا کار بالکل جائز دے بلکه په بعض اوقاتو کښې به افضل وي او پدے باندے ډیر دلائل دي :

۱ – **دليل** : په آيت کښې دي ﴿ وَيُؤْثِرُوْنَ عَلٰى اَنْفُسِهِمْ وَلَوْ كَانَ بِهِمْ خَصَاصَةٌ ﴾ الآية ۔ دا آيت عام دے شامل دے دنياوي حظوظو کښې بل غوره کولو ته او ديني کارونو کښې بل غوره کولو په ځان باندے دواړو ته شامل دے ۔ اګرکه ابن حجر وئيلي دي چه ددے نه مراد ايثار في حظوظ النفس دے ځکه ولو كان بهم خصاصة ئے ورسره وئيلي دے ۔

۲ – **دويم دليل** : په حديث د صحيح مسلم کښې راغلي دي چه نبي عليه السلام ته پئ راوړے شو هغه اوسکل ښي طرفته اصغر القوم ابن عباس ناست وو او ګس طرفته مشران صحابه ناست وو نبي عليه السلام دے هلك ته اووئيل : ته اجازت کوے چه زه دا دے مشرانو ته ورکړم ؟ هغه اووئيل : نه والله ! نو هغه هلك ته ئے ورکړه ۔

نو اجازت طلب کول دليل دے په مشروعيت د ايثار بالقربت باندے ځکه که دا مکروه وے نو د هغه نه به ئے اجازت نه طلب کولے بلکه دا خو د هغه حق وو او هغه دپاره بهتر وو۔

۳ – **دريم دليل** : حافظ ابن القيمؒ په زاد المعاد (۲/٤٤۲) کښې د ثقيف د وفد په تذکره وائي : ابوبکر صديق مغيره بن شعبه ته قسم ورکړو چه : ما پريده چه زه نبي عليه السلام ته زيرے ورکړم په راتلو د وفد الطائف سره او پدے کښې د ابوبکر صديق کمال محبت او تحبب او تقرب وو نبي عليه السلام ته ۔

نو دا دليل دے چه سړي له جائز دي چه خپل رور مسلمان نه مطالبه اوکړي چه ما پدے قربت او طاعت باندے غوره کړه او د هغه دپاره هم جائز دي چه خپله دغه قربت حاصل نکړي او بل ورمخکښې کړي ۔

٤ – **دليل** : عائشےؓ په خپل ځان باندے عمر فاروق ته غوره والے ورکړو چه د هغے اراده وه چه زه به د نبي عليه السلام په جوار کښې پدے کمره کښې دفن کيږم او دغه ځائے ځان له مقرر کړے وو خو چه کله عمر ترے مطالبه اوکړه نو هغه ته ئے ورکړو نو عائشے د هغه نه دا

مطالبه بده اونه گنړله او نه ئے دا ورکول بد اوګنړل ـ
او د صحابه کرامو سیرت پدے ګواه دے چه هغوی به ددے کار نه منع نکوله او نه به ئے دا کار بد ګنړلو بلکه پدے کار کښې اکرام او سخاء ده په هغه کار چه هغه انسان ته ډیر محبوب وی او د یو ورور مسلمان د خوشحالولو دپاره هغه قربان کړی او د هغه تعظیم او اکرام اوکړی ـ
او کله به ددے کار او خصلت ثواب پدغه قربت باندے زیات وی ممکن ده چه دغه انسان چه د صف اول نه روستو شو نو ده ډیر فضیلت حاصل کړے وی د صف اول د ثواب نه ځکه چه پدے کښې یو خو مسلمان خوشحالول اوشو بل د مسلمان او مشر تعظیم او اکرام اوشو نو پدے کښې انتقال دے د یو قربت نه بل لوئی قربت ته او کمالی صفت ته چه هغه ایثار پیدا کول دی په خپل نفس کښې چه دا د مؤمنانو صفت دے ـ
هاؤ ! که هغه شخص دنیا دار دے یا رئیس دے او ډیرو پیسو والا دے نو د هغه مخکښې کول به د دنیا د وجے نه جائز نه وی او که چرته یو دیندار شخص دے چه همیشه په پابندئ سره مونځ کوی او د صف اول اهتمام کوی لیکن نن د څه عذر په وجه تاخیر سره راغلو نو پداسے صورت کښې په صف اول کښې ځائے ورکول پکار دی ـ انظر التفصیل فی الفتاوی الدین الخالص (۲۳٦/٥) وزاد المعاد (٤٤۲/۲) ـ
اَنْ يَسْتَهِمُوْا : د استهام نه مراد حصه معلومول دی په (سهام) غشو باندے لیکن دلته ترے مراد قرعه اندازی (خخنړے اچول) دی ځکه چه عربو به قرعه اندازی داسے کوله چه په غشو باندے به ئے نومونه اولیکل نو څوك چه به کامیاب شو د هغه غشے به ډك را اوتو ـ
ان مصدریه دے والتقدیر : ای لم یحدوا شیئاً من وجوه الافضلیة الا استهامهم واقتراعهم ـ
عَلَيْهِ : دا ضمیر کل واحد من الاذان والصف الاول ته راجع دے ـ
علامه سندهیؒ دلته دا نکته بیان کړیده چه پدے الفاظو کښې تجهیل دے متساهلینو ته پدے کار کښې یعنی څوك چه پدے فضیلت حاصلولو کښې کوتاهی او سستی کوی، هغوی ئے جاهلان فرض کړیدی چه ګویا کښې دوئ ددے فضیلت او اجر نه خبر نه دی کوم چه په اذان او صف اول کښې دی ولے که خبر وے نو ضرور به ئے د یو بل سره قرعه اندازی کړے وے نو پدے کښې تیزی ده دوی ته چه هر کله پدے کار کښې دومره فائده ده نو بیا تاسو ولے پدے کښې کوتاهی او سستی کوئ، دا خو به ستاسو جهالت وی، چه

دومره عظيم فضيلت نه ځان محروموئ نو دا سوال نه پيدا كيږي چه هر كله دوئ ته نبي عليه السلام خبر وركړو نو هغوى خو پوهه شو او حال دا چه بنه قادر هم وو چه دا فضيلت حاصل كړي بغير د څه قرعه اندازئ نه او بيائے هم نه حاصلوى نو دا خبره څنګه صحيح كيږي چه كه دوئ پدے اجر پوهه شي نو ضرور به خځنړے اچوى ـ

نو ددے دويم جواب دا دے چه يعلم ما نه مراد تفصيلي اجر دے او يا يعلم په معنى د يقين دے او دا ظاهره ده نو د خلقو د يقين د كموالي په وجه خځنړے نه كيږي ـ

فائده : پدے حديث باندے صحابه كرامو عمل هم كړيدے په يوه واقعه كښ راځي چه په جنګ قادسيه كښ كله مؤذن شهيد شو نو د دوه نورو كسانو اختلاف راغلو په اذان كښ يو اووئيل زه به ئے كوم او بل اووئيل زه به ئے كوم سعد بن ابى وقاص د دواړو په مابين كښ قرعه اندازى اوكړه ـ انظر فتاوى الدين الخالص (۳/۳۵۳) وشرح السنة (۲/۸۲) ـ

وَلَوْ يَعْلَمُوْنَ مَا فِي التَّهْجِيْرِ :

د تهجير دوه معانى علماؤ بيان كړيدى : (۱) – امام هرويؒ، نووى، ابن عبد البرؒ وائى تهجير معنى ده : البدار الى الصلاة فى اول وقتها ـ په اول وقت كښ مانځه ته جلتى كول يعنى هر مانځه ته وختى تلل نو پدے كښ فضيلت دے چه انسان هر مانځه ته وختى لاړ شي او د مانځه په انتظار كښ كيني ـ نو دا بيا د هرمانځه سره لګي ـ

(۲) – امام خليلؒ وغيره وائى : دا په ظاهر باندے محمول دے چه مراد ترے د ظهر مانځه ته په اول وقت كښ راتلل دى، ځكه چه تهجير مشتق دے د هاجرے نه او هاجره د نصف النهار شدتِ حرارت ته وائى چه هغه اول وقت د ماسپښين دے او دے قول ته امام بخارى هم ميلان كړيدے ځكه هغه پدے حديث باندے داسے باب ايخودے دے : باب فضل التهجير الى الظهر ـ نو معنى به دا شى چه اول وقت كښ د ماسپښين مانځه دپاره تلل مستحب دى نو دا منافى ندے ددے سره چه په اوړى كښ خو د ظهر مونځ ناوخته مستحب او ژمى كښ په اول وقت كښ ځكه دلته اول وقت كښ تلل او د مانځه په انتظار كښ كيناستل مراد دى او كه اول وقت كښ د ظهر اداء كول مراد شي نو بيا به دا خاص وى د ژمى موسم پورے چه په هغے كښ په ابتداء د وقت كښ د ظهر اداء كول مستحب دى ـ والله اعلم ـ بعض وائى د تهجير نه د جمعے مانځه ته غرمه كښ تلل مراد دى ـ والاول هو الظاهر والله اعلم ـ

لَا سْتَبَقُوْا اِلَيْهِ : يعنى د يو بل نه به ئے مخكښ والے كړے وے، دلته د استباق نه منډے

وهل نـدى مـراد بـلـكـه مانځه ته وختى وتل او د يو بل نه مخكښ د مانځه په انتظار كښ كيناستل مراد دى ـ

وَلَوْ يَعْلَمُوْنَ مَا فِي الْعَتَمَةِ : دا حديث دليل دے چه ماسخوتن ته عتمه وئيل جائز او صحيح دى او روستـو حـديـث د ابن عمر كښ چه منع راغلے ده نو مقصد دا دے چه غلبه دے لفظ تـه ورکـول نـدى پـكـار بـلـكـه عشاء لفظ استعمالول بهتر دى لكه پدے باره كښ اختلاف مع الدليل په فصل اول د باب تعجيل الصلاه كښ تير شو ـ

وَلَوْ حَبْواً : اى ولو كان الاتيان حبواً ـ حبو : په كناتو باندے توليدل او خويدل ـ يعنى كه خلقو ته د ماسخوتن او د سحر مانځه ډير اجر او فضيلت معلوم وے نو كه شل وے يائے خپے پريـكـړے شـوى وے نـو لـكـه د مـاشـومانو په كناتو به توليدلے او سحر او ماسخوتن جمعے ته به ئے ځان حاضرولے، په روايت د ابن ابى شيبه كښ ورسره : ولو حبواً على المرافق والركب ذكـر دے يـعـنـى پـه ګـونـډو او څنګلو به را روان وے او دا فضيلت به ترے نه خطا كيـدلے ـ نـو پـدے حـديـث كـښ ډير ترغيب دے په اذان كولو او اول صف كښ اودريدلو او مانځه ته په وختى تللو او د سحر او ماسخوتن مانځه ته په حاضريدلو ـ

---

٦ - وَعَنْهُ رضي الله عنه ، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : لَيْسَ صَلاَةٌ اَثْقَلَ عَلَى الْمُنَافِقِيْنَ مِنَ الْفَجْرِ وَالْعِشَاءِ، وَلَوْ يَعْلَمُوْنَ مَا فِيْهِمَا لَأَتَوْهُمَا وَلَوْ حَبْوًا . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ .

تـرجـمـه : او ابـو هـريـره رضـى الله عـنـه فـرمـائى : رسول الله ﷺ فرمائيلى دى : په مـنـافـقـانـو باندے د ماسخوتن او سحر نه زيات درونړ بل كوم مونځ نه دے ـ او كه هغوى ددے دواړو د ثواب نه خبر شى نو په كناتو توليدو سره به ورته راځى ـ (بخارى ومسلم) ـ

تشريح : **لَيْسَ صَلاَةٌ اَثْقَلَ عَلَى الْمُنَافِقِيْنَ مِنَ الْفَجْرِ وَالْعِشَاءِ** : دا اثقل اسم تـفـضـيل صيغے نه معلومه شوه چه منافقانو باندے ټول مونځونه مشكل اوګران وى لكه پـه قـرآن كريم كښ د هغوى يو بد صفت دا خودلے شويدے : ﴿ وَإِذَا قَامُوْا إِلَى الصَّلَاةِ قَامُوْا كُسَالَى ﴾ (النساء) - ﴿ وَلَا يَأْتُوْنَ الصَّلَاةَ إِلَّا وَهُمْ كُسَالَى ﴾ (التوبة) دوئ مـانـځـه تـه سست سست راپاځى، زړه كښے ئے نه وى صرف د خلقو د خودلو دپاره ئے كوى ليكن دلته ئے دوه مـونـځـونه سحر او ماسخوتن خصوصا ذكر كړل چه دا پرے ډير ګران وى، وجه دا ده

چه ما سخوتن داسې وقت دې چه پدې کښې خلق آرام او استراحت کوي، خوب شروع کیږي انسان سترې وي، او سحر کښې خوب ډیره مزه کوي او د ژمي په موسم کښې یخني هم زیاته وي دارنګه پدې اوقاتو کښې تیاره هم وي نو انسانان ډیر نشي پیژندلې کیدې، د منافقانو ریاء پکښې نه حاصلیږي نو ددې مونځونو د پریخودلو اسباب زیات دي، پدې وجه ئې په منافقانو باندې ددې دواړه مونځونو ډیر ګرانوالې ذکر کړو نو په حدیث کښې مقصد دا دې چه پدې دواړو مونځونو کښې د منافقانو عادت دا دې چه سستي پکښې کوي نو مخلص مؤمنانو لره پکار دي چه هغوی ددې خصلتونو نه ځان او ساتي، دې دپاره چه د منافقانو سره د مشابهت نه بچ شي، لیکن افسوس ! چه عام مسلمانانو کښې د منافقت دا خوئي راغلې دې چه د سحر په مانځه کښې انتهائي سستي کوي، خوب او خپل خواهشات غوره کوي پدې بهترین مانځه باندې که کوم پلار مانځه ته ځي نو بچې نه راپاڅوي او که پلار ئې راپاڅولو اراده اوکړي نو مورئې ورته وائي چه بچې سترې شویدې ناوخته د کار نه راغلې دې او وختي به کار له ځي نو مه ئې راپاڅوه دا لا څه چه اکثر ځوانه طبقه ددې مصیبت ښکار شویدي چه په لهو او لعب او موبائیل ګیمونو او کیبل په کتلو باندې د عام فرضي مونځونو کولو ته تیار ندي فالی اللّٰه المشتکیٰ من هذه المصیبة العظیمة الشدیدة۔

وَلَوْ يَعْلَمُوْنَ مَا فِيْهِمَا لَاَتَوْهُمَا وَلَوْ حَبْوًا : یعنی که دوی ته ددې مونځونو اجر او فضیلت معلوم شي نو مسجد ته به ضرور راځي ددې د حاصلولو دپاره اګر که په تولیدلو سره ولې نه وي ؟ ۔

فائده بدیعه : ډیر خلق اګر که ددې فضیلت نه خبر دي خو لیکن چه ددې خبرتیا مطابق عمل نکوي نو د جاهلانو پشان به نازولې شي نو پدې کښې تنزیل العالم منزلة الجاهل لعدم جریه علی مقتضی العلم دې (تلخیص المفتاح) نو شریعت ورته وائي چه ته ددې فضیلت نه خبر نه ئې ولې که ته خبر وې نو تا به ددې مطابق عمل کولې هر کله چه ته ددې مطابق عمل نکوې معلومه شوه چه ته خبر نه ئې کما فی الآیة :﴿ وَلَقَدْ عَلِمُوْا لَمَنِ اشْتَرَاهُ ...... لَوْ كَانُوْا يَعْلَمُوْنَ ﴾ ۔

اشکال : دلته یو قوي سوال دې چه دا مونځونه خو په مومن باندې هم ګران وي ځکه چه ماسخوتن کښې انسان سترې وي او په سحر کښې د ګرمې بسترې نه پاڅیدل او خوب پریخودل ډیر مشقت دې نو آیا هغه به هم منافق وي ؟ بیا خو خبره ډیره ګرانه شوه ۔

ددے **جواب** دا دے چه يو دے ثقل او بل دے مشقت، دواړو کښې فرق دے، ثقل تعلق لري د روح سره او مشقت تعلق لري د بدن سره نو په مؤمن باندے پدے مونځونو کښې مشقت وي خو ثقل نه وي، ظاهري بدن باندے ګران وي ليکن د هغه روح خوشحاله وي که څوك ئے راپاڅوي نو هغه ته دعاء هم کوي، او مونځ د الله حکم ګڼړي، دغه شان هر عمل کښې مشقت شته مګر مؤمن ئے په رضاء او خوشحالئ او د الله په محبت سره کوي او هر چه منافق دے نو ذ هغه په روح باندے دا مونځ بوج او ثقل وي ددے وجه نه رسول الله ﷺ حکيم انسان دے داسے لفظ ئے ندے وئيلے چه ليس صلاة اشق على المنافقين الخ بلکه اثقل لفظ ئے وئيلے دے چه په هغے کښې دا فائده ده۔

بل دا چه دے کښې د ولو يعلمون: لفظ دے په معنى د يقين دے او د منافق يقين نه وي نو ځکه نه راځي او مؤمن يقين لري نو ځکه مع المشقة راځي۔

۷- وَعَنْ عُثْمَانَ ﷺ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: مَنْ صَلَّى الْعِشَاءَ فِيْ جَمَاعَةٍ، فَكَأَنَّمَا قَامَ نِصْفَ اللَّيْلِ، وَمَنْ صَلَّى الصُّبْحَ فِيْ جَمَاعَةٍ، فَكَأَنَّمَا صَلَّى اللَّيْلَ كُلَّهُ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: او عثمان غني رضي الله عنه فرمائي: رسول الله ﷺ فرمائيلي دي: چا چه د ماسخوتن مونځ د جمعے سره اوکړو نو ګويا که هغه نيمه شپه اودريدو سره مونځ اوکړو او چا چه د سحر مونځ د جمعے سره اوکړو نو ګويا که هغه توله شپه په اودريدو سره مونځ اوکړو۔ (مسلم)۔

تشريح: مَنْ صَلَّى الْعِشَاءَ فِيْ جَمَاعَةٍ: دا ډير مزيدار حديث دے د کوم انسان نه چه د تهجدو مونځ قضاء شي نو پدے حديث باندے تسلي حاصلوي، ځکه پدے کښې ډير فضيلت ذکر دے د ماسخوتن او د سحر د مانځه چه د تولے شپے د نوافلو اجر انسان ته ملاويږي، بيا ددے الفاظو دوه معانے دي:

(۱) - يو مطلب دا دے چه چا د ماسخوتن مونځ د جمعے سره اوکړو نو د نيمائي شپے د نفلو ثواب ئے اوشو او چه بيا د سحر مونځ د جمعے سره اوکړي نو د نيمے شپے د نفلو ثواب ئے اوشو نو ګويا کښې توله شپه ئے نفلونه اوکړل، او کله چه ورسره د شپے تهجد هم اوکړي نو بيا خو نور على نور جوړيږي، دا فضيلت صرف د فرض په مانځه شو او باقي نفل او

تهجد مونځ ورسره ملګرے کړه نو ډیر زیات فضیلت شو لکه دا مطلب د حدیث د ابوداود او ترمذی نه واضح کیږی چه په هغے کښ داسے الفاظ دی : ومن صلی العشاء والفجر فی جماعة کان کقیام لیلة ۔ نو دا حدیث د مسلم به حمل وی په دغه روایت د ابوداود باندے ۔

(۲) – دویم مطلب دا دے چه د ماسخوتن د مانځه ثواب د نیمے شپے د نفلونو ثواب لری او چه د سحر مونځ جَمعے سره اوکړی نو ګویا کښ ده توله شپه نفلونه اوکړل نو پدے کښ به د سحر د مانځه فضیلت دوچند وی د ماسخوتن په مانځه باندے لکه دا ظاهر ددے حدیث دے او دا د الله تعالی رحمت دے چه بعض اعمالو ته زیات فضیلت ورکوی په بعضو باندے لکه د جُمعے د مانځه فضیلت د یوے هفتے د ګناهونو معاف کیدل دی او درے پرے دپاسه نو د لس ورځو ثواب ورکوی ۔ لکه دا معنی امام ابن خزیمه په خپل صحیح کښ ذکر کړیده هغه باب ایخودے دے (باب ان صلاة الفجر فی الجماعة افضل من صلاة العشاء فی الجماعة وان فضلها فی الجماعة ضعفا فضل العشاء فی الجماعة) ۔ بیا یو حدیث په تائید کښ ذکر کړیدے : (من صلی العشاء فی جماعة کان کقیام نصف لیلة ومن صلی الفجر فی جماعة کان کقیام لیلة) او دا معنی د هغه نه علامه منذری په الترغیب والترهیب (۲٦٧/۱) کښ هم نقل کړیده ۔

لیکن پدے باندے اشکال دا دے چه بیا خو ددے حدیث مسلم او حدیث د ابوداود ظاهر کښ تعارض ښکاری ؟ ۔

نو ددے جواب دا کیدے شی چه دواړو کښ هیڅ تعارض نشته او دواړه محمول دی په جدا جدا اشخاصو باندے، د کوم انسان خشوع او خضوع او توجه چه د سحر په مانځه کښ زیاته وی نو هغه ته د ټولے شپے اجر ورکولے شی او بعضے انسانانو ته د دواړو مونځونو یوشان د نیمے نیمے شپے اجر ورکوی والله اعلم ۔

بعض علماؤ پدے حدیث د مسلم کښ تاویل کړیدے او دا ئے راتاؤ کړیدے حدیث د ابوداود ته او داسے ئے وئیلی دی چه روایت د مسلم کښ اجمال او ابهام دے، او روایت د ابوداود ورله تفصیل او تفسیر دے لکه دا خبره حافظ منذری په تلخیص السنن کښ او علامه طیبیؒ ذکر کړیده ۔

نو داسے تاویل کوی چه : فکأنما صلی اللیل کله ۔ د دواړو سره متعلق دے او د ومن صلی الصبح فی جماعة جزاء محذوف ده : ای من صلی الصبح فی جماعة فکأنما قام نصف اللیل ۔ لیکن د اختصار په طورئے ټوټل او مجموعه ذکر کړه په فکأنما صلی اللیل کله

سره ای فكأنما صلى الليل كله بانضمام ذلك النصف فكأنه احيٰى نصف الليل الاخير انتهیٰ (طيبی) ۔

۸– وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : لَا يَغْلِبَنَّكُمُ الْاَعْرَابُ عَلَى اسْمِ صَلَاتِكُمُ الْمَغْرِبِ، قَالَ : وَتَقُوْلُ الْاَعْرَابُ : هِيَ الْعِشَاءُ .

ترجمه : او عبد الله بن عمر رضی الله عنه فرمائی : رسول الله ﷺ فرمائیلی دی : بانديچيانۍ خلق دې د مغرب مونځ په نوم اخستو کښې په تاسو باندې غالب رانشی ۔ راوی وائی چه بانديچيانۍ خلقو به (مغرب ته) عشاء وئيلو ۔

تشريح : لَا يَغْلِبَنَّكُمُ الْاَعْرَابُ عَلَى اسْمِ صَلَاتِكُمُ الْمَغْرِبِ : پدې حديث کښې اصلاح د خبرو او اقوالو ده ځکه رسول الله ﷺ لکه څنګه چه د عقائدو د اصلاح دپاره راغلے وو دغه شان د خبرو او الفاظو د اصلاح دپاره هم راليږلے شوے وو چه خوله صحيح استعمال کړه ځکه اصلاح د خبرو ډير ضروری عمل دے ۔

د اعراب نه مراد د جاهليت والا بانديچيانۍ دی چه هغوی به ماښام مانځه ته صلوة العشاء وئيلو او ماسخوتن مانځه ته به ئے عتمه وئيله نو شريعت منع اوکړه چه د ماښام مانځه ته به صلوة المغرب وايئ او ماسخوتن مانځه ته به صلوة العشاء وايئ نو تاسو باندې د جاهليت والا غالبه نشی چه تاسو د ماښام د مانځه خپل نوم صلوة المغرب پريدئ او صلوة العشاء ورته اووايئ نو پدې کښې به تاسو د جاهليت والا سره موافقت اوکړئ او د هغوی اصطلاح به په اسلامی اصطلاح باندې غالبه شی نو پدې کښې مسلمانانو ته يو ادب ذکر کوی چه د کفارو سره به مشابهت نکوئ، د هغوی ژبه او تهذيب به نه خپلوئ، بلکه خپل اسلامی ژبه او آدابو او اصطلاحاتو باندې مضبوط اوسيږئ ! او شريعت د ماښام مانځه ته صلوة المغرب نوم ځکه ورکړيدے چه پدې نوم کښې فائده ده يو خو دا نوم د مسمیٰ سره موافق دے ځکه دا مونځ هم په وقت د غروب الشمس کښې اداء کولے شی، او دويم په ابتدائی وقت باندې دلالت کوی چه ددې مونځ ابتداء د غروب الشمس نه شروع کيږی ۔

او ماښام ته صلوة العشاء وئيلو نه منع پدې وجه اوشوه چه (۱) – عشاء لفظ به لغت کښې اول ظلام الليل ته وائی يعنی د شپې د تيارې ابتداء، او دا خو د شفق د ډوبيدو نه پس شروع کيږی نو که مغرب ته عشاء اووئيلے شی، نو ددې مطلب به دا شی چه د ماښام د

مانځه اول وقت د شفق د ډوبيدو نه روستو دے او دا خو خطاء ده ۔
(٢) – بعض وائي : منع ځکه اوشوه چه د مغرب التباس د عشاء سره رانشي، لهذا که مغرب ته العشاء الاولىٰ اووئيلے شي نو بيا به منع نه وي ځکه التباس ختم شو لکه ددے تائيد په حديث د بخاري کښې راغلے دے چه ماسخوتن ته العشاء الآخرة وئيلے شويده ۔
دارنګه حافظ ؒ فرمائي : که على سبيل التغليب مغرب ته د عشاء نوم ورکړے شي لکه يو انسان داسے اووائي صليت العشائين نو دا به هم حرام نه وي ځکه د تثنيه په استعمالولو سره التباس ختم شو فتح الباري (٢/٥٩) ۔
(٣) – بعض وائي : علت د نهي دا دے چه پدے کښې د الله تعالى د حکم مخالفت دے چه هغه مانبام ته مغرب او ماسخوتن ته عشاء وئيلے ده نو د هغے خلاف لفظ استعمالول مناسب نه دي ليکن دا استعمال هم هله منع دے چه غلبه ورکړے شي ورنه جائز دے ۔
لکه حافظ ؒ فرمائي : ولا بعد في ان ذلك كان جائزاً فلما كثر اطلاقهم له نهوا عنه لئلا تغلب السنة الجاهلية على السنة الاسلامية ومع ذلك فلا يحرم ذلك بدليل ان الصحابة الذين رووا النهي استعملوا التسمية المذكورة، فتح الباري (٢/٦٢) ۔
يعني دا خبره څه بعيده نه ده چه په ابتداء کښې عشاء ته عتمه وئيل جائز وو ليکن کله چه خلقو دا استعمال زيات کړو نو منع اوشوه، دے دپاره چه په اسلامي سنت باندے جاهلي سنت غالب نشي خو سره ددے بيا هم دا حرام نده ځکه چه کوم صحابه کرامو ؓ منع نقل کړيده هغوی دغه تسميه استعمال کړيده انتهىٰ ۔

٩– وَقَالَ : لَا يَغْلِبَنَّكُمُ الْاَعْرَابُ عَلَى اسْمِ صَلَاتِكُمُ الْعِشَاءِ فَإِنَّهَا فِيْ كِتَابِ اللهِ الْعِشَاءُ، فَإِنَّهَا تُعْتِمُ بِحِلَابِ الْإِبِلِ . رَوَاهُ مُسْلِمٌ .

ترجمه : او رسول الله ﷺ فرمائيلي دي : چه د عشاء مونځ ته په نوم اخستو کښې دِے هم پټاسو باندے بانډيچيان خلق غالب رانشي ۔ ددے مونځ نوم په کتاب الله کښې عشاء دے ۔ او هغوی (بانډيچيانو) به د اوښانو د لشلو په وجه سره پدے مانځه کښې تاخير کولو ۔

تشريح : دا حديث په اصل کښې دوه حديثونه دي خو مصنف ؒ د دواړو نه يو حديث جوړ کړيدے نو دا مناسب کار ندے پکار ده چه هر يو ئے جدا جدا سند سره ذکر کړے وے ځکه اول حديث د بخاري دے د عبد الله بن مغفل ؓ په روايت او دا دويم حديث د مسلم دے ۔

پدې روايت کښې منع ده ددې نه چه ماسخوتن مانځه ته به صلوة العتمه نه وائی ځکه دا د جاهليت بانډيچيانو نوم دې نو ددې نه غالباً ځان ساتل پکار دی د ابوالحسن السندهیؒ نه مونږ مخکښې نقل کړيدی چه پدې حديث کښې نهی ده د غلبې د استعمال د عتمه نه په عشاء باندې، ورنه پخپله په احاديثو کښې د ماسخوتن مانځه ته عتمه هم وئيلې شويده لکه چه ددې تحقيق مخکښې تفصيلاً ذکر شويدې۔

فَاِنَّهَا فِیْ کِتَابِ اللّٰهِ الْعِشَاءُ : دا اوس علت د نهی بيانوی او فاء تعليليه ده يعنی عشاء ته عتمه وئيل ځکه ندی پکار چه د الله په کتاب کښې دې ته عشاء وئيلې شويده لکه سورة النور کښې دی : ﴿ وَمِنْ بَعْدِ صَلَاةِ الْعِشَاءِ ﴾ عز الدين بن عبد السلامؒ دا نکته بيان کړيده چه عادت پدې باندې جاری دې چه کله مشران او غټان خلق د يو شئ دپاره يو نوم کيدی نو د هغې په ځائې بل نوم کيښودل مناسب نه وی ځکه پدې کښې د هغوی تنقيص شان او بې ادبی وی، او د هغوی د کار نه اعراض وی او د هغوی په کار باندې د بل چا کار غوره کول وی نو هر کله چه الله تعالی ماسخوتن مانځه ته عشاء نوم کيخودو نو دې ته عتمه وئيل چه دا د بانډيچيانو اصطلاح ده ندی غوره کول پکار۔

فَاِنَّهَا تُعْتِمُ بِحِلَابِ الْاِبِلِ : تعتم دا يا صيغه د مجهول مضارع ده او دواړه ځايونو کښې ضميرونه صلاة ته راجع دی او بحلاب کښې باء سببيه ده او د حلاب نه مراد حلب (لشل) دی او پدې سره علت د تسميه ذکر کوی چه اعراب ماسخوتن ته ځکه عتمه وائی چه د ماسخوتن مونځ روستو کولې شی په سبب د لشلو د اوښانو۔

۲- يا دا صيغه د معلوم ده او دواړه ضميرونه اعراب ته راجع دی معنی دا ده : دا اعراب داخلوی دا مونځ په تياره کښې په سبب د لشلو د اوښانو۔ يعنی اعراب ورته ځکه عتمه وائی چه دوئ به اوښانې ناوخته لشلې، چه کله به ښه تياره شوه او دغه تياره وقت ته به ئې عتمه وئيله نو کله چه به د اوښانو لشلو نه فارغ شو نو بيا به ئې وئيل راځئ چه صلوة العتمه اوکړو يعنی د تيارې مونځ اوکړو نو شريعت منع اوکړه چه دې ته د تيارې مونځ وئيل مناسب ندی، مونځ خو د رڼا شې دې نو ظاهر کښې ترې بدفالی ښکاره کيږی نو ځکه ددې د غلبې نه منع اوشوه۔

فائده : پدې حديث کښې دا قاعده شرعيه ذکر ده چه بعض شيان په شريعت کښې جائز وی خو غلبه د هغې نا روا وی، ددې په شرع کښې ډير مثالونه دی لکه جائز اشعار وئيل جائز دی خو ليکن په تلاوت د قرآن کريم باندې غلبه ورکول حرام دی، يا عربيت زده

كول ضروري دي چه څه خلقو ته به عربي زده وي او كه نورے ژبے په ملك كښې استعماليږي هم خير دے خو كه بلے ژبے ته غلبه وركړے شوه نو دا به ګناه وي لكه نن صبا انګريزي له غلبه وركوي په ټولو ژبو باندے په هره خبره كښې انګلش استعمالوي ته به وائے چه د انګريز څوي دے بعض خلق اردو ژبے ته ډير زور وركوي او فضائل بيانوي چه پدے كښې د دين كار شروع شويدے، دا خبره صحيح نده ٢- يا ښځے سره كيناستل جائز دي خو ليكن دومره غلبه به نشي وركولے چه قبله ترے جوړه كړي عمر ورسره ضائع كړي ـ ٣- دارنګه فضائل اعمال، نور كتابونه ناولے، كهانيانے، او اخبارات او مجلے لوستل او كتل جائز دي ليكن دے له به په قرآنكريم باندے غلبه نشي وركولے ـ چه ټوله ورځ اخبارات او مجلے او كهانيانو ته لګيا وي هغه مطالعه كوي يا د فضائل اعمال نه هميشه دپاره تعليم كوي او كله ئے هم د قرآن كريم درس او تدريس اونكړو دا كار هم ددے قاعدے شرعيه په رُو سره صحيح ندے په ډيرو ځايونو كښې په منبر باندے قرآن كريم نه وي او فضائل اعمال پروت وي او قرآن شريفونه زاړه زاړه شليدلے پراته وي او فضائل اعمال نوے تازه پروت وي او كله ناكله قرآن لاندے او فضائل اعمال پرے بره پروت وي كه يو غير مسلم مسجد ته راشي او ووائي چه ستاسو مقدس كتاب كوم يو دے ؟ او قرآن كريم طرفته اشاره اوشي چه دغه دے نو هغه به څومره تعجب اوكړي چه د الله كتاب لاندے دے او د مخلوق كتاب پرے دپاسه پروت دے ـ دا ستاسو د خپل كتاب سره مينه ده !! ـ

٤- دارنګه بعض طالبان د حديثو په زده كولو كښې يو كال تيروي او په نورو علومو او منطق كتابونو كښې لس او شل كاله تيروي دا هم انصاف نه دے پكار ده چه قرآن او سنت خامخا د نورو علومو سره تدريس شي او بيا اكثر عمر انسان په علم التفسير والحديث كښې تير كړي ـ

١٠- وَعَنْ عَلِيٍّ ﷺ، أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ قَالَ يَوْمَ الْخَنْدَقِ : «حَبَسُوْنَا عَنْ صَلَاةِ الْوُسْطٰى : صَلَاةِ الْعَصْرِ، مَلَأَ اللهُ بُيُوْتَهُمْ وَقُبُوْرَهُمْ نَارًا». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ .

ترجمه : او د علي كرم الله وجهه نه روايت دے چه رسول الله ﷺ د غزوۂ خندق په ورځ اوفرمائيل : چه (كافرانو) مونږ د درمياني مونځ يعني د مازيګر مونځ د كولو نه بند كړو ـ الله تعالى دِے د هغوي كورونه او قبرونه د اور نه ډك كړي ـ (بخاري ومسلم) ـ

تشریح : يَوْمَ الْخَنْدَقِ : : دیته غزوهٔ احزاب هم وائی په شوال میاشت کښې په سنه (٤) هجری کښې واقع شویده لکه دا قول د موسیٰ بن عقبه دے او امام بخاری غوره کړیدے ۔ یا په (٥) هجری کښې واقع شویده لکه دا قول د اکثرو علماؤ دے ددے جنګ اصل سبب دا وو چه د خیبر یهودو قریشو لره د مسلمانانو په خلاف راپورته کړل او دا ئے ورته اووئیل : مونږ ستاسو هر قسمه مدد کوو پدے وجه چه د مسلمانانو استیصال اوکړو او بیخ بنیاد ئے ختم کړوو قریش د هغوی پدے دوهوکه کښې راغلل او ډیر قبائل ورسره ملګری شو او په مدینه طیبه باندے ئے حمله اوکړه، پدے وجه دے جنګ ته غزوه احزاب وائی چه د احزاب معنی ده ډلے او پدے کښې هم ډیرے ډلے د عربو شریکے شوے وے لکه قریش، غطفان، بنی اسد، بنو سعد، بنی سلیم، اشجع، بنو مرّه، فزاره، کنانه او یهود دا د قریشِ مکه او د مسلمانانو ترمینځ دریمه لړائی او جنګ وو د مسلمانانو تعداد (۳۰۰۰) درے زره وو او کفار لس زره (۱۰۰۰۰) وو یا (۲٤۰۰۰) زره تعداد وو، کله چه مسلمانان خبر شو چه ټول عرب او یهود زمونږ په خلاف په مدینه حمله کوی، ډیر پریشان شو چه زړونه ئے مریٔ ته اورسیدل لکه چه قرآن کریم فرمائی : (وَبَلَغَتِ الْقُلُوْبُ الْحَنَاجِرَ) مشوره ئے اوکړه چه څه اوکړو ، سلمان فارسی اوفرمائیل : زما مشوره دا ده چه د دوئ مخے ته خندق اوکنستے شی څکه چه مونږ فارس والاؤ باندے چه کله حمله کیږی نو مونږ خندق او باسو، نبی علیه السلام دده په مشوره عمل اوکړو او هر لس کسانو جماعت ته څلویښت څلویښت ګزونه کنستل او سپارل شو چه دا خندق د مدینے شمالی سمت ته په درے طرفونو کښې اوکنستے شو څکه چه یو طرف ته مکانات او باغونه وو چه په هغے کښې جنګ نشو کیدے او درے طرفونه کولاؤ وو چه په هغے باندے د دشمنانو د راتللو خطره ده، ډاکټر حمید الله لیکی چه خندق ټول شپږ زره ګزونه اوکنستے شو چه درے نیم میله اوږد وو او یو تن ته شل ګزه حد اوسپارل شو، پدے کښې مسلمانانو بے حده تکلیفونه په شمول د رسول الله ﷺ سره برداشت کړل چه اوږے هم وو، یره هم وه، او کار هم ورته په سر پروت وو، پدے کښې د رسول الله ﷺ ډیر معجزات ښکاره شوی وو، پخپله ئے کودالہ لاس کښې واخسته او د صحابو د ترغیب دپاره ئے کنستل شروع کړل، کله چه د خندق کنستو نه فارغ شو نو کفار را اورسیدل او ښارئے محاصره کړو ۔ اطلس سیرت ص (۲۷۸) ومرعاة (۲/۲۳۹) د خندق د پلنوالی او جور والی تذکره مؤرخینو نده کړے البته دا خبره شته چه دومره اندازه کښې وو چه اس به ترے توپ نشو وهلے نو پدے اندازے سره شاید

ددې پلنوالې لس ګزه او جوروالې پنځه ګزه وو او د میټر په حساب سره ددې اوګدوالې (٥٥٤٤) میټراو اوسط پلنوالې (٦٢ء٤) میټر او اوسط جوروالې (٢٣٤ء٣) میټر وو (اطلس سیرت)۔

یو میاشت پورې مسلمانان محاصره وو د میاشت محاصرې نه بعد کفارو هیڅ مقصد حاصل نکړو نو الله تعالی په دوی باندې سیلۍ را والوزوله چه د دوئ د خیمو موګی ئې اوویستل او حالات ئې ورله خراب کړل او د هغوی سامان رسد ختم شو او توره تیاره جوړه شوه چه هغوی پدې سره اوېریدل او اوتښتیدل، پدې غزوه کښې څه خاص جنګ اونشو صرف دوه درې مسلمانان شهیدان شول او یو څو کفار یو بل به ئې په غشو ویشتل، ددې غزوه نه پس رسول الله ﷺ بنو قریظه یهودو پسې ورغلو ځکه چه هغوی د عهد او لوظ خلاف اوکړو او کفار قریش ئې د مسلمانانو په خلاف راپورته کړل ددې په نتیجه کښې هغوی اونیول شو او مشران ئې قتل شو او زنانه او ماشومان ئې قید کړې شو الی آخر القصة۔

حَبَسُوْنَا عَنْ صَلَاةِ الْوُسْطٰی : یعنی دې کافرانو مونږه د بهترین مانځه نه بند کړو چه د جنګ په کارونو مشغول شو، تردې چه زمونږ نه دغه مونځ قضاء شو ۔ رسول الله ﷺ او د هغه ملګری نشو راجمع کیدې چه مونځ په جمع اوکړی ځکه چه کافرانو د هغه اړخ نه په غشو ویشتل او صلاة الخوف خولا نازل شوې نه وو، پدې وجه د هغوی نه درې مونځونه قضاء شو (ظهر، عصر، او مغرب) بیا ماسخوتن ناوخته کله چه تیاره شوه کفارو ته نه ښکاره کیدل نو په ترتیب سره ئې قضاء راوړه ۔ بیا پدې روایت کښې صرف د صلاة العصر تذکره راغله چه صرف دا مونځ قضاء شوې وو او په روایت د موطأ کښې دی چه د ظهر او عصر دواړه مونځونه قضاء شوی وو او په نورو روایاتو کښې دی چه څلور مونځونه ئې د خپل وقت نه روستو اوکړل ، ظهر او عصر او مغرب او عشاء مګر ددې روایاتو تطبیق دا دې چه غزوه خندق ډیر وقت پورې وه نو په بعضو ورځو کښې یو مونځ قضاء وو او په بعضو کښې دوه او په بعضو کښې درې مونځونه قضاء وو، او کوم روایت کښې چه څلور یادیږی نو هغه پدې وجه چه د عشاء مونځ ئې ډیر ناوخته کړې وو ورنه هغه قضاء نه وو ۔ یا درې مونځونه قضاء شوی وو خو لیکن دلته رسول الله ﷺ د مازیګر د مانځه خصوصی اهمیت او افضلیت ته اشاره کوی پدې وجه ددې مانځه د قضائی تذکره کوی چه دې ظالمانو زمونږ نه دا اهم او افضل مونځ قضاء کړو پدې وجه ئې هغوی ته

ښيرے هم اوکړے ۔

فائده : ددے حدیث نه معلومه شوه چه کافرانو ته ښيرے جائز دی، کله چه تا د الله تعالی د عبادت نه منع کوی دارنګه هر هغه چا ته ښيرے کول جواز لری چه ستا وقت ضائع کوی د ذکر اذکار مونځ او عباداتو نه دِ ورانوی نو ته داسے وئيلے شے چه الله تعالی دِ ے ئے تباه کړی زه ئے د الله د بندګئ نه خراب کړم ۔

د صلوة الوسطیٰ تعيين

صَلَاةِ الْعَصْرِ : دا مجرور دے او بدل دے د صلاة الوسطیٰ نه ـ دا حدیث مصنفؒ ددے دپاره ذکر کړے دے چه د صلاة الوسطیٰ نه مراد د مازيګر مونځ دے لکه چه دا خبره د زياتو احاديثو نه واضح ده او دا قول د اکثرو صحابه کرامؓ او تابعينو دے په ائمه اربعه کښ د امام ابو حنيفةؒ، صاحبينؒ، احمدؒ دے او دا قول په صحابه کراموؓ کښ د علیؓ بن ابی طالب، ابو هريرهؓ، ابو ايوب انصاریؓ، زيد بن ثابتؓ، ابو سعيد الخدریؓ، ابن عمرؓ او ابن عباس رضی الله عنهم دے ـ امام خطابیؒ وائی د عائشےؓ او حفصےؓ هم دے، بيهقیؒ وائی : د ابی بن کعب او عبد الله بن عمروؓ دے او نووی ؒ وائی : د ابن مسعودؓ دے ـ په تابعينو وغيره کښ د ابراهيم نخعیؒ، قتادةؒ، کلبیؒ، مقاتلؒ، ضحاك بن مزاحمؒ، عبيدة السلمانیؒ او حسن بصریؒ دے او همدا قول په صحيح متواتر احاديثو سره ثابت دے لکه بخاری کښ دی صلاة الوسطى صلاة العصر لکه دلته په روايت د ترمذی کښ هم صلاة العصر ښودلے شويدے ـ امام ترمذیؒ فرمائی : وهو قول اكثر العلماء من الصحابة فمن بعدهم ـ

پدے کښ تقريباً ټول (۱۷) اولس اقوال علامه زين الدين العراقیؒ او علامه شوکانیؒ ذکر کړيدی او اته اقوال امام نوویؒ او تفسير خازن ذکر کړيدی ـ

۲- **دويم قول** : صلاة الوسطى د فجر او صبا مونځ دے ، دا قول ابن المنذرؒ د ابن عمرؓ، ابن عباسؓ، عکرمةؒ، طاوسؒ، مجاهدؒ، عطاءؒ، او عائشےؓ نه نقل کړيدے او خطابیؒ د ابو موسی اشعریؓ ، جابر بن عبد اللهؓ نه او بيهقیؒ د انس بن مالكؓ نه او نوویؒ د عمر بن الخطابؓ، معاذ بن جبلؓ، ربيع بن انسؒ نه نقل کړيدے او دا قول د امام مالكؒ او امام شافعیؒ دے علامه ماوردیؒ فرمائی : امام شافعیؒ چه دا قول کړيدے چه دا صلاة الوسطى صلاة الصبح دے نو ددے وجه دا ده چه هغه ته ددے په باره کښ صحيح احاديث ندی رسيدلی چه په هغے کښ صلاة العصر ته صلاة وسطیٰ وئيلے شويدے، ورنه د امام

شافعیؒ مذهب اتباع د حدیث ده (لکه چه دغه نه په تواتر سره منقول دی اذا صح الحدیث فهو مذهبی، اعلام الموقعین (۲/۳۶۳) المجموع للنوویؒ (۱/۱۶۳) .
ددې قول ثانی دپاره دلیل روستو حدیث د علي بن ابی طالبؓ او ابن عباسؓ دے چه ددینه مراد صلوة الصبح دے، امام مالکؒ موطأ کښې نقل کړیدے او بیا وائی : دا زما رأیه هم ده لیکن هغه روایت ضعیف دے کما ستعرف او اجتهادی خبره ده او بل طرفته د علی بن ابی طالبؓ نه په صحیح سندونو ثابت دی چه ددینه مراد صلوة العصر دے کما قال زین الدین العراقی فی طرح التثریب (۲/۱۷۲) .

۳- **قول ثالث** : صلوة الظهر دے رواه ابوداود فی سننه عن زید بن ثابت او دا قول د ابن عمرؓ او یو روایت د عائشهؓ دے او دعبدا لله بن شدادؓ او بیهقیؒ د اسامه بن زیدؓ او ابو سعید الخدریؓ نه نقل کړیدے او دا یو روایت د امام ابو حنیفهؒ دے . دلیل : روستو موقوف حدیث د زید بن ثابتؓ او عائشهؓ را روان دے او جواب به ئے هلته راشی .

٤- **قول رابع** : صلوة المغرب دے . دا قول د قبیصه بن ذؤیبؒ دے .
دلیل : ئے دا دے چه صلوة المغرب د بیاض النهار او سواد اللیل په مابین کښې راځی چه نه په ورځ کښې وی او نه په شپه کښې وی نو همدا درمیانه وقت کښې اداء کولے شی، دارنګه دا دوه رکعاتو نه زیات دے لکه چه صبا کښې دی او د څلورو رکعاتو نه کم دے لکه چه باقی مونځونو کښې نو دا درمیانه شو په اعتبار د عدد الرکعات سره هم او دارنګه ددے نه ظهر او عصر مخکښې دی او عشاء او صبح تربے روستو راځی نو دا په وسط کښې راغلو . لیکن ددے قول والا سره نقلی هیڅ دلیل نشته صرف عقلی وجوهات دی چه دا په مقابله د نصِ صریح کښې بیکاره دی .

٥- **قولِ خامس** : صلوة العشاء دے، دا د بعضو متأخرینو قول دے د سلفو نه ندے نقل . دلیل : دا متوسط دے په مابین د هغه دوه مونځونو کښې چه په هغے کښې قصر نه کیږی یعنی صلوة الصبح او صلوة المغرب، دارنګه دا اثقل الصلوات علی المنافقین دے .

٦- **قول سادس** : دا د جُمعے مونځ دے د جُمعے په ورځ او د ظهر مونځ دے په باقی ورځو کښې - دا قول علی بن ابی طالبؓ ته منسوب دے .
دلیل : د جُمعے مونځ خلق ډیر ضائع کوی، محافظت پرے نکوی نو قرآن کریم حکم د محافظت اوکړو پدے باندے چه د نورو مونځونو سره سره خصوصاً ددے مونځ ډیر محافظت کوئ . لیکن امام نوویؒ دا مذهب رد کړیدے او وئیلی ئے دی چه دا ضعیف جداً

مذهب دے ځکه چه د محافظت امر په هغې شی باندے راځی چه هغه خلق ډیر ضائع کوی او د جُمعے مونځ غالباً عام خلق کوی ځکه چه دا هفته کښې یو کرت راځی۔

۷- **قول سابع** : انها احدیٰ الخمس المبهمة : په پنځه مونځونو کښې نامعلومه یو مونځ دے، هریو چه وی او ددے علم الله تعالیٰ چا ته ندے ښودلے لکه څنګه چه د جُمعے په ورځ ساعت د اجابت پټ دے، یا اسم اعظم د الله تعالیٰ یا لیلة القدر الله تعالیٰ پټه ساتلے ده دے دپاره چه انسانان ددے په کولو کښې مسارعه اوکړی او دا قول د ربیع بن خیثمؒ سعید بن المسیبؒ، شریحؒ او نافعؒ دے۔

دلیل : د زید بن ثابتؓ نه یو سړی تپوس اوکړو چه صلوٰة وسطیٰ کوم مونځ دے ؟ هغه ورته اوفرمائیل : حافظ علی الصلوات الخمس تُصِبْهَا ۔ د پنځه مونځونو پابندی کوه نو صلوٰة وسطی ته به اورسیږے، لیکن دا مجمل قول دے په مقابله د نصوص صریحه کښې غیر مقبول دے۔

۸- **قول ثامن** : پنځه مونځونه مراد دی۔ قاله معاذ بن جبل وعبد الرحمن بن غنم، لیکن دا هم د مخکښې پشان دلیل او جواب لری۔

۹- **قول تاسع** : صلوٰة العشاء او صلوٰة الصبح دواړه مراد دی، دا قول ابوالدرداءؓ ته منسوب دے۔ دلیل : فضیلت ددے مونځونو ډیر راغلے دے لکه چه پدے باب کښې ددے متعلق حدیثونه تیر شو : لو یعلمون ما فی العشاء والصبح لاتوهما ولو حبواً – او کأنما قام اللیله کله)۔

۱۰- **لسم قول** : صلوٰة العصر او صلوٰة الصبح دواړه مراد دی، دا قول د ابوبکر الابهری المالکیؒ دے ددے دلیل د مخکښې پشان دے۔

۱۱- **یولسم قول** : ټول مونځونه جماعت سره اداء کول مراد دی، حکاه الماوردی فی تفسیره۔ دلیل : د جماعت په کولو ډیر اوامر د محافظت او ترغیبات راغلی دی۔

۱۲- **دولسم قول** : دا صلوٰة الخوف دے، شرف الدین الدمیاطی د بعض معتمد اهل علم نه نقل کړیدے۔ دلیل : ددے آیت حافظو علی الصلوات والصلوٰة الوسطیٰ) نه روستو فان خفتم فرجالاً او رکباناً نه معلومیږی چه دا صلوٰة الخوف دے۔

۱۳- **دیارلسم قول** : وتر مراد دی، دا قول د ابوالحسن علی بن محمد السخاوی المقریؒ دے۔ دلیل : والصلوٰة الوسطی عطف شویدے په الصلوات باندے او معطوف غیر وی د معطوف علیه نه معلومه شوه چه صلوٰة الوسطی به غیر وی د پنځه مونځونو نه او

د وترو په باره کښې ډير فضائل په احاديثو کښې وارد دی نو همدا به صلوة وسطىٰ وی ۔

۱٤- **بعض وائی** : صلوة عيد الاضحی : دلوئی اختر مونځ مراد دے، ذكره ابن سيد الناس والدمياطیؒ ۔

۱۵- د وړوکی اختر مونځ مراد دے ۱٦- صرف د جمعے مونځ مراد دے ۔ ۱۷- صلوة الضحی (دچاشت مونځ) مراد دے ۔ نقله الدمياطی عن بعض شيوخه، كذا فی طرح التثريب (۲/۱۷۲) وتفسير الخازن (۱/۱۸۰) ونيل الاوطار (۱/۳۹٤) وشرح مسلم (۱/۲۲٦)۔

امام نوویؒ فرمائی : پدے اقوالو کښې صحيح دوه قوله دی يودا چه دا د سحر مونځ دے يا د مازيگر مونځ دے خو ډير اصح پدے دواړو کښې دا دے چه ددينه مراد صلاة العصر دے ځکه چه ډير احاديث صحيحه ددے په تعيين کښې راغلی دی ۔

بله وجه دا ده چه صلو ة وسطىٰ د مازيگر مونځ کيدل ځکه پکار دی چه دا مونځ پداسے وقت کښې دے چه عام خلق په خپلو کارونو او تجارتونو او مالونو کښې مشغول وی نو ځکه الله تعالی ددے تخصيص اوکړو چه خاصکر ددے مونځ ډير محافظت اوکړئ او دا وقت هم بهترين وقت دے ۔

فيصله : پدے مسئله کښے د صحابه کرامو او تابعينو دومره اختلاف په هغه وقت کښې پدے وجه واقع شوے وو چه آيت نازل شوے وو او رسول الله ﷺ ددے تعيين نه وو کړے نو صحابه کرامو په خپل اجتهاد باندے مختلف اقوال اوکړل ددے وجه نه د بعضے صحابو نه درے درے او دوه دوه اقوال نقل شويدی، مگر رسو ل الله ﷺ روستو ددے صلوة الوسطىٰ تعيين په صلو ة العصر سره اوکړو، لکه پدے روايت د علیؓ کښې او روستو فصل ثانی کښې د ابن مسعودؓ په روايت کښې را روان دے ۔

صَلَاةُ الْوُسْطٰى : پدے که د صلاة اضافت شويدے الوسطىٰ ته دا په اصل کښې موصوف او صفت دے ای الصلوة الوسطىٰ ۔ دا پشان ددے قول د الله تعالی دے ﴿ وَمَا كُنْتَ بِجَانِبِ الْغَرْبِيِّ ﴾ يا ددے قول د عربو مسجد الجامع، بقلة الحمقاء، صلو ة الاولىٰ پدے کښې د نحويانو مشهور دوه قوله دی ۱- د بصرينو په نيز دا ترکيب منع دے ۔

هغوی پداسے مقام کښې موصوف مقدر گنړی يعنی عن صلوة الصلوة الوسطی ای عن فعل الصلاة الوسطی ۔۲- کوفيين وائی دا ترکيب بالکل جائز او مستعمل دے او تقدير ته هيڅ ضرورت نشته ۔

وسطىٰ مؤنث د اوسط دے په معنی د غوره سره لکه قرآن کريم کښے دی : ﴿ قَالَ

اَوْسَطُهُمْ اَلَمْ اَقُلْ لَّكُمْ لَوْ لَا تُسَبِّحُوْنَ ﴾ اوسط په معنی د افضل سره دے او دا د وسط نه ندے جوړ کوم چه په معنی د متوسط بين الشيئين سره دے ۔ ځکه چه اسم تفضيل د هغه فعل نه جوړیږی چه هغه قابل د زیادت او نقصان وی او کله چه وسطیٰ د وسط نه شی نو وسط خو په معنی د متوسط بين الشيئين سره قابل د زيادت او نقصان نه وی ۔ كذا قاله القسطلانی شارح البخاری ۔

بل طرفته امام رازیؒ په تفسیر کبیر کښې وائی : دا د توسط بين الشيئين نه دے او دا ئے وئیلی دی چه مراد د وسطیٰ نه هغه مونځ دے چه په عدد او شمار کښې درمیانه وی، نه هغه چه غوره وی ۔

مَلَأَ اللّٰهُ بُيُوْتَهُمْ وَقُبُوْرَهُمْ نَارًا : يعنی الله تعالی دِ د هغوی کورونه او قبرونه د اور نه ډك کړی، کورونه او قبرونه ئے خاص ځکه ذکر کړل چه په کورونو کښې ژوندی خلق اوسیږی نو دا مسکن الاحياء دے او قبر کښې مړی اوسیږی نو دا مضجع الاموات دے او مطلب دا دے چه الله تعالی دِ اور د هغوی سره لازم اوګرځوی چه نه تر ے په ژوند کښې جدا شی او نه پس د مرګ نه ۔

اشکال : بیا پدے حدیث کښې دا اشکال کیدے شی چه د رسول الله ﷺ ښیرے خو ضرور مقبول دی نو په هغوی کښې چه څوك په حالت د شرك کښې مړه شو هغوی خو بے شکه چه په اور کښې اوسوزیدل، مګر بل طرفته د هغوی کورونه خو د اور نه ډك نشو ؟ ۔

ددے **جواب** داسے کیدے شی چه بيوت نه مراد سكان البيوت دی یعنی کوم خلق چه پدے کورونو کښې اوسیږی هغوی دِ الله تعالی په اور باندے اوسوزوی او همدغه شان اوشو چه څوك په هغوی کښې مشرکان مړه شو نو ضرور به د هغوی قبرونه د اور نه ډك شوی وی، قاله الحافظ ۔

علامه طيبیؒ دے اشکال طرفته متوجه شویدے پدے وجه هغه داسے مطلب بیانوی چه رسول الله ﷺ دے مشرکانو ته د دواړه کورونو د عذاب خیرے اوکړے چه په دنیا کښې د دوئ عذاب دا دے چه مالونه ئے لوټ شی، بچی او زنانه ئے قیدیان شی او کورونه ئے وران شی او د آخرت عذاب دا چه قبرونه ئے د اور لمبو نه ډك شی انتهی ۔

اشکال او جواب : پدے مقام کښې دا یو بسیط اشکال ذهن ته راځی چه رسول الله ﷺ د جنګ احد په موقعه چه هغه ته بے انتهاء تکلیف اورسولے شو، ملګری ئے زخمیان او شهیدان شو او هلته ئے خیرے اونکړے او دلته ئے خیرے اوکړے ددے څه وجه ده ؟ ۔

الجواب: ددے مختصر جواب دا کیدے شی چه په جنگ احد کښ د رسول الله ﷺ د نفس او ذاتی معامله وه، د هغه د شانِ رحمت تقاضا دا وه چه په خیرے کولو سره بدله وانخلی او دلته د الله تعالی عظیم حق فوت شو چه هغه بهترین مونځ دے پدے وجه د الله تعالی د حق په معامله کښ ئے دلته خیرے اوکړے۔

الفصل الثانی - دویم فصل

١١ - ١٢ - عَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ رضي الله عنه، وَسَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ رضي الله عنه، قَالَا: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: صَلَاةُ الْوُسْطٰى صَلَاةُ الْعَصْرِ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: د ابن مسعود او سمره بن جندب رضی الله عنهما نه روایت دے دواړه فرمائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی: درمیانی مونځ (قرآن کریم کښ چه والصلوٰة الوسطیٰ ذکر دے هغه) د مازیګر مونځ دے۔ (ترمذیؒ)۔

تشریح: صَلَاةُ الْوُسْطٰى صَلَاةُ الْعَصْرِ: مازیګر ته وسطیٰ ځکه وائي چه دا متوسط دے په مابین د مونځونو د ورځے او د شپے کښ مخکښے ترے د ورځے دوه مونځونه دی او روستو ترے د شپے دوه مونځونه دی۔ دا حدیث صریح نص دے چه د مازیګر مونځ صلوة وسطیٰ دے۔

درجة الحديث: دا روایت په اصل کښ دوه حدیثونه دی یو حدیث د ابن مسعود دے چه د مسلم (٦٢٨) او ابوداود الطیالسی او احمد ذکر کړیدے وسنده صحيح وصححه الترمذی ایضاً دویم حدیث د سمره بن جندب دے دا ترمذی (١٨١) راوړیدے وقال حديث حسن وهو من حديث الحسن عن سمرة وقد اختلف فی سماع الحسن من سمرة، قال البخاری: قال علی بن المدینی سماع الحسن من سمرة صحيح، قال الشوكانی: ومن اثبت مقدم علی من نفی انتهیٰ فهو حديث صحيح الاسناد مرعاة (٢/٣٤١) وتعليق المشكاة (١/٢٧٥) النسخة الهندية بتحقيق رمضان۔

١٣ - وَعَنْ اَبِىْ هُرَيْرَةَ رضي الله عنه، عَنِ النَّبِيِّ ﷺ فِىْ قَوْلِهٖ تَعَالٰى ﴿اِنَّ قُرْاٰنَ الْفَجْرِ كَانَ مَشْهُوْدًا﴾ قَالَ: تَشْهَدُهٗ مَلَائِكَةُ اللَّيْلِ وَمَلَائِكَةُ النَّهَارِ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: او ابو هریره رضی الله عنه د نبی کریم ﷺ نه نقل کوی چه هغه به د الله

تعالى پدے قول : ان قرآن الفجر كان مشهودا (يعنى د سحر مونځ د ملائكو د حاضريدو وقت دے) په تفسير كښے فرمائيلى وو چه د سحر او مازيگر په مانځه كښے د شپے او ورځے ملائك حاضريږى (جمع كيږى) ـ (ترمذیؒ) ـ

تشريح : اِنَّ قُرْآنَ الْفَجْرِ : د قرآن نه مراد د سحر په مانځه كښں تلاوت كول دى بيا ترے صلاة الفجر هم مراد دے ځكه چه پدے كښں زيات قرائت د قرآن كيږى، دارنګه قرائت د قرآن ركن دے د مانځه، ځكه ورته قرآن وئيل شويدے ـ

كَانَ مَشْهُوْداً : يعنى دے ته حاضرى كيدے شى څوك ورته حاضريږى ؟ نو د هغے بيان كوى پدے روستو الفاظو سره چه تشهده ملائكة الخ يعنى د شپے ملائك او د ورځے ملائك ورته حاضريږى چه بعض راكوز شى او بعض خيژى، مقصد ددے حديث ترغيب دے خلقو ته په فضيلت د صلاة الفجر سره چه دا مونځ هم بهتر مونځ دے چه ملائك پكښں راجمع كيږى ـ

درجة الحديث : اسناده صحيح رواه الترمذى (٣١٣٥) واحمد (٢/٤٧٤) وابن ماجه (٦٧٠) واخرج البخارى فى الصحيح بمعناه (٦٤٨) ـ

الفصل الثالث – دريم فصل

١٤ – ١٥ – عَنْ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ، وَعَائِشَةَ، قَالَا : اَلصَّلَاةُ الْوُسْطٰى صَلَاةُ الظُّهْرِ . رَوَاهُ مَالِكٌ عَنْ زَيْدٍ، وَالتِّرْمِذِيُّ عَنْهُمَا تَعْلِيْقًا .

ترجمه : زيد بن ثابت او عائشه رضى الله عنهما دواړه فرمائى : چه صلوة وسطىٰ (يعنى درميانى مونځ) د ماسپښين مونځ دے ـ دے روايت لره امام مالك صرف د زيدؓ نه روايت كړيدے او امام ترمذیؒ د دواړو (يعنى زيد او عائشے) نه په طريقه د تعليق يعنى بلا سند روايت كړيدے ـ

تشريح : پدے روايت كښں صلوة الوسطىٰ صلوة الظهر ته اووئيل شو ددے دوه وجے بيانيږى يو دا چه دا مونځ متوسط دے د ورځے په مونځونو كښں دارنګه د ورځے په طرفونو كښں هم وسط دے ـ

دويم دا چه دا مونځ د مشقت والا مونځ دے په صحابه كرامو باندے په ګرمئ كښں ئے اداء كول مشكل وو لكه چه روستو حديث كښں به راشى ـ ليكن ددے جواب دا دے چه د عائشےؓ نه ددے روايت خلاف بل روايت په مسند احمد كښں راغلے دے چه هغے خپل غلام

ابو یونس ته اووئیل کله چه ته قرآن لیکے او دے ځائے ته اورسیدے نو ما ته خبر راکړه کله چه هغه دے مقام ته اورسیدو نو عائشہؓ ته ئے خبر ورکړو، عائشہؓ ورته اوفرمائیل : دے سره داسے اولیکه : (والصلوۃ الوسطی صلاۃ العصر) لکه چه دا د هغے قرائت وو او دا ئے اوفرمائیل چه ما د رسول الله ﷺ نه دغه شان اوریدلے دے ۔ تفسیر ابن کثیر (۲۹۲/۱) ۔

او دا روایت ضعیف السند دے او د زید قول اګرچه د روستو حدیث په بناء باندے صحیح السند دے مګر دا د هغه اجتهاد دے چه د مرفوع حدیث مخالف دے ۔

درجة الحديث : اخرجه مالك في الموطأ (۳۱۵) واسناده ضعيف فيه ابن يربوع المخزومي لكن رواه الطحاوي (۹۹/۱) من طريق اخرى عن زيد واسناده حسن لولا انه اختلف في اسناده على ابن ابى ذئب ۔

---

۱۶ – وَعَنْ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ، قَالَ : كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ يُصَلِّي الظُّهْرَ بِالْهَاجِرَةِ، وَلَمْ يَكُنْ يُصَلِّي صَلَاةً اَشَدَّ عَلٰى اَصْحَابِ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ مِنْهَا . فَنَزَلَتْ ﴿ حَافِظُوْا عَلَى الصَّلَوَاتِ وَالصَّلَاةِ الْوُسْطٰى ﴾ وَقَالَ : اِنَّ قَبْلَهَا صَلَاتَيْنِ وَبَعْدَهَا صَلَاتَيْنِ . رَوَاهُ اَحْمَدُ، وَاَبُوْدَاوُدَ .

ترجمه : او زید بن ثابت رضی الله عنه فرمائی : رسول الله ﷺ به د ماسپښین مونځ وختی (یعنی په غرمه کښے بعد الزوال) کولو او د رسول الله ﷺ په صحابو باندے پدے ټولو مونځونو کښے د ماسپښین د مانځه نه زیات سخت هیڅ مونځ نه وو پس دا آیت نازل شو : حافظوا على الصلوات والصلاة الوسطىٰ : یعنی تاسو د ټولو مونځونو او خاصکر د درمیانه مونځ محافظت اوکړئ او زید بن ثابت رضی الله عنه به فرمائیل : چه د ماسپښین مونځ نه مخکښے هم دوه مونځونه دی او روستو هم دوه مونځونه دی ۔ (احمدؒ، ابوداودؒ) ۔

تشریح : **يُصَلِّي الظُّهْرَ بِالْهَاجِرَةِ** : مقصد د حدیث دا دے زید فرمائی : د صلوۃ الوسطیٰ نه مراد صلوۃ الظهر دے ځکه چه دا په صحابه کرامؓ باندے مشکل مونځ وو، نبی علیه السلام به غرمه کښ کولو پس د زوال نه، هر کله چه دا ګران مونځ دے نو ددے متعلق دا آیت نازل شویدے چه پدے مونځ باندے محافظت او پابندی اوکړئ ! او دا رنګه دیته ځکه صلوۃ وسطیٰ وئیلے شی چه ددے نه مخکښے او روستو دوه دوه مونځونه دی ۔

وَقَالَ : دا قول د زید دے او زید دا معلومه کړه چه دا مونځ چونکه مشکل دے پدے

وجه مناسب ده چه دا آیت دِ صلوة الظهر په باره کښې نازل وی او دا مطلب ندے چه یقیناً دا آیت د صلوة الظهر په باره کښې نازل دے، بلکه دا ئے یو مصداق د آیت بیان کړو او دا د هغه اجتهاد دے چه مرفوع حدیث ورته ندے رسیدلے ۔

ددے جواب علامه شوکانیؒ داسے ورکوی : د صلوة الظهر په صحابه کرامو بانده مشکل کیدل دے لره مستلزم ندی چه آیت دِ په هغے کښې نازل وی، غاية مافی الباب دا چه ددے نه صرف دا معلومیږی چه مناسب ده چه صلوة الوسطیٰ نه مراد صلوة الظهر شی او مثل دداسے احتمال معارض نشی جوړیدے د هغه نصوص سره چه صریح ثابت دی په صحیحینو وغیره کښې، او که اومنو چه دا صحابیؓ سبب د نزول د آیت بیانوی چه دا یقیناً په صلوة الظهر کښې نازل دے نو دا د هغه اجتهاد دے چه مرفوع حدیث ورسره موافقت نه کوی ۔ انتهی ۔

د صحابو خبرے ډیرے درنے دی ددے پریخودل ډیر زور غواړی لیکن بل طرفته د پیغمبر وینا موجوده ده هغه انسان مجبوره کوی او د صحابی یا تابعی یا بل عالم خبره پریخودل کله چه هغه د مرفوع حدیث موافق نه وی، د هغوی بے ادبی نده بلکه دا بعینهٖ د هغوی ادب او د پیغمبر ادب دے، پدے مقام کښې احنافو هم د زید بن ثابتؓ او دغه شان د نورو صحابه کرامو خبره ئے پریخودلے ده او حال دا چه په اهل حدیث الزام لګوی چه دوی د صحابه کرامؓو بے ادبی کوی که دا بے ادبی وی نو بیا خو دوئ هم دلته د زید بن ثابتؓ او ابوسعید خدریؓ او اسامه بن زیدؓ بے ادبی اوکړه نو ددے سره به څه کوی؟، ضرور به دا خبره کوی چه مونږ ددے صحابه کرامؓو دا خبره ځکه پریخوده چه ددے په مقابله کښې د رسول الله ﷺ وینا راغلے ده ۔

درجة الحديث : اسناده صحيح : اخرجه احمد (۲۱۰۸۵) وابوداود (٤۱۱) وصححه ابن الحزم وقال الشوكاني واخرجه البخاری فی التاریخ والنسائی باسناد رجاله ثقات ـــــــــــــــ

(۱۷-۱۸) وَعَنْ مَالِكٍ، بَلَغَهُ اَنَّ عَلِيَّ بْنَ اَبِيْ طَالِبٍ وَعَبْدَ اللهِ بْنَ عَبَّاسٍ كَانَا يَقُوْلَانِ : اَلصَّلَاةُ الْوُسْطٰى صَلَاةُ الصُّبْحِ . رَوَاهُ فِي الْمُوَطَّأ .

ترجمه : او امام مالك نه روایت دے چه هغه ته دا خبره رسیدلے ده چه علی بن ابی

طالبؓ او ابن عباس رضی الله عنهما دواړو به وئيل چه درميانه مونځ (نه مراد) د سحر مونځ دے ۔ (موطاء امام مالكؒ) ۔

تشريح : اَلصَّلَاةُ الْوُسْطٰى صَلَاةُ الصُّبْحِ :

پدے روايت كښې دا راغلل چه د صلوة الوسطى نه مراد صلوة الصبح دے لكه دا على بن ابى طالبؓ ته منسوب دے، ليكن حافظؒ فرمائى : چه د على بن ابى طالبؓ نه ددے په خلاف قول معروف دے، زرقانىؒ وائى : مشهور قول د على بن ابى طالبؓ دا دے چه ددے نه مراد د مازيګر مونځ دے، لكه چه مصنف عبد الرزاق (۵۷۷/۱) رقم (۲۱۹۵) بيهقى او ابن المنذرؒ نقل كړيدے لكه ابن ابى حاتمؒ او ابن جريرؒ د زر بن حبيشؒ نه نقل كړيدى چه فرمائى : ما عبيده ته اووئيل : د علىؓ نه د صلوة وسطىٰ په باره كښې تپوس اوكړه! هغه ترے تپوس اوكړو، علىؓ اوفرمائيل : مخكښې زمونږ دا ګمان وو چه صلوة وسطىٰ د فجر مونځ دے تردے چه ما د رسول الله ﷺ نه په غزوه احزاب كښې واوريدل چه فرمائيل ئے : شغلونا عن الصلاة الوسطى صلاة العصر، ومثله رواه عبد الله بن احمد فى مسند ابيه عن علىؓ هذا كله فى تفسير ابن كثير (۲۹۱/۱)۔ يعنى دا د مازيګر مونځ دے ۔

ددے نه معلومه شوه چه اول قول د علىؓ د هغه په اجتهاد بناء وو او مرفوع حديث رسيدلو نه پس ئے دا عقيده شوه چه دا صلوة العصر دے ۔ دغه شان د ابن عباسؓ نه هم ابونعيم، ابن جرير، ابن المنذر، او البزارؒ نقل كړيدى چه : الصلوة الوسطى صلاة العصر دا صريح دے هيڅ احتمال پكښې نشته او دا روايت د باب ضعيف دے ۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف معضل : اخرجه مالك فى الموطأ (۱۳۹/۱) فى سنده حسين بن عبد الله بن ضمرة عن ابيه عن جده عن على وهو متروك الحديث ولا يصح حديثه، انظر المرعاة (۳٤۳/۲) وتعليق المشكاة لرمضان (۲۷٦/۱) ۔

۱۹ – وَرَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ وَابْنِ عُمَرَ تَعْلِيْقًا .

(او دا روايت امام ترمذىؒ د ابن عباسؓ او ابن عمرؓ نه په طريقه د تعليق نقل كړيدے) ۔

تشريح : د ابن عمر نه ددے خلاف روايت هم نقل دے چه فرمائى دا صلوة العصر دے كذا حكاه ابو محمد عبد المومن خلف الدمياطى فى كتابه كشف الغطا عن الصلاة الوسطىٰ ۔

---


۲۰ – وَعَنْ سَلْمَانَ ؓ، قَالَ : سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ يَقُوْلُ : مَنْ غَدَا اِلٰى

صَلاَةِ الصُّبْحِ غَدَا بِرَايَةِ الْإِيْمَانِ، وَمَنْ غَدَا اِلَى السُّوْقِ غَدَا بِرَايَةِ اِبْلِيْسَ . رَوَاهُ ابْنُ مَاجَه .

ترجمه : او د سلمان رضی الله عنه نه روایت دے فرمائی : ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلی دی چه فرمائیل ئے : څوك چه د سحر مانځه دپاره ځی نو ګویا کښے هغه د ایمان جنډه واخسته لاړو او څوك چه سحر بازار ته ځی نو ګویا کښے هغه د شیطان جنډه اخستو سره ځی ۔ (ابن ماجه) ۔

تشريح : علامه طیبیؒ فرمائی : داحدیث د الله تعالی د لښکر او د شیطان د لښکر د بیانولو دپاره تمثیل دے چه څوك سحر مانځه دپاره سحر وختی پاځیږی او مسجد ته روان شی نو ګویا کښی هغه د ایمان جنډه لاس کښی را واخسته او د شیطان د مقابلے دپاره روان شو لکه څنګه چه غازیان او مجاهدین د اسلام دشمنانو سره د جنګ دپاره جنډه واخلی او روان شی لهذا سحر وختی د صبا مانځه ته تلونکے شخص د الله تعالی د لښکر نه یو فرد شمارلے کیږی او کوم شخص چه سحر وختی د دنیا د حاصلولو دپاره بازار طرفته روان شی، نو هغه د شیطان د لښکر نه یو فرد شمارلے کیږی پدے طریقه چه هغه د الله تعالی د حکم خلاف اوکړی، مانځه ته د تللو په ځائے د شیطان په خواهش عمل اوکړی او خپل دین کمزورے کړی او د شیطان د تابعداریٔ جنډه لاس کښی واخلی او د هغه شان وشوکت اوچت کړی، بیا وائی : بازار ته وختی تلل په هغه وخت کښی ممنوع دی کله چه انسان مونځ او وظائف پوره نکړی او همدغه شان بے نمازه روان شی او که یو انسان وختی مونځ اوکړی او د هغے نه روستو بازار ته د حلال رزق او معاش د طلب دپاره روان شی نو دا د شیطان د ډلے نه نه شمارلے کیږی بلکه دا به د حزب الله (د الله ډلے نه) شمار وی، انتهی ۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف : اخرجه ابن ماجه فی التجارات (٢٢٥٣) وقال فی الزوائد فی اسناده عیسی بن میمون، متفق علی تضعيفه واورد المزیؒ فی تهذیبه هذا الحدیث فی ترجمة (ت ٤٣٥٠) وهو فی ضعیف الجامع (٥٧١١) ۔



باب الاذان

مناسبت : مخکښې بیان د اوقاتو او فضائل د مانځه وو نو اوس وائی چه وقت انسان معلومولی نو دا په اذان سره معلومیږی ځکه چه وقت د مانځه خو هر سړے نشی معلومولے صرف مؤذن ته به معلوم وی نو هغه به اذان اوکړی خلقو ته به پته اولګی چه وقت د مانځه داخل شو، دا وجه ده مؤذن ته شریعت مؤتمن وئیلے دے چه دا به امانت ګر وی په خپل وقت به اذان کوی د وقت نه به مخکښې اذانونه نکوی لکه نن صبا دور کښې دا ذمه واری اکثر مؤذنینو پریخے ده د صبا اذان قبل الوقت کوی دغه شان د ماسخوتن اذان هم قبل الوقت کوی۔

پدے مقام کښې څو بحثونه دی۔

۱- مشروعیت د اذان :

اذان په مدینه کښې په اوله سنه هجری کښې مشروع شویدے او دا قول د جمهورو دے کما فی الفقه علی المذاهب الاربعة (۱/۳۱۱)۔ یا په سنه (۲) کښې مشروع شویدے لکه چه دا د بعضو قول دے کما فی تعلیق بذل المجهود (۳/٤) طبع دار الدیان للتراث مبارکفوریؒ فرمائی : والاول هو الراجح، مرعاة (۲/۳٤۵)۔

کله چه رسول الله ﷺ اول مدینے ته راغلو نو د اذان په باره کښې ئے مشوره اوکړه او په مشورے سره آواز مقرر شو (الصلاة جامعة) بیا عبد الله بن زید بن عبد ربه رضی الله عنه خوب اولیدلو او الفاظ د اذان مقرر شو او همدا قول صحیح دے بعض علماؤ وئیلی دی چه اذان د معراج په شپه باندے د مونځ د فرض کیدو سره په مکه کښې مقرر شوے وو لیکن عمل په هغے باندے نه وو شرے لکه چه پدے باره کښې روایت د ابن عباسؓ او علیؓ وغیره راغلی دی لیکن حافظ ابن الحجرؒ فرمائی : پدے باره کښې هیڅ صحیح حدیث ثابت ندے۔

۲- بحث : د اذان ثبوت په قرآن کریم کښې

په درے آیتونو کښې ثابت دے ۱- ﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا نُودِيَ لِلصَّلوٰةِ مِنْ يَوْمِ الْجُمُعَةِ

﴾ سورة الجمعة ـ

۲– ﴿ وَاِذَا نَادَيْتُمْ اِلَى الصَّلٰوةِ اتَّخَذُوْهَا هُزُواً وَّلَعِبًا ﴾ سورة المائدة الآية ـ

۳– ﴿ ومَنْ اَحْسَنُ قَوْلاً مِّمَّنْ دَعَا اِلَى اللّٰهِ وَعَمِلَ صَالِحاً وَّقَالَ اِنَّنِیْ مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ ﴾ سورة حم السجدة ـ پدے آیت کښې د بعض مفسرینو قول دے چه دا په باره د اذان کښې دے نو دا دریم مقام شو ـ

او احادیث په ثبوت د اذان کښې متواتر راغلی دی او امت ددے په مشروعیت باندے اجماع کړیده او په علم یقین سره ثابت دے، قاله ابن رشد ـ

۴– **بحث** : اذان د رسول الله ﷺ نه قولاً ثابت دے نه فعلًا یعنی نبی علیه السلام پخپله اذان ندے کړے په طریقه د اعلام اګرچه په طریقه د تعلیم ترے نقل دے ـ

دا وجه ده بعض بدعتیان وائی رد کوی په اهل حق اهل حدیث باندے چه تاسو وایئ هر شے چه پیغمبر نه وی کړے نو هغه به نه کوو نو اذان هم پیغمبر ندے کړے نو دا به هم نه کوو؟ ددے جواب دا دے چه صاحبه! پدے خبره ځان پوهه کړه! چه د پیغمبر علیه السلام احادیث قولی هم دی او فعلی او تقریری هم دی نو دلته اګر که فعلاً د رسول الله ﷺ نه اذان ندے نقل لیکن قولی احادیثو سره خو په تواتر سره نقل دے او د حسنؒ په غوره کښې ئے اذان کړیدے که چرے هغه حدیث ثابت شی او نبی علیه السلام چه پخپله ندے کړے نو ددے یوه بله وجه ده هغه دا چه د مقرر امام او خلیفة المسلمین دپاره اذان مکروه دے بعض وائی خلاف الاولیٰ دے کما قال الحافظ فی الفتح (۲/۶۲)ـ

او ددے په باره کښې مرفوع احادیثو کښې نهی راغلے ده لیکن هغه ضعیف دی، لکه بیهقی د جابرؓ نه مرفوعاً روایت کړیدے: نهی ان یکون الامام مؤذناً) وسنده ضعیف کما فی ضعیف الجامع رقم (۶۰۲۴) وضعفه الحافظ العسقلانی ایضاًـ

حافظ زیلعیؒ په نصب الراية (۱/۲۹۳) کښې وائی: د امام دپاره د اذان په کراهت کښې دوه حدیثونه راغلی دی او دواړه ضعیف دی (۱) – یو حدیث د انسؓ دے مرفوعاً [یکره للامام ان یکون مؤذناً] اخرجه ابن عدی فی الکامل، وفیه سلام وزید وکلاهما ضعیفان جداًـ

(۲) – دویم حدیث ابن حبان په کتاب الضعفاء کښې راوړیدے : [نهی ان یکون الامام مؤذناً] وهو ضعیف ایضاً فیه المُعلّٰی انتهیٰـ

البته د یو مرفوع حدیث نه د امام دپاره په کراهت د اذان باندے استدلال کیدے شی او

هغه دا چه رسول الله ﷺ عثمان بن ابی العاص ؓ ته اوفرمائیل : [واتخذ مؤذنا لا یأخذ علی اذانه اجراً] رواه احمد (۲۱/٤) وابوداود (۱۰۷/۱) والنسائی (۱۰۹/۱) وسیأتی فی المشکوٰۃ (٦٥/۱) وهو حدیث صحیح ـ نو دلته رسول الله ﷺ عثمان ؓ ته دا او نه فرمایل : چه ته اذانونه کوه بلکه حکم ئے ورته اوکړو چه ځان له مؤذن اونیسه ! معلومه شوه چه امام القوم به اذانونه نکوی ـ

دارنګه د بعض صحابه کرامو ؓ نه په صحیح سند سره دا ثابت دی چه هغوی د امام دپاره اذان مکروه ګنړلو لکه حافظ ابن الحجر ؒ په المطالب العالیة (٦٥/۱) کښ باب ایخودے : باب لایکون الامام مؤذناً ـ بیا ئے د قیس بن ابی حازم ؒ په روایت د عمر بن الخطاب ؓ نه نقل کړیدی : چه عمر فاروق ؓ فرمائی : [لو اطیق الاذان مع الخلیفی لاذنت] رواه مسدد معلق د دغه کتاب وائی : ورجاله ثقات ـ

مشهور الفاظ داسے دی : لولا الخلّیفی لاذنت ـ

یعنی که د خلافت کارونو سره ما د اذان طاقت لرلے نو ما به اذان کړے وے، په فتح الباری (٦۲/۲) کښ وائی : واختلفوا فی کراهیة الاذان للامام ونقل کراهته عن عمر وغیره ـ

یعنی د امام دپاره د اذان په کراهت کښ اختلاف دے او د عمر فاروق وغیره نه ددے مکروه والے نقل دے : [وصح عن عمر : لو اطیق الاذان مع الخلافة لاذنت] رواه سعید بن منصور وغیره، فتح الباری، وبلوغ الامانی (۳/۲) ـ

ابن ابی شیبه (٤۰٦/۱) کښ د عمران بن مسلم ؒ نه نقل دی : هغه فرمائی : سوید ؒ او فرمائیل : [لو استطعت لکنت اؤذن لهم واؤمهم] ـ یعنی که زما شرعاً طاقت وے نو ما به خلقو دپاره اذان کولے او امامتی به مے ورته کولے (یعنی دواړه جمع کول مکروه دی) ـ

عمران ؒ فرمائی : ما دا خبره مصعب بن سعد ؒ ته ذکر کړه (چه سوید ؒ خو داسے وائی) هغه اوفرمائیل : [ان ذلك لیس من السنة ان یکون مؤذناً واماماً] یعنی دا سنت ندی چه یو انسان مؤذن او امام دواړه جوړ شی او د عمر فاروق نه ئے هم حدیث راوړیدے : [لولا ان یکون سنة لاذنت] ـ

یعنی که د امام دپاره اذان نکول سنت نه وے نو ما به اذان کړے وے (د وجے د ډیر فضیلت د اذان نه لیکن خلافت سره اذان کول مناسب ندی) ـ

بعض علماء وائی : په ترمذی کښ راغلی دی چه رسول الله ﷺ په سفر کښ اذان کړیدے (ان النبی ﷺ اذن فی سفر وصلی باصحابه وهم علی رواحلهم السماء من فوقهم

والبلة من اسفلهم) ـ

حافظؒ فرمائي : پدے خبره باندے امام نوويؒ هم جزم كړيدے چه نبي عليه السلام په سفر كښ يو كرت اذان كړيدے او دا خبره ئے قوي كړيده او دغه حديث د ترمذي ته ئے نسبت كړيدے ليكن مونږ دا حديث په مسند احمدؒ كښ اوموندلو چه په هغے كښ هم بعينهٖ د ترمذيؒ سند دے او هغے كښ دا الفاظ زيات دي [فامر بلالاً فاذن] نو ددينه مونږ ته معلومه شوه چه په روايت د ترمذي كښ اختصار او اجمال شويدے او د فاذن معنى دا شوه چه فامر بلالاً بالاذان ـ لكه دا كار ډير كيږي چه د يو عمل نسبت مشر د قوم ته كيږي اگر كه كونكے ئے بل څوك وي خو مشر آمر وي لكه خلق وائي خليفه فلاني عالم ته زر روپئ وركړے او حال دا چه وركونكے خزانچي وي ليكن حكم كونكے خليفه وي څكه هغه ته نسبت كيږي ـ كذا في فتح الباري (۲/۶۲) ـ

بل جواب دا دے چه په روايت د ترمذي كښ عمر بن الرماح دے ـ

نو ددے نه د امام نوويؒ د قول ضعف معلوم شو چه هغه وئيلي دي چه د امام دپاره اذان كول مستحب دي څكه چه پيغمبر دواړه جمع كړيدي ـ

حاصل د مسئلے دا شو : سنت طريقه دا ده چه امام به اذان نكوي خو كه چرے اذان ئے يو كرت نيم اوكړو نو جائز به وي ـ دليل په جواز باندے معلوميږي د يو حديث نه : [اذا سافرتما فاذنا واقيما وليؤمكما اكبر كماء] رواه البخاري) ـ

مالك بن الحويرث او د هغه تره څوي د نبي عليه السلام خوا ته راغلي وو څه وقت چه كلي ته واپس رخصتيدل نو رسول الله ﷺ ورته دا اوفرمائيل : كله چه تاسو دواړه په سفر اووتلئ نو اذان او اقامت كوئ ! او په تاسو كښ چه كوم مشر وي هغه دِے امامت كوي ـ نو دلته رسول الله ﷺ د امام دپاره اذان كول مباح كړل فتدبر ـ وانظرِ فتاوى الدين الخالص (۳/۲۳۷) ـ

٤- بحث : اذان لغت كښ اعلام (خلقو ته خبر وركولو) ته وائي كما في قوله تعالى: ﴿ وَاَذَانٌ مِنَ اللّٰهِ ﴾ التوبة، اى اعلام من الله ﴿ وَاَذِّنْ فِي الْحَجِّ ﴾ اى اعلن ـ

اسم مصدر د باب تفعيل دے اذن يؤذن تاذيناً واذاناً ـ متعارف اذان په معنى د تاذين سره دے لكه سلام په معنى د تسليم سره يعني اسم مصدر قياسي په معنى د مصدر دے او دا ماخوذ دے د اَذَن بفتح الهمزة والذال ـ غوږ كيښودلو ته وائي او اذان شرعي ته هم څكه اذان وائي چه ديته هم غوږ كيخودلے شي ـ

امام نووی ؒ وائی : اذان د اذن نه دے نو اذان ته اذان ځکه وائی چه گویا کښې مؤذن د خلقو په غوږونو کښې په خپل آواز سره هغه الفاظ گوزاری چه په هغے سره هغوی مانځه ته راغواړی ـ المجموع (١٧٥/٣) ـ

بعض خلق اذان په مد سره (آذان) وائی دا خطائی ده ځکه چه آذان جمع د اُذُنٌ ده غوګونو ته وائی (فليبتكن آذان الانعام) ـ

او په اصطلاح د شرع کښې : هو اعلام بكلمات مخصوصة في اوقات مخصوصة (په خاص کلماتو سره په خاص اوقاتو کښې خلقو ته خبر ورکول) ٢– يا : الاعلام بوقت الصلاة بالفاظ مخصوصة ٣– يا : اعلام بدخول وقت الصلاة بالفاظ مخصوصة، بلوغ الاماني شرح مسند احمد الشيباني (٢/٣) وتوضيح الاحكام (٤٤٩/١) ونيل الاوطار ـ

اقامت : په شرع کښې : اعلام بالقيام الى الصلاة بذكر مخصوص، توضيح الاحكام (٤٤٩/١) مانځه ته د اودریدو خبر ورکول په خاص ذکر سره ـ

فائده : علامه قرطبی ؒ وغیره فرمائی : اذان سَره د کموالی د حروفو نه مشتمل دے د عقیدے په مسائلو باندے ـ په ابتداء کښې اکبریت دے چه دا د الله تعالی په وجود او کمال او تعظیم باندے دلالت کوی بیائے توحید ثابت کړے په نفی د شریك سره بیا اثبات د رسالت د محمد ﷺ شویدے بیا د رسالت نه پس ئے یو خاص طاعت او عبادت ته دعوت ورکړیدے ځکه چه دا عبادت د رسول په وجه معلوم شویدے بیائے دائمی کامیابئ ته دعوت ورکړے چه هغه همیشه نعمتونو کښې اوسیدل (جنت) او پدے کښې اشاره ده معاد (دوباره ژوند) ته بیا دوباره تاکیداً اثبات د توحید کړے ـ بلوغ الامانی (٢/٣) فتح الباری توضيح الاحكام (٤٥٠/١)

٥– بحث : حكم الاذان و الاقامة

د اذان او اقامت په حکم کښې د ائمه کرامو ؒ اختلاف واقع شویدے، د ائمه ثلاثه په نیز اذان او اقامت سنتِ مؤکده دی، بیوی د حنابله ؤ نه چه هغوی اذان فرض کفائی گنړی تفصیل د مذاهبو داسے دے ـ

١– **شوافع**، احناف او مالکیه ؤ مذهب دا دے چه اذان او اقامت د منفرد او جماعت دواړو دپاره سنت دے که حضر وی او که سفر وی لیکن د جماعت دپاره سنت کفائی دے یعنی که یو منفرد جمعے ته حاضر شو نو د هغه نه اذان ساقط دے بلکه د ټول جماعت

دپاره یو اذان او یو اقامت کافی دے او که یو انسان مونځ بغیر د اذان او اقامت نه اوکړو نو مونځ ئے صحیح دے لیکن مکروه دے او سړے گناهگار دے چه سنت ترے پاتے شویدی او دا قول د اسحاق بن راهویة هم دے او علامه سرخسی د جمهور ائمه کرامو نه نقل کړیدے کما قال النووی فی المجموع (۸۲/۳) و وهبة فی الفقه علی المذاهب الاربعة (۳۱۰/۱)۔

۲- **علامه قرطبی** په تفسیر قرطبی (۲۲۵/۶) کښ او امام نووی په المجموع (۸۲/۳) کښ او ابن قدامه په المغنی (۴۲۵/۱) کښ او ابن عبد البر په الاستذکار (۴۳۲/۱) کښ د امام مالك نه نقل کړیدی: انما یجب النداء فی مساجد الجماعة التی یجتمع فیها للصلاة ۔ یعنی په هغه جامع مساجدو کښ چه خلق پکښ مانځه دپاره راجمع کیږی، اذان واجب دے لکه چه دا خبره امام مالك په موطا کښ ذکر کړیده۔

امام طبری د مالك نه نقل کړیدی: ان ترك اهل مصر الاذان عامدین اعادوا الصلاة یعنی که یو ښار والا قصداً اذان پریخودو، مونځ به دوباره کوی (ځکه چه واجب ترے پاتے شه)۔

۳- **علامه ابن المنذر** فرمائی: هما فرض فی حق الجماعة فی الحضر والسفر، المجموع (۸۲/۳) والقرطبی ۔ یعنی اذان او اقامت په جماعت والاو باندے په حضر او سفر دواړو کښ فرض دی۔

٤- **امام احمد بن حنبل** او د هغه د اکثر اصحابو مذهب دا دے چه اذان او اقامت فرض کفائی دے په کلو او ښاریو کښ د پنځه مونځونو دپاره او په سړو باندے فرض دے او صرف په حضر کښ نه په سفر کښ ۔ او دا د فرضیت قول د بعض مالکیانو دے دارنګه دا قول د عطاء او مجاهد او اوزاعی دے ۔ المغنی (۴۶۱/۱)۔

۵- **اهل ظواهر**، اوزاعی عطاء، مجاهد وائی: اقامت واجب دے او چا چه پریخودو نو د مانځه اعاده به کوی برابره خبره ده که قصداً ئے پریخے وی او که نسیاناً ۔

الاستذکار (۴۳۲/۱)۔

د اقامت په باره کښ د ائمه ثلاثه هغه مذهب دے کوم چه په اذان کښ دے البته مالکیه وائی چه حکم د اقامت د اذان حکم نه لری بلکه اقامت په هر منفرد باندے سنت دے، البته که جماعت سره شریك شو نو بیا د هر سړی دپاره سنت ندے او اذان د منفرد دپاره ضروری ندے که محله کښ اذان واوری او بیا ترے جماعت فوت شی نو یواځے به اقامت

كوى اګركه اذان پرے ضرورى ندے ـ الفقه على المذاهب الاربعة (١/٣١٧) ـ

حكم المسافر فى ذلك

١ - **اهل ظواهر** او امام داود ظاهرى فرمائى : اذان او اقامت په منفرد مسافر باندے هم واجب دے ـ

٢ - **او د امام احمدؒ** په نيز د مسافر دپاره سنت دے ـ

٣ - **اشهبؒ** د امام مالكؒ نه نقل كړيدى چه ان ترك الاذان مسافر فعليه اعادة الصلاة، القرطبى (٦/٢٢٦) يعنى كه مسافر سړى اذان پريخودو نو په هغه باندے اعاده د مانځه لازمه ده ـ

٤ - **امام ابوحنيفهؒ** او د هغه اصحاب فرمائى : مسافر به د اذان او اقامت دواړو سره مونځ كوى او دا ورله مكروه دى چه اذان او اقامت پريدى ـ

او كه يو انسان يواځے په كور كښں مونځ كوى نو هغه دپاره هم اذان او اقامت مستحب دے ليكن كه د خلقو په اذان او قامت ئے اكتفاء اوكړه هم جائز ده ـ

٥ - **امام ثورىؒ** فرمائى : اقامت د اذان په ځائے كافى كيږى په سفر كښں ـ

امام شافعى، ابوحنيفه، او د هغه اصحاب، ثورىؒ ، احمد، اسحاق، ابوثورؒ او طبرىؒ پدے متفق دى چه كه مسافر قصداً يا نسياناً اذان پريخودو نو مونځ ئے جائز دے دغه شان كه اقامت پريدى اګركه اقامت پريخودل ورله ډير سخت مكروه ګڼرى ـ (القرطبى) ـ

پدے ټولو كښں راجح قول دا دے (چه هغه د ظاهر د احاديثو نه معلوم دے) چه اذان فرض دے خو فرض خارجى دے بغير د اذان نه هم مونځ كيږى خو كه اونشى نو خلق ګناهګار دى د فرضو د پريخودو په مقدار ـ

ځكه چه علامه ابوعمر بن عبد البرؒ فرمائى : ما ته هيڅ اختلاف ندے معلوم پدے كښں چه په ټولو ښار والا باندے اذان واجب دے ځكه چه اذان هغه علامه ده چه د دارِ اسلام او د دارِ كفر ترمينځ فرق راولى او رسول الله ﷺ به چه كله يوه سريه (د فوج ټولګے) ليږله نو دا به ئے ورته فرمايل : تا سو چه كله اذان په يو كلى كښں واورئ نو د حملے نه بند شئ او كه اذان وانه ورئ نو حمله كوئ ! الاستذكار (١/٤١٧) تفسير القرطبى (٦/٢٢٥)

امام محمدؒ نه نقل دى : (لو احتمع اهل بلد على تركه قاتلناهم عليه) يعنى كه يو ښار والا په اتفاق سره اذان پريدى نو مونږ مسلمانان به ورسره قتال كوو ـ ومثله قال صاحب

المغنی (۱/۴۲۵)۔
امام ابویوسفؒ فرمائی : (یحبسون ویضربون) جیل ته به اچولے شی او سزاء به ورکولے شی۔ البحر الرائق (۱/۲۰۶)۔
او د وجوب او فرضیت قول ابن الهمام په فتح القدیر کښې مختار کړیدے او دا قول شیخ الاسلام ابن تیمیةؒ په مجموعة الفتاوی (۱/۱۶۷) و (۴/۲۰) او علامه شوکانیؒ په السیل الجرار (۱/۱۹۶، ۱۹۷) کښې او علامه البانیؒ په تمام المنة تعلیق فقه السنة ص (۱۴۴) کښې غوره کړیدے چه اذان واجب دے تر دے چه په یواځے مونځ کونکی باندے هم واجب دے۔ شیخ بسامؒ فرمائی : اذان او اقامت فرض کفایه دی هیڅ ښار او کلی والا د پاره ددے پریخودل جائز ندی ځکه دا د ښکاره شعائرو نه دی۔ توضیح الاحکام (۱/۴۴۹)۔

دلائل الوجوب :

۱- **اول دلیل** : په قول د ابن عبد البرؒ کښې تیرشو چه دا د اسلام لوئی ظاهری شعار دے نو فرض دے لکه د جهاد پشان چه بعض مسلمانان اذان اوکړی نو غاړه د باقی آزاده شوه۔ المغنی (۱/۴۲۵ والشرح الکبیر)۔

۲- **دلیل** : په اذان او اقامت باندے امرونه راغلی دی : والامر للوجوب عند عدم قرینة خلافه۔ یو په حدیث د مالك بن الحویرثؓ کښې دے : [فلیؤذن لکم احدکم،] اخرجه الشیخان۔ په روایت د بخاری کښې دی : [فاذنا ثم اقیما] یعنی اذان او اقامت اوکړئ !۔

★- عثمان بن ابی العاصؓ ته رسول الله ﷺ اوفرمائیل : [و اتخذ مؤذناً لا یأخذ علی اذانه اجراً،] رواه الخمسة بسند صحیح۔

★- بلالؓ ته ئے امر کړیدے : [امر بلال ان یشفع الاذان ویوتر الاقامة] رواه الشیخان وغیرهما۔

★- په حدیث د عبد الله بن زیدؓ کښې دی : [انها لرؤیا حق ان شاء الله ثم اَمَرَ بالتأذین] وهو حدیث صحیح صححه الترمذی وغیره وسیأتی۔

۳- **دلیل** : د ابو الدرداءؓ په حدیث کښې دی : [سمعت رسول الله ﷺ یقول : ما من ثلاثة لا یؤذنون ولا تقام فیهم الصلاة الا استحوذ علیهم الشیطان] ، اخرجه احمد وابوداود والنسائی وابن حبان وقال صحیح الاسناد۔ د اذان او اقامت په نه کولو سره په انسانانو باندے شیطانان غلبه حاصلوی او د هغوی د غلبے نه ځان ساتل فرض دی نو اذان او اقامت هم فرض شو۔ کذا فی السیل الجرار (۱/۱۹۷) ونیل الاوطار، وتمام المنة (۱۴۴) والمغنی

(۴۲۴/۱) ـ

۴- دليل : ابـن الهمامؒ او موفق الدين ابن قدامةؒ فرمائي : د رسول الله ﷺ او د هغه د خلفاؤ دوام دليـل دے په وجوب بانـدے ځکه چه يو کرت هم رسول الله ﷺ او د هغه صحابـه کرامو﷢ په هيڅ موقعه کښې اذان او اقامت ندے پريخے او داسے دوام دليل د وجوب وی ـ البحر الرائق (۵۰۶/۱) والشرح الكبير (۴۲۴/۱)ـ

البتـه کـه د يـو انسان نه جُمعه فوت شي او يواځے مونځ کوی يا دوباره جمع کوی نو د هغـه دپاره اذان او اقـامـت ضروری ندے او که بيا هم اذان او اقامت اوکړی نو ورله جائز ده دليـل پدے بانـدے حديث د مسلم (۲۰۲/۱) والبيهقي (۴۰۶/۱) دے اسودؒ او علقمهؒ وائی مونږ عبد الله بن مسعودؓ ته د هغه کور کښې حاضر شو نو هغه اوفرمايل : دے خلقو تاسو پسے مونځ کړيدے ؟ مونږ اووئيل نه : وے فرمائيل : پاځئ مونځ اوکړئ نو ابن مسعودؓ په اذان او اقامت بانـدے حکم اونکړو ـ

بـل روايت کښې دی : [يـحـزئنا اذان الحی واقامتهم] ـ اوګـوره ابـن مـسـعـودؓ چه فقيه الصحابه دے اکتفاء ئے اوکړه په اذان او اقامت د محله باندے ـ

بيهقي (۴۰۶/۱) د ابـن عـمرؓ نه نقل کوی، فرمائی : [مـن صلى في مسجد قد اقيمت فيه الصلاة احزأته اقامتهم] ـ يعنی چاچه په هغه مسجد کښې مونځ کولو چه په هغے کښې مونځ شوے وی نو دده دپاره د هغوی اقامت کافی دے، انتهیٰ ـ

لـيـکـن کـه اذان او اقامت اوکړی نو دا ورله بهتره ده ځکه چه بيهقي (۴۰۷/۱) کښې او امام بخاری تعليقاً (۸۹/۱) ذکـر کـړيدی چه انس بن مالكؒ : مسجد ته راغلو چه په هغے کـښې مونځ شوے وو نو اذان او اقامت ئے اوکړو او بيا ئے خپلو ملګروته د سحر جُمعه اوکړه و كذا اخرجه عبد الرزاق (۵۱۳/۱) نـو پدے سره رد راغلو په قول د رشيد احمد لدهيانوی باندے چه هغه په احسن الفتاوی (۲۷۹/۲) کښې وائی : د جُمعے نه روستو په مسجد کښې د يـواځے مـونـځ کـونـکـی دپاره اذان او اقـامـت مکروه دے، نو داخبره د هغه بے دليله او بے تحقيقه ده، ددے په خلاف ابن الحزمؒ په المحلی (۱۶۶/۲) کښې وائی : منفرد دپاره هم اذان مستحب دے لکه چه دا خبره شيخ البانیؒ او علامه شوکانیؒ هم غوره کړيده کما تقدم ـ

دلائل غير الموجبين للاذان

اوكوم علماء چه اذان ته واجب نه وائی نو د هغوی سره څه خاص دليل نشته سِوئ ددينه چه رسول الله ﷺ په مزدلفه کښې جمع بين الصلاتين اوکړه په يو اذان او دوه اقامتونو سره نو دلته رسول الله ﷺ د مانځه دپاره اذان پريخے دے۔

٢- دارنګه وائی : چه په حديث د مسيئ الصلاة کښې رسول الله ﷺ هغه سړی ته د اذان او اقامت حکم نده کړے نو د منفرد دپاره هم اذان او اقامت واجب نده ۔ کما فی المغنی (١/٤٢٧) ۔

ددے جواب : شيخ البانی" داسے ورکوی : چه اګرکه بعض طرق الحديث کښې امر نشته مګر په بعضو نورو کښې امر په دواړو راغلے دے لکه په ترمذی (١/٦٦) کښې دی : (ثم تشهد واقم) يعنی اذان او اقامت اوکړه الصحيحة (١/٦٦) ۔

ليکن اصح دا ده چه منفرد دپاره اذان او اقامت مستحب دے او واجب پرے نده کما مرّ ۔ وکذا فی (المنار فی المختار للعلامة المقبلی : ١/١٤٣) ۔

٣- بعض علماؤ وئيلی دی چه اذان او اقامت څکه فرض ندی چه که دا فرض شی نو يا به شرط وی او يا به رکن وی او حال دا چه اذان او اقامت خو شرط او رکن د مانځه نه دے ۔ ددے جواب علامه شوکانی" دا ورکړيدے چه پدے قائل باندے تعجب پکار دے څکه چه دا چا وئيلی دی چه هر فرض يا رکن وی او يا شرط بلکه مانځه دپاره ارکان، شروط او فرائض جدا جدا هم شته ۔ السيل الجرار (١/١٩٧) ۔

علامه ابن رشد" په بداية المجتهد ١/٧٧) کښې سبب د اختلاف بيانوی چه د علماؤ اختلاف پدے وجه واقع شويدے چه د بعض احاديثو مفهوم معارض واقع شويدے د ظواهر د بعض آثارو سره پدے طريقه : چه دا خبره ثابته ده چه نبی عليه السلام مالك بن الحويرث او د هغه ملګری ته اوفرمايل کله چه تاسو سفر ته اووتلئ نو اذان کوئ او مشر دے پتاسو کښې امامتی کوی ۔ او دے سره د نبی عليه السلام عمل يو ځائے کړه چه هغه به کله په جماعت کښې وو نو اذان به ئے کولو نو چا چه ددے احاديثو نه مطلقاً وجوب فهم کړيدے نو هغه وئيلی دی چه اذان په اعيانو (هر شخص) يا په جماعت باندے فرض دے او دا د داود ظاهری نه ابن مغلس نقل کړيدی ۔

او چا چه د اذان نه د مانځه دپاره راجمع کيدل فهم کړيدی نو هغه وئيلی دی چه دا د

مساجدو سنت دے او یا فرض دے په هغه مواضعو کښې چه هلته خلق د جماعت په شکل راجمع کیږی نو سبب د اختلاف دا شو چه اذان متردد دے په دوه خبرو کښې یا خو دا وینا ده د مانځه پورے خاص ده (نو بیا په هر شخص باندے فرض دے) او یا خو د مانځه پورے خاص ندے بلکه مقصود پدیسره د خلقو راجمع کول دی (نو دا خارجی شے دے لهذا په هر شخص باندے ندے فرض) ۔

٦- بحث : مواضع الاذان

اذان په ډیرو ځایونو کښې کولے شی چه بعض د هغے نه په احادیثو کښې ثابت دی او بعض د هغینه چا د ځان نه بدعات جوړ کړیدی چه تفصیلی ئے داسے دے :

١- یو قسم اذان د اوقاتِ خمسو دپاره دے نو دا اتفاقی دے او شپږم اذان د صبا مانځه دپاره قبل طلوع الفجر دے نو دا اختلافی دے او تفصیل به ئے ان شاء الله راشی ۔

٢- دویم مقام : الاذان فی اذن المولود : بعض اهل علم خاصکر اهل حدیث علماء لکه شیخ البانیؒ په خپلو کتابونو کښې فرمائی : چه د ماشوم په غوږ کښې د اذان کولو په باره کښې صحیح حدیث نشته لیکن زمونږ تحقیق پدے باره کښې دا دے چه ددے متعلق درے احادیث راغلی دی دوه موضوعی او ضعیف جداً دی او یو حدیث ته امام ترمذی حسن صحیح وئیلی دے (١) - اول حدیث : حسین بن علیؓ نه مرفوعاً نقل دی : [من ولد له مولود فاذن فی اذنه الیمنی واقام فی اذنه الیسری لم تضره ام الصبیان] رواه ابن السنی (٢٠٠) والهیثمی فی المجمع (٤/٥٩) وفی اسناده مروان بن سالم ویحیی بن العلاء وهما یضعفان فی الحدیث ۔ شیخ البانیؒ په سلسلة الاحادیث الضعیفة رقم (٣٢١) کښې وائی : الحدیث موضوع ۔

(٢) - حدیث : د ابن عباسؓ دے چه شعب الایمان رقم (٨٦٢٠) کښې امام بیهقی راوړیدے لیکن په هغے کښې قاسم بن مطیب راوی دے (وفیه لین) بیهقیؒ دواړه روایتونه نقل کولو نه پس وائی : وفی هذین الاسنادین ضعیف ۔

(٣) - دریم حدیث د ابورافع دے چه ما رسول الله ﷺ اولیدو چه د حسن بن علیؓ په غوږ کښې ئے د مانځه اذان اوکړو کله چه هغه د فاطمے نه پیدا شو ۔ ترمذی (١/٢٧٨) دے روایت ته حسن صحیح وئیلی دے، واخرجه ابوداود (٢/٣٤٩) وفی المشکاة (٢/٣٦٣) والبیهقی (٩/٣٠٥) ومصنف عبد الرزاق (٤/٣٣٦) ۔

حافظ ابن القیمؒ په تحفة المودود ص (٢٣) کښې د ابوداود او ترمذی نه تصحیح ددے

حدیث نقل کریده، امام حاکم هم راوړیدے او بیا ئے فرمائیلی دی: (صحیح الاسناد) مگر ذهبیؒ پرے تعقیب کریدے چه پدے روایت کښې عاصم بن عبد الله ضعیف راوی دے انتهیٰ او دا اتفاقی ضعیف دے مګر امام احمد عجلیؒ ورته لابأس به وئیلے دے نو دا روایت ان شاء الله چه حسن درجه کښې دے ځکه چه د امت تعامل هم ورسره ملګرے دے لکه چه امام ترمذی هم دے خبرے ته اشاره کوی چه والعمل علیه) یعنی دا حدیث د امت په عمل کښې راغلے دے نو دا ددے خبرے تائید کوی چه ان شاء الله دا اذان به ثابت وی او هر چه اقامت دے نو دا خو سراسر بدعت دے په هیڅ صحیح یا حسن حدیث کښې ندے ثابت ـ په تحفة المودود (۲۳)کښې ددے اذان ډیر عجیبه فوائد ذکر کړیدی فراجعها ان شئت ـ

او ددے اذان وقت هم ندے مقرر بلکه کله چه انسان قادر شو اذان دې اوکړی ـ انظر احسن الفتاوی (۲/۲۷۶)ـ

۳– دریم مقام : الاذان عند الخوف من الجن ـ کله چه انسان د پیرانو وغیره نه یرېږی نو اذان پکار دے ځکه چه شیطانان پدے سره تختی ـ

امام مسلمؒ په صحیح مسلم (۱/۱۶۸) کښې د سهیل واقعه نقل کړیده فرمائی: زه پلار بنو حارثه ته اولیږلم او ما سره یو بل هلك هم وو نو دیو باغ نه هغه ته د هغه په نوم یو آواز کونکی آواز اوکړو نو هغه هلك په هغه دیوال اوختلو هیڅ ئے اونه لیدل (کله چه کورته واپس راغلم) نو پلار ته مے دا واقعه ذکر کړه، هغه اووئیل: که زه خبر وے چه ته به دداسے حالت سره مخامخ کیږے ما به نه وے لیږلے، لیکن کله چه ته (داسے غیبی) آواز واورے نو اذان کوه ځکه چه ما د ابو هریره رضی الله عنه نه حدیث د رسول الله ﷺ اوریدلے دے چه (ان الشیطان اذا نودی بالصلاة ولّی وله حُصاص) کله چه شیطان اذان واوری نو شا راواړوی او د هغه نه هواء (تیزونه) روان وی، دا موقوف حدیث دے ـ اخرجه احمد (۳/۳۰۵–۳۸۲) او په مرفوع روایت د جابر بن عبد الله کښې داسے هم راغلی دی: اذا تغولت الغیلان فنادوا بالاذان اخرجه احمد، وهو فی کنز العمال رقم (۱۷۴۹۷)والمصنف لعبد الرزاق رقم (۹۳۵۲) ومیزان الاعتدال (۶۴۰۴) ومجمع الزوائد (۱۳۴۱۰) یعنی کله چه بلاګانے آوازونه اوکړی نو اذان کوئ! ـ لیکن سند ئے ضعیف دے ـ انظر الضعیفة (۳/۱۱۴۰) موقوف ضعیف للانقطاع بین جابر والحسن قاله ابو حاتم والبزار ـ

٤– څلورم مقام : الاذان عند الهم : (د غم په وخت اذان کول)ـ

ملا علی القاری په المرقاة (۲/۱۴۹) کښې وائی : د غم په وقت اذان کول سنت دی

ځکه چه دیلمیؒ د علیؓ نه روایت نقل کړیدے چه زه نبی علیه السلام غمژن اولیدم وے فرمائیل : اے ابن ابی طالب ! زه تا غمجن وینم نو ته بعض کور والا ته حکم اوکړه چه ستا په غوږ کښ اذان اوکړی ځکه چه دا د غم دعاء ده ۔ علیؓ فرمائی : پدے باندے ما تجربه اوکړه نو همدغه شان مے اوموندله، دیلمیؒ وائی : د علی پورے تول راویانو داسے تجربه اوکړه نو هغوی هم دغه شان اوموندله ۔ وذکره علی المتقی فی کنز العمال (۱۲٤/۲) هغه هم په دیلمیؒ حواله ورکړیده ۔ لیکن دا قانون واوره ! چه د مسند الفردوس للدیلمی اکثر احادیث صحیح ندی، کله چه هغه ئے یوائحے نقل کړی نو دلته هم سند ندے معلوم او دا اذان په رد المحتار (۳۵۷/۱) کښ هم نقل شویدے وانظر فتاوی دیوبند (۸٦/۲)۔

۵- **پنځم مقام** : کله چه یو انسان یا حیوان بد اخلاقه شی د هغه په غوږ کښ اذان ۔ مرقاة (۱٤۹/۲) او کنز العمال رقم (٤۱٦٦۵) د دیلمی نه نقل کړیدی عن علی قال : قال رسول الله ﷺ من ساء خلقه من انسان او دابة فاذنوا فی اذنه وسنده ضعیف انظر الضعیفة (٦۸/۱) رقم (۵۲) ۔

٦- **مقام** : الاذان فی القبر : په قبر کښ د داخلولو په وقت کښ بعض خلق اذانونه کوی دا قبیح بدعت دے، ابن عابدینؒ په رد المحتار (٦۰۰/۱) کښ ددے تردید کړیدے چه دا کار سنت ندے او ابن حجرؒ نه ئے نقل کړیدی چه دا اذان بدعت دے درر البحار کښ دی : د هغه بدعاتو نه چه په هندوستان کښ کیږی اذان دے په قبر باندے کما فی احسن الفتاوی (۳۳۷/۱) ۔

۷- **مقام** د باران بندولو دپاره اذانونه کول بدعت دے ځکه چه دا په هیڅ حدیث کښ ندے ثابت (من عمل عملاً لیس علیه امرنا فهو رد اخرجه مسلم)۔

۸- **مقام** : د سورة یسٓ په ختم کښ بعض خلق په هر مبین باندے اذان کوی دا قبیح او ناکاره بدعت دے ۔

۹- **مقام** : د قحط او وباء ختمولو دپاره اذان کول هم بدعت دے کما فی فتاوی دیوبند (۸٤/۲-۹۳) که د صبا دپاره دوه اذانونه حساب کړے شی نو تول لس ځایونه د اذان جوړ شو ۔

الفصل الاول – اول فصل

۱ – عَنْ اَنَسٍ ﷺ ، قَالَ : ذَكَرُوا النَّارَ وَالنَّاقُوسَ، فَذَكَرُوا الْيَهُوْدَ وَالنَّصارٰى،

فَأُمِرَ بِلَالٌ اَنْ يَّشْفَعَ الْاَذَانَ، وَاَنْ يُّوْتِرَ الْاِقَامَةَ . قَالَ اِسْمَاعِيْلُ : فَذَكَرْتُهُ لِاَيُّوْبَ، فَقَالَ : اِلَّا الْاِقَامَةَ . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ .

ترجمه : انس رضی الله عنه فرمائی چه صحابه کرامو ؓ (د اذان د مشروعیت نه مخکښې د مانځه د وقت د اعلان کولو په سلسله کښې) اور او ناقوس ذکر کړو ـ بعضې خلقو د یهود او نصاراؤ ذکر اوکړو (چه د هغوی مشابهت راځی تردے چه اذان نازل شو) بیا بلال ته حکم اوشو (د نبی علیه السلام د طرفنه) چه د اذان کلمات جفت اووائی او د تکبیر کلمات یو یو ځل اووائی ـ شیخ اسماعیل ؒ (چه ددے حدیث راوی او د بخاری او مسلم استاذ دے) فرمائی چه ما دا حدیث ایو ب ته (کوم چه ددے حدیث بل روای دے او انس ؓ ئے لیدلے دے) ذکر کړو نو هغوی اوفرمائیل : لفظ د قد قامت الصلاة دوه کرتے وئیل پکار دی ـ (یعنی د تکبیر په اول او آخر کښې الله اکبر نه علاوه باقی کلمات یو یو کرتے دی او لفظ د قد قامت الصلاة دوه کرتے دے) (بخاری ومسلم) ـ

ذَكَرُوا النَّارَ وَالنَّاقُوْسَ :

تشریح : دا مختصر حدیث د اذان شانِ ورود ته اشاره کوی چه تشریح ئے داسے ده ـ کله چه رسول الله ﷺ د مکے مکرمے نه مدینے طیبے ته هجرت اوکړو او د مسلمانانو تعداد زیات شو او مسجد هم جوړ شو نو رسول الله ﷺ د صحابه کرامو ؓ سره مشوره اوکړه چه د مانځه په وقت کښې د اعلان دپاره څه شے مقررول پکار دی نو وحی لا نه وه شوے څکه مشوره کوی، په مشوره کښې بعض صحابه کرامو ؓ اوفرمائیل : چه په اوچت ځائے بانديے به اور رنړا کوو چه خلق هغه اووینی نو مسجد ته به راځی، بعضو اووئیل : چه ناقوس به وهو (چه دا یوه تهلئ ده چه طریقه ئے داسے ده چه وړوکی لرګی سره غټ لرګی اووهی او د هغے نه یو آواز پیدا شی چه هغه خلق واوری عبادت ته حاضریږی او دا د عیسایانو د عبادت په وقت کښې وهلے شی) ـ

۳– بعض صحابه کرامو ؓ دا مشوره ورکړه چه بوق به وهو (بوق ته قرن الیهود هم وائی – دا یو ښکر وو چه په هغے کښې به ئے آواز کولو) پدے مشوره کښې بعض نورو صحابه کرامو ؓ رد اوکړو چه اور خو د مجوسو عادت دے او ناقوس د عیسایانو او بوق د یهودیانو لهذا دا دریواړه طریقے اختیارول ندی پکار دے دپاره چه د کفارو مجوسو، یهود او نصاراؤ سره مشابهت رانشی نو بله یوه طریقه اختیارول پکار دی او چا ووئیل چه جنډه به

اوچته وو ـ پدې سره مجلس برخاست شو، مشوره نتيجه خيزه نشوه او هيڅ مقرر نشو ـ په بله موقعه باندې عمر فاروق داسې مشوره وركړه چه يو تن به مقرر كړو چه هغه په يو اوچت ځائې باندې آواز كوى او داسې به وائى (الصلاة جامعة) او بعضو پكښې د ناقوس مشوره وركړه نو پدې دواړو خبرو مشوره طے (مقرر) شوه مگر عمل په آواز اوشو او په ناقوس باندې ځكه مشوره اوشوه چه پديسره اگركه د نصاراؤ مشابهت دے مگر د نصاراؤ مشابهت په مقابله د مجوس او يهودو كښې كم دے ځكه نصارى مسلمانانو ته نزدے دى د مجوس او يهودو نه او دا شرعى قانون هم دے (من ابتلى ببليتين فليختر اهونهما) څوك چه په دوه مصيبتونو كښې راگير شى نو كوم چه آسان او معمولى وى هغه دې غوره كړى ـ

ليكن الله رب العالمين ناقوس ته هم ضرورت راپيښ نكړو ـ پدې كښې يو صحابى (عبد الله بن زيد بن عبد ربه) رضى الله عنه ډير پريشان شو چه رسول الله ﷺ ئې پريشان اوليدو نو په غم او خفگان كښې په مسجد كښې اوده شو خوب كښې څه گورى چه يو ملائك په انسانى شكل باندې ناقوس په لاس ولاړ دے ده ورته اوفرمايل: دا ناقوس خرخوې هغه ورته اووئيل: پدې باندې څه كوې؟ ده ورته اوفرمايل: مونږ پرې خلق د مانځه دپاره راغواړو، هغه ورته اوفرمايل: ددې نه بهتر كار درته اونه خايم؟ ده ورته اووئيل: ولې نه! نو هغه ورته اوفرمائيل: داسې وايه الله اكبر الخ نو اذان ئې ورته اوخودلو ـ

عبد الله بن زيد رضى الله عنه سحر پاڅيدو او د رسول الله ﷺ خواته ورغلو او خوب ئې ورته بيان كړو رسول الله ﷺ ورته اوفرمائيل: (انها لرؤيا حق) بيشكه چه دا رشتينې خوب دے، او وې فرمايل: بلال سره اودريږه او ته ورته هغه كلمات اووايه كوم چه تا په خوب كښې ليدلى دى او هغه دې په زور سره اووائى، ځكه چه هغه ستا نه په آواز كښې اوچت دے ـ

كله چه دے دواړو پدې طريقه اذان اوكړو او د بلال آواز ټول كلى ته اورسيدو نو عمر فاروق رضى الله عنه په كور كښې واوريدو او په منډه راغلو وې فرمائيل: يا رسول الله! قسم دے په هغه ذات چه ته ئې په حق سره راليگلې ئې دغه شان كلمات ما هم خوب كښې ليدلى دى كوم چه عبد الله ليدلى دى، نو رسول الله ﷺ د الله تعالى شكر اداء كړو ـ

بعض رواياتو كښې راغلى دى چه په همدغه شپه لس يا يولس يا څوارلس صحابه كرامؓ دا خوب ليدلے وو ـ

فائده: عبد الله بن زيد بن عبد ربه رضى الله عنه خو ادنىٰ صحابى دے او ابوبكر او

عمر او خلفاء راشدین مشران دی نو هغوی ولے دا خوب نه لیدلو ؟ الجواب : دا فضیلت جزئی دے او صحیح دا ده چه عبد الله ډیر اهتمام کړے وو تردے چه شپه ئے په مسجد کښ تیره کړه ځکه چه رسول الله ﷺ ددے په باره کښ ډیر اهتمام اوکړو نو د هغه سعی الله تعالی برباد نکړه او بل چا به دومره اهتمام او خفگان نه ووکړے پدے وجه هغوی ته خوب کښ اونه خودل شو ﴿ وَاللّٰهُ لَا یُضِیعُ اَجْرَ الْمُحْسِنِیْنَ ﴾ ﴿ اِنَّ اللّٰهَ لَا یُضِیعُ اَجْرَ مَنْ اَحْسَنَ عَمَلًا ﴾ ﴿ وَالَّذِیْنَ جَاهَدُوْا فِیْنَا لَنَهْدِیَنَّهُمْ سُبُلَنَا ﴾ ۔

فائده : پدے روایت کښ چه مصنفؒ نقل کړیدے ډیر زیات اختصار شویدے پدے کښ دا دی چه یهودیانو د خپل عبادت دپاره نخه اور لګوی او حال دا چه د یهودیانو د عبادت نښه بوق دے ۔ علامه کرمانیؒ فرمائی : دا احتمال شته چه کیدے شی یهودیان دواړه کارونه کوی، اور هم لګوی او بوق هم وهی ۔ یا پکښ دوه ډلے دی بعضے اور لګوی او بعض بوق وهی ورجحه فی مظاهر حق (٤٦١/١) لیکن صحیح خبره دا ده چه اور د مجوسو دے او بوق د یهودو او ناقوس د نصاراؤ دے لکه چه ددے تشریح په روایت د ابوالشیخ کښ همدغه شان راغلے ده نو بناء پدے روایت کښ اختصار دے او لف نشر غیر مرتب دے ۔ اصل کښ داسے : فذكروا النار والناقوس والبوق فذكروا اليهود والنصارى والمجوس ۔

فَاُمِرَ بِلَالٌ : دا صیغه د مجهول ده او آمر رسول الله ﷺ دے لکه چه په روایت د نسائی وغیره کښ ددے تصریح راغلے ده۔ دلته په کلام کښ (ادماج) اختصار دے یعنی خلق ددے مشورے نه پس خواره شو نو روستو عبد الله خوب اولیدو او پیغمبر ئے تصدیق اوکړو بیا بلال ته حکم اوکړے شو چه اذان د جفت کلمات وائی او اقامت د طاق کلمات وائی ۔

اَنْ یَّشْفَعَ الْاَذَانَ : د شفع الاذان نه مراد اکثر کلمات دوه دوه ځل وئیل دی، ورنه په صریح روایاتو کښ راغلی دی چه الله اکبر به څلور کرتے وائی او آخر کښ به لا اله الا الله یو کرتے وائی ۔

وَاَنْ یُّوْتِرَ الْاِقَامَةَ : یعنی اقامت دے طاق وائی، ایتار دے پکښ کوی دلته هم د ایتار نه مراد اکثر کلماتو کښ ایتار دے ځکه چه په ابتداء کښ تکبیر او آخر کښ تکبیر دوه دوه کرتے دے نو دا محمول دے په تغلیب باندے ۔

بعض وائی : ددے معنی دا ده : چه اقامت به د اذان په نیمائی باندے وائی په هغه

کلماتو کښې چه صلاحیت د نصفیت لری لهذا بیا هیڅ اشکال نشته په تکرار د تکبیر باندے۔

مسئله : د اذان دوه قسمه کیفیتونه :

پدے حدیث کښې دا خبره راغله چه بلال ؓ ته حکم شوے وو چه اذان جفت اوکړی لیکن په احادیثو کښې د اذان د کلماتو په باره کښې دوه قسمه کیفیتونه وارد دی۔

۱- پنځلس کلمات : لکه دا په روایت د عبد الله بن زید بن عبد ربه رضی الله عنه کښې راغلی دی، بغیر د ترجیع نه اخرجه ابوداود (۴۹۹) وصحیح ابی داود (۴۶۹) والبخاری فی خلق افعال العباد والدارمی (۲۴۶) وصححه البخاری والنووی والذهبی)

۲- نولس (۱۹) کلمات : چه ترجیع د شهادتینو پکښې اوکړے شی لکه چه دا په حدیث د ابو محذوره رضی الله عنه کښې راغلی دی : ان رسول الله ﷺ علّمه الاذان تسع عشرة كلمة والاقامة سبع عشرة كلمة ۔

پداسې طریقه : الله اکبر، الله اکبر - الله اکبر، الله اکبر - اشهد ان لا اله الا الله، اشهد ان لا اله الا الله - اشهد ان محمداً رسول الله، اشهد ان محمداً رسول الله ﷺ - (بیا) اشهد ان لا اله الا الله، اشهد ان لا اله الا الله - اشهد ان محمداً رسول الله، اشهد ان محمداً رسول الله- حی علی الصلاة، حی علی الصلاة - حی علی الفلاح، حی علی الفلاح - الله اکبر، الله اکبر - لا اله الا الله ۔ صحیح سنن ابی داود (۴۷۴) ترمذی، ونسائی وابن ماجه) ۔

پدے طریقو کښې بغیر د ترجیع والا اذان زیات کول پکار دی او کله کله د ترجیع والا اذان هم سنت طریقه ده او په همدے طریقه باندے عمل په ټولو احادیثو راځی ۔

معنی الترجیع :

په اذان کښې ترجیع دیته وائی : ذكر الشهادتين مرتين مرتين بخفض الصوت ثم اعادتهما برفع الصوت، المغنی (۱/۴۵۰) تحفة الاحوذی (۱/۱۶۹) طبع بیروت ۔

یعنی اشهد ان لا اله الا الله، اشهد ان محمدا رسول الله دوه دوه کرتے لوستل په خکته آواز او بیا دوباره لوستل په اوچت آواز سره لکه چه مخکښې حدیث د ابو محذوره کښې ذکر شو ۔

په ترجیع کښې دوه مادے دی : ۱- یو آواز خکته کول بیا پورته کول ۲- دویم تکرار د شهادتینو ۔ بعض ناپوهه مولیانو به د ترجیع معنی داسے کوله چه په اذان کښې آ آ کولو ته ترجیع وائی، دا خبره غلطه ده دا په هیڅ روایت یا په قول د عالم کښې نده راغلے ۔

اختلاف العلماء فی الترجیع وکلمات الاذان

د اذان په کلماتو کښې او په اذان کښې د ترجیع په باره کښې د علماؤ اختلاف دے :

۱ - امام شافعی ؒ او مالك ؒ او احمد ؒ او د هغوی اصحاب وائی : (او د نووی ؒ (۱/۱٦٥) په قول دا د جمهورو مذهب دے) چه ترجیع په اذان کښې سنت طریقه ده، مگر فرق صرف دا دے چه ۱ - امام شافعی ؒ په نیز باندے ترجیع سنت مؤکد دے او دده په نیز باندے د اذان کلمات نولس (۱۹) دی، ابتداء کښې دوه کرتے الله اکبر، الله اکبر وئیل مسنون دی نو دده په نیز کلمات د اذان اوولس (۱۷) دی۔

استدلال کوی په روایت د عبد الله بن محیریز عن ابی محذورة رضی الله عنه ان نبی الله ﷺ علمه الاذان الله اکبر الله اکبر، اشهد ان لا اله الا الله الخ، اخرجه مسلم (۱/۱٦٥) ۔ نو پدے روایت کښې تثنیه د تکبیر راغلے ده، تربیع په کښې نشته ۔

الجواب : قاضی عیاض ؒ د جمهور علماؤ د طرفنه جواب ورکوی چه په بعض طرق د صحیح مسلم کښے په روایت د فارسی ؒ کښې په ابتداء کښې تکبیر څلور کرتے ذکر دے، او فارسی ؒ ثقه راوی دے او زیادت د ثقه مقبول وی ۔ شرح مسلم (۱/۱٦٥) سبل السلام (۱/۱۸٦)۔

★ - امام نووی ؒ وائی : پدے حدیث کښې په اکثر اصولو د صحیح مسلم کښې تکبیر دوه کرتے ذکر دے او په نورو کتابونو کښې - سوئ د مسلم نه - پدے حدیث کښې څلور کرتے الله اکبر ذکر دے ۔

★- ابن عبد البرؒ په الاستذکار (۱/٤۱٤) کښې فرمائی : التکبیر اربع مرات فی اول الاذان محفوظ من روایة الثقات: من حدیث ابی محذورة، ومن حدیث عبد الله بن زید وهی زیادة یجب قبولها و کذا فی سبل السلام (۱/۱۸٦)۔

یعنی د ابو محذوره او عبد الله بن زید په حدیث کښې د ثقه راویانو نه په ابتداء د اذان کښې څلور کرتے تکبیر محفوظ دے نو ددے زیادت قبلول واجب دی ۔

★- دارنګه په ابتداء کښې په تربیع د تکبیر باندے عمل د اهل مکه دے او دا د مسلمانانو مرکز دے په موسم د حج اوغیر حج کښې او پدے باندے د هیڅ صحابی وغیره نه انکار ندے نقل، معلومه شوه چه همدا سنت دے ۔ (شرح مسلم وسبل)

۲ - د امام احمد ؒ په نیز باندے ترجیع احیاناً مسنون ده او غالباً نده پکار ۔ علامه

مرداویؒ په الانصاف (۴۱۳/۱) کښې وائي : يو قول د امام احمدؒ دا دے چه ترجيع مستحب ده وعليه اهل مكة اليوم ۔ او دا قول ابن الحزمؒ په المحلی (۱۸۵/۲) کښې غوره کړيدے ۔

۴- **امام ابوحنيفه**ؒ او د هغه اصحاب او ثوريؒ قول دا دے چه په اذان کښې ترجيع نشته بيا بعض احناف ورته مکروه وائي ۔ کما فی ملتقی الابحر ۔او بعض ورته خلاف الاولیٰ وائي او ابن نجيم په البحر الرائق (۵۰۷/۱) کښې وائي : زمونږ د کتابونو د عباراتو نه دا ښکاره کيږي چه ترجيع مباح ده نه سنت ده او نه مکروه ۔ صاحب د فيض الباری شاه انور شاه کشميری وائي : حقيقت دا دے چه اختلاف صرف په افضليت کښې دے ۔ مرعاة المفاتيح (۳۴۷/۲) ۔

د دوی په نيز د اذان کلمات پنځلس (۱۵) دی، ابتداء کښې څلور کرتے الله اکبر وئيل څلور کرتے شهادتين او دوه ځل حی علی الصلاة او دوه ځل حی علی الفلاح او دوه ځل الله اکبر او يو ځل لا اله الا الله وئيل لکه چه دا په حديث د عبد الله بن زيدؓ کښې راغلی دی الاستذکار (۴۱۴/۱) ۔

دلائل الاحناف : د احنافو سره د ترجيع په کراهت يا په عدم سنيت باندے هيڅ دليل نشته سویٰ ددے نه چه وائي : د عبد الله بن زيد په حديث کښې ترجيع نده راغلے قاله النووی فی شرح مسلم (۱۶۵/۱) والمبارکفوری فی التحفة (۱۷۰/۱) ۔

★ –دارنګه په حديث د بلالؓ کښې نده راغلے سره ددے نه چه بلالؓ به د نبی عليه السلام سره حضر او سفر کښې اذانونه کول او ترجيع ئے پکښې نده کړے، معلومه شوه چه ترجيع نشته ۔

★ – دارنګه د اکثر مؤذنينو په اذان کښې ترجيع نشته لکه اذان د ابن ام مکتومؓ، سعد القرَظ، بلال او عبد الله بن زيدؓ ۔ نو معلومه شوه چه ترجيع سنت نده ۔ لکه دا استدلال صاحب د بذل المجهود (۲۸۳/۱) ذکر کړيدے ۔

★– دارنګه عبد الله بن عمرؓ فرمائي : [انما كان الاذان علی عهد رسول الله ﷺ مرتين مرتين،] رواه النسائی (۲۱/۲) وابوداود (۵۱۰) والدارمی (۲۷۰/۱) ددے نه معلومه شوه چه د رسول الله ﷺ په زمانه کښې به ترجيع نه کيدله ۔

الجواب : هر کله چه په حديث د ابو محذورةؓ کښې ترجيع د اذان ثابته ده او دا زيادت د ثقه دے نو دا منافی نده د هغه احاديثو سره چه په هغے کښې ترجيع نده ذکر شکه چه

ترجیع خو دائمی سنت ندے بلکه کله نا کله سنت دے اوس به راشو هغه دلائلو ته چه په هغے کښ د ترجیع سنیت معلومیږی ۔

دلائل الجمهور:

۱- **اول دلیل** : حدیث د ابومحذورةؓ : [ان رسول اللّٰه ﷺ اقعده والقیٰ علیه الاذان حرفاً حرفاً قال ابراهیم : مثل اذاننا قال بشر : فقلت له اعد علیّ! فوصف الاذان بالترجیع قال ابوعیسیٰ حدیث ابی محذورة فی الاذان حدیث صحیح وقد روی من غیر وجه (بل من طرق عدیدة رواها مسلم وابوداود والنسائی وغیرهم : تحفة الاحوذی) وعلیه العمل بمکة وهو قول الشافعی انتهیٰ کلام الترمذی ۔

نو پدے روایت کښ ترجیع سره اذان ثابت شو ۔

امام نووی فرمائی : وفی هذا الحدیث حجة بیّنة ودلالة واضحة لمذهب مالك والشافعی واحمد وجمهور العلماء ان الترجیع فی الاذان ثابت مشروع الخ شرح مسلم (۱/۱۶۵) ۔

۲- **دلیل** : عن عبد اللّٰه بن محیریز عن ابی محذورة : ان النبی ﷺ علمه الاذان تسع عشرة کلمة والاقامة سبع عشرة کلمة، رواه ابوداود (۱/۷۹) والترمذی (۱/۴۸) والنسائی (۱/۱۱۰) والدارمی (۱/۲۱۶) وسیأتی فی الکتاب (۱/۶۳) ۔

۳- **دلیل** : روستو حدیث را روان دے : عن ابی محذورة قال : قلت یارسول اللّٰه ! علّمنی سنة الاذان قال فمسح مقدم رأسه قال : تقول : اللّٰه اکبر (اربع مرات) فذکر الترجیع، اخرجه ابوداود (۱/۸۰) قال القاریؒ : قال النوویؒ : حسن : نقله میرك وقال ابن الهمام اسناده صحیح انتهیٰ ۔

علامه مبارکفوریؒ فرمائی : وهذه الروایة نص صریح فی ان الترجیع من سنة الاذان تحفة (۱/۱۷۰) ۔

دا حدیث صریح دے پدے کښ چه ترجیع سنت ده ځکه چه دلته ابومحذوره د سنت اذان تپوس کړیدے او نبی علیه السلام ورته په جواب کښ مسنون اذان خودلے دے معلومیږی چه همدا سنت طریقه ده او پدے کښ هیڅ تاویل نشی کیدے ۔ (تحفة الاحوذی : ۱/۱۷۰)۔

٤- **دلیل** : عن ابی محذورة قال : علمنی رسول اللّٰه ﷺ الاذان فقال : اللّٰه اکبر (اربع مرات) اشهد ان لا اله الا اللّٰه مرتین، اشهد ان محمداً رسول اللّٰه (مرتین) ثم یعود فیقول : اشهد ان لا اله الا اللّٰه (مرتین) الحدیث واسناده صحیح اخرجه النسائی وابوداود وابن ماجه

(تحفة : ۱/۱۷۰)۔

دا مذکوره احادیث واضح دلیل دے چه په اذان کښے ترجیع کول بعینه د رسول الله ﷺ سنت عمل دے او په دے کښې تاویلات کول د صریح سنت مقابله کول دی لکه چه احنافو وغیره په دے کښې داسے تاویلات کړیدی :

د احنافو تاویلات په احادیثو د ترجیع کښې او د هغے جائزه

۱– ابن الهمام په فتح القدیر (۱/۲۱۲) کښې د طبرانی فی الاوسط په حواله د ابو محذوره روایت راوړیدے : یقول : القیٰ عَلَیَّ رسول الله ﷺ الاذان حرفاً حرفاً الخ او په هغے کښې ترجیع نده ذکر (فتعارضا فتساقطا) نو د ابو محذوره دواړه حدیثونه د یو بل معارض شو نو دواړه به ساقط شی او حدیث د ابن عمر او عبد الله بن زید به د معارضے نه سالم پاتے شی ۔

الجواب : ملا علی القاری حنفی په مرقاة شرح مشکاة (۲/۱۵۱) کښې وائی : وفیه ان عدم ذکره فی حدیث لا یعد معارضاً لان من حفظه حجة علی من لم یحفظ والزیادة من الثقة مقبولة ، نعم لو صرّح بالنفی کان معارضاً مع ان المثبت مقدم علی النافی انتهیٰ ۔

یعنی دا خبره غلطه ده چه ترجیح په دے روایت د ابو محذوره کښې نده ذکر نو دا معارض شو د هغه حدیث د ابو محذوره چه په هغے کښې ترجیع ذکر ده بلکه کوم روایت کښې چه راوی ترجیع ذکرکوی نو هغه به مقبول وی ځکه ده خبره یاده کړیده او دا زیادت د ثقه راوی دے ، او زیادت د ثقه مقبول وی، آؤ ! دا (تساقطا) خبره به هله صحیح وے چه په یو روایت کښې نفی د ترجیع راشی او بل روایت کښے اثبات راشی نو بیا به تعارض راشی (او دلته خو نفی بالکل نشته او که بالفرض نفی راشی او تعارض واقع شی) نو مثبت مقدم وی په نافی باندے ځکه دده علم زیات دے د نافی نه ۔ انتهیٰ ۔

۲– طحاویؒ په شرح معانی الآثار (۱/۱۰۰) کښې دا تاویل کوی چه دا احتمال شته چه ابو محذورهؓ په دے شهادتینو باندے هغومره آواز نه وی پورته کړے ځومره چه رسول الله ﷺ غوختلو نو ځکه ورته رسول الله ﷺ اوفرمایل : ارجع وامدد من صوتك هکذا اللفظ فی هذا الحدیث) آواز د پورته کړه ۔

الجواب : دا تاویل مردود دے ځکه چه روایت د ابوداود (۱/۱۰۱) صحیح ابی داود رقم (۴۷۵) کښې ثم ارجع فمُدّ من صوتك لفظ راغلے دے په زیادت د ثم سره نو ددے معنی

دا شوه: اخفض صوتك بالشهادتین مرتین مرتین ثم ارجع فمد من صوتك وارفعه بهما مرتین مرتین - یعني اول به په شهادتینو سره دوه دوه ځل آواز ښکته کړے بیا به را واپس شے او آواز به اوګد او پورته کړے په شهادتینو باندے دوه دوه ځل او دلیل پدے باندے هغه روایت د ابوداود دے چه په هغے کښ علمني سنة الاذان ذکر دے چه د هغے الفاظ داسے دی: الله اکبر، الله اکبر - الله اکبر، الله اکبر - ترفع بها صوتك ثم تقول اشهد ان لا اله الا الله اشهد ان لا اله الا الله - اشهد ان محمداً رسول الله، اشهد ان محمداً رسول الله تخفض بها صوتك ثم ترفع صوتك بالشهادة اشهد ان لا اله الا الله الخ او بعض روایات د بعضو تفسیروی۔

دارنګه دا تاویل پدے وجه هم مردود دے چه په دویم دلیل کښ تیر شو چه ابو محذورهؓ وائي: (علمه الاذان تسع عشرة کلمة) چه نبی علیه السلام هغه ته اذان نورلس کلمات خودلے وو نو که ترجیع اونه منلے شي نو بیا خو نورلس کلمات نشو۔

۳- صاحب الهدایه (۸۷/۱) داسے تاویل کوی: (وما رواه کان تعلیماً فظنه ترجیعاً) یعني ابو محذوره ته رسول الله ﷺ د اذان کلماتو کښ شهادتین مکرر کړل ځکه چه هغه ته ئے د ایمان تعلیم ورکولو چه ایمان ئے یاد شي۔ او پدے کښ اشاره ده واقعے ته: ابو محذورهؓ د نهه کسانو د مکے والو سره حنین طرفته روان شو پدے کښ د مسلمانانو یو مؤذن نه ئے اذان واوریدو نو د ماشومانو د عادت مطابق دوئ هم د هغه پورے استهزاء شروع کړه او هغه شان کلمات ئے اوویل - ابو محذورهؓ وائي رسول الله ﷺ باندے زما آواز مزیدار اولګیدو مونږه ئے را طلب کړو او په هریو باندے ئے بیل بیل د اذان کلمات اولوستل پدے کښ زما آواز ورته خوږ ښکاره شو نو زه ئے ځان سره حصار کړم او مخے ته ئے کینولم او زما په تندی باندے ئے لاس راخکلو او درے ځل ئے را ته د برکت دعا اوکړه، ابتداء کښ زما د رسول الله ﷺ سره په ټول مخلوق کښ زیات بغض وو ددے کار نه بعد زما د هغه سره ډیره زیاته مینه پیدا شوه ما ته ئے اوفرمایل: داسے اذان کوه (چه ترجیع ئے پکښ اوکړه)۔

٤- ابن الجوزیؒ په التحقیق کښ وئیلی دی: ابو محذوره کافر وو کله ئے چه اسلام قبول کړو او نبی علیه السلام ورته د اذان تلقین اوکړو نو کلمه د شهادت ئے ورته دوباره بار بار مکرر کړه دے دپاره چه دا ئے یاده شي او زړه کښ ئے مضبوطه شي او خپل مشرکان ملګرو باندے ئے مکرر اولولی نو کله چه ورته رسول الله ﷺ کلمه د شهادت مکرر کړه نو ده ګمان اوکړو چه ګنے دا د اذان نه حساب ده، حال دا چه دا د اذان نه نده - انظر تنقیح تعلیق

التحقیق لابن عبد الهادی (۱/۲۷۵)

الجواب : دادواړه تاویله یوبل ته نژدے دی او دواړه غلط دی د ډیرو وجوهو نه چه نصب الرایة (۱/۲۶۳) کښې حافظ زیلعیؒ ذکر کړیدی او حافظ په الدرایة فی تخریج احادیث الهدایة کښې تردید کړیدی او مبارکفوری په ابکار المنن ص (۷۶) کښې۔

۱ - اوله وجه : دا تاویل د ابوداود د روایت خلاف دے چه (علمنی سنة الاذان) چه په هغے کښې ترجیع د اذان د سنت نه شمارلے ده لکه دا خبره د هدایه محشی او ناکت هم ذکر کړیده په (فیه نظر) سره چه د صاحب الهدایه دا تاویل ددے حدیث خلاف دے۔فتدبر۔

۲- دویمه وجه : علامه سندهیؒ په حاشیه د ابن ماجه کښې ددے الفاظو (ثم قال لی ارجع فمد من صوتك) په تشریح کښې وائی : هذا صریح فی انه ﷺ امره بالترجیع فسقط ما توهمه النفاة انه کرره له تعلیماً فظنه ترجیعاً وقد ثبت عدم الترجیع فی اذان بلال یعرفه من له معرفة بهذا العلم بلا ریب فالوجه القول بجواز الوجهین انتهی وحاشیة النسائی (۱/۱۰٤) والمرعاة (۲/۲٤۷)۔

یعنی دا حدیث صریح دلیل دے چه رسول الله ﷺ ابو محذوره ته په ترجیع کولو باندے حکم کړیدے نو دا گمان غلط دے چه ابو محذوره ته رسول الله ﷺ تعلیم دپاره دا کلمات مکرر کړل او هغه پرے د ترجیع گمان اوکړو او د رسول الله ﷺ نه په اذان د بلال کښې غیر ترجیع هم نقل ده۔ نو ثابته شوه چه دواړه عملونه جائز دی ترجیع او عدم ترجیع انتهی۔

۳- بله وجه دا ده چه په الفاظو د حدیث کښې سوچ اوکړه نو ددے تاویل بطلان به درته ښکاره شی (ترفع بها صوتك ثم تقول اشهد ان لا اله الا اللّٰه اشهد ان لا اله الا اللّٰه – اشهد ان محمداً رسول اللّٰه، اشهد ان محمداً رسول اللّٰه تخفض بها صوتك ثم ترفع صوتك بالشهادة اشهد ان لا اله الا اللّٰه الخ ابوداود (۱/۱۰۱)۔

پدے روایت کښې دا خبره ده چه ابو محذوره ته وائی : چه آینده کښې چه ته اذان کوے نو دغه شان ترجیع به پکښې کوے مضارع صیغه استعمال ده۔

٤- وجه دا ده : چه پدے تاویل کښې تخطئة الثقات ده معتمد خلقو ته بے دلیله د خطائی نسبت کول دی او دا په صحابه کرامو بدگمانی ده، دا د مقلدینو د صحابو سره سلوك دے !! ددے مطلب خو دا شو چه دا صحابه کرامؓ د دین په نقل کولو کښې بے احتیاطه وو (العیاذ بالله)۔

دا په كوم دليل ثابته ده چه دا ترجيع د اذان نه نده او د ابو محذوره ايمان قوی كول مقصود وو ! بلكه دا مذهبی تعصب دے چه انسان په صريح احاديثو كښې تاويلاتو ته مجبور كوی ـ بلكه دليل ددے په خلاف دے چه همدا هم د اذان سنت طريقه ده ـ او ددے د منلو نه هيڅ چاره نشته ـ

۵- بله وجه دا ده چه ابو محذوره په مكه كښې مقيم وو او د مكے اوسيدونكو ته به ئے تر وفات پورے اذانونه كول (او د هغه وفات په (۵۹) هجری كښې شويدے) او پدے موده كښې چه څومره صحابه كرام او تابعين عظام په مكه مكرمه كښې اوسيدل هغوی به دده اذان په ترجيع سره اوريدلو ـ

★ - دارنگه په موسم د حج كښې چه به كوم خلق مكے ته راتلل چه هغه د مسلمانانو مركز اجتماع دے هغوی به هم دغه شان د ابو محذوره اذان په ترجيع سره اوريدلو ـ نو كه د ابو محذورهؓ ترجيع غير مشروع عمل وے يا ناجائز وے يا هغه په كښے خطاء شوے وے يا د هغه پورے خاص وے نو ضرور به هغوی په ده باندے انكار كړے وے او پدے خطائی باندے به ئے هغه نه پريخودلے ليكن د هيڅ صحابی وغيره نه په ترجيع د ابو محذوره باندے انكار ندے نقل، معلومه شوه چه دغه تاويلات بارده د متأخرينو بالكل باطل دی او روغ حديث ته پيوندو نه وراچول دی چه دا د مسلمانانو وظيفه نه ده ـ

بلكه د ترجيع په سنت والی باندے اجماع ده په طريقه د احنافو څكه چه د احنافو دا اصول دی چه كله د صحابو په زمانه كښې يو عمل كيږی او نور صحابه په هغے انكار اونكړی نو دا اجماع وی په ثبوت د دغه عمل باندے ـ اوس دوی د اووائی چه د اجماع د منكر څه حكم دے ؟ ـ راجع لتفصيل المسئلة تحفة الاحوذی (۱/ ۱۷۰)، ابكار المنن فی تنقيد آثار السنن (۷٦ - ۸۰) ـ

خلاصه : په اذان كښې ترجيع صحيح سنت طريقه ده او ددے هيڅ تعارض نشته د هغه احاديثو سره چه په هغے كښې ترجيع نده ذكر بلكه پدے كښې زيادت د ثقه دے او زيادت د ثقه مقبول وی ـ علامه ابن حزمؒ فرمائی : فيكون الاخذ بالزيادة افضل لانها زيادة ذكر وخير، المحلی (۲/ ۱۸۷) ـ

۲- دانگه ابو محذورهؓ ته رسول الله ﷺ پخپله اذان خودلے دے او هغه صحيح طريقے سره پدے باندے په ټول عمر كښې عمل كړيدے ـ

۳- پدے باندے عمل د اهل الحرمين دے او امام نوویؒ ديته اشاره كړيده چه حديث د

ابو محذوره ناسخ دے دپاره د حديث عبد الله بن زيد ځکه چه د ابو محذوره حديث په اتم كال د هجرت دے (بعد حنين) او حديث د عبد الله بن زيد په ابتداء د اسلام كښې وو شرح مسلم (۱/۱٦٥)

ليكن مونږ وايو: پدے دواړو حديثونو كښې هيڅ تعارض نشته چه مونږ نسخ ته محتاج شو بلكه دا د قبيلے د تنوع العبادات نه دى، دواړه طريقے سنت دى اگركه زيات عمل په هغه اذان پكار دے چه پے ترجيع وى او كله كله د ترجيع والا اذان باندے عمل پكار دے نو كوم كسان چه د امام ابو حنيفه مقلدين دى، هغوى ددے حديث د عمل نه محروم شو او كه نه ئے منى نو دا د رسول الله ﷺ په سنتو باندے لوئى جرأت دے چه ترجيع ته مكروه وائى، دا د تقليد نحوست دے او بيا هم مقلدين وائى مونږ په منصوصى مسائلو كښې تقليد نه كوو مونږ وايو داهسے زبانى جمع خرچ دے آيا دا مسئله منصوصى نده چه دوى پكښې تقليد كوى ؟۔

صاحب المرعاة (۲/۳٤۷) د علامه سندیؒ قول نقل كړيدے چه حقه دا ده چه دواړه عملونه جائز دى ترجيع او عدم ترجيع لكه چه مخكښې د هغه عبارت تير شو۔ بيا صاحب المرعاة وائى: قلت: هذا هو الحق ان الوجهين جائزان ثابتان سنتان من سنن النبى ﷺ۔ يعنى دواړه طريقے جائز او مشروع او سنت دى۔ والله اعلم۔

قَالَ اِسْمَاعِيْلُ : فَذَكَرْتُهُ لِاَيُّوْبَ، فَقَالَ : اِلَّا الْاِقَامَةَ

اسماعيل راوى وائى ما ايوب سختيانى ته دا حديث ذكر كړو نو هغه پكښې دا خبره زياته كړه چه اقامت به تاك كوى مگر قد قامت الصلاة الفاظ به دوه كرتے وائى: الا الاقامة او ان يوتر الاقامة كښې جناس تام شويدے چه د دواړو لفظونو معانى جدا جدا دى د اول اقامت نه ټول اقامت مراد دے او دويم اقامت نه صرف د قد قامت الصلاة الفاظ مراد دى۔

فائده : بعض علماء – لكه ابن مندةؒ او ابو محمد الاصيلیؒ – وئيلى دى چه د اِلَّا الْاِقَامَةَ الفاظ د ايوبؒ راوى دى د حديث نه ندى شمار ليكن پدے خبره كښے نظر دے وجه دا ده چه په روايت د معمر عن ايوب كښې مسند عبد الرزاق كښې دا په متصل سند سره مفسراً راغلے دے: [كان بلال يثنى الاذان ويوتر الاقامة الا قوله قد قامت الصلاة] ۔ نو وهم د ادراج ختم شو۔

★– دارنگه ددے په ترديد باندے يوه قاعده اصوليه دليل دے او هغه دا چه په حديث

کښې چه کوم الفاظ ذکر وی هغه به د حدیث نه حساب وی مګر که د هغې په خلاف دلیل قائم شی بیا به د حدیث نه حساب نه وی ۔ او دلته په روایت د اسماعیل کښې صرف دا خبره ده چه خالد الحذاء راوی دا زیادت نه ذکر کوی او ایوب سختیانی ئې ذکر کوی او دواړه پدې حدیث کښې د ابوقلابه عن انس شاګردان دی نو په روایت د ایوب کښې زیادت د ثقه دے فتقبل قاله الحافظ فی الفتح ۔

پدے الفاظو کښې مسئله د ایتار الاقامه او تثنیة الاقامة ده ۔

مسئله : اقامت فرادیٰ دے او که جفت دے

پدے کښې اختلاف د علماؤ دے چه اقامت فرادیٰ دے او که جفت دے ۔

۱- **امام شافعیؒ** احمدؒ او جمهور علماؤ مذهب دا دے چه دا اقامت الفاظ یولس (۱۱) دی او ټول مفرد دی سوئ د تکبیر نه په ابتداء او آخر کښې او سِویٰ د قد قامت الصلاۃ نه چه دا هم دوه کرتے دے ۔ قال الخطابیؒ : مذهب جمهور العلماء والذی جری به العمل فی الحرمین والحجاز والشام والیمن ومصر والمغرب الی اقصی بلاد الاسلام ان الاقامة فرادیٰ انتهیٰ ۔

او دا قول په سلفو کښې د عمر بن الخطاب، عبد الله بن عمر، انس رضی الله عنهم، او د الحسن البصری، زهری، اوزاعی، اسحق، ابوثور، یحیی بن یحیٰی، داود او ابن المنذر رحمهم الله دے بیهقی وائی : وهو قول سعید بن المسیب وعروة بن الزبیر وابن سیرین وعمر بن عبد العزیز (رحم الله الجمیع) نیل الاوطار (۲/۲۱) والفتح الربانی (۳/۲۵) ۔

۲- **امام مالکؒ** نه مشهور قول دا دے چه کلمات الاقامت لس (۱۰) دی : قد قامت الصلاۃ به هم یو کرت وائی داسے به وائی : الله اکبر الله اکبر، اشهد ان لا اله الا الله، اشهد ان محمداً رسول الله– حی علی الصلاۃ حی علی الفلاح – قد قامت الصلاۃ، الله اکبر، الله اکبر – لا اله الا الله ۔ المغنی لابن قدامة (۱/۴۵۲) ۔

استدلال کوی په دے روایت د انس باندے چه (امر بلال ان یشفع الاذان ویوتر الاقامة) ۔دلته بلال ته په ایتار د اقامت باندے حکم شویدے نو قد قامت الصلاۃ به هم یو کرتے وائی ۔ لیکن دده مذهب ضعیف دے وجه دا ده چه ده ته پدے روایت کښې دا الفاظ ندی رسیدلی کوم چه اسماعیل ئې د ایوب نه نقل کوی چه (الا الاقامة) دے یعنی قد قامت الصلاۃ به دوه ځل وائی ۔

★ دارنگه بخاری بشرح الفتح (۲/۶۶) کښې جدا مستقل روایت د ابو قلابه د انس نه داسې راغلے دے: وان یوتر الاقامة الا الاقامة ـ نو روایت د اسماعیل او ابو قلابه دواړه متفق شو چه قد قامت دوه ځل دے والحدیث یفسر بعضه بعضاً ـ

★ – دارنگه د ابن عمرؓ نه هم مرفوعاً قد قامت دوه ځل ثابت دے ـ

۲- **امام ابوحنیفه**ؒ او ثوریؒ او ابن المبارکؒ (بقول الترمذی) وائی: اقامت پشان د اذان دے صرف په اقامت کښې قد قامت الصلاة دوه ځل زیات وائی نو د دوی په نیز د اقامت کلمات (۱۷) دی ـ

امام نوویؒ فرمائی: وهذا المذهب شاذ، شرح مسلم (۱/۱۶۵)

۳- **د شوافعو** یو بل شاذ قول دادے چه ابتداء کښې الله اکبر یو ځل او اخیر کښې یو ځل او قد قامت الصلاة یو ځل نو اته کلمات شو لیکن امام نوویؒ وائی: دا قول شاذ دے او اول قول زمونږ حق دے ـ

د مفرد اقامت دلائل

۱- **ابوقلابه** روایت کوی د انس نه قال: امر بلال ان یشفع الاذان ویوتر الاقامة الا الاقامة، اخرجه البخاری (۱/۱۵۷) ومسلم (۲/۲) واحمد (۳/۱۰۳) والدارمی (۱/۱۱۹۶) وابوداود (۵۹۸) وابن ماجه (۷۲۹) والترمذی (۱۹۳) والنسائی (۲/۳) وابن خزیمة (۳۲۶) او بل دا حدیث الباب شو ـ

۲- **دلیل**: حدیث ابن عمرؓ: قال: انما کان الاذان علی عهد رسول الله ﷺ مرتین مرتین والاقامة مرة مرة غیر انه یقول: قد قامت الصلاة قد قامت الصلاة فاذا سمعنا الاذان توضأنا وخرجنا الی الصلاة اخرجه ابوداود (۱/۱۸۱) وصححه الشیخ الالبانی فی صحیح ابی داود (۴۸۲) وصححه المبارکفوری فی التحفة (۱/۱۷۲) وقال شعیب الارناووط اسناده قوی ـ

۳- **حدیث**: عبد الملك بن ابی محذورة انه سمع اباه یحدث ان النبی ﷺ امره ان یشفع الاذان ویوتر الاقامة، اخرجه الدارقطنی (۱/۲۳۷) قال محققه واسناده حسن وسکت عنه الزیلعی فی نصب الرایة (۱/۲۷) مع انه حنفی المذهب واخرجه ابن الجوزی فی التحقیق (۱/۳۰۳) وسکت عنه الشیخ محمد بن عبد الهادی فی تنقیح التحقیق (۱/۲۷۸) رقم (۴۰۳)ـ

۴- **حدیث**: عن سلمة بن الاکوع: قال: کان الاذان علی عهد رسول الله ﷺ مثنی مثنی والاقامة فرادیٰ، اخرجه الدارقطنی (۱/۲۴۸ رقم ۹۲۰) واسناده صحیح کما فی التعلیق

للدارقطني وسكت عنه الزيلعي في نصب الراية (١/٢٧٢) وقال الهيثمي رواه الطبراني في الكبير واسناده حسن مجمع الزوائد (٢/٩٠- رقم: ١٨٦٣)۔

٥- **حديث**: عن عمار بن سعد مؤذن رسول الله ﷺ حدثني ابي عن ابيه عن جده ان اذان بلال كان مثنى مثنى واقامته مفردة، اخرجه ابن ماجه (٧٣١) وصحيح ابن ماجه (١/١٢٢) رقم (٥٩٧) وقال الشيخ البوصيري وله شاهد من حديث انس رواه النسائي والحاكم في المستدرك وقال صحيح على شرط الشيخين: مصباح الزجاجة في زوائد ابن ماجه (١٢٥) رقم (٢٤٢) وصححه الالباني في صحيح ابن ماجه۔

٦- **حديث** د ابو رافع رض: قال رأيت بلالاً يؤذن بين يدى رسول الله ﷺ مثنى مثنى ويقيم واحدة، اخرجه ابن ماجه (٧٣٢) وصحيح ابن ماجه (١٢٢) رقم (٥٩٨)۔

٧- **حديث**: عن عون بن ابي جحيفة عن ابيه قال: كان الاذان على عهد رسول الله ﷺ مثنى مثنى والاقامة مرة مرة، اخرجه البيهقي كما في نصب الراية (١/٢٧٢) وسكت عليه الزيلعي)۔

دا ټول احاديث صريح دلائل دي پدې خبره چه مفرد اقامت كول سنت عمل دے او ددے نه انكار يا ديته بد كتل د صريح احاديثو مخالفت او انكار دے۔

د احنافو دلائل:

١- **حديث**: د ابو محذوره كښ دي: علمني رسول الله ﷺ الاذان تسع عشرة كلمة والاقامة سبع عشرة كلمة، اخرجه ابوداود (١/٨٠) وابن ماجه (١/٥٢) وابن خزيمة (١/١٩٤) وابن حبان (٢٨٨) بسند صحيح۔

٢- عن الاسود بن يزيد قال: ان بلالاً كان يثنى الاذان ويثنى الاقامة وكان يبدأ بالتكبير ويختم بالتكبير، اخرجه عبد الرزاق في المصنف (٢/٤٦٢) والدارقطني (١/٩٠) والطحاوي (١/٨٠) قيل ان اسود لم يدرك بلالاً ولكن اخرج النسائي له حديثاً عنه كما في نصب الراية (١/٢٦٩) ولكن فيه حماد وهو ليس بالقوى فهو ضعيف منقطع۔

٣- **حديث**: عن معاذ بن جبل وفيه - ثم قام فقال مثلها الا انه زاد بعد حي على الفلاح قد قامت الصلاة قد قامت الصلاة فقال رسول الله ﷺ لقنها بلالاً الحديث رواه ابوداود (١/٨٢) واحمد (٢٤٦) والبيهقي (٢/٢٩٦) قال البيهقي: وعبد الرحمن لم يدرك معاذاً ولكن له شواهد كما في ارواء الغليل (٤/٢٠) رقم (٩١٢)۔

احناف وائي: دا حديثو نه دليل دے چه اقامت به جفت كولے شي نه فرادىٰ۔ او دوى د افراد الاقامت د احاديثو نه جوابونه كوي چه ټول مخدوش دي۔

۱– اول جواب دا کوی: چه افراد الاقامت په ابتداء د اسلام کښې وو او بیا په حدیث د ابو محذوره سره منسوخ شو کوم کښې چه تثنیه د اقامت راغلې دے او دا متاخر دے د حدیث د انس نه نو ناسخ شو۔

الجواب: پدغه روایت د ابو محذوره کښې په بعض طرقو کښې خو ترجیع د اذان هم راغلې ده، هغې باندے ولے عمل نشي کیدے، نو په نیم حدیث عمل کول او نیم پریخودل خو په حدیث باندے عمل ندے نو پکار ده چه احناف د نورلس کلماتو والا اذان باندے هم عمل اوکړی کوم چه د ترجیع والا دے۔

۲– امام احمد د نسخ په دعوی باندے رد کړیدے او دا ئے وئیلی دی چه نبی علیه السلام د فتح د مکے نه روستو مدینے ته لاړو او بلال ئے په افراد الاقامت باندے مقرر کړو او هغه بیا سعد القرظ ته د هغې تعلیم ورکړو نو هغه به د بلال نه روستو فرادیٰ اقامت کولو کما رواه الدارقطنی والحاکم۔

۲– **جواب**: بعض ائی دا منسوخ دے په هغه حدیث چه بلال به تثنیه سره اقامت کولو۔

الجواب: د بلال نه چه کوم تثنیه د اقامت نقل ده د هغې سند ضعیف دے لکه چه تا اوپیژندل۔ انظر لتفصیله تحفة الاحوذی (۱/۱۷۳) والسنن الکبری للبیهقی (۱/۴۲۱)۔

★ –که اومنو چه صحیح دے نو دا هیڅ دلیل ندے په نسخ باندے ځکه چه دا احتمال شته چه دا د بلال مذهب وی چه دواړه مباح دی۔

★ – دارنګه نسخ ځکه نشته چه نسخ خو تعارض غواړی، او دلته تعارض نشته ځکه چه تعارض اتحاد د زمان او مکان وغیره غواړی او دلته هیڅ نشته۔ په نفس تقدم او تاخر د حدیث باندے نسخ نه ثابتیږی فتدبر بلکه د ابو محذوره مفرد اقامت د هغه په اولادو کښې تر هغه وقت پورے باقی وو چه د مصریانو په زمانه کښې تغیر پیدا شو۔ السنن الکبری (۱/۴۱۸) المجموع شرح المهذب (۳/۱۰۴)۔

۳– عینیؒ په البنایه کښې داسے تاویل کوی: کوم روایت چه امام شافعیؒ روایت کړیدے نو دا محمول دے پدے باندے چه په اقامت کښې به په یو آواز او یوه ساه باندے دواړه کلمات اداء کوی او په اذان کښې به په آواز کښې جدا جدا کلمه وائی یعنی په اقامت کښې به حدر کوی او په اذان کښې به ترسل کوی نو دا مخالف نه دے د تثنیه اقامت سره۔ وکذا فی تنظیم الاشتات ص (۲۴۷)۔

الجواب: علامه شيخ مباركفوري فرمائي : دا تاويل باطل دے او حديث د عبد الله بن زيد ئے باطلوی چه هغے کښ داسے الفاظ دی : اذا اقمت الصلاة ...... الله اكبر الله اكبر، اشهد ان لااله الا الله، اشهد ان محمداً رسول الله، حي على الصلاة حي على الفلاح، قد قامت الصلاة، قد قامت الصلاة، الله اكبر الله اكبر ، لا اله الا الله، رواه ابوداود في سننه تحفة الاحوذي (۱/۱۷۲) وقال الشيخ الالباني واسناده حسن صحيح انظر صحيح ابی داود (٤٩٩) (۱/۹۸) ـ نو دلته يو يو لفظ راغلے دے او جمع په آواز کښ نشی کيدے فتدبر ـ

★- دارنګه دا روايت، بل دليل شو ددے خبرے چه د عبد الله بن زيد په روايت کښ هم مفرد اقامت ثابت دے نو د نسخ خبره خو بالکل غلطه شوه پدے روايت کښ سوچ اوکړه د نسخ قول والا ہے تحقيقی به درته ښکاره شی ـ

فيصله :

ددے مخکښ تحقيقی دلائلو نه دا ثابته شوه چه مفرد اقامت هم د پيغمبر صحيح سنت دی او تثنيه اقامت هم سنت دے، امام بيهقیؒ د ابن خزيمهؒ نه نقل کړيدی چه ترجيع کښ اختلاف او په تثنيه د اقامت کښ اختلاف د جنس د هغه اختلاف نه دے چه هغه مباح دے نو دواړه طريقے جائز دی، ترجيع په اذان کښ او تثنيه د اقامت ـ دارنګه بے ترجيع اذان او مفرد اقامت دواړه د رسول الله ﷺ نه صحيح ثابت دی ـ المجموع (۳/۱۰٤-۱۰۵) ـ

علامه مباركفوریؒ په تحفة الاحوذي (۱/۱۷۲) کښ فرمائي : والحق ان احاديث افراد الاقامة صحيحة ثابتة محكمة ليست بمنسوخة ولا بمؤولة نعم قد ثبت احاديث تثنية الاقامة ايضاً وهي ايضاً محكمة ليست بمنسوخة ولا بمؤولة وعندى الافراد والتثنية كلاهما جائزان، انتهى ـ

يعنی دواړه طريقے صحيح ثابتے دی په دواړو عمل پکار دے ـ

صاحب د فيض البارى شاه انور شاه الكشميرى فرمائي : لم يسنح لى ترجيح تثنية الاقامة بعد ثبوت كلا الامرين قطعاً انتهیٰ، المرعاة (۲/۳٤٦) وفتاوى الدين الخالص (۳/۲۳۵) ـ

يعنی ما ته تراوسه پورے د تثنيه اقامت ترجيح نده ښکاره شوے ، سره ددينه چه دواړه طريقے (ايتار او تثنيه) يقيناً ثابت دی ـ

البته د تثنيه اقامت روايات اكثر ضعيف دی او بعض صحيح دی او د مفرد اقامت

روایات اکثر دی او صحیح دی ۔انظر نصب الرایة (۱/ ۲۷۰)

★– او دارنگه د مفرد اقامت روایات په صحیحینو کښې راغلی دی او د تثنیه اقامت روایات په سنن کښې راغلی دی نو روایات د بخاري او مسلم سره د کثرت نه دا به ضرور راجح وی په روایاتو د سنن باندې نو اکثر عمل په مفرد اقامت پکار دې او کله کله تثنیه باندې هم جائز دې ۔

★– او مفرد اقامت باندې عمل د اهل الحرمین دې چه دا مراکز د اسلام دی، د دوئ عمل به ضرور راجح وی ۔ او دواړو کښې څه تعارض نشته بلکه دیته تنوع د عباداتو وائی چه رسول الله ﷺ نه یو عمل په مختلف طریقو نقل وی او په ټولو باندې عمل کول ضروری دی نو کوم مقلدین لکه احناف چه مفرد اقامت سنت نه ګنړی نو دا ددې اته روایاتو نه محروم شو نو تقلید ورته دغه ګټه اوکړه او کوم مقلدین چه تثنیه د اقامت سنت نه ګنړی هغوی هم د دغه لوئی خیر نه محروم شو ۔

بعض علماء وائی : چه په حدیث د بلال کښې شفع الاذان او ایتار الاقامت راغلې دې او په حدیث د ابو محذوره کښې ترجیع الاذان او تثنیه د اقامت راغلې دې نو څوك چه په اذان کښې ترجیع کوی نو هغه به اقامت اولس (۱۷) کلمات وائی یعنی جفت به ئې وائی او څوك چه د بلال په حدیث عمل کوی نو که اذان کښې ئې ترجیع اونکړه نو اقامت به فرادیٰ وائی ۔ لیکن ددې علماؤ دا خبره بې تحقیقه ده وجه دا ده چه دا تقسیم رسول الله ﷺ ندې کړې چه څوك ترجیع الاذان اوکړی نو هغه به اولس (۱۷) کلمات والا اقامت کوی او بالعکس بلکه هره یوه طریقه بیله بیله جائز او مشروع ده، بلکه دا ددې علماؤ اجتهاد دې چه د یو ځائې د ذکر کیدو نه ئې کوی ۔

۲– وَعَنْ اَبِیْ مَحْذُوْرَةَ ﷺ ، قَالَ : اَلْقٰی عَلَیَّ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ التَّاْذِیْنَ هُوَ بِنَفْسِهٖ، فَقَالَ : قُلْ : اَللهُ اَکْبَرُ، اَللهُ اَکْبَرُ، اَللهُ اَکْبَرُ، اَللهُ اَکْبَرُ، اَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ، اَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ، اَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللهِ، اَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللهِ، ثُمَّ تَعُوْدُ فَتَقُوْلُ : اَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ، اَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ، اَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللهِ ، اَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللهِ ، حَيَّ عَلَی الصَّلَاةِ، حَيَّ عَلَی الصَّلَاةِ ،

حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ، حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ، اَللّٰهُ اَكْبَرُ، اَللّٰهُ اَكْبَرُ، لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه: او ابو محذوره رضی الله عنه فرمائی: ما ته رسول الله ﷺ پخپله (بغیر د څه واسطے نه) اذان خودلے دے پس رسول الله ﷺ اوفرمایل: اووایه! الله ډیر لوئی دے، الله ډیر لوئی دے، زه ګواهي ورکوم (یعنی پیژنم او بیان کوم چه) د الله تعالی نه سوا هیڅوک حقدار د بندګئ نشته، زه ګواهي ورکوم چه د الله تعالی نه سوا هیڅوک حقدار د بندګئ نشته. زه ګواهي ورکوم چه محمد (ﷺ) د الله تعالی رسول دے، زه ګواهي ورکوم چه محمد (ﷺ) د الله رسول دے. بیا ئے اوفرمایل: چه دوباره اووایه! زه ګواهي ورکوم چه د الله نه سوا هیڅوک حقدار د بندګئ نشته. زه ګواهي ورکوم چه د الله نه سوا هیڅوک حقدار د بندګئ نشته. زه ګواهي ورکوم چه محمد (ﷺ) د الله رسول دے، زه ګواهي ورکوم چه محمد (ﷺ) د الله رسول دے. راشئ مانځه طرفته، راشئ مانځه طرفته. راشئ کامیابئ طرفته، راشئ کامیابئ طرفته. الله تعالی ډیر لوئی دے، الله ډیر لوئی دے. د الله نه سوا هیڅوک حقدار د بندګئ نشته. (مسلمؒ).

د ابی محذوره تعارف:

دده نوم اوس یا سمره یا سلمه یا سلمان دے د پلار نوم ئے مِعْيَر دے، بعض وائی عمیر بن لوذان دے، مشهور صحابی دے قریشی الجمحی المکی دے، د رسول الله ﷺ مؤذن دے په مکه کښ په سنه (۵۹ هـ) کښ وفات شویدے بعض وائی: ددے نه هم روستو ژوندے وو.

تشریح: اَلْقٰى عَلَيَّ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ التَّاْذِيْنَ هُوَ بِنَفْسِهٖ: یعنی رسول الله ﷺ ما ته پخپله اذان را ایزده کړو د هرے کلمے جدا تلقین ئے راته کړیدے. پدے حدیث کښ د رسول الله ﷺ نه اذان نقل دے لیکن دا صورت د تعلیم دے او عوامو ته د مانځه دپاره اذان کول ندی.

اَللّٰهُ اَكْبَرُ: **مسئله** د اول الله اکبر لفظ راء به څنګه وایو منصوب که مرفوع او که مفتوح یا ساکن؟ پدے کښ ډیر اوګد تفصیل دے مختصر دا چه:

۱- **صحیح** خبره دا ده چه راء به مضمومه وائی: د دوه وجونه (۱) – اوله وجه دا ده چه لفظ د الله مبتداء ده او اکبر ئے خبر دے او مبتدا او خبر مرفوع وی.

(۲) – دویمه وجه : په احادیثو کښې ددې الفاظو نقل په همدغه طریقه راغلې دې نو مرفوع به لوستې شي ـ

۲- **ابن عابدین** الشامي دا غوره کړیده چه فتحه د راء به وائي استدلال کوي په یو روایت باندې چه حدیث نه دې بلکه د ابراهیم نخعي قول دې (التکبیر جزم) علامه سیوطي په الحاوی للفتاوی (۳٤٦/۱) طبع بیروت کښې ذکر کړیدې ـ

نو جزم خو سکون ته وائي او کله چه لفظ د اکبر د روستو لفظ الله سره یو ځائې کړې شي نو همزه ساقطیږي نو اجتماع ساکنین راځي او الساکن اذا حرك بالکسر باندې خو عمل نشي کولې ځکه چه لفظ الله کښې تفخیم پکار دې نو فتحه به ورکړو لکه چه دا خبره رشید احمد په احسن الفتاوی (۲۹۷/۲) کښې ډیر په سختئ سره بیان کړیده ـ

ددې جواب دا دې چه اول خو دا روایت (التکبیر جزم) دا مرفوع حدیث نه دې بلکه د تابعي ابراهیم نخعيؒ وینا ده نو دا یوه مقوله ده شیخ البانی په السلسلة الضعیفة رقم (۷۱) (۱۰۱۰/۱) کښې وائي : لا اصل له، کما قال الحافظ ابن حجر والسخاوی وکذا السیوطی ـ علامه سیوطيؒ وائي : دا مرفوع حدیث نه دې بلکه د ابراهیم وینا ده په مصنف عبد الرزاق کښې ددې سند د ابراهیم پورې رسیدلې دې او هغې کښې ورسره د جزم تفسیر ذکر دې (التکبیر جزم لا یمد) یعني جزم معنی دا ده چه مدونه به پکښې نه وائي بلکه لنډ به ئې وائي ـ سیوطي وائي : چا چه دا تفسیر کړیدې چه د جزم معنی ده : لایمد ولا یعرب بل یسکن آخره فهو مردود بوجوه، الحاوی للفتاوی (۳٤٦/۱) ـ یعني چه اعراب به نشي ورکولې بلکه آخر به ئې ساکن وي نو دا خبره غلطه ده یو ددې وجه نه چه دا د خپل راوی د تفسیر مخالفت دې او تفسیر د راوی راجح وي د غیر نه کما تقرر فی الاصول ـ

★- دویم دا چه د جزم اطلاق په سکون باندې د صحابو په زمانه کښې نه وو معلوم بلکه دا اصطلاح حادث ده انتهیٰ حافظ په تلخیص الحبیر (۲۲۵/۱) رقم (۳۳۳) کښې وائي : وفیه نظر لان استعمال لفظ الجزم فی مقابل الاعراب اصطلاح حادث لا هل العربیة فکیف تحمل علیه الالفاظ النبویة ـ

یعني جزم په معنی د سکون اخستل دا جدیده اصطلاح د اهل عربیو ده نو احادیثو کښې به دا نشي چلولې ـ

اَشْهَدُ : یعني زه ګواهي کوم او یقین لرم ـ

ثُمَّ تَعُوْدُ فَتَقُوْلُ : دا دواړه د مخاطب صیغې دی او په معنی د امر دی لکه چه په بل

روایت د ابو محذورہ کښې ثم ارجع فمد من صوتك راغلے دے، یا مضارع په خپله معنی باندے دہ یعنی طریقہ داشوہ چه ته به داسے کار کوے یعنی ترجیع به کوے ۔ دا حدیث صریح دلیل دے چه اذان کښې ترجیع کول پیغمبری سنت دی ۔

حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ : حی اسم فعل دے په معنی د امر دے مانځه ته راشئ ای هلمّوا الیها وتعالوا مسرعین الیها ۔

حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ : د فلاح یوہ معنی دہ : د هر مصیبت نه بچ کیدل او هر مراد باندے کامیابیدل ۲ – یا الفوز ببقاء الابد ته وائی یعنی همیشه دپارہ کامیابیدل معنی دا دہ په جلتئ راشئ هغه د جمعے مونځ ته چه سبب دے د خلاصوالی د عذاب نه او په ثواب باندے کامیابیدل دی او په جنت کښې همیشه پاتے کیدل دی ۔

رَوَاهُ مُسْلِمٌ : دا خبرہ ضعیفه دہ ځکه مسلم کښې دا حدیث پداسے الفاظو باندے نشته بلکه دا د ابوداود، نسائی، ابن ماجه او ابن حبان روایت دے او الفاظ د مسلم کښې ابتداء کښې دوہ ځل الله اکبر الله اکبر راغلے دے او ثم یعود فیقول په صیغه د غائب سرہ دی نو دا د مصنف د خپل شرط مخالفت دے ۔

الفصل الثانی – دویم فصل

۳– عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ : كَانَ الْاَذَانُ عَلٰى عَهْدِ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ مَرَّتَيْنِ مَرَّتَيْنِ، وَالْاِقَامَةُ مَرَّةً مَرَّةً، غَيْرَ اَنَّهٗ كَانَ يَقُوْلُ : قَدْ قَامَتِ الصَّلَاةُ، قَدْ قَامَتِ الصَّلَاةُ . رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ وَالدَّارِمِيُّ .

ترجمه : ابن عمر رضی الله عنه فرمائی : د رسول الله ﷺ په زمانه کښې به اذان دوہ دوہ کلمات او د تکبیر کلمات یو یو کړتے (وئیلی) کیدلو، البته په تکبیر کښې به قد قامت الصلاۃ (بیشکه مونځ تیار دے) به مؤذن دوہ کرتے وئیلو ۔ (ابوداؤد، نسائیؒ، دارمیؒ) ۔

تشریح : یعنی د رسول الله ﷺ په زمانه کښې کلمات د اذان مکرر وو او اقامت مفرد وو په غالب الفاظو کښې ۔ ملاعلی القاریؒ فرمائی : پدے روایت کښې ابتدائی تکبیر هم دوہ ځله راغلو مگر په نورو روایاتو کښې څلور کرتے راغلے دے نو دا ترے مستثنیٰ دے کما فی حدیث عبد الله بن زید رضی الله عنه عند ابی داود وغیرہ ۔

او پدے حدیث کښې ظاهراً اگرکه ترجیع نده ذکر مگر د ابو محذورہ په روایت کښې ثابته

ده او هغه هم صحیح حدیث دے او په زیادت باندے مشتمل دے چه هیڅ منافات ئے ددے حدیث سره نشته نو د هغے قبلول هم واجب دی۔

★– دارنګه د ابن عمرؓ په حدیث کښے نفی د ترجیع نشته او که نفی موجوده هم شی بیا به هم حدیث د ابو محذوره راجح او لائق د قبلولو وی ځکه هغه مثبت دے او مثبت مقدم وی په نافی باندے کما تقدم تفصیلاً۔

قَدْ قَامَتِ الصَّلَاةُ : یعنی مونځ اودریدو ته نزدے شو۔ ابن الاثیر په نهایه کښ وائی ددے معنی دا ده : قام اهلها او حان قیام اهلها۔ یعنی مونځ کونکی اودریدل یا هغه وقت راغلو چه مونځ کونکی مانځه ته اودریږی۔

او پدے روایت کښ رد دے په قول د امام مالكؒ باندے چه هغه قد قامت یو ځل وائی۔

فائده : دلته لفظ د کان راغلے دے دا حمل دے په غالب اوقاتو باندے ځکه چه په نورو روایاتو کښ ترجیع هم ثابته ده نو ځکه مونږ وئیلی وو چه اکثر ترجیع نده پکار او کله کله ترجیع کول هم سنت دی۔

درجة الحدیث : اسناده حسن، اخرجه ابوداود (٥١٠) والنسائی (۲/۲۱) والدارمی (۱/۲۷۰) وابن خزیمة (۳۷٤) وابن حبان کما فی موارد الظمآن (۲۹۰) والدارقطنی فی السنن (۱/۲۳۹ رقم : ١٤) والحاکم وفی اسناده ابوجعفر المؤذن قال ابن حبان اسمه محمد بن مسلم بن مهران قال الحافظ فی التقریب ابوجعفر المؤذن مقبول (ای عند المتابعة) وقال ابن معین والدارقطنی : لیس به بأس فاسناده حسن وقد صرح الیعمری فی شرح الترمذی ان حدیث ابن عمر اسناده صحیح کذا فی تعلیق المشکاة لرمضان (۱/۲۷۸) والمرعاة (۲/۳٤۹)۔

٤– عَنْ اَبِیْ مَحْذُوْرَةَ رضی الله عنه، اَنَّ النَّبِیَّ ﷺ عَلَّمَهُ الْاَذَانَ تِسْعَ عَشْرَةَ کَلِمَةً، وَالْاِقَامَةَ سَبْعَ عَشْرَةَ کَلِمَةً . رَوَاهُ اَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِیُّ وَاَبُوْدَاوُدَ وَالنَّسَائِیُّ وَالدَّارِمِیُّ وَابْنُ مَاجَه .

ترجمه : ابو محذوره رضی الله عنه روایت کوی چه یقیناً نبی کریم ﷺ هغه ته د اذان نولس (۱۹) کلمات او تکبیر اولس (۱۷) کلمات خودلی وو۔ (احمد، ترمذی، ابوداود نسائی، دارمی، ابن ماجه)۔

تشریح : دا حدیث صریح دلیل دے چه په اذان کښ ترجیع کول سنت عمل دے ځکه

چه اذان نورلس کلمات هله جوړیږی چه کله ترجیع پکښ اوکړے شی ځکه چه ابتداء کښ څلور کرتے الله اکبر او په شهادتینو کښ ترجیع کولو سره اته الفاظ شو او حی علی الصلاه او حی علی الفلاح څلور الفاظ شو او تکبیر دوه کلمے او کلمه د توحید یوه کلمه نو ټول نورلس کلمات شو ۔

او اقامت اولس (۱۷) کلمات دی چه تثنیه پکښ اوکړے شی ۔

بعض احناف لکه د مشکوة ناکت او صاحب د تنظیم الاشتات وائی : (وبهذا قال ابو حنيفة) یعنی پدے نیم حدیث باندے امام ابو حنیفه عمل کړیدے چه اقامت دوه دوه کلمات وائی ۔

نو په اقامت دابو محذورهؓ باندے عمل کوی او په اذان د بلالؓ باندے او امام شافعیؒ په اذان د ابو محذوره عمل کوی او په اقامت د بلال باندے ۔

لیکن مونږ وایو : په نیم حدیث باندے عمل ولے کولے شی په ټول باندے ولے نشی کیدے ؟ آیا دا باقی نیم حدیث به چرته یهود یا نصاراو ته وئیل شوے وی ځکه چه زمونږ مسلمانانو خو ورته دغه شان دیوالو نه وهلی دی ۔ ورونو ! دا د مقلدینو مذهبی جنون دے چه یو ځائے کښ د خپل مذهب مطابق حدیث اووینی نو زر ورته لاندے اولیکی چه پدے حدیث باندے زمونږ امام عمل کړیدے او دا زمونږ حدیث دے نو دا بے انصافی ده مونږ چا تقسیم کړو چه دا زمونږ مذهب او دا ستا مذهب دا ټول ددے امت امامان دی کومه خبره ئے چه د حدیثونو خلاف وه نو د هغه مدافعت به نه کوو ۔

نو مونږ وایو : که دا حدیث صحیح وی نو باقی نیم باندے عمل ولے نشی کیدے څه مانع دے مونږ چا د عمل نه منع کړو ۔ آخر پدے خبره خو فکر پکار دے ۔

نو پدے سره د احنافو دا خبره هم خطاء شوه چه ترجیع منسوخه ده ځکه چه دا څنګه کیدے شی چه نیم حدیث منسوخ وی او نیم دے غیر منسوخ وی ۔

بلکه که اووئیلے شی چه که امام ابو حنیفه یا امام شافعی پدے حدیث باندے عمل اونکړی (د څه وجے نه) نو آیا ټول امت به حدیث پریدی ؟ نه بلکه حدیث ته د یو امام او عالم عمل کول او نکول هیڅ ضرر نه رسوی کله چه حدیث صحیح ثابت شی نو بعینه په حدیث به عمل کولے شی ۔

درجة الحديث : اسناده حسن : اخرجه احمد (۳/۳۰۹) (۶/۴۰۱) والترمذي (۱۹۲) وابوداود (۵۰۲) والنسائي (۲/۴) وابن ماجه (۷۰۹) والدارمي (۱/۲۷۱) وقال

الترمذی حدیث حسن صحیح قال الشیخ الالبانی والشیخ رمضان وسنده حسن وقد اخرجه ابوعوانة فی صحیحه بتمامه ومسلم دون ذکر الاقامة۔

۵– وَعَنْهُ ﷺ، قَالَ : قُلْتُ : يَا رَسُوْلَ اللهِ! عَلِّمْنِيْ سُنَّةَ الْاَذَانِ، قَالَ : فَمَسَحَ مُقَدَّمَ رَأْسِهِ. قَالَ : تَقُوْلُ : اَللّٰهُ اَكْبَرُ، اَللّٰهُ اَكْبَرُ، اَللّٰهُ اَكْبَرُ، اَللّٰهُ اَكْبَرُ، تَرْفَعُ بِهَا صَوْتَكَ. ثُمَّ تَقُوْلُ : اَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ، اَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ. اَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللّٰهِ، اَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللّٰهِ. تَخْفِضُ بِهَا صَوْتَكَ. ثُمَّ تَرْفَعُ صَوْتَكَ بِالشَّهَادَةِ : اَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ، اَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ. اَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللّٰهِ، اَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللّٰهِ. حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ، حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ. حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ، حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ. فَاِنْ كَانَ صَلَاةُ الصُّبْحِ، قُلْتَ : اَلصَّلَاةُ خَيْرٌ مِّنَ النَّوْمِ، اَلصَّلَاةُ خَيْرٌ مِّنَ النَّوْمِ. اَللّٰهُ اَكْبَرُ اَللّٰهُ اَكْبَرُ، لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ. رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ.

ترجمه : او ابو محذوره رضی الله عنه فرمائی چه ما رسول الله ﷺ ته عرض اوکړو، اے د الله رسولـه ! ما ته د اذان طریقه اوښایه ! ۔ راوی وائی چه رسول الله ﷺ (دے اوریدو سره) د ابو محذوره په تندی باندے لاس راخکلو ۔ او بیا ئے اوفرمائیل : چه وایه ! : الله اکبر، الله اکبر، الله اکبر، الله اکبر، د هغے سره به آواز اوچت کړے او بیا اووایه ! : اشهد ان لا اله الا الله، اشهد ان لا اله الا الله ، اشهد ان محمدا رسول الله، اشهد ان محمدا رسول الله ، دا په خکته آواز سره اووایه بیا په اوچت آواز سره د شهادت کلمات اووایه ! : اشهد ان لا اله الا الله، اشهد ان لا اله الا الله، اشهد ان محمدا رسول الله ، اشهد ان محمدا رسول الله ۔ حی علی الصلاة ، حی علی الصلاة، حی علی الفلاح، حی علی الفلاح ۔ که د صبا دپاره اذان وئیل غواړے نو (ددے نه بعد) دا کلمات اووایه : الصلاة خیر من النوم، الصلاة خیر من النوم (یعنی مونځ د خوب نه بهتر دے، مونځ د خوب نه بهتر دے ۔ الله اکبر الله اکبر، لا اله الا الله ۔ (ابوداود) ۔

تشریح : عَلِّمْنِيْ سُنَّةَ الْاَذَانِ : یعنی ما ته هغه طریقه د اذان اوښایه کوم چه شریعت کښې راغلے ده ۔ دا الفاظ صریح دلیل دے چه ابو محذوره ته رسول الله ﷺ ترجیع

په هغه اذان کښې خودلے ده کوم چه مونځونو دپاره کيږي او دا نده چه دائے ورله ايمان قوي کولو ځکه دده تپوس په باره د شرعي اذان کښې وو نو که ترجيع مشروع نشي نو بيا خوبه جواب د رسول الله ﷺ موافق نشي د سوال د ابو محذوره سره لكن التالي باطل بالبداهة فالمقدم مثله ۔

فَمَسَحَ مُقَدَّمَ رَأْسِهٖ : دا هغه واقعے ته اشاره کوي چه ده ته رسول الله ﷺ ډير مبغوض وونو رسول الله ﷺ د هغه په سر باندے لاس راخکلو دے دپاره چه د نبي عليه السلام د لاس په برکت باندے د هغه دماغ کولاؤ شي او د نبي عليه السلام خبرے يادے کړي او دا د رسول الله ﷺ معجزه وه چه سمدست د ابو محذوره دماغ کولاؤ شو ۔

قُلْتَ : اَلصَّلَاةُ خَيْرٌ مِنَ النَّوْمِ : يعني د مونځ خوند او لذت د خوب د لذت نه ډير زيات دے او يا خير نه مراد ډيرے فائدے والا شے دے يعني مونځ ډيرے فائدے والا شے دے د خوب نه ۔

مسئله : د الصلاة خير من النوم لوستلو حكم

د سحر په اذان کښې د حي على الفلاح نه بعد د الصلاة خير من النوم وئيلو څه حكم دے ؟ ۔ نو پدے کښې اختلاف دے ۔

۱- د امام شافعيؒ قول جديد دا دے چه تثويب يعني الصلاة خير من النوم وئيل مكروه دي او دا قول د امام ابو حنيفةؒ نه هم مروي دے كما قال الشوكاني في النيل (۲/۱۸) والحافظ في الفتح والنووي في المجموع (۳/۹٤) ليكن احناف ددے مخالف دي ۔

دا قول والا استدلال کوي په حديث د عبد الله بن زيد باندے چه عبد الله کوم اذان په خوب کښې ليدلے وو په هغه اذان کښې الصلاة خير من النوم نه وو ۔

۲- ليكن جمهور علماء (مالك ، احمد ، اسحق ، ثوري ، زهري ، ابوثور ، داود ظاهري ، حنفيه ، شوافع او د امام شافعي قول قديم دا دے چه دا الفاظ په اذان د صبا کښې سنت عمل دے او ددے په مشروعيت او استحباب باندے عمر بن الخطاب ، ابن عمر ، انس بن مالك رضي الله عنهم او حسن بصري وغيرهم قائل دي كذا في النيل (۲/۱۸) والفتح الرباني (۳/۱۸) والمغني (۱/٤٥٤) وتنقيح تحقيق احاديث التعليق (۱/۲۸۷)۔

دوي استدلال کوي په ډيرو احاديثو باندے چه بعض ابن عبد الهادي په التنقيح کښې ذکر کړيدي :

۱- **يو** د هغې نه دا حديث الباب د ابو محذوره دے۔
۲- **انس** بن مالكؓ فرمائي : من السنة اذا قال المؤذن فى اذان الفجر حى على الفلاح قال الصلاة خير من النوم اخرجه ابن خزيمة (۲۰۲/۱) والدارقطنى (۲۴۳/۱) والبيهقى (۴۲۳/۱) باسناد صحيح۔
۳- **روايت** د ابن عمرؓ دے : قال كان فى الاذان الاول بعد الفلاح : الصلاة خير من النوم الصلاة خير من النوم اخرجه الطحاوى (۱۰۳/۱) والبيهقى (۴۲۲/۱) وسنده صحيح ۔
٤- **حديث** : عن بلال انه اتى النبى ﷺ يؤذنه بصلوة الفجر فقيل هو نائم فقال : الصلوة خير من النوم الصلاة خير من النوم فاقرت فى اذان الفجر فثبت الامر على ذلك اخرجه ابن ماجه (۵۳/۱) والبيهقى فى السنن الكبرى (۴۲۲/۱) بلفظ متقارب ۔

يعني بلالؓ نبي عليه السلام ته د سحر مانځه خبر ورکولو په غرض راغلو ورته اووئيلے شو چه هغه اوده دے نو بلال په اوچت آواز دا الفاظ اووئيل : الصلاة خير من النوم الخ او په روايت د طبراني کښې دي : ما احسن هذا يا بلال ! اجعله فى اذانك) كشف النقاب (۵۲۰/۳)۔ دا خومره ښائسته الفاظ دي دا په اذان کښې وايه نو د نبي عليه السلام په حکم د سحر په اذان کښې دا الفاظ مقرر شو او بيا به پدے باندے هميشه دپاره عمل کيدلو ۔
نور احاديث هم شته انظر فتاوى الدين الخالص (۲۲۳/۳) والبيهقى (۵۴۲۲/۱) واسناده صحيح والدارقطنى (۲۴۳/۱) وابن حبان (۹۶/۳) وعبد الرزاق (۵۰۱/۱) وكشف النقاب (۵۱۷/۳) ۔

الجواب : د امام شافعي پيش کړه حديث نه جواب دا دے چه په حديث د عبد الله بن زيد کښې اګرچه دا زيادت نشته ليکن په نورو صحيح احاديثو کښې ثابت دے، لهذا پدے احاديثو به عمل کولے شي ۔
★- پاتے شو د عبد الله بن زيد اذان نو دا بالکل ابتدائي واقعه ده او په هغه وخت کښې به کيدے شي چه دا کلمه وئيل ثابت نه وو روستو د رسول الله ﷺ د طرفنه په صحيح سند سره ثابته شوه نو بس په همدے به عمل کولے شي كذا فى بذل المجهود (۲۸۳/۱)۔
درجة الحديث : اسناده حسن او صحيح بمجموع الطرق، اخرجه ابوداود (۵۰۰) والنسائى (۴/۲) وابن حبان واورده الهيثمى فى موارد الظمآن (۲۸۹) وفى سنده الحارث بن عبيد ابوقدامة قال الحافظ فى التقريب : صدوق يخطئ وقال الذهبى فى الميزان قال الفلاس : رأيت ابن مهدى يحدث عن ابى قدامة وقال ما رأيت الا خيراً وفى سنده ايضاً محمد بن عبد

الملك بن ابی محذورة الجمحی المکی المؤذن قال الحافظ فی التقریب مقبول : (ای حین المتابعة) وقد وثقه ابن حبان فالحدیث ان لم یکن صحیحاً فلا ینحط عن درجة الحسن قاله المبارکفوری فی المرعاة (۲/۳۵۱) وقال الشیخ الالبانی وتبعه الشیخ رمضان الحدیث صحیح بمجموع الطرق ذکر فی سنن ابی داود رقم (۵۱۵، ۵۲۲)۔

۶– وَ عَنْ بِلَالٍ ﷺ، قَالَ : قَالَ لِیْ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : لَا تُثَوِّبَنَّ فِیْ شَیْءٍ مِنَ الصَّلَوَاتِ اِلَّا فِیْ صَلَاةِ الْفَجْرِ . رَوَاهُ التِّرْمِذِیُّ، وَابْنُ مَاجَه . وَقَالَ التِّرْمِذِیُّ : اَبُوْاِسْرَائِیْلَ الرَّاوِیْ لَیْسَ هُوَ بِذَاکَ الْقَوِیِّ عِنْدَ اَهْلِ الْحَدِیْثِ .

ترجمه : او بلال رضی الله عنه فرمائی چه رسول الله ﷺ ما ته اوفرمایل : چه د سحر مانځه نه علاوه په نورو مونځونو کښې تثویب مه کوه ۔ (ترمذیؒ، ابن ماجهؒ) او امام ترمذیؒ فرمائی : چه (ددې حدیث راوی) ابواسرائیل د محدثینو په نیز قوی (یعنی قابل اعتبار) نه دے ۔

د بلال ﷺ تعارف :

دده نوم بلال بن رباح التیمی مولاهم المؤذن، دده بنو تیم ته نسبت د وجې د آزادوالی نه دے، مشهور صحابی دے د رسول الله ﷺ مؤذن دے اسم کنیت ئے ابو عبد الله یا ابو عبد الرحمن ، د مور نوم ئے حمامه دے پخوانے مسلمان دے، د الله دپاره ئے ډیر عذابونه او تکلیفونه برداشت کړیدی او واقعات ئے مشهور دی، جنګ بدر او تولو غزاګانو ته حاضر شویدے په آخر عمر کښې په دمشق کښې اوسیدلو ۔

انس فرمائی : بلال په حبشو کښې دسابقینو نه دے، ابوبکر آزاد کړیدے د نبی علیه السلام د وفات نه بعد ئے هیڅا دپاره اذان ندے کړے مګر یو ځل چه مدینے ته راغلو اذان ئے اوکړو بعض وائی : دومره شور جوړ شو چه اذان ئے پوره نکړو ۔ (۴۴) احادیث ئے امت ته نقل کړیدی، په شام کښې په سنه (۱۷) یا (۱۸) یا (۲۰ هـ) کښې د (۶۷) کالو په عمر وفات شویدے او هیڅ اولاد ئے نشته ۔

لَا تُثَوِّبَنَّ فِیْ شَیْءٍ مِنَ الصَّلَوَاتِ اِلَّا فِیْ صَلَاةِ الْفَجْرِ

تشریح : تثویب په لغت کښې ماخوذ دے د ثوب نه، د چا د راغوختلو دپاره بار بار

کپړه خوزولو ته وائی ځکه چه اصل کښې به یو سړی چغې وهلې نو ددې سره به ئې یوه جامه خوزوله دې دپاره چه د لرې نه اولیدلې شي او هغه ده ته راشي نو دا به داسې وو لکه د هغه راغوختل نو بیا هر را غوختلو ته تثویب اووئیل شو او هر داعی او طالب ته مُثَوِّبْ اووئیل شو۔

۲- بعض وائی: تثویب د ثاب یثوب نه ماخوذ دې په معنی د رجوع کولو سره۔ النهاية (۲۲٦/۱) نو ددې وجه نه د تثویب په لغت کښې معنی ده: العود الى الاعلام بعد الاعلام۔ یعنی د یو اعلان نه پس دوباره بل اعلان کول او دلته د تثویب نه مراد الصلاة خير من النوم وئيل دي فهو رجوع الى الامر بالمبادرة الى الصلاة کله چه مؤذن حى على الصلاة اووئیل نو خلق ئې مانځه ته رادعوت کړل او کله چه روستو الصلاة خير من النوم وائی نو ده رجوع اوکړه هغه کلام ته چه په هغې کښې دعوت دې په جلتی کولو سره مانځه طرفته قاله الجزرى نقله صاحب المرعاة (۳۵۱/۲)۔

امام بغویؒ فرمائی: واصل التثويب: رفع الصوت بالاعلام، شرح السنة (٦٢/۱) یعنی په اعلان کولو باندې آواز پورته کولو ته تثویب وائی۔

په شریعت کښې **د تثویب درې معانی** استعمال دی:

۱- تثویب په معنی د الصلاة خير من النوم وئیلو سره په اذان د صبا کښې او دا سنت عمل دې او په ګڼړو احادیثو کښې ثابت دې کما مرّ۔ او دا صرف د صبا پورې خاص دې دلیل مخکښې تیر شو۔

او امام مالکؒ چه په موطا کښې وائی: الصلاة خير من النوم به د صبا د اذان نه پس وائی نو دا په محل د نظر کښې دې او صحیح ندې۔ انظر تحفة الاحوذى (۱۲٦/۱)

۲- دویم تثویب په معنی د اقامت وئیلو سره هم راغې لکه حدیث د ابوداود کښې دی: حتى اذا ثُوِّبَ بالصلاة ادبر حتى اذا قضى التثويب اقبل حتى يخطر بين المرء ونفسه، صحيح سنن ابى داود رقم (٥١٦) بسند صحيح۔ دا دواړه قسمونه د تثویب دیته تثویب قدیم وائی دا خو د رسول الله ﷺ د زمانې نه تر اوسه پورې را روان دی۔

۳- دریم قسم د اذان او اقامت ترمینځ داسې آواز کول چه حى على الصلاة دوه ځل یا الصلاة الصلاة یا الصلاة مُهَيَّئَةٌ (جلتی کوئ مونځ تیار دې) دا د کوفې علماؤ احداث کړیدې چه د صحابو په زمانه کښې به دا بدعت شمارلې شو۔ ابوداود کښې حدیث: [عن مجاهد قال كنت مع ابن عمر فثوب رجل فى الظهر او العصر، قال اخرج بنا فان هذه بدعة،]

صحيح سنن ابی داود رقم (۵۳۸) بسند حسن والسنن الکبری (۱/۱/۴۲۴)

مجاهد" فرمائی : زه د عبد الله بن عمر سره یو مسجد ته داخل شوم د ماسپښین یا د ماز یګر مانځه په وقت کښې نو یو سړی آواز اوکړو چه مونځ تیار دے (جلتیٔ کویٔ) نو عبد الله اوفرمائیل : ما اوباسه (ددے مبتدع د خوا نه) ځکه چه دا کارئے بدعت اوکړو او په یو بل روایت کښې دی : چه ما ددے مبتدع د مسجد نه اوباسه (دائے ځکه اووئیل چه ما اوباسه چه عبد الله بن عمر په دے زمانه کښې ړوند شوے وو) کما فی الترمذی وشرحه تحفة الاحوذی (۱/۱۷۷) وشرح السنة (۱/۶۲)

امام ترمذی" فرمائی : دے تثویب ته اهل العلم مکروه (یعنی حرام) وئیلے دے او دا هغه شے دے چه خلقو د رسول الله ﷺ د زمانے نه پس راپیدا کړو (نفس المصدر)۔

د علی رضی الله عنه نه روایت دے : [انه رأى مؤذناً يثوب فى العشاء فقال اخرجوا هذا المبتدع من المسجد]، کذا فی فتح القدیر شرح الهدایة (۱/۲۱۴) وحاشیة الهدایة (۸۹/۱)۔ یعنی علی" یو مؤذن اولیدو چه د ماسخوتن مانځه دپاره ئے آوازونه کول نو علی" اوفرمائیل : دا بدعتی د مسجد نه اوباسئ !۔

★ – علامه ابن الهمام فرمائی : واما التثويب بين الاذان والاقامة فلم يكن على عهده عليه السلام ،مرعاة المفاتيح (۲/۳۵۲) ومثله فی الهدایة (۱/۸۹)۔

د اذان او اقامت په مابین کښې د جماعت د اودریدو دپاره آواز کول د رسول الله ﷺ په زمانه کښې نه وو۔

هدایه باب الاذان (۱/۸۹) کښې وائی : هذا تثويب احدثه علماء الكوفة بعد عهد الصحابة لتغير احوال الناس الخ دا تثویب د کوفے علماؤ ایجاد کړیدے د صحابه کرامو" د زمانے نه روستو ځکه چه د خلقو په احوالو کښې تغیر راغلو او صرف د فجر په وقت کښې به کیدلو ځکه چه دا د خوب او غفلت وقت دے او متأخرینو دا په ټولو مونځونو کښې مستحب ګڼړلے دے ځکه چه د دین په کارونو کښې سستی پیدا شویده (خلق دنیا پرست شویدی) انتهٰی ۔ ددے جواب دا دے چه بدعت عمل ته مستحب وئیل حرام دی، هر کله چه د نبی علیه السلام په زمانه کښې دا کار نه وو او د بعضے صحابه کرامو" نه ددے تردید هم نقل شو نو معلومه شوه چه دا کار بدعت دے۔

٤– **یو خلورم** قسم تثویب هم شته او هغه دا چه امام ته د مانځه د اودریدو خبر ورکړے شی چه راځه مونځ تیار دے، دا مستحب عمل دے او په احادیثو کښې ثابت دے ډیر

احادیث په کنز العمال (۱/۳٤٦۸)، نصب الرایة (۱/۳۳۰) او کشف النقاب (۳/۵۲۰) کښې مذکور دي لکه حدیث د بلال کښې دي : انه اتی النبی ﷺ یؤذنه لصلوة الفجر فقیل : هو نائم الخ وقد تقدم اخرجه ابن ماجه (۱/۵۲) وفي الکنز والکشف۔

بلال په رسول الله ﷺ ته خبر ورکولو چه اے د الله رسوله ! د مانځه وقت دے۔

★– دارنګه : اوده خلقو ته یا په یو کار کښې مشغول خلقو ته خبر ورکول بغیر د آواز پورته کولو نه مثلاً هغه رابیدارول او متوجه کول جواز لري لکه روستو حدیث راروان دے۔ ابوبکرهؓ وائی : زه د نبی علیه السلام سره د صبا مانځه دپاره اووتلم نو نبی علیه السلام به اوده خلقو ته آواز اوکړو او یا به ئے په خپه باندے اوخوزولو۔ واسناده ضعیف ولکن معناه صحیح لانه من باب الامر بالمعروف وسیأتی هذا الحدیث فی الکتاب۔

پدے کښې بیا امام ابویوسفؒ وائی : قاضی یا مفتی یا خلیفة المسلمین دپاره که مؤذن د تولو مونځونو په باره کښې داسے تثویب اوکړی : السلام علیك ایها الامیر ورحمة الله وبرکاته، حی علی الصلاة حی علی الفلاح، الصلاة یرحمك الله) نو دا به جائز وی ځکه چه دوئ د مسلمانانو په کارونو باندے زیات مشغول دی نو هسے نه چه جماعت ترے فوت نشي۔ الهدایة (۱/۸۹) ونقله ایضاً صاحب الابداع عن ابی یوسف کذا قاله ابوحاتم فی کتاب الاذان ص (۳۰۱) بیا ئے پدے باندے رد کړیدے په (وفیه نظر بیّن) سره۔ خلاصه ئے دا ده چه نبی علیه السلام حاکم او قاضی او مفتی دے بلکه د رسالت درond بوج پرے پروت دے او ددے سره هغه چرته هم مؤذن ته دا حکم ندے کړے چه په اذان کښې د داسے تثویب اوکړی او نه دا د هغه نه چرته په صحیح سند ثابت دی او دین خو په رایه او استحسان ندے بناء بلکه دین خو به د دلائل شرعیه ؤ نه اخستے شی، نو دا کار حرام او بدعت او مکروه دے انتهیٰ۔

امام محمدؒ فرمائی : تول خلق د جماعت په معامله کښې برابر دی، په اذان کښې به د هیچا دپاره تثویب نشی کیدے۔ هدایة (۱/۸۹) تنظیم الاشتات (۲٤۸) وهو الحق۔

مسئله : الصلاة خیرمن النوم په کوم اذان کښې دے

بیا پدے کښې اختلاف دے چه الصلاة خیر من النوم به په کوم اذان کښې وائی اول اذان د فجر کښې یا دویم اذان بعد طلوع الفجر کښې :

۱– **نو بعض علماء** دا غوره کوی چه دا په اول اذان د فجر کښې یعنی د تهجدو په

اذان کښې به ئې وائي، او دا قول د ابن رسلان او امير صنعاني دے ذکره في سبل السلام (۱۲۰/۱) او شيخ الباني هم غوره کړيدے په تمام المنة ص (۱٤٦) او تعليق المشکاة (۱/٦٤٥) کښې ۔ دوئ استدلال کوي په ډير احاديثو باندے چه په هغې کښې د اذانِ اول تصريح موجوده ده بعضے د هغينه دا دي :

۱ – عن ابي محذورة ان النبي ﷺ علمه في الاذان الاول من الصبح الصلاة خير من النوم، اخرجه الطحاوي (۱/۱۳۰) والبيهقي (۱/٤۲۲)

۲ – عن ابي محذورة قال : کنت اؤذن للنبي ﷺ فکنت اقول في الاذان الاول من الفجر بعد حي على الفلاح حي على الفلاح الصلاة خير من النوم الصلاة خير من النوم اخرجه ابوداود (۱/۷۹) والبيهقي (۱/٤۲۲) وذکر ايضاً في کشف النقاب (۳/۵۱۷) ۔

پدے حديثونو کښې دا خبره ذکر شوه چه الصلاة خير من النوم به په اول اذان د صبا کښې وائي ۔

۲ – **بل طرفته** نور علماء وائي : چه دا الفاظ به صرف په دويم اذان د صبا کښې وائي يعني کوم اذان چه د صبا د راختلو نه پس کيږي د سحر مانځه دپاره ۔ دوئ استدلال کوي په ډيرو احاديثو چه بعض د هغينه په لاندے طريقه دي :

۱ – عن انس رضی اللہ عنہ قال : کان التثويب في صلاة الغداة اذا قال المؤذن حي على الفلاح قال : الصلاة خير من النوم مرتين (الطحاوي : ۱/۱۰۳)

۲ – عن ابي محذورة قال : القي على رسول الله ﷺ الاذان حرفاً حرفاً (وفيه) قال : وکان يقول في الفجر : الصلاة خير من النوم، ابوداود (۱/۸۰) وابن حبان (۳/۹٦) ۔

۳ – وعن ابي محذورة (وفيه) فان کان في صلاة الصبح قلت : الصلوة خير من النوم الصلوة خير من النوم، اخرجه ابوداود (۱/۷۹) ۔

نو دا احاديث دليل دے چه دا الفاظ په دويم اذان کښې دي، يعني د صبا دپاره ۔ ځکه پدے کښې الغداة او الفجر او الصبح الفاظ ذکر شو دا صريح دے پدے کښې چه دا الفاظ د سحر مانځه دپاره زياتولے شي، او دا علماء جواب ورکوي مخکنو علماؤ ته چه د ابن عمر او ابو محذوره په روايت کښې چه د (الاذان الاول) لفظ ذکر دے نو ددينه مراد اول اذان دے پس د صبا راختلو نه او ديته ئې اول اذان ځکه اوويئيلو چه کله کله په احاديثو کښې اقامت ته هم اذان ويئيلے شويدے نو دا په مقابله د اقامت کښې ويئيلے شويدے لکه پدے باندے دليل : حديث د عائشة رضی اللہ عنہا دے : قالت کان رسول الله ﷺ اذا سکت المؤذن بالاولىٰ من صلوة الفجر قام فرکع رکعتين خفيفتين قبل صلوة الفجر الحديث رواه البخاري (۱/٦۷) ومسلم

(١/٢٥٠) وابوداود (١/١٩٦) ـ

دا حديث او ددے پشان بل روايت د ابواسحاق په ابوداود كښ دليل دے چه اول اذان نه مراد د صبا دپاره اذان دے ځكه چه رسول الله ﷺ ددے اذان نه پس د سحر سنت كړيدى، معلومه شوه چه د تهجدو اذان ندے مراد ـ نو د شيخ البانیؒ او ابن رسلان وغيره قول ضعيف شو او دغه شان فتوى په الفتاوى الاسلامية (١/٢٥٢) كښ هم ذكر شويده فرمائى :

ان هذه الجملة تقال فى اذان الفجر وهو النداء الذى يؤتىٰ به بعد طلوع الفجر لاداء الفريضة فاما الاحاديث التى فيها انها فى الاذان الاول صحيحة ولكن المراد بالاول هو الاذان الذى يقال فى المئذنة عند ابتداء الوقت والمراد بالثانى هو الاقامة فانها تسمّى اذاناً كما قال ﷺ بين كل اذانين صلوة اى بين الاذان والاقامة الخ وانظر تحقيقه فى كتاب الاذان لا بى حاتم ص (٢٣٨) والدين الخالص (٣/) ـ

الفائدة الفائقة :

د اذان نه مخكښ الصلاة والسلام عليك يارسول الله وئيل يا په اذان كښ حى على خير العمل زياتول لكه چه شيعه ګان ئے زياتوى، يا د اذان نه پس په جهر سره درود لوستل پداسے طريقه چه عام خلق ئے د اذان نه اوشمارى، يا د سحر اذان نه مخكښ بعض خلق څه خاص اذكار او تسبيحات وائى او بيا اذان شروع كوى دا ټول بدعات او ګمراهى ده او په دين كښ هغه شے داخلول دى كوم چه دين كښ نشته ددے ثبوت په هيڅ صحيح حديث كښ نشته كما فى السنن والمبتدعات (٥٠) وكتاب الاذان لابى حاتم (٣٠١) او دا كارونه داخل دى په : [من احدث فى امرنا هذا ما ليس منه فهو رد] كښ ـ البته حى على خير العمل د ابن عمر او على بن الحسين زين العابدين په عمل كښ ثابت دى ليكن هغوى نسبت رسول الله ﷺ ته ندے كړے او دا علماء دى د رسول الله ﷺ د قول او فعل په مقابله كښ به د دوئ خبره پريخودلے شى ددے وجه نه امام بيهقى دا روايات نقل كړيدى (١/٤٢٥) او بيائے وئيلى دى : وهذه اللفظة لم تثبت عن النبى ﷺ فيما علم بلالاً واباًمحذورة ونحن نكره الزيادة فيه وبالله التوفيق آهـ راجع للتفصيل فتاوى الدين الخالص (٣/٣٩١) فتاوى دار العلوم ديوبند (٢/١٠٦) كښ هم دے صلاة او سلام ته بدعت وئيلے دے كوم چه د اذان نه مخكښ لوستے شى وكذا فى احسن الفتاوى (٢/٢٨٧) ـ

درجة الحديث : اسناده ضعيف ومعناه صحيح ـ اخرجه الترمذى (١٩٨) وقال : حديث بلال لا نعرفه الا من حديث ابى اسرائيل الملائى وابواسرائيل الراوى هو ليس بذاك

القوی عند اهل الحدیث وابواسماعیل لم یسمع هذا الحدیث من الحکم بن عیینة انما رواه عن الحسن عن عمارة عن الحکم آه قلت : وعمارة هذا ضعیف ایضا ولکن الحدیث معناه صحیح ۔ وقد اخرجه ابن ماجه (۷۱۵) والبیهقی فی الکبریٰ (۱/۴۲۴) راجع الارواء (۲۳۵) فی سماع ابی اسرائیل من الحکم وقد رجح الالبانی عدم الجزم بعدم السماع ولکن یبقی فیه الاضطراب، تعلیق المشکاة لرمضان (۱/۲۷۹) والمرعاة (۲/۳۵۲) ۔

۷– وَعَنْ جَابِرٍ رضی الله عنه، اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ قَالَ لِبِلَالٍ : اِذَا اَذَّنْتَ فَتَرَسَّلْ، وَاِذَا اَقَمْتَ فَاحْدُرْ، وَاجْعَلْ بَیْنَ اَذَانِکَ وَاِقَامَتِکَ قَدْرَ مَا یَفْرُغُ الْآکِلُ مِنْ اَکْلِهٖ، وَالشَّارِبُ مِنْ شُرْبِهٖ، وَالْمُعْتَصِرُ اِذَا دَخَلَ لِقَضَاءِ حَاجَتِهٖ، وَلَا تَقُوْمُوْا حَتّٰی تَرَوْنِیْ . رَوَاهُ التِّرْمِذِیُّ، وَقَالَ : لَا نَعْرِفُهٗ اِلَّا مِنْ حَدِیْثِ عَبْدِ الْمُنْعِمِ وَهُوَ اِسْنَادٌ مَجْهُوْلٌ .

ترجمه : او جابر رضی الله عنه روایت کوی چه رسول الله ﷺ بلال ته اوفرمایل : کله چه ته اذان کوے نو په اودریدو اودریدو سره ئے وایه او کله چه تکبیر کوے نو په جلتئ جلتئ سره ئے وایه او د اذان او تکبیر ترمینځ دومره وقفه کوه چه خوراك کونکے د خپل خوراك نه او څکونکے د خپل څکاك نه او قضاءِ حاجت ته تلونکے د خپل حاجت نه فارغ شی او تر هغه وقت پورے مانځه ته مه پورته کیږئ تر څو پورے چه ما (مانځه ته په راتلو کښے) او نه وینئ ۔ دا حدیث ترمذیؒ نقل کړیدے او وئیلے ئے دی چه مونږ دے حدیث لره سوا د عبد المنعم نه د بل چا نه نه پیژنو او ددے سند مجهول دے ۔

تشریح : اِذَا اَذَّنْتَ فَتَرَسَّلْ : ترسل معنی ده یعنی اذان کښ نرمی کوه په آرام ئے وایه، تمهل په کښ کوه او جلتی په کښ مه کوه او الفاظ ئے په ترتیل سره لوله او په یو ساه باندے ئے مه وایه : یقال تَرَسَّلَ فی کلامه ومَشْیِهٖ اذا لم یَعْجَلْ۔ یعنی په کلام او مزل کښ ترسل دیته وائی چه نرمئ سره اداء کړے شی او جلتی په کښ نه وی ۔

دا حدیث دلیل دے چه په اذان کښ ترسل کول پکار دی ځکه چه مقصود په اذان کښ اعلان کول دی غائبینو ته او دا په ترسل سره زیات حاصلیږی ۔

په شرح السنة (۲/۶۴) کښ امام بغویؒ د ابن عمرؓ حدیث راوړیدے : وروی عن ابن عمر کان یرتل الاذان ویحدر الاقامة ۔ دا هم دلیل دے چه ترسل په اذان کښ او حدر په اقامت

کښې مسنون عمل دے۔

۲– عمر بن عبد العزیزؒ یو شخص ته اووئیل: اذّن اذاناً سمحاً والا فاعتزلنا۔ یعنی په آرام سره اذان کوه ورنه زمونږ نه جدا شه!۔

وَاِذَا اَقَمْتَ فَاحْدُرْ: احدر د باب نصر نه دے بضم الدال حدر معنی ده: د اقامت د الفاظو په وئیلو کښې جلتی کول ځکه چه مقصود په اقامت کښې اعلام دے حاضرینو ته نو جلتی پکښې کول زیات مناسب دی، دے دپاره چه انسان به زر فارغ شی او په مونځ کښې – چه مقصود دے – زر به داخل شی۔ دارنګه د اقامت اوګدولو کښې د مقتدیانو مشغولول راځی په غیر مقصود کښې او دا مناسب نده نو ځکه به په اقامت کښې جلتی کولے شی۔

وَاجْعَلْ بَیْنَ اَذَانِکَ وَاِقَامَتِکَ: یعنی د اذان او اقامت ترمینځ دومره وقفه او دمه اوکړه چه یو خوړونکے د خپل خوراك نه فارغ شی الخ ځکه چه په اذان سره غیر حاضر خلقو ته اعلان اوشو نو دومره وقت ورکول ضروری دی چه هغوی پکښې مانځه ته را اورسیږی ورنه بیا به د اذان فائده ضائع شی۔

امام بخاریؒ باب تړی: باب کم بین الاذان والاقامة الخ۔ پدے کښې اشاره کوی دے حدیث د جابر ته چه دا ضعیف دے او د اذان او د اقامت ترمینځ د وقت اندازه نده متعین۔

ابن بطالؒ وائی: لاحد لذلك غیر تمكن دخول الوقت واجتماع المصلین ولم یختلف العلماء فی التطوع بین الاذان والاقامة الا فی المغرب الخ فتح الباری (۲/۸٤)۔ یعنی ددے وقت هیڅ حد نشته مګر دومره وقت وقفه ضرور پکار ده چه وقت پوره داخل شی او مونځ کونکی پکښې راجمع شی او هرچه د اذان او اقامت ترمینځ نفل کول دی نو دا اتفاقی مسئله ده چه ددے کول جائز دی، صرف اختلاف د ماښام نه مخکښې نفل کولو کښې دے انتهی۔

نو هرکله چه د اذان او اقامت ترمینځ د وقفې اندازه نده متعین نو نیمه ګینټه وقفه کول یا پاؤ وقت او بیا دا لازم ګنړل بدعت دے پدے کښې به د عوامو حالت ته کتلے شی چه څومره وقت کښې ځان مانځه ته رارسولے شی پس د وقت داخلیدو نه که نیمه ګینټه وی او که شل مینټه وی بغیر د التزام نه او همدا خبره د احادیثو نه معلومه ده لکه مخکښې د فرادی اقامت په دلائلو کښې د ابن عمر قول ذکر شو: فاذا سمعنا الاذان توضأ وخرجنا الی الصلاة۔ ابوداود (۱/۱۸۱)۔

وَالْمُعْتَصِرُ : دا هغه سړی ته وائی چه واړه او غټ بولو راتینګ کړے وی ـ
وَلَا تَقُوْمُوْا حَتّٰی تَرَوْنِی : یعنی تر هغه وقت پورے به مانځه ته نه اودریږئ چه تر څو ما اونه وینئ چه زه د حُجرے شریفے نه را اووتلم ـ
پدے حدیث کښی دوه مسئلے دی :

١- اوله مسئله : مقتدیان به څه وقت مانځه ته پاڅیږی :

نو پدے کښی دوه صورته دی یا به امام د مسجد نه بهر وی یا به مسجد کښی دننه حاضر وی۔ ★ – که امام د مسجد نه بهر وی نو خلق به مانځه ته اودریږی ترڅو چه امام ئے لیدلے نه وی په راتللو، نو کله چه امام اووینی نو په دغه وقت کښی به اقامت هم شروع کړی ـ پدے باندے یو دا حدیث دلیل دے لا تقوموا حتی ترونی الخ ـ
٢– او دویم دلیل روایت د ابو قتاده کښی دی : عن النبی ﷺ قال : اذا اقیمت الصلاة فلا تقوموا حتی ترونی (بخاری : ١/٨٨) مسلم (١/ ٢٢٠) وسیأتی فی الکتاب (١/٦٧) ـ
٣– مسلم کښی راځی : کان بلال یؤذن اذا دحضت یعنی الشمس فلا یقیم حتی یخرج النبی ﷺ فاذا خرج اقام الصلاة حین یراه ـ
★– او که امام دننه په مسجد کښی وی او مقتدیانو ته ښکاری نو مقتدیان به څه وقت پاڅیږی نو پدے کښی د علماؤ مختلف اقوال دی او بیا ترجیح الراجح ـ
١ – **د امام مالک**ؒ په نیز باندے د قیام الی الصلاة هیڅ شرعی حد نشته امام مالکؒ په الموطأ (١/٥٦) کښی وائی : واما قیام الناس حین تقام الصلاة فانی لم اسمع فی ذلك بحد یقام له الا انی رأیت ذلك علی قدر طاقة الناس فان منهم الثقیل والخفیف الخ۔ یعنی ماته د مقتدیانو د اوریدو مانځه ته هیڅ حد ندے معلوم بلکه د خلقو د وسع موافق به پاڅیږی ځکه په خلقو کښی بعض درانه وی بعض سپك (چست) وی، تول د یو سړی پشان نشی کیدے ـ
٢– **شوافع** او امام ابو یوسفؒ وائی مستحب دا ده چه د اقامت نه د فارغیدو نه پس مانځه دپاره اودریږی او دا قول د اکثرو علماؤ دے کما قال الحافظ فی فتح الباری (٢/٩٥) وبذل المجهود (١/٣٠٧) قال النووی وهو قول مالك واهل الحجاز واحمد واسحق ـ المجموع شرح المهذب (٣/٥٣) وفی المغنی لابن قدامة (١/٥٣٨)
٣– **امام زفر**ؒ وائی : کله چه مؤذن قد قامت الصلاة اول ځل اووائی نو قوم به

اودریږی او کله چه دویم ځل قد قامت الصلاة اووائی نو مونځ به شروع کړی۔

٤- **عبد الله** بن عمر نه نقل دی: کله چه مؤذن په اقامت کښې قد قامت الصلاة اووائی نو خلق به پاڅیږی۔ کما فی المصنف لعبد الرزاق (۱/۵۰۶) عن عطیة قال: کنا جلوساً عند ابن عمر فلما اخذ المؤذن فی الاقامة قمنا فقال ابن عمر: اجلسوا فاذا قال: قد قامت الصلاة فقوموا عبد الرزاق باب قیام الناس عند الاقامة (۱/۵۰۵) وفی سنده عطیة۔

٥- امام ابوحنیفه او محمد وائی: کله چه مؤذن حی علی الصلاة لفظ اووائی نو خلق به په صف کښې اودریږی او کله چه قد قامت الصلاة اووائی نو امام به تکبیر شروع کړی۔ پدے تولو کښے راجح قول دا دے چه مقتدیان به د اقامت د شروع کیدو په وقت کښے پاڅیږی او څه حد ئے ندے معلوم کما قال مالك وهو قول عمر بن عبد العزیز ومحمد بن کعب وسالم بن عبد الله وابوقلابة وعراك بن مالك والزهری وسلیمان بن حبیب المحاربی وعطاء واحمد بن حنبل واسحق، المجموع (۳/۲۵۳) نقلاً عن ابن المنذر۔

★- او امام به په هغه وقت کښې مانځه ته پورته کیږی چه کله مؤذن قد قامت الصلاه لفظ اووائی (او د الله اکبر وئیلو خبره روستو راځی دلته صرف د پاڅیدو مسئله ده) او دا هله چه امام په مسجد کښې وی وهو الحق۔

دلائل پدے باندے دا دی:

۱- عن ابی هریرة: ان الصلاة کانت تقام لرسول الله ﷺ فیأخذ الناس مصافهم قبل ان یقوم النبی ﷺ مقامه، رواه مسلم (۱/۲۰۲) ونحوه فی ابی داود والسنن الکبری (۲/۲۰)۔

دا حدیث دلیل دے چه رسول الله ﷺ به د خلقو د اودریدو نه پس اودریدو۔

۲- **دلیل**: روی ابن المنذر وسعید بن منصور عن انس انه کان یقوم اذا قال المؤذن قد قامت الصلاة، تمام المنة (۱۵۱) وفتح الباری (۲/۹۵) وفی السنن الکبری (۲/۲۰) عن انس بن مالك: انه اذا قیل قد قامت الصلاة وثب فقام۔

ظاهر دا ده چه انس به پدے وقت کښې امام وو۔

۳- وعن الحسین بن علی بن ابی طالب انه کان یفعل ذلك وهو قول عطاء والحسن، السنن الکبری (۲/۹۵)۔

٤- ابن شهاب زهری د صحابه کرامو د زمانے حال ذکر کوی:

ان الناس کانوا ساعة یقول المؤذن الله اکبر الله اکبر یقیم الصلاة یقوم الناس الی الصلاة فلا یأتی النبی ﷺ مقامه حتی یعدّل الصفوف، اخرجه عبد الرزاق فی المصنف (۱/۵۰۷) رقم (۱۹٤۲) وفتح الباری (۲/۹۵)۔

ددے اثر نہ هم معلومیږی چه صحابه کرامؓ به د اقامت د شروع په وخت پاڅیدل او صفونه به ئے برابرول او نبی علیه السلام به هله خپل مقام ته راتلو چه صفونه به برابر شو ۔ او لا تقوموا حتی ترونی والا روایت حمل دے په هغه صورت چه امام د مسجد نه بهر وی او مقتدیان مخکښ ولاړ وی، لکه چه مخکښ تیر شو او روستو به ئے هم تشریح راشی ان شاء الله تعالی ۔

۵– ان عمر بن عبد العزیز کان یوکل الحرس اذا اخذ المؤذن فی الاقامة ان یقیموا الناس الی الصلاة حتی یکبر، عبد الرزاق (۱/۵۰٦) رقم (۱۹٤۱) ۔

د عمر بن عبد العزیز خلیفه راشدؒ هم دا عمل وو چه خپل څوکیداران به ئے د اقامت په وخت پدے باندے مقرر کړی وو چه خلق مانځه ته راپورته کړی تردے چه امام تکبیر اوکړی یعنی د امام د تکبیر نه مخکښ به ئے خلق مانځه ته راپاڅول ۔

٦– وعن الحسن انه کره ان یقوم الامام حتی یقول المؤذن قد قامت الصلاة و کره ان یکبر حتی یفرغ المؤذن من اقامته، ابن ابی شیبة (۱/٤۰۵).

یعنی حسن بصری به د قد قامت الصلاة وئیلو نه مخکښے د امام پاڅیدل بد ګڼړل او د امام الله اکبر به ئے د اقامت نه د فراغت نه مخکښ بد ګڼړل ۔

۷– سعید بن المسیب فرمائی : اذا قال المؤذن الله اکبر وجب القیام واذا قال حی علی الصلاة عدلت الصفوف واذا قال لا اله الا الله کبر الامام، فتح الباری (۲/۹۵)۔

ددے تابعین علماؤ فهم هم داسے دے چه په اقامت کښ شروع نه پس به مقتدیان پاڅیږی او امام به تر هغه وخت پورے نه پاڅی چه قد قامت الصلاه اووئیلے شی او امام به د تکبیر د ختمیدلو نه مخکښ تکبیر نه کوی لکه دا دویمه مسئله ده ۔

دویمه مسئله : امام به څه وخت الله اکبر وائی

۱ – **اکثر اهل علم** فرمائی : کله چه اقامت خلاص شی نو امام به صفونو ته خیال اوکړی کله چه خلق ښه برابر شو نو بیا به تکبیر تحریمه اوکړی ۔

وهو قول سعید بن المسیب وعمر بن عبد العزیز ویحیی بن وثاب وابراهیم (بذل المجهود : ۱/۳۰۷) وهو قول الشوافع وقال النووی فی المجموع (۳/۲۵۳) ووافقنا جمهور العلماء من السلف والخلف علی انه لا یکبر الامام حتی یفرغ المؤذن من الاقامة نقله عنهم القاضی عیاض، انتهی، وهو قول الحسن واسحاق وابی یوسف والشافعی وعلیه جل الائمة فی الامصار قاله ابن قدامة فی المغنی (۱/۵۳۸) ۔

٢٠- امام ابوحنيفه" او ثوري" فرمائي : كله چه مؤذن حي على الصلاه اووائى مقتديان او امام به اودريږي او كله چه قد قامت الصلاه اووائى نو امام به الله اكبر اوكړي۔ المجموع (٢٥٣/٣) المغنى (٥٣٨/١) فتح البارى (٩٥/٢) المحلى لابن الحزم (٣١/٣) وكذا في سائر كتب الفقه الحنفي۔

د دوئ سره پدے مسئله باندے هيڅ صحيح جديث دليل نشته صرف دوه روايات پيش كوى ١- اول روايت : عن سفيان الثورى عن عاصم الاحول عن ابى عثمان النهدى ان بلالاً قال يا رسول الله لا تسبقنى بآمين، اخرجه احمد والبيهقى (٢٢/٢) يعنى بلال" به رسول الله ﷺ ته فرمائيل : يا رسول الله ما نه په آمين وئيلو كښ مه مخكښ كيږه ! ۔ طريقه د استدلال : معلومه شوه چه رسول الله ﷺ به د بلال د اقامت د ختمولو نه مخكښ تكبير كولو او فاتحه به ئے مخكښ ختموله نو آمين به ئے مخكښے وئيلو او بلال به د اقامت ختمولو نه پس تكبير تحريمه كوله تردے چه د نبى عليه السلام نه به روستو پاتے شو ۔ البيهقى ۔

الجواب : دا حديث په خپله دغه مدعى باند هيڅ دلالت نكوى، وجه دا ده چه پدے حديث كښ دا خبره نشته چه نبى عليه السلام به د قد قامت الصلاه په وقت كښ الله اكبر كولو بلكه بلال د يو فضيلت حاصلولو طرفته اشاره كوى چه نبى عليه السلام فرمائيلى دى كله چه امام آمين اووائى نو ملائك هم آمين وائى نو د چا آمين وئيل چه د ملائكو د آمين سره برابر شو مخكنى گناهونه به ورته معاف شي الحديث ۔ نو بلال د نبى عليه السلام نه مطالبه اوكړه چه ته ما ته په آرام شه چه زما آمين ستا سره برابر شي ځكه چه د رسول الله ﷺ آمين خو د ملائكو د آمين سره ضرور برابريږى ۔

٢- دويم جواب : پدے حديث كښے دا مسئله ده چه بلال" به د نبى عليه السلام پسے فاتحه لوستله په سكتاتو كښ نو د ولا الضالين نه پس به نبى عليه السلام آمين اووئيلو او بلال ته به ولا الضالين وئيل پاتے وو نو بلال درخواست اوكړو چه د ولا الضالين نه پس تاسو لا آمين مه وايئ لگ صبر كوئ چه زه در اورسم ۔ نو پدے كښے د اقامت خبره د كوم ځائے نه راغله ۔

٣- دريم جواب : ابن الحزم په المحلى (٣٢/٣) كښ وائى : دا استدلال تمويه فى الدين دے ځكه چه احناف هم دا منى چه امام به پس د الله اكبر نه وجهت وجهى الخ دعاء وائى يا سبحانك اللهم به وائى او كله چه امام د قد قامت الصلاه په وقت شروع كوى نو

مقیم باندے صرف درے کلمات وئیل پاتے دی او دا خو ډیر زر ختمیږی او دا مقتدی د امام سره بالکل شریك کیدے شی او امام به لا بالکل فاتحه هم نه وی شروع کړی چه مقتدی به ورسره شریك شوے وی وانظر المجموع (۳/۲۵٤) حیث قال : ان بین قوله قد قامت الصلاة وبین آخر الاقامة زمناً یسیراً جداً یمکنه اتمام الاقامة وادراك آخر الفاتحة بل ادراك اولها بل ما قبلها لان النبی ﷺ کان یقرأ دعاء الافتتاح بعد تکبیره ثم یتعوذ ثم یشرع فی الفاتحة انتهی ۔

٤- **جواب** : بلال رضی الله عنه د رسول الله ﷺ نه دا مطالبه په هغه وقت کښ کړے وه چه هغه ته د مسجد نه بهریو حاجت راپیښ شوے وو نو نبی علیه السلام نه ئے تاخیر د آمین اوغوختلو ۔المجموع (۳/۲۵٤)

٥- **جواب الزامی** : احناف خو د مقتدی دپاره فاتحه نهٔ منی نو مقتدی خو به د قد قامت الصلاه وئیلو نه پس درے کلمات وائی (الله اکبر الله اکبر لا اله الا الله) او بیا به الله اکبر اوکړی نو امام خو ضرور په آمین کښ راګیرولے شی بلکه ډیر کرتے ترے مخکښ کیدے هم شی لکه دا خبره واضحه ده ۔ نو بناء پدے هیڅ قسم تاخیر د مقتدی د امام نه نه راځی هکذا قاله الامام ابن حزم فی المحلی (۳/۳۲) لهذا احناف دداسے حدیث نه استدلال کوی چه پخپله پرے عمل نکوی ځکه ددے حدیث نه خو بیا فاتحه خلف الامام معلومه شوه او هغے باندے احناف قائل ندی نو دا استدلال باطل دے ۔

ابن الحزم وائی : دا استدلال ډیر قبیح دے او پدے کښ اقدام دے په فضیحت او تدسیس باندے و دلیل علی قلة الورع انتهی ۔

٦- **جواب** : ددے قول ابطال په حدیث د رسول الله ﷺ باندے کیږی (اذا کبر فکبروا) ځکه چه کله امام تکبیر اوکړی او اقامت کونکی لا اقامت نه وی پوره کړے نو مقیم له دا ممکن نده چه د امام د تکبیر په وقت تکبیر اوکړی او حال دا چه حدیث کښ خو دا راغلی دی چه د امام د تکبیر پسے متصل به مقتدی تکبیر کوی لکه دلیل پدے باندے کلمه د فاء ده ۔ نو احناف دے مقیم ته امر کوی په خلاف د امر د رسول الله ﷺ باندے چه اذا کبر فکبروا فتدبر وانظر المحلی (۳/۳۱) ۔

۲- **دویم دلیل** : حدیث د عبد الله بن ابی اوفی رضی الله عنه دے : [قال : کان بلال اذا قال قد قامت الصلاة نهض النبی ﷺ فکبر] ، رواه البیهقی فی الکبری (۲/۲۲)۔

الجواب : دا حدیث قابل د استدلال ندے ځکه دا ضعیف روایت دے امام بیهقی رحمه الله

فرمائي : وهذا لا يرويه الا حجاج بن فروخ و كان يحيى بن معين يضعفه ـ امام نووىؒ فرمائي : قلت : اتفقوا على جرح الحجاج هذا فقال ابن ابى حاتم عن يحيى بن معين ليس هو بشئ وقال ابوحاتم هو شيخ مجهول وقال النسائى ضعيف وقال الدارقطنى متروك وهذه اوضع العبارات عندهم وفى الحديث ضعف من جهة اخرى وهى ان ابن العوام بن حوشب لم يدرك ابن ابى اوفى كذا قاله احمد بن حنبل وغيره ولم يسمع احداً من الصحابة وانما روايته من التابعين، المجموع شرح المهذب (٢٠٤/٣) وقال فى المحلى (٣١/٣) وهو متفق على ضعفه وترك الاحتجاج به ـ

يعنى دا حديث يو خو ضعيف جداً دے دويم منقطع هم دے نو بالكل قابل د حجت ندے او د صحيح احاديثو هم مخالف دے كما سيأتى ـ

٣- دريم دليل عقلى دا وائى چه كله مؤذن قد قامت الصلاة اووائى او امام الله اكبر اونكړى نو هغه دروغجن كيږى ـ

الجواب : د قد قامت الصلاة معنى دا ده : قد قرب الدخول فى الصلاة اودا د اهل عربيه، فقهاء او محدثينو په نيز مستعمله معنى ده لكه قرآن كريم كښې دى : فَإِذَا بَلَغْنَ أَجَلَهُنَّ (اى اذا قاربن البلوغ) او إِذْ حَضَرَ يَعْقُوبَ الْمَوْتُ - كُتِبَ عَلَيْكُمْ إِذَا حَضَرَ أَحَدَكُمُ الْمَوْتُ الْوَصِيَّةُ) اى اذا قرب حضور الموت نو هيڅ كذب نه لازميږى ـ

٢- بله دا چه ددے عقلى دليل په مقابله كښې بل دليل عقلى شته چه ددے نه بهتر دے او هغه دا چه قد قامت الصلاة كښې دعوت دے مانځه طرفته نو ددے الفاظو وئيلو نه روستو په مانځه كښې داخليدل مشروع دى لكه د اذان پشان چه د اذان نه روستو مونځ كښې داخليدل مشروع دى ـ انظر المجموع (٢٥٣/٣)ـ

٣- بله دا چه دا عقل چلول دى په مقابله د نص كښې چه د احنافو د اصولو مطابق هم مردود دے كما سيأتى النصوص ـ

نو ثابته شوه چه د احنافو سره پدے مسئله باندے هيڅ دليل نشته بلكه دا بدعت فى الدين دے ددے د ترديد نور وجوهات اوګوره مع الدلائل ـ

١- اوله وجه : د رسول الله ﷺ عادتِ مباركه دا وو چه هغه به د اقامت ختميدلو نه پس مقتديانو ته مخ مبارك را اوګرځولو او دا به ئے فرمائيل : لكه چه انس بن مالكؓ فرمائي: [اقيمت الصلاة فاقبل علينا رسول الله ﷺ بوجهه فقال : اقيمو اصفوفكم وتراصوا فانى اراكم من وراء ظهرى] رواه البخارى باب اقبال الامام على الناس عند تسوية الصفوف

بشرح الفتح (٢/١٦٥) وفي رواية الاسماعيلي سوّوا واعتدلوا آه ۔
دارنگه سدوا الخلل وحاذوا بين المناكب والاعناق به ئې وئيل ۔ (ابوداود وغيره)

د عمر فاروق عمل : [عن نافع عن ابن عمر قال : كان عمر يبعث رجالاً يسوون الصفوف فاذا جاؤوه كبّر] يعني عمرؓ به د صفونو د برابرولو دپاره سړي ليږل كله چه به هغوي راواپس شو خپلو ځايونو ته نو عمرؓ به بيا تكبير تحريمه اوكړه وفي رواية اخرىٰ : [عن عمر بن الخطاب : انه كان ينتظر بعد ما اقيمت الصلوة قليلاً] ۔ عمرؓ به د اقامت ختميدلو نه پس لږه وقفه كوله ۔

دعثمان ﷺ عمل : عن مالك بن ابي عامر قال : كان عثمان بن عفان لايكبر حتى يأتيه رجال قد وكلّهم بتسوية الصفوف فيخبرونه انها قد استوت فيُكبّرُ ۔
يعني عثمانؓ به تر هغه وخته پورې تكبير نه كولو تر څو چه به هغه سړي نه وورا واپس شوي كوم چه به هغه مقرر كړي وو په برابرولو د صفونو، نو هغوي چه به خبر وركړو چه صفونه برابر شو بيا به ئې تكبير اوكړو ۔
او داسې عمل د حسن بن علي رضي الله عنهما نه هم نقل دې كذا في المحلى (٣١/٣) وفتاوى الدينؒ الخالص (٢٧٣/٣) ۔
نو دا عمل ددې دوه خلفاءِ راشدينو نه نقل دې چه د ټولو صحابه كرامو ؓ مخامخ د اقامت خلاصيدو نه روستو تكبير كوي نو دا اجماع د صحابو شوه نو د احنافو قول د رسول الله ﷺ د عملي سنت او د صحابو د عملي سنت نه مخالف شو ۔

٢- دويمه وجه : رسول الله ﷺ مقتديانو ته فرمائي : (اذا كبر فكبروا) رواه ابوداود باسناد صحيح يعني امام چه كله تكبير كولو نو تاسو (هم) ورسره تكبير كوئ او كله چه امام قد قامت الصلاة كښې تكبير اوكړي نو مقتدي خو د امام سره تكبير اونكړو نو كوم امامان چه په قد قامت الصلاة كښې الله اكبر كوي نو هغوي ددې حديث او د امر د رسول الله ﷺ صريح مخالفت كوي او د مقتديانو نه تكبير اولىٰ فوت كوي او دارنگه ډير سنت طريقې د امام نه فوت كيږي د مقتديانو صفونه نه برابروي، هغوي ته امر د برابرولو د صفونو نكوي ۔ ابن الحزمؒ فرمائي : دا حديث د امام ابو حنيفه د قول دپاره مبطل دې ۔ المحلى (٣١/٣) ۔
او كله كله رسول الله ﷺ به د يو سړي سره د اقامت او تكبير تر مينځ د هغه په حاجت كښې خبرې اترې كولې كما رواه البخاري (٨٩/١) ومسلم نو د اقامت او تكبير په مابين كښې

لګه وقفه پکار ده لکه په مجمع الزوائد (۲/۷۵) کښې ددې په باره کښې ډیر روایات راغلي دي یـو د هغینه دا دے چه ابن عباسؓ فرمائي : اقیمت صلاۃ الغداۃ الخ یعنی د صبا مونځ دپاره اقـامـت شـوے وو او زه پاڅیدلم سنت مے کول نبي علیه السلام زه د لاس نه اونیولم او رائے خکلم او را ته ئے اوفرمایل : آیا ته د سحر څلور رکعاته مونځ کوے ۔ رواه الطبراني في الكبير وبنحوه ابويعلى ورجاله ثقات ۔

نـو دلته اقامت شویدے او نبي علیه السلام لا په لاره کښې روان دے خپل ځائے د مانځه ته لا ندے رسیدلے فتدبر ۔

۳- دریـمه وجه : حي على الصلاة کښې مقـتـدیان اودریـدل او امام په قد قامت الصلاۃ کښې الله اکبر وائي نـو مـقتدیان خو څه دوه درے کسان ندي چه زر به صف برابر کړي بـلـکـه په دوئ کښې سپین ګیري ضعیفان، ماشومان وغیره وي د تولو طاقت خو یو شان ندے چه تول ورزش والا وي په یو لفظ سره په یو دم پاڅیږي نو دوئ به څه وقت صف برابروي پدے کښې ښه سوچ اوکړه نو دا قول د عقل هم خلاف دے لکه څنګه چه د شریعت خلاف دے ۔

٤- وجه : الزامي رد : احناف او غیر احناف وائي چه مقتدیان به د اقامت جواب ورکوي نو کله چه امام په قد قامت الصلاۃ کښې نیت اوتړي نو مقتدي خو به لا جواب نه وي ختـم کـړے چه امام به سورت فاتحه هم خلاصه کړي وي او بیا به څه وقت نیت تړي او بیـا د عـوام احنافو نیتونه هم معلوم دي چه ډیر وقت کښې نه برابرېږي، نیت مے کړے نیت کوم د زړه دا خلاصه پدے حاضر امام پسے الخ نو دا به څه وقت وائي (ددوي په نیز) نو ولے د خلقو مونځونه خرابوئ ۔ فالى الله المشتكىٰ من سوء صنيع ائمة زماننا المقلدين) ۔

پس ثابته شوه چه په اقامت کښې د امام تکبیر کول بدعت دے او په ډیرو مفاسدو او جرمـونـو بانـدے مشـتـمل دے، پدے باره کښې کتاب او سنت ته رجوع پکار ده، د بے دلیله فتاوی او بے دلیله د علماؤ د کتابونو نه متأثر کیدل ندي پکار ۔ والله اعلم ۔

درجة الحديث : واسناده ضعيف اخرجه الترمذي (۱۹۵) (۱۹۶) وابن عدي في الكامل في ترجمة يحيى بن مسلم البكاء (۷/۲۶٤۹) وقد تابعه عمرو بن فائد الاسواري عند الحاكم (۱/۲۰٤) وقال الذهبي قال الدارقطني عمرو بن فائد متروك آهـ تعليق المشكاة ويحيى بن مسلم مجهول كما في التقريب وقال الحافظ في التلخيص (۱/۲۰۰) وفي رواية الباقين غير الحاكم عبد المنعم صاحب السقاء وهو كاف في تضعيف الحديث انتهىٰ وقال

فى الفتح (٢/٨٤) وله شاهد من حديث ابى هريرة ومن حديث سلمان اخرجهما ابو الشيخ ومن حديث ابى بن كعب اخرجه عبد الله بن احمد فى زيادات المسند وكلها واهية انتهى ۔

ليكن پدې حديث كښې درې جملې دى آخرى جمله خو بالكل صحيح سند سره ثابت ده روستو باب تاخير الاذان كښې د ابوقتاده په متفق عليه حديث كښې راغلې ده او اولې جملې اذا اذنت فترسل الخ ددې دپاره عموماتو نه استدلال كيدې شي ۔ امام بيهقى (١/٤٢٧) باب تړى باب ترسيل الاذان وحذم الاقامة بيا حديث د ابوسعيد خدرى راوړى چه كتاب كښې روستو را روان دې : انى اراك تحب الغنم ...... فارفع صوتك بالنداء فانه لا يسمع مدى صوت المؤذن جن ولا انس الحديث نو په اذان پورته كولو باندې امر راغلو او دا كار په ترسيل كښې كيږى چه په آرام سره كلمات اووئيلې شى او دغه شان بل روايت هم را روان دې : عن عمر ...... اذا قال المؤذن الله اكبر الله اكبر ، كبر فقال احدكم الله اكبر الله اكبر الحديث دا هم دليل دې چه په اذان كښې به جدا جدا كلمات وائى انظر فتاوى الدين الخالص (٣/٣٣٧) او د دويمې جملې (واجعل بين اذانك الخ) دپاره يو شاهد شته چه هغه عبد الله بن احمد په زيادات المسند كښې ذكر كړيدې شيخ البانى هغې ته په مجموع الطرق حسن وئيلې دې كما فى السلسلة (٢/٥٧٦) رقم (٨٨٧) ليكن اصح دا ده چه هغه هم ضعيف دې په هغې كښې مجهول العين راوى دې ۔ راجع فتاوى الدين الخالص (٣/٢٥٦)۔

٨– وَعَنْ زِيَادِ بْنِ الْحَارِثِ الصُّدَائِيِّ ﷺ ، قَالَ : اَمَرَنِىْ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : «اَنْ اَذِّنْ فِىْ صَلَاةِ الْفَجْرِ»، فَاَذَّنْتُ . فَاَرَادَ بِلَالٌ اَنْ يُقِيْمَ، فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : «اِنَّ اَخَا صُدَاءٍ قَدْ اَذَّنَ، وَمَنْ اَذَّنَ فَهُوَ يُقِيْمُ». رَوَاهُ التِّرْمِذِىُّ وَاَبُوْدَاوُدَ وَابْنُ مَاجَه .

ترجمه : زياد بن حارث صدائى رضى الله عنه وائى چه ما ته رسول الله ﷺ د سحر مانځه دپاره د اذان وئيلو حكم اوكړو ۔ نو ما اذان اووئيلو، بيا بلالؓ د تكبير وئيلو اراده اوكړه نو رسول الله ﷺ اوفرمائيل : د صداء (قبيلې) ورور اذان وئيلې وو او څوك چه اذان اووائى هغه به تكبير هم وائى ۔ (ترمذىؒ، ابوداودؒ، ابن ماجهؒ) ۔

د زياد ﷺ تعارف :

دده نوم زياد بن الحارث الصُّدَائِىّ منسوب دې صداء ته او صداء منصرف او غير

منصرف دواړه لوستل جواز لري، صداء په يمن كښې د يوې قبيلې پلار دے چه نوم ئې يزيد بن حرب وو قاله البخاري في تاريخه انظر المجموع (١٢٢/٣) دا صحابي دے رسول الله ﷺ خواته راغلے دے او په سفر كښې ئې د هغه دپاره اذان كړيدے۔

تشريح : په يو ضعيف روايت د ابو الشيخ كښې ددے واقعه داسے ذكر ده چه ابن عمر فرمائي : چه نبي عليه السلام په يو سفر كښې وو د مانځه وقت راغلو، قوم يو ځائے كښې كوز شو، بلال ئې طلب كړو، وے نه موندلو نو يو سړے پاځيدو اذان ئې اوكړو بيا بلال راغلو قوم ورته اووئيل فلاني اذان كړيدے بيا قوم لږ ساعت غلي شو نو بلال اراده اوكړه چه اقامت اوكړي، نبي عليه السلام اوفرمائيل : مهلاً يا بلال فانما يقيم من اذن) ذكره الحافظ في التلخيص (٢٠٩/١) وسنده ضعيف فيه سعيد بن راشد وهو ضعيف ضعفه ابوحاتم الرازي وابن حبان في الضعفاء۔

اِنَّ اَخَا صُدَاءٍ : يعني صاحب د صداء قبيلے۔ عربي محاوره كښې د يو سړي نسبت تولې قبيلې ته كيږي لكه اخو العرب او اخو تميم او دغه شان هره محاوره ده۔

وَمَنْ اَذَّنَ فَهُوَ يُقِيْمُ

مسئله : اقامت د چا حق دے ؟

آيا د مؤذن نه سِوَی بل څوك اقامت كولے شي او كه نه؟ پدے باره كښې امام حازميؒ په الناسخ والمنسوخ كښې ليكي چه ټول اهل علم پدے متفق دي چه دواړه عمل جائز دي كه مؤذن اقامت اوكړي او كه بل څوك خو اختلاف په اولويت كښې دے چه كوم غوره دے ۔ نيل الاوطار (٤٢/٢) المجموع (١٢١/٣) ۔

١ - امام شافعيؒ او احمدؒ وغيره فرمائي : څوك چه اذان اوكړي هغه به اقامت كوي برابره خبره ده مؤذن خوشحاله وي او كه خفه وي خو غير مؤذن دپاره اقامت كول مكروه دي ، استدلال كوي پدے روايت د زياد بن الحارث الصدائي باندے۔

٢ - امام ابوحنيفه او مالك او اكثر اهل حجاز، اهل كوفه او ابوثورؒ وغيره وائي : د مؤذن نه سِوَی بل څوك هم اقامت كولے شي بغير د څه كراهت نه او كه مؤذن پخپله اقامت اوكړي هم جائز ده (والامر في ذلك متسع عندهم) دوئ استدلال كوي په حديث د عبد الله بن زيد باندے (ان بلالاً اذن فقال عبد الله يا رسول الله اني ارى الرؤيا ويؤذن بلال قال فاقم انت) رواه ابوداود ۔

یعنی عبد اللہ بن زید اذان خوب کښې اولیدو نبی علیہ السلام ده ته اووئیل ته بلال ته اذان اوښایه چه هغه ئې اوکړی ځکه د هغه آواز اوچت دے نو عبد اللہ خفه شو چه ما خوب لیدلے دے پکار ده چه زه دا فضیلت حاصل کړم، نو نبی علیہ السلام هغه ته اوفرمایل: ته اقامت اوکړه۔

اول قول والا جواب ورکوی چه دا ستاسو پیش کرده روایت ضعیف دے۔

قال الشوکانی فی النیل (۲/۴۲) الحدیث فی اسناده محمد بن عمر الواقفی الانصاری البصری وهو ضعیف ضعفه القطان وابن نمیر ویحیی بن معین واختلف فیه فقیل عن محمد بن عبد اللہ وقیل عن عبد اللہ بن محمد انتهی۔

امام نووی فرمائی: قال الحازمی فی الناسخ والمنسوخ فی اسناده ومتنه اختلاف المجموع (۳/۱۲۱) وقال الحافظ المنذری: قال البیهقی ان فی اسناده ومتنه اختلافاً، سبل السلام (۱/۱۹۹) والسنن الکبری (۱/۳۹۹) وقال فیه: فی اسناده مقال، وانظر نصب الرایة (۱/۲۸۰) نو دا دروایت ضعیف دے قابل د استدلال ندے۔

او دوی وائی چه زمونږ حدیث د زیاد بن الحارث روستو دے د حدیث د عبد اللہ بن زید نه ځکه هغه په ابتدائی زمانه د مشروعیت د اذان کښې دے او کله چه تعارض راشی نو په آخر الامرین باندے عمل کول اولیٰ وی او دیته امام بیهقیؒ هم اشاره کوی فرمائی: ولو صح حدیث عبد اللہ بن زید وصح حدیث الصدائی کان الحکم لحدیث الصدائی لکونه بعد حدیث عبد اللہ بن زید انتهی (۱/۴۰۰)۔

فیصله: لیکن صحیح خبره دا ده چه دواړه حدیثو نه ضعیف دی ځکه د صدائی په روایت کښې عبد الرحمن بن زیاد بن انعم افریقی دے او دا د اکثرو محدثینو په نیز ضعیف دے د سوء الحفظ په وجه نو اقامت د مؤذن نه سِوَی بل څوک هم کولے شی او پدے کښې هیڅ کراهت نشته او همدا خبره صحیح ده، او نسخ ته هیڅ ضرورت نشته لکه حافظ ابوبکر الحازمی فرمائی: وطریق الانصاف فی هذا الباب علی التوسعة وادعاء النسخ مع امکان الجمع بین الحدیثین علی خلاف الاصل اذ لا عبرة لمجرد التراخی انتهی، المجموع (۳/۱۲۱) وتحفة الاحوذی (۱/۱۷۸) المحلی (۲/۱۸٤) اگرچه اول قول والا د خپل قول ترجیح بیانوی چه علامه حازمیؒ فرمائی: وحجة هذا المذهب حدیث الصدائی لانه اقوم اسناداً من حدیث عبد اللہ بن زید، المجموع والتحفة۔

یعنی د حدیث د صدائی سند د عبد اللہ بن زید د حدیث د سند نه گوزاره حال

ضعيف دے ځکه امام بخاریؒ افریقی ته مقارب الحدیث وئیلے دے۔

★ – بله دا چه ددے شاهد موجود دے په حدیث د ابن عمر کښ لکه امیر صنعانی په سبل السلام (۱/۱۹۹) کښ فرمائی: ددے حدیث الباب تائید په حدیث د ابن عمرؓ کښ ذکر دے بلفظ: مهلاً یا بلال فانما یقیم من اذن اخرجه الطبرانی والعقیلی وابو الشیخ وان کان قد ضعفه ابوحاتم وابن حبان انتهٰی وفی سنده سعید بن راشد کما تقدم۔

۲ – صاحب د تحفة الاحوذی (۱/۱۷۸) فرمائی: قلت: حدیث عبد الله بن زید وحدیث الصدائی کلاهما ضعیفان والاخذ بحدیث الصدائی اولیٰ لما ذکره الحازمی ولان قوله ﷺ فی حدیث الصدائی من اذن فهو یقیم قانون کلی واما حدیث عبد الله بن زید ففیه بیان واقعة جزئیة یحتمل انه ﷺ اراد بقوله لعبد الله بن زید فاقم انت تطییب قلبه لانه رأى الاذان فی المنام ویحتمل ان یکون لبیان الجواز انتهی وکذا فی نصب الرایة (۱/۲۸۰)۔

یعنی د صدائی حدیث باندے عمل بهتر دے ځکه چه په دے کښ قانون کلی ذکر دے په من اذن فهو یقیم سره او د عبد الله بن زید حدیث کښ جزئی واقعه ذکر ده، دا احتمال پکښ شته چه رسول الله ﷺ د هغه د زړه د خوشحالولو دپاره هغه ته د اقامت کولو حکم ورکړو اګرچه د هغه حق نه وو یا دا احتمال شته چه د بیان الجواز دپاره ئے عبد الله بن زید ته حکم د اقامت اوکړو چه اشاره شی دیته چه دا ضروری نده چه خامخا به مؤذن اقامت کوی بلکه که بل چا اقامت اوکړو هم جواز لری، اګرچه بهتره به دا وی چه مؤذن اقامت اوکړی انتهیٰ۔

او امام ترمذیؒ فرمائی: والعمل علی هذا عند اکثر اهل العلم ان من اذن فهو یقیم۔

شیخ البانیؒ په السلسلة الضعیفة (۱/۵۵) رقم (۳۵) کښے ددے حدیث الصدائی د ضعف بیانولو نه بعد لیکی: چه ددے حدیث د بدو آثارو نه دا ده چه دا د مونځ کونکو ترمینځ د جګړو سبب ګرځی لکه چه دا کار ډیر کرتے واقع شویدے او دا په هغه وقت کښ چه مؤذن مسجد ته د څه عذر په وجه روستو راشی او په حاضرینو کښ بعض خلق اقامت شروع کړی نو هغه پرے رد اوکړی چه دا زما حق دے او استدلال اوکړی پدے روایت (من اذن فهو یقیم) خو دا مسکین پدے ندے خبر چه دا ضعیف حدیث دے ددے نسبت رسول الله ﷺ ته ندے جائز پاتے لا دا چه خلق د نیك عمل کولو نه منع کړی چه هغه اقامت د مونځ دے۔

نو ددے بحث نه مونږ ته دا خبره ثابته شوه چه دواړه حدیثونه ضعیف دی او اقامت د

مؤذن ضروري حق ندے چه خبره جګړے ته اورسوي، بل څوك ددے خير نه محروم كړي، البتـه بهتـره دا ده چـه مؤذن اقامت اوكړي څكه هغه ابتدائي فضيلت حاصل كړو نو عقلاً هم مستحق ددے دے چه د اقامت فضيلت ورته حاصل شي، البته كه يو شخص په اذان او اقامت بانـدے موظف (مقرر) شوے وي نو د هغه د اجازت نه بغير اقامت ندے مناسب څكه چه د هغه حق جوړيږي ۔ وراجع فتاوى الدين الخالص ايضا (۲۳۲/۳) ۔

درجة الحديث : اخرجه احمد (۱٦٩/٤) وابوداود (٥١٤) والترمذى (۱۹۹) وابن ماجه (۷۱۷) والبيهقي في الكبرى (۳۹۹/۱) وفي سنده عبد الرحمن بن زياد بن انعم الافريقي قال الشيخ الالباني : وهذا سند ضعيف من اجل الافريقي هذا ، قال في التقريب ضعيف في حفظه وضعفه الترمذى والبغوى كما في المجموع (۱۱۱/۳) واشار لتضعيفه البيهقي في الكبرى (٤۰۰/۱) انتهى قال السندى في حاشية ابن ماجه : والافريقي في اسناد الحديث وان ضعفه يحيى بن سعيد القطان واحمد لكن قوى امره محمد بن اسماعيل البخارى فقال هو مقارب الحديث وقال الترمذى والعمل على هذا عند اكثر اهل العلم ان من اذن فهو يقيم، وتلقيهم بالقبول مما يقوى الحديث ايضاً فالحديث صالح فلذلك سكت عليه ابوداود انتهى، قال المباركفورى في المرعاة (۳٥٤/۲) قلت وسكت عليه المنذرى ايضا وقال ميرك : ضعفه الترمذى لاجل الافريقي وحسنه الحازمي وقواه العقيلي وابن الجوزى انتهى وقال الشوكاني في السيل الجرار: حديث من اذن فهو يقيم لم يتكلم عليه الا بان في اسناده عبد الرحمن بن زياد الافريقي وقد وثقه جماعة ولم يقدح فيه مما يوجب سقوط الاحتجاج بحديثه انتهى، وقال الالباني في السلسلة (٥٤/۱) رقم (۳٥) واما قول ابن عساكر هذا حديث حسن فلعله يعنى حسن المعنى وقد ذهب الى توثيق الافريقي المذكور بعض الفضلاء المعاصرين وبناء عليه ذهب الى ان حديثه هذا صحيح ؟ وذلك ذهول منه عن قاعدة : الجرح مقدم على التعديل ،، اذا تبين سبب الجرح وهو بيّن هنا وهو سوء الحفظ وقد انكر عليه هذا الحديث وغيره سفيان الثورى آه ۔

الفصل الثالث - دريم فصل

۹- عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ : كَانَ الْمُسْلِمُوْنَ حِيْنَ قَدِمُوا الْمَدِيْنَةَ يَجْتَمِعُوْنَ فَيَتَحَيَّنُوْنَ الصَّلَاةَ وَلَيْسَ يُنَادِىْ بِهَا اَحَدٌ، فَتَكَلَّمُوْا يَوْمًا فِىْ ذٰلِكَ، فَقَالَ بَعْضُهُمْ : اتَّخِذُوْا مِثْلَ نَاقُوْسِ النَّصَارٰى، وَقَالَ بَعْضُهُمْ : قَرْنًا مِثْلَ قَرْنِ الْيَهُوْدِ . فَقَالَ عُمَرُ :

اَوَلَا تَبْعَثُوْنَ رَجُلًا یُنَادِیْ بِالصَّلَاةِ ؟ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ یَا بِلَالُ ! قُمْ فَنَادِ بِالصَّلَاةِ . مُتَّفَقٌ عَلَیْهِ .

ترجمه : ابن عمرؓ فرمائی : کله چه مسلمانان مدینے ته راغلل جمع شو نو د مانځه دپاره ئے وقت او اندازه معین کوله (ځکه) هیڅ سړے د مانځه دپاره راغوختونکے نه وو (یوه ورځ) کله چه پدے مسئله کښے خبرے اترے اوشوے نو بعضو اووئیل چه د نصاراؤ پشان ناقوس جوړ کړئ او بعضو اووئیل : چه د یهودو پشان خکر ډے جوړ کړے شی (دے تول تجاویز اوریدو سره) عمر فاروق رضی الله عنهٗ اوفرمائیل : چه یو سړے ولے نه مقرروئ چه د مانځه دپاره (خلقو لره) را اوغواړی ۔ نو رسول الله ﷺ اوفرمایل : بلاله ! اودریږه خلقو ته د مانځه دپاره آواز اوکړه ۔ (بخاری ومسلم) ۔

تشریح : حِيْنَ قَدِمُوا الْمَدِيْنَةَ : پدے حدیث کښې د اذان د مشروعیت نه د مخکنی حالت بیان کوی چه کله مسلمانانو د مکے مکرمے نه هجرت اوکړو او مدینے طیبے ته راغلل نو مسجد کښې به راجمع کیدل او د مانځه دپاره به ئے وقت مقررولو او ددے نه مخکښې هیڅ آواز وغیره مقرر نه وو نو په مشوره کښې عمر فاروق اوفرمائیل : چه د یهود او نصاراؤ مشابهت نه ځان ساتو داسے به اوکړو چه یو سړے به آواز دپاره لیږو چه د مانځه دپاره به داسے آواز کوی (اَلصَّلَاةُ جَامِعَةٌ) حافظؒ فرمائی : ظاهر د حدیث دا دے چه د عمر فاروق مشوره د سړی په لیږلو باندے څه وقت روستو وه د خلقو د مشورے نه او ددے تولو نه روستو بیا د عبد الله بن زید خوب راغلو ۔

فَيَتَحَيَّنُوْنَ الصَّلَاةَ : دا د تحین نه ماخوذ دے او تحین وقت معین کول او مقررولو ته وائی یعنی یقدِّرون حین الصلاة د مانځه دپاره به ئے وقت معین (مقرر) کولو په اندازه او تخمین سره ۔ الصَّلَاةَ : نه د جمعے سره مونځ کول مراد دی ۔

وَلَيْسَ يُنَادِيْ بِهَا اَحَدٌ : لیس په معنی د لانافیه دے نو اسم او خبر نه غواړی ، یا احد اسم د لیس دے او ینادی جمله خبر د لیس دے ۔

قَرْنًا : یعنی خکر اونیسئ لکه د یهودو د خکر پشان چه هغوی یو خالی ګاه والا لرګی کښې آواز کوی او په هغے سره خلق خپل عبادت ته راغواړی ، دے قرن ته بوق او شبور هم وائی ۔

اَوَلَا تَبْعَثُوْنَ رَجُلًا یُنَادِیْ بِالصَّلَاةِ ؟ : همزه د استفهام ده او دا په اصل کښې داخل ده

په مقدر باندے ای اتقولون بموافقة الیهود والنصاری ولا تبعثون ۔ یعنی د یهود او نصاراؤ د موافقت خبرے کوئ او یو سرے آواز دپاره نه لیږئ۔

فَنَادِ بِالصَّلَاةِ : قاضی عیاضؒ نه نقل دی چه ظاهره دا ده چه دا آواز صرف اعلان وو او د شرعی اذان په طریقه نه وو بلکه صرف خلقو ته اخبار وو په حضور د وقت الصلاة۔

امام نوویؒ فرمائی : همدا خبره متعین ده ځکه چه د عبد الله بن زیدؓ په صحیح روایت کښې دا ثابته ده چه کله عبد الله بن زیدؓ خوب اولیدو نو نبی علیه السلام ته ئے خبر ورکړو نو عمرؓ راغلو وے فرمائیل : یارسول الله قسم په هغه ذات چه ته ئے پیغمبر را لیږلے ئے ما هم دغسے کلمات خوب کښې لیدلی کوم چه عبد الله لیدلی دی الحدیث ۔ نو ظاهر ددے حدیث دا دے چه دا خبره د جدا مجلس وه نو اعلان اول کښې وو بیا عبد الله بن زید خوب کښې اذان اولیدو او رسول الله ﷺ هغه مشروع اوګرځولو ۔

---

۱۰ – وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ زَيْدِ بْنِ عَبْدِ رَبِّهٖ رضی الله عنه ، قَالَ : لَمَّا اَمَرَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ بِالنَّاقُوْسِ يُعْمَلُ لِيُضْرَبَ بِهٖ لِلنَّاسِ لِجَمْعِ الصَّلَاةِ، طَافَ بِیْ وَاَنَا نَائِمٌ رَجُلٌ يَحْمِلُ نَاقُوْسًا فِیْ يَدِهٖ، فَقُلْتُ : يَا عَبْدَ اللهِ! اَتَبِيْعُ النَّاقُوْسَ ؟ قَالَ : وَمَا تَصْنَعُ بِهٖ ؟ قُلْتُ : نَدْعُوْ بِهٖ اِلَى الصَّلَاةِ . قَالَ : اَفَلَا اَدُلُّكَ عَلٰى مَا هُوَ خَيْرٌ مِنْ ذٰلِكَ ؟ فَقُلْتُ لَهٗ : بَلٰى . قَالَ : فَقَالَ : تَقُوْلُ : اَللهُ اَكْبَرُ، اِلٰى آخِرِهٖ، وَكَذَا الْاِقَامَةُ . فَلَمَّا اَصْبَحْتُ، اَتَيْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ فَاَخْبَرْتُهٗ بِمَا رَاَيْتُ . فَقَالَ اِنَّهَا لَرُؤْيَا حَقٌّ اِنْ شَاءَ اللهُ، فَقُمْ مَعَ بِلَالٍ، فَاَلْقِ عَلَيْهِ مَا رَاَيْتَ فَلْيُؤَذِّنْ بِهٖ، فَاِنَّهٗ اَنْدٰى صَوْتًا مِنْكَ . فَقُمْتُ مَعَ بِلَالٍ، فَجَعَلْتُ اُلْقِيْهِ عَلَيْهِ وَيُؤَذِّنُ بِهٖ . قَالَ : فَسَمِعَ بِذٰلِكَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ وَهُوَ فِیْ بَيْتِهٖ، فَخَرَجَ يَجُرُّ رِدَائَهٗ يَقُوْلُ : يَارَسُوْلَ اللهِ! وَالَّذِیْ بَعَثَكَ بِالْحَقِّ لَقَدْ رَاَيْتُ مِثْلَ مَا اُرِیَ . فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : فَلِلّٰهِ الْحَمْدُ . رَوَاهُ اَبُوْدَاؤدَ وَالدَّارِمِیُّ وَابْنُ مَاجَه، اِلَّا اَنَّهٗ لَمْ يَذْكُرِ الْاِقَامَةَ . وَقَالَ التِّرْمِذِیُّ : هٰذَا حَدِيْثٌ صَحِيْحٌ، لٰكِنَّهٗ لَمْ يُصَرِّحْ قِصَّةَ النَّاقُوْسِ .

ترجمه : او عبد الله بن زید بن عبد ربه رضی الله عنه فرمائی : کله چه رسول الله ﷺ د ناقوس په جوړولو حکم اوکړو دے دپاره چه د جَمعے مانځه ته د خلقو د حاضرولو دپاره اووهلے شی نو ما په خوب کښے اولیدل چه یو سړی خپل لاس کښے ناقوس پورته کړیدے (روان دے) ما هغه ته اووئیل : اے د الله بنده ! آیا دا ناقوس خرڅوے ؟ هغه اووئیل : ته پدے باندے څه کوے ؟ ما ورته اووئیل : مونږ ددے په وهلو سره خلقو لره مانځه ته راغواړو۔ هغه اووئیل : آیا زه تا ته ددے نه بهتر شے نه درښایم ؟ ما اووئیل : ولے نه (ضرور راوښایه) هغه اووئیل : وایه : الله اکبر تر آخره پورے ئے اذان اووئیلو او بیا دغه شان اقامت ئے هم اوخودلو۔ کله چه صبا شو نو زه د رسول الله ﷺ په خدمت کښے حاضر شوم او څه چه مے په خوب کښے اولیدل هغه ته مے بیان کړل۔ رسول الله ﷺ (په خوب اوریدو سره) اوفرمایل : ان شاء الله خوب رشتینے دے۔ اوس ته بلال سره اودریږه څه چه دِے خوب کښے لیدلی دی هغه ته ئے اوخایه او هغه دِے اذان اوکړی ځکه هغه ستا نه اوچت آواز والا دے۔ نو زه د بلال سره اودریدم او هغه ته مے خودلو او هغه به اذان کولو۔ راوی وائی : چه عمر بن الخطاب رضی الله عنه چه کله په خپل کور کښے اذان واوریدو نو (په جلتئ سره) خپل څادر راخکلے د کور نه بهر را اووتو او دے وینا سره (د رسول الله ﷺ په خدمت کښے) حاضر شو چه اے د الله رسوله ! قسم دے په هغه ذات چه ته ئے په حق سره را لیږلے ئے، ما هم دغه شان خوب لیدلے دے (پدے اوریدو سره) نبی کریم ﷺ اوفرمائیل : الحمد لله (تول صفتونه د الوهیت خاص الله تعالی لره دی)۔ دا حدیث ابو داود، دارمی او ابن ماجه نقل کړیدے لیکن ابن ماجه د تکبیر ذکر ندے کړیدے او ترمذی وئیلی دی چه دا حدیث صحیح دے لیکن هغه د ناقوس د قصے تصریح نده کړے۔

د عبد الله بن زید رضی الله عنه تعارف :

دده مکمل نوم او نسب : عبد الله بن زید بن عبد ربه بن ثعلبه الانصاری الخزرجی دے ابو محمد المدنی ئے کنیه ده مشهور صحابی دے لیلة العقبه او بدر او تولو غزواتو ته حاضر شویدے او دده خصوصیت دا دے چه الله تعالی ورته په خوب کښ اذان خودلے وو او دا خوب ئے په اول کال د هجرت لیدلے وو پس د مسجد جوړیدلو نه۔ امام ترمذیؒ د امام بخاریؒ نه نقل کوی چه دده نه صرف دا یو حدیث د اذان نقل دے او دغه شان خبره ابن عدیؒ هم کړیده : لا نعرف له شیئا یصح عن النبی ﷺ الا حدیث الاذان۔ حافظؒ فرمائی :

بعض علماؤ دا خبره مطلقا ذکر کړیده مګر دا خبره صحیح نده بلکه دده نه نور احادیث هم نقل دی شپږ. یا اوه احادیث دی چه هغه په یو مفرد جزء (کتاب) کښې راجمع کړیدی یعنی نور حدیثونه ئے هم شته خو هغه مشهور ندی ۔ په (۳۲) سنه کښې یا په (٦٤) سنه هـ کښې وفات شویدے ۔ بعض وائی په احد کښې شهید شویدے ۔

تشریح : لَمَّا اَمَرَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : دا معلومه صیغه ده په معنی د ارادے سره ده لکه په روایت د ابن ماجه او دارمی کښې راغلے ده (ثم امر بالناقوس فنحت) نو معنی دا ده چه رسول الله ﷺ امر لا نه وو کړے بلکه اراده ئے وه چه یوه ټلۍ جوړه کړی لیکن دے ته حاجت پاتے نشو او کلمات د اذان مشروع شو ۔

اِنَّهَا لَرُؤْيَا حَقٌّ اِنْ شَاءَ اللهُ : دلته **اشکال** دا دے چه د غیر نبی په خوب باندے څنګه حکم شرعی مرتب کړے شویدے حال دا چه خوب صرف تائید درجه کښې وی ؟ ۔

الجواب : وجه دا ده چه دلته رسول الله ﷺ ددے خوب تائید کړیدے ★ – دارنګه بیا ئے پرے امر کړیدے نو دا د نبی علیه السلام د تائید کولو په وجه دین اوګرځیدلو ۔

بیا پدے کښې اختلاف دے چه نبی علیه السلام چه دا اذان مشروع کړو نو آیا دا په وحی سره وو او که په اجتهاد سره ۔ بعض وائی : دا په اجتهاد وو څکه چه نبی علیه السلام د کلماتو د قرائنو نه معلومه کړه چه دا القاءِ شیطانی نده بلکه القاءِ رحمانی ده او پدے باندے ان شاء الله وئیل هم دلالت کوی ۔

بعض وائی : دا په وحی من جانب الله سره مشروع شو حافظ فرمائی : ددے دویمے خبر تائید په روایت د عبد الرزاق او ابوداود فی المراسیل کښې موجود دے او هغه دا چه عبید بن عمیر اللیثی احد کبار التابعین فرمائی : کله چه عمر فاروق رضی الله عنه اذان اولیدلو راغلو چه رسول الله ﷺ ته دهغے خبر ورکړی فوجد الوحی قد ورد بذلك فما راعه الا اذان بلال فقال له النبی سبقك بذلك الوحی انتهی ۔ یعنی د هغه د خوب نه وحی مخکښې راغلے وه نو د بلال په اذان باندے هیبت واخستو او زر راغلو نبی علیه السلام ورته اوفرمائیل : وحی ستا نه پدے باندے مخکښې راغلے ده نو بناء پدے باندے ان شاء الله لفظ ئے صرف د تبرك دپاره وئیلے دے او شك ندے مراد او ددے وجه نه ئے انها لرؤیا حق په تاکید سره اووئیل چه دا خوب د وحی موافق شو ۔

فوائد الحدیث : (۱) – دے روایت نه معلومه شوه چه رسول الله ﷺ د مانځه دپاره د عمر په مشوره آواز مقرر کړو لیکن ورسره د ټلۍ د جوړولو په کوشش کښې هم وو

نو تعارض نشته فتدبر وقد تقدم ايضا ۔

(۲) – د عبد الله بن زيد په خوب سره د اذان په مشروعيت کښې د هغه اظهار د عظمتِ شان دے او دا د هغه فضيلتِ جزئی دے چه نورو لوئی لوئی صحابه کرامو ندے ليدلے او ده اوليدو ليکن دا فضيلت په حقيقت کښې د رسول الله ﷺ د صحبت په برکت حاصل شو نو پدے کښې د رسول الله ﷺ د حقانيت معجزه ده ددے وجے نه نبی عليه السلام په هغے باندے فلله الحمد اووئيل ۔

(۳) – فانه اندى صوتا منك : نه معلومه شوه چه په اذان کښې تيز آواز کول سنت دی ۔ تحفة الاحوذی (۱/۱۷۸) څکه چه دا د اذان د مقصود سره زيات موافق دی ۔

(٤) – فقم مع بلال : نه بعض علماؤ استدلال کړيدے چه اذان دپاره اودريدل سنت دی څکه دلته نبی عليه السلام بلال ته امر اوکړو چه د عبد الله بن زيد سره اودريږه ليکن دے کښې دا احتمال شته چه د قم معنی دا وی چه عبد الله سره پاڅيږه يو کولاؤ ځائے ته لاړ شه ! ۔ او صحيح همدا ده چه اذان دپاره اودريدل سنت دی مگر ضرورت په بناء باندے کيناستل جواز لری او دا د ټولو علماؤ ترمينځ تقريباً اجماعی مسئله ده لکه ابن المنذر فرمائی : احمع كل من يحفظ عنه العلم ان السنة ان يؤذن المؤذن قائماً، ارواء الغليل (۱/۲٤۱) ۔

او دليل پدے باندے د نوارؓ (چه د زيد بن ثابت مور ده) نه روايت دے (باسناد حسن) فرمائی : [كان بيتي من اطول بيت حول المسجد وكان بلال يؤذن عليه الفجر فيأتي بسحر فيجلس على البيت ينظر الى الفجر فاذا رآه تَمَطّٰی ثم قال] : الحديث ۔ يعنی زما کور د مسجد په خوا کښې د ټولو کورونو نه اوچت وو او بلالؓ به په هغے باندے د صبا اذان کولو نو وختی به راغلو او کور دپاسه به کيناستو صبا ته به ئے کتل کله به ئے چه صبا اوليدو نو پابه څيدلو نو (تمطی) لفظ باندے د اودريدو استدلال کيږی ۔ انظر ارواء الغليل (۱/۲٤۱–۱٤٦) ۔

★ – دارنګه مقصود د اذان نه خلقو ته اعلان کول دی او دا په اودريدو سره زيات حاصليږی ۔ او په ناسته باندے د جواز دليل :

ابوزيد چه صحابی د رسول الله ﷺ دے ده به په ناسته اذان کولو (څکه چه) د هغه خپه په جهاد کښې لګيدلے وه ۔ رواه البيهقی فی الكبرىٰ (۱/۳۹۲) ۔ ۔

★ – علامه ابن المنذر فرمائی : ثبت عن ابن عمر انه كان يؤذن على البعير فينزل فيقيم،

اخرجه البيهقي بسند حسن (۱/۳۹۲) والارواء (۱/۲۴۲) ابن عمر به په اوښ باندے اذان کولو او بیا به راکوز شو په اقامت به ئے کولو۔

مصنف عبد الرزاق (۱/۴۷۰) کښې دی: قلت لعطاء هل يؤذن غير قائم قال لا الا من وجع الخ۔ **ابن جریج** فرمائی: ما عطاء ته اووئیل: اذان په ناسته باندے کول جواز لری؟ هغه اووئیل: نه! مگر که بیمار وی (جائز دے) دغه شان د ابواسحاق قول ئے ذکر کړیدے (يكره للمؤذن ان يؤذن وهو قاعد)۔ د مؤذن دپاره په ناسته باندے اذان کول مکروه دی۔

ابن حزم فرمائی: ويجوز الاذان والاقامة قاعداً وراكباً وعلى غير طهارة الخ، المحلی (۲/۲۸۰)۔ یعنی اذان او اقامت په ناسته او په سورلئ باندے جائز دے ځکه چه پدے باره کښ د الله د طرفنه د هغه د رسول په ژبه هیڅ نهی نده ثابته اگرکه افضل دا ده چه اذان په ولاړه اوکړی انتهیٰ۔

(۵) – په اوچت ځائے باندے اذان وئیل سنت دی او په مسجد کښ دننه اذان وئیل ندی پکار مگر په ورځ د جمعے لکه د طبرانی فی الکبیر (۷/۱۴۸) په روایت کښ راغلی دی۔

او عام اوقاتو کښ به د نبی علیه السلام مؤذنینو د مسجد په چت یا بهر یا د یو بے زنانه (نوار) د کور په چت باندے اذان وئیلو کما مر الحدیث۔

فَلِلّٰهِ الْحَمْدُ: یعنی د الله تعالی دپاره حمدونه دی چه حق ئے ښکاره کړو او مشکل ئے ختم کړو او د یهود او نصاراؤ (دشمنان اسلام) د مشابهت نه ئے محفوظ کړو۔

درجة الحديث: اسناده حسن: اخرجه ابوداود (۴۹۹) والدارمی (۱/۲۶۹) وابن ماجه (۷۰۶) والترمذی وقال: حسن صحيح لكنه لم يصرح بقصة الناقوس وقد صححه جماعة من الائمة كالبخاری والذهبی والنووی وغيرهم وصححه الالبانی وتبعه الشيخ رمضان وقال ابن خزيمة فی صحيحه هذا حديث صحيح ثابت من جهة النقل الخ۔

---

۱۱ – وَعَنْ اَبِیْ بَكْرَةَ ﷺ، قَالَ: «خَرَجْتُ مَعَ النَّبِیِّ ﷺ لِصَلَاةِ الصُّبْحِ، فَكَانَ لَا یَمُرُّ بِرَجُلٍ اِلَّا نَادَاهُ بِالصَّلَاةِ، اَوْ حَرَّكَهُ بِرِجْلِهِ». رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ.

ترجمه: او ابوبکره رضی الله عنه فرمائی: زه د نبی کریم ﷺ سره د سحر مانځه دپاره اووتلم۔ نبی اکرم ﷺ چه به د کوم شخص په خوا کښې تیریدو نو د مانځه دپاره به

ئے یا خو هغه ته آواز ورکولو یا به ئے په خپه سره اوخوزولو ۔ (ابوداودؒ) ۔

تشریح : اِلَّا نَادَاهُ بِالصَّلَاةِ : یعنی ابوبکره وائی، زه نبی علیه السلام سره د سحر مانځه ته اووتلم نو کوم کسان چه به اوده پراته وو نو نبی علیه السلام به هغه ته خبر ورکړو د مانځه یا به ئے په خپه سره اوخوزولو ۔ حافظ ابن حجرؒ فرمائی :"پدے کښ تیزی ده په اذان کولو باندے ځکه چه هرکله نبی علیه السلام پخپله خلقو ته د مانځه آواز کوی نو دا په اذان کولو باندے ډیر کامل ترغیب دے ۔ انتهی ۔

★– علامه علی القاریؒ فرمائی : ویؤخذ منه مشروعیة التثویب فی الجملة علی ما ظهر لی والله اعلم ۔ یعنی ددے حدیث نه د تثویب څه نا څه جواز معلومیږی ۔ لیکن دا هغه ممنوع تثویب نه دے کوم چه په مسجد کښ آواز کول دی بلکه دا تعاون علی البر والتقوٰی دے چه په آرام سره یو غافل انسان ته دعوت ورکړے شی چه راځه اذان شویدے او جَمعه تیاره ده یا اوده ته آواز اوکړے شی ۔

مناسبت ددے حدیث د باب سره پدے کښ دے چه دا هم نداء ده او اذان هم نداء ده ۔ (طیبی) ۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف : اخرجه ابوداود (١٢٦٤) وفی اسناده ابوالفضل الانصاری وهو مجهول قاله المنذری وقال الحافظ فی التقریب وابن القطان : مجهول وقال الذهبی فی المیزان : لایدری من هذا، انظر تعلیق المشکاة (١/٢٠٦) والمرعاة (٢/٣٥٨)

نو دا روایت سنداً ضعیف دے اگرچه معنی ئے صحیح ده ددین نه معلومه ده وهو الامر بالمعروف والتعاون علی البر ۔

١٢ – وَعَنْ مَالِكٍ، بَلَغَهُ اَنَّ الْمُؤَذِّنَ جَاءَ عُمَرَ يُؤْذِنُهُ لِصَلَاةِ الصُّبْحِ، فَوَجَدَهُ نَائِمًا. فَقَالَ : اَلصَّلَاةُ خَيْرٌ مِنَ النَّوْمِ، فَاَمَرَهُ عُمَرُ اَنْ يَّجْعَلَهَا فِيْ نِدَاءِ الصُّبْحِ . رَوَاهُ فِي الْمُوَطَّا .

ترجمه : او د امام مالك په باره کښیے منقول دی چه هغه ته دا حدیث رسیدلے دے چه مؤذن، عمر فاروق رضی الله عنه خوا ته د سحر مانځه دپاره هغه ته خبر ورکولو ۔ نو (یوه ورځ) مؤذن، عمر فاروق اوده اوموندو نو وے وئیل چه الصلاة خیر من النوم (مونځ د خوب نه بهتر دے) عمرؓ مؤذن ته حکم اوکړو چه دا کلمه د سحر په اذان کښیے شامل کړی ۔ (مؤطا) ۔

تشريح : يُؤَذِّنُهُ لِصَلَاةِ الصُّبْحِ : دا د ايذان نه ماخوذ دے په معنی د اعلام (خبر ورکولو) سره يعنی عمر فاروق ته مؤذن د اذان کولو نه پس راغلو چه د صبا د مانځه خبر ئے ورکولو نو هغه ئے اوده اوموندلو نو مؤذن ورته د بهر نه آوازونه شروع کړل چه الصلاة خير من النوم ـ نو عمر فاروقؓ ورته اوفرمائيل : دا صرف په اذان کښں اوگرځوه او بهر د اذان نه ئے مه وايه ـ **سوال** دا دے چه ددے حديث د ظاهر نه دا معلوميږی چه الصلاة خير من النوم الفاظ د صبا په اذان کښں د عمر فاروقؓ په امر باندے داخل شويدی نو د غير نبی وينا څنګه امت دپاره مشروع کيدے شی ؟ دارنګه که دا د نبی عليه السلام د زمانے نه مشروع وی نو آيا عمرؓ تر اوسه پورے ددے نه نه وو خبر ؟ ـ

ددے **جواب** دا دے چه دا الفاظ د عمر په امر باندے په اذان د صبا کښں ندی داخل شوی بلکه دا خو د رسول الله ﷺ په زمانه کښں د هغه په امر باندے به بلال او ابومحذوره وغيره مؤذنينو وئيلو او هر چه د عمرؓ دا خبره چه د صبا په اذان کښں ئے داخل کړه نو ددے علماؤ ډير توجيهات ذکر کړيدی چه صحيح توجيه دا ده چه د ان يجعلها فی نداء الصبح مطلب دا نه دے چه دا اوس په اذان کښں داخل کړه او تر اوسه پورے نه وو بلکه مطلب دا دے چه عمرؓ فرمائی : دا الفاظ په اذان کښں باقی اوساته او بهر د اذان نه بل چا (اوده، امير، او خطيب) دپاره دا الفاظ مه وايه هسے نه چه ددے نه بدعت جوړ نشی ځکه چه خلق به ئے زما او ستا سنت تقريری اوګنړی او يوه غير مشروع طريقه به مستمره او هميشه دپاره کولاوه شی، ورنه عمرؓ ددے الفاظو نه ښه خبر وو چه دا د صبا په اذان کښں وئيلے شی ځکه چه بلالؓ به په مدينه طيبه کښں او ابو محذوره به په مکه مکرمه کښں په خپل اذان د صبا کښں دا الفاظ وئيل او دا توجيه علامه ابن عبد البرؒ او علامه باجیؒ وغيره غوره کړيده او علامه زرقانیؒ وائی همدا توجيه متعين ده ـ

او دا احتمال هم شته چه دا د اقسامو د موافقاتِ عمری نه وی يعنی عمرؓ به کيدے شی چه دا الفاظ تر اوسه پورے نه وی اورېدلی او چه ددے مؤذن نه ئے واوريدل نو دا ورته ښه ښکاره شو نو په اذان کښں ئے داخل کړل او دا د عمرؓ موافقت دے د شريعت سره چه دا الفاظ د مخکښں نه وو خو د عمر ذهن هم دا اووئيل چه دا د صبا د اذان سره مناسب دی ـ اوله توجيه صحيح ده ـ او دويمه غلطه ده او حديث هم ضعيف دے ـ

درجة الحديث : اخرجه مالك فی الموطأ (۷۲/۱) رقم (۸۱) وسنده ضعيف لإعضاله وارساله قاله الشيخ الالبانی فی تعليق المشكاة (۲۰٦/۱) وتبعه رمضان فی تعليقه (۸۲/۱)

وقال ابن عبد البرؒ : لا اعلم انه روى من وجه يصح به وتعلم صحته وانما فيه حديث هشام بن عروة عن رجل يقال له اسماعيل لا اعرفه، المرعاة (٢/٣٥٩) ۔

---

١٣ - وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ سَعْدِ بْنِ عَمَّارِ بْنِ سَعْدٍ مُؤَذِّنِ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ قَالَ : حَدَّثَنِيْ اَبِيْ، عَنْ اَبِيْهِ، عَنْ جَدِّهٖ، اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ اَمَرَ بِلَالًا اَنْ يَّجْعَلَ اِصْبَعَيْهِ فِيْ اُذُنَيْهِ ، قَالَ : اِنَّهٗ اَرْفَعُ لِصَوْتِكَ . رَوَاهُ ابْنُ مَاجَه .

ترجمه : او عبد الرحمن بن سعد بن عمار بن سعد مؤذن د رسول الله وائی ما ته زما والد سعد او هغه د خپل والد عمار نه او هغوی د سعد د نیکه نه چه د هغه نوم هم سعد وو اوریدلی دی چه رسول الله ﷺ بلالؓ ته حکم کړے وو چه هغه (د اذان وئیلو په وقت) خپلے دواړه ګوتے په غوږونو کښے ورننباسی ځکه پدے سره آواز زیات پورته کیږی ۔ (ابن ماجه) ۔

تعارف د عبد الرحمن بن سعد بن عمار بن سعد القرظ المدنی امام بخاریؒ فرمائی : فیه نظر، ابن معین وائی : ضعیف، امام حاکمؒ وائی : ابو احمد ئے کنیه ده وحدیثه لیس بالقائم ابن حبان په ثقات کښے ذکر کړیدے وقال الحافظ فی التقریب ضعیف ۔

تشریح : حَدَّثَنِيْ اَبِيْ، عَنْ اَبِيْهِ، عَنْ جَدِّهٖ : عبد الرحمن فرمائی : ما ته زما پلار - چه سعد دے - حدیث بیان کړیدے د خپل پلار نه چه عمار بن سعد دے او عمار د خپل پلار نه روایت کوی چه نیکه د سعد دے او دا نیکه د سعد، سعد القرظ دے د رسول الله ﷺ مؤذن دے نوم ئے سعد بن عائذ دے بعض وائی : سعد بن عبد الرحمن دے د انصارو آزاد کرده غلام دے او ده ته سعد القرظ پدے وجه وائی چه بغوی په معجم الصحابه کښې په خپل سند سره روایت کړیدے چه سعد رسول الله ﷺ ته د خپل فقیریٔ (تنګدستیٔ) شکایت اوکړو نو نبی علیه السلام ورته په تجارت کولو باندے حکم اوکړو نو بازار ته اووتلو نو قرظ (د کیکر پاڼړے چه څرمن رنګ کولو دپاره کار آمد دی) ئے واخستل او بیا ئے خرڅ کړل نو ګټه ئے پکښې اوکړه، نبی علیه السلام ته ئے خبر ورکړو هغه ورته ددے په لازم نیولو حکم اوکړو نو همیشه به ئے همدغه کار کولو نو سعد القرظ نوم ورته ورکړے شو، دا د رسول الله ﷺ مؤذن وو په مسجد قباء کښې به ئے اذانونه کول کله چه بلالؓ د نبی علیه السلام د مرګ نه پس اذان پریخودلو نو ابو بکر صدیقؓ دے سعد لره مسجد

نبوی ته رانقل کړو، بیا د هغه نه د هغه اولادو ته دا اذان په میراث کښې پاتې وو او دا سعد پخپله تر زمانه د حجاج بن یوسف پورې ژوندې وو کله چه حجاج په حجاز باندې والي وو په سنه (٧٤) کښې۔

اَنْ يَّجْعَلَ اِصْبَعَيْهِ فِيْ اُذُنَيْهِ : دا حديث او ددې پشان نور احاديث دليل دې چه د اذان کولو په وقت کښې د ګوتو سرونه د غوږونو په سورو کښې ننباسل سنت طريقه ده او دا اجماعي مسئله ده لکه امام نووی ؒ په المجموع (١٠٨/٣) کښې ذکر کړيده۔

دار روايت اګرچه ضعيف دې ليکن نور احاديث شته لکه د ابو جحيفه روايت دې : قال رأيت بلالاً يؤذن ويدور واتبع فاه ههنا وههنا واصبعاه فى اذنيه اخرجه احمد (٣٠٨/٤) بسند صحيح والترمذى (٥٠/١) والحاكم (٢٠٢/١) وعبد الرزاق فى المصنف (٣٦٨/١) وفتح البارى (٩١/٢) او په بل روايت د عبد الله بن زيد بن عبد ربه کښې هم راغلې دې كما فى كتاب الاذان لابى الشيخ انظر نصب الراية (٢٧٩/١) وارواء الغليل (٢٤٩/١)

☆- بيا ګومې ګوتې به ورننباسي نو پدې باره کښې ابن سيرين ؒ او حسن بصري ؒ دواړه فرمائي : [ان المؤذن يضع سبابتيه فى اذنيه و كان بلال وابومحذورة يفعلون ذلك،] ابن ابى شيبة (٢١٠/١) ومصنف عبد الرزاق (٤٦٨/١) ۔ يعني مؤذن به په غوږونو کښې مسواکۍ ګوتې اړدي او وائي چه بلال او ابو محذورة ؓ به دا کار کولو۔

امام ترمذي ؒ فرمائي : وعليه العمل عند اهل العلم يستحبون ان يدخل المؤذن اصبعيه فى اذنيه فى الاذان، ترمذى بشرح التحفة (١٧٦/١)۔

تنبيه : بعض خلق په حالت د اذان کښې لاس په څنړو باندې ايږدي يعني د غوږونو لاندې۔ نو دا کار خلاف السنت دې ددې په دين کښې هيڅ ثبوت نشته۔ دارنګه په اقامت کښې په غوږونو کښې ګوتې ننباسل هم مستحب ندي لکه دا خبره امام نووی ؒ په المجموع (١٠٨/٣) او حافظ په فتح البارى (٩٢/٢) کښې ذکر کړيده او دا قول د اوزاعي ؒ دې چه په حالت د اقامت کښې به هم ګوتې په غوږونو کښې ننباسي لکه چه امام ترمذي ذکر کړيدې ليکن پدې باندې د سنت نه هيڅ دليل نشته صرف قياس کوي په اذان باندې خو دا قياس مع الفارق دې۔ انظر تحفة الاحوذى (١٧٦/١)۔

اعجوبة : بعض جاهلان موليان د فقه په عبارت باندې ندي پوهه شوي چه هغوی به د (ويجعل اصبعيه فى اذنيه) معنى داسې کوله چه ګرځوی به ګوتې په غوږونو کښې نو ديربو داګان به ته وينې چه د اذان په وقت کښې به ګوتې په غوږونو کښې تاووي او هغوی د

جعل معنی گرځول اخستے ده او د گرځولو نه ئے تاوول او خوزول فهم کړیدی او دا د سوءِ فهم نتیجه ده حال دا چه په عربی ژبه کښ د جعل معنی تصییر هم راځی او وضع (کیښودل) هم راځی لکه ﴿ یَجْعَلُوْنَ اَصَابِعَهُمْ فِیْ آذَانِهِمْ ﴾ ـ ای یضعونها او د جعل معنی تاوول او خوزول په هیڅ کتاب د لغت عربی کښ نده راغلے دا خود ساخته او غلطه معنی ده ـ

حکمت : د اذان په وقت کښ په غوږونو کښ د گوتو ورکولو څه حکمت دے ؟ نو علماؤ ددے دوه فائدے بیان کړیدی (۱) – یوه فائده پدے روایت کښ ذکر ده او هغه دا چه پدے سره د مؤذن آواز اوچتیږی ځکه چه انسان غوږونه بند کړی نو بیا خپله آواز نه اوری نو آواز ئے تیز وی نو پدے سره به ډیرو خلقو ته خبر د اذان اوشی ـ (۲) – او دویم دا چه دا علامه ده مؤذن دپاره چه خلق ئے د لرے نه اووینی نو معلومه به کړی چه اذان وئیلے شی او که یو انسان کونړ وی هغه ته به هم پته اولگی چه اذان کیږی ـ

قاله الحافظ فی الفتح (۹۲/۲) وتحفة الاحوذی (۱۷۶/۱) والمرعاة (۳۶۰/۲) ـ

(۳) – او که څوك دا خنده وی نو بچ به وی ـ

درجة الحدیث : اسناده ضعیف اخرجه ابن ماجه (۷۱۰) والحاکم (۶۰۷/۳) وسکت علیه الحاکم والذهبی وقال البوصیری فی الزوائد : هذا اسناد ضعیف لضعف اولاد سعد القرظ عمار وسعد وعبد الرحمن وضعفه الشیخ الالبانی فی الارواء (۲٤۹/۱) ایضاً ـ



باب فضل الاذان واجابة المؤذن

د اذان فضیلت او مؤذن ته جواب ورکول

مناسبت : مخکښې اذان او د هغه کلمات معلوم شو نو اوس د هغې فضائل راوړي او هر کله چه د اذان ډیر فضائل دي نو هر سړے به خواهش لري چه زه اذان اوکړم لیکن ټول خو په یو ځل اذان نشي کولے نو ددے متبادل نورو خلقو ته اوویل شو چه تاسو د هغه کلماتو جواب ورکړئ کوم چه مؤذن وائي نو تاسو ته به هم هغه فضیلت حاصل شي کوم چه هغه ته حاصلیږي ـ نو ځکه ورسره د اجابة المؤذن فضائل هم راوړي او دا ډیر مناسب ترتیب د وضع الالباب دے ـ

اذان د الله تعالی په اذکارو کښې یو لوړ رتبه ذکر دے ځکه چه دے کښې د توحید او رسالت د ګواهئ اعلان دے او پدیسره د اسلام شان او شوکت ښکاره کیږي ددے وجه نه د اذان فضائل او ثوابونه هم ډیر زیات بیان شویدي، لهذا ددے عنوان لاندے به مصنف هغه احادیث ذکر کوي چه د هغے نه به معلومه شي چه اذان کول سراسر خیر او برکت دے ـ

الفصل الاول – اول فصل

۱ – عَنْ مُعَاوِيَةَ ﷺ، قَالَ : سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ يَقُوْلُ : اَلْمُؤَذِّنُوْنَ اَطْوَلُ النَّاسِ اَعْنَاقاً يَوْمَ الْقِيَامَةِ . رَوَاهُ مُسْلِمٌ .

ترجمه : معاویه رضی الله عنه وائي ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلي دي چه فرمائیل ئې : چه د قیامت په ورځ د ټولو خلقو نه زیات اوګده څټونو والا به مؤذنین وي ـ (مسلم)ـ

تشریح : اَلْمُؤَذِّنُوْنَ اَطْوَلُ النَّاسِ اَعْنَاقاً يَوْمَ الْقِيَامَةِ : ددے الفاظو په تفسیر کښې د سلف اَو خلف علماؤ مختلف اقوال نقل دي ـ

(۱) – بعض وائي ددے مطلب دا دے چه مؤذنین به د قیامت په ورځ د الله د رحمت زیات شوقین وي ځکه چه څوک د کوم شي شوق لري نو هغې طرفته سر اوچتوي یعني

دوی بـه د قیامت پـه ورځ ډیر لوئی ثوابونه ګوری (ای المـوذنـون اکثر الناس تشوقاً الی رحمة الله لان المتشوف یطیل عنقه لما یتطلع الیه فمعناه کثرة ما یرونه من الثواب ۔

(۲) – او نضر بن شمیلؒ فرمائی : کله چه د قیامت په ورځ خلقو ته د خولو واګے اچولے شی په هغه وقت به د مؤذن څټ پورته شی دے دپاره چه هغه ددے مصیبت او خولے نه بچ شی ۔ (۳) – بعض وائی : عرب خپل مشران او سرداران په طول العنق (اوږد څټ) سره متصف کوی نو پدے وجه مؤذنین ته اطول الناس اعناقاً اوویل مطلب دا دے چه دا به سرداران او رؤساء وی ۔

(٤) – بعض وائی : ددے معنی ده (انهم اکثر اتباعاً) یعنی د دوئ تابعدار به ډیر وی ځکه چه دوئ خلقو ته د مانځه دعوت ورکریدے او خلقو د دوئ خبره منلے ده ۔

(٥) – ابن العربی وائی : معنی دا ده : (اکثر الناس اعمالاً) یعنی د دوئ عملونه به د نورو خلقو په نسبت زیات وی کما یقال لفلان عنق من الخیر ای قطعته وحصته ۔

(٦) – د امام ابوداود ځوی وائی : د قیامت په ورځ به خلق تږی شی نو کله چه انسان تږے شی څټ به ئے کوږ شی او مؤذنین به نه تږی کیږی نو د دوئ څټونه به نیغ ولاړ وی ۔

(۷) – میرك شاه وئیلی دی : طول عنق نه اطمینان قلبی او د اظهار کرامت په طور استقامت مراد دے یعنی هغه خلق چه د اذان په وقت به ئے سر پورته کولو نو د قیامت په ورځ به ئے الله تعالی د ذلت په ځائے کښ نه اودروی، څټونه به ئے اوچت وی ۔

(۸) – قاضی عیاضؒ وغیره فرمائی : بعض راویانو اعناقا په کسره د همزے روایت کریدے اعناق د سیر العنق نه ماخوذ دے، تیز مزل کولو ته وائی یعنی دوئ به جنت ته په جلتئ سره تلونکی وی ۔

(۹) – علامه شوکانیؒ فرمائی : صحیح ابن حبان کښ په حدیث د ابو هریره کښ داسے دی : یعرفون بطول اعناقهم یوم القیامة ۔ یعنی مؤذنین به د قیامت په ورځ اوګدوالی د څټونو پیژندلے شی ۔ السراج په کښ زیات کریدی : (لقولهم لا اله الا الله) یعنی د لا اله الا الله وئیلو په وجه به ئے څټونه اوچت وی ، نو ظاهر ددے حدیث دا دے چه دلته طول حقیقی مراد دے یعنی د مؤذنینو څټونه به حقیقةً اوګده وی نو ددے نه سوئ تفسیر کولو ته ضرورت نشته مګر کله چه انسان سخت محتاج شی ۔ هذا کله فی نیل الاوطار (۲/۱۲) والمرعاة (۲/۳٦۰) والنووی فی شرح مسلم (۱/۱٦۷) ۔

شاه ولی الله رحمه الله فرمائی : د مجازات په معامله کښ د عمل او جزاء په مابین

کښې يو خاص مناسبت وي اګرچه دا مناسبت په اکثرو اوقاتو کښې خفي وي، چونکه مؤذن د خپل ځان په اوګدولو سره د الله تعالى کلمه پورته کړيده او دعوت الى الحق ئې په وسيع پيمانه باندې خلقو ته رسولې دې لهذا الله تعالى هم د هغه مرتبه پورته کوي او په هغه باندې وسيع رحمت کوي انتهى، حجة الله البالغة (۱/۱۸۷) ـ

دا حديث د اذان په فضيلت باندې واضح دليل دې چه مؤذن به د قيامت په ورځ د نورو خلقو نه ممتاز (جدا) وي، ليکن پدې شرط سره چه په اذان باندې اجرت وانخلي ورنه بيا به دا کار دنيا طلبي وي او خپل ژوند برابرول به وي او دا به د آخرت دپاره عمل نه وي نو اخلاص پکښې ډير ضروري دې ـ

۲ - وَعَنْ اَبِیْ هُرَيْرَةَ ﷺ، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : اِذَا نُوْدِیَ لِلصَّلَاةِ، اَدْبَرَ الشَّيْطَانُ لَهُ ضُرَاطٌ حَتّٰى لَا يَسْمَعَ التَّأْذِيْنَ، فَاِذَا قُضِیَ النِّدَاءُ اَقْبَلَ، حَتّٰى اِذَا ثُوِّبَ بِالصَّلَاةِ اَدْبَرَ، حَتّٰى اِذَا قُضِیَ التَّثْوِيْبُ، اَقْبَلَ، حَتّٰى يَخْطُرَ بَيْنَ الْمَرْءِ وَنَفْسِهٖ، يَقُوْلُ : اُذْكُرْ كَذَا، اُذْكُرْ كَذَا لِمَا لَمْ يَكُنْ يَذْكُرُ، حَتّٰى يَظَلَّ الرَّجُلُ لَا يَدْرِیْ : كَمْ صَلّٰى ؟ . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ .

ترجمه : او ابو هريره رضى الله عنه فرمائي : رسول الله ﷺ فرمائيلي دي : کله چه مانځه دپاره اذان وئيلې شي نو شيطان شا را واړوي تيزونه اچوي، دې دپاره چه اذان وانه وري ، کله چه اذان ختم شي نو بيا راځي او په کوم وقت چه تکبير کيږي نو بيا شا راواړوي ، کله چه تکبير ختم شي نو واپس راځي دې دپاره چه د انسان او د هغه د زړه ترمينځ خطرات پيدا کړي، نو (مونځ کونکي ته) وائي چه فلانې شے ياد کړه، کومې خبرې چه مونځ کونکي ته نه وي يادې هغه ورته يادوي، تردې پورې چه انسان (مونځ کونکے) پدې پوهه نشي چه ده څو رکعاته اوکړل ـ (بخاري ومسلم) ـ

اِذَا نُوْدِیَ لِلصَّلَاةِ، اَدْبَرَ الشَّيْطَانُ لَهُ ضُرَاطٌ :

تشريح : يعني شيطان چه کله د مؤذن اذان اوري نو د اذان د ځائے نه تښتي تردې چه داسې ځائے پورې لاړ شي چه اذان نه اوري ـ ددې شيطان نه مراد يا ابليس دې يا مراد جنس شيطانان دي، هر سرکش جني مراد دې ـ وهو الراجح ـ

حکمت : شيطان د اذان په وقت ولې تختي او شا راړوي نه د نورو اعمالو په وقت ؟ نو

پدے کښې د علماؤ ډیر اقوال دی :

(۱) – بعض علماؤ وئیلی دی چه شیطان پدے وجه شا راړوی چه هسے نه دا اذان واوری نو بیا به د قیامت په ورځ په خپل ځان باندے گواهی کوی ځکه چه حدیث د بخاری کښې دی : لایسمع مدی صوت المؤذن جن ولا انس ولا شئ الا شهد له الخ لکه روستو راروان دے او دا د شهادت معامله په نورو اعمالو کښې نشته لهذا د نورو اعمالو نه د تښتیدو ضرورت نشته دے۔ فتح الباری (۲/۶۹) ۔

(۲) – علامه ابن الجوزیؒ فرمائی : په اذان کښې یو خاص هیبت دے چه شیطان هغه نشی برداشت کولے ځکه چه په اذان کښې غالباً ریاء هم نه واقع کیږی او په وقت د اذان کولو کښې غفلت هم نه وی په خلاف د مانځه نه چه انسان پدے کښې فکرونه کولے شی نو شیطان ورته د وسوسے دروازے راکولاوے کړی او امام ابوعوانه ددے دپاره یو باب ایخے دے په مسند ابی عوانه کښې : (الدلیل علی ان المؤذن فی اذانه واقامته منفی عنه الوسوسة والریاء لتباعد الشیطان عنه)۔

(۳) – ابن عبد البرؒ فرمائی : انما یفعل ذلك بما یلحقه من الذعر والخزی عند ذکر الله وذکر الله تعالی فی الاذان تفزع منه القلوب ما لا تفزع من شئ من الذکر الخ یعنی شیطان پدے وجه د اذان په وخت تختی او تیزونه اچوی چه هغه ته د الله د ذکر په وقت یره او شرمندگی پیوسته کیږی او چونکه په اذان کښې د الله تعالی د ذکر نه زړونه ډیر یریږی او ریږی چه داسے د نورو اذکارو نه نه یریږی ۔ وجه دا ده چه په اذان کښې جهر بالذکر وی او پدے کښې د الله تعالی تعظیم وی او د الله تعالی د دین اقامت او سربلندئ آواز دے نو شیطان شا راړوی ځکه چه دائے په زړه باندے ډیر سخت لگی ۔ ذکره العراقی فی طرح التثریب (۱/۲۰۱) ۔

(٤) – بعض وائی : په اذان کښې دعوت دے هغه مانځه ته چه په هغے کښې سجده ده کوم نه چه شیطان ځان منع کړے وو پدے باندے ابن بطال رد کړیدے چه حدیث کښې خو راغلی چه بیرته شیطان راواپس کیږی او په مانځه کښې انسان ته وسوسے اچوی نو هغه خو سجده د انسان وینی نو د هغے نه نفرت ولے نکوی ؟ ۔ لیکن قاضی عیاضؒ دا خبره تردید کړیده چه دا اعتراض صحیح ندے ځکه کیدے شی چه د شیطان نفرت اوتختیدل پدے وجه وی چه دا امر او دعوت د سجدے اوری نو اوتختی ځانله مغالطه ورکوی چه گویا کښې ما دا امر ندے اوریدلے او ما د سره مخالفت ندے کړے ۔طرح التثریب (۱/۲۰۲) ۔

(۵) – بعض وائي : افضل الاعمال چه مونځ دے، ديته په داسے افضل الفاظو سره اعلان ورکړے شو چه په هغے کښې هيڅ زيادت او نقصان نشته او د الله تعالیٰ د امر موافق واقع کيږي لهذا پدے کښې د شيطان د خباثت جاري کيدو گنجائش نشته، په خلاف د مانځه نه چه په هغے کښې اکثر خلق زياتے کمے کوي، لهذا د شيطان خباثت هلته جاري کيدے شي ـ فتح الباري (۲/۶۹) ـ

(۶) – امام مهلب فرمائي : شيطان د اذان نه پدے وجه تختي چه پدے اذان کښې اتفاق د ټولو مسلمانانو دے په اعلان د شهادة التوحيد باندے او په اقامت د شريعت باندے لکه څنګه چه د عرفے په ورځ ټول مسلمانان د الله د توحيد په ګواهئ باندے راجمع وي او د الله تعالیٰ رحمتونه پرے نازليږي نو شيطان نا اميده وي ددے نه چه څنګه ددے انسانانو دا اعلان رد کړم ؟ او د الله تعالیٰ فضل او احسان چه په انسانانو باندے اووينې نو نا اميده شي او خپل تاوان باندے ئے يقين راشي او خپله ګناه او د الله تعالیٰ د امر مخالفت رایاد کړي نو دومره خوف او هراس پرے طاري شي چه بيا دا اختيار نه لري چه وسوسه واچوي بلکه ځان اوباسي په تيښته سره والله اعلم انتهیٰ ـ

(۷) – علامه زين الدين ابو الفضل عبد الرحيم العراقي المتوفي (۸۰۶هـ) په طرح التثريب (۲/۲۰۲) کښې فرمائي : پدے ټولو کښې احسن (ښائسته) وجه هغه ده چه قاضي عياض ذکر کړيده او هغه دا چه شيطان د اذان په وقت کښې نفرت کوي او تختي نو دا د هغه تصميم دے په مخالفت د امر الله باندے او استمرار دے په معصيت د هغه سره او الله تعالیٰ ته انقياد او غاړه نه کيخودل دي او د الله تعالیٰ اوامر سپک ګنړل او د هغے استخفاف کول دي نو کله چه د الله تعالیٰ يو داعي (مؤذن) الله تعالیٰ طرفته دعوت ورکړي نو شيطان د هغه نه اوتختي او اعراض اوکړي او د هغه سپکاوے اوکړي بيا چه کله مونځ حاضر شي نو شيطان مونځ کونکو ته حاضر شي چه هغوي سره په مانځه کښې نه شريک کيږي بلکه دا کوشش کوي چه دا مونځ په هغوي باندے خراب کړي نو دا ډيره کامله ګناه او سپکاوے دے د هغه نه چه بالکل د مانځه نه غائب شي (او د مونځ کونکو خواته بالکل رانشي) نو د شيطان د مانځه په وقت کښې حاضريدل د جنس د هغه نفرت نه دي کوم چه د اذان په وقت کښې وو ځکه چه په دواړو کښې د شيطان مقصد دا دے چه د الله تعالیٰ د اوامرو استخفاف اوسپکاوے اوکړي او د هغه اوامرو ته منقاد (تابعدار) نشي، والله اعلم وانظر الفتح ايضاً (۲/۶۹)ـ

لَهُ ضُرَاطٌ: ضراط هواء او تيزونو ته وائي (يعني خروج الريح من اسفل الانسان بصوت) بيا بعض علماؤ دا په ظاهر او حقيقت باندے حمل كړيدے چه شيطان د اذان په اوريدو سره تيزونه اچوي ځكه چه شيطان جسماني څيز دے، خوراك څكاك كوي نو كه هواء د هغوي نه خارجه شي دا څه بعيده نده، نو د اذان په وجه پرے رعب او خوف راشي بوج پرے زيات شي نو تيزونه ترے روان شي ـ

ملا علي القاريؒ وائي: دا ځكه چه اذان په هغه باندے يو دروند بوج اوګرځي لكه په حمار (خر) باندے چه كله بوج زيات شي نو تيزونه اچوي انتهىٰ ـ او دا تيزونه د هغه نه غير اختياري روان وي ـ

۲– بعض وائي: دا هواء په قصد سره اوباسي دے دپاره چه شيطان خپل ځان د اذان د اوريدو نه غافل او مشغول كړي نو د تيزونو نه يوه لړئ جوړه كړي چه د مؤذن آواز پكښ غائب كړي او دے سره په تيزئ باندے ځان اوباسي ـ

۳– يا پدے كار سره په اذان پورے استهزاء كول مقصود وي او مؤذن پورے توقے كوي لكه بے وقوف خلق چه كله د چا پورے توقے كوي نو په خوله سره دغه شان آواز اوباسي او عربي كښ ضراط د استهزاء په معنى هم ډير استعمال دے: كما يقال: تكلم فلان فاضرط به فلان) اى استخف ومنه حديث علي: انه دخل بيت المال فاضرط به اى استخف به، انظر النهاية لابن الاثير (۱/۸٤) وطرح التثريب (۲۰۲) ـ

٤– يا دا چه پدے سره مقابله كوي د هغه څه چه مناسب د مانځه سره وي چه هغه طهارت دے په بے اودسئ سره ځكه مانځه دپاره طهارت مناسب دے نو دا ځان بے اودسه كوي او اشاره كوي چه زه مونځ نكوم ـ

فائده ۱: ابن بطالؒ فرمائي: څوك چه د اذان نه پس د مسجد نه اوځي او جماعت ته نه حاضريږي نو دا انسان هم مشابه دے د هغه شيطان سره چه د اذان په وخت تختي او دا زجر به هغه ته هم شامل وي ـ

فائده ۲: بعض سلف وائي: د شيطان په تختيدلو كښ دا شرط ندے چه اذان به د مانځه دپاره وي بلكه صرف صورت د اذان نه تختي لكه مسلم (۱/۱٦۷) كښ سهيل بن ابي صالح د خپل پلار نه روايت كوي: انه قال: اذا سمعت صوتاً فناد بالصلاة) ـ دا واقعه مخكښ په مواضع الاذان كښ تيره شوه ـ وانظر فتح الباري (۲/٦۹) ـ

حَتّٰى لَا يَسْمَعَ التَّاْذِيْنَ: دا علت دے د ادبار الشيطان دپاره يعني شيطان ځكه شا

راروی چه اذان وانه وری بیا دا حدیث دلیل دے چه اذان باندے آواز پورته کول مستحب دی ځکه لایسمع لفظ ظاهر دے پدے کښې چه شیطان تر هغه ځائے پورے تختی چه هلته د مؤذن آواز نشی اوریدلے ، نو هغه ډیر زغلول پکار دی او دا خبره د حدیث د عبد الله بن زید نه هم معلومه ده (فانه اندیٰ صوتا منك) ۔

فاذا قضی النداء ، **فَإِذَا قُضِيَ النِّدَاءُ** : دا یا صیغه د مجهول ده یا صیغه د معلوم ده او فاعل ئے مؤذن دے یعنی کله چه مؤذن اذان ختم کړی ۔نداء په اصطلاح د شرع کښې په معنی د اذان هم استعمالیږی ۔ اِذَا نُوْدِیَ لِلصَّلَاةِ – وَاِذَا نَادَیْتُمْ اِلَی الصَّلَاةِ) ۔

حَتّٰی اِذَا ثُوِّبَ بِالصَّلَاةِ : دلته د تثویب نه مراد اقامت دے علی مذهب الجمهور ځکه په روایت د مسلم کښې اذا اقیمت لفظ ذکر دے او په بل روایت د مسلم کښې اذا سمع الاقامة لفظ دے۔

حَتّٰی یَخْطُرَ بَیْنَ الْمَرْءِ وَنَفْسِهِ : په یخطر لفظ کښې ضمه د طاء هم جائز ده لیکن کسره پکښې ډیره اولیٰ ده په ضمه د طاء معنی ده : شیطان رانزدے شی مونځ کونکی ته نو تیریږی د هغه او د هغه د زړه ترمینځ نو مشغول کوی ئے او د طاء په کسره باندے معنی دا جوړیږی : چه وسوسے اچوی نو دا د «خَطَرَ الْبَعِیْرُ بِذَنَبِهٖ اِذَا حَرَّکَهٗ فَضَرَبَ بِهٖ فَخِذَیْهِ» نه ماخوذ دے ۔ اوښ چه کله لکۍ اوخوزوی او پتونونه پرے اووهی نو عرب وائی خطر البعیر یعنی اوښ لکۍ اوخوزوله الخ او دلته ترے وسوسه اچول مراد دی ۔

★– علامه باجی ؒ فرمائی : مراد دا دے چه انسان کله د اقبال علی الصلاة (توجه د مانځه) او اخلاص فی الصلاة اراده اوکړی نو ددے ارادے او انسان ترمینځ شیطان حائل واقع کیږی انتهیٰ ۔ یعنی د انسان خشوع خرابوی او د دنیا کارونه ورته رامخے ته کړی چه په ټول مانځه کښې په هغے باندے مشغول شی او مالكِ حقیقی طرفته هیڅ توجه او التفات اونشی او د مانځه چه کوم مقصد او روح دے هغه حاصل نشی ۔

فائده : علامه طیبی ؒ فرمائی : پدے حدیث کښې د حتی لفظ پنځه کرتے استعمال دے اول او دوه اخیرنی په معنی د (کی) دی او دویمه او دریمه په جمله شرطیه باندے داخل دی او د تعلیل دپاره ندی ۔

۳– وَعَنْ اَبِیْ سَعِیْدِ الْخُدْرِیِّ ﷺ ، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : لَا یَسْمَعُ مَدٰی صَوْتِ الْمُؤَذِّنِ جِنٌّ، وَلَا اِنْسٌ، وَلَا شَیْءٌ اِلَّا شَهِدَ لَهٗ یَوْمَ الْقِیَامَةِ . رَوَاهُ

الْبُخَارِیُّ .

ترجمه : او ابو سعید خدری رضی الله عنه فرمائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی : د مؤذن انتهائی آواز چه هر څه واوری ، انسان وی یا جنی وی او یا هر شے، هغه ټول د قیامت په ورځ د مؤذن (په ایمان) ګواهی ورکوی ۔ (بخاری) ۔

لَا يَسْمَعُ مَدٰى صَوْتِ الْمُؤَذِّنِ :

تشریح : مدی په معنی د انتهاءَ یعنی آخر سره دیے ۔ د آواز انتهاء دا ده چه د هغے انګئ د انسان غوږ ته ورسی او دا معلومه نشی چه آواز کونکے څه وائی نو معنی دا شوه چه د مؤذن آخری سر د آواز هیڅ جنی یا انسان الخ نه اوری مګر د هغه دپاره به د قیامت په ورځ ګواهی ورکوی ۔

علامه قاضی بیضاویؒ فرمائی : آخری سر د آواز خفی او کمزورے وی نو پدیے کښں اشاره ده دیے خبریے ته چه کله ورانديے خلق د مؤذن دپاره ګواهی ورکوی چه هغوی ته صرف آخری معمولی آواز رسیدلے وی نو هغه خلق چه مؤذن ته نزدیے وی هغوی خو به په طریق اولیٰ سره ګواهی ورکوی نو پدیے حدیث کښں مؤذنینو ته ترغیب ورکول مقصود دیے چه اذان په نهایتِ اوچت آواز سره اووائی دیے دپاره چه د هغوی د ایمان ګواهی ورکونکی زیات شی ۔

بیا دا ګواهی د هرشی د هغه د حال مناسب وی، قیامت کښں به هر شے ګواهی ورکوی الله تعالی به ئے ګواه کوی نو دا په خپل حقیقت باندیے بناء دیے هیڅ تاویل ته پکښں ضرورت نشته ۔

اِلَّا شَهِدَ لَهٗ : پدیے ګواهئ کښں حکمت دا دیے چه الله تعالی اګرچه عالم الغیب والشهادۃ دیے خو لیکن د آخرت احکام د دنیا د احکامو پشان جاری دی لکه دنیا کښں چه دعوی او دلیل او ګواه وی آخرت کښں به هم دغه شان وی ۔ قاله الزین ابن المنیر ۔

★– علامه توریشتیؒ وائی : د شهادت نه مراد د قیامت په ورځ د خلقو په مابین کښں په فضل او علو المرتبه سره مشهور کیدل دی چه ټولو خلقو ته به ددیے انسان مرتبه او فضیلت معلوم شی لکه څنګه چه ډیر مجرمان خلق به د شهادت په وجه شرمیږی کله چه د هغوی په خلاف ګواهی ورکړیے شی ۔

بیا دا حدیث دلیل دیے چه یوائځے سړی له هم اذان کول مستحب دی اګرچه په یوه شړه

كښې وي او د خلقو سره د جماعت كولو اميد ئې نه وي ځكه كه د جماعت ثواب تر يې فوت شي نو د خلقو د ګواهئ او كلماتو وئيلو ثواب خو به ترې فوت نشي ـ

مګر د بعض رواياتو نه معلوميږي چه دجماعت ثواب هم ورته ملاويږي لكه سلمان فارسي په مرفوع روايت كښې دي : اذا كان الرجل بارض قيٍّ فحانت الصلاة فليتوضأ فان لم يجد ماء فليتيمم فان اقام صلى معه ملكاه وان اذن واقام صلى خلفه من جنود الله ما لا يرى طرفاه الترغيب والترهيب (۱/۱۸۳) مصنف عبد الرزاق (۱/۵۱۱) ـ يعنى كه اقامت اوكړي نو دده سره دده دوه ملائك مونځ كوي او كه اذان او اقامت دواړه اوكړي نو دده شاته به د الله د لښكرو نه دومره خلق مونځ اوكړي چه د هغې دواړه طرفونه به نشي ليدلې ـ

---

٤ – وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : اِذَا سَمِعْتُمُ الْمُؤَذِّنَ فَقُوْلُوْا مِثْلَ مَا يَقُوْلُ، ثُمَّ صَلُّوْا عَلَيَّ، فَاِنَّهٗ مَنْ صَلّٰى عَلَيَّ صَلَاةً، صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ بِهَا عَشْرًا، ثُمَّ سَلُوا اللهَ لِيَ الْوَسِيْلَةَ فَاِنَّهَا مَنْزِلَةٌ فِي الْجَنَّةِ لَا تَنْبَغِيْ اِلَّا لِعَبْدٍ مِنْ عِبَادِ اللهِ، وَاَرْجُوْ اَنْ اَكُوْنَ اَنَا هُوَ، فَمَنْ سَأَلَ لِيَ الْوَسِيْلَةَ حَلَّتْ عَلَيْهِ الشَّفَاعَةُ . رَوَاهُ مُسْلِمٌ .

ترجمه : او عبد الله بن عمرو بن العاص رضى الله عنهما فرمائى چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي : كله چه تا سو د مؤذن آواز واورئ نو (د هغه په جواب كښې) د هغه الفاظ دهراؤ كړئ او بيا (د اذان نه بعد) په ما باندې درود اوليږئ ځكه څوك چه په ما باندې يو ځل دورد اووائى نو د هغې په بدله كښې به الله تعالى په هغه باندې لس ځل رحمت نازل كړي ـ بيا (د درود وئيلو سره) زما دپاره (د الله نه) د وسيلې سوال اوكړئ ـ وسيله د جنت يو اعلىٰ درجه ده چه د الله د بندګانو نه صرف يو بنده ته به ملاويږي او زما اميد دې چه هغه خاص بنده به زه يم ، لهذا څوك چه زما دپاره د وسيلې دعا كوي (د قيامت په ورځ به) په ماباندې د هغه سفارش ضروري كيږي ـ

اِذَا سَمِعْتُمُ الْمُؤَذِّنَ فَقُوْلُوْا مِثْلَ مَا يَقُوْلُ :

تشريح : د اذان جواب وركول دوه قسمه دي ۱– فعلي ۲– او قولي ـ فعلي جواب وركول خو په اتفاق د علماؤ فرض دي چه هغه وائى مانځه ته راشه نو ته به ضرور مسجد

تـه ورځـے کـلـه چـه سـخت ضرورت نه وی ۔ او که ضرورت وی نو په کور کښې اوکړه دا هم اجابت فعلی دے ۔

۲ – دویـم پـه قـول باندے جواب ورکول دی چه هغه څنګه الفاظ وائی ته هم هغه شان الـفـاظ وائے نو پدے کښې د علماؤ اختلاف دے چه د مؤذن د اذان جواب ورکول په قول سره په کومه درجه کښې دی ۔

۱ – **جمهور علماء** او فـقـهاء (مالك، شافعي، احمد وغيره) فرمائی چه په قول سره د اذان جـواب ورکـول مستـحـب دی او فرض ندی ۔ کـمـا قـال الـنـووی : ویستحب اجابة الـمـؤذن بـالـقـول مثل قوله لكل من سمعه من متطهر و محدث وجنب وحائض ، شرح مسلم (۱/۱٦٦) ۔

دوئ استدلال کوی په حدیث د انس بن مالك : قال : كان رسول الله ﷺ يغير اذا طلع الـفـجـر و كـان يستمع الاذان فان سمع اذاناً امسك والا اغار فسمع رجلاً يقول : الله اكبر الله اكبـر فـقـال رسـول الله ﷺ عـلـى الـفـطرة ثم قال اشهد ان لا اله الا الله فقال رسول الله ﷺ خـرجـت مـن الـنـار فـنـظـروا اليـه فـاذا هـو راعي معزى ۔ رواه مسلم (۱/۱٦٦) والطحاوی (۱/۱۱۰)۔

دا حدیث **دلیل** دے چه نبی عـلـيه السلام په اذان کښې خبرے کړیدی او د اذان جواب ئے ندے ورکړے ځکه که هغه جواب ورکړے وے مونږ ته به رانقل شوے وے، معلومه شوه چه دلته امر د اجابت مستحب دے او فرض ندے ۔

۲ – **دلیل** : شیخ البانی په تمام المنة ص (۳٤۰) او الضعيفة رقم (۸۷) کښې او د هغه شـاګـرد حسین عوده په الـمـوسوعة الفقهية الميسرة (۱/۳۷٥) کـښې ذکر کړیدے : عن ابی ثعلبة بن ابی مالك القرظی قال : انهم كانوا يتحدثون حين يجلس عمر بن الخطاب على المنبر حتـى يسـكـت الـمـؤذن فـاذا قـام عـمر على المنبر لم يتكلم احد حتى يقضى خطبته كلتيهما اخـرجـه مالك فی الموطأ والطحاوی والسياق له واسناده صحيح وله شاهد قوى فی المصنف لابن ابی شيبة (۲/۱۲٤) راجعه ۔ نو دا حدیث دلیل دے چه جواب د اذان واجب ندے ځکه د عـمرؓ او عـثمانؓ پـه زمـانه کښې به خلقو د اذان په مینځ کښې خبرے کولے او عمر پرے رد نه کولو چه غلی شئ د اذان جواب ورکړئ ! شیخ البانیؒ فرمائی : و كثيراً ما سئلت عن الدليل الصارف للامر باجابة المؤذن عن الوجوب فاجبت بهذا والله اعلم، تمام المنة ۔

۲ – **بعض سلف** او بعض احناف او اهل الظواهر او ابن وهب من اصحاب مالك قول

دا دے چه په سامعینو باندے د مؤذن جواب ورکول واجب دی ۔ استدلال کوی په دے حدیث الباب باندے چه دلته نبی علیه السلام امر کړیدے په جواب ورکولو باندے والامر للوجوب کما قال الطحاوی ۔ نو بس ددے امر امتثال او عملی کول فرض دی ۔ ددے وجے نه په (قواطع الاسلام (۱/۳۷۷) (دا کتاب د کتاب الزواجر سره ملحق دے) کښې لیکی :"من تکلم فی الاذان یخشی علیه الکفر ۔ چا چه په اذان کښې خبرے اوکړے، هغه باندے د کفر یره ده ۔ او دوی جواب ورکوی د اول قول والا د استدلال نه چه په دغه روایت کښې نفی ددے خبرے نشته چه نبی علیه السلام د مؤذن پشان کلمات ندی وئیلی، ممکن ده چه هغه جواب هم ورکړے وی او دغه زیاتی کلمات ئے هم وئیلی وی لیکن راوی ندی ذکر کړی اکتفاء ئے په عادت باندے کړیده ۔ فتح الباری (۲/۷۳) ۔

۲- **جواب** : دا احتمال شته چه دا حدیث په هغه زمانه کښې وئیلے شوے وی چه په جواب د اذان باندے امر نه وو راغلے ۔ ۳- **جواب** : دا احتمال هم شته چه هغه سړی د اذان په نیت اذان نه وی وئیلے ځکه به ئے ورته جواب نه وی ورکړے لیکن دا دریمه توجیه کمزورے ده ځکه چه په بعض طرق ددغه حدیث کښې دی چه هغه ته مونځ حاضر شوے وو ۔ ★ – علامه شوکانیؒ فرمائی : تا ته دا خبره معلومه ده چه «ان فعله ﷺ لا یعارض القول الخاص بنا وهذا منه » یعنی پدغه حدیث کښې چه د اذان جواب ندے ورکړے شوے نو دا د نبی علیه السلام فعل دے او فقولوا مثل ما یقول دا امت ته امر دے او کله چه د قول او فعل د نبی تعارض راشی نو امت باندے د قول تابعداری لازم ده ځکه کیدے شی دا فعل د هغه خصوصیت وی چه جواب ئے ندے ورکړے والله اعلم نیل الاوطار (۲/۳۷) وفتح الباری (۱/۷۳) راجح قول د بعض سلف دے او پدے کښې احتیاط هم دے ۔

او د اثر د ابن عمرؓ نه جواب دا دے چه اذان کښې خبرے کول منافی ندی د جواب ورکولو سره بلکه پدے کښې نفی د جواب ورکولو نشته بلکه صرف د اذان مینځ کښې د خبرو کولو اثبات دے نو دا حدیث معارض نشی کیدے ددے باب د حدیث سره بله دا چه دغه موقوف حدیث دے او ددے باب حدیث مرفوع دے او موقوف مقابله د مرفوع نشی کولے ۔

فائده : اِذَا سَمِعْتُمْ : د اذا دپاره دوه معانی دی کله اذا د فراغ دپاره استعمالیږی لکه اذا جاء نصر الله یعنی کله چه د الله مدد راشی نو د هغے نه بعد (فسبح) تسبیحات وایه ۔

۲- او کله اذا د دغه وقت د عمل دپاره استعمالیږی لکه اذا صلیتم علی الجنازة

فاخلصوا له فی الدعاء) یعنی په مانځه د جنازه کښې دننه په اخلاص دعا غواړئ نو د بدعتیانو استدلال صحیح ندې چه د جنازې نه روستو دعاګانې غواړی ۔ دلته که اوله معنی مراد شی نو معنی دا ده چه کله مؤذن د یوې کلمې وئیلو نه فارغ شی نو بیا تاسو هغه کلمه اووایئ ! لکه پدې باندې نور احادیث هم دلالت کوی لکه روستو حدیث د عمر کښې دی : کله چه مؤذن الله اکبر الله اکبر اووائی نو اوریدونکې به الله اکبر الله اکبر وائی الحدیث ۔

★– دارنګه علامه کرمانیؒ فرمائی : مثل ما یقول ئے اووئیل مثل ما قال ئے اونه وئیل : پدې کښې اشاره ده چه جواب ورکونکې به د هرې کلمې نه روستو د هغې پشان کلمه وائی ۔ ★– حافظ فرمائی : پدې باره کښې صریح روایت د ام حبیبه دې چه نسائی روایت کړیدې : [انه ﷺ کان یقول کما یقول المؤذن حتی یسکت] ۔ او ډیر اصرح پکښې حدیث د عمرؓ دې انتهیٰ ۔ نیل الاوطار (۲/۳٦) وفتح الباری (۲/۷۲) ۔

فائده : سمعتم نه معلومه شوه چه کله یو انسان مؤذن هسې په مناره کښې اووینی یا ئې هسې ګوتې په غوږونو کښې ورکړې وی او د هغه آواز نه اوری د لرې والی د وجې نه یا د کوڼ والی د وجې نه نو په هغه باندې دا ضروری نده چه د اذان جواب به ورکوی بلکه مستحب هم ورله نده ۔قاله النووی فی شرح المهذب (۳)۔

★– دارنګه فقولوا مثل ما یقول نه معلومه شوه چه د اذان کلمات جواب ورکولو کښې دا شرط دې چه په خوله به ئې وائی او په زړه کښې تیرولو باندې به اکتفاء نکوی ۔ (نفس المصدر) ۔

فَقُوْلُوْا مِثْلَ مَا يَقُوْلَ : دلته د مثل ما یقول ظاهر معنی دا ده چه مؤذن څنګه کلمات وائی هغه شان کلمات به اوریدونکې هم وائی په ټولو الفاظو د اذان کښې لیکن روستو حدیث د عمرؓ کښې دی چه صرف حی علی الصلاة او حی علی الفلاح په وقت به لا حول ولا قوة الا بالله وائی ۔ ددې وجه نه اختلاف واقع شویدې ۔

مسئله : آیا د مؤذن په جواب کښې به هغه شان کلمات وائی که فرق به کوی ؟

۱– جمهور علماء وائی : په حیعلتین کښې به لاحول ولا قوة الا بالله وائی ځکه روستو حدیث د عمرؓ مقید دې او دا حدیث الباب مطلق دې او دا اصولی قاعده ده چه کله حادثه

يوه وی نو مطلق به محمول وی په مقيد باندے او دارنگه دا حديث عام مخصوص منه البعض دے او تخصيص ئے په حديث د عمرؓ باندے شويدے۔

۲ – دارنگه د رسول الله ﷺ عمل په همدغه طريقه دے چه په حی علی الصلاة او حی علی الفلاح كښ به ئے لا حول ولا قوة الا بالله وئيل كما فی حديث ابی رافع عن النبی ﷺ انه كان اذا سمع الاذان قال مثل ما يقول المؤذن فاذا بلغ حی علی الصلاة قال : لا حول ولا قوة الا بالله رواه الاثرم باسناده انظر المغنی (۱/۴۷۴) وحديث معاوية فی البخاری (۲/۱۲۴)۔

(۲) **دويم قول** : امام شافعی، ابراهيم نخعیؒ، اهل الظاهر په نيز او د امام مالكؒ او احمدؒ يو يو قول هم دے چه مؤذن د اذان د اول نه تر آخره پورے چه كوم الفاظ وائی مجيب به بعينه همغه الفاظ وائی او دليل دا حديث د ابوسعيد خدریؓ دے مگر دا قول ضعيف دے، وجه دا ده چه دا حديث د ابو سعيد خدریؓ مطلق دے او عام دے او په حديث د عمرؓ كښ ددے نه استثناء ذكر شويده نو حديث د عمرؓ باندے به عمل كولے شی ځكه چه دا اصولی قاعده ده الخاص يقضی علی العام۔

★ – دارنگه دے حديث د ابوسعيدؓ كښے مثل ما يقول كښ مثليت په تولو كلماتو كښ ندے مراد بلكه په اكثرو كلماتو كښ مراد دے نو دا حديث مبهم شو او حديث د عمرؓ د هغے تفسير او تفصيل شو والحديث يفسر بعضه بعضا۔

★ – دارنگه بعض علماؤ وئيلی دی چه په لغت كښ د مثل لفظ اگرچه معنی د مشابهت ده ليكن پدے كښ د استعمال په لحاظ ډير وسعت دے نو په معنی د مناسبت او ملائمت سره هم استعماليږی نو گويا كښ ذلته به دا معنی شی : فقولوا مثل ما يقول المؤذن ای اجيبوا بالقول الذی يناسبه ويلائمه۔

يعنی مؤذن ته داسے جواب وركړئ چه د هغه د الفاظو مناسب وی نو عقلًا هم د حی علی الصلاة او علی الفلاح سره مناسب دا ده چه لا حول ولا قوة الا بالله اووئيلے شی۔ ولے كه ته هم حی علی الصلاة حی علی الفلاح وائے نو بيا خو به مطلب دا شی چه مؤذن وائی مسجد ته راشئ او ته وائے كور ته يا بهر راشئ د مانځه دپاره نو دا د مؤذن پورے استهزاء او مسخرے جوړيږی نو راجح اول قول شو۔

(۳) – پدے كښ **دريم قول** د بعض حنابلو دے او بعض متاخرينو د بعض اهل الاصول نه نقل كړيدے چه خاص او عام باندے چه كله عمل ممكن وی نو دواړه به جمع

كولے شي او عمل به په دواړو باندے واجب وي، لهذا دلته به مجيب حي على الصلاة او حي على الفلاح هم وائي او لا حول و لا قوة الا بالله به هم وائي، دے دپاره چه دواړو حديثونو باندے عمل راشي او دا كار مستحب دے عند الحنابله او ابن عابدين الشامي په رد المختار كښې هم غوره كړيدے (۲۶۶/۱)۔

(۴) – **علامه ابن المنذرؒ** وائي : دا احتمال هم شته چه دا د هغه مباح اختلاف وي چه دواړه طرفونه پكښې جائز دي (او ديته تنوع العبادات هم وائي) نو كله د بعينه تول الفاظ د مؤذن پشان وائي او كله د په حيعلتين كښې لا حول ولا قوة الا بالله وائي پدے سره به هم عمل په ټولو احاديثو راشي ۔ فتح الباري (۷۲/۲) نيل الاوطار (۳۶/۲) المغني لابن قدامة (۴۷۵/۱) ۔ ليكن اول قول ظاهر دے من حيث الادله ۔

فائده : فقولوا مثل ما يقول نه روستو ملا علي القاري دا استثناء ذكر كړيده چه الا في قوله الصلاة خير من النوم فانه يقول صدقت وبررت وبالحق نطقت) و كذا في مظاهر حق (۴۷۱/۱) يعني په الصلاة خير من النوم كښې به مجيب داسے وائي : صدقت وبررت الخ او د مؤذن پشان الصلاة خير من النوم به نه وائي لكه دا خبره امام نووي هم ذكر كړيده المجموع (۱۱۸/۳) ليكن دا خبره ضعيفه ده وجه د ضعف دا ده چه د صدقت او بررت په باره كښې هيڅ صحيح حديث نشته لكه علامه امير صنعانيؒ په سبل السلام (۱۹۵/۱) طبع جمعية احياء التراث كښې وائي : وقيل يقول في جواب التثويب صدقت وبررت وهذا استحسان من قائله والا فليس فيه سنة تعتمد انتهى ۔

يعني دا الفاظ وئيل هسے د مؤذن تحسين كول دي چه رشتيا خبره دے اوكړه او د خير والا اوګرځيدے ۔ ورنه دا كار سنت كښے ندے راغلے يعني مطلب دا چه دا الفاظ بے فائدے دي او سنت ګنړل ئے بدعت دے لكه دے باره كښې زمونږ د «ذكر او دعاء مسنون مستند كتاب» ته رجوع اوكړه ۔ او دا خبره علامه مباركفوري هم ذكر كړيده انظر تحفة الاحوذي (۱۸۳/۱) وفتاوى الدين الخالص (۲۹/۴) ۔

مسئله : فقولوا مثل ما يقول : كښې يو بل اختلاف دا دے چه د اذان د كلماتو جواب به څه وقت وركولے شي ۔

(۱) – **بعض علماء** (ابو الفتح اليعمري) وائي : ظاهر د حديث د ام حبيبه دا دے چه مجيب به د اذان د ختميدو نه روستو جواب وركوي (حديث د ام حبيبه مخكښې تير شو انه ﷺ كان يقول كما يقول المؤذن حتى يسكت اخرجه النسائي) ۔

(۲) - **ليكن علامه ابن حجر العسقلانیؒ فرمائی :** لكن الاحاديث التی تضمنت اجابة كل كلمة عقبها دلت على ان المراد المساوقة يشير الى حديث عمر بن الخطاب الذى عند مسلم وغيره) يعنی ډير احاديث پدے دلالت كوی چه مراد د جواب نه مساوقه ده د مؤذن سره يعنی د هغه د فراغت د كلمے نه پس به مجيب هغه كلمه وائی لكه حديث د عمر كښ دغه طريقه راغلے ده ـ فتح البارى (۲/۷۲) ـ

فائده : مِثْلَ مَا يَقُوْلُ : كښ د مثليت نه مساوات من كل الوجوه ندے مراد بلكه مماثلت فی القول مراد دے نو دا ضروری نده چه مجيب به هغه شان آواز پورته كوی څنگه چه مؤذن پورته كوی نو مماثلت فی الصفت ندے بلكه صرف مماثلت په قول كښ مراد دے يعنی هغه شان كلمات به وائی څنگه چه مؤذن وائی چونكه مؤذن خلقو ته په اذان سره اعلان د مانځه كوی نو هغه محتاج دے چه آواز پورته كړی او هر چه سامع انسان دے نو دده مقصود خو صرف ذكر كول دی نو جهر ته ئے حاجت نشته ـ النيل (۲/۳٦) فتح البارى (۲/۷۳) ـ

بيا چونكه په اذان كښ خو ډير زيات فضيلت وو نو ټول خلق خو پدے كښ نشی راجمع كيدلے صرف مؤذن ته حاصليدو لهذا شريعت سامع ته اووئيل چه ته هم د هغه پشان كلمات وايه ستا به هم هغه شان ثواب اوشی څنگه چه د مؤذن كيږی ځكه د جواب وركولو حكم راغلو ـ

فائده : ددے حديث ظاهر دلالت كوی (۱) - چه د اذان جواب به په هر حالت كښ وركولے شی برابره خبره ده كه په مانځه ولاړ وی او كه په بل كار كښے مشغول وی ـ

(۲) بعض علماء وائی : د مانځه نه چه فارغ شی نو جواب به وركوی لكه دا مذهب د شوافعو دے ځكه حديث كښ راغلی دی : ان فی الصلاة لشغلاً) يعنی په مانځه كښ خپله مشغولتيا شته نو دا دليل دے چه په مانځه كښ جواب وركول مكروه دی او ددے تائيد پدے سره هم كيږی چه نبی عليه السلام د سلام جواب په تلفظ سره وركول منع كړيدی سره ددينه چه د سلام جواب وركول ډير ضروری دی د اذان د جواب نه ـ انظر نيل الاوطار وفتح البارى) وهو الحق ـ ليكن كله چه وقت تير وی جواب وركول بدعت دے ځكه چه د هر شی دپاره خپل وقت وی كله چه هغه د وقت نه تير شی نو دا بيا ساقط شی لكه دا خبره روستو مسئله كښ هم راروانه ده ـ

★- دارنگه ددے جواب وركولو نه بل مانع دا دے چه په حالت د جماع كښ وی يا

بیت الخلاء کښې وی نو جواب به نه ورکوی مګر کله چه فارغ شی جواب به ورکړی۔
المجموع شرح المهذب (١١٨/٣)۔

مسئله : کله چه اذان شروع شی او یو انسان اراده د بول او قضاء حاجت لری آیا دا به بیت الخلاء ته په اذان کښې داخلیدے شی ؟۔

الجواب : افضل دا ده چه داخل نشی او د اذان جواب ورکړی وجه دا ده چه دا د الله تعالی د ادب او تعظیم خلاف ده دے وجه نه بعض سلف به د اذان په وقت بیت الخلاء ته نه داخلیدل د الله تعالی وقار او تعظیم به ئے کولو ځکه چه ادب مع الله د الله تعالی د شعائرو نه دے ﴿ وَمَا قَدَرُوا اللّٰهَ حَقَّ قَدْرِهٖ – مَالَكُمْ لَا تَرْجُوْنَ لِلّٰهِ وَقَاراً ﴾۔

بعض سلفو نه نقل دی چه هغوی به فرمائیل : د انسان په زړه کښې د الله تعالی د وقار او د تعظیم نخه دا ده چه په داسے حالت کښې د الله تعالی نوم یاد نکړے شی چه په هغه حالت کښې انسان ته حیاء ورځی لکه حالت د جماع یا حالت د بول وبراز یا د ګندګئ سره د الله تعالی نوم یو ځائے کړی لکه داسے اووائی قبح الله الکلب والخنزیر والنتن الخ الله تعالی دے سپے، خنزیر او ګندونه تباه کړی۔ ځکه دا د الله تعالی د تعظیم خلاف ده انظر بدائع التفسیر (٣٥/٥) وفتاوی الدین الخالص (٣٥٢/٣) البته که د یو انسان سخت ضرورت وی نو بیت الخلاء ته د اذان په حالت کښې بغیر د څه حرج او ګناه نه داخلیدل جواز لری والله تعالی اعلم۔

مسئله : کله چه یو انسان ډیر اذانونه په یو وقت واوری نو د کوم اذان جواب به ورکوی ؟ نو ظاهر دا ده چه اول مؤذن ته به جواب ورکوی یا که وسع ئے کیږی نو ټولو ته به جواب ورکوی ځکه چه سبب متعدد دے چه هغه اوریدل د اذان دی نو جواب به هم متعدد کیږی کما قال ابن عبد السلام ، فتح الباری (٧٣/٢) دلیل پدے باندے دا قول د نبی علیه السلام دے اذا سمعتم المؤذن فقولوا مثل ما یقول نو دلته اذا لفظ ذکر شویدے او دا دعموم د اوقاتو دپاره دے۔

ابن عابدین الشامی په رد المحتار (٢٦٦) کښې لیکی : قال فی العلائیة : ولو تکرر اجاب الاول وفی الشامیة سواء کان مؤذن مسجده او غیره ثم قال ویظهر لی اجابة الکل بالقول لتعدد السبب وهو السماع کما اعتمده بعض الشافعیة۔

یعنی که اذانونه ډیر وی نو د اول جواب به ورکوی، شامی کښې دی : برابره ده که د خپل مسجد اذان وی او که د بل مسجد۔ بیا وائی : ما ته دا خبره حقه ښکاری چه د ټولو

اذانونو جواب په قول سره ورکړی ځکه سبب چه اوريدل د اذان دی متعدد شو لکه دا متعمد عليه مذهب د بعض شوافعو دے۔

★– امام نووی ؒ فرمائی : اذا سمع مؤذنا بعد مؤذن هل يختص استحباب المتابعة بالاول ام يستحب متابعة كل مؤذن فيه خلاف السلف الخ شرح المهذب (۱۱۹/۳)۔ يعنی کله چه ديو مؤذن اذان واوری پس د بل مؤذن نه نو آيا اول مؤذن ته جواب ورکول مستحب دی او که هريو مؤذن ته پدے کښں د سلفو اختلاف دے نو د اول مؤذن جواب پريخودل خو مکروه دی ځکه چه صحيح احاديثو کښں تصريح راغلے ده په امر د جواب ورکولو باندے او هر چه د هر اذان جواب ورکول دی نو د هغے پريخودل مکروه ندی البته فضيلت او ثواب پکښں ضرور شته انتهى ۔ او همدا خبره حقه ده ۔

مسئله : کله چه يو انسان اذان واوری او جواب ورنکړی نو آيا د اذان د فراغت نه بعد جواب ورکولے شی ؟ نو راجح دا ده چه که ډير فصل او جدائی نه وه راغلے نو مستحب ده چه جواب ورکړی او که وقت ډير تير شو نو جواب به نه ورکوی ۔ قاله النووی فی المجموع (۱۲۰/۳) ۔حافظ ابن حجر ؒ فرمائی : داخبره په هغه وقت کښں ده چه کله انسان په خپل وقت کښں په جواب نه ورکولو کښں معذور وی لکه په مانځه کښں مشغول وی ۔ (الفتح)۔

فائدة بديعة : د اذان په جواب ورکولو کښں بعض فقهاء ليکی چه د حی على الصلاة او حی على الفلاح په وقت کښں به ماشاء الله لا حول ولا قوة الا بالله وائی او د حی على الفلاح په وقت کښں به ما شاء الله وائی لکه چه ابن عابدين په رد المحتار (۲۶۶/۱) کښے ذکر کړيدی وکذا فی المحيط ۔

ليکن دا خبره غلطه ده وجه دا ده چه په هيڅ صحيح حديث کښں دا چرته نشته البته مصنف عبد الرزاق (۴۸۰/۱) کښے د ابن جريج ؒ نه نقل شويدی : حدثت ان ناساً كانوا فيما مضى كانوا ينصتون للتاذين كانصاتهم للقرآن فلا يقول المؤذن شيئاً الا قالوا مثله حتى اذا قال : حی على الصلاة قالوا لا حول ولا قوة الا بالله العلى العظيم فاذا قال : حی على الفلاح : قالوا ما شاء الله وكذا فی تنظيم الاشتات (۲۵۲)۔

ليکن يو خو ابن جريج ؒ مدلس راوی دے، دويم په مجهوله صيغه ئے ذکر کړيدی چه حدثت ما ته داسے خبره بيان شويده نو استاذ ئے ندے ذکر کړے نو هغه مجهول دے او د ناس نه څوک مراد دی د هغے پته هم نه لګی چه آيا صحابه مراد دی او که تابعين ۔

2/2

نو دا حديث مدلس او منقطع دے چه قابل د استدلال ندے۔

★– بلـه دا چـه كـه دا حـديث ثابت وے نو په نورو كتابونو كښې به ضرور راوړے شوے وے مـعلومه شوه چه ماشاء الله كلمه زياتول بدعت دے بلكه صرف لا حول ولا قوة الا بالله بـه وائى په على الصلاة او حى عـلى الفلاح دواړو كښې او العلى العظيم به هم ورسره نه زياتـوى اگرچه دا زيادت د العلى العظيم د مشكوة (٦٦/١) پـه يوه نسخه كښې راغلے دے ليـكـن هغـه روايت د مسند احمد (٩٨/٤) دے او په هغے كښې ورسره دا زيادت نشته ددے وجـه نـه ملاعلى القارى په مرقات شرح مشكوة (٤٣٣/١) كښې وائى : هذه زيادة نادرة في الروايات ـ شيخ البانىؒ وائى : دا د كاتبانو غلطى ده يا د مصنف د قلم نه سبقت شويدے ځكـه چـه دا زيادت نه په مسند احمد كښې شته او نه په بل كتاب كښې نو دا زيادت منكر دے او شراحو ددے كتاب دے خبرے ته فكر ندے كړے تعليق المشكاة (٢١٣/١)۔

★– دارنگه د حى على الصلاة، حى على الفلاح په وقت كښې «اللهم اجعلنا مفلحين» وئيـل هم ندى ثابت او كوم حديث چه ابن السنى رقم (٩٢) كښې راوړيدے هغه موضوعى دے لكه شيخ البانى په السلسلة الضعيفة رقم (٧٠٦) كښې ورته موضوعى وئيلے دے ـ

ددے وجـه نـه عـلامـه قـرطبى د مـاشاء الله وئيلو مواضع ذكر كړيدى نو اذان ئے پكښې ندے ذكر كړے انظر تفسير القرطبى (٤٠٧/١)۔

★– دارنـگـه بعض عوام خلق د الله اكبر اوريدو سره (جل جلاله) الفاظ وائى دا هم په هيـڅ حديث او په هيڅ كتاب د فقه كښې ندى راغلى بے دليله عاميانه لفظ دے چه شيطان پـرے انسـان د سـنت طريقے نه اوباسى او په بدعت كښې ئے اخته كوى نو ددے نه ذهنونه او زړونه صفا ساتل پكار دى ـ

★– دارنگه د «اشهد ان محمدا رسول الله» لفظ اوريدلو سره گوتے سترگو او خولے له وړل هـم بدعت دے دا د مبتدعينو ايجاد كرده دين دے، كه دا ادب او محبت د پيغمبر وى نو د الله لـوئى نوم ياديږى په هغے كښې دا كار ولے نكوى ؟ دارنگه محبت عبادت دے او عبادت د الله او د رسول نه ازده كولے شى ـ

مسئله : بـعـض علماء وائى د اقامت جواب وركول هم سنت دى او همغه شان الفاظ بـه وائى څـنگه چه اقامت كونكے وائى په تولو كلماتو كښې او د قد قامت الصلاة په ځائے بانديے به اقامها الله وادامها الفاظ نه وائى ځكه چه دا په ضعيف روايت كښې ثابت دى لكه روستو به راشى ان شاء الله ـ

لیکن دا خبره ضعیفه ده وجه دا ده چه پدے باره کښې هیڅ صریح صحیح حدیث نه قولی نه فعلی نه اثری شته چه نبی علیه السلام د اقامت جواب ورکړے وی۔

او ددے اثبات دپاره استدلال په عموماتو شویدے چه د اذا سمعتم المؤذن لفظ راغلی دے او مؤذن دواړو ته شامل دے لیکن دا قانون واوره چه په یو خاص عبادت کښې په عموماتو باندے استدلال کولو نه ډیر بدعات پیدا کیږی لکه ددے ډیر مثالونه دی لکه په هر رکعت کښې د قراء ت نه مخکښې تعوذ لوستل یا د رکوع نه روستو په سینه باندے لاسونه کیخودلو باره کښې بعض خلق د عام الفاظو نه استدلال کوی او دارنګه دعاء بعد السنة وغیره کښې خلق عام دلائل ذکر کوی حال دا چه د یو خاص جزئی عبادت دپاره به خاص دلیل پیش کولے شی فتدبر۔

مسئله : د جمعې په ورځ د دویم اذان جواب ورکول هم سنت نبوی دے لکه په صحیح البخاری (۱/۱۲٤) کښې امام بخاری باب ایخودے دے : باب یجیب الامام علی المنبر اذا سمع النداء ۔ بیا ئے د ابوامامه سهل بن حنیف‌رض نه حدیث راوړیدے چه ده الله اکبر الله اکبر اووئیل نو معاویه‌رض (هم) الله اکبر الله اکبر اووئیل بیا ده اشهد ان لا اله الا الله اووئیل نو معاویه‌رض اووئیل : وانا (او زه هم ګواهی ورکوم) (بیا) هغه اشهد ان محمدا رسول الله اووئیل (نو) معاویه‌رض اووئیل : وانا (او زه هم ګواهی ورکوم) کله چه اذان ختم شو وے فرمائیل : یا ایها الناس انی سمعت رسول الله ﷺ علی هذا المجلس حین اذن المؤذن یقول : ما سمعتم منی مقالتی ۔ یعنی اے خلقو ما د رسول الله ﷺ نه پدے ځائے د ناسته (منبر) باندے اوریدلی دی چه کله به مؤذن اذان اوکړو نو هغه کلمات به ئے وئیل کوم چه تاسو زمانه واوریدل ۔

امام نسائی (۱/۱۰۹) دے خبرے ته اشاره کوی چه دا جواب ورکول د امام پورے خاص ندی بلکه هر سړی دپاره دا جواب ورکول پکار دی ۔

نو کوم بدعتیان چه دا فتوی ورکوی چه د جُمعې دویم اذان جواب ورکول او اللهم رب هذه الدعوه الخ وئیل مکروه دی لکه فتاوی دیوبند (۲/۱۰۰) او رد المحتار باب الاذان (۱/۳۷۱) او باب الجمعة (۱/۷٦۹) کښې ورته مکروه وئیلی دی نو دا خبره غلطه او بے دلیله ده ځکه خطبه خو لا شروع نده او حال دا چه دا حدیث الباب وائی چه کله تاسو د مؤذن اذان واورئ نو جواب ورکوئ ددے عموم دغه حالت د اذان ثانی ته هم شامل دے او مانع – چه خطبه ده – هم ندے موجود ۔

ثُمَّ صَلُّوْا عَلَيَّ : يعنى د اذان د ختميدو نه روستو په ما باندے درود اووايئ، او دا درود وئيل مستحب دى ـ علامه مناوىؒ فرمائى : د علماؤ په دے اجماع ده چه درود په نبى عليه السلام باندے خارج د مانځه نه واجب ندے نو اجماع قرينه صارفه شوه د وجوب نه ـ مرعاة (٢/٣٦٤) ـ

بيا دا درود به په هغه الفاظو سره وائى كوم چه شرعى وى او د ځان نه به بدعى درود نه جوړوى بلكه د مانځه درود به وائى يا نور الفاظ چه په احاديثو كښې راغلى دى، هغه به وائى ځكه چه صحابه كرامو درود نه پيژندلو نو د رسول الله ﷺ نه ئے تپوس اوكړو (كيف نصلى عليك يارسول الله) ځكه چه هغوى د ځان نه بدعت نه جوړولو سره ددے نه چه هغوى عرب وو او عربئ كښې ئے د ځان نه درود جوړولو باندے قادر وو – نو نبى عليه السلام ورته د مانځه درود اوخودلو نو الصلاة والسلام عليك يارسول الله يا صلى الله عليك يا رسول الله ـ الفاظو سره درود وئيل بدعت دے دارنګه په جهر سره به ئے هم نه وائى ځكه دا هم بدعت دے ـ

ملا على القارى په مرقاة شرح مشكوة (٢/١٦٠) كښې ليكى : فما يفعله المؤذنون الآن عقب الاذان من الاعلام بالصلاة والسلام مراراً اصله سنة والكيفية بدعة لان رفع الصوت فى المسجد ولو بالذكر فيه كراهة انتهى ـ يعنى نن صبا چه كوم مؤذنين د اذان نه روستو په الصلاة والسلام سره باربار چغے وهى ددے اصل سنت دے (يعنى نفس درود خو سنت دے) خو (د دوئ دا) كيفيت (چه جهر پكښې كوى) بدعت دے ځكه چه په مسجد كښې آواز پورته كول اګركه په ذكر سره وى په دے كښې حراموالے دے ـ

نو كوم خلق چه د اذان نه مخكښې الصلاة والسلام عليك يارسول الله وعلى آلك واصحابك يا حبيب الله الفاظ وائى نو ددے خو هيڅ اصل په سنت كښې نشته او كيفيت ئے هم بدعت دے لكه چه ملا على القارى حنفى د عبارت نه معلومه شوه ـ نو بريلويه ځان ته احناف وائى او بيا هم داسے بدعات كوى ـ اعاذنا الله من فعلهم ـ

په رد المحتار (١/٢٦٧) كښې دى : په اذان كښې د اول شهادت په وقت صلى الله عليك يارسول الله وئيل او د دويم شهادت په وقت قرت عينى بك يارسول الله وئيل ددے په باره كښې هيڅ مرفوع حديث نشته (مونږ وايو موقوف هم نشته) نو ددے وئيل سو چه بدعت او بے دينى ده ـ

فائده : داخبره ياده كړه چه درود به د اذان د فراغت نه بعد وئيلے شى او په اذان كښې

دننه درود وئيل بدعت دے يا د محمد رسول الله نوم چه ياد شي نو د هغے سره وئيل هم ندي ثابت ۔ دليل دا حديث دے ځكه چه دلته رسول الله ﷺ فرمائي : (ثم صلوا علی) يعني د اذان نه روستو په ما باندے درود اووايئ ! نو څوك چه په اذان كښې دننه درود وائي هغه پدے ثم صلوا امر باندے عمل اونكړو، پيغمبر وائي په ما باندے درود روستو وايه او دا ئے مخكښې وائي نو دا ددے حكمِ پيغمبری نه مخالف دے ۔ دغه شان د اقامت نه پس درود لوستل هم بدعت دے ۔

مسئله : آيا پدے امر د صلوا كښې مؤذن داخل دے او كه نه ؟ ۔ نو ظاهر ددے حديث دا دے چه مؤذن او مقيم باندے جواب د اذان او اقامت دارنګه درود وئيل لازم ندی ځكه دلته د صلوا خطاب دارنګه د فقولوا مثل ما يقول المؤذن خطاب سامعينو ته دے او پخپله مؤذن او مقيم ته ندے نو دوی دپاره د اذان جواب وركول يا د اذان نه روستو درود لوستل ضروری ندی لكه دا خبره په المختارات الحلية (٤٤) كښې ذكر شويده چه صحيح دا ده چه دوئ به جواب نه وركوی اودرود به هم نه وائي بلكه دا ورله مستحب هم نه ده بلكه دوی به صرف اكتفاء كوی د اذان او اقامت په الفاظو وئيلو باندے او د نبی عليه السلام ترغيب چه په جواب د اذان كښې راغلے دے دا به سامعينو ته وركرځولے شي نه مؤذنينو ته لكه چه دا خبره د سياق د حديث نه مفهوم ده انتهیٰ بلفظه ۔

شيخ البانیؒ په تمام المنة (١٥٨) كښې وائي : ان الخطاب فيه (فی قوله اذا سمعتم المؤذن) للسامعين المامورين باجابة المؤذن ولا يدخل فيه المؤذن نفسه والا لزم القول بانه يجيب ايضاً نفسه بنفسه وهذا لا قائل به والقول به بدعة فی الدين انتهی ۔

يعني د اذا سمعتم (او صلوا) خطاب صرف سامعينو ته دے كوم چه په جواب د مؤذن باندے مامور دی او پخپله مؤذن پكښې داخل ندے ورنه بيا به دا خبره لازمه شي چه مؤذن به خپل ځان ته جواب هم وركوی او پدے خبره باندے خو هيڅوك قائل ندی او دا بدعت فی الدين دے ۔ وكذا فی اخطاء المصلين لمشهور سلمان (١٧٤) ۔

ليكن ددے حديث د آخر نه معلوميږی : فانه من صلی علی واحدة صلی الله عليه بها عشراً) چه دلته لفظ د من عام دے شامل دے مؤذن او غير مؤذن دواړو ته نو كه مؤذن درود اووائي نو دا به د هغه دپاره بد نه وی او دا به بدعت نه وی ان شاء الله ۔

اګركه پدے كښې دا تاويل هم كيدے شي چه د من نه مراد هغه څوك دے چه چاته خطاب متوجه دے ځكه دا ثواب د هغه چا ذكر كوی چه د هغه نه درود وئيل مطالبه شوی

وی لیکن د پیغمبر کلمات ډیر وزني دي نو تاویل نه کوو په خپل عموم باندے که پاتے شي نو هیڅ مانع نشته والله تعالى اعلم وعلمه احكم وبالله التوفيق ـ

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ بِهَا عَشْرًا : يعني الله تعلى به ورته د يو درود په بدله کښ لس رحمتونه ورکړی ـ

اَلْوَسِيْلَةَ : د وسيلے درے معانى راځي ۱- القربة : و كل ما يتقرب به الى الكبير ـ هر هغه شے چه په هغے سره لوئی ذات ته نزديکت راځي يعنى سبب د تقرب ـ ۲- په معنى د محبت هم راځي ۳- او وسيله : المنزلة العالية ته هم وائي دلته ترے مراد منزلة فى الجنة ده ـ فتح الباري (۲/۷۵) يعنى په جنت كښ اوچته مرتبه ده چه هغه صرف او صرف د رسول الله ﷺ پورے خاص ده ـ

بيا دے مرتبے ته ځکه وسيله وائي چه پدے كښ هم معنى د قرب شته او هغه داسے چه څوك دے درجے ته داخل شي هغه ته به د الله سبحانه وتعالى قرب او نزديکت حاصليږي او د هغه ديدار به ورته ميسّر كيږي ـ

وَاَرْجُوْ اَنْ اَكُوْنَ اَنَا هُوَ : يعني زما دا اميد دے چه زه به هغه بنده يم چه دغه بلنده مرتبه به ورته حاصليږي ـ

سوال دا دے چه هر كله چه دا مرتبه او درجه د رسول الله ﷺ پورے خاص ده نو رسول الله ﷺ (ارجوا) د اميد الفاظ ولے استعمالوی حال دا چه دده داخليدل خو يقيني دی ؟ ـ **الجواب** : (۱) – د ارجو لفظ نبي عليه السلام د عاجزئ او انكسارئ په طريقه وئيلے دے نو دا منافي د يقين سره ندے نو دا كنايه ده د يقين نه ـ

(۲)- **جواب** : علامه قرطبي" وائي : نبي عليه السلام دا حديث په هغه وقت كښ وئيلے وو چه الله تعالى ورته وحي نه وه كړے چه ته به ددے درجے مالك ئے، روستو ورته پته اولګيده نو ځکه د رجاء لفظ استعمالوی يعني دا د هغه په اجتهاد باندے بناء وو ځکه چه هر كله رسول الله ﷺ د تمام مخلوق نه افضل او بهتر دے نو دغه درجه چه په تمامو درجاتو كښ بهتره ده دا به ضرور د هغه سره مناسب وی ـ

بيا **سوال** دا دے چه هر كله نبي عليه السلام لره الله تعالى دغه مرتبه هسے هم وركوى نو مونږ ته څه ضرورت دے چه پيغمبر مونږ ته وائي ما دپاره دغه وسيله اوغواړئ ؟ ـ **الجواب** : (۱) – پدے كښ در حقيقت زمونږ دپاره فائده ده او هغه دا چه بل چا ته دعاء كولو سره ملائك ددے انسان دپاره دعاء كوی (ولك بمثل وائي) الله تعالى دے تالره

ددے پشان حاجت پوره کړی۔

★- دارنګه هر کله چه پیغمبر دے مرتبے ته اورسیدو نو د امت شفاعت به کوی نو پدے کښې د امت ګټه ده۔

۲- **جواب** : پدے دعاء کولو کښې زمونږ اظهار د محبت دے د رسول الله ﷺ سره او د هغه محبت دے زمونږ سره چه زمونږ نه د دعاء مطالبه کوی لکه یو دوست چه د بل دوست نه د دعاء مطالبه کوی۔

۳- **دریم جواب** : پدے کښې د الله تعالیٰ د امر او حکم تعمیل دے چه زما رسول الله ﷺ درته څه حکم کوی هغے باندے عمل اوکړئ نو دا بیا محض تعبد او عبادت شو۔

٤- **جواب** : هر شے الله تعالیٰ د سبب موافق مقرر کړیدے د جنت دپاره عمل هم سبب دے او د الله رحمت هم سبب دے او د مؤمنانو یو بل ته دعاء هم سبب دے نو دلته د رسول الله ﷺ عمل هم مؤثر بنفسه ندے بلکه هغه هم دعاء ته محتاج دے او د امت په ډیرو دعاګانو سره الله تعالیٰ د هغه درجه نوره هم اوچتوی لکه په درود سره ئے چه څنګه اوچتوی اوددے فائده بیرته امت ته راجع کیږی چه دوئ ته به ددے په بدله کښې اجور ملاؤ شی او د پیغمبر د شفاعت مستحق به شی۔

او پدے حدیث کښې د مفضول نه دعاء طلب شویده او دا هم جائز ده لکه دا خبره بار بار ذکر شویده۔

حَلَّتْ عَلَيْهِ : روستو حدیث د جابر کښې حلت له په لام سره راغلے دے حافظ فرمائی : لام په معنی د علیٰ دے ای استحقت ووجبت او نزلت علیه۔ یعنی زما سفارش به هغه دپاره مستحق او ثابت او لازم شی ۲- یا به پرے نازل شی۔ او دا د حل نه ندے چه په معنی د حلال والی سره شی څکه چه دا شفاعت خو اول دده دپاره حرام نه وو چه اوس ورله حلال شی۔ فتح الباری (۲/۷٦)۔

لیکن دا احتمال هم شته چه د حل نه شی نو معنی به دا شی چه حلال به شی زما سفارش هغه دپاره دا په هغه وقت کښې چه په هغه باندے شفاعت د بعض اعمالو او ګناهونو په وجه حرام شوے وی لکه دا په احادیثو کښې راغلی دی چه څوك د رسول الله ﷺ صحابه کرامو ته کنځل او بدرد وائی د هغه دپاره به نبی علیه السلام سفارش نکوی دارنګه څوك چه غنیمت کښې خیانت کوی د هغه دپاره به سفارش نکوی دارنګه څوك چه په دین کښې بدعات پیدا کوی د هغوی دپاره به سفارش نکوی نو پدے خلقو باندے

سفارش حرام دے نو پدے وخت کښې به د دواړو عملونو تعارض راشي که ګناه کمه وه نو هغه به ورته معاف شي ددے دعاء د طاقت په وجه او که هغه ګناه ئې زياته وه چه کفر ته ئې رسولے وو يا د معاف کيدو مستحق نه وو نو بيا به ددے دعاء طاقت کم شي او د سفارش نه به محروم شي لکه دا خبره په عام عباداتو او ګناهونو کښې ده چه د ګناه او يو عبادت تعارض راشي نو دغه شان معامله به پکښې کولے شي والله اعلم ۔

سوال دا دے : شفاعت خو يواځې ددے مؤمن پورے خاص ندے بلکه هغه خو به د عام ګناهګارو د امت دپاره وي نو شفاعت ثابتيدل څنګه ثواب جوړيږي ۔ ددے دعاء ويونکي دپاره، حال دا چه که څوك دا دعاء او نه غواړي هم د هغه دپاره د رسول الله ﷺ شفاعت شته ؟۔

الجواب : د رسول الله ﷺ دپاره د قيامت په ورځ ډير شفاعتونه دي لکه بغير د حساب نه جنت ته داخلول يا په جنت کښې درجات پورته کول يا د عذابونو کمول نو هر سړي ته به د هغه مناسب سفارش ورکولے شي نو چا چه د رسول الله ﷺ دپاره وسيله طلب کړے ده هغه دپاره به خصوصي او اعلیٰ سفارش وي اګرچه د نورو ګناهګارو دپاره به هم د هغوي د حال مطابق سفارش وي ۔

فائده : امام مهلبؒ فرمائي : پدے حديث کښې تيزي ورکول دي په دعاء غوختلو سره د مونځونو په اوقاتو کښې څکه پدے حالت کښې امید کيدے شي د اجابت د دعاء ۔ فتح الباری (۲/۷۶) ۔

فائده : پدے حديث کښې بشارت دے هغه چا ته چه دا دعاء غواړي نو د هغه خاتمه به الله تعالى نه خرابوي او په حسن الخاتمه به مري او دا دعاء يو سبب دے د حصول د حسن الخاتمے دپاره ۔ حلت له شفاعتي پرے دليل دے ۔ والله اعلم ۔

۵– وَعَنْ عُمَرَ رضي الله عنه ، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : اِذَا قَالَ الْمُؤَذِّنُ : اَللّٰهُ اَكْبَرُ، اَللّٰهُ اَكْبَرُ، فَقَالَ اَحَدُكُمْ : اَللّٰهُ اَكْبَرُ، اَللّٰهُ اَكْبَرُ . ثُمَّ قَالَ : اَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ، قَالَ : اَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ . ثُمَّ قَالَ : اَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللّٰهِ، قَالَ : اَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللّٰهِ . ثُمَّ قَالَ : حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ، قَالَ : لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ . ثُمَّ

قَالَ : حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ، قَالَ : لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ. ثُمَّ قَالَ : اَللهُ اَكْبَرُ، اَللهُ اَكْبَرُ، قَالَ : اَللهُ اَكْبَرُ، اَللهُ اَكْبَرُ. ثُمَّ قَالَ : لَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ قَالَ : لَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ مِنْ قَلْبِهٖ، دَخَلَ الْجَنَّةَ . رَوَاهُ مُسْلِمٌ .

ترجمه : او عمر رضی الله عنه فرمائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی : کله چه مؤذن الله اکبر، الله اکبر اووائی نو تاسو نه هم هر شخص الله اکبر، الله اکبر اووائی بیا کله چه مؤذن اشهد ان لا اله الا الله اووائی نو تاسو نه هم هر شخص اشهد ان لا اله الا الله اووائی، بیا کله چه مؤذن اشهد ان محمدا رسول الله اووائی نو تاسو نه هم هر شخص اشهد ان محمدا رسول الله اووائی بیا کله چه مؤذن حی علی الصلاة اووائی نو تاسو نه هر شخص لا حول ولا قوة الا بالله اووائی، بیا کله چه مؤذن حی علی الفلاح اووائی نو تاسو نه هر شخص لا حول ولا قوة الا بالله اووائی ۔ بیا کله چه مؤذن الله اکبر الله اکبر اووائی نو تاسو نه هر شخص الله اکبر الله اکبر اووائی او بیا کله چه مؤذن لا اله الا الله اووائی نو تاسو نه هر شخص لا اله الا الله اووائی ۔ څوك چه (د اذان په جواب کښې دا کلمات) د زړه په صدق سره اووائی نو هغه به جنت ته داخلیږی ۔ (مسلم) ۔

اِذَا قَالَ الْمُؤَذِّنُ : اَللهُ اَكْبَرُ، اَللهُ اَكْبَرُ، فَقَالَ اَحَدُكُمْ : اَللهُ اَكْبَرُ الخ

تشریح : دا الفاظ په دوه مسئلو باندے دلالت کوی (۱) – یوه دا چه په اذان کښې ترسل سنت دے ځکه چه کله مؤذن الله اکبر الله اکبر اووائی نو مینځ کښې به لګه دمه کوی دے دپاره چه اوریدونکی د اذان ته موقعه ملاؤ شی د هغے د جواب ورکولو ۔

(۲) – دویم : مؤذن دپاره دا ضروری ده چه دواړه تکبیرونه به په یوه ساه سره جمع کوی ځکه چه رسول الله ﷺ دواړه تکبیرونه په یو ځائے ذکر کړل او د یوے کلمے پشان ئے اوشمارل۔ او باقی کلمات به په جدا جدا ساه ګانو سره وائی ۔

بیا چونکه په اذان کښې ابتدائی تکبیر څلور کرتے دے خو لیکن دلته د اختصار په وجه سره دوه کرتے ذکر شو ځکه چه د جواب طریقے خودلو دپاره دوه کرتے وئیل کافی وو په دے وجه ئے روستو شهادتین او باقی کلمات ئے هم صرف یو یو ځل ذکر کړیدی ځکه چه دلته د اذان جواب ورکولو الفاظ خودل مقصود وو او د اذان الفاظ خودل مقصود ندی ځکه چه هغه خو د مخکښې نه معلوم دی ۔

لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللهِ : دا الفاظ به د اذان په جواب کښې څلور کرتے وائی ۔ ددے

معنی دا ده چه د بدو کارونو او گناهونو نه بچکیدل نشته او په نیك کارونو باندے قوت او طاقت نشته مگر دا تول د الله تعالی د طرفنه دی ۔ کله چه مؤذن حی عل الصلاة حی علی الفلاح اووائی نو هغه پدے سره خلق مانځه ته راغواړی لهذا د هغه په جواب کښ ددے کلمے ویونکے دا ظاهروی چه دا دیو عظیم امر او لویه فریضے اداء کولو معامله ده نو زه یو کمزورے او عاجز بنده یم، زما هیڅ قوت او طاقت نشته چه زه دا ذمه واری برداشت کړے شم دا خو صرف د الله تعالی په مدد او نصرت سره کیدے شی او مانځه ته راتلل چونکه د الله په مدد او قوت سره کیږی لهذا الله تعالی مونږ ته مدد راکوی چه مونږ مونځ دپاره راځو نو پدے کلماتو کښ تفویض الی الله دے ۔

بیا د حی علی الصلاة او حی علی الفلاح په جواب کښ لا حول ولا قوة الا بالله اوویلے شو ددے فائده امام نوویؒ داسے ذکر کړیده چه حی علی الصلاة الخ مانځه طرفته دعوت دے او دا خو د غیر مؤذن دپاره مناسب نده نو د اوریدونکی دپاره بل ذکر وئیل مستحب شو چه هغه لا حول ولا قوة الا بالله ده ځکه چه دا د هغه د حال مناسب ده لانه تفویض محض الی الله تعالی ۔ شرح المهذب (۳/۱۱۸)

فائده : د اذان جواب ورکول هر اوریدونکی له پکار دی، برابره خبره ده که په اوداسه کښ وی یا بے اودسه وی یا جنب وی یا حائضه زنانه وی خو پدے شرط چه موانع د جواب ورکولو نه نه وی موجود لکه مثلاً په قضاء حاجت کښ مشغول وی یا جماع کښ وی یا په مانځه ولاړ وی وغیره او هر چه تلاوت او علمی مجلس وغیره نور عباداتو کښ مشغول وی نو دا موانع ندی ۔ بیا که دد غه موانعو د ختمیدو نه بعد فصل ډیر نه وی تیر شوے نو جواب ورکول پکار دی ۔

مِنْ قَلْبِهٖ : (یعنی د زړه په صدق او خلوص سره) دا یا متعلق دے د لاحول ولا قوة الا بالله سره یعنی دا کلمه د زړه په صدق سره اووائی یا ددے تعلق د تول اذان سره دے یعنی په جواب کښ تول کلمات په پوره اخلاص او صدق سره اووائی او همدا عموم ډیر ظاهر دے۔

دَخَلَ الْجَنَّةَ : قاضی عیاضؒ وائی : جنت ته به ځکه داخلیږی چه ده اقرار د توحید او رسالت اوکړو او د الله تعالی د طاعت انقیاد ئے اوکړو او هغه ته ئے په لاحول الخ سره تفویض د تولو کارونو اوکړو او څوك چه دا کار اوکړی نو هغه د ایمان حقیقت راجمع کړو او کامل اسلام ئے حاصل کړو نو د الله تعالی په فضل سره به د جنت مستحق گرځی ۔مرعاة (۲/۳۶۵)۔

بيائے ماضی د مستقبل په ځائے ذکر کړه اشاره ده چه دخول د جنت يقينی دے خو دا په هغه وقت کښے چه کله ورسره نور ګناهونه مانع نه وی او که دا ورسره وی نو بيا به هم جنت ته داخليږی خو که الله تعالی ورته عذاب ورکولو اراده اوکړه نو ثانياً به جنت ته داخليږی وقد تقدم تحقيق ذلك مراراً ۔

٦ - وَعَنْ جَابِرٍ ﷺ، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : مَنْ قَالَ حِيْنَ يَسْمَعُ النِّدَاءَ : اَللّٰهُمَّ رَبَّ هٰذِهِ الدَّعْوَةِ التَّامَّةِ، وَالصَّلَاةِ الْقَائِمَةِ، آتِ مُحَمَّدًا الْوَسِيْلَةَ وَالْفَضِيْلَةَ، وَابْعَثْهُ مَقَامًا مَحْمُوْدًا الَّذِیْ وَعَدْتَّهُ، حَلَّتْ لَهُ شَفَاعَتِیْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ . رَوَاهُ الْبُخَارِیُّ

ترجمه : او جابر رضی الله عنه فرمائی : رسول الله ﷺ فرمائيلی دی : چا چه اذان اوريدو سره (يعنی د اذان ختميدو نه او د هغه د جواب ورکولو نه پس) دا دعا اولوسته نو د قيامت په ورځ په ماباندے د هغه شفاعت لازميږی ۔ دعا دا ده : (ترجمه) : اے الله ! مالك ددے دعا (اذان) او رب ددے مونځ قائميدونکی، زمونږ سردار محمد ﷺ ته وسيله (د جنت د تولو نه خاص او اعلیٰ درجه) او شرافت ورکړه او اورسوه هغه لره مقامِ محمود ته د کوم چه تا د هغه سره وعده کړيده ۔ (بخاری) ۔

تشريح : مَنْ قَالَ حِيْنَ يَسْمَعُ النِّدَاءَ : يعنی چا چه د اذان د اوريدو په وقت دا راتلونکی دعاء اولوستله ۔ پدے کښې دوه احتماله دی (۱) - يو دا چه د حين نه مراد دا دے چه کله د مؤذن اذان شروع وی نو په هغه وخت کښې به دغه دعاء وائی او فراغت د مؤذن پکښے شرط نه دے (۲) - دويم صحيح احتمال دا دے چه د حين يسمع نه مراد دا دے چه کله مؤذن پوره اذان ختم کړی او اوريدونکے ئے واوری نو روستو به دا دعا اووائی : او ددے احتمال دليل مخکښې حديث د عبد الله بن عمرو بن العاص دے چه په هغے کښې ثم صلوا علی ...... ثم سلوا الله لی الوسيلة الخ په لفظ د ثم سره راغلے دے دا واضح دليل دے چه د اذان د اختتام نه بعد به دا کلمات وئيلے شی ۔ بله دا چه دے حديث کښې حين مطلق دے او په کامل باندے به محمول وی او کامله سماع هغه ده چه اذان تول ختم شی ۔ فتدبر ۔

اَللّٰهُمَّ رَبِّ : اللهم په اصل کښې يا الله دے يا حذف شوه او په عوض کښې ئے په آخر کښې ميم راغلو او رب : يا منصوب دے دويمه منادیٰ ده چه حرف نداء ئے حذف دے يا

مرفوع دے خبر د مبتداء محذوف دے ای انت رب ـ

هٰذِهِ الدَّعْوَةِ : دعوه په فتحه د دال دے مراد ترینه اذان دے دلته د اذان نه په دعوت سره تعبیر اوکړے شو وجه دا ده چه په اذان سره خلقو ته د الله تعالی د ذکر او مونځ او عبادت طرفته دعوت ورکولے شي ـ

حافظ" فرمائي : د دعوت نه مراد دعوت د توحید دے لکه (لَهُ دَعْوَةُ الْحَقِّ) او بیا دے دعوت ته تامه : ځکه اووئیل شو چه توحید پوره مکمل دعوت دے او شرك خو نقصان دے یا ورته تام پدے وجه وائي چه پدے کښې تغییر او تبدیل نشي راتلے بلکه دا به د قیامته پورے باقي وي ـ فتح الباری (۲/۷۵) ابن التین" وائي : دے دعوت ته ځکه تامه اووئیل شو چه پدے کښې (اتم القول) پوره وینا ده چه هغه لا اله الا الله ده ـ او د رب معنی ده صاحب او متمم وغیره یعنی اے الله چه ته مالك ددے دعوت ئے او پوره کونکے ئے ددے او ددے اهل زیاتونکے ئے او ددے په وینا باندے پوره او بنائسته بدله ورکونکے ئے او پدے باندے امر کونکے ئے ـ

وَالصَّلَاةِ الْقَائِمَةِ : یعنی هغه مونځ چه قائم کیدونکے دے، مونځ ته ئے قائم ځکه اووئیلو چه دا به د قیامته پورے قائم او دائم وي ـ بعض وائي : دا عطف تفسیر دے د الدعوة التامه ځکه صلاة په معنی د دعاء دے ـ خو اوله خبره واضحه ده ـ

وَالْفَضِيْلَةَ : دا یا عطف تفسیر دے د الوسیله دپاره ۲– یا ددے نه مراد زیاتی مرتبه ده په ټولو مخلوقاتو ـ

وَابْعَثْهُ مَقَامًا مَحْمُوْدًا : راپورته کړے ده لره هغه مقام (ځائے) ته چه اولین او اخیرین به ئے صفت کوي (ای یحمده الاولون والآخرون) «مقام محمود» د شفاعتِ عظمیٰ مقام دے کوم چه د رسول الله ﷺ پورے خاص دے او دا هغه مقام دے چه د قیامت په ورځ به په میدان حشر کښې هر طرفته نفسي نفسي آوازونه خیږي د قیامت په سختیو اوګرمۍ او بد حالۍ په حالت کښې چه نمر به یوه نیزه رانزدے شوے وي، پنځوس زره کاله ورځ به وي، انسانان به د حساب او کتاب په انتظار کښې وي چه خپل مینځ کښې به اووائي راځئ چه رسولانو او انبیاؤ له ورشو چه الله تعالی ته زمونږ سفارش اوکړي چه حساب شروع کړي نو آدم علیه السلام نه به شروع اوکړي او بیا به هر رسول بل روستني باندے حواله ورکړي د سفارش جرأت به نشي کولے ـ او وائي به چه محمد رسول الله ﷺ ته ورشئ ځکه هغه ته مخکني او روستني تمام ګناهونه معاف شویدي، آخر دا چه نبي علیه السلام ته به

راشي، نبي علیه السلام به ورته اوفرمائی (انا لها) زه ددے سفارش کولو مستحق يم نو هغه ته به د سجدے حکم اوشي او د سجدے نه بعد به سفارش شروع کړی نو دا هغه مقام محمود دے چه ټول مخلوق کښ به د هر شخص په ژبه د هغه تعريف او صفت وی او د هغه عظمت او مرتبه به ورته معلومه شي ـ

اَلَّذِیْ وَعَدْتَّهٗ : يعني هغه مقام محمود چه تا ورسره وعده کړیده پدے قول خپل سره ﴿ عَسٰی اَنْ یَّبْعَثَکَ رَبُّکَ مَقَاماً مَّحْمُوْداً ﴾ الاسراء (۷۸) ـ

فائده : پدے دعاء کښ بعض الفاظ خلقو د ځان نه زياتي کړيدی او بعض مختلف فيه دی چه تفصيل ئے دا دے ـ بعض خلقو دوالفضيلة لفظ نه روستو ((والدرجة الرفيعة)) زياتی کړيدے دا خو بالکل په هيڅ روايت کښ نشته ـ په عمل اليوم والليله د ابن السنی کښ راغلے دے ليکن هغه روايت د نسائی دے او په نسائی کښ دا نشته لکه ملا علی القاری په مرقاة (۱۶۳/۲) کښ ليکی : واما زيادة والدرجة الرفيعة المشتهرة على الالسنة فقال السخاوی لم اره فی شئ من الروايات انتهٰی ـ دا هسے د عوامو په خولو کښ مشهوره شويده او هيڅ ثبوت نه لري او دغه شان خبره حافظ په تلخيص (۷۸) کښ او علامه سخاوي په المقاصد الحسنة (۲۱۲) کښ ذکر کړيده چه دا د ځان نه چا پدے حديث کښ زيادت کړيدے ۲– دارنګه ((وارزقنا شفاعته يوم القيامه)) پس د ((وعدته)) نه دا هم په هيڅ صحيح حديث کښ ندی ثابت نو ددے وئيل هم بدعت دے ـ

۳– ((انك لا تخلف الميعاد)) : په آخر د دعاء کښ په روايت د بيهقی کښ راغلے دے ليکن هغه شاذ روايت دے مدار د حديث علی بن عياش دے او د هغه نه په هيڅ يو سند کښ دا الفاظ ندی نقل صرف يو شاګرد ئے نقل کوی ـ کذا فی ارواء الغليل (۲۶۰/۱) رقم (۲۴۳) ـ

بعض علماء وائي دا زيادت د ثقه دے او زيادت د ثقه راوی مقبول وی نو که چا پرے هميشه عمل اوکړو نو جائز به وی ـ ۴– دارنګه په يوه نسخه د شرح معانی الاثار د طحاوي کښ ((سيدنا محمد)) لفظ راغلے دے دا هم شاذ دے او دا لفظ پکښ ادراج د راوی دے، کما فی الارواء (۲۶۱) وفتاوی الدين الخالص (۱۶۸/۳)ـ

۵– او په آخر کښ ((يا ارحم الراحمين)) وئيل هم بدعت دی ځکه چه دا هم په هيڅ حديث کښ ندے راغلے ـ ملا علی القاری په (۱۶۶/۲) او رافعیؒ په المحرر کتاب کښ ليکی چه دا په هيڅ کتاب د حديثونو کښ ندے راغلے ـ نقله الحافظ فی التلخيص (۷۸)

وانظر العرف الشذی (۱/۵٤) لانور شاه الکشمیریؒ ۔

٦– دارنگه ((اللهم انی اسئلك بحق هذه الدعوة)) په روایت د بیهقی کښې راغلې دے نو دا هم شاذ دے د نورو روایاتو خلاف دے نو صحیح دعاء هغه ده چه پدے روایت د جابر کښې راغلې ده او په همدے کښې د سنت تابعداری ده والله تعالی اعلم ۔

۷– وَعَنْ اَنَسٍ ﷺ، قَالَ : كَانَ النَّبِيُّ ﷺ يُغِيْرُ اِذَا طَلَعَ الْفَجْرُ، وَكَانَ يَسْتَمِعُ الْاَذَانَ، فَاِنْ سَمِعَ اَذَاناً اَمْسَکَ، وَاِلَّا اَغَارَ . فَسَمِعَ رَجُلًا يَقُوْلُ : اَللّٰهُ اَكْبَرُ، اَللّٰهُ اَكْبَرُ. فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : عَلَى الْفِطْرَةِ . ثُمَّ قَالَ : اَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ. فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ: خَرَجْتَ مِنَ النَّارِ. فَنَظَرُوْا اِلَيْهِ فَاِذَا هُوَ رَاعِيْ مِعْزًى . رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه : او انس رضی الله عنه وائی : نبی کریم ﷺ به (چه کله لښکر ځان سره واخستو او یو ځائے ته به تلو نو) د صبا په راختلو به ئے (په دشمن باندے) حمله کوله او (د صبا کیدو په وخت کښې به ئے) د اذان انتظار کولو (د هغه علاقے نه په کوم باندے چه به د حملے اراده وه) که د اذان آواز به ئے واوریدو نو نبی اکرم ﷺ به د حملے نه بندیدو او که (د اذان) آواز به ئے وانه وریدو نو حمله به ئے کوله ۔ نو یو ځل کله چه رسول الله ﷺ په دشمن باندے د حملے دپاره تلو نو په یو مقام کښې هغه د یو شخص نه الله اکبر الله اکبر وینا واوریده ۔ نبی کریم ﷺ اوفرمائیل : چه دا شخص د اسلام په (طریقه) باندے دے (ځکه اذان خو مسلمان وائی) بیا دے شخص اووئیل : اشهد ان لا اله الا الله (زه ګواهی ورکوم چه د الله نه سوا هیڅوك حقدار د بندګئ نشته) نبی علیه السلام (ددے په اوریدو سره) اوفرمائیل : چه ته (د شرك نه د منع کیدو په وجه سره) د دوزخ نه اووتلے ۔ صحابه کرامو (څلور واړو طرفونو ته اوکتل چه معلومه کړی چه اذان کونکے څوك دے ؟) وے لیدل چه هغه بیزے څرونکے شخص دے ۔

تشریح : **یُغِیْرُ** : دا د باب افعال نه د اِغَارَةٌ نه ماخوذ دے، لوټ مار او حملے کولو ته وائی ۔ د رسول الله ﷺ عادتِ مبارکه دا وو چه هغه به کله په کافرانو باندے حمله کوله نو په صبا وقت کښې به ئے کوله ځکه چه دا وقتِ د غفلت دے، عام کافران او دنیا پرست

خلق غافل پراته وي ۔ دارنگه پدے سره پته لګی چه پدے علاقه باندے حمله کیدے شي چه آیا پدے کښې مسلمانان شته او که نه کافران اوسیږي نو رسول الله ﷺ به د صبا په وقت کښې انتظار کولو چه آیا ددے علاقے نه د اذان آواز راځي چه حمله پرے اونکړے شي نو که اذان به ئے وانه وریدو بیا به ئے پرے بغیر د خبر ورکولو نه حمله کوله ۔

نو ددے حدیث نه معلومه شوه چه د اذان کیدل او نه کیدل د ایمان او کفر علامه او نخه شمارلے شویده نو دا دلیل دے په فرضیت د اذان باندے۔ دارنګه کوم کلی او علاقے والاچه قصداً اذان پریدی نو د هغوی سره به قتال کیدلے شی ځکه چه د اسلام شعارئے پریخودلے دے ۔

فائده عجیبه : دے حدیث نه دا خبره هم مستنبط کیږي چه کوم مجاهدین جهاد کوی او د هغوی دشمنان د اسلام نه صرف دومره خبر وی چه اسلام یو دین دے چه څه خلق ئے دعوه کوی اګرکه ددے د تفصیلاتو نه نه وی خبر نو هغوی ته که صراحةً دعوت ورنکړے شي او همداسے حمله پرے اوکړے شي نو دا کار به بالکل موافق د شریعتِ اسلامی وی او په دوی باندے به دا طعن او تنقید نشی کیدے چه تاسو اول دے کفارو ته دعوت ورکړئ او بیا ورسره جهاد کوئ لکه ډیر ناپوهه دا خبره کوی چه روسان، انګریزان (یهود، نصارا) سره جهاد کول نشته بلکه هغوی ته د کلمے دعوت پکار دے روستو جهاد۔

عَلَى الْفِطْرَةِ : ای انت علی الفطرة ای الاسلام ۔

رَاعِيْ مِعْزًى : په کسره د میم سره او په تنوین سره په معنی د معز سره او معز اسم جنس دے، چیلو ته وائی ددے مقابل ضأن دے ۔

دا حدیث دلیل دے چه یوائے شخص لره هم اذان کول لازم دی اګرکه د جماعت موقعه ورته نه ملاویږي او په مرفوع روایت کښې پدے باندے امر راغلے دے (ثم تشهد واقم) السلسلة الصحیحة ۔

۸– وَعَنْ سَعْدِ بْنِ اَبِيْ وَقَّاصٍ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : مَنْ قَالَ حِيْنَ يَسْمَعُ الْمُؤَذِّنَ : اَشْهَدُ اَنْ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ، وَاَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ، رَضِيْتُ بِاللهِ رَبًّا وَبِمُحَمَّدٍ رَسُوْلًا، وَبِالْاِسْلَامِ دِيْنًا . غُفِرَ لَهٗ ذَنْبُهٗ . رَوَاهُ مُسْلِمٌ .

ترجمه : او سعد بن ابی وقاص رضی الله عنه نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلی دی : څوك چه د مؤذن (اذان) اوريدو سره دا اووائی : چه اشهد ان الخ : زه ګواهی ورکوم چه د الله نه سوا هيڅوك حقدار د بندګئ نشته او نه د هغه هيڅوك شريك شته او زه ګواهی ورکوم چه محمد (ﷺ) د الله بنده او رسول دے او زه د الله تعالی په رب کيدو، د محمد ﷺ په رسول کيدو او د اسلام په دين کيدو باندے راضی يم نو د هغه ګناهونه به اوبښلے شی ۔ (مسلم) ۔

حِيْنَ يَسْمَعُ الْمُؤَذِّنَ :

تشريح : د يسمع مفعول محذوف دے ای يسمع قوله ۔

ملا علی القاریؒ ليکی : چه دا دعاء به د اذان نه روستو وائی او دا مناسبه خبره ده ځکه چه که دا دعاء په مينځ د اذان کښ اووائی نو ډير کرتے د بعض کلماتو د اذان جواب به ترے فوت شی نو په جواب د اذان کښ به ګډوډ والے راشی ځکه چه مقصود دا دے چه د اذان جواب ورکړے شی سره ددے زيادت نه او دا خو د اذان نه بعد حاصليږی ۔ مرقاة (۱٦٤/۲) ۔

۲– قول دا دے (وهو الظاهر) چه دا به د اشهد ان لا اله الا الله په وقت کښ وائی او همدا راجح قول دے ۔ دليل دا دے چه صحيح ابن خزيمه (۱/ ۲۲۰) رقم (٤۲۲) کښ حديث د سعد بن ابی وقاصؓ دے : ان رسول الله ﷺ قال : من سمع المؤذن يتشهد فالتفت فی وجهه فقال اشهد ان لا اله الا الله وحده لا شريك له وان محمداً رسول الله رضيت بالله رباً وبالاسلام ديناً غفر له ما تقدم من ذنبه انتهی ۔ واخرجه الطحاوی فی شرح معانی الآثار (۱/ ۱۱۰) وفيه : من قال حين يسمع المؤذن يتشهد الحديث ۔

نو دے دواړه حديثونو کښ تصريح ده چه دا ذکر به د شهادتينو په وقت کښ لوستلے شی ۔ دغه شان صحيح ابی عوانة (۱/ ۳٤۰) کښے حديث دے : من قال حين يسمع المؤذن، اشهد ان لا اله الا الله قال اشهد ان لا اله الا الله رضيت بالله رباً الخ ۔

ددے وجه نه شيخ ابو حاتم په کتاب الاذان ص (۱۷۳) کښ فرمائی : چه ابو عوانه په مستخرج علی صحيح مسلم کښ حديث راوړيدے (کوم چه مخکښ ذکر شو) او د هغه لفظ اصرح دے په دے کښ چه دا دعاء به د مؤذن د اشهد ان لا اله الا الله د ويناپه وقت کښ وئيلے شی ۔ شاه انور شاه صاحب په العرف الشذی حاشية الترمذی (۱/ ٥٦) کښ ليکی : ددے دعاء په محل کښ تردد واقع شويدے چه آيا دا بدل د شهادتين دے او که د اذان د

فراغت نه بعد به لوستلے شی خو په معانی الآثار کښې تصریح ده چه دا بدل د شهادتین ده ځکه په هغې کښې حین یسمع المؤذن یتشهد الخ لفظ دے انتهىٰ ۔
لیکن که چا د اذان نه پس اولوستله نو ان شاء الله چه جائز به وی، وجه دا ده چه کیدے شی دلته تشهد په معنی د ټول اذان سره وی ځکه چه په شرح معانی الآثار (۱/۱۰۸) کښې ټول اذان ته هم تشهد وئیلے شویدے، د ابو هریره په مرفوع روایت کښې دی: اذا تشهد المؤذن فقولوا مثل ما یقول والله اعلم ۔ او مخکښې حدیث (تشهد واقم) کښې هم تشهد نه مراد مکمل اذان دے ۔
فائده : پدے دعاء کښې د اشهد ان لا اله الا الله په ځائے بل روایت د مسلم کښې وانا اشهد ان لا اله الا الله علامه سندی په حاشیه د نسائی (۱۱۰)کښې فرمائی: وانا اشهد به عطف وی په قول د مؤذن باندے معنی به دا وی چه زه هم ګواهی د توحید ورکوم لکه څنګه چه ته ګواهی د توحید ورکوے (وانا اشهد کما تشهد) او په روایت د نسائی (۱/۱۱۰) کښې دا دعاء داسے راغلے ده (وانا اشهد ان لا اله الا الله وحده لا شريك له وان محمدا عبده ورسوله رضیت بالله ربا وبالاسلام دینا وبمحمد رسولا وسنده صحيح انظر صحيح سنن النسائي
رَضِيْتُ بِاللّٰهِ رَبًّا : ربا تمیز دے او رب په معنی د ربوبیت سره یعنی زه د الله نه د هغه په ربوبیت او ټول قضاء او تقدیر سره راضی یم ۲– یا حال دے ای رضیت بالله مُرَبِّيًا وَمَالِكًا وَسَيِّدًا وَمُصْلِحًا ۔
رَسُوْلًا : معنی ده برسالته ای بجمیع ما ارسل به من الاعتقادیات والاعمال والاقوال ۔
وَبِالْإِسْلَامِ دِيْنًا : یعنی په اسلام باندے راضی یم په اعتبار د اعتقاد (عقیدے لرلو) سره او د هغه د منلو او غاړه کیخودلو په اعتبار سره ۔

۹– وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مُغَفَّلٍ رضي الله عنه، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : بَيْنَ كُلِّ اَذَانَيْنِ صَلَاةٌ، بَيْنَ كُلِّ اَذَانَيْنِ صَلَاةٌ . ثُمَّ قَالَ فِى الثَّالِثَةِ : لِمَنْ شَاءَ . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ .

ترجمه : او د عبد الله بن مغفل رضی الله عنه نه روایت دے فرمائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی: د هر دوه اذانونو ترمینځ مونځ دے، د هر دوه اذانونو ترمینځ مونځ دے

او بیا په دریم ځل ئې دا اوفرمائیل : چه (دا مونځ) د هغه چا دپاره دے چه اراده ئې وی ـ (بخاري ومسلم) ـ

بَيْنَ كُلِّ اَذَانَيْنِ صَلَاةٌ الخ

تشریح : د اذانین نه مراد اذان او اقامت دے او دا د باب تغلیب نه دے لکه قمرین، عمرین وغیره یا اقامت او اذان دواړو ته حقیقةً اذان وئیلے شی ځکه د اذان معنی ده اعلام او اعلان کول او په اذان کښے اعلام وی په دخول د وقت باندے او په اقامت کښ اعلام وی په حضور د فعل الصلاة باندے مطلب د حدیث دا دے چه د اذان او تکبیر په مابین کښ نفل مونځ کول د فلاح او سعادت کار دے او نبی علیه السلام د اذان او اقامت ترمینځ د نوافلو ته ترغیب ورکولو دپاره دا جمله درے کرتے مکرر کړه ځکه د اذان او اقامت ترمینځ وقت ډیر زیات د برکت او فضیلت او شرافت والا دے لکه چه نبی علیه السلام فرمائیلی دی: لایرد الدعاء بین الاذان والاقامة (ابوداود) د اذان او اقامت ترمینځ دعاء نه رد کیږی نو دا بهترین وقت دے د مانځه دپاره او هر کله چه دا وقت برکت والا دے نو پدے کښے به د عبادت ثواب هم زیات ملاویږی ـ

بله وجه دا ده چه پدے نفل کولو سره فرائضو کښ خشوع پیدا کیږی ـ

په دریم ځل نبی علیه السلام لمن شاء: لفظ ذکر کړو یعنی که د چا زړه غواړی نو اوډ کړی مقصود پدے جمله کښ دا دے چه دا مونځ فرض ندے بلکه د سنت او مستحب درجه کښ دے ـ

مسئله : د ماښام مانځه نه مخکښ د دوه رکعاته نفل کولو حکم

دا مسئله هم د نورو مسائلو پشان اختلافی ده ـ

۱ – **د امام شافعی**، احمد، اسحاق او اصحاب الحدیث او د یو عظیم جماعت د صحابو مسلك دا دے چه د ماښام د اذان نه بعد او د اقامت نه مخکښے دوه رکعاته نفل کول سنت او مستحب دی او دا یو روایت د امام مالكؒ نه هم دے ـ

ددے علماؤ سره ددے رکعتینو په استحباب باندے ډیر زیات دلائل دی چه تقریباً (۳۲) ته رسیږی څه قولی احادیث دی او څه فعلی او څه تقریری او څه آثار د صحابه کرامؓ دی چه تفصیل ئې داسے دے :

۱ – **اول قولی حدیث** : دا حدیث د عبد الله بن مغفلؓ دے (بین کل اذانین صلاة)

ځکه چه دلته عموم شویدے چه د هر اذان او اقامت ترمینځ د نفل مونځ شته او نبی علیه السلام ددے ترغیب ورکړیدے په تکرار ددے جملے سره درے کرتے (متفق علیه) اخرجه البخاری (۸۷/۱) ومسلم (۲۲۸/۱) واحمد (۸٦/٤) وابن ماجه (۱۱٦۲) والترمذی (۱۱۱۵) والنسائی (۲۸/۲) وابوداود (۱۲۸۳) والسنن الکبری (۳۵۲) و (۵۱۷۱) والدارمی (۱٤٤۷)۔

۲- دلیل : حدیث د عبد الله بن مغفلؓ دے : قال قال رسول الله ﷺ صلوا قبل المغرب صلوا قبل المغرب ثم قال فی الثالثة لمن شاء کراهیة ان یتخذها الناس سنة (بخاری : ۸۷/۱) ومسلم (۲۷۸/۱) وسیأتی فی المشکوة (۱۰٤/۱) نو دلته نبی علیه السلام حکم اوکړو چه د ماښام مانځه نه مخکښ مونځ اوکړئ او بیا ئے اوفرمائیل: چه د چا خوښه وی اودِ کړی ځکه چه خلق ئے لازمه او فرض طریقه جوړه نکړی ځکه چه دا دوه رکعاته خو نفل او مستحب دی (فرض ندی) د سُنَّةً : نه مراد پدے مقام کښ طریقه لازمه او ضروریه ده لکه د فرضو پشان بعض بے علمه ددے روستنو الفاظو نه استدلال کوی په عدم سنیت د رکعتین قبل المغرب باندے او دا معنی کوی : چه خلق ددے نه سنت جوړ نکړی نو وائی دا سنت ندی ۔ دا بالکل د تحریف معنوی مصداق دے ۔ حنفی عالم امام عینی په عمدة القاری (۲٤٦/۷) د سنةً لفظ معنی کوی : ومعنی سنة : طریقة لازمة یواظبون علیها انتهیٰ ۔ یعنی خلق ئے لازمه طریقه او ضروری او فرض اونه ګنړی او فرض ترے جوړ نکړی ۔

۳- حدیث : د عبد الله بن زبیرؓ دے : قال قال رسول الله ﷺ : ما من صلاة مفروضة الا وبین یدیها سجدتان یعنی الرکعتین ، اخرجه ابن نصر المروزی فی قیام اللیل ص (۷۱) واورده الشیخ الالبانی فی الصحیحة (۲۳۲) وصحیح الجامع (۵۷۳۰) وقال صحیح، کنوز الحقائق (۱٤٦/۱) رقم (٦۸۹٦) وابن حبان فی صحیحه (۲٤۵۵) باسناد قوی راجع هامش مجمع الزوائد (۲۳۱/۲) رقم (۳۳۹۲) دا خو قولی سنت شو اوس فعلی سنت اوګوره ۔

٤- عن عبد الله بن المغفل المزنی ان رسول الله ﷺ صلی قبل المغرب رکعتین ۔ اخرجه ابن حبان فی صحیحه (۸۸/۳) رقم (۱۵۸۸) وموارد الظمآن (۲۷٤/۱ رقم : ٦۱۷) وقال محققه : صحیح، وابن نصر المروزی فی قیام اللیل (۷۷) وصححه ۔

۵- حدیث : عن ابن بریدة عن عبد الله بن المزنی ان رسول الله ﷺ صلی قبل المغرب رکعتین ثم قال صلوا قبل المغرب رکعتین ثم قال فی الثالثة لمن شاء خاف ان یحسبها الناس سنة، اخرجه ابن نصر فی قیام اللیل (۷۱) باسناد صحیح ورواه البخاری ایضا (۱۵۷/۱) لکن حدیث البخاری قولی ۔ دا هم سنتِ فعلی شو نو دوه حدیثونه په سنت فعلی کښ ثابت شو۔

٦- حدیث : عن مرثد بن عبد الله قال : اتیت عقبة بن الجهنی فقلت : الا اعجبك من

ابى تميم يركع ركعتين قبل صلاة المغرب فقال عقبة انا كنا نفعله على عهد رسول الله ﷺ، قال فما يمنعك الآن ؟ قال : الشغل، اخرجه البخارى (۱/۱۵۷) واحمد (٤/۱۵۵) والنسائى (۱/۲۸۲) والبيهقى فى الكبرى (۱/۳۵۱) وانظر المسند الجامع (۱۳/ ۲۰) رقم (۹۸۲۷) والمشكاة (۱/۱۰۵) ـ

۷- **حديث** : عن المختار بن فلفل قال : سألت انس بن مالك عن التطوع بعد العصر فقال كان عمر يضرب الايدى على صلوة بعد العصر و كنا نصلى على عهد النبى ﷺ ركعتين بعد غروب الشمس قبل صلوة المغرب فقلت له : اكان رسول الله ﷺ صلاهما ؟ قال : كان يرانا نصليهما فلم ينهنا ولم يأمرنا، اخرجه البخارى (۱/۸۳) ومسلم (۱/۲۷۸) واللفظ له وابوداود (۱۲۸۲) والمسند الجامع (۱/۳۸۵) رقم (۵۵٤) وسيأتى فى المشكوة (۱/۱۰۵) ـ دا حديث سنت تقريرى شو ـ

تنبيه : د رسول الله ﷺ نه دا فعل پخپله ثابت دے ليكن احياناً او امر هم ثابت دے كما مرّ ليكن هغه هم استحباباً دے نو د فلم يأمرنا معنى دا ده چه فلم يأمرنا وجوباً يعنى په طريقه د وجوب ئے حكم ندے كړے ـ

۸- **حديث** : انس بن مالك رضي الله عنه : قال كنا بالمدينة فاذا اذن المؤذن لصلوة المغرب ابتدروا السوارى فركعوا ركعتين حتى ان الرجل الغريب ليدخل المسجد فيحسب ان الصلاة قد صليت من كثرة من يصليهما ، اخرجه مسلم (۱/۲۷۸) وفى المسند الجامع (۱/۳۸٤) رقم (۵۵۲) يعنى انس فرمائى : مونږ په مدينه كښ وو كله به چه مؤذن د ماښام د مانځه اذان اوكړو نو صحابه كرامؓ به ستنو طرفته په منډه راغلل او دوه ركعاته نفل به ئے اوكړل دومره زياتو صحابه كرامو به كول چه تردے كه يو مسافر سړے به مسجد ته راننوتو هغه به دا گمان كولو چه مونځ شويدے ـ

۹- **حديث** : انس بن مالك رضي الله عنه : قال : لقد ادركت كبار اصحاب النبى ﷺ يبتدرون السوارى عند المغرب وزاد شعبة عن عمرو عن انس : حتى يخرج النبى ﷺ اخرجه البخارى (۱/۷۲- ۸۷) ـ

فائده : ددے حديث نه دوه فائدے معلومے شوے يوه دا چه دا قولِ كبار اصحاب النبى ﷺ الخ دا دليل دے چه خلفاءِ اربعه و به دا ركعتين كول ځكه كبار صحابه و كښ دوئ هم شامل دى نو كوم مقلدين چه دا وائى چه دا ابوبكر او عمر ندى كړى، غلط وائى وسيأتى مزيد توضيح لهذا ـ

۲- دويم : د اذان نه روستو سمدست مانځه ته ندى اودريدلى بلكه رسول الله ﷺ د

رکعتین نه روستو مانځه ته راوتلے دے نو ماښام وغیره کښې سمدست اودریدل بدعت دے۔

۱۰- حدیث : انس بن مالك رضي الله عنه : كان اذا قام المؤذن فاذّن صلوة المغرب فى مسجد المدينة قام من شاء فصلى حتى تقام الصلوة ومن شاء ركع ركعتين ثم قعد وذلك بعينى النبى ﷺ (اى باطلاعه وروٴيته) اخرجه احمد (۱۹۹/۳) و(۲۱٦/٤) مع الفتح الربانى ورجاله ثقات قاله الشيخ الساعاتى فى بلوغ الامانى (۲۱٦/٤) والمسند الجامع (۳۸٦/۱) رقم (۵۵٦)

دا هم تقریری حدیث دے۔

۱۱- حدیث : انس بن مالك رضي الله عنه : كان المؤذن اذا اذن قام اصحاب رسول الله ﷺ يبتدرون السوارى حتى يخرج رسول الله ﷺ وهم كذلك يعنى الركعتين قبل المغرب ولم يكن بين الاذان والاقامة الا قريب ـ اخرجه احمد (۲۱٦/٤) مع الفتح الربانى، والدارمى (١٤٤٨) والبخارى (١٦١/١) والنسائى فى الكبرىٰ (١٥٧٢) وفى المجتبىٰ (٢٨/٢) وابن خزيمة (١٢٨٨) : المسند الجامع (٣٨٣/١ رقم : ٥٥٠) ـ

۱۲- حدیث : عن ابى فزارة قال : سألت انساً عن الركعتين قبل المغرب قال : كنا نبتدرهما على عهد رسول الله ﷺ اخرجه احمد (١٢٩/٣) قال حدثنا محمد بن جعفر قال حدثنا شعبة عن يعلى بن عطاء عن ابى فزارة راشد بن كيسان فذكره، المسند الجامع (٣٨٤/١) ـ

۱۳- حدیث : عن ثابت قال سمعت انساً يقول : كان رسول الله ﷺ يخرج علينا بعد غروب الشمس وقبل صلوة المغرب فيرانا نصلى فلا ينهانا ولا يأمرنا (وجوباً)، اخرجه عبد بن حميد رقم (١٣٢٢) انظر المسند الجامع (٣٨٥/١) ـ

۱٤- حدیث : عن راشد بن كيسان قال : اشهد على خمسة من اصحاب رسول الله ﷺ ممن بايع تحت الشجرة انهم كانوا يصلون ركعتين قبل المغرب، رواه مسدد والبيهقى فى سننه ـ اتحاف السادة المهرة فى زوائد المسانيد العشرة للبوصيرى (٤٩/٣) رقم (١٩٥٨) ـ

۱۵- حدیث : وعن عبد الله بن ابى الهذيل قال : دعوت رجلاً من اصحاب النبى ﷺ الى منزلى فلما اذن المؤذن المغرب قام فصلى فسئلته عن ذلك فقال : كان ابى بن كعب يصليهما ـ رواه مسدد ورجاله ثقات : اتحاف السادة المهرة (٤٩/٣) رقم (١٩٥٧) وذكره الحافظ ابن حجر فى المطالب العالية رقم (٥٥٧) ـ

۱٦- حدیث : عن زر بن حبيش قال : كان عبد الرحمن بن عوف وابى بن كعب يصليان قبل المغرب اخرجه عبد الرزاق فى المصنف (٤٣٤/٢) واسناده صحيح وفى رواية لايدعان ذلك (همیشه به ئے کول) دا رد دے په هغه چا چه وائی : دا نفل مهاجرینو ندی

كړي ځكه عبد الرحمن بن عوف خو د مهاجرينو نه دے او پدے باندے ئے هميش والے كړيدے ـ

۱۷– وعن سعيد بن المسيب قال : كان المهاجرون لايركعون الركعتين قبل المغرب وكانت الامصار تركع بهما قال الزهرى وكان انس يركعهما ـ اخرجه عبد الرزاق (۴۳۵/۲) ـ

محمد بن نصر المروزى فرمائي : هذا قاله سعيد على الاغلبية والا فعبد الرحمن بن عوف قد صلاهما دائماً كما تقدم عنه، فتاوى الدين الخالص (۱۹۵/۳) ـ يعنى د سعيد بن المسيبؒ داخبره په اغلبيت باندے بناء ده، ورنه عبد الرحمن بن عوفؓ مهاجر دے او هميشه به ئے دغه نفل كول خو سعيد اكثر مهاجرين پدے عمل باندے نه وو ليدلى، نو دا د هغه د خپل علم مطابق خبره ده، ورنه مخكښ تير شو چه مشران او غټان صحابو به د ماښام نه مخكښے دوه ركعاته نفل كول ـ

۱۸– حديث : و اخرج ابن نصر عن عبد الرحمن بن ابى ليلىٰ : ادركت إصحاب محمد ﷺ وهم يصلون عند كل تأذين، قيام الليل لابن نصر (۷۳) ـ

۱۹– وعن رغبان مولىٰ حبيب بن مسلمة قال : لقد رأيت اصحاب رسول الله ﷺ يهبون اليهما كما يهبون الى المكتوبة يعنى الركعتين قبل المغرب، اخرجه ابن نصر (۷۳) يهبون اى ينهضون اليهما (هامش قيام الليل) ـ

۲۰– حديث : عن عبد الله بن عمرو الثقفى : رأيت جابر بن عبد الله يصلى الركعتين قبل المغرب ، اخرجه ابن نصر فى قيام الليل (۷۴) و تحفة الاحوذى (۱۶۴/۱)ـ

۲۱– حديث : عن خالد بن معدان انه كان يركع ركعتين بعد غروب الشمس قبل صلوة المغرب لم يدعهما حتى لقى الله وكان يقول : ان ابا الدرداء كان يركعهما ويقول : لا ادعهما وان ضربت بالسياط اخرجه ابن نصر فى قيام الليل ص (۷۴) تحفة الاحوذى (۱۶۴/۱) ـ

۲۲– حديث : عن مجاهد : قالت الانصار : لا نسمع اذاناً الا قمنا فصلينا (الركعتين) اخرجه ابن نصر ـ

۲۳– حديث : وسئل رجل ابن عمر : فقال ممن انت قال : من اهل الكوفة قال من الذين يحافظون على ركعتى الضحى فقال : وانتم تحافظون على الركعتين قبل المغرب، فقال ابن عمر : كنا نحدث ان ابواب السماء تفتح عند كل اذان ـ قيام الليل لابن نصر (۷۴) ـ

نو ابن عمرؓ دمهاجرينو نه دے او هميشه ركعتين قبل المغرب كوى بلكه ددے (وانتم) صيغے نه د ټول مهاجرينو مداومت معلوميږى ـ

۲۴– حديث : وسئل عن قتادة عن الركعتين قبل المغرب فقال كان ابوبرزة رضى الله

عنه یصلیهما۔ قیام اللیل، تحفة الاحوذی (۱/۱٦٤) ۔

۲۵- **حدیث** : عبد اللّٰه بن عباسؓ فرمائی : صلاة الاوابین مابین الاذان واقامة المغرب، قیام اللیل) ۔

۲٦- **حدیث** : دغه شان عبد اللّٰه بن بریدةؒ فرمائی : کان یقال : ثلاث صلوات : صلوة الاوابین وصلوة المنیبین وصلوة التوابین، صلوة الاوابین رکعتین قبل صلوة الصبح وصلاة المنیبین صلاة الضحی وصلاة التوابین رکعتین قبل المغرب (قیام اللیل) ۔

۲۷- وسئل الحسن رحمه اللّٰه فقال : حسنتین واللّٰه جمیلتین لمن اراد اللّٰه بهما، (قیام اللیل)۔

۲۸- وکان عبد اللّٰه بن بریدة ویحیی بن عقیل : یصلیان قبل المغرب (قیام اللیل) تحفة الاحوذی (۱/۱٦٤) ۔

۲۹- وعن سعید بن المسیب : حق علی کل مؤمن اذا اذن ان یرکع رکعتین (تحفة) ۔

۳۰- انس بن مالکؓ به خپلو ځامنو ته وصیت کولو چه دا مه پریدئ (واوصی انس بن مالک ولده ان لا یدعوهما (قیام) ۔

۳۱- وکان الاعرج وعامر بن عبد اللّٰه بن الزبیر یرکعهما (قیام - تحفة) ۔

۳۲- وعن مکحول علی المؤذن ان یرکع رکعتین علی اثر التاذین ۔

۳۳- عن الحکم بن الصلت رأیت عراك بن مالك اذا اذن المؤذن قام فصلی سجدتین قبل الصلوة۔

۳۴- وعن الحکم رأیت عبد الرحمن بن ابی لیلی یصلی قبل المغرب رکعتین ۔

۳۵- عن عبید اللّٰه بن عبد اللّٰه بن عمر ان کان المؤذن لیؤذن بالمغرب ثم تفرع المجالس من الرحال یصلونهما ۔

۳٦ - وعن یحیی بن سعید انه صحب انس بن مالك الی الشام فلم یکن یترك رکعتین عند کل اذان ۔

۳۷- عن زید بن وهب قال : لما اذن المؤذن للمغرب قام رجل فصلی رکعتین وجعل یلتفت فی صلاته فعلاه عمر رضی اللّٰه عنه بالدرة فلما قضی الصلاة قال : یا امیر المؤمنین ! قال نعم ما کسوت قال : رأیتك تلتفت فی صلاتك ولم یعب الرکعتین (قیام اللیل : ۷٦) ۔

دلته عمر فاروق د هغه سړی باندے دا رد اونکړو چه د ماښام نه مخکښې ولے نفل کوے معلومه شوه چه د عمر فاروقؓ په نیز هم دا دوه رکعاته مستحب دی ۔

خلاصه : ددے قولی او فعلی او تقریری سنتو نه او د صحابه کرامو د اقوال او اعمالو او د تابعین او تبع تابعین د اقوالو او اعمالو نه د نمر پشان ښکاره شوه چه د ماښام د اذان نه

روستو او د مانځه نه مخکښ دوه رکعاته کول سنت عمل دے او ددے دلائلو نه پس هیڅچا ته دا حق حاصل ندے چه ددے سنتو نه خلق منع کړی پدے بهانه چه دا زمونږ په مذهب کښ نشته لکه بعض بدبخت د الله تعالی په حرم مسجد حرام او مسجد نبوی کښ ددے سنتو نه خلق منع کوی مونږ دومره ډیر دلائل پدے وجه ذکر کړل چه د مقلدینو بهانه ختمه شی چه کله وائی دا به ابوبکر او عمرؓ نکول او کله وائی دا به مهاجرینو نکول او کله وائی منسوخ دی وغیره بهانے کوی نو د چا په زړه کښ چه ذره برابر د رسول الله ﷺ قدر او احترام وی او په هغه باندے ئے صحیح ایمان راوړے وی او هسے تش په خوله باندے د هغه د محبت دعویدار نه وی نو هغه ته به د رسول الله ﷺ یو عمل یو حدیث او یو قول هم د غرونو نه لوئی ښکاری او د ایمان د تقاضا مطابق به هغے ته ځان تسلیموی اګرکه دده د تنظیم او پارټئ یا دده د مشرانو د عمل خلاف وی۔

دغه شان نور ډیر احادیث او آثار هم شته چه محمد بن نصر المروزیؒ وغیره ذکر کړیدی بس مونږ پدے باندے اکتفاء کوو هر مسلمان عقلمند ډِے عبرت واخلی۔

اوس دویم قول ذکر کوو۔

٢- **قول ثانی** دا دے چه دا دوه رکعاته کول مکروه دی او دا قول د احنافو دے کما فی بدائع الصنائع (١/٢٩٧) او یو قول د امام مالك او یو قول مشهور د امام شافعیؒ دے مګر مجموع (٨/٤) کښ امام نوویؒ وائی صحیح قول د امام شافعی دا دے چه دا مستحب دی۔ امام زین الدین العراقی په طرح التثریب (٣/٣٣) کښ وائی : ولا خلاف فی شئ منها (ای النوافل) عند اصحابنا – الا فی الركعتین قبل المغرب ففیهما وجهان لاصحابنا اشهرهما لایستحب والصحیح عند المحققین استحبابهما لحدیثی ابن مغفل الخ ومثله فی شرح مسلم (١/٢٧٨)۔

د احنافو دلائل او د هغے جائزه :

١- **اول دلیل** : ابوداود (١/١٨٩) کښ موقوف حدیث دے طاوس فرمائی : سئل ابن عمر عن الركعتین قبل المغرب فقال : ما رأیت احداً علی عهد رسول الله ﷺ یصلیهما ورخص فی الركعتین بعد العصر، تنظیم الاشتات (٢٥٢) وتحفة الاحوذی (١/١٦٣) واسناده حسن۔

الجواب : ابن عمر وائی (مارأیت) ما ندی لیدلی نو دا هغه د خپل علم مطابق خبره

كوى نو كيدے شى چه ابن عمرؓ به نه وى ليدلى او نورډيرو صحابوؓ ليدلى دى نو علم د هغه چا چه ليدل ئے كړى وى مقدم او حجت دے په هغه چا چه ليدل ئے نه وى كړى ـ په بل تعبير باندے جواب داسے دے چه پدے روايت د ابن عمرؓ كښ نفى ده او مخكښے تير شوى روايتونو كښ صحابه كرام اثبات كوى او دا اصولى مسلمه قاعده ده چه كله تعارض راشى په مابين د نافى او مثبت كښ نو مثبت به مقدم وى په نافى باندے ځكه چه مثبت سره زيات علم وى او دا جواب امام نووىؒ په شرح المهذب (٤/٩) كښ ذكر كړيدے او د هغه نه مخكښ امام بيهقى په السنن الكبرى (٧٦/٢) كښ ذكر كړيدے ـ

علامه زيلعىؒ په نصب الراية (١٤٠/٢) كښ نقل كړيدے او بيا ئے پرے اقرار كړيدے چه د هغوى عبارت داسے دے : واجاب العلماء عنه بانه نفى فتقدم رواية المثبت ولكونها اصح واكثر رواةً ولما معهم من علم ما لم يعلمه ابن عمر انتهٰى و كذا فى التحفة (١٦٣/١) ـ

او دا په احاديثو كښ ډير مثالونه لرى چه د عالم راوى روايت اخستے شويدے او د نافى پريخودے شويدے لكه چه د بلال او ابن عباس اختلاف شو چه آيا رسول الله ﷺ په بيت الله شريف كښ دننه مونځ اوكړو او كه نه؟ بلالؓ اووئيل : كړے ئے دے، ابن عباسؓ اووئيل : نه ئے دے كړے ـ نو محدثينو د بلالؓ قول واخستو ځكه چه ده سره د رؤيت د رسول الله ﷺ زيات علم وو چه هغه ئے په مانځه ليدلے وو چه بيت الله كښ ئے دننه اوكړو انظر هذا الحديث فى الموطأ لمالك (٢٥٨) والحميدى (١٤٩) (٦٩٢) والبخارى ومسلم وابوداود والنسائى ـ والمسند الجامع (٢٧٩/٣ رقم - ١٩٧٢) ـ

٢- **جواب** دا دے چه د ابن عمرؓ نه پخپله هم دغه ركعتين ثابت دى لكه مخكښے په (٢٣) نمبر حديث كښ اوګوره (قيام الليل ٧٤) او د احنافو په نيز دا قاعده ده (اګركه صحيح نده) چه كله راوى د خپل روايت نه خلاف اوكړى نو اعتبار به رأى او فتوے د راوى لره وى او روايت لره به ئے اعتبار نه وى ـ نو دلته خو ډ دا قاعده خپله اومنى چه دا حديث د ابن عمرؓ ډے پريږدى او د هغه رأى او عمل باندے ډے عمل اوكړى او ركعتين قبل المغرب ته ډے مكروه او نه وائى ـ

٣- **جواب** : دا حديث اګركه بعض علماؤ صحيح كړيدے لكه نووىؒ په الخلاصه او مجموع كښ ورته حسن وئيلے دے دارنګه ابوداود او منذرى پرے سكوت كړيدے او ابن الهمام او عينى ورته صحيح وئيلے دے مګر بل طرفته نورو علماؤ ورته ضعيف وئيلے دے لكه علامه شمس الحق عظيم آبادى په عون المعبود (٤٩٥/١) كښ د ابن حزم نه نقل

كوى چه هغه فرمائى : وسنده لا يصح لانه عن ابى شعيب او شعيب ولا يدى من هو انتهى ـ او شيخ البانى په ضعيف ابوداود كښې ذكر كړيدے او وئيلے ئے دى چه دا مجهول دے رقم (١٢٨٤) ـ

بيا عظيم آبادى صاحب وائى : وعندى : ان هذا الحديث وهم من شعيب الراوى عن طاؤس وتفرد بروايته عن طاوس وكيف تصح هذه الرواية وقد روى جماعة من الصحابة كعبد الله بن مغفل وانس وعقبة بن عامر وغيرهم عن النبى ﷺ انه اذن فى ذلك لمن اراد ان يصلى وفعل فى عهده بحضرته فلم ينه عنه وقد روى عن جماعة من الصحابة والتابعين انهم كانوا يصلون قبل المغرب ركعتين فمن الصحابة انس وعبد الرحمن بن عوف وابى بن كعب وابوايوب الانصارى وابو الدرداء وجابر بن عبد الله وغيرهم ورواية هؤلاء مروية فى قيام الليل لمحمد بن نصر انتهى ـ

يعنى شعيب راوى پدے روايت كښې خطاء شويدے او متفرد دے پدے روايت كښې د طاوس نه او دارنګه د ډير مرفوع او موقوف احاديثو خلاف دے او دا قانون دے چه كله تعارض راشى په مابين د مختلف فيه حديث كښې چه بعض ورته صحيح وائى او بعض ورته ضعيف او په مابين د صحيح مرفوع حديث كښې چه په اتفاق د علماؤ صحيح وى نو ترجيح به ضرور صحيح حديث لره وى ـ

★- دارنګه داخبره هم اتفاقى ده (اګركه بعض مقلدين ئے عملاً نه منى) چه كله تعارض د احاديثو د بخارى او مسلم راشى د احاديثو د باقى كتابونو سره او تطبيق ممكن نه وى نو احاديث د بخارى او مسلم به ضرور راجح وى ځكه چه دا اصح الكتب بعد كتاب الله دى ـ ★- دارنګه دا هم مسلمه قاعده ده چه كله د يو موقوف حديث تعارض راشى د مرفوع سره، يو طرفته د رسول الله ﷺ امر وى او بل طرفته د يو صحابى ؓ نه د هغے نفى راشى نو ضرور بالضرور به د رسول الله ﷺ امر عملى كولے شى او د صحابى نفى او منع به د هغه د علم مطابق باندے حمل كولے شى د رسول الله ﷺ حديث به ورته نشى ورانولے ـ

٤- **جواب الزامى** : دا حديث د ابن عمر ؓ به تاسو تول منئ يا به تول نه منئ كه تول منئ نو ديكښې خو (ورخص فى الركعتين بعد العصر) راغلے دے چه ابن عمر ؓ به ركعتين بعد العصر كښې رخصت وركړو او دا ركعتين بعد العصر خو احناف نه منى ـ او كه بعض حديث منئ او بعض نه منئ نو دا خو د مسلمانانو شيوه او خوئى ندے ﴿

اَفَتُؤْمِنُوْنَ بِبَعْضِ الْكِتَابِ وَتَكْفُرُوْنَ بِبَعْضٍ فَمَا جَزَاءُ مَنْ يَّفْعَلُ ذٰلِكَ مِنْكُمْ اِلَّا خِزْىٌ فِى الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ﴾ ـ

اعجوبة : علامه ابن الحزمؒ په احنافو تردید کوی : چه دا ډیره عجیبه ده چه دوئ د ابن عمرؓ دا قول چه (صليت خلف رسول الله ﷺ وخلف ابی بکر وعمر وعثمان فلم يقنت احد منهم) حدیث حجت نه ګنړی ځکه چه د دوئ د تقلید سره موافق ندے او حال دا چه دا صحیح حدیث دے او کوم حدیث چه صحیح ندے لکه (دا مارأيت احدا ددے باب) حدیث نو دوئ ئے حجت ګرځوی ځکه چه د دوئ د هواء (خواهش) موافق دے وهذا عجيب جدا انتهى بلفظه ـ المحلى بالآثار (٢/٢٢) ـ

٢- دویم دلیل : احناف وائی : مونږ سره بل حدیث شته کتاب الآثار (٢٩) رقم (١٤٥) کښې امام محمد راوړیدے : قال اخبرنا ابو حنيفة عن حماد قال سئلت ابراهيم عن الصلوة قبل المغرب فنهاني عنها وقال ان النبي ﷺ وابابكر وعمر لم يصلوهما الخ ونقله الزيلعي في نصب الراية (٢/١٤١) ـ

الجواب : (١) - اول خو دا حدیث معضل دے لکه چه پخپله حافظ زیلعیؒ هم ورته معضل وئیلے دے لکه هغه وئیلی دی : حدیث آخر معضل : انتهى ـ او د معضل په باره کښې مصطلح الحدیث کښې قانون ذکر دے ـ والمعضل ضعيف لا حجة فيه ـ فتح الباری (٥/١٩٠) وتوجيه القاری (١٧٠)ـ

(٢) - دویم : دا معضل حدیث به د متفق عليه روایاتو سره معارض کیدے نشی دا خو صرف د ابراهیم نخعی خبره ده چه رسول الله ﷺ او ابوبکر او عمر به نکول او تا مخکښې اوپیژندل چه رسول الله ﷺ او کبار الصحابه کړیدی فتدبر ـ

ددے دواړه حدیثونو ذکر کولو نه پس تقی عثمانی په درس ترمذی (١/٤٣٢) کښې پدے باندے رد کوی فرمائی : لیکن واقعہ یہ ہے کہ ان روایات سے سنیت کی نفی تو ثابت کیجا سکتی ہے لیکن عدم جواز پر استدلال نہیں کیا جاسکتا، کیونکہ ان روایات میں پڑھنے کی نفی ہے نہیں، جبکہ جواز پر شافعیہ کے پاس مضبوط دلائل موجود ہیں۔ انتہیٰ ـ

٣- دلیل : دارقطنی او بیهقی په الکبری (٢/٤٧٤) کښې او مسند بزار کښې روایت دے چه په هغے کښې د مغرب استثناء موجود ده د روایت الفاظ دا دی : [عن حيان بن عبيد الله العدوى ثنا عبد الله بن بريدة عن ابيه قال قال رسول الله ﷺ : ان عند كل اذانين ركعتين ما خلا المغرب] او په روایت د بزار کښې : الا المغرب دے ـ

الجواب : دا حدیث د آخری قطعے د وجه نه موضوعی دے او د حدیث اوله حصه خو تا اوپیژندله چه د صحیحین وغیره په احادیثو کښ ثابته ده خو دا استثناء پکښے نشته ـ علامه ابن الجوزی دا روایت په الموضوعات (۹۲/۲) کښ ذکر کړیدے : وقال هذا حدیث لا یصح ـ

★ - امام هیثمیؒ په مجمع الزوائد (۲۳۱/۲) کښ دا روایت د بزار په حواله ذکر کړیدے بیا ئے وئیلی دی : وفیه حیان بن عبید الله ذکره ابن عدی وقیل اختلط ـ یعنی پدے روایت کښ حیان بن عبید الله راوی دے او هغه ضعیف دے اختلاط پرے راغلے دے ـ

★- علامه ابن الجوزی په الموضوعات کښ د فلاس نه نقل کړیدی (کان حیان کذاباً) یعنی دا حیان کذاب راوی دے ـ

تقی عثمانی صاحب په درس ترمذی (۴۳۱/۱) کښ د سیوطیؒ په حواله ذکر کړیدی چه حیان درحقیقت دوه راویان دی یو حیان بن عبید الله الدارمی دے او دویم حیان بن عبید الله البصری دے حیان دارمی ته بیشکه فلاس کذاب وئیلے دے لیکن حیان بصری صدوق دے او دغه روایت دده نه مروی دے انتهیٰ ـ

مگر دده دا خبره په محل د نظر کښ ده وجه دا ده چه پدے روایت کښ حیان بن عبید الله البصری دے او دده په باره کښ علامه ذهبیؒ فرمائی : حیان بن عبید الله ابوزهیر البصری عن ابی مجلز لیس بحجة انظر المغنی فی الضعفاء (۲۹۹/۱) اگر که ابن حبان په ثقاتو کښے شمارلے دے او بیهقی فرمائی : تکلموا فیه، قال البخاری : ذکر الصلت منه الاختلاط، میزان الاعتدال (۶۲۳/۱) لسان المیزان (۳۷۰/۲) ابن عدی په ضعفاؤ کښ ذکر کړیدے او فرمائیلی ئے دی : وعامة ما یرویه افرادات ینفرد بها ـ الکامل فی ضعفاء الرجال (۸۳۲/۲) طبع باکستان المکتبة الاثریة ـ

۲- **جواب** : امام بیهقیؒ پدے روایت باندے اعتراض کړیدے فرمائی : ورواه حیان بن عبید الله عن عبد الله بن بریدة واخطأ فی اسناده واتی بزیادة لم یتابع علیها وفی روایة حسین المعلم ما یبطلها ویشهد بخطائه فیه انتهی ـ السنن الکبری (۴۷۴/۲) ـ

بیا ئے د امام ابن خزیمه قول هم نقل کړیدے چه هغه فرمائی : وزاد علماً بان هذه الروایة خطأ ان ابن المبارك قال فی حدیثه عن کهمس فکان ابن بریدة یصلی قبل المغرب رکعتین فلو کان ابن بریدة قد سمع من ابیه عن النبی ﷺ هذا الاستثناء الذی زاد حیان بن عبید الله فی الخبر ما خلا المغرب لم یکن یخالف خبر النبی ﷺ (۴۷۴/۲) ـ

يعني ابن بريده به پخپله ركعتين قبل المغرب كول نو كه دغه استثناء صحيح وے نو بيا به ابن بريده ولے د دغه مرفوع حديث خلاف كولو ؟ ـ

تقي عثماني فرمائي : كه د امام بيهقي" او ابن خزيمة" دا خيال درست وى نو پدے روايت سره د حنفيّه استدلال كمزورے كيږى ـ درس ترمذى (١/٤٣١) ـ

علامه زيلعي په نصب الراية (٢/١٤٠) كښے د امام بيهقى نه ددے حديث د خطائى په باره كښے تفصيلاً نقل كوى، فرمائي : وقال البيهقى فى المعرفة،، اخطأ فيه حيان بن عبيد الله فى الاسناد والمتن جميعاً – اما السند : فاخرجاه فى الصحيحين عن سعيد الحريرى وكهمس فى هذا الحديث عن عبد الله بن بريدة عن عبد الله بن المغفل عن النبى ﷺ قال بين كل اذانين صلاة قال فى الثالثة لمن شاء واما المتن : فكيف يكون صحيحاً وفى رواية ابن المبارك عن كهمس فى هذا الحديث قال : وكان ابن بريدة يصلى قبل المغرب ركعتين وفى رواية حسين المعلم عن عبد الله بن بريدة عن عبد الله بن المغفل قال :قال رسول الله ﷺ صلوا قبل المغرب ركعتين وقال فى الثالثة لمن شاء خشية ان يتخذها الناس سنة رواه البخارى فى صحيحه انتهى وذكر ابن الحوزى هذا الحديث فى الموضوعات ونقل عن الفلاس انه قال كان حيان هذا كذاباً انتهى ما فى الزيلعى ـ

يعني حيان پدے روايت كښې په سند او متن دواړو كښې خطاء شويدے الخ ـ

حافظ فرمائي : واما رواية حيان فشاذة لانه وان كان صدوقاً عند البزار وغيره لكنه خالف الحفاظ من اصحاب عبد الله بن بريدة فى اسناد الحديث ومتنه وقد وقع فى بعض طرقه عند الاسماعيلى وكان بريدة يصلى ركعتين قبل المغرب فلو كان الاستثناء محفوظاً لم يخالف بريدة راويه انتهى ـ نقله فى التحفة (١/١٢٤) ـ

نو معلومه شوه چه دا حديث ضعيف يا موضوعى دے د صحيح احاديثو مقابله نشي كولے ـ

٣- دليل : علامه زيلعى" د طبرانى په روايت يو حديث راوړيدے فرمائي : روى الطبرانى فى كتاب مسند الشاميين عن جابر قال : سألنا نساء رسول الله ﷺ هل رأيتن رسول الله ﷺ يصلى الركعتين قبل المغرب فقلن لا غير ان ام سلمة قالت صلاهما عندها مرة فسألته ما هذه الصلوة ؟ فقال : نسيت الركعتين قبل العصر فصليتهما الآن انتهى، نصب الراية (٢/١٤١) وتحفة الاحوذى (١/١٦٤) ـ

الجواب : ١- اول خو دا روايت ضعيف دے ددے اول راوى يحيى بن صاعد شيخ الطبرانى مجهول دے (٢) – دويم راوى محمد بن منصور المكى ذكره ابو حاتم وسكت

عنه (الجرح والتعدیل: ٨/ ٩٤) رقم (٤٠٨) (٣) -دریم راوی: یحیی بن ابی الحجاج قال ابوحاتم سألت ابی عنه فقال: لیس بالقوی الجرح والتعدیل (٩/١٣٩) وقال الذهبی قال ابن معین لیس بشئ وقال ابو حاتم لیس بالقوی وقواه ابن حبان، واورده الذهبی فی المغنی فی الضعفاء (٢/٥١٣) رقم (٦٩٥٢) وابن الجوزی فی الضعفاء (٣/١٩١) (٤) - څلورم راوی: عیسی بن سنان: امام ذهبیؒ فرمائی: ضعفه احمد وابن معین وهو ممن یکتب حدیثه علی لینه وقواه بعضهم وقال ابو حاتم لیس بالقوی، میزان الاعتدال (٥/٣٧٧) وذکره فی المغنی فی الضعفاء (٢/١٦٦) رقم (٤٨٠١) وقال ضعیف الحدیث انتهی ۔

خلاصه دا چه: یحیی بن صاعد مجهول الحال دے ٢- محمد بن منصور المکی ابن ابی حاتم پرے سکوت کړیدے او سکوت د ابن ابی حاتم په جهالت د راوی دلیل دے اوګوره نصب الرایة (١/٢٥٥) والرفع والتکمیل فی الجرح والتعدیل لعبد الحی اللکهنوی (٢٣٢) او یحیی بن ابی الحجاج او عیسی بن سنان دواړه ضعیف دی لهذا حدیث نهایت درجه ضعیف دے ۔

٢- جواب: دا مخالف دے د صحیحینو د احادیثو نه چه په هغے کښ رکعتین قبل المغرب ثابت دی ۔

٣- جواب: شیخ علامه مبارکفوریؒ فرمائی: قلت علی تقدیر صحة الحدیث فجوابه هو ما ذکره الزیلعی نقلاً عن النووی من انه نفی فتقدم روایة المثبت الخ انتهی تحفة الاحوذی (١/١٦٤) یعنی بالفرض والتقدیر که اومنو چه دا حدیث صحیح ثابت دے نو بیا ئے جواب هغه دے کوم چه علامه زیلعی د نوویؒ نه نقل کړیدے چه پدے روایت کښ نفی ده او مخکښ روایاتو کښ اثبات دے او عند التعارض مثبت روایت مقدم وی د نافی په روایت باندے کما مرّ ۔

٤- دلیل: مصنف عبد الرزاق (٢/٤٣٥) کښ د ابراهیم نخعیؒ قول دے: ما صلی ابوبکر ولا عمر ولا عثمان الرکعتین قبل المغرب ۔ دارنګه د سعید بن المسیب قول ئے راوړیدے: کان المهاجرون لایرکعون الرکعتین قبل المغرب ۔

الجواب: ابراهیم نخعیؒ په باره کښ علامه صلاح الدین العلائیؒ فرمائی: ابراهیم بن یزید النخعی احد الائمة تقدم انه کان یدلس وهو ایضاً مکثر من الارسال وقال علی بن المدینی: ابراهیم النخعی لم یلق احداً من اصحاب النبی ﷺ وقال ابو حاتم ادرك انساً ولم یسمع منه ۔ جامع التحصیل فی احکام المراسیل (١٤١) ۔ یعنی ابراهیم نخعی خلفاءِ

راشدين ندي ليدلي او نه ئې د هغوي نه اوريدل ثابت دي (بلكه نور صحابه كرام ئې هم ندي ليدلي سوئ د انس‌ؓ نه) او دا خپله مدلس راوي دے او ډير ارسال كونكے راوي دے لهذا دده دا قول مردود او منقطع دے او منقطع روايت قابل د استدلال نه وي ـ

۲- **دويم جواب** : مخكښے مونږ ذكر كړل چه ابوبكر او عمر او كبار الصحابه به ركعتين قبل المغرب كول (۹) حديث ته رجوع اوكړه او ابراهيم نخعي نفي كوي نو قول د مثبت مقدم دے ـ ۳- **دريم جواب** : دا ضعيف مرسل حديث به د صحيح (قولي ،فعلي او تقريري) احاديثو په مقابله كښې مردود وي ـ

★- د سعيد بن المسيب د قول نه جواب دا دے چه مخكښې مونږ په دلائلو كښې د محمد بن نصر المروزي قول ذكر كړو چه دا وينا د سعيد په اغلبيت باندے بناء ده يعني اكثر مهاجرينو به نكول او دا نه چه هيچا به نكول ځكه چه عبد الرحمن بن عوف مهاجر دے او هغه به كول او عبد الله بن عمرؓ مهاجر دے او هغه به دا ركعتين كول على هذا القياس نور مهاجرينو كښې به هم داسے خلق وو چه چا به كول او چا به نكول ځكه خبره د استحباب ده دا ركعتين مستحب دي څه فرض خو ندي چه خامخا هر صحابي به ئې كوي ـ

۲- بله وجه دا ده چه د سعيد بن المسيب خپل قول مخكښې ذكر شو (۲۹) نمبر چه په هر مؤمن مسلمان باندے دا حق دے چه دا دوه ركعاته نفل به كوي ـ

۳- بله وجه دا ده چه دا خبره هر مسلمان لره يادول پكار دي چه د رسول الله ﷺ د حديث دپاره دا شرط ندے چه ټول صحابه كرام يا اكثر صحابه كرام يا د امت مجتهدينو علماؤ به پرے عمل كړے وي نه! بلكه ډير داسے عبادات شته چه د صحابه كرامؓ نه پټ پاتے شويدي ، حديث د رسول الله ﷺ ورته نه وي رسيدلے يا ورته رسيدلے وي ليكن هغوي پكښې اجتهاد كړے وي وغيره وغيره ډير عذرونه كيدے شي او كه دا شرط د حديث دپاره اومنلے شي نو ډيره ذخيره د احاديثو به ضائع شي چه مثلاً يو عمل د نبي عليه السلام باندے به د ابوبكر او عمر او عثمان او مهاجرين يا انصارو عمل پيش كولے شي پدے سره انكار حديث طرفته لاره كولاويږي بلكه مسلمان لره د الله د رسول حديث ته تسليميدل فرض دي كله چه صحيح ثابت شي اگركه عام خلقو پرے عمل نه وي كړے ـ

★- محمد بن نصر په قيام الليل (۷۵) كښې د ابراهيم نخعي په روايت د هغه صحابه كرامؓ نوم نه ذكر كړيدي چه هغوي به ركعتين قبل المغرب نكول لكه علي بن ابي

طالب، عبد الله بن مسعود، حذيفه بن اليمان، ابو مسعود الانصاری، عمار بن یاسر، براء بن عازب ۔ بیائے فرمائیلی دی : لیس فی حکایة هذا الذی روی عنه ابراهیم انه رمقهم فلم یرهم یصلونهما دلیل علی کراهتهم لهما انما ترکوهما لان ترکهما کان مباحاً وقد یجوز ان یکون اولئك الذین حکی عنهم من حکی انه رمقهم فلم یرهم یصلونهما قد صلوهما فی غیر الوقت الذی رمقهم انتهی کلام ابن نصر تحفة (۱/۱٦۵) ۔

یعنی د ابراهیم پدے روایت کښې چه د هغه استاذ دغه صحابه ندی لیدلی په رکعتین قبل المغرب باندے پدے کښې هیڅ دلیل نشته پدے خبره چه دغه صحابه کرامؓ به دا مکروه ګنړل نه ! بلکه دوئ دا دوه رکعاته ځکه ندی کړی چه ددے پریخودل مباح وو (او کول ئے مستحب وو) او دا جائز او ممکن ده چه بعض کسانو به د دغه صحابو نه دوه رکعاته قبل المغربؒ نه وی لیدلی او په بل وقت کښې همدغه صحابو به دغه رکعتین کول او نورو راویانو ترے نقل کړیدی (ځکه مستحب باندے خلق کله عمل کوی او کله نه) مګر صاحب د تحفة الاحوذی وائی : د ابراهیم د روایت په سند کښې مجهول راوی دے ځکه چه د ابراهیم د هیڅ صحابی نه اوریدل ندی ثابت (۱/۱٦۵)۔

★– بعض علماء مالکیه وغیره دا دعوه کړیده چه دا رکعتین قبل المغرب منسوخ شویدی ځکه چه نبی علیه السلام د مازیګر مانځه نه پس د مانځه نه منع کړیده، بیا د غروب الشمس نه پس ئے دوه رکعاته ددے دپاره اوکړل چه صحابو ته وقت د جواز بیان کړی چه تردے وقت پورے نوافل منع دی او ددے وقت نه پس مونځونه کول جائز دی او بیا ئے خلقو ته دعوت ورکړو چه اول وقت کښې د مغرب مونځ کوئ ! ۔

الجواب : دا محض ادّعاء ده هیڅ دلیل پرے نشته بلکه ددے په خلاف په طرق قویه سره محمد بن نصر المروزی نقل کړیدی چه عبد الرحمن بن عوف، سعد بن ابی وقاص، ابی بن کعب، ابو الدرداء او ابو موسی اشعری وغیرهم رضی الله عنهم به پدے رکعتین باندے همیشوالے کولو او ددے نسخ په تائید کښې چه کوم خلق د ابن عمرؓ ما خلا المغرب والا روایت یا ما رأیت احدا والا روایت پیش کوی نو د هغے حال خو تا ته معلوم شو چه ضعیف دی او یا د خپل علم مطابق خبره کوی ۔ نو د قاضی ابوبکربن العربی خبره خطاء شوه چه وائی : اختلف فیهما الصحابة ولم یفعلها احد بعدهم، انظر التفصیل فی التحفة (۱/۱٦٤) ۔

★– **امام نوویؒ** فرمائی : څوك چه د نسخ قول کوی نو دا هسے مجازفت دے په

اتکل چیسے روان دے ځکه نسخ ته په هغه وقت صیروورت کیدے شی چه کله مونږ د تاویل او جمع بین الاحادیث نه عاجز شو او تاریخ راته معلوم شی او دلته ددے نه هیڅ شے نشته نو څنګه نسخ راغله ؟ شرح مسلم (۱/۲۷۸) ۔

★– حافظ فرمائی : د نسخ دپاره شرطونه دی : ۱ – لا یصار الی النسخ الا اذا علم التاریخ وتعذر الجمع (۲) ولا یثبت النسخ الا بالدلیل (۳) والنسخ لا یثبت بالاحتمال (٤) والنسخ لایثبت بعد النبی ﷺ فتح الباری (۱/۳٤۱) (۲/۱۷۵) و(۱۳/۳۱٦) وتوجیه القاری (۹۰) ۔

۵– پنځم دلیل : چه په فقه حنفی کښ په شد او مد سره ذکر کوی : او هغه دا چه دا رکعتین ځکه مکروه دی چه پدے کښ تاخیر د مغرب راځی او دا مکروه کار دے ۔

بدائع الصنائع (۱/۲۹۷) ۔کښ وائی : ما بعد الغروب یکره فیه النفل وغیره لان فیه تاخیر المغرب وانه مکروه ۔

او په (۱/۱۵) کښ وائی : ولان مبنی المغرب علی التعجیل لما روی انه علیه السلام قال لن تزال امتی بخیر ما لم یؤخر المغرب الی اشتباك النجوم والفصل بالصلوة تاخیر انتهٰی ۔

الجواب : (۱) – دا قیاس فاسد دے ځکه هر کله چه د رسول الله ﷺ نه او د هغه د صحابه کرامو نه په ډیرو نصوصو کښ صحیح ثابت شو چه دا مستحب دی نو آیا رسول الله ﷺ د ماښام مونځ په جلتئ سره کول نه پیژندل او آیا هغه د وقت اهتمام نه کولو او د هغه صحابه کرامو چه رکعتین به ئے کول – د وقت اهتمام نه کولو آیا دا ورته نه وه معلومه چه د ماښام مونځ وختی پکار دے ؟ نو بیا ولے د اقامت او د اذان ترمینځ جدائی راولی لږ د الله لحاظ پکار دے د هغه نه یره پکار ده د مذهب په بهانه په احادیثو کښ ولے تکراؤ پیدا کوئ ! الله تعالی به درسره سخت حساب اوکړی دا خو سراسر په پیغمبر او صحابه کرامو اعتراض دے چه د هغوی دا عمل (العیاذ بالله) غلط دے او د وقت د افضلیت لحاظ ئے ندے کړے او دیته قیاس فی مقابلة النص وائی۔

★– **امام نوویؒ** په شرح مسلم (۱/۲۷۸) کښے فرمائی : واما قولهم یؤدی الی تاخیر المغرب فهذا خیال منابذ للسنة فلا یلتفت الیه وانظر تحفة الاحوذی ایضا (۱/۱٦۳) ۔

یعنی دا خبره کول چه پدے رکعتین سره تاخیر د مغرب راځی دا یو داسے خیال دے چه د سنت مقابل دے او سنت لره ګوزارونکے دے (یعنی قیاس فی مقابلة النص دے) ۔

(۲) – بلکه دا چه دا خبره هم غلطه ده چه ددے رکعتین په وجه تاخیر د مغرب راځی

ځکه چه دا خو په معمولي وقت کښې اداء کولے شي چه د ماښام اول وقت پرے نه فوت کيږي لکه دا خبره حافظ په فتح الباري (۸٤/۱– ۸٦) کښې ذکر کړيده: ومجموع الادلة يرشد الى تخفيفهما او نووي په شرح مسلم کښې وائي: ومع هذا فهو زمن يسير لا تتاخر به الصلاة عن اول وقتها (۲۷۸/۱) وتحفة الاحوذي (۱٦۳/۱) ۔ او که روستو شو نو تاخير سنې منع ندے۔

(۳) – بله دا چه د احنافو مساجدو ته فکر اوکړئ مختلف اوقاتو کښې اذانونه کيږي د ماښام اذان په يو مسجد کښې او شي او په بل مسجد کښې به لا نه وي شوے نو دلته تاخير د مغرب ولے نه راځي؟ دے روستو اذان کونکي ته وئيل پکار دي چه تا خو تاخير د مغرب اوکړو! ۔ دومره تاخير خو لا په رکعتين باندے نه راځي۔

اعجوبة: احناف وائي: کم از کم د ماښام او ماسخوتن مانځه ترمينځ يوه نيمه ګينټه پکار ده او د شفق نه هم دوي بياض اخلي او بياض په يوه نيمه او دوه ګينټو کښې نه ختميږي نو د ماښام وقت دومره اوږد دے نو پدے مختصر دوه رکعاتو کولو سره څنګه د ماښام افضل وقت ختم شو دا خو ډيره عجيبه شريعت دے!!۔

خلاصه: ددے مخکښې تحقيق نه دا معلومه شوه چه د ماښام مانځه نه مخکښې دوه رکعاته نفل کول او مختصر کول مستحب او سنت عمل دے قولي او فعلي او تقريري احاديث پکښې راغلي دي او د صحابه کرامو عمل دے نو د دينه انکار کول يا ديته بدعت وئيل (کما نقل عن ابراهيم النخعي) يا منسوخ يا ديته مکروه وئيل لکه فقهاء حنفيه ؤ چه ورته مکروه وئيلي دي بالکل باطله خبره ده او ددے احاديثِ مذکوره صريح مخالفت دے او ددے نه خلق منع کول سراسر ظلم دے او نهي عن المعروف دے کوم چه د منافقانو صفت دے او دے رکعتين ته محققين علماؤ (احناف وغيره) هم مستحب وئيلي دي لکه ملاعلي القاري په مرقاة (۱٦٥/۲) کښې وائي: والاظهر ليعلم انها مستحبة غير واجبة)۔

★ – علامه عيني هم ورته مستحب وائي فرمائي: فيه دلالة على استحباب الركعتين قبل المغرب لمن كان متأهباً بشروط الصلوة لئلا يؤخر المغرب عن اول وقتها، عمدة القاري (۲٤۷/۷)۔

★ – تقي عثماني ليکي: *ان کو مکروہ یا بدعت کہنے کا کوئی جواز نہیں*۔ درس ترمذي (٤۳۳/۱)۔

★ – علامه سندهي" په حاشيه د نسائي (۱۱۱/۱) کښې فرمائي: وهذا الحديث وامثاله يدل على جواز الركعتين قبل صلاة المغرب بل ندبهما، المرعاة (۳٦۸/۲) ۔ يعني دا

رکعتین مستحب دی ۔

★– حافظ ابن حجر هم ورته مستحب وائی : لکه چه د هغه عبارت مخکښ تیر شو

★ – امام نوویؒ فرمائی : والمختار استحبابهما لهذه الاحادیث الصحیحة الصریحة شرح مسلم (۲۷۸/۱) ۔

او علماؤ په خپلو کتابونو کښ ددے دپاره مستقبل بابونه راوړیدی : لکه سنن ابی داود (۱۸۹/۱) باب الصلاة قبل المغرب، ترمذی (۴۵/۱) ابن ماجه (۳۶۸/۱) باب ما جاء فی الرکعتین قبل المغرب شرح السنة للبغوی (۴۳۸/۱) والسنن الکبری للبیهقی (۴۷۴/۲) وغیره ۔ دا ټول دلیل دے چه دا رکعتین مستحب دی او کوم علماؤ چه دیته صرف مباح او جائز وئیلی دی د هغوی خبره هم ضعیفه ده لکه ابن همام په فتح القدیر کښ او رشید احمد په الکوکب الدری (۱۰۳/۱) کښے وائی : هذا مما اختلف فیه علماؤنا والصحیح عدم کراهتهما اذا لم یخف فوات التکبیرة الاولی من صلوة المغرب ۔ یا تقی عثمانی په درس ترمذی (۴۳۳/۱) کښ وائی : بهر حال رکعتین قبل المغرب د روایاتو په اعتبار سره جائز دی چه ددے دوه وجے دی یو خو دا چه په احادیثو کښ د تعجیل مغرب تاکید راغلے دے او دا رکعتین د هغے منافی دی دویم د صحابه اکثریت به دا رکعتین نه کول نو ترک ئے بهتر شو ۔

الجواب : ددے دواړه خبرو جواب مخکښ تحقیق نه معلوم شو مختصر دا چه په احادیثو کښ ترغیب په ډیر اهتمام سره راغلے دے چه دا رکعتین اوکړئ (صلوا قبل المغرب) درے کرتے نبی علیه السلام دا جمله مکرر کړه پدے کښ ډیر تاکید دے چه دا ډیر مستحب عمل دے صرف جائز ندی ځکه چه نفس جواز دپاره یو کرتے صلوا قبل المغرب لفظ وئیل کافی وو فتدبر ۔

۲– دویم دا چه : د مابنام د تعجیل احادیث هیڅ منافی ندی درکعتین قبل المغرب سره لکه چه تا اوپیژندل ځکه پدے باندے خو دومره وخت نه تیریږی صرف دوه درے منټه وی او د احنافو مساجدو کښ مختلف اذانونه کیږی بعض پنځه منټه مخکښ او بعض روسته نو بیا خو هغه روستو اذان کونکو ته دا وئیل پکار دی چه تاسو د احادیثو د تعجیل المغرب خلاف اوکړو خو دا هسے په زوره احادیثو کښ تعارض پیدا کول دی او دخپلے مرضئ مطابق تطبیق کول دی آیا پیغمبر نه – چه دغه رکعتین قبل المغرب ئے کول – احادیث د تعجیل المغرب هیر شوی وو ؟ (وما کان ربك نسیا) دا د تقلید نقصان

دے چه انسان په احاديثو کښې په تحريف او تاويل باندے جرأتمند کوی والله المستعان ـ
۳- بله دا چه دا خبره هم خطاء ده چه اکثرو صحابه کرامو به نکول بلکه مخکښې تا اوپيژندل چه مشرانو صحابه کرامو او نورو صحابه کرامو به کول ـ
٤- ځلورم دا چه په عباداتو کښې مباح نشته او نه پکښې جائز شته بلکه اقله درجه د عبادت استحباب دے نو ځرنګ مباح شو ؟ـ

فوائد الرکعتين قبل المغرب :

ددے رکعتين قبل المغرب ډير فوائد دی، عظيمه فائده خو دا ده چه پديسره انسان د ډيرو بدعاتو نه بچ کيږی او کله چه انسان دا نکوی لکه اکثر مقلدين نو هغوی په ډيرو بدعاتو کښې واقع شو ـ
★- اول دا چه مقلدين د اذان او اقامت ترمينځ د درے قدمونو يا د درے آيتونو په اندازه فاصله مقرر کړيده او دا اندازه مقررول بدعت دے ـ ځکه چه احاديثو کښې دی چه د هر اذان او اقامت ترمينځ به دومره فاصله او جدائی ضرور وی چه اودس کونکے اودس کولو نه فارغ شی يا خوراك ځكاك كونكے د خوراك نه فارغ شی انظر الصحيحة (۵۸٦/۲) رقم (۸۸۷) برواية البيهقی (۴۲۸/۱) وزوائد المسند احمد (۱۴۳/۵) والحديث صحيح ـ فتاوی الدين الخالص (۲۵۳/۳) ـ
★- پدے اندازه مقررولو سره د اذان نه روستو مشروع اذکار لوستل فوت کيږی کوم باندے چه امر راغلے دے ثم صلوا علی ثم سلوا الله لی الوسيله) كما مرّ ـ
★- کله چه مؤذن د مسجد په چت اذان اوکړی (كما هو السنة) نو هغه چه صف ته رسيږی امام به فاتحه هم شروع کړی وی نو د هغه نه تکبير اولیٰ فوت شی نو دے بدعت دوئ ته دومره ګټه اوکړه نو دا اندازے فرضی او ذهنی دی هيڅ دليل شرعی پرے نشته ـ
۲- فائده : تکبير تحريمه به د هغه چا نه فوت نشی چه اذان واوری او په لاره راروان وی مسجد ته راځی دغه شان د اودس کونکی نه به هم تکبير تحريمه فوت نشی ـ
ددے مسئلے تفصيل دپاره تحفة الاحوذی (۱٦۳/۱) المحلی (۲۱/۲) التحقيقات فی رد الهفوات (۴۱۴) شرح مسلم (۲۷۸/۱) فتح الباری (۸۴/۲) عون المعبود (۴۹۵/۱) طرح التثريب (۳۳/۳) المرعاة (۳٦۳/۲) فتاوی الدين الخالص (۱۹۲/۳) ته رجوع اوکړئ !ـ

الفصل الثاني - دویم فصل

۱۰ - عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رضی اللہ عنہ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : اَلْاِمَامُ ضَامِنٌ، وَالْمُؤَذِّنُ مُؤْتَمَنٌ . اَللّٰهُمَّ اَرْشِدِ الْاَئِمَّةَ وَاغْفِرْ لِلْمُؤَذِّنِیْنَ . رَوَاهُ اَحْمَدُ وَاَبُوْدَاوُدَ وَالتِّرْمِذِیُّ وَالشَّافِعِیُّ . وَفِیْ اُخْرٰی لَهٗ بِلَفْظِ الْمَصَابِیْحِ .

ترجمه : ابو هریره رضی الله عنه فرمائی : رسول الله ﷺ فرمائیلی دی : امام ضامن وی او مؤذن امانت داروی (بیا نبی علیه السلام دا دعا اوکړه) اے الله ! امامانو ته هدایت اوکړے (یعنی هغوی ته د نیك علم او د صالح عمل او د صلاح او تقوی توفیق ورکړے) او مؤذنینو ته (که اذان وئیلو کښے کمے زیاتے شوے وی) بخښنه اوکړه ۔ (احمد، ابوداود، ترمذی، نسائی) او امام شافعی دویم روایت د مصابیح په لفظ سره نقل کړیدے ۔

اَلْاِمَامُ ضَامِنٌ، وَالْمُؤَذِّنُ مُؤْتَمَنٌ :

تشریح : د امام ضامن کیدو مطلب دا دے چه امام به د مانځه افعال او ارکان او د عدد رکعاتو حفاظت کوی او ښه مونځ به کوی، رعایت د سنن او مستحباتو به کوی د مکروهاتو نه به ئے ساتی، زر مونځ به نکوی چه مقتدیان ورپسے نشی رسیدلے ورنه بیا به ترے الله تعالی تپوس کوی که امام ددے کارونو لحاظ نه ساتلو دا به ذمه وار وی د الله مسئول به وی نو د ضمان نه مراد حفاظت او رعایت دے ۔

علامه جزریؒ او علامه خطابیؒ په معالم السنن (۱/۱۵۶) کښې وائی : چه ضامن په کلام د عربو کښې په معنی د راعی او محافظ سره راځی او ضمان د غرامت او تاوان ترے ندے مراد ځکه چه ددے بیا هیڅ معنی نه جوړیږی ۔ المرعاة (۲/۳۶۹)۔

بیا احناف ددے نه استدلال کوی په مسائلو باندے او داسے معنی کوی : الامام متکفل لصلوة المقتدین ومحتمل عنهم القرائة ۔ وائی چه مونځ د امام متضمن دے او مونځ د مقتدی متضمَن دے نو درے څلور مسئلے تفریع کوی یو دا چه اقتداء د مفترض د متنفل پسے نه صحیح کیږی ۲- اقتداء د مفترض د بل مفترض پسے هم نه صحیح کیږی ځکه چه یو شے خپل مثل لره نشی متضمن کیدے ۔

۳- دریم دا چه قرائت د امام قرائت دے د مقتدی دپاره ، نو مقتدی به قرائت نکوی ۔

٤- د مقتدی مونځ د امام د مانځه په فساد سره فاسدیږی ۔

الجواب : اولْ خو دا معنی د ضامن د سیاق د حدیث نه ډیره بعیده ده او د لفظ نه هم

ډيره بعيده ده ځکه مخکښې تير شو چه د ضمان معنى په عربئ ژبه کښې د حفاظت او رعايت سره راځى ۔ دويم دا چه اقتداء د مفترض د متنفل پسے دا مسئله ددے حديث نه معلوموول يے ځايه دى ځکه چه ددے حديث کښې دے طرفته اشاره هم نشته او بل طرفته صريح دلائل موجود دى چه د مفترض اقتداء د متنفل پسے بالکل صحيح او جائز ده لکه واقعه د معاذ بن جبل شوه يا صلاة خوف کښې چه امام دوه رکعاته يوے طائفے ته اوکړى او دويمے طائفے ته دوباره دوه رکعاته کوى نو دغه دوه رکعاته خو د امام نفل دى او د دويمے طائفے دپاره فرض نو بيا دلته څنګه اقتداء صحيح شوه فتدبر انظر ابوداود باب صلوة الخوف والنسائى (۱۳۴/۱) باب اختلاف نية الامام والماموم وسيأتى تفصيلها فى باب القرائة ان شاء الله تعالى ۔

★– دارنګه قرائت خلف الامام مسئله هم ترے نه معلوميږى ځکه که امام د قرائت کفيل ګرځى نو بيا به د ټول مونځ کفيل وى نو بيا ورسره تکبيرات د انتقالات او تسبيحات د رکوع او سجدے او تشهد ولے وايئ ! که د قرائت کفيل وى نو آيا ددے نورو کارونو کفيل به نه وى څه ؟ صرف د قرائت کفيل ګرځول او د باقى کارونو کفيل نه ګرځول تحکم بلادليل دے که ته وائى چه په هغه نورو کښې دليل موجود دے نو مونږ وايو په فاتحه خلف الامام کښې هم دليل موجود دے فلا تقرؤا بشيئ الا بام القرآن۔

★– دارنګه دا مسئله ترے معلوموى چه هر کله امام کفيل او ضامن شو نو د امام د مونځ چه فاسد شي نو مقتدى مونځ به هم فاسد وى نو کله چه امام بے اودسه يا جنابت کښې مونځ اوکړى نو مقتديانو ته به خبر ورکوى ځکه چه د هغوى مونځ هم فاسد شويدے ؟۔

الجواب : دا مسئله هم ترے نه معلوميږى ځکه چه ددے په خلاف ډير دلائل موجود دى چه د امام مونځ متضمن ندے مانځه د مقتدى لره ځکه چه عمر فاروق، عثمان، على او ابن عمر رضى الله عنهم نه روايت مونږ په دويم جلد باب الغسل فصل ثانى دويم حديث د على (۴۳۰/۲) کښې تفصيلا ذکر کړيدى چه دوى په جنابت او بے اودسئ کښې خلقو ته مونځ اوکړو او خپله ئے اعاده اوکړه او قوم ته ئے خبر ورنکړو ۔ او مرفوع حديث د ابن حبان (۴/۳) هم پکښې شته (فکبر فاومأ اليهم ان مکانکم) ۔

وَالْمُؤَذِّنُ مُؤْتَمَنٌ الخ : يعنى مؤذن امين ګڼلے شويدے ځکه چه دا د اوقاتو امين دے خلق دده په آواز باندے اعتماد او بهروسه کوى د بونځونو او روژه ماتولو په سلسله کښې

نو دا به د وقتونو لحاظ ساتي، مخكښې د وقت نه به اذان نكوي ورنه د خلقو عبادات (مونځونه او روژې) به خرابې كړي نو غرض په حديث كښې امام او مؤذن ته تنبيه وركول دي چه خبردار! خپله خپله ذمه واري صحيح سنبال كړئ! خو افسوس چه نن صبا اكثر امامانو او مؤذنينو دا ذمه واري شاته گوزاره كړه او د مذهب او د عوامو د يرے په خاطرئے مونځونه برباد كړل زر زرئے كوي د سنت طريقے هيڅ لحاظ پكښې نه وي ركوع او سجده او قومه جلسه كښې ډير نه حصارېږي پيغمبري مونځ خو لا څه چه په جواز كښې هم شك دے او مؤذنينو ته اوگوره ناوخته اذانونه كوي تردے چه په بعض ديني مراكزو كښې د زيري مازيگر په وقت اذان كوي ددے خلقو نه به الله تعالى ضرور ددے سؤال كوي فالى الله المشتكىٰ والله المستعان ـ

په يو مرفوع حديث د ابن ماجه كښې د عبد الله بن عمرؓ په روايت كښې راغلي دي (چه روستو راځي) : خصلتان معلقتان في اعناق المؤذنين للمسلمين صلاتهم وصيامهم ـ دوه خويونه به د مؤذنينو په څټونو پورې زوړند وي – د مسلمانو مونځونه او روژې ـ يعنى د مؤذنينو نه به الله تعالىٰ د مسلمانانو د مونځونو او روژو تپوس كوي كله چه په بے وقته اذان كولو سره هغه برباد كړي ـ

بعض د مؤتمن معنى دا كوي : امين على حُرَمِ الناس لانه يشرف على المواضع العالية ـ يعنى مؤذن به د خلقو په حرمتونو او عزتونو باندے امين وي ځكه چه دا په اذان كولو كښې اوچتو ځايونو ته خيژي نو پردو عورتونو، زنانو وغيره ته به نه گوري ـ

اَللّٰهُمَّ اَرْشِدِ الْاَئِمَّةَ وَاغْفِرْ لِلْمُؤَذِّنِيْنَ : بعض علماؤ پدے حديث استدلال كړيدے چه اذان افضل دے د امامت نه ځكه چه مؤذن تهٔ امين اووئيلو او امام تهٔ ضامن اووئيلو او حال د امين خو افضل دے د حال د ضامن نه ليكن دا استدلال ضعيف دے وجه دا ده چه دلته د امين نه مراد خاص امين دے چه هغه صرف د وقت كفالت كوي او مطلقاً په هر څه كښې امين ندے مراد او د ضامن نه مراد هغه څوك دے چه د اركانو د مانځه كفالت كوي او د بندگانو او د الله تعالى په مابين كښې په دعاء كښې سفارت كوي، لهذا د ضامن مرتبه اوچته شوه د امين نه ـ

۲– دويم دا چه امام د رسول الله ﷺ خليفه دے او مؤذن د بلالؓ خليفه دے ـ

۳– دريم دا چه رسول الله ﷺ ائمه وُ ته د هدايت دعاء اوكړه او هدايت معنى ده مقصود ته رسول او مؤذنين تهٔ د مغفرت دعاء اوكړه او مغفرت خو غالباً مخكښې

گناهونو لره مستلزم دي لهذا معلومه شوه چه د امام حال او مرتبه ډيره اوچته ده د مؤذن د مرتبي نه خو د امام نه مراد هغه امام دے چه د رسول الله ﷺ په طريقه مونځ كوي د هر جمات مولا نديے مراد او د مؤذن نه مراد هغه دے چه د بلال پشان اذان كوي۔

درجة الحديث : اسناده صحيح اخرجه الشافعي في الام (١/٧٨) واحمد (٢/٤٦١، ٤٧٢) وابوداود (٥١٧) (٥١٨) والترمذي (٢٠٧) وصححه الالباني في صحيح سنن ابي داود (٥١٧)۔

---

١١٠ – وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : مَنْ اَذَّنَ سَبْعَ سِنِيْنَ مُحْتَسِبًا، كُتِبَ لَهُ بَرَائَةٌ مِنَ النَّارِ . رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَاَبُوْدَاوُدَ وَابْنُ مَاجَه .

ترجمه : او ابن عباس رضي الله عنهما فرمائي چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي : څوك چه (د مزدورئ او اجرت د لالچ نه بغير) خالص د ثواب حاصلولو دپاره اووه كالو پورے اذانونه اوكړي نو د هغه دپاره به د دوزخ نه نجات اوليكلے شي۔ (ترمذي، ابن ماجه)۔

تشريح : مَنْ اَذَّنَ سَبْعَ سِنِيْنَ : ددے اووه كاله اذان كولو تعيين كښ حكمت الله تعالى ته معلوم دے۔

كُتِبَ لَهُ بَرَائَةٌ مِنَ النَّارِ : يعني د هغه دپاره د اور نه خلاصوالے اوليكلے شي، دا دليل دے چه ابتداءً به جنت ته داخليږي او واړه او غټ ټول گناهونه به ئے معاف شي، علامه مناويؒ فرمائي : كوم مؤذن چه دومره اوږده موده الله تعالى طرفته دعوت وركوي او په شهادتينو باندے نطق كوي او څه دنياوي لالچ پكښ نه وي نو دا انسان داسے گرځي لكه چه دا د توحيد په قلعه كښ راگير وي نو اور دا طاقت نه لري چه ده ته عذاب وركړي نو پدے كښ مؤذن ته دا ترغيب او دعوت دے چه په خپل اذان باندے څه مزدوري وانخلي، انتهى۔

خو ددے سره دا قيد مراد دے چه ايمان كښ به وفات شوے وي يا د اوه كالو د اذان اجر دا دے چه انسان پرے د اور نه خلاصيږي خو كله چه بل مانع مينځ ته رانشي۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف : اخرجه الترمذي (٢٠٦) وابن ماجه (٧٢٧) وفي اسناده جابر بن يزيد الجعفي وقد ضعفوه وتركه يحيى بن سعيد وعبد الرحمن بن مهدي وغيره انظر التخليص الحبير (١/٢٠٨) والسلسلة الضعيفة (٨٥٠) وقال المباركفوري في

المرعاة (۲/۳۷۱) وجابر ضعيف جداً وقال ابن سعد في الطبقات (۶/۲۴۰) كان ضعيفاً في رأيه وحديثه وقال ابو حنيفة : ما لقيت فيمن لقيت اكذب من جابر الجعفي ما اتيته بشئ من رأيي الا جاء فيه باثر، كذا في نصب الراية قال الزيلعي ضعيف مختلف فيه انظر تحقيق الغاية بترتيب الرواة لهم في نصب الراية (۱۱۷) للحافظ ثناء الله الزاهدي بجهلم ۔

تنبیه : په بعض نسخو د مشكوة كښې ورسره ابوداود ذكر دے مگر دا د كاتبانو خطائي ده حافظ په تهذيب التهذيب (۲/۴۸) كښې فرمائي : روى له ابوداود حديثاً واحداً في السهو في الصلاة من حديث مغيرة بن شعبة نو دا روايت ابوداود ندے راوړے ۔

---

۱۲ – وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ ﷺ، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : يَعْجَبُ رَبُّكَ مِنْ رَاعِيْ غَنَمٍ فِيْ رَأْسِ شَظِيَّةٍ لِلْجَبَلِ يُؤَذِّنُ بِالصَّلَاةِ وَيُصَلِّيْ، فَيَقُوْلُ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ : اُنْظُرُوْا اِلٰى عَبْدِيْ هٰذَا، يُؤَذِّنُ وَيُقِيْمُ الصَّلَاةَ، يَخَافُ مِنِّيْ، قَدْ غَفَرْتُ لِعَبْدِيْ، وَاَدْخَلْتُهُ الْجَنَّةَ . رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ .

ترجمه : او عقبه بن عامر رضى الله عنه فرمائي : رسول الله ﷺ فرمائيلي دي : ستا رب تعجب كوي د غر په سر كښې د بزو خرونكي نه چه د مانځه دپاره اذان كوي او مونځ كوي نو الله تعالى (ملائكو ته) فرمائي : زما دے بنده ته اوگورئ چه اذان كوي او (پابندئ سره) مونځ كوي او زما نه يريږي ۔ پس ما هم ددے بنده گناهونه معاف كړل او دے به جنت ته داخلوم ۔ (ابوداود، نسائي) ۔

تشريح : يَعْجَبُ رَبُّكَ : د تعجب معنى ده : ۱– رَوْعَةٌ تَعْتَرِى الْاِنْسَانَ عِنْدَ اسْتِعْظَامِ الشَّيْءِ ۔ هغه يره ده چه انسان ته د يو شئ د لوئى گنړلو په وقت كښې راپيښيږي ۔

۲– يا اَلتَّحَيُّرُ اللَّاحِقُ عِنْدَ اِدْرَاكِ اَمْرٍ غَرِيْبٍ ۔

او دا خو لغوى معنى ده او په مخلوق كښې مستعمل ده ۔ او تعجب د الله تعالى صفت حقيقي دے او داسے دے لكه څنگه چه د الله تعالى د شان سره مناسب وي، ددے نه انكار ندے پكار پدے بهانه چه ددے نه لوازم فاسده پيدا كيږي نه ! بلكه كما يليق بشانه چه اومنلے شي هيڅ فساد پكښې نشته ۔

مِنْ رَاعِيْ غَنَمٍ : يعنى شپونكے وي كدے بزے خروي ۔

فِيْ رَأْسِ شَظِيَّةٍ لِلْجَبَلِ : شظيه : په فتحه د شين او كسره د ظاء هغه اوچتے حصے ته

وائی چه د غره په سر کښې وی۔

مطلب دا دے چه هغه شپونکے (چرواها) چه د خلقو نه ئے جدائی اختیار کړی وی او د دنیا د علائقو نه ئے لاس وینځلے وی او د غره په سر کښې اوسیږی، کله چه د مانځه وقت پرے راشی نو اذان کوی د الله تعالی او د هغه د رسول نوم پورته کوی او په پابندئ سره د الله تعالی د رضا دپاره مونځ اداء کوی نو الله تعالی هغه ته د گناهونو بخښنه کوی او جنت ته ئے داخلوی او ملائك پدے باندے گواه کوی د وجے د عظمتِ شان د هغه نه۔

يُؤَذِّنُ بِالصَّلَاةِ : دا اذان ولے کوی ؟ نو ددے (۱) فائده دا ده چه د اذان په وجه سره ملائك او جناتو ته د مانځه د وقت په داخليدو باندے خبر كيږی څكه هغوی هم مونځونه کوی۔

(۲) – دارنگه دده اذان چه په مخلوقاتو كښې كوم شے واوری د قيامت په ورځ به دده د ايمان او د توحيد گواهی ورکوی (۳) – دارنگه پدے کښې د پيغمبر د سنت اتباع ده۔

(٤) – او د مسلمانانو سره د جماعت په معامله کښې مشابهت كيږی۔

(٥) – دارنگه کله چه مؤذن اذان او اقامت اوکړی نو ملائك او جنات ورسره شريك مونځ کوی چه د هغے په وجه سره هغه ته د جَمعے ثواب حاصليږی۔

يَخَافُ مِنِّي : دا جمله مستانفه ده او غرض پدے كښې دا دے چه دا مخكنی كارونه دا انسان ولے کوی چه عبادت دے او د خلقو نه جدائی ده دا څكه چه د الله تعالی نه يريږی۔

وَيُقِيمُ الصَّلَاةَ : ای يقيم للصلاة منصوب بنزع الخافض دے۔

فائده : دا حديث دليل دے چه يوائے مونځ کونکے چه په شاړه کښې وی د هغه دپاره هم اذان او اقامت ضروری دے اگر که هيڅوك انسان ئے نه اوری نو پدے کښې رد دے په هغه چا چه وائی اذان به صرف د جماعت دپاره کولے شی۔ ★ – دارنگه اذان سبب دے د گناهونو د معاف كيدلو او د ملائكو د گواهی کولو پدے اذان كونكی باندے۔

درجة الحديث : اسناده صحيح : اخرجه احمد (١٥٧/٤) وابوداود (١٢٠٣) والنسائی (٢٠/٢) وسكت عنه ابوداود وقال المنذری : رجال اسناده ثقات مرعاة (٣٧٣/٢) وتعليق المشكاة (٢٠٧/١)۔

---

١٣ – وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : ثَلَاثَةٌ عَلٰى كُثْبَانِ الْمِسْكِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، عَبْدٌ أَدّٰى حَقَّ اللهِ وَحَقَّ مَوْلَاهُ، وَرَجُلٌ أَمَّ قَوْمًا وَهُمْ بِهٖ رَاضُوْنَ، وَرَجُلٌ

يُنَادِيْ بِالصَّلَوَاتِ الْخَمْسِ كُلَّ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ . رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ : هٰذَا حَدِيْثٌ غَرِيْبٌ .

ترجمه : او ابن عمر رضي الله عنهما فرمائي : رسول الله ﷺ فرمائيلي دي : درې كسان به د قيامت په ورځ د مشكو په ډيركو باندې وي (اول) هغه غلام چه د الله تعالى د حقوق اداء كولو سره ئې د خپل آقا (مالك) حقوق هم اداء كړيدي او (دويم) هغه شخص چه خلقو ته مونځ كوي او خلق د هغه نه خوشحاله وي او (دريم) هغه شخص چه شپه او ورځ (يعني هميشه) د پنځه وقت مونځونو دپاره اذان كوي ـ امام ترمذيؒ دې حديث لره نقل كړيدې او وئيلي ئې دي چه دا حديث غريب دې ـ

تشريح : كُثُبَانِ الْمِسْكِ : كثبان په ضمه د كاف جمع د كثيب ده د شگو ډيركۍ ته وائي ـ عبد نه مراد مملوك دې، برابره ده كه غلام وي يا وينزه ـ

وَرَجُلٌ اَمَّ قَوْمًا وَهُمْ بِهٖ رَاضُوْنَ : د امام نه د خلقو د رضا كيدلو او خوشحاليدو مطلب دا دې چه مقتدي د خپل امام نه پدې وجه مطمئن او راضي وي چه هغه د مانځه احكام او اركان او سنن او آدابو پوره پوره رعايت كوي او قرائت د اصولو او قواعدو مطابق كوي قرائت ئې صحيح وي او كله چه مقتديان راضي وي نو د امام ثواب به زيات وي ځكه چه د ټولو مقتديانو رضا كيدل دليل دې په صلاحيت ددې امام باندې خو دې سره دا خبره ياد ساتل پكار دي چه دا رضاء د كومو مقتديانو مراد ده، عوام خلق خو دا خوښوي چه امام زر زر د هغوي د خواهش مطابق مونځ اوكړي نو آيا دا امام به هم ددې ثواب مستحق وي ؟ نه ! بلكه د هغه مقتديانو رضاء مراد ده چه هغه ديندار وي او د سنت مطابق مونځ خوښوي كه دغه مقتديان رضا نه وي نو بل روايت كښې دي چه د هغه امام مونځ د سر نه نه تيرېږي (نه قبليږي) ـ

فائده : علامه ابن الملكؒ وائي : دا درې قسمه خلق به د مشك په ډيركو باندې د قيامت په ورځ پدې وجه ناست وي چه دې خلقو خپل نفساني خواهشات او د هغې لذتونه د الله د اطاعت او د رسول الله ﷺ د تابعدارئ په سختيو باندې قربان كړيدي پدې وجه الله تعالى دوي ددې په بدله كښې د مشك د خوشبوئي په ډيركو باندې كينوي چه دوئ راحت حاصل كړي او نورو خلقو ته د دوئ عظمتِ شان ظاهر شي ـ مرعاة (٢/٣٧٣) ـ

درجة الحديث : اسناده ضعيف اخرجه احمد (٤/٢٦) والترمذي (١٩٨٦) وقال هذا

حديث حسن غريب لا نعرفه الا من حديث سفيان الثوری ولكن فی سنده ابو اليقظان عثمان بن عمير البجلی الكوفی الاعمٰی ضعيف واختلط و كان يدلس ويغلو فی التشيع كذا فی التقريب ورواه الطبرانی فی الكبير(٢/٤٣٣) رقم (١٣٥٨٤) وقال الهيثمی فی المجمع (١/٣٢٧) فيه بحر بن كنيز وهو ضعيف وقال المنذری : رواه الطبرانی فی الاوسط والصغير باسناد لا بأس به ثم ذكر لفظه مرعاة (٢/٣٧٣) وقال الشيخ الالبانی : وتبعه الشيخ رمضان فی تعليق المشكلة (١/٢١١) اسناده ضعيف قال : ووقع للمنذری وهم فاحش قلده فيه ابن الهمام ثم الشيخ القاری (١/٤٢٩) فقال المنذری بعد ان ضعف ابا اليقظان : ورواه الطبرانی فی الاوسط والصغير باسناد لا بأس به كذا قال ، مع انه عنده من طريق ابی اليقظان نفسه (٢٣٠) من المعجم الصغير انتهی ۔

١٤ – وَعَنْ اَبِیْ هُرَيْرَةَ ﷺ ، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : اَلْمُؤَذِّنُ يُغْفَرُ لَهٗ مَدٰى صَوْتِهٖ، وَيَشْهَدُ لَهٗ كُلُّ رَطْبٍ وَيَابِسٍ، وَشَاهِدُ الصَّلَاةِ يُكْتَبُ لَهٗ خَمْسٌ وَعِشْرُوْنَ صَلَاةً وَيُكَفَّرُ عَنْهُ مَا بَيْنَهُمَا . رَوَاهُ اَحْمَدُ وَاَبُوْدَاوُدَ ، وَابْنُ مَاجَه . وَرَوَى النَّسَائِیُّ اِلٰى قَوْلِهٖ كُلُّ رَطْبٍ وَيَابِسٍ، وَقَالَ : وَلَهٗ مِثْلُ اَجْرِ مَنْ صَلّٰى .

ترجمه : او ابو هريره رضی الله عنه فرمائی : رسول الله ﷺ فرمائيلی دی : د اذان كونكی بخشش د هغه د آواز د انتهاء مطابق كيږی، هر وچ او لوند شے او مونځ ته حاضريدونكے سړے د هغه (د ايمان) ګواه كيږی ۔ د پنځه ويشت مونځونو ثواب (د هغه په زياتی اعمالو كښې) ليكلے شی او د مونځونو ترمينځ چه كوم ګناهونه دده نه شوی وی معاف كيږی ۔ (احمد، ابوداود، ابن ماجه) او نسائی دے روايت لره د كل رطب ويابس پورے نقل كړيدے او دا الفاظ ئے زياتی نقل كړيدی چه : وله مثل اجر من صلی (يعنی هغه ته به د مونځ كونكی برابر ثواب ملاويږی ۔

تشريح : **اَلْمُؤَذِّنُ يُغْفَرُ لَهٗ مَدٰى صَوْتِهٖ** : مدی په فتحه د ميم او دال سره انتهاء او غايت ته وائی ددے يو مطلب دا دے چه مؤذن د اذان په وقت څومره آواز اوچتوی نو هغومره به دده مغفرت كيږی كه انتهائی درجے ته آواز اورسوی او خپل تول طاقت اولګوی نو هغومره پوره مغفرت به ئے كيږی (خطابیؒ) او ددے تائيد په بل روايت د نسائی كښې داسے دے (يغفر له مد صوته) يعنی څومره چه آواز اوګد وی هغومره به

بخښنه ورته كولے شی نو دا حديث دليل شو پدے خبره چه په اذان باندے آواز اوچتول مستحب دی او ډير اجر لری ۔
۲- مطلب : كه ګناه جسم فرض كړے شی او هغه دومره زياته وی چه كه د مؤذن آواز كوم ځائے ته اورسی د هغه ځائے نه تر مؤذن پورے دا ټول مسافت د ګناهونونه ډك كړے شی نو بيا به هم مؤذن ته اوبخښلے شی ۔
۳- مطلب : د مؤذن اذان چه كوم ځائے ته رسيږی دومره مسافت چه څومره زمانه او وقت كښې قطع كولے شی په هغے زمانه كښې كه مؤذن كوم ګناهونه كړی وی هغه به ورته معاف شی ۔
وَيَشْهَدُ لَهُ كُلُّ رَطْبٍ وَيَابِسٍ : د رطب (لوند شی) نه مراد هغه مخلوق دی چه په هغے كښې نمو وی لكه انسان، حيوانات او نباتات وغيره او د يابس (اوچ) نه جمادات يعنی كانړی او خاوره وغيره مراد دی يعنی كوم لوند يا اوچ شی ته چه د مؤذن آواز اورسيږی هغه به د مؤذن دپاره په ايمان باندے ګواهی وركوی او دا ګواهی د هغوی په حقيقت باندے بناء ده ځكه الله تعالی پدے باندے قادر دے چه د هر شی نه خبرے را اوباسی ﴿ قَالُوٓا اَنْطَقَنَا اللّٰهُ الَّذِیٓ اَنْطَقَ كُلَّ شَیْءٍ ﴾ ۔
وَشَاهِدُ الصَّلَاةِ : ۱- دا په المؤذن يغفر له باندے معطوف دے يعنی هغه څوك چه مانځه د جماعت ته حاضريږی هغه دپاره پنځه ويشت درجے د مونځ ثواب ليكلے شی ۔
۲- بعض وائی : وشاهد عطف دے په رطب باندے اَیْ يَشْهَدُ لِلْمُؤَذِّنِ كُلُّ شَاهِدِ الصَّلٰوةِ يعنی مؤذن دپاره به هر هغه څوك هم ګواهی وركوی چه مانځه ته دده د اذان اوريدو په وجه حاضر شوے وی ۔
او يُكْتَبُ لَهٗ : كښې به ضمير مؤذن ته راجع شی يعنی د مؤذن د مونځ به پنځه ويشت درجے ثواب ليكلے كيږی ۔ حافظ ابن حجرؒ فرمائی : ددے تائيد په روستو الفاظو د روايت د نسائی كښې دے چه وَلَهٗ مِثْلُ اَجْرِ مَنْ صَلّٰی : يعنی كله چه مانځه ته حاضريدونكی دپاره پنځه ويشت درجے ثواب اوليكلے شو نو د مؤذن دپاره به هم د هغه پشان ثواب ليكلے شی نو د مؤذن درے فضيلتونه شو يو مغفرت د ګناهونو او بل ګواهی د هر شی او بل پنځه ويشت درجے مونځ زياتيدل او مانځه ته د حاضريدونكی يو اجر شو فتدبر. انظر المرقاة (۱۲۹/۲) ۔
وَيُكَفِّرُ عَنْهُ : كښې به د عنه ضمير يا مؤذن ته راجع وی يا شاهد ته كه شاهد ته راجع

شي نو دده هم دوه فضيلتونه شو چه مغفرت الذنوب او پنځه ويشت درجې مونږ زياتيدل۔

سوال دا دے : بل روايت کښې راغلي دی چه جَمعے ته حاضريدونکی دپاره د اووه ويشت درجې مونځونو ثواب ليکلےشي او دلته پنځه ويشت درجې ذکر شوے ددے تطبيق څه دے ؟ ۔ **الجواب** : هيڅ تعارض نشته ځکه سبع وعشرين کښې خمس وعشرين داخل دی نو اووه ويشت درجې ثواب ليکلے شي ليکن پنځه ويشت ئے ذکر کړل پدے کښې نفی د زيادت نشته مفهوم العدد لره اعتبار نشته ۔

۲- جواب : دا اختلاف بناء دے په اختلاف د تعدد د وحی سره ابتداء کښې وحی د پنځه ويشت درجو ثواب شوے وه او روستو اووه ويشت درجې ۔

۳- د انسانانو اخلاص او توجه مختلف ده د چا په مانځه کښې چه ډير اخلاص او توجه او خشوع وی نو هغه دپاره اووه ويشت درجې ثواب او د چا په مانځه کښې چه هغومره توجه نه وی نو پنځه ويشت درجې ثواب ليکلے شي والله تعالی اعلم باب الجماعه کښې به راشي ان شاء الله تعالی ۔

وَيُكَفَّرُ عَنْهُ مَا بَيْنَهُمَا : (۱) – ما بينهما نه مراد يا د اذان او اقامت ترمينځ موده ده (۲) – يا ما بين الصلاتين مراد دے ۔ (۳) – يا مابين الاذانين مراد دے يعنی د مؤذن هغه گناهونه چه د اذان نه تر اقامت پورے ئے کړے وی يا دوه اذانونو ترمينځ گناهونه به ئے معاف شي۔ که عنه کښې ضمير هر مونځ کونکی ته راجع شي نو بيا به مابين الصلاتين مراد شي يعنی د جَمعے سره د مونځ کونکی د يو مانځه نه تر بل مانځه پورے گناهونه به معاف شي يا که د اذان نه پس سمدست مانځه ته لاړ شي نو دده هم دا فضيلت دے چه گناهونه به ئے معاف شي لکه بل روايت کښې دی، څوك چه د مانځه په انتظار کښې ناست وی ملائك ورته د مغفرت او رحمت دعاء کوی (اللهم اغفر له وارحمه) ۔

وَلَهُ مِثْلُ اَجْرِ مَنْ صَلّٰى : د مؤذن د مونځ کونکو پشان اجر ځکه کيږی چه ده هغوی ته د مانځه دعوت ورکړو او حديث کښې دی : (من سن سنة حسنة فله اجرها واجر من عمل بها) (ومن دعا الی هدی) څوك چه يو نيك کار طرفته دعوت ورکړی د هغه به د عمل کونکو پشان اجر کيږی ۔

درجة الحديث : اسناده صحيح اخرجه احمد (۲/ ۴۱۱) (۴۲۹، ۴۶۱) وابوداود (۵۱۵) والنسائی (۲/ ۱۳) وابن ماجه (۷۲۴) وابن خزيمة (۳۹۰) وصححه ابن حبان فی

الاحسان (۳/۸۸ رقم: ۱٦٦٤) وصححه الشيخ الالباني فى صحيح ابى داود (٥١٥) وتعليق المشكوة (۱/۲۱۱) ۔

١٥ – وَعَنْ عُثْمَانَ بْنِ اَبِى الْعَاصِ رضي الله عنه، قَالَ: قُلْتُ: يَارَسُوْلَ اللهِ! اِجْعَلْنِىْ اِمَامَ قَوْمِىْ! قَالَ: «اَنْتَ اِمَامُهُمْ، وَاقْتَدِ بِاَضْعَفِهِمْ، وَاتَّخِذْ مُؤَذِّنًا لَا يَأْخُذُ عَلٰى اَذَانِهٖ اَجْرًا». رَوَاهُ اَحْمَدُ وَاَبُوْدَاوُدَ وَالنَّسَائِىُّ.

ترجمه: او عثمان بن ابى العاص رضى الله عنه فرمائى: ما عرض اوکړو: اے د الله رسوله! ما د خپل قوم امام مقرر کړه! هغه اوفرمائيل: ته د هغوى امام شوے (يعنى ما ته د هغوى امام مقرر کړے ليکن دا ياد ساته چه د مانځه په کولو کښے) ته د هغوى نه ډير ضعيف او کمزورى اقتداء کوه او داسے مؤذن مقرر کړه چه اذان وئيلو باندے مزدورى نه اخلى ـ (احمد، ابوداود، نسائى) ـ

تشريح: **قُلْتُ**: د حديث شان ورود داسے بيان شويدے چه د طائف نه د ثقيف قبيلے وفد نبى عليه السلام ته په مدينه کښ په سنه (۹) نهم کال د هجرت کښے حاضر شو۔ رسول الله ﷺ هغوى دپاره په مسجد نبوى کښ خيمه اووهله، دے دپاره چه قرآن کريم واورى او په هغوى کښ عثمان بن ابى العاص الثقفى هم موجود وو او دا په کښے د عمر په لحاظ د ټولو نه کشر وو نو په دغه موده کښ به دے د رسول الله ﷺ سره لازم ګرځيدو او د هغه نه به ئے د قرآن کريم د لوستلو مطالبه کوله نو ډيره حصه د قرآن کريم ئے حفظ کړه نو دا په هغوى کښ ډير عالم وو په کتاب الله او سنت د رسول الله ﷺ باندے کله چه رسول الله ﷺ په ده کښ حرص على الخير او صلاحيت اوليدو نو په ثقيف قبيله او په طائف باندے ئے امير مقرر کړو۔نو ده نبى عليه السلام نه دا مطالبه اوکړه چه ما د خپل قوم امام جوړ کړى په مانځه کښ نو رسول الله ﷺ هغه لره امام جوړ کړو او دا ئے ورته اووئيل چه ته امام شوے نو د کمزورو خلقو اقتداء به کوے د هغوى لحاظ به ساتے ۔

اَنْتَ اِمَامُهُمْ: جمله اسميه ئے راوړه او روستو جمله فعليه ئے پرے عطف کړه ددے نه دا فائده معلومه شوه چه عثمان د امامت اهل او لائق دے ګويا کښ د هغه امامت د مخکښے نه ثابت دے او هميشه دپاره به وى ځکه ئے جمله اسميه راوړه او داسے ئے اونه وئيل چه (فام بهم) دوئ ته امامتى کوه ۔

وَاقْتَدِ بِاَضْعَفِهِمْ: اى لاحظ اضعفهم فى تخفيف الصلاة يعنى دے مقتديانو کښ د

كمزورو خلقو لحاظ ساتـه چـه مونځ ورته آسان كوه بغير د څه اركانو پريخودلو نه نو معلومه شوه چه امام به په مانځه كښ د ضعيف او كمزورو خلقو رعايت كوى يعنى قرائت كښ ډير اوګدوالے به نكوى دارنګه تسبيحات به زيات نه وائى ـ بلكه مناسب مقدار مونځ به كوى او ددے مقدار او اندازه څه ده ؟

نو هغه دا چه د رسول الله ﷺ د مانځه پشان مونځ كول بعينهٖ مختصر او مناسب مونځ دے چه هغه به پنځه وقته مونځونو كښ كوم سورتونه لوستل هغه ذكر دے ولولى ـ دارنګه لس لس كرتے تسبيحات د ركوع او سجدے نه به ئے نه زياتوى كله چه هغه په مناسب انداز كښ لوستلے كيږى، دا پيغمبرى مونځ دے ـ

بيا ددے حديث او ددے پشان د نورو حديثونو مخالفت راځى او داسے به هم نكوى چه مونځونه د مقتديانو د خواهش تابع كړى او د سنت طريقه هيڅ لحاظ پكښ اونشى ځكه دا تفريط دے او افراط او تفريط دواړو نه شريعت منع فرمائيلے ده بلكه مونځ كښ دوه حقه دى يو حق الله دے نو د الله د حق لحاظ ساتل هم ضرورى دى او بل طرفته حق د بندګانو دے چه مونځ دومره اوګد كړى چه خلق تنګ كړى او د مانځه پريخودلو ته ئے مجبوره كړى ـ

نو دواړو طرفته به كتلے شى او ددے دواړو لحاظ په هغه مونځ كښ دے چه د رسول الله ﷺ د عمل مطابق وى والله تعالى اعلم ـ

فائده : دلته د امام نه مقتدى جوړ شويدے او د هغه نه تعبير په اقتداء شويدے يعنى د مقتديانو اقتداء كوه مراد ترينه تابعدارى ده يعنى لكه څنګه چه ضعيف انسان ستا د مانځه اقتداء كوى نو ته هم د هغه د ضعف او كمزورتيا اقتداء اوكړه او هغه ته په قيام او قرائت كښ تخفيف او آسانى اوكړه پداسے طريقه چه ګويا كښے هغه په خپله اراده قيام او ركوع كوى او ته د هغه دپاره داسے تابع شه چه ګويا كښ ته د هغه په ركوع سره ركوع كوے يعنى هغه خپل ځان ته مه مجبوره كوه چه ته داسے زر زر مونځ اوكړے چه ضعيف او بوډاګان تا پسے نشى رسيدلے يا داسے اوګد والے اوكړے چه هغه ځان ته مجبوره كړے، دا كار مه كوه ـ

او دا تعبير په اقتداء سره پدے وجه اوشو چه پدے كښ تاكيد راشى په تابعدارئ د مقتدى باندے ځكه چه د مقتدى وظيفه دا ده چه دا به د امام تابع وى او د هغه د مخالفت نه به ځان ساتى نو دارنګه دلته به امام د كمزورو د لحاظ نكولو نه ځان ساتى ـ

(توربشتی) ۔

الفائدة الغريبة : د رسول الله ﷺ نه به چه چا د یوې عهدې (وظیفې) مطالبه اوکړه هغه به نه ورکوله مګر عهده دوه قسمه ده (۱) یوه دنیوی عهده او ریاست دې ۔

۲– او دویم دینی ریاست او عهده ده نو اوله مذمومه ده د دنیوی عهدې او مشرئ غوختل په شریعت کښې حرام دی او رسول الله ﷺ نه به چه چا د دنیاوی عهدې ملازمت مطالبه اوکړه هغه به دغه عهده غوختونکی ته نه حواله کوله او دنیوی عهده هغه ده چه د انسان مقصود په هغې کښې د دنیا حاصلول او طلب د جاه او منصب او په خلقو باندې اوچتوالې حاصلول وی نو دا مذموم او حرام دی ۔

او دویم دینی عهده او مشری ده چه یو انسان په دین کښې مشری او امامتی غواړی نو دا په شریعت کښې مطلوب ده او طلب ئې جائز بلکه اولیٰ او افضل دې ځکه چه قرآن کریم کښې دی (وَاجْعَلْنَا لِلْمُتَّقِينَ إِمَامًا) د مؤمنانو عباد الرحمن صفت دا دې چه دوئ به د الله تعالی نه د امامت فی الدین سوال کوی، ابراهیم علیه السلام ته الله تعالی فرمائیلی وو: ﴿ إِنِّي جَاعِلُكَ لِلنَّاسِ إِمَامًا قَالَ وَمِن ذُرِّيَّتِي ﴾ امیر یمانی په سبل السلام (۱/۱۹۶) کښې وائی : الحديث يدل على جواز طلب الامامة فی الخیر الخ یعنی د خیر او نیکئ په کارونو کښې مشری طلب کول بالکل جائز دی او دا حدیث پرې دلیل دې او الله تعالی د مومنانو عباد الرحمن په دعاګانو کښې دا ذکر کړیدی :﴿ وَاجْعَلْنَا لِلْمُتَّقِينَ إِمَامًا ﴾ او دا دینی عهده خلق د څه دپاره حاصلوی ؟، د اجر او ثواب په نیت چه انسان د دین خدمت اوکړی او د خپل عمل او د خلقو د دعوت اجر ورته ملاؤ شی ۔

فائده : شیخ عبد الله البسام په توضیح الاحکام (۱/٤٦٩) کښې لیکی : کله چه انسان خپل ځان کښې په یو عمل باندې قدرت وینی چه بل څوك دده قائمقام نشی جوړیدې او دده ځائې نشی نیولې نو دې شخص باندې دا ضروری ده چه طلب به کوی او دا پرې فرض عین ده او ددې قبیلې نه د یوسف علیه السلام ولایت طلب کول دی ﴿ اجْعَلْنِي عَلَىٰ خَزَائِنِ الْأَرْضِ إِنِّي حَفِيظٌ عَلِيمٌ ﴾ ځکه هغه د مصر اقتصاد اولیدو چه تباه کیږی او د هغې اصلاح او حفاظت صرف او صرف دې کولې شی نو ددې شریف مقصد دپاره ئې د ولایت او مشرئ مطالبه اوکړه انتهیٰ ۔ لیکن اوسنی ووټونه او انتخابات پدې باندې نه قیاس کیږی ځکه چه په ووټونو کښې جمهوریت طرفته دعوت دې او جمهوریت کفر دې ځکه چه د جمهوریت معنی ده : الحاكمية للعوام والاكثرية ۔ یعنی حاکم اعلیٰ به عوام

وى او ځوك چه زيات وى د هغوى حاكميت به وى پدے كښې به د الله او د رسول د حكم هيڅ اعتبار نه وى پدے وجه ځوك چه د جمهوريت آوازونه لګوى او د جمهوريت احترام كوى او دا وائى چه د جمهوريت احترام پكار دے نو دا كفرى كلمات دى چه ويونكے ئے غير شعورى طور سره ځان كفر طرفته راكاږى ـ

وَاتَّخِذْ مُؤَذِّنًا لَا يَأْخُذُ عَلٰى اَذَانِهٖ اَجْرًا : يعنى ځان دپاره داسے مؤذن اونيسه چه په اذان باندے مزدورى او عوض نه اخلى دا حديث په دوه مسئلو باندے دليل دے ـ

(١) – **مسئله** : يو دا چه امام به جدا وى او مؤذن به جدا وى، امام لره مؤذن جوړيدل مناسب ندى ځكه چه دلته رسول الله ﷺ عثمان ته حكم اوكړو چه ځان دپاره مؤذن اونيسه او دا ئے ورته او نه وئيل چه ته اذان هم كوه ! ـ

لكه ددے مسئلے تفصيل مخكښې په ابتداء د باب الاذان كښې ذكر شو ـ

٢-دويمه مسئله :

تخميد الالتهابات عن مسئلة اخذ الاجرة على الاذان والعبادات

آيا په عبادات، اذان قرائت د قرآن كريم، تدريس او تعليم او دم اچولو باندے پيسے اخستل جائز دى ؟ ـ نو اصل په عباداتو كښې دا ده چه انسان په عبادت او طاعت باندے هيڅ قسم اجرت او عوض وانخلى او خالص د الله تعالى د رضاء دپاره ئے اوكړى ليكن زمونږ په شريعتِ اسلامى كښې په بعض عباداتو باندے د عوض اخستو وسعت او ګنجائش هم راغلے دے چه ددے تحقيق په لاندے طريقه دے :

١ – **اول صورت** : په ختم د قرآن كريم باندے پيسے اخستل پدے طريقه چه خپل كور يا دوكان وغيره ته قاريان را اوغواړى او هغوى باندے د قرآن ختم اوكړى او آخر كښې پرے خوراك اوكړى او پيسے ورته هم وركړى يا په رمضان كښې په تراويح كښې د قرآن په ختمولو باندے پيسے اخستل نو ددے حكم دا دے چه دا بالاتفاق ناروا او حرام كار دے ـ

★– اوله وجه د حرمت خو دا ده چه دا طريقه ختم نه د رسول الله ﷺ نه نقل ده او نه د هغه د صحابه كرامو نه او نه د دين د امامانو نه ، او نه دا د رسول الله ﷺ په زمانه كښې وه، نه د ايصال د ثواب دپاره او نه د تبرك دپاره بس عدم نقل دليل دے ددے په حرمت باندے ـ

٢– بله وجه دا ده چه پيسے اخستل خو په ځائے پريده نفس دا قسم ختمونه كول بدعت دے صحابو چرته خپل كور كښې دا قسم ختم ندے كړے بلكه د هغوى د ختم

طريقه به دا وه چه نبي عليه السلام به د يو صحابي كور ته لاړو او هلته به ئې دوه ركعاته مونځ اوكړو او هغوی ته به ئې د بركت دعاء اوكړه (او دے نه پس خوراك څكاك هم جائز دے) لكه دا كار تقريباً لس مواقعو كښې شوېدے لكه د ام سليمؓ په كور كښې نبي عليه السلام داكار اوكړو.

٣– دريمه وجه دا ده چه داسے ختم كولو ته هيڅ ضرورت نشته كه داسے ختم اونكړے شي هيڅ ګناه پكښې نه لازميږي بلكه كول ئې بدعت دے نو ددے وجه نه د داسے ختمونو پريخودل واجب دي او داسے فتوىٰ د فقهاءِ احنافو هم ده لكه شامي په رد المحتار (٣٥/٥) كښې ليكي: علامه عيني په شرح د هدايه كښې وئيلي دي: ويمنع القارى للدنيا والآخذ والمعطى آثمان فالحاصل ان ما شاع فى زماننا من قرائة الاجزاء بالاجرة لايجوز الخ. يعني د دنيا دپاره چه څوك قرآن لولي هغه به ددے كار نه منع كولے شي او پدے باندے اجرت او مزدوري اخستونكے او وركونكے دواړه ګناهګار دي.

بيا وائي: حاصل د خبرے دا دے چه زمونږ په زمانه كښې چه د قرآن د حصو قرائت كول په اجرت سره كوم رواج دے نو دا ناروا او حرام دے څكه چه پدے كښې امر دے په قرائت كولو سره او ثواب امر كونكي ته وركول دي او قرائت د مال دپاره كول دي نو پس كله چه د قاري صاحب اجر او ثواب اونه شو څكه چه د هغه نيت صحيح نه وو نو مستأجر ته به د كوم ځائے نه ثواب اورسي (يعني د كور والا ثواب هم ضائع شو) بيا وائي: ولولا الاجرة ما قرء احد لاحد فى هذا الزمان بل جعلوا القرآن العظيم مكسباً ووسيلة الى جمع الدنيا انا لله وانا اليه راجعون انتهىٰ.

يعني كه چرے پيسے او خوراك وغيره په تلاوت كښې نه وے نو هيچا به د بل دپاره پدے زمانه كښې تلاوت او ختم نه وے كړے خو دے خلقو د عظيم قرآن نه د كاروبار او دنيا جمع كولو ذريعه او وسيله جوړه كړه انا لله وانا اليه راجعون انتهى.

نو هر كله چه ختم كول بدعت شو نو په هغے باندے اجرت اخستل خو ډير لوئى بدعت قبيحه شو.

٤– دارنګه په تراويح كښې ختم كول پداسے طريقه څنګه چه نن صبا زمانه كښې كيږي دا هم بدعت دے لكه عبد السلام الخضر په السنن والمبتدعات (١٦٠/١) كښے ليكي: په تراويحو كښې د قرآن ختمول بدعت دے مطلب دا چه صحابه كرامو به دا اهتمام نه كولو چه خامخا قرآن ختم كړي بلكه هغوی به د رمضان په شپو كښې اوګد

مونځ کولو بنه مینه او تازه ګئ سره نو تول قرآن به ئے په یو میاشت کښې یا په اووه یا په پنځلس ورځو کښې ختم کړو ـ و کذا فی قیام اللیل لابن نصر المروزی (۲٤٦) ـ

نو ددے دپاره په اجرت بانددے قاریان راوستل هم بدعت دے او دا فتویٰ ده د ابن ابی العز الحنفی په شرح العقیدة الطحاویة (۲۵٤) کښې او د سعودی علماؤ هم ده لکه په فتاوی اللجنة الدائمة (٤/۹۰) کښے ذکر ده ـ (۱) – اوله وجه دا ده چه دیته داسے ضرورت نشته کوم ضرورت چه تعلیم د قرآن او حدیث او فقه ته دے (۲) – دویمه وجه دا ده چه داسے هیئت خو د سلف صالحینو نه ثابت ندے (۳) – دریم دا چه په دے کښې مقصد هم صرف ثواب دے او ثواب اخروی په نیت د اجرت دنیویه سره باطلیږی ـ

۳- دریم صورت : دارنګه هغه عمل چه مقصد په هغے کښې ثواب وربخښل وی بل چا ته که مړے وی او که ژوندے وی لکه تلاوت د قرآن کریم دپاره د ثواب د مړو نو په دے کښې هم اتفاق د علماؤ دے چه په دے باندے اجرت اخستل (که مشروط وی او که معروف وی که حقیقی اجرت وی او که مشابه د اجرت وی) ـ حرام دی بلکه د امام شافعی رحمه الله او نورو اهل علمو په نیز خو د عبادت بدنیه د ثواب بخښنه بل چا ته نه صحیح کیږی او دا بدعت دے ـ

او د احنافو په نیز باندے اګرچه د عبادت بدنیه ثواب بل چا ته بخښنه کیدے شی لیکن په عبادتِ بدنیه باندے چه نیت د اجرت اوشی نو د هغے اخروی ثواب باطل شی نو هر کله چه د لوستونکی ثواب او نه شو نو بل چا ته به څه اوبخښی ؟ بلکه دوهوکه کوی کما مر فی عبارة الشامی ـ

او دا خبره ئے په مجموعة الرسائل (۱۳) کښې هم ذکر کړیده او دیته ئے بدعت وئیلے دے او ډیره بدی ئے بیان کړیده د هغه ملایانو چه دیته جائز وائی چه دا حرام خواره دی او د غیر الله دپاره عمل کوی او رد ئے کړیدے په کتابونو د فقه باندے چه دیته جائز وائی په (۱٦۸) او (۹۰) کښے او دائے داخل کړیدی په ولا تشتروا بآیاتی ثمنا قلیلا کښې په (۱٦۷) و (۱٦۸) او په (۱۸۱) کښې ئے وئیلی دی چه په دے کښې اخستونکے او ورکونکے دواړه ګناهګار دی ـ

په (۱۷۱) او (۱۸۰) کښې اوګوره روح المعانی سورة الکهف آخری آیت او تفسیر فتح العزیز (۲۰۸) او کتاب الزهد د ابن المبارك (۵۰۸) ـ او مصنف عبد الرزاق (٤۸۱) او تفسیر احسن الکلام (۱/۲۳۲) لشیخنا السید عبد السلام الرستمی وفتاوی الدین الخالص (۲/۱۲۰-۱۳۲) ـ

نور دلائل د حرمت :

۱ - اول حدیث دابوسعید خدری رضی الله عنه دے : انه سمع النبی ﷺ یقول : تعلموا القرآن واسئلوا الله به الجنة قبل ان یتعلمه قوم یسألون به الدنیا فان القرآن یتعلمه ثلاثة : رجل یباهی به ورجل یتأکل به ورجل یقرأه لله، اخرجه ابن نصر فی قیام اللیل (۷٤) واحمد (۳/۳۸، ۳۹) والحاکم (٤/٥٤٧) وسنده صحیح لشواهده کذا فی الصحیحة (۱/٤٦۱) رقم (۲٥۷) ۔

۲ - دویم حدیث : عمران بن حصین رضی الله عنه په یو قاری باندے ورتیر شو چه قرآن ئے لوستلو، بیائے په هغے سره سوال اوکړو نو عمران رضی الله عنه انا لله وانا الیه راجعون اوویلو، بیائے اوفرمائیل : ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلی دی چه فرمائیلے : من قرأ القرآن فلیسأل الله به فانه سیجئ اقوام یقرأون القرآن یسألون به الناس، اخرجه الترمذی رقم (۳۰۹٦) واحمد (٤/٤۳۲ – ٤۳۹) وسیأتی فی المشکوة (۱/۱۹۲) والحدیث صحیح کما فی السلسلة الصحیحة (۱/٤٦۱) رقم (۲٥۷) ۔ یعنی چا چه قرآن لوستلو نو صرف د الله نه دِ ددے بدله غواړی ځکه چه نزدے ده چه داسے خلق به راشی چه قرآن به لولی او د خلقو نه به پرے سوالونه کوی ۔

۳ - دریم حدیث : د جابر رضی الله عنه او سهل بن سعد الساعدی رضی الله عنه روایت دے دواړه فرمائی : خرج علینا رسول الله ﷺ ونحن نقرأ القرآن وفینا الاعرابی والعجمی فقال : اقرأوا فکل حسن سیجئ اقوام یقیمونه کما یقام القدح یتعجلونه ولا یتأجلونه ۔ اخرجه ابوداود (۱/۸۳۰) واحمد (۳/۳٥۷) وابن حبان رقم (۱۸۷٦) وسیأتی فی المشکوة (۱/۱٦۱) وسنده صحیح کما قال الشیخ الالبانی فی السلسلة رقم (۲٥۹) ۔

٤ - حدیث : عن عبد الرحمن بن شبل الانصاری ان معاویة قال له اذا اتیت فسطاطی فقم فاخبرنی ما سمعت من رسول الله ﷺ قال: وسمعت رسول الله ﷺ قال : اقرأوا القرآن ولا تأکلوا به ولا تستکثروا به ولا تجفوا عنه ولا تغلوا فیه ۔ اخرجه الطحاوی (۲/۲۳٦) کتاب الاجارات واحمد (۳/٤۲۸ – ٤۲۹) والطبرانی کما فی المجمع (٤/۷۳) ۔

(قرآن لولئ او خوراکونه پرے مه کوئ !) ۔

٤ - صورت : په دم باندے اجرت اخستل یعنی چه قرآن کریم یو انسان اولولی غرض پکښې دم اچول وی په یو شخص باندے نو پدے کښې هم د علماؤ اتفاق دے چه پدے باندے اجرت اخستل جائز دی، وجه دا ده چه پدے مقام کښې د قرآن کریم په لوستلو کښې مقصد علاج او دوائی کول دی او په هغے کښې د ثواب حاصلول مقصد نه دے نو پدے باندے

پیسے وغیرہ اخستل جواز لری۔

او دلیل پدے باندے دا دے چه صریح نص پدے باب کښ راغلے دے چه هغه حدیث د لدیغ دے چه بخاری او مسلم کښے راغلے دے : د ابوسعید خدری نه روآیت دے چه مضمون ئے دا دے چه د کافرانو یو سردار ماریا لړم چیچلے وو، صحابه کرام هلته کښ پیغ شوی وو نو هغوی خپل مینځ کښے اووئیل چه دلته څه خلق ناست دی څئ چه ورشو څه فائده مند شے به ورسره وی چه راغلل ورته ئے اووئیل زمونږ سردار چیچلے شویدے او هر علاج مو ورله اوکړو خو فائده نه ورکوی تاسو سره څه علاج شته ؟ نو ابوسعید خدری ورسره شرط اولګولو چه تاسو مونږ لره میلمستیا نده راکړے مونږ ته به په دم اچولو باندے یو کنډك د ګډو بیزو راکوئ پدے فیصله اوشوه۔ ابوسعید خدری دم واچولو، سردار جوړ شو او عوض ئے دوئ لره ورکړو او نبی علیه السلام ته چه راغلل نبی علیه السلام د هغوی تائید اوکړو او دا ئے اووئیل : اضربوا لی معکم سهماً) یعنی ما دپاره هم پکښے حصه مقرر کړئ ! و کذا فی المغنی لابن قدامة (۱۵۵/٦)

نو پدے دم کښ ئے سورت فاتحه لوستلے ده او شرط ئے هم لګولے دے۔

★- دارنګه خارجه بن صلت د خپل تره نه روایت کوی چه هغه نبی علیه السلام ته د اسلام راوړلو په غرض حاضر شو، واپس کور ته د تلو په وقت په لاره کښ په یو داسے قوم باندے راتیر شو چه د هغوی سره یو لیونے شخص په زنځیرونو کښ تړلے شوے وو د لیونے کور والا د هغه نه مطالبه اوکړه چه مونږ ته معلومه شویده چه ستا سو ملګری (پیغمبر) خیر راوړے دے نو آیا تاسره د هغے نه څه شته دے چه په هغے سره ددے لیونی علاج اوکړے ۔ هغه وائی ما په سورت فاتحه سره دم کړو، هغه سمدستے روغ شو نو هغوی ما ته سل بیزے راکړے زه چه رسول الله ﷺ خواته راغلم او خبر مے ورکړو، ما ته ئے اوفرمائیل : د سورتِ فاتحے نه ړ سوا بل څه لوستلی وو ما اووئیل نه ! نبی علیه السلام ورته اوفرمائیل : دا قبول کړه یقینا څوك چه په باطل دم خوراك کوی نو تا په حق دم باندے خوراك اوکړو ۔(لعمری لمن اکل برقیة باطل لقد اکلت برقیة حق) رواه احمد (۲۱۰/٥) والنسائی فی الکبری (۲٤۹/۸) وابن حبان (۷) ٦۲٦) والمزی فی تهذیب الکمال (۱٤/۸) والصارم البتار۔

او امام قرطبی د امام ابوحنیفه نه په دم باندے د اجرت اخستلو جواز نقل کړیدے عمدة القاری (۹٥/۱۲)

★– عينى په بنايه شرح هدايه (۳٤١/۹) كښې ذكر كړيدى چه رقيه (دم اچول) يو قسم دوائى كول دى او په هغې باندې اجرت اخستل مباح دى او داسې شامى په مجموعة الرسائل (۱۵۷/۲) كښې وئيلى دى چه جائز دې استيجار په دم كولو باندې اگرچه په قرآن سره وى ځكه چه دا عمل په نيت د قربت (ثواب) سره نه وى بلكه دوائى كول مقصد دې لكه طبابت كول شو او د جواز دپاره دليل حديث د لديغ دې او دغه شان په مبسوط د امام سرخسى (١٥٨/٤) كښې هم دى۔

(۵)- **صورت** : په اذان باندې تنخواه او اجرت اخستل څنگه دى ؟ نو پدې كښې د اهل علمو اختلاف واقع دې، اكثر اهل علم ددې په حرمت او كراهيت قائل دى، محمد بن عبد الهادى متوفى (٧٤٤هـ) په تنقيح تحقيق احاديث التعليق (٦٨/١) كښې د شيخ الاسلام ابن تيميهؒ نه نقل كړيدى چه په تولو قرباتو باندې اجرت اخستل مكروه دى په اجماع د سلف صالحينو انتهىٰ خو اختلاف په حرمت كښې دې نو علامه شوكانىؒ په نيل الاوطار (٤٤/٢) كښې او علامه مباركفورى په تحفة الاحوذى (١٨٤/١) كښې ذكر كړيدى چه په شرط لگولو سره په اذان او اقامت باندې اجرت اخستل د امام ابو حنيفه او هادى او قاسم او ناصر وغيره په نيز حرام دى او امام مالكؒ په نيز باندې په اذان باندې اجرت اخستل جواز لرى وهو قول الشافعى كما فى التنقيح (٦٤/١) ليكن امام شافعى ئې مع الكراهت جائز گڼړى كما قال الامير الصنعانى فى السبل (١٩٦/١) ليكن دا اجرت او تنخواه اخستل دوه قسمه دى (۱) يو د عوامو مسلمانانو نه په شرط سره، او په همدې كښې اختلاف دې۔

او (۲) – دويم د حكومت نه او بيت المال نه يا د اوقاف خيريه نه اجرت او تنخواه اخستل دى نو دا په اتفاق د علماؤ سره جائز او حلال دى ځكه چه بيت المال د تولو مسلمانانو مشتركه مال دې او د مؤذن حق هم پكښې شته او دا فتوىٰ د شيخ عبد الله البسام ده په توضيح الاحكام (٤٧٩/١) كښې ئې ذكر كړيده۔

(۳) – دريم دا چه كه يو مؤذن هسې (مفت) اذان كوى خو بعض عوام ورته په خپله طبع اجرت او مزدورى وركوى او شرط ئې ورسره نه وى لگولې نو دا به هم جائز وى لكه په حديث د مسلم كښې دى: عمر فاروقؓ ته نبى عليه السلام اوفرمائيل : (وما اتاك من هذا المال وانت غير مشرف ولا سائل فخذه وتموله) كوم مال چه تا ته پداسې حال كښې څوك دركوى چه ته د هغې طامع او سائل نه ئې نو هغه اخله او ځان له ئې استعمالوه۔

او پدې سره تطبيق د روستو احاديثو راځى۔ وقال الضحاكؒ ان اعطى بغير مسئلة فلا

بأس، ابن ابی شیبة (١/٢٢٨) ۔

اوس اول صورت تـه راشـه چـه شرط ورسره اولگوی نو پدے کښې اکثر اهل علم وائی چـه دا اجـرت اخستـل حـرام دی او هـمـدا قـول حق دے۔ حسن بصری رحمه الله فرمائی: اخشی ان لا تکون صلاته خالصة ۔

دلائل د حرمت :

١- دلیل : یحیی البکاء وائی : ما یو سړی نه واوریدل چه ابن عمر ته ئے اووئیل : (او هغه په طواف کښې روان وو) انی احبك فی الله (زما تا سره د الله دپاره مینه ده) عبد الله بن عمرؓ ورته اوفرمائیل : انی ابغضك فی الله، فقال سبحان الله ! انی احبك فی الله وتبغضنی فی الله قـال : نـعـم انك تسـأل عـلـی اذانك احـراً اخـرجـه ابن حبان وسنده حسن وابن ابی شیبة (١/٢٢٨) وابن عدی فی الکامل (٧/٢٦٤٩) کما فی نصب الرایة ونیل الاوطار (٢/٤٤)۔

یـعـنی زه تا سره د الله دپاره بغض کوم، هغه سړی ورته اووئیل : تعجب دے ! زه تا سره مـحبت کـوم او تـه مـا سره د الله دپاره بـغـض لرے ۔ ابن عمرؓ ورته اوفرمائیل : آؤ (زه خبر شوے یم چه) ته په خپل اذان باندے اجرت اخلے ۔

نو ابن عمرؓ هم په اذان باندے اجرت اخستلو ته حرام وائی ۔

٢- دویم : دا حـدیث الباب دلیل دے چه نبی علیه السلام عثمان بن ابی العاصؓ ته دا وئیلی وو چه داسے مؤذن ځان دپاره اونیسه چه په اذان باندے اجرت او تنخواه نه اخلی ۔

مـعـلـومـه شـوه چـه په اذان باندے اجرت اخستـل حرام دی اگرچه دا حدیث په حرمت باندے واضح ندے مگر کراهت خو ضرور ورکوی ۔

٣-دلیل : ابن مسعود رضی الله عنه فرمائی : اربع لا یؤخذ علیهن احر، الاذان وقرائة الـقـرآن والـمـقـاسـم والـقـضـاء، ذکره ابن سید الناس فی شرح الترمذی والشوکانی فی النیل (٢/٤٤) وتحفة الاحوذی (١/١٨٤) ۔

٤- دلیل : امـام بخاری په تاریخ کبیر کښې د مغیره بن شعبةؓ حدیث ذکر کړیدے چه ده ته رسول الله ﷺ اوفرمائیل : ولا تتخذ مؤذنا یأخذ علی الاذان احراً، کما فی نصب الرایة (٤/١٤٠) وفتـاوی الدین الخالص (٢/١٣٢) نـو دلتـه نهی راغله د نیولو د هغه مؤذن نه چه په اذان باندے اجرت اخلی ۔

٥- وروی عـن مـعـاویة بن قرة : قال : لا یؤذن لك الا محتسب، ابن ابی شیبة (١/٢٢٨) نیل الاوطار (٢/٤) ۔ دا روایات صریح دلیل دے په تحریم د اجرت علی الاذان باندے کله ئے

چه ورسره شرط لګولے وی او که څوك دا كار كوی هغه سره د الله دپاره بغض پكار دے۔

ددے وجے نه علامه خطابیؒ فرمائی : اخذ الاجر على الاذان مكروه فى مذاهب اكثر العلماء وقال الاوزاعى مكروهة ولا بأس بالجعل وكره ذلك اهل الرأى ومنع منه اسحاق بن راهويه، عون المعبود (۱/۲۰۹) مرعاة المفاتيح (۲/۳۷۵)۔

يعنى دا مذهب د اكثرو علماؤ دے، اوزاعى ، اهل الرأى (احناف) او اسحاق بن راهويه ورته مكروه او ممنوع (حرام) وائى او ديته شيخ مباركفوريؒ هم ترجيح وركړيده انظر التحفة (۱/۱۸٤) ۔

د امام مالك دليل : ابن العربى ذكر كړيدے چه اذان وغيره عباداتو باندے اجرت اخستل جائز دى ځكه چه خليفة المسلمين پدے تولو باندے اجرتّ اخلى نو د هغه نائب دپاره هم اخستل جواز لرى ۔

الجواب : دا قياس دے په مقابله د نص كښ او مخالف دے د فتوىٰ د ابن عمرؓ نه كوم چه مخكښ ذكر شوه چه دا ئے د صحابو مخامخ وركړه او هيڅ صحابى ددے نه مخالفت اونكړو كما قال ابن سيد الناس اليعمرى فى شرح الترمذى نيل الاوطار (۲/٤٤)۔

۲- **دليل** : ابن حبان ددے د جواز په باره كښ باب ايخودے دے او بيا ئے د ابو محذوره حديث ذكر كړيدے : فالقى على رسول الله ﷺ الاذان فاذنت ثم اعطانى حين قضيت التاذين صرة فيها شئ من فضة، واخرجه النسائى ايضا (۱/۱۰٤) نو نبى عليه السلام ابو محذوره ته بټوه وركړه چه په هغے كښ څه دراهم وو۔

الجواب : علامه ابن سيد الناس او شوكانى فرمائى : پدے حديث كښ هيڅ دليل نشته په جواز د اجرت على الاذان د دوه وجو نه (۱) – اوله وجه دا ده چه د ابو محذوره قصه په ابتداء د اسلام د هغه كښ وه ځكه چه دا ئے ورته په هغه وقت كښ وركړے وه چه كله ئے ورته اذان خودلو او پدے وقت كښ لا عثمان بن ابى العاص اسلام نه وو راوړے نو حديث د عثمان متأخر دے او پدے متأخر باندے به عمل كيدے شى۔

(۲) – دويم دا چه دا يوه داسے واقعه ده چه پدے كښ ډير احتمالات كيدے شى او ډير قريب احتمال پكښ دا دے چه ابو محذورهؓ نوے مسلمان وو نو د تاليف القلب په نيت ئے څه وركړل چه په اسلام ښه مضبوط شى لكه چه نور مؤلفة القلوب ته ئے چه څرنګه وركړيدى پدے وجه دا اجرت د اذان نه وو بلكه دا په اسلام باندے د مضبوط والى دپاره وركړے شو دا وجه ده روستو ئے ورته بار بار ندى وركړى او كله چه په يوه واقعه كښ قوى

احتمال راشی نو د هغې نه استدلال نشي کیدے۔
(۳) - بله وجه دا هم ده چه پیغمبر خو خلیفة المسلمین دے او د خلیفه دپاره د بیت المال نه خلقو ته څه ورکول جواز لری او د خلقو دپاره ئے اخستل جواز لری (روستو به حدیث راشي عمر ته ئے فرمائیلي وو: وما اتاك من هذا المال غير مشرف ولا سائل فخذه وتموله) نو دا تنخواه نده صرف یو کرتے مال ورکړے شو۔
(٤)- بله دا چه بغیر د شرط نه ورکړے شوے ده ابو محذوره خو مطالبه نده کړے نو دا د محل النزاع نه بهر دلیل دے۔ بلکه دا حدیث دلیل دے په هغه صورت باندے چه کله شرط نه وی لګولے نو په اذان باندے دا قسم اجرت اخستل جواز لری فتدبر۔
بعض علماء وائي: چه په یو خاص مقام کښې انسان په اذان باندے مقرر وی د هغه دپاره اجرت اخستل جواز لری ځکه دا اجرت دے د ملازمت د مکان، نه د اذان لکه په یو مقام کښې څوکیداری کول۔ لیکن دا قول ضعیف دے هیڅ دلیل پرے نشته او په حرمت د اجرت د اذان باندے صریح دلائل دی۔
٦- **صورت**: امامت باندے تنخواه او اجرت اخستل څه حکم لری؟۔ نو پدے کښې د مقتدمین علماؤ (سلفو) احناف وغیر احناف قول دا دے چه په امامت باندے پیسے او جرت اخستل حرام دی، ناروا دی او دا قول د امام ابو حنیفه، ابو یوسف او محمد دے۔
۲- البته متأخرینو احنافو ددے په اباحت باندے فتوی ورکړیده۔
علامه ابن عابدین شامی ورله دا وجه ذکر کړیده چه زمونږ په زمانه کښې ددے خبرے ضرورت دے چه امامان وغیره دا تنخواه واخلی ځکه چه هغوی په خپل ژوند کښې نفقې ته ضرورت لری، که دا تنخواه وانخلی نو څه به خوری۔ انظر مجموعة الرسائل لابن عابدین (۱/۱۵۷) و(۱۵۸) و (۱۵۹)۔ او په (۱٦۰) کښې وائي: پخوانو علماؤ ځکه د عدم جواز فتوی ورکړے وه چه هغوی دپاره د بیت المال نه عطیات وو د خلقو ورسره مینه وه نو د دوئ حاجات به ئے پوره کول او نن صبا زمانه کښې خو په دینی کارونو کښې سُستی په خلقو کښې پیدا شویده وکذا فی (۱٦۲) وفی الهداية مع فتح القدير (۸/٤۰)۔
الجواب: ۱- اول خو دا چه امامت د کاروبار او کسب کولو سره هیڅ منافات نه لری ځکه چه امامان او مؤذنین باندے خو دا واجب نده چه ضرور به مسجد کښې ناست وی او کاروبار دپاره به نه وځی بلکه دوئ د فارغ اوقاتو کښې د خپل کاروبار دپاره اوځی او د مونځونو وقت ته به حاضری کوی لکه عام مسلمانان چه کار او کسب کوی او د مانځه

په اوقاتو کښې مساجدوته حاضرېږي، خو دا ځان دپاره په زوره ضرورت پيدا کول دي او حرام حلالول دي لکه دا خبره قاضي خان په خپله فتاوی (۱۹/۲) کښې ذکر کړيده : وهذا بخلاف المؤذن والامام لان ذلك لا يشغل الامام والمؤذن عن امر المعاش آه۔

۲– دويمه وجه دا ده چه دا په الله تعالی باندې سخته بدګماني ده چه هغه به صرف د خلقو نه په سوال کولو سره رزق ورکوي او په بل سبب سره ئې نه ورکوي۔

۳– دريمه وجه دا ده چه متأخرينو دا د کوم ځائے نه جائز کړل چه په امامت باندې اجرت اخستل جواز لري ځکه چه دا دين خو د چا کار خانه نده چه هر سړے به پکښې ګوتے وهي او ځان دپاره به حرام حلالوي که ته وائے چه ضرورت دے نو دا هيڅ ضرورت ندے بلکه ځان له کاروبار کوه او مسلمانانو ته هم دغه مونځ ياد دے هغوی باندې دا ضروري ده چه د جَمعې په وقت به يو تن مخکښې کوي او جَمعه به ورته ورکوي او هر چه دا خبره چه د سلفو په زمانه کښې عطيات وو او اوس ختم دي۔ نو دا خبره خو ډيره بے کاره ده ځکه چه هر کله غطيات په تا باندې بند شو نو آيا تا لره حرام حلال شو ؟ او آيا د امامانو صرف او صرف د رزق دا يو درك دے ؟ او آيا دا عطيات د صحابه کرامو په زمانه کښې ټولو مسلمانانو دپاره وو هغوی به څه کول؟ هغوی دپاره حرام اخستل جائز شو ؟ دا کوم عقل دے ؟۔

٤– بله وجه دا هم ده چه دغه مونځ خو مشترك عمل دے فائده ئې امام ته هم راجع ده ځکه چه دغه مونځ لکه څنګه چه په مقتديانو فرض دے نو په امام هم فرض دے نو پدے کښې امام دپاره څنګه اجرت اخستل جائز شو لکه څنګه چه په روژو وغيره عباداتو کښې اجرت ورکول او اخستل حرام دي، دغه شان امامت هم دے لکه ددينه صاحب د هدايه د امام ابو حنيفه دپاره په عدم جواز د اجرت سره داسے تعبير کړيدے : الاصل فيه ان كل طاعة يختص بها المسلم لا يجوز الاستئجار عليه، هدايه كتاب الاجارة مع فتح القدير (۳۹/۸)

يعنی کوم عبادت چه د مسلمان پورے خاص وي او د کافر نه د هغې اداء کول نه صحيح کيږي لکه مونځ، امامت او اذان وغيره پدے باندې اجرت اخستل حرام دي۔

او د افسوس خبره خو لا دا ده چه مقلدين احناف دعوه د تقليد د امام ابو حنيفه او حنفيت کوي او بيا هم د هغه قول د خپل خواهش او ضرورت دپاره پريدی سره ددينه چه د امام صاحب دا قول قوي هم دے خو دا تجربه ده چه اکثر مقلدين د امام صاحب ضعيف خبرو باندې جګړے ربړے او مناظرے کوي او حقه خبره ئې پريږدي کله چه د هغوی د

خواهش او رواج خلاف وي، په خلاف د اهل حق نه چه هغوي هميشه د قرآن او حديث په هر حال كښ كلك تابعدار وي كه په دوئ ضرر وي او كه د دوئ دپاره فائده وي خو هغې ته تسليم دي او ولې به نه وي تسليم ځكه چه دا د هغوي د ايمان او محبت د رسول تقاضا ده او عجيبه لا دا ده چه يو امام به د خلقو نه اجرت او تنخواه هم اخلي، او بيا به د هغوي د ايمان او اعمال او عباداتو ډاكو وي، مونځونه به زر زر د خلقو د خواهش مطابق كوي، هر قسم بدعت به كوي پدے يره چه هسے نه چه مقتديان مے د امامتي نه اونه باسي ځكه چه بيا به مے توله زندگي تباه شي څه به كوم څه به خورم؟ بچي به مے څه خوري نو بس د هر مقتدي كه بريلوے وي او كه ديوبندي وي او كه مشرك وي تولو سره به تعلق ساتي او د تولو غلام به وي ـ

په امامت باندے د اجرت اخستلو په حرمت باندے دلائل

١- يو دليل صاحب د هدايه داسے ذكر كړيدے (كوم چه مخكښے بيان شو) الاصل ان كل طاعة يختص بها المسلم لا يجوز الاستجار عليه ـ

يعني كوم طاعت او عبادت چه د مسلمانانو پورے خاص وي او كافرئے نشي كولے نو په هغے باندے اجرت اخستل ناروا دي او امامتي هم د مسلمانانو پورے خاص ده نو د يو بل نه پدے كښ اجرت اخستل حرام شو ـ هداية كتاب الاجارة فتح القدير (٣٩/٨) ـ

٢- دويم دليل : لان القربة متى حصلت وقعت عن العامل ولهذا تعتبر اهليته فلا يجوز له اخذ الاجر من غيره كما في الصوم والصلاة (هدايه كتاب الاجارة) ـ

يعني عبادت چه كله اوكړے شي نو ثواب ئے عامل او كونكي ته رسي (ځكه چه هغه ددے اهل وو) نو د بل چا نه د هغه دپاره اجرت اخستل حرام دي لكه په روژه نيولو يا مونځ كولو باندے اجرت اخستل حرام دي چه يو سړے تا ته اووائي زما دپاره روژه يا يو مونځ اوكړه سل روپئ به در كړم دا كار حرام دے نو دغه شان امامتي هم ده ـ

او دا قول د امام عطاء، ضحاك بن قيس، ابو حنيفه، او زهري دے ـ انظر المغني (١٥٥/٦) لابن قدامة ـ

٣- **دليل** : د نبي عليه السلام نه ددے په جواز باندے هيڅ ثبوت ندے نقل دارنګه په سلفو كښ هيڅ يو داسے صحابي او تابعي وغيره نشته چه هغه په امامت باندے تنخواه د عوامو مسلمانانو نه اخستي وي نو دا عدم نقل هم دليل دے د حرمت ـ

۷- **صورت** : په تحديث او تعليم د قرآن او تدريس د علوم شرعيو باندے اجرت اخستل ؟ نو پدے كښې هم اختلاف دے ـ
۱ - **اول قول** : دا دے چه پدے كارونو باندے اجرت اخستل جائز ندی او دا قول د امام ابو حنيفه، عطاء، ضحاك بن قيس، زهري، اسحاق بن راهويه او روايت د امام احمد هم دے عبد الله بن شقيق وائي : هـذه الرغف التي يأخذها المعلمون من السحت ـ او كه اجرت مع الشرط وی نو حسن بصریؒ، ابن سيرينؒ، طاوسؒ، شعبيؒ او نخعيؒ په نيز هم دا كار مكروه دے او دا قول شوكاني غوره كړيدے نيل الاوطار (٦/٢٧) و كذا المغني لابن قدامة (٦/١٥٥) ـ عيني په شرح د بخاري (١٢/٩٥) كښې وائي : امام ابو حنيفه او د هغه اصحابو وئيلي دي چه په تعليم د قرآن باندے اجرت اخستل جائز ندی او دا ئے وئيلي دي چه : ندے جائز استئجار په طاعاتو باندے لكه تعليم د قرآن او د فقهے او اذان او تذكير او تدريس او حج او غزا (جهاد) او دغه شان قول د امام ابو حنيفه او صاحبينو نه ابن عابدين په مجموعة الرسائل (١٦٣) كښې ذكر كړيدے او امام ابو عبد الله القرطبي په تفسير قرطبي (١/٣٣٤) كښې ذكر كړيدے او صاحب د هدايه او مبسوط د سرخسي او نورو فقهاءِ احنافو او شوافعو هم ذكر كړيدے ـ
۲- **دويم قول** : علامه بدر الدين العينيؒ او ابن قدامةؒ او امام قرطبيؒ وائي : په تعليم د قرآن يا تدريس د علومو باندے اجرت اخستلو ته عطاء، ابو قلابه، ابو ثور او ابن المنذر رحمهم الله جائز وئيلي دی او دا قول د امام مالك، شافعي، احمد او اكثرو علماؤ دے او دا قول د نصير او عصام او ابو نصر الفقيه او فقيه ابو الليث رحمهم الله دے او متأخرين احنافو هم پدے قول باندے فتویٰ وركوی كما في الهداية كتاب الاجارة مع الفتح (٨/٤١)ـ
او حافظ ابن حجر عسقلانيؒ په فتح الباري (٩/٧٥) طبع دار احياء التراث كښې د قاضي عياضؒ نه نقل كړيدی چه استيجار په تعليم د قرآن باندے د ټولو اهل علمو په نيز جائز دے سيوا د علماءِ حنفيه نه ليكن متأخرينو احنافو فتویٰ وركړيده چه په تعليم د قرآن او فقه باندے اجرت اخستل جواز لری او مبسوط كښې سرخسيؒ وئيلي دی چه دا فتویٰ د مشائخ بلخ ده ـ انظر مجموعة الرسائل لا بن عابدين الشامي (١٦٠) وقاضي خان (٢/١٩) ـ

حاصل دا چه د جمهور اهل علمو فتویٰ ده چه اجرت على التعليم جائز دے خو په يو څو شرطونو سره (۱) – اول شرط : دومره اجرت او تنخواه به اخلي چه دده د حوائجو او

ضرورتونو كفايت پرے اوشي او د حاجت نه به زيات نه اخلي ۔
(۲) – شرط : بـل داسے كاروبار به ئے نه وي چه د هغے په وجه د هغه گذاره روانه وي په ځان او اهل وعيال باندے نفقه كولے شي او چا ته نه محتاج كيږي ۔ (۳) – شرط : چه خلق به دده علم او تدريس ته محتاج وي (٤) – شرط : كه دا عالم او قاري كاروبار باندے مشغول شي نـو عـلم ته نه اوزگاريږي او هغه ترے فوت كيږي خو كه د تدريس سره سره ئے كاروبار كـولے شو نو بيا به نه وي جائز كذا في سير اعلام النبلاء (۱۲/۳۳۲) فتح المغيث شرح الفية الـحـديث للسخاوي (۲/۹۵، ۹٦) وفتاوى الدين الخالص (۲/۱۳۷) ۔ او همدا قول راجح دے ۔

دلائل الفريقين : ------- د اول قول دلائل :

۱ - **اول دليل** : آيت : ﴿ وَلَا تَشْتَرُوا بِآيَاتِي ثَمَناً قَلِيلًا ﴾ البقرة آيت (٤١) ۔ پدے كښې ابـوالـعاليه تفسير كړيدے : ولا تشتروا بتعليم آياتي ثمناً قليلاً) يـعني په درس او تدريس د آياتـونو به دنيا نه اخلئ ۔ تـفسير ابن كثير (۱/۸۳) تفسير القرطبي (۱/۳۳٤) وزاد المسير (۱/۷٤) وتـفسير احسن الـكلام لشيخنا الـقـمقـام السيد عبد السلام حفظه الله ورعاه (۱/۲۳٤) ۔ طريقه د استدلال داسے ده چه آيت اگرچه د يهوديانو په باره كښې نازل شويدے ليـكـن اعتبار عـموم د الـفاظو ته دے، خصوص د مورد ته نه دے او الفاظ د آيت عام دي، تـعليم تـه هـم شـامـل دي لـكـه شامي پدے باندے استدلال كړيدے په حرمت د اجرت په تلاوت د قرآن دپاره د ايصال د مړي وغيره ۔ مجموعة الرسائل (۱۸۱) ۔

۲ - **دويم دليل** : ابـومـحمد په الفوائد (۱/۲٦۸) كښې د اسماعيل بن عبيد الله نه روايت نقل كړيدے چه هغه فرمائي ما ته عبد الملك بن مروان اووئيل : اے اسماعيل ! زما اولادو تـه تـعليم وركړه زه بـه ځـه عـطيه او بدله دركوم ! اسماعيل ورته اووئيل : اے امير الـمـؤمـنيـن دا كـار بـه څنگه اوكړم او حال دا چه ما ته ام الدرداء د ابو الدرداء نه حديث بيان كړيدے : [ان رسول الله ﷺ قال : ومن اخذ على تعليم القرآن قوساً قلده الله قوساً من نار يوم الـقيامة،] ورواه البيهقي في السنن الكبرى (٦/۱۲٦) باسناد جيد كما قال ابن التركماني في الـجـوهـر الـنـقـي والـحـافظ في التلخيص (٤/۷) واخرجه ابن عساكر (۲/٤۲۷) والسلسلة الصحيحة رقم (۲٥٦) ۔

يـعـنـي رسـول الله ﷺ فـرمـائيـلـي دي : چا چه د قرآن كريم په تعليم باندے يوه لينده واخستـه الله تعالى به د قيامت په ورځ هغه ته د اور لينده په غاړه كښې واچوي ۔

دا واضح دلیل دے په حرمت د اجرت د تعلیم د قرآن وغیره باندے ـ

۳- دلیل : د ابی بن کعبؓ نه روایت دے فرمائی : زه به یو معمر (بوډا) سړی ته – چه هغه ته څه مرض لګیدلے وو او په خپل کور کښں حصار شوے وو – ورتلم (او) قرآن کریم به مے ورته لوستلو، کله چه به هغه زما د قرائت نه فارغ شو نو خپلے وینزے ته به ئے وئیل زما د وراره طعام راوړه ! نو داسے طعام به راوړے شو چه د هغے پشان خوراك به ما په مدینه کښں نه خوړلو نو زما زړه کښں ددینه څه وسوسه راپیدا شوه نو ما نبی علیه السلام ته د هغے تذکره اوکړه هغه اوفرمائیل : (ان کان ذلك الطعام طعامه وطعام اهله فکل منه وان کان یتحفك به فلا تأکله) ـ که دغه طعام چه تا ته ئے درکوی د هغه او د هغه د کور والاؤ خوراك وی (او ته د هغوی میلمه ئے) نو هغے نه خوراك کوه، او که هغه خوراك تاته د تحفے په طور درکوی نو بیا ئے مه خوره (ځکه چه دا په قرآن باندے خوراك دے او دا حرام دے) انتهیٰ بلفظه رواه الاثرم فی سننه کذا فی نیل الاوطار (۲۶/٦) والمغنی لابن قدامة (۱۵۷/٦) وفتاوی الدین الخالص (۱۳٦/۲) ـ

٤- دلیل : حدیث د عباده بن صامتؓ دے : قال علمت ناساً) دا فرمائی : ما د اصحاب صفه څه کسانو ته د قرآن تعلیم ورکولو نو یو سړی ما ته یوه لینده هدیه کړه، ما (ځان سره) اووئیل چه دا (خو) مال ندے او زه به ددے په وجه د الله په لار (جهاد) کښے ویشتل کوم (خو بیا مے هم شك وو) نو ما اووئیل چه زه به خامخا رسول الله ﷺ ته ورځم او تپوس به کوم نو زه ورته راغلم ـ ما ورته اووئیل : اے د الله رسوله ! یو سړی – چه ما ورته کتاب او قرآن خودلو – ما ته یوه لینده هدیه کړیده او دا (خو) مال ندے او ددے نه به زه د الله په لار (جهاد) کښں ویشتل کوم (نو دا به څنګه وی ؟) نبی علیه السلام اوفرمائیل : (ان کنت تحب ان تطوق طوقاً من نارٍ فاقبلها) ـ یعنی که ته دا خوښے چه د اور طوق (کړئ) در واغوستے شی نو دا قبوله کړه ! انتهیٰ بلفظه رواه احمد (۳۱۵/۵) (۳۲٤) والحاکم (٤۱/۲) وابوداود (۲۳۷/۲) وابن ماجه (۸/۲) والطحاوی (۱۰/۲) والبیهقی (۱۲۵/٦) وقال الحاکم صحیح الاسناد ووافقه الذهبی قال الشیخ الالبانی وهو کما قالا ان شاء الله تعالی فان رجاله کلهم ثقات معروفون غیر بشر هذا وقد روی عنه جماعة ووثقه ابن حبان وقال الحافظ فیه : صدوق راجع السلسلة الصحیحة (٤٦۰/۱) رقم (۲۵٦)ـ

۵- دلیل : دارنګه عموم د هغه احادیثو دلیل دے کوم کښں چه منع راغلے ده د خوراك کولو نه په قرآن کریم سره لکه چه په اول صورت کښں ذکر شو ـ

دلائل الفريق الثاني :

كوم علماء چه په تعليم وغيره باندے د اجرت اخستلو په جواز باندے قائل دی د عموماتو نه استدلال كوی ـ

١ - اول حديث : د ابوسعيد خدری ؓ دے چه په هغے كښں قصه د لديغ ده (دويم صورت كښں ذكر شو) پدے حديث كښے ډير توجيهات اهل علمو ذكر كړيدی ليكن غوره توجيه دا ده چه پدے حديث كښے اگرچه په دم باندے پيسے اخستل ذكر دی او دا خو په اتفاق د علماؤ سره جائز دی خو ليكن الفاظ د حديث عام دی (ان احق ما اخذتم عليه اجراً كتاب الله) نو تعليم او تدريس د قرآن ته هم شامل دی سره ددينه چه تعليم ته ضرورت هم شته لكه روستو راځی ـ

٢ - دويم دليل : په كتاب الطب د صحيح بخاری (١٠/١٦٢) بشرح الفتح كښں په روايت د ابن عباس كښں (په همدغه مخكښنۍ واقعه د لديغ او مضمون سره) داسے الفاظ دی چه دوی رسول الله ﷺ ته اوفرمائيل : دے سړی (ابوسعيد) د الله په كتاب باندے اجر اخستے دے، نبی عليه السلام اوفرمائيل : ان احق ما اخذتم عليه اجراً كتاب الله و كذا فی (٤/٣٥٨) بشرح الفتح ـ ډير غوره هغه شے چه تاسو پرے اجرت اخلئ هغه كتاب الله دے يعنی په نسبت د هغه اجرت چه خلق ئے په سحر او منترو او غلط دمونو سره اخلی، دا ستاسو اجرت اخستل ډير حق دی ـ طريقه د استدلال دا ده چه دا حديث اگرچه د دم په باره كښں دے مگر الفاظ د حديث عام دی نو ماسيوا د رقيه نه نورو طاعاتو ته هم شامل دے مگر هغه چه په دليل سره ددے نه مستثنیٰ وی لكه تلاوت د قرآن شو ـ او دغه شان استدلال امام بيهقی هم ذكر كړيدے په كتاب معرفة السنن والآثار (٥/٣٨١) كښے هغه فرمائی : وهو عام فی جواز اخذ الاجرة علی كتاب الله بالتعليم وغيره ـ

تنبيه : پدے حديث كښں اجر په معنی د اخروی ثواب حمل كول ضعيفه توجيه ده ځكه چه سياق ددے قصے ددے مخالفت او انكار كوی (فتح الباری) ـ

٣ - دليل : حديث د سهل بن سعد كښں راځی چه رسول الله ﷺ ته يوه زنانه راغله ورته ئے اووئيل : يا رسول الله ! ما تا ته ځان هبه كړو ډير ساعت ولاړه وه (نبی عليه السلام ورته خكته بره اوكتل او سرئے ترے تيټ كړو) يو سړی پاځيدو وے وئيل : يا رسول الله ! ما ته ئے په نكاح راكړه كه ستا ورته ضرورت نه وی، نبی عليه السلام هغه ته اوفرمائيل : تا

سره د مهر دپاره څه شے شته ؟ هغه أووئیل : ما عندی الا ازاری هذا) ما سره خو صرف دا خپل لنګ دے نبی علیه السلام ورته اوفرمایل : فالتمس ولو خاتماً من حدید ۔ زه څه اوګوره اګرچه د اوسپنے یوه ګوتمه وی ۔ هغه (لاړو) ویے کتل هیڅ ئے اونه موندل ۔ رسول الله ﷺ ورته اوفرمائیل : هل معك من القرآن شئ ؟ تا سره د قرآن نه څه حصه شته (چه درته یاده وی) هغه اووئیل : هو ! فلانے فلانے سورت (مے یاد دے) نبی علیه السلام ورته اوفرمایل : „فقد زوجتکها بما معك من القرآن،، ما تا ته دا زنانه په بدل د هغه حصه د قرآن کښې درکړه کومه چه تا سره ده (دا ورته یاده کړه دا ستا مهر شو ددے دپاره)رواه البخاری (٧٧٣/٢) ومسلم (٤٥٧/١)۔

طریقۀ استدلال : رسول الله ﷺ پدے حدیث کښې تعلیم د قرآن کریم مهر مقرر کړو معلومه شوه چه د تعلیم د قرآن په مقابله کښې عوض جائز دے ۔

فائده : پدے حدیث کښې هم ډیر توجیهات ذکر شویدی لیکن امام شافعیؒ او امام بخاریؒ دا غوره کړیده چه دلته باء د عوض دپاره ده نو تعلیم د قرآن ئے عوض د نکاح اوګرځولو ۔

٤- **دلیل** : حدیث د بخاری دے : قال ابوبکر الصدیق انی شغلت بامر المسلمین فسیأکل آل ابی بکر من هذا المال ویحترف للمسلمین فیه ۔ انی شغلت بامر المسلمین نه معلومیږی چه ابوبکر صدیق به د مسلمانانو د خدمت په بدله کښې نفقه د بیت المال نه اخستله دا د هغه تنخواه وه ۔ ومثله فی تاریخ الخلفاء (٧٨)

٥- **دلیل** : په قرآن کریم کښې الله تعالی د زکات عاملینو دپاره په زکات کښې حصه مقرر کړیده اګرکه هغه مالداره هم وی څکه چه هغوی د امت مسلمه په مهمه وظیفه باندے مقرر دی د هغوی دپاره خدمتونه کوی نو هغه دپاره شریعت تنخواه مقرر کړه ۔ دا دلیل دے چه څوك په یو مهم کار د مسلمانانو باندے مقرر وی نو د هغه دپاره تنخواه اخستل جواز لری لکه تدریس او تعلیم د قرآن او حدیث او علوم دینیه ؤ شو ۔

٦- **دلیل** : دارنګه مجاهدینو ته به تنخواه ورکولے شوه لکه اصحاب بدر ته به (٥٠٠٠) روپۍ تنخواه ورکولے شوه ۔

٧- **دلیل** : د امت په عامو طبقاتو کښې د صحابه کرامو د زمانے نه دا کار شویدے چه هغوی دپاره تنخواه ګانے مقرر وے او دیته به ئے جو ملك وئیل ۔

٨ - **دلیل** : د قاضی او مفتی اجرت او تنخواه په شریعت کښې ثابت ده دا دلیل دے

چه هر هغه څوك چه د امت په خدمت كښې لګيا وي او د هغه كار نه شريعت منع نه وي كړې نو په هغې كښې تنخواه اخستل حرام نه دی ـ نو په تدريس او تعليم د قرآن باندې اجرت اخستلو نه منع نده راغلې او ددې دلائلو نه ئې جواز معلوميږي نو كوم خلق چه په علماؤ سخت ردونه كوي چه دوی تنخواه خواره دي او دنيا پرست ورته وائي لكه ډاكټر عثماني او د هغه ملګري دا نظريه لرې نو دا غلط وائي ـ

آثار الصحابة والتابعين على جواز اخذ الاجرة على التعليم

۹- دليل : اثر د عمر بن الخطاب رضی الله عنه : وضين بن عطاء فرمائي : ثلاثة معلمون كانوا بالمدينة يعلمون الصبيان و كان عمر بن الخطاب رضی الله عنه يرزق كلا منهم خمسة عشر درهماً كل شهر، رواه البيهقي في السنن الكبرى (۱۲۴/۶) وابوبكر بن ابی شيبة في المصنف (۲۲۱/۶) يعني په مدينه كښې د ماشومانو درې استاذان وو عمر فاروق[رض] به هغوی ته په هره مياشت كښې پنځلس درهم وركول ـ

۱۰- دليل : اثر د عمر[رض] : ابراهيم بن سعد عن ابيه : ان عمر رضی الله عنه كتب الى بعض عماله : ان اعط الناس على تعليم القرآن الخ اخرجه البيهقي في معرفة السنن والآثار (۳۸۲/۵) وذكره الزيلعي في النصب (۱۳۷۶/۴) عن البيهقي و كذا في كتاب الاموال للقاسم بن سلام (۲۶۱) ـ يعني عمر رضی الله عنه خپلو عاملانو (ګورنرانو) ته اوليكل چه خلقو ته په تعليم د قرآن باندې عطيئې وركوئ ! ـ

۱۱- امام بخاري په ترجمة الباب كښې ذكر كړيدي : قال الحكم : لم اسمع احداً كره اجر المعلم ـ

۱۲- ولم ير ابن سيرين باجر المعلم بأساً ـ فتح الباری (۳۵۸/۴) ـ

۱۳- وكان ابن سيرين وعطاء وابو قلابة لايرون بتعليم الغلمان بالاجر بأساً وبه قال الحسن البصري ـ البيهقي في المعرفة (۳۸۲/۵) والسنن الكبرى (۱۲۴/۶) ـ

۱۴- شعبه وائي : ما د معاويه بن قره نه تپوس اوكړو د معلم د اجرت په باره كښې فقال : ارى له اجراً ـ يعني اجرت اخستل ورله جائز دی ـ البيهقي في السنن (۱۲۴/۶) وفتح الباری (۳۵۸/۴) ـ

۱۵- ابن عباس[رض] فرمائي : په بدر كښې د نيولي شوي قيديانو سره فديه نه وه چه ځان پرې خلاص كړې نو رسول الله ﷺ هغوی فديه دا مقرر كړه : ان يعلموا اولاد الانصار

الکتابة ۔ چه د انصارو اولادو ته کتابت ورايزده کړی ۔ البیهقی فی المعرفة (۵/۳۸۲) والسنن الکبری (۶/۱۲۵)۔ دا احادیث او ددے مؤید آثار پدے خبره باندے دلالت کوی چه په تعلیم د قرآن او تدریس د علومو باندے اجرت اخستل جواز لری ۔

د فریق اول د دلائلو نه جوابونه ۔

دا علماء مجوزین جواب ورکوی مانعینو ته :

۱- **د آیت** نه جواب امام قرطبیؒ په تفسیر قرطبی (۱/۳۳۶) کښں ورکړیدے او هغه دا چه په آیت کښں دا احتمال شته چه دا به د هغه چا په باره کښں وی چه په هغه باندے تعلیم د قرآن متعین وی یعنی ده ته د خلقو ضرورت وی او نور علماء نه وی موجود صرف په کلی کښں همدا یوشخص وی او دا خلقو ته وائی چه تر هغه وخته پورے به زه تاسو ته قرآن نه بیانوم تر څو چه ما ته تنخواه رانکړئ ! نو پدے وقت کښں به ده دپاره تنخواه اخستل حرام وی او کله چه په ده باندے تعلیم متعین نه وی نو بیا ده دپاره اجرت اخستل جائز دی او دلیل پدے باندے سنت او احادیث د رسول اللہ ﷺ دی انتهیٰ ۔ او پدے سره تطبیق د احادیثو او د آیت راغلو۔

۲- **دویم جواب** دا دے چه آیت اگرچه په اعتبار د الفاظو سره عام دے تعلیم ته هم شامل دے لیکن په مذکوره صریح صحیح احادیثو سره پدے کښے تخصیص شویدے ۔

۳- **جواب** زمونږ شیخ ابوزکریا عبد السلام الرستمی حفظه اللہ په تفسیر احسن الکلام (۱/۲۳۶) کښں داسے ذکر کړیدے چه استدلال د منع کونکو په ولا تشتروا آھ سره بناء دے په تفسیر د ابوالعالیه باندے نو هغه حدیث مرفوع او موقوف ندے په مقابله د صحیح احادیثو مرفوعه او موقوفه کښں (چه د مجوّزینو دپاره ذکر شو) د استدلال دپاره صلاحیت نه لری انتهیٰ ۔

★- **او د دریم او څلورم** حدیث د ابی بن کعبؓ او عباده بن صامتؓ نه **جواب** دا دے چه دا یوه وقتی طور سره واقعے دی چه احتمال پکښں شته چه نبی علیه السلام ته دا پته لګیدلی وی چه دے دواړه صحابه کرامو‌ؓ دا تعلیم د قرآن خالص د اللہ تعالی د رضا دپاره کړے وو نو پدے باندے عوض اخستل ئے ورله بد اوګڼړل او پاتے شو هغه صورت چه یو انسان تعلیم د قرآن د اللہ دپاره کوی خو ورسره د متعلم او شاګرد نه بغیر د سوال او طمع نه څه واخلی نو پدے کښں به هیڅ حرج نه وی کما قال الشوکانی فی النیل (۶/۲۷)

والقرطبي في تفسيره (١/٣٣٦) نو ددينه دا فائده راحاصل شوه چه په تعليم د قرآن وغيره سره چه د چا نيت اشاعت او خدمت د دين وي او ورسره اجرت د كفايت په طور اخلي نو د ثواب اخروي اميد كيدلے شي، دده ثواب اخروي به ان شاء الله چه نه وي برباد او كه د چا نيت نه وي نو اجرت ورله اخستل حلال دي خو د آخرت د ثواب نه به محروم وي - قاضي خان په خپله فتاوي كښ او ابن الهمام په فتح القدير كښ وئيلي دي چه اخستل د اجرت په مقابله د ذكر كښے منع كوي استحقاق د ثواب لره -

او دا جواب بهتر دے - بعض علماؤ داسے جواب وركړيدے چه دغه احاديث د مانعينو ټول ضعيف دي لكه دا امام قرطبي په خپل تفسير كښ وئيلي دي چه پدے باب كښ هيڅ يو صحيح حديث نشته چه په هغے باندے عمل واجب شي ځكه چه حديث د ابي بن كعب منقطع دے او حديث د عباده بن صامت د مغيره بن زياد الموصلي نه نقل دے او هغه دپاره منكرات دي (١/٤٣٦) حافظ ابن عبد الهادي په التنقيح (٣/٦٤-٦٥) كښے ذكر كړيدي سره د نورو احاديثو نه او كلام ئے پرے كړيدے -

دا جواب غوره ندے ځكه چه تا مخكښے اوپيژندل چه دغه روايتونه صحيح دي په اعتبار د كثرت شواهدو سره، شيخ البانيؒ ورته په صحيح ابي داود رقم (١٣١٦) او صحيح ابن ماجه كښے صحيح وئيلي دي او علامه شوكاني په نيل الاوطار (٦/٢٧) كښے فرمائي چه اگرچه په هره يوه طريقه كښ څه ناڅه كلام شته مگر بعض روايات د بعضو دپاره تقويه پيدا كوي انتهى -

ليكن ددے په باره كښ داسے وئيل پكار دي چه احاديث د جواز صحيح دي بالاتفاق او احاديث د منع اكثر ضعيف دي او څه نا څه كلام پكښے شته او صحيح مختلف فيه دي او د تعارض په وقت كښ به احاديث صحيحه صريحه لره اعتبار وي -

٣- **جواب** : حافظ ابن حجرؒ په فتح الباري (٤/٣٥٨) كښے داسے جواب كوي : وبان الاحاديث ليس فيها تصريح بالمنع على الاطلاق بل هي وقائع احوال محتملة للتاويل لتوافق الاحاديث الصحيحة كحديثي الباب الخ -

يعني دغه مذكوره حديثونو كښ تصريح په مطلقاً منع سره نشته بلكه دا د حالاتو پورے خاص واقعات دي، احتمال د تاويل پكښے شته، دے دپاره چه صحيح احاديثو سره موافق شي - خلاصه د جواب دا ده چه د جواز روايات صحيح او صريح دي او د منع روايات غير صريح دي او قابل د تاويل دي او دا تاويل به ځكه كوو چه ددے احاديثو د جواز

او حادیثو د منع خپل مینځ کښې تطبیق او موافقت راشي او د هغه تاویل بیان مخکښې تیر شو چه کیدے شي نبي علیه السلام ته دا معلومه شوي وي چه دے صحابه کرامو دا عمل خالص د الله تعالی د رضا دپاره کړے وو او څه نیت ئې د اجرت نه وو نو نبي علیه السلام ورله اجرت اخستل منع کړل یا به بل څه وجه وي، لهٰذا دا چه احادیث د جواز عام الفاظ دي او احادیث د منع کښې خاص الفاظ دي د خاص اشخاصو دپاره ۔

٤– او مجوزین علماؤ کښې بعضو د نسخ قول هم کړیدے چه احادیث د منع منسوخ دي په دے احادیثو د جواز باندے لیکن دا جواب بعید دے ځکه چه نسخ په احتمال سره نه ثابتیږي ۔ انظر فتح الباری (٤/٣٥٨) ۔

او د مانعینو دپاره هم بعض مردود جوابونه شته چه هغه شوکاني په نیل الاوطار (٦/٢٨) کښے ذکر کړیدي خو ذکر کولو ته ئې ضرورت نشته ۔ او هر چه هغه احادیث د منع دي د خوراك کولو نه په قرآن نو هغے کښې به پدے احادیثو د جواز سره تخصیص کولے شي صرف په تلاوت د قرآن پورے او دا خو اتفاقي مسئله ده چه په تلاوت د قرآن پیسے اخستل حرام دي ۔

فیصله او قول راجح :

ددے مخکښې تحقیق نه دا ثابته شوه چه په تدریس او تعلیم د قرآن باندے پیسے او اجرت او تنخواه اخستل او ورکول جائز دي، کله چه دغه عمل معین نه وي په یو شخص باندے سره د رعایت د هغه شرطونو نه چه مخکښے ذکر شول ۔ ددے وجه دا ده چه تعلیم د قرآن او حدیث او تدریس د علومو ته د امت ضرورت دے او س که پدے باندے اجرت اخستل حرام شي نو دا کارونه به معطل شي او امت به د جهالت ښکار شي، د دین بیان به ضائع شي ځکه چه مدرس او معلم خو به خپلے نفقے ته محتاج وي او هغه به ورته نه ملاویږي بله دا چه تدریس او تعلیم سره تجارت وغیره نه کیږي انسان پوره مشغوله کوي په خلاف د اذان او امامت نه چه هغه د تجارت او کسب منافي ندي لکه دا خبره مونږ مخکښے په عبارت د قاضي خان سره نقل کړه ۔ امامتي او اذان هر مسلمان کولے شي په خلاف د تدریس نه ۔

★– بله وجه دا ده چه تدریس او تعلیم په صوم او صلاة باندے قیاس کول غلط دي ځکه چه د دواړو په مابین کښې فرق دے، صوم او صلاة هغه عبادات دي چه د فاعل (کونکي) پورے خاص دي فائده ئې فاعل ته راجع وي او تعلیم د قرآن هغه عبادات دي چه

فائده ئے غير معلم ته متعدى ده نو دلته دا خپله فائده نقل كوى غير ته نو ددے په مقابله كښ اجرت اخستل جائز دى لكه ددے مثال كتابت د قرآن دے چه پدے سره اجرت اخستل جائز دى لكه دا استدلال امام قرطبیؒ په خپل تفسير الجامع لاحكام القرآن (١/٣٣٥) كښے ذكر كړيدے ـ او هغه دا وئيلى دى چه پدے باب كښ حديث د ابن عباس ان احق ما اخذتم عليه اجراً كتاب الله) ـ نص دے پدے مسئله كښے پدے سره اختلاف ختميږى نو مناسب ده چه په همدے باندے اعتماد اوكړے شى ـ

تنبيه: دا اختلاف په هغه صورت كښ دے چه يو مدرس او معلم د خلقو نه اجرت او تنخواه اخلى او پاتے شو هغه صورت چه يو انسان د بيت المال نه يا د اوقافِ خيريه نه تنخواه اخلى نو دا بالكل جواز لرى برابره ده كه مؤذن وى يا امام وى يا مدرس وى دا په نهى كښ ندى داخل ـ وجه دا ده چه په بيت المال كښ ددے انسان حق دے ـ

او دغه فتوىٰ په فتاوى اللجنة الدائمة (٤/١٢٩٠) كښے هم ذكر ده : وليس من هذا اخذ ائمة المساجد والمؤذنين اجراً من بيت مال المسلمين فانه ليس على التلاوة ولا على نفس الصلوة انما يأخذه مقابل تفرغه عن شغله الخاص بواجب كفائى عن المسلمين، ونظيره اخذ خليفة المسلمين من بيت المال لاشتغاله بواجب اعمال الخلافة الاسلامية عن عمله الخاص الذى يكسب منه لنفسه وكان عمر رضى الله عنه يعطى المجاهدين ومن لهم قدم صدق فى الاسلام من بيت المال كل على قدر سابقته وما قدمه لجماعة المسلمين من نفع عميم وآكد من هذا ان الله جعل للعاملين على الزكوة الجابين لها نصيبها فى الزكوة ولو كانوا اغنياء لقيامهم بواجب اسلامى للجماعة غنيهم وفقيرهم واشغالهم بهذا مدة عن الكسب لانفسهم، انتهى ـ

يعنى د مؤذن او ائمه د مساجدو دپاره اجرت د بيت المال نه اخستل حرام ندى ځكه چه دا په تلاوت او نفس مانځه باندے اجرت ندے بلكه ده ځان فارغ كړيدے دے ضرورى كار د مسلمانانو ته نو دا مشغول دے پدے كار سره د خپل كاروبار كولو نه، او ددے مثال داسے دے لكه خليفة المسلمين چه د بيت المال نه ځان دپاره وظيفه اخلى ځكه چه دا په واجب او ضرورى كارونو د خلافت باندے مشغول دے د خپل كسب نه، او عمر فاروق رضى الله عنه به مجاهدينو او مخكنى ايمان راوړونكو ته د بيت المال نه وظيفه او تنخواه وركوله، هر سړى ته د هغه د مرتبے موافق ځكه چه دے خلقو مسلمانانو ته ډيره عامه فائده رسولے ده او ددے تولو نه مضبوط مثال دا دے چه الله تعالى عاملانو د زكوة

دپاره حصه مقرر كړيده په زكوة كښې كوم چه د زكوة په راټولو باندې مقرر دى اګركه هغه مالدار وى ځكه چه دوئ د مسلمانانو دپاره په يو اسلامى وظيفه باندې مقرر شويدى چه پدې موده كښې دوئ د خپل ځان دپاره كاروبار نشى كولے انتهىٰ وانظر توضيح الاحكام (٤٧٠/١)۔ بيا روستو وائى : (١٣٠/٤) : حكم اجرة المدرسين الذين يعلمون الناس كتاب الله ليس فيها شئ لعموم قوله ﷺ ان احق ما اخذتم عليه اجراً كتاب الله وبالله التوفيق ۔

او په فتاوى اسلاميه (٤٠/١-٤٢) كښې فرمائى : واما اخذ الاجرة على تعليمه او الرقية به ونحو ذلك مما نفعه متعد لغير القارئ فقد دلت الاحاديث الصحيحة على جوازه ...... الخ فمن اخذ اجراً على نفس التلاوة او استأجر جماعة لتلاوة القرآن فهو مخالف لما اجمع عليه السلف الصالح رضوان الله عليهم، انتهى ۔

فائده : پدې حديث كښې ترغيب دے امامانو ته چه داسې مؤذن مقررول پكار دى چه اذان د الله تعالى د رضا دپاره او طلب د ثواب دپاره كوى نه هغه سړے چه صرف او صرف اذان د دنيا د مال، متاع په خاطر كوى ځكه چه اذان عظيم عبادت دے، ددے ثواب په دنيا اخستلو سره باطلول جائز ندى ۔

درجة الحديث : اسناده صحيح على شرط مسلم، اخرجه احمد (٢١٧/٤) وابوداود (٥٣) والنسائى (٢٣/١) والحاكم (١٩٩/١) وقال صحيح على شرط مسلم، ورواه ابوعوانة فى صحيحه وصححه كل من الشيخ الالبانى ورمضان فى تعليقيهما على المشكوة۔

---

١٦ – وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا، قَالَتْ : عَلَّمَنِيْ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ اَنْ اَقُوْلَ عِنْدَ اَذَانِ الْمَغْرِبِ : «اَللّٰهُمَّ هٰذَا اِقْبَالُ لَيْلِكَ وَاِدْبَارُ نَهَارِكَ، وَاَصْوَاتُ دُعَاتِكَ، فَاغْفِرْ لِيْ . رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ وَالْبَيْهَقِيُّ فِي الدَّعْوَاتِ الْكَبِيْرِ .

ترجمه : او ام سلمه رضى الله عنها فرمائى : رسول الله ﷺ ما ته خودلى وو چه د ماښام د اذان په وخت دا دعا وايه ! اللهم هذا الخ : اے الله ! دا وخت دے ستا د شپې راتللو او ستا د ورځے د واپس كيدو او ستا د رابلونكو (يعنى مؤذنينو) د آوازونو ! لهذا ته زما مغفرت اوكړه ۔ (ابوداود، بيهقى) ۔

اللهم هذا اقبال ليلك :

تشریح : ظاهر دا معلومیږی چه دا دعاء به د اذان د جواب ورکولو نه پس لوستے شی یا په ابتداء د اذان کښې ځکه هذا لفظ اشاره ده اذان ته یعنی اے الله دا اذان وقت دے د متوجه کیدو د شپے ستا ۔ حدیث پدے خبره دلالت کوی چه د اذان وقت د الله په دربار کښې د دعاء د قبلیدو وقت دے نو پدے وجه پداسے وقت کښې د الله تعالی نه د خپلو گناهونو او د نیکئ د توفیق دعاء کول پکار دی، دے دپاره چه دعاء ډیرے قبوله شی ۔

اصوات دعاتك : یعنی آوازونه دی ستا د داعیانو (تاطرفته د دعوت ورکونکو) دعاة جمع د داعی ده لکه قضاة چه جمع د قاضی ده، جمع ئے پدے وجه راوړه چه په اطرافو کښې مختلف اذانونه په یو وقت (ماښام) کښې کیږی اگرکه انسان یو اذان اوری ۔

درجة الحدیث : اسناده ضعیف اخرجه ابوداود (۵۳۰) والترمذی (۳۵۸۹) والحاکم (۱۹۹) وقال حدیث صحیح واقره الذهبی ولکن فی سنده ابو کثیر مولی ام سلمة وهو مجهول کما قال النووی وغیره انظر ضعیف سنن ابی داود (۵۴۰) وتعلیق ابن السنی رقم (۶۴۹) لبشیر عیون ۔ وقال الالبانی فی تعلیق المشکاة (۲۸۹/۱) بعد قول الحاکم : وفی الاسناد المسعودی وکان قد اختلط ویروی عنه القاسم بن معین وسمع منه فی زمن الاختلاط وابو کثیر وهو مجهول کما قال النووی وغیره انتهی ، وقال عبید الله المبارکفوری فی المرعاة (۳۷۶/۲) فالظاهر ان الحدیث من طریق ابی داود والحاکم حسن انتهیٰ اقول : ولکن الحق انه ضعیف فانه من روایة المسعودی عن ابی کثیر وقد عرفت حال المسعودی وابی کثیر ۔

---

۱۷ – وَعَنْ اَبِیْ اُمَامَةَ رضی الله عنه ، اَوْ بَعْضِ اَصْحَابِ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ ، قَالَ : اِنَّ بِلَالًا اَخَذَ فِی الْاِقَامَةِ، فَلَمَّا اَنْ قَالَ : قَدْ قَامَتِ الصَّلَاةُ . قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : اَقَامَهَا اللهُ وَاَدَامَهَا . وَقَالَ فِیْ سَائِرِ الْاِقَامَةِ کَنَحْوِ حَدِیْثِ عُمَرَ فِی الْاَذَانِ . رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ.

ترجمه : او ابو امامه یا د رسول الله ﷺ کوم صحابی فرمائی چه بلال رضی الله عنه تکبیر وئیل شروع کړل ۔ کله چه هغوی قد قامت الصلاه اووئیل نو رسول الله ﷺ (د هغه په جواب کښې) اوفرمائیل : اقامها الله وادامها : یعنی الله تعالی دِ دا مونځ قائم او دائم اولری او د تکبیر د باقی کلماتو په جواب کښې ئے هغه اوفرمائیل کوم چه د عمر رضی الله عنه په حدیث د اذان کښې ذکر شو ۔ (ابوداود) ۔

تشريح : اَخَذَ فِي الْاِقَامَةِ : اَخَذَ په معنى د شروع سره دے د افعال مقاربه غير مشهوره نه دے ۔ د حديث مطلب دا دے چه كله بلال په اقامت كښې شروع شو نو رسول الله ﷺ به جواب وركولو بعينه د هغه الفاظو پشان مگر كله چه هغه قد قامت الصلاة اووئيل : نو نبى عليه السلام ددے په ځائے اقامها الله وادامها اووئيل ۔ ليكن صحيح دا ده چه دا حديث ضعيف دے قابل د عمل ندے ۔

تنبيه : كله چه حديث ضعيف شو نو پدے باندے عمل كول د دوه وجو نه جائز ندى (۱) – اوله وجه دا ده چه دا حديث په فضائلو د اعمالو كښې ندے ځكه چه ددے الفاظو وينا د قد قامت الصلاة په وخت مشروع ندى او په بل صحيح حديث سره ندى ثابت نو پدے ضعيف روايت سره ددے مشروعيت نه ثابتيږى پدے به مونږ هله عمل كولے چه كله دا روايت ضعيف وے او دا نفس عمل په بل صحيح روايت كښې ثابت وے او پدے روايت كښې ئے فضيلت ذكر وے نو مونږ به وئيلے چه عمل خو مشروع دے اگرچه فضيلت ئے په ضعيف حديث ثابت دے او دلته خو داسے نده ۔

(۲) – دويمه وجه دا ده چه دا د عموم ددے قول د نبى عليه السلام نه مخالف دے (فقولوا مثل ما يقول) نو ثابته شوه چه دا الفاظ وئيل بدعت دے ۔

مسئله : بعض علماء وائى : د اقامت جواب وركول هم سنت دى لكه څنگه چه د اذان جواب وركول او فقولوا مثل ما يقول دواړو ته شامل دے دليل پدے باندے ۱– حديث د معاذ دے مرفوعا : اذا سمعتم المنادى يثوب بالصلوة فقولوا مثل ما يقول اخرجه احمد (۴۳۸/۳) وله شواهد فى الصحيحين انظر الصحيحة (۳/ ۳۱۷) رقم (۱۳۲۸) ۔

۲– دليل : حديث : اذا سمعتم النداء فقولوا مثل ما يقول المؤذن، رواه ابوداود (۱۰۶/۱)۔ نو پدے دواړه حديثونو كښې منادى او مؤذن عام دے شامل دے اذان كونكى او اقامت كونكى دواړو ته دغه شان تثويب الى الصلاة اذان او اقامت دواړو ته شامليږى كما فى القاموس راجع السلسلة الصحيحة (۲۱۷/۳) رقم (۱۳۲۸) وفتاوى الدين الخالص (۲۶۳/۳)۔ ليكن دا خبره زده كړه چه دا مسئله د بعض علماؤ اجتهاد دے او پدے باره كښې د رسول الله ﷺ نه هيڅ فعلى او قولى صريح روايت نشته او نه د كوم صحابى اثر شته چه هغه به د اقامت هم جواب وركولو ۔

فائده : په اقامت كښې د اذان پشان ښى او گس طرفته مخ گرځول راگرځول څنگه دى نو دے باره كښې بعض فقهاءِ احنافو وئيلى دى چه په اقامت كښې به هم التفات كوى

لكه صاحب د الدر المختار (١/٣٦٠) وائي: ويلتفت فيه و كذا فيها مطلقاً۔

ليكن صحيح خبره دا ده چه په اقامت كښ التفات ندے مسنون وجه دا ده چه دا په سنت مطهره كښ هيڅ ثبوت نه لري او اقامت په اذان باندے قياس كول صحيح ندي پدے باب كښ ځكه چه د اذان او اقامت ترمينځ ډير فرقونه دي

★– يو دا چه اقامت په مكان مرتفع (اوچت ځائے) كښ مسنون ندے په خلاف د اذان نه۔ ★– دويم دا چه په اقامت كښے په غوږونو كښ گوتے ننباسل مسنون ندي په خلاف د اقامت نه كذا في شرح السنة (٢/٦٤)۔ ★– په اقامت كښ حدر (جلتئ سره لوستل) سنت دے او اذان په ترسل (آرام) سره۔

★– د اذان نه روستو نفل كول مسنون دي په خلاف د اقامت نه۔ ★ – په اذان كښ احيانا ترجيع مسنون ده په خلاف د اقامت نه۔ ★– د اذان نه بعد درود او دعاء الوسيله وئيل مسنون دي په خلاف د اقامت نه۔ ★– مؤذن مالك د اذان دے په خلاف د اقامت نه چه امام ددے مالك دے۔ شرح السنة (٢/٨٩)۔

★– اذان د مونځونو نه ما سيوا هم مشروع دے په خلاف د اقامت نه چه دا صرف د مونځونو دپاره مشروع دے۔ ★– اقامت كښ قد قامت الصلاة دوه ځل لوستل مسنون دي بخلاف الاذان۔ ★– په اذان د صبا كښ الصلاة خير من النوم زياتولے شي نه په اقامت كښ۔ ★– نو دغه شان په اذان كښ التفات مسنون دے نه په اقامت كښ۔

كه ته سوال اوكړے چه هر كله په جواب وركولو كښ اقامت داخل شو په اذان كښ (عند بعض العلماء) نو په التفات كښ دِ هم اقامت د اذان پشان شي؟ ددے لِهٔ جواب دا دے چه مونږ به اقامت د اذان پشان گرځولے وے په التفات كښ كچرته پدے باندے عمل د نبي عليه السلام يا د صحابو موجود وے، حال دا چه د نبي عليه السلام او د هغه د صحابه كرامو نه قولا او عملا دا ندي ثابت چه هغوي په اقامت كښے التفات كړے وي۔

(ليكن اصح دا ده چه د اقامت جواب هم ندے ثابت نه قولا او نه فعلاً او نه اثراً صرف د عموماتو نه استدلال دے)۔

او دغه شان فتوىٰ په فتاوى دار العلوم ديوبند (٢/٩٠) كښ هم ده فرمائي: «مگر چونكه بعض علماء پدے علت سره چه اقامت د اعلام د حاضرينو دپاره دے، تحويل د وجه په حيعلتين كښ سنت ندے گنړلے الخ» آخر كښے ئے ترجيح فعل ته وركړيده ليكن دا خبره ئے غلطه ده ځكه چه عمل د نبي عليه السلام او د صحابه كرامو په دغه طريقه نه

وو۔

فائده : په عوامو کښې دا خبره مشهوره ده چه اذان به د مسجد د ښي طرفنه او تکبير به د گس طرفنه کولے شي، دا خبره باطله ده هيڅ حقيقت نه لري او هيڅ شرعي دليل پدے باندے نشته، وجه دا ده چه د رسول الله ﷺ په زمانه کښې به اذان د کوټے دپاسه کيدلو لکه مخکښې حديث د امرأة من بني النجار تير شويدے۔ په روايت د نسائي رقم (٦٢٠) کښې دي : دَ بلال او د ام مکتوم د اذان ترمينځ ډير وقت نه وو مگر دا چه يو به کوز شو او بل به اوختلو ۔ (ولم يكن بينهما الا ان ينزل هذا ويصعد هذا وسنده صحيح كذا فى الارواء (٢٣٢/١) ۔ ابوبرزه اسلمي ؓ فرمائي : من السنة الاذان فى المنارة والاقامة فى المسجد، اخرجه ابو الشيخ نصب الراية (٢٩٢/١- ٢٩٣) ۔ ابن عمر ؓ فرمائي : كان ابن ام مكتوم يؤذن فوق البيت (نفس المصدر) نو پدے احاديثو کښې د ښي او گس طرف ذکر نشته ۔

البته دا احاديث پدے مسئله باندے دلالت کوي چه د اذان او اقامت ځائے ډ جدا جدا وي لکه دے خبرے ته صاحب الهدايه (٨٩/١) اشاره کړيده : والمكان فى مسئلتنا مختلف ۔

فتاوي دار العلوم ديوبند (٨٦/٢) کښې دي : چه اذان ښي طرفنه او اقامت د گس طرفنه کول هيڅ دليل شرعي نه لري او نه په هيڅ کتاب دحديث او فقه کښې شته بلکه دا خبره غلطه مشهوره ده او دغه شان په احسن الفتاوي (٢٨٢/٢) کښې هم دي چه د اقامت اواذان دپاره خاص ځايونه ندي مقرر۔ وبالله التوفيق وانظر الموسوعة الفقهية لحسين عودة (٣٨٨/١) ۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف، اخرجه ابوداود (٥٢٨) والبيهقي (٤١١/١) وابن السني فى عمل اليوم والليلة رقم (١٠٢) وفى سنده محمد بن ثابت وهو العبدى ضعيف وفيه شهر بن حوشب وهو كثير الارسال تكلم فيه غير واحد ووثقه احمد ويحيى بن معين وحزم النووى وابن حجر بضعفه وضعفه البيهقي ايضاً وفيه رجل مجهول من اهل الشام ۔ انظر ارواء الغليل (٢٥٨/١) رقم (٢٤١) وتمام المنة (١٤٩) وفى صحيح الكلم ص (٥٥) وانه مخالف للحديث الصحيح فقولوا مثل ما يقول وكذا فى تعليق المشكاة ايضاً وراجع ايضاً فتاوى الدين الخالص (٢٧٥/٣) ۔

---

١٨ – وَعَنْ اَنَسٍ ؓ ، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : لَا يُـرَدُّ الدُّعَاءُ بَيْنَ الْاَذَانِ وَالْاِقَامَةِ . رَوَاهُ اَبُوْدَاوٗدَ وَالتِّرْمِذِيُّ .

ترجمه : او انس رضی الله عنه فرمائي : رسول الله ﷺ فرمائيلي دي : د اذان او

تکبیر ترمینځ دعاء نه رد کیږي ـ (ابوداود، ترمذی) ـ

تشریح : د اذان او اقامت ترمینځ دعاء نه رد کیږي بلکه ضرور قبلیږي، الله رب العالمین خو په هر وقت کښ د خپلو بندگانو دعاء قبلوی لکه دا د الله تعالی وعده ده ﴿أُجِيبُ دَعْوَةَ الدَّاعِ إِذَا دَعَانِ﴾ لیکن بعض اوقاتو ته الله تعالی ډیر فضیلت ورکړے وی په بعضو باندے دپاره د شفقت په بندگانو چه دوئ خپل رب ته ځان نزدے کړی چه د هغه اوقاتو نه د اذان او اقامت ترمینځ وقت دے چه دے کښ دعاء کول او خپل حاجت د الله نه غوختل ضرور قبلیږي او نبی علیه السلام د امت خیر خواه مونږ ته دعوت راکوی چه پدے اوقاتو کښ ځان کامیاب کړئ ! او د دنیاوی او خروی فلاح او کامیابئ سوالونه د الله تعالی نه اوکړئ ! ـ

بیا د دعاء نه مراد خاص دعاء ده چه هغه په شرطونو سره اوشی چه د صله رحمی قطع کول پکښے نه وی وغیره ـ بیا په دے دعاء کښے هغه دعاگانے هم داخل دی چه د اذان نه روستو وئیلے شی لکه دعاء الوسیله وغیره کوم چه مخکښ تیر شو او په یو روایت کښے دا هم راغلی ده چه کله رسول الله ﷺ دا اوفرمائیل چه د اذان او اقامت ترمینځ دعاء ضرور قبلیږي، صحابه کرامو تپوس اوکړو چه اے د الله رسوله ! مونږ څه قسم دعاء اوکړو، رسول الله ﷺ اوفرمائیل : سلوا الله العافية فی الدنيا والآخرة ! یعنی د الله تعالی نه په دنیا او آخرت کښ دعاء اوغواړئ ! ـ

فائده : دعاگانے په دوه قسمه دی یو هغه دی چه د یو مقام او موقع پورے خاص وی لکه مسجد ته داخلیدو وقت یا بیت الخلاء ته داخلیدو اووتو په وقت یا د طعام د شروع کولو په وقت نو پدے کښ رفع الیدین ندی ثابت ـ

۲– دویم : مطلق دعاگانے دی چه د څه موقعه پورے خاص نه وی نو پدے کښ رفع الیدین جائز او په بعضو ځایونو کښ د آدابو د دعاء نه دی او پدے باره کښ سل احادیث راغلی دی چه دیرش په صحیحینو کښ وارد دی لکه چه حافظ ابن حجر په فتح الباری (۱۱/۱۲۰، ۱۲۱) کښے او ددے تواتر ته سیوطی په تدریب الراوی (۲/۱۸۰) کښ اشاره کړیده او دغه شان علامه قاسمی په قواعد التحدیث (۱۴۶) کښ ـ نو دا احادیث د رفع الیدین په تواتر معنوی سره ثابت دی وانظر فتاوی الدین الخالص رقم (۱۰۴) و (۲/۱۹) ـ

درجة الحديث : اسناده صحيح : اخرجه احمد (۳/۱۱۹، ۱۵۵، ۲۲۵) وابوداود (۵۲۱) والترمذی (۲۱۲) والنسائی فی عمل اليوم والليلة (۶۷–۷۰) ولم يعزه المؤلف الى

احمد ولو عزاه له لکان اولیٰ ۔

١٩ – وَعَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ ﷺ، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : «ثِنْتَانِ لَا تُرَدَّانِ – اَوْ قَلَّمَا تُرَدَّانِ – اَلدُّعَاءُ عِنْدَ النِّدَاءِ، وَعِنْدَ الْبَأْسِ حِيْنَ يُلْحِمُ بَعْضُهُمْ بَعْضًا»، وَفِيْ رِوَايَةٍ : «وَتَحْتَ الْمَطَرِ» . رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ وَالدَّارِمِيُّ اِلَّا اَنَّهُ لَمْ يَذْكُرْ : «وَتَحْتَ الْمَطَرِ» .

ترجمه : او سهل بن سعد رضی الله عنه فرمائی : رسول الله ﷺ فرمائیلی دی : دوه دعاء گانے نه رد کیږی یا ئے دا اوفرمائیل : کم رد کیږی ۔ یو هغه دعا چه د اذان (کیدو نه بعد یا د اذان د شروع کیدو) په وقت غوختلے شي او دویمه هغه دعاء چه (دکفارو سره) په جنگ کښے یو بل کښے ننوتو (یعنی خپل مینځ کښے د قتل وقتال) شروع کیدو په وقت اوغوختلے شي ۔ په یو روایت کښے (جنگ کښے د یو بل سره ملاویدو په ځائے) دا منقول دی چه دویمه هغه دعا چه باران کښے (د اوریدو سره) اوغوختے شي ۔

تشریح : ثِنْتَانِ لَا تُرَدَّانِ : ثنتان نه مخکښے موصوف محذوف دے ای دعوتان ثنتان ۔

اَوْ قَلَّمَا : دا اصل کښې ماضی ده د قلت نه په معنی د کموالی سره لیکن کله چه ددے پورے ما ملغیة العمل ملحق شوه نو عمل ئے باطل شو او فاعل نه غواړی بلکه په معنی د نفی سره استعمالیږی او دا بیا د افعال غیر متصرفو نه دے ۔

اَلدُّعَاءُ عِنْدَ النِّدَاءِ : یعنی د اذان په وقت او د اذان نه بعد هم ۔

وَعِنْدَ الْبَأْسِ : یعنی په وقت د جنگ د کفارو کښې ۔ بأس : اصل کښې سختئ ته وائی دلته ترے مراد جنگ دے د کافرانو سره ۔

حِيْنَ يُلْحِمُ : دا بدل دے د عند البأس نه او یلحم (١) یا د باب د سمع نه دے په معنی د قتل کولو او تکلیف رسولو سره یعنی کله چه یو بل قتل کړی او یو بل ته تکلیف او ضرر اورسوی ۔

(٢) – یا دا د باب افعال نه دے، په معنی د یو بل کښې ورننوتلو او یو بل سره لازم کیدلو ته وائی ای یشتبك الحرب بینهم ویلزم بعضهم بعضا او ملحمه جنگ ته وائی انظر لا روس (١٠٢٩) ۔ مقصد د حدیث دا دے چه په دربے وقتونو کښې دعاء ضرور قبلیږی

یو د اذان په وقت او بل د کفارو سره د مقابلې په وقت او دریم د باران نه د لاندې کیدو په وقت کښې چونکه دا درې واړه وقتونه د الله د رحمت نازلیدو وقتونه دی نو په دې وقتونو کښې دعاء ضرور غوختل پکار دی۔

وَفِيْ رِوَايَةٍ : «وَتَحْتَ الْمَطَرِ» : یعني په یو روایت کښې د یلحم بعضهم (جنګ) په ځائې تحت المطر باران نه لاندې کیدلو وقت ذکر دې۔

درجة الحديث : اسناده صحیح :اخرجه الدارمي (١/٢٧٢) وابوداود (٢٥٤٠) والحاكم (١/١٩٨) قال الشيخ رمضان في تعليق المشكوة (١/٢٩٠) النسخة الهندية واما زيادة وتحت المطر فاسنادها ضعيف في سندها رجل مجهول ولكن الشيخ الالباني قال في الصحيحة (٣/٤٥٣) رقم (١٤٦٩) تحت حديث : اطلبوا اجابة الدعاء عند التقاء الجيوش واقامة الصلوة ونزول المطر، اخرجه الشافعي في الام (١/٢٢٣،٢٢٤) قلت (البانی) : لكن الحديث له شواهد من حديث سهل بن سعد وابن عمر وابي امامة خرجتها في التعليق الرغيب (١/١١٦) وهي وان كانت مفرداتها ضعيفة الا انها اذا ضمت الى هذا المرسل اخذ بها قوة وارتقى الى مرتبة الحسن ان شاء الله تعالى انتهى۔

٢٠– وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو، قَالَ : قَالَ رَجُلٌ : يَا رَسُوْلَ اللهِ! اِنَّ الْمُؤَذِّنِيْنَ يَفْضُلُوْنَنَا . فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : «قُلْ كَمَا يَقُوْلُوْنَ، فَاِذَا انْتَهَيْتَ فَسَلْ تُعْطَ» . رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ .

ترجمه : او عبد الله بن عمروؓ فرمائي چه یو صحابيؓ عرض اوکړو یا رسول الله ! اذان کونکي خو په فضیلت کښې زمونږ نه زیاتیږي۔ رسول الله ﷺ اوفرمائیل : څنګه چه هغه وائي (ورسره ورسره) تاسو هم هغه شان وایئ او کله چه (د اذان د جواب نه) فارغ شې نو څه چه دې زړه وي غواړه۔ درکولې به شي۔ (ابوداودؒ)۔

تشریح : اِنَّ الْمُؤَذِّنِيْنَ يَفْضُلُوْنَنَا : یفضلوننا په فتحه د یاء او ضمه د ضاد سره دې ۔ مطلب د حدیث دا دې چه کوم خلق اذان وائي نو هغوی ته خو د اذان په وئیلو باندې سعادت او برکت او زیات ثواب حاصلیږي لهذا هغوی به زمونږ نه په ثواب او فضیلت کښې زیات مقداروي نو مونږ ته هم داسې عمل خودل پکار دی چه د هغوی سره په دې ثواب کښې شریك شو نو رسول الله ﷺ هغوی ته دا طریقه اوخودله چه مؤذن کله کلمات وائي نو د هغه سره ئې تاسو هم وایئ سِوٰی (د حی الصلاۃ او حی علی الفلاح نه چه د هغې

په وقت به لاحول ولا قوة الا بالله وائی.) نو تاسو ته به هم د هغه د اصل ثواب پشان ثواب ملاویږی او که چرے تاسو د اذان د فراغت نه بعد دعاء اوغواړئ نو ستاسو فضیلت او اجر به نور هم زیات شی۔

بیا ان المؤذنین یفضلوننا : جمله په ظاهر کښ خبر دے، مطلب دا دے چه تاسو مونږ ته څه حکم کوئ! چه د هغے په سبب سره مونږ د مؤذنین سره یو ځائے شو۔

فَاِذَا انْتَهَيْتَ : ای فرغت من اجابة المؤذن۔

تعط : په روایت د ابوداود کښ تعطه په هاء سره دے ای یقبل الله دعاءك ویعطیك سؤالك حینئذ ما ترید۔ دا دعاء عام ده منقول او غیر منقول دواړو ته شامل ده یعنی هر قسم دعاء غوختلے شی کما مرّ۔

درجة الحديث : اسناده حسن : اخرجه ابوداود (٥٢٤) والنسائی فی عمل الیوم واللیلة (٤٤) وصححه ابن حبان (٢٩٥) وسکت عنه ابوداود واقره المنذری۔

الفصل الثالث - دریم فصل

٢١- عَنْ جَابِرٍ رضي الله عنه، قَالَ : سَمِعْتُ النَّبِيَّ ﷺ يَقُولُ : «اِنَّ الشَّيْطَانَ اِذَا سَمِعَ النِّدَاءَ بِالصَّلَاةِ ذَهَبَ حَتّٰى يَكُوْنَ مَكَانَ الرَّوْحَاءِ». قَالَ الرَّاوِيُّ : وَالرَّوْحَاءُ مِنَ الْمَدِيْنَةِ : عَلٰى سِتَّةٍ وَثَلَاثِيْنَ مِيْلًا . رَوَاهُ مُسْلِمٌ .

ترجمه : او جابر رضی الله عنه فرمائی : ما د رسول الله ﷺ نه واوریدل چه فرمائیل ئے : کله چه شیطان د مانځه اذان واوری نو تخښتی تردے چه روحاء مقام ته اورسیږی۔ راوی وائی : روحاء د مدینے نه شپږ دیرش میله فاصله باندے دے۔ (مسلم)۔

تشریح : د حدیث مطلب دا دے چه شیطان کله اذان واوری نو تښتی او دومره وړاندے لاړ شی، څومره چه د مدینے طیبے نه روحاء علاقه وړاندے ده نو یا خو دا تشبیه ده په انتهائی بعد کښ او یا بعینه شیطان روحاء علاقے ته رسیږی۔ په مسند د اسحاق کښ داسے لفظ دے (حتی یکون بالروحاء) نو په دے کښ غایه د بعد الشیطان بیان شوه د مدینے نه تر روحاء پورے۔ او شیطان د هواء پشان منده وهی (جسم لطیفه دے) نو کله چه اذان شروع شی نو دے دومره تیز شی چه د ډیرے تیزئ په وجه دومره لرے فاصله پورے رسیږی چه ځان راتینګوی نو روحاء ته رسیدلے وی۔ او دا مطلب ندے چه د روحاء پورے اذان اوری ځکه چه د بلال آواز خو شپږ دیرش میله نه رسیدلو۔

قَالَ الرَّاوِيُّ : ددے نه مراد ابوسفیان طلحه بن نافع دے کوم چه روایت کوی د جابر نه لکه چه په روایت د مسلم کښې ددے تصریح موجوده ده ۔

فائده : ددے راوی په نیز باندے روحاء د مدینے نه شپږ دیرش میله یعنی (۱۲) فرسخه وړاندے فاصله کښې پروت دے ۔ علامه یاقوت حموی په معجم البلدان (۲/٤٢٦) کښې رقم طراز دے چه ابن الکلبی ذکر کړیدی چه کله تبع حِمْيَرِى د اهل مدینه د قتال نه فارغ شو او د مکے اراده ئے اوکړه نو روحاء کښې ئے دمه اوکړه کوز شو او هلته اوسیدلو او استراحت ئے حاصل کړو نو هغه دے علاقے ته روحاء نوم کیخودلو ځکه چه روحاء د استراحت نه ماخوذ ده یقال بقعة روحاء ای طیبة ذات راحة ۔ د **کثیر**ؒ نه تپوس اوشو چه روحاء ته ولے روحاء وائی هغه اوفرمائیل : لانفتاحها ورواحها ۔ ځکه چه دا کولاوه راحت بخش علاقه ده او ددے او د مدینے ترمینځ تقریباً څلویښ میله مسافت دے او پدے حدیث د مسلم کښې راځی چه ددے او د مدینے ترمینځ (۳۶) میله فاصله ده او په ابن ابی شیبه (۱/۲۲۹) کښې راځی چه (وهی ثلاثون میلا عن المدینة) دیرش میله د مدینے نه وړاندے ده انتهی ۔ نو ددے تطبیق کښې وایو چه روایت د مسلم راجح دے او پدے کښې د حقیقی اندازے بیان دے او د څلویښتو میلو تذکره تقریبی اندازه ده ځکه چه علی نحو اربعین میلا لفظ دے او په روایت د ابن ابی شیبه کښې عدد زائد د عربو د عادت مطابق حذف شویدے ځکه چه عرب غالباً د عقودو ترمینځ اعداد او کسور نه ذکر کوی ۔ والله اعلم ۔

---

٢٢ – وَعَنْ عَلْقَمَةَ بْنِ وَقَّاصٍ، قَالَ : اِنِّیْ لَعِنْدَ مُعَاوِيَةَ . اِذْ اَذَّنَ مُؤَذِّنُهٗ، فَقَالَ مُعَاوِيَةُ : كَمَا قَالَ مُؤَذِّنُهٗ، حَتّٰى اِذَا قَالَ : حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ، قَالَ : لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ . فَلَمَّا قَالَ : حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ، قَالَ : لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ الْعَلِيِّ الْعَظِيْمِ . وَقَالَ بَعْدَ ذٰلِكَ مَا قَالَ الْمُؤَذِّنُ . ثُمَّ قَالَ : سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ قَالَ ذٰلِكَ . رَوَاهُ اَحْمَدُ .

ترجمه : علقمه بن وقاصؒ فرمائی : زه (یوه ورځ) د امیر معاویه په خدمت کښې حاضر وم چه د هغه مؤذن اذان اوکړو ۔ نو مؤذن چه څنګه وئیل ، معاویهؓ هم هغه شان (د هغه سره) وئیل ، کله چه مؤذن حی علی الصلاة اووئیل : نو معاویهؓ اووئیل : لا حول

ولا قوة الا بالله ۔ کله چه مؤذن حی علی الفلاح اووئیل نو معاویهؓ اووئیل : لا حول ولا قوة الا بالله العلی العظیم او ددے نه بعد مؤذن چه څه وئیل، معاویهؓ به هم وئیل ۔ (بیا فارغیدو سره) معاویه اووئیل : ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلی دی چه دغه شان به ئے وئیل ۔ (احمدؒ) ۔

د علقمه تعارف : دا علقمه بن وقاص اللیثی المدنی ثقه راوی دے د کبار التابعین نه دے بعض وائی صحابی دے لیکن دا خبره خطاء ده بعض وائی د نبی علیه السلام په زمانه کښ ئے ولادت شویدے ددے وجه نه مصنف په صحابوؒ کښ ذکر کریدے په خلافت د عبد الملك بن مروان کښے وفات شویدے ۔

تشریح : **اِذْ اَذَّنَ مُؤَذِّنُهٗ** : یعنی امیر معاویه د خپل مسجد د مؤذن اذان واوریدو نو هغه شان کلمات ئے ورسره اووئیل، مگر په حی علی الصلاة او حی علی الفلاح کښے ئے لاحول ولا قوة الا بالله العلی العظیم اووئیل ۔

فائده نادره : په مقدمه ددے کتاب کښے (١/٦٠) تیر شویدی چه د لاحول ولا قوة الا بالله دوه تتمے دی (١) – العزیز الحکیم کما فی روایة مسلم (٢/٣٤٥) (٢) – او العلی العظیم کما فی ابن ماجه (٢/٣٣٥) رقم (٣٨٧٨) مجمع الزوائد (١٠/٦١) وابن السنی فی عمل الیوم واللیلة (٣٥) ۔ مگر د اذان د جواب په موقعه صرف لا حول ولا قوة الا بالله به وائی او العلی العظیم زیادت صحیح ندے لکه مرقات (٢/١٧٢) او مرعات (٢/٣٧٩) د طیبی نه نقل کوی چه په روایاتو کښے دا زیادت منکر دے نو دا یا د کاتب خطائی ده یا د مصنف سبقت قلمی ده ځکه چه شیخ البانیؒ فرمائی : دا روایت د مسند احمد (٤/٩٨) دے او په هغے کښ دا زیادت بالکل نشته او بل سند د مسند احمد (٤/٩١) کښے هم دغه الفاظ نشته دارنګه مخکښے روایت د عمر بن الخطاب په فصل اول کښے تیر شو چه په هغے کښ هم دا الفاظ نشته معلومه شوه چه دا خطائی ده او سند ددے روایت هم ضعیف دے کما سیأتی ۔تعلیق المشکوة (١/٢١٣) ۔

درجة الحدیث : اسناده ضعیف اخرجه احمد (٤/٩١/٩٢) وفیه عیسی بن عمر وعبد الله بن علقمة لا یعرفان وقد صرح بذلك الذهبی فی الاول منهما وعن هذا الوجه رواه النسائی ایضا (١/١٠٩–١١٠) وقول ابن الحجر الهیثمی : وسنده حسن – غیر حسن لما ذکرنا ولیس فی المسند ولا فی النسائی زیادة العلی العظیم فهی منکرة بل باطلة فقد اخرج احمد (٤/٩٨) من طریق محمد بن عمرو وهو ابن علقمة حدثنی ابی عن جدی قال : کنا عند

معاوية فذكر الحديث اتم منه دون الزيادة وعمرو هذا في عداد المجهولين وان صحح له الترمذي ولكن اصل الحديث عند البخاري في صحيحه (١٦٢/١) وليس فيه تلك الزيادة والله تعالى اعلم وانظر شرح السنة وليس فيه تلك الزيادة بسند صحيح قواه الحافظ ابن حجر في الفتح (٧٥/٢) قاله محققه ـ

٢٣ – وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ ﷺ، قَالَ : كُنَّا مَعَ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ ، فَقَامَ بِلَالٌ يُنَادِيْ، فَلَمَّا سَكَتَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : «مَنْ قَالَ مِثْلَ هٰذَا يَقِيْنًا، دَخَلَ الْجَنَّةَ» . رَوَاهُ النَّسَائِيُّ .

ترجمه : او ابو هريره رضی الله عنه فرمائی : مونږ د رسول الله ﷺ سره يو ځائے وو چه بلال پاڅيدو او اذان ئے اوکړو ـ کله چه هغه (د اذان وئيلو نه) خاموش شو نو رسول الله ﷺ اوفرمائيل : چاچه دغه شان يقينا (يعنی په اخلاص سره) اووئيلو نو هغه به جنت ته داخليږی ـ (نسائی) ـ

تشريح : د نداء نه مراد اذان دے ای يؤذن للصلاة مطلب د حديث دا دے چه کوم شخص په يقين او اخلاص او کامل اعتقاد سره د هغه کلماتو پشان يا په اذان کښ اووائی يا ئے د اذان په جواب کښے اووائی يا ئے مطلقا اووائی نو هغه به د جنت د داخليدو مستحق کرځی يا به د نجات موندونکو سره جنت ته داخليږی ـ

درجة الحديث : اسناده حسن : اخرجه النسائي (١٠٩/١) ورجاله ثقات غير النضر بن سفيان وهو الدؤلي اورده ابن ابي حاتم (٤٧٣/٤) ولم يذكر فيه جرحاً ولا توثيقاً وفي التقريب انه مقبول، وقال الالباني في صحيح سنن النسائي (١٤٥/١) رقم (٦٥٠) والتعليق الرغيب (١١٣/١) : اسناده حسن واخرجه ايضاً ابن حبان في صحيحه والحاكم (٢٠٤/١) وسكت عنه ويشهد له رواية عمر بن الخطاب المذكور في الفصل الاول ـ

٢٤ – وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا، قَالَتْ : كَانَ النَّبِيُّ ﷺ اِذَا سَمِعَ الْمُؤَذِّنَ يَتَشَهَّدُ قَالَ : «وَاَنَا وَاَنَا» . رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ .

ترجمه : او عائشه رضی الله عنها فرمائی : رسول الله ﷺ به چه کله د مؤذن نه شهادتين وئيل واوريدل نو فرمائيل به ئے : «اوزه هم اوزه هم» ـ (ابوداود) ـ

تشريح : «وَاَنَا وَاَنَا» : يعنی کله چه به مؤذن په اذان کښ اشهد ان لا اله الا الله،

اشهد ان محمدا رسول الله اووئیل نو رسول الله ﷺ به د شهادتینو په جواب کښې دوه کرتې «وَاَنَا وَاَنَا» وئیل (یعنی زه هم او زه هم) یعنی لکه څنګه چه ته د الله تعالی د وحدانیت او د محمد ﷺ د رسالت ګواهي ورکوې، دغه شان زه هم د الله تعالی د وحدانیت او د محمد ﷺ د رسالت ګواهي ورکوم نو یو (انا) راجع دے شهادت د توحید ته او دویم (انا) شهادت د رسالت ته نو ځکه ئے تکرار اوکړو یا تکرار د تاکید د دوارو دپاره دے وهو الاظهر۔

سوال: ددے حدیث نه معلومه شوه چه نبي علیه السلام به د شهادتینو په وقت وانا وانا الفاظ وئیل او مخکښې حدیث د معاویه نه معلومه شوه چه هغه د اشهد ان محمدا رسول الله په جواب کښې اشهد ان محمدا رسول الله وئیلے دے نو تعارض راغلو؟۔

ددے جواب دا دے چه کیدے شي رسول الله ﷺ به کله وانا انا الفاظ وئیل او کله به ئے بعینهٖ د مؤذن پشان اشهد ان محمدا رسول الله وئیل نو تعارض نشته۔

فائده ۱: دا حدیث د هغه علماؤ دلیل دے چه د اذان جواب ورکولو ته واجب نه وائی ځکه چه رسول الله ﷺ په اذان کښې خبرے کړیدی او دا الفاظ ئے وئیلی دی (وانا وانا) او د اذان جواب ئے ندے ورکړے۔ لیکن حقه خبره دا ده چه دا استدلال ضعیف دے وجه دا ده چه دا الفاظ وئیل د جواب ورکولو منافي ندی، یا دا چه دا د نبي علیه السلام دپاره د اذان جواب ورکول دی۔

فائده ۲: رسول الله ﷺ پورے دا خاص دی چه هغه به وانا وانا الفاظ وئیلو په وقت د شهادتینو کښې او مونږ دپاره ئے دعاء خودلے ده چه اشهد ان لا اله الا الله وحده لا شریك له له الملك وله الحمد وهو علی کل شئ قدیر رضیت بالله ربا الخ لکه چه مخکښې تیر شو۔

فائده ۳: د وانا وانا الفاظو نه علماء دا فائده معلوموی چه رسول الله ﷺ د امت سره په احکامو کښې شریك دے هغه هم په اعتقادیات او اعمالو باندے مکلف دے نو څنګه چه د امت افراد پدے مکلف دی چه د توحید او د رسالت ګواهي ورکړي نو نبي علیه السلام باندے هم دا فرض وو چه په خپل رسالت باندے ایمان راوړي چه زه د الله رسول یم او پدے کښې هیڅ شك اونکړي لکه نبي علیه السلام به د شهاتینو جواب هم هغه شان ورکولو څنګه چه به مؤذن وئیل کما مرّ في حدیث معاویه۔

درجة الحدیث: اخرجه ابوداود وسکت عنه واسناده صحیح واخرجه ایضاً ابن حبان فی صحیحه والحاکم (۱/۲۰٤) وسکت عنه وقال الشیخ الالبانی واسناده صحیح وله فی

المسند طریق اخرٰی وشاهد ۔

٢٥ – وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ، اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ قَالَ : «مَنْ اَذَّنَ ثِنْتَیْ عَشْرَةَ سَنَةً، وَجَبَتْ لَهُ الْجَنَّةُ ، وَكُتِبَ لَهُ بِتَأْذِيْنِهٖ فِیْ كُلِّ يَوْمٍ سِتُّوْنَ حَسَنَةً، وَلِكُلِّ اِقَامَةٍ ثَلَاثُوْنَ حَسَنَةً» . رَوَاهُ ابْنُ مَاجَه .

ترجمه : او ابن عمر رضی الله عنه روایت کوی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی : چا چه دولس کالو پورے اذان اوکړو د هغه دپاره جنت واجبیږی او د هغه د اذان په بدله کښے به (د هغه په عمل نامه کښے) هره ورځ (یعنی په هر اذان) شپیته او د هر تکبیر په بدله کښے دیرش نیکیانے لیکلے شی ۔ (ابن ماجه) ۔

تشریح : مَنْ اَذَّنَ ثِنْتَیْ عَشْرَةَ سَنَةً : عشره کښ سکون د شین او کسره دواړه جائز دی یعنی چا چه دولس کاله اذان اوکړو نو جنت ورله واجبیږی او هغے ته به ضرور داخلیږی که ابتداءً وی او که انتهاءً وی ۔ سوال دا دے چه مخکښے حدیث د ابن عباسؓ دویم حدیث د فصل ثانی کښ تیر شو چه څوك اووه کاله اذان اوکړی نو دا ورنه بری شو او دلته وائی چه دولس کاله ۔ نو ددے دواړو حدیثونو توافق او تطبیق څنګه کیدے شی ؟ ۔

الجواب ١ – : هیڅ منافات نشته، وجه دا ده چه دے حدیث کښ لکه څنګه چه موده زیاته ذکر ده نو اجر هم زیات ذکر شویدے او هغه دا چه په هر اذان باندے شپیته نیکیانے لیکلے شی الخ ۔

٢ – یا دا چه اختلاف د مودے بناء دے په اختلاف د احوالو د مؤذنینو ۔ بعض مؤذنینو ته په اووه کاله اذان کولو دغه فضیلت حاصلیږی د وجے د اخلاص د هغوی نه او بعضو ته په دولس کاله اذان کولو د وجے دے توجهیٔ نه والله اعلم ۔

٣ – **بل جواب** دا هم کیدے شی چه روایت د ابن عباسؓ ضعیف دے فیه جابر الجعفی او دا روایت صحیح دے ۔

وَكُتِبَ لَهُ بِتَأْذِيْنِهٖ : یعنی صرف په اذان کولو باندے به ورته شپیته نیکیانے لیکلے شی نه په مانځه باندے د مونځ جدا اجر دے ۔ فِیْ كُلِّ يَوْمٍ : د کل یوم نه مراد په هره ورځ کښ په هر اذان باندے دغه اجر دے دلیل پدے باندے روستو لکل اقامةٍ دے څکه چه دا مقابل د هغے دے لکه په شرح السنه (٧٢/٢) کښے داسے الفاظ دی : و کتب له بتأذینه فی کل مرة ستون حسنة الخ نو دلته به تقدیر د عبارت داسے شی : وکتب له بتأذینه فی کل

مرة كل يوم ستون الخ ـ

وَلِكُلِّ اِقَامَةٍ ثَلَاثُوْنَ حَسَنَةً : يعني په هره ورځ كښې په هر اقامت باندې به ورله ديرش نيكئ اوليكلے شي ـ د اقامت نيكئ ولے په نيمائى د اذان شوې ؟ نو ددې يو څو حكمتونه دى ـ

(١) – يو حكمت دا دې چه تكبير په خاص طور باندې د هغه خلقو د اطلاع دپاره كولے شي چه په مسجد كښې حاضر وى او د اذان په وجه په عمومى طور باندې حاضرين او غائب خلق ټولو ته اطلاع كولے شي ـ او په اذان كښې د آواز پورته كول دې دپاره دى چه ډير خلق خبر شى او اقامت كښې صرف حاضرين خبر شى ـ

(٢) – دويم دا چه : په اذان كښې مشقت او زيات محنت برداشت كول دى ځكه چه اذان په اوچت مكان باندې كيږى آواز پكښې پورته كولے شي، بهرته تلل راتلل دى او په اقامت كښې دغه شان مشقت او محنت نه وى او دا قانون دې چه (الاجر على قدر المشقة) د مشقت په اندازه اجر ملاويږى ـ

(٣) – يا دا چه الفاظ د اقامت كم دى د الفاظو د اذان نه ځكه چه اقامت كښې افراد دې او اذان كښې تثنيه كما مر (مرقات : ١٧٣/٢) ـ

فائده : ابن حجر وائى : ظاهر ددې حديث دا دې چه په اذان باندې شپيته نيكئ او په اقامت باندې ديرش نيكئ خاص د هغه چا په حق كښې ليكلے شي چه دغه موده (دولس كاله) ئې اذانونه كړى وى او كه دغه موده ئې اذانونه نه وى كړى (بلكه يو كرتے دوه كرتے اذان اوكړى يا يو كال دوه كاله) نو د هغه دپاره په هر اذان او اقامت باندې دغه اجر نشى ليكلے ـ

ليكن ملا على القارى په مرقات (١٧٣/٢) كښې په هغه باندې رد كړې چه دده دا قول غير ظاهر دې ـ وجه دا ده چه جزاء او شرط په وجبت له الجنه سره پوره شوه او دا قول چه وكتب له دې نو دا زيادت دې په جزاء باندې معنى دا ده چه ددې سره سره ورله په هر اذان او اقامت باندې دغه نيكيانې ثابتيږى ځكه چه د اصل ثواب په حاصلولو كښې د مداومت او غير مداومت ترمينځ هيڅ فرق نشته ـ بلكه په نفس اذان او اقامت باندې دغه اجر دې برابره ده كه دغه موده باندې دوام شوې وى ـ او كه نه او همدا خبره غوره ښكارى ـ

★– دارنګه بعض وائى : چه دا اجر په كلماتو د اذان او اقامت پورې خاص دې نو دا فضيلت به صرف مؤذن او مقيم ته حاصل وى خو دا خبره هم غلطه ده بلكه دا ثواب د

کلماتو د اذان او اقامت نه زیاتی دے نو که پدے کلماتو باندے مجیب تکلم اوکړی یا مؤذن وغیره تولو ته دغه اجر ملاویږی نو خصوصیت د مؤذن نشته ۔

★– دارنگه که دغه ثواب د کلماتو د اذان ا واقامت معتبر کړے شی نو بیا د دغه حساب نه زیاتیږی ځکه چه هره کلمه باندے لس نیکئ حساب کړه نو د اذان د کلماتواجر د شپیتو نه اوړی فتدبر ۔

درجة الحدیث : اسناده صحیح : اخرجه ابن ماجه (٧٢٨) وابن عدی فی الکامل (١٥٢٣/٤) فی ترجمة عبد الله بن صالح والحاکم (٢٠٤/١ – ٢٠٥) والبیهقی فی السنن (٤٣٣/١) وقال الحاکم : صحیح علی شرط البخاری ووافقه الذهبی ۔ وقال المنذری وهو کما قال : فان عبد الله بن صالح کاتب اللیث وان کان فیه کلام فقد روی عنه البخاری فی الصحیح، وقال البغوی : عبد الله بن صالح کاتب اللیث صدوق، غیر انه وقع فی حدیثه مناکیر ولذلك ضعفه البوصیری فی الزوائد (٤٨/٢) اسناده ضعیف لضعف عبد الله بن صالح شرح السنة (٧٢/٢) قال الشیخ الالبانی فی الصحیحة (٦٦/١) رقم (٤٢) لکن ذکر له الحاکم شاهداً من طریق ابن وهب ...... وهذا سند صحیح، رجاله کلهم ثقات – وبذلك یصیر الحدیث صحیحاً والحمد لله علی توفیقه انتهی ۔

---

٢٦ – وَعَنْهُ رضی الله عنه ، قَالَ : كُنَّا نُؤْمَرُ بِالدُّعَاءِ عِنْدَ اَذَانِ الْمَغْرِبِ . رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي الدَّعَوَاتِ الْكَبِيْرِ .

ترجمه : او ابن عمر رضی الله عنه فرمائی : مونږ ته د ماښام د اذان په وقت د دعاء غوختلو حکم شویدے ۔ (بیهقی فی الدعوات) ۔

كُنَّا نُؤْمَرُ بِالدُّعَاءِ عِنْدَ اَذَانِ الْمَغْرِبِ :

تشریح : مخکښے تیر شو چه د هر اذان نه روستو دعاء مستحب ده خو شاید چه د مغرب د اذان نه روستو ډیر مؤکد وی، ځکه چه پدے سره تبدیلی د ورځے کیږی ۔ علامه طیبی ؒ وائی : کیدے شی ددے دعاء نه مراد هغه دعاء وی کوم چه د ام سلمه په حدیث کښ تیره شوه اللهم هذا اقبال لیلك وادبار نهارك الخ ۔

درجة الحدیث : اخرجه البیهقی فی الدعوات الکبیر والطبرانی ایضاً ۔



باب

په عام نسخو کښې ترجمة الباب نشته د امام بخاری وغیره پشان کارئے کړیدے ځکه دے باب کښے د حدیثونو مناسبت د ماقبل سره من وجه شته نو ځکه ئے ترجمه نده لیکلے او من وجه مناسبت نشته نو ځکه ئے صرف لفظ د باب راوړو۔
په بعضے نسخو کښې (**باب فيه فصلان**) لفظ دے او په بعض عربی نسخو کښې (**باب تاخير الاذان**) دے۔ نو ته داسے ترجمة الباب هم لګولے شے ! (**باب الاذانين لصلوة الصبح والاذان للفوائت واذان المسافر**)۔
بیا ئے دوه فصلونه راوړیدی، فصل اول او فصل ثالث ۔ ترتیب خو دا وو چه فصل اول اوفصل ثانی ذکر شوی وے مګر ترتیب ئے بدل کړو ځکه چه فصل اول د مصنف د طرفنه دے او فصل ثالث خو د صاحب مشکوة د طرفنه دے۔

الفصل الاول - اول فصل

١ – عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : «اِنَّ بِلَالًا يُنَادِىْ بِلَيْلٍ، فَكُلُوْا وَاشْرَبُوْا حَتّٰى يُنَادِىَ ابْنُ اُمِّ مَكْتُوْمٍ »، قَالَ : وَكَانَ ابْنُ اُمِّ مَكْتُوْمٍ رَجُلًا اَعْمٰى، لَا يُنَادِىْ حَتّٰى يُقَالَ لَهٗ : اَصْبَحْتَ اَصْبَحْتَ . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ .

ترجمه : د ابن عمر رضی الله عنهما نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل : بلال (د سحر اذان خاص) په شپه کښې کوی لهذا ترڅو چه ابن ام مکتوم اذان اوکړی تر هغے پورے تاسو (که د روژے اراده مو وی) خوراك څكاك کوئ۔ ابن عمرؓ فرمائی چه ابن ام مکتومؓ يو نابينا سړے وو، ترڅو پورے چه به هغه ته چا دا نه وو وئیلی چه «تا صبا کړو تا صبا کړو» هغه به اذان نه وئیلو ۔ (بخاری ومسلم) ۔

اِنَّ بِلَالًا يُنَادِىْ بِلَيْلٍ الخ

تشریح : یعنی بلال په شپه کښے اذان کوی چه صبا لا نه وی راختلے نو خوراك څكاك تر هغه وقت پورے کولے شئ ! چه عبد الله بن ام مکتوم اذان اوکړی۔
پدے حدیث کښې دا مسئله ده چه د سحر مانځه دپاره دوه اذانونه سنت دی يو به د

دخول الوقت نه قبل وي ـ او بل به د وقت د داخليدو نه بعد وي ـ

بيا اول اذان به د كوم وقت نه كولے شي نو پدے كښے تقريباً شپږ اقوال امام نووئ په شرح المهذب (٣/٨٨) كښ ذكر كړيدي بعض دا دي : (١) – د نصف الليل نه بعد به شروع كوي دا قول د حنابله او اكثر شوافعو دے (٢) – د ثلث الليل الآخر نه بعد (٣) – تول شپه د ماسخوتن نه روستو (٤) – خو د تولو نه صحيح خبره چه د حديث موافق ده (واختاره ابن قدامة من الحنابلة والبغوى من الشافعية توضيح الاحكام (١/٤٦٤) هغه دا چه د سحر د راختلو نه لګ مخكښے به دا اذان كوي چه د تهجدو وقت وي، يوه ګينته يا نيمه يا زياته كمه وي دليل پدے باندے حديث د نسائي (١/١٠٥) او بيهقي (١/٣٨٢) دے عائشه فرمائي : ولم يكن بينهما الا ان يرقى ذا وينزل ذا، فتح البارى (٢/٨٣) او روايت د طحاوي او نسائي كښ دي : الا ان يصعد هذا وينزل هذا) يعني دومره وقت به وو چه يو به اوختلو او بل به راكوز شو مقصود د عائشهؓ تحديد ندے بلكه بيان د قلت دے يعني دومره لګ وقت به وو چه يو به اذان اوكړو نو بل به راپاڅيدو د غسل يا د اودس تيار ے به ئے اوكړو، تهجد به ئے اوكړل بيا به ئے اذان اوكړو ـ مرعاة (٢/٣٨١) ـ

امام نوويؒ په شرح مسلم كښ داسے معنى كوي : قال العلماء معناه : ان بلالا كان يؤذن قبل الفجر ويتربص بعد اذانه للدعاء ونحوه ثم يرقب الفجر فاذا قارب طلوعه نزل فاخبر ابن ام مكتوم فيتأهب بالطهارة وغيرها ثم يرقى ويشرع فى الاذان مع اول طلوع الفجر انتهى نيل الاوطار (٢/٣٤) ـ

بيا دا دوه اذانونه ولے كولے شي ؟ نو ددے حكمت په روايت د بخاري بشرح الفتح (٢/٨٢) كښ ذكر دے (فانه يؤذن او ينادى بليل ليرجع قائمكم ولينبه نائمكم) واخرجه ابوداود ايضا يعني تهجد ګزار راواپس شي خپلے بسترے ته او آرام اوكړي چه د سحر مانځه دپاره تازه او نشاط كښ شي او اوده انسان بيدار شي چه مانځه دپاره تيار ے اوكړي ـ

مسئله : اذان قبل طلوع الفجر جائز دے او كه نه ؟

پدے كښے اتفاق د اهل علمو دے چه سنت دا ده چه مونځونو دپاره به د وقت د داخليدو نه پس اذان كولے شي، سوئ د صبا نه چه پدے كښے اختلاف دے لكه دا اجماع ابن قدامه د ابن المنذرؒ نه نقل كړيده (المغنى (١/٤٥٥) او امام نوويؒ په حواله د ابن جريرؒ وغيره نقل كړيده شرح المهذب (٣/٨٩) ـ

خو پدے کښې اختلاف دے چه آیا د صبا نه مخکښې اذان باندے اکتفاء جائز ده او که نه ؟ ۔

۱- نو د شوافع او مالكؒ، اوزاعیؒ، ابویوسفؒ، ابوثورؒ، اسحاقؒ، او داودؒ مذهب دا دے چه اذان قبل الفجر وبعده دواړه جائز دے کما قال النوویؒ ۔

۲- او د امام ابوحنیفه، ثوری او محمد بن الحسن مذهب دا دے چه قبل طلوع الفجر اذان جائز ندے بلکه د صبا د مانځه دپاره اذان به د دخول الوقت نه پس کولے شی او که مخکښې اذان اوشو په هغې باندے به اکتفاء نشی کولے بلکه اعاده به ئے په وقت کښې ضروری وی او مخکښې اذان د صبا دپاره ندے صحیح نو دوئ د صبا دپاره دوه اذانونه نه منی ۔

۳- قول : صحیح خبره دا ده چه د صبا دپاره دوه اذانونه سنت دی او مقدار د فرق بین الأذانین تا اوپیژندلو او اکتفاء په یو اذان صحیح نده او دا مذهب د یو طائفه د اهل الجدیث دے کما قال صاحب المغنی (۱/٤٥٥) ۔ وجه دا ده چه که په یو اذان قبل الفجر باندے اکتفاء اوشی نو د اذان مقصود به فوت شی چه هغه خلقو ته د وقت په داخلیدو خبر ورکول دی، نو د باقی مونځونو پشان قبل الوقت اذان به جائز نه وی خو کله چه دوه اذانونه وی لکه څنګه چه د نبی علیه السلام دپاره وو نو بیا به په یو اذان سره د مانځه دپاره د تأهب او تیاریٔ اعلان اوشی او که څوك روژه نیسی نو هغه به لا خوراك څكاك نه بندوی او په بل اذان سره به اعلام اوشی په دخول الوقت سره ا و په صبا کښې دوه اذانونه څکه سنت شو چه دا وقت د نوم او غفلت دے د یو انسان به د روژے اراده وی نو په اول اذان سره به خبر ورکړے شی دارنګه تهجد به اوکړی، د مانځه دپاره به په غسل یا اودس سره او بیا په دوه رکعاته سنت کولو سره تیارے اونیسی ۔

ددے **قول ویر دلائل** دی او صحیح صریح احادیث دی :

۱- یو صریح دلیل دا حدیث الباب دے چه نبی علیه السلام فرمائی : اے خلقو بلال د شپے په آخری حصه کښې اذان کوی نو تاسو کښې که د چا اراده د روژے وی نو خوراك څكاك کویٔ ! او مه ئے بنده ویٔ تردے چه عبد الله بن ام مکتوم اذان شروع کړی د صبا د راختلو نه پس (متفق علیه) معلومه شوه چه د صبا دپاره دوه اذانونه دی ۔

۲- دویم دلیل : ددے حدیث پسے دویم نمبر د سمره بن جندب راروان دے : لا یمنعنکم من سحورکم اذان بلال ولا الفجر المستطیل الحدیث اخرجه مسلم (۱/۳٤۹) والترمذی (۱/۱۵۰) معلومه شوه چه بلال به د صبا د وقت نه مخکښې اذان کولو ۔

۳- **دليل** : ابن مسعود فرمائي : قال رسول الله ﷺ : لايمنعن احدكم اذان بلال من سحوره فانه يؤذن بليل ليرجع قائمكم ولينتبه نائمكم رواه الجماعة الا الترمذى ۔

٤- **دليل** : د انس رضى الله عنه نه مرفوعاً نقل دى : ان بلالا يؤذن بليل الحديث ۔ مجمع الزوائد (۳/۲۲۵) وقال الهيثمى : اخرجه البزار ورجاله رجال الصحيح ۔

٥- **دليل** : د سلمانؓ نه هم ددے په مثل روايت دے انظر المجمع (۳/۱۵۳ - ١٥٤) وارواء الغليل (۱/۲۳۹) ۔

٦- **دليل** : د انيسه رضى الله عنها نه هم ددے په شان روايت موجود دے كما فى ارواء الغليل (۱/۲۳۷) ۔

احناف قبل الفجر اذان نه منى او ددے احاديثو نه جوابو نه او تاويلونه كوى :

(۱)- يو دا چه دے حديث (ان بلالا ينادى بليل) كښے تاويل دے لكه چه دا تاويل طحاوى (۱/۹۲) ذكر كړے دے چه دا محمول دے په خطاء باندے ځكه چه د بلال نظر كمزورے شوے وو وقت به ورته ښه نه ښكاره كيدو نو قبل الوقت ئے اذان اوكړو نو خطاء شو لكه ددے دپاره ئے يو حديث راوړيدے چه بلال يو ورځ قبل طلوع الفجر اذان اوكړو رسول الله ﷺ هغه ته حكم اوكړو چه ورشه ځان ملامته كړه او خلقو ته داسے اعلان اوكړه (الا ان العبد قد نام) اخرجه الطحاوى (۱/۹۲) وابوداود وضعفه الحافظ فى بلوغ المرام ۔ يعنى زما قبل الوقت اذان له اعتبار مه وركوئ ! زه د خوبه وم او بے وقته ذان مے اوكړو ۔

الجواب : دا تاويل پدے حديث كښ باطل دے ۔ دليل د بطلان ئے ډير وجوهات دى :

۱- يوه وجه دا ده چه دلته رسول الله ﷺ قاعده كليه بيانوى چه ان بلالا ينادى بليل جمله اسميه مؤكد ده په ان تاكيديه سره او مضارع راوړے شويده چه دلالت كوى په دوام او استمرار تجددى باندے يعنى هميشه دپاره به بلال شپه كښے اذان كولو كه دا صرف يوه ورځ پدے اذان كښ خطاء شوے وے نو داسے جمله وئيل ورسره مناسب ندى فتفكر ومثله فى توضيح الاحكام (۱/٤٦٤) ۔

۲- بله وجه : كه بلال هميشه خطاء كيدلے نو بيا پرے ولے اذان كولو ۔

۳- **دريم جواب** دا دے چه ددے روايت دپاره صحيح محمل شته او هغه دا چه دا په هغه وقت كښ وو چه اول اذان د صبا د مانځه دپاره نه وو مشروع شوے په ابتداء كښے به صرف يو اذان بعد دخول الوقت كيدلو او روستو دوه اذانونه مشروع شو كما قال عبد الله

البسام فی توضیح الاحکام (٤٦٥/١) والمبارکفوری فی المرعاة (٣٨١/٢) ۔

٤- جواب : الا ان العبد قد نام والا روایت محمول دے پدے چه بلال دویم اذان د صبا نه مخکښې کړے وو پدے وجه ورته نبی علیه السلام د اعادے حکم اوکړو خو پدے باندے دا اشکال کیږی چه ددے حدیث سره دا تاویل سمون نه خوری ځکه چه روستو حدیث د سمره کښې راځی چه بلال به اول اذان کولو ا وابن مکتوم به دویم اذان کولو او ددے نه خو برعکس ثابت شوه؟ ۔

ددے اشکال جواب : امام ابن خزیمه په خپل صحیح (٢١١/٢) کښې داسے ورکړے دے چه د عائشے مرفوع روایت دے : ان ابن مكتوم يؤذن بليل فكلوا واشربوا حتى يؤذن بلال وكان بلال لا يؤذن حتى يرى الفجر اخرجه ايضا احمد (٤٣٣/٦) والنسائی (١٠٥/١) وابن حبان (١٩٥/٥) رقم الحدیث (٣٤٦٢) ۔

نو ابن خزیمه فرمائی دواړه حدیثونو کښې هیڅ تضاد نشته ځکه چه نبی علیه السلام اذان د بلال او ابن مکتوم په مابین کښې نوبت ګرځولے وو نو په بعض شپو کښې ئے بلال ته حکم اوکړو چه اذان اوکړی او ابن مکتوم به خپل وقت کښې اوکړو بیا چه نوبت د ابن مکتوم راغلو هغه ته ئے د شپے د اذان حکم اوکړو او بلال به په وقت کښې اذان اوکړو - نو دا قول د نبی علیه السلام چه (ان بلالا ینادی بلیل) دا په نوبت د بلال کښې وئیلے شویدے او دا قول چه (ان ابن مکتوم یؤذن بلیل) دا په نوبت د ابن ام مکتوم کښې وئیلے شویدے ۔ نو الا ان العبد روایت حمل شو په هغه زمانه چه بلال به اذان د صبا دپاره په وقت کښې کولو او پدے موقعه ئے قبل الوقت اوکړو پدے ګمان چه ګنے صبا به راختلے وی نو پدے وجه عذر پیش کولو ته محتاج شو ځکه چه صبا خو لا نه وو راختلے او د شپے اذان نه خو ابن مکتوم فارغ شوے وو طرح التثریب (٢١٠/٢) والمرعاة (٣٨١/٢) وفتاوی الدین الخالص (٢٢١/٣) ۔

٥- شیخ بسام فرمائی : هر کله چه دا حدیث (الا ان العبد قد نام) په هیڅ محمل باندے ئے حمل صحیح نشی نو بیا به داسے اووایو چه دا مقاومت د هغه صحیح احادیثو نشی کولے کوم چه دلالت کوی په اذان قبل طلوع الفجر باندے کما مرّ بیانها انتهیٰ ۔ ځکه چه دغه روایت ضعیف دے ابوداود ورته ضعیف وئیلے دے کما فی بلوغ المرام ۔ امام ترمذی فرمائی : هذا حديث غير محفوظ، وقال على بن المدينى حديث حماد بن سلمة غير محفوظ ۔ علامه شوکانی فرمائی : پدے حدیث د ابن عمر (الا ان العبد) کښې هیڅ

حجت نشته یو خو دا معارض دے د احادیث د صحیحینو سره ۔ دویم دا چه دا حدیث موقوف دے لکه پدے باندے لوئی اماماتو تصریح کریده لکه احمد، بخاری، ذهلی، ابوداود، ابو حاتم، دارقطني، اثرم او ترمذی رحمهم الله او دوی دا وئیلی دی چه ددے په مرفوع گرځولو کښے حماد راوی خطاء شویدے صحیح دا ده چه دا موقوف دے انتهیٰ ۔

امام بیهقی فرمائی : الاذان للصبح ثابت عند اهل العلم بالحدیث والاحادیث الصحاح اولیٰ بالقبول من هذا الحدیث، السنن الکبری (١/٣٨٥) وتوضیح الاحکام (١/٤٦٦)۔

(٢) – **دویم تاویل** : بعض وائی : د بلال اذان شرعی کلماتو والا اذان نه وو صرف خلقو ته تذکیر وو لکه نن صبا چه کیږی ۔ **الجواب** ١ : دا خبره غلطه ده یو خو دغه آواز کول بدعت دے کما قال الحافظ فی الفتح (٨٢/٢) والشوکانی فی النیل (٣٣/٢) ۔

٢ – دویم دا چه اذان لفظ شرعی دے دا به محمولولے شی په اصطلاح شرعی باندے نه په لغت باندے ځکه چه اصطلاح مقدم وی په لغت باندے ٣ – دارنگه که دا په الفاظ شرعیو سره نه وے نو بیا خو په خلقو باندے التباس نه راتلو نو نبی علیه السلام ولے بلال ته د اعادے حکم ورکوی (نفس المصدر) ۔

٣ – **تاویل** : امام محمدؒ او یحیی بن سعید القطانؒ او ابن دقیق العیدؒ وئیلی دی چه دا قول ان بلالا یؤذن بلیل : دا خاص په رمضان کښے وئیلے شویدے نه په ټول کال کښے یعنی بلال به چه د شپے اذان کولو نو دا صرف په رمضان کښے د پیشمنی کولو دپاره وو او دلیل پدے باندے بل روایت دے چه (لا یمنعنکم من سحورکم اذان بلال کما مر) او کلوا واشربوا الفاظ پدے روایت کښے دلیل دے چه دا په رمضان کښے وو باقی کال کښے به بلال د شپے اذان نکولو ۔

الجواب : سحور او اکل او شرب په غیر رمضان کښے هم کیږی ځکه چه صحابه کرامو عادت دا وو چه ډیرے روژے نفلی به ئے نیولے په میاشت کښې به ئے پنځلس یا لس روژے یا هر یوم الاثنین او یوم الخمیس او ایام البیض روژے نیولے نو دا خطاب اراده کونکو د روژے ته دے ای کلوا واشربوا ایها المریدون للصیام ۔ او دا امر د اباحت دپاره دے او پدے باندے دلیل روایت د عبد الرزاق (١/٤٩٠) دے چه سعید بن المسیب نه مرسلا نقل دی : ان بلالاً یؤذن بلیل فمن اراد الصوم فلا یمنعه اذان بلال حتی یؤذن ابن ام مکتوم و کذا ذکره علی المتقی فی کنز العمال (٤/٣١١) نو نبی علیه السلام روژه د سړی اختیار ته اوسپارله ۔ معلومه شوه چه دا په غیر رمضان کښې دے ځکه چه د رمضان په روژو کښې اختیار نه

وي او هغه خو من جانب الله فرض دي نو دا دلالت كوي چه ان بلالا يؤذن بليل د رمضان پورې خاص ندې ـ

٤- **تاويل** : په تنظيم الاشتات ص (٢٥٥) كښې ئې يو غلط جواب وركړيدې او هغه دا چه د بلال او ابن ام مكتوم د اذان ترمينځ ډيره فاصله نه وه لكه د (الا ان ينزل هذا ويصعد هذا) الفاظ پدې باندې دلالت كوي نو معلومه شوه چه دواړه اذانونه د طلوع الفجر نه روستو وئيلې شويدي، بيا پدې دا اشكال شويدې چه هر كله د بلال اذان بعد طلوع الفجر شويدې نو بيا (لا يمنعنكم من سحوركم اذان بلال) څنگه وارد دې ددې جواب ئې دا وركړې چه د نورو احكامو پشان په روژه كښې هم ابتداء كښې وسعت وو بعد الفجر هم د خوراك څكاك اجازت وو چه بيا روستو منسوخ شو كما في العيني والبذل ـ

ليكن دا جواب غلط دې يو خو دا چه مخكښې تير شو چه د الا ان ينزل هذا ويصعد هذا نه مراد تحديد د وقت ندې بلكه دا صرف د تخمين په طور كنايه ده د قلتِ وقت نه ـ

دويم دا چه دا خبره كوم حديث كښې راغلې ده چه په ابتداء د اسلام كښې بعد الفجر خوراك څكاك په روژه كښې جائز وو او بيا روستو منسوخ شو پدې هيڅ دليل نشته او ناسخ او منسوخ كوم ځائې كښې راغلي دي ـ خو دا صرف د مذهبي جذبې جوابونه دي ـ

بله دا چه بيا ئې دوه اذانونه بعد الفجر ولې كول ؟ ـ

٥- **تاويل** : احناف وائي : اول اذان د صبا د مانځه دپاره نه وو بلكه هغه د بل غرض دپاره وو چه هغه نبي عليه السلام بيان كړيدې پدې الفاظو چه (ليرجع قائمكم ويوقظ نائمكم) لكه چه مخكښې تير شو په حديث د ابن مسعودؓ كښې ـ

ددې **جواب** دا دې چه پدغه حديث د ابن مسعود كښې حصر نشته چه صرف همدغه يو سبب دې او د يو عمل ډير اسباب كيدې شي دغه ډِ هم سبب وي او نور اسباب ډِ هم وي ـ بله دا چه پدغه حديث كښې علت د اذان ندې ذكر بلكه صرف يوه نكته ده د تقديم د اذان ده هر څنگه چه وي كه اذان د دغه نكتو دپاره وي او كه بله نكته وي خو دغه اولنې اذان سنت دې عمل پرې پكار دې ـ

دلائل الجمهور :

اوس به راشو د جمهورو دلائلو ته ـ جمهورو سره په صحت د اكتفاء د اول اذان باندې د صبا دپاره څه خاص دليل نشته صرف استدلال كوي د حديث د ابن مسعودؓ نه چه په دلائلو كښې تير شو: لا يمنعن احدكم اذان بلال من سحوره فانه يؤذن او قال ينادي بليل

ليرجع قائمكم ويوقظ نائمكم رواه الجماعة الا الترمذی ۔ دلته صرف يو اذان ذكر دے چه هغه د بلال اذان دے ۔
امام بغوی فرمائی : فيه دليل على ان اذان الصبح محسوب قبل طلوع الفجر ولا يعيد وهو قول مالك والاوزاعی وابن المبارك والشافعی واسحق وابی ثور واحمد شرح السنة (٢/٨٢) ۔
الجواب : د دويم اذان نه سكوت شويدے نه پكښے نفی شويده او نه پكښے اثبات او په نورو احاديثو كښ ئے اثبات دے ۔ نو هغه به معتبر وی ۔
٢- بل دليل : حديث د زياد بن الحارث الصدائی مخكښے تير شويدے چه په هغے كښ دا دی : چه ده د صبا نه مخكښے اذان اوكړو د نبی عليه السلام په حكم او بيا ئے د هغه نه د اقامت كولو اجازت اوغوختو نو نبی عليه السلام هغه لره منع كړو چه صبر اوكړه چه صبا را اوخيژی بيا (پس د صبا نه) ئے ورته امر اوكړو نو هغه اقامت اوكړو۔
اخرجه ابوداود ولكن فی سنده ضعف كما قال الحافظ فی الفتح(٢/٨٢) والشوكانی فی النيل (٢/٣٢) وقد مرت درجة الحديث تفصيلاً ۔
شيخ عبيد الله المباركفوری وائی : زما په نيز راجح دا ده چه د صبا دپاره اذان د صبا د راختلو نه مخكښے جائز دے او په همدغه يو اذان باندے اكتفاء جائز ده خو پدے شرط چه د صبا راختلو نه لږ مخكښے اوكړے شی او اعاده ئے واجب نده او دا خبره د احاديث الباب نه زما په نيز مستفاد كيږی انتهی ما فی المرعاة (٢/٣٨٢) ۔
مګر شيخ عبد الرحمن المباركفوریؒ فرمائی : چه ما ته هيڅ صحيح صريح حديث نده معلوم چه هغه دلالت اوكړی په اكتفاء باندے نو بس زما په نيز ظاهر قول د هغه چا دے چه په عدم اكتفاء باندے قائل دی ۔ تحفة الاحوذی (١/١٨٠) ۔ او دا خبره يقينی ده هيڅ شك او شبه پكښ نشته او بالكل صحيح او حق قول دے ۔
خلاصه : د مخكښے تحقيق نه داسے معلوميږی چه د صبا دپاره دوه دوه اذانونه مشروع او سنت دی او ديته غير مشروع وئيل (لكه چه د احنافو مذهب دے) صحيح ندی او په اول اذان باندے اكتفاء كول هم ندی پكار (لكه چه جمهور په اكتفاء قائل دی) ځكه چه په اكتفاء باندے قوی دليل نشته او د نبی عليه السلام په زمانه كښ به د صبا دپاره دوه اذانونه كيدل او دا قول د يو جماعت د اهل الحديث او ابن المنذر او امام غزالی دے كما فی احياء العلوم او د علامه ابن الحزم دے كما فی المحلی (١/١٥٩) ۔ او همدا قول

راجح دے او د احنافو او جمهورو قول ضعيف بلکه باطل دے۔
او دا مسئله دليل دے پدے چه څلور مذهبونو کښې حصر د اسلام نشته ډير مسائل شته چه څلور مذهبونه پکښې ضعيف وی او د څلورو مذهبونو نه ما سوئ د بعض علماؤ قول پکښې صحيح وی لکه په فتاوی الدين الخالص (٢/٤) کښې د هغې مثالونه اوګوره۔
امام حافظ ابن القيم په اعلام الموقعين (٢/٣٦٠) کښې د سنت صحيحه صريحه د ترديد مثال بيان کړيدے چه اذان الفجر قبل دخول الوقت په صحيح صريح محکم سنت کښې راغلے دے کما فی احاديث الصحيحين چه درے واړه مخکښې احاديث ئے ذکر کړيدی او بيا ئے وئيلی دی چه دا سنت مقلدينو رد کړيدے پدے وجه چه دا د هغوی د اصولو او قياس خلاف دے ځکه چه هغوی صلاة الفجر په باقی مونځونو قياس کوی او په ضعيف حديث د حماد بن سلمه (الا ان العبد قد نام) سره ئے رد کوی او حال دا چه پداسے خبرو باندے صحيح سنت نشی رد کيدلے بلکه دغه سنت بنفسهٖ اصل دے او د وقت الفجر قياس په باقی اوقاتو باندے د سنت تکراوول دی ځکه چه فرق نبی عليه السلام بيان کړيدے چه د صبا وقت نه مخکښې اذان کښې مصلحت او حکمت دے چه هغه په غير فجر کښې نشته نو دا قياس غلط شو انتهیٰ مختصراً۔
او د صبا مانځه دپاره په دوه اذانونو کښې حکمت داسے بيان شويدے چه د صبا مونځ په دوه اذانونو پورے خاص شو نه باقی مونځونه ځکه چه په اول وقت کښې مونځ کولو باندے ترغيب راغلے دے او چونکه نور اوقاتو کښې انسان متوجه ويښ وی نو فضيلت د اول وقت نه فوت کيږی او صبا وقت چونکه غالباً د خوب نه روستو راځی او دا وقت د غفلت دے، لهذا مناسب ده چه ددے وقت د داخليدو نه مخکښې يو داسے شخص مقرر شی چه خلق رابيدار کړی، دے دپاره چه خلق تيارے اوکړی او فضيلت د وقت را لاندے کړی ـ نيل الاوطار (٢/٣٤) المغنی (١/٤٥٦) شرح المهذب (٣/٨٧)۔
شيخ بسام فرمائی : اذان قبل الصبح ځکه مناسب دے چه خلق په حالت د نوم کښې وی نو که اذان د صبا قبل الوقت اونشی او بعد طلوع الفجر اوشی نو خلق به د مانځه دپاره مسجد ته په راجمع کيدو قادر نشی په اول وقت کښې نو ددے مقصد دپاره د شپے اذان مشروع شو ـ توضيح الاحکام (١/٤٦٤)۔
او دا اذان به د سلفو په ادوارو کښې وئيل کيدو لکه چه د امام مالک نه امام بغوی نقل

کړی : قال مالك : لم یزل الصبح ینادی لها قبل الفجر فاما غیرها من الصلوات فلم نرها ینادی لها الا بعد ان یحل وقتها، شرح السنة (۸۲/۲) ۔ نو پدے کښې رد راغلو په هغه چا چه دا وائی : چه اول اذان د صبا دپاره منسوخ شویدے لکه دا خبره رشید احمد لدهیانوی په احسن الفتاوی (۲۹۱/۲) کښې ذکر کړیده او د علقمه په خبره ئې مرفوع صحیح احادیث منسوخ ګرځولی دی دا عجیبه فقاهت دے چه د یو تابعی په خبره دغسے صحیح صریح احادیث غورځولے شی، حال دا چه هغه یوه معینه شخصی واقعه ده ډیر احتمالات پکښې راتلے شی کیدے شی چه اذان ډیر وقتی شوے وی ځکه پرے علقمه رد کوی مګر د چا په سترګو چه د تقلید پټئ وهلے شوی وی هغوی محکم صحیح احادیث شاته کوی او د یو عالم محتمل قول رامخے ته کوی ، دا کوم انصاف دے ؟ ۔ دا هم د تقلید نحوست دے ۔ آیا دا تقلید به هم واجب وی ؟ فالی الله المشتکیٰ ۔

قَالَ : راوی وائی : ددے نه مراد یا ابن شهاب الزهریؒ راوی دے یا د هغه استاذ سالمؒ دے یا د هغه استاذ عبد الله بن عمرؓ مراد دے، دا روستو عبارت ددے راوی ادراج دے ۔

وَكَانَ ابْنُ أُمِّ مَكْتُومٍ :

د ابن ام مکتوم رضی الله عنه تعارف :

دده نوم کښې اختلاف دے یا عمرو بن قیس دے وهو قول الاکثر یا عبد الله بن زائده القرشی العامری دے دا د بنو مخزوم قبیلے نه دے او د اولین مهاجرینو نه دے دده په باره کښې سورتِ عبس نازل شویدے او دا د خدیجے رضی الله عنها د ما ما ځوی دے ۔ نبی علیه السلام دیارلس کرتے په غزواتو کښې د ځان نه روستو په مدینه باندے خلیفه مقرر کړے وو ۔ د مور نوم ئے عاتکه بنت عبد الله ده ام مکتوم ئے ورته ځکه وئیله چه مکتوم معنی ده ړوند او ددے دا ځوی ړوند پیدا شوے وو نو مور ته ئے ام مکتوم اووئیل شوه لاکتنام نور بصره ۔ مګر دا قول مشهور ندے ۔ بعض وائی : ابن ام مکتوم د جنګ بدر نه دوه کاله روستو ړوند شو لیکن دا خبره ضعیفه ده ځکه چه دده په تکریم کښې سورتِ عبس نازل دے او پدے د ټولو مفسرینو اتفاق دے چه سورتِ عبس په مکه کښې نازل دے لکه ابن عباسؓ نه هم دا نقل دی چه دا سورت په مکه کښې نازل دے نو ظاهر دا ده چه دا د بعثت او نبوت د رسول الله ﷺ نه دوه کاله روستو ړوند شوے وو انظر شرح المهذب (۸۷/۳) مرعاة (۳۸۲/۲) توضیح الاحکام (۴۶۳/۱) ۔

جنګ قادسیه فتح ته حاضر شو او په هغے کښې شهید هم شو او دا د عمر رضی الله

عنه د خلافت زمانه وه۔
لَا يُنَادِيُ : يعنى ابن ام مكتوم روند وو دده دپاره رسول الله ﷺ يو سړے مقرر كړے وو چه وقتونه ورته ښائي نو تر هغه وقته پورے به ده اذان نه كولو چه ده ته به اووئيل شو اصبحت اصبحت : يعنى تا صبا كړو يعنى د خلت فى وقت الصباح ۔ دا تكرار د تاكيد دپاره دے او اصبحت اصبحت دا فعل تام دے صرف په فاعل باندے تماميږى په معنى د دخول فى الصباح دے۔
اشكال قوى : ددے حديث په ظاهر باندے دا اشكال كيږى چه پدے حديث كښ اذان د ابن ام مكتوم غايت گرځولے شويده دپاره د خوراك څكاك او د (اصبحت) نه معلوميږى چه ده به هغه وقت اذان كولو چه صبا به را وختلو نو دے نه خو لازمه شوه چه د طلوع الفجر نه روستو هم خوراك څكاك په روژه كښے جائز دے، حال دا چه اجماع ددے په خلاف ده مگر شاذ قول د اعمش دے چه هغه بعد طلوع الفجر خوراك څكاك جائز گنړي ؟۔
ددے اشكال يو **جواب** دا دے چه د ابن ام مكتوم اذان مقارن وو د ابتداء د طلوع الفجر سره او ده چه به اذان شروع كړو نو په كنارو كښ به فجر ښكاره شو او ده دپاره به يو سړى ددے لحاظ كولو مگر دا جواب دومره قوى ندے۔
٢- **دويم جواب** : د اصبحت اصبحت معنى دا نده چه ده به اذان قبل طلوع الفجر شروع كولو بلكه معنى دا ده چه قاربت الصباح كما فى اذا بلغن اجلهن : يعنى ده ته به اووئيل شو چه جلتى كوه، صبا راختلو ته وقت نزدے دے تيارے كوه، غسل يا اودس اوكړه او بيا اذان اوكړه نو نه اذان قبل طلوع الفجر شو او نه اكل بعد طلوع الفجر شو څكه چه دا احتمال شته چه د خلقو دا قول هغه ته په آخرى جزء د شپه كښے واقع شوے وى او اذان ئے په اول جزء د طلوع الفجر كښے واقع شوے وى او دا اگرچه عادةً مستبعد ده مگر د رسول الله ﷺ د مؤذن نه دا بعيده نه ده څكه چه د هغه تائيد په ملائكو سره شويدے، بل څوك د هغه سره پدے صفت كښے نشى شريك كيدے۔
٣- **جواب** : طلوع الفجر دوه قسمه دے (١) يو تبيين او انتشار د رنړا د صبا دے (٢) دويم طلوع الفجر قبل الانتشار والتبيين دے نو د ابن ام مكتوم اذان به طلوع الفجر نه پس وو مخكښے د تبيين او انتشار د صبا نه او د خوراك څكاك تحريم متعلق دے په انتشار او تبيين د صبا پورے لكه چه الله تعالى فرمائى : ﴿ وَكُلُوا وَاشْرَبُوا حَتَّى يَتَبَيَّنَ لَكُمُ

الْخَيْطُ الْاَبْيَضُ مِنَ الْاَسْوَدِ الخ) وهو الراجح او ددے دليل به روستو په باب الصوم كښې راشي چه په داخل د اذان كښې خوراك څكاك جائز دے ۔ مشكاة (١/ ٧٥) ۔

فوائد الحديث : (١) – د يو مسجد دپاره دوه مؤذنين مقررول جائز دى او په اذان كښې د هغوى نمبر مستحب دے چه كله يو اذان اوكړى او كله بل ۔ كما مرفى تعاقب بلال وابن ام مكتوم ۔ شرح السنة (٢/٨٢) ۔

(٢) – د روند سړى اذان بغير د كراهت نه جائز دے كله چه د هغه سره څوك وقتونه خودونكے موجود وى ۔ (٣) – دوه مؤذنين نه زيادت ندے پكار په يو مسجد كښې څكه چه د نبى عليه السلام دپاره بلال او ابن ام مكتوم دوه مؤذنين وو او هر چه سعد القرظ وو نو هغه د مسجد قباء مؤذن وو او ابو محذوره په مكه كښې وو كما يعلم من شرح مسلم (١/١٦٧) وطرح التثريب (٢/٢١١) ۔

(٤) – د ډير مؤذنينو په يو ځل اذان كول بدعت دے چه ديته اذان الجوق وائى ۔ انظر كتاب الاذان لابى حاتم (٢٩٨) والسنن والمبتدعات (٤٩) وفتاوى الدين الخالص (٣/٢٤٧) اگركه عند الحاجة بعض فقهاؤ ورته جائز وئيلے دے مگر هيڅ صريح دليل پرے نشته لكه رد المحتار (١/٢٦١) او شرح مسلم (١/٣٥٠) او المغنى (١/٤٧٧) او اصلاح المساجد للقاسمى (١٣٣) كښې ديته جائز وئيلے دے مگر دليل پرے نشته صرف ضرورت ئے دليل گرځولے دے او د دوى په خلاف ابن الحزم رحمه الله فرمائى : په حديث كښې استهام او قرعه اندازى شويده په اذان كولو باندے نو كه اذان د دوه كسانو په يو ځل جائز وے نو بيا ددے استهام څه معنى جوړيږى ۔ المحلى (٢/١٧٩) ۔

علامه شوكانىؒ فرمائى : د نبى عليه السلام په زمانه كښې ډير اذانونو ته د خلقو د زحمت د وجے نه ضرورت وو مگر بيا هم د رسول الله ﷺ مخے ته صرف بلال اذان كولو او په دغه زمانه كښې ئے بل مؤذن نه وو ۔ نيل الاوطار (٣/٣٢٣) ۔

(٥) – كله چه د يو مسجد دوه مؤذنان وى او د صبا دپاره اذان كوى نو دا ضرورى ده چه د دويم مؤذن اذان د د طلوع الفجر سره يو ځائے وى، دے دپاره چه دده په اذان كښې خلقو ته اعلان اوشى په روژه بندولو او د وقت په داخليدو باندے ۔

(٦) – حديث دليل دے چه خبر واحد قبلول ضرورى دى او دا مفيد د يقين دے ۔

(٧) – حديث دليل دے چه د يو سړى مشاهده منل ضرورى دى لكه دلته چه ابن مكتوم ته د هغه هادى خبر وركوى چه وقت داخل شويدے اذان شروع كړه نو ابن ام

مکتوم به ضرور منلو او معلومه شوه چه مشاهده منل تقلید ندے بلکه دا مشروع عمل دے څکه چه په حدیث کښے راغلے دے او تقلید خو د چا د رأیه پسے بے دلیله روانیدلو ته وائی ۔

(۷) – کله چه یو مصیبت چا ته رسی د هغه خبرول پکار دی چه ځان تربے بچ کړی دلته ابن ام مکتوم رضی الله عنه نه وقت نا وخته کیدو نو اصبحت اصبحت ورته اوویئل شو ۔

(۸) – اهمية صلاة الفجر حتى شرع لها الاذانان ۔ د صبا مونځ ډیر مهم دے څکه ورله دوه اذانونه مشروع شو ۔

٢ – وَعَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ رضي الله عنه ، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : «لَا يَمْنَعَنَّكُمْ مِنْ سُحُوْرِكُمْ اَذَانُ بِلَالٍ، وَلَا الْفَجْرُ الْمُسْتَطِيْلُ، وَلٰكِنِ الْفَجْرُ الْمُسْتَطِيْرُ فِي الْاُفُقِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ وَلَفْظُهُ لِلتِّرْمِذِيِّ .

ترجمه : او سمره بن جندب رضی الله عنه فرمائی : رسول الله ﷺ فرمائیلی دی : د بلال رضی الله عنه اذان دے تاسو لره د پیشمنی خوړلو نه منع نکړی (څکه هغه د شپے اذان کوی) او نه اوګد صبا (یعنی صبا کاذب) لیکن صبا هغه دے چه په افق باندے خور شوے وی (یعنی چه صبا صادق ښکاره شی نو خوراك څکاك پریدئ) (مسلم) الفاظ د ترمذیؒ دی ۔

لَا يَمْنَعَنَّكُمْ مِنْ سُحُوْرِكُمْ :

تشریح : سحور که په ضمه د سین شی نو مصدر دے په معنی د تسحر یعنی پیشمنے کول ۔ او که په فتحه د سین شی نو هغه خوراك ته وائی چه په پیشمنی کښے خوړلے شی (ای ما یتسحر به) نو که دویم احتمال شی بیا به اکل مضاف حذف وی ای لایمنعنکم من اکل سحورکم ۔

وَلَا الْفَجْرُ الْمُسْتَطِيْلُ : فجر په دوه قسمه دے (۱) – فجر کاذب او دیته فجر مستطیل هم وائی دا هغه فجر دے چه رنړا راښکاره شی پشان د لکئ د شرمخ او آسمان طرفته نیغه لیکه جوړه شی دیته عرب ذنب السرحان هم وائی یعنی لکئ د شرمخ ۔ او مستطیل ورته څکه وائی چه آسمان طرفته اوګد شوے وی او دا مخکښے راځی او ددے په راختلو سره د صبا وقت نه داخلیږی او نه په روژه دار باندے خوراك څکاك حرامیږی، دا بیرته غائبیږی او ددے د غیبوبت نه لګ وقت پس (۲) فجر صادق راښکاره شی چه دیته

فجر مستطیر وائی ۔ دے ته ځکه مستطیر وائی چه ددے رنړا منتشر (خوره وره) وی او په مشرقی افق (کنارو) کښے په پلنو باندے وی ګویا کښے رنړا د آسمان په اطرافو کښے آلوتلے ده او ددے په راختلو سره صبا وقت داخلیږی ۔

وَلٰكِنِ الْفَجْرُ الْمُسْتَطِيرُ فِي الْأُفُقِ : په دے کښے دوه ترکیبونه جوړیږی : (۱) – که لکن مشدد شی نو الفجر به منصوب وی اسم به وی د لکن او المستطیر به ئے خبر وی

۲– یا که لکن مخفف شی نو الفجر به مبتداء وی او المستطیر به خبر وی ۔

۳– وَعَنْ مَالِكِ بْنِ الْحُوَيْرِثِ ﷺ، قَالَ : اَتَيْتُ النَّبِيَّ ﷺ اَنَا وَابْنُ عَمٍّ لِيْ، فَقَالَ : « اِذَا سَافَرْتُمَا فَاَذِّنَا وَاَقِيْمَا، وَلْيَؤُمَّكُمَا اَكْبَرُكُمَا » . رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ .

ترجمه : او مالك بن الحويرث رضی الله عنه فرمائی چه زه او زما تره ځوی (دواړه) د نبی کریم ﷺ په خدمت کښے حاضر شونو رسول الله ﷺ اوفرمائیل : کله چه تاسو سفر ته اوځئ نو (مانځه دپاره) اذان او تکبیر وایئ او تاسو نه چه کوم غټ وی هغه دے امامت اوکړی ۔ (بخاری) ۔

د مالك بن الحويرث ﷺ تعارف :

دده کنیه ابو سلیمان اللیثی دے او صحابی دے د بصرے اوسیدونکے دے (۱۵) پنځلس احادیث ترے نقل دی ۔

وابن عم لی : دا یا مرفوع دے عطف دے په ضمیر مرفوع د اتیت باندے یا منصوب دے مفعول معه دے ۔

اِذَا سَافَرْتُمَا : مالك بن الحويرث او دده تره ځوی د رسول الله ﷺ خوا ته راغلی وو د دین زده کولو دپاره کله چه بیرته خپل کلی ته واپس تلل، رسول الله ﷺ ورته ارشاد اوفرمایلو کله چه تاسو په سفر اوځئ ! نو دواړو کښے هر یو اذان هم کولے شئ او اقامت هم مګر پتاسو کښے چه کوم مشر وی په اعتبار د علم یا په اعتبار د عمر (کله چه دواړه په علم کښے برابر وی) هغه به امامتی کوی ۔

فوائد الحدیث : (۱) – علامه سندهیؒ په حاشیه د نسائی (۱/۱۰۴) کښے وائی : فاذنا معنی دا ده چه یو دے اذان کوی او بل دِ جواب ورکوی یعنی دا مطلب ندے چه دواړه

به په يو ځائے شريك اذان او اقامت كوئ بلكه يو تن دے اذان اوكړى هر يو چه وى پدے كښے رعايت د اكبر ضرورى ندے لكه امامت كښ چه ضرورى دے ځكه دلته خطاب دواړو ته شويدے نو دليل دے چه دواړه اذان كولے شى مشروى او كه كشر خو په امامت كښ به اكبر مخكښ كولے شى ـ

(٢) – بيائے په امامت كښے اكبر ذكر كړو ځكه چه دا دواړه ملګرى برابر وو په تولو صفاتو كښے كوم چه د امام دپاره ضرورى دى چه هغه اعلميت، اقرئيت او ورع وغيره دى ځكه چه دواړه يو شان د رسول الله ﷺ سره پاتے شوى وو نو علم كښ هم برابر دى او قرائت او ورع كښے هم ـ انتهىٰ ـ

ليكن ظاهر دا ده چه اكبر لفظ عام دے شامل دے اكبر فى العلم او اكبر فى العمر ته يعنى په تاسو كښ چه كوم يو په علم او قرائت كښے مشروى، هغه به امامت كوى او كه دواړه برابر شى نو بيا چه كوم په عمر كښے مشروى هغه د امامت حقدار دے ـ

(٣) – دا حديث دليل دے چه اذان فرض دے او مسافر دپاره هم اذان مشروع دے ځكه چه دا د اسلام د ښكاره شعائرو نه دے ـ

(٤) – اذان فرض كفائى دے كله چه په جماعت كښے يو شخص اذان اوكړى نو د باقى كسانو نه ساقطيږى او كه هيڅ يو تن ئے اونكړى نو تول به ګناهګار وى ـ

(٥) – فَاَذِّنَا : لفظ اګرچه مطلق دے پدے كښے چه په حاضرينو كښے هر شخص اذان اوكړى نو صحيح ده مګر دا اطلاق مقيد دے په نورو نصوصو سره چه په هغے كښے د مؤذن مطلوب صفات ذكر دى چه هغه اوچت آواز والا كيدل او ښائسته آواز والا كيدل، اجرت په اذان نه اخستل او امين كيدل وغيره كما مر فى الروايات ـ

(٦) – په اذان كښے دا شرط دے چه د مسلمان نه به صحيح كيږى نه د كافر نه ځكه چه اذنا او اقيما خطاب مسلمانانو ته دے ـ دارنګه روستو حديث كښے فليؤذن لكم احدكم كښے خطاب مسلمانانو ته دے ـ توضيح الاحكام (١/٤٧١) والمرعاة (٢/٣٨٤) ـ

(٧) – دا حديث دليل دے چه ادنىٰ افراد د جماعت دوه دى، يو امام او يو مقتدى او پدے باندے اجماع د مسلمانانو ده ـ

(٨) – اذان او جماعت د مسافرينو دپاره هم مشروع دے ـ

٤ – وَعَنْهُ ﷺ، قَالَ: قَالَ لَنَا رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «صَلُّوْا كَمَا رَأَيْتُمُوْنِيْ أُصَلِّيْ، وَإِذَا حَضَرَتِ الصَّلَاةُ. فَلْيُؤَذِّنْ لَكُمْ أَحَدُكُمْ، ثُمَّ لِيَؤُمَّكُمْ أَكْبَرُكُمْ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: او مالك بن حويرث رضی الله عنه فرمائی چه مونږ ته رسول الله ﷺ اوفرمائيل: تاسو چه څنګه ما په مونځ کولو باندے ګورئ هغه شان تاسو هم کوئ او کله چه د مانځه وقت راشی نو تاسو نه دیے یو تن اذان اوکړی او کوم چه پتاسو کښے مشروی هغه دیے امام جوړ شی ۔ (بخاری ومسلم) ۔

تشريح: نسائی (۱/۱۵۰) کښے ددیے حدیث سره داسے شانِ ورود ذکر دیے ۔ مالك بن الحويرث رضی الله عنه فرمائی: مونږ د رسول الله ﷺ په خدمت کښے حاضر شو او مونږ تقريباً همزولی ځوانان وو په عمر کښے نو د نبی عليه السلام سره مو شل شپے تیرے کړیے او نبی عليه السلام ډير رحيم او نرم دل وو د هغه دا خيال راغلو چه زمونږ خپل اهل ته شوق راغلو نو زمونږ نه ئے تپوس اوکړو په باره د هغه اهل کښے چه مونږ پریخودیے وو، مونږ ورته خبر ورکړو نو رسول الله ﷺ اوفرمائيل: خپل اهل ته واپس لاړ شئ! او د هغوئ سره اوسيږئ او د دین تعليم هغوی ته ورکوئ! (او کوم حکمونه چه مو دلته زده کړل) د هغے امر خلقو ته اوکړئ! او دا راتلونکی حکمونه ئے هم ورته بيان کړل ۔

صَلُّوْا كَمَا رَأَيْتُمُوْنِيْ أُصَلِّيْ: يعنی داسے مونځ کوئ څنګه چه ما وينئ چه مونځ کوم سره د رعايت د شروط او ارکان او سنن او آدابو ۔

فائده عجيبه: علامه شوكانی ؒ فرمائی: دا حديث دلالت کوی په وجوب د تول هغه څه چه د نبی عليه السلام نه په مانځه کښے ثابت وی که اقوال وی او که افعال ۔ او ددیے وجوب تاکيد پدیے سره کيږی چه دا حديث بيان د مجمل واقع شويدے چه هغه «أَقِيْمُوْا الصَّلَاةَ» دیے او دا خو قرآنی امر دیے، ضرور وجوب او فرضيت پيدا کوی او دا اصولی قانون دیے چه (وبيان المجمل الواجب واجب) يعنی کوم مجمل چه واجب وی د هغے بيان به هم واجب وی (نو ثابته شوه چه صلوا كما رأيتمونی الخ نه وجوب د تولو اقوال او افعالو معلوميږی) مګر دومره خبره ده چه د نبی عليه السلام نه په حديث د مسيئ الصلاة په تعليم کښے اقتصار او دوام په بعضے افعالو باندے ثابت دیے نو ددیے نه مونږ ته دا معلومه شوه چه کوم اقوال او افعال چه د هغے نه خارج وی په هغے کښے به

فرضيت او وجوب نه وی ځکه تاخير د بيان د وقت د حاجت نه جائز ندے لکه چه دا خبره په اصولو کښے په اجماع سره متقرر شويده او بيا اختلاف واقع دے پدے خبره کښ چه کله يو حديث کښ صيغه د امر راشی په يو شی باندے او هغه په حديث د مسيئ الصلاة کښے نه وی ذکر نو بعض وائی دا به قرينه وی ددے خبرے چه صيغه د امر به مصروف وی ندب ته او بعض وائی صيغه د امر به په خپل ظاهر باندے پاتے وی کوم باندے چه دلالت کوی او کوم زائد حکم چه وی په هغے به عمل کيدے شی (اگرکه په حديث د مسيئ الصلاة کښے نه وی ذکر هغه به هم واجب وی مگر کله چه بل ځائے قرينه صارفه د وجوب موجوده وی بيا به وجوب نه وی مراد) انظر المرعاة (۲/ ۳۸۵) ۔

ظاهر دا ده چه کوم افعال او ارکان چه نبی عليه السلام هميشه په يوه طريقه کړی وی هغه به فرض وی او کوم اعمال ئے چه بدل کړی وی هغه به فرض نه وی لکه د سبحانك په ځائے ئے اللهم باعد بيني وئيلے دے دارنګه د رکوع او سجدے دعاګانے نو بناء پدے په مانځه کښے ډير زيات فرائض دی نه ديارلس ۔ ددے وجے نه امام حميدیؒ فرمائی : رفع اليدين فی المواقع الثلاثه فرض دی ليکن ابن الحزمؒ فرمائی : ما به ورته فرض وئيلے خو که حديث د ترك نه وے موجود نو سنت دی ځکه قرينه صارفه د فرضيت نه موجوده ده ۔

فائده : عبد الله النسفی په المنار او ملا جيون په نور الانوار کښ وئيلی دی چه دا حديث دليل دے چه فعل د نبی عليه السلام دليل د وجوب نه وی ځکه که فعل دليل د وجوب وے نو نبی عليه السلام به دے قول (صلوا) ته نه وے محتاج بلکه په نفس فعل به وجوب ثابتيدلے ۔

ليکن دا خبره ضعيفه ده وجه دا ده چه صلوا نه خپله معلوميږی چه فعل د نبی عليه السلام دليل د وجوب دے (کله چه په طريقه د مواظبت سره کړے وی) ځکه نبی عليه السلام پدے الفاظو سره دا ثابته کړه چه فعل د نبی عليه السلام به واجب وی او ددے نه مخکښ پته نه لګيده چه آيا فعل به دليل د وجوب وی او که نه خو کله چه صلوا اووئيل شو نو معلومه شوه چه د نبی عليه السلام فعل به دليل د وجوب وی ځکه نبی عليه السلام اوفرمائيل چه زما پشان کار کوئ معلوميږی چه د نبی عليه السلام په شان کار کول به واجب وی فتفکر ۔

وَإِذَا حَضَرَتِ الصَّلَاةُ : ددے نه دا فائده معلوميږی چه قبل الوقت اذان صحيح ندے صرف ددے نه د صبا دپاره قبل الوقت اذان مستثنیٰ دے لکه چه تير شو ۔

مسئله : چا چه قبل الوقت اذان اوکړو یا ئې بالکل اذان اونکړو نو مونځ ئې اوشو او که نه ؟ نو کوم علماء چه اذان فرض ګڼړی د هغوی په نیز اعاده ضروری ده کما هو قول عطاء ومجاهد والاوزاعیؒ ـ او کوم علماء ئې چه سنت مؤکد ګڼړی لکه احناف وغیره نو دوئ وائی سنت مؤکد ترېے فوت شو او سخت ګناهګار به وی کما فی رد المحتار (۳۵۷) او دا مذهب د جمهور علماؤ هم دے ـ

اوزاعی رحمه الله وائی : که وقت باقی وی اعاده به کوی والا فلا ـ شرح السنة (۲/۸۷) ـ

صحیح دا ده چه اذان فرض دے خو فرض خارجی دے که چا اذان پریخودو مونځ ئې جائز دے خو د فرضو په مقدار به ګناهګار وی ـ

فائده : دا حدیث او مخکنے حدیث د مالك بن الحویرث په حقیقت کښے یو حدیث دے او پدے کښے ورسره قصه ذکر ده خو بعض راویانو اوګده ذکر کړے او بعضو پکښے اقتصار کړیدے او مطلب د تولو یو دے ـ

بعض علماؤ ددے الفاظ د بدلیدو او د سیاق د اختلاف توجیه داسے ذکر کړے چه الفاظ په دوارو حدیثونو کښے جدا جدا ځکه راغلی دی چه مالك بن الحویرث نبی علیه السلام ته دوه ځل راغلے دے یو ځل ورسره د تره ځوی دے لکه مخکښے حدیث کښے ذکر شو او دویم ځل کښے شل کسان راغلی دی لکه دا حدیث شو او نبی علیه السلام ورته په هر ځل دغه حکمونه کړیدی او پدے حدیث کښے ورته زیادت هم اوکړو چه (صلوا کما رأیتمونی الخ) یا دا چه یو کرتے راغلے دے خو مالك ئې مکرر ذکر کوی کله ځان سره تره ځوی ذکر کوی کله باقی ملګری هم والله تعالی اعلم ـ

تنبیه : مصنف دے حدیث ته متفق علیه وئیلے دے مګر دا خبره په محل د نظر کښے ده ځکه چه مسلم کښې ورسره (صلوا الخ) الفاظ نشته ددے جواب دا دے چه مصنف ورته متفق علیه وئیلے دے په اعتبار د غالب الفاظو سره یا په اعتبار د محل د شاهد سره چه هغه مسئله د اذان ده ـ

٥– وَعَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رضی الله عنه، قَالَ : اِنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ حِیْنَ قَفَلَ مِنْ غَزْوَةِ خَیْبَرَ، سَارَ لَیْلَةً، حَتّٰی اِذَا اَدْرَكَهُ الْكَرٰی عَرَّسَ، وَقَالَ لِبِلَالٍ : اِكْلَأْ لَنَا اللَّیْلَ . فَصَلّٰی بِلَالٌ مَا قُدِّرَ لَهٗ، وَنَامَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ وَاَصْحَابُهٗ . فَلَمَّا تَقَارَبَ الْفَجْرُ، اِسْتَنَدَ بِلَالٌ

اِلٰى رَاحِلَتِهٖ مُوَجِّهَ الْفَجْرِ، فَغَلَبَتْ بِلَالًا عَيْنَاهُ، وَهُوَ مُسْتَنِدٌ اِلٰى رَاحِلَتِهٖ، فَلَمْ يَسْتَيْقِظْ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ، وَلَا بِلَالٌ وَلَا اَحَدٌ مِنْ اَصْحَابِهٖ حَتّٰى ضَرَبَتْهُمُ الشَّمْسُ، فَكَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ اَوَّلَهُمُ اسْتِيْقَاظًا، فَفَزِعَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ، فَقَالَ: «اَىْ بِلَالُ!» فَقَالَ بِلَالٌ: اَخَذَ بِنَفْسِيَ الَّذِىْ اَخَذَ بِنَفْسِكَ. قَالَ: «اِقْتَادُوْا»، فَاقْتَادُوْا رَوَاحِلَهُمْ شَيْئًا، ثُمَّ تَوَضَّأَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ وَاَمَرَ بِلَالًا فَاَقَامَ الصَّلَاةَ فَصَلّٰى بِهِمُ الصُّبْحَ فَلَمَّا قَضَى الصَّلَاةَ، قَالَ: «مَنْ نَسِيَ الصَّلَاةَ، فَلْيُصَلِّهَا اِذَا ذَكَرَهَا، فَاِنَّ اللهَ تَعَالٰى قَالَ: ﴿وَاَقِمِ الصَّلَاةَ لِذِكْرِىْ﴾». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: او ابو هریره رضی الله عنه فرمائی: رسول الله ﷺ چه کله د غزوه خیبر نه واپس شو نو تولـه شپه ئې سفر اوکړو تر دې چه (کله) په هغه باندې خوب غالب شو نو هغـه د آرام کولو دپاره په آخر د شپه کښې یو ځائې کښې کوز شو او بلال‌ؓ ته ئې اوفرمائیل: چه ته زمونږ دپاره د شپې خیال ساته (یعنی چه صبا شی مونږ راپاڅوه) دې وئیلو سره رسول الله ﷺ او د هغـه صحابه اوده شو او بلال‌ؓ (د تهجد) مونځ څومره چه مقرر وو اوکړو۔ کله چه صبا صادق نزدې شو نو بلال‌ؓ خپلې کجاوې ته تکیه اولګوله چه فجر (مشرق) طرفته متوجه کیدو سره کیناستو (دې دپاره چه صبا صادق اوشی نو نبی علیه السلام به راپاڅوی) بلال‌ؓ کجاوې ته تکیه لګولو سره ناست وو چه (اتفاق سره) هغه ته هم خوب ورغلو (نو د صبا صادق په وقت) رسول الله ﷺ او بلال او صحابو نه هیڅوك هم بیدار نشو تر دې چه کله هغوی له نمر اووهل (او د هغې دهوپ ورته اورسیدو) نو د ټولو نه مخکښې رسول الله ﷺ رابیدار شو او هغه ګبراؤ شو وې فرمائیل: اې بلال! دا څه اوشو؟ بلال‌ؓ (هم په یره پاڅیدو او) عرض ئې اوکړو یا رسول الله! زه هم هغه شی نیولې وم کوم چه ته نیولې وې (یعنی خوب) نبی کریم ﷺ اوفرمائیل: ددې ځائې نه روان شئ! نو ټولو خلقو لګ لرې پورې خپلې خپلې سورلۍ روانې کړې۔ بیا رسول الله ﷺ اودس اوکړو او بلال‌ؓ ته ئې د تکبیر کولو حکم اوکړو۔ نو هغه د مانځه دپاره تکبیر اووئیلو او رسول الله ﷺ صحابه کرامو ته د سحر مونځ اوکړو، کله چه د مانځه نه فارغ شو نو وې فرمائیل: څوك چه (د خوب وغیره په وجه) مونځ ترې هیر شی نو کله چه ورته یاد شی فوراً دې هغه اوکړی ځکه الله تعالی فرمائی: اقم الصلاة لذکری (یعنی زما د یادولو په

وقت مونږ كوئ) ۔ (مسلم) ۔

حِيْنَ قَفَلَ مِنْ غَزْوَةِ خَيْبَرَ :

تشريح : قفل د قفول نه ماخوذ دے په معنی د رجوع سره او خيبر غزا په محرم كښے په اوم (٧) كال د هجرت باندے واقع شويده خيبر دا يوه علاقه ده چه يهوديان به پكښے اوسيدل شپږ مراحل د مدينے نه لرے ده ، بعض وائى (٩٦) شپږ نوى ميله د مدينے نه وړاندے مسافت باندے واقع دے او لفظ د خيبر غير منصرف دے د وجے د علميت او تانيث نه ۔

اَلْكَرٰى : خوب او پركالئ او پيرشانئ ته وائى عرس : د تعريس نه ماخوذ دے تعريس وائى هو النزول آخر الليل للنوم والاستراحة ۔ يعنى چه انسان تولـه شپه مزل كوى روان وى او كله چه صبا نزدے شى د شپے آخرى حصه شى نو انسان مزل پريدى او يو ځائے كښے كوز شى خوب او استراحت اوكړى او همدا د عربو د قافلو او مسافرو عادت وو ځكه چه د شپے مزل باندے انسان نه پوهيږى او منزل مقصود ته انسان زر ورسيږى او حديث مبارك كښے دى : چه د شپے مزل راتاويږى لاره انسان ته لنډوى ۔ هكذا قاله الخليل والجمهور انظر كتاب العين للخليل الفراهيدى (٦١٩) ۔ ابوزيد لغوى وائى : هو النزول اىّ وقت كان من ليل او نهار ۔ يعنى تعريس په يو مقام كښے پړاؤ اچولو ته وائى برابره ده كه ورځ وى او كه شپه وى لكه حديث كښے دى : معرسون فى نحو الظهيرة انتهٰى ۔

حافظ ابن حجرؒ او علامه خطابىؒ وائى : تعريس هغه كوزيدلو ته وائى چه اوسيدل پكښے نه وى بلكه لګ ساعت او وقت دپاره وى فتح البارى (٢/٥٣) الفتح الربانى (٢/٢٠٣) وانظر لسان العرب لابن منظور المتوفى (٧١١هـ) (٩/١٣٢) ۔

اِكْلَأْ لَنَا : دا د باب فتح نه د امر صيغه ده مصدر ئے كلاء په كسره د كاف او مد سره او كلاءة بفتح الكاف دے معنى ئے ده، حفاظت او ساتنه كول ۔ اى ارقب واحفظ واحرس ۔ يعنى زمونږ دپاره د شپے څوكيدارى او حفاظت كوه چه صبا راباندے راونه خيژى ۔

خلاصه د حديث دا ده چه رسول الله ﷺ د غزوه خيبر نه فارغ شو او بير ته مدينے طرفته را روان شو توله شپه ئے مزل اوكړو، كله چه آخرى حصه شوه نو خوب پرے غلبه اوكړه نو يو مقام كښے راكوز شو او بلال ته ئے اوفرمائيل : ته زمونږ دپاره د شپے څوكيدارى اوكړه چه په غفلت كښے راباندے صبا را اونه خيژى او مونږ رانه خراب نشى، بلالؓ تهجدو باندے اودريدو رسول الله ﷺ او د هغه ملګرى اوده شو، كله چه صبا ختلو

ته وقت نزدې شو، بلال راغلو د صبا راختلو ته مخامخ شو او خپلې اوښې ته ئې تکیه اولګوله نو سترګې پرې درنې شوې او په همدغه حالت کښې اوده شو ترڅو چې نمر راوختلو او نبی علیه السلام د نمر په ګرمائش رابیدار شو۔ بلال ته ئې اوفرمائیل: دا څه اوشو؟ بلال ورته عذر اوکړو چه الله تعالی زه اوده پاتې کړم بیا نبی علیه السلام حکم اوکړو چه سورلۍ مو روانې کړئ! نو هغوی روان شو لږ مخکښې لاړل هلته ئې اودسونه اوکړل او بلال اقامت اوکړو، نبی علیه السلام ورته سحر مونځ د جماعت سره اوکړو الخ۔

پدې حدیث کښې **ډیر فوائد او بحثونه او مسائل** دی۔

فَلَمْ يَسْتَيْقِظْ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ الخ:

سوال دا دې چه مخکښې کتاب الاعتصام کښې حدیث ذکر شویدې چه رسول الله ﷺ فرمائی: ان عيني تنامان ولا ينام قلبي۔ چه د نبی علیه السلام سترګې اودې وی او زړه ئې بیدار وی نو بیا دلته ولې غافل شو او د مونځ نه اوده پاتې شو؟۔

۱- **جواب**: دواړو حدیثونو کښې هیڅ تعارض نشته ځکه زړه د امور باطنیه او معانیو باطنیو ادراک کوی نه د امور حسیه ظاهره ؤ او سترګې خو په ظاهر کښې پټې دی او شمس خو په سترګو لیدل شی نو په زړه باندې د شمس ادراک نشی کیدې اګرکه زړه بیدار هم وی نووی شرح مسلم (۱/۲۳۸)۔

۲- **جواب**: علامه خطابی وائی: بعض علماؤ دا جواب ورکړې چه حدیث العين نائمة والقلب يقظان صرف د حدث (بې اودسئ) د معاملې متعلق دې چه د نائم نه کوم حدث واقع کیږی په هغې باندې نه خبریږی لیکن رسول الله ﷺ داسې نه وو ځکه د هغه زړه بیدار دې پدې وجه هغه د حدث شعور کولې شی او پاتې شو باقی څیزونه نو د هغې په باره کښې د والقلب يقظان قانون ندې لهذا د طلوع الشمس به ددې سره هیڅ تعلق نه وی۔

۳- امام نووی داسې جواب هم ورکړیدې چه رسول الله ﷺ دپاره همیشه دا حالت نه وو چه زړه ئې بیدار وی بلکه د هغه دوه حالتونه وو بعض حالتونو کښې به ئې زړه نه اوده کیدو او دا غالب احوال وو ۲- دویم حالت دا چه کله کله به ئې زړه هم اوده کیدو نو پدې ليلة التعريس کښې ئې زړه هم اوده شوې وو او دا ددې دپاره ئې نبی اوده پریخودلو چه امت دپاره حکم شرعی معلوم شی په قضاء راوړلو د مانځه کښې۔ لیکن اول جواب بهتر دې شرح مسلم (۱/۲۳۸)۔

بیا **سوال** دا دے چه په حدیث د صحیحینو کښیے په روایت د عمران بن حصینؓ کښیے راغلی دی چه ابوبکر اول بیدار شو ثم فلان ثم فلان ثم عمر الرابع فکبر حتی استیقظ النبی ﷺ او پدے روایت کښیے دی چه اول رسول الله ﷺ رابیدار شو ؟۔

الجواب : ابن حجرؒ فرمائی : په اصل کښیے دا متعدد واقعات دی او قاضی عیاض هم دیته ترجیح ورکړیده چه د صلاة الصبح نه اوده پاتے کیدل دوه ځل واقع شویدی ۔ امام سیوطیؒ وائی : لایجمع الا بتعدد القصة انظر فتح الباری (۱/۳۵۵) وفتح الملهم (۲/۲۳۹) هغه واقعات په الفتح الربانی (۲/۳۰۲) کښیے اوګوره ۔

فَفَزِعَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : یعنی په ګبراهټ سره رسول الله ﷺ راپاڅیدو ای قام قیام المتحیر ۔ خطابیؒ وائی : ددیے معنی دا ده : انتبه من نومه یقال افزعت الرجل من نومه اذا استیقظته ففزع ای نبهته فانتبه ۔ یعنی رابیدار شو د خوب خپل نه ۔

«**اَیْ بِلَالُ !**» دلته عتاب او ملامته ول محذوف دی یعنی اے بلال ! ولے اوده شوے چه مونږ نه مونځ فوت شو ؟۔

اَخَذَ بِنَفْسِیَ الَّذِیْ الخ : ددیے یوه معنی ده : ۱- کوم ذات چه په خوب کښیے ستا روح اخستے وو هغه زما روح هم اخستے دیے ۔ ۲- یا معنی دا ده چه زما په نفس باندیے هغه خوب غالب شوے دیے کوم چه ستا په نفس غالب شویدیے یعنی دا خوب زما په اختیار کښیے نه وو، اضطراری وو نو زه پدیے کښیے معذوریم ۔

«**اِقْتَادُوْا**» : دا د امر صیغه ده د اقتیاد نه یعنی روان شئ ددیے ځائے نه ۔ اقتیاد اصل کښیے د اوښ رسئ راخکلو ته وائی ۔

اوس دلته **سوال** پیدا کیږی چه د نمر راختلو نه پس چه کله رابیدار شو نو همغه ځائے کښیے رسول الله ﷺ د مونځ قضائی ولے اونکړه ؟ اوصحابه کرامو ته ئے ولے د روانیدو حکم اوکړو ؟ ددیے څه سبب وو ؟۔

الجواب : بعض علماء (لکه احناف) وائی چه د نمر راختلو په وقت کښیے د مانځه قضاء راوړل منع دی نو هغوی وائی چه رسول الله ﷺ ددیے ځائے نه د کوچ کولو حکم ځکه اوکړو چه نمر اوچت شی او مونځ په مکروه وقت کښیے رانشی ۔ لیکن دا وجه بالکل سراسر خطاء ده او د احادیثو خلاف ده بلکه صحیح وجه دا ده چه ددیے ځائے نه ځکه روان شو چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل : دا یوه کنده ده چه مونږ ته پدیے کښیے شیطان حاضر شو او د غفلت ځائے دیے کما فی روایة مسلم (۱/۲۳۸) هذا منزل حضرنا فیه الشیطان وفی

رواية ابی داود : تحولوا عن مكانكم الذی اصابتكم فيه الغفلة صحيح سنن ابی داود رقم (٤٢١) (١/٨٩) او دارنگه په روايت د بخاری کښے په كتاب التوحيد کښے دی : من طريق هشيم عن حسين : فقضوا حوائجهم فتوضؤا الی ان طلعت الشمس وهوابين سياقاً كذا فی فتح البارى (٢/٥٣) يعنی صحابه كرامو حاجتونه پوره كول غسل او قضاء حاجت اودسونه وغيره ئے كول ځكه ئے تاخير اوكړو دغه شان د روايت د ابوداود نه معلوميږی : فقاموا فتطهروا حتی اذا ارتفعت الشمس قام النبی ﷺ فصلی بالناس، صحيح سنن ابی داود رقم (٤٢٣) ـ

معلومه شوه چه ددے ځائے نه د روانيدو وجه يو خو شيطانی اثر او غفلت راتلل دی دويم د صحابه كرامو حاجتونه پوره كول وو او دا وجه په هيڅ حديث کښ نده ذكر چه گنے دا وقت د كراهت وو او پدے وقت کښے قضائی مونځ نه كيږی بلكه دا وجه د آخر د حديث سره تكراؤ ده چه رسول الله ﷺ قانون كلی بيانوی (من نسی الصلاة الخ) يعنی چا نه چه مونځ هير شی (يا ترے اوده پاتے شی لكه بل روايت کښے راغلی دی) نو كله چه ورته راياد شی هغه دِ اوكړی، همدغه ئے وقت دے نو د غرضی سړی نظر صرف په خپل غرض باندے لگی د حديث آخر ته نه گوری ـ وكذا فی فتح البارى (٢/٥٣) وشرح مسلم (٢/٢٣٨) وقد تقدم البحث فی المواقيت ـ

فَصَلّٰى بِهِمُ الصُّبْحَ : پدے روايت کښے اختصار دے ـ په بل روايت د مسلم (٢/٢٣٨) کښے دی : وقال يعقوب : ثم صلی سجدتين ثم اقيمت الصلاة فصلی الغداة ـ يعنی د سحر سنت ئے هم اوكړل دا حديث دليل دے چه د سحر سنتو قضائی هم شته دلته اگركه د فرضو په تابعداریٔ کښے شويدی مگر مستقلاً قضائی په باره کښے ئے ډير احاديث وارد دی چه خپل ځائے کښے به راشی ان شاء الله تعالی ـ او ددے حديث نه معلومه شوه چه په فوتی مونځ کښ جَمعه كول مستحب دی ـ

وَاَمَرَ بِلَالًا فَاَقَامَ الصَّلَاةَ : رسول الله ﷺ بلال ؓ ته صرف د تكبير كولو حكم اوكړو او د اذان حكم ئے اونكړو ددے نه په ظاهر کښے دا معلوميږی چه د قضاء مونځ دپاره اذان وئيل ضروری ندی لكه دا قول جديد د امام شافعی رحمه الله دے چه په كتاب الام کښے ذكر دے او امام نووی ؒ په شرح المهذب (٣/٨٢) کښے ذكر كړيدے او دا قول د اوزاعی ؒ او مالك ؒ دے ـ ليكن د شوافع علماؤ په نزد كما قال النووی ؒ وابن حجر ؒ د قول قديم مطابق صحيح او معتد به مسلك دا دے چه اذان د فوتی مونځ دپاره هم سنت دے او دا قول د امام احمد،

ابو ثور او ابن المنذر دي ـ فتح الباری (٢/٥٤) ـ
په صحيحينو کښې د ابوقتادةؓ په روايت کښې اذان د فوتي مونځ دپاره ذکر شوی دی مسلم (١/٢٣٨) او بخاري) او دا صحيح زيادت دی او زيادت چه کله صحيح ثابت شي نو هغې باندې به عمل کولې شي نو اذان او اقامت دواړه به کولې شي بلکه په روايت د مسلم کښې ورسره داسې الفاظ راغلي دي: ثم اذن بلال بالصلاة فصلى رسول الله ﷺ ركعتين ثم صلى الغداة فصنع كما يصنع كل يوم ...... الحديث ـ يعني هغه شان کار ئې اوکړو څنګه چه ئې عامو ورځو کښې کولو يعني اذان او اقامت او جهر وغيره ـ
پاتې شوه دا خبره چه پدې روايت د ابوهريرةؓ کښې اذان ولې ندې ذکر شوې ؟ نو ددې دوه جوابونه دي (١) – يو دا چه عدم ذکر مستلزم ندې عدم فعل لره، شايد چه نبي عليه السلام په اذان باندې هم حکم کړې وی لکه د نورو رواياتو نه معلوميږي، خو راوي ندې ذکر کړې نو د فاقام الصلاة معنی به دا وی چه د اذان نه پس ئې د مانځه دپاره اقامت اوکړو، يا راوي پدې وجه اذان ندې ذکر کړې چه هغه د اذان نه ندې خبر شوې او هغه ئې ندې اوريدلې ـ
٢- **دويم جواب**: پدې موقعه باندې ئې شايد اذان څکه پريخودې وی چه خلقو ته د اذان پريخودلو جواز ښکاره شي نو بياناً للجواز ئې پريخودې دې او پدې کښې اشاره ده چه اذان د فوتي مونځ دپاره واجب او ضروري ندې خاصکر په سفر کښې (اګرچه مستحب خو دې) والاول هو الصحيح ـ
مَنْ نَسِيَ الصَّلَاةَ الخ: دلته ذکر د نسيان دې خو ددې په معنی کښې خوب هم دې نو معنی به ئې عامه اوشي اي من ترك الصلاة بنسيان او نوم ـ دلته ئې صرف نسيان ذکر کړو نه خوب څکه دواړه شريك دي په غفلت او عدم تقصير کښې نو په نسيان سره ئې اکتفاء اوکړه د خوب نه ـ
فَلْيُصَلِّهَا اِذَا ذَكَرَهَا: دې حديث نه بعض علماؤ استدلال کړې پدې چه عمداً څوك فرض مونځ پريدي تردې چه وقت ئې ختم شي – په هغه باندې هم قضاء راوړل واجب دي او حديث کښې نسيان قيد څکه ذکر شو چه دا ئې سبب دې ـ دوی وائي وجه دا ده چه هر کله په معذور باندې (چه ناسي او نائم دې) قضاء واجب شوه نو غير معذور باندې خو به په طريق اولیٰ واجب وی او دلته تنبيه ده په ادنیٰ سره په اعلیٰ باندې ـ
محققين علماء وائي: په تارك الصلاة عمداً باندې هيڅ قسمه قضاء نشته صرف الله

تعالیٰ ته به توبه اوباسی ځکه چه ده هرکله مونځ قصداً مونځ پریخودو نو دا په قولِ راجح کښې کافر ګڼړلے شی بیا کله چه توبه اوباسی نو د کفر د حالت د مونځ قضاء پړه باندې نه وی وقد مر التفصیل فی اول کتاب الصلاة ـ

﴿ وَاَقِمِ الصَّلٰوۃَ لِذِکۡرِیۡ ﴾ : مفسرینو ددې ډیر توجیهات ذکر کړیدی ـ (۱) – یوه معنی دا ده چه اَقِمِ الصَّلٰوۃَ لِتَذۡکُرَنِیۡ فِیۡهَا ـ (۲) – بعض وائی : اقم الصلاة لاذکرك بالمدح ـ یعنی مونځ قائم کړه دې دپاره چه زه دِ یاد کړم په صفت کولو سره (۳) – قاضی عیاض فرمائی په بعض روایاتو کښې دا لفظ للذکری په لام تعریف سره راغلے دے لکه په روایت د ابن شهاب کښې مسلم او ابوداوکښې راغلے دے او مناسبت ئے د مقصود سره واضح دے چه مونځ په هغه وقت کوه چه کله درته یاد شی خو د بعض راویانو نه تغیر واقع شویدے کما فی شرح الموطأ ـ (٤) – بعض وائی : اقم الصلاة معنی ده : اقم الصلاة اذا ذکرتها ـ یعنی کله چه درته زه مونځ رایاد کړم نو هغه کوه !ـ (٥) – امام نخعیؒ وائی : لذکری کښې لام په معنی د وقت سره دے او معنی دا ده اقم الصلاة اذا ذُکرت صلاتی بعد النسیان ـ یعنی په هغه وقت چه تا ته د هیریدو نه پس زما مونځ رایاد شی نو مونځ قائم کړه او دا معنی د مقصود سره مناسبه ده ـ (۷) – بعض وائی : د ذکری نه مراد ذکر الصلاة دے ځکه چه د مونځ یادول سبب دے د کولو او په مانځه کښې د الله تعالی ذکر کیږی نو وقت د ذکر الصلاة داسې شو ګویا کښې وقت د ذکر الله دے نو د اقم الصلاة لذکری په ځائے اقم الصلاة لذکر الله شو ـ فتح الباری (۲/۵۷) ـ (۸) – بعض وائی مضاف حذف دے : ای لذکر صلاتی ـ

فوائد الحدیث الباقیة : ددې حدیث نه نور فوائد دا معلومیږی (۱) – یو دا چه امام او امیرا ومشر د قوم له پکار دی چه د خپل رعیت او قوم د دینی مصالحو رعایت او لحاظ اوساتی او د هغه کار نه ځان اوساتی چه هغه سبب د عبادت د فوت کیدو ګرځی د خپل وقت نه (۲) – د قوم دپاره مطالبه د امیر نه جائز ده په مصالحو دنیویه کښې لکه دا په بل روایت کښې راغلی دی چه صحابه کرامو اووئیل : لو عرست بنا یا رسول الله ! ـ یعنی که مونږ دمه اوکړو او یو ځائے کښې پړاؤ واچوو ؟ ـ

(۳) – په مهم کارونو کښې په یو شخص باندې اکتفاء کول جائز دی، دلته ئے د مانځه په باره کښې صرف بلال مقرر کړو ـ (٤) – څوك چه شرعی عذر پیش کړی د هغے قبلول پکار دی لکه په روایت د ابن اسحق کښې راځی ـ رسول الله ﷺ بلالؓ ته او فرمائیل : صدقت ـ (٥) – یو شخص د یوې خبرې په وفاء باندې التزام اوکړی او بیا هغه پوره نکړی

نو د هغه نه د هغه خبرے متعلق تپوس او مطالبه جائز ده (اى بلال!) نه معلوميږي -

(٦) - بلالؓ ته ئې خطاب اوکړو پدے کښے هغه ته تنبيه ده چه په يو کار کښے د دعوے کولو او په خپل نفس باندے د حسن ظن او اعتماد کولو نه ځان ساتل پکار دی خاصکر په هغه ځايونو کښے چه هلته انسان مغلوب وی او اختيارئې نه وی لکه خوب -

(٧) - په بل روايت کښے دی : بلال اووئيل : انا اوقظكم - زه به مو رابيدا رکړم ! دا ئې ځکه اووئيل چه د بلال پدغسے وقت کښے په بيداريدو باندے عادت وو اذان دپاره به رابيداريدو -

(٨) - بادشاه او امير لره پکار دی چه پخپله هم په غزاګانو او فوج کښے اوځی چه رعيت زړه ور شی او ترغيب ئې پيدا شی ليکن د صحابه کرامو سيرت دا دے چه امير به نه وځی - (٩) - پدے کښے رد دے په منکرين د تقدير باندے بلکه په کائناتو کښے هر کار د الله تعالى په تقدير سره واقع کيږی دلته نبی عليه السلام او د هغه ملګرى ئې اوده پاتے کړل دا په تقدير کښے مقرر وه - اخذ بنفسى الذى الخ نه معلوميږي -

(١٠) - د فوتی مونځ دپاره اذان او اقامت دواړه سنت دی اګرکه انسان په حالت د سفر کښې وی - (١١) - د فوتی مونځ قضاء راوړل فى الفور ضرورى ندى دلته رسول الله ﷺ او د هغه ملګرى د بيداريدو نه پس سمدستی مونځ ته ندی ولاړ بلکه د هغه مقام نه وتلی دی، وقت مينځ کښے تير شو ليکن ډير تاخير به هم نه کوی او دا قول د امام مالكؒ او امام شافعیؒ دے چه قضاء على التراخى هم جائز ده -

او امام ابو حنيفةؒ او ابويوسف او مزنى او کرخى وائى : د قضائی مونځ اداء على الفور واجب ده - دليل دا وائى فليصلها اذا ذکرها الخ کله چه ورته رایاد شی نو په همدغه وقت کښے به ئې کوی او نبی عليه السلام چه تاخير کړيدے نو مانع موجود وو چه هغه پدغه وادی کښے د شيطان موجوديدل او د ملګرو حاجتونه پوره کول وو - نيل الاوطار (٢/٤) وفتح البارى (٢/٥٤) -

(١٢) - علامه قرطبیؒ وائى : پدے حديث باندے بعض علماؤ عمل کړے او دا ئې وئيلى دی چه څوك په سفر کښے په يو مقام کښے د فرض مانځه نه اوده پاتے شی، هغه دپاره پکار دی چه د هغه ځائے نه لاړ شی بل ځائے ته او که يوه کنده وی نو د هغه ځائے نه ډ اوځی - (١٣) - بعض علماء وائى : څوك چه په يو مقام کښے د يو عبادت نه غافل شو هغه دپاره مستحب دی چه دغه مکان بدل کړی او ددے په حکم کښے هغه سړے دے چه

په خطبه کښې ورله خوب ورشي ۔ الفتح (۱/۳۵۵) ۔

٦- وَعَنْ اَبِیْ قَتَادَةَ ﷺ، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : «اِذَا اُقِيْمَتِ الصَّلَاةُ فَلَا تَقُوْمُوْا حَتّٰى تَرَوْنِیْ قَدْ خَرَجْتُ» . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ .

ترجمه : او ابوقتاده رضي الله عنه فرمائي : رسول الله ﷺ فرمائيلي دي : کله چه د مانځه دپاره اقامت اوشي نو ترڅو پورې چه تاسو ما لره د حجرې نه په راوتلو او نه ګورئ نو مانځه دپاره مه اودرېږئ ۔ (بخاري ومسلم) ۔

اِذَا اُقِيْمَتِ الصَّلَاةُ فَلَا تَقُوْمُوْا حَتّٰى تَرَوْنِیْ قَدْ خَرَجْتُ

تشريح : يعني کله چه د مانځه دپاره اقامت اوشي نو تر هغه وقت پورې به د خپلو ځايونو نه نه پاځيږئ ترڅو چه ما اووينئ چه زه د حجرې شريفې نه راووتلم نو کله چه ما اووينئ چه زه راوتلم بيا به پاځيږئ ددې حکمت څه دې نو وجه دا ده چه په خلقو باندې اودريدل اوګده نشي چه د مخکښې نه په انتظار ولاړ وی ۲- دويم دا چه کله نا کله به نبی عليه السلام ته يو کار راپيښ شي چه د هغې په وجه به تاخير اوکړی نو خلق به مشقت کښې پريوځي ۔ مخکښې ذکر شويدی چه امام کله د مسجد نه بهر وی نو تر هغه پورې به د اقامت په وقت مانځه ته نه اودريږی مګر کله چه امام اووينی لکه چه دا مذهب د جمهور علماؤ دې او کله چه امام په مسجد کښې وی نو بيا مستحب دا ده چه مقتديان به د اقامت په شروع کښې اودريږی او امام به د قد قامت الصلاة په قت ۔ کما تقدم فی ص (۳۲۰) باب الاذان ۔

بيا ددې حديث نه دا مسئله هم معلوميږی چه کله امام په خپل کور (کوټه) کښې وی او د اقامت د اوريدو امکان وی نو د هغه د راوتلو نه مخکښې هم اقامت شروع کول جواز لری مرعاة (۲/۳۸۸) ۔

اشکال : علامه قرطبیؒ پدې مقام کښې يو سوال او جواب ذکر کړيدې او هغه دا چه ددې حديث د ظاهر نه معلوميږی چه د نبی عليه السلام د کور نه راوتلو نه مخکښې به اقامت د مانځه دپاره کيدلو او په حديث د جابر بن سمرةؓ کښې راغلی دی : ان بلالا کان لا يقيم حتی يخرج النبی ﷺ فاذا خرج اقام الصلاة حين يراه اخرجه مسلم ۔ يعني چه بلالؓ به تر راوتلو د نبی عليه السلام پورې اقامت نه شروع کولو۔ خو کله چه به راوتلو او بلالؓ به هغه لره اوليدلو نو اقامت به ئې شروع کړو نو دواړو حديثونو کښې تعارض راغلو ددې

تطبيق څه دے ؟ ۔

الجواب : د دوارو جمع او تطبيق داسے دے چه بلال به رسول الله ﷺ لره ځارلو او د هغه د راوتلو انتظار به ئے کولو نو کله به چه بلال هغه لره په ابتداء د راوتلو کښے اوليدو نو اقامت به ئے شروع کړو مخکښے ددے نه چه اکثر خلق ئے اووينی ۔ بيا چه به خلقو اوليدو نو پورته به شو او رسول الله ﷺ به په خپل ځائے کښے نه اودريدو تر هغه وقته پورے چه خلقو به صفونه نه وو برابر کړی ۔

او يا محمول على الوقتين دی ۔

پاتے شو روايت د ابو هريرة چه په مسلم کښے راغلے دے پدے الفاظو : اقيمت الصلاة فقمنا فعدلنا الصفوف قبل ان يخرج الينا النبي ﷺ فاتی فقام مقامه ۔ الحديث ۔ يعنی اقامت اوشو او مونږ پاځيدلو او صفونه مو د نبی عليه السلام د راوتلو نه مخکښے برابر کړل بيا هغه راغلو او په خپل مقام کښے اودريدو ۔ يا په روايت د بخاری (۱/۸۹) کښے د حديث د ابو هريرة دے اقيمت الصلاة فسوى الناس صفوفهم فخرج النبی ۔ يعنی نبی عليه السلام د اقامت نه روستو راوتلے دے او خلقو مخکښے صفونه برابر کړيدی يا په همدغه روايت د ابو هريره کښے د ابوداود په سند کښے دی : ان الصلاة كانت تقام لرسول الله ﷺ فياخذ الناس مقامهم قبل ان يجئ النبی ﷺ ۔ پدے کښے هم د نبی عليه السلام د راوتلو نه مخکښے اقامت او صفونه برابر شويدی ۔

نو ددے احاديثو او ددے حديث د ابوقتاده تطبيق دا دے چه :

۱- پدے احاديثو کښے دا کار کله کله شويدے بياناً للجواز ۔

۲- دويم تطبيق دا دے چه ابتداء کښے به صحابه کرامو اقامت مخکښے اوکړو او صفونه به ئے برابر کړل روستو به نبی عليه السلام راوتلو نو رسول الله ﷺ ددے کار نه منع اوکړه ځکه چه پدے مخکښے اودريدو کښے دا امکان شته چه د نبی عليه السلام څه ضرورت او شغل راپيدا شی چه په راوتلو کښے ئے تاخير اوشی نو بيا به خلقو ته د هغه انتظار مشکل او مشقت شی ۔

او کوم حديث د انس عند البخاری (۱/۸۹) کښے چه راغی چه رسول الله ﷺ د اقامت نه پس د بعض کسانو په حاجت کښے ډير اوګد ولاړ وو او هغوی سره ئے خبرے اترے کولے نو دا نادراً او کله کله واقع شويدی نو پدے کښے ددے خبرے ترديد نشته چه دلته خو صحابه په مشقت کښے پريوتی دی د رسول الله ﷺ د اوګد اودريدو د وجے نه ، ځکه دا کله

نا کله شویدی ۔ او یا بیاناً للجواز شویدی چه د اقامت نه روستو د چا په ضرورت کښې خبرې اترې کول هم جائز دی ۔ راجع فتح الباری (۲/۹۵) ۔

۷– وَعَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رضی الله عنه، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ: «اِذَا اُقِیْمَتِ الصَّلَاةُ فَلَا تَاْتُوْهَا تَسْعَوْنَ، وَاْتُوْهَا تَمْشُوْنَ وَعَلَیْکُمُ السَّکِیْنَةُ. فَمَا اَدْرَکْتُمْ فَصَلُّوْا، وَمَا فَاتَکُمْ فَاَتِمُّوْا». مُتَّفَقٌ عَلَیْهِ. وَفِیْ رِوَایَةٍ لِمُسْلِمٍ: «فَاِنَّ اَحَدَکُمْ اِذَا کَانَ یَعْمِدُ اِلَی الصَّلَاةِ فَهُوَ فِیْ صَلَاةٍ». وَهٰذَا الْبَابُ خَالٍ عَنِ الْفَصْلِ الثَّانِیْ.

ترجمه: او ابو هریره رضی الله عنه فرمائی: رسول الله ﷺ فرمائیلی دی: کله چه د مانځه تکبیر اوشی نو تاسو (جمعه کښې شاملیدو دپاره) په منډه سره مه راځئ بلکه په وقار او اطمینان سره په خپل مزل راځئ، څومره مونځ چه تاسو (د امام سره) اومومندو، هغه اوکړئ او کوم چه فوت شی (د امام د سلام نه پس، پاځیږئ) هغه پوره کړئ ۔ (بخاری و مسلم) ۔ او د مسلم په روایت کښې دا الفاظ هم دی چه: ځکه چه کله پتاسو کښې څوك د مانځه اراده اوکړی نو هغه (حکماً) په مانځه کښې شاملیدونکے شمارلے شی ۔ او دا باب د دویم فصل نه خالی دے ۔

اِذَا اُقِیْمَتِ الصَّلَاةُ فَلَا تَاْتُوْهَا تَسْعَوْنَ الخ:

تشریح: یعنی کله چه اقامت اوشی یا کیږی نو تاسو ورته په داسے حال کښې مه راځئ چه منډے وهئ! او وقار درنه ختم شی ۔ تسعون: جمله حالیه ده حال دے د تاتوا د ضمیر مرفوع نه ۔

پدے حدیث کښې مقصود تنبیه او اسلامی ادب ورکول دی چه بعض خلق کله چه مونځ اودریږی نو کوم خلق چه مسجد ته ناوخته راځی او امام په مانځه ولاړ وی، یا خصوصاً امام رکوع ته لاړ شی نو ډیر په بے وقاری او بے احترامئ سره او ساه ساه وی رامنډے وهی او مانځه کښې شریك کیږی نو دغسے خلقو ته رسول الله ﷺ دا ښائسته ادب ورکوی او د اسلامی آدابو سره انسان نه سرے جوړیږی ۔ فرمائی: دا طریقه د شریعت نه سراسر خلاف ده ۔ او بله دا چه پدے سره انسان بے وقاره بے عزته ښکاری، ددے وجے نه

نبی علیہ السلام پہ روایت د بخاری کښې پہ سکینہ او آرام سرہ راتلو باندې حکم کړیدې او علماء فرمائی: مانځہ تہ پہ منډہ سرہ راتلل دا د عقل د کمزورئ او غفلت او بې وقوفتیا علامہ دہ ځکہ کہ یو انسان تہ ددې نہ خوف وی چہ رکعت او تکبیر اولیٰ رانہ فوت نشی نو ھغہ تہ شریعت دا حکم فرمائیلې دې چہ د مانځہ دپارہ د اذان نہ پس سمدست تیاری اوکړہ او وختی مسجد تہ لاړ شہ! اول صف کښې کینہ چہ ډیر خیرونہ درتہ ملاؤ شی۔

بیا پہ آیت کښې چہ (فاسعوا الی ذکر اللہ) راغلی نو ددې حدیث ورسرہ ھیڅ منافات نشتہ وجہ دا دہ چہ پدې حدیث کښې د منډې او بې وقارئ نہ منع اوشوہ او پہ آیت کښې د سعی نہ مراد منډہ ندہ بلکہ پہ کار کښې کوشش او تیارې کول او پہ آرام سرہ مزل کول مراد دی۔ فان السعی قد یکون مشیاً وذھاباً قالہ القاری فی المرقاۃ (٢/١٨٠) او پدې باندې دلیل قرائت د عمرؓ دې فامضوا الی ذکر اللہ۔ اوالمراد بالسعی فی الآیۃ الاھتمام بالعمل کما فی الآیۃ ﴿وَسَعٰی لَهَا سَعْیَهَا﴾۔

فائدہ: صاحب د مرقاۃ ملا علی القاری (٢/١٨٠) لیکی چہ د علماؤ پدې کښې اختلاف دې چہ یو شخص د تکبیر اولیٰ پابند وی، او پہ یو موقعہ کښې د څہ ضرورت پہ وجہ د ھغہ نہ پہ جماعت کښې تاخیر اوشی نو آیا د تکبیر اولیٰ د فوت کیدو د خطرې پہ وجہ ھغہ شخص پہ جلتئ راتلې شی یا نہ؟ ۔ نو بعض علماء فرمائی: دا پہ جلتئ سرہ راتلې شی ۔ وجہ دا دہ چہ عمر رضی اللہ عنہ پہ بقیع کښې وو چہ د مسجد نہ ئې د تکبیر آواز واوریدو نو پہ منډہ سرہ مسجد تہ راغلو ۔ او بعض علماء دا خبرہ مناسبہ ګنړی چہ پہ وقار او آرام سرہ راشی د وجې ددې حدیث نہ ۔ ځکہ چہ حدیث کښې راغلی دی: کوم شخص چہ د مانځہ پہ ارادہ مسجد تہ روان شی ھغہ پہ مانځہ کښې حساب دې نو بې وقارئ تہ ضرورت نشتہ، لکہ ددې ادب حکمت پہ روایت د مسلم کښې راغلې دې: فان احدکم اذا کان یعمد الی الصلاۃ فانہ فی صلاۃ) ای فانہ فی حکم المصلی ۔ سبل السلام (٢/٧٢) ۔ لیکن اظھر خبرہ دا دہ چہ مزل دِ تیز کړی خو ورسرہ سکینت او آرام او وقار بہ باقی وی او منډہ بہ نہ وھی دې دپارہ چہ ددې حرام کار نہ ھم بچ شی او ورسرہ دواړہ فضیلتونہ حاصل کړی او پدې کښې عمل دې پدې آیت چہ (وسارعوا الی مغفرۃ من ربکم) انتھی۔

او د منډې نہ منع ولې اوشوہ ۔ وجہ دا دہ چہ منډې نہ وھلو سرہ قدمونہ ډیر شمارلې شی او دا ھم مقصود لذاتہ دې ډیر احادیثو کښې دې طرفتہ ترغیب راغلی دې کحدیث

جابر عند مسلم : ان بكل خطوة درجة ـ

تنبیه : پدے روایت کښے (اقیمت الصلاة) اقامت ذکر دے یعنی د اقامت په وقت مانځه طرفته منډه وهل منع ذی خو دا قید احترازی ندے دیته قید واقعی او غالبی وائی یعنی په غالب اوقاتو کښے د خلقو عادت دا دے چه کله اقامت شروع شی نو منډه وهی نو په عام حالاتو کښے که د اقامت نه مخکښے وی، هم مسجد طرفته منډه وهل ممنوع دی او دلیل پدے حدیث د ابوقتادةؓ دے چه بخاری (۸۸/۱) روایت کړیدے (اذا اتیتم الصلاة فعلیکم بالسکینة) ـ نو هر وقت د عبادت دپاره منډه وهل ممنوع شو ځکه چه د اقامت په وقت کښے انسان د فضیلت حاصلولو په خاطر منډے ته محتاج دے او منع شو نو په عام حالاتو کښے خو منډے ته حاجت هم نشته نو په طریق اولیٰ به منع وی ـ

بعض علماء وائی : د اقامت قید ئے پدے وجه ذکر کړو حکمت پکښے دا دے چه د اقامت په وقت کښے منډه وهونکے مانځه ته پداسے حالت کښے رسیږی چه ستړے شوے وی او ساه ساه وی نو پدغسے حالت کښے به قرائت شروع کړی نو په قرائت او ترتیل کښے به ئے خشوع حاصل نشی په خلاف د هغه چا نه چه هغه د اقامت نه مخکښے راشی ځکه چه د مانځه دپاره به اقامت نه وی شوے چه هغه به ورته استراحت حاصل کړے وی یعنی د مانځه نه مخکښے منډه وهل جائز دی مګر حافظ ابن حجرؒ فرمائی : دا خبره د صریح حدیث د ابوقتاده نه خلاف ده یعنی اذا اتیتم الصلاة ځکه چه دا ماقبل د اقامت ته هم شامل دے او د اقامت قید اغلبی دے آهـ فتح الباری (۹۳/۲) ـ

وَعَلَيْكُمُ السَّكِينَةُ : ۱– دا یا منصوب دے په علیکم سره مفعول به دے د علیکم دپاره او علیکم اسم فعل دے په معنی د الزموا السکینة (لازم کړئ په ځان آرام) کما قال القرطبی ۲– او یا مرفوع دے مبتداء مؤخر او علیکم خبر مقدم دے کما قال النوویؒ او دا جمله په محل د حال کښے ده یعنی پداسے حال کښے مانځه طرفته راځئ چه پتاسو باندے سکینه او آرام وی ـ

په روایت د صحیحینو کښے د السکینة نه پس د الوقار لفظ هم ذکر دے، د دواړو فرق دا دے ۱– چه سکینه وائی : التأنی فی الحرکات واجتناب العبث ـ یعنی په حرکاتو کښے آرامی او نرمی کول او اطمینان کول او د بے هوده عبث کارونو نه ځان ساتلو ته وائی او وقار په هیئت کښے وی لکه سترګے خکته ساتل آواز ټیټ ساتل او اخوا دیخوا نه کتل ـ قاله النوویؒ ـ

٢– قاضي عياضؒ او قرطبيؒ وائي : وقار او سكينه دواړه قريب قريب دي نو دويم لفظ تاكيد دے د اول دپاره، او په دواړو كښے مقصود بنائسته كيناستل، پاځيدل او د سړي توب په جامه ګرځيدل مراد دي (اى حسن السمت) ـ ٣– بعض وائي : اظهر دا ده چه د سكينه نه سكون القلب، حضور او خشوع مراد ده او د وقار نه سكون الجسم من الهيئات الغير المناسبه للسالك مراد دے ـ (عيني) ـ

وَفِي رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ فَإِنَّ أَحَدَكُمْ : فان احدكم : دا علت بيانوى دپاره ددے حكم وعليكم السكينه يعني مانځه ته په منډه مه راځئ بلكه په آرام سره راځئ ځكه چه څوك د مانځه په اراده روان وى نو دے په مانځه كښے حساب دے نو دده سره خشوع او وقار مناسب دے ـ

فَمَا أَدْرَكْتُمْ فَصَلُّوا : ادراك وائي : كله چه ته يو شے طلب كولو سره هغه ته اورسيږے، ورسره پيوست شے او رالاندے ئے كړے (يقال ادركت الشئ اذا طلبته فلحقته) ـ يعني هغه مونځ چه تاسو ئے لاندے او مونده كړئ ! د امام سره هغه ورسره اوكړئ ! ـ

وَمَا فَاتَكُمْ فَأَتِمُّوا : فات د ماضي صيغه ده فات يفوت فوتاً وفواتاً دا هغه شى ته وائي چه مخكښے تير شى چه ادراك ئے نشى كيدے ـ

فاتموا : اى اكملوا ما فاتكم من الصلاة على ما ادركتم منها ـ يعني كوم مونځ چه درنه فوت شى دا په هغه مونځ باندے پوره كړئ كوم چه تاسو لاندے كړو ـ

فوائد الحديث : (١) – حديث نه معلومه شوه چه جماعت سره مونځ كول واجب دى او ډير احاديث ددے په وجوب باندے دال دي په خپل ځائے كښې به راشي، ان شاء الله تعالى ـ (٢) – مانځه ته په سكينه او وقار او اطمينان سره راتلل ضروري دى ځكه چه دا حال مناسب دے ددے عظيم عبادت سره ـ

(٣) – دا حديث دليل دے چه د امام د سلام ګرځولو نه مخكښے مقتدى تكبير تحريمه اوكړى او شريك شى نو دا د جَمعے راګيرونكے دے او فضيلت د جماعت ورته حاصل شو او دا مذهب د جمهورو علماؤ دے او مشهور مذهب د امام احمدؒ دے او مجد الدين ابن تيميةؒ اجماع د اهل العلم پدے باندے نقل كړيده ـ

(٤) – بعض وائي : صرف په ركعت موندلو سره مدرك د جماعت ګرځي او كه د ركعت نه كم وى نو مدرك د جمعے نه ګرځي اګركه په نيت سره به ورته اجر د جمعے ملاؤ شي ـ او كوم ځائے كښے چه شريك شوے وى، هغه به د مانځه نه نه حسابوى بلكه دا به

صرف د امام په تابعدارئ كښې كوي او دا قول تقي الدين ابن تيمية مختار كړيدے كما قال الشيخ البسام في توضيح الاحكام (٢٧٨/٢) او دليل پدے باندے حديث دے : من ادرك ركعة من الصلاة فقد ادركها، صحيح البخاري (١٥١/١) ومسلم (١٦١) باب المساجد ـ
يعني چا چه د مانځه نه يو ركعت لاندے كړو هغه مونځ لاندے كړو ـ
(٥)- دا حديث دليل دے چه امام په هر حالت كښې وي مقتدي لره مستحب دي چه هغه سره په مانځه كښې شامل شي او دا په بل حديث كښې راغلي دے چه ډير اصرح دے ددے حديث نه : من وجدني راكعاً او قائماً او ساجداً فليكن معي على حالتي التي انا عليها، اخرجه ابن ابي شيبة فتح الباري (٩٤/٢) نيل الاوطار (١٨٧/٣) سبل السلام (٧٤/٢) ـ او اشاره ده چه دده دا تكبير تحريمه د مانځه نه حساب ده او دا په مانځه كښې داخل دے خو دغه اجزاء د مانځه به د مانځه نه نه حسابوي ترڅو چه ركعت ئے نه وي لاندے كړے ـ
٦- **فائده** : وما فاتكم فاتموا – اكثر رواياتو كښې د اتموا لفظ دے او په بعض رواياتو كښې فاقضوا لفظ دے ـ

مسئله : مسبوق به د امام د فراغت نه اول مونځ حسابوي او كه آخر

دے حديث كښې بله مسئله دا بيانيږي چه مسبوق (كوم انسان نه چه بعض ركعاتونه فوت شوي وي) د امام سره شريك شي نو آيا دا به اول د مونځ حسابيږي او كه آخر د مونځ نو پدے كښې مشهور دوه قوله دي ـ
(١) – **اول قول** دا دے چه د امام سره كوم مونځ لاندے كړي دا ئے اول سر د مونځ شو او د امام د سلام ګرځولو نه روستو چه كوم مونځ يوائے ځانله كوي، نو دا ئے آخر د مونځ دے او دا مذهب د امام شافعيؒ دے ـ او ابن ابي شيبه (٣٢٣/٢) د عمر، علي، ابو الدرداء رضي الله عنهم – او د عمر بن عبد العزيز، سعيد بن المسيب، حسن بصري، او سعيد بن جبير – رحمهم الله – نه نقل كړيدے او ابن منذر د مكحول، عطاء، زهري، اوزاعي، سعيد بن عبد العزيز، اسحاق بن راهويه او مزني – رحمهم الله – نه نقل كړے او ابن المنذرؒ وائي دا قول زما هم دے ـ او بيهقي : د ابن عمر، محمد بن سيرين، او ابو قلابه رحمهم الله – نه نقل كړے او دا روايت د امام احمدؒ هم دے ـ او امام نوويؒ د جمهور علماء د سلف او خلف نه نقل كړے ـ انظر طرح التثريب للعراقي (٣٦٣/٢)، شرح المهذب (٢٢٠/٤) السنن الكبرى (٢٩٩/٢) ـ او دا قول د موفق ابن قدامةؒ او المجد او شيخ الاسلام ابن تيميةؒ او

ابن القيمؒ دے او شيخ عبد العزيز بن باز او شيخ بسامؒ غوره كړيدے ۔ (توضيح الاحكام (٢٧٩/٢) ۔

پدے باندے راتلونكى احكام تفريع كيږى : كله چه دا شخص د امام سره شريك شى نو سبحان وغيره به وائى او بيا تعوذ او تسميه او فاتحه به لولى، مثلًا كه يو شخص نه د ماښام دوه ركعات فوت شى او يو ركعت لاندے كړى نو دا چه د امام سره شريك شو، سبحان، تعوذ او تسميه او فاتحه به اووائى بيا چه كله امام سلام اوګرځولو نو دے به اودريږى په اول ركعت كښے (كوم چه يوائے كوى) قرائت به په جهر سره كوى يعنى سورتِ فاتحه او يو سورت به اولولى په جهر سره او ددے ركعت نه روستو به قعده اوكړى بيا به دريم ركعت ته پاځيږى او هغه به تش اوكړى صرف فاتحه به لولى ځكه د امام آخرى تش ركعت دده دپاره اول ركعت اوګرځيدو دلته هم د مسبوق درے قعدے شوے ۔

٢– او كه دده نه يو ركعت د ماښام فوت شو نو بيا به هم درے قعدے كوى مثلا امام چه په دويم ركعت قعده اوكړه دا به دده اول ركعت وى بيا چه امام دريم ركعت ته پاځيدو دا به دده دويم ركعت وى، امام چه قعده آخره اوكړه دے به هم ورسره قعده اوكړى بيا به پاځيږى او يو ركعت به تش اوكړى او بيا به دريمه قعده اوكړى، نو ددے مسبوق درے قعدے شوے او د امام دوه قعدے شوے ۔

امام زهرىؒ فرمائى : مونږ ته به سعيد بن المسيبؒ فرمائيل چه ما ته داسے درے ركعاته مونځ بيان كړئ چه درے كرتے تشهد پكښے لوستلے شى، كله به چه د هغه نه تپوس اوشو چه تاسو ئے را ته اوښايئ ! هغه به وئيل : دا د مسبوق ماښام مونځ دے چه يو ركعت د امام سره اومومى كذا فى المدونة الكبرىٰ (٩٦/١) والبيهقى (٢٩٩/٢) ۔

٣– د ماسخوتن په مانځه كښے كه دده نه دوه ركعاته فوت وى نو د امام د سلام نه روستو به دواړه ركعتونه سراً تش كوى يعنى صرف فاتحه به لولى ځكه دا دده دپاره اخيرى ركعتونه دى ۔

٤– او كه د صبا مونځ كښے يو ركعت ترے فوت شى نو د يو ركعت قضائى به د فاتحے او سورت سره په جهر باندے كوى ۔ ٥ – او ماسپښين او مازيګر كښے كه درے ركعاته ترے فوت وى، نو د امام د سلام نه روستو به يو ركعت ډك اوكړى او بيا به قعده اوكړى، او د قعدے نه پس به دوه ركعاته تش اوكړى او كه دوه دوه ركعاته ترے فوت وى، نو د امام د سلام نه روستو به په خفيه طور سره دوه ركعاته بغير د قعدے نه تش اوكړى او كه يو

رکعت ترېے فوت وي، نو د امام د سلام نه روستو به یو رکعت تش اوکړي بغیر د جهر نه ـ
دارنګه پدې باندې مسئله د رفع الیدین هم متفرع ده ـ

دلائل ددې قول :

١ - **اول دلیل** : دا علماء استدلال کوي ددې حدیث متفق علیه نه چه : وما فاتکم فاتموا الخ یعنی کوم مونځ چه درنه د امام سره فوت شو نو ځانله د هغه اتمام اوکړئ ! او د اتمام اطلاق د یو شي په هغه باقي مانده حصه باندې کیږي چه د هغه نه مخکښې څه حصه تیره شوي وي کما قال الماوردي وابو حامد : واتمام الشئ لایکون الا بعد تقدم اوّله وبقیة آخره، نووی شرح المهذب (٤/٢٢١) نو هر کله چه د اتمام اطلاق په باقي حصه باندې کیږي نو د امام د خپل مونځ ختمولو نه پس مسبوق چه کوم مونځ اداء کوي هغه باقي حصه شوه او اوله حصه ئې هغه ده چه د امام سره ئې موندلې ده معلومه شوه چه د مسبوق د امام سره شریك کیدل دا د هغه دپاره اول د مونځ دې، او د امام د سلام نه روستو چه کوم مونځ یوائې کوي دا ئې آخر د مونځ دې ـ

٢ - **دویم دلیل** : علي بن ابي طالب او ابن عمر رضی الله عنهم نه روایت دې فرمائي : ما ادرکت فهو اول صلاتك اخرجه البیهقي في السنن الکبری (٢/٢٩٨)ـ

٣ - عمر بن الخطاب او ابو الدرداء رضی الله عنهما فرمائي : ما ادرکت من آخر صلاة الامام فاجعله اول صلاتك ـ السنن الکبری (٢/٢٩٩) ـ

٤ - عن عبید بن عمیر : انه فاتته رکعة من المغرب فلما سلم الامام قام حتی رفع صوته بالقرائة فکانی اسمع قرائته (فَاَنْذَرْتُکُمْ نَاراً تَلَظّٰی) ـ عمرو بن دینار فرمائي : د عبید بن عمیر نه د ماښام یو رکعت فوت شو د امام د سلام ګرځولو نه پس پاڅیدو او په جهر سره ئې دا آیت اولوستلو (فانذرتکم الخ) ګویا ګنبې زه ئې اوس اورم ـ

٢ - **قول ثاني** دا دې چه مسبوق د امام سره کوم مونځ اومومي دا ئې آخر د مونځ دې نه اول او د امام د سلام ګرځولو نه روستو به د اول مانځه قضاء راوړي په افعال او اقوالو کښې او دا قول بالکل عکس د اول قول دې -- ا ودا قول د امام ابو حنیفه او ابن ابي شیبه د ابن مسعود، ابن عمر، ابراهیم نخعي، مجاهد، ابو قلابه، ابن سیرین او شعبي نه نقل کړې ـ او علامه ابن المنذرؒ د مالك او سفیان ثوري نه نقل کړې او دا قول د امام احمد دې طرح التثریب (٢/٣٦٢) التنقیح لابن عبد الهادي (٢/٣٩) شرح المهذب (٤/٢٢٠) لیکن په مسائل د امام احمد کښې دی ص (١٠٧) ددې روایت خلاف روایت موجود دې ـ

د امام احمد ځوی عبد الله وائی : سمعت ابی یقول فی الرجل تفوته بعض الصلوة مع الامام یجعل ما ادرك اول صلاته ـ

ددے علماؤ **دليل** روايت د مافاتكم فاقضوا دے يعنی نبی عليه السلام فرمائی : د امام سره چه كوم مونځ درنه فوت شو نو د سلام نه روستو ځانله د هغے قضائی راوړئ ! دا دليل دے چه قضاء د فوتی مونځ كيږی نو د سلام نه روستو به دا د اول مانځه قضاء راوړی، معلومه شوه چه د امام سره كوم مونځ كښ شريك دے، دائے آخر د مونځ دے او د سلام نه روستوئے اول د مونځ شروع كيږی ـ

او دوئ وائی فاتموا والا روايت راجع دے فاقضوا روايت ته او د فاتموا معنی داسے كوی كما قال ابن عبد الهادی فی التنقيح (٣٩/٢) : فاتموا قضاءً يعنی اتمام اوكړئ د فوتی مونځ ! اتموا سره هم د ما فات قضاء راوړل مراد شو ـ ليكن نور علماء وائی چه دا خبره ضعيفه بلكه خطاء ده وجه دا ده چه قضاء په معنی د قضائی راوړلو سره او د فوتی مونځ اعاده كولو سره دا اصطلاح حادث ده د متأخرين فقهاؤ او عرب قضاء په معنی د اداء او فعل استعمالوی لكه قرآن كښے دی : فَإِذَا قَضَيْتُم مَّنَاسِكَكُمْ ای اديتموها وفرغتم عنها ، فَقَضَاهُنَّ سَبْعَ سَمٰوَاتٍ ، فَإِذَا قُضِيَتِ الصَّلَاةُ ـ انظر فتاوی اللجنة (٤٠٦/٦)ـ

ليكن مونږ وايو چه قضاء هم په معنی د قضاء سره په لغت عربی كښ راغلے دے لكه په حديث د ام هانئ كښ راغلی دی : (فان شئت فاقضِ وان شئت فلا تقضِ) اخرجه احمد (٣٤٣/٦) والدارمی (١٦/٢) والصحيحة (٧١٧/٦) ومعانی الآثار (٣٥٣/١) وقد مر فی مسئلة لزوم النفل بالشروع فی المجلد الاول من هذا الكتاب ـ دارنګه په حديث د معاذه كښ راځی چه هغے د عائشے نه تپوس اوكړو مابال الحائض تقضی الصوم ولا تقضی الصلاة قالت احرورية انت ؟ الخ متفق عليه ـ نو داسے وئيل پكار دی چه غالباً قضاء په معنی د قضاء نده راغلے او كله كله راغلے ده ـ

او جمهور د فاقضوا روايت نه داسے جواب وركوی چه د كوم راويانو اتموا نقل كړے نو هغه اكثر او احفظ دی او د ابو هريرة لازم شاګردان دی او كوم راويان چه فاقضوا نقل كوی هغه قليل او غير لازم دی نو روايت د اكثرو اولیٰ دے كما قال الحافظ البيهقی فی السنن الكبرىٰ (٢٩٨/٢) والعراقی فی الطرح والنووی فی المجموع (٢٢١/٤) وابن تيمية فی الفتاوی ـ

علامه عراقیؒ وائی : قال مسلم فی التمييز لا اعلم روی هذه اللفظة عن الزهری غير ابن عيينة واقضوا ما فاتكم قال مسلم : واخطأ ابن عيينة فيها وقال ابوداود : قال يونس والزبيدی

وابن ابی ذئب وابراهیم بن سعید ومعمر وشعیب بن ابی حمزة عن الزهری فاتموا وقال ابن عیینة وحده فاقضوا الخ یعنی فاقضوا روایت مرجوح دے او فاتموا روایت راجح دے ځکه دا اکثر شاگردانو نقل کړیدے (نفس المصدر)۔

★– لیکن حافظ ابن حجرؒ په فتح الباری (۲/۹٤) کښې فرمائی: هر کله چه مخرج د حدیث یو دے او اختلاف صرف په یو لفظ کښې دے او ددے اختلاف رجوع یو معنی ته ممکن وی نو جمع د دواړو اولیٰ ده، او هغه دا چه فاقضوا به په معنی د فراغ او اداء سره شی نو دا به راجع شی اتموا ته لهذا پدے کښې حجت نشته د هغه چا دپاره چه تمسك کوی په (فاقضوا) باندے انتهی مختصرا۔

او دغه شان تطبیق د روایتینو ابن عبد الهادی په التنقیح (۲/٤۱) کښې کړیدے، فرمائی: والتحقیق انه لیس بین اللفظتین فرق فان القضاء هو الاتمام فی عرف الشرع قال الله تعالی: فاذا قضیتم مناسککم الخ والعراقی فی الطرح والشیخ بسام فی توضیح الاحکام (۲/۲۷۹) وابن تیمیة فی الفتاویٰ۔

۳- دلیل: پدے خبره چه د امام سره کوم مونځ لاندے کړے هغه اول د مونځ دے ولے که دا آخر د مانځه وے نو دے مونځ کونکے به اعاده د تشهد نه کولے حال دا چه د امام د سلام نه روستو دا تشهد ته محتاج دے مثلا په مابنام کښې ترے یو رکعت فوت شو نو چه امام سلام واړوی نو دے به رکعت کوی او بیا به تشهد هم وائی – نو که د امام د سلام نه روستو دا دده اول د مونځ شروع کیدے نو بیا به ئے تشهد نه کولے او امام نووی او حافظ ابن حجر فرمائی: چه پدے مسئله کښې دا ډیر واضح دلیل دے۔

٤- دلیل: ابن المنذرؒ ددے دپاره دا استدلال هم کړیدے چه د علماءِ امت اجماع ده پدے خبره چه تکبیر افتتاح صرف او صرف په اول رکعت کښې وی نو که د امام سره لاندے کړے مونځ آخر د مانځه وے نو بیا خو تکبیر تحریمه په آخر کښې یا وسط کښې راغله وهو باطل بالاجماع۔ فتح الباری (۲/۹٤) ومرعاة المفاتیح (۲/۳۹۰) بتغیر یسیر۔

ثمره د اختلاف:

ثمره د اختلاف د دواړو قولونو ترمینځ په یو څو طریقو ښکاره کیږی

۱– یو دا چه ثمره د اختلاف ښکاره کیږی په تش او ډك رکعات کولو کښې نو څوك چه د امام سره لاندے کړے مونځ اول حسابوی نو که د ماسپښین یا ماز یگر کښې دوه رکعاته ترے فوت شوی وی نو ځانله به ئے تش کوی عند الجمهور او ډك به ئے کوی عند

الاحناف او ددے نورصورتونه هم شته په خپل فکرئے جوړه وه ! ـ

٢- دويم : په ماښام کښے چه دوه رکعاته قضاء شي نو عند الجمهور درے قعدے به کوی او عند الاحناف دوه قعدے به کوی ـ يوه ئے د امام سره اوکړه او يوه به ځانله په آخر کښے اوکړی فتدبر ! ـ

٣- پدے باندے مسئله د قنوت او جهر د قرائت هم تفريع شوه نو که په آخر رکعت د وترو کښے ئے د امام سره قنوت اوکړو نو ځانله چه کوم باقی مونځ راګرځوی په هغے کښې به دوباره قنوت لولی عند الجمهور ځکه چه اول قنوت په متابعت د امام کښے اوشو نو ځانله به په خپل مقام کښے دوباره قنوت وائی لکه د تشهد پشان ـ شرح المهذب (٤/٢٢٠)

ـ ★ - دارنګه که د ماسخوتن درے رکعاته ترے قضاء شو نو د سلام نه روستو اول رکعت کښے جهر سره قرائت کول مستحب دی عند الجمهور نه عند الاحناف ـ

٤- دارنګه رفع اليدين مسئله هم تفريع کيږی مثلا ماښام مانځه کښے ترے يو رکعت قضاء شو نو د سلام نه روستو چه پاخيږی رفع اليدين به نکوی او دويم رکعت نه روستو به ئے کوی وفيه صور کثيرة تفکر فيها ـ

پدے **مقام** کښے يو **دريم قول** (٣) هم شته او هغه دا چه مسبوق کوم رکعت د امام سره موندلے دے نو دا په اعتبار د افعالو سره اول الصلاة دے لهذا په هغے باندے به بناء کوی او په اعتبار د اقوالو سره آخر د مانځه دے نو فيقضيها ـ د باقی مانځه قضائی به راوړی په اقوالو کښے ـ او دا قول د امام مالک دے او په همدے کښے احتياط دے نو کوم سړی نه چه درے رکعاته فوت شی نو د امام د سلام نه بعد به پاخيږی يو رکعت به ډک اوکړی يعنی فاتحه او سورت به پکښے اووائی بيا به کينی او تشهد به اووائی ، بيا به پاخيږی دوه رکعاته به اوکړی اول رکعت به ډک اوکړی يعنی فاتحه او سورت دواړه به اووائی او دويم آخری رکعت به تش اوکړی نو دا په اعتبار د افعالو سره اول د مونځ حساب شو او په اعتبار د اقوالو سره آخر د مونځ حساب شو او پدے کښے جمع بين الروايتين راځی او عمل په دواړو لفظونو کيږی (فاقضوا وفاتموا) او پدے کښے احتياط دے که ته وائے چه پدے کښے خو زيادت د سورت راغے د فاتحے نه علاوه نو جواب دا دے چه په تش رکعاتونو کښے هم زيادت په فاتحه کله کله جائز دے او که دلته صرف په فاتحه باندے اکتفاء اوشی نو کيدے شی چه دا آخر د مونځ وی بيا به درنه سورت پاتے شی نو احتياطاً پکښے سورت هم اووايه ځکه په زيادت د سورت کښں نقصان نشته هغه مشروع دے خو

په سورت پريخودو کښې نقصان دے او دليل پدے قول باندے حديث د قتادة دے : ان علياً قال : ما ادركت مع الامام فهو اول صلاتك واقض ماسبقك به من القرآن اخرجه البيهقى فى السنن (٢/٢٩٩) وفى الفتح (٢/٩٤) وطرح التثريب (٢/٣٦٢) ـ

يعنى د امام سره چه دے کوم مونځ اوموندو نو دا ستا اول د مونځ دے او کوم قرآن چه درنه مخکښې تير شويدے د هغې قضائى راوړه ـ والله اعلم وبالله التوفيق ـ

فائده : فما ادركتم فصلوا نه علامه ابن حزم الظاهرى استدلال کړيدے پدے مسئله چه يو سړے مسجد ته راشى او امام په قعده آخره ناست وى او سلام ئے لا نه وى ګرځولے نو ده باندے دا واجب دى چه د امام سره به مانځه کښې شامليږى ، برابره خبره ده که په بل مسجد کښې د اول سر نه تول مونځ لاندے کولو طمع ئے وى يا نه وى ځکه چه دلته فما ادركتم فصلوا امر د وجوب دپاره دے او دا په ظاهر باندے محمول دے ـ او بيائے د سلفو نه آثار ذکر کړيدى چه په هغې کښې امر دے په کولو د هغه مونځ چه کوم ئے موندلے وى ليکن علامه زين الدين العراقى وائى : ددے امر په استحباب باندے حمل کول ممکن دى لکه څنګه چه جمهورو په استحباب باندے حمل کړيدے ـ

الفصل الثالث - دريم فصل

٨ - عَنْ زَيْدِ بْنِ اَسْلَمَ قَالَ عَرَّسَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ لَيْلَةً بِطَرِيْقِ مَكَّةَ وَوَكَّلَ بِلَالًا اَنْ يُوْقِظَهُمْ لِلصَّلَاةِ فَرَقَدَ بِلَالٌ وَرَقَدُوْا حَتّٰى اسْتَيْقَظُوْا وَقَدْ طَلَعَتْ عَلَيْهِمُ الشَّمْسُ فَاسْتَيْقَظَ الْقَوْمُ فَقَدْ فَزِعُوْا فَاَمَرَهُمْ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ اَنْ يَّرْكَبُوْا حَتّٰى يَخْرُجُوْا مِنْ ذٰلِكَ الْوَادِيْ وَقَالَ : « اِنَّ هٰذَا وَادٍ بِهٖ شَيْطَانٌ » فَرَكِبُوْا حَتّٰى خَرَجُوْا مِنْ ذٰلِكَ الْوَادِىْ ثُمَّ اَمَرَهُمْ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ اَنْ يَّنْزِلُوْا وَاَنْ يَتَوَضَّأُوْا وَاَمَرَ بِلَالًا اَنْ يُّنَادِىَ لِلصَّلَاةِ اَوْ يُقِيْمَ فَصَلّٰى رَسُوْلُ اللهِ ﷺ بِالنَّاسِ ثُمَّ انْصَرَفَ وَقَدْ رَاٰى مِنْ فَزَعِهِمْ فَقَالَ : «يَا اَيُّهَا النَّاسُ اِنَّ اللهَ قَبَضَ اَرْوَاحَنَا وَلَوْ شَاءَ لَرَدَّهَا اِلَيْنَا فِىْ حِيْنٍ غَيْرِ هٰذَا فَاِذَا رَقَدَ اَحَدُكُمْ عَنِ الصَّلَاةِ اَوْ نَسِيَهَا ثُمَّ فَزِعَ اِلَيْهَا فَلْيُصَلِّهَا كَمَا يُصَلِّيْهَا فِىْ وَقْتِهَا ثُمَّ الْتَفَتَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ اِلٰى اَبِىْ بَكْرٍ الصِّدِّيْقِ فَقَالَ : «اِنَّ الشَّيْطَانَ اَتٰى بِلَالًا وَهُوَ قَائِمٌ يُصَلِّىْ فَاَضْجَعَهٗ ثُمَّ لَمْ يَزَلْ يُهَدِّئُهٗ كَمَا يُهَدَّأُ الصَّبِىُّ حَتّٰى نَامَ ثُمَّ دَعَا

رَسُوْلَ اللهِ ﷺ بِلَالًا فَاَخْبَرَ بِلَالٌ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ مِثْلَ الَّذِیْ اَخْبَرَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ اَبَا بَكْرٍ فَقَالَ اَبُوْبَكْرٍ اَشْهَدُ اَنَّكَ رَسُوْلُ اللهِ . رَوَاهُ مَالِكٌ مُرْسَلًا .

ترجمه : زید بن اسلم رضی الله عنه فرمائی : چه رسول الله ﷺ د مکے معظمے په لاره کښے (د آرام کولو دپاره) په آخر د شپه کښے کوز شو او بلال ؓ ته ئے حکم اوکړو چه د (سحر) مانځه دپاره تول رابیدار کړی او کله چه تول خلق اوده شو (لګ وقت پس د خوب د غلبے په وجه) د بلال سترګے هم ورغلے ۔ (اول رسول الله ﷺ او د هغه نه بعد) تول خلق په هغه وقت رابیدار شو چه کله نمر راختلے وو ۔ تول خلق (د مانځه د قضاء کیدو په وجه) اوویریدل ۔ رسول الله ﷺ خلقو ته حکم اوکړو چه سواره شی تردے چه ذدے میدان نه اوځی ۔ او وے فرمائیل : چه دا یو داسے میدان دے چه پدے باندے شیطان مسلط دے نو تول خلق سواره شو تردے چه ددغه کندے نه اووتل ۔ (یو ځائے ته چه اورسیدل) رسول الله ﷺ اوفرمائیل : چه (دلته) کوز شئ او اودسونه اوکړئ او بلال ؓ ته ئے حکم اوکړو چه د مانځه دپاره اذان او تکبیر اوکړی ۔ بیا رسول الله ﷺ خلقو ته (د سحر) مونځ (قضاء) اوکړو، کله چه د مانځه نه فارغ شو خلق ئے په ګبراویدو اولیدل نو (تسلی ورکولو دپاره ئے) اوفرمائیل : چه اے خلقو الله تعالیٰ (په خوب کښے) زمونږ روحونه قبض کړی وو که هغه غوختے نو زمونږ روحونه به ئے په بل وقت (یعنی د نمر ختلو نه مخکښے) راواپس کړی وے، لهذا که ستاسو نه څوک د مانځه نه اوده پاتے شی یا ترے هیر شی او (پدے غفلت او نسیان سره) اوویریږی نو هغه له پکار دی چه هغه دا مونځ همغه شان (اذان او تکبیر او جمعے سره) اوکړی څنګه ئے چه په خپل وقت کښے کولو ۔ بیا رسول الله ﷺ ابوبکر صدیق ؓ ته اوکتل وے فرمایل : بلال ؓ په ولاړه مونځ کولو چه شیطان د هغه خواته راغلو او هغه ئے (کجاوے ته) په تکیه باندے مجبور کړو او څنګه چه ماشوم (د اوده کولو دپاره) تپولے شی شیطان هغه لره اوتپولو ۔ تر دے چه بلال ؓ باندے خوب راغلو ۔ بیا رسول الله ﷺ بلال ؓ ته حکم اوکړو ۔ بلال ؓ راغلو او هغه ته ئے داسے بیان اوکړو څنګه چه رسول الله ﷺ ابوبکر صدیق ؓ ته بیان کړے وو ۔ ابوبکر ؓ (چه د بلال ؓ بیان واوریدو) وے فرمائیل : زه ددے خبرے (پوره یقین سره) ګواهی ورکوم چه ته د الله رسول ئے ۔ (دا روایت امام مالک ؒ مرسلا نقل کړیدے) ۔

تشریح : داسے قسم واقعه مخکښې په حدیث نمبر (٥) کښې ذکر شوه، ظاهر دا معلومیږی چه دا واقعه جدا ده د هغه واقعې نه ځکه چه هغه د خیبر او مدینې په لاره کښې راپیښه شویده او دا واقعه د مدینې او د مکې په لاره کښې راپیښه شویده او په ابوداود کښې د ابن مسعودؓ په روایت کښې دی : (اقبل النبی ﷺ من الحدیبیة لیلا فنزل فقال : من یکلؤنا فقال انا الخ) او په مصنف عبد الرزاق کښې د عطاء بن یسار مرسلا روایت دے چه دا د تبوك په لاره کښې وه او په ابوداود کښې د ابوقتادهؓ په حدیث کښې دی چه دا په غزوه جیش الامراء کښې واقع شویده نو پدے کښې بعض علماؤ وئیلی دی چه دا توله یوه واقعه ده او ددے روایاتو د جمع کوشش ئے کړیدے ۔ لیکن دا تکلف دے صحیح خبره دا ده چه دا قصه د تعریس ډیر کرتے په مختلف مقاماتو کښې راپیښه شویده لکه دا خبره قاضی عیاضؒ، حافظ ابن حجرؒ او امام نوویؒ راجح کړیده ځکه چه سیاق ددے واقعاتو مختلف دے او مواقع ئے هم مختلف دی او دا قول د اکثرو محدثینو دے ۔

ابن عربیؒ وائی قصه د تعریس درے کرتے واقع شویده ۔

« اِنَّ هٰذَا وَادٍ بِهٖ شَیْطَانٌ » : پدے کښې رد دے په هغه چا چه وائی چه نبی علیه السلام د مونځ قضائی روستو کړه ددے وجه نه چه مکروه وقت اوځی بلکه وجه دا ده چه پدے مقام کښې د شیطان تسلط زیات وو او د غفلت مقام نه ځان ویستل پکار دی ۔

بعض جاهل خلق وائی : شیطان خو هر ځائے کښې شته نو پیغمبر څنګه وائی چه پدے وادی کښې شیطان دے ؟ ۔ لیکن ددے جواب دا دے چه اګرچه شیطان هر ځائے موجود دے مګر په بعضے ځایونو کښې د شیطان تسلط او وسوسه قوی وی او په بعضو ځایونو کښې ئے وسوسه کار نه ورکوی او پدے مقام کښې چونکه د شیطان تسلط زیات وو او نبی علیه السلام د هغه د تسلط په اثر باندے پوهه شو پدے وجه ئے دا اووئیل پدے مقام کښې شیطان دے د شیطان د خوشحالئ مقام دے او خلق غفلت کښې وو او بیا روسته ورته خلق بیدار او هوشیار وی فوضح الفرق ۔ وقد تقدم فی ص (۱۷۹) فی باب تعجیل الصلاة حدیث نمبر (۱۵) ۔

اَنْ یُّنَادِیَ لِلصَّلَاةِ اَوْ یُقِیْمَ الخ : دلته لفظ د او یا د مطلق جمع دپاره دے لکه د واو پشان چه دا د دوه څیزونو جمع کولو دپاره استعمالیږی او همدا احتمال صحیح او ظاهر دے نو معنی به دا شی : نبی علیه السلام بلال ته حکم اوکړو چه د مانځه دپاره اذان او اقامت اوکړی او دا احتمال ځکه ظاهر دے چه دا په حدیث د ابوقتادهؓ وغیره کښې راغلے دے

چه نبی علیه السلام د اذان او اقامت دواړو حکم اوکړو کما فی ابی داود وغیره ـ ۲– دویم احتمال دا دے چه او د شك دپاره دے ـ لیکن دا احتمال مرجوح دے ـ

وَقَدْ رَاٰى مِنْ فَزَعِهِمْ : یعنی رسول الله ﷺ د صحابه کرامو بعض یره او خفگان محسوس کړو د مونځ په فوت کیدو باندے، نو د تسلئ دپاره ئے هغوی ته اوفرمایل : چه پدے کښے ستاسو قصور نشته ، دا الله تعالی په تقدیر کښے دغه شان مقرر کړی وو ـ

فائده : کله چه به خلق پریشان وو، رسول الله ﷺ به هغوی ته تسلی ورکوله او کله به چه بے باکه وو نو زجر به ئے ورکولو ـ

مِنْ فزعهم : کښے من تبعیضیه دے ای ادرك بعض فزعهم ـ

فَاَضْجَعَهٗ : یعنی تکیه ئے کړو هغه لره ـ یعنی شیطان بلال ته داسے وسوسه واچوله چه په هغه باندے غفلت طاری شو لکه مخکښے واقعه تیره شوه چه بلال د تهجد مانځه نه فارغ شو او خپلے کجاوے ته ئے تکیه اولگوله نو شیطان پرے غفلت راوستو او وے تپولو نو اوده شو ـ

پدے مقام کښے دا **سوال** پیدا کیږی چه دلته تعارض دے او هغه دا چه نبی علیه السلام د مانځه د قضاء راوړلو نه پس صحابه کرامو ته اوفرمائیل : ان الله قبض ارواحنا یعنی الله تعالی زمونږ روحونه قبض کړی وو (په خوب کښے) نو ددے نه معلومه شوه چه دا خوب راتلل د الله تعالی په تقدیر بناء دے چه الله تعالی دا غفلت او نسیان راوستو او بیا ابوبکر ته فرمائی : چه شیطان دا کار اوکړو چه بلال ئے غافل اوده کړو نو ظاهر کښ تعارض ښکاری چه کله ددے غفلت نسبت الله تعالی ته کوی او کله شیطان ته ؟ ـ

ددے **جواب** دا دے چه دا مسئله دخلق د افعالو سره متعلق ده یعنی الله تعالی پدے خلقو کښے د نسیان او غفلت اراده اوکړه نو الله تعالی شیطان لره پدے کار باندے قادر کړو چه هغه بلال لره اوتپولو او ددے په وجه ئے ټول ملگری اوده پاتے کړل نو خالق ددے کار الله تعالی دے لیکن شیطان ددے کاسب او فاعل جوړ شو ځکه دواړو ته نسبت اوشو ـ

قَبَضَ اَرْوَاحَنَا : **فائده** : جاحظ معتزلی وائی : د موت او نوم ترمینځ فرق دا دے چه موت عبارت دے د انقطاع تعلق الروح بالبدن ظاهراً وباطناً نه یعنی په مرگ سره د روح تعلق د بدن سره ختمیږی ظاهرا او باطنا او نوم سره انقطاع د روح راځی د ظاهری بدن نه فقط نو دلته قبض الروح مستلزم ندے موت لره بلکه مراد خوب دے لکه دیته اشاره ده پدے آیت کښے ﴿ الله یتوفی الانفس حین موتها والتی لم تمت فی منامها الآیة ﴾ ـ

٢- امام عز بن عبد السلام فرمائی : هر بدن کښې دوه روحه دی یو ته روح الیقظه وائی، د الله تعالی عادت پدے جاری دے چه دا کله په بدن کښې موجود وی نو پدے سره انسان مستیقظ (بیدار، ویښ) وی کله چه انسان اوده شی نو دا قسم روح د بدن نه اوځی، او خوبونه وینی، ٢- دویم روح الحیاة دے د الله تعالی عادت پدے جاری دے چه کله دا قسم روح په بدن کښې موجود وی نو انسان ژوندے وی اګرکه اوده وی۔
ظاهر دا ده چه روح یو دے لیکن تقسیم پکښې په اعتبار د صفاتو سره دے نو په روح کښې صفت د حیات او تمییز دے۔

ثُمَّ فَزِعَ اِلَيْهَا : ای تنبه بالاستیقاظ او التذکیر۔ یعنی رابیدار شی، متوجه شی۔

فَلْيُصَلِّهَا كَمَا كَانَ يُصَلِّيْهَا فِيْ وَقْتِهَا : یعنی کله چه د انسان نه په هیره او خوب حالت کښې مونځ قضاء شی او بیا ورته رابیدار شو نو هغه شان مونځ دِ اوکړی څنګه ئے چه په خپل وقت دغه مونځ کولو۔ او ددے کفاره نشته مګر همدغه مونځ اداء کول دی۔ دا حدیث دلیل دے چه که جهری مونځ قضاء شوے وی نو په وقت د قضاء کښې به جهر کوی او که سری مونځ قضاء شوے وی نو په وقت د قضاء راوړلو کښې به خفیه قرائت کوی، اګرکه حنفی علماء پدے کښې اختلاف کوی او وائی چه په هر صورت کښې دا واجب ده چه قضائی مونځ به په خفیه قرائت سره کوی۔

فائده : د رسول الله ﷺ او د هغه د صحابه کرامو ؓ نه دا مونځ ولے قضاء شو؟ نو پدے کښې ډیر مصلحتونه او حکمتونه دی په جدیث د مسند احمد کښې په روایت د ابن مسعود کښې یو حکمت دا ذکر دے چه که الله تعالی اراده کړے وے چه دوئ ددے مانځه نه اوده پاتے نشی نو اوده شوی به نه وے لکن اراد ان یکون لمن بعدکم۔ یعنی د الله تعالیٰ اراده وه چه د روستنو خلقو دپاره حکم شرعی معلوم شی۔

تنبیه : بعض متفقهه وائی چه کله د انسان نه مونځ قضاء شی نو ددے قضاء به دوه ځل راګرځوی ١- یو په هغه وقت کښې چه کله ورته رایاد شی، یا رابیدار شی ٢- دویم کله چه ددے مانځه پشان د بل مانځه وقت حاضر شی مثلاً د ماسپښین مونځ مازیګر اوکړی نو صبا له چه ماسپښین مونځ وقت راشی نو دوباره به د پرونی ماسپښین مانځه قضاء راوړی او استدلال کوی په حدیث د عمران بن حصین رضی الله عنه چه په ابوداود کښې راغلے دے او په هغے کښې ددے قصے پشان قصه ده او دا الفاظ پکښې دی : من ادرک منکم صلاة الغداة من غد صالحاً فلیقض معها مثلها)۔

ليكن حافظ په فتح الباري (٥٦/٢) كښې فرمائي چه په سلفو كښې هيڅ يو عالم ددے په استحباب باندے قول ندے كړے بلكه دا حديث ئے د راوى نه غلط شمارلے دے او دا خبره امام ترمذي د امام بخاري نه نقل كړيده او ددے تائيد په حديث د نسائي كښې د عمران بن حصين رضي الله عنه په روايت كښې دے : انهم قالوا يارسول الله ! الا نقضيها لوقتها من الغد فقال ﷺ لاينهاكم الله عن الربا ويأخذه منكم ـ يعنى صحابه كرامو اووئيل : يارسول الله ! صبا له دا مونځ په خپل وقت كښې قضاء نه راوړو ؟ نبى عليه السلام اوفرمائيل : الله تعالى داسے نه كوى چه تاسو د سود نه منع كړى او پخپله تاسو نه سود واخلى ـ يعنى د خپل وقت مونځ يو ځل فرض دے كه هغه اداء وى او كه قضاء وى نو فريضه اداء شوه دوباره مونځ كول خو داسے دى لكه سود اخستل چه فرض يو مونځ دے او قضائى دوه مونځونه اوكړے شى انتهىٰ ـ

شيخ الباني فرمائي : دا حديث د ابوداود شاذ دے كما فى ضعيف سنن ابى داود رقم (٤٣٨) او ضعيف الجامع الصغير رقم (٢١١٦)ـ كښې وائى : دا حديث ضعيف دے نو بس قابل د استدلال ندے نو دوباره مونځ كول بدعت دے، هيڅ صحيح صريح حديث پدے باب كښې ندے وارد ـ البته په مسلم (٢٢٩/١) كښې په حديث د ابوقتاده كښې چه په هغے كښې قصه د نوم ذكر ده او په هغے كښې دا الفاظ دى : فاذا كان الغد فليصلها عند وقتها)ـ ليكن امام نووي په شرح مسلم كښې او حافظ په فتح البارى (٥٦/٢) كښې فرمائي : چه ددے حديث مطلب دا دے چه كله د يو انسان نه مونځ فوت شى او بيا ئے قضاء زاوړى نو پدے قضاء سره په آينده (مستقبل) كښې ددے مونځ وقت كښې تغير نه راځى بلكه دغه مونځ لكه څنګه چه مخكښې وو همغه شان به اوس هم باقى پاتے وى نو كله چه صبا له د سحر مونځ كوى نو په خپل معتاد وقت كښې به ئے كوى او د هغه وقت نه به ئے نه اړوى ـ او دا معنى نده چه د فوتى مونځ قضائى به دوه ځل راوړى يو ځل فى الحال او دويم ځل صبا له ـ امام نووي وائى : دا ما چه كومه معنى اوكړه دا د محققينو مختار ده او همدا صواب او حق ده ـ والله اعلم ـ

ثُمَّ لَمْ يَزَلْ يُهْدِئُهُ : دا د باب افعال اهداء نه ماخوذ دے په معنى د آرام كولو او تپولو اوده كولو سره راځى ـ

پدے واقعه كښې د رسول الله ﷺ د نبوت او رسالت د حقانيت معجزه او پيشن ګوئى صادق شويده چه ابوبكر صديق ته ئے د بلال د اوده پاتے كيدو وجه مخكښې نه بيان كړه او

بيا روستو بلال هم همغه شان بيان كړه څنګه چه رسول الله ﷺ ابوبكر ته غائبانه بيان كړے وه.

- **درجة الحديث** : رواه مالك (١٥/١٤/١) دا حديث مرسل او صحيح الاسناد دے څكه زيد بن اسلم تابعي دے او صحابي ئے ندے ذكر كړے دا حديث اګرچه مرسل دے د ټولو راويانو د مؤطا په نيز ليكن ددے معنى په متصل سند په صحيح طريقو سره ثابته ده لكه چه مخكښے تير شو انظر المرعاة (٣٩٣/٢) وتعليق المشكاة (٢١٨/١).

---

٩ - وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : «خَصْلَتَانِ مُعَلَّقَتَانِ فِيْ اَعْنَاقِ الْمُؤَذِّنِيْنَ لِلْمُسْلِمِيْنَ : صِيَامُهُمْ وَصَلَاتُهُمْ». رَوَاهُ ابْنُ مَاجَه.

ترجمه : او ابن عمرؓ فرمائي : چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل : د مسلمانانو دوه خيزونه د مؤذنانو په څټونو كښے زوړند شويدي. يو د هغوى روژے او بل د هغوى مونځونه. (ابن ماجهؒ).


تشريح : خَصْلَتَانِ مُعَلَّقَتَانِ الخ تركيب : خصلتان موصوف معلقتان صفت دواړه مبتداء شوه او للمسلمين ئے خبر دے، او صيامهم وصلاتهم : بيان د خصلتان دے يا بدل دے د خصلتان نه. معنى ئے دا ده : د مسلمانانو دپاره دوه خصلتونه (خويونه) د مؤذنينو په څټونو كښے زوړند دي چه هغه دوه خصلتونه روژے او مونځونه دي مطلب د حديث دا دے چه د مسلمانانو دوه اهم او بنيادي اعمال داسے دي چه هغه په موذن باندے موقوف دي يعنى مؤذن ددے اعمالو د صحت او تكميل ذمه وارد دے اول شے خو روژه ده چه مسلمانان د مؤذنينو په اذان باندے اعتماد كوي او افطار (روژه ماتے) كوي او دويم شے مونځ دے چه د هغے صحيح ادائيګى د مؤذنينو په اذان سره كيږي نو د حديث حاصل دا شو چه مؤذنينو ته ترغيب او ادب وركوي چه هغوى لره پكار دي چه د خپل دے عظيم ذمه وارئ احساس اوكړي او په ډير احتياط سره او د اوقاتو پوره رعايت كولو سره اذان اوكړي. ددے دپاره چه د مسلمانانو پدے دواړو عملونو كښے خلل واقع نشي، ورنه دا مؤذنين به ئے ذمه واروى.

علامه طيبيؒ وائي : پدے حديث كښے د مؤذنينو حال او د مسلمانانو دواړه خصلتونه متعلق كيدل ئے مشابه كړيدي د هغه قيدي د حال سره چه د هغه په څټ كښے

د غلامئ پرې وي چه ددې رسئ نه نشي خلاصيدې مگر په فديه ورکولو سره، يا په ده باندې احسان کولو سره انتهىٰ۔

يعني لکه څنګه چه دغه غلام د غلامئ نه نشي خلاصيدې مگر دا چه فديه ورکړي نو دغه شان دغه مؤذنين د ذمه وارئ نه نشي خلاصيدې مگر دا چه دا ذمه واري په صحيح طريقه اداء کړي۔

درجة الحديث : رواه ابن ماجه (٧١٢)واسناده واهٍ جداً واعله البوصيري بتدليس بقية بن الوليد لانه رواه بالعنعنة عن مروان بن سالم الغفاري الجزري ومروان هذا شيخ بقية فيه شر منه، لانه قال البخاري : منكر الحديث وقال ابو عروبة : يضع الحديث، وقال في التقريب : هو متروك ورماه الساجي وغيره بالوضع۔



باب المساجد و مواضع الصلوة

مساجد او د مانځه ځايونو بيان

مخکښې دوه قسمه فرائض د مانځه بيان شو يو اودس کول دويم وقت معلومول په اذان وغيره سره اوس بل فرض بيانوی چه هغه مکان پيژندل دی نو چونکه غالباً مونځونه په مساجدو کښې کولے شي نو ځکه د هغې احکام راوړی ـ

بيا مواضع الصلاة ئې روستو د المساجد نه ذکر کړو – دا خو يا عطف تفسير دے چه معنی ئې ده: د مانځه د اداء کولو ځايونه ـ

يا دا تعميم بعد التخصيص دے يعنی مساجد خاص دی او مواضع الصلاة عام دی او مقصود پدے کښې د حکم عام کول وی ـ

مسجد په کسره د جيم سره مخالف القياس او موافق الاستعمال دے او په ضمه د جيم موافق القياس مخالف الاستعمال دے موافق القياس ځکه دے چه اسم ظرف د باب نصر نه په وزن د مفعل مضموم العين راځی ليکن استعمال ئې مکسور العين شويدے او په فتحه د جيم مخالف القياس والاستعمال دے ـ

مسجد په **لغت** کښې ځائې د سجدے لګولو ته وائی او په اصطلاح د شريعت کښې: الارض الموقوفة للصلوة فيها وما يتعلق بها يعنی دا هغه زمکے ته وائی چه د مانځه او د متعلقاتو د مانځه (لکه سجده د تلاوت وغيره) دپاره وقف شوے وی ـ

فائده: مساجد په څلور قسمه دی ١– المسجد الحرام ٢– المسجد النبوی ٣– المسجد الاقصی ٤– عام مسجد ـ بيا عام مسجد په دوه قسمه دے مسجد قباء او غير مسجد بيا بل مسجد په دوه قسمه دے جامع مسجد او غير جامع ـ

د اولنی دريو مساجدو خپل فضائل دی چه اول د دويم نه او دويم د دريم نه په فضيلت کښې زيات دی او عام مساجدو کښې د مسجد قباء فضيلت زيات دے پدے کښې دوه رکعاته کول د عمرے ثواب لری ـ لکه روستو به حديث راشي ان شاء الله تعالی ـ او باقی مساجد په فضيلت ذاتی کښې يو شان دی او د عارض د وجے نه د يو بل نه افضل او غير افضل

کیدے شی مثلاً کوم مسجد کښې چه ډیر خلق راجمع کیږی دا خامخا ډیر افضل دے، دارنګه کوم مسجد چه نزدے وی دا افضل دے (مګر هله چه بل مسجد ته په تلو کښې څه مصلحت نه وی)۔

نو مصنف اول د خاص مساجدو احکام راوړی بیا به د عام مساجدو فضائل او احکام بیانوی۔

الفصل الاول - اول فصل

١ – عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ : لَمَّا دَخَلَ النَّبِيُّ ﷺ الْبَيْتَ دَعَا فِيْ نَوَاحِيْهِ كُلِّهَا وَلَمْ يُصَلِّ حَتّٰى خَرَجَ مِنْهُ فَلَمَّا خَرَجَ رَكَعَ رَكْعَتَيْنِ فِيْ قُبُلِ الْكَعْبَةِ وَقَالَ : «هٰذِهِ الْقِبْلَةُ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ وَرَوَاهُ مُسْلِمٌ عَنْهُ عَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ .

ترجمه : ابن عباس رضی الله عنه فرمائی : چه (د فتح د مکے په ورځ) کله چه رسول الله ﷺ بیت الله ته داخل شو نو د هغے په څلورو ګوټونو کښې ئے دعا اوکړه او په غیر د مونځ کولو نه بهر راوتلو بیا کله چه بهر راوتلو نو د کعبے مخے ته ئے دوه رکعاته مونځ اوکړو او وے فرمائیل : دغه قبله ده ۔ (بخاری) او مسلم دا روایت د ابن عباسؓ نه او هغوی د اسامهؓ نه روایت کړیدے ۔

تعارف د اسامه : دا د زید بن حارثه ځوی دے د مور نوم ئے ام ایمن وو یا برکة، د رسول الله ﷺ حاضنه (پرورش کونکے) وه او دا د نبی علیه السلام د پلار عبد الله مولاګئ (وینزه) وه او اسامه د رسول الله ﷺ محبوب او ځوی د محبوب وو رسول الله ﷺ چه کله وفات کیدو دده عمر (٢٠) کاله یا (١٨) کاله وو او بیا په وادی القری کښې اوسیدو او په همدغه ځائے کښې د عثمان د وفات نه بعد وفات شویدے بعض وائی : څه موده مزه علاقه کښں اوسیدو (مزه یوه لویه علاقه ده د دمشق د باغونو ترمینځ ۔ ددے او د دمشق ترمینځ نیم فرسخ فاصله ده) او بیا مدینے ته رانقل شو او په سنه (٥٤ هـ) کښې د (٧٥) کالو په عمر وفات شو ۔ ده لره نبی علیه السلام د خپل وفات نه لګ مخکښں د یو لښکر امیر مقرر کړو چه په هغے کښې ابوبکر او عمر هم وو خو دوی لا وتلی نه وو چه نبی علیه السلام وفات شو بیا ابوبکر شام ته دغه فوج اولیږلو ۔ دده نه (١٢٨) احادیث نقل

دی۔

تشریح : اَلْبَیْتَ : د البیت نه (کعبه شریفه) مراد ده ۔ دعا فی نواحیها کلها : یعنی د کعبې په ټولو اطرافو کښې ئې دعاء اوکړه او په یو روایت کښې دی چه رسول الله ﷺ په کعبه کښې تکبیر هم اووئیلو نو بیا دا حدیث دلیل دے چه په کعبه کښې دعاء او تکبیر وئیل مستحب عمل دے۔

وَلَمْ يُصَلِّ حَتّٰى خَرَجَ مِنْهُ : پدے مقام کښې یو **قوی اشکال** دے او هغه دا چه پدے روایت د ابن عباس کښې دی چه رسول الله ﷺ کله بیت الله ته داخل شو نو هیڅ مونځ ئې پکښې اونکړو او روستو دریم حدیث د ابن عمرؓ کښې راځی چه نبی علیه السلام په کعبه کښې مونځ اوکړو نو دا تعارض ښکاری ددے تطبیق او توفیق به څنګه وی ؟ ۔

الجواب : که ددے دواړو حدیثونو واقعه یوه وی نو بیا تطبیق داسے دے :

(١) – چه بلال د نبی علیه السلام په کعبه کښې د مانځه اثبات کوی او ابن عباسؓ ئې نفی کوی او دا د ټولو محدثینو اجماعی فیصله ده او منلے شوے قاعده ده چه مثبت مقدم وی په نافی باندے نو بلال چه مثبت دے دده روایت به مقدم وی په روایت د ابن عباسؓ باندے، او ددے دوه وجے دی ١ – اوله وجه دا ده چه په دغه ورځ او موقعه کښې بلالؓ د رسول الله ﷺ په ملګرتیا کښې کعبے ته داخل شو او ابن عباسؓ پدے موقعه کښې نه وو حاضر، بلکه هغه چه نفی کوی نو هغه کله اعتماد کوی په اسامه باندے او کله په خپل ورور فضل بن عباسؓ باندے لیکن د فضل بن عباس پدے موقعه باندے حاضریدل صرف په یو شاذ روایت کښې راغلی دی او هر چه د ابن عباس روایت د اسامه نه دے نو هغه مسلم نقل کړیدے لکه چه دا خبره مصنف هم ذکر کړیده ۔

٢ – دویمه وجه دا ده چه د اسامه نه لکه څنګه پدے روایت د ابن عباس کښې نفی ثابته ده نو دغه شان د اسامه نه په روایت د ابن عمرؓ کښې په مسند احمد وغیره کښې اثبات د مانځه هم نقل دے نو د بلال روایت به مقدم وی پدے وجه چه دا مثبت دے او دده سره زیات علم دے ۔ او بله دا چه دده نه په اثبات کښې اختلاف ندے نقل او په اسامه باندے په نفی د مانځه کښې اختلاف راغلے دے، کله اثبات کوی او کله نفی، نو بلال په خپل اثبات مضبوط ولاړ دے او اسامه په اضطراب کښې دے ۔

نو ددے وجه نه د ټولو محدثینو اجماع ده چه روایت د بلال به مقدم وی په روایت د ابن عباسؓ او اسامه باندے ۔

بیا په اسامه باندې دا اختلاف ولې راغلو ؟ ددې وجه بعض علماؤ داسې بیان کړیده چه کوم ځائې کښې اسامه اثبات د مانځه کوی نو په هغه مقام کښې ئې اعتماد کړیدې د بل چا په خبر باندې چه ده ته ئې دا خبر ورکړیدې چه نبی علیه السلام په کعبه کښې مونځ اوکړو او کوم ځائې کښې چه نفی کوی نو دا د خپل علم مطابق نفی کوی ځکه چه ده پخپله نبی علیه السلام په مانځه باندې ندې لیدلې ۔

(۲) – وجه : امام نووی فرمائی : د بلال د روایت ترجیح واجبه ده ځکه چه دې مثبت دې دده سره زیات علم دې او هر چه د اسامه نفی ده نو ددې وجه دا ده چه کله نبی علیه السلام او د هغه بعض ملګری کعبې ته ننوتل نو ځان پسې ئې دروازه بنده کړه او په دعاء باندې مشغول شو نو اسامه نبی علیه السلام لره اولیدو چه دعاء کوی نو اسامه په یو ګوټ کښې په دعاء مشغول شو او نبی علیه السلام په بل ګوټ کښې وو، بیا نبی علیه السلام په یو ګوټ کښې مونځ اوکړو نو بلال اولیدو ځکه چه دې ورته نزدې وو او اسامه اونه لیدو ځکه چه دا ترې وړاندې وو او په خپله دعاء کښې مشغول وو ۔ دارنګه په دروازه بندولو سره په کعبه کښې تیاره هم راغله او دا احتمال هم شته چه د هغه نه بعض ستنو پټ کړې وی نو د خپل ګمان مطابق نفی د مانځه ئې اوکړه او هر چه بلال دې نو هغه یقینی معلومه کړه او خلقو ته ئې خبر ورکړو (لکه روستو روایت کښې ابن عمر فرمائی : ما د بلال نه تپوس اوکړو چه رسول الله ﷺ کوم ځائې مونځ اوکړو ؟ هغه اوفرمائیل : بین العمودین الیمانیین کما فی روایة اخری عند مسلم) ۔

(۳) – بله وجه دا ده چه اسامه ځکه نفی کوی چه دا احتمال شته چه د نبی علیه السلام د مانځه په وقت د یو حاجت دپاره بهر وتلې وی او د رسول الله ﷺ مونځ ئې نه وی لیدلې او ددې تائید په روایت د ابوداود طیالسی المتوفی (۲۰۴ھ) ص (۸۷) کښې دې : عن اسامة قال : دخلت علی رسول الله ﷺ الکعبة فرأی صوراً فدعا بدلو من ماء فاتیته به فضرب به الصور ۔ یعنی اسامه فرمائی زه په رسول الله ﷺ کعبې ته ورداخل شوم هغه تصویرونه اولیدل نو اوبه ئې طلب کړې، ما ورته راوړې او په هغه تصویرونو ئې ور واچولې۔

علامه قرطبیؒ په تفسیر قرطبی (۱۱۶/۲) کښې فرمائی : فیحتمل ان یکون النبی ﷺ صلّی فی حالة مُضِیِ اسامة فی طلب الماء فشاهد بلال ما لم یشاهده اسامة الخ ۔ یعنی دا احتمال شته چه نبی علیه السلام د اسامه د اوبو طلب کولو دپاره تلو په وقت کښې مونځ کړې وی چه بلال لیدلې وی او اسامه نه وی لیدلې نو مثبت اولیٰ شو د نافی نه او پخپله

اسامه نه نقل دی : فاخذ الناس بقول بلال وتركوا قولي ـ يعنی خلقو د بلال خبره قبوله کړه او زما خبره ئے پريخوده انتهى وانظر ايضاً طرح التثريب لابی الفضل العراقی (١٣٥/٥)۔
علامه قرطبیؒ دا هم وائی چه شايد اسامه نفی ځکه کوی چه بيرته زر راګرځيدلے وو ـ مرعاة (٣٩٤/٢) بعض وائی : په روايت د بلال کښے چه د صلی لفظ راغلے دے په دے کښے دا احتمال شته چه په معنی د دُعَا سره وی نو د بلال او اسامه خبره يوه شوه چه مونځ ئے ندے کړے او دا احتمال هم شته چه عرفی مونځ ئے کړے وی او کله چه دواړه احتماله راغلل نو احتجاج ساقط شو كما قال الامام القرطبیؒ فی تفسيره (١١٥/٢) ليکن د امام قرطبی دا خبره زما په نظر صحيح نه ښکاری ـ وجه دا ده چه صلی په معنی د دعا سره پدے مقام کښے نه صحيح کيږی ځکه که دا په معنی د دعا سره شی نو بيا ورسره بلال دا قيدونه ولے ذکر کوی چه صلی بين العمودين اليمانيين او په بل روايت کښے جعل عمودين عن يساره وعموداً عن يمينه وثلاثة اعمدة ورائه الخ حال دا چه دعاء خو په ټولو اطرافو د بيت الله کښے شويده كما فی رواية الباب ـ
بله وجه دا ده چه په روايت د مجاهد عن عبد الله بن صفوان کښے دی : دا وائی ما عمر بن الخطاب ته ووئيل : كيف صنع رسول الله ﷺ حين دخل الكعبة ؟ قال : صلی ركعتين، طرح التثريب (١٣٩/٥) وتفسير القرطبی (١١٦/٢) دلته ورسره ركعتين راغلی دی چه حقيقی مونځ مراد دے نه دعاء۔ او ابن عمرؓ فرمائی : فنسيت ان اسأله كم صلی (بخاری) ددے نه هم صلاة شرعی معلوميږی بله دا چه کله لفظ شرعی ذکر شی نو د شريعت اصطلاح به مراد اخستے شی نه بله اصطلاح ـ
(۲) **دويم تطبيق** : رسول الله ﷺ کعبے ته دوه ځل داخل شويدے يو ځل په فتح د مکه کښے او دويم په حجة الوداع کښے نو په يو کرت کښے ئے صرف دعاء او تکبير وئيلے دے او مونځ ئے ندے کړے او په بل کرتے ئے مونځ کړيدے ـ
امام ابن حبانؒ د دواړو حديثونو توفيق داسے کوی چه زما په نيز باندے بهتره جمع او توفيق دا دے چه دواړه حديثونه په دوه وقتونو کښے اوګنړلے شی کله چه نبی عليه السلام په فتح د مکه کښې بيت الله ته داخل شو نو مونځ ئے پکښے اوکړو لکه چه دا په روايت د ابن عمرؓ کښے د بلالؓ نه نقل دی او د ابن عباسؓ نفی د صلاة په کعبه کښے دا په حجة الوداع کښے ده او ابن عباس ددے نفی اسناد اسامه ته کړے او ابن عمر ثابت کړيدے او ددے اثبات اسناد ئے بلال او اسامه دواړو ته کړے نو کله چه حديثونو دپاره محملونه جدا

جدا شو نو تعارض ختم شو ـ انظر الاحسان بترتيب صحيح ابن حبان (٨٦/٥) والمرعاة (٣٩٤/٢)
او ددے تائید کښے روایت د صحیحینو پیش کوی چه اسماعیل بن ابی خالد وائی : ما د عبد الله بن ابی اوفی رضی الله عنه نه تپوس اوکړو آیا رسول الله ﷺ بیت الله ته په عمره کښے داخل شویدے هغه اوفرمائیل : نه ! – نو بس معلومه شوه چه صرف په فتحه د مکه کښے او په حج کښے داخل شوئیدے ـ

لیکن علامه زین الدین العراقی په طرح التثریب (١٣٦/٥) کښے پدے تطبیق د ابن حبان باندے رد کړیدے او دا ئے وئیلی دی چه د ابن حبان دا تطبیق د صحیح روایت خلاف دے چه په هغے کښے دا دی چه د بلال او اسامه اختلاف صرف په یو ځل داخلیدو کښے دے چه هغه ورځ د فتح د مکه ده چه بلالؓ د مانځه اثبات کوی په فتحه د مکه کښے او اسامه نفی کوی په فتحه د مکه کښے ـ

او بیا ئے وئیلی دی چه ما ته دا علم نشته چه هغه په حج کښے بیت الله ته داخل شوے وی او په عمره او حج کښے شاید پدے وجه ندے داخل شوے چه چرته دا توهم او خیال اونکړے شی چه بیت الله ته داخلیدل د مناسکو د حج نه دی ـ او حال دا چه بیت الله ته داخلیدل د حج سره هیڅ تعلق نه لری بلکه دا یو مستقل سنت دے ـ او د سفیان بن عیینهؒ نه نقل دی چه ما د لا تعداد علماؤ نه اوریدلی دی چه رسول الله ﷺ کعبے ته یو کرتے په فتحه د مکه کښے داخل شویدے او بیا په حج کښے ندے داخل شوے او دا خبره امام نوویؒ هم په شرح مسلم (٤٢٩/١) کښے ذکر کړیده چه صرف په فتح د مکه کښے داخل شویدے نه په حج کښے ـ

لیکن علامه شوکانیؒ فرمائی : حدیث کښے راغلی دی چه عائشه فرمائی : ما ته نبی علیه السلام اوفرمائیل : انی دخلت الکعبة وددت انی لم اکن فعلت انی اخاف ان اکون اتعبت امتی من بعدی ـ دا حدیث دلیل دے چه نبی علیه السلام کعبے ته په غیر د فتح د مکے نه داخل شویدے ځکه چه عائشه ورسره په دغه کال کښے نه وه او ډیر علماء وائی چه صرف په فتح د مکه کښے داخل شویدے لیکن دا حدیث په هغوی رد کوی او دا خبره ثابته شویده چه نبی علیه السلام په عمره کښے ندے داخل شوے نو متعین شوه چه په حج کښے داخل شویدے او پدے خبره امام بیهقی هم جزم کړیدے او پدے کښے دا تاویل کول چه دا ئے عائشے ته په مدینه کښ وئیلی دی – ډیر بعید دی انتهیٰ ـ

لهذا توجیه د ابن حبان صحیح ده چه دوه ځل داخل شویدے ویدل علیه سؤال ابن عمر

عن بلال کم صلی ؟۔

شیخ مبارکفوری په تحفة الاحوذی (۲/۹۶) او حافظ ابن القیمؒ په زاد المعاد (۲/۲۷۳) کښې فرمائی : هذا الحدیث لیس فیه انه کان فی حجته بل اذا تاملته حق التأمل اطلعك التامل علی انه کان فی غزاة الفتح واللّٰه اعلم وسألته عائشة ان تدخل فی البیت فامرها ان تصلی فی الحجر رکعتین۔

المسئلة الثانیة : کعبې ته داخلیدل او په هغې کښې دوه رکعاته کول سنت عمل دے لیکن که یو انسان د عوارضو په وجه داخل نشو نو حطیم ته دې داخل شي او دوه رکعاته دې په کښې اوکړي ځکه دا یوه حصه د کعبې نه نو د کعبې د مانځه پشان اجر ورته ملاویږي ۔

المسئلة الثالثة : کعبه کښې دننه مونځ کیږي او که نه ؟ ۔

(۱) **امام شافعیؒ** ، ابوحنیفةؒ، ثوریؒ او یو د جماعت د سلفو رأیه دا ده چه په کعبه کښې دننه فرض او نفل ټول مونځونه کول جائز دی، امام ترمذیؒ فرمائی : والعمل علیه عند اکثر اهل العلم لا یرون بالصلاة فی الکعبة بأساً انتهیٰ ۔

امام شافعیؒ فرمائی : که د کعبې په مینځ کښې مونځ اوکړي چه یو دیوال طرفته ئے مخ وي نو مونځ ئے جائز دے لیکن که دروازې طرفته متوجه شو او دروازه کولاوه وه نو مونځ ئے باطل دے ځکه چه استقبال الی القبله رانغلو ۔

دا جمهور علماء استدلال کوی په آیت : ﴿ اَنْ طَهِّرَا بَيْتِىَ لِلطَّائِفِيْنَ وَالْعَاكِفِيْنَ وَالرُّكَّعِ السُّجُوْدِ ﴾ د مطلق صلاة دپاره ئے د کعبې د صفا کولو حکم کړیدے نو هر قسم مونځ په کعبه کښې جائز دے فرض وي که نفل ۔ ۲– دویم دا چه دننه په کعبه کښې د فرض مونځ کولو په وقت د مانځه ټول شرائط متحقق دی، استقبال د قبلې هم شته ځکه چه په قبله کښې استیعاب شرط ندے ۔

۲– **دویم قول** دا دے چه په کعبه کښې دننه نفل جائز دی لیکن فرض مونځ په کعبه کښې دننه کول مکروه دی او دا قول د امام مالكؒ او عطاء بن ابی رباحؒ دے او یو روایت د امام احمدؒ دے ۔

۱– **دلیل** – دا دے آیت کښې دی : ﴿ فَوَلُّوْا وُجُوْهَكُمْ شَطْرَهٗ ﴾ : پدے آیت کښې کعبې طرفته د متوجه کیدو حکم شویدے او کله چه انسان دننه داخل شي نو بعضے حصے ته توجه راغله مګر بعضے حصے ته شا راغله ۔

الجواب : دا حکم د اطراف والو دپاره دے کوم چه د کعبے نه ورانده وی ۲ – دارنگه پدے آیت باندے عمل بیا هم راځی ځکه چه بعضے حصے طرفته توجه راغله او اګرکه بعضے حصے ته شا راځی خو پدے کښے څه حرج نشته ځکه مخکښے تیر شو چه په قبله کښے استیعاب شرط ندے صرف یو طرف ته متوجه کیدل هم کافی دی۔

۲ – **دلیل** : امام قرطبیؒ وائی : دا حدیث الباب نص دے پدے مسئله کښے چه رسول الله ﷺ په کعبه کښے مونځ اونکړو او بهر راووتلو او قبلے طرفته متوجه شو دوه رکعاته ئے اوکړل ۔ تفسیر القرطبی (۱۱٦/۲)۔

لیکن ددے جواب مخکښے نه معلوم شو چه رسول الله ﷺ لکه څنګه چه د کعبے نه بهر مونځ کړیدے نو د بلال په روایت کښے ثابته شوه چه دننه ئے هم مونځ کړے او په روایت د بخاری (۵۷/۱) کښے صراحةً دوه ځل دوه رکعاته مونځ ثابت دے دننه او بهر : فسألت بلالا اصلى النبی ﷺ فی الکعبة ؟ قال : نعم ! رکعتین بین الساریتین اللتین علی یساره اذا دخلت ثم خرج فصلی فی وجه الکعبة رکعتین ۔

فِيْ قُبُلِ الْكَعْبَةِ : قبل د قاف او باء ضمه ده او کله باء ساکنه هم راځی یعنی د کعبے مقابل کښې ئے مونځ اوکړو، دروازے ته مخامخ ۔

هٰذِهِ الْقِبْلَةُ : ددے عبارت ډیر مطلبونه بیان شویدی : (۱) – امام خطابیؒ وائی : ددے معنی دا ده چه ان القبلة قد استقرت علی هذا البیت لاینسخ بعد الیوم فصلوا الی الکعبة ابداً فهی قبلتکم ۔ یعنی قبله صرف همدا کعبه مقرر شویده او د نن ورځے نه پس به کعبه نه منسوخ کیږی همیشه دپاره دا ستاسو قبله شوه او دے طرفته مونځونه کوئ ! ۔

(۲) – بعض وائی : مطلب دا دے چه هغه قبله چه تاسو ته د هغے په استقبال او توجه باندے حکم شویدے هغه ټول حرم ندے او نه مکه ده او نه ټول ګیر چاپیره مسجد حرام دے بلکه قبله صرف دغه کعبه ده ۔

(۳) – بعض وائی : مطلب دا دے چه څوک کعبے ته حاضروی نو د هغه حکم دا دے چه عین کعبے ته مخ کول په هغه واجب دی په خلاف د هغه چا نه چه هغه غائب وی ۔

(٤) – او یو بل مطلب دا هم خودلے شویدے چه په هذه کښے اشاره ده د کعبے دروازے او مخے ته او مقصود پدے کښے امت ته د امام د اودریدلو مسنون ځائے ورخودل دی چه امام لره پکار دا ده چه د کعبے په مخ کښے اودریږی نه باقی اطرافو ته اګر که باقی درے طرفونو ته مونځ کول هم جائز دی او اوس هم پدے طریقه باندے عمل کیږی چه امام د کعبے

دروازے طرفته مقام ابراهيم سره مونځ كوى ۔

٢ - عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ دَخَلَ الْكَعْبَةَ هُوَ وَاُسَامَةُ بْنُ زَيْدٍ وَعُثْمَانُ بْنُ طَلْحَةَ الْحَجَبِيُّ وَبِلَالُ بْنُ رَبَاحٍ فَاَغْلَقَهَا عَلَيْهِ، وَمَكَثَ فِيْهَا . فَسَأَلْتُ بِلَالًا حِيْنَ خَرَجَ مَا ذَا صَنَعَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ فَقَالَ : جَعَلَ عَمُوْدًا عَنْ يَسَارِهٖ وَعَمُوْدَيْنِ عَنْ يَمِيْنِهٖ وَثَلَاثَةَ اَعْمِدَةٍ وَرَائَهٗ وَكَانَ الْبَيْتُ يَوْمَئِذٍ عَلٰى سِتَّةِ اَعْمِدَةٍ ثُمَّ صَلّٰى. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ .

ترجمه : او عبد الله بن عمر رضى الله عنه فرمائى : چه (د فتح د مكے په ورځ) رسول الله ﷺ، اسامه بن زيدؓ، عثمان بن طلحه حجبىؓ او بلال بن رباحؓ كعبے ته داخل شو او (بلالؓ يا عثمانؓ) د دننه نه دروازه بنده كړه (دے دپاره چه خلق هجوم اونكړى) ۔ رسول الله ﷺ څه وقت پورے دننه (په دعاء وغيره كښے مشغول) وو ۔ عبد الله بن عمرؓ فرمائى : چه ما بلالؓ نه كله چه هغه (يا نبى عليه السلام) د كعبے نه بهر راووتو تپوس اوكړو چه رسول الله ﷺ (په خانه كعبه كښے) څه اوكړل ؟ بلالؓ اووئيل : چه نبى عليه السلام په ولاړه مونځ اوكړو چه يوه ستنه ئے خپل ګس طرف ته او دوه ښى طرفته او درے د هغه نه شا طرفته اوګرځولے ۔ او په دغه ورځو كښے خانه كعبه كښے شپږ ستنے وے (او اوس درے ستنے دى) ۔ (بخارى ومسلم) ۔

تعارف د عثمان : دده مكمل نوم : عثمان بن طلحه بن ابى طلحه بن عبد العزى بن عبد الدار بن قصى بن كلاب العبدرى دے د صلح حديبيه په زمانه كښے ئے د عمرة القضاء نه روستو ايمان راوړو او د خالد بن الوليد سره ئے هجرت اوكړو بيا په مكه كښے اوسيدو تر دے چه هلته وفات هم شو په سنه (٤٢ هـ) كښے بعض وائى : په اجنادين كښے قتل شويدے دده ته حجبى پدے وجه وائى چه دا منسوب دے حجبه ته او دده خاندان ته به ئے حجبه وئيل ځكه چه دوئ د كعبے حاجبان (دربانچيان) وو ۔ عثمان بن طلحه به د مخكښے نه د دروازے كولاوولو تصرف لرلو تر وفات پورے ۔ رسول الله ﷺ د كعبے چابى ده ته او دده تره څوى (شيبه) ته وركړے او دائے ورته اووئيل : خذها يا بنى ابى طلحة خالدة تالدة لا يأخذها منكم الا ظالم ۔ دا چابيانے واخلئ تاسو سره به هميشه وى او په ميراث كښے به پاتے وى او تاسو نه به ئے صرف ظالم سړے اخلى ۔

تشریح : دَخَلَ الْكَعْبَةَ : په روایت د بخاری کتاب الجهاد کښې ورسره دا بیان راغلے دے چه رسول الله ﷺ د فتح د مکے په ورځ کعبے ته داخل شو۔

وَبِلَالُ بْنُ رَبَاحٍ : رسول الله ﷺ کعبے ته د ځان سره صرف دا درے کسان داخل کړل نه نور صحابه، نو ددے (أ) یو **حکمت** دا دے چه پدے کښې اشاره ده رد ته په جاهلیت والو باندے چه زما خلافت د متکبرانو پشان ندے چه غریبانان خلق په کښې وړاندے کولے شي بلکه دا د غریبانانو او کمزورو خلقو دپاره دے او چونکه مشرکانو به دا صحابه ضعیف گنړل نو نبی علیه السلام ورله عزت ورکړو۔

(ب) **دویم حکمت** : امام مهلب شارح د بخاری ذکر کړیدے چه رسول الله ﷺ ځان سره دا درے کسان داخل کړل ځکه چه دے درے واړو کښې په هر یو کښې داسے خاص صفت پروت دے چه هغه په نورو کښې ندے موجود او هغه دا چه عثمان به د بیت الله خدمت کولو، دروازه به ئے بنده وله کهلاؤوله او هغه به ئے جارو کولو نو که دائے ورته نه وے داخل کړے نو خلقو به دا تو هم کولے چه عثمان ئے ددے کار نه معزول کړو، او هر چه بلال دے نو دائے مؤذن دے او د مانځه د کارونو خدمتگار دے او اسامه ئے د نورو کارونو خدمتگار وو نو دا د رسول الله ﷺ خاص خدمتگاران او خواص خلق وو او امام او بادشاه لره دا جائز دی چه په بعض پټو کارونو کښې څه کسان ځان سره خاص کړی۔

په روایت د نسائی کښې ورسره فضل بن عباس هم ذکر دے لیکن هغه روایت د دوه وجونه شاذ دے انظر طرح التثریب فی شرح التقریب (١٣٢/٥)۔

فَاَغْلَقَهَا عَلَيْهِ : په اغلق کښې ضمیر عثمان ته راجع دے لکه په روایت د مسلم کښې ددے تصریح موجوده ده لیکن په روایت د موطا مالك کښې په تثنیه سره راغلے دے (فاغلقاها) او په روایت د بخاری او مسلم کښې (فاغلقوا علیهم) صیغه د جمع سره وارد دے نو ددے تولو تطبیق دادے چه اصل کښې عثمان مقرر وو په بندولو د دروازه باندے او دا دده ډیوټی وه، ددے وجه نه هغه یواځے کولاؤ کړه او په کوم روایت کښې چه بلال ورسره ملگرے شویدے نو کیدے شي چه بلال ورسره پکښې مدد کړے وی او کوم روایت کښې چه تولو ته د بندولو نسبت شویدے نو وجه دا ده چه اصل کار د عثمان وو خو هغه امر کړیدے نورو ته یا اصل کار عثمان کړے لیکن دا نور پرے راضی وو نو ځکه تولو ته نسبت اوشو۔

انظر المرعاۃ (٣٩٦/٢) وطرح التثریب (١٣٣/٥)۔

فائده : رسول الله ﷺ د ځان پسے د کعبے دروازه ولے بنده کړه؟ ددے څه حکمت دے

؟ ـ **الجواب** : (١) – علامه ابن بطال ؒ یو حکمت دا بیان کړیدے چه رسول الله ﷺ دا غوختل چه خلق دا گمان اونکړی چه په کعبه کښې مونځ کول سنت دی نو بیا به دا طریقه لازمه اوګڼړی (او په مشقت کښې به پریوځی) ـ

(٢) – امام نووی دا حکمت بیانوی : لیکون اسکن لقلبه واجمع لخشوعه ولئلا یجتمع الناس ویدخلوه الی آخره ـ یعنی ځکه ئے ځان پسے دروازه بنده کړه چه زړه کښې سکون پیدا شی او په خشوع کښې جامعیت پیدا شی او خلق ورته راجمع نشی او نور خلق ورته داخل نشی یا به تیل او رش جوړ کړی نو ضرر به یو بل ته ورکړی، یا به شور ډیر پیدا شی نو ددے په سبب به د الله په عبادت او تضرع کښے خلل واقع شی ـ

علامه عراقی ؒ فرمائی : ماذکره النووی اظهر ـ د امام نووی دا حکمت ذکر کول ډیر واضح دی او د ابن بطال حکمت ذکر کول ضعیف دی وجه دا ده چه نبی علیه السلام د خلقو نه خپل مونځ نه پټولو، حال دا چه یو جماعت د صحابو اولیدلو او خلقو ته ئے رانقل کړو (طرح التثریب) ـ

(٣) – بعض وائی حکمت دا دے چه نبی علیه السلام په کعبه کښے هر جهت ته مونځ اوکړی ځکه کله چه دروازه کهلاوه وی او مخے ته ستره نه وی نو مونځ باطلیږی ـ حکاه المحب الطبری ؒ ـ

ومکث فیها : پدے روایت کښې دا ندی ذکر شوی چه څومره موده ئے په کعبه کښے تیره کړه مګر په روایت د بخاری کښے وارد دی : (فمکث فیها نهارا طویلا) یعنی اوګده ورځ ئے پکښې تیره کړه، په تاریخ د ازرقی کښے راغلی دی چه خالد بن الولید په دغه ورځ باندے په دروازه کښے ولاړ وو، خلق ئے شړل ـ

فوائد الحدیث : (١) – امام بخاری پدے حدیث د ابن عمر ؓ باندے استدلال کړیدے پدے مسئله چه د مسجد دروازه بندول ددے دپاره چه محفوظ شی د بے ضرورته کارونو نه جائز دی او دا باب ئے ایخودے دے ـ (باب الابواب والغلق للکعبة والمساجد) ـ

(٢) – دارنګه دا حدیث دلیل دے چه یو صحابی د بل صحابی نه روایت کولے شی ـ

(٣) – خبر واحد قبلول او د هغه علم یقینی پیدا کول ضروری دی دلته ابن عمر ؓ د بلال په خبره یقین اوکړو ـ

جَعَلَ عَمُوْدًا مِنْ يَسَارِهِ الخ : پدے روایت کښے خو هیڅ اشکال نشته ځکه چه نبی علیه السلام داسے ځائے کښے مونځ اوکړو چه یو ستنه ئے ګس طرفته وه او دوه ستنے ئے

خْي طرفته وې او درې ئې شاته وې، خو په بل روايت د بخاري كښې داسې الفاظ دي : جعل عمودا عن يساره وعمودا عن يمينه وثلاثة اعمدة ورائه وكان البيت يومئذ على ستة اعمدة الخ نو پدې باندې دا **اشكال** كيږي چه هر كله د بيت الله ستنې شپږ وې نو خامخا به خي يا گس طرفته دوه ستنې وي، او بل طرفته به يوه وي او شاته به درې وي نو څنگه دلته وائي چه يوه ستنه گس طرفته او بله ستنه خي طرفته وه ؟ ـ

الجواب : (١) يو جواب دا دې چه د تثنيه روايت په هغه زمانه كښې دې چه بيت الله شپږ ستنې لرلې او دا د نبي عليه السلام زمانه وه او يوه يوه ستنه چه ښي او گس طرفته ذكر ده نو دا په نظر سره روستو زمانې ته ده چه بيت الله كښې تغير پيدا شو او درې ستنې ورته اولگيدې او ددې تائيد (د كان البيت يومئذ) الفاظو نه معلوميږي، لهذا تعارض نشته ځكه كه د نبي عليه السلام زمانه واخستې شي نو د تثنيه روايت صحيح دې او كه روستو زمانه واخستې شي نو ستنې خو درې دي نو خي او گس طرفته يوه يوه راځي نور ځائې كښې تغير نه راځي ـ

(٢) **دويم جواب** : عمود لفظ جنس دې چه تثنيه او واحد دواړو ته شامليږي نو كوم روايت كښې چه واحد ذكر دې د هغې رجع به تثنيه ته اوشي تعارض به ختم شي، لهذا روايت د افراد مجمل دې او دا حديث الباب د هغې تفصيل او تفسير كونكې شو ـ

(٣) – يا دا چه مخكښې درې واړه ستنې په يو صف كښې برابرې وې، خو دوه ستنې نزدې نزدې برابرې وې او يوه ستنه جدا وه، نبي عليه السلام مينځنۍ ستنې طرفته مونځ اوكړو نو چا چه طرفينو ته يوه يوه ذكر كړيده هغه مينځنۍ ستنې لره اعتبار ندې وركړې او چا چه عمودين ذكر كړي نو هغه مينځنۍ لره اعتبار وركړې ـ

ثُمّ صَلّٰى : دا مونځ ئې مغربي ديوال ته مخامخ كړيدې چه شا ته ئې مشرقي طرف وو او دروازې ته ئې شا راړولې وه او د ديوال نه تقريبا درې گزه مسافت كښې وو لكه دا په روايت د مالك كښې راغلي دي : (ثم صلى وبينه وبين القبلة ثلاثة اذرع) او په بل روايت د ابن القاسم عن مالك كښې دي : جعل بينه وبين الجدار نحواً من ثلاثة اذرع) ـ دا د بخاري د روايت زيات موافق دې چه په هغې كښې قريب من ثلاثة اذرع لفظ دې ـ

ددې وجې نه امام نسائي په خپل سنن كښې پدې روايت سره استدلال كړې چه سترې ته د نزدې اوريدو مقدار درې گزه دې او دا د عطاء نه هم نقل دي چه هغه وائي : (يقال : ادنى ما يكفيك فيما بينك وبين السارية ثلاثة اذرع) اخرجه عبد الرزاق (٢/١٦) لكه چه

ددے تفصیل به په باب السترہ کښې راشي ان شاء الله تعالی ۔

بیا رسول الله ﷺ په کعبه کښې څومره مونځ اوکړو ؟ نو په روایت د بخاری (١/٥٧) کښې راځي چه دوه رکعاته ئے اوکړل (بین الساریتین) او او نسائی (١/١١٢) کښ دی (بین العمودین الیمانیین) لیکن پدے باندے دا اشکال راځي چه ابن عمرؓ فرمائی : زه پدے باندے ځان ملامته کوم چه ما د بلالؓ نه ولے داسے تپوس اونکړو چه څو رکعاته ئے اوکړل ؟ او په روایت د احمد کښې دی : چه ما د اسامه نه ولے داسے تپوس اونکړو ؟ نو ددے نه معلومیږی چه ابن عمرؓ ته عدد د رکعاتونو د نبی علیه السلام نه وو معلوم او په دغه روایت د بخاری او نسائی کښ وائی چه نبی علیه السلام دوه رکعاته د ستنو په مینځ کښې اوکړل ؟ ۔

الجواب : ددے اشکال ډیر جوابونه علامه عراقیؒ په طرح التثریب (٥/١٣٩) کښې ذکر کړیدی چه افضل جواب دا دے چه ابن عمرؓ ته د دوه رکعاتو په کولو یقین وو خو ځان پدے ملامته کوی چه د زیادت تپوس ئے ولے اونکړو ۔ نو دا ملامتیا دده راجع ده د زیادت نه تپوس کولو ته ځکه چه چا څلور رکعاته یا شپږ رکعاته کړی وی په هغه باندے دا صادقیږی چه ده رکعتین اوکړل لکه دا په اصول فقه کښې راجح شوے خبره ده چه مفهوم د عدد لره اعتبار نه وی، لهذا تعارض نشته د ابن عمرؓ په زیادت کښې شك دے او دوه رکعاته ورته یقینا معلوم دی ۔ صحیح هم دا ده چه صرف دوه رکعاته ئے کړیدی ، ولے که زیات ئے کړی وے نو بلال به ورته ضرور د هغے بیان کړے وے ۔

تنبیه : په هدایه (١/١٨٤) کښې راځی : الصلوة فی الکعبة جائزة فرضها ونفلها خلافاً للشافعی فیها ۔ یعنی امام شافعی زمونږ مخالف دے په جواز د صلاة فی الکعبه مطلقا کښې ۔ مگر محققین علماء وائی دا د هدایه مولا غلطی ده وجه دا ده چه د امام شافعیؒ مذهب دا ندے بلکه هغه مطلقا د جمهورو پشان د جواز قائل دے ۔ لکه چه مخکښې د هغوی مذهب بیان شو ۔

فرع : د کعبے دپاسه په چهت باندے مونځ څه حکم لری ؟ ۔

١ - **امام شافعیؒ** فرمائی : دده مونځ باطل دے ځکه پدے کښې هیڅ استقبال الی القبله رانغلو ۔ ٢ - **امام مالکؒ** وائی چا چه فرض مونځ د کعبے دپاسه اوکړو نو که وقت باقی وو، د هغے اعاده به کوی او بل روایت ترے دا دے چه همیشه دپاره به اعاده کوی ۔

٣ - **امام ابوحنیفهؒ** وائی د کعبے دپاسه چه چا مونځ اوکړو په هغه باندے څه شے

نشته يعنى د هغه مونځ صحيح دے اګرچه هيڅ طرفته استقبال اونکړى ـ
٤- **بعض** وائى ددے حکم داسے دے لکه دننه په کعبه کښے مونځ کولو حکم نو که مخے ته ئے ستره نه وه مونځ ندے صحيح او که مخے ته ئے د کعبے نه څه ولاړ وى، ديوال وغيره نو دده دپاره حکم د دُرشل دے نو که درے ګزه وى مونځ جائز دے او که ددے نه کمه وى نو مونځ صحيح ندے ـ راجع طرح التثريب (١٤١/٥) ـ راجح دا ده چه د کعبے دپاسه مونځ صحيح دے خو پدے شرط چه مخے ته ستره اودروى او که هر طرفته متوجه شو نو هم مونځ صحيح دے ـ

٣- وَ عَنْ اَبِىْ هُرَيْرَةَ ﷺ، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : «صَلَاةٌ فِىْ مَسْجِدِىْ هٰذَا خَيْرٌ مِنْ اَلْفِ صَلَاةٍ فِيْمَا سِوَاهُ، اِلَّا الْمَسْجِدَ الْحَرَامَ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ .

ترجمه : او ابو هريره رضى الله عنه فرمائى : رسول الله ﷺ اوفرمائيل : زما پدے مسجد (يعنى مسجد نبوى) کښ مونځ کول په نورو مساجدو کښے د زر مونځونو کولو نه بهتر دى سوا د مسجد حرام نه ـ (بخارى ومسلم) ـ
تشريح : په صحيح احاديثو کښے د درے مساجدو فضيلت داسے راغلے دے چه په مسجد حرام کښے يو مونځ په يو لاکه دے او په مسجد نبوى کښے په يو زر دے او په بيت المقدس (مسجد اقصىٰ) کښے په پنځه سوه دے لکه چه دا په روايت د طبرانى عن ابى الدرداء کښے مرفوعا راغلے دے : الصلاة فى المسجد الحرام بمائة الف صلاة والصلاة فى بيت المقدس بخمسمائة صلاة ورواه ابن عبد البر من طريق البزار ثم قال : قال البزار هذا اسناد حسن ـ
په يو روايت د ابن ماجه کښے د مسجد نبوى د يو مونځ اجر په پنځوس زره راغلے دے (وصلاته فى مسجدى بخمسين الف صلاة) او مسجد اقصى هم ورسره پدے اجر کښے شريك ذکر شويدے ليکن هغه روايت ضعيف دے په هغے کښے ابو الخطاب الدمشقى راوى دے ـ دا محدثانه جواب دے ـ کما سيأتى فى المشکاة (٧٢/١) ـ
٢- فقهاء داسے جواب کوى چه احتمال لرى چه حديث د کم فضيلت مقدم وى او روستو بيا زيات فضيلت راغلے وى ـ بيا ددے مساجدو فضيلت پدے وجه راغلے دے چه دا د انبياؤ مساجد دى ـ شاه ولى الله الدهلوى فرمائى : قال وانما فضل مسجد النبى ﷺ

والمسجد الحرام بمضاعفة الاجر لمعان منها : ان هنالك ملائكة موكلة بتلك المواضع يحفون باهلها ويدعون لمن حلها ومنها : ان عمارة تلك المواضع من تعظيم شعائر الله واعلاء كلمة الله ومنها : ان الحلول بها مذكر لحال ائمة الملة ۔ يعنى ددے مساجدو فضيلت يو خو پدے وجه دے چه هلته داسے ملائك مقرر دى چه د خلقو نه گيره اچوى او ځوك چه ديته داخل شى هغوى دپاره دعاگانے غواړى دويم دا چه د دغه مساجدو ابادول د شعائر الله او د اعلاء كلمة الله د تعظيم نه دى دريم دا چه دغه مساجدو ته داخليدو سره انسان ته ددين د امامانو او انبياؤ ياد راتازه كيږى او دا معانى په نورو مساجدو كښے نشته ۔

(٢) يا دا چه دا تفاوت بناء دے په تفاوت د احوالو د خلقو لما جاء ان الحسنة بعشر امثالها الى سبعين الى سبعمائة الى غير النهاية ۔ (مرقاة) ۔

اِلَّا الْمَسْجِدَ الْحَرَامَ : پدے استثناء كښے اختلاف دے (١) جمهور او امام شافعیؒ ددے داسے معنى كوى : الا المسجد الحرام فان الصلاة فيه افضل من الصلاة فى مسجد المدينة) يعنى زما په مسجد كښں يو مونځ په زرو مونځونو سره غوره دے د نورو مساجدو نه مگر مسجد حرام كښے يو مونځ ډير غوره دے د مسجد نبوى نه ۔ او هغه څومره غوره دے نو د هغے اندازه مخكښے ذكر شوه چه يو لاكھ درجے غوره دے ۔

او پدے باندے واضح دليل روايت د عبد الله بن الزبير دے مرفوعا : صلاة فى مسجد هذا افضل من الف صلاة فيما سواه الا المسجد الحرام وصلاة فى المسجد الحرام افضل من مائة صلاة فى هذا) اخرجه احمد والبزار وابن حبان فى صحيحه والبيهقى فى سننه، قال النووى اسناده حسن، شرح مسلم (١/٤٤٦) وقال العراقى فى شرح الترمذى : رجاله رجال الصحيح، طرح التثريب (٦/٤٧)۔

او په روايت د طبرانى كښے پدے حديث كښے داسے الفاظ دى : وصلاة فى المسجد الحرام افضل من صلاة فى مسجدى بالف صلاة ۔ او په روايت د ابن ماجه كښے د جابر په حديث كښے دى : صلاة فى مسجدى افضل من الف صلاة فيما سواه الا المسجد الحرام وصلاة فى المسجد الحرام افضل من مائة الف صلاة فيما سواه، قال العراقى : واسناده جيد ۔ ددينه واضحه شوه چه مسجد حرام مطلقا غوره دے په ټولو مساجدو اگركه مسجد نبوى وى په هغه هم غوره دے ۔

(٢) – **دويم قول** د امام مالكؒ دے هغه وائى د الا المسجد الحرام معنى دا ده : الا المسجد الحرام فان الصلاة فى مسجدى افضل من الصلاة فيه بدون الف صلاة ۔ يعنى زما د

مسجد یو مونځ غوره دے د زرو مونځونو نه په ماسوا ددے مسجد کښے مګر مسجد حرام کښې مونځ غوره دے خو بغیر د زرونه نو بناء پدے په مسجد نبوی کښے مونځ ډیر غوره شو د نورو مساجدو نه او د مسجد حرام نه هم غوره شو۔

ابن عبد البرؒ دا تاویل د عبد الله بن نافع نه ذکر کړیدے لیکن ډیر یے خونده دے او د ماهرین لغت په نیز ډیر بعید دے وجه دا ده چه ددے رجع دیته کیږی چه د مسجد نبوی یو مونځ ډے د مسجد حرام په یو مونځ باندے نهه سوه نهه نوی چنده افضل وی نو بیا د مسجد حرام او نورو مساجدو فرق څه شو۔

بله وجه دا ده چه ددے تاویل دپاره هیڅ دلیل نشته په خلاف د اول توجیه نه چه په هغے کښے دلیل موجود دے۔ طرح التثریب (٦/٤٨)۔

امام نوویؒ په شرح مسلم (١/٤٤٦) کښے فرمائی: دا اختلاف بناء دے په اختلاف د افضلیت د مکه او مدینه باندے نو څوك چه مکه افضل ګڼړی لکه جمهور علماء نو مسجد ئے هم افضل ګڼړی او څوك چه مدینه افضل ګڼړی لکه مالكؒ او اکثر مدنیین نو مسجد نبوی افضل ګڼړی انتهیٰ۔

لیکن صحیح دا ده چه مکه په ډیرو وجو هو د مدینے نه غوره ده (أ) یو دا چه دے کښے اول بیت وضع للناس دے چه دا په تولو زمکو بهتره زمکه ده۔ (ب) دیته مبارك وئیل شویده ای کثیر الخیر والنفع۔

(ج) دیته هدی للعالمین وئیل شوے ځکه دا قبله ده او د عبادت او نسك ځائے دے۔

(د) د کعبے زیارت کول فرض دی ﴿ وَ لِلّٰهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ الخ ﴾۔

(هـ) دارنګه مخکښے حدیث کښے ددے یو مونځ په یو لاکھ حساب شویدے دا دلیل دے چه مکه ډیره غوره ده اګرچه د مدینے فضائل هم شته خو هغه کلی فضائل ندی بلکه جزئی او عارضی فضائل دی۔

مَسْجِدِیْ هٰذَا: (ای لا مسجد قباء) پدے کښے **اختلاف** دے چه دا اجر صرف په هغه مسجد نبوی کښے دے کوم چه په زمانه د نبی اکرم ﷺ کښے وو چه زیادت پکښے نه وو شوے او که نه نن صبا موجود زیادت شده مسجد کښے هم دا اجر شته نو **دوه قوله** دی:

(١) **امام نوویؒ** په شرح مسلم (١/٤٤٧) کښے وائی: دا فضیلت مختص دے په اصل مسجد د نبی علیه السلام پورے مخکښے د زیادت نه ځکه چه هذا اشاره ده محسوس مشهد فی الخارج ته او محسوس په هغه وقت کښے هغه مسجد وو چه

زيادت پكښې نه وو شوې نو دا اجر صرف په هغه مسجد كښې ملاويږي كوم چه د نبي عليه السلام په وقت كښې وو ۔ نه هغه مسجد چه د خلفاء راشدينو په زمانه كښې پكښې توسيع شويده ۔ بيا وائي : فينبغي ان يحرص المصلي على ذلك ويتفطن لما ذكرته انتهٰى ۔

۲- **قول ثاني** دا دے چه دا حكم مزيد او مزيد عليه دواړو ته شامل دے او هذا كښې اشاره ده هر هغه مسجد ته چه رسول الله ﷺ ته منسوب دے يعني كل ما يسمّى بالمسجد النبوي فهو داخل في الاجر ۔ او په هذا اشاره كښې احتراز دے د غير مسجد نبوي نه چه هغه مسجد قباء وغيره دي او خاص زمكے ته اشاره نده وجه دا ده چه كه دغه اجر صرف مختص وے د هغه خاص زمكے پورے نو بيا به خلفاءِ راشدينو پدے كښې زيادت جائز نه ګڼړلے او خلقوته به ئے خبر وركړے وے چه دا زائده حصه د مسجد نبوي نه نده حساب ۔

۲- دارنګه د امام مالكؒ نه ددے په باره كښې تپوس اوشو ؟ هغه جواب وركړو چه پدے كښې هيڅ خصوصيت نشته او دا ئے اووئيل چه رسول الله ﷺ امت ته د آينده كارونو خبر وركړے دے او هغه ته زمكه راتاؤ كړے شوے وه او هغه پدے خبر وو چه روستو به دا كارونه كيږي او كه هغه نه وے خبر الله تعالى به ورته خبر وركړے وے چه امت ته د خبر وركړه چه دغه اجر صرف ستا د خاص مسجد پورے مختص دے ۔

۳- دارنګه ددے په باره كښې بعض روايات هم نقل دي اګرچه د كلام نه خالي نه دي لكه په تاريخ المدينه كښې راغلي دي : عمر رضي الله عنه چه كله په مسجد نبوي كښې د زيادت كولو نه فارغ شو وے فرمائيل : (لو انتهى الى الجبانة لكان الكل مسجد رسول الله) كه دا مسجد تر جبانه علاقے پورے اورسيږي نو بيا به هم دا ټول د رسول الله ﷺ مسجد وي ۔ (جبانه په كوفه - عراق - كښې يوه علاقه ده) معجم البلدان (۳/۲۷) ۔

★- ابو هريره رضي الله عنه نه مرفوعاً نقل دي : [لو زيد في هذا المسجد ما زيد كان الكل مسجدي] ۔ كه دے مسجد نبوي كښې هر څومره زيادت اوشي بيا به هم دا ټول زما مسجد وي) او په يو روايت كښې دي : [لو بنى هذا المسجد الى صنعاء كان مسجدي] ۔ كه دا مسجد تر صنعاء اليمن پورے جوړ كړے شي هم زما مسجد به وي ۔

د عمرؓ نه نقل دي : (لو مد مسجد رسول الله ﷺ الى ذي الحليفة لكان منه) ۔ علامه ابوزرعه العراقي المتوفى (۸۲۶) فرمائي : كه دا روايات صحيح شي نو پدے كښې به ډير ښائسته بشارت وي ۔ طرح التثريب (۶/۵۳) ۔ دا روايات اګرچه ضعيف دي ليكن د صحابه

کرامو او د عام امت عمل ئے تائید کوی چه هغوی به بعد الزیادة مسجد کښې هم دغه اجر ګڼړلو وهو قول شیخ الاسلام ومحب الدین الطبریؒ۔
او محمد بن عبد الهادیؒ المتوفی (٧٤٤هـ) په الصارم المنکی فی الرد علی السبکی ص (٦٤) کښې وائی : لکن زاد فیها الخلفاء الراشدون ومن بعدهم وحکم الزیادة حکم المزید فی جمیع الاحکام آهـ۔

المسئلة الثالثة :

آیا هر مسجد مکی کښې دا ثواب دے که صرف په مسجد حرام کښې نو چا وئیلی دی چه دا خاص دے د مسجد حرام پورے استدلال ئے کړیدے په لفظ د المسجد الحرام باندے ۔ ٢ – لیکن صحیح دا ده چه ټول مساجد چه په حرم مکی کښې داخل دی د هغوی ټولو دغه ثواب دے ۔ امام نوویؒ دا خبره صحیح کړیده چه مسجد حرام ټول حرم ته شامل دے کوم کښې چه ښکار حرام دے او د حرم اطلاقات به روستو راشی او دا حکم د مسجد نبوی نه دے ۔

المسئلة الرابعة :

پدے کښې اختلاف دے چه چه آیا دا تضعیف د اجر صرف د فرضو پورے خاص دے او که نفلو ته هم شامل دے ؟ ۔
(١) – امام طحاویؒ فرمائی : دا اجر صرف د فرض مانځه پورے خاص دے او دا د ابن حزم الظاهری د کلام نه هم معلومیږی ځکه هغه دا وئیلی دی چه چا په مساجد ثلاثو کښې د فرض مانځه نذر اوکړو نو د هغے پوره کول واجب دی او که د نفل نذر اوکړی، پوره کول ئے واجب ندی ۔
(٢) – شوافع، امام مطرفؒ د مالکیهؒ نه وئیلی دی چه دا تضعیف د اجر فرض او نفل دواړو ته شامل دے ۔ امام نوویؒ فرمائی : د امام طحاوی قول د اطلاق ددے احادیثو مخالف دے ۔ شرح مسلم (١/٤٤٦) ۔
لیکن اول قول راجح دے وجه دا ده چه د صحابه کرامو د سیرت نه معلومیږی چه هغوی به نوافل او سنت کور کښې کول دارنګه رسول الله ﷺ به هم نوافل او سنن کور کښې کول پدے وجه ظاهر دا معلومیږی چه دا اجر به صرف د فرائضو پورے مختص وی ۔ دارنګه که په کور کښې نوافل او سنن بهتر نه وے نو رسول الله ﷺ به دا ترغیب (افضل صلاة المرأ فی بیته) نه ورکولے ۔

علامه شوكاني په نيل الاوطار (٣/٦٤) كښې وائي : دا حديث افضل صلاة المرأ الخ دليل دے په استحباب د نوافلو باندے په كور كښې او د نوافلو او تطوع په كور كښې كول افضل دي د كولو نه په مساجدو كښې اگركه هغه مسجد حرام او مسجد نبوي او مسجد اقصیٰ وي او د ابوداود په بعض رواياتو كښې پدے باندے تصريح راغلے ده په حديث د زيد بن ثابت كښې : [صلاة المرء في بيته افضل من صلاته في مسجدي هذا الا المكتوبة ـ قال العراقي واسناده صحيح] ـ

علامه ابوزرعه العراقي ؒ فرمائي : چه دا سوال كيدے شي چه (صلاة) نكره ده په سياق د اثبات كښے نو عموم نه فائده كوي او ددے تائيد په يو حديث كښے داسے راغلے دے : افضل صلاة المرأ في بيته الا المكتوبة ـ معلومه شوه چه نفل په كور كښے بهتر دي، نه په مسجد كښے هر مسجد چه وي ليكن بيا ئے دا جواب وركړيدے چه دا لفظ (صلاة) اگرچه نكره ده په سياق د اثبات كښے ده خو بيا هم عموم پكښے راتلے شي وجه دا ده چه دا په معرض د امتنان كښې ده نو عموم فائده كوي او د خپل پلار زين الدين العراقي نه نقل كوي چه هغه وئيلي دي چه په مسجد كښے نوافل كولو سره هم تضعيف د اجر شته (مگر دا خبره ئے ضعيفه ده بے دليله ده كما مرّ) خو كه څوك په كور كښے كوي نو دا ډيره بهتره ده د وجے د عموم ددے قول د نبي عليه السلام نه چه په صحيح حديث كښے ئے فرمائيلي دي : افضل صلاة المرأ في بيته الا المكتوبة ـ لهذا تعارض نشته بلكه په بعض رواياتو كښے راغلي دي چه په كور كښے نفل كول دا افضل دي ددے نه چه په مسجد نبوي كښے اوكړے شي راجع طرح التثريب (٦/٥٢) ـ

حافظ ابن حجر ؒ ذكر كړيدي چه په مدينه او مكه كښے په كور كښے نفل كول دوچند اجر لري په نسبت د هغه كورونو چه په دے دواړو ځايونو كښے نه وي ـ انظر وفاء الوفاء (٢/٤٢٢) وفتح الباري (٣/٥٢) ـ

المسئلة الخامسة النادرة :

هر عمل دوچند كيږي او كه صرف مونځ ؟ ـ (١) نو كمزوري رواياتو كښے شته چه هر عبادت دوچند كيږي او دا قول امام نوويؒ په شرح المهذب (٧/٤٦٩) ـ كښے ذكر كړيدے چه د مسجد حرام خصوصيت دا دے چه تضعيف الاجر في الصلوات بالمسجد الحرام وكذا سائر الطاعات ـ چه په ټولو عباداتو كښے دغه شان دوچند اجر دے ـ

علامه نور الدين على السمهودي المتوفى (٩١١هـ) نزيل دار الهجرة په خپل كتاب وفاء

الوفاء (١/٤٢٣) کښې ډیر احادیث ذکر کړیدی چه هغه دلالت کوی پدې چه هر عمل په مسجدینو کښې دوچند حسابیږی لکه بعض دا دی: بلال بن الحارثؓ نه مرفوعا نقل دی : رمضان بالمدینة خیر من الف رمضان فیما سواها من البلدان وجمعة بالمدینة خیر من الف جمعة فیما سواها من البلدان اخرجه الطبرانی فی الکبیر ومثله عن ابن عمر اورده ابن الجوزی فی شرف المصطفی وایضا البیهقی عن جابر ۔

٢- ابو هریرةؓ نه مرفوعا نقل دی: من جاء مسجدی هذا لم یأته الا لخیر یتعلمه او یعلمه فهو بمنزلة المجاهد فی سبیل الله ومن جاء لغیر ذلك فهو بمنزل الرجل ینظر الی متاع غیره (ابن ماجه، طبرانی بروایة سعد وسیأتی فی آخر هذا الباب) ۔

بیا وائی: دا احادیث اگرچه ضعیف دی لیکن کله چه ددې سره قیاس په مانځه باندې ملګرې شی نو یوه معنی ورکوی او هغه دا چه هر عمل کښې به د مانځه پشان دوچند اجر وی ۔ دارنګه د مسجد نبوی په حدودو کښې د اختلاف نه هم معلومیږی چه دیته ترجیح ورکړې شویده چه مسجد زائد هم داخل دې پدې اجر کښې نو واضح کیږی چه دا افضیلت ډېر عام شی د مانځه نه باقی طاعاتو ته هم لیکن پدې تولو کښې راجح دا ده چه د مسجد حرام خصوصیت دا دې چه مسجد او تول حرم کښې د مانځه دوچند والې ثابت دې او مسجد نبوی کښې صرف د مسجد خصوصیت شته او نه د تول حرم نبوی او پاتې شو باقی اعمال دوچند کیدل نو ددې په باره کښې صریح صحیح روایات نشته اگرکه امید د الله تعالی نه شته ۔ انظر فتاوی الدین الخالص (٣/٣٦٨)۔

المسئلة السادسة : اطلاقات الحرم :

په شریعت کښې د مسجد حرام لفظ څلور قسمه استعمالیږی ١- کله په معنی د کعبې سره وی لکه آیت: فول وجهك شطر المسجد الحرام ای الکعبة ۔ ٢- کله په معنی د کعبې او ماحول مسجد سره وی لکه آیت: سبحان الذی اسری بعبده لیلاً من المسجد الحرام نو دلته مراد نفس مسجد دې کما قال انس بن مالك ورجحه الطبریؒ ۔

٣- تولې مکې ته هم مسجد حرام وئیلې شی لکه آیت: لتدخلن المسجد الحرام ۔ ابن عطیةؒ وائی: عظیم مقصد دلته مکې ته داخلیدل دی ۔ ٤- څلورم: مسجد حرام کله تول هغه حرم ته وائی چه په هغې کښې ښکار حرام وی لکه آیت دې: ذلك لمن لم یکن اهله حاضری المسجد الحرام ۔ ابن عباسؓ فرمائی: انه الحرم جمیعه ۔ ددینه تول حرم مراد دې

ـ طرح التثريب (٦/٥٣)ـ

فائده : خير من الف صلاة كښې امام نووی" دا فائده بيانوی چه علماء فرمائی : چه دا خيريت د جهت د ثواب نه دے نه د جهت د اجزاء او كافی كيدلو نه يعنی په مسجد نبوی كښې د يو مونځ ثواب د نورو مساجدو په زرو مونځونو باندے زياتيږی خو دا نه متعدی كيږی كفايت ته د فوائت مونځونو نه يعنی داسے نده چه يو سړی باندے دوه مونځونه وی او يو مونځ په مسجد نبوی كښې اوكړی ګنے دا به كافی شی د دواړو مونځونو نه بلكه د فوائتو به جدا قضائی راوړی دلته صرف زيادت د ثواب مراد دے او دا خبره اتفاقی ده ـ

شرح مسلم (١/٤٤٦) وطرح (٦/٥٣) ـ

٤ – وَعَنْ اَبِیْ سَعِيْدٍ الْخُدْرِيِّ رضي الله عنه، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : «لَا تُشَدُّ الرِّحَالُ اِلَّا اِلٰی ثَلَاثَةِ مَسَاجِدَ : مَسْجِدُ الْحَرَامِ، وَالْمَسْجِدُ الْاَقْصٰی، وَمَسْجِدِیْ هٰذَا». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ .

ترجمه : او ابوسعيد خدری رضی الله عنه فرمائی چه رسول الله ﷺ اوفرمايل : درے مسجدونو نه علاوه (بل ځائے دپاره) به كجاوے نشی تړلے (سفر به نشی كيدے) مسجد حرام، مسجد اقصی (يعنی بيت المقدس) او زما مسجد (مسجد نبوی) ـ (بخاری ومسلم) ـ

تشريح : لَا تُشَدُّ الرِّحَالُ اِلَّا اِلٰی ثَلَاثَةِ مَسَاجِدَ : په ضمه د تاء مبنی للمفعول دے او لفظ ئے د نفی دے په معنی د نهی سره ـ **الرِّحَالُ** : جمع د رحل ده دا د اوښ پالان ته وائی او د اس دپاره (سرج) استعماليږی دا د قتب نه وړوکے وی يعنی د كجاوے لرګے او پالان ـ معنی دا ده : نشی تړلے كيدے پالانونه او كجاوے په اوښانو باندے نو شد الرحال كنايه ده د سفر كولو نه مقصود د حديث دا دے چه ددے درے مساجدو نه علاوه نورو مساجدو وغيره ته به په نيت د عبادت او قربت باندے سفر نشی كولے او نورو علاقو ته د عبادت په نيت سفر كول حرام دی چه په هغه ځائے كښې انسان كمال اوګنړی او د ځان نه ورته غوره والے وركړی ـ

بيا لا تشد الرحال : په ظاهر كښې صيغه د نفی ده خو په معنی د نهی او منع دے ـ علامه طيبی" وائی : پدے كښې ډيره مبالغه او تاكيد دے د نهی نه چه لا تسافر اووئيلے شی، وجه دا ده چه پدے كښې اول د مسافرت (سفر كولو) او د هغه د اسبابو د تيارئ او

سوریدونکی او پالان اچولو تصور اوشو بیا ئے دا نهی راښکاره کړه په ځائے د اخبار کښے او داسے ئے اووئیل : چه دا کارونه نه کیږی مګر دریے مساجدو دپاره نو حاصل د معنی دا شو : چه مناسب او صحیح ندی چه انسان سفر اوکړی دپاره د زیارت کولو د یو مقام مګر د دے دریو عزتمندو زمکو ۔ او ددے زمکو دپاره سفر کول ځکه پکار دی چه ددے مقاماتو فضائل او خصوصیات موجود دی او هغه دا چه یو بیت الله دے چه دا د انسانانو قبله ده چه ابراهیم الخلیل علیه السلام ددے بنیادونه پورته کړیدی او دویم سلیمان علیه السلام آباده کړیدے او دریم هغه مسجد دے چه په تقویٰ باندے جوړشویدے او خیر البریه (د کائناتو افضل ترین) شخصیت آباد کړیدے نو دے دریے مساجدو ته سفر کول ګویا کښے داسے دی لکه ددے جوړونکو آبادونکو انبیاؤ ته سفر کول انتهیٰ ۔

بیا پدے مقام کښے شد الرحال ذکر شو ځکه چه دا بناء دے په غالب باندے ځکه چه په هغه زمانه کښے د عربو د سفر همدا طریقه وه چه په اوښانو به سوریدل او مقصود ددے نه سفر دے برابره ده که په اوښانوی یا اسونو، قچرو، خرو، ریل ګاړی، موټرے، سائیکلے، کشتئ، هوائی او دریابی جهازونو یا پیدل وی او پدے باندے دلیل چه د شد الرحال نه مراد سفر دے بل روایت دے چه په هغے کښے داسے الفاظ دی : انما یسافر الی ثلاثة مساجد، مسجد الکعبة ومسجدی ومسجد ایلیاء اخرجه مسلم بروایة سلمان الاغر عن ابی هریرة ۔

فائده : شد الرحل غالباً په لرے سفرونو کښے ذکر کیږی نو ددے په ذکر کولو کښے تنبیه راغله پدے خبره چه څوك دے مساجدو ته نزدے وی نو د هغه دپاره خو دے مساجدو ته راتلل په طریق اولیٰ عبادت او قربت دے بیا پدے حدیث کښے دا خبره ثابته شوه چه د عبادت په نیت باندے دریے مساجدو ته سفر کول بهتر دی او ددے نه سوا نورو مساجدو ته پدے نیت سفر کول چه هغے کښے اجر زیات ملاویږی یا هلته برکات زیات حاصلیږی خاصکر هغه مساجدو ته تلل چه هلته د اولیاؤ مزارات او قبرونه وی، خلق د برکت دپاره ورځی هلته مونځ کولو کښے ډیر اجر ګنړی نو دا بالکل حرام دی نو که یو انسان مدینے ته لاړ شی او بیا مسجد قباء ته ورشی نو دا به حرام نه وی بلکه دا ورتلل سنت دی ځکه چه نبی علیه السلام ترغیب ورکړیدے فرمائی : من تطهر فی بیته ثم اتی مسجد قباء لایرید الا الصلاة فیه کان کعمرة) ۔ څوك چه کوز کښے اودس اوکړی بیا مسجد قباء ته صرف د مانځه په اراده راشی نو دا د عمرے هومره ثواب دے ۔ شیخ الاسلام ابن تیمیة په مجموعة الفتاوی (۱۸۷/۲۷) کښے وائی : (لان ذلك لیس بشد رحل) یعنی دا په شد الرحل (سفر

كولو) كښې نه داخليږي څكه سفر خو تا مدينې ته كړيدے نه د مسجد قباء دپاره ـ
نو حاصل مطلب د حديث دا دے چه الله تعالى په ټولو زمكو كښې ذاتي فضيلت صرف او صرف دے درے مساجدو ته وركړيدے او دا الله تعالى ته محبوب ځايونه دي نو عبادت بانديے ډير اجر وركوي لهذا دے ته سفر كول بهتر كار دے او نورو ځايونو ته ذاتي فضيلت نشته ددے نه سوا ټولے زمكے الله تعالى ته برابرے دي نو هغے ته د عبادت په نيت ورتلل او سفر كول حرام دي، نو كه څوك يو مقام ته د ځان نه فضيلت وركوي او دا وائي چه فلانئ علاقے ته تلل دومره دومره ثواب (انچاس كروړ ثواب) لري، نو دا كار به حرام او بدعت وي او كه دا وائي چه هلته د دين كار كيږي او پدے كښې اجر دے نو دا به بدعت نه وي څكه چه دے ثواب په دين كښې ګڼړي نه په مقام ـ

مزاراتَ الاولياء و الانبياء ته سفر كولو حكم

دا خو د مساجدو حكم دے، خو آيا د مزارات الاولياء او قبور الصالحين ته سفر كول په نيت د عبادت بانديے څه حكم لري ؟ مثلا يو انسان د پير بابا، كاكا صاحب قبر ته سفر كوي يا د ابراهيم الخليل يا نورو مقامات الاولياء والانبياء ته سفر كوي ؟ دپاره د تبرك حاصلولو او مونځونو كولو ؟ (١) نو تقريبا ټول سلف (صحابه او تابعين) او ابومحمد الجويني او قاضي حسين او قاضي عياض او شيخ الاسلام ابن تيميةؒ مسلك دا دے چه دغسے مقاماتو ته د عبادت په نيت بانديے تلل او د هغه تعظيم كول او په هغے اجر زيات ګڼړل حرام دي او بدعت دے ـ
شيخ الاسلام په مجموعة الفتاوى (١٨٧/٢٧) او الجامع الفريد رسالة زيارة القبور لشيخ الاسلام ص (٣٨٩) كښې وائي : ولان السفر الى زيارة قبور الانبياء والصالحين بدعة، لم يفعلها احد من الصحابة ولا التابعين ولا امر بها رسول الله ﷺ ولا استحب ذلك احد من ائمة المسلمين فمن اعتقد ذلك عبادة وفعله، فهو مخالف للسنة ولاجماع الائمة انتهى ـ
يعني د انبياء او صالحينو قبرونو ته د زيارت دپاره سفر كول بدعت دے، هيڅ يو صحابي او تابعي دا كار ندے كړے او نه پرے رسول الله ﷺ حكم كړے دے او نه يو تن د امامانو د مسلمانانو دا مستحب ګڼړلے دے نو چا چه دا عبادت اوګڼړلو او دا كارئے اوكړو نو دا د سنت او د اجماع د امامانو مخالف دے، بيا وائي : دا د هغه خبرونه دي چه ابوعبد الله

ابن بطه په (الابانة الصغرى) كښې د هغه بدعاتو نه شمارلى دى چه د سنت او اجماع خلاف دى انتهىٰ ـ

دلائل السلف : ١ - اول دليل : شيخ ابو محمد الجوينيؒ فرمائى : يحرم شد الرحال الى غيرها عملاً بظاهر هذا الحديث ـ يعنى ددے حديث ظاهر دليل دے چه د مساجد ثلاثه نه سوا نورو مواضعو ته سفر كول حرام دى – وجه دا ده چه دلته لاتشد صيغه د مجهول ده او مستثنىٰ منه محذوف ده اشاره ده عموم ته اى لا تشد الرحال الى موضع من المواضع الا الى ثلاثة مساجد ـ يعنے هيڅ مقام او ځائے ته به سفر نشى كولے سوا د مساجد ثلاثه نه (بنية العبادة) ـ

ليكن پدے باندے چا دا اعتراض كړيدے چه دلته مستثنىٰ منه خاص ده او هغه په يو روايت كښې ذكر ده (لا ينبغى للمطى ان تشد رحاله الى مسجد تبتغى فيه الصلاة غير المسجد الحرام الخ) اخرجه احمد برواية ابى سعيد الخدرى مرفوعاً ـ نو دا حكم خاص دے د مسجد او مانځه پورے ؟ **الجواب :** دا حديث په روايت د شهر بن حوشب نقل دے او شهر كثير الاوهام دے كما فى التقريب نو دا حديث متكلم فيه دے او ظاهر عموم دے او مراد دا دے چه سفر هيڅ ځائے ته د تبرك او مانځه دپاره ندے جائز سوا د مساجد ثلاثه نه كما قال المباركفورى فى التحفه (٢٧١/١)۔ بله دا چه دا استثناء مفرغه ده او مستثنىٰ مفرغ كښې قانون دا دے چه ددے مستثنىٰ منه اعم العام مقدر كولے شى كما قال المباركفورىؒ ـ

٢- دليل : كه اومنو چه دا خاص دے د مساجدو پورے نو بيا وايو چه د مسجد زمكه خو غوره ده په زمكه د قبر باندے هر كله چه مساجدو ته سفر كولو نه نهى راغله نو د قبرونو نه به په طريق اولىٰ سره نهى وى، بدلالة النص ـ

٣- دليل : حديث د ابوبصره الغفارىؓ دے چه دا د ابو هريره رضى الله عنه سره ملاؤ شو چه ابو هريره د كوهِ طور نه را روان وو، تپوس ئے ترے اوكړو د كوم ځائے نه راغلے ؟ ابو هريرهؓ اووئيل : د طور نه هلته مے مونځ اوكړو، ابوبصرهؓ اوفرمائيل : اما لو ادركتك قبل ان ترحل اليه ما رحلت ـ يعنى كه ستا د سفر نه مخكښې زه تاسره ملاؤ شوے وے نو ته به ما نه سفر ته نه وے وتلے ځكه چه ما د رسول الله ﷺ نه اوريدلى دى چه صرف درے مساجدو ته به سفر كولے شى الحديث اخرجه ابوداود الطيالسى (١٣٤٨) (٢٥٠٦) واحمد (٧/٦) په بل روايت كښې دى چه دا كوهِ طور طرفته روان وو په لاره كښې ئے اوليدو ـ اخرجه احمد (٣٩٧/٦- ٣٩٨) كذا فى ارواء الغليل (١٤٢/٤) ـ

شيخ البانیؒ فرمائی : دا حدیث عام دے شامل دے مساجد او غیر د مساجدو نه هغه ځایونو ته چه هغه مقصود لذاتها وی یا په هغے کښے خلق د یو فضیلت دعوی کوی۔ وجه دا ده چه ابوبصره په ابو هریره باندے په سفر د طور کښے انکار اوکړو حال دا چه هغه ځه مسجد نه وو چه مونځونه پکښے کیږی بلکه یو غر دے چه الله تعالی پکښے موسی علیه السلام سره خبرے کړیدی نو دا مبارك غر دے او سره ددینه چه ابوبصرهؓ دیته سفر کول بد ګنړی او ابو هریرهؓ پدے کار باندے غلے پاتے کیږی، معلومه شوه چه په نیت د عبادت باندے هر ځائے ته سفر کول صحیح ندی سوئی د دغه درے مساجدو نه۔

او شیخ عبد الحق الدهلوی په اللمعات کښے وائی : ولكن المعنى المتبادر الى الفهم عند الانصاف هو النهي عن السفر الى مكان الا المساجد الثلاثة والامكنة من جنس المساجد آه۔ یعنی ددے حدیث نه ظاهره معنی ذهن ته داراځی چه پدے کښے نهی ده د سفر کولو نه هر یو مکان ته سوی د مساجد ثلاثه نه او ټول مکانات د مساجدو د جنس نه دی نو هر مکان ته د عبادت په نیت سفر کول ممنوع شو یوائځے منع د نورو مساجدو پورے خاص نده۔

٤– **دليل** : قزعهؒ فرمائی : سألت ابن عمر، آتي الطور؟ فقال : دع الطور ولا تأتها، وقال لا تشد الرحال الا الى ثلاثة مساجد ۔ یعنی ما د ابن عمر نه تپوس اوکړو چه زه طور ته لاړ شم هغه راته اوفرمائیل : طور ته مه ځه دا کار پریده ځکه چه حدیث کښے ددے نه منع راغلے ده چه د مساجد ثلاثه نه بل ځائے ته سفر اوکړے شی رواه ابن ابی شيبة (٢/٨٣) والازرقي في اخبار مكة ص (٣٠٤) واحمد (٨/٦) وابويعلى وابن منده في التوحيد (٢٦/١) راجع تحذير الساجد من اتخاذ القبور مساجد للشيخ الالباني ص (٩٤) وفتح المجيد شرح كتاب التوحيد ص (٢٦٦)۔ نو ابن عمر او ابو بصره دواړه طور ته سفر کول ددے حدیث په نهی کښے داخل کړل ددے نه هم عموم د نهی معلوم شو۔

ددے وجے نه شیخ الاسلام وئیلی دی چه صرف د رسول الله ﷺ د قبر زیارت دپاره سفر کول هم حرام دی چه مسجد نبوی ته سفرئے اراده نه وی او صرف قبر دپاره ځی دارنګه قبرونو او مشاهدو ته سفر کول په اتخاذ المساجد اعياداً کښے داخل دی۔ انظر فتح المجيد وعون المعبود (١٧٢/٢)۔

حافظ محمد بن عبد الهادی په الصارالمنکی ص(٨٤) کښے وائی : فلا يقدر احد ان ينقل عن احد من ائمة المسلمين انه قال : يستحب السفر الى مجرد زيارة القبور ولا السفر الى

مجرد زیارة قبور الانبیاء والصالحین ولا السفر لمجرد زیارة قبره بدون الصلاة فی مسجده بل کثیر من المصنفات لیس فیها الا ذکر المسجد والصلاة فیه الخ ۔

بیا وائی: (۸۵): واما التصریح باستحباب السفر لزیارة قبره دون مسجده فهذا لم اره عن احد من ائمة المسلمین ولا رأیت احداً من علمائهم صرح به انتهی ۔

ترجمه: یعنی هیڅوك پدے قادر ندے چه د مسلمانانو د یو امام نه دا نقل کړی چه هغه صرف د قبرونو د زیارت دپاره سفر ته مستحب وئیلی وی دارنګه د انبیاء او صالحینو قبرونو ته او صرف د نبی علیه السلام قبر دپاره ئے سفر ته مستحب وئیلی وی بغیر د هغه د مسجد نه، بلکه په ډیرو کتابونو د حدیث کښے سفر د مسجد او مانځه دپاره ذکر شویدے نه د قبر دپاره ۔ بیا وائی: صرف د نبی علیه السلام قبر دپاره سفر کول نه د هغه د مسجد دپاره او بیا دیته مستحب وئیل د هیڅ عالم او امام د مسلمانانو نه ندی ثابت انتهیٰ ۔ بیا وائی: فالذی یقصد القبر ولا یقصد المسجد مخالف للحدیث ۔ یعنی څوك چه قبرشریف مقصود د سفر ګرځوی او مسجد ئے مقصود نه وی دا د حدیث مخالف دے ۔ انتهیٰ ۔

او که یو انسان مسجد نبوی دپاره سفر اوکړونو د هغه دپاره بیا دا مستحب دی چه د رسول الله ﷺ قبر شریف ته هم ورشی او په هغه باندے سلام واچوی او د هغه په دواړو ملګرو باندے هم۔ دارنګه که د دواړو نیت اوکړی هم جائز به وی ۔

۲- **قول ثانی** د ابو حامد الغزالیؒ او ابو محمد بن قدامه المقدسیؒ وائی: چه د انبیاء او صالحینو قبرونو ته سفر ندے حرام ۔ استدلال کوی په حدیث د زیارة القبور باندے چه په هغے کښے دا الفاظ دی: (زوروا القبور) نو دا حدیث عام دے د هر قبر زیارت ته شامل دے که نبی وی او که ولی وی او که نور مقابر وی ۔ او استدلال کوی چه رسول الله ﷺ به د مسجد قباء زیارت ته هره هفته ورتلو نو د مساجد ثلاثه نه غیر نورو مساجدو ته هم تلل جواز لری ۔

او د لا تشد الرحال حدیث نه ئے دا جواب ورکړیدے چه دا محمول دے په نفی د استحباب باندے یعنی د مساجد ثلاثه نه ما سوا نورو مواضعو ته سفر کول مستحب ندی نو پدے کښے نفی د اباحت او جواز نشته ۔

الجواب: دا مذهب باطل او مخالف دے د صریح احادیثو ۔ شیخ الاسلام ابن تیمیه ددے جوابونه ورکړیدی ۔

۱- هر چه دا حدیث د زوروا القبور دے نو ددے نه مراد ملاقات د هغه قبرونو دے چه بغیر د شد الرحال (سفر کولو) نه وی نو ددے عموم مخصوص دے پدے حدیث د لاتشد الرحال باندے او هر چه د رسول الله ﷺ مسجد قباء ته تلل دی نو دا بغیر د شد الرحال نه وو او دا خو مونږ هم منو چه څوك مدینے ته لاړ شی نو هغه دپاره مستحب دی چه مسجد قباء ته لاړ شی او دوه رکعاته پکښے اوکړی دا د عمرے ثواب لری ۔ او دارنګه د رسول الله ﷺ د قبر ملاقات کول هم مستحب دی خو ددے دپاره ابتداءً سفر کول صحیح ندی ۔

۲- او لاتشد الرحال په نفی د استحباب باندے محمول کول د دوه وجو نه صحیح ندی (۱) – اوله وجه دا ده چه څوك دا په نفی د استحباب حمل کوی نو دا پخپله دا خبره تسلیموی چه دا سفر د غیر د مساجد ثلاثه نه څه عمل صالح نه دے او نه قربت دے او نه طاعت دے او نه د نیکو کارونو نه دے –

نو ثابته شوه چه څوك دا عقیده اوساتی چه سفر کول د انبیاء او صالحینو د قبرونو زیارت دپاره سفر کول قربت او عبادت او طاعت دے نو دا د اجماع مخالف دے او که پدے عقیده سفر اوکړی چه دا طاعت دے نو دا کار دده دپاره په اجماع د مسلمانانو حرام دے نو دا حرمت پکښے ددے وجے نه راغلو چه ده دا قربت اوګنړلو او دا خبره خو معلومه ده چه هر څوك چه قبرونو دپاره سفر کوی نو د هغه همدا قربت مقصد وی ۔

(۲) – دویمه وجه دا ده چه دا حدیث (لاتشد الرحال) د نهی تقاضا کوی او نهی تقاضا د تحریم کوی او کوم حدیثونه چه د نبی علیه السلام د قبر په زیارت کښے راغلی دی هغه ټول ضعیف دی په اتفاق د اهل علمو سره بلکه موضوعی دی ۔ انظر مجموعة الفتاوی (۲۷/ ۲۲۰) الجامع الفرید رسالة زیارة القبور (۳۸۷- ۳۹۱) ۔

شیخ عبد الرحمن بن حسن آل الشیخ په فتح المجید (۱/ ۲٦٥) کښے وائی : لا تشد الرحال کښے دوه احتماله دي یا به نهی وی یا به نفی وی او په یو روایت کښے په صیغه د نهی راغلے دے (کما فی روایة مسلم عن ابی سعید الخدری) نو دا متعین شوه چه دا د نهی دپاره دے نو پدے نهی کښے داخل شو د قبرونو او مشاهدو د زیارت دپاره سفر کول ۔ ددے وجه نه صحابه کرامؓ ددے حدیث نه منع فهم کړیده انتهیٰ ۔او بیا ئے د ابوبصره غفاریؓ او ابو هریرهؓ واقعه ذکر کړیده کما مرمنا ۔

بیا وائی : د غیر مساجد ثلاثه د زیارت نه څکه منع اوشوه چه دے ته په سفر کولو

كښې هيڅ مصلحت نشته او نه څه خاص فضيلت شته چه هغه باعث د سفر جوړ شي لكه دا خبره حافظ محمد بن عبد الهادي په الصارم المنكي كښې ډير په تفصيل سره ذكر كړيده او كه دا سفر مونږ په اجتهاد جائز كړو نو دا به د شرك د اسبابو نه لوئى سبب جوړ شي، بلكه دا چه پدے كښې د قبرونو نه عيد (اختر) جوړولے شي كوم نه چه شريعت منع كړيده انتهىٰ (٢٦٥– ٢٦٦)۔

فائده : شاه ولى الله دهلوى محدث الهندؒ په حجة الله البالغة (١/١٩٢) كښې ددے حديث د حكمت بيانولو متعلق رقمطراز دے فرمائي : كان اهل الجاهلية يقصدون مواضع معظمة بزعمهم يزورونها ويتبركون بها وفيه من التحريف والفساد ما لا يخفى فسدَّ النبى ﷺ الفساد لئلا يلتحق غير الشعائر بالشعائر ولئلا يصير ذريعة لعبادة غير الله تعالى انتهىٰ۔

يعني رسول الله ﷺ د دريے مساجدو نه ما سوا نورو ځايونو ته د سفر كولو نه منع اوكړه ددے حكمت دا دے چه پدے كښې رد دے په جاهليت والو باندے ځكه چه جاهليت والو به د خپلو مشرانو د ناستے پاستے او قبرونو وغيره ځايونو ته د تعظيم په نيت سفر كولو او د هغے زيارت ته به تلل او په هغے سره به ئے تبركات حاصلول – خو پدے كښې بے حده فسادات موجود وو پدے وجه نبى كريم ﷺ دا فساد بند كړو، دے دپاره چه غير شعائر اسلاميه د شعائر اسلاميه سره پيوست (گډوډ) نشي او ددے دپاره چه دا سفرونه د غير الله د عبادت ذريعه جوړه نشي انتهىٰ۔

بيا وائي : والحق عندى ان القبر ومحل عبادة ولى من اولياء الله والطور كل ذلك سواء فى النهى والله اعلم انتهى ـ يعني زما په نيز حقه خبره دا ده چه يو قبر ته يا د يو ولى د عبادت ځائے (خانقاه، چله گاه او غار) ته يا طور غر ته سفر كول پدے نهى كښې ټول يو شان برابر دى چه دا ټول حرام دى۔

د مولوى فيض الله صاحب نه صاحب د تنظيم الاشتات نقل كوى فرمائي : مراد ازين حديث اينست كه بجز مساجد ثلاثه هيچ جارا متبرك ومعظم دانسته وسفر آن جارا قربت وعبادت تصور كرده با هتمام آن جا سفر نه كنند كه اين چنين سفر كردن درست نيست، چنانچه از عبارات شاه ولى الله وشاه عبد العزيز وغيرهما محققين مستفادمى شود بلكه اين چنين سفر در بعض مواقع مفضى به شرك وكفرمى گردد واين چنين سفر از عادات جاهليه است بنا برين رسول اكرم ﷺ ازان ممانعت فرموده لمّا سفر تحصيل علوم دينيه وزيارت ابوين وغيرهما درين نهى هرگز داخل نيست زيرا كه تعظيم وتكريم ومتبرك دانستن هيچ جاوهيچ موضع دران هرگز مدّ نظر ومقصود نيست ونيز سفر علم وزيارت ابوين وامثالهما هرگز مفضى به مفاسد ومنكرات نيست ونيز آن از عادات مختصهٔ جاهليت نبود وبالجمله ميان هر دو فرق است يكے را بر ديگرے قياس نبايد كرد انتهىٰ۔

نو ثابتـه شـوه چـه د اولیـاؤ، انبیاؤ، صالحینو مزاراتو ته پدے نیت سفر کول چه هلته کښے تبرك حـاصـل کـړو، یا هلته عبادات ښه قبلیږی یا په هغے کښے دومره دومره اجرونه دی او حـال دا چـه هغے ته رسول الله ﷺ ترغیب نه وی ورکړے یا هلته یو پیر، مولا ناسته کـړیده یائے هلته چله ویستلے ده یائے هلته مونځ کړیدے او پدے سفر کښے اجر گنړی لکه عـام مشـرکـان پـدے نیت باندے ځی نو دا کار په اجماع د مسلمانانو د دین اسلام مخالفت دے او ددے حدیث په رُو سره حرام او باطل او شرکی عمل دے او د صحابه کرامو او تابعینو د طـریـقـے مخالفت دے چه ددے کار نه به هر مسلمان ځان ساتی ځوك چه د جنت طمع دار وی او د الله عبادت کـونـکے مسـلـمان ځان ته وائی ۔ پاتے شو بغض ځایونه او اشخاصو ته سفـر کـول چـه مسـاجـد نه وی پدے نیت چه پدے کښے اجر دے نو دا کار حرام نه دے بلکه هغـه یا مستحب یا واجب دے لکه د یو عالم یا نیك صالح انسان ملاقات ته تلل یا د مور وپلار مـلاقـات دپاره سفـر کـول یـا د علم طلب دپاره تلل یا د جهاد دپاره سفر کول نو پدے کښے اجر دے ځکه دیته شریعت ترغیب ورکړیدے ۔

او کله به مباح وی لکه په روایت ابن حبان او حاکم او ترغیب او ترهیب (۱۸۹/۳) کښے راغلی دی: وعـلـى العاقل ان لا یکون ظاعناً الا لثلاث : تزود لمعادٍ او مرمّة لمعاشٍ او لذة فی غیر محرم ۔ یـعـنـی عـاقـل چـه سفر کوی نو درے ځیزونو دپاره دے اوکړی: د آخرت توښے دپاره، د ژوند برابرولو دپاره، او یو خوند حاصلولو دپاره خو چه حرام نه وی ۔ نو سفر د لذت دپاره جائز دے ۔ دارنگه که یو انسان یو ځائے ته د تجارت او نزهت وغیره دپاره سفر اوکړی نو هلته په مساجدو کښے مونځ کول جائز دی ځکه چه مونځ دپاره دا سفر ندے شوے نو دا په حدیث لا تشـد الـرحال کښے ندے داخل ۔ بلکه د حدیث مقصد مخکښے بیان شو چه صرف دے درے زمکوله الله تعالى عزت ورکړیدے او دیته په سفر کولو کښے اجر ملاویږی او نورے زمکے الله تعالى ته یو شان دی ۔

فائده : المسـجـد الاقصی : بیت المقدس ته مسجد اقصی ولے وائی؟ سره ددینه چه اقـصٰـی اسم تـفـضـیـل صیـغـه ده په معنی د ډیر بعید سره نو د مسجد حرام نه لگ بعید مسـجد خو په هغه زمانه کښے نه وو چه هغه مسجد نبوی دے ؟ نو ددے وجه دا ده چه الله تـعـالـی تـه دا مـعلـومـه وه چـه مسجد نبوی (مسجد المدینه) به جوړیږی نو دا قاصی دے یـعـنی بعید دے د مکے نه او بیت المقدس اقصیٰ (ډیر بعید) شو نو دا تسمیه ده په اعتبار د مـا یـؤول الیـه سره او د مسجد حرام او مسجد اقصی په مابین کښے څلویښت کاله فرق

وو چه مسجد اقصیٰ څلویښت کاله روستو جوړ شویدے د مسجد حرام نه لکه ددے باب په آخر کښے به حدیث راشی ۔ وانظر طرح التثریب (۶/ ۴۵) ۔
او دا په ابتداء کښے یعقوب علیه السلام جوړ کړے وو بیا سلیمان علیه السلام ئے تجدید اوکړو او بیا روستو زمانه کښے عمر فاروق ئے تجدید اوکړو ۔

۵– وَعَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رضی الله عنه، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صلی الله علیه وسلم : «مَا بَیْنَ بَیْتِیْ وَمِنْبَرِیْ رَوْضَةٌ مِنْ رِیَاضِ الْجَنَّةِ، وَمِنْبَرِیْ عَلٰی حَوْضِیْ». مُتَّفَقٌ عَلَیْهِ .

ترجمه : او ابو هریره رضی الله عنه فرمائی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل : زما د کور او زما د منبر ترمینځ د جنت د باغیچو نه یوه باغیچه ده او زما منبر زما په حوض (یعنی حوض کوثر) باندے دے ۔ (بخاری ومسلم) ۔
تشریح : مَا بَیْنَ بَیْتِیْ الخ مبتدا ده او رَوْضَةٌ ئے خبر دے یعنی زما د کور نه تر منبر پورے دا حصه د مسجد د جنت د باغیچو نه یوه باغیچه ده ددے الفاظو په معنی کښے علماؤ ډیر اقوال ذکر کړیدی :
(۱) – یو مطلب دا دے چه پدے ځائے کښے عبادت کول سبب د دخول د جنت دے انسان جنت ته رسوی نو دا مجاز دے په اعتبار د مآل سره مراد دے لکه ددے مثال حدیث کښے دی : الجنة تحت ظلال السیوف ای الجهاد مآله الجنة ۔ یا الجنة تحت اقدام الامهات ای لزوم خدمتهن تؤدی الی الجنة ۔ علامه ابو محمد بن قتیبه المتوفی (۲۷۶) په تاویل مختلف الحدیث ص (۸۲) کښں تعارض نقل کړیدے چه جنت خو آسمانونو کښں دے او پدے حدیث کښں وائی چه زما د قبر او منبر ترمینځ د جنت باغیچه ده ۔ نو دا خو تعارض او تناقض دے نو ددے حدیثونو د تعارض د دفع کولو متعلق رقمطراز دے : چه هیڅ تناقض او تعارض نشته ځکه چه مابین قبری ومنبری روضة الخ نه دا مراد ندے چه دا بعینهٖ د جنت باغیچه ده بلکه مراد دا دے چه (الصلاة فی هذا الموضع والذکر فیه یؤدی الی الجنة فهو قطعة منها) یعنی پدے ځائے کښں مونځ او ذکر کول انسان جنت ته رسوی نو دا د جنت یوه حصه ده ۔ او ددے مثال ئے داسے ذکر کړیدے لکه حدیث کښں دی : الجنة تحت ظلال السیوف یا ارتعوا فی ریاض الجنة قالوا وما ریاض الجنة قال مجالس الذکر ۔ یعنی د ذکر

مجالسو ته رياض الجنة وئيلے شويدی ۔

٢- يا مطلب دا دے چه مابين بيتی ومنبری کروض من رياض الجنة فی نزول الرحمة وحصول السعادة بما يحصل فيها من ملازمة حِلَق الذكر لا سيما فی عهده ﷺ ۔ يعنی دغه حصه د زمکے د رحمت په نازليدو او د سعادت او برکت په حاصليدو کښے داسے ده لکه د جنت باغيچونه چه يوه باغيچه وی ځکه چه پدے کښے هميشه دپاره د ذکر حلقات لګيدلی وی، خاصکر د نبی عليه السلام په زمانه کښے ۔

علامه حافظ ابن عبد البرؒ فرمائی : لما كان ﷺ يجلس فی ذلك الموضع ويجلس الناس اليه للتعلم شبّه بالروضة لكريم ما يجتنی فيه الخ ۔ يعنی هر کله چه نبی عليه السلام پدغه ځائے (مسجد) کښے کيناستو او خلق به ورته د دين زده کولو دپاره ناست وو نو دائے مشابه کړو د روضے سره ځکه چه ددے ميوے ډيرے مزيداری دی ۔

دا دواړه تاويلونه مجاز دے او ضعيف دی پدے باندے سوال وارديږی چه بيا ددے ځائے خصوصيت نه پاتے کيږی ځکه چه هر هغه ځائے کښ چه هميشه دپاره ذکر کيږی او د دين تعليم او تعلم کيږی نو هغه هم سبب د دخول د جنت دے او د باغيچو پشان دے لکه په حديث کښے مساجدو ته هم رياض الجنة وئيل شويدی نو بيا ددے روضے څه مزيت او خصوصيت شو حال دا چه خلقو ددے نه عظيم مزيت فهم کړيدے ۔

اګرچه ددے جواب بعض علماؤ دا ورکړيدے چه په نورو ځايونو کښے پدغه اعمالو سره انسان نفس رياض الجنه ته رسيږی او جنت ورته حاصليږی او پدے محل کښے عمل کول انسان اعلىٰ د دغه رياض الجنه ته رسوی نو دا هغه مزيت او عظيم فضيلت شو ۔

ليکن دا جواب هم ضعيف دے وجه دا ده چه په حديث کښے خو دا صفت نشته چه دا اعلىٰ رياض الجنه دے بلکه مطلق روضة من رياض الجنة ورته وئيلے شويده نو دا تاويلات مذکوره ضعيف شو ۔

★- بله دا چه که دغه ځائے په عبادت مشغول نه وی هم ديته رياض الجنه وئيلے شی ۔

٣- مطلب : پدے کښے صحيح قول هغه دے چه ابن ابی جمره رحمه الله ذکر کړيدے چه دا حديث په خپل حقيقت او ظاهر باندے حمل دے چه دا ځائے بعينه د جنت د باغونو نه يو باغ دے دنيا ته راوړے شويدے لکه څنګه چه د حجر اسود باره کښے راغلی دی چه دا د جنت نه راغلے دے فيكون الموضع المذكور روضة من رياض الجنة الآن ويعود روضة فی الجنة كما كان، ويكون للعامل بالعمل فيه روضة فی الجنة ۔ يعنی دغه ځائے اوس هم د جنت

د باغیچو نه یوه باغیچه ده او د قیامت په ورځ به بیرته جنت ته واپس کیږی او څوك چه پدے ځائے کښے عمل کوی د هغه دپاره به په جنت کښے باغیچه جوړیږی ۔ او دا ډیر اظهر قول دے ځکه چه د نبی علیه السلام مرتبه اوچته ده لکه څنګه چه ابراهیم علیه السلام ته حجر اسود د جنت نه راوړے شوے وو نو زمونږ پیغمبر ته هم دغه شان خصوصیت بلکه د هغے نه اعلیٰ خصوصیت ورکړے شو چه د هغه مسجد روضة من ریاض الجنه اوګرځیده ۔او ددے وجے نه عوام دیته د جنت توته وائی ۔

(٤) – امام مالكؒ نه علامه ابن الجوزیؒ په کتاب المنسك کښے نقل کړیدی چه : انها روضة من ریاض الجنة تنقل الی الجنة (الفردوس الاعلی) ولا یفنی ولا یهلك مثل سائر البقاع ۔ یعنی دا زمکه به د قیامت په ورځ جنت ته نقل کیږی او د فردوس اعلیٰ یوه حصه به جوړیږی او دا د دنیا د نورو زمکو پشان نده نو دا به نه ختمیږی او نه به زائله کیږی او دا یو قول دے د جماعت د محققینو او دا دواړه قولین ظاهر ددے حدیث دے ۔

لیکن باندے دا **اشکال** کیدے شی (لکه ابن حزم پرے کړیدے) چه که دا په حقیقت حمل شی او دا حصه د جنت د ځایونو نه شی نو پکار ده چه پدے کښے دا خصوصیت وے چه انسان پکښ نه تګے کیدے او نه اوګے کیدے او نه برېنډ کیدے او نه ئے ګرمی کیدے لکه چه د جنت په باره کښے وئیلے شویدی : ﴿ اِنَّ لَكَ اَنْ لَا تَجُوْعَ فِيْهَا وَلَا تَعْرٰى وَاَنَّكَ لَا تَظْمَؤُا فِيْهَا وَلَا تَضْحٰى ﴾ طه ۔ ددے **جواب** دا دے چه هر کله دا حصه د جنت نه دنیا ته راغله نو د هغے نه هغه خصوصی آثار زائل شو او دنیوی آثار په هغے باندے مرتب شو ۔

دارنګه کومه حصه چه د جنت نه راوتلی وی، په هغے کښے دا ضروری نده چه په هغے کښے به هم هغه اثر وی کوم چه په جنت کښے دے ورنه که داسے شی نو بیا خو به حجر اسود حقیقةً د جنت نه اونه ګنړلے شی (ولا قائل به) هذا خلاصة ما فی وفاء الوفاء (۲/۴۲۹ – ۴۳۴) والمرعاة (۲/۴۰۱) بتغییر کثیر ۔

بیا پدے **روضه** کښے **اختلاف** دے چه آیا دا ټول مسجد ته شامل ده او که نه ؟ ۔

۱ – نو علامه ابوجعفر بن نصر الداودی المالکیؒ او علامه سمعانیؒ په خپل کتاب آمالی کښے وئیلی دی چه روضه ټول مسجد ته شامل ده کوم چه د رسول الله ﷺ په زمانه کښے موجود وو (او د هغے په ګز کولو کښے علامه سمهودی څلور روایات ذکر کړیدی (أ) سبعون ذراعا فی ستین او یزید : یعنی اویا ګزه اوګد او شپیته ګزه پلن (ب) : مائة ذراع فی مائة وانه مربع ۔ یعنی سل ګزه اوګد او سل ګزه پلن او دا مربع شکل دے (ج) د

سلونه کم دے نو دا په اول باندے صادق دے په هغے به محمول شی (د) : اول کښے د سلو نه په سلو کښے کم وو او بیا ئے دوباره جوړولو کښے زیادت اوکړو لیکن بیا وائی پدے روایت کښے د ذراع نه مراد اشبار (لویشتے دی) ځکه چه که گزونه مراد شی نو تول مسجد (۱۵۰) ته نه رسیږی لکه پدے باندے ماتجربه اوکړه ـ بیا ئے اول روایت ته ترجیع ورکړیده او دا ئے د امام نوویؒ نه هم نقل کړیدے : انه عن خارجة بن زید احد فقهاء المدینة السبعة : بنی رسول الله ﷺ مسجده سبعین ذراعاً فی ستین او یزید ـ او د ذراع نه مراد د آدمی ذراع دے ـ وفاء الوفاء (۱/۳٤۱) ـ

۲- **دویم قول** دا دے چه روضه هغه ده چه فقط منبر او حجرے ته مخامخ او موازی وی نو دا د حجرے د طرفنه پراخه ده او د منبر د طرفنه تنګه ده او اضلاع ئے منحرف دی ځکه چه منبر قبلے طرفته مقدم دے او حجره شام طرفته مؤخره ده نو دا روضه د شکل مثلث پشان ده چه دواړه ضلعین ئے په اندازه د منبر دی ـ

۳- **دریم قول** : روضه هغه ده چه د دواړه حدینو دواړو طرفونو ته برابره وی نو دا شامل ده هغه حصے ته چه د منبر په برابرئ کښے وی د مخے طرف د مسجد نه په طرف د قبلے کښے اګرکه د حجرے په برابرئ کښے نه وی ـ او دارنګه شاملیږی هغه حصے ته چه د جهت د شمال نه د حجرے په برابرئ کښے وی اګرکه د منبر په برابرئ کښے نه وی نو داشکل مربع شو ـ

بیا ئے ددے اقوالو دلائل ذکر کړیدی او دا ئے ثابته کړیده چه اولنی دواړه قولین کمزوری دی او دریم قول د جمهور او عام علماؤ دے او دا صحیح دے ځکه بعض روایاتو کښے د بیتی په ځائے حجرة عائشة لفظ راغلے دے او دارنګه مصلی د نبی علیه السلام مخے طرفته وتلے ده دے دواړو نه معلومیږی چه د مابین نه مراد هغه دے چه دواړو طرفونو کښے د یو طرف سره برابر وی ـ بیا وائی : د منبر نه د حجرے پورے طول (۵۳) گزه دے چه دا د مخکښے طرف د منبر نه شروع شے او مخے طرف د حجرے پورے لاړ شے نو دغه عدد جوړیږی ـ وفاء الوفاء (۲/٤۳۹) ـ

وَمِنۡبَرِیۡ عَلٰی حَوۡضِیۡ : یعنی زما منبر به زما د حوض کوثر په غاړه وی ـ د حوض نه مراد نهر الکوثر دے کوم چه په جنت کښے داخل دے ـ

ددے الفاظو هم ډیرے معانی بیان شویدی :

۱- یوه معنی دا ده چه څوك په دنیا کښے د پیغمبر منبر خوا ته راځی او دے ځائے

کښې اعمال صالحه کوي نو دا به د قيامت په ورځ حوض کوثر ته راځي او د هغې نه به د اوبو څکولو سعادت حاصلوي ـ قاله الخطابيؒ ـ

٢– دويم قول : ددې نه مراد بعينهٖ هغه منبر دې کوم باندې چه نبي عليه السلام دا خبره کړې وه دا به الله تعالى د قيامت په ورځ رانقل کړي او د حوض کوثر په خوا کښې به ئې کيدي او دا منبر اګرچه د معاويهٔ په دور حکومت کښې سوزيدلې دې ليکن الله تعالى پدې قادر دې چه بعينهٖ هغه راواپس کړي لکه د نورو اجسادو د بعث پشان ـ

او ددې تائيد په مرفوع حديث د ام سلمه کښې په نسائي (١١٣/١) کښې موجود دې : [ان قوائم منبري هذا رواتب في الجنة] ـ زما د منبر پائې (خپې) په جنت کښې لګيدلې دي (او د قيامت په ورځ حوض کوثر اصل کښې د جنت د حوض نه راروان دې) او دې قول ته ابن عساکر اظهر او علامه عبيد الله المبارکفوري راجح وئيلې دې وعليه اکثر الناس ـ مرعاة (٤٠٢/٢) ـ ٣– دريم دا چه ددې نه مراد يو بل منبر دې چه هغه به د قيامت په ورځ الله تعالى راپيدا کړي او په حوض باندې به ئې کيدي او د مسجد نبوي منبر ندې مراد، ليکن دا قول د سياق د حديث نه خلاف او بعيد دې ـ

٤– علامه سمهوديؒ وائي : ما ته يو بل احتمال هم ښکاره کيږي او هغه دا چه هغه زمکه چه په هغې باندې منبر دې دا به بعينهٖ جنت کښې دوباره راواپس کړې شي او دغه منبر به پداسې هيئت سره وي چه د جنت د منبرونو سره به مناسب وي نو دا منبر به په واله د حوض الجنه باندې کيخودې شي او ددې نه نبي عليه السلام تعبير کړيدې په ترعة من ترع الجنة سره، او نبي عليه السلام دا خبره امت ته ددې دپاره ذکر کړيده چه امتؒ ته ترغيب ورکوي چه پدې شريف محل کښې عمل اوکړئ چه دغه زمکه مو جنت ته اورسوي ـ وفاء الوفاء (٤٢٩/٢) ـ

٥– او دا مطلب هم کيدې شي چه د رسول الله ﷺ د منبر په ځائې به د قيامت په ورځ حوض کوثر وي يعني مدينه کښې به حوض کوثر وي لکه زمکه د شام د حشر ميدان دې نو مدينه کښې به حوض وي وهو الارجح عندي والله اعلم ـ

فائده : ددې جملې د مخکښې سره مناسبت دادې : چه هغه مبارکه حصه چه په هغې باندې د وحي سماوي او علم الهي فيضان کيدو او د اعمال صالحو او افکار صائبو نتيجه به راوتله د هغې تشبيه ئې د باغ سره ورکړه دغه شان د منبر د صفت تشبيه ئې ورکړه د حوض کوثر د صفت سره، لکه څنګه چه نبي عليه السلام په خپل علم سره جهالت ختم

کړې وو او خلق ئې په دين باندې سيراب کړي وو او مريضانو ته ئې په مواعظو او نصائحو سره شفاء ورکړې وه دغه شان د قيامت په ورځ به ئې د کوثر په اوبو باندې سيراب کوي.

٦– وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ : كَانَ النَّبِيُّ ﷺ يَأْتِي مَسْجِدَ قُبَاءَ كُلَّ سَبْتٍ مَاشِيًا وَرَاكِبًا ، يُصَلِّي فِيهِ رَكْعَتَيْنِ . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ .

ترجمه: او ابن عمر رضی الله عنه فرمائي: چه نبي کريم ﷺ به هره هفته پياده يا په سورلئ باندې مسجد قباء ته تشريف وړلو او په هغې کښې به ئې دوه رکعاته کول. (بخاري ومسلم)

تشريح: يَأْتِي مَسْجِدَ قُبَاءَ : قباء په ضمه د قاف او الف ممدوده سره. او الف مقصوره پکښې هم جائز دې دا د يو ځائې نوم دې چه ددې او د مدينې طيبې په مابين کښې درې ميله يا دوه ميله فاصله ده، څوك چه مکې ته ځي د هغه ګس طرفته راځي. او دا د مدينې په عوالي کښې داخل دې او دا په اصل کښې د يو کوهي نوم وو، رسول الله ﷺ چه کله د مکې مکرمې نه هجرت اوکړو او مدينې طيبې ته راداخل شو نو په دغه ځائې کښې ئې قيام اوکړو او دلته ئې يو مسجد جوړ کړو چه د مسجد قباء په نوم سره مشهور دې او ديته مسجد بني عمرو بن عوف هم وائي. او دا اولنې مسجد دې چه رسول الله ﷺ جوړ کړو، څه موده بعد مدينې ته رانقل شو او مسجد نبوي ئې جوړ کړو. ددې مسجد ډير فضائل په احاديثو کښې راغلي دي اعلىٰ فضيلت ئې دا دې چه نبي عليه السلام فرمائي: دوه رکعاته په مسجد قباء کښې د عمرې برابر دي.

٢– دارنګه رسول الله ﷺ به ورته هره هفته راتلو او دوه رکعاته مونځ به ئې پکښې کولو.

كُلَّ سَبْتٍ : هره هفته به ولې راتلو؟ علماؤ ددې وجه دا بيان کړيده چه د اهل قباء سره به ئې دوستانه جاري ساتله او هغوي سره به ئې مواصلات او تعلقات کول او په هغوي کښې چه به څوك مسجد نبوي ته د جُمعې مانځه نه پاتې شوي وي د هغوي خبر ګيري به ئې کوله.

علامه عبيد الله مبارکفوريؒ ليکي: دا حديث دليل دې پدې چه بعض اعمال صالحه د بعض ايامو پورې خاص کول او په هغې باندې مداومت کول جائز دي مثلا يو انسان

اووائی : زه به هر خالی د يو مسلمان ملاقات ته ځم يا به د زيارت په ورځ درس قرآن کوم او جمعے په ورځ به درس حديث کوم وغيره نو دا کار به جائز وی خو پدے شرط چه پدے تخصيص کښے به څه کمال نه گنړی او دا به د دين نه نه شماری ۔

مَاشِيًا وَرَاكِبًا : يعنی کله به پياده تللو او کله به په سورلئ ۔ نو واو په معنی د (او) دے۔

يُصَلِّي فِيهِ رَكْعَتَيْنِ : بعض وائی چه دا الفاظ د راوی ادراج دے ۔ ليکن صحيح دا ده چه دا الفاظ په حديث کښے ثابت دی او د مسجد قباء د مانځه فضائلو کښے مخکښے حديث تير شو د هغے نه معلوميږی چه دوه رکعاته مونځ په مسجد قباء کښے مسنون عمل دے ۔

٧– وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ ﷺ، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : «اَحَبُّ الْبِلَادِ اِلَى اللهِ مَسَاجِدُهَا، وَاَبْغَضُ الْبِلَادِ اِلَى اللهِ اَسْوَاقُهَا». رَوَاهُ مُسْلِمٌ .

ترجمه : او ابو هريره رضی الله عنه فرمائی چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل : د الله تعالی په نيز په تمام ښارونو کښے محبوب او پسنديده مقامات مساجد دی او بدترين او ناخوښه مقامات بازارونه دی ۔ (مسلم) ۔

تشريح : مساجد د الله تعالی د عبادت ځايونه دی ۔ پدے وجه الله تعالی ته ډير محبوب او پسند مقامات دی ۔ مطلب دا دے چه څوك په مسجد کښے وی نو الله تعالی په هغه باندے د رحمت سورے کوی او هغه ته د خير او نيکئ سعادت او توفيق ورکوی او ددے په مقابله کښے بازارونه هغه ځايونه دی چه هلته د شيطان تسلط او وسوسه زياته وی ځکه چه بازار کښے غالباً حرص، طمع، خيانت او بد ديانتی، دروغ او د الله تعالی د غفلت کارونه وی چه پدے باندے شيطان خوشحاليږی نو ځکه دا د الله تعالی په نيز بدترين او ناپسنديده مقامات دی ۔ نو مطلب ئے دا شو چه هر کله بازارونه الله تعالی ته بدترين او ناخوښه دی نو د خپل اشد ضرورت پوره کولو نه علاوه د چکر او تفريح دپاره پدے کښے پاتے کيدل ندی پکار دا د ډير خير نه د محرومئ سبب دے او د الله د رحمت نه ورانده کيدل دی ۔

اَسْوَاقُهَا : بازار ته ځکه سوق وائی چه ديته شيزونه د بيع دپاره چلولے شی يا جمع د

ساق ده نو ځكه ورته اسواق وائي چه خلق په كښې په خپلو پونډو سره د بيع او شراء دپاره ګرځي راګرځي ـ نه په سورلئ ـ

٨– وَعَنْ عُثْمَانَ رضي الله عنه ، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : ((مَنْ بَنٰى لِلّٰهِ مَسْجِدًا، بَنَى اللّٰهُ لَهُ بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ)). مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ .

ترجمه : او عثمان رضي الله عنه فرمائي : چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل : چا چه د الله تعالى دپاره مسجد جوړ كړو نو الله تعالى به د هغه دپاره په جنت كښې كور جوړ كړي ـ (بخاري ومسلم) ـ

تشريح : د الله دپاره د مسجد جوړولو مطلب دا دے چه څوك خالص د الله د رضا او خوشحالي حاصلولو دپاره مسجد جوړوي، رياء او سمعت او شهرت ئے مقصد نه وي خپله ملكي او مشري ثابتولو دپاره نه وي، د خپل نوم پيدا كولو دپاره نه وي نو الله تعالى به په جنت كښې ده دپاره كور جوړ كړي ـ ددے وجے نه علامه ابن الجوزيؒ فرمائي : څوك چه په مسجد باندے خپل نوم ليكي نو دا د اخلاص نه بعيده ده او دا دليل او علامه ده د رياء ـ بيا ددے دا مطلب ندے چه چا په مسجد نوم اوليكلو نو انسان به خامخا هغه ته رياء كار وائي بلكه رياء د زړه صفت دے خو ظاهر كښې دا نوم ليكل علامه د رياء پيدا كيدو ده ـ

مَسْجِدًا : پدے كښې تنوين د تنكير او تقليل دپاره دے او بيتا كښې تنوين د تعظيم او تكثير دپاره دے يعني چا چه وړوكے مسجد د الله دپاره جوړ كړو نو الله به ورله جنت كښې عظيم او لوئى كور جوړ كړي لكه په حديث د جابر كښې په روايت د ابن خزيمه او ابن حبان (٦٩/٣) رقم (١٦٠٩) او ابن ابي شيبه كښې دي عن عثمان : من بنى لله مسحدا ولو كمفحص قطاة ـ يعني اګركه د قطات مارغه د جالے په اندازه وړوكے وي ـ او مقصود پدے كښې مبالغه ده او ترغيب دے مساجدو جوړولو طرفته ـ يا په ظاهر باندے محمول دے يعني څوك چه په مسجد كښې دومره حصه زياتي كړي لكه د قطات مارغه د جالے پشان د ضرورت په بناء ـ

٣– يا چا چه په مسجد جوړولو كښې دومره چنده وركړه چه د قطات د مارغه د جالے هومره ځائے پرے واخستے شي نو هم ده دپاره به جنت كښې د يو لوئى كور بدله وركړے شي ځكه الله تعالى نيت ته ګوري ـ

په بعض رواياتو د بخاري او مسلم او ترمذي كښې داسے الفاظ راغلي دي : بني الله له في

الحنة مثله ـ د مثل دوه معاني دی ـ (١) – يو په معنی د افراد (يو والی) مطلقا سره لکه پدے قول د الله تعالی کښے راغلی دی : ﴿ اَنُؤْمِنُ لِبَشَرَيْنِ مِثْلِنَا ﴾ (٢) – دويم په معنی د مطابقت سره ـ کقوله تعالی : ﴿ اُمَمٌ اَمْثَالُكُمْ ﴾ ـ که په حديث کښے افراد معنی مراد شی نو اشکال دا دے چه د مسجد د بانی دپاره ئے د يو مثل وعده ولے اوکړه حال دا چه په آيت کښے دی : ﴿ مَنْ جَاءَ بِالْحَسَنَةِ فَلَهُ عَشْرُ اَمْثَالِهَا ﴾ ؟ ـ ددے ښه جواب دا دے چه مقصود د مثليت نه دا دے چه ددے نيکئ جزاء به د جنس د بناء نه وی او نه د جنس د غير نه يعنی د مسجد پشان ځائے به ورته ملاويږی اګرچه د دنيا د تنګی او د جنت د وسعت په اعتبار سره په دواړو مکانونو کښے تفاوت وی ځکه حديث کښے دی : موضع شبر فی الحنة خير من الدنيا وما فيها رواه احمد ـ

٢ – يا مثليت نه مراد مثليت په شرافت او فضل او توقير کښے دے ځکه چه دا جزاء د مسجد ده نو د هغه سره به په صفاتو د شرافت کښے يو شان وی ـ

او که د مثل نه مراد مطابقت شی نو امام نووی فرمائی : چه د مماثلت نه مراد دا چه : ان فضله علی بيوت الحنة کفضل المسجد علی بيوت الدنيا ـ يعنی ددغه کور فضيلت به د جنت په نورو کورونو داسے وی لکه په دنيا کښے د مسجد فضيلت په باقی کورونو يعنی د هغے مطابق به وی ـ

---

٩ – وَعَنْ اَبِیْ هُرَيْرَةَ ﷺ، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : «مَنْ غَدَا اِلَی الْمَسْجِدِ اَوْ رَاحَ، اَعَدَّ اللهُ لَهُ نُزُلَهُ مِنَ الْجَنَّةِ كُلَّمَا غَدَا اَوْ رَاحَ ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ .

ترجمه : او ابو هريره رضی الله عنه فرمائی : چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل : څوك چه د ورځے په اوله حصه کښے يا په آخره حصه کښے مسجد ته ځی نو الله تعالی په جنت کښے د هغه دپاره د ميلمستيا سامان تياروی برابره ده که صبا ځی يا بيګاه ـ (بخاری ومسلم) ـ

تشريح : پدے حديث کښے د غدو نه مطلق مسجد ته تلل او د رواح نه د مسجد نه راواپس کيدل مراد دی په هر وقت کښ چه وی او د غدو نه سحر کښے تلل او د رواح نه د زوال نه پس تللو پورے خاص ندی کوم چه اصلی معنی ده ـ بيا ددے حديث د ظاهر نه دا معلوميږی چه نفس مسجد ته په تللو کښے دغه اجر دے چه الله تعالی ورله په جنت کښے

ميلمستيا تياروى ليكن دلته د عبادت او مانځه دپاره تلل مقصود دي ـ
علماء فرمائي : د خلقو عادت دا دے چه څوك د هغوى كورته راشي نو ميلمستيا او طعام ورته رامخے ته كوى، او مسجد خو د الله كور دے نو څوك چه په هر وقت كښے كه شپه وى او كه ورځ مسجد ته راځى الله تعالى به ورته د جنت نه طعام او ميلمستيا وركوى لان الله اكرم الاكرمين فلا يضيع اجر المحسنين قاله المظهر انتهىٰ ـ

۱۰- وَعَنْ اَبِىْ مُوْسَى الْاَشْعَرِىِّ رضي الله عنه، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صلى الله عليه وسلم : «اَعْظَمُ النَّاسِ اَجْرًا فِى الصَّلَاةِ، اَبْعَدُهُمْ فَاَبْعَدُهُمْ مَمْشًى، وَالَّذِىْ يَنْتَظِرُ الصَّلَاةَ حَتّٰى يُصَلِّيَهَا مَعَ الْاِمَامِ اَعْظَمُ اَجْرًا مِنَ الَّذِىْ يُصَلِّىْ ثُمَّ يَنَامُ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ .

ترجمه : او ابو موسى رضى الله عنه فرمائي چه رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل : د مانځه د تولو نه زيات اجر هغه شخص ته ملاويږى چه په اعتبار د مسافت د ټولو نه زيات لرے وى (يعنى د چا كور چه د مسجد نه څومره لرے وى او هغه د كور نه مانځه دپاره مسجد ته راځى هومره زيات ثواب به ورته ملاويږئ) او څوك چه د مانځه په انتظار كښے (په مسجد كښے كينى) تردے چه د امام سره مونځ اوكړى نو دده ثواب د هغه شخص نه زيات دے چه (يواځے) ځانله مونځ اوكړى او اوده شى ـ (بخارى ومسلم) ـ

تشريح : فَاَبْعَدُهُمْ مَمْشًى : اول ميم مفتوح دويم ساكن دے مسافت ته وائى : يعنى د چا مسافت چه مسجد ته زيات وى او كورئے د مسجد نه وړاندے وى نو دا لوئى او زيات اجر والا دے ـ وجه دا ده چه دده قدمونه به زيات اخستے شى او په هر قدم باندے لس نيكيانے دى كما رواه احمد ـ ليكن دے باندے دا سوال واردیږى چه مسند احمد كښے (۳۸۷/۵-۳۹۹) كښے د حذيفه نه مرفوعا روايت دے : ان فضل الدار القريبة يعنى من المسجد على الدار البعيدة كفضل الغازى على القاعد ـ نو دلته خو مسجد ته د كور نزدے كيدلو كښې فضيلت زيات دے د وړاندے كيدلو نه ؟ ددے جواب دا دے چه دغه حديث د مسند احمد حمل دے په نفس زمكه باندے او دا حديث الباب حمل دے په فعل باندے نو د چا كور چه وړاندے وى د هغه مزل به زيات وى نو ثواب به ئے ډير وى، او د چا كور چه مسجد ته نزدے وى دا افضل دے د كور په اعتبار د هغه چا نه چه بعيد الدار دے ـ

★– ليکن اصح جواب دا دے چه حديث د حذيفه ضعيف دے فيه علي بن يزيد ابي عبد الملك الدمشقي وهو ضعيف وقد رواه عن حذيفة بلاغا فلا حاجة الى التطبيق ـ

وَالَّذِيْ يَنْتَظِرُ الصَّلَاةَ الخ : ددے مطلب دا دے چه کوم شخص په مانځه کښے پدے وجه تاخير کوی چه د امام سره ئے اوکړی او د امام په انتظار کښے ناست وی نو دا د هغه شخص په مقابله کښے چه د امام د انتظار نه بغير يوائځے مونځ اوکړی او اوده شي يا استراحت اوکړی، زيات اجر والا دے ـ

او بله صحيح معنى دا ده چه يو تن مخکښں جَمعه اوکړی او بل روستو جَمعه وکړی نو مخکنے انسان د دويم نه زيات اجر والا دے ځکه چه هغه په اول وقت کښں مونځ اداء کړو سره د فضيلت د جماعت نه او دويم صرف فضيلت د جماعت لاندے کړو نه فضيلت د اول وقت ـ

د دواړو جملو مناسبت ښکاره دے چه لکه څنګه بعد المکان مؤثر دے په زيادت د اجر کښے دغه شان طول الزمان د مشقت دپاره مؤثر دے ـ

ثم ينام : دا اشاره ده استراحت ته کوم چه مقابل دے د هغه مشقت چه په انتظار کښے دے ـ

---

۱۱ – وَعَنْ جَابِرٍ ﷺ، قَالَ : خَلَتِ الْبِقَاعُ حَوْلَ الْمَسْجِدِ، فَاَرَادَ بَنُوْ سَلِمَةَ اَنْ يَّنْتَقِلُوْا قُرْبَ الْمَسْجِدِ، فَبَلَغَ ذٰلِکَ النَّبِيَّ ﷺ، فَقَالَ لَهُمْ : «بَلَغَنِيْ اَنَّكُمْ تُرِيْدُوْنَ اَنْ تَنْتَقِلُوْا قُرْبَ الْمَسْجِدِ» . قَالُوْا : نَعَمْ يَا رَسُوْلَ اللهِ! قَدْ اَرَدْنَا ذٰلِکَ . فَقَالَ : «يَا بَنِيْ سَلِمَةَ ! دِيَارَكُمْ تُكْتَبْ آثَارُكُمْ، دِيَارَكُمْ تُكْتَبْ آثَارُكُمْ» . رَوَاهُ مُسْلِمٌ .

ترجمه : او جابر رضی الله عنه فرمائی : چه مسجد نبوی ته نزدے څه کورونه خالی شو نو بنو سلمه دا اراده اوکړه چه مسجد ته نزدے رانقل شی ـ نبی کريم ﷺ ته چه کله د هغوی ددے ارادے خبر اوشو نو هغه ورته اوفرمائيل : چه ماته دا معلومه شويده چه تاسو مسجد ته نزدے راتلو اراده لرئ ! هغوی عرض اوکړو : آؤ يا رسول الله ! مونږ همدغه اراده کړيده ـ نبی کريم ﷺ ورته اوفرمائيل : بنوسلمو ! تاسو خپل همدغه کورونه لازم اونيسئ ستاسو د قدمونو نخے به ليکلے شی، تاسو خپل کورونه لازم اونيسئ ستاسو د

قدمونو نخے به لیکلے شي ۔ (مسلم) ۔

تشریح : خَلَتِ الْبِقَاعُ : بقاع جمع د بُقْعَةٌ ده د زمکے څه حصے ته وائی ۔

بنوسلمه د مدینے د انصارو یو مشهور خاندان دے ددے خاندان څه افراد د مسجد نبوی نه وراندے اوسیدل کله چه د مسجد نبوی په خوا کښے د ځائے همواره ولو په وجه ځائے فراخه شو، نو بنی سلمه اراده اوکړه چه مسجد ته نزدے راشی او ددے ځائے په اوسیدو سره سعادت حاصل کړی ځکه دوئ ته به د شپے په راتلو کښے تکلیف وو او خاصکر د بارانونو په وقتونو کښے او سخته یخنئ کښے لیکن کله چه رسول الله ﷺ خبر شو هغوی ته ئے اوفرمائیل : تاسو چه کوم ځائے اوسیږئ ! همدغه ځایونه ستا سو دپاره بهتر دی وجه دا ده چه ستاسو مزل او قدمونه به مسجد طرفته زیات اخستے کیږی نو اجر به درته زیات ملاویږی او گناهونه به مو معاف کیږی او نبی علیه السلام دوی ځکه نزدے پرے نخودل چه جوانبَ د مدینے خالی نشی ۔

دِیَارَکُمْ : دا منصوب علی الاغراء دے ای الزموا دیارکم : لازم شئ په خپلو کورونو کښے ۔

تُکْتَبُ : دا یا مجزوم دے جواب د امر دے او رفع لوستل پکښے هم جائز دی چه دا جمله مستانفه شی ۔ **آثَارُکُمْ** : دا جمع د اثر ده، د قدمونو منړ ته وائی مراد ترینه قدمونه دی ۔

فوائد : (۱) – نیك اعمال چه کله خالص د الله د رضا دپاره وی نو د هغے د قدمونو اخستلو په بدله کښے نیکیانے لیکلے کیږی ۔

(۲) – مسجد ته نزدے اوسیدل مستحب دی مگر هغه څوك چه په هغه سره بله فائده او مصلحت حاصلیږی نو بیا نزدے والے بهتر ندے۔ بنوسلمه د مسجد نزدے والے طلب کړو ځکه چه دوی ته ددے فضیلت معلوم وو نو نبی علیه السلام پرے رد اونکړو بلکه دلته یو بل مفسدت راتلو او هغه دا چه د مدینے اطراف خالی کیدل نو مصلحت پدے کښے دے چه دوئ نزدے رانشی او ددے نزدے راتلو په بدله کښے ورته نبی علیه السلام د لرے والی فضیلت هم بیان کړو چه هغه ډیر ثواب حاصلیدل په ډیر قدمونو اخستو سره ۔

(۳) – د صحابه کرامو د دین او مسجد سره څومره محبت وو چه خپل کورو نه به ئے مسجد خوا کښے جوړول دے دپاره چه ددے نه ځان مستفید کړی ۔

(٤) – پدے کښې عُلُوُّ الْهِمَّة باندے خلق عادت کول ذکر دی چه ملګری سست نشی۔
(٥) – دار اسلام ګڼول او غټ ښکاره کول هم ضروری دی (تکثیر سواد المسلمین)۔

---

١٢ – وَعَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رضی الله عنه، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : «سَبْعَةٌ یُظِلُّهُمُ اللهُ فِیْ ظِلِّهٖ یَوْمَ لَا ظِلَّ اِلَّا ظِلُّهٗ : اِمَامٌ عَادِلٌ، وَشَابٌّ نَشَأَ فِیْ عِبَادَةِ اللهِ، وَرَجُلٌ قَلْبُهٗ مُعَلَّقٌ بِالْمَسْجِدِ اِذَا خَرَجَ مِنْهُ حَتّٰی یَعُوْدَ اِلَیْهِ، وَرَجُلَانِ تَحَابَّا فِی اللهِ، اِجْتَمَعَا عَلَیْهِ وَتَفَرَّقَا عَلَیْهِ، وَرَجُلٌ ذَکَرَ اللهَ خَالِیًا فَفَاضَتْ عَیْنَاهُ، وَرَجُلٌ دَعَتْهُ امْرَأَةٌ ذَاتُ حَسَبٍ وَجَمَالٍ، فَقَالَ : اِنِّیْ اَخَافُ اللهَ، وَرَجُلٌ تَصَدَّقَ بِصَدَقَةٍ فَاَخْفَاهَا حَتّٰی لَا تَعْلَمَ شِمَالُهٗ مَا تُنْفِقُ یَمِیْنُهٗ» . مُتَّفَقٌ عَلَیْهِ .

ترجمه : او ابو هریره رضی الله عنه فرمائی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل : اووه کسان داسے دی چه هغوی به الله تعالی په هغه ورځ (یعنی د قیامت په ورځ) په خپل سور کښے کړی چه په هغه ورځ به د الله تعالی د سوری نه سوئ بل هیڅ سورے نه وی۔ (١) انصاف کونکے بادشاه۔ (٢) هغه ځوان چه خپله ځوانی د الله په عبادت کښے صرف کړی (٣) هغه شخص چه مسجد نه اوځی نو ترڅو چه هغه دوباره مسجد ته نه وی راواپس شوے نو د هغه زړه مسجد سره لګیدلے وی۔ (٤) هغه دوه کسان چه صرف د الله دپاره خپل مینځ کښے محبت ساتی که یو ځائے کیږی نو د الله په محبت کښے او که جدا کیږی نو د الله په محبت کښے (یعنی حاضر او غائب کیدو کښے خالص د الله دپاره محبت لری)۔(٥) هغه شخص چه یواځے والی کښے الله تعالی یاد کړی او (د الله د یرے نه) د هغه د سترګو نه اوښکے روانے شی۔ (٦) هغه شخص چه یوے شریف النسب او ښائسته ښځے (د غلطے ارادے سره) رابللے وی او هغه (د هغے د خواهش په جواب کښے) وئیلی وی چه زه د الله نه یریږم۔ (٧) هغه شخص چه داسے په پټه صدقه ورکړی وی چه د هغه ګس لاس ته هم نه وی معلوم شوی چه ښي لاس څه خرچ کړیدی۔ (بخاری ومسلم)۔

تشریح : سَبْعَةٌ یُظِلُّهُمُ اللهُ فِیْ ظِلِّهٖ : ١– د ظل نه مراد سورے د کرامت او حفاظت دے نو معنی دا ده چه الله تعالی به ئے د آخرت د مصیبتونو او پریشانو نه محفوظ کړی او په رحمت کښے به ئے داخل کړی دا ترجمه قاضی عیاض غوره کړیده۔

یا ظل الله مراد دے بیا دا د متشابهاتو نه دے او دا خلق الله تعالی په خپل سوری کښې داخلوی ځکه چه دوئ د خپل خواهشاتو گرمی په دنیا کښې دفع کړې وه نو الله تعالی ئے د قیامت د گرمئ نه ساتی ۔

۲- علامه قرطبیؒ وائی : ددے سوری نه د عرش سورے مراد دے لکه دا په حدیث د سلمان کښې راغلی دی : سبعة یظلهم الله فی ظل عرشه، رواه سعید بن منصور باسناد حسن ۔ او دا قول غوره دے وجه دا ده چه د عرش د سوری لاندے کیدل د الله په رحمت او کرامت کښې داخلیدو لره مستلزم دی من غیر عکس ۔ دارنگه په بل روایت کښې ورسره یوم القیامه لفظ ذکر دے معلومیږی چه د عرش سورے مراد دے ځکه چه نفس رحمت او کرامت خو په دنیا کښې هم شته ۔

اِمَامٌ عَادِلٌ : د امام عادل نه د ولایتِ عظمیٰ خاوند مراد دے چه هغه په رعیت کښې عدل کوی او ددے په حکم کښې به هر هغه څوک داخل دی چه د مسلمانانو د څه کارونو مشری کوی او عدل په کښې کوی لکه حدیث کښې راغلی دی : ان المقسطین عند الله علی منابر من نور عن یمین الرحمن الذین یعدلون فی حکمهم واهلهم وماولوا (مسلم) ۔ نو په خپل کور په خپله علاقه په خپل وطن کښې په خپل بال بچ کښې عدل کونکی هم پدے کښې داخل دی ۔

بیا عادل څه ته وائی نو ددے ښه تفسیر دا دے چه : الذی یتبع امر الله یضع کل شئ فی موضعه من غیر افراط ولا تفریط ۔ یعنی عادل هغه دے چه د الله د حکم تابعداری کوی او هر شے په خپل مقام کښې ایږدی، هر چا ته خپل حق او خپله مرتبه ورکوی او افراط او تفریط پکښې نکوی ۔

د امام عادل اعلیٰ عدل دا دے چه په خپل رعیت او ملك کښې د الله شریعت او نظام نافذ کړی څوك چه په خپل قوم او ملك کښې د الله د شریعت نه په غیر بل قانون لاډمیکالے، انگریز، نرخ او نور قوانین وضعیه باندے فیصلے کوی نو د ادا الله تعالی په نیز کافر دے ومن لم یحکم بما انزل الله فاولئك هم الکافرون المائده : ٤٤) ۔

نو کله چه یو حاکم داسے قوانین وضع کړی چه هغه د شریعت سراسر خلاف وی او ده ته ښه معلومه وی چه دا د شریعت خلاف دی لیکن د شریعت نه مخ اړوی په هغے باندے فیصلے نکوی او په خپل وضعی قانون فیصلے کوی نو دا انسان اگرکه دا وائی چه زه د شریعت نه منکر نه یم، د هغے قانون منم نو دا بیا هم کافر دے اگرکه مونځ کوی، زکات

ورکوی، روژے نیسی، حج کوی، د الله ذکر کوی قرآن تلاوت کوی او د رسول الله ﷺ د رسالت گواهی ورکوی، بیا هم کافر دے مخلد فی نار جهنم الی یوم القیامه انظر شرح ریاض الصالحین لمحمد بن صالح العثیمین (۱/۲۵۹) ـ

څکه چه که ده ته د الله تعالی قانون حاکم اعلیٰ ښکاره کیدلے، نو ولے ئے نور قوانین وضع کول، دا دلیل دے په کفر دده باندے او داسے حاکم په مسلمانانو باندے مقررول باتفاق الامه حرام دی، خو افسوس چه په مونږ مسلمانانو باندے داسے قسم بادشاهان نه بلکه غلامان مسلط دی چه د شریعت نافذ کول خو درکنار د شریعت پورے مسخرے او استهزاء کوی او دیته ظالمانه قانون وائی ـ اوس هم خلق دے ته کافر نه وائی او د دوئ نظام ته فیصلے وروړی او د دوی سره په حکومت کښے حصے اخلی دوی ته ځان نزدے کوی، دا خلق به د الله نه څومره وراندے وی ـ

۱- دارنګه د امام عادل بل عدل دا دے چه په فیصله کښے به د فقیر او غنی، دشمن او دوست، خپلوان او پردی په مابین کښے مساوات کوی یو طرفته به نه مائل کیږی تردے چه علماؤ – رحمهم الله – وئیلی دی که یو قاضی ته دوه سړی ورشی یو مسلمان او بل کافر وی نو ده له دا حرام دی چه مسلمان ځان سره جدا کړی بلکه دواړه به یو شان راداخلیږی او یو شان به کینی او قاضی به د دواړو سره یو شان خبرے کوی، داسے به نکوی چه یو سره خبرے اوکړی او بل سره ئے اونکړی او مسلمان ته په خواره تندی ګوری او کافر ته په تروش تندی ګوری اګرکه کافر سره دشمنی پکار ده لیکن اوس دا مقام د فیصلے دے دلته مساوات واجب دے ـ

۲- بل عدل ئے دا دے چه کوم حدود، الله تعالی په هر چا فرض کړیدی، هغه پرے قائم کړی او د هیچا لحاظ پکښے اونکړی اګرکه اولاد ئے مجرمان وی لکه نبی علیه السلام ته د بنی مخزوم د یوے زنانه سفارش اوشو چه دا دِ معاف کړے شی نو نبی علیه السلام سخت غصه شو او اسامه ته ئے اووئیل ته د الله په حد کښے سفارش کوے، بیا ئے خلقو ته تقریر اوکړو او وے فرمایل: اما بعد: فانما هلك من كان قبلكم انهم كانوا اذا سرق فيهم الشريف تركوه واذا سرق فيهم الضعيف اقاموا عليه الحد وايم الله (اى احلف بالله) لو ان فاطمة بنت محمد سرقت لقطعت يدها ـ

یعنی که فاطمه چه زما لور ده غلا اوکړی نو زه ئے نه معاف کوم خامخا به ترے لاس پریکوم او دا هغه عدل دے چه پدے باندے اسمانانو نه او زمکے ولاړ دی ـ

٤- دارنګه د امام بل عدل دا دے چه د حکومت عهدے به اهل او لائق او با صلاحیت خلقو ته حواله کوی چه هغه دیندار وی، امین وی او قوی وی ځکه چه د ولایت دوه ارکان دی د قرآن نه معلوم دی: ﴿ إِنَّ خَيْرَ مَنِ اسْتَأْجَرْتَ الْقَوِيُّ الْأَمِينُ ﴾ القصص: ٢٦) ﴿ وَإِنِّي عَلَيْهِ لَقَوِيٌّ أَمِينٌ ﴾ النمل: ٣٩) که یو امام غیر امین یا غیر قوی ته څه منصب حواله کړی او غوره انسان موجود وی نو دا به عادل نه وی۔

ددے وجے نه نبی علیه السلام امام عادل اول په هغه کسانو کښے ذکر کړو چه د الله د سوری لاندے به ناست وی ځکه چه عدل په رعیت کښے ډیر مشکل کار دے او دده مصالح ډیر وی او فائده ئے عامه ده خلقو ته د عادل بادشاه په وجه ډیر خیر حاصلیږی، برکات د رزقونو، بارانونو فراخی ورسره راځی وفي الحديث: اهل الجنة ثلاثة ذو سلطان، مقسط موفّق ۔ رواه مسلم (٢٨٦٥) رياض الصالحين (٦٦٢)۔

بیا ئے الله په سوری کښے ځکه داخلوی چه ده هم په انسانانو باندے د الله د شریعت او نظام سورے کړیدے نو جزاء من جنس العمل وی الله تعالی دا په خپل سوری د رحمت کښے داخلوی۔

وَشَابٌّ نَشَأَ فِيْ عِبَادَةِ اللهِ: شاب هغه ځوان چه پنځلس کالو نه تر دیرش کالو پورے وی، د ځوان عبادت الله تعالی ته ډیر خوښ دے، وجه دا ده چه دده خواهشات زیات وی مختلف فکرونه لری، اندامونه ئے قوی وی، په یو حال باندے نه وی، هر شے ئے راجذب کوی او هره فتنه ئے تختوی نو کله چه دا په خپل خواهشاتو باندے خپه کیدی او خپله ځوانی د الله په عبادت کښے خرچ کړی او توجه او فکرئے د الله رضا کولو طرفته واوړی نو الله ورله د عرش په سوری کښے ځائے ورکوی۔

بیا عبادت د الله څه شے دے؟ د الله په ټولو اوامرو عمل کول او د ټولو نواهی نه ځان ساتل او دا په علم باندے کیږی چه دا معلومه شی چه دا امر دے او دا نهی ده نو ددے وجے نه اول کښے علم زده کول ضروری دی نو دا ځوان به طالب العلم وی او امتثال د اوامرو او اجتناب د نواهی به کوی۔

وَرَجُلٌ قَلْبُهُ مُعَلَّقٌ بِالْمَسْجِدِ: یعنی هغه سړے چه مسجد سره ئے مینه وی۔

معلق: یا تعلیق نه دے، معنی دا ده چه زړه ئے زوړند وی په مسجد کښے اشاره ده دیته چه دا په زړه سره طویل الملازمه دے، اګرکه بدن ئے د مسجد نه بهر وی خو زړه کښے ئے همیشه مسجد یاد وی چه کله به ورداخلیږم۔

٢– يا دا د عَلَاقَةٌ نه ماخوذ دے په معنی د شِدَّةُ الحب سره يعنی مساجدو سره ډيره مينه ساتي ـ نو ددے دوه مطلبونه جوړيږی يو دا چه مسجد کښے هميشه دپاره ناست وی، هيڅ مونځ ترے نه فوت کيږی ليکن دا کار ګران دے ـ

٢– دويم دا چه د مسجد نه جدا کيږی ليکن په زړه کښے ئے هميشه دپاره د مسجد محبت پروت وی په خپل کاروبار کښے مشغول وی ليکن زړه کښے ئے دا مينه وی چه کله به د بل مانځه وقت راځی چه مسجد ته لاړ شو او همدا مقصد ظاهر دے ـ

شيخ عثيمين په شرح د رياض الصالحين (٢٦١/١) کښے وائی : د بالمساجد دوه معانی جوړيږی: (أ) يا اماکن السجود ترے مراد دی يعنی ډير مونځونه ئے خوښ وی ـ

(ب) يا مقصود مساجد مخصوصه دی يعنی دا انسان هميشه په مانځه ولاړ وی او په مسجد کښے وی ـ

وَرَجُلَانِ تَحَابَّا فِي اللهِ : ذکر د رجلان دے او مراد ترينه عام دے خو دا صرف په مثال کښے ذکر دی ـ د دوه ښځو هم دا حکم دے ، دارنګه د يو سړی او ښځے هم دا حکم دے ـ

محبت فی الله ديته وائی چه د الله د رضا دپاره يو بل سره مينه کوی چه دا مسلمان دے څکه ورسره مينه کوم دواړو مينځ کښ څه قرابت نه وی، د مال لالچ نه وی او طبعی دوستی نه وی بلکه پدے وجه ورسره محبت کوی چه د الله په عبادت ئے وينی د هغه په شريعت ئے پابند وينی څکه ورسره محبت کوی او کله چه يو رشته دار وی او يا دوست وی او ورسره ديندار وی نو پدے کښے څه مانع نشته د محبت کولو نه بلکه د دوه وجو نه دے ورسره محبت اوکړی، يو د خپلولئ او دوستانے نه او بل د اخوت ايمانی د وجے نه ـ

تحابا : باء مشدده ده په اصل کښے تَحَابَبَا دے د باب تفاعل نه يعنی دواړه په جنس محبت کښے شريك وی ـ

اِجْتَمَعَا عَلَيْهِ وَتَفَرَّقَا عَلَيْهِ : ددے ١– يو مطلب دا دے چه اجتماع او افتراق فی المجلس مراد دے يعنی دواړه که په يو مجلس کښے راجمع وی نو هم د يو بل سره محبت لري او که د يو بل نه په مجلس کښے جدا وی نو هم د يو بل سره محبت لری يعنی په حضور او غياب دواړو حالتونو کښے محبت ساتی او حقيقی دوستی وی ـ

٢– دويم مطلب : مراد ددے نه دوام علی المحبة الدينية دے يعنی دواړه تر مرګه پورے پدے محبت باقی وی او يو بل سره افتراق نه راولی، مګر که افتراق راځی نو په مرګ به راځی او د دنيوی لالچ په وجه ئے د يو بل سره جدائی نه راځی بيا برابره ده که د يو بل سره

ملاويږي او كه نه يعني مثلا يو په يو ملك كښې دے او بل په بل ملك كښې اګركه زر زر ملاقات هم نه كيږي ليكن د يو بل سره د دين د وجې محبت ساتي نو دا دواړه د عرش د سورى لاندې وى او آخرت كښې به هم د دوئ دوستي باقي وي كما في القرآن : ﴿ اَلْاَخِلَّاءُ يَوْمَئِذٍ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ اِلَّا الْمُتَّقِيْنَ ﴾ الزخرف : ٦٧) ـ

٣- يا دا مطلب چه اجتماع د دواړو په محبت سره ده او كه د يو بل سره ورانوى نو هم د الله د وجهې نه ـ

وَرَجُلٌ ذَكَرَ اللّٰهَ خَالِيًا : يعني هغه سړے چه الله په زړه يا په ژبه ياد كړي په يواځې ځائے كښې چه څوك ورسره خو اكښې نه وى، يا دا چه د خلقو په مينځ كښې وى خو زړه او ژبه ئې صرف يواځې د الله په ياد كښې وى د الله نه بل طرفته التفات نه كوى ، رياء سمعت نكوى او شرك نكوى، يواځې الله يادوى يا يواځې ځائے كښې الله تعالى يادوى او د هغه عظمت پرے دومره اثر اوكړى چه الله طرفته ئې شوق پيدا شى او د هغه شدتِ خوف اوكړى او د سترګو نه ئې اوښكے تويې شى ـ

د اوښكو د تويه كيدو اسباب

١- كله د انسان اوښكے د الله د خوف په وجه توئيږي ـ

٢- يا د اور د يادولو او ليدلو په وجه ـ

٣- يا د جبار ذات د عظمت په وجه ـ

٤- كله ژړا د الله د نعمتونو د يادولو په وجه وى ـ

٥- كله د خپلو ګناهونو د ډير والى په وجه وى ـ

٦- كله د الله مخے ته د اودريدو په وجه وى ـ

٧- او كله په قرآن كريم كښې د تدبر په وجه وى ـ

٨- او كله د مجاهدے په وجه وى ـ

وَرَجُلٌ دَعَتْهُ امْرَأَةٌ ذَاتُ حَسَبٍ وَجَمَالٍ : يعني هغه سړے چه يوه مالداره حسينداره بيګم ورته دعوت د زنا وركړى دا شپه په زنا قادر وى او ځائے هم د امن وى او دعوت هم د ښځے د طرفنه وى او شهوت هم غالب وى او دا انسان د الله نه يره اوكړى، دا ټول اسباب د زنا شاته كړى او د الله خوف مخے ته كړى نو دا به د عرش د سورى لاندې وى ـ

حَسَبٍ : په فتحه د حاء او سين سره هغه صفات چه انسان ئې د خپلو پلارانو په فخر كښې ذكر كوى ـ ٢- يا د انسان خپل خصالِ حميده او د پلارانو ښائسته عادات مراد دى او

د حسب اطلاق په اهل او مال باندے هم کیږی او ددے اول اعلیٰ مصداق یوسف علیه السلام دے چه امرأة العزیز ورته دعوت د زنا ورکړو نو د الله خوف ئے یاد کړو او پدے کښے هغه زنانه هم داخل ده چه بادشاه ورته دعوت د زنا ورکړی۔

وَرَجُلٌ تَصَدَّقَ بِصَدَقَةٍ : صدقه ئے نکره راوړه چه لګ او ډیر تولو ته شامل شی۔

فَاَخْفَاهَا : یعنی دے انسان کښے دومره اخلاص دے چه د هر چا نه دا صدقه پټوی بالفرض که چرته دا ممکن وے چه دده چپ لاس د ښی لاس په صدقه باندے خبر نشی نو هم ده به دا کار کړے وے او چپ لاس ته به ئے هم نه وے ښکاره کړے یا مبالغه داسے ده چه که چرته دا ګس لاس یو ویښ سړے وے او د انسان ښی لاس ته ئے کتلے نو هم نه به وو خبر شوے په صدقه د ښی لاس۔ دومره ئے پټه ورکوی۔ نو پدے صدقه کښے یو اخلاص دے او بل پکښے من او ضباطول نشته ځکه چه ځوك چاته د خلقو په مخامخ صدقه ورکړی نو په هغه باندے احسان او زباتول مقصد وی خو دا انسان دا کار نکوی، صدقه نفلی او فرضی دواړو ته شامل ده نو پدے کښے تفصیل دے۔

امام نوویؒ د علماؤ نه نقل کړیدی چه فرضی صدقه (زکات) ښکاره ورکول ډیر افضل دی د پټ ورکولو نه ددے دپاره چه نور خلقو ته دعوت شی چه هغوی هم زکات ورکړی او نفلی صدقات پټ ورکول بهتر دی۔

لیکن اصح دا ده چه نفلی صدقاتو کښ هم تفصیل دے او هغه دا چه مصلحت ته به کتلے شی کله چه مقصود په اظهار د صدقه کښے نورو خلقوته تشجیع ورکول وی او هغوی ته دعوت ورکول مقصد وی چه هغوی هم داسے کار اوکړی او د انسان نه ریاء نه واقع کیږی نو بیا ښکاره ورکول ډیر بهتر دی، ددے وجے نه الله تعالی د هغه خلقو مدحه بیان کړیده چه په ښکاره او پټه صدقات ورکوی ﴿ اَلَّذِيْنَ يُنْفِقُوْنَ اَمْوَالَهُمْ سِرًّا وَّعَلَانِيَةً ﴾ او کله چه د انسان نه ریاء واقع کیږی نو بیا صدقه پټول افضل دی۔ نو درے مراتب دی کله به پټوالے انفع وی او کله به اظهار انفع وی او که دواړه طرفونه برابر وو نو بیا پټوالے افضل دے لکه په ښکاره ورکولو کښے دعوت ورکول مقصود نه وی او شائبه د ریاء هم د انسان نه واقع کیږی نو پټوالے بهتر دے، دا اخلاص ته ډیر نزدے ده۔ وانظر شرح ریاض الصالحین لابن عثیمین (۱/۲۶۲)۔

فائدة بدیعة : پدے حدیث کښے سبعه ذکر شو چه اووه کسان به د عرش د سوری د لاندے ناست وی نو پدے کښے حصر نشته دا صرف په یو مجلس کښے ذکر شویدی بلکه

په نورو احاديثو كښے تقريباً (٢٧) قسم صفاتو والا كسان راغلى دى او په كتاب السابقين الى ظل الله كښے ئے تقريبا (٨٠) اتيا كسان ذكر كړيدى او شيخ په الفوائد فى تزكية النفوس (٣٤٤/١) كښې سل (١٠٠) ذكر كړيدى چه د هغے نه بعض ذكر كيږى :

اووه (٧) خو پدے حديث كښے راغلى دى : ٨- اتم : انظار المعسر : تنګدست مقروض ته په قرض كښے انتظار كول ـ ٩- يا ورته معاف كول ١٠- اظلال الغازى : يعنى غازى (مجاهد) ته سامان وركول چه ځان له پرے سورے اوكړى ـ

١١- غلام مكاتب سره مدد كول او هغه سره په ځان آزادولو كښے مدد كول ـ

١٢- په تجارت (كاروبار) كښے رشتيا وئيل ـ

١٣- حفظ ادبار المجاهدين : يعنى د مجاهدينو حفاظت كول او د هغوى آثار پتول او د هغوى د طرفنه دشمنانو سره مقابله كول ـ

١٤- په وړوكوالى كښے د قرآن تعليم كول او په بوډا والى كښے لوستل ـ كما فى رواية البيهقى : (ورجل تعلم القرآن فى صغره فهو يتلوه فى كبره الحديث ـ ١٥- رعاية الشمس لمواقيت الصلاة ـ د مانځه د اوقاتو دپاره نمر ته كتل چه كله به وقت داخليږى چه مونځ اوكړى ـ ١٦- التكلم بعلم والسكوت بحلم : كه يو انسان خبره كوى نو د علم خبره كوى او كه غلے كينى نو په حلم او بردبارى او وقار سره ناست وى ـ

١٧- اعانة الاخرق : د كم عقل (كمزورو خلقو) اعانت كول ـ ١٨- المشى الى المساجد فى الظلم ـ (مسجد ته په تياره كښے تلل) ١٩- اطعام الجائع ـ (اوږى سړى ته خوراك وركول ـ ٢٠- الوضوء على المكاره : په تكليف سره اودس كول ـ ٢١- د يتيم كفالت كول ٢٢- د كنډو كفالت كول ٢٣- الذين اذا اعطوا الحق قبلوه : هغه خلق چه كله حق وركړلے شى هغه قبلوى ـ ٢٤- واذا سئلوه بذلوه ـ كله چه د حق تپوس ترے اوشى نو هغه بيانوى ـ ٢٥- وحكموا للناس كحكمهم لانفسهم ـ خلقو دپاره هغه شان فيصله كوى څنګه چه ځان دپاره كوى ـ رواه احمد (٦٧/٦) باسناد حسن ٢٦- الحزين ـ غمجن انسان ـ

٢٧- وفى الحديث الصحيح : ظل المؤمن يوم القيمة صدقته، رواه احمد (١٤٨/٤) والحاكم (٤١٦/١) ـ صدقه كول ـ ٢٨- سورة البقرة او آل عمران لوستل ـ

٢٩- فلا يكن على المؤمنين غليظاً وليكن بالمؤمنين رحيماً، رواه ابو الشيخ فى كتاب الثواب ـ مومنانو سره سختى نكول او مؤمنانو سره نرمى كول ـ ٣٠- ابى بكرؓ مرفوعاً : من عزى الثكلىٰ، رواه ابن السنى رقم ٥٨٧)ـ بورو (كونډو ښځو) ته تسلى وركول ـ

۳۱– عن فضیل بن عیاض قال بلغنی عن موسی علیه السلام : الذین یعودون المرضیٰ
ویشیعون الهلکیٰ۔ رواه ابن ابی الدنیا وهو اثر اسرائیلی ۔ د بیمارانو تپوس کول او د مصیبت
زده و سره مدد کول (یا د مړو جنازه کول) ۔ ۳۲– رجل لم یأخذه فی الله لومة لائم۔ د الله
دپاره د هیچا د ملامتیا نه نه هیریږی ۔ ۳۳ – ورجل لم یمد یده الی ما لا یحل له ۔ څوک
چه پردی حرام شی ته لاس اوګد نکړی ۔ ۳۴– رجل لم ینظر الی ما حرم علیه ۔ څوک چه
حرام شی ته نه ګوری ۔ ۳۵– واصل الرحم ۔صله رحمی قائمونکے ۔ –
۳۶– هغه زنانه چه کونډه شی او د یتیمانو د پرورش دپاره نکاح اونکړی تردے چه
هغه ماشومان بے پرواه شی یا مړه شی ۔
۳۷– الله په ځان باندے همیشه حاضر ناظر ګنړل چه الله ما سره دے چرته چه زه یم ۔
۳۸– مؤذنین به د الله د عرش په سوری کښې وی عن ابی سعید مرفوعا ۔
۳۹– هغه غلام چه د الله او د خپل مولا حق اداء کړی ۴۰– هغه امام چه قوم ته
امامتی کوی او هغوی ترے راضی وی ۔ ۴۱ – من فرج عن مکروب من امتی ۔ څوک چه د
یو مصیبت زده نه مصیبت لرے کړی ۔
۴۲– احیا سنتی ۔ سنت طریقه ژوندے کول ۴۳– زیات درود وئیل ۔ ۴۴– حملة القرآن
۔ قاریان او علماء ۔ ۴۵– عن انس مرفوعاً : ان المریض فی ظل العرش، رواه ابویعلی رقم
(۱۶: ۳۴ ۔مریض به د عرش د سوری لاندے وی ۔ ۴۶– اهل الجوع فی الدنیا ۔ دنیا کښې
چه څوک وګی وی ۔۴۷– الصائمون ۔ روژه دار خلق ۔۴۸– اطفال المؤمنین ۔ د مؤمنانو
ماشومان ۔ ۴۹– الذی لا یعق والدیه ۔ هغه څوک چه د والدینو نافرمانی نکوی ۔ ۵۰–
ولا یمشی بالنمیمة ۔ چغلی نکوی ۔ ۵۱– ولا یحسد الناس علی ما آتاهم الله من فضله ۔
هغهٔ څوک چه د خلقو سره د الله په فضل کښې حسد نکوی ۔ ۵۲– الطاهرة قلوبهم ۔ هغه
خلق چه زړونه ئے صفا وی ۔ ۵۳– النقیة ابدانهم ۔ صفا بدنونو والا چه زنا وغیره ګندګی
پکښې نه وی ۔ ۵۴– الذین اذا ذکر الله ذکروا به ۔ هغه خلق چه کله د الله تذکره کیږی نو
خلقو ته هغوی رایادیږی ۔ ۵۵– کله چه ددے خلقو تذکره کیږی نو خلقو ته الله تعالی
یادیږی ۔ ۵۶– د الله ذکر ته داسے واپس کیږی لکه نسر مارغه چه خپلې ژالې ته واپس
کیږی ۔ ۵۷– د الله د محارمو د ګستاخئ په صورت کښې داسے غصه کیږی لکه د
پړانګ پشان ۔ ۵۸– د الله مینه داسے خوښوی لکه ماشوم چه د خلقو مینه خوښوی ۔
۵۹– الذین یعمرون مساجدی ۔ څوک چه مساجد آبادوی ۔

۶۰- يستغفرون بالاسحار ـ څوك چه د سحر (چرګ بانګ) په وقت کښې استغفار غواړي ـ ۶۱- اهل لا اله الا الله ـ هر لا اله الا الله په يقين سره ويونکے ـ ۶۲- وعن ابن عباس مرفوعاً: اللهم اغفر للمعلمين واطل اعمارهم واظلهم تحت ظل عرشك ـ د دين معلمين ـ ۶۳- امر بالمعروف او نهي عن المنكر او خلق د الله طاعت ته رابلل ـ ۶۴- شهداء احد ـ ۶۵- الرحم والامانة ـ خپلولي او امانت به د عرش لاندے وي ـ ۶۵- عين حرست في سبيل الله ـ کومه سترګه چه د الله په لاره کښې څوکيداري اوکړي ـ نورهم شته خو دا پکښې مفيد او غير مکرر دي او دا ټول په احاديثو کښې ثابت دي ـ

۱۳- وَعَنْهُ ﷺ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: صَلَاةُ الرَّجُلِ فِي الْجَمَاعَةِ تُضَعَّفُ عَلٰى صَلَاتِهٖ فِيْ بَيْتِهٖ وَفِيْ سُوْقِهٖ خَمْسًا وَعِشْرِيْنَ ضِعْفًا، وَذٰلِكَ اَنَّهٗ اِذَا تَوَضَّأَ فَاَحْسَنَ الْوُضُوْءَ، ثُمَّ خَرَجَ اِلَى الْمَسْجِدِ لَا يُخْرِجُهٗ اِلَّا الصَّلَاةُ، لَمْ يَخْطُ خُطْوَةً اِلَّا رُفِعَتْ لَهٗ بِهَا دَرَجَةٌ وَحُطَّ عَنْهُ بِهَا خَطِيْئَةٌ، فَاِذَا صَلّٰى، لَمْ تَزَلِ الْمَلَائِكَةُ تُصَلِّيْ عَلَيْهِ مَادَامَ فِيْ مُصَلَّاهُ: اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلَيْهِ، اَللّٰهُمَّ ارْحَمْهُ. وَلَا يَزَالُ اَحَدُكُمْ فِيْ صَلَاةٍ مَا انْتَظَرَ الصَّلَاةَ». وَفِيْ رِوَايَةٍ: قَالَ: «اِذَا دَخَلَ الْمَسْجِدَ كَانَتِ الصَّلَاةُ تَحْبِسُهٗ». وَزَادَ فِيْ دُعَاءِ الْمَلَائِكَةِ: «اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لَهٗ، اَللّٰهُمَّ تُبْ عَلَيْهِ. مَا لَمْ يُؤْذِ فِيْهِ، مَا لَمْ يُحْدِثْ فِيْهِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: او ابو هريره رضي الله عنه فرمائي چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل: د جمعے سره د سرې مونځ د هغه مونځ نه چه په کور کښې يا (تجارت وغيره په مشغول کيدو په بناء) بازار کښې اوکړے شي پنځه ويشت درجه فضيلت لري او ددے وجه دا ده چه کله يو شخص په ښه شان (يعنې آداب او شرائط لحاظ ساتلو سره) اودس اوکړي او صرف د مانځه دپاره مسجد ته راځي نو هغه چه کوم قدم پورته کوي د هغه د هر قدم په بدله کښې د هغه يوه درجه پورته کيږي، او يوه ګناه کميږي (ترديے چه هغه مسجد ته داخل شي) او ترڅو چه هغه مونځ کولو سره په خپله مصلی باندے ناست وي نو ملائك د هغه دپاره هميشه دا دعا کوي: اللهم صل عليه اللهم ارحمه ـ اے الله! ده ته بخښنه اوکړه ـ اے

الله ! په ده باندے رحم اوکړه ۔ او ترڅو پورے چه تاسو نه څوك د مانځه په انتظار كښے اوسيږی نو د هغه دغه وقت په مانځه كښ شمارلے شی او په يو روايت كښے دا الفاظ دی چه : كله څوك مسجد ته لاړ شی او د مانځه په وجه سره هلته بند شو (نو گويا هغه په مانځه كښے دے) او د ملائكو په دعا كښے دا الفاظ زيات دی : اللهم اغفرله ، اللهم تب عليه : (يعنی اے الله ! دے بنده ته بخشش اوكړه ، اے الله ! دده توبه قبوله كړه) او (دا تر هغه وقت پورے وی) ترڅو چه هغه كوم (مسلمان) ته (په خپله ژبه يا لاس) ضرر ورنكړی او په اوداسه كښے وی ۔ (بخاری ومسلم) ۔

صَلَاةُ الرَّجُلِ فِي الْجَمَاعَةِ :

تشريح : يعنی د جمعے سره د سړی د مانځه ثواب پنځه ويشت درجے زياتيږی د هغه مانځه نه چه په كور كښے ئے يواځے اوكړی يا ئے بازار كښے په دوكان كښے اوكړی او كه بازار كښے مسجد كښے اوكړی نو هم ورته دغه اجر ملاويږی ۔ او د بازار نه مراد يواځے مونځ كول دی په دوكان وغيره كښے چه جمعے سره نه وی ۔

اِذَا تَوَضَّأَ : دده نه معلومه شوه چه په كور كښے اودس كول سنت دی وذلك : پدے كښے اشاره ده هغه تضعيف ته چه د تُضَعَّفُ نه معلوميږی ۔

لَا يُخْرِجُهُ اِلَّا الصَّلَاةُ : مراد دده نه اخلاص دے يعنی چه يواځے صرف د مانځه په اراده اوځی بله دنياوی اراده ورسره ملګرے نه وی لكه اووائی چه فلانی دوكاندار نه به سودا هم اوكړو او مونځ به هم اوكړو هان بله دينی اراده ورسره يو ځائے كول جائز بلكه بهتر دی لكه بيمار پرسی وغيره ۔ **خُطْوَةً** : په ضمه د خاء سره مابين القدمين فاصلے ته وائی په بل روايت كښے ورسره دا دی : چه يوه نيكی ورله ليكلے شی نو يو قدم باندے درے قسمه فائدے ملاويږی گناه معاف كيدل ، نيكی ليكل ، درجه اوچتيدل ۔

فَاِذَا صَلّٰی : د مانځه په انتظار كښے كيناستل يا د مانځه نه پس كيناستل دواړو كښے دا اجر دے ۔

تَحْبِسُهُ : يعنی د مانځه په انتظار كښے ناست وی ، كور ته نه ځی ۔

مَا لَمْ يُؤْذِ فِيهِ : دده مطلب دا دے چه ملائك د مونځ كونكی په حق كښے د الله تعالی د رحمت او بركت دعاگانے تر هغه وقت پورے كوی ترڅو چه هغه يو مسلمان ته په خپل عمل يا په خپل قول سره ضرر نه وی رسولے نو گويا كښے د ملائكو په حق كښے دا حدث معنوی دے يعنی كله چه ايذار رسائی اوكړی نو ملائك دده خواته دعاء گانے نه كوی گويا

كښې دا معنوي طريقې سره بې اودسه شو ـ ددې نه روستو ظاهري حدث (بې اودسي) بيانوي ـ

مَا لَمْ يُحْدِثْ فِيْهِ : ددې يو مطلب دا دې چه تر څو پورې مونځ كونكې په اوداسه كښې وي او بې اودسه شوې نه وي يعني كه بې اودسه شي نو بيا هم ملائك ورله دعا نه غواړي ـ

٢- دويم مطلب دا دې چه احداث في الدين (بدعت) ئې په مسجد كښې نه وي پيدا كړې ، كله چه مسجد كښې بدعت اوكړي نو د ملائكو د دعاء نه به محروم شي ـ او دواړه معنى صحيح كيدې شي ـ

فائده : ابو هريره رضي الله عنه چه كله دا روايت بيان كړو نو ابورافع ترې تپوس اوكړو چه حدث څه شې دې ؟ هغه اوفرمائيل : يفسو او يضرط : يعني چه هواء ترې خارجه شي نو په مسجد كښې هواء خارجول د ضرورت په وجه اگرچه حرام ندي ليكن ځان ساتل ترې حتى الوسع پكار دي ځكه چه حديث كښې دي : ملائكو ته د هغه شي نه ضرر رسي كوم سره چه انسان ته رسيږي او انسان په هواء خارجيدو سره د ملائكو د بهترينې دعاء نه محروميږي ـ

علامه زركشيؒ په احكام المساجد (٣١٣) كښې ليكي چه په مسجد كښې د دبر نه هواء خارجول حرام ندي البته اجتناب ترې افضل دې انتهىٰ علامه ابن المهلبؒ فرمائي : ددې حديث نه معلومه شوه چه مسجد كښې ځان بې اودسه كول گناه ده انسان پرې د ملائكو د استغفار او دعاء د بركت نه محروميږي او بعض متكلمين وائي چه هواء خارجول هم گناه ده لكه د خراچكي گوزارولو پشان ده چه هغې باندې ئې قياس كړيدې ـ

★- حافظ عسقلانيؒ فرمائي : دا حديث دليل دې چه په مسجد كښې بې اودسه كيدل د نخامه نه زيات سخت دي ځكه د خراچكي دپاره كفاره ښودلې شويده او ددې كار دپاره كفاره نده خودلې شوې بلكه ددې كار كونكي سره دا معامله شويده چه د ملائكو د استغفار او دعاء نه محروم شو ـ

علامه عبيد الله المباركفوريؒ په مرعاة (٢/٤١٠) كښې ليكي : چه ددې حديث نه معلوميږي چه حدث اصغر اگرچه د ملائكو دعاء منع كوي ليكن په مسجد كښې كيناستل نه منع كوي انتهىٰ ـ دليل پدې باندې دا دې چه صحابه كرام به په مسجد كښې اوده كيدل او خوب مظنه د خروج الريح ده وهو الحق ـ

۱٤ – وَعَنْ اَبِیْ اُسَیْدٍ رضی الله عنه، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : « اِذَا دَخَلَ اَحَدُکُمُ الْمَسْجِدَ فَلْیَقُلْ : « اَللّٰهُمَّ افْتَحْ لِیْ اَبْوَابَ رَحْمَتِکَ. وَاِذَا خَرَجَ فَلْیَقُلْ : اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَسْئَلُکَ مِنْ فَضْلِکَ ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ .

ترجمه : او ابواسيد رضی الله عنه فرمائی : چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل : کله چه تاسو نه کوم شخص مسجد ته داخل شی نو هغه دے دا دعا اووائی : اللهم افتح لی ابواب رحمتك (اے الله ! د خپل رحمت دروازے ماته کولاوے کړه) او کله چه د مسجد نه اووځی نو دا دعا دے اوکړی : اللهم انی اسئلك من فضلك (اے الله ! زه ستا فضل غوارم) . (مسلم) .

تعارف د ابی اسید په ضمه د همزه او فتحه د سین سره دده نوم مالك بن ربیعه بن البدن الساعدی الخزرجی دے په کنیه سره مشهور دے، جلیل القدر صحابی دے، بدر او باقی ټولو غزواتو کښے شریك شویدے (۲۸) احادیث ترے نقل دی په سنه (۳۰) کښے بعض وائی په سنه (۶۰) کښے د (۷۸) کالو په عمر د ړوند والی په حالت کښے وفات شویدے او دا په بدریانو کښے آخری صحابی وفات شویدے .

تشریح : اَللّٰهُمَّ افْتَحْ لِیْ اَبْوَابَ رَحْمَتِکَ : ددے دعاء نه مخکښے په روایت د ابوداود کښے په نبی علیه السلام صلاة او سلام راغلے دے نو داسے وئیل پکار دی : بسم الله اللهم صل علی محمد . اللهم افتح لی ابواب رحمتك او په روایت د ترمذی (۳۱٤) کښے د اللهم افتح لی په ځائے داسے دعاء ده : رب اغفرلی ذنوبی وافتح لی ابواب رحمتك . او کله چه په مسجد کښے قدم کیدی نو داسے دعاء دِ اووائی : اعوذ بالله العظیم وبوجهه الکریم وسلطانه القدیم من الشیطان الرجیم، (ابوداود : ۳۶۶) الاذکار للنووی (۸٤) . او پدے سره توله ورځ د شیطان نه محفوظ کیږی . نو دا ټولے دعاء ګانے یو ځائے کول پکار دی لیکن رب اغفرلی او اللهم افتح لی کښ به یوه وائی .

او وتو په وخت کښے به داسے وائی : بسم الله اللهم صل علی محمد، اللهم انی اسئلك من فضلك اللهم اعذنی من الشیطان الرجیم ، یاد اللهم انی اسئلك الخ په ځائے : رب اغفرلی ذنوبی وافتح لی ابواب فضلك . وایه .

بیا په ننوتو کښے ئے رحمت ذکر کړو او په وتو کښے ئے فضل ذکر کړو وجه دا ده چه

رحمت د الله په كتاب كښې د نفساني او اخروي نعمتونو په معنى ذكر شويدے : ﴿ وَرَحْمَةُ رَبِّكَ خَيْرٌ مِّمَّا يَجْمَعُوْنَ ﴾ ـ او فضل نه دنيوي نعمتونه مراد شويدي ﴿ لَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ اَنْ تَبْتَغُوْا فَضْلاً مِنْ رَبِّكُمْ ﴾ سورة البقرة آية (۱۹۷) ﴿ وَابْتَغُوْا مِنْ فَضْلِ اللّٰهِ ﴾ سورة الجمعة ـ نو څوك چه مسجد ته را داخل شي هغه الله تعالى ته قرب طلب كوي په هغه اعمالو سره چه د الله ثواب او د هغه جنت ته ئے نزدے كوي نو رحمت ذكر كول ورسره مناسب دي او مسجد نه د وتلو وقت د رزق د طلب كولو وقت دے نو فضل ذكر كول ورسره مناسب دي ـ

---

۱۵ – وَعَنْ اَبِيْ قَتَادَةَ ﷺ ، اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ قَالَ : «اِذَا دَخَلَ اَحَدُكُمُ الْمَسْجِدَ فَلْيَرْكَعْ رَكْعَتَيْنِ قَبْلَ اَنْ يَّجْلِسَ» . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ .

ترجمه : او ابوقتاده رضى الله عنه فرمائي : چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل : كله چه ستاسو نه يو شخص مسجد ته داخل شي نو هغه له پكار دي چه د ناستے نه مخكښې دوه ركعاته مونځ اوكړي ـ (بخاري ومسلم) ـ

اِذَا دَخَلَ اَحَدُكُمُ الْمَسْجِدَ فَلْيَرْكَعْ رَكْعَتَيْنِ :

تشريح : پدے حديث كښې يو څو مسائل دي ـ

۱ – اوله مسئله تحيه په څو قسم ده (۱) – يو تحية المسجد ده او دا دوه ركعاته دي، د مسجد د احترام او حق دپاره په كولے شي ـ او ديته تحية المسجد نوم كېخودل محض اصطلاح ده ،احاديثو كښې دا لفظ ندے راغلے ـ

(۲) – مسجد حرام ته چه په ابتداء كښې داخليږي نو د هغے تحيه طواف دے نه ركعتين دارنگه كه په عام اوقاتو كښې داخل شے او د طواف اراده ڊ وي نو ركعتان به نكوي بلكه طواف كوه او كه د طواف اراده نه وي نو بيا به هلته هم ركعتان تحية المسجد كوي ـ

(۳) – تحية الخطيب يوم الجمعة بالخطبة دون الركعتين ـ د جمعے په ورځ خطيب د خطبے دپاره مسجد ته راځي نو هغه باندے تحيه د مسجد نشته بلكه هغه به خطبه شروع كوي لكه چه دا د نبي عليه السلام عمل وو چه قوم ته به راوتو نو منبر ته به اوختلو ـ (٤) – مكے مكرمے ته چه داخليږي نو د هغے تحيه په احرام تړلو ده ـ

۲ – المسئلة الثانية :

اذا دخل احدكم كښې اذا د عموم د اوقاتو دپاره ده يعني په هر وقت كښې چه مسجد ته

داخل شی نو دوه رکعاته به کوی نو آیا په اوقاتِ مکروهه کښې به ئې کوی او که نه ؟ ۔
۱- **د شوافعو** مسلك دا دے چه دا رکعتان په اوقاتِ مکروهه کښې هم جائز دی او دا قول شیخ الاسلامؒ په فتاوی کښې راجح گرځولے دے ۔
۲- **احناف**، اوزاعی، لیث او جمهور علماء وائی چه په اوقاتِ مکروهه کښې به تحیة المسجد نکوی مکروه دی ۔
۳- **شوکانیؒ** په کښې لا دا وائی چه مسجد ته به په اوقاتِ مکروهه کښې نه داخلیږی (والاولیٰ للمتورع ترك دخول المساجد فی اوقات الکراهة) نیل (۸۵/۳) ۔ **هغه ته دلائل متعارض ښکاره شویدی** ۔
دلائل الاحناف : احنافو سره دلیل احادیث د نهی دی چه په اوقاتو ثلاثو کښې د مانځه نه منع راغلې ده ۱- لا صلاۃ بعد الصبح حتی تطلع الشمس ۲- لا صلاۃ بعد العصر دارنګه ۳- استواء الشمس کښې د مونځ کولو نه منع راغلې ده او کله چه تعارض د اباحت او د نهی راشی نو ترجیح به نهی لره وی ۔ او علامه شوکانیؒ وائی : لا صلاة بعد الصبح الخ دا هم عام دے او اذا دخل احدکم المسجد هم عام دے او یو عام په بل عام باندے تخصیص کول تحکم دے دلیل پدے نشته ۔ نو دواړه عموم په خپل حال دی نو پکار دا ده چه په وقت د کراهت کښې بالکل مسجد ته داخل نشی چه د نهی نه هم بچ شی او د فلیرکع امر نه هم بچ شی لیکن دا مسئله د علامه شوکانیؒ په تفرداتو کښې شمار ده، هیچا پدے باندے قول نه دے کړے او دا قول دده ضعیف هم دے روستو دلائلو کښې به ذکر شی چه د احادیث النهی په عموم کښې تخصیص ثابت دے ۔
دلائل د شوافعو : شوافعو سره پدے جواز د رکعتین او هر صلاۃ سببی لکه دوه رکعاته د طواف نه روستو، صلاۃ الجنازه، صلاۃ التوبه، صلاۃ الاستخارة، صلاۃ الاستسقاء، تحیة الوضوء، صلاۃ الکسوف، سجده تلاوت وغیره دا ټول په اوقاتِ مکروهه کښې جائز دی پدے باندے شپاړس دلائل دی عام او خاص بعض د هغینه دادی :
۱- احادیث د نهی مخصوص البعض دی، عموم ئې غیر محفوظ دے ځکه استثناءات ترے موجود دی هغه څه په احادیثو سره استثناء شویدی او احنافو د هغې استثناء نه منی او څه احنافو وغیره مستثنیٰ کړیدی او هغه هم په احادیثو ثابت دی لکه احناف ۱- الا عصر یومه مستثنیٰ کوی یعنی وقتی مونځ د مازیګر په وقت د غروب الشمس کښې جائز ګنړی وهو ثابت فی الحدیث ایضا ۔ ۲- د مازیګر مانځه نه پس صلاۃ الجنازة جائز

ګنړی وهو ثابت فی الحدیث ـ ۳- سجدة التلاوة جائز ګنړی وهو ایضا ثابت فی الحدیث۔

او په احادیثو کښې ترڼې ډیر استثناءات راغلی دی چه احناف هغه نه مستثنیٰ کوی:

۱- لکه تحیة المسجد شو امام نوویؒ فرمائی: نبی علیه السلام هغه سړی ته چه مسجد ته د خطبې وئیلو په وقت کښې راداخل شو او بغیر د مونځ کولو نه کیناستو نو نبی علیه السلام ورته حکم اوکړو چه پاڅیږه دوه رکعاته اوکړه سره ددینه چه د خطبې په وقت کښې مونځ منع دے نو که تحیة المسجد پریښودے شی نو پدے وقت کښې به ئې پریخی وے ځکه چه سړے ناست هم وو او تحیة المسجد خو قبل القعود مشروع دی ـ دارنګه نبی علیه السلام ورته خطبه قطع کړه او هغه سره ئې خبرے شروع کړے او د تحیة المسجد حکم ئې ورته اوکړو نو که د تحیة المسجد شدتِ اهتمام په ټولو اوقاتو کښې نه وے نو نبی علیه السلام به دومره اهتمام نه ورکولے ـ شرح مسلم مرعاة (٤١١/٢) شیخ الاسلامؒ فرمائی: د خطبې په وقت کښې رکعتا الطواف او جنازه نشی کولے او تحیة المسجد کولے شی معلومیږی چه پدے کښې تاکید زیات دے ـ الدین الخالص (٢١١/٣) ـ

۲- دارنګه په مکه کښې د طواف نه روستو په هر وقت کښې د دوه رکعاتو اجازه په حدیث سره ثابت ده ـ رواه اصحاب السنن: یا بنی عبد مناف لا تمنعوا احداً طاف بهذا البیت وصلی ایة ساعة شاء من لیل او نهار ـ او ابن الزبیر، ابن عمر وغیره نه بعد الصبح وبعد العصر جواز نقل دے انظر مجموعة الفتاوی لشیخ الاسلام (١٧٨/٢٣) (٢٩٧/٢٢ او ٥٠٣/١٧) ـ

۳- دارنګه د سحر سنت چه کله قضاء شی نو بعد صلاة الفجر کول جائز دی پنځه احادیث پکښې ثابت دی ـ ٤- تحیة الوضوء د حدیث د بلال نه معلومیږی چه نبی علیه السلام ورته اوفرمائیل: ما ستا د خپو کشارے خپلے مخے ته په جنت کښې واوریدو نو ته څه عمل کوے؟ هغه اووئیل: انی لم اتطهر طهوراً فی ساعة من لیل ولا نهار الا صلیت بذلك الطهور ما كتب لی ان اصلی متفق علیه ویأتی فی الکتاب (١١٦/١)۔ نو پدے کښې عموم دے چه دا په هر وقت کښې کیږی ـ نبی علیه السلام ورته دا ندی وئیلی چه په مکروه وقت کښې مه کوه ـ د امام غزالیؒ قول ضعیف دے چه هغه وائی تحیة الوضوء د تحیة المسجد پشان مؤکد ندی نو دا په مکروه اوقاتو کښې ندی جائز ـ

۵- صلاة الاستخاره کښې دی: اذا هم احدکم بالامر فلیرکع رکعتین من الفریضة

بخاری(١/١٥٥) نو یو انسان به اوس یو کور یا موټر اخلي او مکروه وقت به وی نو هغه به آیا استخاره نشی کولے ؟ ځکه که وقت مکروه ختمیدو پورے انتظار کوی نو دا قیمتی سامان ترے خرابیږی ؟ (او اذا هم)کښے عموم دے هر وقت جائز دی ـ

٦- صلاة التوبه په باره کښ حدیث دے : عن علی عن ابی بکر مرفوعاً : ما من رجل یذنب ذنباً ثم یقوم فیتطهر ثم یصلی ثم یستغفر الله الا غفر له الحدیث : (ترمذی ابن ماجه وفی المشکاة (١/١١٧) ـ نو دا حدیث دلیل دے چه صلاة التوبه په هر وقت کښے جائز دے ځکه تاخیر د توبے معصیت (گناه) ده ـ

٧- نبی علیه السلام د ماسپښین دوه رکعاتو قضاء پس د مازیګر مانځه نه کړیده کما فی حدیث عائشه وام سلمه رضی الله عنهما رواه البخاری ـ

٨- قضائی مونځ یا وتر وغیره په اوقاتِ مکروهه کښے جائز دی من نام عن صلاة او نسیها فلیصلها اذا ذکرها فان ذلك وقتها الحدیث پرے دلیل دے کما تقدمت المسئله ـ

٩- کله چه یو انسان یواځے په کور کښے فرض کړی وی او بیا مسجد ته راشی او جماعت لاندے کړی نو په مکروه وقت کښے هم دغه جمع کولے شی کما فی الحدیث : اذا صلیتما فی رحالکما ثم اتیتما مسجد جماعة فصلیا معهم فانها لکما نافلة روه اهل السنن واحمد وفی المشکاة (١/١٠٢) نور استثناء ات هم شته ـ

١٠- د جمعے په ورځ وقت مکروهه نشته فی القول الراجح کما فی الحدیث ـ نو تحیة المسجد هر وقت جائز دی ـ او بله وجه دا ده چه نهی د مفسدت په وجه راغلے ده چه هغه تشبه بالمشرکین ده او دلته پدے مقاماتو کښے مصلحت زیات دے د مفسدت نه نو ترجیح مصلحت لره ده ځکه دلته تشبه بالمشرکین غیر اختیاری واقع کیږی او دا کله نا کله جائز وی ـ شیخ الاسلامؒ فرمائی : کله چه مصلحت راجح وی په مفسدت باندے نو هغه مصلحت لره به ترجیح وی لکه مخطوبے ښځے ته کتل یا د هغے سره سفر کول کله چه د هغے د ضیاع نه یریږی نو پدے کښ فساد کم او مصلحت زیات دے دارنګه که د طواف دوه رکعاتو نه منع اوشی نو ډیر خلق د بهر دنیا او حرم والا به د طواف او ډیر خیر نه محروم شی ـ

المسئلة الثالثة : د تحیة المسجد حکم :

پدے کښے اتفاق دے چه که چا څلور رکعاته اوکړل نو هم خیر دے دارنګه که مسجد ته

راشی او فرض مونځ اوکړی نو هم تحیة المسجد ساقط شو ځکه مقصود د تحیة المسجد نه احترام د مسجد وو په مانځه کولو سره او هغه حاصل شو نو مفهوم العدد له اعتبار نشته کما قال الحافظ ابن حجرؒ۔

خو پدے کښے اختلاف دے چه **آیا تحیة المسجد واجب** دی او که نه ؟۔

۱- نو ابن بطالؒ د ظاهریه و نه د وجوب قول نقل کړیدے لکه داود ظاهری وغیره لیکن دا نقل صحیح ثابت ندے۔

۲- **او جمهور علماء** (ائمه اربعه وغیره) وائی چه تحیة المسجد سنت دی۔ حافظ عسقلانیؒ په فتح الباری (۴۲۶/۲) کښے فرمائی : واتفق ائمة الفتوی علی ان الامر فی ذلك للندب ونقل ابن بطال عن اهل الظاهر الوجوب والذی صرح به ابن حزم عدمه۔

په حاشیه د مشکوة (۱۲۳/۱) باب الخطبه کښں ئے اختلاف داسے ذکر کړیدے چه شافعی او احمد تحیة المسجد ته واجب وائی او احناف او مالکیه ورته سنت وائی۔ داسے اختلاف نقل کول صحیح ندی، بلکه ائمه اربعه وغیره تولو په نیز د امر د وجوب دپاره ندے لکه دا خبره علامه قاضی شوکانیؒ ذکر کړیده۔نیل الاوطار (۸۲/۳)۔

د اهل ظواهرو دلیل دا دے چه فلیرکع امر دے والامر للوجوب او قرینه صارفه د جوب نشته لیکن دا قول ضعیف دے۔ ډیر دلائل موجود دی چه دا امر د وجوب ندے۔

دلائل الجمهور :

۱- **اول دلیل** : د کعب بن مالكؓ په قصه کښے دی چه دا کله د غزوه تبوك نه پاتے شو، او نبی علیه السلام د غزوه تبوك نه راواپس شو نو دا وائی زه ورته راغلم : فلما سلمت ای علی رسول الله ﷺ – تبسم تبسم المغضب ثم قال، قال : فجئت حتی جلست بین یدیه الحدیث۔ او په هغے دا الفاظ دی : اما هذا فقد صدق فقم حتی یقضی الله فیك فقمت فمضیت۔ نو دا قول چه فجئت او فمضیت دواړو نه معلومیږی چه دا مسجد ته بغیر د مانځه نه داخل شویدے او بغیر د مانځه نه بهر شویدے نو که تحیة المسجد واجب او فرض وے نو رسول الله ﷺ به ورته حکم کړے وے چه اول تحیة المسجد اوکړه بیا راشه ! او پدے باندے امام نسائی داسے باب ایخودے دے : باب الرخصة فی الجلوس فی المسجد والخروج منه بغیر صلاة، کذا فی المرعاة (۴۱۲/۲)۔

۲- **دلیل** : یو غټ دلیل دا هم دے چه حدیث د عباده بن صامت کښے مخکښے تیر شویدی : خمس صلوات افترضهن الله۔ صرف پنځه مونځونه فرض دی نو که تحیة

المسجد فرض شی بیا خو به پنځه مونځونه نشی او عباده بن صامت‌ؓ پدے حدیث باندے استدلال کړے وو په عدم وجوب د وترو باندے کما مرّ۔

۳- **دلیل** : ابن ابی شیبه کښې د زید بن اسلم نه روایت دے فرمائی : کان اصحاب رسول الله ﷺ یدخلون المسجد ثم یخرجون ولا یصلون، انظر نیل الاوطار (۸۳/۳) وتحفة الاحوذی (۲۶۲/۲) وفتاوی الدین الخالص (۳۸۵/۳) والتعلیق الممجد (۱۵۳/۱) لعبد الحی اللکنوی : قال زید بن اسلم : رأیت ابن عمر یفعله، وکذا ابنه سالم وکان القاسم بن محمد یدخل المسجد فیجلس ولا یصلی ذکره الزرقانی ۔ نو صحابه کرامؓ بغیر د مانځه نه مسجد ته داخل شویدی او بیرته بغیر د مانځه نه خارج شویدی دا دلیل دے چه تحیة المسجد واجب ندی ۔

۴- **دلیل** : تفسیر القرطبی (۲۰۸/۵) کښې د عطاء بن یسار وینا ذکر ده : کان رجال من اصحاب النبی ﷺ تصیبهم الجنابة فیتوضؤون ویأتون المسجد فیتحدثون فیه وکذا ذکره ابن القیم فی طریق الهجرتین عن الامام احمد وسعید بن منصور ص (۲۰۹) ۔ نو صحابه کرامو به په حالت د جنابت کښې اودس اوکړو او مسجد ته به داخلیدل او هغې کښې به ناست وو او پدے حالت کښې خو مونځ ندے جائز نو تحیة المسجد به د کوم ځائے نه اوکړی ؟ ۔

۵- **دلیل** : علامه عینیؒ وائی : پدے خبره اتفاق دے چه مسجد ته بے اودسه داخلیدل جائز دی که تحیة المسجد واجب شی نو مسجد ته به بے اودسه داخلیدل حرام شی نو اول به قبل الدخول اودس فرض شی ولم یقل به احد ۔نو هر کله چه مسجد ته بے اودسه داخلیدل جائز شو نو ددے نه دا لازمه شوه چه په وقت د داخلیدو کښې په ده باندے تحیة المسجد کول واجب ندی ۔ کذا فی بذل المجهود (۶۶۸/۱) ۔

۶- **دلیل** : امر د وجوب دپاره څکه ندے چه که چرے د وجوب دپاره شی، نو بیا به تحیة المسجد د دوه رکعاتو نه زیات کول جائز نشی او حال دا چه تول علماءِ امت پدے متفق دی چه د دوه رکعاتو نه زیات کول جائز دی او پدے سره حق د مسجد اداء کیږی کذا فی المرعاة (۴۱۱/۲) ۔

خلاصه : دا چه راجح دا ده چه تحیة المسجد سنت مؤکد دی او فرض او واجب ندی اګرچه په اوقاتِ مکروهه کښې به هم کولے شی ، او د سحر سنت نه روستو هم کولے شی کله چه سنت کور کښې اوکړی او مسجد ته لاړ شی وقت د مانځه لا نه وی نو هم جائز دی۔ شیخ محمد بن صالح عثیمینؒ فرمائی : ولولا نصوص دلت علی عدم الوجوب لقلنا

انهـا واجبة لـكـنهـا سـنة مؤكدة في اىّ وقت دخلت بعد صلاة الفجر صل ركعتين الخ ـ كه چرته نصوص نه وي چه هغه په عدم وجوب دلالت کوی نو مونږ به دے رکعتین ته واجب (فرض) وئيلي وي ليكن (صحيح دا ده چه) دا سنت مؤكد دى نو بس په كوم وقت چه ته مسجد تـه داخـل شې كه د سحر مانځه نه روستو وي او كه د مازيگر مانځه نه روستو وي كه د نمر پريوتو وقت وي او كه د نمر راختلو وقت وي نو كينه مه بلكه دوه ركعاته مونځ كـوه او دارنگـه كه مسجد كنبے امام په خطبه ولاړ وي يا بل يوتن تقرير كوي او خلقو ورته غـوږ ايـخـودے وي نـودوه رکـعـاته کوه كه په هر حال او هر وقت كنبے وي خو ضرور دا دوه ركعاته كوه ، او كله چه ته داخل شې او مؤذن اذان كوي نو كه د جمعے د ورځے اذان نه وي نو پـه انتـظار اودریږه د اذان جواب ورکړه او بیا روستو د اذان نه درود او دعاء الوسيله اووايه بيا دوه ركعاته اوكړه ـ شرح رياض الصالحين (۳۸۲/۳) ـ

المسئلة الرابعة : تحية المسجد باقل من ركعتين :

دا خـو اتـفـاقـي مسئله ده چه تحية الـمـسـجـد کنبے زيـادت جائز دے ، ليكن آيا د دوه ركعاتو نه كم كول جائز دى او كه نه ؟

نـو په مصنف عبد الرزاق (۱۰٤/۳) کنبے د ابـو ظبيانؒ نه نقل دى چه عمر فاروق رضى الله عنه مسجد ته داخل شو او يو ركعت ئے اوكړو نو چا ترے تپوس اوكړو نو هغه اووئيل : انـمـا هو تطوع لمن شاء زاد ومن شاء نقص كرهت ان اتخذه طريقاً ـ يعنى دا تحية الـمـسجد نـفـل دى كـه زيادت پكنبے كوے او كه كموالے او دا به ئے وئيل چه زه دا بد گنړم چه د خلقو دپاره لاره جـوړه كـړم ـ نو دا د عمر فاروق اجتهاد دے ـ اصح دا ده چه سنت طريقه دا ده چه دوه ركعاته اوكړے شي كم به نكوي ـ مرفوع احاديثو كنبے دوه ركعاته ذكر كيږي ـ

قَبْلَ اَنْ يَجْلِسَ : يـعـنـي د نـاسـتے نـه مـخـکـنبے به رکعتين کوي او که کيناستو او پـه نـاسـتـه ئے كـوي هـم جـائز دى او هـمـداسـے كيناستل هم جائز دى ليكن كله چه ورته وقت مـلاويږي نو پكار دا ده چه هسے بے ضرورته به نه كيني ځكه ددے تحية المسجد په كولو بانـدے ډير تاكيد راغلے دے تر دے چه په خطبه كنبے دننه هم كولے شي ـ

خو كه يو انسان كيني نو آيا د كيناستو نه بعد ركعتين ساقط شو كه پاخيږي به ؟ ـ

نـو اصـح دا ده چـه دا رکـعـتـيـن نـه فـوت كيږي په ناسته سره ځكه چه په روايت د ابوذرؓ كنبے دى چـه دا مـسـجـد تـه داخل شو، نبى عليه السلام ترے تپوس اوكړو دوه ركعاته دے

اوكړل ؟ هغه اووئيل : نه ! نبي عليه السلام ورته اوفرمائيل : قم فاركعهما ـ (پاڅيږه اوكړه) رواه ابن حبان في صحيحه كذا في المرعاة (٤١٣/٢) ـ دغه شان قصه د سليك الغطفانيؓ ده چه دا نبي عليه السلام خوا ته د اوښ د پيسو د مطالبے دپاره راغلو كيناستو نبي عليه السلام ورته اوفرمائيل : پاڅيږه دوه ركعاته اوكړه ـ نيل الاوطار (٨٢/٣) ـ

او ابن حبان پدے باندے باب ايخودے دے چه تحية المسجد په جلوس سره نه فوت كيږي او پدے حديث كښے چه قبل ان يجلس راغلے دے نو مباركفوريؒ فرمائي : الظاهر انه خرج مخرج الغالب من فعل الصلاة من قيام آهـ يعني ظاهر دا ده چه دا په اعتبار د غالب سره وئيل شويدے ځكه چه غالبا مونځ د قيام نه كيږي، البته كه مكث طويل اوكړي نو بيا به دوه ركعاته ساقط وي ـ مرعاة (٢١٣/٢) ـ

او دا خبره چرته نشته چه يو انسان مسجد ته راشي او جُمعے اودريدو ته دوه منته وي امام لا نه وي راغلے او يو انسان نه ركعتين كوي او نه كيني بلكه سنت طريقه دا ده چه صحابه كرامو‌ؓ به مسجد ته داخليدو سره ركعتين كول اگركه وقت د مانځه به پوره وو خوكله چه به اقامت شروع شو نو سلام به ئے اوگرځولو او كه وقت به وو نو پوره به ئے كړل ليكن دا طريقه د گينتو او متعين تايم مقررولو په وجه پيدا شويده ـ

---

١٦ – وَعَنْ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ ؓ، قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ ﷺ لَا يَقْدَمُ مِنْ سَفَرٍ إِلَّا نَهَارًا فِي الضُّحٰى، فَإِذَا قَدِمَ بَدَأَ بِالْمَسْجِدِ، فَصَلّٰى رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ جَلَسَ فِيهِ ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ .

ترجمه : او كعب بن مالك رضى الله عنه فرمائي : چه د نبي كريم ﷺ (عادت وو) چه كله به د سفر نه واپس راتلو نو د چاشت په وقت به راتلو او كله چه به راغلو نو د هر ځه نه رومبے به مسجد ته تلو او هلته به ئے دوه ركعاته مونځ كولو بيا به (ځه وقت پورے) هلته كيناستو ـ (بيا به كور ته راتلو) (بخاري ومسلم) ـ

تشريح : **لَايَقْدَمُ** : من باب سمع بفتح الدال اى لا يرجع ـ د حديث مطلب دا دے چه رسول الله ﷺ به د سفر نه چه واپس شو نو اول به مسجد ته تلو او دوه ركعاته مونځ به ئے پكښے كولو ديته صلاة القدوم من السفر وائي پدے كښے د الله تعالى شكر مقصد وي چه الله تعالى په خير او عافيت سره بيرته كور ته را واپس كړو او دا د نبي عليه السلام پورے

خاص ندی بلکه عام امت دپاره هم سنت طریقه ده چه کله سفر نه راشي نو اول دې مسجد ته لاړ شي دوه رکعاته شکرانه د اوکړي او بیا دې مسجد کښې کیني، رسول الله ﷺ به مسجد کښې ځکه کیناستو چه کوم صحابه کرامؓ د هغه سره په سفر کښې نه وو شریك نو هغوی پدې موقعه د رسول الله ﷺ سره د ملاقات شرف حاصل کړي ★ – دارنګه حدیث نه وجه داسې معلومیږي چه کور کښې زنانه ځان جوړ کړي او دا حکم ئې جابرؓ ته هم کړې وو چه کله د سفر نه لاړ شې نو مسجد کښې دوه رکعاته اوکړې، کما فی الصحیحین۔

★ – بل حکمت دا دې چه اول د الله تعالى د کور ملاقات بیا د خپل کور ملاقات وشي رعایةً للاهم۔

اِلَّا نَهَارًا فِي الضُّحٰى : چاشت وقت کښې ځکه راواپس کیدو چه یو خو دا وقت د نشاط او تازګئ دې نو صحابه کرامؓ ته د ملاقات دپاره راتلو کښې مشقت نه وی۔

او رسول الله ﷺ به مازیګر کښې هم راتلو لیکن د شپې به نه راتلو لکه په متفق علیه روایت کښې دی : وکان یأتیهم غدوةً وعشیةً۔ ریاض الصالحین (۹۸٦)۔ خو د شپې د راتلو نه صرف منع راغلې ده۔

---

۱۷ – وَعَنْ اَبِىْ هُرَيْرَةَ ؓ، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : «مَنْ سَمِعَ رَجُلًا يَنْشُدُ ضَالَّةً فِي الْمَسْجِدِ، فَلْيَقُلْ : لَا رَدَّهَا اللهُ عَلَيْكَ، فَاِنَّ الْمَسَاجِدَ لَمْ تُبْنَ لِهٰذَا». رَوَاهُ مُسْلِمٌ .

ترجمه : او ابو هریره رضی الله عنه فرمائی : چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل : څوك چه د یو شخص نه دا واوری چه په مسجد کښې د یو ورك شوی څیز تالاش کوی نو هغه دې (د هغه په جواب کښې) داسې اووائی : الله تعالى دې ستا ورك شوې شې تاته ملاؤ نکړي، ځکه چه مسجدونه ددې دپاره ندې جوړ شوی (چه په هغې کښې د ورك شوی څیزونو تلاش کړې شي) (مسلم)۔

تشریح : **يَنْشُدُ ضَالَّةً** : ینشد د باب د نصر ینصر نه دې، په معنی د اوچت آواز سره ورك شوې شې طلب کول۔ ضاله : ورك شوی حیوان ته وائی پدې کښې مذکر او مؤنث برابر دی او جمع ئې ضوال راځی لکه دابة و دواب، او د غیر ذی روح دپاره ضائع او لقیط استعمالیږي خو کله کله د یو بل په ځائې استعمالیږي۔

فَلْيَقُلْ : لَا رَدَّهَا اللهُ عَلَيْكَ : ظاهر دا ده چه سامع به ئې په جهر سره وائی۔ بیا پدې

كښې چا يو مطلب دا بيان كړيدے چه څوك د ورك شوى شى آواز او اعلان كوى نو هغه ته به دا خيرے كولے شى، خو دا خيرے د هغه شخص د توبيخ او تنبيه دپاره صرف په ژبه وئيلے شى او په زړه كښې به ئے خيرى نه وى او نه به دا خواهش وى چه د يو مسلمان ورك شوے شے دے هغه ته واپس نشى بلكه صرف هغه ته به دا خبر دارے وركړے شى چه دا كار دے غلط دے مساجدو كښې څوك اعلانونه نكوى ۔

۲– دويم مطلب : – وهو الظاهر – دا دے چه په ژبه دا كلمات اووائى او په زړه كښې به دا خواهش ساتى چه دے شخص ته دا ورك شوے شے ملاؤ نشى دے دپاره چه آينده كښې ده ته عبرت ملاؤ شى او ددے خپل نا مناسب فعل سزا ورته اورسيږى چه د مسجد بے ادبى ئے اوكړه او آينده كښې د داسے كار نه منع شى ځكه چه دا ګناه والا دے او د ګناهګار سره به د هغه د ګناه مطابق بغض په زړه كښې ساتلے شى ۔

فَإِنَّ الْمَسَاجِدَ لَمْ تُبْنَ لِهٰذَا : دا علت دے د ښيرو كولو هغه دا چه تا ته دے ورك شوے شے الله ځكه نه واپس كوى چه مساجد د ورك شوى څيزونو د تلاش كولو دپاره ندى جوړ شوى بلكه هغه خو د ذكر الله او مونځ او تلاوت د قرآن دپاره جوړ دى ۔

بيا ددے نه دا معلومه شوه چه د مسجد د تقدس او عظمت او احترام تقاضا دا ده چه صرف د ورك شوى څيز تلاش كولو تخصيص اونشى بلكه هر هغه كار به په كښې ممنوع وى چه د هغے اختيارول د مسجد د غرض او بناء منافى وى لكه اخستل، خرڅول لكه دا په بل روايت كښې راغلى دى چه څوك په مسجد كښې بيع شراء كوى نو ته ورته داسے اووايه : لا اربح الله تجارتك ـ الله تعالى دے ستا په تجارت كښې ګټه درنكړى يا لكه پے ځايه شعرونه جوړول، حدود قائمول وغيره دا كارونه به مسجد كښې نشى كولے ـ بعض علماؤ سائل ته صدقه وركول هم پكښې داخل كړيدى كما فى الفقه الحنفى ليكن دا خبره خطاء ده ځكه صدقه وركول عبادت دے، دا د مسجد منافى ندے او د معن بن يزيد واقعه او د ابوبكر صديق واقعه په جواز باندے دليل دے ـ لنډه دا چه هر هغه شے چه عبادت وى هغه په مسجد كښې كول جائز دى او كوم چه عبادت نه وى هغه به ناجائز وى فان المساجد لم تبن لهذا علت نه معلوميږى ـ دا مسئله تفصيلا په كتاب العلم كښ تيره شويده ـ

سوال : قاعده دا ده چه په ماضى باندے لا نافيه نه داخليږى مګر هله چه لا مكرر وى لكه فلا صدق ولا صلى (علم الصيغه) نو دلته څنګه داخل شويده ؟ ـ

الجواب : دا مقام د دعاء دے او په مقام د دعاء کښے لا نافيه په ماضى باندے بغير د اشتراط د تکرار نه جائز ده او دا خبره د علم الصيغه نه پاتے شويده ۔

بعض علماؤ ددے قاعدے د وجے نه په روايت کښے داسے تاويل کريدے چه دا لا ناهيه ده او مدخول ئے حذف دے اى لا تنشد او (ردها الله عليك) جمله دعاء ده چه دا کار مه کوه الله دے تا ته ورك شوے شے پيدا کړى ۔ خو دا خبره خطاء ده وجه دا ده چه دا سياق د حديث منافى دے ۔ دويم : د قاعدے مطابق دلته بيا فصل په واو سره راوړل ضرورى دى او هغه نشته يعنى داسے وئيل پکار دى : لا وردها الله عليك، کم فى لا وايدك الله ۔ (مختصر المعانى) ۔ بله دا چه د مخکښ حديث سره ئے منافات راځى ۔

فائده : بعض علماء وائى : فان المساجد الخ : دا په دعاء کښے داخل دے او بعض وائى دا صرف تعليل دے او دعاء صرف عليك پورے ده وهو الراجح ۔ خو که چا اووئيله نو څه ګناه نشته ۔

فائده : پدے حديث کښے د ورك شوى شى اعلان کول منع شويدى خو که په مسجد کښے د انسان نه يو شے غائب شى نو آيا مسجد کښے بغير د آواز پورته کولو نه د هغے وينا جائز ده او که نه ؟ نو بعض علماؤ وئيلى دى چه دا کار به هم نکوى بلکه د مسجد په دروازه کښے به اودريږى او داخلين او خارجين خلقو نه به تپوس کوى ۔ انظر المرعاة (۲/٤١٤) ۔ دا خو د ورك شوى شى حکم دے نو څه به وى حال د هغه خلقو چه په مسجد کښے د تماترو خرخولو دپاره اعلانونه کوى لکه دا کار د پاکستان په صوبه پنجاب وغيره کښے ډير زيات دے نو هغوى ته داسے ښيرے پکار دى لا اربح الله تجارتك ۔

---

۱۸ – وَعَنْ جَابِرٍ رضي الله عنه ، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : «مَنْ اَكَلَ مِنْ هٰذِهِ الشَّجَرَةِ الْمُنْتِنَةِ، فَلَا يَقْرَبَنَّ مَسْجِدَنَا، فَاِنَّ الْمَلَائِكَةَ تَتَاَذّٰى مِمَّا يَتَاَذّٰى مِنْهُ الْاِنْسُ» . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ .

ترجمه : او جابر رضى الله عنه فرمائى : چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل : څوك چه ددے بد بويه ونے (يعنى پياز، اوګه وغيره) نه څه اوخورى نو هغه دے زمونږ مسجد خواته نه راځى ځکه په کوم (بدبوئى) سره چه انسان ته تکليف وى په هغے سره ملائکو ته هم تکليف رسى ۔ (بخارى ومسلم) ۔

تشريح : مَنْ اَكَلَ مِنْ هٰذِهِ الشَّجَرَةِ الْمُنْتِنَة : منتنه په ضمه د ميم د اسم فاعل صيغه ده د انتن الشئ اذا خبثت رائحته ـ د شجرے نه مراد خاص شجره نه ده بلکه پدے کښے اوږه، پياز، مولئ، گندنه (لکه دا په حديث کښے راغلى دى) او دارنګه هر هغه شے چه بدبوئى لرى، پدے کښے داخل دى لکه نسوار، سګريټ چا اوڅکل نو مسجد ته به نه راځى ځکه چه لکه څنګه د بدبويه شي سره انسان ته تکليف رسى نو دغه شان ملائکو ته هم د هغے نه تکليف رسى، لهذا مسلمانانو لره پکار دى چه کله پياز، اوګه، مولئ، ګندنا وغيره اوخورى، نو هغه دے مسجد ته نه راځى ځکه چه که انسان ته تکليف او نه رسى ملائکو ته رسى ـ

بيا ددے ځيزونو (کوم چه حديث کښے ذکر دى) په **حکم** کښے **اختلاف** دے چه ددے خوړل حرام دى که حلال؟ ـ **١- جمهور** (ائمه اربعه وغيره) وائى : چه ددے ځيزونو خوړل حلال دى، ليکن مسجد ته چه راځى نو نه به ئے خورى ـ

٢- بعض علماء لکه اهل ظواهر سوئ د ابن حزم نه - وائى : پدے کښے حرمت لغيره دے ځکه پدے سره ضرر ملائکو ته رسى نو ددے خوراک ئے حرام کړيدے خو دا قول شاذ دے وجه دا ده چه که دا حرام وے نو بيا ئے په حالت د پخولو کښے ولے اجازه ورکړه معلوميږى چه خوراک ئے حلال دے ليکن د مسجد او عباداتو ته حاضريدو په وقت کښے به ئے نه خورى خو که بدبوئى په بله څه ذريعه زائله کولے شوه لکه ګوړه وروسے اوخورى نو بيا ئے هم خوراک حرام ندے ـ

سوال : شجره ديته وائى چه د هغے داسے جرړے وى چه د تنے پريکولو نه پس هم باقى پاتے کيږى او نجم هغه بوټى ته وائى چه هغه د بيخ نه راوځى، جرړے نه لرى لکه اوګه، پياز، مولئ، ګندنه وغيره کما قال اهل اللغة ـ نو دلته ئے دے ځيزونو ته څنګه شجر وئيلے ده ؟ ـ **الجواب** : دا دواړه د يو بل په ځائے استعماليږى او افصح الخلق استعمال کړيدى بس دا قوى دليل د جواز دے ـ

فَلَا يَقْرَبَنَّ مَسْجِدَنَا : د مسجد نه مراد جنس مسجد دے نو هر مسجد ته شامل دے او (نا) ضمير نه مراد مسلمانان دى يعني د مسلمانانو مساجدو ته به پدے بدبويه حالت کښے نه داخليږى او ددے تائيد په روايت د احمد کښے دے : فلا يقربن المساجد ومثله فى مسلم ـ نو پدے کښے رد دے په هغه چا چه د مسجد تخصيص ئے په مسجد نبوى سره کړيدے او دا ئے وئيلى دى چه دا نهى صرف د مسجد نبوى پورے خاص ده او باقى

مساجدو کښې نهی نشته، دا خبره خطاء ده ځکه لفظ د مساجد جمع ده ټولو مساجدو د مسلمانانو ته شامل دے۔

دارنګه د روستو علت د وجې هم خطاء ده فان الملائکة تتاذی الخ۔

بیا آیا د مسلمانانو بازارونه محفلونه، اجتماعات، د تعلیم حلقې په دے کښې داخل دی او که نه؟ نو بعض علماؤ وئیلی دی چه دا په کښې نه دی داخل وجه دا ده چه په احادیثو کښې د مساجدو قید ذکر کیږی او ځکه چه مساجد محل دے د اجتماع د ملائکو، نه بازارونه وغیره ځکه مقصود دا دے چه د هغه ملائکو رعایت اوکړے شی کوم چه په مساجدو کښې حاضر وی؛ ورنه که داسے نشی نو بیا خو هیڅ یو انسان د ملائکو د صحبت نه نه خالی کیږی هر انسان سره حفظه او کرام کاتبین همیشه موجود وی بیا خو به ددے څیزونو خوړل همیشه دپاره حرام شی کما قال السندهی۔

۲– لیکن په بعض روایاتو کښې په حدیث د انس کښې فلا یقربنا لفظ دے کما فی الصحیحین۔ او په مسلم کښې د ابو هریره په روایت کښې دی: فلا یقربن مسجدنا ولا یؤذینا بریح الثوم لفظ دے نو په دے اول حدیث کښې لفظ د مسجد نشته بلکه عموم دے چه زمونږ خواته دِے نه راځی۔ نو ددے عموم نه استدلال کیدے شی چه د مساجدو پشان حکم د نورو محافلو هم دے لکه عیدګاه، جنازګاه، د ولیمې ځائے، اجتماعات وغیره او ددے منع دپاره علت: مسلمانانو او ملائکو ته ضرر رسیدل دی او دا په ټولو محافلو کښې شته لهذا چه کله انسان نورو محافلو او اجتماعات او حلقو د تعلیم ته ځی نو بدبویه خوراك به نکوی، دا به ممنوع وی وهو الظاهر ورجحه ابن دقیق العید" انظر المرعاة (۲/ ۴۱۵)۔

فَإِنَّ الْمَلَائِكَةَ تَتَأَذَّى الخ: یعنی ملائك ضرر حاصلوی کوم چه انسانان حاصلوی ددے ملائکو نه مراد هغه ملائك دی چه د عباداتو عام ځایونو ته حاضریږی۔ بیا دا علت دلیل دے چه که په مسجد کښې څوك انسان موجود نه وی، خالی وی نو هم په دے حالت کښې به نه داخلیږی ځکه چه ملائك موجود وی هغوی ته ضرر رسی۔

۱۹– وَعَنْ أَنَسٍ رضی الله عنه، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: «اَلْبُزَاقُ فِي الْمَسْجِدِ خَطِيئَةٌ، وَكَفَّارَتُهَا دَفْنُهَا». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: او انس رضی الله عنه فرمائی چه رسول الله ﷺ فرمائی: مسجد کښې لاړے تو کل ګناه ده او ددے کفاره دا ده چه هغه په زمکه کښې خښ کړے شی۔ (بخاری

ومسلم)۔
تشریح : **اَلْبُزَاقُ** : بزاق، بصاق، تفل، هغه لاړو ته وائي چه د خولې نه رابهر شي او ریق هغه لاړو ته وائي چه خوله کښې دننه وي ـ نور الفاظ مترادفه: لعاب، رضاب دي ـ
فِي الْمَسْجِدِ : مسجد نه مراد د مسجد زمکه او دیوالونه دي، دې ته لاړې توکل حرام دي۔
خَطِيْئَةٌ : ددې ډیرې معاني دي: شرك لكه وَاَحَاطَتْ بِهٖ خَطِيْئَتُهٗ ۲- په معنی دخطاء سره چه ضد د عمد او قصد دې ۳- گناه کبیره ـ دا ضد د اثم دې دلته دا معنی مراد ده ـ
وَكَفَّارَتُهَا دَفْنُهَا : د امام نووی او قاضی عیاض **اختلاف** دې چه په **مسجد** کښې **لاړې توکل** او بیا د هغې دفن کول **جائز دي او که حرام** ؟ ۔
۱- **علامه قاضي عياض** وائي: په مسجد کښې لاړې ارتول جائز دي خو شرط دا دې چه بیرته به ئې خخوي او که همداسې ئې پریدی نو بیا به گناه وي ـ
۲- **امام نووی** وائي: دا خبره د صریح حدیث خلاف ده بلکه مطلقا په مسجد کښې لاړې ارتول حرام دي که اراده د خخولو ئې وي او که نه بیا کفاره ئې دا ده چه خخې به ئې کړي نو دې په نفس توکلو هم گناه گنړي او بیا نه خخول هم گناه گنړي ځکه بیا مسجد نه توکدان جوړیږي او احترام ئې پائیمال کیږي ـ او قاضی عیاض نفس توکل گناه نه گنړي مگر هله به گناه وي چه نه ئې خخوي ـ ثمره د اختلاف دا مرتب کیږي چه که لاړې توکلو سره سمدست اوچې شوې یا زائله شوې نو د قاضی عیاض په نیز گناه نه ده او د امام نووی په نیز باندې به گناهګاریږي ـ
حافظ ابن حجر العسقلاني په فتح الباري (۴۰۶/۱) کښې د دواړو حاصل د نزاع بیان کړیده چه پدې مقام کښې دوه عمومه دي او دواړه د یو بل متعارض دي یو دا قول دې: البزاق في المسجد خطيئة ـ دويم دا قول دې: وليبصق عن يساره او تحت قدمه ـ
نو امام نووی اول عام گرځوي او دويم کښې تخصيص کوي او داسې وائي چه وليبصق امر د هغه چا په حق کښې دې چه د مسجد نه بهر وي او قاضي عياض ددې په خلاف اول خاص کوي او دويم عام گنړي يعنې دا وائي چه په مسجد کښې لاړې ارتول هله گناه ده چه اراده د خخولو ئې نه وي او وليبصق معنى دا ده چه چا له په مانځه کښې په خوله کښې راجمع شي نو دا که په مسجد کښې وي او که بهر وي د مسجد نه په دواړو حالتونو کښې به ئې گس طرفته يا تحت القدم ارتوي خو که مسجد کښې وي نو بيا به ئې خخوي او که

بهر د مسجد نه وی نو خخول ئے ضروری ندی او د قاضی عیاض سره ډیرو علماؤ موافقت کړیدے یو د هغوی نه ابی المکیؒ په تنقیب کښے او امام قرطبیؒ په المفهم کښے موافقه کړیده ـ او دوی د خپلے خبرے په تائید کښے احادیث پیش کوی :

۱- یو دا چه په مسند احمد او طبرانی کښے د ابوامامهؓ مرفوع حدیث دے باسناد حسن : [من تنخع فی المسجد فلم یدفنه فسیئة وان دفنه فحسنة] ـ نو دلته ئے لاړے ارتول هله گناه گرځولے ده چه خخ ئے نکړی فَقَیَّدَه بعدم الدفن ـ

۲- دغه شان په حدیث د ابوذرؓ کښے دی : کما فی مسلم مرفوعا : [وجدت فی مساوی اعمال امتی النخاعة تکون فی المسجد لا تدفن] ـ علامه قرطبیؒ وائی : ددے لاړو ارتولو دپاره ئے حکم د گناه په نفس ارتولو ثابت نکړو بلکه ارتول او بیا نه خخول گناه ده انتهیٰ ـ بیا حافظؒ د قاضی عیاضؒ د قول ترجیح ته اشاره کوی وائی : چه دا عموم د حدیث مخصوص دے وجه دا ده چه په جامه کښے لاړے توکل اگرکه په مسجد کښے وی په اتفاق د علماؤ سره جائز دی ـ ۳- دارنگه په حدیث د ابوداود کښے د عبد الله بن الشخیر روایت دے : انه صلی مع النبی ﷺ فبصق تحت قدمه الیسری ثم دلکه بنعله ، اسناده صحیح واصله فی مسلم ـ ظاهر دا ده چه دا کار په مسجد کښے شویدے نو دا د ما تقدم تائید کوی ـ

۳- **بعض علماؤ یو دریم قول** کړیدے او گویا کښے محاکمه ئے کړیده او هغه دا چه لاړے توکل دوه قسمه دی (۱) - یو قصداً بغیر د ضرورت نه لاړے توکل نو دا په مسجد کښں بالکل حرام دی (۲) - دویم قسم : اضطراراً او د ضرورت په وجه لاړے توکل دی مثلا چه خوله ئے غیر اختیاری د لاړو ډکه شی قرائت نشی کولے او په لاس او جیب کښے ورسره څه جامه هم نشته چه په هغے کښے ئے وارتوی یا بهر د مانځه نه دے خو د مسجد نه بهر نشی وتلے د دشمن یره ده وغیره نو بیا په مسجد کښے ارتول جائز دی خو پدے شرط چه د خخولو او ختمولو کوشش به کوی او حافظ فرمائی : وهو تفصیل حسن انتهیٰ ـ

فائده : وَكَفَّارَتُهَا دَفْنُهَا : یعنی ددے گناه ختمول دا دی چه دا لاړے به زائل کوی په هره طریقه چه وی که پاك شے پرے واچوی، تو ته پرے راکاږی، نو دا گناه به ئے ختمه شی۔ بیا ئے دلته دفن ذکر کړو او نفس پټول ئے ذکر نکړل ـ وجه دا ده چه کله نا کله په پټولو سره د هغے نه همغه شان ضرر پیدا کیږی څکه څوك به پرے کینی نو تکلیف به ورته اورسی، او په دفن کښے جور والے وی نو د هغے اثر بالکل نه پاتے کیږی ـ

فائده : که یو مسجد کښے خاورے نه وی بلکه بزکے، قالین پرته وی نو څه حکم دے ؟

نو بعض علماء وائی : لاړے به نه توکی څکه چه پدے کښے احترام د مالیت دے او که مسجد فرشی وو نو لاړے به د قدم لاندے وارتوی او اوبه ئے مږی چه هیڅ اثرئے پاتے نشی لکه چه مخکښے حدیث د عبد الله بن الشخیر کښے داسے عمل راغلے وو او دا زمونږ د شریعت کمال دے چه مصائب او علاجونه، گناه او د هغے مدافعت دواړه بیانوی۔

---

٢٠ – وَعَنْ اَبِیْ ذَرٍّ رضی الله عنه، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : «عُرِضَتْ عَلَیَّ اَعْمَالُ اُمَّتِیْ حَسَنُهَا وَسَیِّئُهَا، فَوَجَدْتُ فِیْ مَحَاسِنِ اَعْمَالِهَا الْاَذٰی یُمَاطُ عَنِ الطَّرِیْقِ، وَوَجَدْتُ فِیْ مَسَاوِیْ اَعْمَالِهَا النُّخَاعَةَ تَکُوْنُ فِی الْمَسْجِدِ لَاتُدْفَنُ » . رواه مسلم

ترجمه : او ابوذر رضی الله عنه فرمائی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل : ما باندے زما د امت ښائسته او بد اعمال پیش کړے شو۔ ما د هغوی په نیك اعمالو کښے د لاړے نه تکلیف ورکونکے شے لرے کول اوموندل او په بد اعمالو کښے مے په مسجد کښے لاړے (خراچکے) اوموندو چه هغه خښ نکړے شی ۔ (مسلم)۔

تشریح : فَوَجَدْتُ فِیْ مَحَاسِنِ : محاسن جمع د حُسن ده دا خلاف القیاس جمع ده او دغه شان مساوی جمع د سوء ده خلاف القیاس ۔ دا حدیث دلیل دے چه هر هغه شے چه مسلمانانو ته فائده ورکوی یا د هغوی نه ضرر دفع کوی نو دا به نیك عمل وی ۔

النُّخَاعَةَ : د نون په ضمه سره هغه لاړو ته وائی چه د مینځ د خولے نه راوځی ۔

---

٢١ – وَعَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رضی الله عنه، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : «اِذَا قَامَ اَحَدُکُمْ اِلَی الصَّلَاةِ فَلَا یَبْصُقْ اَمَامَهٗ، فَاِنَّمَا یُنَاجِی اللهَ مَا دَامَ فِیْ مُصَلَّاهُ، وَلَا عَنْ یَمِیْنِهٖ، فَاِنَّ عَنْ یَمِیْنِهٖ مَلَکًا . وَلْیَبْصُقْ عَنْ یَسَارِهٖ اَوْ تَحْتَ قَدَمِهٖ فَیَدْفِنُهَا » .

٢٢ – وَفِیْ رِوَایَةِ اَبِیْ سَعِیْدٍ : «تَحْتَ قَدَمِهِ الْیُسْرٰی » . مُتَّفَقٌ عَلَیْهِ .

ترجمه : او ابو هریره رضی الله عنه فرمائی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل : کله چه ستاسو کښے یو شخص مانځه ته اودرېږی نو هغه دے خپلے مخے ته لاړے نه توکی څکه

چه هغه ترڅو د مانځه په حالت کښې وی نو هغه الله تعالی سره مناجات (جرګه) کوی او هغه دې خې طرف ته هم نه توکی ځکه خې طرفته یو ملائك وی (بلکه) ګس طرف یا قدمونو لاندې دې توکړی او بیا دې هغه په زمکه کښې خخ کړی ۔ د ابوسعید په روایت کښې دا الفاظ دی: بلکه د خپل ګس قدم لاندې دې توکی ۔ (بخاری ومسلم) ۔

تشریح : فَلَا يَبْصُقْ أَمَامَهُ : پدې حدیث کښې د مونځ کونکی د هغه شخص سره تشبیه ورکړې شویده چه د خپل مالك سره مناجات او جرګه کوی نو لکه څنګه چه یو غلام د خپل مالك د عزت او احترام د تمامو آدابو لحاظ کوی، دغه شان مونځ کونکی له هم پکار دی چه دا کله د خپل مالك حقیقی مخې ته اودریږی نو د ټولو آدابو پوره رعایت دې کوی او یو ادب دا دې چه مخامخ لاړې به نه توکی ځکه الله تعالی هغه ته مخامخ وی نو دا د آدابو د مناجات خلاف کار دې ۔ دارنګه ښی طرفته به هم نه توکی ځکه دې طرف کښې ملائك دی چه دده نیك اعمال لیکی نو هغه ستا خدمت ته ولاړې دی نو هغه طرفته لاړې توکل هم خلاف ادب دی بلکه ګس طرفته دِ توك کړی یا تحت القدم ۔

بیا پدې کښې اشاره ده چه ګس طرف والا ملائك اګرچه هغه هم کرام کاتبین ملائك دی خو د هغوی درجه او مرتبه د ښی طرف والو نه کمه ده کما قال فی طرح التثريب (٣٨٣/٢) نقلاً عن المفهم : ان ملك اليمين اعلى وافضل فاحترم بما لم يحترم به غيره آهـ ـ یا دا چه دواړه یو شان دی، خو دلته فی الحال ستا په خدمت کښې ښی طرف والا لګیا دی نو د هغوی طرفته توکل د ادب خلاف دی او ګس طرف والا فارغ وی ۔

٢– ښه وجه دا ده چه هر انسان سره شیطان وی او هغه ګس طرف ته وی کما فی حدیث ابی امامه عند الطبرانی ۔ نو کله چه مصلی ګس طرفته لاړې توکړی نو شاید چه دا به په شیطان واقع شی او ګس طرف والا ملائك به دغه وقت داسې ځائې کښې وی چه هغه ته به هیڅ شې نه رسی ۔ یا دا چه د ګس طرف ملائك هم په مانځه کښې ښی طرف ته راوړی ورجحه صاحب المرعاة (٤١٨/٢) ۔

٣– علامه طیبیؒ وائی : دا احتمال هم شته چه دا یو بل ملائك وی سوی د حفظه او کرام کاتبین نه چه د مانځه په وقت کښې حاضریږی مونځ کونکی ته الهام کوی او رهبری ئې کوی او دده په دعا باندې آمین وائی نو دا د یو میلمه حیثیت لری نو دا ضروری خبره ده چه د کرام کاتبین نه زیات ددې ملائکو احترام او اکرام اوکړې شی ځکه کرام کاتبین خو همیشه دپاره وی، هغه د انسان نه نه جدا کیږی خلق د نوی میلمه ډیر احترام کوی ۔

او دا معنى مؤيد بالحديث هم ده چه دلته جدا ملائك راځي چه په خاص طور سره په مانځه كښې راځي او ښي طرفته اودريږي لكه په رواياتو كښې راغلي دي چه كله بنده مونځ كوي نو الله تعالى يو ملائك راليږي چه د هغه ښي طرفته اودريږي او د هغه د قلب حفاظت كوي او يو شيطان راځي چه د هغه ګس طرفته اودريږي او قلب ته وسوسے اچوي (درس بخاري) باب لايبصق عن يمينه في الصلوه ـ

والله تعالى اعلم ـ

فائده ٥ : فلا يبصق امامه : دا منع په عام حالاتو كښې هم ده اګركه يو انسان په مانځه كښې نه وي، هم قبلے او ښي طرفته به لاړے نه توكي ـ دارنګه كه مسجد كښې وي او كه بهر وي د مسجد نه نو قبلے او ښي طرفته لاړے توكل منع دي ـ په ابن خزيمه او ابن حبان كښې د حذيفهؓ نه مرفوعا روايت دے : من تفل تجاه القبلة جاء يوم القيامة و تفلتة بين عينيه ـ قال في طرح التثريب (٢/٣٨٠) الظاهر ان المراد العموم لان المصلي مناج لله في ايّ موضع صلي والملك الذي عن يمينه معه ايّ موضع صلّي ـ ظاهر دا دے چه عموم مراد دے ځكه مونځ كونكے د الله تعالى سره مناجات كوي هر ځائے چه مونځ كوي نو د غه شان خي طرف والا ملائك به هم ورسره هر ځائے وي ـ

او په حديث كښې چه د صلاة لفظ ذكر دے نو ددے سبب يوه واقعه ده چه رسول الله ﷺ د مسجد په ديوال باندے خراچكے اوليدو نو يو كانړے ئے را واخستو او هغه ئے پرے اوګرولو اوبيا ئے دا حديث اوفرمائيلو كما في فتح الباري (١/٥٠٤) ـ

د امام مالكؒ نه د بهر د مانځه نه د جواز قول نقل دے مګر دا قول بے دليله دے په مصنف عبد الرزاق كښې د ابن مسعود نه نقل دي : انه كره يبصق عن يمينه وليس في صلاة وعن معاذ بن جبل قال : ما بصقت عن يميني منذ اسلمت ـ

ابوبكر صديق هم فرمائي : ما بصقت عن يميني منذ اسلمت ـ انظر فقه ابي بكر الصديق للقلاجيؒ ـ **ليكن صحيح** دا ده چه بهر د مانځه نه ښي طرفته لاړے توكلو كښې پوره منع نشته صرف ادب دے ـ

او ددے اختلاف وجه اختلاف في التعليل دے چه څوك دا منع عام كوي مانځه او بهر د مانځه ته نو هغوي وائي چه نهي عن البصاق الي اليمين معلل كړي شويدي ـ د ښي طرفته د ملائك په كيدو او هغه خو هر وخت وي لهذا نهي عام ده ـ ليكن پدے باندے هغه مخكښے اشكال كيږي چه ګس طرفته هم ملائك وي كما مرّ ـ

فائده : علامه خطابيؒ فرمائي : كه كس طرف ته خلق ولاړ وي نو بيا به ئے تحت القدم توكړي يا به ئے په خپلو جامو كښے توكړي ـ حافظ عسقلاني وائي : كه لاندے څه شے (قالين وغيره) وي او جامه هم ورسره نه وي چه په هغے كښے توكړي نو ددے لاړو تيرول بهتر دي چه ارتكاب ددے منهي عنه رانشي ـ والله اعلم ـ وكذا في الطرح (۲/۳۸۳) ـ

---

۲۳ – وَعَنْ عَائِشَةَ، اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ قَالَ فِيْ مَرَضِهِ الَّذِيْ لَمْ يَقُمْ مِنْهُ : «لَعَنَ اللهُ الْيَهُوْدَ وَالنَّصَارٰى : اِتَّخَذُوْا قُبُوْرَ اَنْبِيَائِهِمْ مَسَاجِدَ» .مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ .

ترجمه : او عائشه صديقه رضي الله عنه فرمائي : چه رسول الله ﷺ په هغه بيمارئ كښے چه د هغے نه پانه نه څيدلو (يعني مرض وفات كښے) اوفرمائيل : عيسايان او يهوديانو باندے دے د الله لعنت وي هغوي د خپلو انبياؤ قبرونه سجده گاه جوړ كړي دي ـ (بخاري ومسلم) ـ

لَعَنَ اللهُ الْيَهُوْدَ وَالنَّصَارٰى : اِتَّخَذُوْا قُبُوْرَ اَنْبِيَائِهِمْ مَسَاجِدَ :

تشريح : مسئله اتخاذ القبور مساجد ـ

علامه توريشتي حنفيؒ په شرح د مصابيح كښے او حافظ ابن حجرؒ دواړه فرمائي : رسول الله ﷺ ته چه كله د خپل اجل د قريب كيدو پته اولگيده او ددے خبرے خطره هم ورته راغله چه شايد زما د قبر سره به هم هغه معامله اوشي كوم چه د نور انبياؤ د قبرونو سره يهود او نصاراؤ كړے وه پدے وجه ئے په يهود او نصاراؤ باندے لعنت اوكړو، دے دپاره چه زمام امت هم دداسے كار نه منع شي (لكه چه عائشے فرمائيلي دي : نبي عليه السلام دا لعنت پدے وجه اوكړو چه خپل امت ته يره وركوي چه تاسو داسے كار اونكړئ) ـ

بيا توريشتي فرمائي : د انبياؤ د قبور نه مساجد جوړول په دوه طريقو دي (۱) – يو دا چه قبرونو ته سجده اوكړي او مقصود پدے كښے عبادت كول د هغه نبي يا ولي وي د هغه تعظيم مقصد وي لكه چه يهود او نصاراؤ به د انبياؤ قبرونو ته سجدے كولے نو دا خو بالكل شرك جلي (ښكاره شرك) دے ـ(۲) – دويم دا چه مقصود او منظور د الله عبادت وي ليكن دا عقيده ساتل چه د انبياؤ او صالحينو قبرونو ته په مانځه كښے يا په نورو عباداتو كښے توجه كول سبب دے د رضا د الله تعالى څكه چه دا كار مشتمل دے په دوه

امرينو باندے يو د الله تعالى عبادت دے ـ دويم د انبياؤ په تعظيم او اكرام كښے مبالغه ده نو دا طريقه هم حرامه ده پدے وجه چه پدے كښے هم د الله تعالى سره شرك كول دى په عبادت د هغه كښے اگرچه خفى شرك دے او په تبعيت د مخلوق سره دے ـ
او ددے دواړو طريقو په حراموالى باندے دليل: دا قول د نبى عليه السلام دے: [لا تجعلوا قبرى وثنا يعبد، اشتد غضب الله على قوم اتخذوا قبور انبيائهم مساجد ـ اخرجه مالك فى الموطا] او ددے دواړو طريقو ته لعنت متوجه دے ـ
بيا وائى: رسول الله ﷺ چه خپل امت په مقابرو كښے د مانځه نه منع كړيدے نو د دوه وجو نه ۱ – يو دا چه پدے كار كښے د يهود او نصاراؤ سره مشابهت دے اگرچه د دواړو قصد او اراده به مختلف وى ـ ۲ –دويم دا چه متضمن دے شرك خفى لره ـ او هغه داسے چه د الله تعالى په عبادت كښے ئے داسے كار اوكړو چه هغه راجع دے تعظيم د مخلوق ته چه هغے باندے الله تعالى اذن او اجازت ندے وركړے ـ
بيا وائى: د نبى يا ولى صالح انسان د قبر په خوا كښے د تبرك او تعظيم په نيت باندے مونځ كول حرام دى او پدے نهى كښے داخل دى ځكه چه يو خو پدے كښے شرك خفى دے دويم تخصيص د دغه مواضعو دے انتهىٰ كذا فى مرقاة المفاتيح (۱/۴۵۶)ـ

د مسجد په خوا كښ د قبرونو او گنبدونو جوړولو حرمت

اوس به راشو دلائلو ته چه د قبر په خوا كښے مونځ كول هلته مسجد جوړول يا د مسجد په خوا كښے قبر جوړول او په مساجدو باندے قبے او گنبدونه جوړول دا ټول حرام او بدعت دے ـ
اول دليل: آيت: ﴿وَمَا آتَاكُمُ الرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَاكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوا﴾ سورة الحشرـ
ترجمه: رسول الله ﷺ چه د كوم كار نه منع اوكړى د هغے نه منع شئ! ـ
او پدے باره كښے د رسول الله ﷺ ډير احاديث دى چه د انبياء او صالحينو په خوا كښے په قبر نشى جوړولے ـ
۱ – **اول حديث**: د جندب بن عبد الله البجلى رضى الله عنه فرمائى: سمعت النبى ﷺ قبل ان يموت بخمس: «الا وان من كان قبلكم كانوا يتخذون قبور انبيائهم وصالحيهم مساجد الا فلا تتخذوا القبور مساجد انى انهاكم عن ذلك» وسنده صحيح اخرجه مسلم (۲/۶۷) كما فى الدرر السنية (۲/۴۲۲) والبخارى (۱/۴۲۲) والنسائى (۱/۱۱۵)

والدارمی (۱/۳۲۶) واحمد (۱/۲۱۸) والبیهقی (۴/۸۰) وعبد الرزاق (۱/۴۰۶) وشرح السنة (۲/۴۱۵) وابن ابی شیبة (۲/۸۳) ومالك في الموطا (۱/۳۷۶) ۔

۲- حدیث : عن عائشة قالت : قال رسول الله ﷺ فی مرضه الذی لم یقم منه : لعن الله الیهود والنصاری اتخذوا قبور انبیائهم مساجد : قالت : فلو لا ذلك ابرز قبره غیر انه خشی ان یتخذ مسجداً ۔ رواه البخاری (۳/۱۵۶) و(۱۹۸) ومسلم (۲/۶۷) تحذیر الساجد للالبانی (۱۰) ۔

۳- حدیث : عائشه مرفوعا : اولئك قوم اذا مات فیهم العبد الصالح، او الرجل الصالح بنوا علی قبره مسجداً وصوروا فیه تلك الصور اولئك شرار الخلق عند الله، رواه البخاری (۱/۴۱۶- ۴۲۲) ومسلم (۲/۶۶) والنسائی (۱/۱۱۵) وابن ابی شیبة (۴/۱۴۰) طبع الهند واحمد (۶/۵۱) وابوعوانة (۱/۴۰۰) انظر تحذیر الساجد ص (۱۳) وجهود علماء الحنفیة فی ابطال عقائد القبوریة للشمس السلفی (۳/۱۶۲۲) وروح المعانی (۱۵/۲۳۷)۔

ددے حدیث شان ورود داسے دے چه عائشه فرمائی : کله چه نبی علیه السلام مریض شو نو بعض بی بیانو خپل مینځ کښې دیوے کنیسے (گیرجے) تذکره اوکړه چه په حبشو کښې ئے لیدلے وه او ام سلمه او ام حبیبه (هم) دواړه حبشو ته تلے وے نو هغوی ددے گیرجے د حُسن او د تصاویرو تذکره اوکړه، نبی علیه السلام سر راپورته کړو او دا ارشاد ئے اوفرمائیلو : دا یهود او نصاریٰ خو داسے قوم وو چه کله به په دوئ کښې یو صالح نیك عمل انسان وفات شو نو د هغه په قبر باندے به ئے مسجد جوړ کړو او دغه تصویران د انبیاؤ او صالحینو به ئے پکښې رسم کړل د الله په نیز دا په تولو کائناتو کښې بد ترین خلق دی ۔

۴- حدیث جابر بن عبد الله رضی الله عنهما : انه نهی رسول الله ﷺ ان یجصص القبر وان یقعد علیه وان یبنی علیه وفی روایة : وان یکتب علیه ۔

۵- حدیث : عن ابی عبیدة بن الجراح رضی الله عنه قال : آخر ما تکلم النبی ﷺ : اخرجوا یهود اهل الحجاز واهل نجران من جزیرة العرب واعلموا ان شرار الناس الذین اتخذوا (وفی روایة یتخذون) قبور انبیائهم مساجد، رواه احمد رقم (۱۶۹۱) و(۱۶۹۴) مشکل الآثار للطحاوی (۴/۱۳) وابویعلی (۱/۵۷) وذکره الهیثمی فی المجمع (۵/۳۲۵) تحذیر الساجد (۱۶)۔

پدے روایت او اول روایت کښې لکه څنګه چه د پخوانو خلقو پدے کار باندے رد اوشو نو ددے امت په مشرکانو هم رد اوشو چه د قبرونو په خوا کښې مساجد جوړوی ۔

٦- **حديث** : ابن مسعود رضي الله عنه قال سمعت رسول الله ﷺ يقول : ان من شرار الناس من تدركهم الساعة وهم احياء والذين يتخذون القبور مساجد، رواه احمد بسند جيد وابوحاتم فى صحيحه فى كما فى فتح المجيد ص (٢٤٤) وابن خزيمة فى الصحيح (٩٢/١) وابن حبان (٣٤٠ – و ٣٤١) وابن ابى شيبة فى المصنف (١٤٠/٤) والطبرانى فى الكبير (٢٧٧/٣) وابويعلى فى المسند (٢٥٧/١) وابونعيم فى اخبار اصبهان (٢٤٢/١) باسناد حسن وقال شيخ الاسلام فى منهاج السنة (١٣١١) والاقتضاء ص (١٥٧) واسناده جيد وقال الهيثمى فى المجمع (٢٧/٢) رواه الطبرانى فى الكبير واسناده جيد وقال الشيخ الالبانى فى تحذير الساجد ص (١٩) والحديث بمجموع طرقها صحيح ۔

٧- **حديث** : عن امهات المومنين ان اصحاب رسول الله ﷺ قالوا : كيف نبنى قبر رسول الله ﷺ ؟ افنجعله مسجداً ؟ فقال ابوبكر الصديق : سمعت رسول الله ﷺ يقول : لعن الله اليهود والنصارى اتخذوا قبور انبيائهم مساجد رواه ابن زنجويه فى فضائل الصديق كما فى الجامع الكبير (١/١٤٧/٣) تحذير الساجد (٢٠) ۔

پدے باره کښې نور ډير احاديث موجود دى چه تقريباً دولس (١٢) شيخ البانى په تحذير الساجد کښې ذکر کړيدى دارنګه تفسير روح المعانى (٢٣٧/١٥) ابن کثير او الدرر السنيه فى الاجوبة النجديه (١٨٨/٢) او کتاب التوحيد بشرح فتح المجيد (٢٤٦) جهود علماء الحنفيه (١٦٢٣/٣) کښې کتلې شئ ! ۔

اوس پدے احاديثو کښې د اتخاذ القبور مساجد نه منع راغلله او ډيره خطره ئے بيان شوه نو ددے به څه معنى جوړيږى نو علماؤ ددے درے معانى ذکر کړيدى ۔

١- **اوله معنى** : الصلاة على القبور بمعني السجود عليها قبرونو دپاسه سجدے لګول ۔

٢- **دويم** : السجود اليها واستقبالها بالصلاة والدعاء ۔ يعنى قبرونو طرفته سجده او مونځ کول او هغې طرفته په دعاء کښې متوجه کيدل ۔

٣- **دريم** : بناء المساجد عليها وقصد الصلاة فيها ۔ د قبرونو په خوا کښې (دپاسه) مساجد جوړول او بيا په هغې کښې مونځونه کول ۔

دا ولې معنى په باره کښې ابن حجر هيثمى په کتاب الزواجر (١٢١/١) او تفسير روح المعانى (٢٣٧/١٥) کښې وائى : اتخاذ القبر معناه : الصلاة عليه واليه ۔ نو ددے نه معلومه شوه چه قبر دپاسه سجده کول يا هغه طرفته مخ کول دواړه حرام دى او پدے حديث کښې داخل دى ۔ او سبل السلام (٢١٤/١) کښې امير صنعانى فرمائى : واتخاذ القبر مساجد اعم من ان يكون بمعنى الصلاة اليها او بمعنى الصلاة عليها ۔

او ددے اولے معانی پہ بارہ کښے ډیر احادیث راغلی دی : لکہ (۱) – پہ حدیث د ابوسعید الخدری کښے دی : ان رسول الله ﷺ نهى ان يبنى على القبورَ او يقعد عليها او يصلى عليها اخرجه ابويعلى فى مسنده (٢/٦٦) باسناد صحيح وقال الهيثمى (٣/٦١) ورجاله ثقات ـ (۲) – حديث د ابن عباس مرفوعا : لا تصلوا الى قبر ولا تصلوا على قبر ـ طبرانى فى الكبير (٣/١٤٥/٢) و(٣/١٥٠) ـ (٣) – وفى حديث انس ان رسول الله ﷺ نهى عن الصلاة الى القبور ـ ابن حبان (٣٤٣) تحذير الساجد ـ

(٤) – ثابت بنانیؒ د انسؓ نہ روایت کوی چہ ما د قبر پہ خوا کښے مونځ کولو نو عمر بن الخطابؓ اوليدم فقال : [اَلْقَبْرَ اَلْقَبْرَ] يعنى د قبر پہ خوا کښے مونځ مہ کوہ البخارى تعليقا (١/٤٣٧) فتح) وعبد الرزاق موصولا (١/٤٠٤) (١٥٨١) ـ

او دریمہ معنی امام بخاری بیان کړیدہ ځکہ پہ اول حدیث باندے ئے داسے باب ایخودے دے : باب ما يكره من اتخاذ المساجد على القبور ـ

حافظؒ پہ شرح ددے حدیث کښے د کرمانیؒ نہ نقل کوی : چہ ددے حدیث مفاد خو منع دہ د اتخاذ القبر مسجداً او مدلول د ترجمة الباب اتخاذ المسجد على القبر دے نو د دواړو مفهوم جدا جدا دے خو ددے جواب دا دے چہ دا دواړہ خبرے متلازمان دی اګرچہ مفهوم بہ ئے جدا جدا وی انتهىٰ ـ او دے معنی تہ عائشےؓ پدے الفاظو اشارہ کړیدہ : ولولا ذاك ابرز قبره غير انه خشي ان يتخذ مسجداً ـ ځکہ ددے معنی دا دہ چہ کچرتہ دغہ لعنت نہ وے دکوم چہ یهود او نصارا مستحق شو پدے سبب چہ دوئ قبرونو نہ مساجد جوړ کړی وو چہ هغہ مستلزم دی بناء (آبادی) جوړولو لرہ پہ قبرونو باندے نو د نبی علیہ السلام قبر بہ پہ زمکہ باندے ښکارہ شوے وے لیکن صحابہ کرامو دا کار اونکړو دا یرہ وہ چہ روستو خلق بہ راشی او د رسول الله ﷺ پہ قبر باندے بہ مسجد جوړ کړی نو دا لعنت بہ ورتہ اورسیږی ـ

او ددے تائید دا دے چہ ابن سعد (٢/٢٤١) د حسن بصریؒ نہ پہ صحیح سند سرہ نقل کړیدی چہ صحابہ کرامو مشورہ اوکړہ چہ نبی علیہ السلام پہ مسجد کښے خخوو نو عائشےؓ اوفرمائیل : نبی علیہ السلام زما پہ غیږ کښے سر ایخودے وو چہ وے فرمائیل : الله تعالی دِ هغہ اقوام تباہ کړی چہ د انبیاؤ د قبرونو نہ ئے مساجد جوړ کړی دی نو د صحابہ کرامؓ هم همدا رایہ شوہ چہ کوم ځائے نبی علیہ السلام قبض شو هلتہ بہ ئے خخوو چہ هغہ د عائشےؓ کوتہ وہ نو دا روایت پہ دوہ خبرو دلالت کوی ۱- یو دا چہ د

عائشہؓ فهم دا دے چه مسجد ته قبر داخلول دا هم په اتخاذ القبور مساجد کښے داخل دی نو په طریق اولیٰ به په قبر باندے مسجد جوړول حرام وی ۔

۲ - دویم صحابه کرامو هم په هغے باندے رد اونکړو او د هغے تائید ئے اوکړو نو معلومه شوه چه په قبر باندے مسجد جوړول یا قبر په مسجد کښے جوړول دا ټول حرام دی ددے وجے نه حافظ عراقیؒ فرمائی : فلو بنى مسجداً يقصد ان يدفن في بعضه دخل في اللعنة ۔

که چرے یو سړے پدے نیت مسجد جوړ کړی چه ددے په بعض حصه کښے به قبر جوړوی (یعنی امام وغیره دپاره پکښے قبر دپاره ځائے پریدی) نو دا سړے هم په لعنت کښ داخل دے نقله المناوی فی فيض القدير (٢٧٤/٥) ۔ وتحذير الساجد او دا په هغه نهی کښے دے چه (وان يبنى عليه) ۔

د قبر په خوا کښ مسجد جوړول
او بیا په هغے کښ مونځونه کول په خلور مذهبه حرام دی

اوس به راشو اقوال د علماؤ ته پدے باره کښے چه کوم مسجد چه د قبر په خوا کښے جوړ شی نو پدے کښے مونځ کول جائز ندی او دا د اهلسنت والجماعت اتفاقی مسئله ده الا من شذ من اهل البدعة ۔

۱ - **احناف** وائی : د قبرونو په خوا کښے مساجد جوړول مکروه تحریمی دی ۔ امام محمد په کتاب الاثار ص (٤٥) کښے فرمائی : ولا نرى ان يزاد على ما خرج من القبر ونكره ان يجصص او يطين او يجعل عنده مسجداً ۔ یعنی دا خبره زمونږ په نیز حرام کار دے چه په قبر کښے داسے فراخی اوکړے شی چه د خپلو حدود نه زیات شی او دارنګه قبر چونه کول پخول او ددے په خوا کښے مسجد جوړول حرام ګنړو ۔

۲ - علامه ابن الملك حنفیؒ فرمائی : انما حرم اتخاذ المساجد عليها، لان في الصلاة فيها استناناً بسنة اليهود، نقله على القارى فى المرقاة (٤٧٠/١) واقره والمباركفورى فى المرعاة ۔ یعنی د قبرونو په خوا کښے مساجد جوړول پدے وجه حرام شو چه پدے مساجدو کښے مونځ کول د یهودو د طریقے تابعداری راځی، انتهیٰ ۔

۳ - علامه محمود آلوسیؒ په تفسیر روح المعانی (٢٣٧/١٥) کښے وائی : ومن ثم قال اصحابنا، تحرم الصلاة الى قبور الانبياء والاولياء تبركاً واعظاماً انتهىٰ ۔

یعنی د انبیاؤ او اولیاؤ قبرونو طرفته د تبرك او تعظیم کولو په نیت مونځ کول حرام دی ۔

٤– شرعة الاسلام ص (٥٦٩) كښې وائي : ويكره ان يبنى على القبر مسجد يصلى فيه ـ
دا كار حرام دے چه په قبر باندے مسجد جوړ كړے شي چه په هغے كښې بيا مونځونه كولے شي انتهىٰ ـ ٥– په الكوكب الدري شرح الترمذي (١/١٥٣) كښې دي : يكره الصلاة في المسجد المبني على القبور سواء كان قبر امامه او خلفه او على احد جانبيه الا ان الكراهة في استقبال القبر اشد ملخصاً ـ
٦– فتاوى دار العلوم ديوبند كښې مفتي شفيع صاحب د يو سوال په جواب كښې ليكي : (١/٩٢) : **الجواب** : قبر پر گنبد اور فرش پختہ کرنا ناجائز اور حرام ہے، بنانے والا اور جو اس فعل سے راضی ہو گنہگار ہیں اور مخالفت کرنے والا ہیں حکم جناب سرور کائنات ﷺ کے۔ مسلم شریف میں روایت ہے: جابر صحابیؓ سے: قال نهى رسول الله ﷺ ان يجصص القبر وان يبنى عليه وان يقعد عليه رواه مسلم ـ فقہ کی معتبر کتابوں میں بھی پختہ قبر اور چبوترہ پختہ بنانے اور گنبد بنانے کی صاف ممانعت ہے، انتھی ـ
شيخ ابراهيم الحلبيؒ په حلبي كبير ص (٥٩٩) كښې وائي :
وعن ابي حنيفة : انه يكره ان يبنى على القبر بناء من بيت او قبة او نحو ذلك لما مر من الحديث (وهو حديث ابي الهياج الاسدي : قال قال لي عليؓ الا ابعثك على ما بعثني رسول الله ﷺ : ان لا تدع تمثالا الا طمسته ولا قبراً مشرفا الا سويته) فالمراد ما كانوا يفعلونه من تعلية القبور بالبناء الحسن الرفيع، انتهى ـ
يعني امام ابو حنيفه فرمائي : دا مكروه (حرام) دي چه په قبر باندے آبادے جوړ شي كه د كوټے په شكل وي او كه گنبد وي يا بل څه وي د وجے د حديث نه چه ابو الهياج اسديؒ ته علي رضى الله عنه اوفرمائيل : تا په هغه كار پسے ليږم چه زه پرے رسول الله ﷺ ليږلے وم چه هيڅ يو تصوير مه پريده مگر هغه ورانوه او هر اوچت قبر د زمكے سره برابره وه، نو پدے حديث كښې مراد دا دے چه جاهليت والو به كوم كارونه كول چه د قبر دپاسه به ئے ښائسته آبادے جوړولو په هغے باندے رد دے ـ انتهىٰ ـ
٢– **شوافع** وائي دا كبيره گناه ده ـ علامه ابن حجر هيثميؒ په كتاب الزواجر عن اقتراف الكبائر (١٤٨) طبع مصر : كښې فرمائي : په قبرونو باندے مساجد جوړول او په هغے كښې مونځونه كول او د هغے خكلول او د قبر نه طوافونه كول په هغے باندے ډيوے او شمعے بلول تول كبيره گناهونه دي او سو چه حرام دي او دا مساجد جوړول سبب د شرك دے انتهىٰ ـ
٢– امام شافعيؒ پخپله په كتاب الام (١/٢٤٦) كښې وائي : واكره ان يبنى على القبر

مسجد وان يسوى او يصلي عليه وهو غير مسوى (يعني انه ظاهر معروف) او يصلي عليه – وانه كره ان يعظم احد من المسلمين يعني يتخذ قبره مسجداً – ولم تؤمن في ذلك الفتنة والضلال، انتهى ـ يعني زه دا حرام گنړم چه قبر باندے مسجد جوړ کړے شي، يا ډے په هغه باندے دپاسه مونځ اوکړے شي کله چه هغه قبر ښکاره مشهور وي، يا هغه طرفته مونځ اوکړے شي (دا ټول حرام دي) او هغه دا هم حرام گنړي چه په مسلمانانو کښے د يو تن داسے تعظيم اوکړے شي چه د هغه د قبر په خوا کښے مسجد جوړ کړے شي ځکه چه پدے کښے د فتنے او د خلقو د گمراهۍ خطره ده ـ وكذا في تحذير الساجد (٣١)ـ

٣– علامه حافظ عراقيؒ عبارت مخکښې مونږ نقل کړو چه څوك مسجد پدے قصد او اراده جوړ کړي چه ددے په حصه کښے به مړے خخوو نو دا پدے لعنت کښے داخل دے ـ نقله المناوي في فيض القدير (٥/٢٧٤) ـ

٣– **مالكيه** وائي : دا کار حرام دے ـ علامه قرطبي الاندلسي المالكيؒ په خپل تفسير (١٠/٣٨) کښے ليکي : قال علماؤنا : وهذا يحرم على المسلمين ان يتخذوا قبور الانبياء والعلماء مساجد انتهىٰ ـ يعني مالكيه علماء وائي : دا کار په مسلمانانو باندے حرام دے چه د انبياء او علماؤ د قبرونو خوا کښے مساجد جوړ کړي ـ

حنابله وائي : پداسے مساجدو کښے مونځ کول حرام بلکه باطل دي ـ

١– علامه ابن القيم په زاد المعاد (٣/٢٢) کښے فرمائي : د گناه او د معصيت ځايونو سوزول بيان کړيدي چه کوم ځائے د گناه اډه وي هغه به نړولے شي او سوزولے به شي ـ بيا وائي : وعلى هذا فيهدم المسجد اذا بني على قبر كما ينبش الميت اذا دفن في المسجد نص على ذلك احمد وغيره ـ يعني هغه مسجد به ورانولے شي کوم چه په قبر باندے جوړ شوے وي لکه څنگه چه مړے به وېستلے شي کله چه په مسجد کښے دفن شي او پدے باندے احمد وغيره تصريح کړيده ـ

بيا وائي : فلا يجتمع في دين الاسلام مسجد وقبر بل ايُّهما طرأ على الآخر منع منه وكان الحكم للسابق فلو وضعا معاً لم يجز ولا يصح هذا الوقف ولا يجوز ولا تصح الصلوة في هذا المسجد لنهي رسول الله ﷺ ونصه من فعل ذلك فهذا دين الاسلام الذي بعث الله به رسوله ونبيه وغربته بين الناس كما ترىٰ ـ

پس په دين اسلام کښے قبر او مسجد هيچرے نشي جمع کيدے بلکه هريو چه بل باندے راشي نو هغه به منع کولے شي (يعني که قبر مخکښے جوړ وي نو مسجد به

ورسره نشي جوړیدے او که مسجد مخکښې جوړ وی نو قبر به ورسره نشي جوړولے) اول لره به اعتبار وی او که دواړه په یو ځائے جوړ وی ، نو دا کار جائز ندے او دا وقف د مسجد دپاره جائز او صحیح ندے او پدے مسجد کښې مونځ هم نه صحیح کیږی ځکه چه رسول الله ﷺ ددے نه منع کړیده او ددے کار په کونکی باندے ئے لعنت وئیلے دے نو دا هغه دین اسلام دے چه الله تعالی پدے باندے خپل نبی او رسول رالیږلے دے او اوګوره چه په خلقو کښې څومره غریب (ناشنا) دے۔

۲- شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ په یوه فتوی کښې وائی : فالمسجد الذی علی القبر لا یصلی فیه فرض ولا نفل (۱/۱۰۷ – ۲/۱۹۲) كذا في مجلة الازهر (۱۱/۵۰۱-۵۰۳) ۔ هغه مسجد چه په قبر باندے جوړ وی په هغے کښې نه فرض مونځ جائز دے او نه نفل ۔ په مجموع الفتاوی (۲۷/۱۴۰) کښې فرمائی : بل المساجد المبنية على قبور الانبياء والصالحين لا تجوز الصلاة فيها وبنائها محرم كما قد نص على ذلك غير واحد من الائمة انتهى۔

یعنی هغه مساجد چه د انبیاء او صالحینو د قبرونو په خوا کښې جوړ شویدی پدے کښې هیڅ قسمه مونځ جائز ندے او ددے مساجدو جوړول حرام دی لکه چه پدے باندے بے شماره علماؤ تصریح کړیده ۔ انتهیٰ ۔

۳- علامه ابن قدامهؒ هم د حرمت فتوی ورکړیده انظر المغنی (۲/۳۸۳) ۔ او دغه شان په الاختیارات العلمیه ص (۵۲) کښې شیخ الاسلام ذکر کړیدی دارنګه ابن عروه الحنبلی په الکواکب الدراری (۲/۲۴۴) کښې ذکر کړیدی ۔

او په شرح المنتهی (۱/۳۵۳) کښې هم ذکر دی چه دا کار حرام دے ۔ نور هم شته خو پدے باندے اکتفاء کوو ۔

نو ددے څلورو مذاهبو په اتفاق سره دا خبره ثابته شوه (والحمد لله) چه د قبرونو په خوا کښې مساجد جوړول بالکل حرام او ناجائز دی او پدے مساجدو کښې قبر داخلول او ددے په خوا کښې خخول حرام کار دے او دا کار جاهلان پیران او مولیان کوی چه وصیت اوکړی چه ما به د مسجد په خوا کښې خخ کړئ نو لګ وقت پس هغه ځائے د شرك اډه جوړه شی خلق هغه مسجد ته پدے نیت راځی چه دے کښې یا ددے په خوا کښې بابا پروت دے او هغه به د زیارتونو په خوا کښې مساجدو کښې ضرور د سحر مونځ کوی پدے نیت چه توله ورځ مے په برکت کښې تیره شی ۔

د شبهاتو جوابات

۱- اوله شبهه : علامه آلوسیؒ په خپل تفسیر روح المعانی (۲۳۹/۱۵) کښې ذکر کړيدي چه ددې آيت د سورة الكهف: ﴿ قَالَ الَّذِينَ غَلَبُوا عَلَى أَمْرِهِمْ لَنَتَّخِذَنَّ عَلَيْهِم مَّسْجِدًا ﴾ ـ نه بعض کسانو استدلال کړيدې چه د صالحینو په قبرونو باندې آبادې جوړول جائز دي او په هغې باندې مسجد جوړول او په هغې کښې مونځ کول جائز دي ځکه اصحاب کهف باندې نصاراؤ مسجد جوړ کړې وو او شريعت من قبلنا زمونږ دپاره هم شريعت دې؟ ـ

الجواب : علامه آلوسی، او شيخ البانی په تحذير الساجد (٤٨) کښې او زمونږ شيخ عبد السلام په تفسير احسن الكلام (٤٢٨/٥) کښې ددې جوابو نه ورکړيدي :

۱- اول جواب : دا استدلال باطل دې ځکه چه دا خلق نصارا وو او پدې آيت کښې الله تعالى د هغوی مدحه نده ذکر کړې (بلکه صرف د هغوی غلبه او زورئې ذکر کړيدې) (احسن الكلام) ـ

۲- دويم جواب : شريعت د من قبلنا زمونږ دپاره هله دليل دې چه زمونږ په شريعت کښې رد رانشي د پخوانو امتونو په اعمالو باندې او زمونږ په شريعت کښې ډير صحيح احاديث (کوم چه مخکښې تير شو) راغلي دي چه دلالت کوی چه په قبرونو د انبياء او صالحینو باندې څوك مساجد جوړوی نو رسول الله ﷺ په هغوی باندې د خپل طرفنه هم لعنت ذکر کړيدې او د الله تعالى د طرفنه ئې هم لعنت او غضب ذکر کړيدې ـ

ددې وجې نه علامه آلوسیؒ ددې قول په باره کښې وائي : وهو قول باطل عاطل فاسد كاسد ـ بيائې ددې په رد کښې احاديث ذکر کړيدي چه بعض د هغینه مخکښې مونږ ذکر کړل ـ نو زمونږ پيغمبر د يهود او نصاراؤ پدې کار باندې لعنت وئيلې دې نو دا څنګه زمونږ دپاره شريعت جوړيدې شي ـ

۳- دريم جواب : په آيت کښې دا تصريح نشته چه آيا دغه جماعت د خلقو چه مسجدئې جوړولو آيا دا مسلمانان وو او که مشرکان بلکه مفسرينو (ابن كثير، ابن الجوزی فی زاد المسير کښې دوه قوله ذکر کړيدي بلکه د ظاهر اوسياق د آيت نه معلوميږی چه دا خلق د شريعت تابع نه وو ځکه چه (غلبوا على امرهم) ذکر دې نو اتخاذ القبور على المساجد ئې د هغه خلقو عمل ګرځولې دې چه هغوی په کار باندې غلبې والا

وو، زور ورسره وو ۔ نو پدے کبنے اشاره ده چه دے خلقو دا کار د خپلے غلبے او زور او اتباع الهویٰ د وجے کولو او دا کار د علم او دینی نصرت په بنیاد باندے نه وو کړے قاله الشيخ الالباني في تحذير الساجد (۵۰) ۔

بلکه آلوسیؒ وائی: اوله ډله مومنانو وو عالمان وو په عدم مشروعیت د مسجد جوړولو په قبرونو باندے نو دوئ مشوره اوکړه چه آبادے جوړ کړئ په دروازه د کهف او دیوال د هغے باندے او اصحاب کهف ته هیڅ تعرض مه کوئ! لیکن مشرانو امیرانو د دوئ خبره او نه منله او غصه کبنے راغلل تردے چه قسم ئے اوخوړلو چه مسجد به جوړ وو۔

بیا آلوسیؒ وائی: ابن حجر الهیثمیؒ د المنهاج نه قول نقل کړیدے: وقد افتی جمع بهدم كل ما بقرافة مصر من الابنية حتى قبة الامام الشافعي عليه الرحمة التي بناها بعض الملوك وينبغي لكل احد هدم ذلك ما لم يخش منه مفسدة انتهىٰ۔

یو جماعت د علماؤ فتوی ورکړیده چه کومه قبه چه د امام شافعیؒ په قبر باندے بعض بادشاهانو جوړه کړیده چه هغه دِے اونړولے شی او هر مسلمان لره دداسے گنبدونو ورانول پکار دی خو ترڅو چه فساد تربے نه پید اکیږی انتهیٰ ۔

٤- علامه آلوسیؒ دا هم فرمائی: دا نه منو چه دا مسجد د هغوی په قبر باندے جوړ دے بلکه دا مسجد د غار دپاسه چه کوم غر دے په هغے کبنے جوړ دے لکه په خبر د مجاهدؒ کبنے دی: چه بادشاه هغوی لره غار کبنے پریخودل او د غار دپاسه ئے مسجد جوړ کړو ۔

۲- **دویمه شبهه**: د نبی علیه السلام قبر په مسجد کبنے دے، که دا کار حرام وے نو صحابه کراموؓ ولے په مسجد کبنے خخولو ؟ ۔

الجواب (۱): نبی علیه السلام په زمانه د صحابه کراموؓ کبنے د مسجد نه بهر خخ وو په کوټه د عائشه کبنے کوم چه د مسجد په څنګ کبنے وه ۔ د مسجد د حدودو نه بهر وه او د مسجد او د حجرے په مابین کبنے دیوال فاصل وو چه په هغے کبنے دروازه وه چه د هغے نه به مسجد ته راوتو او دا د ټولو علماؤ اتفاقی مشهوره خبره ده او صحابو په خپله کوټه کبنے پدے وجه دفن کړو چه څوك د هغوی نه روستو د نبی علیه السلام د قبر نه مسجد جوړ نکړی لیکن افسوس چه هغه کار اوشو چه د صحابه کرامو په گمان کبنے نه وو او هغه دا چه ولید بن عبد الملك په سنه (۸۸ھ) کبنے خپلو عاملانو ته حکم اوکړو چه مسجد نبوی اونړوی او د ازواج مطهراتو کوټے مسجد کبنے داخل کړی نو د عائشےؓ حجره

كوم كښې چه قبر نبوي دے هغه په مسجد كښې داخله كړے شوه او په مدينه كښې هيڅ يو صحابيؓ هم پدے زمانه كښې نه وو موجود ـ

علامه محمد بن عبد الهادي په الصارم المنكي (١٣٦) كښې وائي : حجره په مسجد نبوي كښې د وليد بن عبد الملكؒ د خلافت په زمانه كښې داخله شوه چه په مدينه كښې ټول صحابه وفات شوي وو او آخري په هغوي كښې جابر بن عبد الله وو او هغه هم د عبد الملك په خلافت كښې په سنه (٧٨هـ) كښې وفات شو او وليد ته چه خلافت اوسپارلے شو هغه په سنه (٨٦هـ) كښې وو او بيا وفات شو په سنه (٩٦هـ) كښې نو مسجد نبوي جوړول او په هغې كښې حجره داخلول ددے دواړو زمانو ترمينځ وو يعني د (٨٦) نه تر (٩٦) پورے ـ

د وليد پدے كار باندے سعيد بن المسيبؒ ډير انكار اوكړو ليكن د هغه خبره چا اونه منله ـ كذا ذكره ابن كثير في تاريخه (٩/٧٥) ـ

٢- **جواب** : د نبي عليه السلام قبر ته څلور ديوالونه وهلے شويدي نو هغه پټ دے او هغې طرفته مونځونه هم نه كيږي ـ

٣- **جواب** : بله وجه دا ده چه مسجد نبوي كښې يو خاص فضيلت دے چه يو مونځ په زر مونځونو باندے حساب دے، نو د مجرمينو ددے كار په وجه چه د نبي عليه السلام قبر ئے مسجد كښې داخل كړو ـ دا فضيلت به نشي ترك كولے لكه نبي عليه السلام مسجد حرام كښې د مشركانو په وقت كښې هم مونځ ندے پريخے، بتان به په كعبه كښې ولاړ وو او نبي عليه السلام به مونځ كولو ځكه چه د هغه وَس نه كيدلو نو اوس زمونږ هم وس نه كيږي چه قبر او ګنبد بالكل بهر كړو د مسجد نه نو زمونږ مونځونه هلته جائز دي خو قبر ته به مونځ نكوي ـ

٤- **جواب** : دا د رسول الله ﷺ خصوصيت دے چه هغه كوم ځائے وفات شي هلته به دفن كولے شي نو ددے وجے نه اوس به د هغه قبر د مسجد نه نشي بهر كولے او پدے باندے بل ولي، پير مولي وغيره نشي قياس كولے چه خلق هغه هم په مسجد كښې دفن كوي ـ راجع تحذير الساجد (٥٨) بلكه دلته نبي عليه السلام په خپله حجره كښې دفن دے ـ

٣- **شبهه** : بعض وائي : په مسجد الخيف (منى) كښې نبي عليه السلام مونځونه كړيدي او په هغې كښې اويا پيغمبران دفن شويدي ـ

الجواب : دا حديث ضعيف دے، اصل كښې : وصلى فيه سبعون نبيا دے او دفن لفظ پكښې ضعيف دے ـ

۲– او كه صحيح شي نو جواب دا دے چه په مسجد الخيف كښے يو قبر هم نه ښكاري پټ كچرته وي نو په هغے باندے احكام د شريعت ندی مرتب ځكه احكام د شريعت په ظاهر بناء وي نو په دغه مسجد كښے مونځ كولو كښے هيڅ نقصان نشته ـ

٤– **شبهه** : دا مشهوره ده چه اسماعيل عليه السلام په حجر اسماعيل د مسجد حرام كښے دفن دے او خلق خو هلته مونځونه كوی ؟ ـ

الجواب : اول خو ددے خبرے هيڅ ثبوت نشته چه دلته د اسماعيل عليه السلام قبر دے بلكه شيخ الاسلام په مجموعة الفتاوی (۲۷) كښے وائی د انبياؤ د قبرونو معلومات هيچا ته نشته سوئ د قبرد نبی عليه السلام نه خلق ددے په باره كښے دروغ وائی انتهیٰ ـ

۲– دويم دا چه كه اومنو نو هغه قبر هم ظاهر ندے چه د هغے نه فتنه پيدا شی او مشركان ئے عبادت اوكړی بلكه زمكه هواره ده او شرع ظاهر كوری ـ ملا علی القاری په مرقات (۱/۴۵٦) كښے رد كوی فرمائی : وفيه ان صورة قبر اسماعيل عليه السلام وغيره مندرسة فلا يصلح الاستدلال انتهی ـ يعنی ظاهری قبرونو لره اعتبار دے او د اسماعيل عليه السلام د قبر هيڅ نام ونشان نه ښكاری ـ بيا خو توله زمكه مقبره ده د ژوندو دپاره ـ﴿ اَلَمْ نَجْعَلِ الْاَرْضَ كِفَاتًا اَحْيَاءً وَاَمْوَاتًا ﴾ ـ

۵– **شبهه** : بعض وائی : د ابوبصير په قبر باندے ابوجندل‌ؓ مسجد جوړ كړے وو ؟ ـ

الجواب : ددے قصے دپاره صحيح سند بالكل نشته بلكه دا قصه ابن عبد البر په الاستيعاب (۴/۲۱/۲۳) كښے مرسلا ذكر كړيده چه په هغے كښے دا الفاظ (وبنی علی قبره مسجدا) دا منكر روايت دے او معضل هم دے او راويان ئے هم ضعاف دی نو هيڅ حجت پكښے نشته ـ والتفصيل فی تحذير الساجد (۸۲)ـ

۲– دويم دا چه كه اومنو چه ثابت دے نو پدے سره هغه احاديث صريحه نشی رد كيدے كوم چه مخكښے تير شو چه په قبر باندے د مسجد جوړولو په حرمت دلالت كوی ځكه كيدے شی چه ددے قصے نه نبی عليه السلام نه وی خبر، يا كه هغه ترے خبر وی نو دا په هغه زمانه كښے وو چه تحريم نه وو راغلے او بيا په مدينه كښے د هغے تحريم راغلو نو دا منسوخ شو ـ

اضرار بناء المساجد على القبور والصلاة فيها

۱– اول پدے كښے تشبه ده د يهود او نصاراؤ معلونين سره او دا حرام ده ـ

٢- دويم پدے كښے تشبه ده د عابدانو د اصنام او قبوريه ؤ سره كوم چه د دين ختمونكى دى ـ ٣- پدے كار كښے د صريح احاديث او نصوص شرعيه مخالفت او محاده او مضاده ده ٤- كوم مسجد چه د قبر په خوا كښے وى مشركان هغے ته په ډير رغبت سره حاضرى وركوى پدے نيت چه پدے مسجد كښے خير او بركت د ولى په وجه زيات دے د نورو مساجدو نه نو دا ذريعه د شرك ده ـ

ددے مسئلے تحقيق په جهود علماء الحنفية (١٦٢١/٣) شرح العقيدة الطحاوية (٢١) وتحذير الساجد وتفسير روح المعانى وفتاوى الدين الخالص (٢١١/١) والدرر السنية فى الاجوبة النجدية وفتح المجيد والمرقاة ـ كښى اوګوره !ـ

فائده : پدے حديث كښے دا اشكال كيږى چه نصارا څنګه ذكر شويدى حال دا چه د هغوى خو صرف يو نبى دے او هغه هم وفات شوے ندے آسمان كښے دے نو د نصارا انبياؤ قبور د كوم ځائے نه راغلل ؟ ـ

ددے جواب دا دے چه د انبيائهم ضمير مجموعه د يهود او نصاراؤ ته راجع دے نو د يهودو انبياء خو شته نو ارجاع د ضمير صحيح شوه ـ ٢- يا مراد انبياء او د هغوى مشران ملګرى دى چه په بل روايت كښے ورسره وصالحيهم دے خو دلته ئے صرف د انبياء په ذكر كولو اكتفاء اوكړه ـ

٣- بله دا چه د بنى اسرائيلو پيغمبران د دوى انبياء هم دى ځكه چه دوى هم مامور دى په اتباع د مخكنو پيغمبرانو باندے ـ

٢٤- وَعَنْ جُنْدُبٍ ﷺ، قَالَ : سَمِعْتُ النَّبِيَّ ﷺ يَقُوْلُ : «اَلَا وَاِنَّ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ كَانُوْا يَتَّخِذُوْنَ قُبُوْرَ اَنْبِيَائِهِمْ وَصَالِحِيْهِمْ مَسَاجِدَ . اَلَا فَلَا تَتَّخِذُوا الْقُبُوْرَ مَسَاجِدَ، اِنِّيْ اَنْهَاكُمْ عَنْ ذٰلِكَ» . رَوَاهُ مُسْلِمٌ .

ترجمه : او جندب رضى الله عنه فرمائى : ما د نبى كريم ﷺ نه واوريدل چه فرمائيل ئے : خبردار ! ستاسو نه مخكښے (يعنى نورو امتونو) خلقو د خپل انبياؤ قبرونو نه سجده ګاه جوړ كړى وو لهذا تاسو خبردار شئ ! تاسو قبرونه سجده ګاه مه جوړوئ زه تاسو ددے نه منع كوم ـ (مسلم) ـ

تشريح : فلا تتخذوا القبور الخ پدے كښے صراحت دے پدے خبره چه اتخاذ القبور مساجد ددے امت دپاره هم حرام دے ځكه ئے بار بار د نهى تكرار اوكړو ـ

٢٥ – وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «اِجْعَلُوْا فِيْ بُيُوْتِكُمْ مِنْ صَلَاتِكُمْ، وَلَا تَتَّخِذُوْهَا قُبُوْرًا». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: او ابن عمر رضی الله عنه فرمائي چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل: تاسو څه مونځونه په خپلو كورونو كښې كوئ او كورونو نه قبرونه مه جوړوئ. (بخاري ومسلم).

تشريح: وَلَا تَتَّخِذُوْهَا قُبُوْرًا: يعني خپلو كورونو كښې بعض مونځونه كوئ! مراد د بعض مونځونو نه نوافل او سنت مونځونه دي او ددې كورونو نه قبرونه مه جوړوئ! ددې درې مطلبه دي. (١) – اول دا چه لا تتخذوها قبورا بترك الصلاة فيها كما تترك الصلاة في المقابر. يعني كورونو كښې مونځونه مه پريدئ لكه څنګه چه په مقبرو كښې مونځونه نه كيږي نو حديث ددې دپاره ذكر شويدې چه په مقبره كښې مونځونه نه كيږي. او علامه ابن المنذرؒ د اكثر اهل علم نه استدلال پدې حديث نقل كړې چه مقبره د مانځه ځائې ندې.

(٢) – دويم مطلب: دا چه په خپلو كورونو كښې قبرونه مه جوړوئ او خپل كوم مړې په كور كښې مه دفن كوئ ځكه ددې نه نقصانات پيدا كيږي انسان ته به دغه مړې ياديږي نو ژوند به ئې مكدر او پريشان وي (ب) دارنګه د مقبرې هيبت ختميږي نو عبرت به ترې نه اخستل كيږي. (ج) دارنګه كه هميشه پكښې مړي دفن كيږي نو كور نه به مقبره جوړه شي بيا به مونځ پكښې مكروه شي.

(٣) – يا مطلب دا دې چه څوك په كور كښې مونځ نكوي نو دا داسې شو لكه د مړي پشان او كورئې د قبر پشان شو نو پدې كښې ترغيب دې مونځ كولو ته په كور كښې دارنګه كور د خوبونو ځائې مه جوړوئ چه مونځ پكښې نكوئ لكه څنګه چه مړي په قبرونو كښې مونځونه نشي كولې ځكه خوب او مرګ دواړه وروڼه دي.

٤ – چا دا مطلب اخستې دې چه ميلمستيا وركوئ او د اهل قبور پشان مه جوړيږئ چه ميلمستيا چا ته نه وركوي نو كور نه به قبر نه جوړوې چه چا ته پكښې ميلمستيا نه وركوي.

الفصل الثانی – اولنې فصل

٢٦ – وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رضي الله عنه، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «مَا بَيْنَ الْمَشْرِقِ

وَالْمَغْرِبِ قِبْلَةٌ ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ .

ترجمه : او ابو هريره رضى الله عنه فرمائى چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل : : د مشرق او مغرب ترمينځ قبله ده ـ (ترمذىؒ) ـ

تشريح : مَا بَيْنَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ قِبْلَة :


ددے حديث ډير مطلبونه علماؤ بيان كړيدى خو په هغه ټولو كښے راجح مطلب دا دے چه دا حكم د مدينے اوسيدونكو سره تعلق لرى ځكه د مدينے طيبے نه قبله جنوب جانب ته واقع ده دارنګه ددے حديث تعلق د هغه اطرافو او علاقو سره هم دے چه د هغوى قبله د مدينے پشان جنوب طرفته واقع وى نو د هغوى قبله د مشرق او مغرب په مابين كښے راځى ځكه مدينه په شمال د مكه كښے واقع ده، په مابين د مكه او شام كښے واقع ده ـ (او د اهل هند قبله د جنوب او شمال په مابين كښے ده) نو كله چه يو مدينے والا قبلے ته مخ كړى نو شائے شام ته راځى او كله چه قبلے ته شا واړوى نو شام طرفته ئے مخ شى او مقصد دا دے چه مونږ كونكے كله د كعبے نه وړاندے وى نو په ده باندے صرف دا فرض دى چه كعبے طرفته به متوجه شى، نه دا چه عين كعبے ته به په يقينى طور متوجه كيږى ځكه دا كار محال او متعسر دے او دا قول احمد محمد شاكر په تعليق د ترمذى كښے غوره كړيدے او دا ئے وئيلى دى چه دا حديث د حديث د ابوايوب انصارى پشان دے (شرقوا او غربوا) چه هغه هم د مدينے والو پورے خاص وو او علامه عراقیؒ هم دے خبرے ته ترجيح وركړيده او وئيلى ئے دى : ليس هذا عاماً فى سائر البلاد ـ

۲- امام احمدؒ وائى : دا حكم د ټولے دنيا والو دپاره دے سوا د مكے والو نه چه د بيت الله په خوا كښے وى ځكه چه څوك د خپل ځائے نه قبلے ته متوجه شو نو هغه په مابين د مشرق او مغرب كښے راغلو او هر چه نزدے مكے والا دى نو هغوى به ضرور عين كعبے ته متوجه كيږى او كه لګ اخوا ديخوا شو نو قبله ئے پريخوده لهذا وسط المشرق والمغرب د باقى دنيا دپاره قبله شوه ـ

۳- بعض وائى : دا حكم د اهل عراق پورے خاص دے لكه په روايت د ابو هريره كښے ورسره قيد راغلے دے : ما بين المشرق والمغرب قبلة لاهل العراق رواه البيهقى فى الخلافيات وانظر المرعاة (۲/۴۲۳) ـ د ابن عمرؓ قول دے : اذا جعلت المغرب عن يمينك والمشرق عن يسارك فما بينهما قبلة لاهل المشرق انتهى ـ او د مشرق نه مراد كوفه، بغداد، خوزستان،

فارس، عراق، خراسان، بلخ، بخاریٰ، سمرقند وغیره دی ۔ علامه مظهر وائی چه ددے علاقو خلق که مغرب الصیف ښی طرفته اوګرځوی او مشرق الشتاء ګس طرفته کړی نو مخ به ئے قبلے طرفته راشی ۔ په لاندے نقشه کښ فکر اوکړه ۔

مشرق صیف شمال مغرب صیف



مشرق شتاء جنوب مغرب شتاء

٤- بعض وائی : دا حکم د هغه چا په باره کښے دے چه قبله ترے ګډه وډه شی نو په تحری او اجتهاد سره ئے چه کوم طرفته مخ کړو دا ورله کافی ده کما قال الله تعالی : ﴿ وَلِلّٰهِ الْمَشْرِقُ وَالْمَغْرِبُ فَاَيْنَمَا تُوَلُّوْا فَثَمَّ وَجْهُ اللّٰهِ ﴾ البقرة آية (١١٥) شرح السنه (١٠٠/٢) للبغوى المتوفى (٥١٦ هـ) ۔

٥- بعض وائی : دا د نفل مانځه په باره کښے دے چه په سفر کښے په سورلئ باندے کولے شی لیکن دا دواړه قولین ضعیف دی ځکه بیا مابین المشرق والمغرب ذکر کولو څه فائده ده ؟ ۔

٦- بعض وائی : دا د مریض دپاره دے چه په توجه الی القبله باندے قادر نه وی مګر اول قول راجح دے ۔

درجة الحديث : اسناده حسن رواه الترمذی (٣٤٤) وقال حديث حسن صحيح وابن ماجه (١٠١١) وهو فی صحيح الجامع الصغير (٥٥٨٤) والارواء (٢٩٢) ۔

٢٧- وَعَنْ طَلْقِ بْنِ عَلِيٍّ رضي الله عنه ، قَالَ : خَرَجْنَا وَفْدًا اِلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ فَبَايَعْنَاهُ، وَصَلَّيْنَا مَعَهُ، وَاَخْبَرْنَاهُ اَنَّ بِاَرْضِنَا بِيْعَةً لَنَا، فَاسْتَوْهَبْنَاهُ مِنْ فَضْلِ طَهُوْرِهٖ، فَدَعَا بِمَاءٍ

فَتَوَضَّأَ وَتَمَضْمَضَ، ثُمَّ صَبَّهُ لَنَا فِيْ إِدَاوَةٍ، وَأَمَرَنَا، فَقَالَ: «اُخْرُجُوْا فَإِذَا أَتَيْتُمْ أَرْضَكُمْ، فَاكْسِرُوْا بِيْعَتَكُمْ، وَانْضَحُوْا مَكَانَهَا بِهٰذَا الْمَاءِ، وَاتَّخِذُوْهَا مَسْجِدًا». قُلْنَا: إِنَّ الْبَلَدَ بَعِيْدٌ، وَالْحَرُّ شَدِيْدٌ، وَالْمَاءُ يُنْشَفُ. فَقَالَ: «مُدُّوْهُ مِنَ الْمَاءِ، فَإِنَّهُ لَايَزِيْدُهُ إِلَّا طِيْبًا». رَوَاهُ النَّسَائِيُّ.

ترجمه: او طلق بن علی فرمائی چه مونږ د یو جماعت په شکل د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضر شو او مونږ ټولو د هغه سره (د اسلام) بیعت اوکړو او (بیا مو) د هغه سره شریك مونځ اوکړو او بیا مو دا عرض هم اوکړو چه زمونږ په زمکه باندې یوه ګیرجه جوړه شویده (په هغې څه اوکړو؟) ددې نه پس مونږ د هغه نه د اوداسه زیاتی اوبو مطالبه اوکړه، نو هغه اوبه راوغوختې او اودس ئې اوکړو او خوله کښې ئې اوبه واچولې بیا ئې زمونږ په مشکیزه کښې راواړولې او مونږ ته ئې دا حکم اوکړو چه لاړ شئ! او کله چه تاسو خپل ملك ته اورسیږئ نو هغه ګیرجه ماته کړئ او د هغې په ځائې باندې دا اوبه چړکاؤ کړئ (دې دپاره چه د اسلام انوارات او برکات هلته خواره شی) او بیا په هغه ځائې مسجد جوړ کړئ، مونږ عرض اوکړو چه زمونږ ښار خو ډیر لرې دې او ګرمی سخته ده لهذا دا اوبه (په لاره) اوچیږی - نبی کریم ﷺ اوفرمائیل: ددې سره نورې اوبه یو ځائې کړئ په هغې سره ددې پاکوالې او برکت به زیاتیږی - (نسائی) -

تشریح: خَرَجْنَا وَفْدًا إِلَى رَسُوْلِ اللهِ ﷺ - ای وافدین قاصدین الی رسول الله -

فَاكْسِرُوْا بِيْعَتَكُمْ: بیعه د نصاراؤ عبادت خانې ته وائی یعنی چرچ، کنیسه، ګیرجه - دا کسان چه رسول الله ﷺ ته راغلی وو، دا عیسیان وو کله چه راغلل نو په اسلام باندې مشرف شو د رسول الله ﷺ سره ئې په توحید او رسالت او سمع او طاعت باندې بیعت اوکړو او بیا ئې ورته اووئیل چه مونږ خو اسلام قبول کړو خو زمونږ په ملك کښې ګیرجه ده هغه مونږ ورانوو او د هغې په ځائې کښې مسجد جوړوو نو ستاسو د اندامونو مستعملې اوبه مونږ ته راکړئ چه د هغې په ځائې کښې دا اوبه واچوو چه د کفر او شرك جراثیم ختم شي او د اسلام برکات او فیوضات خواره شی -

مُدُّوْهُ مِنَ الْمَاءِ: یعنی زیاتی کړئ دا اوبه په نورو اوبو اچولو سره - مطلب دا چه که د ګرمئ د شدت او طولِ مسافت په وجه دا اوبه اوچیږی او تاسو ئې خپل منزل مقصود ته

نشئ رسولے نو طريقه دا ده چه ددے اوبو سره نورے اوبه يو ځائے كوئ ! پدے اوبو زياتولو سره ددے اوبو بركت او فضيلت نه ختميږى او نه كميږى بلكه الله تعالى به په هغے كښے نور هم زيات بركت پيدا كوى ـ

فائده : پدے كښے دا ثابته شوه چه د انبياء كرامو د اوداسه په مستعملو اوبو باندے تبرك حاصلول جائز دى او پدے باندے بعض علماؤ نور علماء او صلحاء قياس كوى، ليكن دا خبره ضعيفه ده، وجه دا ده چه هيڅ يو صحابى او تابعى نه دا ندى نقل چه هغه د نورو صحابه كرامو په مستعملو اوبو وغيره باندے تبركات نيولى وى ـ نو دا قياس د غير معصوم دے په معصوم باندے او دا صحيح ندے ـ

او ددے نه د زمزم اوبو متعلق هم دا معلومه شوه چه په هغے كښے نورو اوبو زياتولو سره په زمزم كښے نقصان نه راځى ځكه چه د هغے بركت هم په نص سره ثابت دے ـ

فائده : د گناه په ځائے كښې عبادت پكار دے چه د گناه جبيره وشى په كوم ځائے كښې چه د الله تعالى د ناراضگئ كارونه شوى دى هلته د هغه د رضا كار پكار دے ـ

درجة الحديث : اسناده حسن : رواه النسائى (٢/٣٨، ٣٩) وصححه ابن حبان (٣٠٤) فان فيه قيس بن طلق وقد اكثر الناس فيه والحق انه صدوق وثقه العجلى وابن معين فى رواية عثمان بن سعد عنه وقال ابن القطان : يقتضى ان يكون خبره حسناً لا صحيحاً انظر المرعاة (٢/٤٣٦) وتعليق المشكاة النسخة الهندية (١/٣٠٤) ـ

---

٢٨ – وَعَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ : اَمَرَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ بِبِنَاءِ الْمَسْجِدِ فِي الدُّوْرِ، وَاَنْ يُّنَظَّفَ وَيُطَيَّبَ ». رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَه .

ترجمه : او عائشه رضى الله عنه فرمائى چه رسول الله ﷺ په محلو كښے د مسجد جوړولو حكم فرمائيلے دے او دا چه (هغه مسجدونه) دے پاك او صفا اوساتلے شى او هغه دے خوشبويه كړے شى ـ (ابوداود، ترمذى، ابن ماجه) ـ

تشريح : بِبِنَاءِ الْمَسْجِدِ : يعنى رسول الله ﷺ په محلو او علاقو كښے د مسجد په جوړولو حكم كړيدے ، دا حديث دليل دے چه په محلو كښے د مسجد جوړول سخت ضرورى دى ځكه چه يو خو د مسجد په جوړولو كښے د مسلمانانو دينى بيدارى ده او د

مسلمانانو پیژندګلي ده او بل د الله تعالی د رحمتونو د نازلیدو سبب دے ځکه چه مساجد د الله تعالی کورونه دي، د ملائکو د اوسیدو ځایونه دي او د ایمان د جوړولو او د عباداتو مراکز دي ـ

لیکن ددے سره سره دا حکم دے چه مساجد به د ګندونو نه صفا ساتلے شي، او ددے تعظیم به کیدے شي او دا به خوشبویه کولے شي ـ ابن ابی شیبه کښے روایت دے چه نبی علیه السلام سره د کجورو د پوستکو یوه جارو وه چه په مسجد کښے به غبار او دوړه وه هغه به ئے پرے جارو کوله ـ

بیا ددے امر څه حکمت دے؟ چه هره محله کښے دے مسجد جوړ شي ـ وجه دا ده چه اکثر د یوے محلے والو ته دا مشقت او تکلیف وي، چه هر مانځه دپاره بلے محلے ته لاړ شي نو بیا به دوئ د مسجد د اجر نه محروم وي او په هغے کښے به د جماعت کولو د فضیلت نه محروم وي نو هرے محلے والو ته د مسجد جوړولو حکم اوشو چه په غیر د مشقت نه هغوی ته په خپل مسجد کښے عبادت کول آسان شي ـ

په یوه محله کښې د دوه مسجدونو جوړولو حکم

بیا په یوه محله کښے به دوه مسجدو نه نشي جوړولے چه په هغے سره بل مسجد ته ضرر رسي مثلا یو مسجد هم ځوك نه ډکوي او یو سړے راالګی او د خپل تریګنئ دپاره یا د خپل قوم دپاره خپل کور خوا ته مسجد جوړوي لکه چه نن صبا دا رواج دے چه هر سړے د خپلے حجرے سره ځان له مسجد جوړوي اګرچه په یوه وړوکے محله کښے به مسجد موجود وي هغه به هم ځوك نشي ډکولے نو داسے بیا مسجدِ ضرار جوړیږي ـ

او سبب د تفریق د مسلمانانو جوړیږي البته که په یوه محله کښے ضرورت وي چه مثلا مسجد وړوکے وي د خلقو د هجوم نه تنګ شي نو بیا دویم مسجد جوړول جائز دي یا یو محله کښے د مبتدعینو مخالفینو مسجد وي نو د هغے په خوا کښے صحیح د اهل السنت مسجد جوړول جائز دي ځکه بیا ددغه مبتدعینو مسجد مسجدِ ضرار دے ـ

علامه بغویؒ د عطاءؒ نه نقل کوي فرمائي: کله چه عمر فاروق ته الله تعالی علاقے فتح کړے نو مسلمانانو ته ئے حکم اوکړو چه مساجد جوړ کړئ او دوه مسجدونه به په یو ځائے نه جوړوئ چه یو بل ته ضرر اورسوی ـ انتهٰی مرعاة (٢/٤٢٧) وتفسیر روح المعانی (١١/٢١) ـ او دغه شان فتوئ علامه قرطبیؒ په خپل تفسیر (٨/٢٥٤) کښے ذکر کړیده

او وهبه په التفسیر المنیر (٤٨/١١) کښې او ایسر التفاسیر (٢٣٩/٢) کښې ذکر ده ایما مسجد بنی للاضرار والتفرقة بین المسلمین الا ویحب هدمه وتحرم الصلاة فیه (ایسر)۔

بیا ددې حد ندې معلوم چه یو مسجد به د بل مسجد نه څومره بعید وی؟۔ بعض وائی: څلویښت کورونه به دواړو مینځ کښې فاصله وی د څلورو واړو طرفونو نه پدې باندې دلیل نشته بلکه که ضرورت وی نو یو مسجد بل مسجد ته نزدې هم جوړول جائز دی او دلیل پدې باندې دا دې چه په مدینه کښې نزدې نزدې مساجد وو لکه مسجد بنی زریق، مسجد نبوی، مسجد قباء خو هلته ضرورت وو دارنګه مسجد ضرار چه کله جوړ شو منافقانو د نبی علیه السلام نه د افتتاح درخواست اوکړو نو نبی علیه السلام ورته دا اونه وئیل چه تاسو ولې دا مسجد جوړ کړو یو مسجد شته، بل به نه جوړیږ! بلکه دا ئې ورته اوفرمائیل: زه اوس سفر ته روان یم چه راشم بیا به افتتاح اوکړو خو بیا الله تعالی منع کړو او مسجد ئې ورله وران کړو چه دا بې ضرورته په غلط نیت جوړ شویدې۔ معلومه شوه چه ضرورت وی نو نزدې نزدې مسجد جوړول هم جواز لری۔ وانظر اصلاح المساجد (٩٦): کثرة المساجد فی المحلة الواحدة محدثة لما فیه من تفریق الجماعة۔

کفایة المفتی (١٤٩/٢) کښې دی: هغه مسجد چه په ضد او فخر او ریاء باندې جوړ وی د هغه حکم د مسجد ضرار دې۔

فِی الدُّوْرِ: دور جمع د دار ده ددې په عربی ژبه کښې یوه معنی د کور ده بله معنی محله چه په هغې کښې ګڼر کورونه وی لکه په احادیثو کښې پدې معنی باندې هم ډیر مستعمل دې لکه چه په حدیث د عائشه کښې دی چه انها تَؤُمُّ اَهْلَ دَارِهَا ۔ یعنی دې به خپلې محلې والا ښځو ته امامتی کوله۔ دلته هم بناء المساجد فی الدور نه محله مراد کیدې شی۔

درجة الحدیث: اسناده صحیح اخرجه ابوداود (٤٥٥) والترمذی (٥٩٤) و (٥٩٦) وابن ماجه (٧٥٨) وابن خزیمة (١٢٩٤) وابن حبان (١٦٣٤ – الاحسان)۔

---

٢٩ – وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «مَا أُمِرْتُ بِتَشْيِيْدِ الْمَسَاجِدِ». قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: لَتُزَخْرِفُنَّهَا كَمَا زَخْرَفَتِ الْيَهُوْدُ وَالنَّصَارٰی. رَوَاهُ اَبُوْدَاوٗدَ.

ترجمه: او ابن عباس رضی الله عنهما فرمائی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل: ما ته د

مسجد د اوچتولو او ښائسته کولو حکم ندے راکړے شوے ۔ ابن عباسؓ فرمائی : خامخا تاسو به مساجد داسے ښائسته کوئ لکه څنګه چه یهود او نصارئ (خپلے عبادت خانے) ښائسته کوی ۔ (ابوداود) ۔

تشریح : مَا اُمِرْتُ بِتَشْيِيْدِ الْمَسَاجِدِ » :

امام بغویؒ په شرح السنه (۲/۱۱۱) کښے فرمائی : التشييد : رفع البناء وتطويله ۔ یعنی تشیید یو آبادے پورته کول او اګدولو ته وائی لکه آیت کښے دی : ﴿ وَلَوْ كُنْتُمْ فِي بُرُوْجٍ مُشَيَّدَةٍ ﴾ وهی اللتی طُوِّل بنائها يقال شَادَ الرَّجُلُ بِنَاءَهُ يَشِيدُ وَشَيَّدَهُ، يُشَيِّدُهُ ۔ په معنی د آبادے پورته کولو سره او په چونه او سیمټو باندے مضبوطولو ته وائی ځکه چه اصل کښے شید چونے او سیمټو ته وائی (نو د مجردو نه غالبا په معنی د آبادی مضبوطولو سره راځی يقال شِدْتُ الشئ وَاَشَيْدُهُ مثل بِعْتُهٗ وَاَبِيْعُهٗ ۔ او د مزیدو نه آبادے پورته کول او اوچتولو سره راځی) ۔

پدے حدیث کښے دا مسئله ذکر ده چه مسجد مزین او منقش کول څه حکم لری نو پدے مقام کښے یو څو صورتونه دی :

۱ - **اول صورت** : مسجد داسے مزیّن کول چه د مصلی زړه مشغول کړی، ګلکاری پکښے اوکړے شی، محراب ئے مزیّن او منقش شی دا بالاتفاق مکروه عمل دے ۔ علامه عراقیؒ پدے حدیث د [اذهبوا بهذه الخميصة وأتوني بانبجانية (ابی جهم) فانها آلهتنی آنفا عن صلاتی] سره استدلال کړیدے په کراهت د تزویق او منقش کولو د مساجدو باندے او دارنګه په ډیرو احادیثو کښے ددے نه منع راغلے ده لکه چه روستو به راشی ۔

۲ - **دویم صورت** : د مسجد تزیین او تحسین د ریاء او سمعت او مباهات (فخر) په طور باندے هم حرام دی بلکه مسجد پدے نیت جوړول هم حرام دی، ډیر احادیث پرے دلیل دے روستو حدیث د انسؓ راروان دے چه دا د قیامت د علاماتو نه ده چه خلق به مساجدو سره په یو بل باندے فخر کوی (ومساجدهم عامرة وهي خراب من الهدى) ۔

۳ - **صورت** : مساجد مضبوط جوړول او په چونه او سیمټو سره ئے مضبوط جوړول چه په هغے کښے څه تزیین او تزخرف نه وی نو دا حرام ندی ۔

دلیل : حدیث د عثمان بن عفانؓ کښے دی : [من بنى لله مسجداً بنى الله له مثله فی الجنة] ۔ دارنګه عثمانؓ چه د مسجد نبوی په مضبوط جوړولو کښے پدے حدیث استدلال کولو او د هغه مقصد تزیین او تزخرف نه وو ۔

٤- **صورت** : مساجد مزيّن كول او په هغې كښې په ښه نيت سره گلكارى كول چه د تعظيم د مساجدو نيت ئې وى نو آيا دا كار حرام دے او كه نه ؟ نو **دا اختلافى صورت** دے ـ ١- **ابن المنير**ؒ او بعض متاخرين احناف وائى : هر كله چه خلق خپل كورونه ښائسته كوى او په هغې كښې گلكارى كوى نو پكار ده چه مساجد هم مزين كړے شى دے دپاره چه د مساجدو استهانت او بے حرمتى اونشى ـ

٢- **اكثر علماء** محققين وائى : د مساجدو مزيّنِ او منقش كول حرام كار دے ـ پدے باندے ډير دلائل دى تقريباً ديارلس (١٣) احاديث دى ـ

١- **اول دليل** : د نبى عليه السلام مسجد د موسى عليه السلام د مسجد پشان چبوتره وه (ابنوه عريشاً كعريش موسىٰ ـ السلسلة الصحيحة (٦١٦) (٢/١٧٧) ـ

٢- **دليل** : دا كار نبى عليه السلام او ابوبكر او عمر رضى الله عنهما ندے كړے نو ددے وجے نه علامه على القارىؒ په مرقاة (٢/٢٠٥) كښې وائى : وهذا بدعة لانه لم يفعله عليه السلام)ـ

٣-**دويم دليل** دا چه پدے كښې د يهود او نصاراؤ سره مشابهت دے لكه چه عبد الله بن عباسؓ پدے حديث كښې فرمائى : [لتزخرفنها كما زخرفت اليهود والنصارى] ـ

علامه بغوىؒ په شرح السنه (٢/١١٢) كښې ددے داسے معنى كوى : چه يهود او نصاراؤ مساجد په هغه وقت كښې مزخرف او مزيّن كړل چه په خپل دين كښې ئې تبديل او تحريف اوكړو نو تاسو به هم (اے امت محمد) د هغوى په شان حال اختياروئ ! او ستاسو كار به ديته رسيږى چه يو بل باندے به په مساجد و سره تفاخر اورياء كوئ او د مساجدو په تشييد او تزيين باندے به فخر كوئ انتهىٰ بمعنى لفظه ـ ونقله فى المرقاة (٢/٢٠٥) ايضاًـ

٤- **دليل** : روستو حديثِ د انسؓ كښې د قيامت د علاماتو نه دا شمارلے شويدى چه خلق به مساجد ښائسته كوى او په هغې به بيا فخر كوى ـ

٥- **دليل** : د ابوالدرداءؓ نه روايت دے فرمائى : [اذا حليتم مصاحفكم وزوّقتم مساجدكم فالدمار عليكم ،] مصنف عبد الرزاق (٣/١٥٤)، شرح السنة (٢/١١٢) وطرح التثريب (٢/٣٧٨)ـ

يعنى كله چه تاسو قرآن شريفونو ته گانړه واچوله او مساجد مو مزيّن او منقش كړل نو په تاسو باندے به هلاكت راځى ـ

٦- **دليل** : عمر فاروقؓ نه مرفوعا نقل دى : [ما ساء عمل قوم الا زخرفوا مساجدهم]

(ابن ماجه) وسنده ضعیف فیه عبد الکریم بن عبد الرحمن الخزاز، طرح التثریب (٣٧٨/٢) ۔
د یو قوم عمل چه خراب شی نو خپل مساجد مزیّن کړی نو پدے حدیث کښے سخت وعید دے په تزیّن او تزویق د مساجدو باندے ۔
٧- **عمر فاروق** چه کله د مسجد نبوی توسیع کوله نو معمار ته ئے اووئیل : [اکنّ الناس من المطر وایاك ان تحمّر او تصفّر فتفتن الناس] ، بخاری بشرح الفتح (٤٢٧/١) ۔
یعنی خلق صرف د باران نه بچ کړه او په مسجد کښے د سور، زیړ رنګ لګولو نه هم احتراز اوکړه چه خلق په فتنه کښے واقع نشی ۔
٨- **علی بن ابی طالب**ؓ فرمائی : [ان القوم اذا زیّنوا مساجدهم فسدت اعمالهم، انه کان یمر علی مسجد للتیم مشوف فکان یقول هذه بیعة التیم] ، عبد الرزاق (١٥٣/٣)۔
یو قوم چه کله خپل مساجد مزیّن کړی نو عملونه ئے خراب شی ۔ او دے به چه کله د تیم قبیلے په مسجد ورتیریدو چه هغه اوچت جوړ شوے وو نو ده به فرمائیل : دا د تیم ګیرجه ده ۔
نو دے صحابه کرامؓ څومره سخت رد کړیدے د مساجدو په مزین کولو ۔
٩- **دلیل** : [عن امرأة من بنی سلیم قالت : ارسل النبی ﷺ الی عثمان بن طلحة فقال : انی رأیت قرن الکبش حین دخلت البیت فنسیت ان آمرك بحزها فانه لا ینبغی ان یکون فی البیت ما یشغل مصلیا] ، رواه البیهقی (٤٣٨/٢)۔
ترجمه : نبی علیه السلام عثمان بن طلحہؓ پسے سړے اولیږلو چه زه کله بیت الله ته داخل شوم نو ما د ګډ ښکر اولیدو خو رانه هیره شوه چه تا ته د هغے په پریکولو حکم اوکړم (نو دا ختم کړه) ځکه چه په بیت الله کښے داسے څیز چه مونځ کونکے مشغول (غافل) کړی ندے مناسب ۔
په صحیح بخاری کښے د عبد الله بن عمر رضی الله عنهما بیان دے چه د رسول الله ﷺ په زمانه کښے مسجد نبوی د کچه خختو نه جوړ وو او چت ئے د کجورو پتونه وو او ستنے ئے د کجورے لرګی وو نو ابوبکرؓ په هغے کښے هیڅ زیادت اونکړو او عمرؓ پکښے زیادت اوکړو او په هغه شان آبادئ سره ئے جوړ کړو څنګه چه د رسول الله ﷺ په زمانه کښے د کچه خختو او پتونو نه وو او هغه شان لرګی د کجورو ئے پکښے اولګول ۔ بیا عثمانؓ پکښے تغییر اوکړو : [فزاد فیه زیادةً کثیرةً وبنٰی جداره بالحجارة المنقوشة والقصة وجعل عمده من حجارة منقوشة وسقفه بالساج]۔ نو هغه په کښے ډیر زیادت اوکړو او په

ديوالونو كښې ئې منقش كانړي او چونه اولګوله او ستنې ئې د منقش كانړو نه جوړې كړې او چت كښې ئې د ساج ونې لرګي واچول ـ انتهىٰ ـ

بعض صحابه كرامؓ په هغه باندې پدې كار انكار اوكړو چه هغه شان سادګي پكار وه كومه چه په زمانه د رسول الله ﷺ كښې وه او بيا د ابوبكر او د عمر كښې ـ

خو عثمانؓ دا كار د مسجد د مضبوطوالي په نيت كړې وو نو دا په دريم صورت كښې داخل دې چه حرام ندې او علامه مباركفوريؒ فرمائي : كوم منقش كانړي چه په مسجد نبوي كښې عثمان اولګول هغه په امر د عثمانؓ باندې نه وو (بل حصلت له كذلك منقوشة) بلكه هغه اتفاقي طور سره منقش راوړلې شو ـ مرعاة (٢/٤٢٨)ـ

★– بله دا چه دا د عثمان رضى الله عنه اجتهاد وو او د حديث من بنى لله مسجداً نه ئې استدلال كولو ـ بله دا چه هغه دومره تزيين والا نه وو بلكه صرف د رسول الله ﷺ د زمانې پشان نه وو او داسې تزيين او ګلكاري پكښې نه وه څنګه چه نن صبا زمانه كښې موجوده ده ددې وجې نه حافظ فرمائي :

اول من زخرف المساجد الوليد بن عبد الملك بن مروان وذلك اواخر عصر الصحابة وسكت كثير من اهل العلم عن انكار ذلك خوفاً من الفتنة ، فتح البارى (١/٤٢٩) ـ

د مساجدو اول ښائسته او مزيّن كونكې وليد دې او دا ئې د صحابه كرامو د زمانې په آخر كښې كړې وو او ډير اهل علم غلي پاتې شو ددې وجه نه چه فتنه راپورته نشي او دوئ ته عذاب ورنكړې شي نو عثمانؓ معمولي ښائست وركړو او وليد پكښې بيا غلو اوكړه نو ځكه ده ته اول مزخرف وئيلې شي ـ

نو ددې نصوص او آثارو نه واضحه شوه چه مزخرف (مزين) مسجد خلق د مانځه نه مشغول كوي ، كله به ئې يو كانړي ته فكر كيږي او كله بل كانړي ته ـ

او د شريعت حكمت پدې نهي كښې دا دې چه كله مساجدو كښې ډول او زينت راشي نو يو خود عبادت مزه ختمه شي كومه سجده چه په ساده زمكه باندې لګي هغه خومره خوندوره وي د هغه سجدې نه چه په منقش كانړي لګي ـ

دويم دا چه پدې كار سره د آخرت نه غفلت پيدا كيږي او مساجد خو د ايمان مراكز دي نو كله چه دنيا د ايمان مراكزو ته داخله شي نو ايمان به د كوم ځائې نه جوړ شي پدې وجه شريعت ددې نه منع اوكړه ـ

نو تزيين المساجد بدعت هم دې او منهى عنه هم دې او زمونږ مسلمانان پدې كار

كښې اخته دي او د رسول الله ﷺ پيشين ګوئي پرې رشتينې شويده باقي دلائل په فتاوى الدين الخالص (٣/٣٨٧) كښې اوګوره.

او پدې حديث كښې كه د تشييد المسجد نه آبادې پورته كول او مضبوطول مراد شي نو معنى به دا شي چه ما ته ددې خبرې امر ندې شوې چه زه به اوچت مساجد جوړوم يعنى په طريقه د وجوب يعنى دا واجب نده چه مساجد به اوچت جوړيږى او نفى د وجوب كلمه ثابتيږى په جواز د فعل سره نو پدې كښې بيا منع اوكراهت نشته د مضبوط اوچت بلډنګ جوړولونه چه په غير د تزيين او تحسين نه وى بلكه دا جائز ده او كه تشييد نه مراد تزويق او تزيين او تزخرف واخستې شي نو معنى به دا شي : ما امرت بجواز تشييد المساجد لكه ددې په حرمت باندې نور دلائل صريح دي.

قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ : لَتُزَخْرِفُنَّهَا : لام ابتدائيه تاكيديه دې جواب د قسم دې او صيغه د جمع مذكر مخاطب مؤكد بانون تاكيد ده. او دا حديث اګرچه د ابن عباس رض وينا ده ليكن دا موقوف بمنزلة المرفوع دې. وجه دا ده چه پدې كښې پيشين ګوئي ده د آينده زمانې .مرقاة ومرعاة).

علامه امير يمانىؒ فرمائى : دا مدرج حديث دې او د ابن عباس رض وينا ده خو د نبى عليه السلام د احاديثو نه ئې معلومه كړيده چه دا امت به د بنى اسرائيلو تابعدارى كوى.

زخرفه : زينت او ډول ته وائى اصل كښې زخرف ذهب (سرو) ته وائى او تزخرف : تمويه الشئ بالذهب ته وائى يعنى تزخرف ديته وائى چه يو شې په سرو زرو سره ككړ شى. بيا زخرفه استعماليږى په هر هغه شى كښې چه په هغې سره زينت حاصليږى نو معنى د تزخرفنها به دا شى : چه تاسو به مساجد په سرو زرو باندې ښائسته كوئ! او دا د نبى عليه السلام پيشين ګوئى ده چه رشتينې شويده. پدې زمانه كښې تقريبا په عامو علاقو كښې مساجد ښائسته كوى او بيا پدې باندې فخرونه هم كوى.

درجة الحديث : اسناده صحيح : اخرجه ابوداود (٤٤٨) واخرجه البخارى تعليقاً فى الصحيح (١/٥٣٩) باب بنيان المساجد (٦٢) وفتح البارى (١/٤٢٨).

٣٠- وَعَنْ اَنَسٍ رضي الله عنه ، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : «مِنْ اَشْرَاطِ السَّاعَةِ اَنْ يَّتَبَاهَى النَّاسُ فِي الْمَسَاجِدِ» . رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ، وَالدَّارِمِيُّ، وَابْنُ مَاجه .

ترجمه : او انس رضی الله عنه فرمائی چه رسول الله ﷺ اوفرمايل : د قيامت د علاماتو نه يوه دا هم ده چه خلق به د مساجدو په باره كښې فخر كوی ـ (ابوداود، نسائی، دارمی، ابن ماجه) .

تشريح : مِنْ أَشْرَاطِ السَّاعَةِ : اشراط جمع د شَرَط ده علامې ته وائی ـ يتباهی : ای يتفاخر الناس ـ مطلب دا دے چه قيامت ته نزدے به خلق په مساجدو سره فخر كوی او دا په دوه طريقو سره كيږی يو په خبرو كښې به فخر كوی چه زمونږ مساجد غټ دی او ښائسته دی د فلانو خلقو نه ـ دويم عملا به د يو بل نه زيادت كوی په تزيين د مسجد كښې چه زمونږ مسجد د فلانو د مسجد نه ښائسته شی اگرچه په ژبه به څه نه وائی نو دا دليل دے چه دا كار حرام دے ـ

فِي الْمَسَاجِدِ : دوه معانی دی يو دا چه مسجد كښې به ناست وی او دا د فخر او مباهات خبرے به كوی ـ دويم دا چه فی المساجد نه مراد بناء المساجد يعنی د مساجدو په جوړولو كښې به يو مسجد والا په بل مسجد والا باندے فخر كوی او مقصد به ئے دا وی چه خلق زمونږ مدح اوكړی نو اوله معنی د فخر بالقول سره اولگيده او دويمه د فعل سره ـ

نو دا حديث په دواړو معنی گانو سره دليل دے چه مساجد مزين كول او بيا په هغې سره فخرونه كول حرام دی ـ

درجة الحديث : اسناده صحيح : اخرجه ابوداود (٤٤٩) والنسائی (٢/٣٢) وابن ماجه (٧٣٩) والدارمی (١/٣٢٧) وابن خزيمة (٢/٢٨١) رقم (١٣٢٢) وابن حبان (٣٠٨)

٣١– وَعَنْهُ رضي الله عنه ، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : «عُرِضَتْ عَلَيَّ أُجُوْرُ أُمَّتِيْ حَتَّى الْقَذَاةَ يُخْرِجُهَا الرَّجُلُ مِنَ الْمَسْجِدِ . وَعُرِضَتْ عَلَيَّ ذُنُوْبُ أُمَّتِيْ فَلَمْ اَرَ ذَنْبًا اَعْظَمَ مِنْ سُوْرَةٍ مِنَ الْقُرْآنِ اَوْ آيَةٍ أُوْتِيَهَا رَجُلٌ ثُمَّ نَسِيَهَا » . رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ ، وَاَبُوْدَاوُدَ .

ترجمه : او انس رضی الله عنه فرمائی چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل : زما د امت ثوابونه زما مخے ته پيش كړے شو تردے چه د هغه خس وخشاك ثواب هم (پيش كړے شو) چه هغه يو سړے د مسجد نه (په جارو وغيره سره) اوباسی ـ او دارنگه زما مخے ته

زما د امت گناهونه هم پیش کړے شو ـ د هغوی په گناهونو کښې ما ته ددے نه لویه گناه په نظر رانغله چه یو سړی ته د قرآن کریم یو سورت یا آیت یاد وی، بیا هغه هیر کړے وی ـ (ترمذی ، ابوداود) ـ

تشریح : حَتَّی الْقَذَاةُ : دا هغه شی ته وائی چه په سترگه کښې واقع کیږی که خاوره وی او که بوس وی او که خِیری وی ـ بیا په هر هغه شی کښې استعمالیږی چه په کور کښې واقع کیږی او لگ وی (یعنی خس وخشاك) ـ

بیا پدے حدیث کښې دا اخبار دے چه ځوك د مسجد نه معمولی شے (خس یو ډکے) اوباسی دپاره د مسجد د صفا کولو نو دا هم ماجور دے او که ځوك ددے برعکس مسجد ته یو معمولی ډکے راداخل کړی نو دا به گناه وی نو پدے کښې تنبیه بالادنیٰ علی الاعلیٰ ده ـ

ثُمَّ نَسِیَهَا :- مطلب دا دے چه یو انسان ته الله تعالی د قرآن یو سورت یا یو آیت یادولو توفیق ورکړی او بیا ئے هغه هیر کړی، هیڅ توجه ورته نکوی او دا کار غالباً پدے طریقه کیږی چه انسان په غیر مفید اشیاؤ سره مشغول شی د قرآن تدارك نکوی نو دے انسان ددے لوئی نعمت بے قدری او ناشکری اوکړه، دا به ډیر لوئی گناهگار وی ـ

دارنگه د نسیان نه مراد دا هم دے چه هغه بالکل په لاس کښې راوانخلی او په قرآن کریم کښې هم تلاوت نکوی تردے چه بالکل د هغه یاد سورتونه هیر شی ـ نو دلته د نسیان نه مراد ترك عمداً دے فلا یرد الاشکال بان النسیان لا مؤاخذة فیه ـ او که یو انسان قرآن یا یو سورت یاد کړے وی او بیا د هغے تدارك هم کوی لیکن هغه نه غیر اختیاری طریقے سره هیر شی، دماغ ئے کمزوری شی نو دا انسان به گناهگار نه وی کله چه کوشش کوی د هغے په لحاظ ساتلو سره، قرآن کریم راخلی او تلاوت پکښې کوی ـ

فائده : د دوارو جملو مناسبت دا دے چه د مسجد نه د خشاك ویستل د تعظیم د بیت الله دپاره اجر دے نو دغه شان یو عظیم شے هیرول او هغه معمولی گنړل هم لوئی جرم دے اول انسان د الله د کور د تعظیم دپاره وړوکے شے غټ اوگنړلو او د مسجد نه ئے اوویستلو نو اجر ورته ملاؤ شو او دویم انسان عظیم شے (قرآن کریم) حقیر اوگنړلو هغه ئے پریخودلو نو غټ مجرم حساب شو ـ (طیبیؒ) ـ

درجة الحدیث : اسناده ضعیف اخرجه ابوداود (٤٦١) والترمذی (٢٩١٦) وقال : هذا حدیث غریب لا نعرفه الا من هذا الوجه وذاکرت به محمد بن اسماعیل – البخاری –

فلم يعرفه واستغربه وقال لم يسمع مطلب بن عبد الله من احد من اصحاب النبى ﷺ ولا عن انس انتهى۔

٣٢– وَعَنْ بُرَيْدَةَ ﷺ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «بَشِّرِ الْمَشَّائِيْنَ فِي الظُّلَمِ إِلَى الْمَسَاجِدِ بِالنُّوْرِ التَّامِّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُوْدَاوُدَ.

ترجمه: او بريده رضى الله عنه فرمائى چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل: كوم خلق چه په تيارو كښې مسجد طرفته ځى هغوى ته دا زيرے وركړه چه د قيامت په ورځ (ددے په سبب به) هغوى ته پوره رڼائى نصيب كيږى۔ (ترمذى، ابوداود، ابن ماجه)۔

تشريح: بَشِّرِ الْمَشَّائِيْنَ: دا عام خطاب دے هر امتى ته يا هغه چا ته چه د دين د تبليغ قابل وى۔

مشائين: دا صيغه د مبالغے ده، مساجدو ته ډير تلونكى راتلونكى۔

فِي الظُّلَمِ: جمع د ظُلْمَةٌ ده د شپے تيارو ته وائى دا ماسخوتن او سحر مانځه ته شامل دے ځكه چه دا دواړه په تياره كښے اداء كولے شى۔

مطلب دا دے چه څوك په دنيا كښے مساجدو ته په تياره كښے د مانځه دپاره ډير ځى راځى نو د هغوى دپاره دا بشارت اوخوشحالى ده چه د قيامت په ورځ به د پلِ صراط سره دوى ته مكمل رڼا وركړے شى چه د هر طرفنه به ئے په دوى باندے احاطه كړى وى ځكه چه دوى په دنيا كښے په تياره كښے د مزل مشقت برداشت كړے وو نو په داسے رڼا سره جزاء ورته وركړے شوه چه هغه به د دوئ نه احاطه كړى وى او پدے كښے اشاره ده دے آيت ته:

﴿ نُورُهُمْ يَسْعٰى بَيْنَ اَيْدِيْهِمْ وَبِاَيْمَانِهِمْ يَقُوْلُوْنَ رَبَّنَا اَتْمِمْ لَنَا نُوْرَنَا ﴾ (٦٦: ٨)۔

كله چه د قيامت په ورځ په ميدان محشر كښے الله تعالى منافقان او مؤمنان شريك پُلِ صراط طرفته روان كړى نو د دواړو سره به رڼا وى خو د منافقانو نه به رڼا مړه شى او مؤمنانو سره به پوره رڼا وى او دا رڼا د ايمان ده او په تياره كښے د مونځونو دپاره د تللو په عوض كښے دا رڼا مؤمن ته وركولے شى لكه پدے حديث كښے راغلى دى۔

فائده: بعض علماء (ابن الملك) فرمائى: كه يو انسان مانځه ته ځى او په تياره كښے ځان سره بيټرى وغيره رڼا واخلى دے دپاره چه څه تكليف ورته اونه رسى نو هم دا جزاء او بدله به ورته وركولے شى ځكه چه مؤمن سړے بغير د بيټرى نه هم مانځه ته ځى خو

بجلی وغیره ورله پکښې زیاتی نعمت دے ۔

او د فی الظلم معنی به دا وی : ای فی وقت ظلمة اللیل ۔ یعنی چه د شپے د تیاره په وقت کښې مانځه ته ځی اګرکه د هغه سره د رڼړا د دفع کولو اسباب وی هم الله به ورته نورِ تام ورکوی ۔ څکه د شپے یره هم شته ۔

درجة الحدیث : اسناده صحیح بشواهده : اخرجه ابوداود (۵۶۱) والترمذی (۲۲۳) وقال المنذری فی الترغیب (۱/۲۱۲) رجال اسناده ثقات وقد ذکر الهیثمی فی مجمع الزوائد (۲/۳۱) شواهد فراجعها وقد ذکر المصنف منها اثنین ههنا ۔

۳۳- ۳۴ - وَرَوَاهُ ابْنُ مَاجَه، عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ وَاَنَسٍ : واسناده حسن : اخرجه ابن ماجه (۷۸۰) وابن خزیمة (۱۴۹۸) والحاکم (۱/۲۱۲) وصححه ووافقه الذهبی وقال البوصیری فی الزوائد : اسناده حسن وروایة انس اخرجها ابن ماجه (۷۸۱) والحاکم (۱/۹۲) والعقیلی فی الضعفاء (۲/۱۴۰) فی ترجمة سلیمان بن مسلم ۔

۳۵- وَعَنْ اَبِی سَعِیْدِ الْخُدْرِیِّ ﷺ، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : «اِذَا رَأَیْتُمُ الرَّجُلَ یَتَعَاهَدُ الْمَسْجِدَ، فَاشْهَدُوْا لَهٗ بِالْاِیْمَانِ، فَاِنَّ اللهَ یَقُوْلُ : ﴿اِنَّمَا یَعْمُرُ مَسَاجِدَ اللهِ مَنْ آمَنَ بِاللهِ وَالْیَوْمِ الْآخِرِ﴾»، رَوَاهُ التِّرْمِذِیُّ، وَابْنُ مَاجَه، وَالدَّارِمِیُّ

ترجمه : او ابوسعید خدری رضی الله عنه فرمائی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل : کله چه تاسو یو سړے اولیدو چه د مسجد خبرګیری کوی نو د هغه د ایمان ګواهی ورکړئ څکه چه الله تعالی فرمائی : انما یعمر الخ یقینا د الله مسجدونه هغه شخص آبادوی چه په الله او په ورځ د قیامت ئے ایمان راوړے وی ۔ (ترمذی، ابن ماجه، دارمی) ۔

تشریح : یَتَعَاهَدُ الْمَسْجِدَ : ای یخدمه ویعمره ۔ مطلب دا دے چه که ته داسے شخص اووینے چه د الله تعالی د کور لحاظ ساتی یعنی د هغے حفاظت او مرمت کوی د هغے صفائی کوی، جارو پکښے وهی، راڼونه پکښے لګوی او په هغے کښې مونځونه اوعبادات کوی او په هغے کښے د دین او د قرآن او حدیث بیان کوی نو تاسو د هغه ګواهی اوکړئ چه دا مؤمن بنده دے او د الله او د رسول تابعدار دے ۔

فَاِنَّ اللهَ یَقُوْلُ : دا د نبی علیه السلام استدلال دے د قرآن نه چه الله تعالی فرمائی : د

الله تعالى مساجد صرف مومنان آبادوي او ددے آبادولو نه مراد جارو كول او په هغے كښے رنړا لګول او د هغے تعظيم كول او هغه په ذكر او عبادت باندے مشغول كول او د دنياوى فضول خبرو نه ئے ساتل ـ

درجة الحديث : اسناده ضعيف : اخرجه احمد (٧٦،٦٨/٣) والدارمى (٢٧٨/١) والترمذى (٢٦١٧) (٣٠٩٣) وقال حسن غريب وابن ماجه (٨٠٢) وقال الحاكم (٢١٢/١) وقال الذهبى فيه دراج ابوالسمح قلت دراج كثير المناكير ـ تعليق المشكاة النسخة الهندية (٣٠٦/١) وثقه ابن معين وقال يحيى بن سعيد : ليس به بأس وقال الحافظ : صدوق فى حديثه عن ابى الهيثم ضعف ـ

---

٣٦ – وَعَنْ عُثْمَانَ بْنِ مَظْعُوْنٍ رضي الله عنه ، قَالَ : يَارَسُوْلَ اللهِ ! اِئْذَنْ لَنَا فِي الْاِخْتِصَاءِ . فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : « لَيْسَ مِنَّا مَنْ خَصٰى وَلَا اخْتَصٰى ، اِنَّ خِصَاءَ اُمَّتِي الصِّيَامُ » . فَقَالَ : اِئْذَنْ لَنَا فِي السِّيَاحَةِ . فَقَالَ : « اِنَّ سِيَاحَةَ اُمَّتِيَ الْجِهَادُ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ » . فَقَالَ : اِئْذَنْ لَنَا فِي التَّرَهُّبِ . فَقَالَ : « اِنَّ تَرَهُّبَ اُمَّتِيَ الْجُلُوْسُ فِي الْمَسَاجِدِ اِنْتِظَارَ الصَّلَاةِ » . رَوَاهُ فِيْ شَرْحِ السُّنَّةِ .

ترجمه : او عثمان بن مظعون رضى الله عنه نه نقل شويدى چه هغوى عرض اوكړو اے د الله رسوله ! مونږ ته د خصى (نامرد) كيدو اجازت راكړئ (دے دپاره چه زنا كښے د اخته كيدو خطره ختمه شى) رسول الله ﷺ اوفرمائيل : هغه شخص زمونږ نه ندے (يعنى زمونږ په اصلى تابعدارو كښے ندے) چه څوك خصى كړى او يا پخپله خصى شى ـ (بلكه) زما د امت دپاره خصى كيدل روژه نيول دى (ځكه روژه نيولو سره شهوت ماتيږى) عثمان عرض اوكړو چه بيا ما ته د سير وسياحت اجازت راكړئ ـ نبى كريم ﷺ اوفرمائيل : زما د امت سياحت (سيل سپا) دا دے چه د الله په لاره كښے جهاد اوكړے شى ـ هغوى بيا عرض اوكړو چه بنه بيا خو ما ته د راهب جوړيدو اجازت راكړئ ! نبى كريم ﷺ اوفرمائيل : زما د امت راهب جوړيدل دا دى چه په مسجدونو كښے د مونځونو په انتظار كښے ناسته اوكړے شى ـ (شرح السنه) ـ

تعارف : **عثمان بن مظعون** بن حبيب الجمحى القرشى ابوالسائب ـ څوارلسم

مسلمان دے او دوه هجرتونه ئے کړیدی او بدر ته هم حاضر شویدے او دا هغه صحابی دے چه په جاهلیت زمانه کښے ئے په ځان باندے شراب حرام کړی وو او دا ډیر مجتهد عابد وو، د صحابه کرامؓ د فضلاؤ نه دے، دا په مدینه کښے د مهاجرینو نه اول وفات دے ۔ په شعبان کښے پس د دیرشو میاشتو د هجرت نه ۔ کله چه وفات شو او غسل او کفن ورکړے شو نو رسول الله ﷺ ورله تندے خکل کړو کله چه دفن شو نبی علیه السلام اوفرمائیل: نعم السلف هو لنا ۔ اول په بقیع الغرقد کښے د مهاجرینو نه دا عثمان دفن شو او رسول الله ﷺ دده د سر سره یو کاڼے کیخودو او وے فرمائیل: هذا قبر فرطنا ۔

تشريح : اِئْذَنْ لَنَا فِي الْاِخْتِصَاءِ : اختصاء ځان خصی کولو ته وائی خصیتین ټکول، دے دپاره چه زمونږ شهوت د زنانو ختم شی، حاصل د حدیث دا دے چه عثمان بن مظعون دا خواهش ظاهر کړو چه داسے طریقے اختیار کړو چه په هغے سره د دنیاوی لذتونو او خواهشاتو او شیطانی حرکاتو نه بچ شو او د الله تعالی رضا مندی حاصله شی نو اول ئے دا مطالبه اوکړه چه مونږ ته د ځان د نامرده کولو اجازت راکړے شی، دے دپاره چه زنا وغیره ګناهونو کښے واقع نشو، رسول الله ﷺ د هغه خواهش د انسانی فطرت او اسلامی روح منافی اوګڼړله نو دوئ ئے ددے کار نه منع کړو ۔ او دائے ورته اوفرمائیل: چه که تاسو دا غواړئ چه نفسانی خواهشات ختم شی او روحانی جذبات پاتے شی نو ددے علاج دا دے چه روژوے نیسئ ځکه چه په روژے سره شهوت کمزورے کیږی او د الله تعالی سره د تعلق جذبات زیاتوی، بیا هغه د سیر او سیاحت مطالبه اوکړه دے دپاره چه پدے سره په نفسانی خواهشاتو کښے کمے راشی نبی علیه السلام ددے نه هم منع اوکړه چه دا کار څه ممدوح ندے بلکه سیر او سیاحت او سفر کول صرف په جهاد فی سبیل الله کښے سفر ممدوح دے ۔ بیا هغه د پیرتوب او ګوډونو کښے د کیناستو مطالبه اوکړه ددے دپاره چه د فتنو د دنیا نه محفوظ شو خو نبی علیه السلام ددے نه هم منع کړو او دا ورته اوفرمایل: چه زما د امت پیرتوب دادے چه په مساجدو کښے د مانځه په انتظار کښے کینی ۔

لَيْسَ مِنَّا : ددے مطلب دا دے چه زمونږ نه ندے یعنی یا به یهودی او نصرانی وی او یا به مسلمان وی خو زمونږ د تابعدارو په ډله کښے به نه وی حساب بلکه فاسق به وی ۔

مَنْ خَصّٰى : یعنی هغه شخص چه بل څوك خصی کوی ۔ **وَلَا اخْتَصٰى** : یا ځان خصی کوی دا دواړه کارونه حرام دی ۱- ځکه پدے کښې تغییر خلق الله دے ۲- او ځان ته

يا بل ته ضرر ورکول دي ۳- او د يو لوئي نعمت نه ځان او غير، محروموول دي ـ ٤- او پدے سره بيا امتحان ختميږي ٥- پدے کښے نسل کشي ده ـ او ددے په حکم کښے هر هغه دوائي ده چه پخپله ئے اوخوري يا ئے بل ته ورکړي چه په هغے سره شهوت يا نسل کشي او منصوبه بندي اوکړے شي هميشه دپاره نو دا کار هم حرام دے ـ

اِنَّ خِصَاءِ : په کسره د خاء سره خصي کول او شهوت ختمول ـ

اَلسِّيَاحَةِ : په کسره د سين سره په زمکه چکرے لګول او د يو ښار نه بل ښار ته تلل لکه دا کار به د بني اسرائيلو عابدانو کولو ـ

اَلْجِهَادُ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ : د جهاد دپاره چکرے وهل او سفرے کول ځکه ممدوح دي چه پدے کار کښے ځان او غير ته فائده رسيږي او جهاد عام دے جهاد اصغر او جهاد اکبر دواړو ته ـ

فِي التَّرَهُّبِ : ترهب په اصل کښے د رهب نه ماخوذ دے ـ خوف ته وائي پخواني رهبانو (راهبانو) به د دنيا د مشاغلو نه ځان اوزګار کړو او يو ګوټ يا يو غار کښے به کيناستل د الله تعالى عبادتونه به ئے کول دلته ئے معنى ده : تعبد او عزلت عن الناس ـ

اِنْتِظَارَ الصَّلَاةِ : دا مضاف دے منصوب دے مفعول له دے د جلوس دپاره ـ اى لانتظار الصلاة ـ او په مسجد کښے کيناستلو ته ئے ترهب اووئيلو ځکه چه په مسجد کښے کيناستلو کښے ډير فوائد دي ترهب هم دے او ورسره نور زيات فضائل د مسجد دي چه ديني خبرے اوريدل، د ملائکو ماحول کښے پاتے کيدل د الله د رحمت ځائے دے او پدے کښ د نفس د خواهش خلاف دے ـ

فائده بديعه : علامه عبيد الله المباركفوريؒ فرمائي : دا حديث دليل دے په کراهت د استمناء باليد باندے ځکه چه په استمناء باليد کښے هم معنى د اختصاء پرته ده که چرته دا جائز وے نو نبي عليه السلام به دوی ته دا خودلي وے او پدے سره نفس کمزورے کيږي او ضياع المني راځي ـ بلکه ددے په ځائے روژے نيولو سره د جماع شهوت ماتيږي او نفس په رياضت باندے اموخته کيږي او د الله طاعت حاصليږي ـ

درجة الحديث : اسناده ضعيف اخرجه البغوى فى شرح السنة (۲/۳۷۰) رقم (٤٨٤) وفيه رشدين بن سعد وفيه ابن انعم الافريقى راجع ترجمتهما فى الميزان (۲/٤٩) (۲/٥٦١) وقال الشيخ الالبانى : والفقرة المتعلقة بالسياحة لها شاهد من حديث ابى امامة رواه ابو داود رقم (۲٤٨٦) وابن عساكر (۲/۲٤٤/۱٥) وسنده حسن ـ او د اولے فقرے دپاره هم شاهد

شته په حدیث د سعد بن ابی وقاص کښې دی : رد رسول الله ﷺ علی عثمان بن مظعون التبتل ولو اذن له لاختصینا، متفق علیه او په اول د کتاب النکاح کښې به راشی ـ یا معشر الشباب من استطاع منکم البائة فلیتزوج ومن لم یستطع فعلیه بالصوم فانه له وجاء ـ نو معلومه شوه چه معنی ددې حدیث صحیح ده او بعضې جملې پکښې ضعیفې دی لکه ائذن لنا فی الترهب والا ـ

۳۷- وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ عَائِشٍ ﷺ، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : « رَأَيْتُ رَبِّيْ عَزَّ وَجَلَّ فِيْ اَحْسَنِ صُوْرَةٍ . قَالَ: فِيْمَ يَخْتَصِمُ الْمَلَأُ الْاَعْلٰى ؟ قُلْتُ : اَنْتَ اَعْلَمُ » . قَالَ : فَوَضَعَ كَفَّهٗ بَيْنَ كَتِفَيَّ، فَوَجَدْتُ بَرْدَهَا بَيْنَ ثَدْيَيَّ، فَعَلِمْتُ مَا فِي السَّمٰوَاتِ وَالْاَرْضِ، وَتَلَا : ﴿ وَكَذٰلِكَ نُرِيْ اِبْرَاهِيْمَ مَلَكُوْتَ السَّمٰوَاتِ وَالْاَرْضِ وَلِيَكُوْنَ مِنَ الْمُوْقِنِيْنَ ﴾ » . رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ مُرْسَلًا .

ترجمه : او عبد الرحمن بن عائش رضی الله عنه فرمائی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل : ما خپل رب (په خوب کښې) په ډیر ښائسته صورت کښې اولیدو ـ الله تعالی مانه تپوس اوکړو چه مقربین ملائك په څه معامله کښې بحث کوی ؟ ما عرض اوکړو (اے ربه !) ته ډیر ښه پوهه ئے ـ رسول الله ﷺ فرمائی چه الله تعالی زما د اوګو په مینځ کښې خپل لاس کیخودلو چه د هغې یخوالے ما ته په خپله سینه باندې محسوس شو (او ددې په وجه سره) زه د زمکې او آسمان په تمام څیزونو پوهه شوم ـ بیا نبی کریم ﷺ دا آیت اولوستلو : وکذلك نری ابراهیم ملکوت السموات والارض ولیکون من الموقنین ـ

ترجمه : او دغه شان مونږ ابراهیم ته زمکې او آسمانونو بادشاهی اوخودله دے دپاره چه یقین والو کښې شامل شی ـ (دارمی مرسلا) ـ

د عبدالرحمن بن عائش تعارف : ابن حبان او ابن السکن وائی : دا صحابی دے، ابو حاتم الرازی وائی : څوك چه ورته صحابی وائی هغه په خطاء دی ابن خزیمه او ترمذی وائی : لم یسمع من النبی ﷺ ـ حافظ په تهذیب التهذیب (٦/٢٠٤) کښې وائی : عبد الرحمن بن عائش الحضرمی ویقال السکسکی مختلف فی صحبته وفی اسناد حدیثه ـ

تشریح : رَأَيْتُ رَبِّيْ عَزَّ وَجَلَّ فِيْ اَحْسَنِ صُوْرَةٍ : ظاهر دا ده چه دا واقعه په خوب

کښې راپيښه شويده او پدې باندې دليل روستو حديث د معاذ بن جبلؓ دې چه په فصل ثاني کښې راروان دې : فنعست في صلاتي حتى استثقلت فاذا انا بربي تبارك وتعالى في احسن صورة الخ دويم حديث د ابن عباسؓ عند الترمذي په هغې کښې دي : اتاني الليلة ربي تبارك وتعالى في احسن صورة قال احسبه قال في المنام ۔ حافظ ابن کثيرؒ فرمائي : دا حديث مشهور دې په حديث المنام سره او چا چه دا د ويښې واقعه گرځولې ده هغه غلط شويدې انتهٰى ۔

نو کوم روايت چه مطلق راغلې دې هغه به محمول وي په مقيد باندې او ديته امام دارميؒ اشاره کړيده چه دا حديث د خوب دې ددې وجې نه هغه پدې حديث باندې داسې ترجمة الباب وضع کړيدې : باب رؤية الرب تعالى في النوم آهـ ۔ نو که دا د عالم المنامات نه شي نو په حديث کښې به هيڅ اشکال نه وي ځکه چه خوب ليدونکې ډير کرتې غير متشکل شې متشکل ويني او متشکل شې غير متشکل ويني او پدې کښې نه د ليدونکي نقصان وي او نه د ليدلې شوي شي بلکه ددې څه اسباب وي چه هغه په علم التعبير کښې ذکر کولې شي او په خوب کښې خو ډير علماء هم ليدلې دې لکه د امام احمدؒ په باره کښې راځي چه سل کرتې الله تعالى په خوب کښې ليدلې دې او حمزة القاري په الله تعالى باندې په خوب کښې قرآن کريم لوستلې دې ۔ د امام ابو حنيفةؒ په باره کښې هم د الله په خوب کښې ليدل نقل دي ۔ د الله ذات خو نشي ليدلې بلکه د هغه انوارات ئې ليدلي ۔

۲– او که چرته دا واقعه په ويښه شي نو بيا پدې باره کښې د سلف صالحينو عقيده دا ده چه دا د نورو صفاتو پشان حکم لري، چه تمر کما جاء ت من تکييف ولا تمثيل ولا تشبيه ولا تعطيل ۔ يعنې ددې په ظاهر باندې به ايمان لرو اګرچه مونږ ته ددې کيفيت معلوم ندې نو د الله تعالى صورت شته کما يليق بشانه تعالى او نبي عليه السلام به هغه ليدلې وي او د هغې بيان هم ندې نقل شوې چه څه طريقې سره وو او دا به د نبي عليه السلام د خصوصياتو نه وي لکه بناء په يو قول باندې په معراج شپه کښې ئې هم ليدلې دې ليکن اول قول صحيح دې او دويم باندې بالکل هيڅ دليل نشته ۔

او متأخرين مؤولين پدې کښې داسې تاويل کوي چه (في احسن صورة) حال دې د فاعل نه : اى رأيت ربي حال کوني في احسن صورة وهيئة وصفة من غاية انعامه ولطفه عليّ ۔ يعنې زه ډير په ښائسته حالت کښې ووم چه الله تعالى راباندې ډير انعام او احسان کړې وو او که د مفعول (ربي) نه حال شي نو بيا به صورت په معنې د شان او صفت سره وي

ای رأیت ربی حال کون الرب فی احسن صفة او شان ۔ لیکن دا تاویل د مذهب السلف خلاف دے او پدے کښې انکار راځی د الله د صفت نه ۔ کما قال الامام ابوحنیفة فی الفقه الاکبر : ولا یقال ان یده قدرته لا ن فیه ابطال الصفة وهو قول اهل القدر والاعتزال ۔ نو د امام ابوحنیفهؒ پدے قول کښې رد دے په هغه متاخرینو باندے چه مذهب د سلف او خلف دواړو ته صحیح وائی لکه امام رازیؒ وائی : وطریقة السلف اسلم وطریقة الخلف احکم شرح العقیدة الطحاویة ۔ نو دا خبره د امام صاحب په نیز صحیح نده ځکه چه هغه تاویل د صفت ته انکار د صفت وائی او دا د معتزلو او قدریو قول شماری فتدبر ۔

اَلْمَلَأُ الْاَعْلٰی : مراد د ملأ اعلیٰ نه «ملائکة مقربون» دی ملأ په اصل کښې : الاشراف الذین یملئون المجالس والصدور عظمةً واجلالاً ۔ هغه اشراف او عزتمند خلقو ته وائی چه د خپل لوئی والی او عزت په وجه ئے مجالس او سینے د خلقو ډکے کړی وی ۔ په هر مجلس او سینه کښې د هغوی قدر پروت وی ۔ اعلیٰ : ورته یا پدے وجه وائی ۱– چه مکان ئے اوچت دے ۲– یا ئے د الله په نیز مرتبه او درجه اوچته ده ۔

او د اختصام نه مراد بحث مباحثے کول دی په کفاراتو او درجاتو کښې چه په کومو اسبابو سره ګناهونه رژیږی او درجات د انسانانو پورته کیږی ۔

فَوَضَعَ کَفَّهٗ بَیْنَ کَتِفَیَّ : دا هم د الله تعالی حقیقی صفت دے بغیر د تشبیه او تعطیل نه کما یلیق بشانه دے او تاویل ته پکښې ضرورت نشته ۔ کتفی : تثنیه ده یاء مشدد ده دغه شان ثدییّ لفظ هم تثنیه ده او یاء پکښې مشدد ده ۔

فَوَجَدْتُ بَرْدَهَا : ملا علی القاریؒ فرمائی : وجود البرد کنایه ده د وصول الفیض نه زړه د پیغمبر ته او د نزول الرحمة نه او د علومو د راتوی کیدلو نه په ده باندے او د نبی علیه السلام د هغه نه متأثر کیدل او د هغه علومو مضبوطیدل په زړه د پیغمبر کښې ۔

لیکن صحیح دا ده چه دا په حقیقت باندے حمل دے ۔

فَعَلِمْتُ مَا فِی السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ : یعنی زه پوهه شوم په هغه عجائباتو او صفاتو د آسمانونو او زمکو ۔

فائده سنیه : علم غیب خصوصیت د الله تعالی دے :

ددے حدیث نه مبتدعین او قبوریین استدلال کوی چه نبی علیه السلام ته علم غیب کلی عطائی ورکړے شویدے او هغه په ما کان او ما یکون موجودات او معدومات تولو

باندے علم محیط لری او بالکل د الله د علم پشان ئے گنړی صرف دا فرق کوی چه د الله تعالی علم ذاتی حقیقی دے او د رسول الله ﷺ علم ذاتی ندے بلکه وهبی او عطائی دے الله تعالی ورته په الهامی او وهبی طریقه تولو څیزونه ورخودلی دی وائی چه دلته ما فی السموات کښے لفظ ما عام دے د استغراق دپاره راغی نو تول موجودات ، معدومات او ممکناتو او واجباتو ته شامل دے نو نبی پدے تولو عالم دے تر قیامته پورے ـ

الجواب : ۱– دا استدلال باطل دے د ډیرو وجوهاتو نه ۱– اول دا چه اول خو دا نه منو چه لفظ د ما عام دے بلکه د محققین اهل لغت په نیز ما وضع شویده په اصل کښے د غیر ذوی العقول دپاره نو ذوی العقول ترے بهر شو او دلیل پدے باندے قصه د ابن زبعریٰ ده چه پدے آیت کښے ذکر کیږی (اِنَّكُمْ وَمَا تَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ حَصَبُ جَهَنَّمَ) چه هغه عیسی علیه السلام په لفظ د ما کښے داخل گنړلو نو پدے کښے خطاء شو ـ

۲– دویم که اومنو چه ما عامه ده ذوی العقولو ته لکه د اکثر اصولینو قول دے نو بیا وایو چه کوم علماء ما عامه گنړی نو هغوی ورله دا شرط وائی : چه ما هله د عموم دپاره ده چه قرینه به موجوده وی په شمول د ذوی العقول کښے ځکه په اصل وضع کښے د غیر ذوی العقول دپاره ده او ذوی العقول ته په قرینه سره شاملیږی او پدے مقام کښے خو هیڅ قرینه نشته پدے چه نبی علیه السلام د انسانانو او پیرانو په تولو حالاتو پو هه وو نو دعوه د علم کلی د پیغمبر صحیح نده ـ

۳– دریم دا چه : ددے روستو استدلال د نبی علیه السلام نه پدے آیت : وکذلك نری ابراهیم ملکوت السموات والارض الخ نه معلومه شوه چه لفظ د ما د عموم او استغراق دپاره ندے ځکه چه د ملکوت السموات نه خو عجائبات د آسمان او زمکے مراد دی لکه څنگه چه ابراهیم علیه السلام ته خودلی شوی وو او هغه ته خو د تولو انسانانو او مخلوقاتو علم کلی د مخالفینو په نیز هم نه وو ورکړے شوے نو نبی علیه السلام ته هم ندے ورکړے شوے ـ

٤– بله وجه دا ده چه ډیر دلائل موجود دی پدے خبره چه نبی علیه السلام ته علم کلی ندے ورکړے شوے لکه آیت کښے دی : ﴿ وَمِمَّنْ حَوْلَكُمْ مِنَ الْاَعْرَابِ مُنَافِقُوْنَ، وَمِنْ اَهْلِ الْمَدِيْنَةِ مَرَدُوْا عَلَى النِّفَاقِ لَا تَعْلَمُهُمْ نَحْنُ نَعْلَمُهُمْ ﴾ سورة التوبة (۱۰۰) ـ دارنگه د قیامت علم ورته نه وو، شعر ورته نه وو یاد، انتم اعلم بامور دنیاکم ـ حدیث کښے دی : انك لا تدری ما احدثوا بعدك ـ قیامت کښے به نبی علیه السلام ته هغه صفتونه د الله تعالی یاد

شی کوم چه ورته په دنیا کښې نه وو یاد کما فی حدیث الشفاعة احمده بمحامد لا اقدر علیه الآن یلهمنیه الله تعالی ۔ دارنگه جهادونو کښې به پرې کفارو حملې کولې هغه ئې زخمی کړو ۔ دارنگه که پیغمبر ته د آینده زمانې هر څه معلومات وې نو بیا ئې په جهادونو کښې جاسوسان ولې مقررول د هغه په بی بی عائشه صدیقة باندې تور ولې لګیدلو ۔ دارنگه که پیغمبر عالم بکل شئ اوګنړې شی نو لوئی نقصان دا جوړیږی چه هغه باندې (العیاذ بالله) تهمت د قتل راځی ځکه هغه چه هر کله خبر وو نو بئر معونه کښې ئې اوویا کسان قاریان ولې کفارو ته ورکول چه دا ځان سره بو ځئ چه دین درته اوخائی او هغوی مړه کړل نو ددې مطلب خو دا جوړیږی چه پیغمبر ته ښه معلومه وه چه دا کسان به ئې وژنی او بیا ئې هم ورکوی فتدبر ۔

د احادیثو تولو ذخیره ددینه ډکه ده چه نبی علیه السلام عالم الغیب ندې نو ددینه دا معلومه شوه چه کیدې شی نبی علیه السلام په دغه خاص وقت کښې په تولو ځیزونو پوهه شو او چه کله ترې الله تعالی لاس لرې کړو نو بیا نه پوهیدو او پدې باندې ډیر شتې احادیث دلائل دی ۔ او پدې کتاب کښې تاسو ځائې په ځائې په فوائدو کښې لوستلی دی چه نبی علیه السلام عالم الغیب ندې او کوم ځیزونو باندې چه هغه پوهیدلو د هغې خبرئې امت ته ورکړې دې نو هغې باندې امت هم پوهه شو نو هغه غیب نشو ۔

بله دا چه دا واقعه د خوب ده په خوب کښې خو هر انسان ته د ناشنا ځایونو علمونه ورنصیب کیږی چه د ویخیدلو نه پس ورته هغه نه وی حاصل ۔

بله دا چه دوی وائی پیغمبر نه علم غیب عطائی ورکړې شویدې نو هر کله چه الله تعالی تول علم پیغمبر ته عطاء کړو نو د الله تعالی سره څه پاتې شو ځکه دا قانون دې چه چا سره څه وی او هغه تول بل ته ورکړی نو ورکونکی سره زیاتی هیڅ پاتې نشی نو بیا خو پیغمبر الله تعالی سره په علم کښې برابر شو والعیاذ بالله او دا خو صریح کفر دې او الله تعالی صراحةً فرمائی: ﴿ وَلَا يُحِيطُونَ بِشَيْءٍ مِنْ عِلْمِهِ إِلَّا بِمَا شَاءَ ﴾ ۔

وَكَذٰلِكَ نُرِيَ إِبْرَاهِيمَ مَلَكُوتَ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ : نری لفظاً مضارع ده مګر معنیً ماضی ده او دا حکایت دې د حال ماضیه نه ای کما اریناك یا محمد الهدایة واحکام الدین کذلك ارینا ابراهیم عجائب ما فی السموات والارض وقال الخازن : کما ارینا ابراهیم البصیرة فی دینه والحق فی خلاف قومه وما کانوا علیه من الضلال فی عبادة الاوثان الخ ۔

مَلَكُوتَ : دا د فعلوت په وزن دې د ملك نه جوړ دې دا لوئی بادشاهئ ته وائی ۔ دیته

عالم المعقولات وائی ای الربوبیة والالوهیة ۔
وَلِيَكُوْنَ : دا عطف دے په مقدر باندے ای لیستدل به علی وحدانیتنا ولیکون من الموقنین ۔ ابن حجر عسقلانیؒ وائی : دا هم صحیح ده چه دا علت د محذوف شی ای فعلنا ذلك لیکون من المؤقنین ۔
الیقین : هو علم یحصل بسبب التأمل بعد زوال الشبهه ۔ یعنی یقین عبارت دے د هغه علم نه چه د شبهات د زائله کیدو نه پس په سبب د سوچ او فکر سره حاصل شی ځکه انسان اول کښے د شك او شبهے نه خالی نه وی خو چه کله دلائل زیات شی او د انسان د ذهن موافق شی نو دا په زړه کښے سبب د حصول د یقین او اطمینان اوګرځی ۔
یا : سکون القلب وثبات الفهم ته وائی : یعنی چه په صحیح مضبوطے پوهے سره زړه ته سکون ملاؤ شی دیته یقین وائی ۔
وقال ابن مسعود : ان لا ترضي الناس بسخط الله ولا تمدح احداً من الناس على رزق الله ولا تلم احدا على ما لم يعطك الله ۔ د خلقو په خوشحاله کولو کښے الله تعالی نه ناراضه کول۔ د الله په رزق او احسان باندے د خلقو زیات صفات نکول بلکه توجه الله ته اول پکار ده ۔ او کوم شے چه درته الله په نصیب کښے نه وی لیکلے په هغے باندے څوك نه ملامته کول دیته یقین وائی ۔
او د مناطقه په نیز : الیقین : هو الاعتقاد الجازم الثابت المطابق للواقع بحیث لا یزول بتشکیك المشکك۔
درجة الحدیث : اسناده حسن بشواهده : اخرجه الدارمی (۲/۱۲٦) والترمذی (۳۲۳۵) واخرجه الطبری فی تفسیره (۷/۱٦۲) وقد اختلف فیه علی عبد الرحمن بن عائش اذ عدّه البعض فی الصحابة ولم یعده آخرون ۔ وقد ذکر البیهقی فی الاسماء والصفات ص (۲۰) بعد ان ذکر حدیث ابن عائش وما فیه من الاختلاف وقد روی من اوجه کلها ضعیف واحسن طریق فیه روایة جهضم بن عبد الله یعنی حدیث معاذ وهو الآتی ۔
مرسلًا : دیته ئے مرسل اووئیلو ځکه چه د مصنف په نیز ابن عائش صحابی ندے ۔ میركؒ وائی : بلکه دا معضل دے ځکه ابن عائش نبی علیه السلام ندے لیدلے بلکه دا حدیث ئے د مالك بن یخامر عن معاذ بن جبل نه اوریدلے دے کما فی مسند احمد وهو اسناد جید انتهیٰ ۔ المرعاة (۲/٤۳۷)۔

(۳۸- ۳۹) - وَلِلتِّرْمِذِيِّ نَحْوُهُ عَنْهُ. وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، وَمُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ وَزَادَ

فِيْهِ: «قَالَ يَا مُحَمَّدُ! هَلْ تَدْرِيْ فِيْمَ يَخْتَصِمُ الْمَلَأُ الْأَعْلٰى؟ قُلْتُ: نَعَمْ، فِي الْكَفَّارَاتِ». وَالْكَفَّارَاتُ: اَلْمَكْثُ فِي الْمَسَاجِدِ بَعْدَ الصَّلَوَاتِ، وَالْمَشْيُ عَلَى الْأَقْدَامِ إِلَى الْجَمَاعَاتِ، وَإِبْلَاغُ الْوُضُوْءِ فِي الْمَكَارِهِ، فَمَنْ فَعَلَ ذٰلِكَ عَاشَ بِخَيْرٍ، وَمَاتَ بِخَيْرٍ، وَكَانَ مِنْ خَطِيْئَتِهٖ كَيَوْمَ وَلَدَتْهُ أُمُّهٗ، وَقَالَ: يَا مُحَمَّدُ! إِذَا صَلَّيْتَ فَقُلْ: اَللّٰهُمَّ إِنِّيْ أَسْئَلُكَ فِعْلَ الْخَيْرَاتِ، وَتَرْكَ الْمُنْكَرَاتِ، وَحُبَّ الْمَسَاكِيْنِ، وَإِذَا أَرَدْتَّ بِعِبَادِكَ فِتْنَةً فَاقْبِضْنِيْ إِلَيْكَ غَيْرَ مَفْتُوْنٍ». قَالَ: وَالدَّرَجَاتُ: إِفْشَاءُ السَّلَامِ وَإِطْعَامُ الطَّعَامِ، وَالصَّلَاةُ بِاللَّيْلِ وَالنَّاسُ نِيَامٌ. وَلَفْظُ هٰذَا الْحَدِيْثِ كَمَا فِي الْمَصَابِيْحِ لَمْ أَجِدْهُ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ إِلَّا فِيْ شَرْحِ السُّنَّةِ.

ترجمه: او ترمذی هم دا روایت (د بعض الفاظو په اختلاف سره) د عبد الرحمن بن عائش، ابن عباس ؓ او معاذ بن جبل ؓ نه نقل کړیدے ـ او په هغے کښے دا الفاظ زائد نقل کړیدی: چه الله تعالی اوفرمائیل: (یعنی اے محمد! (ﷺ) تاته معلومه ده چه مقربین ملائك په څه معامله کښے بحث کوی؟ (نبی علیه السلام اوفرمائیل چه) ما عرض اوکړو: آؤ! زه پوهیږم چه د کفارات (یعنی گناه ختمونکی څیزونو) په باره کښے خبرے اترے کوی او هغه کفارات (دا) دی چه د مانځه نه بعد په مسجدونو کښے (د بل وقت مونځ په انتظار کښے یا ذکر او تسبیح دپاره) کیناستل او د جمعے سره مونځ کولو دپاره پیدل مزل اوکړے شی او د سختئ په وقت (مثلا بیماری یا یخنئ کښے د اوداسه اندامونو ته) د اوداسه اوبه په ښه شان اورسولے شی ـ (لهذا) چا چه دا اوکړل (یعنی دا مذکوره اعمال ئے اوکړل) هغه به په خیر سره ژوند تیروی او په نیکئ باندے به مری او گناهونو نه به داسے پاك کیږی گویا کښے د هغه مور اوس ده لره زیږولے دے او الله تعالی اوفرمائیل: اے محمد! کله چه ته د مانځه نه فارغ شے نو دا دعا کوه: اللهم انی اسئلك الخ (یعنی اے الله! زه تا نه د نیکو کولو او د بدئ پریخودلو او د مسکینانو سره دوستی کولو سوال کوم او کله چه ته په بندگانو کښے گمراهی پیدا کول (یا هغوی ته د سزا ورکولو) اراده اوکړے نو ما بغیر د گمراهئ نه ځان طرفته واخلے ـ

او الله تعالی (د رسول الله ﷺ په تعلیم کښې د زیاتوالی دپاره) اوفرمائیل : (یا پخپله رسول الله ﷺ اوفرمائیل :) چه درجات (یعنی هغه اعمال چه په هغې سره د بنده د الله په دربار کښې درجات اوچتیږی) دا دی چه (هر مسلمان ته برابره ده چه پیژنی او که نه) سلام اوکړے شی ۔ (د الله دپاره مسکینانو ته) خوراك ورکړے شی او په شپه کښې چه په هغه وقت کښې خلق اوده وی – مونځ اوکړے شی (صاحب مشکوة فرمائی چه) ما دا حدیث پدے الفاظو سره څنګه چه په مصابیح کښې د عبد الرحمن نه منقول دے سوا د شرح السنه نه په بل هیڅ کتاب کښے اونه موندلو ۔

تشریح : فِيْمَ يَخْتَصِمُ الْمَلَأُ الْأَعْلٰى ؟ : ملائك اختصام او بحث ولے کوی ؟

۱ – نو یا مقصود جلتی وی دیته چه کوم یو به دے نیك اعمالو ته ور وړاندے شی چه دا ځان سره ثابت کړی او آسمان ته ئے اوخیژی او مقام د قبولیت ته ئے اورسوی ۔ ۲ – یا دا چه ددے په فضیلت او شرافت کښے بحث کوی ۔

۳ – یا دوی غبطه کوی د انسانانو سره په دغه فضائلو کښے چه د انسانانو پورے خاص دی او بیا د دوی دا بحث مباحثه او خپل مینځ کښے سوال او جواب ئے مشابه کړو د هغه خبرو اترو سره چه د دوه متخاصمین (جګړه مارو) ترمینځ کیږی پدے کښے اشاره ده چه دے آیت ته : وفی ذلك فلیتنافس المتنافسون ۔ یعنی پدے کار او فضائلو حاصلولو کښے د رغبت کونکی رغبت او مینه اوکړی، داسے اوچت فضائل دی چه ملائك پرے د یو بل سره بحث کوی نو ا ے انسانانو ددے په حاصلولو کښے جګړے پکار دی ۔

دارنګه د ملائکو د الله تعالی سره محبت وی څکه د هغه په عبادت کښ داسے کوی ۔

وَالْكَفَّارَاتُ : اَلْمَكْثُ : الکفارات مبتداء ده او المکث الخ ئے خبر دے یعنی کفارات او ګناهونه ختمونکی څیزونه دا دی : مسجد کښے د مانځه نه پس د بل مانځه په انتظار کښے اوسیدل ۔ ۲ – یا ددے نه مراد اعتکاف دے ۳ – یا مطلق حصاریدل په مسجد کښے دے دپاره چه د خلقو نه په طرف شي او په الله باندے مشغول شی، دا ټول پکښ داخل دی ۔

وَالْمَشْيُ عَلَى الْأَقْدَامِ إِلَى الْجَمَاعَاتِ : پیادل مسجد ته تلل څکه بهتر دی چه مسجد ته راتلونکے د الله زیارت ته راتلونکے دے او زیارت په قدمونو خشوع او تواضع او تذلل ته ډیر قریب وی ۔

وَإِبْلَاغُ الْوُضُوْءِ : بل روایت د ترمذی کښے اسباغ الوضوء دے یعنی اودس په کامله طریقه کول یعنی د اودس اندامونو ته په طریقه د مبالغې سره اوبه رسول ۔

فِي الْمَكَارِهِ : جمع د مكره ده په فتحه د ميم ـ هغه شي ته وائي چه يو شخص ئې مكروه او بد گڼړي او هغه پرې مشقت او گران وي يعني په سخته يخنئ او بيماريئ كښې اودس كول چه انسان ته سخت تكليف وي ـ

فائده : دا څيزونه ئې خاص ذكر كړل نه نور ـ پدې كښې تيزي وركول دي پدې كارونو باندې څكه چه دا كارونه هميشه كيږي نو پدې كښې دا گمان وو چه پدې كښې به د انسان نه سستي پيدا شي (ابن الملك) ـ بيا ئې دې كارونو ته كفارات اووئيل څكه چه ددې كوتكي نه گناهونه ختميږي نو ديته تسمية الشئ باسم لازمه وائي ـ

اِذَا صَلَّيْتَ : اي بعد الفراغ من الصلوة اوفي آخر الصلاة ـ

فِعْلَ الْخَيْرَاتِ : خيرات : ما عرف من الشرع من الاقوال الحميدة والافعال السعيدة ـ ددې مقابل منكرات دي : وهي التي لم تعرف من الشرع من الاقوال القبيحة والافعال السيئة ـ هغه اقوال او افعال قبيحه چه شريعت ورته ښه نه وائي ـ

وَحُبَّ الْمَسَاكِيْنِ : دا تخصيص بعد التعميم دې ددې د اهتمام دپاره ئې جدا ذكر كړو ـ

وَالنَّاسُ نِيَامٌ : دې كارونو ته ئې درجات اووئيل څكه چه بنده دا كارونه زياتي كوي چه فرض او واجب پرې ندي نو څكه بنده ددې په كولو سره مستحق د فضل او علو الدرجات گرځي ـ بيا د رفع د درجاتو دوه مطلبه دي (۱) په دنيا كښې محبت ورسره كول او عزت ورته وركول (۲) او په آخرت كښې جنت وركول او د هغې اوچت منازل او درجات وركول ـ

درجة الحديث : اسناده صحيح من رواية ابن عباس اخرجه احمد في المسند (۱/۳۶۸) والترمذي (۳۲۳۳) (۳۲۳۴) وطريق معاذ بن جبل اخرجه احمد (۵/۳۴۳) والترمذي (۳۲۳۵) وقال : هذا حديث صحيح وسألت محمد بن اسماعيل (البخاري) عن هذا الحديث فقال : حسن صحيح ـ

---

۴۰ – وَعَنْ اَبِيْ اُمَامَةَ ﷺ، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : «ثَلَاثَةٌ كُلُّهُمْ ضَامِنٌ عَلَى اللهِ : رَجُلٌ خَرَجَ غَازِيًا فِيْ سَبِيْلِ اللهِ، فَهُوَ ضَامِنٌ عَلَى اللهِ حَتّٰى يَتَوَفَّاهُ، فَيُدْخِلَهُ الْجَنَّةَ، اَوْ يَرُدَّهُ بِمَا نَالَ مِنْ اَجْرٍ اَوْ غَنِيْمَةٍ، وَرَجُلٌ رَاحَ اِلَى الْمَسْجِدِ فَهُوَ ضَامِنٌ عَلَى اللهِ، وَرَجُلٌ دَخَلَ بَيْتَهُ بِسَلَامٍ، فَهُوَ ضَامِنٌ عَلَى اللهِ. رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ .

ترجمه : او ابو امامه رضي الله عنه فرمائي : چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل : درې

کسان داسې دي چه د هغوی الله تعالی (ددې خبرې دپاره) ذمه وار دې (چه هغوی به د دنیا او آخرت د مصیبتونو او آفاتو نه محفوظ ساتي) يو هغه شخص دې چه د الله په لاره کښې د جهاد دپاره اوځي نو په الله باندې ذمه واري ده چه يا خو به هغه ته مرګ (يعني شهادت درجه) ورکولو سره جنت ته داخل کړي يا به هغه ته ثواب او مالِ غنيمت ورکولو سره کور ته راواپس کړي (نو په اول صورت (شهادت او ثواب) کښې د هغه د دين سعادت دې او په دويم صورت (غنيمت) کښې د دنيا سعادت دې) او دويم شخص هغه دې چه (مانځه دپاره) مسجد ته لاړ شي نو الله د هغه هم ضامن دې (چه عبادت دپاره د هغه کوشش او د هغه ثواب به نه ضائع کوي) او دريم شخص هغه دې چه خپل کور کښې سلام اچولو سره داخل شي نو هغه هم د الله په ذمه وارئ کښې دې ۔ (ابوداود) ۔

تشريح : **ثَلَاثَةٌ** : تميیز ئې محذوف دې ای ثلاثة اشخاص ۔ **كُلُّهُمْ ضَامِنٌ عَلَى اللهِ** : ضمان په على سره نه متعدى كيږي خو دلته متعدى شويدې ځكه چه دا متضمن دې معنى د وجوب او محافظت لره ۔ ۲ – يا دا چه ضامن په معنى د مضمون دې لكه دافق په معنى د مدفوق يا عاصم په معنى د معصوم سره په لاعاصم اليوم من امر الله الا من رحم آيت كښې ۔ ۳ – يا دا فاعل ذو كذا دې : ضامن په معنى د ذو ضمان دې لكه تامر اولابن په معنى د ذوتمر او ذولبن سره ۔ حاصل د معنى دا دې : په الله تعالى باندې د هغه د رشتينې وعدې په تقاضا سره دا واجب دي چه هريو ددې دريو كسانو حافظت به كوي د ضرر او نا اميدئ او نقصان او آفت او ضائع كيدو نه ۔

په اول ځائې كښې ئې چه په الله باندې كومه ذمه وه هغه ئې بيان كړه چه هغه ته به د دين او دنيا داسې انعامات ملاويږي ۔ او په دويم او دريم كښې ئې چه كومه ذمه په الله باندې وه مضمون به ئې ذكر نكړو اكتفاء ئې اوكړه په ماسبق باندې ۔ يا دا چه خبره ښكاره وه چه هغه اجر او ثواب دې د مسجد ته په تلو كښې او كور كښې سلام اچولو كښې غرض دا وي چه خلقو ته د سلامتيا دعا اوكړي نو دا به الله تعالى د شرور او فتنو نه بچ كوي او اجر او ثواب به ورته وركوي او خير وبركت به وركوي ۔

بِسَلَامٍ : دوه معانى دي : ۱ – يعنى كور ته داخليدو كښې په كور والاؤ سلام واچوى نو د شيطان نه به محفوظ شي ۲ – يا په سلامتيا سره داخل شي جنګ جګړو سره داخل نشي او د سلامتيا اراده ئې وي نو الله به سلامتيا وركړي ۔ دواړه معنى صحيح دي ۔

درجة الحديث : اسناده صحيح : اخرجه ابوداود (۲٤۹٤) والحاكم في المستدرك

(٧٣/٢) والبيهقي (١٦٦/٩)۔

٤١ – وَعَنْهُ رضي الله عنه، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :« مَنْ خَرَجَ مِنْ بَيْتِهِ مُتَطَهِّرًا اِلٰى صَلَاةٍ مَكْتُوْبَةٍ، فَاَجْرُهٗ كَاَجْرِ الْحَاجِّ الْمُحْرِمِ . وَمَنْ خَرَجَ اِلٰى تَسْبِيْحِ الضُّحٰى لَا يُنْصِبُهٗ اِلَّا اِيَّاهُ فَاَجْرُهٗ كَاَجْرِ الْمُعْتَمِرِ . وَصَلَاةٌ عَلٰى اِثْرِ صَلَاةٍ لَا لَغْوَ بَيْنَهُمَا، كِتَابٌ فِيْ عِلِّيِّيْنَ ». رَوَاهُ اَحْمَدُ، وَاَبُوْدَاوُدَ .

ترجمه : او ابوامامه رضی الله عنه فرمائی چه رسول الله ﷺ اوفرمايل : څوك چه اودس كولو سره د كور نه اوځی ۔ او فرض مونځ ادا كولو دپاره مسجد ته لاړ شی نو هغه ته به دومره ثواب ملاويږی څومره چه احرام تړلو سره حج كونكی ته ملاويږی او څوك چه د چاشت (نفل) مونځ دپاره تكليف پورته كولو سره (د كور نه) اوځی (يعنی بغير د څه غرض او رياء نه خالص د چاشت مانځه په قصد سره د كور نه اوځی) نو د هغه ثواب د عمره كونكی د ثواب برابر دے ۔ او (ديو) مانځه نه بعد (د دويم) مانځه كول او ددے دواړو مونځونو درميانی وقت كښے لغو او بيهوده خبرے نه كول داسے عمل دے چه په عليين كښے ليكلے شی ۔ (احمد، ابوداود) ۔

تشريح : پدے حديث كښے د اودس تشبيه د احرام سره او د مانځه تشبيه د حج سره وركړے شويده ۔ وجه د تشبيه دا ده چه لكه څنګه حاجی د حج په اراده سره اوځی او احرام او تړی نو څه وقت چه كور نه اوځی د هغه وقت نه دده ثواب شروع شی تردے چه راواپس شی دغه شان څوك چه په كور كښے اودس اوكړی او د مانځه په اراده سره مسجد طرفته روان شی نو دده د ثواب ميټر جاری شی تردے چه كور ته راواپس شی ۔

مُتَطَهِّرًا : يعنی اودس كونكے وی ۔ د اشرط ئے ځكه اولګولو لكه څنګه چه احرام د حج دپاره شرط دے او بغير د احرام نه حج نه صحيح كيږی نو دغه شان اودس دِ مانځه دپاره شرط دے بغير د اودس نه مونځ نه كيږی ۔ بيا دا خبره ياد لرل پكار دی چه د حاجی او مصلی دواړو اجر د يو بل سره برابر ندے بلكه دلته تشبيه من بعض الوجوه ده ۔ برابری صرف پدے كښے ده چه د حاجی په هر قدم باندے يوه نيكئ ليكلے شی نو دغه شان د كورنه د اودس په حالت كښے مسجد ته تلونكی لره په هر قدم يوه نيكئ ليكلے شی

اگرچه د حاجی اجر به زیات وی ځکه هغه مونځونه هم کوی او زیات تکلیف هم تیروی مال هم لګوی ۔

۲– بعض وائی : د دواړو اجریو شان دے او پدے کښے مبالغه ده دپاره د ترغیب ورکولو مونځ کونکی ته چه چرته د جماعت نه پاتے نشی، پاخیره ستا اجر د حاجی پشان دے ۔

فائده : حدیث نه معلومه شوه چه اودس کور کښ کول سنت دی ۔

لَا يُنْصِبُهُ : ۱– دا د باب افعال نه دے ماخوذ دے د نَصِبَ نه په کسره د صاد په معنی د ستړی کیدلو سره یعنی نه ستړے کوی ده لره مګر صرف دغه مونځ یا دغه خروج الی الضحی ۔ ۲– یا دا په فتحه د یاء دے د ضرب یضرب نه په معنی د اودرولو سره (ای لا یقیمه الّا ایاه) نه راپاڅوی ده لره مګر صرف صلاة الضحیٰ ۔ الا هو پکار دے مګر ضمیر منصوب وضع شویدے په ځائے د مرفوع باندے او دا په عربی ژبه کښے په بعض اوقاتو کښے جائز دے ۔

فَاَجْرُهُ كَاَجْرِ الْمُعْتَمِرِ : ددے نه معلومه شوه چه د عمرے حیثیت او اجر په نسبت د حج داسے دے لکه د نفل مونځ حیثیت او اجر، په نسبت د فرضو باندے، نو نفل مانځه ته وتونکے داسے دے لکه عمرے ته وتونکے ۔

بیا دلته **سوال** راځی چه دے حدیث نه معلومیږی چه نفل مونځ مسجد کښے بهتر دے او بل حدیث کښے دی : افضل صلاة المرأ فی بیته الا المکتوبة ابوداود) چه کور کښے نفل مونځ بهتر دے ؟ ۔

الجواب : ۱– دا حدیث دلیل دے په جواز د نفل په مسجد کښے او په کور کښے بهتر دے نو تعارض نشته ۲– **جواب** : دا محمول دے د هغه چا په حق کښے چه د هغه کور نه وی یا ئے کور کښے څه مشغله وی مونځ ته نه وی جوړ ۔ نو دلته به معنی داسے شی : من خرج من بیته او سوقه او شغله متوجها الی صلاة الضحیٰ تارکاً اشغال الدنیا ۔ یعنی څوک چه د کور نه یا بازار نه یا د کاروبار نه اوځی او متوجه شی صلاة الضحی ته او د دنیا مشغلے پریدی، دا وجه ده چه پدے حدیث کښے ورسره د الی المسجد قید هم نشته چه مسجد طرفته لاړ شی بلکه صلاة الضحیٰ ته ځان فارغول مراد دی او دلیل پدے باندے دا دے چه رسول الله ﷺ به د سحر مانځه نه روستو تر طلوع الشمس پورے په خپل ځائے د مانځه کښے ناست وو نو دلته خو خروج رانغلو ۔ دارنګه حدیث کښے دی : من قعد فی مصلاه حین ینصرف من صلاة الصبح حتی یسبح رکعتی الضحی لا یقول الا خیرا الا غفر خطایاه ۔

نو دلته هم خروج من البيت الى المسجد ندے مراد بلکه ځان فارغول مراد دی (وفيه ما فيه فتدبر!)۔

وَصَلَاةٌ عَلٰى اِثْرِ صَلَاةٍ لَا لَغْوَ بَيْنَهُمَا، كِتَابٌ فِيْ عِلِّيِّيْنَ : يعنى ديو مونځ پسے روستو بل مونځ کول يعنى محافظت او مداومت کول داسے مقبول عمل دے چه ليکلے به شى په کتابونو د ملائك مقربون کښے۔

كتاب : نه مراد عمل مكتوب ـ فى عليين : عليين د نيك اعمالو دفتر او ديوان ته وائى چه ملائك د هغينه اعمال د ابرارو پورته کوى او په هغے کښے ليکى نو معنى دا شوه چه يو مونځ پسے بل مونځ کول چه لغوه او بے هوده کار پکښے نه وى نو دا داسے بهترين عمل دے چه ددے نه اعلىٰ او بهتر هيڅ عمل نشته او همدا مقبول عمل دے۔ عليين جمع د عِلِّيٌ ده د علو نه جوړ دے۔ او يا مفرد دے په صيغه د جمع سره۔ دے دفتر ته عليين ځکه وائى چه دا اووم آسمان ته، ددے د اکرام دپاره پورته کولے شى يا دا سبب دے د پورته والى اعلىٰ درجاتو ته۔

درجة الحديث : اسناده حسن : اخرجه احمد (٥/٢٦٨ – ٢٦٣) وابوداود (٥٥٨) واللفظ له وفى سنده القاسم ابو عبد الرحمن وفيه مقال قاله المنذرى ولكن وثقه ابن معين والعجلى ويعقوب بن سفيان والترمذى ويعقوب بن شيبة واسحاق الحربى وغيرهم فالحديث لا ينحط عن درجة الحسن۔ المرعاة (٢/٤٤٣)۔

---

٤٢ – وَعَنْ اَبِىْ هُرَيْرَةَ رضي الله عنه، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صلى الله عليه وسلم : «اِذَا مَرَرْتُمْ بِرِيَاضِ الْجَنَّةِ فَارْتَعُوْا». قِيْلَ : يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ! وَمَا رِيَاضُ الْجَنَّةِ؟ قَالَ : «اَلْمَسَاجِدُ». قِيْلَ : وَمَا الرَّتْعُ؟ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ! قَالَ : «سُبْحَانَ اللّٰهِ، وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ، وَلَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ، وَاللّٰهُ اَكْبَرُ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه : او ابو هريره رضى الله عنه فرمائى چه رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل : کله چه تاسو د جنت په باغونو ورتيريږئ نو هلته ميوه خورئ، د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه تپوس اوشو چه يارسول الله! (په دنيا کښے) د جنت باغ چرته دے؟ هغه اوفرمائيل : مسجدونه (د جنت باغونه دى) بيا تپوس اوشو يا رسول الله! ميوه خوړل څه دى؟ (يعنى په هغے کښے ميوے څنګه اوخورو) هغه اوفرمائيل : : سبحان الله والحمد لله ولا اله الا الله والله اكبر (

مسجدونو کښې ددې کلماتو ورد کول میوه خوړل دی) (ترمذیؒ)۔

تشریح : مطلب د حدیث دا دې چه کله تاسو په مساجدو کښې تیرېږئ نو دا اذکار وایئ۔ بیا ئې مساجدو ته باغونه پدې وجه اووئیل چه پدې کښې عبادت کول او مونځ کول د جنت د باغونو د حاصلیدو سبب دې۔ او بل د زړه خوشحالئ ته اشاره ده۔

فَارْتَعُوْا : د باب فتح یفتح نه مصدر ئې رَتَعًا او رُتُوْعًا دې په بوګه او سرسبز زمکه کښې څرولو ته وائي۔ بعض وائي رتع دیته وائي چه یو باغ ته لاړ شي هلته ښائسته ښائسته میوې او لذیذ څیزونه په فراخه او ډکه خیټه اوخوړلې شي او څکلې شي۔ او د نهر وغیره چکر اووهلې شي لکه باغونو ته تلونکي خلق دا کار کوي۔ بیا دا استعمالیږي د ثواب جزیل (عظیم ثواب) او ښائسته اجر ته رسیدلو په معنی۔

قِيْلَ : په دواړه ځایونو کښې د قیل قائل ابو هریره دې۔ او په ترمذی کښې د هغې تصریح موجوده ده۔ المساجد : په روایت د احمد او ترمذی کښې د مساجد په ځائې حلق الذکر راغلی دی خو دواړو کښې هیڅ منافات نشته وجه دا ده چه ریاض الجنه په مساجدو هم صادقیږي او په غیر مساجدو باندې هم دا اعم دې خو دلته ئې مساجد خاص ذکر کړل ځکه چه دا افضل دی۔ په حدیث د ابن عباسؓ کښې ئې په مجالس العلم سره تفسیر راغلې دې، او دا اختلاف د تفاسیرو بنا دې په اختلاف د احوال السائلین باندې۔

سُبْحَانَ اللهِ : رتع صرف دې ذاکارو پورې خاص ندې بلکه دا او ددې پشان تول نیک اعمال چه سبب د حصول الروضات او رفع الدرجات وی هغه پکښې داخل دی خو دلته ئې صرف دا کلمات ذکر کړل ځکه چه دا احب الکلام الی الله دی۔

درجة الحديث : اسناده ضعیف منکر : اخرجه الترمذی (۳۵۰۹) وقال حدیث حسن غریب وفیه حمید المکی مولی ابن علقمة قال البخاری وابن عدی : روی عن عطاء احادیث لم یتابع علیها وهذا احدها۔ وقال الحافظ فی التقریب : مجهول : وقال المبارکفوری فی المرعاة (۲/۴۴۳) لکن له شواهد ترتقی بها الی الصحة او الحسن انتهیٰ۔

---

۴۳ – وَعَنْهُ ﷺ، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : «مَنْ اَتَى الْمَسْجِدَ لِشَيْءٍ، فَهُوَ حَظُّهُ» . رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ .

ترجمه : او ابو هریره رضی الله عنه فرمائی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل : څوك چه

(د دين يا دنيا) ديو كار دپاره مسجد ته راځي نو هغه ته د هغينه حصه ملاوېږي ـ (ابوداود) ـ

تشريح : مطلب د حديث دا دے چه څوك مسجد ته په كوم غرض او نيت سره راځي نو همدغه به دده حصه وي يعني كه عبادت يا علم يادولو يا خودلو دپاره راشي نو د هغے ثواب به ورته ملاوېږي او كه د كوم دنيوي غرض په نيت راشي د عبادت نيت نه وي يا د ملګرو په ملګرتيا كښې بغير د قصد د عبادت نه راشي نو ددے سزا به ورته رسيږي نو پدے حديث كښې مقصود تنبيه وركول دي په تصحيح د نيت چه مسجد ته په راتلو كښې نيت برابر كړه چرته دنيوي غرض ورسره ملګرے نشي ګنے د اجر نه به محروم شے ـ نو ددے حديث مضمون د انما الاعمال بالنيات وانما لكل امرئ ما نوى پشان دے ـ

درجة الحديث : اسناده حسن : اخرجه ابوداود (٤٧٢) والبيهقي في الكبرى (٢/٤٤٧) (٣/٦٦) وقال المنذري : في اسناده عثمان ابي العاتكة الدمشقي وقد ضعفه غير واحد انتهىٰ ولكن قال الحافظ في التقريب : ضعفوه في روايته عن علي بن يزيد الالهاني انتهى، وهذا الحديث انما هو من روايته عن عمير بن هانئ العنسي لا عن علي بن يزيد الالهاني وقد وثق عثمان هذا العجلي وابوحاتم وقال ابوداود : صالح، وقال خليفة : كان ثقة كثير الحديث ـ قال المباركفوري في المرعاة (٢/٤٤٤) فحديثه لا ينحط عن درجة الحسن ويقويه حديث : انما لكل امرئ ما نوى الخ انتهى ـ

---

٤٤ – وَعَنْ فَاطِمَةَ بِنْتِ الْحُسَيْنِ، عَنْ جَدَّتِهَا فَاطِمَةَ الْكُبْرٰى، رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا، قَالَتْ : كَانَ النَّبِيُّ ﷺ اِذَا دَخَلَ الْمَسْجِدَ صَلّٰى عَلٰى مُحَمَّدٍ وَسَلَّمَ، وَقَالَ : « رَبِّ اغْفِرْ لِيْ ذُنُوْبِيْ، وَافْتَحْ لِيْ اَبْوَابَ رَحْمَتِكَ » . وَاِذَا خَرَجَ صَلّٰى عَلٰى مُحَمَّدٍ وَسَلَّمَ، وَقَالَ : « رَبِّ اغْفِرْ لِيْ ذُنُوْبِيْ، وَافْتَحْ لِيْ اَبْوَابَ فَضْلِكَ » . رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَاَحْمَدُ، وَابْنُ مَاجَه. وَفِيْ رِوَايَتِهِمَا، قَالَتْ : اِذَا دَخَلَ الْمَسْجِدَ، وَكَذَا اِذَا خَرَجَ، قَالَ : « بِسْمِ اللّٰهِ، وَالسَّلَامُ عَلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ »، بَدَلَ : صَلّٰى عَلٰى مُحَمَّدٍ وَسَلَّمَ . وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ : لَيْسَ اِسْنَادُهُ بِمُتَّصِلٍ، وَفَاطِمَةُ بِنْتُ الْحُسَيْنِ لَمْ تُدْرِكْ فَاطِمَةَ الْكُبْرٰى.

ترجمه: فاطمه بنت حسينؒ د خپلے نيا فاطمه كبرىٰ (زهرا) رضي الله عنها نه روايت كوى فرمائى چه نبى كريم ﷺ به كله مسجد ته تشريف راوړ نو په محمد (ﷺ) به ئے درود او سلام وئيلو (يعنى اللهم صل على محمد به ئے وئيلو) او بيا به ئے دا دعاء كوله: رب اغفر لى ذنوبى وافتح لى ابواب رحمتك: يعنى: اے زما ربه! زما گناه اوبخښه او زما دپاره د خپل رحمت دروازے كولاوے كړه ـ او كله چه به مسجد نه بهر راوتو نو بيا به ئے په محمد (ﷺ) باندے درود او سلام ليږلو او دا دعاء به ئے لوستله: رب اغفر لى ذنوبى وافتح لى ابواب فضلك يعنى: اے زما ربه! زما گناه اوبخښه او ما دپاره د خپل فضل دروازے كولاوے كړه ـ دا روايت ترمذى، احمد، ابن ماجه نقل كړيدے او د احمد او ابن ماجةؒ په روايت كښے دا الفاظ دى: (فاطمه فرمائى چه) رسول الله ﷺ به كله مسجد ته داخليدو او دغه شان كله به چه بهر راوتو نو د صلى على محمد وسلم په ځائے به ئے دا الفاظ وئيل: بسم الله والسلام على رسول الله ـ يعنى: زه د الله په نوم سره داخليږم او وځم) او سلام دے وى په رسول الله ﷺ باندے ـ امام ترمذى فرمائى چه ددے حديث سند متصل نه دے ځكه دحسينؒ لور فاطمهؒ د فاطمه زهراءؓ بنت رسول الله ﷺ زمانه نده موندلے (او نه د هغه سره ملاؤ شويده) ـ

تعارف د فاطمه بنت الحسين بن على بن ابى طالب ـ دا د فاطمے او على نمسئ ده او د حسينؓ لور ده، هاشميه قريشيه مدنيه ده دا د خپل تره ځوى حسن بن الحسن بن علىؓ په نكاح كښے وه بيا تر ے هغه وفات شو نو عبد الله بن عمرو بن عثمان بن عفان په نكاح واخسته دا ثقه تابعيه ده د خپل پلار او دخپل ورور زين العابدين شاگرده ده ددے روايت د فاطمه الزهراء نه مرسل دے ځكه دا د خپلے نيا فاطمے كبرى سره نده ملاؤ شوے ـ د سلم (۱۰۰) هجرى نه پس وفات شويده بنه بوډئ شويده ـ ابن حبان په ثقاتو كښے ذكر كړيده او دا ئے وئيلى دى چه نوى كالو ته نزدے شوے وه او د بخارى كتاب الجنائز كښے راغلى دا هغه زنانه ده چه كله ددے خاوند حسن بن الحسن وفات شو نو دے د هغه په قبر باندے خيمه اووهله ـ

فاطمة الكبرىٰ: دا فاطمة الزهراء د رسول الله ﷺ لور ده، مورئے خديجة الكبرىٰ ده او دا ئے په ټولو لونړو كښے كشره ده، ددے فضيلت دا دے چه دا ددے امت د زنانو سرداره ده [وفاطمة سيدة نساء اهل الجنة] ـ به وى، د رمضان په مياشت كښے په دويم هجرى علىؓ بن ابى طالب په نكاح واخسته او په ذى الحجه كښے ئے ورسره واده اوكړو، د نكاح په ورځ

ئې عـمـر پـنـځـلـس كـالـه پنځه مياشتې او پنځلس ورځې وو ـ د علیؓ نه ئې حسن، حسين، محسن، زينب، ام كلثوم، رقيه پيدا شويدي او په مدينه كښې د نبي عليه السلام د وفات نه شپږ مياشتې روستو وفات شوه بعض وائي : درې مياشتې روستو ـ او اوه ويشت (۲۷) كاله عمرئې وو يا اته ويشت كاله او د نبي عليه السلام په آل كښې اول دا وفات شوه ـ علی او اسماء بنت عميس ورته غسل وركړو او علیؓ پرې جنازه اوكړه او د شپې دفن شوه ـ ددې دير فضائل په احاديثو كښې راغلي دى ـ

تشريح : اِذَا دَخَلَ الْمَسْجِدَ : يعني كله چه به مسجد ته د داخليدو اراده اوكړه نو د امت د تعليم او تشريع دپاره به ئې په خپل ځان باندې صلاة او سلام وئيلو ـ دارنګه په هغه باندې هم دا لازم وه چه په ځان به ايمان راوړي او د ځان تعظيم به كوي لكه چه دا د باقي امت نه هم مطلوب دى ـ بيا پدې وقت كښې په رسول الله ﷺ باندې صلاة او سلام ولې وئيلې شي ؟ نو وجه دا ده چه مسجد ته داخليدل او رابهر كيدل ددې سبب نبي عليه السلام دې ځكه چه هغه نه وې نو مونځونه به چرته وو نو د هغه د رسالت په وجه انسان ته دير خير اورسيدو نو پكار ده چه د هغه تذكره په خير سره اوكړې شي دې دپاره چه د هغه شكريه اداء كړې شي ـ

درجة الحديث : اسناده ضعيف : اخرجه احمد (۲۸۲/٦) والترمذى (٣١٤) وقال حديث حسن وليس اسناده بمتصل وفاطمة بنت الحسين لم تدرك فاطمة الكبرى وفى سنده ايضاً ليث بن ابى سليم وهو ضعيف قال الحافظ : صدوق اختلط اخيراً فلم يتميز حديثه فترك وانما حسن الترمذى هذا الحديث مع اعترافه بعدم اتصاله لان الترمذى قد يحسن الحديث مع ضعف الاسناد للشواهد فحديث فاطمة هذا حسنه لان له شواهد يرتقى بها درجة الحسن وانظر تلك الشواهد فى ابن ماجه (۷۷۱) و (۷۷۲) و (۷۷۳) وقال الالبانى فى صحيح الترمذى (٣١٤) اسناده صحيح وكذا فى ابن ماجه (۷۷۱) ـ

---

٤٥ – وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ اَبِيْهِ، عَنْ جَدِّهٖ ؓ، قَالَ : نَهٰى رَسُوْلُ اللهِ ﷺ عَنْ تَنَاشُدِ الْاَشْعَارِ فِى الْمَسْجِدِ، وَعَنِ الْبَيْعِ وَالْاِشْتِرَاءِ فِيْهِ، وَاَنْ يَّتَحَلَّقَ النَّاسُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ قَبْلَ الصَّلَاةِ فِى الْمَسْجِدِ . رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ وَالتِّرْمِذِىُّ .

ترجمه : او عمرو بن شعيب د خپل والد نه او هغه د خپل نيکه نه روايت کوي چه رسول الله ﷺ په مسجد کښې د اشعارو وئيلو، اخستل خرڅولو او د جمعې په ورځ د مانځه نه مخکښې د خلقو حلقه جوړولو سره ناستې نه منع کړيده (برابره ده که دا حلقه جوړول د مذاکره د علم يا ذکر او تسبيح دپاره وي) (ابوداود، ترمذي).

تشريح : تَنَاشُدِ الْاَشْعَارِ مناشده په اصل کښې د يو بل سره په اشعارو کښې مقابله کولو ته وائي : يعنې په مسجد کښې ئې د اشعارو وئيلو نه منع کړيده . د اشعار وئيلو نه مراد مذموم اشعار دي چه په هغې کښې لغوه او باطل او دروغ او بې حقيقته خبرې وي او بيا د زنانو بې حياء خبرې وي نو پدې کښې د مسجد بې ادبي ده ځکه مسجد د الله تعالى د عبادت ځائې دې پدې کښې د شريعت خلاف خبرې بيانول مناسب ندي پدې وجه منع اوشوه ۲ – يا ددې اشعارو نه مراد هغه اشعار دي چه په هغې کښې مباهات او يو بل باندې فخر وي او څه ديني فائده پکښې نه وي .

او هر چه هغه اشعار دي چه په هغې کښې د حق او هل حقو مدافعت وي او د کافرانو – اسلام دشمنانو – مبتدعينو بدي او عيبونه وي او د هغوي خړ کول مقصد وي نو د هغې لوستل منع ندي ځکه چه دا قسم اشعار به د رسول الله ﷺ مخامخ د هغه په منبر باندې حسان بن ثابت او عبد الله بن رواحه وغيره لوستل ځکه چه نبي عليه السلام ته د هغوي صحيح غرض معلوم وو چه هغه د دين مدافعت دې پدې وجه نبي عليه السلام به حسان رضی الله عنه ته فرمائيل : اللهم ايده بروح القدس . وفي حديث عائشة رضی الله عنها : كان النبي ﷺ ينصب لحسان منبراً في المسجد فيقوم عليه ويهجو الكفار.

۳ – يا ددې نه مراد ډير والې د اشعارو دې چه غلبه ورکړې شي په تلاوت وغيره باندې يا په مسجد کښې ډير شور شرغب جوړ شي نو دا کار به منع وي .

وعن البيع والشراء الخ : دا حديث دليل دې چه په مسجد کښې خريد وفروخت حرام دي . بيا به آيا دغه بيع ماتولې شي او که نه ؟ .

۱ – **نو اکثر اهل علم** وائي – بلکه عراقي وائي پدې اجماع ده – چه کومه بيعه په مسجد کښې منعقد شي نو هغه به نشي ماتولې .

۲ – **امام احمد** وائي : كما نقل في الاقناع عن احمد : چه دا بيع باطله ده ځکه نهي راغلې ده او منهي عنه بيع باطله وي . كما نقل في الاقناع عن احمد : يحرم في المسجد البيع والشراء والاجارة فان فعل فباطل الخ توضيح الاحكام (۱/۵۸۳).

فائده : مسجد كښې متنبي، حماسه، سبع معلقه وغيره وئيل څه حيثيت لري؟ : نو د شريعت دا اصول دي چه مصلحت ته به كتلې شي او اعمال په نيتونو باندې دي نو كه د يو انسان نيت ددې كتابونو په وئيلو سره خوند حاصلول وي او عشقي اشعارو نه بد اثر اخستل وي نو بيا به دا كار ګناه وي او كه چرې ددې د وينا نه مقصد په عربيت كښې مهارت حاصلول وي او د جاهليت د زمانې په اشعارو باندې استشهاد كولو دپاره يادولې شي نو بيا به ان شاء الله چه الله تعالى پرې اجر انسان ته وركوي لكه ابوبكر صديق او عائشه او عبد الله بن رواحه او حسان بن ثابت وغيره ته د جاهليت د زمانې د شاعرانو ډير زيات اشعار ياد وو چه كله ناكله د هغې تذكره به ئې كوله او دا د شريعت قانون دې چه: العبرة للمقاصد لا للالفاظ ـ

تنبيه : دا بيع شامله ده ديني رسائل او كتابونو ته هم چه دا به هم په مسجد كښې خرڅول اخستل حرام وي ـ

وَاَنْ يَتَحَلَّقَ النَّاسُ الخ: يعني د جُمعې د مانځه نه مخكښې حلقه كيناستل منع دي يا ډيرې حلقې جوړول اګر كه د علم د مذاكرې دپاره وي وجه دا ده چه ډير كرتې دا سبب ګرځي د قطع الصفوف دپاره حال دا چه خلقو ته دا حكم شويدې چه مسجد ته وختى راشي او په اول صفونو كښې نزدې نزدې كيني ـ دارنګه دا د اجتماع المصلين د هيئت مخالف دې دارنګه د جُمعې ورځ عظيم شان لري نو پدې ورځ به د مانځه د فراغت نه مخكښې د بل هيڅ شي دومره اهتمام نكوي څومره چه د مانځه اهتمام كوي او پدې كار سره غفلت پيدا كيږي ـ او د مانځه نه پس كه د علم وغيره دپاره حلقه كيني نو خير دې ـ

درجة الحديث : اسناده حسن اخرجه ابوداود (۱۰۷۹) والترمذى (۳۲۲) وقال حديث حسن : والنسائى (۲/۴۸) وابن ماجه (۷۴۹) (۱۱۳۳) وابن خزيمة (۱۳۰۴) (۱۳۰۶)ـ

---

۴۶ - وَعَنْ اَبِىْ هُرَيْرَةَ ﷺ، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : «اِذَا رَاَيْتُمْ مَنْ يَبِيْعُ اَوْ يَبْتَاعُ فِى الْمَسْجِدِ فَقُوْلُوْا : لَا اَرْبَحَ اللهُ تِجَارَتَكَ . وَاِذَا رَاَيْتُمْ مَنْ يَنْشُدُ فِيْهِ ضَالَّةً فَقُوْلُوْا : لَا رَدَّ اللهُ عَلَيْكَ». رَوَاهُ التِّرْمِذِىُّ، وَالدَّارِمِىُّ .

ترجمه : او ابو هريره رضى الله عنه فرمائى چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل : كله چه

تاسو په مسجد کښې څوك اووينئ چه خرڅول اخستل کوی نو دا ورته اووايئ : چه الله دې ستا په سوداګرئ کښې نفع درنکړی ـ او کله چه تاسو (په مسجد کښې) څوك اووينئ چه په اوچت آواز سره د ورك شوی څيز تلاش کوی نو ورته اووايئ : الله دې تا ته دا ملاؤ نکړی ـ (ترمذیؒ، دارمیؒ) ـ

تشريح : مَنْ يَبِيْعُ اَوْ يَبْتَاعُ : دلته ئې مفعول ندې ذکر کړې چه څه شې خرڅ کړی یا واخلی ـ دې دپاره چه عموم پکښې راشی هر شی ته شامل شی نو قرآن شريفونه، کتابونه، تسبيح، مسواکونه، عطر وغيره په مسجد کښې خرڅول حرام دی ـ

لَا اَرْبَحَ اللّٰهُ تِجَارَتَكَ : ای لا جعل الله تجارتك ذات ربح ـ يعنی ستا په تجارت کښې دې الله تعالی نفع او ګټه درنکړی ـ

ضَالَّة : ورك شوې شې ـ

درجة الحديث : اسناده صحيح على شرط مسلم، اخرجه الدارمی (۱/۳۲۶) والترمذی (۱۳۲۱) وقال حسن غريب، وابن خزيمة (۱۳۰۵) والحاكم (۲/۵۶) وقال صحيح على شرط مسلم واقره الذهبیؒ ـ

۴۷– وَعَنْ حَكِيْمِ بْنِ حِزَامٍ ﷛، قَالَ : نَهٰی رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اَنْ يُّسْتَقَادَ فِی الْمَسْجِدِ، وَاَنْ يُّنْشَدَ فِيْهِ الْاَشْعَارُ، وَاَنْ تُقَامَ فِيْهِ الْحُدُوْدُ . رَوَاهُ اَبُوْدَاوٗدَ فِیْ سُنَنِهٖ، وَصَاحِبُ جَامِعِ الْاُصُوْلِ فِيْهِ عَنْ حَكِيْمٍ، وَفِی الْمَصَابِيْحِ عَنْ جَابِرٍ .

ترجمه : او حکيم بن حزام رضی الله عنه فرمائی : چه رسول الله ﷺ په مسجد کښې د قصاص اخستو او اشعار لوستلو او (زناکولو، شراب څکلو وغيره) حدود قائمولو نه منع فرمائيلې ده ـ (ابوداودؒ) ـ او دا روايت صاحب د جامع الاصول (په خپل کتاب) جامع الاصول کښې د حکيمؓ نه (يعنی بغير د لفظ د حزام نه) روايت کړيدې ـ دارنګه دا روايت په مصابيح کښې د جابرؓ نه منقول دې (او دا په اصولو کښې ندې موجود) ـ

تعارف د حکيم بن حزام دا حکيم بن حزام بن خويلد بن اسد بن عبد العزی القرشی الاسدی ابو خالد المکی ـ د خديجه ام المؤمنين وراره دې د واقعة الفيل نه ديارلس کاله مخکښې پيدا شويدې، په فتح د مکه کښې ئې ايمان راوړيدې او دا په مؤلفة القلوب کښې داخل وو د حنين په غنيمتونو کښې رسول الله ﷺ ورته سل اوښان ورکړل، ډير

مـزيـدار مسلمان وو او د قريشو د سادات او اشرافونه وو په جاهليت او اسلام كښې او دا ډير عـاقل فاضل، متقي، جواد وو سل غلامان ئے په جاهليت كښے ازاد كړى وو او د غه شان په اسلام كښے هم ـ كـلـه چـه اسلام راغلو دار الندوه دده په لاس كښے وه نو روستو ئے په معاويه باندے په ايك لاكهه درهم خرڅه كړه ـ ابن الزبير ورته اووئيل : (بعت مكرمة قريش) د قـريشـو د عـزت سبب دے خرڅ كړو هغه اوفرمائيل : ذهبت المكارم الا التقوىٰ ـ ددے په عـوض كښے ما په جنت كښې كور واخستو تاسو گواه شئ چه ما دا دراهم د الله په لار كښے وقف كړے او دا په علم نسب باندے ډير عالم وو ـ په مدينه كښے په خپل كور كښے په سنه (٥٤هـ) د يـو سـل شـل كـالـه پـه عمر وفات شويدے، شپيته په جاهليت كښے او شپيته په اسلام كښے ـ ځلويښت احاديث ترے نقل دى ـ

تشريح : يُسْتَقَادَ فِي الْمَسْجِدِ: صـيـغـه مجهول ده اى يطلب القود اى القصاص ـ يعني مسجد كښے قصاص واخستے شي ـ

فِيْهِ الْاَشْعَارُ : يـعـنـى قبيح او مذموم اشعار وئيل په مسجد كښے حرام دى بهر هم بے ضرورته قبيح اشعار وئيل حرام دى خو مسجد كښے په طريق اولىٰ بے ادبى ده ـ

وَاَنْ تُقَامَ فِيْهِ الْحُدُوْدُ : يعنى باقى حدود او دا تعميم بعد التخصيص دے يعنى هغه حـدود چـه د الله پـورے مـتـعـلـق وى يا د انسان پورے او دا ځكه منع شو چه پدے كښے بے حرمتى د مسـجـد ده دارنـګـه د مسجد ګنده كيدو خطره ده ـ بلكه دا چه مسجد د مانځه، ذكر، تلاوت دپاره دے نه د حدود قائمولو دپاره ـ او ددے حكمت دا دے چه په حدود قائمولو كښے شور او اوچت آوازونه او مسجد په وينه وغيره ګنده كيدو امكان دے او كه په مسجد كښـے حـد قـائـم شـو نـو دوبـاره بـه نشى قائمولے ځكه مقصد په حد قائمولو كښے زجر (د خلقو منع كول) وى او هغه حاصل شو ـ توضيح الاحكام (١/٥٨٥)ـ

درجة الحديث : اسـنـاده صـحيـح : اخـرجـه احمد (٣/٤٣٤) وابوداود (٤٤٩٠) والـطـبـرانـى فـى الكبير (٣/٢٢٨) رقم (٣١٣٠) والدارقطنى (٣/٨٥رقم : ١٢) والبيهقى فى الكبرى (٨/٣٢٨) ـ وفى المصابيح عن جابر : اخرجه الترمذى تعليقا ـ

---

٤٨ – وَعَنْ مُعَاوِيَةَ بْنِ قُرَّةَ، عَنْ اَبِيهِ ، اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ نَهٰى عَنْ هَاتَيْنِ الشَّجَرَتَيْنِ – يَعْنِي الْبَصَلَ وَالثُّوْمَ – وَقَالَ :«مَنْ اَكَلَهُمَا فَلَا يَقْرَبَنَّ مَسْجِدَنَا »۔

وَقَالَ : «إِنْ كُنْتُمْ لَابُدَّ آكِلِيهِمَا، فَأَمِيتُوهُمَا طَبْخًا». رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ .

ترجمه : او معاويه بن قرةؓ د خپل والد نه روايت كوى چه رسول الله ﷺ ددے دوه ونو – يعنى پياز، او اوگے – (خوړلو) نه منع كړيده او وے فرمائيل : چه څوك دا اوخورى هغه دِے زمونږ (يعنى مسلمانانو) مسجد ته نزدے نه راځى دارنگه وے فرمائيل : چه كه تاسو دا ضرور خورئ نو په پخولو سره د هغے بدبوئى لرے كړئ (او بيائے خورئ) (ابوداود)۔

تعارف د : معاويه بن قره بن اياس بن هلال المزنى ابو اياس المصرى ثقه عالم دے د اوساط التابعين نه ۔ وثقه ابن معين والنسائى والعجلى وابو حاتم وابن سعد وذكره ابن حبان فى الثقات وقال : كان من عقلاء الرجال مات سنه (۱۱۳ هـ) وهو ابن (۷٦) سنه ۔

عَنْ أَبِيْهِ : قره بن اياس بن هلال بن رباب المزنى ابو معاويه البصرى جد اياس بن معاويه القاضى دا صحابى دے ۔ ابن عبد البر وائى : په بصره كښے اوسيدو صرف څوى ترے روايت كوى، د معاويه بن يزيد بن معاويه په زمانه كښں د ازارقه په جنگ كښے د عبد الرحمن بن عبيس په ملگرتيا كښے قتل شويدے په سنه (٦٤) كښے ۔ ابن سعد وائى : خندق ته هم حاضر شويدے (۲۲) احاديث ترے نقل دى ۔

تشريح : **هَاتَيْنِ الشَّجَرَتَيْنِ** : ذكر د شجرتين دے او ددے په معنى كښے هر بدبويه بوټے دے لكه گندنه، مولئ وغيره ۔

مَسْجِدَنَا : پدے كښے د نبى عليه السلام د مسجد تخصيص نشته بلكه نا ضمير نه مراد د مسلمانانو مساجد دى ۔

مَنْ أَكَلَهُمَا : دا جمله بيان دے د مخكنئ جملے دپاره يعنى څوك چه دا بوټى اوخورى نو زمونږ مسجد ته دِے نزدے نه راځى خو دے سره دا شرط دے چه دا بد بوئى زائله نشى او كه بد بوئى زائل كړى د خوگے په خوړلو سره يا په پخولو سره يا بل څه دوائى استعمالولو سره نو بيا به دا حرمت نه وى ۔

او باقى تشريح مخكښے تيره شويده ۔

درجة الحديث : اسناده صحيح : اخرجه احمد فى المسند (۱۹/٤) وابوداود (۳۸۲۷) والنسائى فى الكبرى على ما ذكره المزى فى تحفة الاشراف (۲۸۱/۸) رقم (۱۱۰۸۰) ۔

۴۹ – وَعَنْ اَبِیْ سَعِیْدٍ ﷺ، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : « اَلْاَرْضُ كُلُّهَا مَسْجِدٌ اِلَّا الْمَقْبُرَةَ وَالْحَمَّامَ » . رَوَاهُ اَبُوْدَاوٗدَ، وَالتِّرْمِذِیُّ، وَالدَّارِمِیُّ .

ترجمه : او ابو سعيد رضی الله عنه فرمائی چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل : مقبره او حمام نه علاوه توله زمکه مسجد دے (چه هر ځائے مونځ کولے شی) (ترمذیؒ، دارمیؒ) ۔

تشریح : مطلب دا دے چه د زمکے هره حصه کښے مونځ جائز دے بغیر د څه کراهت نه ۔ **اِلَّا الْمَقْبُرَةَ** : په باء باندے دریے واړه حرکات وئیل جائز دی : مقبره هر هغه ځائے دے چه هلته یو قبر وی یا ډیر قبرونه وی دمؤمنانو قبرونه وی او که د کافرو وی ۔

مقبره کښے د مانځه نه نهی پدے وجه اوشوه چه په قبرونو کښے مونځ کول سبب ګرځی د تعظیم د صاحبِ قبر چه هغه شرک دے یا مفضی کیږی شرك ته ځکه چه د هغه سړی په قبر باندے شرك کول چه په هغه باندے د صلاحیت او ولایت عقیده لرلے شی زیات اثر ناك دی د هغه شرك نه چه په کاڼرو بوتو کښے وی ددے فساد د ختمولو دپاره نبی علیه السلام منع اوکړه په مطلق مقبره کښے اګرکه مونځ کونکے د دغه ځائے د برکت خیال هم نه لری او که مونځ کونکے پدغه ځائے کښے د مانځه په وجه د حصول د برکت عقیده لری نو دا خو عین شرك دے او د الله او د رسول الله سره اعلان جنګ دے ۔

او ددے وجه نجاست ندے ځکه چه د انبیاؤ قبرونه خو د تولو ځایونو نه ډیر پاك دی معلومه شوه چه دا نهی صرف د قبر ځائے پورے منحصره نده بلکه هر هغه ځائے ته شامله ده چه د هغه نسبت دے قبر ته وی یا په مقبرے سره مسمّٰی وی ۔

مسئله : پدے کښے **اختلاف** دے چه په **مقبره** کښے **مونځ جائز** دے او که نه ؟ ۔

۱ – **قول اول** دا دے چه مقبره کښے مونځ ندے جائز برابره ده که په قبر دپاسه وی یا د قبرونو مینځ کښ وی یا یو مکان وی چه د مانځه دپاره تیار شوے وی لکه کوټه وغیره او برابره ده که قبرونه هوار شوی وی او که نه وی یا د بره پرے څه شے خواره شی چه د نجاست نه ئے ساتی او که څه شے پرے نه وی خواره ۔ او قبرونه د مؤمنانو وی او که د کافرانو وی پدے ټولو صورتونو کښے مونځ ندے جائز او دا قول د امام احمد او اهل ظاهرو دے ۔ استدلال کوی په ظاهر ددے حدیث باندے او دا صاحب د مرعاة (۴۴۹/۲) راجح ګنړلے دے ابن حزمؒ فرمائی : احادیث النهی عن الصلاة فی المقبرة متواترة لایسع احد ترکها انتهی ۔

۲- **بعض** وائي : نهی د سد الذريعه دپاره شويده چه عبادت د قبرونو والا رانشي وهو قول غير واحد من المحققين ـ

شيخ الاسلام ابن تيمية فرمائي : عموم كلامهم يوجب منع الصلاة عند قبر واحد وهو الصواب ـ يعني د علماؤ عام كلام دا ثابتوي چه د هيڅ يو قبر په خوا کښې مونځ ندے جائز او دا حقه خبره ده ـ

بعض وائي : ددے نه د جنازے مونځ مستثنیٰ دے چه هغه په مقبره کښې نبي عليه السلام کړيدے ځکه چه په هغې کښې مړی ته دعاء کول دی او رکوع او سجده او خکته پورته کيدل نشته نو د عباد القبور سره مشابهت نشته ـ

ليکن دا خبره غلطه ده ځکه چه په حسن حديث کښې ترے منع راغلے ده : نهى رسول الله ﷺ عن صلاة الجنازة بين القبور ـ اورده الهيثمي في مجمع الزوائد (۲/۲۷) ورجاله رجال الصحيح واحكام الجنائز للالباني ص (۲۱۱) .

فائده : د قبرونو په خوا کښې د مانځه نه نهي راغلے ده ددے په حکم کښې هر هغه مکان دے چه په هغې کښې داسے څيزونه وی چه په هغې کښې خطره وی چه د هغې تعظيم مفضي کيږي عبادت د هغه ته لکه د بتانو يا تصاويرو په خوا کښې او يا په ګيرجو کښې مونځ کول شو ـ چه تصاوير پکښې وی اوکه نه وی نو بيا جائز دی کما في البخاري ـ

وَالْحَمَّام : اول ميم مشدد دے حمام : هغه ځائے ته وائي چه په هغې کښې په ګرمو اوبو سره غسل کولے شي ماخوذ دے د حميم نه ګرمو اوبو ته وائي ـ بيا مطلق غسل خانے ته وائي ـ او حمام کښې مونځ ندے جائز برابره ده که نجس مکان وی او که نظيف عملا باطلاق الحديث وهو قول احمد ـ او بعض وائي که پاک ځائے کښې اوشي نو جواز لري ـ

علت د نهي په بعض رواياتو کښې راغلے دے چه : الحمام بيت الشيطان ـ ځکه پدے کښې عورت ښکاره کولے شي د ګندګئ ځائے دے ـ

او د حمام په حکم کښې هر هغه شيطاني مکان دے چه په هغې کښې ګانے بجانے وئيلے شي فلمي ستوډيو وی، ميوزك سنټر وی او غلطے لوبے پکښې کيږي يا چرس خانه وی نو پداسے مقاماتو کښې به عبادت د الله نشي کولے ـ پدے کښې د الله تعالى بے ادبي راځي ـ

شيخ الاسلام فرمائي : مونځ په هر هغه مکان کښې چه تصاوير پکښې وی مکروه دے او دا ډير حقدار دے په کراهت سره د حمام نه ځکه چه حمام کښې کراهت پدے وجه دے چه دا مقام د ګمان د نجاست دے يا ددے وجے نه چه دا د شيطان کور دے او هر چه د تصاويرو

ځائے دیے نو دا مقام د گمان د شرك دیے ۔ انظر توضيح الاحكام (۱/۱ ۵۰)۔

درجة الحديث : اسناده صحيح اخرجه الشافعي في الام (۱/۹۲) والدارمي (۱/۳۲۳) وابوداود (۴۹۲) والترمذی (۳۱۷) وابن ماجه (۷۴۵) وابن حبان في صحيحه (۳۳۸) والحاكم (۱/۲۵۱) وقال صحيح على شرط البخاری ومسلم واقره الذهبي وقد اخطأ الشيخ البسام في توضيح الاحكام فقال : الحديث ضعيف وذلك للاختلاف في وصله وارساله فرواه حماد موصولا ورواه الثوری مرسلا ورواية الثوری اصح واثبت قال الدارقطني المحفوظ المرسل ورجحه البيهقي انتهى لكن الحديث له طرق خالية من هذه العلة ، على ان الحديث صححه جماعة من المحققين (ابن حبان والحاكم والذهبي وابن تيمية) واشار البخاری الى صحته في جزء القرائة وصححه الالباني في صحيح سنن ابی داود (۴۹۲)۔

۵۰– وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ : نَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اَنْ يُّصَلّٰى فِيْ سَبْعَةِ مَوَاطِنَ : فِي الْمَزْبَلَةِ، وَالْمَجْزَرَةِ، وَالْمَقْبُرَةِ، وَقَارِعَةِ الطَّرِيْقِ، وَفِي الْحَمَّامِ، وَفِيْ مَعَاطِنِ الْاِبِلِ، وَفَوْقَ ظَهْرِ بَيْتِ اللّٰهِ . رواه الترمذی، وابن ماجه .

ترجمه : او ابن عمر رضی الله عنه فرمائی چه رسول الله ﷺ په اوه ځایونو کښے د مانځه کولو نه منع فرمائیلے ده ۔ (۱) چرته چه نا پاك څیزونه ارتولے شی (یعنی ډیران) ۔ (۲) چرته چه حیوانات ذبح کیږی ۔ (۳) مقبره (٤) د لارے په مینځ کښے ۔ (۵) په حمام کښے ۔ (٦) د اوښانو د بندولو ځائے ۔ (۷) د خانه کعبے چت باندے ۔ (ترمذیؒ ، ابن ماجهؒ) ۔

تشريح : يُصَلّٰى : صیغه د مجهول ده یعنی چه مونځ اوکړے شی ۔

وَالْمَقْبُرَةِ : د باء فتحه او ضمه دواړه جائز دی ۔

مزبله : مجزره، مقبره درے واړه صیغے د اسم ظرف دی ځائے د خوشیانو (ډیران)، ځائے د حلالو د حیوناتو او ځائے د قبرونو ۔ زبل : سرجین او خوشیانو گندونو ته وائی ۔

مَعَاطِنِ الْاِبِلِ : مَعَاطِن جمع د معطن ده د اوبو په خوا کښے د اوښانو کیناستو ځائے ته وائی ۔ په ډیران او قصاب خانه کښے ځکه مونځ ندے جائز چه غالبا پداسے ځایونو کښے گندگی خوره وی او اگرکه په هغے کښے صفا ځائے هم ملاؤ شی نو بیا به هم مونځ نکوی ځکه چه پدے کښے د دین سپکاوے دے ۔

او په معاطن الابل (د اوښانو پنغاړے) کښې مونځ ځکه ندے پکار چه یو خو حدیث کښې ددے علت ذکر دے چه اوښان د شیطانانو نه دی کما فی حدیث ابی داود ۔ او په روایت د ابن مغفل کښې دی : فانها خلقت من الجن الا ترون الی عیونها وهیئاتها اذا نفرت ۔ او نبی علیه السلام دا منع کړیده : لا تصلوا فی اعطان الابل (احمد، ترمذی) ۔

۲- دویم دا چه اوښانو کښې ډیر نفرت وی او جنی اخلاق لری پدے وجه ددے نه یره کیدے شی نو مونځ کونکے په خطره کښې وی، یکسوئی او توجه ئے خرابیږی بناء پدے باندے که اوښان په خپل پنغاړی کښې نه وو نو جائز به وی لیکن اوله خبره بهتره ده چه دا محل د شیاطین دے ۔

قَارِعَةُ الطَّرِيْقِ : د لارے په مینځ کښې مونځ ځکه منع دے چه هلته د خلقو په راتلو سره د انسان ذهان خرابیږی او خلقو ته هم تکلیف رسیږی په لاره بندولو سره ۔

وَفَوْقَ ظَهْرِ بَيْتِ اللهِ : د بیت الله دپاسه مونځ بے احترامی د کعبے ده ۔

۱- **د امام احمد** بن حنبل مشهور مذهب دا دے چه د بیت الله دپاسه مونځ کول ممنوع دی ۔ ۲- **قول ثانی** جمهور اهل علم وائی : فرض او نفل تول پرے جواز لری ۔ ابن قدامهٔ وائی : الصحیح جواز الصلاة فیها لعموم (جعلت لی الارض مسجدا وطهورا) ۔

۳- **امام شافعیؒ** وائی : د کعبے دپاسه مونځ به هله باطل وی کله چه مخے ته ستره نه وی او که ستره وه نو بیا جائز دے ۔

مسئله : ۱- **د امام احمد** او د هغه د اتباعو په نیز ددے اووه ځایونو کښې مونځ منع دے دلیل ئے دا حدیث دے ۔ ۲- **ائمه ثلاثه** وائی : پدے کښې مونځونه جواز لری سیوا د مقبرے او د اوښانو پنغاړے او بیت الخلاء او حمام نه ځکه چه صحیح احادیثو سره مستثنیٰ دی او باقی ځیزونو کښې که پاك ځائے ملاویږی نو مونځ جائز دے ۔

دلیل : جعلت لی الارض مسجدا وطهورا الحدیث : او پاتے شو دا حدیث الباب نو دا ضعیف دے قابل د حجت ندے ۔

درجة الحدیث : اسناده ضعیف جداً : اخرجه الترمذی (۳۴۶) وقال اسناده لیس بالقوی وابن ماجه (۷۴۶) وفی اسناده ابو صالح کاتب اللیث وهو ضعیف وکذلك زید بن جبیرة متروك (قاله الحافظؒ) قال البخاری : منکر الحدیث وقال ابن عبد البر : اجمعوا علی ضعفه ۔ انظر توضیح الاحکام (۱/۱ ۵۰) ۔

٥١– وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ ﷺ، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : «صَلُّوْا فِيْ مَرَابِضِ الْغَنَمِ، وَلَا تُصَلُّوْا فِيْ اَعْطَانِ الْاِبِلِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ .

ترجمه : او ابو هريره رضي الله عنه فرمائي چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل : د ګډو بزو ترلو په ځائے کښے مونځ کوئ البته د اوښانو د ترلو په ځائے کښے مونځ مه کوئ ـ (ترمذي)ـ

تشريح : صَلُّوْا فِيْ مَرَابِضِ الْغَنَمِ : مرابض جمع د مَرْبِض ده د ګډو بزو د پناه ځائے (غوجل) ـ اَعْطَانِ : جمع د عطن ده د اوښانو د ناستے ځائے کما مرّ ـ

د اوښانو په ځائے کښے د مانځه کولو نه منع ولے اوشوه بعض علت : نجاست بيانوي ليکن دا خبره ضعيفه ده ځکه دلائل پدے خبره موجود دي چه بول او ارواث د ماکول اللحم پاك دي او دا مسئله مخکښے تيره شويده که بالفرض نجاست علت شی نو بيا د ګډو بزو په غوجل کښے ولے اجازه د مانځه راغله ؟ حال دا چه دواړه ماکول اللحم دي ـ صحيح دا ده چه اوښان سخت نفرت والا دي نو په انسان باندے مونځ خرابوي، خشوع کښے نقصان پيدا کوي ددے وجے نه ددے دپه باره کښے وئيلے شويدي : انها من الشياطين ـ او پاتے شو ګډے بيزے نو دا د برکت والا حيوان دے يره ترے انسان نکوي نو خشوع کښے فرق نه پيدا کوي ـ

٢– بعض وائي : حکمت د نهي دا دے چه دا د شياطين نه پيدا شويدي کما في حديث ابن مغفل (ابن ماجه) او د شيطان په ماؤي او ځائے کښے مونځ ندے پکار ـ

٣– صاحب المرعاة (٤٥٢/٢) وائي : ظاهر دا ده چه نهي تعبدي ده او د تحريم دپاره هر څه علت چه وي خو د اوښانو په مقام کښے مونځ نه صحيح کيږي او دا مذهب د امام احمدؒ او اهل ظاهرو وغيره دے ـ

درجة الحديث : اسناده صحيح رواه احمد (٤٥١/٢) (٤٩١) (٥٠٩) والدارمي (٣٢٣/١) والترمذي (٣٤٨) وقال حديث حسن صحيح وابن ماجه (٧٦٨) ـ

٥٢– وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا، قَالَ : لَعَنَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ زَائِرَاتِ الْقُبُوْرِ، وَالْمُتَّخِذِيْنَ عَلَيْهَا الْمَسَاجِدَ وَالسُّرُجَ . رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ، وَالتِّرْمِذِيُّ،

وَالنَّسَائِيُّ ۔ ــــــــــــــــــــ

ترجمه : او ابن عباس رضی الله عنه فرمائی چه رسول الله ﷺ د قبرونو د زیارت کونکو زنانو باندے او قبرونو لره مسجدو نه نیونکو (یعنی په قبر باندے سجده کونکو) او قبرونو باندے ډیوے لګونکو باندے لعنت فرمائیلے دے ۔ (ابوداود، ترمذی، نسائی) ۔

تشریح :زَائِرَاتِ الْقُبُوْرِ

مسئلة : اماتة العِداء فی زیارة القبور للنساء ۔

پدے کښے **دوه قوله** دی ۔

۱ – **اول قول** : د ښځو دپاره د قبرونو زیارت ته تلل جائز او مباح دی خو په یو څو شرطونو سره ۔(۱) – اول دا چه ډیرے به نه ځی (۲) – هلته به جزع فزع نکوی (۳) – قبر ته به سفر نکوی (٤) – په وتو کښے به ډول نه ښکاره کوی (۵) – هلته به شرکی کارونه نکړی چه دعاګانے غواړی، کانړی ځان پورے راکاږی (٦) – یو خاص معین قبر ته به نه ځی چه یو خاص بابا له ځی ځکه دا کار د مشرکانو دے چه د یو ولی او بابا زیارتونو ته ځی بلکه عامے مقبرے ته به ځی ۔ (۷) – د اتباع السنه په نیت به ځی او دے دپاره چه فوائد د زیارة القبور ورته حاصل شی او هغه فوائد یو آخرت رایادول دی، او دنیا کښے بی رغبتی پیدا کول ، هغوی دپاره دعاء او استغفار طلب کول، یا د هغوی د طرفنه صدقه ورکول، سنت نبوی باندے عمل کول، پدے سره وفاداری د مړو راځی ځکه کفار خپل مړی هیروی یا ئے سوزوی نو ددے کارونو نیت به کوی ۔

(۸) – بل دا چه قبرونو ته په تللو کښے به نور فسادو نه نه وی لکه بے حیائی، یارانه دوستانه قائمول که دا کار پکښے وی نو منع به وی ۔

اوس دلائل د جواز :

۱ – **حدیث** د ابو هریرهؓ او بریدهؓ مرفوعا روایت دے : کنت نهیتکم عن زیارة القبور فزوروها الآن لانها تذکّر الآخرة اخرجه مسلم (۳۱٤/۱) وابوداود والنسائی ۔ نو دا حدیث ناسخ دے ددے حدیث الباب دپاره ځکه چه دلته خطاب اګرچه سړو ته دے اصالةً لیکن تبعاً زنانه وته هم شامل دے، ځکه کوم فوائد د زیارة القبور چه د سړو دپاره دی هغه د زنانو دپاره هم کیدے شی زنانه ورته هم محتاج دی، بلکه دے عام خطاب کښے زنانه ضرور داخلے دی ځکه چه اصل کښے زنانه د زیارت القبور نه منع شوے وے، نه سړی نو رخصت

د هغه چا دپاره متصور کیږی چه څوك منع شوی وی او دا صریح دے په نسخ کښے څکه چه نهی مقدم وه او رخصت متاخر دے ۔ کما قال الامام ابن القیم فی تهذیب السنن (٤٣/٥) ذیل عون المعبود طبع دار الکتب العلمیة بیروت لبنان ۔ او دا خبره امام ترمذی په جامع الترمذی کښے ذکر کړیده د بعض اهل العلم نه ۔ تحفة (١٥٦/٢)۔

٢- دلیل : عائشے رضی الله عنها رسول الله ﷺ ته اوفرمائیل : زه به د زیارة القبور په وقت کښے کومه دعاء وایم ؟ نبی علیه السلام ورته اوفرمائیل : داسے وایه : السلام علی اهل الدیار من المؤمنین والمسلمین ویرحم الله المستقدمین والمستأخرین وانا ان شاء الله بکم للاحقون اخرجه مسلم (٣١٤/١) وسیأتی فی المشکوة (١٥٤/١) ۔

نو که د زنانو دپاره زیارة القبور حرام وے نو عائشه به ئے منع کړے وے چه زنانو دپاره خو د مقابرو زیارت حرام دے، ستا دپاره دعاء وئیل نشته نو دا صریح نص دے په جواز کښے ۔ **٣- دلیل** : یوے زنانه د قبر په خوا کښے ژړل رسول الله ﷺ په هغے ورتیر شو ورته ئے اوفرمائیل : : اتقی الله واصبری ! د الله نه اویریږه او صبر کوه ۔ هغے اووئیل (الیك عنی فانك لم تصب بمصیبتی) وراندے شه تا ته زما پشان مصیبت ندے رسیدلے خو دے زنانه نبی علیه السلام اونه پیژندلو ۔ چا ورته اووئیل دا خو پیغمبر دے بیا ورته دروازے له راغله چه زه صبر کوم نبی علیه السلام ورته اوفرمائیل : صبر په اول ځل وی اخرجه البخاری (١٦٧/١) ومسلم (٣٠٢/١) والمشکوة (١٥٠/١) نو دلته رسول الله ﷺ هغه صرف د جزع فزع نه منع کړه او د زیارة القبر نه ئے منع نکړه معلومه شوه چه زنانه کله جزع فزع نکوی نو زیارة القبر به ورله جائز وی ۔

٤- دلیل : عبد الله بن ابی ملیکه وائی : یوه ورځ عائشه صدیقه د مقابرو طرفنه راروانه وه نو ما ورته اووئیل : اے ام المؤمنین کوم ځائے نه راغلے ؟ هغے اوفرمائیل : د خپل ورور عبد الرحمن بن ابی بکر د قبر خوا نه ۔ ما ورته اووئیل : الیس کان رسول الله ﷺ نهی عن زیارة القبور ؟) آیا رسول الله ﷺ د زیارة القبور نه منع نده فرمائیلے ۔ هغے اوفرمائیل : (نعم، ثم امر بزیارتها) آؤ (اول ئے منع اوکړه) بیا ئے حکم کړے وو، په زیارة القبور باندے ۔ [وفی روایة عنها (ان النبی ﷺ رخص فی زیارة القبور) بل روایت کښے دی : نبی علیه السلام په زیارة القبور کښے رخصت ورکړیدے ۔ اخرجه الحاکم (٣٧٦/١) البیهقی (٧٨/٤) وابن ماجه (٤٧٥/١) قال البوصیری فی الزوائد (٩٨٨/١) واسناده صحیح وقال العراقی فی تخریج الاحیاء : اسناده جید ۔

استدلال: نو د عائشے رأیه هم دا ده چه فزوروا القبور خطاب سړو او زنانو دوارو دپاره دے لهذا زنانو دپاره هم رخصت ثابت دے۔

٢- قول ثاني: جمهور علماء وائی: د زنانو دپاره زیارت د قبورو مکروه دے او زیارة القبور رخصت صرف د سړو په حق کښے دے او په فزوروها کښے خطاب سړو ته دے او په دے کښے زنانه ندی داخل ځکه چه د دوئ په حق کښے منع او لعنت راغلے دے او د هغے نسخ نده راغلے نو د رخصت حکم په عام لفظ راغلے دے او د حرمت حکم په خاص الفاظو راغلے دے او د خاص او عام هیڅ منافات نه وی نو رخصت صرف سړو ته شامل شو او لعنت په حق د زنانو کښے باقی پاتے دے او دا قول حافظ ابن القیمؒ راجح کړیدے۔

دلائل د منع:

١- یو دلیل دا حدیث الباب دے لعن رسول اللهﷺ زائرات القبور الخ طریقه د استدلال په زیارة القبور باندے زنانو دپاره لعنت راغلے دے او لعنت په یو کار باندے صریح دلیل دے په حرمت د هغه کار باندے۔

حافظ ابن القیمؒ فرمائی: دا حدیث دلیل دے چه زیارة القبور د زنانو دپاره حرام دے او دا منسوخ شوے ندے۔ وجه دا ده چه په دے حدیث کښے ورسره المتخذین علیها المساجد والسرج راغلے دے او د اتخاذ القبور مساجد خو منسوخ ندے نو لهذا دا نهی د زیارة القبور د زنانو دپاره هم منسوخ ندے بلکه دا لعنت رسول اللهﷺ په مرض الوفات کښے وئیلے دے تهذیب السنن ذیل عون المعبود (٥/٤٣) وجامع الفقه (٢/٤٩٦)۔

الجواب: دا روایات په دے الفاظو سره ضعیف دی ددے په سند کښے ابو صالح اسمه باذان او باذام یقال باذان مولی ام هانئ بنت ابی طالب وهو صاحب الکلبی وقد قیل انه لم یسمع عن ابن عباس وقد تکلم فیه جماعة من الائمة وقال ابن عدی: ولا اعلم احدا من المتقدمین رَضِیَهٗ وقد نقل عن یحیی بن سعید القطان وغیره تحسین امره فلعله یرید: رَضِیَهٗ حجّةً او قال: هو ثقة۔ عون المعبود (٥/٤٤) جامع الفقه (٢/٤٩٦) والضعیفة (٢٢٥)۔

صحیح او محفوظ روایت کښے داسے الفاظ دی: لعن رسول اللهﷺ زوّارات القبور اخرجه ابن ماجه (١/٤٧٨) من حدیث حسان وابی هریرة وابن عباس واخرجه الحاکم والبیهقی واحمد (٣/١٤٢) والترمذی (٤/٧٨) وابن حبان (٧٨٩) انظر تحفة الاحوذی (٢/١٥٦)۔

او زوّرات د مبالغے صیغه ده نو په دے کښے منع ده د ډیر زیارت کونکو ښځو نه ددے

وجے نه علامه قرطبیؒ فرمائی : واللعن المذکور انما للمکثرات من الزیاره لما تقضیه الصیغة من المبالغة الخ نیل الاوطار (٤/١٦٦) تحفة الاحوذی (٢/١٥٦) فتح الباری (٣/١١٥)۔

یعنی پدے حدیث کښې چه کوم لعنت ذکر دے دا د هغه ښځو په باره کښې دے چه د قبرونو ته ډیرے ځی ځکه چه زورات صیغه د مبالغه ده انتهیٰ ۔ نو پدے کښې منع نشته د نفس زیارت القبور نه چه کله نا کله وی ۔

٢- دلیل : ام عطیه فرمائی : نهینا عن اتباع الجنائز ولم یعزم علینا اخرجه البخاری (١/١٧٠)۔

نو ددے د فحوی الخطاب نه معلومیږی چه هر کله زنانه د جنازے پسے نشی تلے نو زیارة القبور هم نشی کولے ۔

الجواب : دا استدلال ضعیف دے وجه دا ده چه ښځو دپاره د جنازے کول ندی مشروع او زیارة القبور ورله مشروع دے او د مشروعیت دلائل تا اوپیژندل ۔

٣- دلیل : د ښځو په وتلو کښې مفسدت دے ښځے جزع فزع او ژړا ګانے بے اختیاره کوی، بے حیائی کوی نو ددے وجے نه هم منع دے توضیح الاحکام (٢/٥٦٥) ۔

الجواب : زمونږ خبره په هغه زنانو کښې ده چه دا کارونه نکوی پدے وجه مونږ شرطونه اولګول چه کله دغه شرطونه موجود وی نو بیا به زیارة القبور زنانو دپاره مستحب وی او که څه فساد پکښې راتلو نو بیا به ورله جائز نه وی ۔

٤- دلیل : او کوم روایت د عبد الله بن عمرو بن العاص کښې چه راځی چه مونږ د رسول الله ﷺ سره د یو مړی دفن کولو دپاره لاړو کله چه مونږ فارغ شو رسول الله ﷺ واپس راتلو مونږ هم ورسره را روان وو کله چه کور ته راورسیدو نو اودریدو نو یوه زنانه ئے راروانه اولیده وے پیژندله چه فاطمه ده رسول الله ﷺ ورته اوفرمائیل : (ما اخرجك من بیتك یا فاطمة ؟) د کورنه ولے راوتے ئے ؟ هغے اووئیل یا رسول الله ! زه ددے مړی کور والا ته د ترحم او تعزیه دپاره ورغلے وم نبی علیه السلام ورته اوفرمائیل : شاید چه ته به د هغوی سره (کداء) مقبرے ته ورغلے ئے ؟ هغے اووئیل : معاذ الله چه زه د هغوی سره هلته لاړه شم آیا زه هغه عمل کولے شم چه د هغے (د ممانعت) په باره کښې ستاسو نه ما اوریدلی دی نبی علیه السلام ورته اوفرمائیل : (تا بنه اوکړل چه هغه مقبرے ته نه ئے تلے) که ته هغه مقبرے ته تلے وے نو تا بانده به د جنت بوئی حرام وے ۔ رواه احمد والحاکم والنسائی والبیهقی الترغیب للمنذری (٤/٣٥٩)۔

نو داروايت ضعيف دے فی سنده المعافری اسمه ربيعه بن سيف المعافری وفيه مقال دويم پدے كښں هم د اتباع الجنائز منع ده كوم چه د زنانو دپاره ندے جائز ۔ او زيارة القبور خبره پكښے نشته او نور روايات پدے باب كښے ضعيف دی ۔ حافظ ابن القيمؒ فرمائی : د عائشے د عبد الرحمن د قبر ملاقات په قصد زيارة القبر نه وو بلكه دا د حج دپاره مكے ته راغلے وه نو په لاره كښے د عبد الرحمن په قبر ورتيره شوه نو هلته اودريده او اشعار ئے اووئيل : او دا خو منع ندے چه په لاره كښے د يو قبر غير قصدی طريقے سره ملاقات اوشی خبره په زيارة القبور كښے ده چه اصالةً ورله لاړه شی ۔

او كه اومنو چه قصداً زيارت ئے كړيدے نو بيا به د هغے ددے قول څه معنی وی چه وائی : لو شهدتك ما زرتك يعنی كه زه ستا د مرګ په وقت كښے حاضر وے اوليدلے مے وے نو ما به ستا زيارت نه وے كړے ۔ دا دليل دے چه د هغے په نيز هم د ښځو دپاره زيارة القبور مشروع ندے ۔

ليكن ددے **جواب** دا دے چه د لو شهدتك الخ معنی دا ده چه ستا زيارت ته څكه راغلم ۔ چه ته مے د مرګ په وقت كښے نه وے ليدلے نو كه زيارة القبور منع وے نو بيا پس د مرګ نه ولے ملاقات كوی فتدبر ۔

الحاصل : دا چه اول قول صحيح دے او په حرمت باندے دلائل ضعيف دی او دغه شرطونه چه بيان شو په هغے سره جمع د تولو دلائلو راځی لكه دا خبره علامه شوكانیؒ په نيل الاوطار (٤/١٦٦) كښے ذكر كړيده وانظر المرقاة وسبل السلام (٢/١٦١) طبع جمعية احياء التراث الاسلامی ۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف اخرجه احمد (١/٢٢٩، ٢٨٧، ٣٢٣، ٣٣٧) وابوداود (٣٢٣٦) والترمذی (٢/٣٦) رقم (٣٢٠) والنسائی (٤/٩٤، ٩٥) ۔

شيخ البانیؒ وائی : اوله جمله او دويمه جمله ددے حديث په نورو احاديثو متواترو كښے راغلے ده خو المتخذين عليها المساجد و السرج الفاظ په صحيح رواياتو كښے ندی راغلی نو دا روايت پدے سياق سره ضعيف دے ۔ راجع السلسلة الضعيفة (٢٢٥) وقد اخطأ الترمذی فی تحسين هذا الحديث فانه من حديث ابی صالح وهو ضعيف عند جمهور النقاد ولم يوثقه غير العجلی وحده كما قال الحافظ فی التهذيب بل كذبه اسماعيل بن ابی خالد، والازدی ووصمه بعضهم بالتدليس وقال الحافظ فی التقريب : ضعيف مدلس وقال الحافظ عبد الحق الاشبيلی فی احكامه الكبری (١/٨٠) وهو عندهم ضعيف ۔ اګر چه معنی د

حدیث صحیح ده چه ډیوے او شمع بلول پدے قبرونو باندے حرام دی ځکه چه پدے کښے ضیاع المال دے ٢– دویم بدعت دے ـ کل بدعة ضلالة ـ دریم پدے کښے تعظیم د قبر دے او د قبر په خوا کښے د مسجد نه پدے وجه منع شویده چه پدے کښے تعظیم القبور راځی نو شمع بلول به په طریق اولیٰ منع وی فالحدیث صحیح من جهة المعنی ـ

٥٣– وَعَنْ اَبِیْ اُمَامَةَ رضی الله عنه، قَالَ : اِنَّ حَبْرًا مِنَ الْیَهُوْدِ سَأَلَ النَّبِیَّ ﷺ : اَیُّ الْبِقَاعِ خَیْرٌ ؟ فَسَکَتَ عَنْهُ، وَقَالَ : «اَسْکُتُ حَتّٰی یَجِیْءَ جِبْرِیْلُ»، فَسَکَتَ، وَجَاءَ جِبْرِیْلُ عَلَیْهِ السَّلَامُ، فَسَأَلَ، فَقَالَ : مَا الْمَسْئُوْلُ عَنْهَا بِاَعْلَمَ مِنَ السَّائِلِ، وَلٰکِنْ اَسْاَلُ رَبِّیْ تَبَارَکَ وَتَعَالٰی . ثُمَّ قَالَ جِبْرِیْلُ : یَا مُحَمَّدُ ! اِنِّیْ دَنَوْتُ مِنَ اللهِ دُنُوًّا مَا دَنَوْتُ مِنْهُ قَطُّ . قَالَ : «وَکَیْفَ کَانَ یَا جِبْرِیْلُ ؟» قَالَ : کَانَ بَیْنِیْ وَبَیْنَهٗ سَبْعُوْنَ اَلْفَ حِجَابٍ مِنْ نُوْرٍ، فَقَالَ : شَرُّ الْبِقَاعِ اَسْوَاقُهَا وَخَیْرُ الْبِقَاعِ مَسَاجِدُهَا. رَوَاهُ

ترجمه : او ابو امامه رضی الله عنه فرمائی چه (یوه ورځ) یو یهودی عالم د رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړو چه بهتره زمکه کومه ده ؟ رسول الله ﷺ د هغه په جواب کښے غلے شو او وے فرمایل چه تر څو جبرئیل علیه السلام رانشی زه به غلے یم نو هغه غلے شو ـ کله چه جبریل راغلو نو نبی کریم ﷺ د هغه نه (د یهودی عالم د سوال جواب) اوتپوسلو ـ جبریل اووئیل چه زه پدے باره کښے ستا نه زیات عالم نه یم خو زه به خپل رب نه ددے په باره کښے تپوس اوکړم ـ بیا جبرئیل (راغلو) وے فرمائیل : اے محمد ! نن زه الله تعالی ته دومره نزدے شوے یم چه کله هم دومره نه وم نزدے شوے ـ نبی کریم ﷺ اوفرمائیل : اے جبرئیل ! څومره اندازه (فاصله ستاسو دوارو په مابین کښ) وه ـ جبریل اوفرمایل : زما او د الله تعالی ترمینځ اویا زره د نور پردے باقی پاتے وے او الله تعالی (ددے سوال په جواب کښے) اوفرمائیل : بدترین مقامات بازارونه دی او بهترین مقامات مساجد دی ـ (دا روایت ابن حبان په خپل صحیح کښے د ابن عمرؓ نه نقل کړیدے) ـ

تشریح : اِنَّ حَبْرًا : فتحه د حاء ده او کسره هم جائز ده او دا ځکه چه فرق راشی د حبر په کسرے سره په معنی د سیاهی او په فتحے سره په معنی د عالم دے ـ

وَقَالَ اُسْکُتْ : یعنی ځان سره ئے زړه کښې اووئیل چه غلے شه ! یا په خوله باندے اووئیل نو یا صیغه د امر ده وهو الظاهر یا صیغه د متکلم ده ۔

مَا دَنَوْتُ مِنْهُ قَطُّ : یعنی الله تعالی ته دومره نزدے شوم چه په نورو اوقاتو کښې د هغې نه زیات نه یم نزدے شوے او پدے ځل ولې ډیر نزدے شوے دے نو وجه دا ده چه پدے کښې تعظیم د نبی علیه السلام دے ځکه چه نبی علیه السلام د الله محبوب دے او پدے ځل جبرئیل د نبی علیه السلام قاصد دے او د محبوب قاصد هم محبوب وی بله دا چه دا نژدیکت دے د علم د طلب کولو دپاره او الله تعالی ته دا ډیر محبوب دے ۔

سَبْعُوْنَ اَلْفَ حِجَابٍ مِنْ نُوْرٍ : علماء وائی : دلته اویا زره پردے ذکر شویدی او مراد پدے سره تکثیر دے یعنی ډیرے پردے د نور وے او دا پردے د مخلوق په نسبت سره دی، د الله تعالی په نسبت سره ندی ځکه چه پرده راتاویدل د صفاتو د اجسام محدوده نه دی ۔ مراد دلته دا دے چه مخلوق په پرده کښې دے ۔ ددے مثال داسے دے لکه ړوند چه نمر ته نشی کتلے د هغه په سترګو باندے پردے وی او نمر په هغه باندے خپله رنړا اچوی ۔

فائده : سائل خو صرف د بهتر ځائے په باره کښې سوال کړے وو لیکن په جواب کښې د مقابلې په طور بهترین او بد ترین دواړه مقامات اوخودل دے دپاره چه د رحمان او شیطان دواړه کورونه معلوم شی ۔ ۲- دارنګه الاشیاء تتبین باضدادها ۔

فائده ۲ : ددے حدیث نه معلومه شوه چه که د یو شخص نه د یوے مسئلې تپوس اوشی چه هغه ته پوره طریقے سره معلومه نه وی نو هغه له پکار دی چه جواب کښې جلتی اونکړی بلکه څوك چه ورته معلوم وی چه هغه ددے مسئلې په جواب باندے ښه پوهیږی د هغه نه دے تپوس اوکړی او د هغه نه په تپوس کولو دے هیڅ شرم محسوس نکړی ځکه دا د نبی علیه السلام سنت دے ۔

درجة الحدیث : د مشکوة په اصل نسخه کښې دلته بیاض دے مخرج ندے ذکر ۔

فالحدیث اسناده صحیح اخرجه ابن حبان فی صحیحه (۱۵۹۰) عن عبد الله بن عمر رضی الله عنهما وابویعلی کما ذکره الحافظ ابن حجر فی المطالب العالیة (۱/۱۳۵/رقم : ۵۰۰) والطبرانی فی الکبیرعلی ما ذکره الهیثمی فی المجمع (۲/۶) وصححه الحاکم فی المستدرك (۲/۸،۷) وفی السند عندهم عطاء بن السائب وکان قد اختلط وله شاهد من حدیث جبیر بن مطعم عند احمد (۴/۸۱) والحاکم وصححه واسناده حسن ۔

الفصل الثالث - دریم فصل

۵۴ – عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه، قَالَ : سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ يَقُوْلُ : «مَنْ جَاءَ مَسْجِدِيْ هٰذَا لَمْ يَأْتِ إِلَّا لِخَيْرٍ يَتَعَلَّمُهُ أَوْ يُعَلِّمُهُ، فَهُوَ بِمَنْزِلَةِ الْمُجَاهِدِ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ. وَمَنْ جَاءَ لِغَيْرِ ذٰلِكَ، فَهُوَ بِمَنْزِلَةِ الرَّجُلِ يَنْظُرُ إِلٰى مَتَاعِ غَيْرِهِ». رَوَاهُ ابْنُ مَاجَه، وَالْبَيْهَقِيُّ فِيْ شُعَبِ الْإِيْمَانِ .

ترجمه: ابو هریره رضی الله عنه وائی چه ما د رسول الله ﷺ نه دا واوریدل چه فرمائیل ئے : څوك چه زما دے مسجد ته صرف پدے غرض سره راشی چه نیك کار زده کوی او بل ته ئے ښائی نو هغه د الله په لاره کښے د جهاد کونکی پشان دے او څوك چه پدے غرض سره رانشی (یعنی یو بد کار مثلا لهو ولعب په نیت سره راشی یا ئے د هیڅ خیر نیت نه وی) نو دا د هغه شخص پشان دے چه د بل چا سامانونو ته (د افسوس په نظر) ګوری ۔ (ابن ماجه، بیهقی) ۔

مَنْ جَاءَ مَسْجِدِيْ هٰذَا :

تشریح : نبی علیه السلام د خپل مسجد تخصیص اوکړو پدے کښے دے طرفته اشاره ده چه زما د مسجد فضیلت او اهمیت په اعتبار سره د ټولو مساجدو نه اعلیٰ او ارفع دے او باقی مساجد ددے تابع دی نو د باقی ټولو مساجدو حکم به یو وی او تخصیص د فضیلت او اصالت په وجه شویدے ۔

مګر شوکانیؒ وائی : دا مرتب اجر صرف خصوصیت د مسجد نبوی دے او باقی مساجد پدے باندے قیاس کول صحیح ندی، قیاس مع الفارق دے ځکه چه مسجد نبوی کښے هغه فضیلت او خصوصیت دے چه هغه په بل مسجد کښ نشته ۔ دارنګه دا ثواب صرف د علم د تعلم او تعلیم پورے خاص دے او پدے کښے اشاره ده چه تعلیم او تعلم د نورو ځایونو په نسبت په مسجد کښے ډیر افضل دے ۔ او همدا خبره صحیح ده ځکه د اعتکاف او ذکر او تلاوت په باره کښ نص نشته هغه صرف په قیاسونو باندے ثابتوی ۔

باقی علماء وائی د علم زده کولو او خودلو تخصیص صرف د هغے د فضیلت او اهمیت د اظهار په طور دے ۔

بِمَنْزِلَةِ الْمُجَاهِدِ : عالم او متعلم د مجاهد پشان ولے شو ؟ نو وجه دا ده چه جهاد سره

اعلاء د كلمة الله كيږي نو دغه شان په علم سره هم اعلاء د كلمة الله كيږي هغه ژوندے كيږي ٢ – دارنګه علم او جهاد دواړه داسے عبادات دي چه عام مسلمانانو ته ئے نفع متعدي ده ـ ٣ – دارنګه علم او جهاد سره شيطان ذليل كيږي دين ژوندے كيږي نفس په تكليف كنبے واقع كيږي خواهشات ماتيږي ـ

فَهُوَ بِمَنْزِلَةِ الرَّجُلِ : يعني ځوك چه مسجد ته د نيك مقصد دپاره رانشي نو دده مثال داسے دے لكه يو سړے بازار ته لاړ شي نه څه اخلي او نه څه خرڅوي بلكه پردو سامانونو ته ګوري نو ده ته هيڅ فائده نه حاصليږي ، سترے ستوړے به شي او څه ګته به ورته ملاؤ نشي دا رنګه د خلقو سامانونو ته په كتلو سره به افسوس او حسرت كوي چه ما ولے داسے ګټه اونكړه نو دا شخص به هم بيا د قيامت په ورځ همدغه شان افسوس نه كوي چه ما ولے داسے ګټه اونكړه ـ

درجة الحديث : اسناده صحيح : اخرجه ابن ماجه (٢٢٧) والحاكم (١/١٩١) والبيهقي في الشعب (١٦٩٨) وهو في صحيح الجامع الصغير (٦١٨٤) وصحيح الترغيب والترهيب (٨٣) ـ

---

٥٥ – وَعَنِ الْحَسَنِ مُرْسَلًا، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : « يَأْتِيْ عَلَى النَّاسِ زَمَانٌ يَكُوْنُ حَدِيْثُهُمْ فِيْ مَسَاجِدِهِمْ فِيْ أَمْرِ دُنْيَاهُمْ . فَلَا تُجَالِسُوْهُمْ، فَلَيْسَ لِلّٰهِ فِيْهِمْ حَاجَةٌ ». رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِيْ شُعَبِ الْإِيْمَانِ .

ترجمه : او حسن بصريؒ نه مرسلا روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائي : په خلقو باندے به نزدے يو داسے وقت راځي چه هغوي به د خپلے دنيادارئ خبرے به په خپلو مسجدونو كنبے كوي نو بس تاسو د هغوي سره مه كينئ ځكه الله تعالى ته د داسے خلقو هيڅ ضرورت نشته ـ (بيهقيؒ) ـ

تشريح : **فَلَيْسَ لِلّٰهِ فِيْهِمْ حَاجَةٌ** : دا عبارت كنايه ده ددے خبرے نه چه الله تعالى د داسے خلقو نه بيزاره دے او د هغه د رحمت نه خارج دي او پدے كنبے ډير سخت وعيد او دهمكي ده چه دا انسان غټ ظالم دے ځكه چه مساجد خبرو اترو دپاره ندي جوړ او دا پكنبے ئے ځايه كارونه كوي وضع شئ في غير موضعه كوي ـ

او پدے كنبے اشاره ده چه ددے انسان طاعت او عبادت به د الله تعالى په دربار كنبے

قبول نه وی او د حاجت نه مراد باك دے یعنی الله تعالی په دویٔ باندے هیڅ باك نه کوی په عزت نه خلق دی ـ دا معنی څکه کوو چه د الله تعالی لکه څنګه چه مسجد کښے خبرو کونکو ته حاجت نشته نو د عبادت کونکی عبادت ته ئے هم حاجت نشته نو حاجت پخپله معنی باندے ندے ـ

بیا دنیاوی خبرے دوه قسمه دی (١) – یو هغه دی چه بهر کیدے شی لکه ګپ شپ د تجارت خبرے دا په مسجد کښے حرام دی ـ (٢) – دویم مباح خبرے دی لکه د خوراك څکاك واخله راکړه خبرے دی نو دا مباح او جائز دی ـ

او د دنیا خبرو نه مراد دلته هغه خبرے دی چه عبث، بے فائدے او حد نه زیاتے خبرے وی او بے ضرورته خبرے وی نو دا حرامے دی او د ضرورت خبرے جائز دی ـ

درجة الحديث : اسناده ضعيف مرسل والحديث صحيح : اخرجه الحاكم (٤/٣٢٣) من طريق انس وقال : صحيح الاسناد ـ والبيهقي في الشعب (٢٩/٦٢) وفي الترغيب للمنذري عن ابن مسعود مرفوعاً : سيكون في آخر الزمان قوم يكون حديثهم في مساجدهم ليس لله فيهم حاجة رواه ابن حبان في صحيحه وقال الالباني في صحيح الترغيب رقم (٢٩٢) (١/١٩١) اسناده حسن ـ

---

٥٦ – وَعَنِ السَّائِبِ بْنِ يَزِيْدَ، قَالَ : كُنْتُ نَائِماً فِي الْمَسْجِدِ، فَحَصَبَنِيْ رَجُلٌ، فَنَظَرْتُ فَإِذَا هُوَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ رضي الله عنه، فَقَالَ : اِذْهَبْ فَأْتِنِيْ بِهٰذَيْنِ . فَجِئْتُهُ بِهِمَا . فَقَالَ: مِمَّنْ أَنْتُمَا – اَوْ مِنْ اَيْنَ أَنْتُمَا – قَالَا : مِنْ اَهْلِ الطَّائِفِ. قَالَ : لَوْ كُنْتُمَا مِنْ اَهْلِ الْمَدِيْنَةِ لَاَوْجَعْتُكُمَا، تَرْفَعَانِ اَصْوَاتَكُمَا فِيْ مَسْجِدِ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ ؟ رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ .

ترجمه : او سائب بن یزیدؓ فرمائی چه زه (یوه ورځ) په مسجد کښے اوده وم چه یو شخص زه په شګئ اوویشتم ـ ما اوکتل چه هغه عمر بن الخطاب رضی الله عنه دے ـ هغوی ما ته اوفرمائیل : چه لاړشه ! دا دواړه سړی زما خواته راوله ـ (چه په مسجد کښے اوچت آواز سره ئے خبرے کولے) ما هغوی راوستل ـ عمرؓ تپوس اوکړو : تاسو څوك ئے ؟ یا ئے اوفرمائیل : چه تاسو د کوم ځائے اوسیدونکی یئ ؟ هغوی اووئیل : چه مونږ د طائف اوسیدونکی یو ـ عمرؓ اوفرمائیل : چه که تاسو د مدینے اوسیدونکے وئ نو ما به تاسو ته

سزا درکړی وے (یعنی وهلی به مے وے، لیکن چونکه تاسو ددے ځائے اوسیدونکی نه یئ او د آدابو د مسجد نه واقف نه ئے یا دا چه مسافرئے پدے وجه د عفو او شفقت مستحق ئے او وے فرمائیل : چه دا ډیر د افسوس خبره ده چه) تاسو د رسول الله ﷺ په مسجد کښے په زوره زوره خبرے کوئ ۔ (بخاریؒ) ۔

تشریح : فَحَصَبَنِیْ : ای رمانی بالحصباء وهی الحجارة الصغیرة ۔

بِهٰذَیْنِ : په روایت د عبد الرزاق کښے دی چه دا دوه سړی د ثقیف قبیلے وو نوم نه ئے ندی ذکر ۔

تَرْفَعَانِ اَصْوَاتَکُمَا : دا په اصل کښے علت دے د اوجعتکما دپاره یعنی ما به تاسو درمند کړی وے ولے ؟ ځکه چه تاسو آوازونه پورته کول ۔

نو دا حدیث دلیل دے چه په مسجد کښے اوچت آواز کول حرام دی او دے دواړو بے ضرورته شور کولو او بے فائدے بے ضرورته آواز پورته کول حرام دی او که چرته ضرورت او حاجت آواز پورته کولو ته وی نو بیا به جائز وی مثلا تقریر کولو کښ، درس کښے اوچت آواز کول چه ټول ملګری ئے واوری نو دا جائز بلکه مستحب عمل دے دلیل دا دے چه نبی علیه السلام به داسے تقریر کولو کانه منذر جیش ۔ګویا کښ یو لښکر ته یره ورکوی۔ بعض احادیثو کښے مطلقاً اوچت آواز کولو نه منع راغلے ده لیکن هغه ټول ضعیف دی کما فی ابن ماجه ۔ صحیح دا ده چه کله بے حده تیز آواز وی منع دے او که ډیر تیز نه وی نو جائز دے ۔ او د تیز آواز نه منع پدے وجه اوشوه چه یو خو پدے سره انسان بے وقار ښکاری بله دا چه دا د مسجد بے ادبی ده ۔

---

٥٧ – وَعَنْ مَالِكٍ، قَالَ : بَنٰى عُمَرُ رَحْبَةً فِیْ نَاحِیَةِ الْمَسْجِدِ تُسَمّٰی الْبُطَیْحَاءَ، وَقَالَ : مَنْ کَانَ یُرِیْدُ اَنْ یَلْغَطَ، اَوْ یُنْشِدَ شِعْرًا، اَوْ یَرْفَعَ صَوْتَهٗ، فَلْیَخْرُجْ اِلٰی هٰذِهِ الرَّحْبَةِ . رَوَاهُ فِی الْمُوَطَّا .

ترجمه : او امام مالکؒ فرمائی چه عمر فاروق رضی الله عنه د مسجد په یو ګوټ کښے یو چبوتره جوړه کړه چه د هغے نوم بطیحاء وو او خلقو ته ئے وئیلی وو چه څوك چه لغوه خبرے کول غواړی یا اشعار وئیل غواړی یا (د څه وجه نه) اوچت آواز (سره خبرے) کول غواړی نو هغه دے (مسجد نه اوځی) دے چبوترے ته دے راشی ۔ (موطأ) ۔

تشريح : **بَنٰى عُمَرُ رَحْبَةً** : رحبه ديپسې او ساحې ته وائي رحبه اصل كښې كولاؤ ځائې تـه وائي او دا رحبه د زمكې نه يو گز اوچته وه او گير چاپيره ترې يو وروكې ديوال وو، عمر دا ولې جوړه كړه؟۔ وجه دا ده چه عمر فاروقؓ په مسجد نبوى كښې خلق اوليدل چه ډير پكښې كيني او خبرې اترې پكښې كوى ډير كرتې د دوى دا خبرې شور شرغب ته رسى او ددې مينځ كښې شعرونه هم وئيلې شى نو د مسجد نه بهرئې دا ځائې جوړ كړو چه مسجد د شور او خبرو اترو نه محفوظ شى، خاصكر ددې مسجد په خوا كښې د نبى قبر دې آواز پورتـه كول پـه هغې باندې حرام دى بله دا چه مساجد خبرو اترو دپاره ندى جوړ بلكه مسجد كښې مونځ تلاوت وغيره كول پكار دى او وقار سره دې ته دراتلو حكم شويدې نو پدې كښې به خلق د يې احترامئ د مسجد نه بچ شى۔

اَلْبُطَيْحَاءَ : دا هغه خوړگئ ته وائى چه په هغې كښې واړه واړه كانړى وى۔ او ديته رحبه ځكه وائى چه دا فراخه ځائې وو۔

درجة الحديث : اخرجه مالك في الموطأ (١/١٧٥) رقم (٩٣) بلاغاً بدون سند وقال ابن عبد البر : جميع بلاغات مالك مما لم يسنده احد وستون حديثاً كلها مسندة من غير طريق مالك الا اربعة احاديث ثم ذكرها واثر عمر هذا ليس عن الاربعة فهو مسند الى عمر فى موضعه قاله فى المرعاة (٢/٤٥٩)۔

٥٨– وَعَنْ اَنَسٍ ﷺ، قَالَ : رَأَى النَّبِيُّ ﷺ نُخَامَةً فِي الْقِبْلَةِ، فَشَقَّ ذٰلِكَ عَلَيْهِ حَتّٰى رُئِيَ فِيْ وَجْهِهٖ، فَقَامَ فَحَكَّهٗ بِيَدِهٖ، فَقَالَ : «اِنَّ اَحَدَكُمْ اِذَا قَامَ فِي الصَّلَاةِ فَاِنَّمَا يُنَاجِيْ رَبَّهٗ، وَاِنَّ رَبَّهٗ بَيْنَهٗ وَبَيْنَ الْقِبْلَةِ، فَلَا يَبْزُقَنَّ اَحَدُكُمْ قِبَلَ قِبْلَتِهٖ، وَلٰكِنْ عَنْ يَسَارِهٖ، اَوْ تَحْتَ قَدَمِهٖ» ، ثُمَّ اَخَذَ طَرَفَ رِدَائِهٖ فَبَصَقَ فِيْهِ، ثُمَّ رَدَّ بَعْضَهٗ عَلٰى بَعْضٍ، فَقَالَ : «اَوْ يَفْعَلُ هٰكَذَا». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ .

ترجمه : او انس رضى الله عنه فرمائى چه نبى كريم ﷺ (په مسجد كښې) قبلې طرفتـه خراچكې پروت اوليدو نو په هغه باندې دا ډيره گرانه شوه تردې چه ددې اثر د هغه په مخ مبارك ښكاره كيدو۔ نو رسول الله ﷺ پاځيدو او هغه ئې پخپل لاس مبارك سره اوگرولو او وې فرمائيل : چه تاسو كښې چه څوك مانځه ته اودريږى نو هغه خپل رب سره

جرگه کوی او د هغه رب د هغه او د قبلې ترمينځ وی لهذا هريو لره دا پکار دی چه قبلې طرفته هرگز لاړے نه توکی بلکه خپل گس طرف يا قدمونو لاندے د توکی ـ بيا نبی کريم ﷺ د خپل څادر مبارك يو طرف اونيولو او په هغې کښې ئې لاړے توکړے او بيا ئې هغه جامه خپل مابين کښې اوسولوله وے فرمائيل : چه داسې دې اوکړی ـ (بخاری) ـ

تشریح : **نُخَامَةٌ** : دا هغه لاړو ته وائی چه د سينے نه راوځی يعنی خراچکے ـ

فَإِنَّمَا يُنَاجِيْ رَبَّهُ : مناجات د دواړو طرفنه وی نو دلته د بنده د طرفنه حقيقةً کلام موجود دے ځکه چه هغه ورسره په قرآن او اذکارو سره جرگه کوی او د الله د طرفنه خو کلام نشته نو دا کنايه ده د ارادے د خير نه حافظ داسې وائی : بنده جرگه کوی او الله پرے رحمت کوی او ترے رضا کيږی ـ ليکن صحيح دا ده چه دواړو طرفنه کلام شته ځکه چه حديث کښې راغلی دی چه کله بنده سورة الفاتحه وائی نو الله تعالی د هغې جواب ورکوی کله چه بنده اووائی : الحمد لله رب العالمين نو الله تعالی ددے جواب ورکوی حمدنی عبدی الی آخر الحديث نو د دواړو طرفنه خبرے اترے شته نو دا مناجات په حقيقت باندے حمل دے او تاويل او مجاز ته ضرورت نشته ـ

وَإِنَّ رَبَّهُ بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْقِبْلَةِ : علامه خطابی وائی : الله تعالی دده او د قبلې په مابين کښې دے ددے معنی دا ده چه کله يو شخص مانځه ته اودريږی نو هغه چه قبلې ته متوجه کيږی نو پديسره دے الله تعالی ته د متوجه کيدو او د هغه قرب اراده کوی نو گويا کښې دده مقصد او مطلب دده او د قبلې ترمينځ شو نو ځکه حکم اوشو چه قبلې طرفته لاړے مه توکه بلکه يا گس طرفته توکړه يا لاندے د قدم نه که چرے گس طرفته ځوك ولاړ وی بيا قدم لاندے توکړه خو دا هله چه مسجد کښې نه وی که په مسجد کښې وی نو بيا يوه کپړه کښې ارتول پکار دی او تفصيل مخکښې ذکر شويدے ـ

۲– صحيح دا ده چه دا د متشابهاتو نه دے څنگه الله تعالی د بنده او قبلې ترمينځ دے ؟ ددے کيفيت الله تعالی ته معلوم دے او دا په ظاهر باندے پريخودل ښه دی ـ او ددے نه نفی د استواء علی العرش نه لازميږی ـ

٥٩– وَعَنِ السَّائِبِ بْنِ خَلَّادٍ – وَهُوَ رَجُلٌ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ ﷺ – قَالَ : إِنَّ رَجُلًا أَمَّ قَوْمًا، فَبَصَقَ فِي الْقِبْلَةِ، وَرَسُوْلُ اللّٰهِ يَنْظُرُ، فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لِقَوْمِهِ حِيْنَ فَرَغَ: ((لَا يُصَلِّيْ لَكُمْ)) . فَأَرَادَ بَعْدَ ذٰلِكَ أَنْ يُصَلِّيَ لَهُمْ، فَمَنَعُوْهُ، فَأَخْبَرُوْهُ

بِقَوْلِ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ فَذَكَر ذٰلِکَ لِرَسُوْلِ اللهِ ﷺ، فَقَالَ : نَعَمْ، وَحَسِبْتُ اَنَّهٗ قَالَ : اِنَّکَ قَدْ آذَیْتَ اللهَ وَرَسُوْلَهٗ ». رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ .

ترجمه : او سائب بن خلاد چه د رسول الله ﷺ یو صحابی دے فرمائی چه یو شخص یو قوم ته مونځ کولو او هغه قبلے طرفته لارے توکړے (اتفاق سره) رسول الله ﷺ (هغه طرفته) کتل ـ کله چه هغه د مانځه نه فارغ شو نو نبی کریم ﷺ د هغه مقتدیانو ته اوفرمائیل : چه آینده دے دا شخص تاسو ته مونځ اونکړی ـ (دے نه پس) دے شخص چه کله هغوی ته د مانځه کولو اراده اوکړه نو خلقو هغه (د امامت نه) منع کړو او هغه ته ئے د رسول الله ﷺ ارشاد بیان کړو هغه شخص د رسول الله ﷺ په خدمت کښے حاضر شو او هغه واقعه ئے ورته ذکر کړه ـ نبی کریم ﷺ اوفرمائیل : آؤ (ما دے خلقو ته ستا د امام نه جوړولو په باره کښے خبره کړے وه) او راوی وائی چه زما گمان دے چه رسول الله ﷺ هغه شخص ته (د امامت نه د منع کولو سبب بیانولو سره دا هم) اوفرمائیل : چه تا (پدے ناروا کار سره) الله او د هغه رسول ته تکلیف رسولے دے ـ

تعارف د سائب بن خلاد : دا سائب بن خلاد بن سوید بن ثعلبه الخزرجی الانصاری ابوسهله المدنی دے صحابی دے ـ ابوعبید وائی : بدر ته هم حاضر شویدے او د معاویه دپاره د یمن گورنر وو بعض وائی عمر په یمن باندے گورنر مقرر کړے وو په (٧١هـ) سنه کښے وفات شویدے ـ

تشریح : اِنَّکَ قَدْ آذَیْتَ اللهَ وَرَسُوْلَهٗ : یعنی دا کار لوئی جرم دے ځکه قرآن کریم کښے دی : ﴿ اِنَّ الَّذِیْنَ یُؤْذُوْنَ اللهَ وَرَسُوْلَهٗ لَعَنَهُمُ اللهُ فِی الدُّنْیَا وَالْآخِرَةِ ﴾ ـ نو الله او رسول ته ضرر ورکولو سره انسان کافر کیږی خو دلته دے سړی دا کار د جهالت په طور کړے وو نو ځکه ئے دیته کفر اونه وئیلو یا دا چه نبی علیه السلام ته ددے سړی منافقت معلوم وو پدے وجه ئے د هغه د امامت نه منع اوکړه ـ لیکن دا وجه صحیح نده اوله وجه صحیح ده ـ

بیا دا حدیث بعض علماؤ دلیل گرځولے دے دپاره ددے چه د فاسق او گناه کبیره والا امامتی نه صحیح کیږی مگر مخکښے مونږ وئیلی وو چه دا استدلال صحیح ندے وجه دا ده چه یا خو ددے سړی منافقت مخکښے نه نبی علیه السلام ته معلوم وو ٢– دویم دا

چه دا زجراً پیغمبر منع کړو چه ته به مونځ نکوے او پدے کښے دا خبره نشته چه آیا دده پسے مونځ کیږی او که نه؟ بلکه مطلب دا دے چه فاسق ځان دپاره امام مه جوړوئ شه سرے اوګورئ او دا خو اتفاقی خبره ده چه ابتداء کښے به ښه سړے امام کولے شی۔

درجة الحديث : اسناده صحيح : اخرجه ابوداود (٤٨١) وفي اسناده جهالة ولكن الحديث قال العراقي جيد ولحديث السائب بن خلاد شاهد من حديث ابن عمرو، رواه الطبراني في الكبير باسناد جيد وبه يصح الحديث۔

٦٠- وَعَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ ﷺ، قَالَ : اِحْتَبَسَ عَنَّا رَسُوْلُ اللهِ ﷺ ذَاتَ غَدَاةٍ عَنْ صَلَاةِ الصُّبْحِ، حَتّٰى كِدْنَا نَتَرَاءٰى عَيْنَ الشَّمْسِ، فَخَرَجَ سَرِيْعًا، فَثُوِّبَ بِالصَّلَاةِ، فَصَلّٰى رَسُوْلُ اللهِ ﷺ، وَتَجَوَّزَ فِيْ صَلَاتِهٖ . فَلَمَّا سَلَّمَ دَعَا بِصَوْتِهٖ، فَقَالَ لَنَا : «عَلٰى مَصَافِّكُمْ كَمَا اَنْتُمْ »، ثُمَّ انْفَتَلَ اِلَيْنَا، ثُمَّ قَالَ : «اَمَا اِنِّیْ سَاُحَدِّثُكُمْ مَا حَبَسَنِیْ عَنْكُمُ الْغَدَاةَ : اِنِّیْ قُمْتُ مِنَ اللَّيْلِ، فَتَوَضَّأْتُ وَصَلَّيْتُ مَا قُدِّرَ لِیْ، فَنَعَسْتُ فِیْ صَلَاتِیْ حَتّٰى اسْتَثْقَلْتُ، فَاِذَا اَنَا بِرَبِّیْ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى فِیْ اَحْسَنِ صُوْرَةٍ، فَقَالَ : يَا مُحَمَّدُ ! قُلْتُ : لَبَّيْكَ رَبِّ ! قَالَ : فِيْمَ يَخْتَصِمُ الْمَلَأُ الْاَعْلٰى ؟ قُلْتُ : لَا اَدْرِیْ . قَالَهَا ثَلَاثًا ». قَالَ : فَرَاَيْتُهٗ وَضَعَ كَفَّهٗ بَيْنَ كَتِفَیَّ حَتّٰى وَجَدْتُ بَرْدَ اَنَامِلِهٖ بَيْنَ ثَدْيَیَّ، فَتَجَلّٰى لِیْ كُلُّ شَیْءٍ وَعَرَفْتُ . فَقَالَ : يَا مُحَمَّدُ ! قُلْتُ : لَبَّيْكَ رَبِّ ! قَالَ : فِيْمَ يَخْتَصِمُ الْمَلَأُ الْاَعْلٰى ؟ قُلْتُ : فِی الْكَفَّارَاتِ. قَالَ : وَمَا هُنَّ ؟ قُلْتُ : مَشْیُ الْاَقْدَامِ اِلَى الْجَمَاعَاتِ، وَالْجُلُوْسُ فِی الْمَسَاجِدِ بَعْدَ الصَّلَوَاتِ، وَاِسْبَاغُ الْوُضُوْءِ حِيْنَ الْكَرِيْهَاتِ. قَالَ : ثُمَّ فِيْمَ ؟ قُلْتُ : فِی الدَّرَجَاتِ. قَالَ : وَمَا هُنَّ ؟ قُلْتُ : اِطْعَامُ الطَّعَامِ، وَلِيْنُ الْكَلَامِ، وَالصَّلَاةُ وَالنَّاسُ نِيَامٌ. ثُمَّ قَالَ : سَلْ . قَالَ : قُلْتُ : اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَسْئَلُكَ فِعْلَ الْخَيْرَاتِ، وَتَرْكَ الْمُنْكَرَاتِ، وَحُبَّ الْمَسَاكِيْنِ، وَاَنْ تَغْفِرَ لِیْ وَتَرْحَمَنِیْ، وَاِذَا اَرَدْتَ فِتْنَةً فِیْ قَوْمٍ

فَتَوَفَّنِيْ غَيْرَ مَفْتُوْنٍ، وَاَسْئَلُکَ حُبَّکَ، وَحُبَّ مَنْ يُّحِبُّکَ، وَحُبَّ عَمَلٍ يُقَرِّبُنِيْ اِلٰى حُبِّکَ . فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : اِنَّهَا حَقٌّ فَادْرُسُوْهَا ثُمَّ تَعَلَّمُوْهَا » . رَوَاهُ اَحْمَدُ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ : هٰذَا حَدِيْثٌ حَسَنٌ صَحِيْحٌ، سَأَلْتُ مُحَمَّدَ بْنَ اِسْمَاعِيْلَ عَنْ هٰذَا الْحَدِيْثِ . فَقَالَ : هٰذَا حَدِيْثٌ صَحِيْحٌ .

ترجمه : او معاذ بن جبل رضی الله عنه فرمائی چه یوه ورځ رسول الله ﷺ د سحر مانځه ته د راتلو نه (خلاف عادت) تاخیر اوکړو چه نزدے وه چه مونږ د نمر سترګه لیدلے وے۔ پدے کښې رسول الله ﷺ په جلتئ سره تشریف راوړو ۔ نو د مانځه دپاره اقامت اوشو او رسول الله ﷺ (صحابه کرامؓ ته) مونځ اوکړو او په مانځه کښې ئے تخفیف اوکړو (یعنی واړه واړه سورتونه ئے اولوستل) او سلام اړولو نه پس ئے مونږ ته په اوچت آواز سره اوفرمائیل : څنګه چه تاسو ناست ئے همدغه شان په خپلو خپلو ځایونو باندے ناست اوسئ ۔ بیا نبی کریم ﷺ مونږ طرفته متوجه شو او وے فرمائیل : چه خبردار ! زه نن د سحر مانځه ته د تاخیر سره راتلو وجه بیانوم (او هغه دا ده چه) زه نن شپه (تهجد مونځ دپاره) پاځیدم اواودس مے اوکړو او څه چه ما دپاره مقدر کښې وو هغه مونځ مے اوکړو او په مانځه کښې زه پیرشانئ یوړم تردے چه خوب په ماباندے غالب شو (په هغه وقت) ناڅاپئ ما خپل رب په ښائسته صورت کښې (یعنی ښائسته صفت سره) اولیدو ۔ الله تعالی ماته اوفرمائیل : اے محمد ! (ﷺ) ما عرض اوکړو ۔ اے ربه زه حاضریم ۔ الله تعالی اوفرمائیل : (تاته معلومه ده) چه مقربین ملائك په کومه خبره کښې بحث کوی ؟ ما عرض اوکړو چه اے الله زه نه پوهیږم ۔ الله تعالی درے کرتے دغه شان تپوس اوکړو (او ما به دغه جواب ورکولو) رسول الله ﷺ فرمائی چه ما اولیدل چه الله تعالی زما د اوګو ترمینځ خپل لاس کیخودو تردے چه ما د الله تعالی د ګوتو یخوالے په خپله سینه کښې محسوس کړو (چه د هغے اثر دا شو چه) زما مخے ته هر شے ښکاره شو او هر څه خبرے مے اوپیژندے۔ بیا الله تعالی اوفرمائیل : اے محمد ! ما عرض اوکړو : اے ربه زه حاضریم ۔ وے فرمائیل : (اوس وایه) مقربین ملائك په څه خبرو کښ بحث کوی ؟ ما عرض اوکړو چه ګناهونه ختمونکو څیزونو په باره کښې ۔ الله تعالی اوفرمائیل : هغه کوم څیزونه دی

؟ ما عـرض اوكړو چه د جمعي دپاره (مسجدونو ته) راتلل او مونځ كولو سره (دعاء وغيره دپاره) په مسجـد كښې كيـناستل او په وقت د سختئ كښې په ښه شان اودس كول ـ الله تعالى اوفرمائيل : بل كوم څيز كښې بحث كوى ؟ ما عرض اوكړو چه درجاتو باره كښې !ـ وے فرمائيل : هغه څه دى ؟ ـ ما عرض اوكړو چه (غريبانو او مسكينانو باندے) خوراك خورول، او په نرمئ سره خبرے كول او په شپه كښې پداسے وقت (يعني تهجد) مونځ كول چه خلق اوده وى ـ بيا الله تعالى اوفرمائيل : اوس چه څان له څه غواړے نو غواړه : ما دعا اوكړه چه اے الله ! زه تا نه د نيكيانو كول او د بديانو پريخودلو، مسكينانو سره محبت، د خپـل مغفرت او ستا د رحمت سوال كوم او كله چه ته په يو قوم كښې گمراهي راولے نو ما بغيـر د گـمـراهـئ نه پورته كړه او زه تا نه ستا محبت (يعني ته زما محبوب شے يا زه ستا مـحبوب شم) او د هغه شخص محبت چه تاسره محبت كوى او د داسے عمل محبت چه ستـا محبت ته مے نزدے كړى سوال كوم ـ بيا رسول الله ﷺ (مونږ ته) اوفرمائيل : چه دا خـوب بالكل رشتينے دے لهذا تاسو دا ياد كړئ او بيائے خلقو ته اوښايئ ـ (احمد، ترمذى، او امام ترمذیؒ فرمائى چه ما محمد بن اسماعيل نه دے حديث باره كښې تپوس اوكړو نو هغوى اووئيل چه دا حديث صحيح دے) ـ

تشريح : **فَثُوِّبَ بِالصَّلَاةِ** : يعني اقامت د مانځه اوشو ـ

اِحْتَبَسَ عَنَّا : ددے نـه معلوميږى چه كله يو امام راتب (مقرر) وى نو د هغه انتظار به كـولے شـى او كـه هـغـه نـه وى موجود نو بيا په خپل وقت د فضيلت كښې يو تن مخكښې كـول پكار دى لـكـه پـه سفر كښې عبد الرحمن بن عوفؓ د نبى عليـه السلام پـه عدم موجودگئ كښې مخكښې شو او دارنگه ابوبكرؓ هم ـ

عَلٰى مَصَافِّكُمْ : جمع د مصف ده ځائے د صف ته وائى : ثم انفتل : اى توجه الينا واقبل علينا ـ **اِسْتَثْقَلْتُ** : دا يا صيغـه د مـعلوم ده يا مجهول ده يعني پركالى او خوب راباندے غالب شو ـ

فَتَجَلّٰى لِىْ كُلُّ شَيْءٍ : يعني ما ته هر شے په دغه وقت كښې ښكاره شو هر شى نه مراد هـغـه خبرے دى چه ملأ اعلىٰ كښې جارى وے په دغه وقت كښې نو استدلال د قبوريين ددے نه صحيح ندے ـ بلكه دا چه دا واقعه د خوب ده فنعست فى صلاتى لفظ پرے دليل دے ـ

اَلْكَرِيْهَاتِ : پـه وقت د تـكـلـيفـونو كښې چه هغه د ژمى ورځے دى يا په هغه وقت چه اوبه په ډيرو پيسو ملاويږى ـ

اِطْعَامُ الطَّعَامِ : دا خیزونه درجات څکه اوچتوی چه پدے سره د انسان په زړه کښے خشوع او رحمت او نرمی پیدا کیږی نو د الله تعالی سره د انسان تعلق جوړیږی چه دا سبب دے د رفع الدرجات دے لکه یو بل حدیث کښے دی : و عن ابی مالك الاشعری رضی الله عنه، قال : قال رسول الله ﷺ : ان فی الجنة غرفا یری ظاهرها من باطنها و باطنها من ظاهرها اعدها الله لمن آلان الکلام و أطعم الطعام و أدام الصیام و صلی باللیل و الناس نیام ۔ رواه البیهقی فی شعب الایمان و المشکوة (۱/) باب التهجد ۔

نو انسان ته پدے کارونو د جنت بالاخانے حاصلیږی ۔ غیر مفتون : پدے کښے اشاره ده چه د حسن خاتمے پورے عافیت او همیشه سلامتیا طلب کول پکار دی ۔

اِنَّهَا : ای هذه الروایات ۔ **فَادْرُسُوْهَا** : یعنی یاد کړئ دا الفاظ یا اولولئ دا الفاظ دا حق دی ۔ **ثُمَّ تَعَلَّمُوْهَا** : یعنی ددے معانی هم زده کړئ ! ۔ (مرعات) یا فادرسوها لوستل او تعلموا یادولو ته وائی ۔ یعنی وے لولئ او بیائے یاد هم کړئ، یا دا چه خپله ئے اولولئ او بیائے نورو خلقو ته وزایزده کړئ ۔

درجة الحدیث : اسناده صحیح : اخرجه الترمذی (۳۲۳۳) ددے حدیث تخریج مخکښے تیر شویدے په حدیث د عبد الرحمن بن عائش (۳۸) (۳۹) کښے ۔

---

٦١ – وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ، قَالَ : كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ يَقُوْلُ : إِذَا دَخَلَ الْمَسْجِدَ : « اَعُوْذُ بِاللهِ الْعَظِيْمِ، وَبِوَجْهِهِ الْكَرِيْمِ، وَسُلْطَانِهِ الْقَدِيْمِ، مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ ». قَالَ : « فَاِذَا قَالَ ذٰلِكَ، قَالَ الشَّيْطَانُ : حُفِظَ مِنِّيْ سَائِرَ الْيَوْمِ ». رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ.

ترجمه : او عبد الله بن عمرو بن عاص رضی الله عنه فرمائی چه رسول الله ﷺ به چه کله مسجد ته داخلیدو نو دا دعاء به ئے لوستله : اعوذ بالله العظیم الخ یعنی زه په لوئی الله او د هغه په عزتمند مخ او همیشه بادشاهئ سره د رټلے شوی شیطان نه پناهی غوارم ۔ نبی کریم ﷺ اوفرمائیل : کله چه یو شخص مسجد ته داخلیدو وقت کښے دا دعا اووائی نو شیطان (ددے شخص په باره کښے) وائی چه دا بنده توله ورځ زما د شر نه محفوظ شو ۔ (ابوداود) ۔

تشریح : **حُفِظَ مِنِّيْ سَائِرَ الْيَوْمِ** : **سوال** : هر کله چه انسان ددے دعاء وئیلو په

وجه د شیطان نه محفوظ شو نو بیا انسان گناه ولے کوی ؟ **الجواب** : د گناه ډیر اسباب دی کله د نفس نه صادریږی نه د شیطان په وجه ۔ ٢- یا د شیطان نه مراد ابلیس دے نه جنس شیاطین ۔ ٣- یا اکبر الکبائر گناهونو سره د شیطانانو نه محفوظ شو نو دلته بیا حفاظت صرف د یو خاص شی نه دے چه هغه اکبر الکبائر دی ۔ لیکن اول جواب ظاهر دے ۔

درجة الحدیث : اسناده صحیح اخرجه ابوداود (٤٦٦) وسکت علیه هو المنذری ۔

٦٢- وَعَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : اَللّٰهُمَّ لَا تَجْعَلْ قَبْرِیْ وَثَنًا يُعْبَدُ، اِشْتَدَّ غَضَبُ اللهِ عَلٰى قَوْمٍ اِتَّخَذُوْا قُبُوْرَ اَنْبِيَائِهِمْ مَسَاجِدَ ». رَوَاهُ مَالِكٌ مُرْسَلًا.

ترجمه : او عطاء بن یسار رحمه الله فرمائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی : (یعنی دا دعاء ئے فرمائیلے ده) اللهم لا تجعل قبری وثنا یعبد : یعنی : اے الله ! زما قبر بت مه جوړوه چه خلق د هغے عبادت شروع کړی ۔ (او نبی علیه السلام اوفرمائیل) کومو خلقو چه د خپلو انبیاو د قبرونو نه سجده گاه جوړ وی په هغوی باندے د الله تعالی سخت غضب (نازل) شو ۔ (مالك رحمه الله مرسلا) ۔

تشریح : **وَثَنًا** : وثن هر هغه شی ته وائی چه د هغه جثه وی جوړ شوے وی د ملغلرو یا لرگو یا کاڼرو نه په شکل د انسان باندے یعنی بت او ددے په مقابل کښے صنم راځی دا هغه بت دے چه جثه نه لری ۔ بعض وائی : دواړه یو شے دے او کله احادیثو کښے وثن هغه شی دپاره استعمال وی چه هغه شکل نه لری لکه د عدی بن حاتم په څټ کښے د سرو زرو صلیب وو، نبی علیه السلام ورته اووئیل : الق هذا الوثن عنك ۔

مطلب دا دے چه اے الله ! زما قبر په تعظیم کښے د وثن او بت پشان مه جوړوه چه خلق د هغے عبادت شروع کړی او هغے ته سجدے لگوی، سر ورته ټیټوی ۔

علامه باجی وائی : نبی علیه السلام دا دعاء د تواضع په وجه اوکړه او دے دپاره چه هغه اقرار اوکړی چه عبودیت صرف د الله تعالیٰ حق دے او د الله سره د هغه په عبادت کښے شریك پیدا نشی نو پدے کښے د خپل عبدیت او عجز اقرار دے ۔

اِشْتَدَّ غَضَبُ اللهِ : دا جمله مستانفه (جدا) ده په جواب د سوال د سائل کښے واقع ده یعنی کله چه رسول الله ﷺ دا دعاء اوکړه نو خلقو تپوس اوکړو چه تا دا دعاء ولے اوکړه ؟

نو هغه په جواب کښې اووئيل : اشتد الخ : يعنى زه په خپل امت باندے انتهائى شفقت او مهربانى دپاره دا دعاء غوارم چه هسے نه دوئ هم په هغه لعنت کښې مبتلا نه شى لکه څنګه چه يهود وغيره پدے لعنت کښې اخته شو نو د الله تعالى په غضب باندے ګرفتار شو ـ او غضب د الله حقيقى صفت دے بغير د تشبيه نه ـ

درجة الحديث : اخرجه مالك فى الموطا (٤١٦) مرسلاً وقد صح الحديث موصولاً من حديث ابى هريرة عند احمد (٧٣١١) ـ

٦٣– وَعَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ رضي الله عنه، قَالَ : كَانَ النَّبِيُّ ﷺ يَسْتَحِبُّ الصَّلَاةَ فِي الْحِيْطَانِ ». قَالَ بَعْضُ رُوَاتِهٖ : يَعْنِي الْبَسَاتِيْنَ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ : هٰذَا حَدِيْثٌ غَرِيْبٌ لَا نَعْرِفُهُ اِلَّا مِنْ حَدِيْثِ الْحَسَنِ بْنِ اَبِىْ جَعْفَرٍ، وَقَدْ ضَعَّفَهُ يَحْيَى بْنُ سَعِيْدٍ وَغَيْرُهٗ.

ترجمه : او معاذ بن جبل رضى الله عنه فرمائى چه نبى كريم ﷺ به په حيطان کښې مونځ کول خوښول ـ ددے حديث بعض راويانو وئيلى دى چه حيطان نه مراد بساتين (يعنى باغونه) دى ـ امام ترمذیؒ دے روايت نقل کولو سره وئيلى دى چه دا حديث غريب دے (څکه) دا روايت بغير د حسن بن ابى جعفر د سند نه په بل هيڅ سند ندے نقل شوے او هغه هم يحيى بن سعيد وغيره ضعيف ګرځولے دے ـ

تشريح : يَسْتَحِبُّ الصَّلَاةَ : د صلاة نه مراد يا نفلى مونځ دے يا مطلقاً مونځ دے دا ئے ولے په باغونو کښې محبوب ګڼړو نو وجه دا ده چه خلوت بالله مقصود وو او هغه پدے طريقه حاصليږى چه د خلقو نه د څه وقت دپاره جدا شى او د الله تعالىٰ سره مناجات اوکړے شى او دا د زړه جوړولو يوه ښائسته طريقه ده ـ

علامه عراقیؒ وائى : د نبى عليه السلام په باغونو کښې د مونځ محبوب ګڼړلو کښې يو څو احتمالات دى (١) – يو دا چه پدے کښې خلوت د خلقو نه راځى (٢) – بله دا چه د مانځه په برکت سره به د باغونو په ميوو کښې برکت پيدا شى (٣) – يا دا چه څوك د چا ملاقات له لاړ شى نو د هغه کرامت دا دے چه د هغه په مكان کښې مونځ اوکړے شى ـ

(٤) – يا د هر ځائے اوپراؤ تحيه دا ده چه هلته مونځ اوکړے شى ـ كذا فى قوت المغتذى حاشية الترمذى (١/٧٧/١٤٥)ـ

درجة الحديث : اسناده ضعيف : اخرجه الترمذى (٣٣٤) وقال : هذا حديث غريب لا

نعرفه الا من حديث الحسن بن ابی جعفر قد ضعفه يحيى بن سعيد وغيره وهو فی ضعيف الجامع الصغير (٤٥٥٤)۔

٦٤– وَعَنْ اَنَسِ بْنِ مَالِكٍ ﷺ، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : «صَلَاةُ الرَّجُلِ فِیْ بَیْتِهٖ بِصَلَاةٍ، وَصَلَاتُهٗ فِیْ مَسْجِدِ الْقَبَائِلِ بِخَمْسٍ وَعِشْرِیْنَ صَلَاةً، وَصَلَاتُهٗ فِی الْمَسْجِدِ الَّذِیْ یُجَمَّعُ فِیْهِ بِخَمْسِ مِائَةِ صَلَاةٍ، وَصَلَاتُهٗ فِی الْمَسْجِدِ الْاَقْصٰی بِخَمْسِیْنَ اَلْفَ صَلَاةٍ، وَصَلَاتُهٗ فِیْ مَسْجِدِیْ بِخَمْسِیْنَ اَلْفَ صَلَاةٍ، وَصَلَاتُهٗ فِی الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ بِمِائَةِ اَلْفِ صَلَاةٍ» . رَوَاهُ ابْنُ مَاجَه .

ترجمه : او انس بن مالك رضی الله عنه فرمائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی : د سړی مونځ په خپل کور کښې د یو مونځ برابر او د محلے په مسجد کښې د هغه مونځ پنځه ویشت مونځونو برابر او په هغه مسجد کښې چه د جُمعے مونځ پکښې کولے شی (یعنی جامع مسجد کښې) د هغه مونځ پنځه سوه مونځونو برابر او مسجد اقصیٰ او زما مسجد (یعنی مسجد نبوی کښې) د هغه مونځ پنځوس زره مونځونو برابر دے او په مسجد حرام کښې د هغه مونځ د یو لاکهـ مونځونو برابر دے ۔ (ابن ماجة) ۔

تشریح : پدے حدیث کښې د مساجدو مراتب او په هغے کښې د مونځ کولو د ثواب د درجاتو فرق معلومیږی چه د ټولو نه لاندے درجه خو دا ده چه په کور کښې مونځ اوکړی یواځے وی او که جَمعه وی نو ده ته صرف د یو مونځ ثواب ملاویږی او که د محلے په مسجد کښې مونځ اوکړی نو د پنځه ویشت مونځونو ثواب ورته ملاویږی او په جامع مسجد کښې مونځ کولو سره پنځه سوه او بیت المقدس او مسجد نبوی کښې د یو مونځ په بدله کښې د پنځوس زره مونځونو ثواب ملاویږی او په مسجد حرام کښې د یو لاکهـ مونځونو ثواب ملاویږی ۔ نو پدے حدیث کښ د مسجد نبوی او مسجد اقصیٰ درجه یو شان اوخودلے شوه نو دا د مخکښ تیر شوی حدیث مخالف ښکاری ؟ نو بعض تطبیق داسے کوی چه مسجد اقصیٰ کښې ابتداء کښې د پنځه سوه وحی ؤه بیا اضافه اوشوه پنځوس زره درجو ته اورسیدلو ۔ (۲) – صحیح دا ده چه دا روایت ضعیف دے ۔ نو تطبیق ته ضرورت نشته ۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف اخرجه ابن ماجه (١٤١٣) وفي سنده زريق ابوعبد الله الالهاني مختلف فيه يرويه عنه ابو الخطاب الدمشقي وهو مجهول، واورده ابن الجوزي في العلل المتناهية بسند ابن ماجه وضعفه بزريق وساق له الذهبي هذا الحديث وقال: هذا منكر جداً ۔ وقال ابن حجر المكي: قيل: ان هذا الحديث منكر لانه مخالف لما رواه الثقات ۔ المرعاة (٢/٤٦٧) وتعليق المشكاة لرمضان (١/٣١٨) ۔

٦٥- وَعَنْ اَبِيْ ذَرٍّ ﷺ، قَالَ: قُلْتُ: يَا رَسُوْلَ اللهِ! اَيُّ مَسْجِدٍ وُضِعَ فِي الْاَرْضِ اَوَّلُ؟ قَالَ: «اَلْمَسْجِدُ الْحَرَامُ». قَالَ: قُلْتُ: ثُمَّ اَيٌّ؟ قَالَ: «ثُمَّ الْمَسْجِدُ الْاَقْصٰى». قُلْتُ: كَمْ بَيْنَهُمَا؟ قَالَ: «اَرْبَعُوْنَ عَامًا، ثُمَّ الْاَرْضُ لَكَ مَسْجِدٌ، فَحَيْثُ مَا اَدْرَكَتْكَ الصَّلَاةُ فَصَلِّ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: او ابوذر رضی الله عنه فرمائی: ما رسول الله ﷺ ته عرض اوکړو چه یا رسول الله! په مخ د زمکه باندے د ټولو نه ړومبے کوم مسجد جوړ شویدے؟ رسول الله ﷺ اوفرمائیل: مسجد حرام، ما عرض اوکړو چه بیا ددے نه روستو؟ وے فرمائیل: مسجد اقصیٰ (یعنی بیت المقدس) بیا ما تپوس اوکړو چه ددے دوارو مسجدونو (د آبادئ) په مابین کښے څومره فرق وو؟۔ نبی کریم ﷺ اوفرمائیل: څلویښت کاله ۔ بیا دے نه پس ئے اوفرمائیل: بیا ټوله زمکه ستاسو دپاره مسجد دے ۔ (یعنی ددے هره حصه د مسجد حکم لری چه) چرته د مونځ وقت درباندے راشی هلته مونځ کوه! ۔ (بخاری ومسلم) ۔

تشریح : اَوَّلُ : دا یا مرفوع دے ای اول کل شئ ۔ یا منصوب دے ۔ پدے حدیث کښے دا **قوی اشکال** کیږی چه مشهوره دا ده چه بیت الله ابراهیم علیه السلام جوړ کړیدے او بیت المقدس سلیمان علیه السلام جوړ کړیدے او د سلیمان او ابراهیم علیهما السلام ترمینځ خو د زرکالو نه زیاته موده فرق دے لهذا رسول الله ﷺ دا په کوم اعتبار سره اوفرمائیل: چه د دوارو ترمینځ څلویښت کاله فرق وو؟ ۔

الجواب : علماؤ ددے مختلف جوابونه ذکر کړیدی چه راجح روستو ذکر کیږی ۔

(١)– علامه ابن الجوزی رحمه الله فرمائی : دلته اول بناء او آبادیے ذکر کول مراد دی او دا خبره معلومه ده چه د کعبے اول بانی ابراهیم علیه السلام ندیے او د بیت المقدس اول بانی سلیمان علیه السلام ندیے بلکه د کعبے آبادیے د ټولو نه مخکښے آدم علیه السلام کړیدیے بیا د هغه اولاد په زمکه کښے خواره شو نو کیدیے شی چه د هغه د اولادو نه یو تن د بیت المقدس بنیاد ایښے وی او دیے دواړو په مابین کښے به څلویښت کاله فرق وی او ددیے نه روستو ابراهیم علیه السلام کعبه دوباره آباده کړه او سلیمان علیه السلام بیت المقدس آباد کړو ۔ نو اشکال نشته ۔

(٢) – بعض وائی : دواړه مسجدونه ملائکو جوړ کړیدی او د دواړو مینځ کښے څلویښت کاله فاصله وه ۔ وروی هذا عن ابی جعفر الباقر محمد بن علی بن الحسین ۔

(٣) – حافظ ابن حجر عسقلانی رحمه الله – فرمائی : ابن هشام په کتاب التیجان کښے ذکر کړیدی چه آدم علیه السلام کله کعبه جوړه کړه نو الله تعالی ورته حکم اوکړو چه بیت المقدس ته لاړ شی او هغه جوړ کړی نو آدم علیه السلام د هغه حکم په تعمیل کښے بیت المقدس جوړ کړو او په هغے کښے ئے عبادت اوکړو ۔

لیکن دا خبره به مونږ هله اومنو چه د ابراهیم علیه السلام نه مخکښے بیت الله جوړ شویے وی مگر حافظ ابن کثیرؒ په خپل تفسیر (١/١٧٣) کښے فرمائی : چه دا ټول روایات بے سنده او ضعیف دی او د اهل کتابو د کتابونو نه اخستے شویدی چه د هغے تصدیق او تکذیب نشی کیدیے ۔

که په صحیح سند ثابت شوی ویے نو فعلی الرأس والعین به مقبول وی او په قرآن کښے ټول نسبت ابراهیم علیه السلام ته کیږی ۔

(٤) – نو **راجح او صحیح** خبره هغه ده چه حافظ ابن القیم رحمه الله په زاد المعاد (١/٥٠ طبع جمعیة احیاء التراث) کښے لیکلی ده چه دا حدیث په هغه چا اشکال راولی چه هغه ددیے په مقصد پوهه نه وی بلکه اصلی او صحیح خبره دا ده چه کعبه ابراهیم علیه السلام جوړه کړیده او بیت المقدس یعقوب علیه السلام جوړ کړیدیے او د دواړو آبادو ترمینځ څلویښت کاله فاصله وه او بیا دا بیت المقدس وران شویے وو نو روستو زمانه کښے سلیمان علیه السلام ددیے تجدید اوکړو نه تاسیس انتهیٰ ۔ او دلیل پدیے باندیے دادیے چه په قرآن او احادیثو کښے د کعبے نسبت ابراهیم علیه السلام ته کیږی لکه : ﴿ وَإِذْ بَوَّأْنَا لِإِبْرَاهِيمَ مَكَانَ الْبَيْتِ ۔ وَإِذْ يَرْفَعُ إِبْرَاهِيمُ الْقَوَاعِدَ مِنَ الْبَيْتِ وَإِسْمَاعِيلُ ﴾ ۔

ثُمَّ الْاَرْضُ: دا څکه وائی چه د مسجد التزام ضروری ندے بلکه هر ځائے مونځ کول جواز لری اګرکه مسجد کښے جماعت سره مونځ کول ضروری دی۔

باب الستر

د مانځه د متعلقاتو نه بل شرط او فرض عورت پټول دی ددے وجے نه ددے مناسبت د ماقبل سره دا دے چه مخکښے یو فرض بیان شو چه هغه مکان معلومول دی، اوس بل فرض بیانوی چه هغه عورت پټول دی پدے باب کښے به د ستر او جامو متعلق احادیث راوړی۔

فائده : مسئلة الحجاب للنساء والرجال :

اول د سړی عورت په دوه قسمه دے۔(أ) فی الصلوة : په مانځه کښے به سړے د نامه نه تر زنګون پورے عورت پټوی او اوګے به هم پټوی، او باقی بدن پټول صرف ادب درجه کښې دی که ښکاره شی نو مونځ نه فاسدیږی۔

(ب) خارج الصلاة : د مانځه نه بهر د سړی عورت د نامه نه تر زنګون پورے دے۔

بیا ستر په دوه قسمه دے (۱) ستر اضطراری (۲) ستر اختیاری۔

(۱)- **ستر اضطراری** چه خومره جامه ملاوه شوه بس هغے باندے ځان پټ کړه مونځ ورسره جائز دے لکه د صحابه کرامو لنګونه به تر زنګنونو پورے وو۔ پدے وجه زنانو ته حکم شوے وو چه تاسو به د سړو نه روستو سر اوچتوئ چه د سړو په عورتونو باندے مو نظر اونه لګی۔

بیا فقه حنفی کښے وائی چه حالت اضطراری کښے به قیام ساقط وی په ناسته به اشاره کوی، قیام رکوع او سجده به نه کوی۔ نو دا خبره خطاء ده څکه که عورت ښکاره شو خیر دے ضرورت دے نو ددے په وجه به بل فرض نشی ترك کولے چه هغه قیام او رکوع او سجده ده۔ فَاتَّقُوا اللّٰهَ مَا اسْتَطَعْتُمْ (وما امرتکم بامر فاتوا منه ما استطعتم) الحدیث۔

(۲) **ستر اختیاری** : مکمل تول بدن پټول پکار دی سوا د پرکونه چه دا به نه پټوی۔ نصف الساق پورے مستحب او پرکو پورے جائز۔

د زنانه ستر : زنانه په دوه قسمه دی (۱) یو د نبی علیه السلام بی بیانے امهات

المؤمنين دي نو د دوی پرده ډیره منیعه (سخته) وه د هغوی دهغوی شخص ښکاره کول هم حرام وو پدے وجه هغوی به په کجاوه کښې کینولے شوے او برقع به ئے هم چا نشوه لیدلے ۔ د هغوی احکام سخت وو ۔

او دویم د عام امت زنانه دی نو د دوی پرده اول په دوه قسمه ده :

(۱) – **في الصلوٰة** : په مانځه کښے به ټول بدن پټ ساتی سوئ د وجه او کفین نه په اجماع د مسلمین سره اگرکه پردے سرے ئے اووینی هم د زنانه مونځ نه ماتیږی ۔

او هر چه ظاهر القدمین دی د هغے پټول هم ضروری دی لکه روستو حدیث را روان دے : اذا كان الدرع سابغا يغطي ظهور قدميها ۔ اگرکه په تیاره کښے او په کمره کښې مونځ کوی ځکه دا حجاب حق د الله تعالى دے په هیڅ حالت کښې نه ساقطیږی ۔

(۲) **دویم قسم حجاب خارج الصلاة** ۔ دا بیا درے قسمه دے ۔

(۱) – **الحجاب الاعلى والافضل** : د ټولو نه اعلیٰ او افضله پرده دا ده چه زنانه کور کښې کینی او د کور نه بهر اونه وځی ځکه حدیث کښې دی : المرأة عورة فاذا خرجت استشرفها الشيطان (ترمذی) ۔ زنانه چه کله کور نه اوځی نو شیطان ئے د خلقو سترګو ته وړاندے کوی چه خلق ورته اوګوری ۔ لیکن خروج د زنانه د حوائجو او خپل خپلوانو ملاقات او صله رحمی دپاره جائز دی، ځکه چه د زنانه په صفاتو کښې سائحات صفت په قرآن کریم کښې راغلے دے چه دوی به د علم دپاره سفر کوی د کور نه به وځی او د عوامو پشان کار به نکوی چه زنانه مدرسے او د دین د زده کړے دپاره هیڅرته نه پریدی او داسے وائی چه (زنانه یا په کور ده یا په ګور ده) لیکن داسے به هم نکوی چه برقع د سر نه نه ګوزوی او په ادنیٰ مناسبت سره د کور نه بهر وځی دا خبره صرف د ضرورت دپاره ده ۔ او دا کار ډیر اعلیٰ دے ۔

۲ – **دویمه درجه اعلیٰ : حجاب من رأسها الى قدمها** : چه د سر نه تر خپو پورے پټ کړی او مخ هم ورسره پټ کړی او دا په اتفاق د علماؤ سره د زنانه دپاره مستحب ده، ځکه څوك چه د مخ او لاسونو د ښکاره کولو په جواز قائل دی د هغه علماؤ په نیز هم دا قسم پرده بهتر ده ۔ دیته بعض علماؤ واجب وئیلے دے لیکن دا قول ډیر سخت دے دغه علماء پرے پخپله هم عمل نشی کولے لکه روستو راځی ۔

دليل : پدے باره کښې ډیر احادیث راغلی دی چه هغے کښې دا ذکر دی چه د رسول الله

ﷺ په زمانه کښې به دا قسم پرده کيدله - لکه ثابت بن قيس بن شماس رضي الله عنه فرمائي : يوه ښځه (ام خلاد) نبي کريم ﷺ خواته راغله چه نقاب ئې اچولے وو او د خپل مقتول ځوي په باره کښې ئې د مسئلے تپوس کولو نو بعض صحابه کرامو ورته اوفرمائيل : د خپل ځوي د تپوس دپاره راغلے ئې او مخ هم دے پټ کړيدے ؟ هغوي اووئيل : که ځوي مے لاړو نو حياء خو نشم بوتلے -

(۳)- دريم حجاب : بالنسبة الى المحارم : نو محارمو ته سر، مخ، پنډئ لاسونه مواضع الزينت ښکاره کولے شي -(۲) - او غير محارمو لکه ماما ځوي، کاکا ځوي، ليور، اوښيے، وغيره ته تول بدن عورت دے الا الوجه والکفين -

او دا اختلافي صورت دے (۱) - جمهور علماء وائي : لاسونه او مخ هم عورت دے نو زنانه به د سر نه تر خپو پورے تول بدن پټوي او مخ او لاسونه او ظاهر القدمين به هم پټوي او دا پرے فرض او واجب دي - که مخ او لاسونه ئې ښکاره کړل سخته ګناهګاره به وي -

(۲) - احناف کما في المرقاة او ابن جرير او شوافع او قاضي عياض، ابن الحزم الظاهري، شيخ الاسلام ابن تيميه او حافظ ابن حجر او شيخ الباني فرمائي : مخ لاسونه عورت ندے او دا پردو سړو ته هم ښکاره کولے شي (اګرکه افضل نده) او ددے ښکاره کول جائز دي خو په يو څو شرطونو سره (۱) - مصافحه به نه کوي چه ماما ځوي، اوښې وغيره ته لاس ورکړي نو دا به ګناه وي (۲) - دواړه (سړے او ښځه) به ذي الريبه نه وي تهمت به پرے نه وي - (۳) - خلوت به نه وي يواځے به دواړه نه کيني - خلوت ديته وائي چه دواړه داسے ځائے کښې يواځے ناست وي چه د دواړو په خبرو بل څوك نه پوهيږي لکه رکشه کښې ورسره ناسته وي يا يواځے کوټه کښې ورسره ناست وي - (٤)- زينت او ډول به نه ښکاره کوي چه سرے شونډے د ليور يا اوښي مخے ته ناسته وي دا کار حرام دے -(٥) - ان لايکون ثوبها ضيقا : زنانه به داسے جامے نه وي اغوستي چه هغه تنګے وي چه د عورت تحديد ئے کيږي لکه سينے يا کوناتي ئے ښکاره شي - (٦) - او دغه زنانه به مخ پټول افضل ګڼړي نو پدے شرطونو سره که ديو زنانه مخ يا لاسونه ښکاره شي نو ان شاء الله تعالى چه دا کار به جائز وي لکه مثلا يو زنانه په يو محفل کښې ناسته ده او ليور ئے راشي او هغه ته ددے مخ ښکاره شي نو دا به حرام نه وي يا ئے د ماما، کاکا ځوي راشي نو دا ورته د وړاندے نه سترې مشي اووائي چه لاس ورنکړي او يواځے ورسره نه کيني نو دا به جائز

وی۔

دلائل : پدے بارہ کښې ډیر زیات احادیث وارد دی چه هغه په فتاوی الدین الخالص (۵۱۲/۳) او حجاب المرأة المسلمه للشیخ الالبانی ص (۵۳) کښې ذکر دی مګر دلته بطور اختصاریو څو ذکر کولے شی :

۱- دلیل : ابن عباسؓ فرمائی : یوه زنانه د خثعم قبیلے د رسول الله ﷺ نه د حجة الوداع په موقعه د اختر په ورځ تپوس اوکړو او فضل بن عباسؓ د رسول الله ﷺ سره (په اوښه باندے) روستو سور وو او فضل ښائسته وو - نو پدے حدیث کښې دا دی چه : فضل بن عباس پدے حال کښې دے زنانه ته کتل او دا هم ښائسته وه (وکانت امرأةً وضيئةً) نو رسول الله ﷺ د فضلؓ زنه اونیوله او مخ ئے ورله بل طرفته واړولو الخ بخاری (۲۰۵/۱) ومسلم (۴۳۱/۱) واحمد (۲۱۱/۱) ۔

علامه ابن حزمؒ په المحلی کښې فرمائی : که چرے مخ عورت وے او د هغے پټول لازم وے نو رسول الله ﷺ به هغے ته وئیلی وے چه د خلقو په مخکښې ولے مخ ښکاره کوے او هغے ته به ئے دا حکم کړے وے چه په ځان باندے د بره نه جامه رازوړنده کړی او که د هغے مخ پټ وے نو ابن عباس څنګه اوپیژندله چه دا ښائسته ده او که بدرنګه ؟ انتهی ۔

دارنګه دا ښځه په حالت د احرام کښې هم نه وه ځکه چه دا د اختر ورځ ده او نبی علیه السلام جمرة العقبه ویشتلے ده او ددے نه پس انسان احرام لرے کولے شی کما قال الحافظ فی الفتح (۸/۱۱) بیا حافظ د ابن بطال نه نقل کوی فرمائی : فی الحدیث الامر بغض البصر خشية الفتنة ومقتضاه انه اذا امنت الفتنة لم يمتنع ويؤيده انه ﷺ لم يحوّل وجه الفضل ادمن النظر اليها لاعجابه فخشى الفتنة عليه ۔

یعنی پدے حدیث کښې امر دے په نظر خکته کولو باندے کله چه د فتنے نه ویره وی نو ددے امر تقاضا دا ده چه کله د فتنے یره نه وی نو منع نده او ددے تائید پدے سره کیږی چه نبی علیه السلام د فضل مخ واړولو چه کله ئے هغه زنانه ته نظر همیشه کړو ځکه چه هغه ته ښائسته ښکاره شوه نو نبی علیه السلام په هغه باندے د فتنے نه اویریدو ۔ دا وجه ده زنانه ته ئے اونه وئیل چه مخ دے ولے ښکاره کړیدے ؟۔

۲- دلیل ثانی : حدیث د سهل بن سعدؓ کښې راغلی دی : یوه زنانه رسول الله ﷺ ته راغله وے وئیل : یا رسول الله ﷺ زه دے دپاره راغلے یم چه خپل ځان تا ته هبه کړم نو رسول الله ﷺ هغے ته ښکته بره اوکتل بیا ئے ترے سر خکته کړو کله چه زنانه اولیدل

چه نبی علیه السلام د هغې اراده اونکړه نو کیناسته پدې کښې یو صحابي اووئیل یارسول الله ﷺ که ستا ورته ضرورت نه وی نو ماته ئې په نکاح راکړه الخ ـ الحدیث اخرجه الشیخان وهو فی المشکاة (۲/۲۷۷) ـ نو دلته دا زنانه نورو صحابه کرامو هم لیدلې ده او دغه مطالبه کونکی صحابي هم اولیدله ځکه چه مخ ئې ښکاره وو ـ

۳– **دلیل** : په حدیث د ابن عباسؓ کښې راغلی دی : چه هغه ته چا اووئیل : ته د رسول الله ﷺ سره د اختر مونځ ته حاضر شوې ئې ؟ هغه اوفرمائیل : آؤ ! په هغې کښې دا دی چه رسول الله ﷺ بیا زنانو خواته راغلو او هغوی ته ئې وعظ او تذکیر اوکړو او د صدقې حکم ئې ورته اوکړو : قال فبسط بلال ثوبه ثم قال : هلم لکن فداکن ابی وامی، فرأیتهن یهوین بایدیهن یقذفنه ـ الحدیث ـ ابن عباس وائي : بلال ورته جامه خوره کړه او بیا ئې اووئیل : خپل سامانونه راوړئ، ابن عباس فرمائي : ما هغه ښځې اولیدلې چه لاسونه ئې راخکته کول او سامان (والئ وغیره) ئې غورځولې ـ بخاري (۱/۱۳۳) احمد (۱/۳۳۱) البیهقي (۳/۳۰۷) ـ

علامه ابن حزمؒ فرمائي : فهذا ابن عباس بحضرة رسول الله ﷺ رأی ایدیهن فصح ان الید من المرأة والوجه لیسا بعورة وما عداهما ففرض ستره ـ یعنی ابن عباس رضی الله عنه د رسول الله ﷺ مخامخ د زنانو لاسونه اولیدل نو دا صحیح دلیل دے چه د ښځې لاس او مخ عورت ندے او هرچه ددې نه ماسوا اندامونه دی نو د هغې پټول فرض دی انتهیٰ ـ

٤– سبیعه بنت الحارث نه روایت دے : چه دا د سعد بن خوله په نکاح کښې وه او د هغې نه خاوند په حجة الوداع کښې وفات شو او دا بدری صحابي وو نو د څلور میاشتو او لسو ورځو تیریدو نه مخکښې د هغې اولاد پیدا شو نو هغه چه کله د نفاس نه پاکه شوه او رانجه او نکریزې ئې اومږلې او ځان ئې تیار کړو ـ نو ابو السنابل بن بعکك رضی الله عنه ورسره مخامخ شو او ورته ئې اوفرمائیل : اربعی علی نفسك – او نحو هذا – لعلك تریدین النکاح ؟ انها اربعة اشهر وعشر من وفاة زوجك ـ په ځان باندې رحم اوکړه ! شاید چه ستا به د نکاح اراده وی ؟ (ځکه دې ځان جوړ کړیدے) او ستا عدت خو د خاوند د وفات نه پس څلور میاشتې او لس ورځې دے ؟ (هغه خو لاندی تیرې شوی) دا وائي : زه رسول الله ﷺ ته راغلم او د ابو السنابل بن بعکك خبره مې ورته ذکر کړه نو هغه اوفرمائیل : قد حللتِ حین وضعتِ ـ کله چه ستا اولاد پیدا شو نو بس ته حلاله شوې او عدت دې تیر شو ـ بخاري (۲/۸۰۲) احمد (٦/٤٣٢) واللفظ لاحمد ـ

دا حديث صريح دليل دے چه د صحابه کرامو د زنانو په عرف کښ مخ او لاسونه د عورت نه ندی حساب ورنه سبيعهؓ دپاره دا جائز نه وو چه هغه د ابوالسنابل – چه پردے سړے دے – مخامخ ښکاره کړی ۔ سره ددے نه چه هغه ددے خِطبه (جرګه هم) کړے وه او هغے رد کړے وه ۔

٥ – **حديث** د ابن عباس رضی الله عنهما کښ دی : عطاء بن ابی رباحؒ وائی : ما ته ابن عباسؓ اوفرمائيل : تا ته يوه جنتئ ښځه نه ښايم ؟ ما ورته اووئيل: ولے نه ؟ هغه اوفرمائيل : دا توره زنانه نبی عليه السلام ته راغله ورته ئے اوفرمائيل : انی اصرع و اتكشف فادع الله لی قال : ان شئت صبرت ولك الجنة و ان شئت دعوت الله ان يعافيك فقالت : اصبر ۔ فقالت انی اتكشف فادع الله لی ان لا اتكشف فدعیٰ لها ۔ په ما باندے مرګی راځی چه په هغے کښ ځان ښکاره کوم نو د الله نه ما دپاره شفا اوغواړه ! نبی عليه السلام ورته اوفرمائيل : كه ستا خوښه وی صبر اوكړه او ستا دپاره به جنت وی او كه ډخوښه وی نو زه به د الله نه اوغواړم چه تا به جوړه كړی ۔ دے اووئيل : زه صبر كوم خو ځان بربنډوم نو د الله نه اوغواړه چه ځان بربنډ نكړم (نور مرض دے وی خو چه دا بی حيائی ختمه شی) نو رسول الله ﷺ هغے دپاره دعا اوكړه بخاری (٨٤٤/٢) ۔

پدے حديث كښ ثابته شوه چه اجنبی زنانه ته د ضرورت په وجه كتل – كله چه د فتنے نه په امن وی – جائز دی ۔ دارنګه ددے زنانه علو الهمت ترے معلوم شو ۔

٧-**دليل** : ابو اسماء الرحبیؒ په ابوذر غفاری رضی الله عنه ورغلو كله چه هغه په ربذه مقام كښ وو او د هغه په خوا كښ توره ښځه وه نو ابوذر اوفرمائيل : الا تنظرون الی ما تأمرنی به هذه المرأة السوداء ۔ ددے تورے ښځے خبرے ته نه ګورئ چه ما ته څه حكم كوی ۔ اخرجه ابونعيم فی الحلية (١٦١/١) وابن سعد (١٤٧/٤) ۔

د ابوذر پدے عمل كښ سوچ اوكړه ۔

٨-**دليل** : ابن عباس رضی الله عنهما فرمائی : يوے زنانه به د رسول الله ﷺ پسے مونځ كولو چه د ټولو خلقو نه ډيره ښائسته وه دا فرمائی : قسم په الله ما د هغے پشان هيڅوك نه وه ليدلے نو بعض خلق به مخكښ كيدل چه په اول صف كښ اودريږی چه چرته په هغه زنانه ئے نظر اونه لګی (نو په فتنه كښ به واقع شی) او بعض خلق (منافقان) به روستو كيدل دے دپاره چه روستو صف كښ اودريږی نو كله چه به ركوع ته خكته شو نو لاسونه به ئے جدا كړل د تخرګونو لاندے به ئے كتل نو الله تعالی دا آيت

نازل کړو ﴿ وَلَقَدْ عَلِمْنَا الْمُسْتَقْدِمِينَ مِنْكُمْ وَلَقَدْ عَلِمْنَا الْمُسْتَأْخِرِينَ ﴾ ۔ اخرجه احمد (٣٠٥/١) والحاكم (٣٥٣/٢) والبيهقي (٩٨/٣) وانظر الصحيحة (٦٠٨/٥) رقم (٢٤٧٢) ۔

نو دا صحیح حدیث دلیل دے چه د زنانه دپاره مخ ښکاره کول جائز دی که په مانځه کښې وی او که بهر د مانځه نه وی ۔

٩- دلیل : عبد الله بن مسعود رضی الله عنه فرمائی : رسول الله ﷺ یوه ښځه اولیدله نو هغه ئے خوښه شوه، سودے رضی الله عنها خوا ته راغلو چه هغے خوشبوئی جوړوله او د هغے خوا ته نورے زنانه ناستے وے نو هغه ئے یوائځے کړه او خپل حاجت ئے ترے پوره کړو بیا ئے اوفرمائیل : ایما رجل رأی امرأة تعجبه فلیقم الی اهله، فان معها مثل الذی معها ۔ کوم سړے چه یوه ښځه (غیر اختیاری) اووینی چه خوښه ئے شی نو هغه دے خپل کور والا سره ملاؤ شی ځکه زنانه ټولے یو شان دی (د خپلے زنانه نه په حاجت پوره کولو سره به هغه تصویر د دماغو نه اوځی) ۔

اخرجه مسلم والدارمی وهو فی المشکاة (٢٦٩/٢) ۔

نو دا حدیث دلیل دے چه زنانه به کولاؤ مخ والا وی ځکه به د سړی په زړه کښې واقع کیږی ۔

١٠- دلیل : قیس بن ابی حازم فرمائی : زه او زما پلار ابو بکر صدیق خوا ته ورغلو- چه هغه سپین او خفیف الجسم والا سړے وو - د هغه په خوا کښې د هغه ښځه اسماء بنت عمیس ناسته وه چه د هغه نه ئے ځه شړل - او دا سپینه ښځه وه چه په لاسو نو ئے خالونه د جاهلیت د زمانے نه لګیدلی وو الخ ۔ اخرجه الطبرانی فی الکبیر (١٣١/٢٤-٣٥٩) وابن جریر الطبری فی تهذیب الآثار ۔ مسند عمر (١١٤/١-١٨٧) وابن سعد فی الطبقات (٢٨٣/٨) باسناد صحیح ۔

نو په دے حدیث کښې د مخ ښکاره کیدل ذکر دی ۔

١١- دلیل : عمران بن حصین رضی الله عنه فرمائی : زه د رسول الله ﷺ سره خوا کښې ناست وم چه په دے کښې فاطمه راغله او د هغه مخے ته اودریده نو ما ورته اوکتل او د هغه د مخ نه وینه تلے وه نو نبی علیه السلام ورته اوفرمائیل : رانزدے شه فاطمے ! هغه رانزدے شوه تر دے چه د هغه مخے ته اودریده رسول الله ﷺ لاس پورته کړو او د هغے د امیل ترلو په ځائے په سینه کښې لاس کیخودلو او ګوتے ئے کولاوے کړے بیا ئے اوفرمائیل :

اللهم مشبع الجاعة ورافع الوضيعة لا تجع فاطمة بنت محمد ﷺ ـ اے الله چه ته وګے مړه ونکے ئے او خکته زنانه پورته کونکے ئے، فاطمه بنت محمد مه وګے کوه ـ عمران فرمائی : ما هغے ته اوکتل چه د هغے په مخ باندے غلبه اوشوه او زیړ والے ترے ختم شو لکه مخکښ چه زیړ والے د هغے په وینه غالب شوے وو ـ عمران فرمائی : زه د هغے سره روستو ملاؤ شوم او تپوس مے ترے اوکړو ؟ هغے اوفرمائیل : ما جعت بعد یا عمران ! ـ د هغے نه بعد هیڅ کله وګے شوے نه یم ـ اخرجه ابن جریر فی تهذیب الآثار مسند ابن عباس (٤٨٦/١) والدولابی فی الاسماء والکنی (١٢٢/٢) بسند لابأس به وهو فی المجمع (٢٠٣/٩) ـ

دلته عمران بن حصین‌ؓ فاطمے ته د رسول الله ﷺ مخامخ کتلی دی ـ

١٢- **دلیل** : جریر‌ؓ فرمائی : ما د رسول الله ﷺ نه د ناڅاپی نظر په باره کښ تپوس اوکړو نو هغه راته اوفرمائیل : [اصرف بصرك] ـ نظر واړوه ـ امام نووی په شرح مسلم (٢١٢/٢) کښ ددے حدیث په تشریح کښ وائی : قاضی عیاض‌ؒ وئیلی دی چه علماؤ وئیلی دی چه دا حدیث دلیل دے چه په ښځه باندے دا واجب ندی چه هغه به په لاره کښ مخ پټوی بلکه دا کار ورله مستحب دے او سړو باندے لازم دی چه هغوی به په ټولو حالاتو کښ نظر خکته کوی مګر که یو شرعی غرض وی بیا کتل جائز دی لکه ګواهئ په وخت کښ یا د بیع شراء وخت کښ وغیره او دا به هم بقدر الحاجت وی ـ

١٣-**دلیل** : عبد الواحد بن ایمن فرمائی : ما ته زما پلار حدیث بیان کړیدے هغه فرمائی : زه عائشے‌ؓ خوا ته ورغلم او په هغے باندے یو قمیص وو چه د پنځه روپو په مقدار وو نو عائشے اووئیل : ارفع بصرك الی جاریة انظر الیها فانها تُزهی ان تلبسه فی البیت وقد کان لی منهن درع علی عهد رسول الله ﷺ الحدیث ـ اخرجه البخاری (٣٥٨/١) ـ

نظر پورته کړه او دے جینئ (وینزے) ته اوګوره دا لباس په کور کښ نه اغوندی او حال دا چه ددے نه د رسول الله ﷺ په زمانه کښ زما قمیص جوړ وو ـ

دلته عائشه‌ؓ پردی سړی ته د وینزے په کتلو حکم کوی پدے کښ فکر اوکړه ـ

١٤- حدیث کښ دی : لا تنتقب المراة المحرمة الخ محرمه زنانه به نقاب نه اچوی چه مخ پکښ پټ کړی معلومه شوه چه غیر محرمه زنانه دپاره مخ ښکاره کول جائز دی ـ

باقی احادیث په فتاوی الدین الخالص او حجاب المرأة المسلمة کښ اوګوره ـ

نو دا احادیث صریح دلائل دی په دے خبره چه مخ او لاسونه عورت ندے اګرکه بهر وی ـ

اوکوم احادیثو کښې چه د مخ پټول راغلیدی نو هغه په استحباب باندے حمل دی او بعض احادیث ضعیف دی او الا ما ظهر منها نه چه ابن مسعود برقع اخستے او یا هغه چه غیر اختیاری ښکاره شی نو دا تفسیر محققین علماؤ ضعیف گرځولے دے او دائے وئیلی دی چه د ابن مسعودؓ سره پدے باره کښې نور صحابه کرامؓ ندی ملگری او ددے په خلاف د عبد الله بن عباسؓ تفسیر دے الا ما ظهر منها ای الوجه والکفان ۔ مخ او لاسونه ښکاره کول جائز دی ۔ قاله الالبانی فی حجاب المرأة ص (٥٢) ۔

او دا فتوی د ابن عباس او ابن عمر رضی الله عنهم او سعید بن جبیر او عطاء او ابراهیم النخعی وغیره رحمهم الله ده چه مخ او لاسونه ښکاره کول جائز دی ۔

قول ثالث وترجيح الراجح :

دریم قول دا دے چه په هغے کښې جمع د تولو احادیثو راځی او هغه دا چه کله زنانه د کور نه بهر وځی نو په قول د جمهور عمل پکار دے ځکه ددے نه فتنه پیدا کیږی او په مخ پټولو کښې څه حرج هم نشته پدے وجه زنانه باندے لازم دی چه بهر وتلو وخت کښې د پردے لحاظ اوساتی خاصکر دا زمانه د فساد ده او د مخ نه فساد زیات پیدا کیږی ځکه چه د زنانه حسن او قبح د مخ نه معلومیږی لهذا حتی الوسع مخ پټول لازم دی خلق وائی : په مغل کښې خو یو میم دے ۔

او کله چه کور کښې وی او ډیر ورونه شریك اوسیږی نو که هغوی د یو بل د زنانو نه پرده شروع کړی نو په حرج کښې به پریوځی او شریعت په جدا اوسیدلو د وروړنو حکم هم ندے کړے ۔ نو عمل په قول د محققینو پکار دے ۔

اوکوم علماء چه وجه او کفان ته عورت وائی نو پدے گناه کښې اخته کیږی چه د ورنداریانو او دارنگه د ښینو او ماما او تره لونړو نه ستر نکوی ۔ نو د شریعت پدے رخصت باندے عمل کول پکار دی او ځان په زوره په حرج کښې ندی اخته کول پکار ۔ او دا قول د بعض شوافعو دے وهو الراجح وبالله التوفیق ۔

ستر : په فتحه د سین سره مصدر دے ۔ سترته اذا غطیته ۔ او په کسره د سین سره مفرد دے او جمع ئے ستور او استار راځی او دا ستر په قرآن سره ثابت دے ﴿ يَا بَنِيْٓ آدَمَ خُذُوْا زِيْنَتَكُمْ عِنْدَ كُلِّ مَسْجِدٍ ﴾ ۔ پدے کښې د طاوس او مجاهدؒ تفسیر دے چه ددے زینت نه مراد ثیاب (جامے) دی ۔

الفصل الاول - اولنے فصل

١ - عَنْ عُمَرَ بْنِ اَبِىْ سَلَمَةَ رضي الله عنه، قَالَ: رَأَيْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ يُصَلِّىْ فِىْ ثَوْبٍ وَاحِدٍ مُشْتَمِلًا بِهٖ، فِىْ بَيْتِ اُمِّ سَلَمَةَ، وَاضِعًا طَرَفَيْهِ عَلٰى عَاتِقَيْهِ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: عمر بن ابی سلمه رضی الله عنه فرمائی چه ما رسول الله ﷺ په یوه کپړه کښې مونځ کولو سره لیدلے دے ۔ د ام سلمهؓ په کور کښې نبی علیه السلام هغه جامے لره د خپل جسم نه داسے تاؤ کړے وه چه د هغے دواړه طرفونه د هغه په دواړو اوګو باندے وو (بخاری ومسلم) ۔

تعارف د عمر بن ابی سلمه رضي الله عنه:

دده نوم: ابوحفص عمر بن ابی سلمه الاسدی المخزومی القرشی دے او د مدینے اوسیدونکے دے د نبی علیه السلام پرکتے دے وړوکے صحابی دے د ام المؤمنین ام سلمه ځوی دے په حبشو کښې په دویم کال د هجرت پیدا شویدے ۔ نبی علیه السلام د وفات کیدو په وقت (۹) کالو په عمر وو او د علیؓ سره جنګ جمل ته حاضر شویدے او په بحرین باندے علیؓ ګورنر مقرر کړو او په زمانه د عبد الملك بن مروان سنه (۸۳) په قول صحیح کښې وفات شویدے (۱۲) احادیث ئے امت ته رانقل کړیدی ۔

تشریح: **مُشْتَمِلًا بِهٖ:** یعنی نبی علیه السلام پداسے یوه جامه کښې مونځ اوکړو چه د هغه نه راتاؤ شوے وه ۔ اشتمال: دیته وائی چه د کپړے ښی طرف کوم چه د ښیٔ اوګے لاندے دے په ګسه اوګه باندے واچوی او د ګس طرف د جامے کوم چه د ګسے اوګے لاندے دے هغه په ښیٔ اوګه باندے واچوی او دیته په روایت د بخاری کښې توشیح او په روایت د مسلم کښې ورته التحاف وئیلے شویدے او معنی د تولو همدغه یوه ده ۔

بیا ددے فائده څه ده؟ ۔ (۱) - یو ددے وجے نه به جامه کښې اشتمال کوی دے دپاره چه مونځ کونکے د رکوع په حالت کښې خپل عورت ته اونه ګوری (۲) - دویم دا چه د رکوع او سجدے په حالت کښې جامه راپرے نه وځی ۔

نو دا حدیث دلیل دے چه په یوه جامه کښې مونځ صحیح دے کله چه مصلی د هغے دواړه طرفونه په اوګو باندے ردوبدل تاؤ کړی ۔

مسئله : سر تور سر مونځ کولو څه حکم دے ؟ :

ددے حدیث نه یوه مسئله دا ثابتیږی چه سر تور مونځ بالکل صحیح او جائز دے ځکه رسول الله ﷺ په یوه جامه کښې مونځ کړیدے او په سر باندے ئے هیڅ ندی اچولی او دا اتفاقی مسئله ده او د عوامو په نیز سر تور سر مونځ کول حرام او ناروا دی خو هغوی له هیڅ اعتبار نشته ۔ او دا حکم د سړی دے هر چه زنانه ده د هغې سر تور سر مونځ کول مونځ فاسدوی ۔

صرف اختلاف په افضیلت کښې دے چه د سړی دپاره آیا ټوپۍ وغیره اچول افضل دی او که نه ؟ ۔

١ - بعض علماء وائی : سر تور سر مونځ کول جائز دی بغیر د څه کراهت نه او دوی دوه قسمه دلائل پیش کوی ۔ یو دلیل دا حدیث الباب دے چه رسول الله ﷺ په یوه جامه کښې مونځ اوکړو الخ ۔

٢ - بخاری (٥١/١) کښې محمد بن المنکدر وائی : صلی جابر فی ازار قد عَقَدَهٗ من قبل قفاه وثیابه موضوعة علی المشجب فقال له قائل تصلی فی ازار واحد فقال : انما صنعت ذلك لیرانی احمق مثلك الخ ۔ یعنی جابرؓ په یوه جامه کښې مونځ اوکړو چه د شټ د طرفنه ئے تړلے وو او جامه ئے په مشجب (ګرونج) باندے ایخودی وے، یو سړی ورته اووئیل (په طریقه د انکار) ته په یوه جامه کښې مونځ کوے ؟ هغه ورته اوفرمائیل : ما دا کار ددے دپاره اوکړو چه ستا پشان یو کمعقل مے اووینی (او هغه ته دا مسئله واضحه شی چه په یوه کپړه کښې مونځ بغیر د کراهت نه جائز دے) او بیا ئے ورته اووئیل : د رسول الله ﷺ په زمانه کښې د چا دوه جامے وے ۔ وسیأتی عن قریب فی هذا الباب المشکوة (٧٣/١) نو دا دلیل دے چه په سر تور سر مونځ کولو کښې هیڅ کراهت نشته ۔

٣ - دلیل : قیاس کوی په حج باندے چه په حالت د احرام کښې - چه دا بهتره زمانه او بهتر حالت دے -- او په دے کښې سر نشی پټولے نو د احرام نه بغیر به هم جائز وی لیکن په دے قیاس باندے دا اعتراض دے (کما اعترضه الشیخ الالبانی فی تمام المنه ص : ١٦٤) چه دا قیاس صحیح ندے ځکه چه د احرام په حالت کښې سر ښکاره کول عبادت دے او واجب دی نو پکار ده چه دلته هم واجب شی او حال دا چه تاسو ورته واجب نه وایئ ! ۔

الجواب : ددے جواب دا دے چه دلته دا قیاس مونږ فی الجمله کوو یعنی داسے

استدلال كوى چه كه سر سر تورول بد كار وے نو په احرام كښے به نه واجب كيدے او عبادت به نه گرځيدے۔

٢- قول ثاني دا دے چه **سر تور سر مونځ كول افضل ندى** كله چه انسان توپۍ باندے قادر وى بلكه پټول بهتر او افضل دى۔

دليل : آيت كښے دى : ﴿ خُذُوا زِينَتَكُمْ عِندَ كُلِّ مَسْجِدٍ ﴾ الاعراف۔

٢- دليل : حديث د بيهقى او طبرانى كښے دى كما فى فقه السنه (١/١٠٨) مرفوعا : فان الله احق ان يتزين له وهو حديث صحيح ۔ او شرعا زينت دا دے چه توپۍ وغيره استعمال كړے شى ځكه چه دا اسلامى لباس دے دا عام دلائل دى۔

٣- شيخ الاسلام په مجموعة الفتاوى (٢٢/١١٧) او طحاوى فى معانى الآثار(١/٢٥٧) او بيهقى په شعب الايمان كښے نقل كړيدى چه ابن عمرؓ خپل غلام نافع اوليدو چه سر تور سر مونځ ئے كولو ورته ئے اوفرمائيل : خبر راكړه كه ته خلقو ته اوځې نو آيا ته به پداسے حالت كښے اوځے ؟ هغه اووئيل : نه ! ابن عمر اوفرمائيل : فالله احق ان يتجمل له ۔ الله ډير لائق دے چه هغه دپاره ډول اوكړے شى او په حديث ابن مسعود كښے دى : نبى عليه السلام ته اووئيلے شو چه يو سړے دا غواړى چه د هغه جامه ښكلې ښائسته وى دا به تكبر وى ؟ نبى عليه السلام اوفرمائيل : نه (دا تكبر نه دے) ان الله جميل يحب الجمال الله جميل ښكلے ذات دے او جمال خوښوى ۔ نو راجح دا ده چه توپۍ پسر كول بهتر دى۔

وَاضِعًا طَرَفَيْهِ عَلٰى عَاتِقَيْهِ : دا تفسير دے د مشتملا ۔

٢- وَعَنْ اَبِىْ هُرَيْرَةَ ﷺ ، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : «لَا يُصَلِّيَنَّ اَحَدُكُمْ فِى الثَّوْبِ الْوَاحِدِ لَيْسَ عَلٰى عَاتِقَيْهِ مِنْهُ شَىْءٌ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ .

ترجمه : او ابو هريره رضى الله عنه فرمائى چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل : تاسو كښے دے هيڅوك په يوه كپړه كښے (داسے) مونځ نه كوى چه د هغے كپړے څه حصه د هغه په اوګو باندے نه وى ۔ (بخارى ومسلم) ۔

لَيس عَلٰى عَاتِقَيْهِ منه شىء الخ :

مسئله : په مانځه کښې د اوګو پټولو حکم

پدې باره کښې اختلاف دے؟ ١- **امام ابوحنیفه** ، مالك، شافعي او جمهور علماء وائي: د اوګو پټول مستحب دي او سترئے واجب ندے جائز مع الکراهت دے۔

٢- **امام احمد** او بخاري او بعض سلف وائي چه پټول واجب دي۔

حافظ په فتح الباري (١/٣٧٤) کښې فرمائي: هذا النهي للتحريم عند ابن عمر وطاوس والنخعي والطحاوي واحمد بن وهب وابن جرير ومحمد بن علي والشافعي في رواية ۔ ددے علماؤ په نیز دا نهي تحریم دپاره ده نو د اوګو ښکاره کول حرام شو او پټول ئے واجب شو۔

امام بخاري باب ایخودے دے: باب من يصلي وليس على عاتقيه شئ۔

دلائل د وجوب : دا حدیث الباب پرے دلیل دے او ښه صریح دے ځکه پدے کښې نهي راغلے ده چه ښکاره اوګو سره به مونځ نه کوے او مقتضی د نهي تحریم دے۔

٢-دلیل : مخکښې حدیث دے چه واضعا طرفيه على عاتقيه چه نبي عليه السلام اوګے پټے کړیدي۔

٣- قیاس : لکه د زنانو سر محارمو ته عورت ندے لیکن مانځه کښې ئے پټول واجب دي نو دلته اوګے اګرچه عورت ندے خو پټول ئے په مانځه کښې واجب دي۔

د جمهورو دلائل :

١- عقلي دلیل : اوګه عورت ندے نو پټول ئے ضروري ندي ۔لیکن دا عقلي دلیل دے په مقابله د نص کښې دے او ددے په مقابله کښې ښه قیاس مخکښې ذکر شو۔

٢- دلیل : حدیث د جابر دے (صلى جابر في ازار واحد كما مر) جابر په یوه جامه کښې مونځ اوکړو۔

الجواب : په هغه روایت کښې دا ذکر دی چه جامه ئے په څټ کښې ترلې وه معلومه شوه چه اوګه ئے پټه کړے وه ٢- او بالفرض که اومنو چه ښکاره وه نو هغه ته به دا حدیث معلوم نه وو۔

٣- دلیل : په حدیث د جابرؓ کښې مرفوعا دي: اذا صليت في ثوب واحد فان كان واسعا فالتحف به وان كان ضيقا فاتزر به، اخرجه الشيخان ومثله في نيل الاوطار (٢/٦٠)۔

نو کله چه جامه تنګه وی بیا ئے په بدن اوترړه نو ددینه د اوګو پټولو حکم نشته لکه دا

استدلال په تنظیم الاشتات کښې ذکر دے۔

الجواب: پدے حدیث کښې هیڅ دلیل نشته ځکه چه پدے حدیث کښې دا خبره ده چه کله د انسان جامه کولاوه غټه وی نو اوګے به پټوی او که تنګه وی وړه وی نو بیا د اوګو پټول ضرورت ساقط دی نو دا حدیث په ضرورت حمل دے او زمونږ خبره پدے کښې نشته دا خو تول منی چه کله ضرورت وی او جامه نه ملاویږی چه اوګے پرے پټے کړی نو د هغه نه اوګے پټول ساقط دی۔ **بعض احناف** وائی: دا حکم وجوبی ندے ځکه چه ددے حکمت دا دے چه که په اوګو باندے کپړه نه وی نو د کشف عورت خوف وی یا دا چه اوګه پټه نکړی نو په یو لاس یادواړه لاسونو سره به کپړه رانیسی چه د هغے په وجه به وضع الیمنیٰ علی الیسریٰ فوت شی کوم چه سنت دے کما فی التعلیق الصبیح۔

الجواب: حکم وجوبی دے او هر څه حکمت چه وی۔ د حکمت په وجه حکم وجوبی نه ساقطیږی وجوب او د حکمت منافات نشته نو ظاهره دا ده چه اوګے پټول واجب دی او قرینه صارفه د وجوب نشته۔ وباللہ التوفیق۔

٣– وَعَنْهُ رضي الله عنه قَالَ: سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ يَقُوْلُ: «مَنْ صَلّٰى فِيْ ثَوْبٍ وَاحِدٍ، فَلْيُخَالِفْ بَيْنَ طَرَفَيْهِ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: او ابو هریره رضی الله عنه فرمائی: ما د رسول الله ﷺ نه واوریدل چه فرمائیل ئے: څوك چه صرف په یوه کپړه کښې مونځ کوی نو هغه له پکار دی چه د هغه کپړے دواړو طرفونو کښې مخالفت راولی (یعنی اشتمال دے اختیار کړی کوم چه بیان شو)۔ (بخاری)۔

تشریح: یعنی کله چه جامه فراخه وی نو بیا به ئے دواړه طرفونه په اوګو باندے راتاؤ کړی او کله چه تنګه وی، وړه وی نو بیا به ئے په بدن پورے اوتړی او د اوګو پټول بیا ضروری ندی ځکه چه ضرورت دے دا امر د فلیخالف د وجوب دپاره دے لکه مخکښې ذکر شو مخالفا او یخالف او توشحا درے واړه یوه معنی ده۔

٤– وَعَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: صَلّٰى رَسُوْلُ اللهِ ﷺ فِيْ خَمِيْصَةٍ لَهَا اَعْلَامٌ، فَنَظَرَ

اِلٰى اَعْلَامِهَا نَظْرَةً، فَلَمَّا انْصَرَفَ، قَالَ: اِذْهَبُوْا بِخَمِيْصَتِيْ هٰذِهٖ اِلٰى اَبِيْ جَهْمٍ، وَأْتُوْنِيْ بِاَنْبِجَانِيَّةِ اَبِيْ جَهْمٍ، فَاِنَّهَا اَلْهَتْنِيْ آنِفًا عَنْ صَلَاتِيْ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ وَفِيْ رِوَايَةٍ لِلْبُخَارِيِّ، قَالَ: «كُنْتُ اَنْظُرُ اِلٰى عَلَمِهَا وَاَنَا فِي الصَّلَاةِ فَاَخَافُ اَنْ يَفْتِنَنِيْ».

ترجمه: او عائشه صديقه رضی الله عنها فرمائی چه رسول الله ﷺ په يو داسے څادر كښے مونځ اوكړو چه د هغے طرفونه د بل رنګ وو يا د هغے په طرفونو باندے څه كار شوے وو۔ نو نبی عليه السلام د هغے پټو ته خيال شو او كله چه د مانځه نه فارغ شو نو وے فرمائيل: چه دا څادر ابی جهم ته يو سئ (او هغه ته ئے حواله كړئ) او د ابوجهم انبجانيه شړئ ما ته راوړئ ځكه دے څادر اوس زه د خپل مانځه (د خشوع او توجه) نه غافل كړم ۔ (بخاری ومسلم) ۔ او د بخاری په يو روايت كښے (دا هم منقول دی چه) نبی عليه السلام اوفرمائيل: ما د مانځه په دوران كښے ددے څادر نقش ونګار طرفته اوكتل او زه اويريدم چه چرته دا زما مونځ خراب نكړی ۔

تشريح: **فِيْ خَمِيْصَةٍ**: هغه تورے شړئ ته وائی چه مربع (څلور قنجه) وی او نرمه وی د وريښمو نه هم وی او د وړئ نه هم او نخے پكښے وی ۔

لَهَا اَعْلَامٌ: جمع د علم ده د جامے نخو او پټو او كرخو ته وائی دا تاكيد او بيان دے د خميصه دپاره ځكه چه خميصه خپله هغه شړئ ده چه نخے پكښ وی ۔ يا په خميصه كښ تجريد شويدے د نخو معنی ترے لرے كړے شويده نفس شړئ ته وائی ۔ لكه علامه ابن عبد البرؒ وائی: خميصه كله بغير د نخو نه هم وی، كله سپينه پټه داره وی او كله زيړه وی او كله سره وی او كله توره وی او دا د اشراف العرب لباس وو ۔

او دا صحابه كرامو د قميص په ځائے استعمالوله ۔

د ابی جهم تعارف:

ابو الجهم بن حذيفه بن غانم القرشی العدوی، قال البخاری وجماعة اسمه عامر وقيل عبيد: د فتح د مكه په كال ئے اسلام قبول كړے او صحابی دے او په قريشو كښے ډير مخكښے سړے وو او په نسبونو باندے عالم وو او دا د هغه څلورو كسانو نه وو چه خلقو به ترے علم د نسب زده كولو او دا د معمرين نه وو ډير عمرئے لرلو قريشو چه كله كعبه جوړوله هغے كښے هم حاضر وو او كله چه ابن زبير جوړوله او دا په هغه څلورو كسانو

کښې شمار دي چه د عثمان په دفن کولو کښې شريك وو د ابن الزبير د خلافت د ابتداء پورې ژوندې وو .

اِذْهَبُوْا بِخَمِيْصَتِيْ : ابوجهم ته ئې دا شړئ ځکه ليږله چه ده ورته تحفه کښې ورکړې وه نو بيا کله چه رسول الله ﷺ هغه واخسته او د مانځه په دوران کښې ئې د هغې په نخو باندې نظر پريوتو نو په توجه کښې ئې څه فرق راغلو نو کله چه د مانځه نه فارغ شو، صحابه کرامؓ ته ئې اوفرمائيل : چه دا ابوجهم ته واپس کړئ ليکن بيا ئې خيال شو چه ددې څادر په واپس کولو سره به د هغه زړه خفه شي نو وې فرمائيل : چه ددې په بدله کښې د هغه انبجانيه راوړئ . نو تطيبياً لقلبهٖ ئې بله اوغوختله .

بِاَنْبِجَانِيَّةٍ : دا منسوب دې انبجان ښار ته هلته به جوړيدلې او دا په قنسرين علاقه کښې دې بعض وائي دا منسوب دې منبج ته چه دا په شام کښې مشهور مقام دې بيا په نسبت کښې ميم په همزه بدل شو مګر ابن قتيبه پدې باندې رد کړې چه دې کښې تعسف دې او دا غوره ندې . كما فى طرح التثريب (٢/٣٧٧) .

او دا هغه ساده شړئ وه چه د وړئ نه جوړېږي او زيږه وي څه نخې پکښې نه وي او دا په تولو کښې ادنى جامه ده .

فوائد الحديث : (١) — توره جامه استعمالول جائز دي او پدې باره کښې ډير احاديث راغلي دي . (٢) — جامه کښې زونډې او نخې جوړول جواز لري . (٣) — هر هغه شے چه انسان د مانځه نه مشغول کوي، غفلت راولي د هغې ختمول ضروري دي او نبي عليه السلام دا شړئ ځکه واپس کړه چه امت ته تعليم ورکوي چه د مانځه په سلسله کښې داسې څيزونو نه احتراز پکار دې چه توجه خرابوي .

(٤) — خشوع په مانځه کښې ضروري عمل دې او تشريح ئې په ابتداء د كتاب الصلاة کښې ذکر شوه .

(٥) — معمولي توجه خرابيدو سره د مونځ صحت نه خرابيږي مګر د خير نه محروم شو . (٦) — دا دليل دې چه مساجدو کښې تزويق او تزيين کول جائز ندي ځکه چه په هغې سره مصلين غافل کيږي وقد تقدم تفصيل المسئله .

(٧) — ملګرو نه هدايا او تحفې قبلول پکار دي .

(٨) — د انبياؤ او صالحينو عادت دا دې چه کوم بعض شے هغوی لره د مانځه او د الله د تعلق نه مشغول کړي نو هغه بالکليه د خپل ملك نه اوباسي لکه دلته نبي عليه السلام

خمیصه د خپل ملك نه اوویستله ـ

(۹) – فنظر نه معلومیږی چه مانځه کښې نظر کولاوول پکار دی او سترګې پټول ندی پکار خو پدې کښې اختلاف دے حافظ ابن القیمؒ ...... لیکی چه د رسول الله ﷺ په مانځه کښې نظر لګیدلو او پدے باره کښې ئے ډیر احادیث راجمع کړیدی (۱) – دلته ئے نظر لګیدلے دے (۲) – امام بخاری باب النظر الی الامام کښې لیکی : صحابه کرامو به د نبی علیه السلام ګیره په مانځه کښ لیدله چه خوزیدله به نو سنت دا ده چه سترګے به نه پټوی مګر د خشوع دپاره سترګے پټول جائز دی ـ

۱ – دلیل : منع نشته ۲ – نبی علیه السلام به تیاره کښې مونځ کولو نو سترګے پټول او تیاره کښ مونځ کول یو شئ دے والبیوت یومئذ لیس فیها مصابیح ـ لیکن سترګی غړول غوره دی ځکه چه پدے کښ خشوع زیاته وی ـ

فَاِنَّهَا اَلْهَتْنِیْ : یعنی قریبه وه چه زه ئے غافل کړے وے روستو اخاف لفظ پرے دلیل دے ـ یا دا چه په پدے ځل ئے توجه خرابه کړے وه او اخاف معنی دا ده چه آینده کښې ئے ځکه نه استعمالوم چه یره ده چه غافله به مے کړی ـ

نو د الهتنی معنی ده غافل ئے کړم لګ غوندے او اخاف په آینده زمانه کښ یره ده د زیات غفلت نه ـ

دا حدیث دلیل دے چه رسول الله ﷺ بشر دے په هغه باندے هم غفلت راتلے شی ـ

---

۵ – وَعَنْ اَنَسٍ رضی الله عنه، قَالَ : كَانَ قِرَامٌ لِعَائِشَةَ سَتَرَتْ بِهٖ جَانِبَ بَيْتِهَا، فَقَالَ لَهَا النَّبِيُّ ﷺ : «اَمِيْطِيْ عَنَّا قِرَامَكِ هٰذَا، فَاِنَّهٗ لَا يَزَالُ تَصَاوِيْرُهٗ تَعْرِضُ لِيْ فِيْ صَلَاتِيْ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ .

ترجمه : او انس رضی الله عنه فرمائی چه عائشےؓ د خپل کور په یوه حصه کښې یوه پرده اچولے وه ـ رسول الله ﷺ عائشےؓ ته اوفرمائیل : چه دا پرده زما د مخې نه لرے کړه ځکه ددے تصویرونه په مانځه کښې ماته همیشه مخې ته راځی ـ (بخاریؒ) ـ

تشریح : كَانَ قِرَامٌ : قرام نرئ پردے ته وائی بعض وائی : هغه پرده ده چه پیره رنګدارے وړئ نه جوړه وی بعض وائی : الستر الرقیق وراء الستر الغلیظ : د پیړے پردے نه روستو چه کوم نرئ پرده وی هغے ته وائی ـ

جَانِبَ بَيْتِهَا : پدے کښې دوه احتماله دی یا دا چه د دروازې جانب وو ٢– یا د دیوال جانب وو ۔ **سوال** : ددې حدیث تعارض دې د بل حدیث د عائشهؓ سره چه هغې کښې دا دی چه رسول الله ﷺ کور ته راننوتو نو دا پرده چه ئې اولیدله ، دروازه کښې اودریدو تر دې چه هغه ئې اوشوکوله او دلته دا وائی چه نبی علیه السلام په مانځه کښې اولیدله او عائشهؓ ته ئې اووئیل چه دا زما د مخې نه لرې کړه ؟ ۔ **الجواب** : دوه پردې دی یوه پرده کښې تصاویر د حیواناتو وو او دروازې ته زوړنده وه او دا پرده جدا ده پدې باندې د ذی روح حیوان تصویر نه وو بلکه د ونې وغیره تصویر وو ۔ قاله الحافظ ۔

صحیح دا ده چه دا پرده سهوه (طاقچی) ته زوړنده وه او تصاویر د رحال (پالان) پکښې وو یا دا ډیر واړه تصاویر وو ۔لکه بخاری (٣٣٧/١) المظالم کښې دی چه انها کانت اتخذت علی سهوةٍ لها ستراً فیه تماثیل ۔

٦– وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ ﷺ ، قَالَ : أُهْدِيَ لِرَسُوْلِ اللهِ ﷺ فَرُّوْجُ حَرِيْرٍ، فَلَبِسَهُ ثُمَّ صَلّٰى فِيْهِ، ثُمَّ انْصَرَفَ فَنَزَعَهُ نَزْعًا شَدِيْدًا كَالْكَارِهِ لَهُ، ثُمَّ قَالَ : « لَا يَنْبَغِيْ هٰذَا لِلْمُتَّقِيْنَ ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ .

ترجمه : او عقبه بن عامر رضی الله عنه فرمائی چه رسول الله ﷺ ته چا یوه ریښمی کوټ د تحفې په طور اولیږلو نو نبی علیه السلام هغه واغوستو بیا ئې پکښې مونځ اوکړو بیا (د مانځه نه پس) نبی علیه السلام هغه کوټ داسې اوویستو لکه د بد ګڼړونکی پشان ۔ بیا ئې اوفرمائیل : چه (ریښمی کپړې د شرك او کفر نه) د بچ کیدونکو والو لائق ندی ۔ (بخاری ومسلم) ۔

تشریح : فَرُّوْجُ حَرِيْرٍ : فتحه د فاء او راء مشدده مضمومه ده یا مخففه ده هغه کوټ او قباء ته وائی چه هغې کښې د شا طرفنه شلیدلې وی او دا به عجمو اغوستل او دا کوټ ورته د دومة الجندل بادشاه چه نوم ئې اکیدر بن عبد الملك دې تحفه کښې رالیږلې وه۔

فَنَزَعَهُ نَزْعًا شَدِيْدًا : پدې کښې دوه مطلبه جوړیږی (١) – یو دا چه دا د وریښمو کوټ ئې څکه واغوستو چه پدې وقت کښې لا حرام شوی نه وو او نبی علیه السلام پدې وجه اوویستلو چه دا اګرچه مباح دی لیکن د اوچتو خلقو (متقین) دپاره داسې لباس اغوستل مناسب ندی ۔ وجه دا ده چه د وریښمی کپړې اغوستو سره انسان کښې رعونت

او تـكبر پيدا كيږي ـ او بيا په روستو زمانه كښې په تولو مسلمانانو سرو حرام شو، متقي وي او كه غير متقي وي ـ

او ددې معنى تائيد په مسند احمد كښې دې: انس فرمائي: اكيدر بادشاه نبي عليه السلام ته د وريښمو يوه جُبه مخكښې د نهي د حرير نه هديه كړه نو هغه واخسته خلقو هغې ته تعجب اوكړو نبي عليه السلام اوفرمائيل: والذى نفسي بيده لمناديل سعد في الجنة احسن منها ـ(٢) - دويم مطلب: يا دا چه په دغه وقت كښې حرام شو تر اوسه پورې حلال وو خو چه نبي عليه السلام پكښې مونځ اوكړو نو نهي راغله نو ځكه ئې په جلتئ سره اوويستلو لكه ددې تائيد په يو بل روايت كښې راغلې دې: انه صلى في قباء من ديباج ثم نزعه وقال: نهاني عنه جبريل عليه السلام ـ مرقاة المفاتيح (٢/٢٣٦) اوله معنى ډيره ظاهره ده ـ

نو بيا به د متقين نه مراد مؤمنان وي اى الذين يتقون الكفر والشرك ـ او د لاينبغي نه مراد حرمت دې ـ

مسئله: دا حديث دليل دې چه په وريښمي كپړو كښې مونځ كول حرام دي ـ پدې كښې اختلاف دې حافظ فرمائي: ١ - **جمهور علماؤ** په نيز د تحريم سره مونځ پكښې جائز دې مگر سړې سخت گناهگار دې ـ

٢ - **امام مالك** وائي: كه بله جامه ورته ملاويده او وقت باقي وو نو مونځ به دوباره راگرځوي ـ د جمهورو دپاره چا دا حديث دليل گرځولې دې چه نبي عليه السلام هغه مونځ ندې راگرځولې كوم ئې چه پدغه وريښمي كپړه كښې اوكړو ليكن دا استدلال صحيح ندې ځكه چه په دغه وقت كښې وريښم حلال وو او خبره پس د تحريم نه ده ـ

الفصل الثاني - دويم فصل

٧- وَعَنْ سَلَمَةَ بْنِ الْاَكْوَعِ ﷺ، قَالَ: قُلْتُ: يَارَسُوْلَ اللهِ! اِنِّيْ رَجُلٌ اَصِيْدُ، اَفَاُصَلِّيْ فِي الْقَمِيْصِ الْوَاحِدِ؟ قَالَ: «نَعَمْ، وَازْرُرْهُ وَلَوْ بِشَوْكَةٍ». رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ، وَرَوَى النَّسَائِيُّ نَحْوَهُ.

ترجمه: او سلمه بن اكوع رضي الله عنه وائي چه ما عرض اوكړو يا رسول الله! زه يو ښكاري سړې يم، آيا زه په يو قميص كښې مونځ كوم؟ نبي عليه السلام اوفرمائيل: آؤ

(کوه) ليکن هغه اوتړه اګرکه په يو ازغى سره ولى نه وى ـ (ابوداود، نسائى) ـ

تعارف د سلمه بن الاکوع بن عمرو بن الاکوع دده نوم سنان بن عبد الله بن قشير الاسلمى دے ابو مسلم المدنى دے، بيعة الرضوان ته حاضر شويدے، ده په تحت الشجره کښے په مرګ باندے درے کرتے بيعت اوکړو اول او مينځ او آخر کښے ـ او دا ډير شجاع، رامى، سخى، خير، فاضل صحابى دے دده خصوصيت دا دے چه دا به د اس سور نه په خپلو خپو سره مخکښے کيدو سختے تيزے منډے والا وو، د عثمان د قتل نه پس په ربذه کښے اوسيدو او هلته ئے واده هم اوکړو او ډير اولاد ترے پيدا شو هلته وو تردے چه د مرګ نه يو څو شپے مخکښے مدينے ته راغلو او هلته وفات شو په سنه (٧٤ هـ) کښے او (٧٧) احاديث ئے امت ته رانقل کړيدى ـ

تشريح : اِنِّىْ رَجُلٌ اَصِيْدُ : يعنى زه ښکار کوم او ښکارى خو ډير سپکدست پکار دے نو زياتى جامے مے نه وى نو په يوه جامه کښے مونځ جائز دے او که نه ؟ نو نبى عليه السلام ورته جواب کښ اوفرمايل : چه په يوه جامه کښے مونځ جائز دے خو شرط دا دے چه دواړه طرفونه ئے اوتړے که بل څه درته ملاؤ نشى نو يو ازغے پکښے ورکړه ـ دے دپاره چه په رکوع او سجده کښے عورت ښکاره نشى ـ

وَلَوْ بِشَوْكَةٍ : علامه طيبى وائى : د جامے تړل په هغه وقت کښ دى چه کله د قميص ګريوان پراخه کولاؤ وى او د هغے نه د عورت ښکاره کيدو امکان وى نو ده باندے لازم دى چه دا به بندوى دے دپاره چه عورت ئے ښکاره نشى ـ

مسئله : – په مانځه کښ خپل عورت ته په ګريوان کښ کتلو کښ اختلاف دے :

(١) – په شرح د شرعة الاسلام کښ دى چه د مانځه د آدابو نه دا ده چه په قميص باندے به بټنے بندولے شى ځکه چه صحيح خبره دا ده چه د خپل ځان نه عورت پټول په مانځه کښ شرط ندے نو که ديو تن ګريوان کولاو وى او خپل عورت ته اوګورى نو د مانځه اعاده پرے نشته بلکه دا کار صرف د ادب په درجه کښ دے ـ

٢- **قول ثانى** دا دے چه کله په مانځه کښ خپل عورت ته اوګورى نو د هغه مونځ فاسد دے او اعاده پرے واجب ده او دا خبره د ظاهر د حديث موافق ده او همدا قول راجح دے۔ انظر مرقاة المفاتيح (٢/٢٣٤) والمرعاة (٢/٤٧٦) ـ

درجة الحديث : اسناده حسن اخرجه الشافعى فى الام (١/٩٠) واحمد فى المسند (٤/٤٩) (٥٤) وابوداود (٦٣٢) والنسائى (٢/٧٠) وابن خزيمة (٧٧٧) والحاكم فى

المستدرك (١/ ٢٥٠) وقال: حديث صحيح واقره الذهبي وحسنه النووي وهو الحق كما قاله في المجموع (٣/١٧٤) انظر الفتح (١/ ٤٦٦) وعلقه البخاري ـ

٨- وَعَنْ اَبِیْ هُرَيْرَةَ ﷺ، قَالَ : بَيْنَمَا رَجُلٌ يُصَلِّیْ مُسْبِلٌ اِزَارَهٗ، قَالَ لَهٗ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ: «اِذْهَبْ فَتَوَضَّأْ»، فَذَهَبَ وَتَوَضَّأَ، ثُمَّ جَاءَ. فَقَالَ رَجُلٌ : يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ! مَالَکَ اَمَرْتَهٗ اَنْ يَّتَوَضَّأَ ؟ قَالَ : «اِنَّهٗ كَانَ يُصَلِّیْ وَهُوَ مُسْبِلٌ اِزَارَهٗ، وَاِنَّ اللّٰهَ لَا يَقْبَلُ صَلَاةَ رَجُلٍ مُسْبِلٍ اِزَارَهٗ». رَوَاهُ اَبُوْدَاوٗدَ .

ترجمه: او ابو هريره رضى الله عنه فرمائى: يو شخص خپل ازار زوړند كړے وو مونځ ئے كولو نو رسول الله ﷺ ورته اوفرمائيل: لاړ شه اودس اوكړه! هغه شخص لاړو اودس ئے اوكړو بيا راغلو ـ يو شخص رسول الله ﷺ ته عرض اوكړو چه يا رسول الله! تاسو دے شخص ته د اودس كولو حكم ولے اوفرمائيلو؟ (حال دا چه هغه خو اوداسه كښے وو) نبى عليه السلام اوفرمائيل: چه هغه شخص خپل لنګ زوړندولو سره مونځ كړے وو او څو چه لنګ زوړندوى الله تعالى د هغه مونځ نه قبلوى ـ (ابوداودؒ) ـ

تشريح: مُسْبِلٌ اِزَارَهٗ : اسبال ديته وائى چه دومره اوګده جامه واغوستے شى چه هغه زمكے طرفته زوړنده شى او د ګيټونه واوړى ـ او دا د متكبرانو عمل دے اګرچه د يو انسان په زړه كښے تكبر نه وى خو دا عمل تكبر دے نو ددے نه ځان ساتل ضرورى دى، دا غالب او اكثر په لنګ كښے كيږى چه هغه د پړكونه خكته كيږى خو هرے جامے ته شامل دے نبى عليه السلام فرمائى: ما اسفل من الكعبين فهو فى النار (ابوداود عن ابى هريره)ـ

يَتَوَضَّأُ : سره ددينه چه هغه شخص اودس والا وو، صرف جامه ئے د ګيټو نه اړولے وه ليكن نبى عليه السلام هغه ته د اودس كولو حكم اوكړو ددے حكمت دا دے چه ددے دپاره چه هغه سړے ددے كار په سبب معلوم ولو كښے غور او فكر اوكړى او بيا هغه ته ددے شنيع كار احساس اوشى (چه مونځ پدے وجه قبول نشو چه دده په اودس كښے به خلل واقع شوے وى ځكه كامل اودس نكول هم سبب د عدم قبول ګرځى) ٢- دارنګه كله چه هغه انسان لنګ خكته كړے وو نو دا علامه وه د تكبر د هغه نو نبى عليه السلام هغه ته

د اودس حکم اوکرو چه د اوداسه په وجه ئے د زړه نه د تکبر خیری اووځی او د اوداسه په وجه ظاهری طهارت حاصل کړی چه زړه ئے ښه صفا شی نو د نبی علیه السلام د کلام حاصل به دا شی چه الله تعالی د متکبر او مختال انسان مونځ نه قبلوی او تکبر خو په زړه کښې راځی نو پدے وجه ئے هغه ته د اودس حکم اوکړو چه د زړه نه ئے د تکبر خیرے اووځی ۔ (طیبیؒ)۔

۳- ملاعلی القاری فرمائی : نبی علیه السلام ورته د اوداسه د اعادے حکم اوکړو ځکه هر کله چه دده مونځ کښې د اسبال الازار په وجه نقصان او خلل راغلو او کمال ئے خراب شو نو اودس خو شرط وو د مانځه دپاره نو دے خلل او نقصان سرایت اوکړو اوداسه ته هم نو په دوباره اودس کولو ئے ورته حکم اوکړو چه په اکمل او افضل طریقه عمل اوکړی ۔

دا حدیث دلیل دے چه اسبال الازار سره مونځ فاسدیږی ځکه عدم قبول معنی دہ رد کول نو دده مونځ باطل او مردود دے ۔

مسئله : خو پدے کښې اختلاف دے چه په مانځه کښې اسبال مونځ فاسدوی او که نه ؟ دوه قوله دی (۱) - **اهل ظواهر** لکه ابن الحزم په محلی (۳۹۱/۲) کښې وائی : د هغه سړی مونځ نه کیږی چه په تکبر سره جامه د ګیټو نه زوړندوی ۔

۱- دلیل : ابوداود رقم (۶۳۷) (۱۲۶/۱) کښې د ابن مسعود مرفوعا روایت دے : من اسبل ازاره فی صلاته خیلاء فلیس من الله فی حل ولا حرام واخرجه البیهقی والحدیث صحیح وصححه الالبانی ایضا فی صحیح ابی داود ۔

۲- دلیل : دا حدیث الباب دلیل دے لیکن دا ضعیف دے روستو وجه رارونه ده ۔

۳- دلیل : ابن مسعود نه مرفوعا او موقوفا روایت دے انه رأى اعرابیاً علیه شملة قد ذیلها وهو یصلی فقال : ان الذی یجر ثوبه من الخیلاء فی الصلاة لیس من الله فی حل ولا حرام اخرجه البیهقی (۲۴۲/۲) وفی شرح السنة (۱۵۷/۲) ۔

د فی حل ولا حرام علماؤ ډیرے معانی ذکر کړیدی : ۱- یوه معنی : فی ان یجعله فی حل من الذنوب وهو ان یغفر له۔ د الله تعالی په حل کښې ندے یعنی چه الله تعالی ئے د ګناهونو نه حلال کړی او مغفرت ورته اوکړی ولا فی ان یمنعه ویحفظه من سوء الاعمال۔

یعنی دا په منع او حفاظت د الله تعالی کښې ندے یعنی چه الله تعالی ئے د بد اعمالو نه منع کړی او حفاظت ئے اوکړی ۔ نو حل معنی کولاو ول او حرام معنی دہ منع کول ۔ ۲- او فی ان یحل له الجنة وفی ان یحرم علیه النار ۔ یعنی الله تعالی به ورته جنت نه حلالوی او

جهنم به پرے نه حراموي يعني جنت ته به ئے نه داخلوي بلكه اور ته به ئے داخلوي ـ ٣– او ليس هو فى فعل حلال ولا له احترام عند الله ـ يعني دا د الله تعالى په نيز په حلال كښې ندے او نه دده دپاره د الله تعالى د طرفنه څه احترام او عزت شته دا بے عزته انسان دے ـ عون المعبود (٢٤٣/١) ـ

٤– دارنګه هغه احاديث چه په هغې كښې د اسبال نه نهي راغلے ده هغه مطلق دي شامل دي مانځه ته هم نو دا دليل دے چه په مانځه كښې اسبال مونځ فاسدوي ـ

او نهي عن الشئ تقاضا د فساد كوي په نزد د اهل ظواهرو كما فى المحلى ـ

ابن الحزم داسے استدلال كوي چه دا كار حرام دے او چا چه حرام كار په مانځه كښې اوكړو نو هغه د امر مطابق مونځ اونكړو او چا چه د امر مطابق مونځ اونكړو نو د هغه مونځ صحيح نه دے ـ المحلى (٣٩١/٢) و (١٢٧/٢) ـ

٥– دارنګه ابن الحزم د مجاهد او ذر بن عبد الله المرهبى رحمهما الله نه نقل كوي چه هغوي فرمائي : كان يقال : من جر ثيابه لم تقبل له صلاة ـ چا چه په مانځه كښې جامه د ګيټو نه خكته كړه د هغه مونځ نه قبليږي ـ ابن الحزمؒ فرمائي : مجاهد د اوساط التابعين نه دے او ذر د كبار التابعين نه دے او دواړه د صحابو دا فتوىٰ نقل كوي او ددے مخالف صحابي مونږ ته ندے معلوم نو دا دليل دے چه مونځ دداسے انسان باطل دے ـ

(٢) – **جمهور علماء** وائي : چا چه اسبال اوكړو مونځ نه باطليږي اګركه دا كار منهي عنه او مكروه دے ـ وجه دا ده چه داسے هيڅ صحيح حديث نشته چه نص وي په بطلان د مانځه كښې او دا احاديث مذكوره مطلق دي دلالت په بطلان نكوي او كوم حديث كښې چه د فساد د مانځه تصريح راغلے ده او د اودس ماتيدلو لكه دا حديث الباب نو دا ضعيف دے په قول راجح سره ـ

خو دا هله چه قصداً اسبال اوكړي او كه سهواً خكته شي نو بيا انسان ګناهګار هم نه وي او داسے فتوىٰ د جمهورو مطابق په الفتاوى الاسلاميه (٣٠٠/١) او احسن الفتاوى (٤٠٤/٣) او طحاوي (١٨٩/١) كښې ذكر ده ـ

درجة الحديث : اسناده ضعيف : اخرجه احمد (٦٧/٤) (٣٧٩٥) وابوداود (٦٨) وفى اسناده ابوجعفر وهو مجهول من اهل المدينة وقال الحافظ فى التقريب، انه مقبول اى عند المتابعة يعني لين الحديث وقال النووى فى رياض الصالحين (٢٧٧) رواه ابوداود باسناد صحيح على شرط مسلم انتهى، وحسن الترمذى حديث ابى جعفر وقال ابوحاتم الرازى ان

یحیی بن ابی کثیر لا یحدث الا عن ثقة فهذا یؤید توثیق الترمذی و ابن حبان الا ان الحدیث روی بعنعنة یحیی وهو مدلس مرسل کما فی التقریب فهذا یورث التردد والله اعلم۔

٩– وَعَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : «لَا تُقْبَلُ صَلَاةُ حَائِضٍ اِلَّا بِخِمَارٍ» .رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ وَالتِّرْمِذِیُّ .

ترجمه : او عائشه صدیقه رضی الله عنها فرمائی چه رسول الله ﷺ د بالغې ښځې مونځ بغیر د لوپټې نه (یعنی سر پټولو نه) نه کیږی ۔ (ابوداوٗد، ترمذیؒ) ۔

تشریح : د حائض نه مراد هغه زنانه ده چه زمانې د بلوغ ته رسیدلې وی او دا مطلب ندې چه په زمانه د حیض کښې وی ځکه په دغه زمانه کښې خو ښځه مونځ ته نشی نزدې کیدې بلکه دلته مراد بلوغ دې او چونکه غالبا د زنانه بلوغ په حیض سره معلومیږی پدې وجه ئې حیض ذکر کړو او که په نورو طریقو بالغه شوه مثلا احتلام ئې اوشو او یا ئې زیر ناف ویښته رازرغون شوی وی یا پنځلس کلنۍ ته رسیدلې وی نو هغې ته به هم بالغه وئیلې شی او حائض لفظ هغې ته هم شامل دې ۔

اِلَّا بِخِمَار : په کسره د خاء سره هغه شې چه بل شې پرې پټیږی هغې ته خمار وائی کما فی القاموس ددې وجې نه په عمامه باندې ددې اطلاق راغلې دې ځکه پدې سره هم سر پټیږی دلته مراد هغه څادر او لوپټه ده چه د زنانه سر او څټ پټوی ۔

فوائد : (١) – دا حدیث دلیل دې چه د زنانه سر او د هغې ویښته په ستر کښې شامل دی دا عورت دې لهذا کومه زنانه چه سر تور سر مونځ کوی د هغې مونځ باطل دې ددې په حکم کښې دا هم ده چه که یوه زنانه داسې نرۍ جامې یا لوپټه واچوی چه د هغې نه لاندې د ویښتو او بدن ښکاره کیدو امکان وی نو د هغې مونځ هم صحیح ندې ۔

(٢) – زنانه چه کله بلوغ ته اورسیږی نو په هغې باندې به د احکام شرعیه عملی کول فرض وی د نورو زنانو په حکم کښې داخل شوه ۔ (٣) – د حیض ابتداء علامه ده د زنانه د بالغ کیدو اګرکه عمرئې د پنځلس کالو نه کم وی ۔

(٤) – ستر العورة شرط دې د صحت د مانځه دپاره او ویښته هم عورت دې د زنانه دپاره او دا شرطیت معلومیږی د لا تقبل نه ځکه نفی القبول کښې اصل دا ده چه نفی د

صحت راشي ۔(٥) – اهل ظاهر وائي پدے حکم کښې حره او وينزه دواړه زنانه يو شان دی چه په مانځه کښې به دواړه ضرور سر پټوی ۔ او جمهور علماء فرق کوی او دا حديث خاص کوی په آزاده زنانه پورے او که د وينزے ويښته ښکاره شي نو مونځ ئے نه باطليږی ۔

ابو حيان الاندلسی په البحر المحيط (٧/٢٥٠) کښې وائي : والظاهر ان قوله ونساء المؤمنين يشمل الحرائر والاماء والفتنة بالاماء اكثر لكثرة تصرفهن بخلاف الحرائر فيحتاج اخراجهن من عموم النساء الى دليل واضح ۔

يعنی پدے آيت ونساء المؤمنين کښې نساء لفظ عام دے شامل دے وينزو ته هم نو د دوی ويستل واضح دليل ته محتاج دی او هغه نشته سره ددينه چه فتنه په وينزو کښې زياته ده ۔ نو معلومه شوه چه وينزه به هم سرپټوی ۔

ابن الحزمؒ وائي : واما الفرق بين الحرة والامة فدين الله واحد والخلقة والطبيعة واحدة كل ذلك في الحرائر والاماء سواء حتى يأتي نص في الفرق بينهما في شئ فيتوقف عنده ۔

يعنی د حرے او وينزے ترمينځ فرق نشته د الله حق په دواړو کښې يو دے او د دواړو طبيعت او خلقت يو شان دے نو کوم نص دے چه په هغے سره وينزه خارجه شي ۔ بيا وائي : کوم احاديث چه په فرق کښې راغلی دی هغه ټول ضعيف دی ۔ انظر حجاب المرأة المسلمه ص (٤٤) للالبانیؒ ۔

(٦) – ددے حديث مفهوم دا دے چه هغه جينئ چه بلوغ ته نه وی رسيدلی د هغے مونځ صحيح دے اگرکه سر په لوپټه پټ نکړی نو د هغے په عورت کښې په نسبت د بالغے ، تخفيف دے ۔

درجة الحديث : اسناده صحيح على شرط مسلم : اخرجه احمد (٦/١٥٠) (٢١٨، ٢٥٩) وابوداود (٦٤١) والترمذی (٣٧٧) وابن ماجه (٦٥٥) وابن خزيمة (٧٧٥) والحاكم (١/٢٥١) وقال صحيح على شرط مسلم واقره الذهبی ۔

---

١٠ – وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ، أَنَّهَا سَأَلَتْ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ : أَتُصَلِّي الْمَرْأَةُ فِيْ دِرْعٍ وَخِمَارٍ لَيْسَ عَلَيْهَا إِزَارٌ ؟ قَالَ : إِذَا كَانَ الدِّرْعُ سَابِغاً يُغَطِّيْ ظُهُوْرَ قَدَمَيْهَا ». رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ، وَذَكَرَ جَمَاعَةٌ وَقْفَهُ عَلٰى أُمِّ سَلَمَةَ .

ترجمه : او ام سلمه رضی الله عنها نه روايت دے چه دے د رسول الله ﷺ نه تپوس

اوکړو چه که د ښځې سره لنګ (یعني پائجامه وغیره) نه وي او صرف په یو قمیص او لوپټه کښې مونځ اوکړي نو د هغې مونځ به کیږي او که نه؟ نبي کریم ﷺ اوفرمائیل: (آو، کیږي) پدې شرط چه قمیص دومره اوږد وي چه د هغې د خپو شا طرف پټوي۔ (ابوداؤد) او ابوداؤد وئیلي دي چه یو جماعت دے روایت لره په ام سلمهؓ باندے موقوف کړے دے (یعني هغوي وئیلي دي چه دا د رسول الله ﷺ ارشاد ندے بلکه پخپله د ام سلمےؓ قول دے۔

تشریح: دِرْعٍ: اصل کښې د اوسپنے زغرے ته وائي۔ دلته ترے مراد قمیص دے ځکه ئې مطلق ذکر کړو او دا هغه قمیص دے چه د زنانه جسم د ښځ نه تر قدمونو پورے پټوي او خمار سره صرف سر پټیږي۔ سابغا: ای کاملا واسعا۔

فوائد: (۱) – دا حدیث دلیل دے چه د خپو شا طرف د زنانو عورت دے نو ددے پټول هم واجب دي (۲) – دا حدیث دلیل دے چه قدمونه هم عورت دے ځکه ئې دلته معاف نکړه نو دا د جمهورو دلیل دے چه قدمونه عورت دے۔

(۳)– کله چه زنانه لوپټه واچوي چه سر اوښځ پټ کړي او قمیص واچوي چه ظاهري طرف د قدمونو پټ کړي نو که ددے لنګ او پرتوګ نه وي نو هم خیر دے۔

(٤) – د زنانه مخ عورت ندے اګرکه په مانځه کښې وي۔

درجة الحديث: اسناده ضعيف: اخرجه ابوداود (٦٤٠) والحاكم (١/٢٥٠) وقال صحيح على شرط البخاري ووافقه الذهبي ولكنهما وَهِمَا فيه فان ام محمد بن زيد لا تعرف كما قال الذهبي نفسه في الميزان وكذلك تفرد برفعه عبد الرحمن بن عبد الله بن دينار والصواب انه موقوف على ام سلمة وقال الشيخ الالباني وهو ضعيف مرفوعاً وموقوفاً كما في ضعيف سنن ابي داود (٩٩) فان ابن دينار ضعيف من قبل حفظه۔ لیکن پدے معنی بل حدیث شته په مشکاة دویم جلد (٢/٣٧٤) کښې او هغه صحیح دے: اِذاً تنكشف اقدامهن والا روایت دے۔

---

١١ – وَعَنْ اَبِیْ هُرَيْرَةَ ﷺ، اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ نَهٰى عَنِ السَّدْلِ فِي الصَّلَاةِ، وَاَنْ يُغَطِّيَ الرَّجُلُ فَاهُ. رَوَاهُ اَبُوْدَاوٗدَ، وَالتِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: او ابو هريره رضی الله عنه فرمائي چه رسول الله ﷺ په مانځه کښې د سدل

کولو او د سرې د خولې د پټولو نه منع کړې ده ۔ (ابوداود، ترمذی) ۔

تشریح : نَهٰی عَنِ السَّدْلِ : سدل د باب نصر نه په لغت کښې په معنی د جامه زوړندولو دے او په اصطلاح کښې ددے ډیر تعریفونه شویدی :

(١) – علامه خطابی وائی : سدل دیته وائی : چه جامه دومره اوګده (زوړنده) کړې شی چه زمکے ته اورسی انتهیٰ۔

نو پدے تعریف باندے سدل او اسبال دواړه یوه معنی لری ۔

(٢) – ابوعبیدؒ وائی : السدل اسبال الرجل ثوبه من غیر ان یضم جانبیه بین یدیه فان ضمه فلیس بسدل ۔ یعنی جامه زوړندول چه دواړه طرفونه ئے د یو بل سره یو ځائے نه وی او که دواړه طرفونه ئے د یو بل سره یو ځائے شی نو بیا سدل ندے ۔

(٣) – هدایه (١١٩/١) کښې دی : وهو ان یجعل ثوبه علی رأسه و کتفه ثم یرسل اطرافه من جوانبه ۔ یعنی جامه په سر او اوګه باندے واچوی او طرفونه ئے زوړند وی ۔ وکذا فی مسند البزار ۔

بیا دا پدے هم صادق دے چه په اوګه باندے رومال زوړند وی لکه ډیر خلق دا کار کوی نو پکار دا ده چه په مانځه کښې رومال لرے کړی یا ئے طرفونه په یو بل باندے ورواړوی چه زوړند نه وی ۔ دارنګه پدے هم صادق دے چه یو کوټ واچوی چه لاسونه په لستوڼو کښې ورنکړی ۔ انظر حاشیه الهدایه للهداد ۔

(٤) – علامه جزریؒ وائی : هو ان یلتحف بثوبه ویدخل یدیه من داخل فیرکع ویسجد وهو کذلك ۔

ځان نه یوه جامه تاؤ کړی چه لاسونه پکښې دننه وی او پدغسے حالت کښې رکوع او سجده کوی ۔ ددے سدل نه ځکه منع اوشوه چه یهودو به په مانځه کښې دغه شان کار کولو نو شریعت د هغوی د مشابهت نه منع اوکړه او سدل دے تولو معانو ته شامل دے او دا حرام دے برابره ده که په انسان باندے قمیص، پرتوګ وی یا نه وی، په تولو حالاتو کښې دا کار منع دے او دا نهی په خپله معنی حقیقی باندے ده ۔

بله وجه دا ده چه دا د خشوع منافی دے نو ځکه منع شویدے ۔

علامه قاضی عیاضؒ وائی : سدل نه مطلقا منع راغلے ده ځکه چه دا د خیلاء او تکبر علامه ده او دا کار په عام حالت کښې منع دے او په مانځه کښې ډیر اشنع او اقبح دے ۔

احسن الفتاوی (٤٠٨/٣) کښې دی : سدل جائز دے دا قول غلط دے او کومه معنی د

سدل ئے چه ذکر کړے هغه هم صحیح نده ـ

وَاَنْ يُغَطِّيَ الرَّجُلُ فَاهُ : په مانځه کښے دخولے پټول حرام دی ـ علامه خطابیؒ وائی : د عربو عادت دا وو چه هغوی به پټکے داسے تړلو چه یو ول به ئے د خولے نه تاوولو او خوله به ئے پټوله نو نبی علیه السلام ددے کار نه منع اوکړه چه په مانځه کښے به دا کار نکوی ځکه چه پدے سره قرائت ښه طریقے سره نه ادا کیږی ـ انتهی ـ

دارنګه پدے کښے تشبه ده د مجوسو سره ځکه چه هغوی کله د اور عبادت کوی نو خوله پټوی ددے نه د ارګمی او اوسیلی په وقت خوله پټول په حدیث سره مستثنیٰ دی کما فی حدیث مسلم اذا تثاؤب احدکم فی الصلاة فلیکظم ما استطاع وفی روایة : فلیمسك بیده علی فمه فان الشیطان یدخل فیه (مسلم) ـ نو دا عارضی خوله پټول دی او د شیطان د داخلیدو نه ځان بچ کول دی او پدے وقت کښے خو قرائت هم نه کیږی ـ

درجة الحديث : اخرج الشطر الاول منه احمد (٢/٩٥و ٣٤١، ٣٤٥) والترمذی (٣٧٨) وفی اسناده ضعف فیه عسل بن سفیان وترجمه ابن ابی حاتم (٣/٢/٤٢) ولکن اخرجه ابوداود (٦٤٣) واسناده صحیح والحاکم فی المستدرك (١/٢٥٣) وقال : هذا حدیث صحیح علی شرط الشیخین واخرجه ابن حبان فی صحیحه وابوداود (٦٤٣) وحسنه الالبانی بتمامه فی صحیح ابی داود ـ

---

١٢ – وَعَنْ شَدَّادِ بْنِ اَوْسٍ ﷺ ، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : ((خَالِفُوا الْيَهُوْدَ، فَاِنَّهُمْ لَايُصَلُّوْنَ فِيْ نِعَالِهِمْ وَلَا خِفَافِهِمْ)) . رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ .

ترجمه : او شداد بن اوس رضی الله عنه فرمائی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل : (چه څپلو او موزو اغوستو سره مونځ کولو کښے) د یهودو مخالفت اوکړئ ځکه هغوی څپلو او موزو اغوستو سره مونځ نکوی ـ (ابوداودؒ) ـ

تعارف : **شداد بن اوس** بن ثابت الانصاری الخزرجی ـ دده کنیه ابویعلی المدنی ده د حسان بن ثابت وراره دے صحابی دے شام کښے په سنه (٥٨ هـ) کښے د (٧٥) کالو په عمر وفات شویدے بعض وائی : (٦٤) کښے وفات دے عباده بن صامت دده په باره کښے وائی : شداد بن اوس د هغه خلقو نه دے چه علم او حلم ورکړے شوے دے (٥٠) احادیث ترے نقل دی ـ

تشريح : خَالِفُوا الْيَهُوْدَ : شاه ولی الله په حجة الله کښې د څپلو او موزو کښې د مانځه کولو حکمت بیانوی، هغه دا چه یهودیانو به په څپلو او موزو کښې مونځ بد ګنړلو ځکه چه پدے کښې ترك تعظیم دے ځکه خلق کله چه د مشرانو مخے ته ورځی نو څپلئ اوباسی لکه پدے قول د الله کښې ورته اشاره ده ﴿ فَاخْلَعْ نَعْلَيْكَ إِنَّكَ بِالْوَادِ الْمُقَدَّسِ طُوًى ﴾ لیکن دلته یو بل قیاس دے او هغه دا چه موزه او څپلئ د انسان د پوره لباس او زینت نه حساب ذی نو پدے وجه نبی علیه السلام اول قیاس پریخودو او په دویم قیاس ئے عمل اوکړو دے دپاره چه د یهودو مخالفت راشی انتهیٰ ۔

مسئله : دا حدیث دلیل دے چه په څپلو کښې مونځ مشروع دے خو ددے په حکم کښې اختلاف دے چه آیا دا مستحب دے او که مباح دے او که مکروه ؟۔

(۱) – علامه شوکانیؒ وائی : کوم احادیثو کښې چه صلاة فی النعال راغلی دے هغه تول محمول دی په استحباب باندے او دا په تولو مذاهبو کښې زما په نیز اعدل المذاهب او اقوی المذاهب دے انتهیٰ نیل الاوطار (۲/۱۳۳)۔

درمختار وغیره کښې دی چه داخل فی المسجد دپاره مناسب دی چه څپل نعل او خف ته اوګوری که صفا وی په هغے کښې دے مونځ اوکړی دا افضل دے ۔ ابن عابدین وائی :
صلاته فی النعل والخف الطاهرین افضل مخالفة للیهود ۔

(۳) – ابن دقیق العید وائی : صلاة فی النعال صرف جائز دے ځکه چه یهودو به جائز نه ګنړلو نو د هغوی مخالفت دا دے چه انسان دا جائز اوګنړی ۔

(٤) – بعض وائی : که مسجد فرش وی یا قالین خوره وی نو څپلئ سره مونځ کول بے ادبی ده ۔ لیکن اصح دا ده چه څپلو کښې مونځ کول مستحب دی خو که فرش وغیره وی او څپلئ څه نا څه غبار والا وی نو بیا ندے پکار ځکه د مال ضائع کول راځی او که داسے نه وی بالکل مستحب دے ۔

نورو تاویلاتو ته ضرورت نشته چه بعض وائی دا د مدینے پورے خاص دے چه هلته ګندونه نه وو اوس خو لارے کوڅے ګنده دی ۔ دا خبره خطاء ده ۔

دارنګه بعض ډلے وائی دا حکم وجوبی دے په څپلو کښې هر مونځ واجب دے ځکه امر راغلے دے دا خبره هم صحیح نده بلکه دا حکم استحبابی دے او فرض ندے بلکه دا امر د مخالفت د یهودو دپاره دے نو که یو کرت نیم اوکړے شی نو مخالفت حاصلیږی ۔ او واجب ځکه ندے چه نبی علیه السلام بے څپلو مونځ ډیر کړیدے ۔

فائده: ددې حديث نه معلومه شوه چه د ګمراه خلقو د مخالفت ظاهرولو په غرض يو مباح شى باندې عمل كول بهتر دى او وجه دا ده چه پدې سره مخالفت د ګمراهانو راځى پدې وجه هغه مباح شے هم عزيمت او درجې د اولويت ته رسيږى ـ

درجة الحديث : اسناده صحيح : اخرجه ابوداود (٦٥٢) وصححه ابن حبان (٣٥٧) والحاكم فى المستدرك (١/٢٦٠) وقال : صحيح الاسناد ووافقه الذهبى، قال الشوكانى : ولا مطعن فى اسناده، نيل الاوطار (٢/١٢٢) ـ

---

١٣ – وَعَنْ اَبِىْ سَعِيْدِ الْخُدْرِىِّ ﷺ، قَالَ : بَيْنَمَا رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ يُصَلِّىْ بِاَصْحَابِهٖ اِذْ خَلَعَ نَعْلَيْهِ فَوَضَعَهُمَا عَنْ يَسَارِهٖ، فَلَمَّا رَاٰى ذٰلِكَ الْقَوْمُ، اَلْقَوْا نِعَالَهُمْ . فَلَمَّا قَضٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ صَلَاتَهٗ، قَالَ : مَا حَمَلَكُمْ عَلٰى اِلْقَائِكُمْ نِعَالَكُمْ ؟ قَالُوْا : رَأَيْنَاكَ اَلْقَيْتَ نَعْلَيْكَ، فَاَلْقَيْنَا نِعَالَنَا . فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : « اِنَّ جِبْرِيْلَ اَتَانِىْ فَاَخْبَرَنِىْ اَنَّ فِيْهِمَا قَذَرًا. اِذَا جَاءَ اَحَدُكُمُ الْمَسْجِدَ فَلْيَنْظُرْ، فَاِنْ رَاٰى فِىْ نَعْلَيْهِ قَذَرًا فَلْيَمْسَحْهُ وَلْيُصَلِّ فِيْهِمَا ». رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ وَالدَّارِمِىُّ .

ترجمه : او ابوسعيد خدرى رضى الله عنه فرمائى چه يو ځل رسول الله ﷺ خپلو اصحابو ته مونځ كولو چه اچانك هغه خپلے څپلئ اوويستلے او ګس طرف ته ئے كيخودلے، كله چه خلقو دا اوليدل نو هغوى هم خپلے څپلئ ويستو سره ګوزار كړے. رسول الله ﷺ چه كله د مانځه نه فارغ شو نو وې فرمائيل : چه تاسو په څپلو ارتولو باندې كوم شى مجبوره كړئ ؟ هغوى عرض اوكړو، چه مونږ اوليدل چه تا خپلے څپلئ وارتولے پدې وجه مونږ هم خپلے څپلئ وارتولے ـ نبى كريم ﷺ اوفرمائيل : چه (ما خو څپلئ پدې وجه وارتولے چه ما ته جبرئيل راغلو او هغوى خبر راكړو چه زما په څپلو كښے نجاست دے ـ كله چه پتاسو كښے څوك مسجد ته راشى نو هغه دې خپلے څپلئ اوګورى ـ كه په هغے كښے نجاست وى نو هغه دې صفا كړى او (په هغے كښے دې) مونځ اوكړى ـ (ابوداود، دارمى) ـ

تشريح : قَذَرًا : د قاف او ذال فتحه ده ـ هغه شى ته وائى چه طبيعت ئے بد ګنړى

مراد ترې نجاست دے ۔

فوائد الحديث : (۱) - دا حديث دليل دے چه مصلي كله په مانځه كښې داخل شي او په هغه باندې نجاست وي او دے په پوهه نه وي يا هير شوے وي بيا د مانځه په دوران كښې ورته معلومه شي نو ده باندې لازم دي چه هغه به لرې كوي او مونځ به جاري ساتي۔

ليكن كه هغه جامه د لرې كولو قابل نه وي نو بيا د هغې سره مونځ جائز دے يا ورته مانځه كښې نجاست ورسيږي نو مونځ دې پوره كړي ۔ امام بخاري باب ايخودے دے : باب اذا صلي وفي ثوبه نحاستة او اصابته الخ ۔

(۲) - او كه نجاست باندې پوهه نشو او مونځ ئې خلاص كړو نو مونځ ئې صحيح دے او اعاده پرې نشته ۔ (۳) - څوك چه د نجاست سره مونځ فاسد وائي نو هغه د قذر نه هغه شے مراد كوي چه صرف طبيعت ئې بد ګڼړي او نجس نه وي ليكن دا خبره ضعيفه مردوده ده ځكه په روايت د احمد كښې داسے دي (ان بهما خبثا) او خباثت اطلاق په اتفاق د اهل لغت باندې په بول او غائط كيږي ۔

(٤) - حديث دليل دے چه په څپلو كښې مونځ مستحب دے د فليصل فيهما لفظ كښې امر دے ۔ (٥) - د څپلو مسح كول او په زمكه پورې راخكلو سره نجاست پاكيږي برابره ده كه نجاست لوند وي يا اوچ، مرئي وي او كه غير مرئي ځكه حديث مطلق دے نو پدے كښې رد دے په احنافو باندې چه فرق د لوند او وچ كوي او ذي جرم او غير ذي جرم ۔

درجة الحديث : اسناده صحيح علي شرط مسلم اخرجه احمد (٣/٢٠، ٩٢) والدارمي (١/٣٢٠) وابوداود (٦٥٠) وصححه ابن حبان (٣٦٠) ۔

---

١٤ - وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ ﷺ، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : «اِذَا صَلّٰى اَحَدُكُمْ فَلَا يَضَعْ نَعْلَيْهِ عَنْ يَمِيْنِهٖ، وَلَا عَنْ يَسَارِهٖ فَتَكُوْنَ عَنْ يَمِيْنِ غَيْرِهٖ، اِلَّا اَنْ لَّا يَكُوْنَ عَلٰى يَسَارِهٖ اَحَدٌ، وَلْيَضَعْهُمَا بَيْنَ رِجْلَيْهِ ». وَفِيْ رِوَايَةٍ : «اَوْ لِيُصَلِّ فِيْهِمَا » . رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ، وَرَوٰى ابْنُ مَاجَه مَعْنَاهُ .

ترجمه : او ابو هريره رضی الله عنه فرمائی چه رسول الله ﷺ فرمائی کله چه یو تن ستا سو نه مونځ کوی نو خپلے څپلئ دے نه خی طرفته اږدی او نه ګس طرفته ځکه دا به د بل سړی خی طرفته شی ـ أو که څوك ګس طرفته نه وی نو دیخوا دے کیدی (او که دا هم نه وی) نو هغه دے د خپلو دواړو خپو ترمینځ (یعنی د خپلو مخکنو خپو سره) کیدی ـ او په یو روایت کښے دا الفاظ هم دی : چه (که څپلئ پاکے وی نو د کیخودو ضرورت نشته دے بلکه) په هغے کښ دے په اغوستو سره مونځ اوکړی ـ (ابوداودؒ، ابن ماجة) ـ

تشريح : وَلْيَضَعْهُمَا بَيْنَ رِجْلَيْهِ : د مانځه په وقت کښے څپلئ چپړے به مخکښے هم نه اږدی دا حرام دی ـ دليل : ابن ابی شيبه (٤١٨/٢) کښے د نافع بن جبير نه نقل دی فرمائی : وضع الرجل نعله من قدامه فی الصلاة بدعة ـ څپلئ مخکښے کیخودل بدعت دے ـ ٢- دلیل : پدے حدیث الباب کښے امام لفظ ندے ذکر نو دا دلیل دے که مخکښے کیخودل جائز وے نو هغه به ئے هم ذکر کړی وے (فان تاخير البيان عن وقت الحاجة لا يجوز) ـ

دارنګه خپل خی طرفته به ئے نه اږدی خو که ګس طرفته ئے څوك نه وی نو هغه طرفته به ئے اږدی او که ګس طرفته خلق وی نو بیا به ئے د خپو مینځ کښے کیدی او یا به ئے شاته کیدی او که پاکے وی نو مونځ پکښے اوکړه ـ

بیا دلته ئے خلفه لفظ اونه وئیلو ځکه کیدے شی د بل مصلی مخے ته راشی یا احتمال د غلا کیدو شته نو د انسان خشوع به خرابه شی ـ

فائده : د حدیث نه په مانځه کښ د دواړو خپو ترمینځ فاصله او مسافت معلومیږی چه په قیام حالت کښ به د دواړو خپو ترمینځ دومره فاصله وی چه څپلئ وغیره پکښ کیخودلے شی او د څلور ګوتو والا خبره بدعت دے ـ

درجة الحديث : اسناده صحيح : اخرجه ابو داود (٦٥٤) وصححه ابن حبان (٣٦١) واخرجه ابن ماجه بمعناه (١٤٣٢)ـ

الفصل الثالث - دريم فصل

١٥ - عَنْ اَبِیْ سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ ﷺ، قَالَ : دَخَلْتُ عَلَى النَّبِيِّ ﷺ، فَرَأَيْتُهُ يُصَلِّيْ عَلٰى حَصِيْرٍ يَسْجُدُ عَلَيْهِ . قَالَ : وَرَأَيْتُهُ يُصَلِّيْ فِيْ ثَوْبٍ وَاحِدٍ مُتَوَشِّحًا بِهِ .

رَوَاهُ مُسْلِمٌ .

ترجمه : ابو سعيد خدري رضي الله عنه فرمائي : چه زه د نبي كريم ﷺ په خدمت كښې حاضر شوم نو اومې ليدو چه په يو بزكي (پوزى) باندې مونځ كوى او په هغې باندې سجده كوى ـ ابو سعيدؓ فرمائي : چه ما اوليدو چه رسول الله ﷺ يو كپړه اغوستې وه چه د خپل جسم نه ئې تاؤ كړې وه مونځ ئې كولو ـ (مسلم) ـ

تشريح : عَلٰى حَصِيرٍ : دا حديث دليل دې چه حائل سره مونځ جائز دې ليكن افضل دا ده چه په زمكه باندې سجده اوكړې شى كله چه د يخنئ او گرمئ وغيره ضرورت نه وى ځكه چه د مانځه سِر او راز په تواضع او خشوع سره وى او زمكه باندې تندې كيخودلو كښې خشوع او تواضع زياته وى ـ ليكن بزكى او زمكه دواړه غوره دى او نور قالينونه اچول د امام مالكؒ په نيز باندې مكروه دى او نور علماء ئې جائز گنړى ليكن خلاف الاولىٰ دى ـ

مُتَوَشِّحًا بِهٖ : مخكښې تير شويدى چه توشح او اشتمال يو شے دے ديته وائى چه طرف د هغه جامې چه په ځئ اوگه ئې اچولى وى د گس لاندې ئې اونيسى او هغه جامه چه گسه اوگه باندې ئې اچولى وى د هغې طرف د خى لاس لاندې اونيسى او بيا دواړه په سينه باندې اوتړى نو داسې شى لكه د څادر يا ازار پشان ـ انظر المرعاة ـ

---

١٦ ـ وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ اَبِيْهِ، عَنْ جَدِّهٖ، قَالَ :رَاَيْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ يُصَلِّيْ حَافِيًا وَمُنْتَعِلًا . رَوَاهُ اَبُوْدَاوٗدَ .

ترجمه : او عمرو بن شعيب د خپل والد نه او هغه د هغه د نيكه نه روايت كوى چه هغه فرمائيل : ما رسول الله ﷺ اوليدو چه كله به ئې خپے ابيله او كله څپلو اغوستو سره مونځ كولو ـ (ابوداود) ـ

تشريح : حَافِيًا وَمُنْتَعِلًا : يعنى كله به ئې خپے ابيله او كله په څپلو كښې مونځ كولو دا حديث دليل دے چه دواړه كارونه جائز دى او دا د تنوع العبادات نه دے او دے كار ته بدل كتل او مكروه وئيل غلط دى او دليل دے چه هميشه څپلو كښ مونځ كول او بيا هغه لازم گنړل بدعت دے ـ

درجة الحديث : اسناده صحيح : اخرجه ابوداود (٦٥٣) وسكت عليه هو والمنذرى

واخرجه ايضا ابن ماجه ۔

١٧ – وَعَنْ مُحَمَّدِ بْنِ الْمُنْكَدِرِ، قَالَ : صَلّٰى جَابِرٌ فِيْ إِزَارٍ قَدْ عَقَدَهُ مِنْ قِبَلِ قَفَاهُ . وَثِيَابُهُ مَوْضُوْعَةٌ عَلَى الْمِشْجَبِ. فَقَالَ لَهُ قَائِلٌ : تُصَلِّيْ فِيْ إِزَارٍ وَاحِدٍ ؟ فَقَالَ : إِنَّمَا صَنَعْتُ ذٰلِكَ لِيَرَانِيْ أَحْمَقُ مِثْلُكَ، وَأَيُّنَا كَانَ لَهُ ثَوْبَانِ عَلٰى عَهْدِ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ ؟. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ .

ترجمه : او محمد بن منکدر رحمه الله فرمائی چه مونږ ته جابرؓ صرف لنګ کښې چه هغه ئې د څټ د طرفنه تړلے وو مونځ اوکړو او حال دا چه جامے ئې ګرونج ته زوندے پرتے وے ۔ نو هغه ته يو ويونکي اووئيل : چه ته صرف په يو لنګ کښې مونځ کوے ؟ هغوی اوفرمائيل چه ما دا کار پدے وجه اوکړو چه ستا پشان احمق ما اووينی۔ او د رسول الله ﷺ په زمانه کښې زمونږ نه هغه کوم وو چه د هغه سره دوه کپړے وے ۔ (بخاریؒ) ۔

تعارف د محمد بن المنكدر بن عبد الله بن الهدير التيمي د مدينے اوسيدونکے دے احد الائمة الاعلام الحفاظ ۔ د جابر انس، ابن الزبير شاګرد دے زيات روايت د جابر نه کوی مشهور جليل القدر تابعی دے عابد، زاهد، صادق، عفيف شخص دے ابن عيينه وائی : كان من معادن الصدق ويجتمع اليه الصادقون ۔ ډير معتمد شخصيت دے كان غاية فى الحفظ والاتقان والزهد، حجة مات سنة (١٣٠) بعض وائی په (٣١) کښې د (٧٦) کالو په عمر وفات شويدے ۔

تشريح : **اَلْمِشْجَبِ** : دا درے لرګی دی چه سرونه ئې يو ځائے کړے شوی وی او خپے ئې کولاوے وی پدے باندے به جامے کيخودے شوے او د اوبو يخولو دپاره ورته مشکونه زوړندولے شي عام فهم معنی ئې ده : ګرونج ۔

فَقَالَ لَهُ قَائِلٌ : ددے قائل نوم په روايت د مسلم کښې عباده بن الوليد بن عباده بن صامت راغلے دے ۔

لِيَرَانِيْ أَحْمَقُ : د احمق نه مراد دلته جاهل دے او حمق په اصل کښې : وضع الشئ فى غير موضعه مع العلم بقبحه ته وائی : يعنی چه يو انسان يو شے بے ځايه استعمالوی او بنه ورته معلومه وی چه دا کار قبيح دے ۔

فوائد الحديث : (١) – تپوس د اعتراض په شکل ندے پکار دلته جابرؓ ددے سړی سره په جواب کښې څکه سختی اوکړه چه ددے سړی دا تپوس تعنتی او اعتراضی وو او د

مسئلے معلومول ئے مقصد نه وو ـ (٢) – او هغه ته دا خودل دی چه تا له پکار دی چه ته اول حکم شرعی معلوم کړه بیا اعتراض کوه ـ نو تا له داسے تپوس پکار وو چه آیا دا کار جائز دے او که نه ؟ـ

٣– واینا کان له ثوبان : که جابر باندے دے سرې اعتراض کړے وے چه د صحابو په یوه جامه کښے مونځ کول په اضطرار باندے حمل دی عذر وو ځکه نورے جامے نه ملاویدے او دا خو د ټولو علماو په نیز اتفاقی صورت دے چه پداسے حالت کښے مونځ په یوه جامه کښے بلا کراهت جائز دے ـ

لیکن د جابر د طرفنه دا جواب کیدے شی چه جابر دا کار تعلیما للجواز کړیدے دے سرې ته ئے حکم شرعی خودلو چه په یوه جامه کښے هم مونځ کیږی او د صحابو په زمانه کښے اګرچه یوه جامه کښے مونځ کول ضرورت وو خو که دوه جامے ضروری وے نو صحابه کرامو به د بلے جامے تکلف کړے وے خو هر کله چه هغوی ددے تکلف ندے کړے نو معلومه شوه چه په بغیر د ضرورت نه هم په یوه جامه کښے مونځ جائز دے ـ

(٤) – کله چه جامے ډیرے موجودے وی او یو انسان په خپل اختیار قصداً په یوه جامه کښے مونځ کوی د سستئ د وجے نه یا د حقارت په نیت نو دا کار مناسب ندے بلکه دوه جامو کښے مونځ کول پکار دی او دا خبره په روستو حدیث کښے هم را روانه ده ـ

(٥) – د تعلیم للجواز په نیت افضل عمل پریخودل ښه کار دے لکه دوه جامو کښے مونځ افضل کار دے لیکن جابرؓ دے سرې ته دا مسئله خودله چه په یوه جامه کښے مونځ جائز دے ـ او پدے باندے نوویؒ اتفاق نقل کړیدے ـ قال : لاخلاف فی جواز الصلاة فی الثوب الواحد واجمعوا علی ان الصلاة فی الثوبین افضل ـ

١٨– وَعَنْ اُبَیِّ بْنِ کَعْبٍ ﷺ ، قَالَ : اَلصَّلاةُ فِی الثَّوْبِ الْوَاحِدِ سُنَّةٌ . کُنَّا نَفْعَلُهُ مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ وَلَا یُعَابُ عَلَیْنَا. فَقَالَ ابْنُ مَسْعُوْدٍ : اِنَّمَا کَانَ ذَاکَ اِذَا کَانَ فِی الثِّیَابِ قِلَّةٌ، فَاَمَّا اِذَا وَسَّعَ اللّٰهُ فَالصَّلَاةُ فِی الثَّوْبَیْنِ اَزْکٰی . رَوَاهُ اَحْمَدُ .

ترجمه : او ابی بن کعب رضی الله عنه فرمائی چه په یوه جامه کښے مونځ کول سنت دی ځکه د رسول الله ﷺ په زمانه کښے به مونږ همدغه شان مونځ کولو او مونږ

تـه بـه چا بـد نـه کتـل ۔ پـدے باندے ابن مسعودؓ اوفرمائیل : چه دا (یعني یوه کپړه کښې مونځ کول) په هغه وقت کښې وو چه په کپړو کښې قلت وو اوس کله چه الله تعالی د کپړو پـه بـاره کښې وسعت (او فراخی) راوستـه نو پـه دوه کپړو کښې مونځ کول بهتر دی ۔ (احمد) ۔

تشریح : **سُنَّةٌ** : یعني په یوه جامه کښې مونځ کول په سنت سره ثابت دی اګرکه دوه جامې بهترې دی او پـه یـو حـدیث د بخاری کښې دی ابو هریرهؓ وائی : یو سړی د نبی علیه السلام نـه تپوس اوکړو چـه یوه جامه کښې مونځ څنګه دے ؟ هغه اوفرمائیل : اولکلکم ثوبان ؟ یعني ستاسو د هریو تن دپاره دوه جامې شته ؟ یعني ستر العورة فرض دے او دا په یوه جامـه بانـدے راځی او دوه جامې بهتر دی کله چه ملاویږی ۔ دلیل حدیث د ابن عمر کښې دی مرفوعا : اذا صلـی احـدکم فلیلبس ثوبیه فان الله احق ان یتزین له رواه الطبرانی فی الکبیر وسنده حسن قاله الهیثمی فی المجمع (٢/٥١) ۔

وَلَا يُعَابُ عَلَيْنَا : یـعـنـی نبی عـلیـه السـلام به مونږ باندے عیب نه وابو نو دا سنت تقریری شو څکه عدم انکار دلیل د جواز دے ۔

أَزْكَى: یعني اولیٰ او افضل دے ډیر ثواب والا دے څکه چه زکات شغه نمو ته وائی چه حاصل شی د برکت د الله نه یا معنی ده : ډیر پاکی راوستونکی دے د خصال ذمیمه نه ۔

درجة الحدیث : دا روایت مسند احمد کښې نشته بلکه عبد الله بن احمد په زوائد الـمسند (٥/١٤١) کښې ذکر کړیدے نو دا د مصنف وهم دے وسنـده فیه انقطاع فانه رواه عبـد الله مـن طـریق ابی نضرة بن بقیة وانه لم یسمع من ابی ولا ابن مسعود ورواه الطبرانی فی الـکبیر بنحوه من روایة ذر عنه موقوفاً وللحدیث شاهد عند الطبرانی کما مرّ مرفوعاً : اذا صلی احدکم فلیلبس ثوبیه الخ وسنده حسن ۔



باب السترة

دلته يو څو بحثونه دي : (١) – مناسبت ددې باب د ماقبل سره (٢) – معنى السترة (٣) – فوائد السترة (٤) – احكام الستره ـ

مناسبت ددې باب د ماقبل سره لفظاً هم شته چه هلته ستر وو او دلته ستره او معناً هم شته چه په ستر کښې عورت پټول وي او په ستره سره انسان د شيطان نه پټيږي مونځ پرې نشي خرابولے ـ

معنى السترة : ستره په ضمه د سين هر هغه شي ته وائي چه مونځ کونکے ئے مخے ته اودروي ـ لکه ديوال، ستنه، امسا، لرگے نيزه، غشے وغيره ـ د سترے فوائد او حکمتونه څه دي نو دا خبره يادول پکار دي چه مؤمن به د يو عمل حکمتونو ته نه گوري بلکه هغه باندے اتباع ضروري ده اگرکه ده ته پکښے فائده او حکمت په ظاهر کښے نه ښکاري ـ

فوائد السترة :

نو (١) – لويه فائده د سترے دا ده چه پدے کښے اتباع الرسول ده او قولي او فعلي او تقريري سنت ژوندي کول دي ـ

(٢) – امام نووي وائي : كف بصر المصلى : يعني چه سُترے سره د مونځ کونکي نظر د سُترے نه اخوا تير نه شي او خيالونه او فکرونه ئے زيات نه شي او د مانځه معانو ته ئے فکر اوزگار شي ځکه کله چه انسان په يو کولاو ميدان کښے ولاړ وي نو هر طرفته ئے نظر اوړي راوړي او پديسره ئے مناجات ئے خرابيږي ـ شرح مسلم (١/١٩٥)ـ

(٣) – حکمت دا دے چه د مونځ کونکي د سجدے ځائے معلوم شي نو دده مخے ته به څوك نه تيريږي ـ (٤) – حفظ الصلاة عن الشيطان والمار لئلا تقطع صلاته ـ دے دپاره چه شيطان او يو تيريدونکے شخص مخے ته تير نشي چه مونځ محفوظ شي د ماتيدلو نه ـ

(٥) – عدم الحرج للمارين : دے دپاره چه تيريدونکي ته حرج نه وي ځکه که يو انسان ستره مخے ته او نه دروي نو يا به يو مسلمان دده مخے ته تيريږي نو هغه به لوئی گناهگار

شي يا به مخے ته ستا د مانځه د خلاصيدو پورے ولاړ وی نو په حرج کښې به واقع شي ۔
(٦) – يحفظ المار عن الاثم ۔ ستره، تيريدونکے شخص د ګناه نه بچ ساتی نو دا تعاون على البر والتقوىٰ دے ۔

احكام السترة ومسائلها --- المسئلة الاولى : حكم السترة :

د علماؤ پدے کښې دوه قوله دی چه آيا ستره اودرول واجب دی او که مستحب ۔
(١) – **اول قول** : ستره اودرول د استحباب په درجه کښې دی او دا قول د احنافو دے لکه هدايه (١٣٨/١) کښې دی : وينبغى لمن يصلى فى الصحراء ان يتخذ امامه سترة الخ ...... ولا بأس بترك السترة اذا امن المرور انتهىٰ ۔
دليل ١ – نبی عليه السلام په بعض ځايونو کښې نده اودرولے لکه فصل ثانی کښې د فضل بن عباس روايت راروان دے : فصلى فى صحراء ليس بين يديه سترة ۔
الجواب : دا حديث ضعيف دے كما سيأتى فى موضعه فى سنده مجالد بن سعيد الهمدانى ۔
٢- **دليل** : حديث د ابن عباسؓ بخاری (٧١/١) کښې راځی : ورسول الله يصلى بالناس بمنى الى غير جدار ۔
الجواب : دا حديث په ترك د ستره باندے دليل ندے بلکه پدے کښې بعينهٖ د سترے خبره ده ځکه چه دلته غير صفتی ده په معنی د مغاير سره دے او موصوف ئے محذوف دے ای الى شئ مغاير جدار يعنی نبی عليه السلام داسے شي ته مونځ کولو چه د ديوال نه غير وو لکه دا خبره امام بخاری هم ذکر کړيده او پدے حديث باندے ئے باب ايخودلے دے : باب سترة الامام سترة لمن خلفه نو دهغه په نيز هم دا حديث دليل دے په ستره باندے ۔
٣- مسجد حرام کښې نبی عليه السلام بے سترے مونځ کړيدے كما فى الحديث عن المطلب بن ابى وداعة انه رأى النبى ﷺ يصلى مما يلى باب بنى سهم والناس يمرون بين يديه وليس بينهما سترة (اى بين الكعبة وبينه) رواه احمد (٣٩٩/٦) وابوداود (٣١٥/١) ومثله فى ابن ماجه والنسائى (٦٧/٢) ۔
الجواب : دا روايت هم ضعيف دے ددے په سند کښې په راوی (كثير بن كثير) باندے اختلاف راغلے دے ۔ ابن جريج چه دده نه روايت کوی نو داسے وائی عن كثير عن ابيه عن جده او سفيان چه ترے روايت کوی نو داسے وائی عن كثير عن بعض اهله عن جده نو دا حديث ضعيف دے ۔ حافظ ابن حجر په فتح البارى کښې دا حديث معلول ګرځولے دے او

فرمائيلي دي: چه امام بخاري په خپل ترجمة الباب كښې تنبيه وركوي په ضعف دده حديث باندې چه هغه باب السترة في مكة ايخودې دې اشاره كوي چه دا حديث ضعيف دې ـ انظر لتفصيل العلة وضعف الحديث احكام السترة ص (١٢٢) ـ

٢- علامه شوكانيؒ ددې تولو رواياتو نه داسې جواب كوي چه فعل د رسول الله ﷺ معارض نشي كيدې د هغه د قول سره كوم چه امت پورې خاص وي نو امت ئې حكم د سترې كړې دې په هغې به عمل كولې شي ـ نيل الاوطار (٩/٣)ـ

٣- يا دا چه دا د مسجد حرام خصوصيت دې چه هلته د كثرت طواف كونكو د وجې نه ضرورت دې كه ستره اونه درولې شي نو جائز به وي ـ

٢- **قول ثاني**: محدثين او امام بخاري فرمائي: ستره واجب ده په مكه او غير مكه هر ځائې كښې ـ او دا قول د امام احمدؒ هم دې او همدا قول راجح دې ـ

دلائل د وجوب السترة:

١- **دليل**: په احاديثو كښې امر راغلې دې په ستره نيولو او نهي د ترك السترة نه راغلې ده ـ بعض د هغه اوامرو نه دا دي:

١- ابن عمرؓ قال: قال رسول الله ﷺ: لا تصل الا الى سترة ولا تدع احداً يمر بين يديك الخ اخرجه ابن خزيمة (٩/٢) وابن حبان (٤٥/٤) ومسلم مختصراً والحاكم (٢٥١/١) والبيهقي (٢٦٨/٢) ـ

٢- : اذا صلى احدكم فليصل الى سترة وليدن منها الخ اخرجه ابن ابي شيبة (٢٧٩/١) وابوداود (١١١/١) وابن حبان (٤٨/٤) والبيهقي (٢٦٧/٢) وابن ماجه واسناده حسن وصححه ابن حبان ـ

٣- سمرة بن معبدؓ نه مرفوعا روايت دې: ليستتر احدكم في صلاته ولو بسهم احمد (٤٠٤/٣) وابن خزيمة (١٣/٢) والحاكم (٢٥٢/١) والبيهقي (٢٧٠/٢) وصححه الشيخ في الصحيحة (٦/) ـ

٤- طلحه: قال قال رسول الله ﷺ: ليجعل احدكم بين يديه مثل مؤخرة الرحل، ابن الجارود في المنتقى (٦٥/١)ـ

٥- دغه شان روايات په ابن ابي شيبه (٢٧٩/١) مسند الحميدي (١٩٦/١) مسند احمد (٢/٤) او ابوداود او طحاوي او بيهقي او ابن خزيمه (١٠/٢) كښې اوګوره نو دا اوامر دي د جوب دپاره دي او قرينه صارفه د وجوب نشته ـ

د سترے متعلق آثار

۱- نافعؒ وائی : عبد الله بن عمرؓ به چه کله مسجد کښې ستنه اونه موندله (چه مونځ ورته اوکړی) نو ما ته به ئے اوفرمائيل : (ولني ظهرك) شا راواړوه ۔(زما مخے ته کینه چه زما ستره شے) ابن ابی شیبة (۱/ ۲۷۹) وسنده صحیح ۔

۲- انس بن مالكؓ فرمائی : لقد رأيت اصحاب النبی ﷺ يبتدرون السواری عند المغرب حتى يخرج النبی وفی رواية يصلون الركعتين قبل المغرب، صحیح البخاری (۱/ ۷۲) ۔ نو صحابه کرامؓ سره به د سترے دومره اهمیت وو چه ستنو ته به اودریدل ۔

۳- محمد بن سیرین وائی : عمر بن الخطابؓ یو سړے اولیدو چه مونځ ئے اوکړو او مخے ته ئے ستره نه وه نو عمرؓ د هغه مخے ته کیناستو او ورته ئے اوفرمائيل : خپل مانځه کښې جلتی مه کوه ۔ کله چه فارغ شو عمرؓ ورته اوفرمائيل : فاذا صلى احدكم فليصل الى سترة لايحول الشيطان بينه وبين صلاته ۔ عبد الرزاق (۲/ ۱۵) دا اثر اگرچه مرسل دے لیکن ابن سیرینؒ د ثقاتو نه ارسال کوی کما فی التمهید (۱/ ۳۰) وجامع التحصيل للعلائی ۔

علامه شوکانیؒ فرمائی : ظاهر هذه الاحاديث الوجوب ما لم يصرف عنها صارف ۔ كذا فی السيل الجرار (۱/ ۱۷۶) ۔

نو دا قول راجح دے چه ستره اودرول واجب دی ۔

المسئلة الثانية : سترے ته نزدے اودریدل او د هغے مقدار

سترے ته به نزدے اودریږی او مقدار ئے دا دے چه د خپو نه تر سترے پورے درے گزه وی لکه مخکښې حدیث تیر شویدے چه کعبه کښې نبی علیه السلام دیوال ته درے گزه فاصله کښې مونځ کړے کما فی البخاری (۱/ ۷۲) او عطاء هم دا قول کړیدے : ادنى ما يكفيك فيما بينك وبين السارية ثلاثة اذرع، عبد الرزاق (۲/ ۱٦) ۔

امام بغویؒ شرح السنه (۲/ ٤٤٧) کښې وائی دا قول د امام احمدؒ او شافعیؒ دے وانظر المحلى ایضا (۲) او یو روایت کښې مَمَرُّ شاةٍ راغلے دے نو ظاهر دا ده چه دا د سجدے نه تر سترے پورے مقدار دے ۔ یعنی دومره اندازه کښې وی چه د سجدے په وقت کښې د انسان او سترے ترمینځ د یو گډ تیریدو فاصله وی ۔ او څومره چه نزدے وی بهتره ده او پدے نزدے والی باندے اوامر راغلی دی ۔ (۱) – سهل بن ابی حثمه نه مرفوعا روایت دے : اذا صلى

احدکم الی سترة فلیدن منها لایقطع الشیطان علیه صلاته ابن خزیمة (۲/۱۰) وابن ابی شیبة (۱/۲۷۹) واحمد (٤/۲)۔

۲- عائشةؓ نه مرفوع روایت دے: ارهقوا القبلة - یعنی قبلے ته نزدے شئ۔ مجمع الزوائد (۲/۵۹) والبزار کما فی کشف الاستار (۱/۲۸۲)۔

سترے ته په نزدے اودریدو باندے آثار

د صحابه کرامؓ نه هم ډیر اوامر راغلی دی:

۱- **ابن عمرؓ** فرمائی: اذا صلی احدکم فلیصل الی سترة ولیدن منها کیلا یمر الشیطان امامه، ابن ابی شیبة (۱/۲۷۹)۔

۲- **ابن مسعودؓ** فرمائی: لا یصلین احدکم وبینه وبین القبلة فحوة، عبد الرزاق (۲/۱٦) ابن ابی شیبة (۱/۲۷۹)۔ او دا حکم مسجد او صحراء تولو ته شامل دے نو څوک چه د مسجد او صحراء فرق کوی بے دلیله دے۔

۳- **ابن عمر** رضی الله عنهما یو سړے اولیدو چه د دوه ستنو ترمینځ ئے مونځ کولو نو هغه ستنے ته نزدے کړو او دا ئے ورته اوفرمائیل: صَلِّ الیها: دے ته نزدے مونځ کوه۔ البخاری (۲/۷۲)۔

٤- **قره بن ایاس** وائی: ما د دوه ستنو ترمینځ مونځ کولو چه عمر فاروقؓ اولیدم نو د څټ نه ئے اونیولم (فادنانی الی سترة) نو سترے ته ئے نزدے کړم او راته ئے اوفرمائیل: دیته نزدے مونځ کوه۔

المسئلة الثالثة: انواع السترة

ډیر څیزونه ستره جوړیدے شی لکه ۱- دیوال ۲- ستنه ۳- اوښ ٤- مؤخرة الرحل ۵- انسان ٦- کټ ۷- نیزه۔ دا ټول په احادیثو کښے راغلی دی غرض دا چه هر شے ستره کولے شی سوئ د قبر نه او د بت نه۔ او خبرے کونکو ته مونځ جائز دے اګرکه خشوع خرابوی مګر بیا هم ستره جوړول ئے جائز دی۔ اګرچه بعض سلفو دا وئیلی دی، چه دا کار نه دے پکار ځکه مقصد د سترے توجه کول دی په مانځه کښے او کله چه انسان خبرے کونکے ستره کړی نو بیا به ئے د هغه خبرو او حالت ته فکر وی نو غرض د سترے به فوت شی۔

امام بخاری د خپل صحیح (۱/۷۳) باب: استقبال الرحل الرحل وهو یصلی کښې د

عثمان رضی الله عنه اثر راوړيدے : فرمائی : وكره عثمان ان يستقبل الرجل وهو يصلی۔ يعنی عثمان دا خبره بده ګنړلے ده چه په مانځه کښې يو شخص يو انسان لره خپله ستره جوړه کړی امام بخاریؒ وائی : دا په هغه وقت کښې ندے پکار چه کله مونځ کونکے د هغه د خبرو وغيره په وجه مشغول کيږی او کله چه د هغه په وجه نه مشغول کيږی نو بيا جائز ده ځکه چه زيد بن ثابت رضی الله عنه فرمائيلی دی : ما باليت، ان الرجل لا يقطع صلاة الرجل ۔ يعنی زما هيڅ پرواه نشته پدے کار ځکه چه سړے د بل سړی مخے ته کيدو سره مونځ نه قطع کوی ۔

المسئلة الرابعة : ستره په هر مصلی واجب ده سوئ د مسبوق نه چه په هغه واجب نده وجه دا ده چه کله امام په مانځه ولاړ وی او ته راغلے نو ستا دپاره حکم د اقتداء د امام دے نه د سُترے او د امام د سلام نه روستو په مانځه کښے مشغول ئے نو د سترے حکم ستا نه ساقط دے ددے مثال داسے دے لکه يو سړے د يو حيوان نه ستره جوړه کړی او بيا هغه لاړ شی نو پدغه حالت کښې هغه تقصير کونکے ندے او د (وَلَا تُصَلِّ اِلَّا اِلٰى سُتْرَةٍ) حکم ابتداءً مونځ کونکی ته دے نه مسبوق ته ۔ ليکن که هغه ته ستره نزدے وه يو قدم دوه قدمه ورمخکښې کيدل يا ښی ګس طرفته وړاندے کيدل پکار دی خاصکر کله چه د خلقو د تيريدو خطره وی دے دپاره چه هغوی په ګناه کښې واقع نکړی ۔ او که ستره ترے ديوال وغيره ترے وړاندے وه نو بيا به سترے ته نه وړاندے کيږی بلکه تيريدونکی خلق به دفع کوی ۔ او ددے مسئلے تفصيل په جلد ثانی (٦٠٧/٢) باب المسح علی الخفين دويم حديث کښې تير شويدے ۔

المسئلة الخامسة : **سترة الامام سترة لمن خلفه** : دا مسئله ده چه د امام ستره د مقتديانو دپاره کافی ده نو مقتدی باندے ستره ضروری نده او دا د ټول امت اجماعی مسئله ده كما قال الشيخ البسام فی توضيح الاحكام (٥٣٢/١) نو کله چه د امام مخے ته ستره موجوده وی نو د مقتديانو مخے ته تيريدل جواز لری کله چه ضرورت راشی لکه صف کښے ځائے خالی وی او ته د بهر نه راشے يا دے اودس مات شی نو د مقتديانو مخے ته تيريدل جائز دی ۔ **دليل** پدے باندے حديث د ابن عباس دے چه بخاری (٧٢/١) کښے ذکر دے : ابن عباسؓ فرمائی : نبی عليه السلام په منیٰ کښے مونځ کولو او مخے ته ئے د ديوال نه علاوه بل شے وو نو زه د بعض صف مخے ته تير شوم او زه په خر باندے سوروم ۔ او پدے حديث باندے امام بخاری باب ايخودے دے : باب سترة الامام سترة لمن خلفه ۔ وانظر

الفقه على المذاهب الاربعة (١/ ١٩٠) ـ

المسئلة السادسة : كه يو سړى بغير د سترے نه مونځ اوكړو نو څه حكم دے؟ ـ

(١) – علامه ابن الحزمؒ وائي : مونځ فاسد دے ځكه لانه صلى على خلاف ما امر الله به فلا تقبل ـ ځكه چه ده په هغه طريقه مونځ اونكړو څنگه چه ورته الله تعالى حكم كړے وو نو دا قبول ندے ـ

(٢) – جمهور علماء وائي : سخت گناهگار دے خو مونځ فاسد ندے ځكه عبادات په گناه باندے نه فاسديږى او ستره د واجباتِ خارجيه و نه ده ددے ترك مونځ نه فاسدوى ـ

الفصل الاول - اولنے فصل

١ – عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ : كَانَ النَّبِيُّ ﷺ يَغْدُوْ اِلَى الْمُصَلّٰى وَالْعَنَزَةُ بَيْنَ يَدَيْهِ تُحْمَلُ، وَتُنْصَبُ بِالْمُصَلّٰى بَيْنَ يَدَيْهِ فَيُصَلِّيْ اِلَيْهَا . رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ .

ترجمه : ابن عمر رضى الله عنه فرمائي چه نبى كريم ﷺ به د سحر په وقت عيد گاه تشريف يوړو او د هغه مخے ته به يوه نيزه (هم) وړے شوه چه هغه به په عيد گاه كښے د نبى كريم ﷺ مخے ته اودرولے شوه او نبى كريم ﷺ به هغے طرفته (مخ كولوسره) مونځ كولو ـ (بخاري) ـ

تشريح : **يَغْدُوْ اِلَى الْمُصَلّٰى** : د رسول الله ﷺ معمول مبارك دا وو چه كله به عيد گاه ته وتلو نو خادمانو به ورسره امسا وغيره د سترے لگولو دپاره وړله ځكه عيدگاه يو خالى ميدان وو مخے ته ديوال وغيره نه وو نو ددے وجے نه نبى عليه السلام به دا اهتمام كولو چه په عيد گاه كښے ستره اودروى ـ نو ددے نه د سترے اهميت معلوم شو او امام ابن خزيمهؒ په خپل صحيح (٢/ ٢٨) كښے دے خبرے ته اشاره كوى چه كوم احاديث د رسول الله ﷺ نه د سُترے د پريخودلو په باره كښے راغلى دى هغه ټول ضعيف دى ځكه رسول الله څنگه هغه عمل اوكړى چه خلق د هغے نه منع كوى چه هغه ستره پريخودل دى ـ فرمائي : وقد زجر النبى ان يصلى المصلى الا الى سترة فكيف يفعل ما يزجر عنه ﷺ آهـ ـ

فوائد الحديث : (١) – اختر مونځ په عيدگاه كښے پكار دے او د ضرورت د باران وغيره په وجه په مسجد كښے هم جائز دے او ددے په باره كښے يو ضعيف حديث نقل دے په خپل ځائے كښے به راشى ان شاء الله ـ

(٢) – عنزه : دا هغه امسا ده چه په سر کښې ئې اوسپنه وی ـ بعض وائی : دا د رمح نه وړه وی او بعض وائی : دا د امسا نه لويه وی ـ (٣) – دا حدیث دلیل دے چه په میدان کښې ستره اودرول هم ضروری دی اګرکه انسان په سفر کښې وی ـ
(٤) – ستره په هر شی حاصلیږی چه د مصلی مخے ته اودرولے شی اګرکه باریك وی خو کله چه د مؤخرة الرحل په اندازه وی او هغه اندازه روستو راروانه ده ـ
(٥) – د امام او مشر نه مخکښې د اسلحے سره تلل جواز لری ـ
(٦) – په ګنړه کښې هم ستره او درول ضروری دی اګرچه مسجد حرام او مسجد نبوی کښې وی خو په مسجد حرام کښې چه کله ډیره ګنړه وی نو بیا که ستره اونه درولے شی نو خیر دے ـ ددے اجازه په بعض روایاتو کښې راغلے ده اګرکه متکلم فیها دی ـ
صحیح دا ده چه هلته به هم د خپل وسع مطابق د الله تعالی نه ویره کوی ﴿ فَاتَّقُوا اللّٰهَ مَا اسْتَطَعْتُمْ ﴾ ـــــــــ

٢ – وَعَنْ اَبِیْ جُحَیْفَةَ ﷺ، قَالَ : رَاَیْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ بِمَكَّةَ وَهُوَ بِالْاَبْطَحِ فِیْ قُبَّةٍ حَمْرَاءَ مِنْ اَدَمٍ، وَرَاَیْتُ بِلَالًا اَخَذَ وَضُوْءَ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ ، وَرَاَیْتُ النَّاسَ یَبْتَدِرُوْنَ ذٰلِکَ الْوَضُوْءَ فَمَنْ اَصَابَ مِنْهُ شَیْئًا تَمَسَّحَ بِهٖ، وَمَنْ لَمْ یُصِبْ مِنْهُ اَخَذَ مِنْ بَلَلِ یَدِ صَاحِبِهٖ. ثُمَّ رَاَیْتُ بِلَالًا اَخَذَ عَنَزَةً فَرَكَزَهَا، وَخَرَجَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ فِیْ حُلَّةٍ حَمْرَاءَ مُشَمِّرًا، صَلّٰی اِلَی الْعَنَزَةِ بِالنَّاسِ رَكْعَتَیْنِ . وَرَاَیْتُ النَّاسَ وَالدَّوَابَّ یَمُرُّوْنَ بَیْنَ یَدَیِ الْعَنَزَةِ . مُتَّفَقٌ عَلَیْهِ . ـــــــــ

ترجمه : او ابوجحیفه رضی الله عنه فرمائی چه ما په مکه کښې په ابطح مقام کښې رسول الله ﷺ لره د سرے څرمنے په یوه خیمه کښې اولیدو او ما بلال رضی الله عنه اولیدو چه د رسول الله ﷺ د اوداسه (مستعملے) اوبه ئې لاس کښې نیولے وے او نور خلق مے (هم) اولیدل چه هغوی د اوبو په حاصلو کښې ډیره جلتئ کوله پس چا ته چه به د هغه اوبو نه څه شے ملاؤ شو هغه به (د برکت حاصلولو دپاره) هغه (په خپل بدن او مخ باندے) راخکلے او چا ته چه به څه ملاؤ نشو هغه به د ملګری د لاس لوندوالے اخستو سره ځان پورے راخکل بیا مے بلال رض اولیدو چه هغه نیزه اخستے وه او هغه ئې ناله کړه رسول الله ﷺ سره دانه داره جوړه اغوستے وه او پینڅے ئې بډے کړے وے (د خیمے نه)

راوتلو ۔ او نیزے طرفته اودریدو صحابه کرامو ته ئے دوه رکعاته مونځ اوکړو او ما اولیدل چه خلق او چارپیان به د نیزے مخے ته تیریدل ۔ (بخاری ومسلم) ۔

تعارف د ابوجحیفة رضي الله عنه :

دده نوم وهب بن عبد الله السوائی دے منسوب دے سواءة بن عامر ته په کنیه مشهور دے ده ته وهب الخیر وئیلے شی مشهور صحابی دے د نبی علیه السلام د وفات په وقت کښے بلوغ ته لا نه وو رسیدلے لیکن د هغه نه ئے سماع هم کړے او روایت ئے ترے هم نقل کړے ۔ د علیؓ بن ابی طالب د خواصو نه دے او دائے په شرطه (فوج) باندے مقرر کړے وو ۔ په کوفه کښے په سنه (٧٤ھ) کښے وفات دے، (٤٥) احادیث ئے امت ته رانقل کړیدی ۔

تشریح : بِالْاَبْطَحِ : دیته محصب او بطحاء هم وائی : دا مکے ته نزدے د منیٰ په لاره کښے یو خوړ دے چه په هغے کښے واړه واړه کانړی دی ۔ دلته نبی علیه السلام څه کول ؟ نو دا په حجة الوداع کښے راغلے وو او دغه خوړ کښے ورسره صحابه ډیره وو کولاؤ ځائے وو هلته ئے ډیره اچولے وه دے دپاره چه ملګرو ته تکلیف نه وی ۔

فِیْ قُبَّةٍ حَمْرَاءَ : یا ئے رنګ وزکړے وو ٢- یا د غوا څرمنه وه ۔

مِنْ اَدَمٍ : جمع د ادیم ده، څرمنے ته وائی ۔

وَضُوْءَ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ : ظاهر دا ده چه ددے نه مراد هغه اوبه دی چه رسول الله ﷺ پرے اودس کړے دے او هغه مستعملے کړیدی او په یو لوښی کښے بلال راجمع کړی دی یا ئے د یو بل د لاسونو نه اخستلے دی ۔ نو دا واضح دلیل دے چه مستعملے اوبه طاهر مطهر دی ۔ ١- صحابه کرامو دا اوبه استعمالولے د تبرک په نیت او پدے باندے بل څوک نشی قیاس کولے ځکه چه په هغے کښے قیاس د غیر معصوم دے په معصوم باندے او دا جائز نه وی ۔ د ابوبکرؓ او عمرؓ او عثمانؓ او علیؓ په مستعملو اوبو باندے هیڅ یو صحابی یا تابعی داسے تبرک ندے کړے سره ددینه چه دا اعلیٰ اولیاء الله وو ۔

٢- پدے کښے اظهار د محبت دے د نبی علیه السلام سره چه دا عبادت دے ۔ ٣- کفارو ته خودل وو چه زمونږ د خپل پیغمبر سره دومره محبت دے چه دده مستعمل شده اوبه زمکے ته نه پریدو نو پاتو لا دده وینا ۔

فِیْ حُلَّةٍ حَمْرَاءَ : خالص سرے جامے اچول حرام دی او دلته چه نبی علیه السلام اچولی دی نو دا تکے سرے نه وے بلکه چار خانه وے سرے سرے پټے پکښے وے لکه علامه ابن القیمؒ په زاد المعاد (١/١٣٢) کښ د حله په توضیح کښ وائی : بردان یمانیان

منسوجان بخطوط حمر مع الاسود کسائر البرود الیمنیة وهی معروفة بهذا الاسم باعتبار ما فیها من الخطوط الحمر ۔ یعنی حله د یمن دوه څادرونه وو چه سرے او تورو کرخو سره جوړ شوی وو لکه عام یمنی کپړے چه څنګه برګے بروګے وی او دا پدے نوم سره مشهور شویدی پدے اعتبار سره چه پدے کښې سرے پټے دی ۔

حُلَّةٍ : قمیص او پرتوګ ته وائی یعنی جوړه ۔ دا حدیث دلیل دے چه د سترے نه اخوا د حیوانات او انسانانو تیریدل جواز لری ۔ ۲- امسا ځان سره ګرځول چه د سترے په ځائے هم کار ورکړی بهتر کار دے سنت عمل دے او پدے کښې ډیرے فائدے دی ۔

۳- وَعَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ : اَنَّ النَّبِیَّ ﷺ کَانَ یَعْرِضُ رَاحِلَتَهٗ فَیُصَلِّیْ اِلَیْهَا .مُتَّفَقٌ عَلَیْهِ . وَزَادَ الْبُخَارِیُّ، قُلْتُ : اَفَرَاَیْتَ اِذَا هَبَّتِ الرِّکَابُ . قَالَ : کَانَ یَاْخُذُ الرَّحْلَ فَیُعَدِّلُهٗ فَیُصَلِّیْ اِلٰی آخِرَتِهٖ .

ترجمه : او نافع د ابن عمر رضی الله عنه نه روایت کوی چه نبی کریم ﷺ به خپله سورلۍ (اوښ) خپلے مخے ته کینولو او هغے طرفته به ئے مونځ کولو ۔ (بخاری ومسلم)

۔ او بخاری دا زیات نقل کړیدی چه (نافع وائی) ما د ابن عمر رضی الله عنه نه تپوس اوکړو چه کله به اوښ د څر او اوبو څکلو دپاره لاړو نو نبی کریم ﷺ به څه کول (یعنی پداسے صورت کښې به نبی کریم ﷺ د څه نه ستره جوړوله ؟) ابن عمرؓ اوفرمائیل : (پداسے موقعه به) نبی کریم ﷺ کجاوه برابره کړه او مخے ته به ئے کیخودله او د هغے آخرنی لرګی طرف ته (چه هغه د اوچت والی په وجه د سترے کار ورکولو) مونځ کولو ۔

تشریح : **یَعْرِضُ** : دا یا په کسره د راء او فتحه د یاء ده د ضرب نه دے یا د باب تفعیل نه دے یعرّض (نوویؒ) ۔ په پلنو باندے یو شے کیخودلو ته وائی ۔

مطلب دا دے چه نبی علیه السلام به قبلے او خپلے مخے ته په پلنو باندے اوښه کینوله او هغے طرفته به ئے مونځ کولو۔

رَاحِلَتَهٗ : دا هغه اوښے ته وائی چه د پالان کیخودلو صلاحیت لری (جوهری) علامه ازهری لغوی وائی : راحله نجیبه (شریفے) سورلۍ ته وائی برابره ده که مذکر وی او که مؤنث او هاء په کښې د مبالغے دپاره ده ۔

فَیُصَلِّیْ اِلَیْهَا : دا حدیث دلیل دے چه اوښ او حیوان نه ستره جوړول جواز لری پدے

سره هغه نقصان نه لازمیږي کوم چه پنغاري (غوجل) کښې وي ځکه چه په اوښ کله پالان پروت وي نو په آرام وي دومره مستي نشي کولے نو په مونځ کونکي باندې تشویش نه راځي او کله چه په پنغاري کښې وي نو مستي کوي نو په مونځ کونکي تشویش راځي ـ بیا که اوښ د سترې نه لاړ شي نو همداسې مونځ به کوي جواز لري ـ

ابن عبد البرؒ په استذکار (۲/۲۷٤) کښې وائي : اما الاستتار بالراحلة فلا اعلم فیه خلافا وحسب المصلي ما یستره ما یزید علی عظم الذراع ـ لیکن امام شافعيؒ وائي : لا یستتر بامرأة ولا دابة ـ یعني د ښځې او دابې نه به ستره نشي جوړولے ـ

امام نوويؒ وائي کیدې شي چه امام شافعي ته حدیث نه وي رسیدلے ځکه د هغه مذهب اتباع الحدیث دې نو بس په حدیث به عمل وي او ددې معارض نشته انتهیٰ ـ یعني ددې مذکور حدیث معارض نشته ـ او هر چه ښځې نه ستره جوړول دي نو هغې په باره کښې د عائشےؓ روایت شته چه هغه به د نبي علیه السلام مخې ته د جنازې په شکل پرته وه او نبي علیه السلام هغې طرفته مونځ کولو لکه روستو به راشي ان شاء الله ـ

شوافع او مالکیه په نیز دابه ته مونځ مکروه دې او دا حدیث په ضرورت باندې حمل کوي چه بل څه نه ملاویدل لیکن صحیح دا ده چه مونځ بلاکراهت جائز دې ـ

اِذَا هَبَّتِ الرِّکَابُ : تقریبا عام شراح الحدیث د هبت معنی د برانگیخته کیدو او پورته کیدو سره کریده یعني کله چه دا اوښان راپاڅیږي ای هاجت وتحرکت (مرعات) لیکن صحیح دا ده چه دلته هبت په معنی د ذهبت او خرجت سره دې ـ یعني کله چه دا اوښان روان شي او وځي رکاب : هغه اوښانو ته وائي چه په هغې باندې مزل کولے شي او دا اسم جمع ده او واحد من لفظه نه لري ـ

٤ـ وَعَنْ طَلْحَةَ بْنِ عُبَيْدِ اللهِ ﷺ، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : «اِذَا وَضَعَ اَحَدُكُمْ بَيْنَ يَدَيْهِ مِثْلَ مُؤْخِرَةِ الرَّحْلِ فَلْيُصَلِّ، وَلَا يُبَالِ مَنْ مَرَّ وَرَاءَ ذٰلِكَ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ .

ترجمه : او طلحه بن عبید الله رضی الله عنه فرمائي چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل : کله تاسو نه څوك د کجاوې آخري لرگي پشان (کوم څیز لره) ستره جوړه کړي نو هغه دې مونځ کوي او (ددې سترې) مخې ته چه څه شے تیرشي نو د هغې پرواه دې نه کوي ـ

(مسلم) ۔

تشریح : **مِثْلَ مُؤْخِرَةِ الرَّحْلِ** : مؤخرة الرحل هغه لرګی ته وائی چه د پالان په آخر کښې وی او هغې ته سوریدونکے تکیه لګوی ۔ رحل : ددے بل نوم کور دے یعنی پالان (هغه شے چه د اوښ په شان باندے د سوریدو دپاره کیخودے شی) ۔

مُؤخرة الرحل : د سترے ادنیٰ مقدار دے او د زیات دپاره حد نشته او مؤخرة الرحل شرعی یو ګز وی لکه عطاء وائی : مؤخرة الرحل : ذراع عبد الرزاق (٢/٩) وابوداود (١/١٠٦) ابن خزیمة (٢/١١) وهو اثر صحیح فتاوی الدین الخالص (٣/٥٦٠) ۔

او نافع فرمائی : کان ابن عمرؓ لا یصلی الا الی سترة قال : وکان قدر مؤخرة رحله ذراع الخ عبد الرزاق (٢/٩) وفیه العمری الا ان لکل جزء منه شواهد فهو حسن لغیره ان شاء الله تعالی ۔ انظر احکام السترة (٣٠) لمحمد بن رزق بن طرهونی ۔

او دا مذهب د ائمه اربعهؤ دے ځکه په عام احادیثو کښې دا جواب راغې چه ستره د مؤخرة الرحل په مقدار دے، او دا مقام د بیان دے او تاخیر د بیان د موضع د حاجت نه جائز نه وی لیکن مخکښې یو حدیث تیر شو چه ولو بسهم هم راغلے دے او سهم (غشے) خو غالباً یو ذراع وی او که ددے نه کم وی نو بیا تطبیق دا دے چه دا په ضرورت باندے محمول دے چه کله نور څه نه ملاویږی او عند الضرورت خو خطوط هم راغلی دی ۔ او ددے وجے نه بعض سلفو نه نقل دی چه هغوی به توپۍ نه ستره جوړوله لکه چه دا د عبد الله بن عمرؓ او شریکؒ نه نقل دی ۔ او امام عامر الشعبیؒ به چابك مخے ته وارتولو او هغے طرفته به ئے مونځ کولو ۔ انظر مصنف عبد الرزاق (٢/١٦) ابوداؤد (١/١٧٠) الحمیدی (٢/٣٦) ۔

نو دا آثار بعض ضعیف دی او یا محمول دی په ضرورت باندے چه کله بل څه نه ملاویږی ۔ او صحیح دا ده چه عام حالت کښې چه کله ضرورت نه وی نو د مؤخرة الرحل نه به کمه نه وی او عند الضرورت چه په هر شی قادر شو هغه به اودروی ۔

او امیر صنعانی په سبل السلام (١/٢٩٤) کښې وائی : د یو ذراع نه کم باندے هم ستره جوړول جواز لری ولو بسهم دلیل دے لیکن اصح دا ده چه دا سهم په حالت د ضرورت کښې دے ځکه (لو) لفظ نه معلومیږی ۔

حافظ په فتح الباری (١/٥٨١) کښې وائی : مؤخرة الرحل اقل مقدار د سترے دے ۔ هدایه کښې دی : ومقدارها ذراع فصاعداً ۔ نوویؒ وائی : پدے حدیث کښې دلیل نشته په بطلان د خط راخکلو ځکه هغه په ضرورت محمول دے ۔

فائدة : مؤخرة الرحل كښې لغات دي : (١) - د ميم ضمه او د همزې سكون او د خاء مخففه كسره (٢) يا فتحه لكه مُؤْخِرَةُ او مُؤْخَرَة (٣) - د همزې او خاء فتحه او خاء مشدد ده لكه مُؤَخَّرَة (٤) - د همزې فتحه او د خاء مشدده كسره لكه : مُؤَخِّرَة (٥)- د ميم فتحه او واو ساكن دې او د خاء كسره ده لكه : مَوْخِرَة الرحل ـ

مَنْ مَرَّ وَرَاءَ ذٰلِكَ : يعني كه د سُترې نه اخوا سپې يا زنانه وغيره تيرېږي نو څه نقصان نشته او د هغه د دفع كولو دپاره اشاره كول هم نشته ـ په ابوداود كښې داسې الفاظ دي : فلا يضرّ من مرّ بين يديك يعني كه څوك د سُترې او ستا په مابين كښې تير شي نو ستا به څه نقصان نه وي او كه ستره نه وي نو بيا به نقصان وي ـ

٥- وَعَنْ اَبِىْ جُهَيْمٍ ﷺ ، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : « لَوْ يَعْلَمُ الْمَارُّ بَيْنَ يَدَىِ الْمُصَلِّىْ مَا ذَا عَلَيْهِ، لَكَانَ اَنْ يَقِفَ اَرْبَعِيْنَ خَيْراً لَهُ مِنْ اَنْ يَمُرَّ بَيْنَ يَدَيْهِ » . قَالَ اَبُو النَّضْرِ : لَا اَدْرِىْ قَالَ : « اَرْبَعِيْنَ يَوْمًا، اَوْ شَهْرًا اَوْ سَنَةً » . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ .

ترجمه : او ابوجهيم رضى الله عنه فرمائى چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل : مونځ كونكى مخې ته تيريدونكې كه پدې پوهه شي چه دده به څه سزا وي نو هغه به د مونځ گزار مخې ته تيريدو پځائې څلويښت ...... پورې اودريدل بهتر گنړلې ـ(ددې حديث راوى ابو النضرؒ وائى : ما ته پته نشته چه څلويښت ورځې يا څلويښت مياشتې يا څلويښت كاله ئې وئيلى دي ـ (بخارى ومسلم) ـ

تشريح : بَيْنَ يَدَىِ الْمُصَلِّىْ : يعني مونځ كونكى مخې ته نزدې تير شي ـ ددې نزدې تيريدو څومره مقدار دې، يعني څومره مقدار كښې تيريدل جواز لرى پدې كښې مشهور دوه قوله دي :

(١) - **عكرمهؒ** د ابن عباسؓ نه نقل كوى چه مقدار رمية الحجر يعني څومره اندازه چه كانړې ويشتلې شي نو دومره مقدار كښې تيريدل حرام دي ـ كما فى ابى داود (١٠٩/١) والطحاوى (٤٥٨/١) والبيهقى (٢٧٥/٢) عبد الرزاق (٢٧/٢)ـ ليكن پدې باره كښې مرفوع حديث ضعيف دې ـ ابوداودؒ وائى : لم اسمع هذا الحديث الا من محمد بن اسماعيل واحسبه وهم فيه لانه كان يحدثنا من حفظه ـ نو مرفوع روايات پدې باره كښې

ضعيف دی او دا روایت موقوف دے لیکن دا هم ضعیف دے ځکه پدے کښې د یحیی بن ابی کثیر عنعنه راغلے ده او هغه مدلس او مرسِل راوی دے کما فی التقریب۔

(٢) – **قول ثانی** دا دے چه درے گزو په مقدار وی او دا قول د جمهور علماؤ دے۔

ابو محمد بن الحزم الظاهری وائی: د مونځ کونکی او قبلے په مابین کښې د درے گزو پورے تیریدل حرام دی او که ددے نه زیات وی نو بیا گناهگار ندے او مونځ کونکی باندے د هغه منع کول هم نشته۔

بیا پکښې ١- **حنابله** وائی: د قدم نه تر درے گزو پورے تیریدل حرام دی۔

٢- **شوافع** وائی: حرم المرور بین یدی المصلی وسترته وهو ثلاثة اذرع فاقل ۔ امام نووی وائی: قال اصحابنا: ینبغی له ان یدنو من السترة لا یزید مابینهما علی ثلاثة اذرع، شرح مسلم (١/١٩٧)۔

٣- **مالکیه** وائی: حرم المرور فی موضع رکوعه وسجوده ۔ د رکوع د ځائے نه تر موضع السجود پورے تیریدل حرام دی۔

٤- **احناف** فرق کوی د مسجد کبیر او مسجد صغیر ترمینځ نو په مسجد صغیر کښې د مصلی مخے ته تیریدل مطلقا حرام گڼړی او مسجد کبیر او صحراء کښې د قدم نه تر موضع السجود پورے تیریدل حرام گڼړی۔ انظر الفقه علی المذاهب الاربعة (١/١٩٢) وتوضیح الاحکام (١/٥٣٢)۔

٥- **شیخ ابن باز** په حاشیه د فتح الباری (١/٥٨٢) کښې وائی: که وړاندے تیر شی نو دیته عرفاً مار (تیریدونکے) نشی وئیلے او دده حکم به داسے وی لکه چه د سُترے نه اخوا تیر شو چه گناه به پرے نه وی۔ نو دده په نیز خبره عرف ته سپارل شویده چه عرفاً لرے تیر شی نو دا به شرعاً هم مار نه وی۔

٦- **شیخ** عبید الله المبارکفوری وائی: زما په نیز باندے راجح خبره دا ده چه د مونځ کوونکی د خشوع په حالت کښې څومره اندازه په تیریدونکی نظر لگی نو تیریدل به حرام وی او که نظر پرے نه لگی نو بیا حرام ندی۔ والله اعلم۔

پدے ټولو کښې راجح قول ثانی دے چه درے گزو کښې به نه تیریږی ددے قول د ترجیح ډیر وجوهات دی: (١) – اول دا چه انسان رکوع او سجده همدغه فاصله کښې کولے شی۔ (٢) – دویم دا چه دا قول متوسط دے او د اکثر اهل علمو دے او رمیة الحجر کښې مسئله د قطع د مانځه ده د مرور اندازه پکښې نده ذکر۔ (٣) – دریم دا چه نبی علیه

السلام امر كړيدے د دفع كولو د تيريدونكي او كله چه انسان تشهد باندے ناست وي او څوك د درے گزو نه اخوا تيريږي نو مونځ كونكے هغه لره نشي منع كولے ځكه لاس ئے نه ورسيږي نو د دفع كولو طاقت به هله لري چه كله درے گزه كښے تيريږي ـ

(٤) – څلورم دا چه بين يديه لفظ دليل دے چه داسے مقام كښے تيريدل چه د انسان لاس وررسيږي او دا په درے گزو مقدار كښے رسيدل ممكن دي او زيات كښے ندي ممكن ـ

(٥) – پنځم دا چه حديث كښے دي چه سترے ته به نزدے اودريږي او وړاندے به نه اودريږي او ددے نزدے والي اندازه درے گزه كيدے شي ځكه بين يديه لفظ پرے دليل دے چه لاسونو رسيدو خوا كښے به ستره اودروي ـ

(٦) – شپږم دا چه نبي عليه السلام كعبه كښے مخامخ ديوال ته د درے گزو په فاصله كښے ولاړ وو نو دا دليل دے چه كه ستره مخے ته نه وي نو درے گزو نه اخوا تيريدل به جائز وي (٧) – دا قاعده منضبطه ده او د ركوع او سجدے مقدار كښے د خلقو احوال مختلف وي څوك اوگد وي نو د هغه اندازه اوگده وي او څوك لنډ وي نو د هغه اندازه لنډه وي نو دا منضبطه قاعده نه جوړيږي او درے گزه د هر چا د حال مناسب دي ـ او دا وجوهات د ترجيح شيخ محمد بن رزق په احكام السترة ص (٥٤) كښے ذكر كړيدي او دا قول ابن الحزمؒ هم راجح كړيدے ـ

او د ابن الفضلؒ نه چه كوم عمل نقل دے چه هغه به ستره شپږ گزه كښے اودروله نو دا روايت ضعيف دے فيه ابواسحاق وقد اختلط ـ يا دا چه دا د هغه اجتهاد وو او حديث د امر بالدنو الى السترة ورته نه وو رسيدلے ـ

مَا ذَا عَلَيْهِ : اى ماذا عليه من الاثم والضرر ـ يعني ده ته د تيريدو په وجه چه كومه گناه او ضرر اورسيدو كه ددے نه خبر وے نو بالفرض كه مونځ كونكے څلوېښت كالو پورے مونځ اوگد كړے وے نو هم دے به ولاړ وے او مخكښے به نه تيريدلے ـ **اَرْبَعِيْنَ** : ددے تميز نه دے ذكر نو قال ابوالنضر كښے دوه مطلبه جوړيږي يا دا چه نبي عليه السلام د اربعين تميز ندے ذكر كړے دے دپاره چه د گناه په عظمت كښے ايهام راشي ـ

٢ – يا دا چه نبي عليه السلام يو تميز ذكر كړيدے خو ابو النضر وائي چه ما ته پته نشته چه زما شيخ بسر بن سعيد د اربعين نه روستو يوم ذكر كړو يا شهر يا سنه ـ

نو بيا ددے تميز څه شے دے نو راجح دا ده چه ددے تميز سَنَةً دے ځكه په مسند البزار كښے د ابو الجهيم په روايت كښے دي : لكان ان يقف اربعين خريفاً ـ نو خريف مَنى ته

وائی مراد تری نه کال دی ذکر د جزء مراد ترینه کل دی ۔ کما فی بلوغ المرام بشرح توضیح الاحکام (١/٥٢٠) نو معلومه شوه چه څلویښت کاله مراد دی دارنګه په فصل ثالث کښې کان لان یقیم مائة عام خیر له) نه هم معلومیږی چه کلونه مراد دی ۔

علامه طحاوی په مشکل الآثار کښې وائی : د اربعین عاما وحی مخکښې شویده او روستو مائة عام راغلې دې دپاره د زیادت تعظیم ددې ګناه ځکه دا مقام د وعید دې نو ضرور به اربعین مخکښې وئیلې شوې وی ځکه دا د بلاغت خلاف ده چه اول زیات وعید بیان کړې شی او بیا کم ۔ نو خلاصه د مسئلې دا شوه چه د مونځ کونکی مخې ته تیریدل سخته ګناه ده او ددې نه معلومیږی چه دا تیریدل کبیره ګناه ده او په هیڅ حالت کښې به نه تیریږی تردې چه سلام اوګرځوی ٢- دارنګه مونځ کونکی له پکار دی چه د خلقو لارو کښې مونځ اونکړی چه خلقو ته په انتظار کولو کښې یا دده مخې ته په تیریدو کښې تکلیف ورنکړی ۔ ٣- دا حدیث دلیل دې چه د مصلی مخې ته تیریدل حرام دی نه اودریدل، کیناستل تکیه لګول وغیره ۔

٦- وَعَنْ اَبِیْ سَعِیْدٍ ﷺ، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : «اِذَا صَلّٰی اَحَدُکُمْ اِلٰی شَیْءٍ یَسْتُرُهُ مِنَ النَّاسِ، فَاَرَادَ اَحَدٌ اَنْ یَجْتَازَ بَیْنَ یَدَیْهِ فَلْیَدْفَعْهُ، فَاِنْ اَبٰی فَلْیُقَاتِلْهُ، فَاِنَّمَا هُوَ شَیْطَانٌ». وَهٰذَا لَفْظُ الْبُخَارِیِّ، وَلِمُسْلِمٍ مَعْنَاهُ .

ترجمه : او ابوسعید رضی الله عنه فرمائی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل : کله چه تاسو نه څوك کوم یو داسې څیز (یعنی سترې) طرفته مونځ کوی چه د هغه او د خلقو ترمینځ حائل شی او یو شخص د هغې مخې ته (یعنی د مونځ ګوزار او سترې ترمینځ) تیریدو اراده اوکړی نو هغه ډې منع کړی که هغه ئې اونه منی نو هغه سره ډې جنګ اوکړی ځکه هغه (پداسې صورت کښې) شیطان دې ۔ (د حدیث الفاظ د بخاری دی او مسلم دا روایت بالمعنی نقل کړیدې) ۔

تشریح : ددې حدیث سره په بعض روایاتو کښې یوه قصه هم ذکر ده او هغه دا چه ابو صالح فرمائی : ما ابوسعید خدریؓ د جمعې په ورځ اولیدو چه یوې سترې ته ئې مونځ کولو نو د بنی ابی معیط نه یو ځوان اراده اوکړه چه د هغه مخې ته تیر شی نو ابوسعید هغه لره په سینه کښې دیکه کړو نو هغه ځوان اوکتل هیڅ لاره ئې پیدا نکړه مګر دا چه د

ابو سعيد مخکښ تير شي نو بيرته واپس شو او د هغه مخے ته تيريدو بيا ابو سعيد خدری د مخکښ ځل نه زيات ديکه کړو نو هغه ابو سعيد ته غصه شو بيا لاړو مروان بانديے داخل شو، هغه ته ئے اووئيل : دلته يو ليونے شيخ دے ما ته ئے ديکه راکړه نزدے وه چه راغورځولے وے، مروان ورته اووئيل : آيا ته ئے پيژنے ؟ هغه اووئيل : آؤ راوی وائی : انصار به د جمعے په ورځ مروان خوا ته ورتلل نو پدے کښ ابو سعيد خدری هم ورغلو ـ مروان هغه هلك ته اووئيل : ته ئے پيژنے ؟ هغه اووئيل : آؤ دا هغه شيخ دے ـ مروان ورته اووئيل : ته دا پيژنے چه دا څوك دے ؟ هغه اووئيل : نه ـ مروان ورته اووئيل : دا خو د رسول الله ﷺ صحابی دے ـ راوی وائی : مروان ابو سعيد خدریؓ ته مرحبا اووئيله او ځان سره ئے نزدے کړو تردے چه د هغه سره نزدے کيناستو ورته ئے اووئيل : دا هلك وائی چه ده ما ته ديکه راکړه تردے چه زه ئے راغورځولے وے ؟ نو ابو سعيد اوفرمائيل : ما ندی کړی نو هغه ورته بيا خبره مکرر کړه ابو سعيد خدریؓ اوفرمائيل : (انما دفعت شيطانا) ما خو شيطان له ديکه ورکړے ده بيا ئے اوفرمائيل : ما د رسول الله ﷺ نه اوريدلی دی چه فرمائيل ئے : کله چه يو تن اراده اوکړی چه ستا او ستا د سُترے مخے ته تير شي نو واپس ئے کړه که هغه انکار کوی نو ديکه ورکړه که هغه انکار کوی نو قتال ورسره اوکړه ځکه چه دا شيطان دے ـ المصنف لعبد الرزاق باسناد صحيح (٢/٢٠، ٢١) ـ

دا حديث دليل دے چه مخے ته تيريدونکے به ديکه کولے شی اگرکه تيريدونکے په تيريدو کښ مجبوره هم وی بله لاره نه مومی ـ دارنگه ابو سعيد خدری په ظاهر د حديث استدلال اوکړو چه مخے ته تيريدل د شيطان کار دے نو هر څوك چه مخے ته تيريږی هغه شيطان دے، پدے وجه ئے انکار هم اوکړو چه ما دا شخص ندے ديکه کړے بلکه ما خو شيطان له ديکه ورکړے ده ـ صحابه کرامو به په سنت باندے دغه شان مضبوط عمل کولو ـ

فَلْيَدْفَعْهُ يعنی خومره وس ئے چه وی دفع دے کړی کما فی روايت مسلم (وليدرأه ما استطاع) امام قرطبیؒ وائی : په اشاره به ئے منع کړی يا به ورله سينے ته لاس اونيسی او ديکه به ئے کړی ـ لکه دا په روايت د اسماعيلی کښے راغلی دی : فليجعل يده في صدره وليدفعه ـ قاله الحافظ ـ (لکه دا کار ابن عمر د عمرو دينار سره کړے وو چه هغه ئے په سينه کښ ديکه کړو) علقه البخاری (١/٥٨٢) واسناده صحيح ـ

بعض وائی : قرائت يا تسبيح به ورته په تيز آواز اووائی نو منع به شی لکه عمرو بن

دینار نه نقل دی زه وړوکے وم د ابن عمر په مخکښ تیریدلم چه زه ئے په تسبیح سره منع کړم (علقه البخاري (۱/۵۸۲) و اخرجه ابن ابی شیبه (۱/۲۸٤) ۔

قاضی عیاض وائی : پدے کښ د علماؤ اتفاق دے چه د خپل ځائے نه به د دفع کولو دپاره نه ځی بلکه په خپل ځائے د اودریدو کښے به ئے منع کوی ځکه مانځه کښے مزل کول سخت دی ددے نه چه دده د لاس نه وړاندے یو سړے تیر شی او دا وړپسے ورشی ۔ بلکه څومره اندازه چه دده لاس رسی نو دفع کوی به ئے او کله چه بعید وی نو اشاره او تسبیح سره به ئے منع کوی انتهیٰ ۔ لیکن صحیح دا ده چه سُترے پورے ورمخکښے کیدل جواز لری او پدے باره کښے دوه حدیثونه دی یو دا چه ابن عباسؓ فرمائی : نبی علیه السلام مونځ کولو نو دده مخے ته یو ګډ تیریدو نو نبی علیه السلام قبلے طرفته ورمنډه کړه تردے چه خپله خیټه مبارکه ئے د قبلے سره یو ځائے کړه ۔ او عبد الله بن عمروؓ فرمائی : یو ګډ د نبی علیه السلام مخے ته تیریدو نو نبی علیه السلام دیوال طرفته مخکښے شو حتی لصق بطنه بالجدار ومرت (ای البُهمة) من ورائه ۔ابن خزیمة (۲/۲۰) ابن حبان (٤/٤۸) الحاکم (۱/۲٥٤) ۔

دارنګه عمر فاروقؓ یو سړے سُترے طرفته رامخکښے کړے وو کما مرّ ۔

بیا د دفع کولو امر د استحباب دپاره دے او د اهل ظاهرو په نیز د وجوب دپاره دے او همدا قول ظاهر د حدیث دے لکه علامه شوکانی فرمائی : وظاهر الحدیث معهم ۔ نیل الاوطار (۳/۷) ۔ ځکه قرینه صارفه د وجوب نه نشته بلکه دا کار واجب نه وے نو مونځ کونکے به پدے کار باندے د خپل مانځه نه نه مشغول کیدلے کوم چه د اسلام عظیم رکن دے ۔ او پدے کار باندے رسول الله ﷺ هم عمل کړیدے لکه مخکښ دوه حدیثونه تیر شو۔

فَلْيُقَاتِلْهُ : جمهور علماء وائی جنګ کولو نه مراد په سختئ سره دفع کول دی پس د نرمئ نه قاله ابن العربی والقرطبی ۔ علامه قرطبیؒ وائی : د علماؤ پدے اجماع ده چه په اسلحه سره به جنګ نه کوی ځکه چه دا د مانځه د خشوع او توجه خلاف ده ۔ او بعض علماء (بعض الشافعیه) وائی : دا په خپل ظاهر بناء دے ځکه د دفع کولو تولے طریقے په فلیدفعه ما استطاع کښے تیرے شوے نو اوس جنګ پاتے دے ۔ کما قال السندهیؒ ۔ بیا که پدے مقاتله کښے هغه سړے مړ شو نو پدے سړی باندے هیڅ ضمان (قصاص) نشته ځکه چه هر کله شریعت مقاتله مباح کړه نو په مباحه مقاتله کښے ضمان نه وی ۔

بيا **ديت** شته که نه؟ نو پدې کښې اختلاف دے عند الجمهور ديت هم نشته او بعض وائي: ديت پرې شته ځکه دا قتل خطاء دے ـ ليکن صحيح دا ده چه په ده باندې هيڅ شے نشته ځکه دلته اباحت ورکړې شويدے د هغه په مقاتله کښې او مباحه مقاتله کښې ضمان نه وي ـ او دا قول د شوافعو هم دے کما قال النووي والحافظ ابن حجر في الفتح (١/٥٨٣) او دا قول د ابن حزم دے په محلى (٣/١٣٢) کښې ئے ذکر کړيدے ـ

تنبيه: شيخ زکريا په درس بخاري (٤٠٥) کښې وئيلي دي: د احنافو په نيز دا حکم د مقاتلې منسوخ دے دا د هغه وقت واقعه ده چه په مانځه کښې افعال جائز وو او کله چه وَقُوْمُوْا لِلّٰهِ قَانِتِيْنَ آيت نازل شو نو دا حکم منسوخ شو ـ ليکن دا تاويل د ابو سعيد خدريؓ د حديث سراسر مخالف دے ځکه هغه بعد وفات النبي ﷺ دے ـ

بعض وائي ددے نه مراد د مانځه نه روستو تنبيه ورکول دي چه آينده کښې دا کار مه کوه په مانځه اعمالِ کثيره ممنوع دي ـ ليکن دا تاويل هم د حديث د الفاظو خلاف دے ـ

فَاِنَّمَا هُوَ شَيْطَانٌ: (١) – يعني دده کار د شيطان کار دے ځکه دے خامخا په مصلى باندې تشويش راولي ـ (٢) – يا لفظ د شيطان هر سرکش شي باندې اطلاق کيږي انسان وي او که د جناتو نه وي (٣) – يا مثل د شيطان دے ـ

(٤) – علامه قرطبيؒ وائي: معنى دا ده: الحامل له على ذلك شيطان يعني شيطان راپورته کړے او هغه ورله دے طرفته ديکه ورکوي لکه په روايت د اسماعيلي کښې ورسره دي: فان معه الشيطان او په روايت د مسلم کښې دي: فان معه القرين ـ

بيا مونځ کونکے تيريدونکے ولے دفعه کوي څه حکمت دے؟ ١ – نو وجه دا ده چه تيريدونکے د ګناه نه بچ شي ٢ – يا دا چه د مونځ کونکي مخے ته تيريدو سره په مانځه کښې خلل راځي نو د هغے د دفع کولو دپاره به دا کار کوي او دا قول راجح دے ځکه چه د خپل مانځه لحاظ ساتل زيات پکار دي په نسبت ددے چه په مانځه کښې د بل د ګناه لحاظ اوساتلے شي ـ مګر امير يمانيؒ وائي: که دواړه غرضونه مراد شي نو هم څه بعيده نه ده ـ ٣ – يا پدے کښې اتباع د حکم الرسول ده ـ

٧– وَعَنْ اَبِىْ هُرَيْرَةَ ﷺ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ: «تَقْطَعُ الصَّلَاةَ الْمَرْاَةُ وَالْحِمَارُ وَالْكَلْبُ وَيَقِىْ ذٰلِكَ مِثْلُ مُؤْخِرَةِ الرَّحْلِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : او ابو هريره رضی الله عنه فرمائی چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل : ښځه، خر، او سپے (د مونځ گوزار مخے ته د تيريدو په صورت کښے) مونځ باطلوی او د کجاوے د روستنی لرگی پشان شے (د مونځ گزار مخے ته ستره جوړيدو سره) کيخودل (مونځ) د باطلولو نه بچ کوي ۔ (مسلم) ۔

تشريح : تَقْطَعُ الصَّلَاةَ الْمَرْأَةُ الخ : دلته ددے څيزونو سره قيدونه مراد دی (۱) د المرأة نه مراد بالغه زنانه ده لکه په ابوداود او نسائی کښے د ابن عباس په روايت کښے دی : (المرأة الحائض) يعنی بالغه زنانه ۔ شيخ بسامؒ وائی : دا زيادت د ابن عباسؓ په روايت کښے په ضعيف روايت ثابت دے نو مرأه نه مراد مطلق دے هره ښځه مراد ده حائضه وی او که غير حائضه ۔ توضيح الاحکام (٥٣٦/١) ليکن صحيح دا ده چه دا روايت صحيح دے لکه يو څو کرخے پس را روان دے او د حائضے نه بالغه زنانه مراد ده ۔ او ماشومه جينۍ مراد نده څکه هغے ته مرأه نشی وئيلے ۔ قتاده وائی : لاتقطع الصلاة الجارية التی لم تحض ، اخرجه عبد الرزاق (٢٨/٢)

(۲)- کلب نه مراد کلب اسود دے څکه چه بعض رواياتو کښے دا قيد راغلے دے کما فی رواية مسلم عن ابی ذر ۔ نو دلته به مطلق په مقيد باندے محمول وی۔

(۳) - دريم قيد : دلته مرور مضاف حذف دے ای مرور هذه الاشياء يقطع الصلاة ۔ نو ددے قيد فائده دا ده چه که دا څيزونه د مصلی مخے ته راشی، کينی يا اودريږی يا څملی خو تير نشی نو مونځ نه خرابوی څکه نبی عليه السلام په حمار باندے مونځ کړيدے خو مخکښے تيريدل پکښے نشته او د نبی عليه السلام مخے ته به عائشه رضی الله عنه ملاسته وه او هغه به مونځ کولو کما سيأتی ۔

آيا سترے مخے ته تيريدونکے مونځ خرابوی ؟

بيا په قطع کولو کښے دوه رائے دی چه آيا ددے نه مراد مونځ باطلول دی او که نه ؟ ۔

۱ - **قول اول** : دا درے واړه څيزونه چه مخکښې تير شی نو مونځ باطل دے اعاده ئے ضروری ده ۔ او دا قول د يو جماعت د صحابو دے د ابو هريره، انس بن مالك، ابن عباس نه يو روايت ، ابوذر، ابن عمر، الحکم الغفاری رضی الله عنهم او د تابعينو نه الحسن البصری، ابوالاحوص صاحب ابن مسعود، عطاء بن ابی رباح رحمهم الله دے او دا قول د

امام احمدؒ بن حنبل او اهل ظاهرو دي ـ او دا قول د ابن حبانؒ ، ابن خزیمهؒ ، شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ، حافظ ابن القیمؒ په زاد المعاد (۷۹/۱) کښې دې اوامام شوکانیؒ غوره کړیدې ـعائشهؓ پکښې وائي : چه کلب او حمار او سنور (پیشو) مونځ قطع کوی نه بنځه ـ علامه شوکاني وائي : کیدې شي چه هغې استدلال کړې وی په خپل عمل چه هغه به د نبی علیه السلام مخې ته ملاسته وه او هغه به مونځ کولو لیکن دا محجوجه ده په خپل روایت ـ او دارنګه دلته مرور نشته بلکه په پلنو باندې پریوتل دی ـ او امام ترمذیؒ د امام احمدؒ بن حنبل نه نقل کړیدی چه هغه دا حکم خاص کوی په کلب اسود پورې او حمار او مرأه په باره کښې ئې توقف کړې اووئیلی ئې دی : وفی القلب منه شئ ـ او اسحاق بن راهویه وائی : فقط کلب اسود مونځ قطع کوی نه بل څه ـ

ددې قول دلائل : ۱- دلیل : روایت د ابو هریره دې : تقطع الصلاة الخ رواه مسلم او قطع نه مراد حقیقی قطع ده چه مونځ باطلوی ـ

۲- دلیل : ابن عباس نه مرفوعا نقل دی : يقطع الصلاة الكلب الاسود والمرأة الحائض ـ اخرجه احمد (۳۴۷/۱) ابوداود (۱۰۹/۱) ابن ماجه (۳۰۵/۱) والنسائی والطحاوی (۴۵۸/۱) وابن خزیمة (۲۲/۲) وابن حبان (۵۳/۴) والبیهقی (۲۷۴/۲) وهو سند صحیح ـ

۳- دلیل : عن عبد الله بن صامت عن ابی ذر قال قال رسول الله ﷺ : اذا قام احدكم يصلي فانه يستره اذا كان بين يديه مثل آخرة الرحل فاذا لم يكن بين يديه مثل آخرة الرحل فانه يقطع صلوته المرأة والحمار والكلب الاسود قلت : يا اباذر ما بال الكلب الاسود من الكلب الاحمر من الكلب الاصفر قال : يا ابن اخي سألت رسول الله ﷺ كما سألتنى فقال : الكلب الاسود شيطان، رواه الجماعة الا البخاری ـ انظر نیل الاوطار (۱۱/۳) ـ

وفي رواية ابن خزيمة (۲۱/۲) باسناد صحيح عن ابى ذر مرفوعاً : تعاد الصلوة من ممر الحمار والمرأة والكلب الاسود الخ ـ دا صریح صحیح احادیث پدې دلالت کوی چه ددې درې څیزونو په تیریدو سره مونځ فاسد دې ـ

آثار الصحابة رضی الله عنهم اجمعین :

٤- د ابن عمر رضي الله عنهما مخې ته د سپی بچې تیر شو نو هغه مونځ را وګرځولو اخرجه ابن ابی شیبة (۲۸۲/۱) وسنده صحيح كما قاله ابن الحزم فى المحلى (۱۵/٤) ـ

٥- د الحكم الغفاري رضي الله عنه مخے ته خره تيره شوه (او دا په سفر كښ په مانځه ولاړ وو) نو هغه خلقو ته دوباره جمع اوكړه ـ عبد الرزاق (١٨/٢، ١٩) واسناده صحيح وكذلك عن انس في ابن ابي شيبه (٢٨١/١)۔

٢- **قول ثاني** : ائمه ثلاثه او د نووي" په قول د جمهور علماء سلف او خلف قول دا دے چه د قطع نه مراد قطع معنوی ده چه هغه خلل پيدا كول او خشوع خرابول دى يعني دا درے ځيزونه خشوع خرابوى ـ

بيا پدے باندے دا سوال راځي چه خشوع خو نور ځيزونه هم خرابوى نو ددے درے ځيزونو د تخصيص څه وجه ده ؟ نو جواب كوى چه دے ځيزونو سره شيطان دے ليكن دا خبره صحيح نده ځكه چه عائشه به د نبي عليه السلام مخے ته ملاسته وه دارنګه ستا په خوا كښے خپله ښځه ولاړه وى نو په هغے سره خشوع نه خرابيږى نو كه د شيطان خبره وے پكار ده چه د زنانه په خوا كښے اودريدو سره هم خشوع خرابيدے ـ

ددے قول دلائل :

١- **دليل** : ابوسعيد الخدرى مرفوع روايت دے : لا يقطع الصلاة شيئ وادرأوا ما استطعتم، اخرجه ابوداود (١١١/١) والبيهقي (٢٧٨/٢) وابن ابي شيبة (٢٨٠/١) والبغوى في شرح السنة (٤٦١/٢) وابن الجوزى في العلل المتناهية (٤٤٩/١) ـ

الجواب : دا روايت ضعيف دے، ددے په سند كښے مجالد بن سعيد دے ليس بالقوى تغير في آخر عمره وتلميذه ابوالوداك وهو صدوق يهم ـ بل علت دا دے چه ددے اوله جمله موقوفا راغلے ده نو مرفوع روايت ضعيف دے كما قال الحافظ في الفتح (٤٦٦/١)

- بل مرفوع روايت د ابوامامة" په دارقطني (٢٦٧/١) او طبراني (١٩٣/٨) كښے راغلے دے ليكن هغه هم ضعيف دے في اسناده عفير بن معدان دے قال احمد ضعيف منكر الحديث بل روايت د ابن عمر دے د هغے په سند كښے اسحاق بن ابي فروه متروك راوى دے كما في الدارقطني (٢٦٨/١) وابن الجوزى في العلل المتناهيه (٤٤٩/١) ابن حبان په كتاب المجروحين (٣٠/١) كښے وائى : قلب اسناد هذا الحديث ومتنه جميعا الخ ـ

ديته قريب حديث د جابر دے چه په طبراني كښے راغلے دے كما في نصب الرايه (٧٧/٤) د هغے په سند كښے عيسى بن ميمون ضعيف او متروك راوى دے كما قال الحافظ في الفتح (٤٦٦/١)۔

او د انس په مرفوع روايت كښے صخر بن عبد الله بن حرمله دے هغه په شواهدو كښے

مقبول دے لیکن شواهد نشته ـ کما فی الدارقطنی (٢٦٧/١) والبیهقی (٢٧٧/٢) لنده دا ده چه مرفوع روایت کښے هیڅ شے صحیح نه دے ـ علامه ابن الجوزی په العلل المتناهیه (٤٤٩/١) کښے وائی : لیس فی هذه الاحادیث شیٔ صحیح ـ

امام نووی" وائی : حدیث لا یقطع الصلاة شیئ ضعیف ـ شرح مسلم (١٩٠/١) ـ

حافظ په فتح الباری (٤٦٦/١) کښے وائی : وفی اسناد کل منها ضعف وروی سعید بن منصور باسناد صحیح عن علی وعثمان وغیرهما نحو ذلك موقوفاً ـ یعنی موقوف روایت صحیح دے خو مرفوع پکښے صحیح نشته او دا موقوف به ددے صحابه کرامو اجتهاد وی او مرفوع حدیث به ورته په قطع کښے نه وی رسیدلی ـ

٢- **دلیل** : بعض استدلال کوی په حدیث د فضل بن عباس" قال : اتانا رسول الله ﷺ ونحن فی بادیة لنا ومعه عباس فصلی فی صحراء لیس بینه وبین یدیه سترة وحمارة لنا وکلبة تعبثان بین یدیه فما بالیٰ بذلك ، اخرجه احمد (٢١١/١) وابوداود (١٠٩/١) والبیهقی (٢٧٨/٢) والطحاوی (٤٥٩/١) وغیره روستو راروان دے ـ نو دلته نبی علیه السلام مخے ته سپے او خر لوبی کړیدی او د هغه مخکښے ستره نه وه ـ

الجواب : دا روایت ضعیف دے لانه منقطع بین العباس بن عبید الله وبین الفضل ولم یدرك عمه الفضل بن عباس ـ ٢-دارنګه دا عباس" ضعیف مقبول دے دارنګه لیس بینه وبین یدیه ستره لفظ باندے یحیی بن ایوب تفرد کړے او یحیی (صدوق ربما اخطأ) نو دا تفرد ئے قبول نه دے ـ

٣- دارنګه دا هم نه ده ثابت چه سپیٔ او حمار تیر شویدی بلکه صرف لوبے ذکر دی ـ

٥- یا به نبی علیه السلام خطونه راخکلی وی او فضل بن عباس به نه وی لیدلی ـ

٦- یا د درے ګزونه لرے وو ـ ٧- او کلب اسود کیدل هم ندی ثابت چه قاطع د مانځه شی ـ انظر المحلی (١٨/٤) وحاشیة النسائی للسندهی (٦٥/٢) والنیل (١١/٢) ـ

٣- بعض وائی : عائشه د نبی علیه السلام مخے ته ملاسته وه او هغه په مانځه ولاړ وو نو دا دلیل دے چه مرأه مونځ نه قطع کوی ـ **الجواب** : کوم علماء چه د قطع قائل دی نو هغوی په مرور باندے قطع وائی نه په اضطجاع باندے ـ

٤- حدیث د ابن عباس دے یصلی بمنیٰ الی غیر جدار فمررت بین یدی بعض الصف ـ روستو راروان دے ـ نو ابن عباسؓ صفونو کښے تیر شویدے ـ او نبی علیه السلام ورته څه ندی وئیلی او نه ورته صحابه کرامو ـ

الجواب : ددے جوابونه مخکښے تیر شویدی چه دے حدیث کښے حکم د سترة الامام سترة لمن خلفه دے نو دلته د مقتدیانو مخے ته تیریدل دی ۔

بعض علماؤ د نسخ دعوه کړیده چه احادیث القطع منسوخ دی په حدیث د لا یقطع الصلاة شئ باندے لکه دا خبره ابن عبد البرؒ د طحاویؒ نه ذکر کړیده مګر دا خبره غلطه ده ځکه چه یو خو دا حدیث په جمیع الطرق ضعیف دے نو ضعیف څنګه د صحیح صریح دپاره ناسخ شی ۔ ٢– دارنګه نسخ تاریخ غواړی او دلته تاریخ ندے معلوم لکه دا خبره نوویؒ په شرح مسلم (١/١٩٠) کښے ذکر کړیده ۔

اوکومو صحابوؓ چه په عدم قطع فتویٰ ورکړیده لکه علیؓ او عثمانؓ نو هغوی ته مرفوع حدیث ندے رسیدلے او ددے په خلاف نورو صحابوؓ ته حدیث معلوم دے نو ځکه حکم په اعاده کوی کما مرّ عن ابن عمر وابن عباس والحکم ۔

٢– بله وجه دا ده چه لا یقطع الصلاة شئ حدیث په اعتبار د معنی هم صحیح نه دے ځکه چه ډیر څیزونه مونځ فاسد وی لکه حدث وغیره ۔

نو صحیح تطبیق دا دے چه لا یقطع الصلاة شئ عام دے او ددے درے څیزونو حکم خاص دے او د خاص او د عام ترمینځ تعارض نه وی بلکه خاص به راجح وی او دا په منزله د مستثنیٰ دے د عام نه او دا اصولی مسلمه قاعده ده کما قال الشوکانیؒ فی النیل (٣/١٢) والمرعاة (٢/٤٩٦) المحلی (١/٧٩) ۔

نو حاصل دا شو چه قطع نه مراد حقیقی قطع ده ځکه الفاظ شرعی به په حقائق شرعیه حمل وی ٢– مرور به قطع کوی ٣– مرأه به بالغه وی ٤– تور سپے ئے قطع کوی

٥– د کافر تیریدل ئے نه قطع کوی پدے باره کښے هیڅ صحیح حدیث نشته ۔

٦– ښځه د ښځے مونځ قطع کوی ځکه په شریعت کښے د سړو احکام مشترک بیانیږی مګر کومو شیونو کښے چه جدا والے وی نو هغه جدا بیانیږی ۔

ابن حبان وائی : الاخبار الصحیحة انه ﷺ امر باعادة الصلاة اذا مر الحمار والکلب والمرأة، کتاب المجروحین (١/٣٠) ۔

حافظ ابن القیمؒ زاد المعاد (١/٧٩) کښے وائی : که مخے ته ستره نه وی نو د نبی علیه السلام نه صحیح ثابت دی چه حمار، مرأه او کلب اسود مونځ قطع کوی او دا په روایت د ابوذر، ابوهریره، ابن عباس او عبد الله بن مغفل رضی الله عنهم ثابت دی ۔ او ددے احادیثو معارض دوه قسمه احادیث دی، صحیح غیر صریح اوصریح غیر صحیح او

دداسې معارض دپاره به دغه صحيح صريح روايت نشي پريخودلے انتهىٰ ـ
علامه سنديؒ وائي : ظاهر الحديث ان مرور هذه الاشياء يبطل الصلاة وبه قال قوم،
حاشية النسائي (٦٤/٢) ـ بيا كه ددې درې څيزونو نه ما سوا نور انسانان وغيره د مونځ كونكې مخې ته په تيريدو كامياب شي نو د مونځ كونكي د مانځه اجر به كم شي او كه دا درې څيزونه تير شي نو مونځ به باطل وي ـ او ددې درې څيزونو د مانځه په باطلولو كښې به يو زيات حكمت او معنى وي چه هغه به الله تعالى ته معلوم وي ځكه ئې ددې درې وارو تخصيص اوكړو نه د نورو څيزونو ـ

٨- وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا، قَالَتْ : كَانَ النَّبِيُّ ﷺ يُصَلِّيْ مِنَ اللَّيْلِ وَاَنَا مُعْتَرِضَةٌ بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْقِبْلَةِ كَاعْتِرَاضِ الْجَنَازَةِ . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ .

ترجمه : او عائشه صديقه رضى الله عنها فرمائي چه نبي كريم ﷺ به په شپه كښې مونځ كولو او زه به د هغه د او قبلې ترمينځ (يعنى د هغه مخې ته) داسې پرته وم لكه جنازه چه د مونځ گزارو مخكښې پرته وي ـ

تشريح : مُعْتَرِضَةٌ : ابن الملكؒ وائي : اعتراض ديته وائي چه يو شے حائل شي د دوه شيئين ترمينځ دلته مراد تكيه او اضطجاع ده ـ
د عائشؓ دا رايه ده چه د زنانه په تيريدو سره مونځ نه فاسديږي لكه جمهور هم ددې په عمل استدلال كړيدې په عدم قطع د مانځه سره په تيريدو د ښځه سره ليكن علامه سنديؒ وائي : لا دلالة في حديث عائشة انها مرت بين يديه ـ يعنى پدې حديث كښې مرور ندې ذكر او قطع خو د مرور پورې خاص ده ـ ابن بطالؒ وائي : پدې حديث كښ بله مسئله ده هغه دا چه زنانه د مونځ كونكي مخې ته كيناستې شي او د تيريدو خبره پكښې نشته او دا قياس جوړول چه هر كله د مونځ كونكي مخې ته د زنانه تكيه لگولو سره مونځ نه ماتيږي نو تيريدلو سره به خو په طريق اولىٰ نه ماتيږي نو دا قياس في مقابلة النص دے ـ بله دا چه په تيريدو كښې حركت او سكون دے پدې كښې تشويش زيات دے او اضطجاع كښې دا كار دومره نه وي نو وجه د فرق د دوارو واضحه شوه ـ
بله دا چه د سترې مسائل اكثر د علومو د نبوت سره تعلق لري عقل پكښ نه چليږي ـ

ددې حدیث مناسبت بعض داسې بیانوي چه دا حدیث ئې ددې دپاره راوړلو چه زنانه مونځ نه قطع کوي ځکه که قطع کولې نو عائشهؓ به د نبي علیه السلام مونځ قطع کړې وې لیکن دا قیاسي خبره ده ۲– صحیح دا ده چه دا راوړې شویدې چه مرور المرأة قطع راولي او اضطجاع المرأة قطع نه راولي ـ

۹– وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ : اَقْبَلْتُ رَاكِبًا عَلٰى اَتَانٍ، وَاَنَا يَوْمَئِذٍ قَدْ نَاهَزْتُ الْاِحْتِلَامَ، وَرَسُوْلُ اللهِ ﷺ يُصَلِّيْ بِالنَّاسِ بِمِنًا اِلٰى غَيْرِ جِدَارٍ، فَمَرَرْتُ بَيْنَ يَدَيْ بَعْضِ الصَّفِّ، فَنَزَلْتُ وَاَرْسَلْتُ الْاَتَانَ تَرْتَعُ، وَدَخَلْتُ فِي الصَّفِّ، فَلَمْ يُنْكِرْ ذٰلِكَ عَلَيَّ اَحَدٌ .مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ .

ترجمه : او ابن عباس رضی الله عنه فرمائي : چه یوه ورځ – کله چه زه بالغ کیدو ته نزدې وم – په خر باندې سور راغلم او رسول الله ﷺ په منا کښې خلقو ته بغیر د دیوال نه مونځ کولو نو زه د بعض صف مخې ته تیر شوم، بیا د خر نه کوز شوم او هغه مې پرې خوده هغه څریدله او زه په صف کښې داخل شوم او ماته هیچا هیڅ اونه وئیل ـ (بخاري او مسلم) ـ

تشریح : عَلٰى اَتَانٍ : په فتحه د همزه سره ښځې خرې ته وائي او مؤنث ددې اَتَانَةٌ نه راځي او حمار لفظ د مذکر او مؤنث دواړو دپاره استعمالیږي ـ

قَدْ نَاهَزْتُ : ای قاربت ـ نهز او ناهز دواړه په معنی د قرب او نزدیکت دې ـ احتلام نه مراد بلوغ دې ـ دا حدیث دلیل دې چه کله د امام ستره وي نو که مقتدیانو مخې ته څوك تیر شي نو هیڅ حرج نشته ـ

۲– بِمِنًا اِلٰى غَيْرِ جِدَارٍ : کښې غیر صفتي دې موصوف ئې محذوف دې ای الی شئ غیر جدار ـ ۳– دارنګه جدار تخصیص نه معلومیږي چه بل شې ستره وه خو دیوال ستره نه وه چه په هغې سره انسان پټ شي داسې ستره نه وه ـ

فائده : فلم ینکر نه معلومه شوه چه په یو شي باندې انکار رانشي او د نبي په زمانه کښې اوشي نو دا به دلیل د جواز وي خو پدې شرط چه موانع د انکار موجود نه وي ـ

سوال : کیدې شي چه نبي علیه السلام ابن عباسؓ لره پدې کار نه وي لیدلې ؟ نو دا

ثنګه دليل شو چه د مقتديانو مخې ته تيريدل جواز لري ؟۔

الجواب : حديث کښې راغلي دي چه نبي عليه السلام به په مانځه کښې روستو خلق ليدل او دا د هغه معجزه وه فاني اراکم من ورائي ۔

٤- دا حديث دليل دے چه که حمار د مقتديانو مخکښې تير شي نو هم مونځ نه قطع کوي خو پدے شرط چه د امام ستره وي لکه دلته دا کار شويدے ۔

---

١٠ – عَنْ اَبِىْ هُرَيْرَةَ ﷺ، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : «اِذَا صَلّٰى اَحَدُكُمْ فَلْيَجْعَلْ تِلْقَاءَ وَجْهِهٖ شَيْئًا فَاِنْ لَّمْ يَجِدْ، فَلْيَنْصِبْ عَصَاهُ، فَاِنْ لَّمْ يَكُنْ مَعَهٗ عَصًا، فَلْيَخْطُطْ خَطًّا، ثُمَّ لَا يَضُرُّهٗ مَا مَرَّ اَمَامَهٗ». رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ وَابْنُ مَاجَه .

ترجمه : او ابو هريره رضى الله عنه فرمائي : کله چه تاسو نه کوم شخص مونځ کول غواړي نو خپلې مخې ته دے څه (مثلا ديوال، ستنه وغيره) اوګرځوي او که هيڅ ملاؤ نشي نو خپله امسا دے اودروي او که د هغه سره امسا هم نه وي نو يو کرخه دے راکاږي بيا که د هغه مخې ته څه شے تير شي نو هيڅ نقصان به نه وي (يعنى مونځ به ئے نه باطليږي) ۔ (ابوداود، ابن ماجه) ۔

تشريح : **تِلْقَاءَ** : دا په معنى د مخامخ او حذاء او برابرئ سره استعماليږي ۔

مسئله : پدے کښې اختلاف دے چه کله څه ستره نه وي نو **آيا خطوط راخکل شته** او که نه ؟ نو د امام احمدؒ بن حنبل په نيز او د امام شافعيؒ په قول قديم کښې وئيلي دي چه خطوط راخکل مستحب دي او دا قول د جمهورو شوافعو دے او د بعض متأخرين احنافو دے او يو قول د امام محمدؒ دے ۔

دليل ئے دوه حديثو نه دي (١) يو دا حديث الباب دے ليکن دا متکلم فيه دے ۔ (٢) – او بل روايت د مسند ابى يعلىؒ کښې د ابو محذورةؓ نه روايت دے : چه ما رسول الله ﷺ اوليدلو چه مسجد حرام ته د باب بني شيبه نه داخل شو تردے چه کعبې مخې ته راغلو، قبلې ته ئے مخکښې کړو او مخې ته ئے په پلنو باندے خط راخکلو بيا ئے تکبير اوکړو، مونځ ئے اوکړو او خلقو ددے خط او کعبې په مابين کښې طواف کولو ليکن دا روايت هم ضعيف دے ۔ فى سنده حسان بن عباد مجهول وفيه ابراهيم وهو ضعيف ۔

۲- **امام مالک**ؒ او اکثر فقهاءِ احناف په نیز خط لره هیڅ اعتبار نشته ځکه مقصود پدے سره نه حاصلیږی ځکه چه دا د لرے نه نه ښکاری۔
لیکن ابن الهمامؒ وئیلی دی چه سنت اولیٰ بالاتباع دے۔ دارنګه دا مقام د ضرورت دے او په وقت د ضرورت کښے خطونه هم ستره جوړیدے شی ځکه چه دا د زړه جمعیت او د دفع د انتشار دپاره سبب جوړیدے شی ځکه په حدیث ثم لا یضره کښے د ضرر نه مراد انتشار د خاطر دے۔ او د خط په ذریعه هم جمعیت د خاطر راځی۔وهو الراجح۔ او دا حدیث هم دلیل دے د وجوب السترہ۔
بیا ددے خط راخکلو په کیفیت کښے درے قوله دی: (۱) – امام احمدؒ وائی د لیندے او سپوږمئ او محراب پشان شکل سره به ئے مخے ته راکاږی (۲) – بعض وائی: قبلے طرفته به په اوګدو باندے یوه کرخه راکاږی۔ (۳) – بعض وائی: ښی او ګس طرفته به نیغه کرښه راکاږی یعنی په پلنو باندے پدے کښے اول قول غوره دے۔

درجة الحديث: اسناده ضعيف: اخرجه احمد فى المسند (٢/٢٤٩) وابوداود (٦٨٩) وابن ماجه (٩٤٣) وابن ابى حاتم فى علل الحديث (١/١٨٧) رقم (٥٣٤) وصححه ابن حبان (٤٠٧) والبيهقى فى الكبرى (٢/٢٧٠) ولكن الحديث اسناده ضعيف فيه اضطراب شديد ومجهولان۔ راجع التلخيص الحبير (١/٢٨٦) وقد ضعفه الشافعى وابن حزم والبغوى وسفيان وغيرهم كما فى احكام السترة ص (١٠٠) وجعل ابن صلاح فى مقدمته (٨٥) هذا الحديث مثالا للاضطراب راجع فتاوى الدين الخالص (٣/٥٩١) وصححه احمد بن حنبل وابن المدينى فيما نقله ابن عبد البر فى الاستذكار و البنا فى بلوغ الامانى و الشيخ البسام فى توضيح الاحكام (١/٥٤٣) وقال الحافظ فى بلوغ المرام: ولم يصب من زعم انه مضطرب بل هو حسن، وقال البيهقى: لا بأس به فى مثل هذا الحكم ان شاء الله تعالى، المرعاة (٢/٥٠٢)۔

---

۱۱ – وَعَنْ سَهْلِ بْنِ اَبِىْ حَثْمَةَ ﷺ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «اِذَا صَلّٰى اَحَدُكُمْ اِلٰى سُتْرَةٍ فَلْيَدْنُ مِنْهَا، لَايَقْطَعِ الشَّيْطَانُ عَلَيْهِ صَلَاتَهٗ». رَوَاهُ اَبُوْدَاوٗدَ.

ترجمه: او سهل بن ابی حثمه رضی الله عنه فرمائی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل: کله چه په تاسو کښے څوک سترے ته مونځ کوی نو هغه له پکار دی چه هغه سترے ته

نزدے شی دے دپارہ چہ شیطان د هغه مونځ مات نه کړی ۔ (ابوداوٌد) ۔

تعارف د سهل بن ابی حثمة رضی اللہ عنہ :

دده نوم سهل بن ابی حثمه دے انصاری خزرجی مدنی وړوکے صحابی دے په سنه (۳ هـ) کښې وفات شویدے او نبی علیه السلام چه کله وفات کیدو نو دده عمر (۸) اته کاله وو لیکن د نبی علیه السلام نه ئے حدیثونه یاد کړیدی فاتقن ۔ ذهبی وائی : زما گمان دے چه د معاویه په زمانه کښې وفات دے ۔ طبری وائی : بلکه پلار ابو حثمه د معاویه په خلافت کښې وفات دے ۔ مصنف وائی : دا کوفه کښې اوسیدو خو په مدینے والاؤ کښې شمار دے او په هغے کښې وفات دے په زمانه د مصعب بن الزبیر کښې (۲۵) احادیث ترے نقل دی ۔

تشریح : فَلْيَدْنُ مِنْهَا : یعنی سترے ته دے نزدے اودریږی چه سجده پکښې کولے شی او ددے درے گزو پورے مقدار دے علامه بغویؒ وائی : استحب اهل العلم الدنو من السترة بحیث یکون بینه وبینها قدر امکان السجود ۔

لَايَقْطَعُ : دا مجزوم دے جواب امر دے لیکن د التقاء ساکنین په وجه به مجرور وئیلے لان الساکن اذا حرك حرك بالکسر ۔ او دا قطع څکه راولی چه (۱) – کله انسان د سترے نه لرے وی نو وسوسے زیاتیږی (۲) – شیطان ماشومان او انسانانو په زړه کښې اچوی چه مخکښې تیر شی (۳) – چا باطنی معنی کړیده چه کله تا خلاف سنت اوکړو او د ستُرے نه لرے اودریدے نو شیطان به ستا په مخکښے تیریږی او تا ته به نه ښکاری نو مونځ به دے خراب کړی ۔

فائده : حافظ ابن حجرؒ فرمائی : د سترے فائدے دا ده چه په مصلی باندے د شیطان استیلاء منع کوی او د هغه په زړه باندے په پوره طریقه وسوسه اچولو سره نشی قادر کیدے او د هغه صدق اَو توجه نشی مشغولولے ۔

درجة الحدیث : اسناده صحیح علی شرط الشیخین اخرجه احمد (۲/٤) وابوداود (۶۹۵) والنسائی (۶۲/۲) وصححه ابن حبان (٤۰۹) والحاکم (۲۵۱، ۲۵۲) وقال صحیح علی شرط الشیخین واقره الذهبی ۔

---

۱۲ – وَعَنِ الْمِقْدَادِ بْنِ الْاَسْوَدِ رضی اللہ عنہ ، قَالَ : مَا رَاَيْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ يُصَلِّيْ اِلٰى

عُوْدٍ، وَلَا عَمُوْدٍ، وَلَا شَجَرَةٍ اِلَّا جَعَلَهُ عَلٰى حَاجِبِهِ الْاَيْمَنِ اَوِ الْاَيْسَرِ، وَلَا يَصْمُدُ لَهُ صَمْدًا . رَوَاهُ اَبُوْدَاوٗدَ .

ترجمه: او مقداد بن اسود رضی الله عنه فرمائی چه ما رسول الله ﷺ کله هم ندے لیدلے چه هغه لرګی، ستنے یا ونے طرفته (مخ کولو سره) مونځ کړے وی او دا څیزونه نیغ د هغه مخے ته ولاړ وی بلکه دا به د هغه ښی یا ګس ورو‌ځے مخامخ وو او هغه ددے سیده قصد نه کولو ۔ (ابوداود) ۔

تشریح: لَا عَمُوْدٍ: ستنے ته مخامخ اودریدل ځکه ندی پکار چه پدے کښے تشبه بعبادة الاصنام راځی ۔ وَلَا يَصْمُدُ لَهُ صَمْدًا: صمد قصد ته وائی یعنی نه به قصد کوی هغے لره داسے برابر قصد چه د سترګو مخامخ ئے اوګرځوی ځکه پدے کښے تشبه بعبادة الاصنام ده ۔ بلکه ښی یا ګس طرفته به مائل شی لیکن دا روایت ضعیف دے نو نیغ اودریدل هم منع ندی ۔

درجة الحديث: اسناده ضعيف اخرجه احمد (٤/٦) وابوداود (٦٩٣) والبيهقي (٢٧٢/٢) في سنده ثلاثة مجاهيل: ضباعة، والمهلب بن حجر، والوليد بن كامل البجلي الشامي انظر المرعاة (٥٠٣/٢) وتعليق المشكاة لرمضان (٣٣٢/١)۔

---

١٣ – وَعَنِ الْفَضْلِ بْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: اَتَانَا رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ، وَنَحْنُ فِيْ بَادِيَةٍ لَنَا، وَمَعَهُ عَبَّاسٌ، فَصَلّٰى فِيْ صَحْرَاءَ لَيْسَ بَيْنَ يَدَيْهِ سُتْرَةٌ، وَحِمَارَةٌ لَنَا وَكَلْبَةٌ تَعْبَثَانِ بَيْنَ يَدَيْهِ، فَمَا بَالٰى بِذٰلِكَ. رَوَاهُ اَبُوْدَاوٗدَ وَلِلنَّسَائِيِّ نَحْوَهُ .

ترجمه: او فضل بن عباس رضی الله عنه فرمائی چه رسول الله ﷺ (یوه ورځ) زمونږ خواته تشریف راوړو کله چه مونږ په خپل میدان کښے (خیمه وهلے) وه او عباس رضی الله عنه هم د هغه سره وو نو هغه په دغه صحراء کښے (داسے) مونځ اوکړو چه د هغه مخے ته ستره نه وه ۔ زمونږ خره او سپۍ د هغه مخے ته لوبے کولے مګر هغه د هغوی هیڅ پرواه اونکړه ۔ (ابوداود، نسائی) ۔

تعارف د فضل بن عباس رضي الله عنه :

فضل بن عباس بن عبد المطلب بن هاشم الهاشمي المدني د نبي عليه السلام تره ځوی دے د عبد الله بن عباس ورور دے دا د عباس په تولو اولادو کښے مشر وو د مور نوم ئے ام الفضل لبابة الكبرىٰ بنت الحارث الهلاليه ده په حجة الوداع کښے نبي عليه السلام ځان سره روستو په اوښ کينولے وو او د رسول الله ﷺ غسل ته حاضر شوے وو دا ډير ښائسته مخے وو۔ په حنين کښے د نبي عليه السلام سره چه کوم صحابه کلك پاتے شو په هغوی کښے دا هم وو او شام ته د جهاد دپاره تلے دے بعض وائی دا د اردن په طرف کښ په طاعون عمواس کښے په سنه (١٨ هـ) کښے وفات شوے دے بعض وائی : جنگ يرموك کښے شهيد شويدے او بعض وائی : دمشق کښے وفات دے ده د نبي عليه السلام زغره اغوستے وه او دا د عمر د خلافت زمانه وه۔ (٢٤) احاديث ترے نقل دی۔

فِي بَادِيَةٍ : بدو او بداوة او بادية بانډے ته وائی ددے په مقابله کښے حضر استعماليږی۔ دا حديث بعض خلقو ددے دپاره دليل ګرځولے دے چه کلب او حمار مونځ نه قطع کوی او ستره واجب نده ليکن ددے جوابونه مخکښے ګنړ تير شو چه دلته کلب سره اسود قيد نشته او تيريدل نشته يا دا حديث ضعيف دے۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف : ابوداود (٧١٨) والنسائی (٢/٦٥) واحمد (١/٢١١) وفی اسناده جهالة وانقطاع والصحيح فی القصة حديث ابن عباس المتقدم برقم (٩) وفی سنده عباس بن عبيد الله ضعيف وكلمة ليس بين يديه سترة تفرد بها يحيى بن ايوب ويحيى صدوق ربما اخطأ فتفرد بها لايقبل۔

---

١٤ – وَعَنْ اَبِيْ سَعِيْدٍ رضي الله عنه، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : «لَا يَقْطَعُ الصَّلَاةَ شَيْءٌ، وَادْرَؤُوْا مَا اسْتَطَعْتُمْ، فَإِنَّمَا هُوَ شَيْطَانٌ». رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ.

ترجمه : او ابوسعيد رضی الله عنه فرمائی چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل : د مونځ ګوزار مخے ته تيريدونکے هيڅ شے هم مونځ نه ماتوی خو حتی الوسع هغه لره دفع کوئ ځکه هغه تيريدونکے شيطان دے۔ (ابوداود)۔

تشريح : **لَا يَقْطَعُ الصَّلَاةَ شَيْءٌ** : يعنی د مونځ ګوزار مخے ته ديو شی تيريدل

مونځ نه ماتوی ـ دا حدیث بعض علماؤ دلیل ګرځولے دے ددے دپاره چه ستره لګول واجب نه دی (۲) - دارنګه د مونځ ګوزار مخے ته د حمار مرأه او کلب وغیره تیریدو سره مونځ نه باطلیږی لیکن ددے په خلاف محققین علماء وائی : چه یو خو دا حدیث ضعیف دے ـ قابل استدلال ندے ـ

۲- دویم دا چه که اومنو چه حدیث صحیح دے نو بیا دا نه منو چه دا دلیل دے په نه قطع کولو بلکه پدے حدیث کښے د شئ نه مراد هر شے ندے بلکه دفع کول مراد دی او قرینه پدے باندے روستو وادرأوا ما استطعتم جمله ده نو معنی به دا شی : مخے ته تیریدونکی لره په څه شئ سره دفع کولو باندے مونځ نه باطلوی او د خپل وسع مطابق تیریدونکے دفع کوئ ای لا يقطع الصلاة شيء من الدفع او دا معنی د سیاق الحدیث سره ډیره برابره ده ځکه روستو وائی چه دفع کوئ څومره چه مو وسعه وی یعنی د وسع مطابق دفع کولو سره مونځ نه باطلیږی ـ

وَادْرَؤُوا : ددے مفعول محذوف دے ای ادفعوا المار (یعنی تیریدونکے دفع کوئ) ـ

درجة الحديث : اسناده ضعيف : رواه ابوداود (٧١٩) والبيهقى فى الكبرى وفى اسناده مجالد بن سعيد وهو سيئ الحفظ وقد اضطرب فيه فمرة رفعه ومرة وقفه والموقوف اشبه بالصواب ثم ان الشطر الاول مع ضعفه يعارض الصحيح فى ان المرأة وغيرها تقطع الصلاة كما مر فى حديث مسلم برقم (٧) وضعفه فى المحلى (١٣/٤)ـ

الفصل الثالث - دريم فصل

١٥- عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ : كُنْتُ اَنَامُ بَيْنَ يَدَىْ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ وَرِجْلَاىَ فِىْ قِبْلَتِهٖ. فَإِذَا سَجَدَ غَمَزَنِىْ، فَقَبَضْتُ رِجْلَىَّ، وَإِذَا قَامَ بَسَطْتُهُمَا . قَالَتْ : وَالْبُيُوْتُ يَوْمَئِذٍ لَيْسَ فِيْهَا مَصَابِيْحُ . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ .

ترجمه : او عائشه رضی الله عنها فرمائی چه زه به د رسول الله ﷺ مخے ته (داسے) اوده وم چه زما دواړه خپے به د هغه قبلے طرفته (یعنی د هغه د سجدے کولو په ځائے) کښے وے ـ کله چه به هغه سجده کوله نو زه به (ئے په خپو) اوځکوندلم ـ نو ما به خپے راټولے کړے او کله چه به هغه اودریدو نو ما به بیا خپے خورے کړے ـ عائشه رضی الله عنها فرمائی چه په هغه ورځو کښے په کورونو کښے ډیوے نه وے ـ (بخاری ومسلم) ـ

تشريح : غَمَزَنِيْ : غمز په لاس سره ځكوندلو ته وائي ۔
وَالْبُيُوْتُ يَوْمَئِذٍ لَيْسَ فِيْهَا مَصَابِيْحُ : عائشهؓ پدے الفاظو سره خپل عذر بيانوى چه ما به دا كار پدے وجه كولو چه په كور كښې به ډيوه وغيره رنړا نه وه نو ما ته به د رسول الله ﷺ د سجدے وقت نه وو معلوم څكه هغه به نه ښكاره كيدو پدے وجه ما به خپے خورے كړے ولے كه رنړا موجوده وے نو ما به د هغه د سجدے په وقت پخپله خپے راټولے كړے وے او هغه به مے هرځل ځكوندلو ته نه وے محتاج كړے ۔
فوائد الحديث : (۱) – عائشےؓ د مخكښے نه خپے ولے نه راټولولے ؟ نو وجه دا ده چه كمره وړه وه ۔ (۲) – اوده شخص ته مونځ كول بغير د كراهت نه جائز دى ۔ مگر امام مالك رحمه الله وغيره وائي : نائم ته مونځ كول مكروه دى ۔ وجه دا ده چه ممكن ده چه د هغه نه څه داسے عمل ښكاره شى چه مونځ گزار به د مانځه نه مشغول كړى او يو حديث د ابوداود پيش كوى ۔ په روايت د ابن عباس رضى الله عنهما : لاتصلوا خلف النائم ولا المتحدث) ليكن ابوداود وائي : ددے روايت ټول طرق واهى او ضعيف دى ۔ وقال الالبانى اسناده حسن صحيح ابى داود (۱/۱۳۴) ۔
(۳) – عمل قليل په مانځه كښے جائز دے (٤) په مس المرأة سره اودس نه ماتيږى ۔
(٥) – دا حديث دليل دے چه زنانه مخكښے ستره جوړيدے شى اگرچه عائشهؓ ستره نه وه بلكه صرف مخكښ څملاستے وه نو ستره هم جوړيدے شى پدے معنى سره چه ستره هم مخے ته وى او دا هم مخے ته پرته وه دواړو مينځ كښ هيڅ فارق نشته ۔
او پدے سره په مانځه كښے هيڅ نقصان نه راځى البته كه مخكښے تيره شى نو بيا به مونځ خرابوى او دلته چونكه مرور (تيريدل) نشته لهذا دا حديث د هغه چا دليل نشى كيدے چه د زنانه تيريدو باندے مونځ نه باطلوى څكه دا د محل النزاع نه بهر دے ۔

---

١٦ – وَعَنْ اَبِىْ هُرَيْرَةَ ﷺ، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : « لَوْ يَعْلَمُ اَحَدُكُمْ مَا لَهُ فِيْ اَنْ يَمُرَّ بَيْنَ يَدَىْ اَخِيْهِ مُعْتَرِضًا فِى الصَّلَاةِ كَانَ لَاَنْ يُقِيْمَ مِائَةَ عَامٍ خَيْرٌ لَهُ مِنَ الْخُطْوَةِ الَّتِىْ خَطَا » . رَوَاهُ ابْنُ مَاجَه .

ترجمه : او ابو هريره رضى الله عنه فرمائي : چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل : كه په تاسو كښے چه څوك پدے پوهه شى چه د خپل مسلمان ورور مخے ته – كله چه هغه

مونځ كوي عرضا (په پلنو) - تيريدل ځو مره ګناه ده نو هغه ته به د سلو كالو پورې اودريدل د يو قدم د اخستو نه بهتر ښكاره شوي وې - (ابن ماجه) -

تشريح : مَالَهٗ : اي ماله من الاثم يعني هغه ګناه چه ده ته حاصليږي دلته من الاثم لفظ حذف شويدې دې دپاره چه پدې ابهام كښې تفخيم د ګناه راشي چه دا ډيره عظيمه ګناه ده، لكه حافظ ابن حجر امام نووي او علامه شوكاني وئيلي دي چه د مونځ كونكي مخې ته تيريدل كله چه هغه ستره نه وي اودرولي يا د سترې او د هغه ترمينځ تيريدل كبيره ګناه ده -

اَخِيْهِ : لفظ ئې راوړو اشاره ده تلطف ته چه دا ستا ورور دې دده په مخكښې ورتيريږې يو ورور خو بل رور ته هيڅ قسم ضرر او تكليف نه وركوي نو ته ولې پدې تيريدو سره د هغه په مانځه كښې خلل راولې او هغه دفع كولو ته محتاج كوې -

كَانَ لَاَنْ يُّقِيْمَ : تركيب : خبر اسم د كان دې او لان يقيم كښې لام ابتدائيه تاكيديه دې -

درجة الحديث : اسناده ضعيف : رواه ابن ماجه (٩٤٦) فيه عبيد الله بن عبد الرحمن ليس بالقوى ضعفه ابن معين وابن عيينة في رواية الدورى وقال النسائى ليس بالقوى ووثقه العجلى وابن معين في رواية اسحاق بن منصور وقال ابن عدى : حسن الحديث ـ وقال ابوحاتم : صالح ـ قال الحافظ فى التقريب : مقبول : كذا فى تهذيب التهذيب (٧/٢٩) وايضا فيه عم عبيد الله قال احمد والشافعى لايعرف وقال ابن القطان الفاسى : مجهول الحال وذكره ابن الحبان فى الثقات قال المباركفورى فى المرعاة (٦/٥٠) فالظاهر ان الحديث لا ينحط عن درجة الحسن واخرجه ايضا احمد وابن حبان وابن خزيمة فى صحيحيهما انتهىٰ ـ

---

١٧ - وَعَنْ كَعْبِ الْاَحْبَارِ، قَالَ : لَوْ يَعْلَمُ الْمَارُّ بَيْنَ يَدَيِ الْمُصَلِّيْ مَا ذَا عَلَيْهِ، لَكَانَ اَنْ يُّخْسَفَ بِهٖ خَيْرًا لَّهٗ مِنْ اَنْ يَّمُرَّ بَيْنَ يَدَيْهِ . وَفِيْ رِوَايَةٍ : اَهْوَنَ عَلَيْهِ . رَوَاهُ مَالِكٌ .

ترجمه : او كعب احبار رحمه الله فرمائي چه كه مونځ ګزار مخې ته تيريدونكي ته دا معلومه شي چه (ددې جرم) سزا ځو مره ده نو هغه ته به د هغه په زمكه خخيدل د مونځ كونكي مخې ته د تيريدو نه زيات بهتر معلوم شوي وې - او په يو روايت كښې په ځائې د بهتر، «زيات آسان» لفظ دې - (مالكؒ) -

تشريح : كَعْبِ الْاَحْبَار : احبار جمع د حبر ده په فتح او كسره د حاء كامل عالم ته وائى ـ دا يو عالم دے چه د په پخوانو كتابونو عالم وو نو كله كله به ئے د هغه كتابونو نه نقل كولو دلته هم كيدے شى چه دا خبره ئے د پخوانو كتابونو نه اخستے وى ـ

درجة الحديث : اسناده صحيح : لكنه مقطوع اى موقوف على كعب الاحبار وهو مسلم ثقة اخرجه مالك فى الموطأ (١/١٥٥) رقم (٣٥)-

---

١٨ – وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِىَ اللّٰهُ عَنْهُمَا، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : «إِذَا صَلّٰى اَحَدُكُمْ اِلٰى غَيْرِ السُّتْرَةِ فَاِنَّهُ يَقْطَعُ صَلَاتَهُ الْحِمَارُ، وَالْخِنْزِيْرُ وَالْيَهُوْدِىُّ وَالْمَجُوْسِىُّ، وَالْمَرْأَةُ . وَتَجْزِئُ عَنْهُ اِذَا مَرُّوْا بَيْنَ يَدَيْهِ عَلٰى قَذْفَةٍ بِحَجَرٍ » . رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ .

ترجمه : او ابن عباس رضى الله عنه فرمائى چه رسول الله ﷺ فرمائيلى دى چه په تاسو كښے چه كوم شخص بغير د سترے نه مونځ كوى نو د هغه مونځ د هغه مخے ته د خر، خنزير، يهودى، مجوسى او ښځے تيريدل ماتوى ـ مگر دا چه د يو كانړى د ويشتو په مقدار فاصلے سره تير شى نو هيڅ حرج نشته ـ (ابوداوٗد) ـ

تشريح : پدے حديث كښے هم د قطع مسئله ده مگر مخكښے وئيل شويدى چه د درے خيزونو تيريدو سره مونځ قطع كيږى دلته ورسره يهودى او مجوسى او خنزير هم زيات شو نو علماء فرمائى چه دا زيادت منكر دے او ددے زيادت په وجه دا حديث ضعيف گرځيدلے دے ـ

درجة الحديث : اسناده ضعيف : اخرجه ابوداود (٧٠٤) وقال : فى نفسى من هذا الحديث شيئ ـ وقال : واحسب الوهم من محمد بن اسماعيل بن ابى سمينة البصرى والمنكر فيه ذكر المجوسى وفيه على قذفة بحجر وذكر الخنزير وفيه نكارة قال ابوداود : ولم اسمع هذا الحديث الا من محمد بن اسماعيل واحسبه وهم، لانه كان يحدثنا من حفظه انتهىٰ وقال عبيد الله المباركفورى فى المرعاة (٢/٥٠٨) فى نسبة الوهم الى محمد بن اسماعيل نظر فانه ثقة وقد اخرج الطحاوى حديثا بسنده وليس فيه محمد بن اسماعيل وهو حديث ابن عباس موقوفا بسند صحيح على ابن عباس انتهى مختصراً ـ ولكن فى سنده عنعنة يحيى بن

ابی کثیر وهو مدلس فالحديث ضعيف ۔

خلاصة احكام السترة

١– ستره هغه شی ته وائی چه مصلی ئے خپلے مخے ته اودروی چه څوك ئے مخے ته تیر نشی ۔
٢– او ددے مقدار یو ذراع دے یا ددے نه زیات په طول کښ چه دا تقریبا (٤٥) سینتی میټر جوړیږی او عرض (پلنوالی) لره ئے حد نشته که ددے مقدار نه عاجز شو او دومره څه ئے پیدا نکړل نو بیا چه څه باندے قادر شو اګرکه د ذراع نه کم وی اګرکه خط وی هغے باندے راتګ کوی ۔
٣– د درے ګزو نه به مصلی د خپلے سترے نه نه وړاندے کیږی که د درے ګزونه وړاندے اودریدو ګناهګار دے اګرکه مونځ ئے صحیح دے لیکن احتمال شته چه دے کولاؤ ځائے ته شیطان راشی او مینځ کښ تیر شی مونځ به ورله باطل کړی ۔
٤– ستره اودرول واجب دی په هر مونځ کونکی باندے که امام وی او که یوائے مونځ کونکے وی او هر چه مقتدی دے نو هغه باندے واجب نده بلکه دا صرف د امام مسئولیت دے که امام ځان دپاره ستره مقرر نکړه نو ګناهګار دے اګرکه مونځ ئے صحیح دے ۔ او دا حکم عام دے که په صحراء کښ وی او که په بل ځائے کښ وی او برابره ده که مخے ته د تیریدو نه خطره وی او که امن وی ۔
٥– د مونځ ګذار مخے ته تیریدل کبیره ګناه ده چه د اور سبب دے برابره ده که مونځ کونکے غټ وی که وړوکے ستره ئے مخے ته وی او که نه وی ۔ که ستره ئے مخے ته وی نو بیا د سترے او مصلی ترمینځ تیریدل حرام دی او که ستره ئے مخے ته نه وی نو د قدم نه تر درے ګزو کښ دننه تیریدل حرام او درے ګزونه وړاندے تیریدل جائز دی ، برابره ده که مصلی په لاره کښ مونځ کوی یا دروازے خوا کښ یا بله لاره مومی یا نه مومی خو ددے تولو نه مقتدی مستثنیٰ دے ، د هغه مخکښ تیریدل جائز دی ۔
٦– د فرض او نفل مونځ په باره کښ فرق نشته بلکه دواړو کښ د سترے حکم دے ۔
٧– په مونځ کونکی واجب دی – که متنفل وی او که مفترض – چه څوك د هغه مخکښ تیریږی دفع کوی به ئے برابره ده که انسان وی او که حیوان وی، لوئی وی که

وروكے، كه دا كارئے اونكړو گناهگار دے خو په دفع كولو كښ به تدريج كوي خو كه خبره مقاتلے او جگړے ته اورسيده نو جگړه به ورسره كوي ځكه د هغه سره شيطان دے دده مونځ خرابوي ـ خو كله چه مَصلي ذ هغه د دفع كولو كوشش كوي او هغه پرے غالبه شي نو ان شاء الله تعالى چه په مونځ كونكي به څه گناه نه وي كله ئے چه خپله وسعه استعمال كړي وي ـ

٨- كه تيريدونكے د دفع كولو په صورت كښ مړ شو نو وينه ئے هدر (بيكاره) ده هيڅ قصاد او ديت او كفاره پرے نشته ـ

٩- او كله چه تيريدونكے په خپل تيريدو كښ كامياب شو نو د مونځ كونكي اجر كميږي مگر كه تيريدونكے تور سپے او خر او بالغه ښځه وي نو بيا مونځ باطل شو ـ دوباره به ئے اعاده كوي ـ

١٠- د سړي او زنانه فرق نشته د سترے په احكامو كښ په هغے باندے هم ستره اودرول واجب دي ـ

١١- قبر نه ستره جوړول حرام دي او هر هغه شے چه انسان پرے مشغول كيږي لكه رنگين څيزونه نو د هغے نه ستره جوړول مكروه دي، باقي جائز دي ـ

١٢- كله چه يو انسان د ديوال خوا ته مونځ كوي چه ديوال ورته نزدے وي كه څوك تيريږي نو ديوال ئے منع كوي نو پدے وخت كښ ستره نيول شته كه نه ؟ نو بعض علماء وائي چه بيا به هم ستره نيسي ځكه چه د نبي عليه السلام امر نافذ كول پكار دي چه هغه وئيلي دي چه ستره اونيسه دارنگه شيطان يو رقيق باريك جسم دے هغه د ديوال او مونځ كونكي ترمينځ تيريدے شي اگركه انسان او حيوان نشي تيريدے خو د شيطان د تيريدو نه امن نشته ليكن كه چا اونه نيوله نو هغه باندے به سخت رد نشي كيدے ځكه چه مخكښ مونږ اووئيل چه ديوال نه هم ستره جوړوالے شي ليكن كله چه فاصله زياته وي نو بيا به ضرور ستره مخے ته اږدي ـ والله اعلم ـ

١٣- كله چه يو انسان د چا مخكښ ناست وي او هغه دده نه ستره جوړه كړي نو پاڅيدل ندي پكار بلكه تعاون على البر والتقوى پكار دے چه د هغه سړي ستره خرابه نشي مگر كه د يو انسان سخت ضرورت او مجبورتيا وي نو ان شاء الله چه پاڅيدل به حرام نه وي ځكه دا په مرور كښ نه داخليږي

١٤- كله چه دوه كسان وي يو د مونځ كونكي مخكښ اودريږي او بل د هغه نه شاته

تيرشي نو دا كار به جائز وي ځکه دا د مصلي مخکښ تيريدونکے نه حسابيږي ۔

١٥- کله چه د امام مخے ته د مذکوره دريے څيزونو نه علاوه بل شے تيرشي او هغه ئے دفع نکړي نو هغه ګناهګار دے او د مقتدیانو مونځ صحيح دے او که په دريے څيزونو کښ يو شے تيرشو نو بيا د امام مونځ باطل شو مقتدیانو له پکار دي چه ځان له خليفه اونيسي چه مونځ ورله پوره کړي ۔

وبهذا القدر **قد تمّ المجلد الثالث** بعون الله وحسن توفيقه ويليه المجلد الرابع من اول باب **صفة الصلوة** وختاما نسأل الله تعالى ان يجعل جُهدنا هذا خالصاً لوجهه الكريم وان يوفّقنا لاتمام هذا الكتاب انه تعالى ولي ذلك والقادر عليه وبالله التوفيق .

وصلى الله وسلم على نبينا محمد بن عبد الله وعلى آله وصحابته ومن تبعهم باحسان الى يوم الدين ـ وسبحانك اللهم وبحمدك اشهد ان لا اله الا انت استغفرك واتوب اليك ـ

وكتبه ابوزهير سيف الله شنقيق الشيخ امين الله البشاوري ـ خويدم الطلبة في مدرسة معاوية كنج بشاور باكستان .

وفرغت منه يوم الاثنين صفر المظفر ٦/ ١٤٢٨هجرى الموافق ٢٠٠٧/٢/٢٦ ء ـ

تم الجزء الثالث

من الحق الصريح شرح مشكاة المصابيح

فهرست د الحق الصریح شرح مشکوة المصابیح جلد ثالث

فهرست الحق الصریح شرح مشکاة المصابیح (۳) جلد